۲

بسم اللہ الرحمن الرحیم

تفسیر

دیوبندی

مرتب

الحاج مولوی عبدالحنان

فاضل جامعة العلوم الاسلامیہ بنوری ٹاؤن

معاون

احمد یاسین

کمپوزنگ

انس عبدالرحیم

مکتبہ حبیبیہ

مکتبہ حبیبیہ کندھار

تفسیر دیوبندی


اقرأ باسم
ربك الذي خلق
۱۴
۳۸
باور کتابتون
BAWAR KETABTOON

فهرست

د تفسير ديوبندي اصل په دوو (۲) ټوکو کښي چاپ سوی دی، البته د ډېر حجم پر بنياد مو دغه پي ډي ايف کاپي په څلورو ټوکو باندي وويشي.

جلد اول (۱)

جلد دوهم (۲)

جلد دريم (۳)

جلد څلورم (۴)

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى

وَلَوْ	اَنَّنَا	نَزَّلْنَآ	اِلَيْهِمُ	الْمَلٰٓئِكَةَ	وَكَلَّمَهُمُ	الْمَوْتٰى
او كه	بيشكه موږ	راليږلي مو وى	دغو ته	ملائيكي	او خبرى كړى وى له دوى سره	مړيو

او كه بيشكه موږ راليږلي مو وى دغو (كفارو) ته ملائيكي او خبرى كړى وى له دوى سره مړيو (لكه چي دوى وائى)

وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا

وَحَشَرْنَا	عَلَيْهِمْ	كُلَّ شَيْءٍ	قُبُلًا	مَّا كَانُوْا	لِيُؤْمِنُوْٓا
او جمع كړى وى موږ	دوى ته	هر شى	مخامخ	نو نه به وو دغه	چي ايمان راوړى

او جمع كړى وى موږ دوى ته هر شى مخامخ نو نه به وو دغه (كفار) چي ايمان راوړى (په هيڅ وخت كښى)

اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿١١١﴾

اِلَّآ	اَنْ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ	يَجْهَلُوْنَ
مګر	دا چي اراده وفرمائى	الله	وليكن	زيات د دوى	جاهلان دى

مګر (په وخت د) ارادى چي فرمائى الله (دايمان د دوى) وليكن زيات د دوى جاهلان دى (نه پوهيږى).

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ

وَكَذٰلِكَ	جَعَلْنَا	لِكُلِّ	نَبِيٍّ	عَدُوًّا	شَيٰطِيْنَ	الْاِنْسِ
او هم داسى	ګرځولى ؤ موږ	هر	نبى ته	دښمن	شيطانان	دانس (انسانانو)

او هم داسى ګرځولى (پيدا كړى) ؤ موږ هر نبى ته دښمن شيطانان د انس (انسانانو)

وَالْجِنِّ يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ

وَالْجِنِّ	يُوْحِيْ	بَعْضُهُمْ	اِلٰى بَعْضٍ	زُخْرُفَ	الْقَوْلِ
او د جن	ورښوولى به	ځينو د دوى	ځينو ته	ښائسته كړى سوى	خبرى

او د جن (پيريانو) ورښوولى به (او وسوسه به ئى آچوله) ځينو د دوى ځينو (نورو) ته ښائسته كړى سوى خبرى

غُرُوْرًا ۭ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا

غُرُوْرًا	وَلَوْ	شَآءَ	رَبُّكَ	مَا فَعَلُوْهُ	فَذَرْهُمْ	وَمَا
دپاره د غلولو	او كه	اراده فرمائلى وى	رب ستا	نو نه به وو كړى دوى دا	پس پريږده دوى	او هغه چي

دپاره د غلولو او كه اراده فرمائلى وى رب ستا نو نه به وو كړى دوى دا پس پريږده دوى او هغه چي

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ...شان نزول:
علامه ابن جرير رحمة الله عليه نقل كړي دي چي دقريشو سردارانو دنبي كريم ﷺ څخه دا مطالبه وكړه چي كه ته موږ ته دا معجزه وښيي چي دصفا غر ټوله سره زر سي نو موږ به ستا نبوت او رسالت ومنو او مسلمانان به سو نبي كريم ﷺ وفرمايل چي ښه دى وعده وكى چي كه دا معجزه ظاهره سوه نو تاسي به مسلمانان سى دوى قسمونه واخيستل نو حضور ﷺ ددعا دپاره ودريدى چي داغر دسرو زرو سي حضرت جبرائيل امين تشريف راوړى او وحي يي راړلې چي كه ته غواړې موږ به اوس غر دسرو زرو كړو ليكن د الله جل جلاله دقانون موافق به ددې نتيجه داوي چي كه بياهم دوى ايمان رانه وړى نو پر ټولو به عام عذاب رانازل سي اودوى به په كښي هلاک سي لكه چي پر تيرو قومونو داسي واقعات راغلي وه چي دوى كله دځه خاص معجزې مطالبه كړيده او هغه ورته ښوول سويده او بياهم منكر سوي دي نوعذاب پر راغلى دى نبي كريم ﷺ چي ددې خلګو عادات اوضد او عناد ته وكتل نو يه داخواست پريښووى او دا ايت نازل سو.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ٣)

اَفَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡتَغِيۡ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيۡۤ. په ذکر سوو ایاتونکي دهغه دلیلونو بیان دی: په کمو چي په ظاهري طور سره دقرآن کریم حقوالی اوکلام الهي والی ثابت دی په اول ایت کی چي کم ارشادفرمایل سوی دی ددې خلاصه داده چي زما اوستاسو په مینځ کي درسالت اونبوت په مقدمه کي چي کم اختلاف دی زه یې دعوی کوم او تاسي ورڅخه انکار کوی او دامقدمه داحکم الحاکمین په اجلاس کي زما په حق کي داسي فیصله سویده چي زما پر دې دعوی باندي کافي ثبوت او دلیل په خپله دقرآن اعجاز دی کم چي ددنیا ټولوقومونو ته چیلنج ورکړی دی چي که دده په دې خبره کي ستاسي څه شک او شبه وي چي دا دالله ﷻ کلام نه دی نودده دیوه کوچني سورت غوندي سورت یا آیت مقابله وکړی او وې بنیاست چي ددې دجواب څخه ټول عرب عاجزه سوه او هغه خلګو کمو چي دنبي کریم ﷺ او اسلام دکمزوري کولو دپاره خپل ځان ،اومال ،اولاد ،عزت هر څه قربان کړل په دوی کي یوه هم داسي ونه کړی سوه. (معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ٦)

يَفۡتَرُوۡنَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصۡغٰۤى اِلَيۡهِ اَفۡـِٕدَةُ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ	الَّذِيۡنَ	اَفۡـِٕدَةُ	اِلَيۡهِ	وَلِتَصۡغٰۤى	يَفۡتَرُوۡنَ
چي ایمان نه راوړی	هغو کسانو	زړونه د	دی درواغو ته	او لپاره د دی چي میل وکړی	دوی له ځانه دروغ جوړوی

دوی له ځانه دروغ جوړوی . او لپاره د دی چي میل وکړی دی دروغو ته زړونه د هغو کسانو چي ایمان نه راوړی

بِالۡاٰخِرَةِ وَلِيَرۡضَوۡهُ وَلِيَقۡتَرِفُوۡا مَا هُمۡ مُّقۡتَرِفُوۡنَ ﴿١١٣﴾

مُّقۡتَرِفُوۡنَ	مَا هُمۡ	وَلِيَقۡتَرِفُوۡا	وَلِيَرۡضَوۡهُ	بِالۡاٰخِرَةِ
کسب کوونکی دی	هغه چي دوی ئی	او دپاره د دی چي وکړی دوی	او له پاره د دی چي خوښ کړی دا دروغ	په آخرت

په آخرت او له پاره د دی چي خوښ (هم) کړی دا دروغ او دپاره د دی چي وکړی دوی هغه چي دوی ئی کسب کوونکی دی

اَفَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡتَغِيۡ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيۡۤ اَنۡزَلَ اِلَيۡكُمُ

اِلَيۡكُمُ	اَنۡزَلَ	الَّذِيۡۤ	وَّهُوَ	حَكَمًا	اَبۡتَغِيۡ	اللّٰهِ	اَفَغَيۡرَ
تاسی ته	چي نازل کړی ئی دی	هغه (ذات دی)	حال دا چي دغه	حکم کوونکی عادل	وغواړم زه	الله	آیا پس بی له

آیا پس بی له الله وغواړم زه حکم کوونکی عادل حال دا چي دغه (الله) هغه (ذات دی) چي نازل کړی ئی دی تاسی ته

الۡكِتٰبَ مُفَصَّلًا ؕ وَالَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ يَعۡلَمُوۡنَ

يَعۡلَمُوۡنَ	الۡكِتٰبَ	اٰتَيۡنٰهُمُ	وَالَّذِيۡنَ	مُفَصَّلًا	الۡكِتٰبَ
پوهیږی دوی	کتاب	چي ورکړی دی موږ دوی ته	او هغه کسان	حال دا چي واضح کړی سوی دی	کتاب

کتاب (قرآن) حال دا چي واضح کړی سوی دی او هغه کسان چي ورکړی دی موږ دوی ته کتاب پوهیږی دوی

اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنۡ رَّبِّكَ بِالۡحَقِّ فَلَا تَكُوۡنَنَّ

فَلَا تَكُوۡنَنَّ	بِالۡحَقِّ	رَّبِّكَ	مِّنۡ	مُنَزَّلٌ	اَنَّهٗ
نو مه کیږه هیڅکله	په حقه سره	رب ستا	له (لوری د)	نازل کړی سوی دی	چي بیشکه! دا

چي بیشکه! دا (قرآن) نازل کړی سوی دی له (لوری د) رب ستا په حقه سره نو مه کیږه (ای سامعه!) هیڅکله

مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقًا وَّعَدۡلًا ؕ

وَّعَدۡلًا	صِدۡقًا	رَبِّكَ	كَلِمَتُ	وَتَمَّتۡ	مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ
او له جهته د عدل	له جهته د صدق	د رب ستا	خبره	او تمامه سوی ده	له شک کوونکو

له شک کوونکو . او تمامه سوی ده خبره د رب ستا له جهته د صدق (رښتینوالی) او له جهته د عدل (انصاف)

لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١١٥﴾ وَاِنْ تُطِعْ

لَا مُبَدِّلَ	لِكَلِمٰتِهٖ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ	وَاِنْ	تُطِعْ
نسته هيڅ بدلوونکی	دخبرو د الله	او هم دی دی	ښه اوريدونکی	ښه خبردار	او که	متابعت وکړی ته

نسته هيڅ بدلوونکی دخبرو د الله ، او هم دی دی ښه اوريدونکی (دټولو اقوالو) ښه خبردار. او که متابعت وکړی

اَكْثَرَ مَنْ فِى الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنْ

اَكْثَرَ	مَنْ	فِى	الْاَرْضِ	يُضِلُّوْكَ	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اِنْ
دزياترو دهغو کسانو	چې	په	مځکه کښې دی	نو وابه ړوی دوی تا	له	لاری	دالله	او نه

دزياترو د هغو کسانو چې په مځکه کښې دی نو وابه ړوی دوی تا (ای محمده!) له لاری د الله، او نه

يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿١١٦﴾ اِنَّ

يَّتَّبِعُوْنَ	اِلَّا	الظَّنَّ	وَاِنْ	هُمْ	اِلَّا	يَخْرُصُوْنَ	اِنَّ
کوی پيروی دوی	مگر	دگمان	او نه دی	دوی	مگر	دروغ تړی	بيشکه!

کوی پيروی دوی مگر د گمان او نه دی دوی مگر دروغ تړی (پر الله). بيشکه!

رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ مَنْ يَّضِلُّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ

رَبَّكَ	هُوَ	اَعْلَمُ	مَنْ	يَّضِلُّ	عَنْ	سَبِيْلِهٖ	وَهُوَ	اَعْلَمُ
رب ستا	هم دی	ښه عالم دی په	هغه چاچې	ښوئيدلی دی	له	لاری د ده	او هم دی	ښه عالم دی

رب ستا هم دی ښه عالم دی په هغه چا چې ښوئيدلی دی له لاری د ده او هم دی ښه عالم دی

بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿١١٧﴾ فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ

بِالْمُهْتَدِيْنَ	فَكُلُوْا	مِمَّا	ذُكِرَ	اسْمُ	اللّٰهِ	عَلَيْهِ	اِنْ
په سمی لاری صافی پيدا کوونکو	نو وخورئ تاسی	له هغه	چې ياد کړی سوی وی	نوم	دالله	پر هغی باندی	که

په سمی لاری صافی موندونکو. نو وخورئ تاسی له هغه مذبوحی څخه چې ياد کړی سوی وی نوم د الله پر هغی باندی که

كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا

كُنْتُمْ	بِاٰيٰتِهٖ	مُؤْمِنِيْنَ	وَمَا	لَكُمْ	اَلَّا تَاْكُلُوْا	مِمَّا
يئ تاسی	په آيتونو د الله	ايمان لرونکی	او څه مانع ده	تاسی ته	چې نه خورئ تاسی	له هغی مذبوحی څخه

يئ تاسی په آيتونو د الله ايمان لرونکی. او څه مانع ده تاسی ته چې نه خورئ تاسی له هغی مذبوحی څخه

لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ. يعني دالله ﷻ دکلمو څوک بدلوونکی نسته: دبدلولو يو صورت خو دا کيدای سي چې څوک په دې کي غلطي ثابته کي او په دې وجه يې بدل کي يا دا چې يو دښمن په زور سره دا بدل کي: دالله ﷻ کلام ددې ټولو خبرو څخه بالا تر او پاک دی ده ﷻ په خپله وعده فرمايلې ده (انّا نحن نزّلنا الذكر وانّا له لحافظون) يعني موږ قرآن نازل کړی دی او موږ ددې دحفاظت ذمه اخيستې ده بيا دچا څه مجال دی چې دخدای ﷻ حفاظت مات کي او څه تبديلي په کښې وکي لکه چې څوارلس سوه کاله پر دې تير سول او په هر وخت او هره زمانه کي دده مخالفين تر منونکو په شمير کي زيات پاته سوي دي او په قوت کي هم ليکن دهيڅ چا مجال نه دی سوی چې دقرآن په يوه زور، او زير، يا پيښ کي څه فرق پيدا کي البتّه دبدليدو يو دريم صورت دا هم کيدای سي چې په خپله دالله ﷻ دطرفه څخه دا منسوخ سي او الله ﷻ يې په خپله بدل کي او هغه هم دنبي کريم ﷺ په ژوند مبارک کي نه تر هغه وروسته. (معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص٩)

وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُمۡ مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ.. شــان نــزول: واقعــه داده چي كـافرانو مسـلمانان پـه شـك كـي اچـول غوښـتل چـي دا لله ﷻ وژل ســوی حيـوان خونه خوری اوخپل دلاس وژل سـوی حيـوان خـوری يعني ذبح سـوی او حـلال سـوی حيـوان خـوری: دحضرت عباس ﷺ څخه روايـت دي چـي ځينـو مسلمانانوداسـوال دنبـي كـريم ﷺ پـه حضـور كـي پـيش كـړی نـوپردې دغه اياتونـه د(فكلوا ممّا ذكر اسم الله) څخه نيـولي بيا تر (انكم لمشركون) پـوری دغـه ايتونـه نـازل سـول: خلاصـه دجـواب داده چي تاسـي مسـلمانان يا سـت دالله ﷻ حكمونــه مــوپر ځــان لازم كــړي دي او الله ﷻ دحرامـو او حلالـو تفصيل ښوولی دی بس پر دي باندي چليږی پر حلالو دحرامـــو اوپـــر حرامـــو دحلالـو شـك مـه كـوی او دمشركينو وسوسو تـه مـه گـــوری او تحقيـــق ددې جواب دادی چي داصـولو دثابتولو دپـاره خـو عقلـي دليلونـه پكـار دي او پـس دثابتيدو داصولو څخه په عملونـو اوفروعـاتو كـي پوازي نقلي دليلونه كـافي دي عقلـي دليلونـو تـه ضــرورت نســته اوكلــه كلــه مضــر لا هــم ثابـت سـي ځكـه چـي شـكونه پـه راپيـدا كيـږي آلـخ: (معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ١١)

ذُكِرَ اسۡمُ اللهِ عَلَيۡهِ وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُمۡ مَّا حَرَّمَ

ذُكِرَ	اسۡمُ	اللهِ	عَلَيۡهِ	وَقَدۡ	فَصَّلَ	لَكُمۡ	مَّا حَرَّمَ
چي ياد كړی سوی دی	نوم	دالله	پرهغی	حال داچي په تحقيق	واضح كړی دی (الله)	تاسي ته	هغه چي حرام كړی دی

چي ياد كړی سوی دی نوم د الله پر هغی حال داچي په تحقيق واضح كړی دی (الله) تاسي ته هغه چي حرام كړی دی

عَلَيۡكُمۡ اِلَّا مَا اضۡطُرِرۡتُمۡ اِلَيۡهِ ؕ وَاِنَّ كَثِيۡرًا لَّيُضِلُّوۡنَ

عَلَيۡكُمۡ	اِلَّا	مَا	اضۡطُرِرۡتُمۡ	اِلَيۡهِ	وَاِنَّ	كَثِيۡرًا	لَّيُضِلُّوۡنَ
پرتاسي	مگر	هغه محرمات	چي اړ كړی سوئ تاسي	هغو ته	او بيشكه!	ډير دخلكو	گمراه كوی دوی

پرتاسي مگر هغه محرمات چي اړ (محتاج) كړی سوئ تاسي هغوته ، او بيشكه! ډير دخلكو گمراه كوی

بِاَهۡوَآئِهِمۡ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ

بِاَهۡوَآئِهِمۡ	بِغَيۡرِ	عِلۡمٍ	اِنَّ	رَبَّكَ	هُوَ	اَعۡلَمُ
په آرزوگانو خپلو	بی له	پوهی	بيشكه!	رب ستا	هم دی	ښه عالم دی

په آرزوگانو خپلو بی له پوهی (او تحقيقه او برهانه، له جهله) ، بيشكه! رب ستاهم دی ښه عالم (دانا) دی

بِالۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴿١١٩﴾ وَذَرُوۡا ظَاهِرَ الۡاِثۡمِ وَبَاطِنَهٗ ؕ اِنَّ

بِالۡمُعۡتَدِيۡنَ	وَذَرُوۡا	ظَاهِرَ	الۡاِثۡمِ	وَبَاطِنَهٗ	اِنَّ
په تيريدونكو	او پريږدئ تاسي	ظاهره	گناه	او پټه گناه	بيشكه!

په تيريدونكو. او پريږدئ تاسي ظاهره (ښكاره) گناه او باطنه (پټه) گناه بيشكه!

الَّذِيۡنَ يَكۡسِبُوۡنَ الۡاِثۡمَ سَيُجۡزَوۡنَ بِمَا كَانُوۡا

الَّذِيۡنَ	يَكۡسِبُوۡنَ	الۡاِثۡمَ	سَيُجۡزَوۡنَ	بِمَا	كَانُوۡا
هغه كسان چي	كسب كوی	دگناه	ژر به سزا وركړه سی دوی ته	په سبب دهغو گناهونو	چي وو دوی

هغه كسان چي كسب كوی د گناه ژر به سزا وركړه سی دوی ته په سبب د هغو گناهونو چي وو دوی

يَقۡتَرِفُوۡنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَاۡكُلُوۡا مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ اسۡمُ اللهِ عَلَيۡهِ

يَقۡتَرِفُوۡنَ	وَلَا تَاۡكُلُوۡا	مِمَّا	لَمۡ يُذۡكَرِ اسۡمُ	اللهِ	عَلَيۡهِ
چي كسب كاوه به (ئې)	مه خورئ تاسي	له هغی	چي نه وی ياد كړی سوی نوم	د الله	پرهغی باندی

چي كسب كاوه به (ئې). مه خورئ تاسي له هغی (مرداری) چي نه وی ياد كړی سوی نوم د الله پر هغی باندی (عمداً)

وَاِنَّهٗ لَفِسۡقٌ ؕ وَاِنَّ الشَّیٰطِیۡنَ لَیُوۡحُوۡنَ اِلٰۤی اَوۡلِیٰٓـِٕهِمۡ

وَاِنَّهٗ	لَفِسۡقٌ	وَاِنَّ	الشَّیٰطِیۡنَ	لَیُوۡحُوۡنَ	اِلٰۤی اَوۡلِیٰٓـِٕهِمۡ
او بیشکه! چی دا خوراک	خامخا ګناه ده	او بیشکه!	شیطانان	خامخا وسوسی اچوی	دوستانو خپلو ته

او بیشکه! چی دا خوراک خامخا ګناه ده، او بیشکه! شیطانان خامخا وسوسی اچوی دوستانو خپلو ته

١٤ ع ١١ ١

لِیُجَادِلُوۡکُمۡ ۚ وَاِنۡ اَطَعۡتُمُوۡهُمۡ اِنَّکُمۡ لَمُشۡرِکُوۡنَ ع ﴿۱۲۱﴾

لِیُجَادِلُوۡکُمۡ	وَاِنۡ	اَطَعۡتُمُوۡهُمۡ	اِنَّکُمۡ	لَمُشۡرِکُوۡنَ
له پاره د دی چی جګړه وکړی دغه له تاسی سره	او که	اطاعت وکړئ تاسی د دوی	نو بیشکه! تاسی	به خامخا مشرکان سئ

لپاره د دی چی جګړه وکړی دغه (کفار) له تاسی سره او که اطاعت وکړئ تاسی د دوی نو بیشکه! تاسی به خامخا مشرکان سئ.

اَوَمَنۡ کَانَ مَیۡتًا فَاَحۡیَیۡنٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهٗ نُوۡرًا یَّمۡشِیۡ

اَوَمَنۡ	کَانَ	مَیۡتًا	فَاَحۡیَیۡنٰهُ	وَجَعَلۡنَا	لَهٗ	نُوۡرًا	یَّمۡشِیۡ
آیا هر هغه څوک	چی وی	مړ	نو ژوندی کړو موږ دی	او وګرځوو موږ	ده ته	نور	چی تګ کوی دی

آیا هر هغه څوک چی وی مړ (په کفر یا جهل) نو ژوندی کړو موږ دی او وګرځوو (ورکړو) موږ ده ته نور چی تګ کوی دی

بِهٖ فِی النَّاسِ کَمَنۡ مَّثَلُهٗ فِی الظُّلُمٰتِ لَیۡسَ بِخَارِجٍ

بِهٖ	فِی	النَّاسِ	کَمَنۡ	مَّثَلُهٗ	فِی	الظُّلُمٰتِ	لَیۡسَ	بِخَارِجٍ
په دی سره	په	خلګو کښی	په شان د هغه چا دی	چی حال د هغه	په	تیارو کښی	حال دا چی نه وی	وتونکی

په دی سره په خلګو کښی په شان د هغه چا دی چی حال د هغه داسی وی چی واقع وی په تیارو کښی حال دا چی نه وی وتونکی

مِّنۡهَا ؕ کَذٰلِکَ زُیِّنَ لِلۡکٰفِرِیۡنَ مَا کَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۲۲﴾

مِّنۡهَا	کَذٰلِکَ	زُیِّنَ	لِلۡکٰفِرِیۡنَ	مَا کَانُوۡا	یَعۡمَلُوۡنَ
له هغه	هم داسی	ښائسته کړی سوی دی	کافرانو ته	هغه شی چی دی دوی	چی کوی (ئی له کفر او معاصیو څخه)

له هغه هم داسی ښائسته کړی سوی دی کافرانو ته هغه شی چی دی دوی چی کوی (ئی له کفر او معاصیو څخه).

وَکَذٰلِکَ جَعَلۡنَا فِیۡ کُلِّ قَرۡیَۃٍ اَکٰبِرَ مُجۡرِمِیۡهَا لِیَمۡکُرُوۡا

وَکَذٰلِکَ	جَعَلۡنَا	فِیۡ	کُلِّ	قَرۡیَۃٍ	اَکٰبِرَ	مُجۡرِمِیۡهَا	لِیَمۡکُرُوۡا
او هم داسی	ګرځولی دی موږ	په	هر	قریه کښی	مشران	فاسقان د هغی قریی	دپاره د دی چی مکرونه وکړی دوی

او هم داسی ګرځولی دی موږ په هر قریه (ښار) کښی مشران فاسقان د هغی قریی دپاره د دی چی مکرونه وکړی دوی

اَوَمَنۡ کَانَ مَیۡتًا فَاَحۡیَیۡنٰهُ

مومن ژوندی دی او کافر مړ دی: په دغه مثال کي الله ﷻ مومن ژوندی او کافر مړ ښوولي دی وجه داده چي په انسانانو، حیوانانو، او نباتاتو کي که څه هم دژوند قسمونه او شکلونه مختلف دي لیکن ددومره خبري څخه یو پوه انسان انکار نسي کولای چي په دوی کي دهریوه ژوند دیو خاص مقصد دپاره دی او قدرت په دوی کي ددغه مقصد دحاصلولو دپاره پوره اهلیت او صلاحیت ایښی دی دقرآن کریم ارشاد دی (اعطی کل شئ خلقه ثمّ هدی) په دې کي ددې بیان دی چي الله ﷻ دکایناتو دعالم هر شی پیدا کی او دی چي یې دکم مقصد دپاره پیدا کړی وو هغه ته درسیدو دپاره یې دته پوره ښوونه وکړه چي تر دې لاندي هر مخلوق دخپل ژوند دوظیفې او دخپلي خپلي ذمه داری حق اداء کوي په دې عالم کي مځکه، او به، هوا، او اور، دغه ډول اسماني مخلوقات او لمر او سپوږمی، او ستوري، خپله خپله وظیفه په پوره ډول سره پیژني او خپل فرایض اداء کوي خو یو کافر انسان دالله ﷻ ناشکره دی خپل وظیفه نه اداء کوي. :

(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۱۴)

فِيۡهَا ؕ وَمَا يَمۡكُرُوۡنَ اِلَّا بِاَنۡفُسِهِمۡ وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۲۳﴾

فِيۡهَا	وَمَا يَمۡكُرُوۡنَ	اِلَّا	بِاَنۡفُسِهِمۡ	وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ
په هغو کليو کښې	او نه کوی مکرونه دوی	مګر	خو له ځانونو خپلو سره	حال دا چې نه پوهيږی دوی

په هغو کليو (ښارونو) کښې او نه کوی مکرونه (او حيلې) دوی مګر خو له ځانونو خپلو سره حال دا چې نه پوهيږی دوی.

وَاِذَا جَآءَتۡهُمۡ اٰيَةٌ قَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ حَتّٰى نُؤۡتٰى

وَاِذَا	جَآءَتۡهُمۡ	اٰيَةٌ	قَالُوۡا	لَنۡ نُّؤۡمِنَ	حَتّٰى	نُؤۡتٰى
او کله چې	راغی دوی ته کوم	آيت	وويل به دوی	له سره موږ ايمان نه راوړو	تر هغه پورې	چې راکړی سی موږ ته

او کله چې به راغی دوی ته کوم آيت (وحی) نو ويل به دوی له سره موږ ايمان نه راوړو تر هغه پورې چې راکړی سی موږ ته

مِثۡلَ مَاۤ اُوۡتِىَ رُسُلُ اللّٰهِ ؔۘ اَللّٰهُ اَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ

مِثۡلَ	مَاۤ	اُوۡتِىَ	رُسُلُ	اللّٰهِ	اَللّٰهُ	اَعۡلَمُ	حَيۡثُ	يَجۡعَلُ
په شان	د هغو آيتونو	چې ورکړی سوی وو	رسولانو	د الله ته	الله	ښه عالم دی	په هغه ځای	چې ږدی

په شان د هغو آيتونو چې ورکړی سوی وو رسولانو د الله ته، الله ښه عالم دی په هغه ځای چې ږدی

رِسَالَتَهٗ ؕ سَيُصِيۡبُ الَّذِيۡنَ اَجۡرَمُوۡا صَغَارٌ عِنۡدَ اللّٰهِ

رِسَالَتَهٗ	سَيُصِيۡبُ	الَّذِيۡنَ	اَجۡرَمُوۡا	صَغَارٌ	عِنۡدَ	اللّٰهِ
رسالت خپل	ژر به ورسيږی	هغه کسانو ته	چې مجرمان دی	ذلت	په نزد	د الله

رسالت خپل (هلته) ژر به ورسيږی هغو کسانو ته چې مجرمان دی (په کفر سره) ذلت په نزد د الله (په آخرت کښې)

وَعَذَابٌ شَدِيۡدٌ ۢ بِمَا كَانُوۡا يَمۡكُرُوۡنَ ﴿۱۲۴﴾ فَمَنۡ يُّرِدِ اللّٰهُ

وَعَذَابٌ	شَدِيۡدٌ	بِمَا	كَانُوۡا	يَمۡكُرُوۡنَ	فَمَنۡ	يُّرِدِ	اللّٰهُ
او عذاب	سخت	په سبب د هغه	چې وو دوی	چې مکرونه بی ئی کول	پس هر هغه چې	اراده وفرمائی	الله

او عذاب سخت په سبب د هغه چې وو دوی چې مکرونه بی ئی کول. پس هر هغه چې اراده وفرمائی الله

اَنۡ يَّهۡدِيَهٗ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهٗ لِلۡاِسۡلَامِ ۚ وَمَنۡ يُّرِدۡ

اَنۡ يَّهۡدِيَهٗ	يَشۡرَحۡ	صَدۡرَهٗ	لِلۡاِسۡلَامِ	وَمَنۡ	يُّرِدۡ
چې هدايت وکړی ده ته	نو پراخوی	سينه (زړه) د ده	له پاره د اسلام	او هر هغه چې	اراده وفرمائی

چې هدايت وکړی ده ته نو پراخوی سينه (زړه) د ده له پاره (دقبلولو) د اسلام، او هر هغه چې اراده وفرمائی (الله)

وَمَا يَمۡكُرُوۡنَ اِلَّا بِاَنۡفُسِهِمۡ وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ

په دغه ايت کي الله ﷻ فرمايي: چي دامتحان اوازمايش يو طرف دا هم دی چي دنيا دپيدا کيدو څخه هم دغسي راروانه ده چي دهر کلي سرداران اومشران اومالداران اولوی خلګ دحقيقت او انجام څخه غافله په دې فاني خوندونو کي مست سي او جرمونه کوي او دعوامو عادت داوي چي په لويو خلګو پسې تلل اودهغوی نقل کول خپله نيک بختي ګڼي او انبياوو عليهم السلام اوددوی نائبين عالمان او مشايخ کم چي دوی ددوی دبدو عملونو څخه منع کول او ددوی دانجام طرف ته متوجه کول غواړي دا لوی خلګ ددوی خلاف قسم قسم شرارتونه کوي کم چي په ظاهر کي خو ددې بزرګانو خلاف شرارتونه اوسازشونه او دزړه ازار رسولو سامان وي ليکن دانجام په اعتبار سره ددې ټولو وبال په خپله ددوی طرف ته راګرځي اواکثره په دنيا کي هم ښکاره کيږي په دې ارشاد کي مسلمانانو ته ددې خبر ورکول سوی دی چي ددنيا دغه‌نو سردارانو پيښې دې نه کوي دحق په مقابل کي. (معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۲۱)

أَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ

اَنْ يُّضِلَّهٗ	يَجْعَلْ	صَدْرَهٗ	ضَيِّقًا	حَرَجًا	كَاَنَّمَا	يَصَّعَّدُ
دګمراه کولو دهغه	ګرځوی	سینه د ده	تنګ	نهایت تنګ	ګواکی	پورته خیژی دی

دګمراه کولو دهغه ګرځوی (الله) سینه (زړه) د ده تنګ نهایت تنګ ګواکی پورته درومی

فِي السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ

فِي السَّمَآءِ	كَذٰلِكَ	يَجْعَلُ	اللّٰهُ	الرِّجْسَ	عَلَى	الَّذِيْنَ
آسمان ته	همداسی	نازلوی	الله	عذاب	پر	هغو کسانو

دی آسمان ته، همداسی نازلوی (چی تنګ کړی ئی دی زړونه دکفارو له قبوله د حق) الله عذاب پر هغو کسانو

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢٥﴾ وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ؕ قَدْ

لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَهٰذَا	صِرَاطُ	رَبِّكَ	مُسْتَقِيْمًا	قَدْ
چی نه راوړی ایمان	او هم دا	لاره	درب ستا ده	سمه صافه	په تحقیق

چی نه راوړی ایمان او هم دا (اسلام) لاره د رب ستا ده سمه صافه، په تحقیق

فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ

فَصَّلْنَا	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّذَّكَّرُوْنَ	لَهُمْ	دَارُ	السَّلٰمِ
واضح بیان کړی دی موږ	آیتونه	له پاره د قوم	چی پند ځینی اخلی	سته دی دغو ته	کور	دسلامتیا

واضح بیان کړی دی موږ آیتونه له پاره د (هغه) قوم چی پند تری اخلی. سته دی دغو ته دار (کور) دسلامتیا (جنت)

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٧﴾ وَيَوْمَ

عِنْدَ	رَبِّهِمْ	وَهُوَ	وَلِيُّهُمْ	بِمَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَيَوْمَ
په نزد	درب د دوی	او هم دغه	ولی د دوی دی	په سبب دهغو چی وو دوی	چی کول به ئی	او هغه ورځ

په نزد د رب د دوی او هم دغه (الله) ولی د دوی دی په سبب دهغو چی وو دوی چی کول به ئی. او هغه ورځ

يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ

يَحْشُرُهُمْ	جَمِيْعًا	يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ	قَدِ	اسْتَكْثَرْتُمْ	مِّنَ
چی جمع به کړی دوی	ټول	ای جماعته د جنیاتو	په تحقیق	چی ډیر مو تابع کړی دی تاسی	له

چی جمع به کړی (الله) دوی ټول، (وبه ویل سی) ای جماعته د جنیاتو (پیریانو) په تحقیق چی ډیر مو تابع کړی دی تاسی له

يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ. يعني كم سړی چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ په ګمراهی كي ساتل غواړي دهغه زړه تنګ او سخت كړي: ده ته دحقي خبري قبلول او پر دې عمل كول داسي ګران وي لكه يو سړي ته چي اسمان ته ختل ګران وي امام كلبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمايي چي دده دزړه دتنګيدو مطلب دادی چي په ده كي دحق او نيكی څه لاره پاته نه سي دغه مضمون دحضرت فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه هم منقول دی او حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چي كله دی دالله جَلَّ جَلَالُهٗ ذكر اوري نو دته وحشت راځي يعني تريږي ورڅخه او كله چي دكفر او شرک خبري اوري نو زړه يي ورسره لګيږي: او صحابه كرامو ته په دين كي شرح صدر حاصل وو ځكه ورته په دين كي شک او شبهي ډيري كمی راتلې ورته: دغه وجه ده چي صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته كم چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ دخپل رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دصحبت او بلا واسطې شاګردی دپاره منتخب كړي وه په اسلامي احكامو كي شبهي او وسوسې ډيري كمي مخ ته راتلې اوددوی دټول عمر سوالات چي دنبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه دي كړي وي په شمير يو څو داني دي.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ٢٤)

وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ... په محشر کي به دخلکو ټولی دعملونو په لحاظ سره وي ددنيا دتعلقاتو پر بنياد به نه وي: حضرت سعيد بن جبير رضي الله عنه اوقتاده اونورود (نولّی) دلفظ ترجمه (دملګري کول اونژدې کولو والا اختياره کړيده) دآيت مطلب يي دامقرر کړی دی چي دقيامت په ورځ به دالله جل جلاله په نزد دخلګو ټولی اوجماعتونه دنسلي يا وطني يا رنګ او ژبي پر بنا باندي نه وي بلکي دعملونو او اخلاقو پر بنياد به وي دالله جل جلاله فرمانبرداره مسلمانان چي به هر ځای وي هغوی به دمسلمانانو ملګري وي اونافرمانه کافران چي کم ځای وي هغوی به دکافرانو ملګري وي که څه هم ددوی په نسل، او نسب، وطن، اوژبه، اورنګ اومعاشرت کي هرڅومره فرق اوليري والی اواختلاف وي بيا په مسلمانانو کي هم نيک ديندار ددیندارو سره وي او ګناهکاره بدعمله به دبدعملو سره وي په سورت کُوّرت کي چي کم ارشاد دی (واذاالنفوس زوّجت) يعني دخلګو به جوړې اوټولګی جوړي سي ددي هم دا مطلب دی چي دعملو او اخلاقو په اعتبار سره به وي.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۳۳)

الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ

الْاِنْسِ	وَقَالَ	اَوْلِيٰٓؤُهُمْ	مِّنَ الْاِنْسِ	رَبَّنَا	اسْتَمْتَعَ
انسانانو	او وبه وايي	دوستان ددوی	له انسانانو څخه	ای ربه زموږ	نفع اخيستی ده

انسانانو. او وبه وايي دوستان ددوی له انسانانو څخه، ای ربه زموږ نفع اخيستی ده

بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّبَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِيْٓ اَجَّلْتَ لَنَا ؕ

بَعْضُنَا	بِبَعْضٍ	وَّبَلَغْنَآ	اَجَلَنَا	الَّذِيْٓ	اَجَّلْتَ	لَنَا
ځينو زموږ	په ځينو (نورو)	او رسيدلي يو موږ	نيټي خپلی ته	هغه نيټه	چي مقرره کړی وه تا	موږ ته

ځينو زموږ په ځينو (نورو) او رسيدلي يو موږ نيټي خپلی ته هغه نيټه چي مقرره کړی وه تا موږ ته (چي قيامت دی)،

قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا

قَالَ	النَّارُ	مَثْوٰىكُمْ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	اِلَّا
او وبه فرمائي	چي اور	ځای ستاسي دی	حال دا چي هميشه به اوسئ تاسي	په دغه اور کښي	مګر

او وبه فرمائي (دوی ته الله) چي اور ځای ستاسي دی حال دا چي هميشه به اوسئ تاسي په دغه اور کښي مګر

مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ

مَا شَآءَ	اللّٰهُ	اِنَّ	رَبَّكَ	حَكِيْمٌ	عَلِيْمٌ	وَكَذٰلِكَ	نُوَلِّيْ	بَعْضَ
چي اراده وفرمائي	الله	بيشکه!	رب ستا	ښه حکمت والا	ښه عالم دی	او همداسي	مسلطوو موږ	ځيني

چي اراده وفرمائي الله، بيشکه! رب ستا ښه حکمت والا ښه عالم دی. او همداسي مسلطوو موږ ځيني

۱۵ ع ۸ ۲

الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ

الظّٰلِمِيْنَ	بَعْضًا	بِمَا كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ	يٰمَعْشَرَ	الْجِنِّ
ظالمان	په ځينو (نورو)	په سبب دهغو اعمالو	چي وو دوی چي کول به ئي	ای جماعته	دجنيانو

ظالمان په ځينو (نورو) په سبب د هغو اعمالو چي وو دوی چي کول به ئي. ای جماعته د جنيانو (پيريانو!)

وَالْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ

وَالْاِنْسِ	اَلَمْ يَاْتِكُمْ	رُسُلٌ	مِّنْكُمْ	يَقُصُّوْنَ	عَلَيْكُمْ
او انسانانو	آيا نه وه راغلي تاسي ته	رسولان	له همدا تاسي څخه	چي بيانول به دوی	پر تاسي

او انسانانو! آيا نو وو راغلي تاسي ته رسولان له همدا تاسي څخه چي بيانول به دوی پر تاسي

ايٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۭ قَالُوْا شَهِدْنَا

ايٰتِيْ	وَيُنْذِرُوْنَكُمْ	لِقَآءَ	يَوْمِكُمْ	هٰذَا	قَالُوْا	شَهِدْنَا
آيتونه زما	او بيرولئ به ئې تاسي	له ملاقات	دورځي ستاسي څخه	چي دا ده	نو وائي به	چي شاهدي وايو

آيتونه (احكام) زما او بيرولئ به ئې تاسي له ملاقات د ورځي ستاسي څخه چي دا ده ، نو وائي به چي شاهدي وايو

عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى

عَلٰٓى	اَنْفُسِنَا	وَغَرَّتْهُمْ	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَا	وَشَهِدُوْا	عَلٰٓى
پر	ځانونو خپلو	او غره كړي ؤ دوى	ژوندون	د دنيا	او شاهدى وركړه دوى	پر

پر ځانونو خپلو او غره كړي (غولولي) ؤ دوى ژوندون لړ خسيس (دنيوي ژوندون)، او شاهدى وركړه دوى پر

اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿١٣٠﴾ ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ

اَنْفُسِهِمْ	اَنَّهُمْ	كَانُوْا	كٰفِرِيْنَ	ذٰلِكَ	اَنْ لَّمْ يَكُنْ
ځانونو خپلو باندى	چي بيشكه! دوى	وو	كافران	دغه	دپاره د دى چي نه دى

ځانونو خپلو باندى چي بيشكه !دوى وو كافران (په دنيا كښې). دغه (ارسال درسل) دپاره د دى چي نه دى

رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿١٣١﴾

رَّبُّكَ	مُهْلِكَ	الْقُرٰى	بِظُلْمٍ	وَّاَهْلُهَا	غٰفِلُوْنَ
رب ستا	هلاک كوونكى	دكليو	په ظلم سره	حال دا چي اهل د دى	غافلان وى

رب ستا هلاک كوونكى د كليو په ظلم سره حال دا چي اهل د دى (كليو اوښارونو) غافلان (بى خبران) وى.

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا

وَلِكُلٍّ	دَرَجٰتٌ	مِّمَّا	عَمِلُوْا	وَمَا	رَبُّكَ	بِغَافِلٍ	عَمَّا
او هرچاته	درجې دي	له هغو اعمالو	چي كړي وي دوى	او نه دى	رب ستا	بې خبره	له هغو شيانو

او هرچاته درجې دي له (جزا د) هغو اعمالو چي كړي وي دوى او نه دى رب ستا غافل له هغو شيانو

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٢﴾ وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۭ اِنْ يَّشَاْ

يَعْمَلُوْنَ	وَرَبُّكَ	الْغَنِيُّ	ذُو الرَّحْمَةِ	اِنْ	يَّشَاْ
چي دوى (ئې) كوى	او رب ستا	غنى دى	څيښتن د رحمت دى	كه	اراده وفرمائى

چي دوى (ئې) كوى. او رب ستا غنى (بې پروا) دى څيښتن (خاوند) د رحمت دى كه اراده وفرمائى

وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا يعني داخلک ددنيا ژوند او خوندونو په چم او دوكه كي اچولي وه : چي دوى هر څه داګڼلي دي كم چي په حقيقت كي هيڅ هم نه وه اودانجام او عاقبت څخه غافله سول په قول داكبر مرحوم (ددنيا عيش او عشرت هيڅ هم نه وو يوازي غفلت او غفلت وو :: موږ دا هر څه ګڼل او په حقيقت كي هيڅ هم نه وو) په دې آيت كي يوه خبره خو دادفكر كولو قابله ده چي په څينو نورو آيتونو كي داذكر دي چي دمشركينو څخه كله چي په محشر كي ددوى دكفر اوشرک متعلق پوښتنه وسي نو دوى به دخپل جرم څخه منكره سي او دالله ﷻ په دربار كي به قسم وخوري او دا درواغ به ووايي چي(والله ربّنا ما كنّا مشركين) يعني قسم دى زموږ په الله ﷻ باندي چي موږ هيڅكله مشركان نه وو او ددې ايت څخه معلوميږي چي دوى به پر خپل كفراوشرک په پښيمانتيا سره اقرار وكي اوداظاهري تعارض دى : جواب دادى چي په اوله مرحله كي به دوى منكره سي الله ﷻ به يي خولې وربندي كي اوداندامونو څخه به يي الله ﷻ اقرار او شاهدي واخلي.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص٣٥)

يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۢ بَعۡدِكُمۡ مَّا يَشَآءُ كَمَآ

يُذۡهِبۡكُمۡ	وَيَسۡتَخۡلِفۡ	مِنۢ بَعۡدِكُمۡ	مَّا يَشَآءُ	كَمَآ
نو بوځي به تاسي	او خليفه به کړي	وروسته له تاسي	هر هغه چي اراده وفرمائي	لکه چي

نو بوځي به تاسي او خليفه (ځاى نيونکى ستاسى) به کړي وروسته له تاسي هر هغه چي اراده وفرمائي لکه چي

اَنۡشَاَكُمۡ مِّنۡ ذُرِّيَّةِ قَوۡمٍ اٰخَرِيۡنَ ۝١٣٣ اِنَّ مَا تُوۡعَدُوۡنَ

اَنۡشَاَكُمۡ	مِّنۡ	ذُرِّيَّةِ	قَوۡمٍ	اٰخَرِيۡنَ	اِنَّ	مَا تُوۡعَدُوۡنَ
پيدا کړي ئې يئ تاسي	له	اولادى	دقوم	نورو نه	بيشکه!	هغه شي چي له تاسي سره ئې وعده کولى سى

پيدا کړي ئې يئ تاسي له اولادى د قوم نورو نه. بيشکه! هغه شي چي له تاسي سره ئې وعده کولى سى

لَاٰتٍ ۙ وَّمَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُعۡجِزِيۡنَ ۝١٣٤ قُلۡ يٰقَوۡمِ اعۡمَلُوۡا عَلٰى

لَاٰتٍ	وَّمَاۤ	اَنۡتُمۡ	بِمُعۡجِزِيۡنَ	قُلۡ	يٰقَوۡمِ	اعۡمَلُوۡا	عَلٰى
ضرور راتلونکى دى	او نه	يئ تاسي	عاجز کوونکى	ووايه	چي اى قومه زما	عمل کوئ تاسي	پر

ضرور راتلونکى دى او نه يئ تاسي عاجز کوونکى. ووايه چي اى قومه زما عمل کوئ تاسي پر

مَكَانَتِكُمۡ اِنِّيۡ عَامِلٌ ۚ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۙ مَنۡ تَكُوۡنُ

مَكَانَتِكُمۡ	اِنِّيۡ	عَامِلٌ	فَسَوۡفَ	تَعۡلَمُوۡنَ	مَنۡ	تَكُوۡنُ
حالت خپل سره	بيشکه! زه هم	عمل کوونکى يم	پس ژر به	پوه سئ تاسي	چي څوک دى	چي وى به

حالت خپل سره بيشکه! زه هم عمل کوونکى يم، پس ژر به پوه سئ تاسي چي څوک چي وى به

لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝١٣٥ وَجَعَلُوۡا

لَهٗ	عَاقِبَةُ	الدَّارِ	اِنَّهٗ	لَا يُفۡلِحُ	الظّٰلِمُوۡنَ	وَجَعَلُوۡا
ده ته	عاقبت (انجام)	د کور	بيشکه! شان دا دى	نه پيدا کوى برى	ظالمان	او مقرر کړى ده دغو

ده ته (محمود) عاقبت د دار شان دادى نه مومى برى ظالمان (کافران له عذابه د نيران). او مقرر کړى دى دغو

لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الۡحَرۡثِ وَالۡاَنۡعَامِ نَصِيۡبًا فَقَالُوۡا

لِلّٰهِ	مِمَّا	ذَرَاَ	مِنَ	الۡحَرۡثِ	وَالۡاَنۡعَامِ	نَصِيۡبًا	فَقَالُوۡا
الله ته	له هغه شي	چي پيدا کړى دى الله	له	کښتنه	او چارپايانو	يوه برخه	نو وائى دوى

الله ته له هغه شي چي پيدا کړى دى الله تعالى (هغه) له کښتنه (فصله) او چارپايانو يوه برخه نو وائى دوى

وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۢ بَعۡدِكُمۡ مَّا يَشَآءُ په دغه ايت کي الله ﷻ داښوولي ده: چي د رسولانو او آسماني کتابو دغه سلسله ددې دپاره نه وه چي درب العلمين څه زموږ عبادت او طاعت ته حاجت وو يا دده څه کار زموږ پر اطاعت باندي موقوف وو داسي نه ده هغه بالکل بى حاجته او غني دى مګر ددې کاملي استغناء او بې نيازى سره په ده کي يو صفت د رحمت هم دى او ټول عالم په وجود کي راوستل بيا يي باقي ساتل او ددوى دظاهري او باطني موجوده او آينده ټولو ضرورتونو بې غوښتلو پوره کول ددې ټولو سبب هم صفت د رحمت دى که داسي نه وي نو عاجزه انسان خو دخپلو ضرورتونو په خپله دپيدا کولو قابل خو لاڅه کوې دده سره خو دخپلو بې غوښتلو حاجتونو دغوښتلو سليقه هم نسته خصوصا دوجود دغه نعمت چي کم ده ته ورکول سويدى ددې بې غوښتلو ورکول کيدل بالکل واضح دي چي يو انسان هيڅ کله هم دخپلو پيدا کيدو دعا نه ده غوښتلې او نه په وجود کي تر راتلو مخکي ددعا غوښتلو څه تصور کيداى سي. (معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ٤٠)

هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ

هٰذَا	لِلّٰهِ	بِزَعۡمِهِمۡ	وَهٰذَا	لِشُرَكَآئِنَا	فَمَا	كَانَ
دا برخه	دپاره د الله ده	په زعم د دوی سره	او دا	دپاره د شریکانو زموږ ده	نو هغه برخه	چې وی

دا برخه دپاره د الله ده په زعم (عقیده) د دوی سره او دا (بله برخه) دپاره د شریکانو زموږ ده، نو هغه برخه چې وی

لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ

لِشُرَكَآئِهِمۡ	فَلَا	يَصِلُ	إِلَى اللّٰهِ	وَمَا	كَانَ	لِلّٰهِ	فَهُوَ
دپاره د شریکانو ددوی	پس نه	رسیږی	الله ته	او هغه برخه	چې وی	دپاره د الله	نو هغه

دپاره د شریکانو د دوی، پس (هغه) نه رسیږی الله ته او هغه برخه چې وی دپاره د الله نو هغه

يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡ ۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿١٣٦﴾ وَكَذٰلِكَ

يَصِلُ	إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡ	سَآءَ	مَا يَحۡكُمُونَ	وَكَذٰلِكَ
رسیږی	شریکانو د دوی ته	بد دی	هغه حکم چې کوی ئې دوی	او هم داسی

رسیږی شریکانو د دوی ته (چې بتان دی، ډیر) بد دی هغه حکم (انصاف) چې کوی ئې دوی. او هم داسی

زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الۡمُشۡرِكِينَ قَتۡلَ أَوۡلَادِهِمۡ شُرَكَآؤُهُمۡ

زَيَّنَ	لِكَثِيرٍ	مِّنَ الۡمُشۡرِكِينَ	قَتۡلَ	أَوۡلَادِهِمۡ	شُرَكَآؤُهُمۡ
ښائسته کړی دی	ډیرو	مشرکانو ته	وژل د	اولاد خپل	شریکانو د دوی

ښائسته کړی دی ډیرو مشرکانو ته وژل د اولاد خپل شریکانو د دوی (چې شیطانان دی)

لِيُرۡدُوهُمۡ وَلِيَلۡبِسُوا عَلَيۡهِمۡ دِينَهُمۡ ۖ

لِيُرۡدُوهُمۡ	وَلِيَلۡبِسُوا	عَلَيۡهِمۡ	دِينَهُمۡ
دپاره د دی چې هلاک کړی دوی	او لهپاره د دی چې ګډ کړی	پر دوی باندی	دین د دوی

دپاره د دی چې هلاک کړی دوی او لهپاره د دی چې ګډ کړی پر دوی باندی دین د دوی

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ﴿١٣٧﴾

وَلَوۡ	شَآءَ	اللّٰهُ	مَا فَعَلُوهُ	فَذَرۡهُمۡ	وَمَا	يَفۡتَرُونَ
او که	اراده فرمایلی وی	الله	نو نه به ؤ کړی دوی دا کار	نو پرېږده دوی	او هغه چې	دروغ وائی دوی

او که اراده فرمایلی وی الله نو نه به ؤ کړی دوی دا کار نو پرېږده دوی او هغه چې دروغ وائی دوی (پر الله باندی).

هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا په دغه ایت کي الله ﷻ دعربو دمشرکینو پریوه خاصه ګمراهی او غلط کاری باندي خبرداری ورکړی دی دعربو داعادت وو چي دفصل اوباغونو اودارنګه د تجارت څخه به څه پیداوار چي وسو په دې کي به يي يوه حصه دالله ﷻ دپاره او يوه حصه دخپلو بتانو دپاره ایستله دالله ﷻ دنوم حصه به يي په غريبانو فقيرانو او مسکينانو خرخ کوله او دبتانو دنوم حصه به يي دبت خاني په مجاورانو اوحفاظت کوونکو خرخ کوله اول خو ددوی داظلم څه کم نه وو چي ټول شیان الله ﷻ پیداکړي دي اود هر شي پیداوار هم هغه ورکوي اوبيا دهغه په ورکولو سوو شیانوکي بتان شريکوي او پر دې سربيره به يي داظلم هم کوی چي کله به په پیداوار کي څه کمی راغی نوداکمی به يي دالله ﷻ په حصې سره پوره کوی په دې وینا سره چي الله ﷻ غني دی زموږد شیانو محتاج نه دی اودبتانو حصه به يي هم پوره کوله اودخپل استعمال حصه هم بیانو څه نورچي کم خرافات دوی ایجاد کړي وه پر دغه خرافاتو باندي الله ﷻ په دغه آیت کي رد وکی:
(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص٣٣)

وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ

وَقَالُوْا	هٰذِهٖٓ	اَنْعَامٌ	وَّحَرْثٌ	حِجْرٌ	لَّا يَطْعَمُهَآ	اِلَّا	مَنْ
او وائي دوی	چې	چارپایان دي	او کښت	ممنوع دي	چې نه به خوري له دي	مګر	هغه څوک

او وائي دوی چې چارپايان دي او (که) کښت (فصل) ممنوع (حرام) دي چې نه به خوري له دي مګر هغه څوک

نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا

نَّشَآءُ	بِزَعْمِهِمْ	وَاَنْعَامٌ	حُرِّمَتْ	ظُهُوْرُهَا
چې زموږ خوښ وي	په ګمان د دوی سره سم	او چارپايان دي	چې حرامې کړې سوې دي	شاګانې د دوی

چې زموږ خوښ وي په ګمان د دوی سره سم او (ځينې) چارپايان دي چې حرامې کړې سوې دي شاګانې د دوی

وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ۭ

وَاَنْعَامٌ	لَّا يَذْكُرُوْنَ	اسْمَ	اللّٰهِ	عَلَيْهَا	افْتِرَآءً	عَلَيْهِ
او چارپايان دي	چې نه يادوي	دغه نوم	دالله	پر دوی	بلکه په طريقه د دروغ ترلو	پر الله

او (ځينو نور) چارپايان دي چې نه يادوي دغه نوم د الله پر دوی بلکه په طريقه د دروغ ترلو په الله،

سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝١٣٨ وَقَالُوْا مَا فِيْ

سَيَجْزِيْهِمْ	بِمَا كَانُوْا	يَفْتَرُوْنَ	وَقَالُوْا	مَا	فِيْ
ژر به سزا ورکړي دوی ته	په سبب د دي چې وو دوی	دروغ به ئې ترل	او وائي دوی	چې هغه شي	چې په

ژر به سزا ورکړي دوی ته (الله) په سبب د دي چې وو دوی دروغ به ئې ترل (پر الله). او وائي دوی چې هغه شي چې په

بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰٓى

بُطُوْنِ	هٰذِهِ	الْاَنْعَامِ	خَالِصَةٌ	لِّذُكُوْرِنَا	وَمُحَرَّمٌ	عَلٰٓى
نسو	د دي	چارپايانو کښې دي	خاص دي لپاره	د نارينه ؤ زموږ	او حرام کړی سوی دی	پر

ګيډو د دي چارپايانو کښې دي خاص دي لپاره د نارينه ؤ زموږ او حرام کړی سوی دی پر

اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ۭ

اَزْوَاجِنَا	وَاِنْ	يَّكُنْ	مَّيْتَةً	فَهُمْ	فِيْهِ	شُرَكَآءُ
ښځو زموږ	او که	وي هغه	مرداره	نو دوی	پکښې	شريکان دي

ښځو زموږ، او که وي هغه مرداره نو دوی (نر او ښځه) پکښې شريکان دي،

وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ..په دې ايتونو کې دکفارو او مشرکينو دعملي غلطيو او جاهلانه رسمونو ذکر دی: دکمو جاهلانه رسمونو ذکر چې په دې اياتونو کې راغلی دی هغه دادي: **اول** : په غله او ميوه کې څه حصه دالله ﷻ پر نامه باندي دوی جلاکوله او څه حصه دبتانو او شيطانانو په نامه باندي بيا که اتفاقا دالله ﷻ دحصې څخه دبتانو په حصه کي ګډسي نو هم دغه ډول يي پريږدی او که معامله بر عکس وسي نوليري کوی يي او دبتانو حصه پوره کوي او بهانه داوه چې الله ﷻ غني دی دده حصه که کمه سي نو هيځ نقصان نسته او شريکان دالله ﷻ محتاجه دي ددوی حصه کمول نه دي پکار ددې ناکاره رسم بيان په مخکنی اياتونو کي هم راغلی دی. **دوهم** : رسم داووچې بحيره ، سائبه حيوان به يي دبتانو پر نامه باندي پريښوول او دا به يي ويل چې داکار د الله ﷻ دخوشحالی دپاره موږ کوو په دې کې هم دبتانو حصه داوه چې عبادت دهغوی وو او د الله ﷻ حصه داسوه چې دا به يي د الله ﷻ خوشحالي ګڼلـه.

پاته بيان پر راروان مخ وګوری

سَيَجۡزِيۡهِمۡ وَصۡفَهُمۡ ؕ اِنَّهٗ حَكِيۡمٌ عَلِيۡمٌ ﴿۱۳۹﴾ قَدۡ خَسِرَ

سَيَجۡزِيۡهِمۡ	وَصۡفَهُمۡ	اِنَّهٗ	حَكِيۡمٌ	عَلِيۡمٌ	قَدۡ	خَسِرَ
ژر به سزا ورکړی دوی ته	دبیان د دوی	بیشکه! دغه	ښه حکمت والا دی	ښه علم والا	بیشکه!	زیان کړی دی

ژر به سزا ورکړی (الله) دوی ته د تقریر د دوی، بیشکه! دغه (الله) ښه حکمت والا دی ښه علم والا. بیشکه! زیان کړی دی

الَّذِيۡنَ قَتَلُوۡۤا اَوۡلَادَهُمۡ سَفَهًاۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّحَرَّمُوۡا

الَّذِيۡنَ	قَتَلُوۡۤا	اَوۡلَادَهُمۡ	سَفَهًا	بِغَيۡرِ	عِلۡمٍ	وَّحَرَّمُوۡا
هغو کسانو	چې وژلی ئی دی	اولاد خپل	له جهته د بی عقلی	بی له	پوهی	او حرام کړی ئی دی

هغو کسانو چې وژلی ئی دی اولاد خپل له جهته د بی عقلی بی له پوهی او حرام کړی ئی دی

مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افۡتِرَآءً عَلَى اللّٰهِ ؕ قَدۡ ضَلُّوۡا

مَا رَزَقَهُمُ	اللّٰهُ	افۡتِرَآءً	عَلَى	اللّٰهِ	قَدۡ	ضَلُّوۡا
هغه شیونه چې رزق ورکړی دی دوی ته	الله	له جهته د دروغ تړلو	پر	الله پوری	بیشکه!	گمراهان سوی دی دوی

هغه شیونه چې رزق ورکړی دی دوی ته الله له جهته د دروغ تړلو پر الله پوری، بیشکه! گمراهان سوی دی دوی

وَمَا كَانُوۡا مُهۡتَدِيۡنَ ﴿۱۴۰﴾ وَهُوَ الَّذِيۡۤ اَنۡشَاَ جَنّٰتٍ مَّعۡرُوۡشٰتٍ

وَمَا كَانُوۡا	مُهۡتَدِيۡنَ	وَهُوَ	الَّذِيۡۤ	اَنۡشَاَ	جَنّٰتٍ	مَّعۡرُوۡشٰتٍ
او نه دی دوی	لاره پیدا کوونکی	او الله	هغه ذات دی	چې پیدا کړی ئی دی	باغونه	پورته کړی سوی

او نه دی دوی لاره موندونکی. او الله هغه ذات دی چې پیدا کړی ئی دی باغونه هسک (اوچت) کړی سوی

وَّغَيۡرَ مَعۡرُوۡشٰتٍ وَّالنَّخۡلَ وَالزَّرۡعَ مُخۡتَلِفًا اُكُلُهٗ

وَّغَيۡرَ	مَعۡرُوۡشٰتٍ	وَّالنَّخۡلَ	وَالزَّرۡعَ	مُخۡتَلِفًا	اُكُلُهٗ
او غیر	پورته کړی سوی	او د خرما ونه	او کښت	چې مختلف وی	میوی د هغو

او غیر هسک کړی سوی (پراته پر مځکه) او د خرما ونه او کښت چې مختلفی وی میوی (حاصل) د هغو

وَالزَّيۡتُوۡنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيۡرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوۡا

وَالزَّيۡتُوۡنَ	وَالرُّمَّانَ	مُتَشَابِهًا	وَّغَيۡرَ	مُتَشَابِهٍ	كُلُوۡا
او زیتون	او انار	چې متشابه وی	او غیر	متشابه وی	خورئ تاسی

او زیتون او انار چې یو شان وی (په ونو او پانو کښی) او غیر متشابه وی (میوی د هغو په مزو کښی)، خورئ تاسی

سَيَجۡزِيۡهِمۡ وَصۡفَهُمۡ ؕ اِنَّهٗ حَكِيۡمٌ عَلِيۡمٌ.. د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

دریم رسم: دغه رسم د خپلو لونو قتلول وو.

څلورم: رسم ځیني فصلونه او کښتونه به یي د بتانو پرنامه کوله او ویل به یي چي ددې اصلي مصرف یوازي سړي دي ښځوته ددې څخه څه ورکول او نه ورکول زموږ په خوښه دي ددوی حق دمطالبې نسته:

پنځم: رسم به دغه ډول کار په حیوانانو کي وویو به یي ورڅخه دنارینه وودپاره خاص کی: **شپږم**: رسم چي کم حیوان به یي د بتانو په نوم پریښووی پرهغو ی به یي سپرلی کول او بار وړل حرام ګڼی: **اووم**: رسم ځیني حیوانان به یي خاص کول چي پر هیڅ موقع به یي ورباندي د الله ﷻ نوم نه اخیستی نه دلوشلو په وخت کي او نه د سپریدو په وخت کي او نه د ذبح کولو په وخت کي.

اتم: رسم دا ووچي د کمو حیوانانو نوم به یي بحیره یا سآئبه کښیښووی د بتانو په نوم به یي پریښووی ددوی د ذبحی په وخت کي به که ورڅخه بچی د نس څخه ژوندی راووتی نو دغه به یي هم ذبح کی خو دا به یوازي د سړو دپاره حلال وو د ښځو دپاره به یي حرام ګڼی او نور داسي خرافات الخ:
(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۴۶)

ع ٣ الربع

مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ

مِنْ	ثَمَرِهٖٓ	اِذَآ	اَثْمَرَ	وَاٰتُوْا	حَقَّهٗ	يَوْمَ	حَصَادِهٖ
له	ميوى دهغى څنى	كله چي	ميوى ونيسى	او اداء كړى	حق دهغى	په ورځ	دريبلو د دى

له ميوى دهغى څنى كله چي ميوى ونيسى او اداء كړئ حق د هغى په ورځ د ريبلو د دى،

وَلَا تُسْرِفُوْا ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۝١٤١ وَمِنَ الْاَنْعَامِ

وَلَا تُسْرِفُوْا	اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ	الْمُسْرِفِيْنَ	وَمِنَ	الْاَنْعَامِ
او بى ځايه يى مه صرفوئ تاسى	بيشكه! چي الله	نه خوښوى	مسرفان	او له	چارپايانو

او بى ځايه يى مه صرفوئ تاسى، بيشكه! چي الله نه خوښوى مسرفان. (تيريدونكى له حدودو). او له چارپايانو

حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ۭ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا

حَمُوْلَةً	وَّفَرْشًا	كُلُوْا	مِمَّا	رَزَقَكُمُ	اللّٰهُ	وَلَا تَتَّبِعُوْا
بار وړونكى	او غځيدونكى	خورئ تاسى	له هغو څنى	چي رزق دركړى تاسى ته	الله	او مه كوئ متابعت تاسى

بار وړونكى او لګيدونكى دمځكى سره، خورئ تاسى له هغو څنى چي رزق دركړى تاسى ته الله او مه كوئ متابعت تاسى

خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝١٤٢ ثَمٰنِيَةَ

خُطُوٰتِ	الشَّيْطٰنِ	اِنَّهٗ	لَكُمْ	عَدُوٌّ	مُّبِيْنٌ	ثَمٰنِيَةَ
په قدمو	دشيطان	بيشكه! دا	تاسى ته	دښمن دى	ښكاره	اته

په قدمو د شيطان، بيشكه! دا (شيطان) تاسى ته دښمن دى ښكاره. (الله پيدا كړى دى حلال) اته

اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ۭ قُلْ

اَزْوَاجٍ	مِنَ الضَّاْنِ	اثْنَيْنِ	وَمِنَ	الْمَعْزِ	اثْنَيْنِ	قُلْ
جوړى	له ميږو	څنى دوه	او له	وزو څخه	دوه	ووايه (محمده!)

جوړى (نر او ښځه) له ميږو څنى دوه (نر او ښځه) ، او له وزو (بيزو) څخه دوه (نر او ښځه)، ووايه (اى محمده! دوى ته)

ءٰۤالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ

ءٰۤالذَّكَرَيْنِ	حَرَّمَ	اَمِ	الْاُنْثَيَيْنِ	اَمَّا	اشْتَمَلَتْ	عَلَيْهِ
چي آيا دواړه نران	حرام كړى دى	كه	دواړه ښځى	يا هغه بچي	چي مشتمل وى	په هغو باندى

چي آيا (الله) دواړه نران حرام كړى دى كه دواړه ښځى (له دوى څخه) يا هغه بچي چي مشتمل وى په هغو باندى

وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ

دمځکي عشر اودهغه بيان

دآتوا معنى ده (راوړی، يااداء کړی) او (حصاد) وايي دفصل ريبلو يا شکولوته دميوې او د (حقه) ضمير هر هغه دخوراک شي ته راجع دی دکمو چي لوړ ذکر سوی دی :معنى داده چي داتول شيان خوری اوچيښی او استعمالوی مگر يوه خبره ياد وساتی چي دفصل ريبلو يا ميوې شکولو په وخت کي ددې حق هم ادا کوی دحق څخه مراد په غريبانو او مسکينانو صدقه کول دي لکه چي په بل آيت کي په عامو الفاظو کي ارشاد دی (والذين فی اموالهم حق معلوم:: للسائل والمحروم) يعني دنيکو خلگو په مالونوکي مقرر حق وي دغوښتونکو اونه غوښتونکو فقيرانو او مسکينانو دپاره: مراد ددې صدقې څخه عامه صدقه خيرات دی يا هغه صدقه چي دمځکي زکوة يا عشر ورته ويل کيږي ؟ په دې کي دتفسير دامامانو، اصحابو ﷺ او تابعينو دوه قولونه دي ځيني فرمايي چي زکوة ورڅخه مراد دی او ځيني بيا فرمايي چي عامه صدقه ورڅخه مراد ده الخ.

(معارف القرآن ج٣ پ٨ ص٥٢)

آٰرَّحَامُ الۡاُنۡثَیَیۡنِ ؕ نَبِّـُٔوۡنِیۡ بِعِلۡمٍ اِنۡ کُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۱۴۳﴾

اٰرۡحَامُ	الۡاُنۡثَیَیۡنِ	نَبِّـُٔوۡنِیۡ	بِعِلۡمٍ	اِنۡ	کُنۡتُمۡ	صٰدِقِیۡنَ
رحمونه	د دغو دواړو ښځو	راوښيئ تاسی ماته	په علم سره	كه	يئ تاسی	صادقان

رحمونه د دغو دواړو ښځو راوښيئ تاسی ماته سند (چی علم دی) كه يئ تاسی صادقان. (رښتنی)

وَمِنَ الۡاِبِلِ اثۡنَیۡنِ وَمِنَ الۡبَقَرِ اثۡنَیۡنِ ؕ قُلۡ

وَمِنَ	الۡاِبِلِ	اثۡنَیۡنِ	وَمِنَ	الۡبَقَرِ	اثۡنَیۡنِ	قُلۡ
او له	اوښانو	دوه	او له	غواپانو	دوه	ووايه (ای محمده!)

او (الله پيدا كړی دی) له اوښانو دوه (نر او ښځه) او له غواپانو دوه (نر او ښځه)، ووايه (ای محمده!) دوی ته

ءٰٓالذَّکَرَیۡنِ حَرَّمَ اَمِ الۡاُنۡثَیَیۡنِ اَمَّا اشۡتَمَلَتۡ عَلَیۡهِ

ءٰٓالذَّکَرَیۡنِ	حَرَّمَ	اَمِ	الۡاُنۡثَیَیۡنِ	اَمَّا اشۡتَمَلَتۡ	عَلَیۡهِ
چی آيا دواړه نران	حرام كړی دی الله	كه	دواړه ښځی	يا هغه چی مشتمل دی	پری

چی آيا دواړه نران حرام كړی دی الله كه دواړه ښځی يا هغه (بچی ئی حرام كړی) چی مشتمل دی پری

اَرۡحَامُ الۡاُنۡثَیَیۡنِ ؕ اَمۡ کُنۡتُمۡ شُهَدَآءَ اِذۡ وَصّٰکُمُ

اَرۡحَامُ	الۡاُنۡثَیَیۡنِ	اَمۡ	کُنۡتُمۡ	شُهَدَآءَ	اِذۡ وَصّٰکُمُ
رحمونه	د دغو دواړو ښځو	آيا	وئ تاسی	حاضران	كله چی وصيت كاوه تاسی ته

رحمونه د دغو دواړو ښځو، آيا وئ تاسی حاضران (ليدونكی) كله چی وصيت (حكم) كاوه تاسی ته

اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا

اللّٰهُ	بِهٰذَا	فَمَنۡ	اَظۡلَمُ	مِمَّنِ	افۡتَرٰی	عَلَی	اللّٰهِ	کَذِبًا
الله	په دی شيانو	نو څوك دی	ډير ظالم	له هغه چاچی	تړی	پر	الله باندی	دروغ

الله په دی شيانو، نو څوك دی ډير ظالم له هغه چاچی تړی پر الله باندی دروغ

لِّیُضِلَّ النَّاسَ بِغَیۡرِ عِلۡمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهۡدِی الۡقَوۡمَ

لِّیُضِلَّ	النَّاسَ	بِغَیۡرِ	عِلۡمٍ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا یَهۡدِی	الۡقَوۡمَ
دپاره د دی چی گمراه كړی	خلك	بی له	علمه	بيشكه!	الله	نه كوی هدايت	قوم

دپاره د دی چی گمراه كړی خلك بی له علمه (تحقيقه) بيشكه! الله نه كوی هدايت قوم

نَبِّـُٔوۡنِیۡ بِعِلۡمٍ اِنۡ کُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ... لنډ تفسير: په دغه آيت كي الله ﷻ فرمايي ای كفارو او مشركينو دغه حيوانان په كموكي چي تاسي حلال او حرام كوی اته نر او اته مادې الله ﷻ پيدا كړي دي يعني په ميږه او پسه كي دوه قسمه يو نر او بل ماده او په بزه كي دوه قسمه يو نر او بل ماده ته دوی ته ووايه چي دا وښياست چي ايا الله ﷻ په دې دواړو حيواناتو كي دواړه نران حرام كړي دي او كه دواړې مادې يې حرامي كړي دي يا هغه بچي چي ددوی په نسو كي دي هغه نو بيا كه نر او كه ماده وي يعني تاسي چي په مختلفو صورتونو سره دحراموالي دعوی كوی نو آيا حراموالی الله ﷻ فرمايلی دی ؟ تاسي ماته په يو بل دليل سره خو وښيا ست كه چيري په خپله دعوی كي رښتيني ياست: داخو دكوچني قدوالا حيوانانو متعلق بيان وسومخ ته دلوی قد والا حيوانانو بيان دی چي دغه شان په اوښ كي دوه قسمونه دي يو نر او يو ماده او په غوا كي هم الله ﷻ دوه قسمونه پيدا كړي دي يو نر او بل ماده دلته هم دليل راوړی د حراموالي كه رښتيني ياست. (معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ٥٥)

ع ١٧

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٤٤﴾ قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى

الظّٰلِمِيْنَ	قُلْ	لَّآ اَجِدُ	فِيْ	مَآ	اُوْحِيَ	اِلَيَّ	مُحَرَّمًا	عَلٰى
ظالمانو ته	ووایه	چي زه نه پیدا کوم	په	هغه شی کښی	چي وحی کړی سوی ده	ماته	حرام کړی سوی	پر

ظالمانو ته. ووایه (ای محمده!) چي زه نه پیدا کوم په هغه شی کښی چي وحی کړی سوی ده ماته حرام کړی سوی پر

طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ

طَاعِمٍ	يَّطْعَمُهٗٓ	اِلَّآ	اَنْ يَّكُوْنَ	مَيْتَةً	اَوْ دَمًا	مَّسْفُوْحًا	اَوْ لَحْمَ
کوم خوړونکی	چي خوری هغه	مگر	که وی داشی	مرداره	یا وینه	بهیدونکی	یا غوښه

کوم خوړونکی چي خوری هغه مگر که وی داشی مرداره یا وینه بهیدونکی یا غوښه

خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ

خِنْزِيْرٍ	فَاِنَّهٗ	رِجْسٌ	اَوْ فِسْقًا	اُهِلَّ	لِغَيْرِ	اللّٰهِ	بِهٖ
د خنزیر	نو بیشکه! دغه خنزیر	پلیت دی	یا ناجائزه ذبیحه وی	چي غږ کړی سوی وی	بی د نامه	د الله	په هغی

د خنزیر نو بیشکه! دغه خنزیر پلیت دی یا ناجائزه ذبیحه وی چي غږ کړی سوی وی بی د نامه د الله په (وخت د ذبح د) هغی.

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ

فَمَنِ	اضْطُرَّ	غَيْرَ	بَاغٍ	وَّلَا عَادٍ	فَاِنَّ	رَبَّكَ
بیا که څوک	بی اختیاره سی په دغه حال	چي نه وی	ظالم	او نه تیریدونکی	نو بیشکه!	رب ستاسی

بیا که څوک (له لوږی) بی اختیاره سی په دغه حال چي نه وی ظالم او نه تیریدونکی (دضرورت له قدره) نو بیشکه! رب ستاسی

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤٥﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	وَعَلَى	الَّذِيْنَ	هَادُوْا	حَرَّمْنَا	كُلَّ
لوی بخښونکی	نهایت مهربان دی	او پر	هغو کسانو باندی	چي یهودان دی	حرام کړی ؤ موږ	هر

لوی بخښونکی نهایت مهربان دی. او پر هغو کسانو باندی چي یهودان دی حرام کړی ؤ موږ هر

ذِيْ ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا

ذِيْ ظُفُرٍ	وَمِنَ	الْبَقَرِ	وَالْغَنَمِ	حَرَّمْنَا	عَلَيْهِمْ	شُحُوْمَهُمَآ	اِلَّا
نوکداره	او له	غوایانو	او له میږو	حرام کړی ؤ موږ	پر دوی باندی	وازدی د دی دواړو	مگر

نوکداره (جانداره) او له غوایانو او له میږو حرام کړی ؤ موږ پر دوی باندی وازدی د دی دواړو مگر

قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا. لنډ تفسير: خطاب نبي كريم ﷺ ته دی چي ته ووايه دې كفارو ته چي په كمو حيواناتو كي خبره روانه ده ددې متعلق چي كم احكام په ذريعه دوحي ماته راغلي دي په دې كي خو زه څه حرام خوراک نه پيدا كوم ديوچا خوړونكي دپاره چي داخوري برابره خبره ده كه سړى وي او كه ښځه مگر داشيان البتّه حرام پيدا كوم هغه داچي هغه مردار حيوان وي يعني كم چي ذبح يي واجب وي او بې ذبحي مړ سي يعني پر شرعي طريقه ذبح نه سي يا داچي بهيدونكي وينه وي يا دخنزير غوښه وي ځكه چي دغه خنزير بالكل ناپاک دی په دې وجه دده ټول اجزار پليت او حرام دي داسي پليت چي نجس العين ورته ويل كيږي يا كم حيوانان اونور چي دشرک ذريعه وي داسي چي په اراده دتقرب دغيرالله منتخب سوي وي پس داټول حرام دي بياهم په دې كي دومره آساني ده چي كم سړى دلوږي څخه ډير بې تابه سي په دې شرط چي نه خوپه خوراک كي خوند او مزه طلب كوونكى وي او نه دضرورت داندازي څخه تجاوزكوونكى وي هغه ته خوړل رواه دي ددغه حراموهم الخ:
(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ٥٧)

مَا حَمَلَتۡ ظُهُوۡرُهُمَاۤ اَوِ الۡحَوَايَاۤ اَوۡ مَا اخۡتَلَطَ

مَا حَمَلَتۡ	ظُهُوۡرُهُمَاۤ	اَوِ الۡحَوَايَاۤ	اَوۡ مَا	اخۡتَلَطَ
هغه وازده چې بار کړې وه	شاګانو د دوی دواړو	يا کلمو باندی به وه	يا هغه وازده چې	لګيدلی به وی

هغه وازده چې بار کړې وه شاګانو د دوی دواړو يا کلمو باندی به وه يا هغه وازده چې لګيدلی به وه

بِعَظۡمٍ ؕ ذٰلِكَ جَزَيۡنٰهُمۡ بِبَغۡيِهِمۡ ۖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوۡنَ ﴿۱۴۶﴾

بِعَظۡمٍ	ذٰلِكَ	جَزَيۡنٰهُمۡ	بِبَغۡيِهِمۡ	وَاِنَّا	لَصٰدِقُوۡنَ
له هډوکی سره	دا	جزا ورکړی وه موږ دوی ته	په سبب د ظلم د دوی	او بيشکه! موږ	خامخا رښتيا ويونکی يو

له هډوکی سره دا جزا ورکړی وه موږ دوی ته (په هغه سره) په سبب د ظلم د دوی او بيشکه! موږ خامخا رښتيا ويونکی يو

فَاِنۡ كَذَّبُوۡكَ فَقُلۡ رَّبُّكُمۡ ذُوۡ رَحۡمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ

فَاِنۡ	كَذَّبُوۡكَ	فَقُلۡ	رَّبُّكُمۡ	ذُوۡ رَحۡمَةٍ	وَّاسِعَةٍ
نو که	نسبت د دروغو وکړ دوی تاته	نو ووايه	چې رب ستاسی	خاوند د رحمت	پراخه دی

نو که نسبت د دروغو وکړ دوی تاته نو ووايه (ای محمده) چې رب ستاسی څيښتن د رحمت واسع (ډير پراخ) دی

وَلَا يُرَدُّ بَاۡسُهٗ عَنِ الۡقَوۡمِ الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۱۴۷﴾ سَيَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ

وَلَا يُرَدُّ	بَاۡسُهٗ	عَنِ	الۡقَوۡمِ	الۡمُجۡرِمِيۡنَ	سَيَقُوۡلُ	الَّذِيۡنَ
او نه ګرځاوه شی	عذاب د الله	له	قومه	ګنهګارانو	ژر به ووائی	هغه کسان

او نه ګرځاوه شی عذاب د الله له قومه ګنهګارانو. ژر به ووائی هغه کسان

اَشۡرَكُوۡا لَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَاۤ اَشۡرَكۡنَا وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا

اَشۡرَكُوۡا	لَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ	مَاۤ اَشۡرَكۡنَا	وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا	وَلَا حَرَّمۡنَا
چې شرک يې کړی دی	که اراده فرمائيلی وی	الله	نو شرک به نهٔ وو کړی موږ	او نه پلرونو زموږ	او نه به حرام کړی وُ موږ

چې شرک يې کړی دی که اراده فرمائيلی وی الله نو شرک به نهٔ غوره کړی موږ او نه پلرونو زموږ او نه به حرام کړی وُ موږ

مِنۡ شَىۡءٍ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ حَتّٰى

مِنۡ	شَىۡءٍ	كَذٰلِكَ	كَذَّبَ	الَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	حَتّٰى
هيڅ	شی	لکه هم دغه	نسبت د دروغو کړی وُ	هغو کسانو	چې پخوا له دوی څخه وو	تر هغه پوری

هيڅ شی، لکه هم دغه (مکذبان) نسبت د دروغو کړی وُ هغو کسانو چې پخوا له دوی څخه وو تر هغه پوری

حَمَلَتۡ ظُهُوۡرُهُمَاۤ اَوِ الۡحَوَايَاۤ

لنډ تفسير: الله ﷻ فرمايي موږ پر يهودو باندې ټول نوکانو والا حيوانان حرام کړي وه او دغوا او بزې په اجزاوو کې د دواړو وازګې موږ پردوی حرامې کړې وې مګر هغه وازګه ورڅخه مستثنی وه کمه چې د دې دواړو په شاپورې مښتې وه يا په کولمو پورې يا هغه وازګه چې د هډوکو سره يوځای سوې وي باقي ټوله وازګې پردوی حرامې وې ليکن د دې شيانو حراموالی بنفسه مقصود نه وو زموږ بلکې د دوی د شرارت د وجې څخه موږ دوی ته دا سزا ورکړه او موږ يقينا رښتيني يو: بيا د دې ذکر سوي تحقيق څخه وروسته هم که د امشرکين تاته نعوذبالله په دې مضمون کې يو ازې په دې وجه دروغ ووايې چې پردوی عذاب نه راځي نو ته په جواب کې وفرمايه چې ستاسې رب ډير لوی رحمت والا دی د ځينو حکمتونو په وجه ډير ژر ګرفت او تينګول نه کوي او په دې سره د اسې مه ګڼې چې هميشه به د اسې محفوظ اوسې کله چې مو مقرر وخت راسي نو هغه وخت بيا عذاب د الله ﷻ د مجرمينو څخه نه واپس کيږي.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۵۷)

ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ

ذَاقُوْا	بَاْسَنَا	قُلْ	هَلْ	عِنْدَكُمْ	مِّنْ	عِلْمٍ	فَتُخْرِجُوْهُ
چي وڅاکه دوی	عذاب زموږ	ووايه	آيا سته	تاسي سره	څه	علمي سند	چي راوباسئ تاسي هغه

چي وڅاکه دوی عذاب زموږ، ووايه (ای محمده!) آيا سته تاسي سره څه علمي سند چي راوباسئ تاسي هغه

لَنَا ؕ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿١٤٨﴾

لَنَا	اِنْ تَتَّبِعُوْنَ	اِلَّا	الظَّنَّ	وَاِنْ	اَنْتُمْ	اِلَّا	تَخْرُصُوْنَ
موږ ته	پيروی نه کوئ تاسي	مګر	د تش ګمان	او نه	يئ تاسي	مګر	خو دروغ وايئ

موږ ته پيروی نه کوئ تاسي مګر د تش ګمان (اټکل خپل) او نه يئ تاسي مګر خو درواغ وايئ (په الله)

قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۚ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٤٩﴾

قُلْ	فَلِلّٰهِ	الْحُجَّةُ	الْبَالِغَةُ	فَلَوْ	شَآءَ	لَهَدٰىكُمْ	اَجْمَعِيْنَ
ووايه	نو الله لره دی	دليل	کامل	نو که	اراده فرمايلي وی	خامخا هدايت به ئې فرمايلی ؤ تاسي	ټولو ته

ووايه (ای محمده!) نو الله لره دی دليل کامل نو که اراده فرمايلي وی (الله) خامخا هدايت به ئې فرمايلي ؤ تاسي ټولو ته

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ

قُلْ	هَلُمَّ	شُهَدَآءَكُمُ	الَّذِيْنَ	يَشْهَدُوْنَ	اَنَّ	اللّٰهَ
ووايه	راولئ	شاهدان خپل	هغوی	چي شاهدی ورکوی دوی	چي بيشکه!	الله

ووايه (ای محمده!) راولئ شاهدان خپل هغوی چي شاهدی ورکوی دوی (په دی) چي بيشکه! الله

حَرَّمَ هٰذَا ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ

حَرَّمَ	هٰذَا	فَاِنْ	شَهِدُوْا	فَلَا تَشْهَدْ	مَعَهُمْ	وَلَا تَتَّبِعْ
حرام کړی دی	دا شيونه	نو که	شاهدی ورکړه دوی	نو ته شاهدی مه وايه	له دوی سره	او مه کوه متابعت

حرام کړی دی دا شيونه، نو که شاهدی ورکړه دوی نو ته شاهدی مه وايه له دوی سره او مه کوه متابعت

اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

اَهْوَآءَ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا	وَالَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ
د آرزوګانو	دهغو کسانو	چی نسبت د دروغو کوی	آيتونو زموږ ته	او دهغو کسانو چي	نه راوړی ايمان

د آرزوګانو د هغو کسانو چي نسبت د دروغو کوی آيتونو زموږ ته او دهغو کسانو چي نه راوړی ايمان (نه کوی يقين)

قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا. **لنډ تفسير:**

دلته الله ﷻ فرمايي چي دغه کفار دمکې رسول درواغجن کوي لکه چي تردوی مخکې کافرانو هم رسولان درواغجن کول نو پر هغو باندي عذاب الهي راغی او زموږ عذاب يي وڅکی او هغه څکل بياعام دي که په دنيا کي وي لکه چي په اکثرو تيرو کافرانو باندي عذاب دالله ﷻ رانازل سو او تر مرګ وروسته خوښکاره خبره ده اودا اشاره دې طرف ته ده چي ددې خلګو ددې کفر دخبرو مقابله يوازي په قولي جواب او مناظره سره نه کول کيږي بلکي دتيرو کافرانو په ډول به عملي سزا هم ورکول کيږي برابره خبره ده که په دنيا کي هم وي او که په اخرت کي: **مخ ته ددوهم جواب ورکولو دپاره ارشاددی** چي ته دوی ته ووايه چي آيا ستاسي سره پر دې دعوی چي ستاسي په دې کفر باندي الله ﷻ راضي دی څه دليل سته؟ که وي نو هغه موږ ته مخامخ راښکاره کی او اصلي خبره داده چي دليل او نور هيڅ هم نسته ددوی سره صرف ضداوتعصب دی.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص٥٩)

ع ۱۸ ۵

بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ قُلْ

بِالْاٰخِرَةِ	وَهُمْ	بِرَبِّهِمْ	يَعْدِلُوْنَ	قُلْ
په آخرت باندی	حال دا چې دوی	له ربه خپله	سره برابروی	ووایه (ای محمده!)

په آخرت باندی حال دا چې دوی له ربه خپله سره برابروی (نور شیان په عبادت کښې). ووایه (ای محمده!) دوی ته

تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا

تَعَالَوْا	اَتْلُ	مَا حَرَّمَ	رَبُّكُمْ	عَلَيْكُمْ	اَلَّا تُشْرِكُوْا
چې راشئ!	چې زه ووایم	هغه چې حرام کړی دی	رب ستاسی	پر تاسی باندی	چې شریکان مه نیسئ تاسی

چې راشئ! چې زه ولولم (در واوروم) هغه چې حرام کړی دی رب ستاسی پر تاسی باندی چې شریکان مه نیسئ تاسی

بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ

بِهٖ	شَيْـًٔا	وَّبِالْوَالِدَيْنِ	اِحْسَانًا	وَلَا تَقْتُلُوْٓا	اَوْلَادَكُمْ
له دغه (الله) سره	هیڅ شی	او له مور او پلار سره	په نیکی کولو سره	او مه وژنئ تاسی	اولاد خپل

له دغه (الله) سره هیڅ شی، او (نیکی کوئ تاسی) له مور او پلار سره په نیکی کولو سره او مه وژنئ تاسی اولاد خپل

مِّنْ اِمْلَاقٍ ۚ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ وَلَا تَقْرَبُوا

مِّنْ	اِمْلَاقٍ	نَحْنُ	نَرْزُقُكُمْ	وَاِيَّاهُمْ	وَلَا تَقْرَبُوا
له	خواری څخه	موږ	رزق در کوو تاسی ته	او هم دوی ته	او مه نژدی کیږئ

له (ویری د فقر او) خواری څخه، موږ رزق (روزی) در کوو تاسی ته او هم دوی ته، او مه نژدی کیږئ

الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا

الْفَوَاحِشَ	مَا ظَهَرَ	مِنْهَا	وَمَا	بَطَنَ	وَلَا تَقْتُلُوا
فواحشو ته	هغه چې ښکاره وی	له دی	او هغه	چې پټ وی	او مه وژنئ تاسی

فواحشو (بې حیائی، ناکارو کارونو) ته هغه چې ښکاره وی له دی (فواحشو) او هغه چې پټ وی، او مه وژنئ تاسی

النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ

النَّفْسَ	الَّتِيْ	حَرَّمَ	اللّٰهُ	اِلَّا	بِالْحَقِّ	ذٰلِكُمْ	وَصّٰىكُمْ
نفس	هغه نفس	چې حرام کړی دی	الله	مگر	په حق سره	دا	حکم کړی دی الله تعالی تاسی ته

نفس هغه نفس چې حرام کړی دی الله (وژل ئې) مگر (وژنۀ ئې) په حق سره، دا حکم کړی دی الله تعالی تاسی ته

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ. دذکر سوو ایاتونو خاص خصوصیات: کعب احبار کم چې دتورات ماهر عالم وو اول دی یهودي وو بیا مسلمان سودی فرمایي چې دقرآن مجیددا ایاتونه په کمو کې چې دحرامو شیان بیان سوی دی دالله ﷻ کتاب تورات تر بسم الله وروسته ددې ایاتونو څخه شروع کیږي: اوویل سوي دي چې دا هغه لس جملې دي کمي چې پر حضرت موسی علیه السلام نازلي سوي وې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمایي چې دا هغه محکمات ایاتونه دي دکمو ذکر چې په سورت آل عمران کې راغلی دی پر کمو چې دحضرت آدم رضی الله عنه څخه نیولې تر خاتم الانبیاء ﷺ پوري دټولو پیغمبرانو شریعتونه موافق پاته سوي دي په دې کې یوشی په یوه مذهب او ملت او یوه شریعت کې منسوخ سوی نه دی: عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې کم سړی دنبي کریم ﷺ یوه داسې وصیت نامه لیدل غواړي پر کمې چې د نبي کریم ﷺ مهر لگولی وي نو هغه دې دغه ایاتونه ووایي په دې کې دده ﷺ وصیتونه وامت ته موجود دي.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۶۲)

بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا

بِهٖ	لَعَلَّكُمْ	تَعْقِلُوْنَ	وَلَا تَقْرَبُوْا	مَالَ	الْيَتِيْمِ	اِلَّا
په دی سره	له پاره د دی چي	عقل وچلوئ تاسی	او مه نژدی کیږئ تاسی	مال	دیتیم ته	مګر

پـه دی سره لـه پاره د دی چي عقل وچلوئ (پکښي) تاسی. او مه نژدی کیږئ تاسی مال د یتیم ته مګر

بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا

بِالَّتِيْ	هِيَ	اَحْسَنُ	حَتّٰى	يَبْلُغَ	اَشُدَّهٗ	وَاَوْفُوا
په هغي طریقي سره	چي هغه	ډیره ښه وی	تر هغه پوری	چي ورسیږی دغه یتیم	قوت خپل ته	او پوره کوی تاسی

په هغي طريقي سره چي هغه ډيره ښه وی تر هغه پوری چي ورسيږی دغه يتيم قوت (ځلميتوب) خپل ته او پوره کوی تاسی

الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ

الْكَيْلَ	وَالْمِيْزَانَ	بِالْقِسْطِ	لَا نُكَلِّفُ	نَفْسًا	اِلَّا	وُسْعَهَا
پیمانه	او تول	په عدل سره	نه ورکوو موږ تکلیف	هیڅ نفس ته	مګر	په اندازه د توان د هغه

پيمانه او تول په عدل سره ، نه ورکوو موږ تکليف هيڅ نفس ته مګر په اندازه د توان د هغه

وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ

وَاِذَا	قُلْتُمْ	فَاعْدِلُوْا	وَلَوْ	كَانَ	ذَا قُرْبٰى	وَبِعَهْدِ	اللّٰهِ
او کله چي	خبری کوئ تاسی	نو حق ووایئ	اګر که	وی	خاوند دخپلوی	او په عهد	دالله

او کله چي خبری کوئ تاسی (په کوم شی کښی) نو حق (ربښتيا) ووايئ اګر که وی خاوند د خپلوی (هم)، او په عهد د الله

اَوْفُوْا ۚ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٥٢﴾

اَوْفُوْا	ذٰلِكُمْ	وَصّٰىكُمْ	بِهٖ	لَعَلَّكُمْ	تَذَكَّرُوْنَ
وفا کوئ تاسی	دا	حکم کړی دی تاسی ته	په هغه سره	له پاره د دی چي	پند واخلئ تاسی

وفا کوئ تاسی، دا (دری امرونه يوه نهی) حکم کړی دی (الله) تاسی ته په هغه سره له پاره د دی چي پند واخلئ تاسی !

وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ

وَاَنَّ	هٰذَا	صِرَاطِيْ	مُسْتَقِيْمًا	فَاتَّبِعُوْهُ	وَلَا تَتَّبِعُوا	السُّبُلَ
او په تحقیق	دغه	لاره زما ده	برابره	نو متابعت وکړئ تاسی د دغی	او مه کوئ متابعت	د (نورو) لارو

او په تحقيق دغه لاره زما ده برابره (جنت ته) نو متابعت وکړئ تاسی د دغی (لاری)، او مه کوئ متابعت د (نورو) لارو

وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ.. **ديتيم مال په ناجايزه سره خوړل**: په دغه آيت کي الله جَلَّ جَلَالُهٗ ديتيم په مال کي په ناحقه او ظالمانه طريقه سره دتصرف څخه منع کړيده نو الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي چي تاسي ديتيم مال ته مه نژدي کيږي مګر په داسي طريقه سره چي هغه ښه وي تر دې پوري چي دی خپل عمر ته دبلوغ رسيږي په دې کي ديتيمانو نابالغو بچيانوولي او پالونکي ته خطاب دی چي دی نو ددوی مال يو اور وګڼي او په ناجايزه توګه سره ددې خوړلو او اخيستلو ته دي نه نژدې کيږي لکه چي په يو بل آيت کي دامضمون په دغه الفاظو سره راغلی دی (چي کم خلګ ديتيمانو مالونه په ناحقه سره خوري دوی خپلي خيټي داور څخه ډکوي) : البتّه ديتيم دمال حفاظت کول او په څه داسي جايز کاروبار او تجارت کي يي لګول چي دده مال په زياتيږي او دنقصان بيره عادةً نه وي په کښي داطريقه ښه او ضروري ده ديتيمانو ولي ته داسي کول پکاردي تر دې وروسته يي ديتيم دمال دحفاظت حد وښووی يعني تر دې پوري چي دی بلوغ ته ورسيږي الخ.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص٧١)

فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ ؕ ذٰلِكُمۡ وَصّٰىكُمۡ بِهٖ

فَتَفَرَّقَ	بِكُمۡ	عَنۡ	سَبِيۡلِهٖ	ذٰلِكُمۡ	وَصّٰىكُمۡ	بِهٖ
نو تار په تار به کړي	تاسي	له	لاري د الله ځخه	دا	حکم کړی دی (الله) تاسي ته	په دی سره

نو تار په تار به کړي تاسي له لاري (سمي) د الله ځخه، دا (اتباع د سمي لاري) حکم کړی دی (الله) تاسي ته په دی سره

لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ تَمَامًا

لَعَلَّكُمۡ	تَتَّقُوۡنَ	ثُمَّ	اٰتَيۡنَا	مُوۡسَى	الۡكِتٰبَ	تَمَامًا
له پاره د دی چي	ځان وساتئ تاسي	پس	ورکړی ؤ موږ	موسٰی ته	کتاب	دپاره د تمام

له پاره د دی چي ځان وساتئ تاسي. پس ورکړی ؤ موږ موسٰی ته کتاب (تورات) د پاره د تمام (پوره کولو د نعمت)

عَلَى الَّذِيۡۤ اَحۡسَنَ وَتَفۡصِيۡلًا لِّكُلِّ شَيۡءٍ وَّهُدًى

عَلَى	الَّذِيۡۤ	اَحۡسَنَ	وَتَفۡصِيۡلًا	لِّكُلِّ	شَيۡءٍ	وَّهُدًى
پر	هغه چا باندی	چي نيکی کوی	او تفصيل	د هر	شی	او د هدايت

پر هغه چا باندی. چي نيکی کوی او تفصيل د هر (دينی) شی او (دپاره) د هدايت

وَّرَحۡمَةً لَّعَلَّهُمۡ بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾ ع وَهٰذَا

وَّرَحۡمَةً	لَّعَلَّهُمۡ	بِلِقَآءِ	رَبِّهِمۡ	يُؤۡمِنُوۡنَ	وَهٰذَا
او رحمت	دپاره د دی چي دوی	په ملاقات	د رب خپل	ايمان راوړی	او دا (قرآن)

او رحمت د پاره د دی چي دوی په ملاقات د رب خپل ايمان راوړی. او دا (قرآن)

كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوۡهُ وَاتَّقُوۡا

كِتٰبٌ	اَنۡزَلۡنٰهُ	مُبٰرَكٌ	فَاتَّبِعُوۡهُ	وَاتَّقُوۡا
کتاب دی	چي نازل کړی دی موږ هغه	مبارک دی	نو متابعت وکړئ تاسی د دغه	او وبيريږئ

کتاب دی چي نازل کړی دی موږ هغه مبارک (برکتناک ډير ګټور) دی نو متابعت وکړئ تاسی د دغه (قرآن) او وبيريږئ

لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۱۵۵﴾ اَنۡ تَقُوۡلُوۡۤا اِنَّمَاۤ اُنۡزِلَ الۡكِتٰبُ عَلٰى

لَعَلَّكُمۡ	تُرۡحَمُوۡنَ	اَنۡ تَقُوۡلُوۡۤا	اِنَّمَاۤ	اُنۡزِلَ	الۡكِتٰبُ	عَلٰى
له پاره د دی چي	په تاسي رحمت وکړسی	چي و (نه) وايئ	بيشکه! خبره دا ده	چي نازل کړی سوی ؤ	کتاب	پر

له پاره د دی چي په تاسي رحمت وکړسی. چي و (نه) وايئ بيشکه! خبره دا ده چي نازل کړی سوی ؤ کتاب پر

فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ
يعني دا دين محمدي زما نيکه لاره ده: پس پر دې لاري باندي چليږی او پرنورو لارو مه ځی چي دغه لار به تاسي د الله ﷻ د لاري ځخه جلاکي په دغه آيت کي لفظ دهذا اشاره ده د دين اسلام طرف ته يا د قرآن طرف ته ده او دا هم کيدای سي چي د سورت انعام طرف ته اشاره وي ځکه چي په دي کي پوره اصول د اسلام يعني توحيد، رسالت، او د شرعي احکامو اصول ذکر دي او لفظ مستقيم د دين د دې لاري صفت دی کم چي يي په نحوي ترکيب کي حال جوړ کړيدی او د دې طرفته يي اشاره کړيده چي د دين اسلام د پاره مستقيم والی يو لازمي صفت دی تر دې وروسته الله ﷻ فرمايي فَاتَّبِعُوۡهُ يعني کله چي دا معلومه سوه چي دين اسلام زما لاره ده او هغه مستقيمه او نيکه لاره ده نو او س د منزل مقصود نيکه لاره په لاس راغله په دې وجه پر دې لاري باندي ځی او دا يي مراد دی چي الله ﷻ ته درسيدو او د هغه د رضا د حاصلولو هم هغه يوه لاره ده چي هغه د دين اسلام پوره پوره پيروي کول دي:
(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۷۶)

ع ۱۹
۲

طَآئِفَتَيۡنِ مِنۡ قَبۡلِنَا ۖ وَاِنۡ كُنَّا عَنۡ دِرَاسَتِهِمۡ

طَآئِفَتَيۡنِ	مِنۡ قَبۡلِنَا	وَاِنۡ	كُنَّا	عَنۡ	دِرَاسَتِهِمۡ
دوو طائفو	پخوا له موږ	او بيشکه شان دا دی	چې وو موږ	له	لوستلو د دوی څخه

دوو طائفو (يهود او نصارىٰ) پخوا له موږ او بيشکه شان دا دی چې وو موږ له لوستلو د دوی څخه

لَغٰفِلِيۡنَ ﴿۱۵۶﴾ اَوۡ تَقُوۡلُوۡا لَوۡ اَنَّاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡنَا الۡكِتٰبُ

لَغٰفِلِيۡنَ	اَوۡ تَقُوۡلُوۡا	لَوۡ اَنَّاۤ	اُنۡزِلَ	عَلَيۡنَا	الۡكِتٰبُ
بې خبره	يا چې و (نه) وايئ	که وی موږ	چې نازل کړی سوی وی	پر موږ باندی	کتاب

غافلان. يا چې و (نه) وايئ که وی موږ چې نازل کړی سوی وی پر موږ باندی کتاب

لَكُنَّاۤ اَهۡدٰى مِنۡهُمۡ ۚ فَقَدۡ جَآءَكُمۡ بَيِّنَةٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ

لَكُنَّاۤ	اَهۡدٰى	مِنۡهُمۡ	فَقَدۡ	جَآءَكُمۡ	بَيِّنَةٌ	مِّنۡ	رَّبِّكُمۡ
نو هرومرو وو به موږ	ښه لاره پيدا کوونکی	له دوی څخه	نو په تحقيق	راغلی دی تاسی ته	حجت ښکاره	له	رب ستاسی

نو هرومرو وو به موږ ښه لاره موندونکی له دوی څخه نو په تحقيق راغلی دی تاسی ته حجت ښکاره له رب ستاسی

وَهُدًى وَّرَحۡمَةٌ ۚ فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

وَهُدًى	وَّرَحۡمَةٌ	فَمَنۡ	اَظۡلَمُ	مِمَّنۡ	كَذَّبَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ
او هدايت	او رحمت	نو څوک دی	زيات ظالم	له هغه چا چې	نسبت د دروغو کوی	په آيتونو	د الله

او هدايت او رحمت، نو څوک دی زيات ظالم له هغه چا چې نسبت د دروغو کوی په آيتونو د الله

وَصَدَفَ عَنۡهَا ؕ سَنَجۡزِى الَّذِيۡنَ يَصۡدِفُوۡنَ عَنۡ

وَصَدَفَ	عَنۡهَا	سَنَجۡزِى	الَّذِيۡنَ	يَصۡدِفُوۡنَ	عَنۡ
او څنګ کوی	له دی څخه	ژر به سزا ورکړو	هغو کسانو ته	چې څنګ کوی ګرځی دوی	له

او څنګ کوی (ګرځی) له دی (آيتونو) څخه، ژر به سزا ورکړو هغو کسانو ته چې څنګ کوی ګرځی دوی له

اٰيٰتِنَا سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ بِمَا كَانُوۡا يَصۡدِفُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾ هَلۡ

اٰيٰتِنَا	سُوۡٓءَ	الۡعَذَابِ	بِمَا كَانُوۡا	يَصۡدِفُوۡنَ	هَلۡ
آيتونو زموږ څخه	سخت	عذاب	په سبب د دی چې وو دوی	چې څنګ به ئی کاوه	نه کوی

آيتونو زموږ څخه سخت عذاب په سبب د دی چې وو دوی چې څنګ به ئی کاوه. نه کوی

وَاِنۡ كُنَّا عَنۡ دِرَاسَتِهِمۡ لَغٰفِلِيۡنَ. وجه دغفلت يې دا ده وه چې تورات او انجيل په ژبه کې دعربونه وو: څکه چې دترجمې په ذريعه سره دمضامينو څخه خبريدل ممکن دي بلکې واقع دي بلکې وجه دا ده چې اهل کتابو داهل عربو د تعليم او توحيد هيڅکله هم اهتمام نه دی کړی او اتفاقا په غوږکې يو مضمون راتلل عادتا دخبريدو په باره کې کم اثر کوي که څه هم په دې خبريدو سره طلب او تامل واجبيږي او پر دې بنا باندې بيا په پاته کولو د توحيد عذاب ممکن وو او په دې سره دموسى عليه السلام او عيسى عليه السلام د بعثت پر عاموالي اشکال نه لازميږي څکه چې ددې عاموالي او خاصوالی زموږ په حضور ﷺ پوري په اعتبار دتولو اصولو او فروعو دي که نه وي نو په اصولو کې دتولو انبياوو تابعداري پر ټولو خلګو واجب ده پس پردې بنا عذاب صحيح وو ليکن دا عذر په سرسري نظر کې پيش کيدای سو او س يې ګنجايش پاته نه سو او دالله جل جلاله دليل او حجت پر خپلو بندګانو باندې په پوره پيمانه سره تام سو. (معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۸۰)

يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ

يَنْظُرُوْنَ	اِلَّآ	اَنْ	تَاْتِيَهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	اَوْ يَاْتِيَ	رَبُّكَ
انتظار دوی	مګر	د دی چي	راسي دوی ته	ملائکی	یا راسی	رب ستا

انتظار دوی مګر د دی چي راسي دوی ته ملائکی یا راسی (عذاب د) رب ستا

اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ

اَوْ يَاْتِيَ	بَعْضُ	اٰيٰتِ	رَبِّكَ	يَوْمَ	يَاْتِيْ	بَعْضُ	اٰيٰتِ	رَبِّكَ
یا راسی	ځینی	دلائل	د رب ستا	په هغه ورځ کښی	چي راسی	ځینی	دلائل	د رب ستا

راسی ځینی دلائل د رب ستا په هغه ورځ کښی چي راسی ځینی دلائل د (قدرت) د رب ستا

لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ

لَا يَنْفَعُ	نَفْسًا	اِيْمَانُهَا	لَمْ تَكُنْ	اٰمَنَتْ	مِنْ قَبْلُ
نه به رسوی فائده	هیڅ نفس ته	ایمان راوړل د ده	چي نه وی دا نفس	چي ایمان ئی راوړی وی	پخوا (له دی نه)

نه به رسوی فائده هیڅ نفس ته ایمان راوړل د ده چي نه وی دا نفس چي ایمان ئی راوړی وی پخوا (له دی نه)

اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ انْتَظِرُوْٓا

اَوْ كَسَبَتْ	فِيْٓ اِيْمَانِهَا	خَيْرًا	قُلِ	انْتَظِرُوْٓا
یا (نه وی) چي کسب ئی کړی وی	په ایمان خپل کښی	څه خیر	ووایه (محمده!)	چي انتظار کوئ تاسی

یا (نه وی) چي کسب ئی کړی وی په ایمان خپل کښی څه خیر (نیکی)، ووایه (ای محمده) چي انتظار کوئ تاسی

اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ۝۱۵۸ اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا

اِنَّا	مُنْتَظِرُوْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	فَرَّقُوْا	دِيْنَهُمْ	وَكَانُوْا	شِيَعًا
بیشکه! موږ هم	انتظار کوونکی یو	بیشکه!	هغه کسان چي	تار په تار کړی ئی دی	دین خپل	او سول دوی	فرقی فرقی

بیشکه! موږ هم انتظار کوونکی یو. بیشکه! هغه کسان چي تار په تار کړی ئی دی دین خپل او سول دوی فرقی فرقی

لَسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ۭ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ

لَسْتَ	مِنْهُمْ	فِيْ شَيْءٍ	اِنَّمَآ	اَمْرُهُمْ	اِلَى اللّٰهِ
نه ئی ته	له دوی څخه	په هیڅ شی کښی	بیشکه! هم دا خبره ده	چي امر د دوی	(سپارلی سوی دی) الله ته

نه ئی ته له دوی څخه په هیڅ شی کښی، بیشکه! هم دا خبره ده چي امر (کار) د دوی (سپارلی سوی دی) الله ته

اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ.... **تفسیر:** په دې ټول سورت او خصوصا په تیرو ایاتونو کي یي دمکې او دعربو پر اوسیدونکو باندي دا واضحه کړه چي تاسي د نبي کریم ﷺ ښکاره معجزې ولیدې د تیرو کتابونو او د تیرو پیغمبرانو پیشګویاني مو د دوی متعلق اوریدلي دي بیا د محض امي د ژبي څخه د قرآن واضح ایاتونه تاسي واوریدل چي دا یوه مستقله معجزه هم ده او س د حق او صدق لاري ستاسي په مخکي خلاصي سوي دي او د الله ﷻ حجت پر تاسي پوره سو اوس په ایمان راوړلو کي د څه انتظار دی د امضمون یي په دې ذکر سوي آیت کي په ډیر بلیغ انداز سره د اسي بیان وفرمایي (هل ينظرون ......) یعني د اخلګ آیا د ایمان په راوړلو کي د دې انتظار کوي چي د مرګ ملایکي دوی ته راورسیږي یا د میدان د حشر انتظار کوي په کم کي چي به د جزاء او سزاء د پاره الله ﷻ راځي یا د دې انتظار کوي چي د قیامت ځیني آخري نښانې ووینې د رب کریم ﷻ د قیامت په میدان کي د فیصلې د پاره تشریف فرمایل د قرآن کریم په څو ایاتونو کي بیان سوی دي :
(معرف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۸۲)

ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿١٥٩﴾ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ

ثُمَّ	يُنَبِّئُهُمْ	بِمَا كَانُوْا	يَفْعَلُوْنَ	مَنْ	جَآءَ	بِالْحَسَنَةِ
بیا	بہ خبر کړی (اللہ) دوی	پہ هغہ چی وو دوی	چی کول بی ئی	هر هغہ چی	راتلہ ئی وکړہ	پہ یوی نیکی

بیا بہ خبر کړی (اللہ) دوی پہ هغہ چی وو دوی چی کول بی ئی. هم هغہ چی راتلہ ئی وکړہ پہ یوی نیکی

فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا

فَلَهٗ	عَشْرُ	اَمْثَالِهَا	وَمَنْ	جَآءَ	بِالسَّيِّئَةِ	فَلَا يُجْزٰٓى	اِلَّا
نو دہ تہ دہ	دلسو	مثل د هغی	او هر هغہ څوک	چی راتلہ ئی وکړہ	پہ بدی	نو سزا نسی ورکولی	مگر

نو دہ تہ دہ جزاء دلسو (نیکیو پہ) مثل د هغی (نیکی) او هر هغہ څوک چی راتلہ ئی وکړہ پہ بدی نو سزا نسی ورکولی مگر

مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ اِنَّنِىْ هَدٰىنِىْ

مِثْلَهَا	وَهُمْ	لَا يُظْلَمُوْنَ	قُلْ	اِنَّنِىْ	هَدٰىنِىْ
پہ مثل د هغی	او پہ دوی	بہ ظلم ونہ کړی سی	وو وایہ	بیشکہ ازہ	هدایت کړی دی ماتہ

پہ مثل د هغی (بدی) او پہ دوی بہ ظلم ونہ کړی سی. وو وایہ (ای محمدہ!) بیشکہ! زہ هدایت (ښوونہ) کړی دی ماتہ

رَبِّىْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۚ

رَبِّىْٓ	اِلٰى صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	دِيْنًا	قِيَمًا	مِّلَّةَ	اِبْرٰهِيْمَ	حَنِيْفًا
رب زما	لاری	سمی برابری تہ	دین	صحیح برابر	ملت	د ابراهیم	حال دا چی مایل ؤ

رب زما لاری سمی برابری تہ دین صحیح برابر، ملت (دین) د ابراهیم حال دا چی حنیف ؤ

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٦١﴾ قُلْ اِنَّ صَلَاتِىْ وَنُسُكِىْ

وَمَا	كَانَ	مِنَ	الْمُشْرِكِيْنَ	قُلْ	اِنَّ	صَلَاتِىْ	وَنُسُكِىْ
او نہ	ؤ	لہ	مشرکانو	وو وایہ	بیشکہ!	لمونځ زما	او قربانی زما

او نہ ؤ لہ مشرکانو (لکہ چی مشرکان وائی). وو وایہ (ای محمدہ دوی تہ) بیشکہ! لمونځ زما او قربانی زما

وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِىْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيْكَ

وَمَحْيَاىَ	وَمَمَاتِىْ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	لَا شَرِيْكَ
او ژوندون زما	او مرگ زما	خاص اللہ لرہ دی	چی رب	د ټولو عالمیانو دی	نشتہ هیڅ شریک

او ژوندون زما او مرگ زما (پر صالح عمل) خاص اللہ لرہ دی چی رب (پالونکی) د ټولو عالمیانو دی نشتہ هیڅ شریک

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا... په تیر ایت کي ددې بیان ووچي دنیکۍ لاري څخه اوړېدونکو ته به الله ﷻ په ورځ دقیامت ددوی دعملونو سزا ورکي په دې آیت کي دآخرت دجزا او سزا کریمانه ضابطه داسي بیانوي چي کم سړی یو نیک کار وکي ده ته به لس چنده بدله ورکول سي او کم سړی چي یوه گناه وکي ددې بدله به یوازي دیوې گناه برابر ورکول کیږي نه زیاته: په بل حدیث شریف کي راځي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي ستاسي رب عزوجل رحیم دی کم سړی چي دڅه نیک کار یوازي اراده وکړي دده دپاره یوه نیکي لیکل کیږي که څه هم ددغه نیکۍ کولو نوبت هم په لاس ورنسي بیا چي کله دی دغه نیک کار وکړي نو لس نیکۍ دده په عملنامه کي ولیکل سي او کم سړی چي دڅه گناه اراده وکي مگر بیا هم په دې عمل ونه کي نو دده دپاره هم یوه نیکي ولیکل سي او که دغه دگناه کار یې وکی نو هم یوه بدي ورلره و لیکل سي یا دغه هم ختمه کړل سي ددې دومره عفوي سره سره دالله ﷻ په دربار کي هغه سړی هلاکیدای سي کم چي دخپلو هلاکیدو قصد کړی وي: (معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص٨٩)

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ... دیو چا د گناه بار بل څوک نسي پورته کولای: په دغه آیت کي دمکي دمشرکينو وليدبن مغيره اونورو ددې خبري جواب دی کم چي به هغوی نبي کريم ﷺ اوعامو مسلمانانو ته کوله چي تاسي زمونږدين ته واپس سي نو ستاسي دټولو گناهونو بار به مونږ پورته کو پر دې باندي فرمايي (قل اغير الله ابغي ربا وهورب كل شئ) په دې کي نبي کريم ﷺ ته ارشاد دی چي ته دوی ته ووايه چي آيا تاسي زما څخه داغواړی چي ستاسي په ډول زه هم دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوک رب تلاش کم حال دادی چي هغه دټول جهان او ټول کايناتو رب دی ددې گمراهی زما څخه هيڅ اميد مه لری پاته سوه ستاسي داخبره چي مونږ به ستاسي دگناهونو بار پورته کو داپه خپله يوحماقت دی گناه خو چي کم سړی وکي دهغه په عمل نامه کي به ليکل کيږي او هغه به يي سزا پيدا کوي داسي نه ده چي گناه دي يو کس کوي او سزا دي بل کس ته ورکړه سي چي دليل يه دغه آيت دی (ولاتزر وازرةوزر اخری)
(معارف القرآن ج۳ پ ۸ ص ۹۵)

لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۶۳﴾ قُلْ اَغَيْرَ

لَهٗ	وَبِذٰلِكَ	اُمِرْتُ	وَاَنَا	اَوَّلُ	الْمُسْلِمِيْنَ	قُلْ	اَغَيْرَ
ده لره	او په هم دی	امر کړی سوی دی ماته	او زه	اول	دمسلمانانو څخه یم	وو ایه (محمده)	آیا بی له

ده لره او په هم دی (توحید) امر کړی سوی دی ماته او زه اول د مسلمانانو څخه یم. وو ایه (ای محمده!) آیا بی له

اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۭ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ

اللّٰهِ	اَبْغِيْ	رَبًّا	وَّهُوَ	رَبُّ	كُلِّ شَيْءٍ	وَلَا تَكْسِبُ	كُلُّ
الله	غواړم زه	بل رب	حال داچي هم دی	رب	د هر څیز (شی) دی	او کسب نه کوی (دبدی)	هیڅ

الله غواړم زه بل رب حال داچي هم دی رب د هر څیز (شی) دی، او کسب نه کوی (دبدی) هیڅ

نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى

نَفْسٍ	اِلَّا	عَلَيْهَا	وَلَا تَزِرُ	وَازِرَةٌ	وِّزْرَ اُخْرٰى	ثُمَّ	اِلٰى
یو نفس	مگر	پر (ذمه) ده	او نه باروی هیڅ نفس	گنهکار	گناه دبل نفس	بیا خاص	طرف د

یو نفس مگر ضررئی پر (ذمه د) دی، او نه باوری هیڅ نفس گنهکار گناه د بل نفس (بلکه هر څوک خپل بار وړی) بیا خاص طرف د

رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۶۴﴾

رَبِّكُمْ	مَّرْجِعُكُمْ	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا	كُنْتُمْ	فِيْهِ	تَخْتَلِفُوْنَ
رب ستاسی ته	بیرته ورتلل ستاسی دی	نو خبر به کړی تاسی	په هغه شی	چی وئ تاسی	چی په هغه کښی	به مو اختلاف کاوه

رب ستاسی ته بیرته ورتلل ستاسی دی نو خبر به کړی تاسی په هغه شی چی وئ تاسی چی په هغه کښی به مو اختلاف کاوه

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ

وَهُوَ	الَّذِيْ	جَعَلَكُمْ	خَلٰٓئِفَ	الْاَرْضِ	وَرَفَعَ	بَعْضَكُمْ
او دغه (الله)	هغه ذات دی	چی گرځولی یئ تاسی	خلیفگان	دمځکی	او پورته کړی ئی دی	ځینی ستاسی

او دغه (الله) هغه ذات دی چی گرځولی یئ تاسی خلیفگان د مځکی او پورته کړی ئی دی ځینی ستاسی

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ۭ

فَوْقَ	بَعْضٍ	دَرَجٰتٍ	لِّيَبْلُوَكُمْ	فِيْ	مَآ اٰتٰىكُمْ
دپاسه	دځینو (نورو)	په درجو مرتبو کښی	د دی دپاره چی وازمویی تاسی	په هغو کښی	چی درکړی ئی دی تاسی ته

د پاسه د ځینو (نورو په) درجو مرتبو کښی د دی دپاره چی وازمویی تاسی په هغو کښی چی درکړی ئی دی تاسی ته

إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٥﴾ ع

إِنَّ	رَبَّكَ	سَرِيعُ	الْعِقَابِ	وَإِنَّهُ	لَغَفُورٌ	رَّحِيمٌ
بیشکه	رب ستا	ډیر ژر دی	عذاب دهغه	او بیشکه الله	خامخا بنه بخښونکی دی	ډیر رحم والا

بیشکه! رب ستا ډیر ژر دی عذاب د ده (پر هغه چا چی اراده وفرمائی) او بیشکه! الله خامخا بنه بخښونکی دی ډیر رحم والا.

آیاتونه ۲۰۶ — ۷ سُورَةُ الْأَعْرَافِ مَكِّيَّةٌ ۳۹ — ۲۴ رکوعي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمٓصٓ ﴿١﴾ كِتٰبٌ أُنْزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ

الٓمٓصٓ	كِتٰبٌ	أُنْزِلَ	إِلَيْكَ	فَلَا يَكُنْ	فِيْ	صَدْرِكَ
الف لام میم صاد	(دا) کتاب دی	چی نازل کړی سوی دی	تاته	نو نه دی وی	په	سینه ستا کښی

الف لام میم صاد. (دا) کتاب دی چی نازل کړی سوی دی تاته (ای محمده!) نو نه دی وی په سینه ستا کښی

حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢﴾

حَرَجٌ	مِّنْهُ	لِتُنْذِرَ	بِهٖ	وَذِكْرٰى	لِلْمُؤْمِنِيْنَ
تنګی	د ده	له پاره د دی چی وبیروی	په دغه سره	او په پند ورکولو سره	مؤمنانو ته

تنګی (د رسولو) د ده، له پاره د دی چی وبیروی (ته محمده!) په دغه (کتاب) سره او په پند ورکولو سره مؤمنانو ته.

اِتَّبِعُوْا مَآ أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا

اِتَّبِعُوْا	مَآ أُنْزِلَ	إِلَيْكُمْ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	وَلَا تَتَّبِعُوْا
متابعت کوئ	دهغه شی چی نازل کړی سوی دی	تاسی ته	له	رب ستاسی	او مه متابعت کوئ تاسی

متابعت کوئ دهغه شی چی نازل کړی سوی دی تاسی ته له (جانبه د) رب ستاسی او مه متابعت کوئ تاسی

مِنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣﴾ وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ

مِنْ دُوْنِهٖٓ	أَوْلِيَآءَ	قَلِيْلًا مَّا	تَذَكَّرُوْنَ	وَكَمْ	مِّنْ	قَرْيَةٍ
بی له الله	د (نورو) دوستانو	لږشانی	پند اخلئ تاسی	او ډیر	له	قریو

بی له الله د (نورو) دوستانو، لږشانی پند اخلئ تاسی. او ډیر له (اوسیدونکو د) قریو

فَلَا يَكُنْ فِيْ حَرَجٌ

دسورت مضامين اواهداف

: پر تول سورت دنظر اچولو څخه معلوميږي چي ددې سورت مضامين زيات تره داخرت ،او نبوت ،اورسالت متعلق دي لکه چي دسورت دشروع څخه تر شپږمي رکوع پوري تقريبا دآخرت مضمون بيان سوی دی بيا داتمي رکوع څخه تر يويشتمي رکوع پوري دتيرو پيغمبرانو حالات او ددوی دامتونو واقعات ددوی جزا اوسزا او پردوی دراغلو عذابونو تفصيلي ذکر دی :(فلايکن فی صدرک حرج) په دغه اولني آيت کي نبي کريم ﷺ ته خطاب دی چي داقرآن دالله ﷻ کتاب دی کم چي تاته راليږل سوی دی تاته په دې سره زړه تنګول نه دي پکار : دزړه تنګېدو څخه مراد دادی چي دقرآن کريم او دده داحکامو په تبليغ کي دي تاته دچا څخه بيره منع کوونکي نه سي چي خلګ به دادرواغجن کي اوتاته به ازار رسوي اشاره ددې خبري طرف ته ده چي چاپر تا دا کتاب نازل کړی دی هغه ستا دامداد او حفاظت هم انتظام کړی دی او الله ﷻ ستا سره مل دی

(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص ۱۰۰)

منزل ۲ ع ۱۱

اَهۡلَكۡنٰهَا فَجَآءَهَا بَاۡسُنَا بَيَاتًا اَوۡ هُمۡ

اَهۡلَكۡنٰهَا	فَجَآءَهَا	بَاۡسُنَا	بَيَاتًا	اَوۡ هُمۡ
ځنی هلاک کړی دی موږ دوی	نو رابه غی هغو ته	عذاب زموږ	حال داچی دوی بیده به وو د شپی	یا به دوی

ځنی هلاک کړی دی موږ دوی نو رابه غی هغو ته عذاب زموږ حال داچی دوی بیده (غافل) به وو د شپی یا

قَآئِلُوۡنَ ﴿٤﴾ فَمَا كَانَ دَعۡوٰىهُمۡ اِذۡ جَآءَهُمۡ بَاۡسُنَآ اِلَّآ اَنۡ قَالُوۡٓا

قَآئِلُوۡنَ	فَمَا	كَانَ	دَعۡوٰىهُمۡ	اِذۡ جَآءَهُمۡ	بَاۡسُنَآ	اِلَّآ	اَنۡ	قَالُوۡٓا
بیده وو په غرمه کښی	نو نه به	وه	وینا د دوی	کله چی رابه غی دوی ته	عذاب زموږ	مګر	داچی	ویل به دوی

بیده وو په غرمه کښی نو نه به وه وینا د دوی کله چی رابه غی دوی ته عذاب زموږ مګر داچی ویل به دوی

اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ ﴿٥﴾ فَلَنَسۡـَٔلَنَّ الَّذِيۡنَ اُرۡسِلَ

اِنَّا	كُنَّا	ظٰلِمِيۡنَ	فَلَنَسۡـَٔلَنَّ	الَّذِيۡنَ	اُرۡسِلَ
بیشکه! چی موږ	وو موږ	ظالمان	نو خامخا وبه پوښتو هرومرو	هغه چی	لیږلی سوی دی

بیشکه! چی موږ وو موږ ظالمان. نو خامخا وبه پوښتو (په قیامت کښی) هرومرو هغه چی لیږلی سوی دی

اِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿٦﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِمۡ

اِلَيۡهِمۡ	وَلَنَسۡـَٔلَنَّ	الۡمُرۡسَلِيۡنَ	فَلَنَقُصَّنَّ	عَلَيۡهِمۡ
دوی ته	او خامخا وبه پوښتو هرومرو	رسولان	نو خامخا بیان به کړو موږ هرومرو	دوی ته

دوی ته او خامخا وبه پوښتو هرومرو رسولان . نو خامخا بیان به کړو موږ هرومرو (احوال د هغوی) دوی ته

بِعِلۡمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيۡنَ ﴿٧﴾ وَالۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذِ الۡحَقُّ

بِعِلۡمٍ	وَّمَا	كُنَّا	غَآئِبِيۡنَ	وَالۡوَزۡنُ	يَوۡمَئِذِ	الۡحَقُّ
په علم سره	او نه	یو موږ	غائبان	او تول	په دغی ورځی کښی	حق دی

په علم سره او نه یو موږ غائبان. او تول (دعملونو) په دغی ورځی کښی حق دی

فَمَنۡ ثَقُلَتۡ مَوَازِيۡنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿٨﴾ وَمَنۡ

فَمَنۡ	ثَقُلَتۡ	مَوَازِيۡنُهٗ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الۡمُفۡلِحُوۡنَ	وَمَنۡ
نو دهر چاچی	درانه وختل	تولونه د ده	نو دغه کسان	هم دوی دی	په مراد رسیدلی	او دهر چاچی

نو دهر چا چی درانه وختل تولونه د ده نو دغه کسان هم دوی دی په مراد رسیدلی (بریالی). او دهر چا چی

وَالۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذِ الۡحَقُّ فَمَنۡ ثَقُلَتۡ.. په اولني ایت کي ارشاددی: یعني دښه او بد عمل وزن کول به په دغه ورځ حق او صحیح وي په دې کي دهیڅ شک او شبهي ځای نسته په دې کي دې طرف ته اشاره ده چي خلګ په دې خبره خطا نه سي چي وزن او تول خو په هغه شیانو کي کیدای سي په کمو کي چي څه بوج او درونـدوالی وي دانسان عملونه که ښه دي که بد ددې خو دسره څه جسم او وجود نسته چي تول یي وسي بیا دعملونو وزن به څنګه کیږي ؟ ځکه چي اول خو مالک الملک قادر مطلق پر هرشي باندي قادر دی دا څه ضروري خو نه ده چي کم شی موږ نه سو تللای هغه دي الله ﷻ هم ونه تلي ددې څخه علاوه نن سبا هم په دنیاکي دوزن او تول کولو دپاره نوي نوي آلات ایجاد سوي دي چي نه په کنبي دترازو ضرورت سته او نه دپلې او لکړي او نورو شیانونن خو ددې نوو شیانو په ذریعه هغه شیان هم تلل کیږي دکمو دتللو چي دنن څخه مخکي دچاتصور هم نه وو مثلا هوا تلل کیږي یخ او ګرمي، تلل کیږي وغیره نو که الله ﷻ دانسان عملونه وتلي دا کم محال شی دی؟ (معارف القرآن ج۳ پ۸ ص ۱۰۲)

خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

خَفَّتْ	مَوَازِيْنُهٗ	فَاُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	خَسِرُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ
سپک وختل	تولو نه دده	نو دغه کسان	هغه دی	چي زيان رسولی دی دوی	نفسونو خپلو ته

سپک وختل تولونه دده (له نظره ولويد) نو دغه کسان هغه دی چي زيان رسولی دی دوی نفسونو (ځانونو) خپلو ته

بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ۝٩ وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِي

بِمَا	كَانُوْا	بِاٰيٰتِنَا	يَظْلِمُوْنَ	وَلَقَدْ	مَكَّنّٰكُمْ	فِي
په سبب دهغه	چي وو دوی	چي په آيتونو زموږ	بەئی ظلم کوه	او خامخا په تحقيق	ځای درکړی دی موږ تاسی ته	په

په سبب دهغه چي وو دوی چي په آيتونو زموږ به ئی ظلم کاوه. او خامخا په تحقيق ځای درکړی دی موږ تاسی ته په

الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ؕ قَلِيْلًا مَّا

الْاَرْضِ	وَجَعَلْنَا	لَكُمْ	فِيْهَا	مَعَايِشَ	قَلِيْلًا مَّا
مځکه کښی	او پيدا کړی دی موږ	تاسی ته	په دغی مځکی کښی	(اسباب د) ژوندانه	لږ شانی

مځکه کښی او پيدا (مقرر) کړی دی موږ تاسی ته په دغی مځکی کښی اسباب، ژوندانه، لږ شانی

تَشْكُرُوْنَ ۝١٠ ۧ وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ

تَشْكُرُوْنَ	وَلَقَدْ	خَلَقْنٰكُمْ	ثُمَّ	صَوَّرْنٰكُمْ	ثُمَّ
شکر وباسئ تاسی	او خامخا په تحقيق	پيدا کړموږ (پلار) ستاسی	بيا	صورت جوړ کړموږد (پلار) ستاسی	بيا

شکر وباسئ تاسی. او خامخا په تحقيق پيدا کړموږ (پلار) ستاسی بيا صورت جوړ کړموږد (پلار) ستاسی بيا

قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ لَمْ يَكُنْ

قُلْنَا	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اسْجُدُوْا	لِاٰدَمَ	فَسَجَدُوْٓا	اِلَّآ	اِبْلِيْسَ	لَمْ يَكُنْ
وويل موږ	ملائيکو ته	چي سجده وکړئ تاسی	آدم ته	نو سجده وکړه دوی	مګر	ابليس	نه ؤدی

وويل موږ ملائيکو ته چي سجده (د تحيت) وکړئ تاسی آدم ته، نو سجده وکړه دوی مګر ابليس (سجده ونه کړه) نه ؤدی

مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۝١١ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ

مِّنَ	السّٰجِدِيْنَ	قَالَ	مَا مَنَعَكَ	اَلَّا تَسْجُدَ	اِذْ
له	سجده کوونکو څخی	وويل	څه شی منع کړی ته	چي سجده دی ونه کړه	کله چي

دی له سجده کوونکو څخی وويل (الله ابليس ته) څه شی منع کړی ته چي سجده دی ونه کړه کله چي

وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ...لنډ تفسير:

الله ﷻ فرمايي چي موږ تاسي لره دپيداکولو سامان پيداکي يعني دحضرت آدم علیه السلام ماده موږ جوړه کړه ددې مادې څخه تاسي ټول خلګ پيدا ياست بيا تر مادې جوړولو وروسته موږ ستاسي صورت در جوړ کی يعني په ماده کي يې دحضرت آدم علیه السلام صورت جوړ کی بيا دغه صورت دهغه په اولاد کي راروان دی دانعمت دايجاد سو بيا کله چي حضرت آدم علیه السلام جوړ سو او دنومونو علم ورته ورکړه سو نو موږ ملايکو ته وفرمايل چي آدم ته اوس سجده وکی دانعمت داکرام سو نو ټولو ملائکو سجده وکړه بغير دابليس څخه هغه په سجده کوونکو کي شامل نه سو الله تعالی وفرمايل ته سجده نه کوې تا لره ددې څخه کم کار منع کوونکی دی کله چي ما په خپله تاته دسجدې حکم درکی ويې ويل هغه منع کوونکی کار دادی چي تازه داور څخه پيداکړم او آدم دي دخاورو څخه پيدا کړی دی داده شيطاني استدلال اوله مقدمه وه چي بد بخته دالله ﷻ د حکم په مقابل کي عقلي دليل پيش کی او ګمراه سو:
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص ۱۱۰)

ع۱ ۸

اَمَرۡتُكَ ؕ قَالَ اَنَا خَیۡرٌ مِّنۡهُ ۚ خَلَقۡتَنِیۡ مِنۡ نَّارٍ

اَمَرۡتُكَ	قَالَ	اَنَا	خَیۡرٌ	مِّنۡهُ	خَلَقۡتَنِیۡ	مِنۡ	نَّارٍ
امر وکړ ماتاته	وويل (ابليس)	زه	غوره يم	له آدمه	چې پيدا کړې دې يم زه	له	اوره

امر (حکم) وکړ ما تاته؟ وويل (ابليس) زه غوره يم له آدمه ، چې پيدا کړی دی يم زه له اوره

وَّخَلَقۡتَهٗ مِنۡ طِیۡنٍ ﴿۱۲﴾ قَالَ فَاهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا یَكُوۡنُ

وَّخَلَقۡتَهٗ	مِنۡ	طِیۡنٍ	قَالَ	فَاهۡبِطۡ	مِنۡهَا	فَمَا	یَكُوۡنُ
او پيدا کړې دې تا دغه (آدم)	له	ختې څخې	وويل (الله)	نو کښته سه	له دغه څخه	نو نه	دي

او پيدا کړی دی تا دغه (آدم) له ختی څنې. وويل (الله ابليس ته) نو کښته سه له دغه (آسمان يا جنت) څخه نو نه دی

لَكَ اَنۡ تَتَكَبَّرَ فِیۡهَا فَاخۡرُجۡ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِیۡنَ ﴿۱۳﴾

لَكَ	اَنۡ	تَتَكَبَّرَ	فِیۡهَا	فَاخۡرُجۡ	اِنَّكَ	مِنَ	الصّٰغِرِیۡنَ
لائق تاته	چې	تکبر وکړې	په دې ځای کښې	نو ووځه (ترې)	بيشکه! چې ته ئې	له	ذليلانو

لائق تاته (ای ابليسه! کار) چې تکبر وکړې! په دې ځای کښې نو ووځه (ترې) بيشکه! چې ته ئې له ذليلانو .

قَالَ اَنۡظِرۡنِیۡۤ اِلٰی یَوۡمِ یُبۡعَثُوۡنَ ﴿۱۴﴾ قَالَ

قَالَ	اَنۡظِرۡنِیۡۤ	اِلٰی	یَوۡمِ	یُبۡعَثُوۡنَ	قَالَ
وويل (ابليس)	وګوره ماته	ترهغې	ورځې پورې	چې مخلوق بيرته ژوندې کاوه سې	وويل (الله)

وويل (ابليس) وګوره (مهلت راکړه) ماته ترهغې ورځې (قيامت) پورې چې مخلوق بيرته ژوندی کاوه سی. وويل (الله)

اِنَّكَ مِنَ الۡمُنۡظَرِیۡنَ ﴿۱۵﴾ قَالَ فَبِمَاۤ اَغۡوَیۡتَنِیۡ

اِنَّكَ	مِنَ	الۡمُنۡظَرِیۡنَ	قَالَ	فَبِمَاۤ	اَغۡوَیۡتَنِیۡ
بيشکه! ته	له	کتلو سوو څنې ئې	وويل (ابليس)	نو قسم دې	په ګمراه کولو ستا مالره چې

بيشکه! ته له کتلو (مهلت ورکړو) سوو څنې ئې. وويل (ابليس) نو قسم دی په ګمراه کولو ستا مالره (په سبب د آدم) چې

لَاَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَاطَكَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ لَاٰتِیَنَّهُمۡ

لَاَقۡعُدَنَّ	لَهُمۡ	صِرَاطَكَ	الۡمُسۡتَقِیۡمَ	ثُمَّ	لَاٰتِیَنَّهُمۡ
خامخا به کښينم زه هرومرو	دوی ته	په لاره ستا کښې	چې سمه صافه ده	بيا	خامخا راځم زه هرومرو دوی ته

خامخا به کښينم زه هرومرو دوی ته په لاره ستا کښې (اسلام) چې سمه صافه ده. بيا خامخا راځم زه هرومرو دوی ته

قَالَ فَبِمَاۤ اَغۡوَیۡتَنِیۡ لَاَقۡعُدَنَّ. دشيطان حمله پر انسان باندې دڅلور طرفه څخه محدوده نه ده عامه ده: دقرآن کريم په ذکر سوي آيت کي داذکر دي چي ابليس دآدم ﷺ داولاد دګمراه کولو دپاره څلور طرفونه ويلي دي مخکي، وروسته، راسته، اوچپه، ليکن دلته په حقيقت کي څه حد نه دی تاکل سوی بلکي مراد دادی چې دهر طرف څخه اود هري منعي څخه. په دې وجه تر سر دلوړ طرف څخه او دپښو دلاندي طرف څخه دګمراه کولو احتمال ددې سره منافي نه دی دغه ډول په حديث شريف چي داذکر دي چي شيطان دانسان په بدن کي داخل سي او دويني درګونو په ذريعه دانسان په ټول بدن کي تصرف کوي نو داهم ددې سره منافي نه دی: په ذکر سوي آيت کي وشيطان ته داسمان څخه دوتلو حکم دوه واره ورکول سوی دی اول په (فاخرج انک من الصغرين) کي اودوهم په (قال اخرج منهامذءومامدحورا) غالباً اولني کلام يو تجويز دی او دوهم کلام ددغه تجويز نافذول دي: بيان القرآن.
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۱۳)

مِّنۢ بَيۡنِ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ اَيۡمَانِهِمۡ وَعَنۡ

مِّنۢ	بَيۡنِ	اَيۡدِيۡهِمۡ	وَمِنۡ	خَلۡفِهِمۡ	وَعَنۡ	اَيۡمَانِهِمۡ	وَعَنۡ
له	وړاندی	د دوی	او له	وروسته د دوی	او له	ښيو (طرفو) د دوی	او له

له وړاندې د دوی او له وروسته د دوی او له ښيو (طرفو) د دوی او له

شَمَآئِلِهِمۡ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكۡثَرَهُمۡ شٰكِرِيۡنَ ﴿۱۷﴾ قَالَ

شَمَآئِلِهِمۡ	وَلَا تَجِدُ	اَكۡثَرَهُمۡ	شٰكِرِيۡنَ	قَالَ
كيڼو (طرفو) د دوی	او نه به پيداكړې ته	اكثره د دوی	شكر ايستونكی	وويل (الله)

كيڼو (طرفو) د دوی او نه به مومې ته اكثره د دوی شكر ايستونكی (مؤمنان). وويل (الله ای ابليسه!)

اخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُوۡمًا مَّدۡحُوۡرًا ؕ لَمَنۡ

اخۡرُجۡ	مِنۡهَا	مَذۡءُوۡمًا	مَّدۡحُوۡرًا	لَمَنۡ
ووځه	له دې ځايه په دغسې حال كښې	چې بد حال غمجن كړی سوی	مردود رټلی سوی ئې	خامخا هر څوک چې

ووځه له دې ځايه په دغسې حال كښې چې بد حال غمجن كړی سوی مردود رټلی سوی، (قسم دی) خامخا هر څوک چې

تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنۡكُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۱۸﴾ وَيٰۤاٰدَمُ

تَبِعَكَ	مِنۡهُمۡ	لَاَمۡلَئَنَّ	جَهَنَّمَ	مِنۡكُمۡ	اَجۡمَعِيۡنَ	وَيٰۤاٰدَمُ
متابعت وكړي ستا	له دغو	خامخا ډک به كړم هرومرو	جهنم	له تاسی	ټولو	او (وويل الله) ای آدمه

متابعت وكړي ستا له دغو (انسانانو) خامخا ډک به كړم هرومرو جهنم له تاسی ټولو. او (وويل الله) ای آدمه اوسه

اسۡكُنۡ اَنۡتَ وَزَوۡجُكَ الۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا

اسۡكُنۡ	اَنۡتَ	وَزَوۡجُكَ	الۡجَنَّةَ	فَكُلَا	مِنۡ	حَيۡثُ	شِئۡتُمَا
اوسه	ته	او ښځه ستا	په جنت كښې	نو خورئ تاسې دواړه	له	هرځايه	چې مو خوښه وی

ته او ښځه ستا (حوا) په جنت كښې نو خورئ تاسې دواړه له هرځايه چې مو خوښه سی

وَلَا تَقۡرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوۡنَا مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۱۹﴾

وَلَا تَقۡرَبَا	هٰذِهِ	الشَّجَرَةَ	فَتَكُوۡنَا	مِنَ	الظّٰلِمِيۡنَ
او مه نژدې كيږئ تاسې دواړه	دی	ونې ته	نو سئ به تاسې دواړه	له	ظالمانو

او مه نژدې كيږئ تاسې دواړه دې ونې ته (او كه له دې جنسه وخورئ)، نو سئ به تاسې دواړه له ظالمانو (په خپلو ځانونو).

لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنۡكُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ... ايا د كافر دعا هم قبليدی سي؟ دلته يو سوال پيداكيږي چي په قرآن كريم كي خوداسي راغلي دي د كافرانو د دعا پر برابر (ومادعاء الكفرين الا فی ضلل) چي نه ده غوښتنه د كافرانو مگر په گمراهی كي: د دې آيت څخه په ظاهره داسي معلوميږي چي د كافر دعا نه قبليږي مگر د ابليس د دغې واقعې او د ذكر سوي ايت څخه په دغو اياتونو كي چي الله ﷻ وفرمايل (وانک من المنظرين) دلته داسي معلوميږي چي د ابليس دعا قبوله سوه جواب دادی چي په دنيا كي خو د كافر دعا هم قبليدای سي تر دې چي د ابليس په ډول د غټ كافر دعا هم قبوله سوه مگر په آخرت كي د كافر دعا قبوله نه ده او دغه ذكر سوی ايت (ومادعاء الكفرين الا فی ضلل) دا د آخرت متعلق دی د دنيا سره د دې هيڅ تعلق نسته: په قرآن كريم كي دا واقعه څو وراه راغلې ده او په هر ځای كي د دې د سوال او جواب الفاظ مختلف دي حال دادی چي واقعه يوه ده جواب دادی چي مضمون په ټولو كي يو دی او د الفاظو نقل كول بعينه ضروري نه دي روايت په معنی سره هم كيدای سي. (معارف القرآن ج۳ پ۸ص۱۱۳)

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُرِيَ

فَوَسْوَسَ	لَهُمَا	الشَّيْطٰنُ	لِيُبْدِيَ	لَهُمَا	مَا وُرِيَ
نو وسوسه واچوله	دوی دواړو ته	شیطان	دپاره د دی چی ښکاره کړی	دوی دواړو ته	هغه چی پټ کړی سوی دی

نو وسوسه واچوله دوی دواړو ته شیطان دپاره د دی چی ښکاره کړی دوی دواړو ته هغه چی پټ کړی سوی دی

عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ

عَنْهُمَا	مِنْ	سَوْاٰتِهِمَا	وَقَالَ	مَا نَهٰىكُمَا	رَبُّكُمَا	عَنْ
له دی دواړو څخه	له	غلیظه ؤ عورتونو د دوی	او وویل	نه یئ منع کړی تاسی	رب ستاسی	له

له دی دواړو څخه له غلیظه ؤ عورتونو د دوی او وویل (ابلیس دوی ته) نه یئ منع کړی تاسی رب ستاسی له (خوراک)

هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ

هٰذِهِ	الشَّجَرَةِ	اِلَّآ	اَنْ	تَكُوْنَا	مَلَكَيْنِ	اَوْ تَكُوْنَا	مِنَ
دی	ونی څخه	مگر	له دی جهته	چی نه سئ تاسی دواړه	ملائیکی	یا چه نسئ تاسی	له

د دی ونی څخه مگر له دی جهته چی نه سئ تاسی دواړه ملائیکی ، یا چه نسئ تاسی له

الْخٰلِدِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿٢١﴾

الْخٰلِدِيْنَ	وَقَاسَمَهُمَآ	اِنِّيْ	لَكُمَا	لَمِنَ	النّٰصِحِيْنَ
تل پاتی کیدونکو	او سخت قسم یی وکړه دوی ته	چی بیشکه زه!	تاسی دواړو ته	خامخا	له نصیحت کوونکو څخه یم

تل پاتی کیدونکو . او سخت قسم یی وکړ دوی ته چی بیشکه زه! تاسی دواړو ته خامخا له نصیحت کوونکو څخه یم.

فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا

فَدَلّٰىهُمَا	بِغُرُوْرٍ	فَلَمَّا	ذَاقَا	الشَّجَرَةَ	بَدَتْ	لَهُمَا
پس راکښته کړ (ابلیس) دوی دواړه	په فریب	نو کله چی	وڅکله دغو (دواړو)	میوه د ونی	(نو) ښکاره سو	دواړو ته

پس راکوز کړ (ابلیس) دوی دواړه په فریب نو کله چی وڅکله دغو (دواړو) میوه د ونی (نو) ښکاره سو دواړو ته

سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ

سَوْاٰتُهُمَا	وَطَفِقَا	يَخْصِفٰنِ	عَلَيْهِمَا	مِنْ	وَّرَقِ
غلیظ عورتونه د دوی	او ولگیدل دواړه	چی سره نښلولی دوی	پر عورتونو خپلو باندی	له	پاڼو

غلیظ عورتونه د دوی او ولگیدل دواړه چی سره نښلولی دوی پر عورتونو خپلو باندی له پاڼو

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا لنډ تفسير:

الله ﷻ فرمايي چي موږ آدم ته حکم ورکی چي ای آدمه ته او ستا بي بي حوا په جنت کي اوسی بیادکم ځای څخه چي غواړی او دڅه شي څخه چي غواړی دواړه یي خوری او دومره خیال کوی چي دې خاصي درختي ته مه نژدې کیږی یعني میوه یي مه خوری هسي نه چي دهغه خلگو په شمیر کي راسی دکمو څخه چي نامناسبه کارونه کیږي بیا شیطان ددې دواړو په زړونو کي وسوسه واچوله ددې دپاره چي ددغه منع سوي درختي څخه خوراک وکي ددوی پټ بدن کم چي دیو بل څخه پټ وو دواړوته مخامخ بې پردې سي ځکه چي ددې درختي دخوړلو دا تاثیردی برابره خبره ده که ذاتي وي او که په وجه دمنعي وي.او هغه وسوسه دا وه چي دواړو ته یي وویل چي ستاسي رب تاسي دواړه ددې درختي دخوراک څخه په بل سبب سره منع کړي یاست هغه دادی که تاسي ددې درختي څخه خوراک وکی نو تاسي به یا ملاېکي جوړي سی او یا به دهمیش دپاره دلته پاته سی الخ.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ١١٥)

الْجَنَّةِ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا

الْجَنَّةِ	وَنَادٰىهُمَا	رَبُّهُمَآ	اَلَمْ اَنْهَكُمَا	عَنْ	تِلْكُمَا
دجنت څخه	او آواز وکړی دوی ته	رب د دوی	چې آیا مانه وئ منع کړی تاسی	له	(خوراکه د) دغی

د جنت څخه او آواز (ږغ) وکړی دوی ته رب د دوی (داسی) چې آیا ما نه وئ منع کړی تاسی له (خوراکه د) دغی

الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٢﴾

الشَّجَرَةِ	وَاَقُلْ	لَّكُمَآ	اِنَّ	الشَّيْطٰنَ	لَكُمَا	عَدُوٌّ	مُّبِيْنٌ
ونی څخه	او (نهٔ) ویل ما	تاسی ته	چې بیشکه!	شیطان	تاسی دواړو ته	دښمن دی	ښکاره

ونی څخه او (نهٔ) ویلی ما تاسی ته چې بیشکه! شیطان تاسی دواړو ته دښمن دی ښکاره.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۫ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا

قَالَا	رَبَّنَا	ظَلَمْنَآ	اَنْفُسَنَا	وَاِنْ	لَّمْ تَغْفِرْ	لَنَا
نو وویل دواړو	ای ربه زموږ	ظلم کړی دی موږ	پر نفسونو خپلو	او که	مغفرت ونه کړی ته	موږ ته

نو وویل دواړو ای ربه زموږ ظلم کړی دی موږ پر نفسونو (ځانونو) خپلو او که مغفرت ونه کړی ته موږ ته

وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوْا

وَتَرْحَمْنَا	لَنَكُوْنَنَّ	مِنَ	الْخٰسِرِيْنَ	قَالَ	اهْبِطُوْا
او رحمت ونه کړی ته پر موږ	نو خامخا سو به موږ هرومرو	له	زیانکارانو	وفرمایل (الله)	چې کښته سئ

او رحمت (مهربانی) ونه کړی ته پر موږ نو خامخا سو به موږ هرومرو له زیانکارانو. وفرمایل (الله) چې کوز سئ (له جنته)

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ

بَعْضُكُمْ	لِبَعْضٍ	عَدُوٌّ	وَلَكُمْ	فِي	الْاَرْضِ	مُسْتَقَرٌّ
حال دا چې ځینی ستاسی	ځینو نورو ته	به دښمن یئ	او تاسی ته	په	ځمکه کښی	ځای د هستوګنی

حال دا چې ځینی ستاسی ځینو نورو ته به دښمن یئ، او (مقرر دی) تاسی ته په ځمکه کښی ځای د هستوګنی

وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ

وَّمَتَاعٌ	اِلٰى حِيْنٍ	قَالَ	فِيْهَا	تَحْيَوْنَ
او د نفع آخیستلو	تر وخته (د مرګ) پوری	وفرمایل (الله)	چې په دی ځمکه کښی	به ژوندون کوئ تاسی

او (اسباب) د نفع آخیستلو تر وخته (د مرګ) پوری. وفرمایل (الله) چې په دی ځمکه کښی به ژوندون کوئ تاسی

وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا

لنډ تفسير: خلاصه

دشیطاني وسوسې داوه چې ددې درختې په خوړلوسره ملکوتي قوت او دایمي ژوندپیدا کیږي مګر په شروع کې ستاسي بدن ددې تحمل نسو کولای په دې وجه ورڅخه منع سوا ست اوس ستاسي په حالت او قوت کې ترقي وسوه او اوس یې په تاسي کې تحمل پیدا سوی دی نو منع یې ختمه سوه او دې دواړو ته یې مخامخ پر دې خبره قسم واخیستی چې یقین وکی زه ستاسي ددواړو په زړه سره خیر خواه یم نو داسي خبرې یې جوړې کړې دوی دواړه یې په فریب سره لاندې راوستل لاندې راوستل په اعتبار دحالت او رایې هم وه چې خپله لویه رایه یې پاته کړه او ددښمن رایې ته مایله سوه اودمقام په اعتبار سره هم چې دجنت څخه یې لاندې ځمکې ته راکښته کړل پس دوی دواړو چې کله درخته وڅکله فورا ددواړو پټ بدن یو بل ته مخامخ ښکاره سو یعنې دجنت جامې ور څخه ووتلې اودواړه وشرمیدل اودبدن دپټولو دپاره یې دواړو په خپل ځان پورې دجنت ددرختو پاڼې شکولې او ځان یې په پټوی.

(معارف القرآن ج٣ پ٨ ص ١١٥)

ع ۱۵ ۲ ۹

وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾ يٰبَنِيٓ اٰدَمَ قَدْ

وَفِيهَا	تَمُوتُونَ	وَمِنْهَا	تُخْرَجُونَ	يٰبَنِيٓ	اٰدَمَ	قَدْ
او په هم دغې مځکې کښې	به مرئ تاسی	او له هم دغې مځکې څخه به	را ایستل کیږئ تاسی	ای ځامنو	د آدم	په تحقیق

او په هم دغې مځکې کښې به مرئ تاسی او له هم دغې مځکې څخه به را ایستل کیږئ تاسی .ای ځامنو د آدم! په تحقیق

اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ

اَنْزَلْنَا	عَلَيْكُمْ	لِبَاسًا	يُّوَارِيْ	سَوْاٰتِكُمْ	وَرِيْشًا	وَلِبَاسُ
نازل کړی دی موږ	پر تاسی	لباس	چې پټوی	عورتونه ستاسی	او دزینت کالی	او لباس

نازل کړی دی موږ پر تاسی لباس (کالی) چې پټوی عورتونه ستاسی او دزینت کالی او لباس

التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ

التَّقْوٰى	ذٰلِكَ	خَيْرٌ	ذٰلِكَ	مِنْ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	لَعَلَّهُمْ
د تقوٰی	دغه	خیر (بهتره) دی	دغه	له	آیتونو	د الله دی	لپاره د دی چې دوی

د تقوٰی دغه (لباس د تقوٰی) خیر دی (له نورو) دغه (رالیږل د پوښاک) له آیتونو (له علامو) د الله دی لپاره د دی چې دوی

يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٢٦﴾ يٰبَنِيٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ

يَذَّكَّرُوْنَ	يٰبَنِيٓ	اٰدَمَ	لَا يَفْتِنَنَّكُمُ	الشَّيْطٰنُ	كَمَآ
پند واخلی	ای ځامنو	د آدم	فریب دی درنه کړی تاسی ته	شیطان	لکه چې

پند واخلی (غور وکړی). ای ځامنو د آدم فریب دی درنه کړی تاسی ته شیطان لکه چې

اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا

اَخْرَجَ	اَبَوَيْكُمْ	مِّنَ	الْجَنَّةِ	يَنْزِعُ	عَنْهُمَا	لِبَاسَهُمَا
ایستلی یی دی	مور او پلار ستاسی	له	جنته	په دی حال چې ایسته ئی	له دی دواړو	لباس د دوی

ایستلی یی دی مور او پلار ستاسی له جنته (په فریب سره) په دی حال چې ایسته ئی له دی دواړو لباس د دوی

لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ

لِيُرِيَهُمَا	سَوْاٰتِهِمَا	اِنَّهٗ	يَرٰىكُمْ	هُوَ	وَقَبِيْلُهٗ	مِنْ
لپاره د دی چې وښیی دوی ته	غلیظ عورتونه د دوی	بیشکه! دغه	وینی تاسی	دی	او لښکر د ده	له

لپاره د دی چې وښیی دوی ته غلیظ عورتونه د دوی بیشکه! دغه (شیطان) وینی تاسی (هم په خپله) دی او لښکر د ده له

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا.. **دلباس دوې فایدې**: په دغه ایت کې الله جلاله دلباس دوې فایدې بیان کړي دي: یو ستر پټول :دوهم دیخ اوگرمی څخه دحفاظت او ښایست دبدن :اواوله فایده یې مخکې ذکر کړه او دې طرف ته یې اشاره وکړه چې دانساني لباس اصل مقصد ستر پټول دي او دادانسان دعامو حیوانانو څخه امتیاز دی دحیوانانو لباس کم چې په قدرتي طور سره ددوی دجز څخه جوړ سوی دی ددې کار یوازې دیخ او گرمی څخه حفاظت یاښایست دی دستر پټولو په دې کې دومره اهتمام نسته البتّه دخاصو اندامونو جوړښت یې ددوی په بدن کې داسې ایښی دی چې بالکل ښکاره نه دي کله وربانديې دلکی پرده اوکله بل قسم : او دحضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء بې بې او دشیطان دغولولو دواقعې تر بیانولو وروسته دلباس په ذکر کولو کې دې ته اشاره ده چې دانسان دپاره لغړیدل او قابل شرم اندامونه دنورو په مخکې ښکاره کیدل د ډیر ذلت اورسوایي او بې حیایي نښانه ده او دشرم اوفساد مقدمه ده. (معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ۱۱۸)

حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ

حَيْثُ	لَا تَرَوْنَهُمْ	اِنَّا	جَعَلْنَا	الشَّيٰطِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	لِلَّذِيْنَ
هغې خوا چې	نه ئې وينئ تاسې دوی	بيشکه! موږ	ګرځولي مو دي	شيطانان	دوستان	لپاره د هغو کسانو

هغې خوا چې نه ئې وينئ تاسې دوی بيشکه! موږ ګرځولي مو دي شيطانان دوستان لپاره د هغو کسانو

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا وَجَدْنَا عَلَيْهَآ

لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَاِذَا	فَعَلُوْا	فَاحِشَةً	قَالُوْا	وَجَدْنَا	عَلَيْهَآ
چې ايمان نه راوړي دوی	او کله چې	وکړي دوی	کوم فاحشه	نو وائي دوی	پيدا کړي دي موږ	پر دغه

چې ايمان نه راوړي دوی. او کله چې وکړي دوی کوم فاحشه (ناکاره کار) نو وائي دوی موندلي دي موږ پر دغه

اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ

اٰبَآءَنَا	وَ	اللّٰهُ	اَمَرَنَا	بِهَا	قُلْ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَاْمُرُ
پلرونه خپل	او	الله هم	امر کړی دی موږ ته	په دی سره	ووايه	چې بيشکه!	الله	نه کوی امر

(ناکاره کار) پلرونه خپل او الله هم امر (حکم) کړی دی موږ ته په دی سره، ووايه (ای محمده!) چې بيشکه! الله نه کوی امر

بِالْفَحْشَآءِ ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ قُلْ

بِالْفَحْشَآءِ	اَتَقُوْلُوْنَ	عَلَى	اللّٰهِ	مَا	لَا تَعْلَمُوْنَ	قُلْ
په فحشاء	آيا وايئ تاسې	پر	الله باندی	هغه شی	چې نه پوهيږئ تاسې	ووايه (ای محمده!)

په فحشاء، آيا وايئ (دروغ تړی) تاسې پر الله باندی هغه شی چې نه پوهيږئ (پری) تاسې. ووايه (ای محمده! دوی ته)

اَمَرَ رَبِّيْ بِالْقِسْطِ ۟ وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ

اَمَرَ	رَبِّيْ	بِالْقِسْطِ	وَاَقِيْمُوْا	وُجُوْهَكُمْ	عِنْدَ
امر کړی دی	رب زما	په عدل سره	او چې سم واړوئ تاسې	مخونه خپل	په نزد

امر کړی دی رب زما په قسط (عدل) سره او چې سم واړوئ (برابر کړئ) تاسې مخونه خپل (عبادت د الله ته) په نزد (وخت)

كُلِّ مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ كَمَا

كُلِّ	مَسْجِدٍ	وَّادْعُوْهُ	مُخْلِصِيْنَ	لَهُ	الدِّيْنَ	كَمَا
د هر	لمانځه	او بولئ تاسې دی	حال دا چې مطيع خالص کوونکی اوسئ	ده ته	دين خپل	لکه چې

د هر لمانځه او بولئ (عبدت کوئ) تاسې د ده حال دا چې مطيع خالص کوونکی اوسئ ده ته دين خپل (له عجب او ريا)، لکه چې

وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا
تر اسلام اول د عربو دجاهليت په زمانه کې شيطان: چې خلګ په کمو شرمناکو او عبثو رسمونو کې اخته کړي وه په دې کې يو داهم وو چې د قريشو څخه ماسوا يو سړي د بيت الله طواف په خپلو جامو کې نه سو کولای بلکې يا به يې ديو قريشي څخه په سوال جامې غوښتلای او يا به يې په لڅه بيا طواف کوی او شکاره خبره ده چې ټولو عربو ته به د قريشو خلګو تر کمه حده پوري جامې ورکولې سوې؟ نو په دې وجه به د دې خلګو اکثره په لڅه طواف کوی سړوهم او ښځوهم او ښځو په عام طور سره د شپې په تياره کې طواف کوی او د خپل دې شيطاني کار حکمت به يې دا بيانوی چې په کمو جامو کې موږ ګناوې کړې دي په هغه کې د بيت الله شريفې پرشا او خوا طواف کول دا د ب څخه خلاف کار دی او دا د عقل رانده په دې نه پوهيدل چې په لڅه طواف کول د دې څخه زياته بې ادبي ده او د انسانيت د اصولو او قوانينو څخه خلاف عمل دی چې لڅ لغړ دې طواف وکړی سې: اللّٰهم اهدنا الصراط المستقيم.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۸ ص ۱۲۴)

بَدَاَ كُمۡ تَعُوۡدُوۡنَ ﴿٢٩﴾ فَرِيۡقًا هَدٰى وَفَرِيۡقًا

بَدَاَكُمۡ	تَعُوۡدُوۡنَ	فَرِيۡقًا	هَدٰى	وَفَرِيۡقًا
اول ځلی یی پیدا کړی یئ تاسی	بیا به هم داسی پیدا سئ تاسی	یوی ډلی ته	هدایت وکړ	او هدایت ئی نه دی کړی بلی ډلی ته

اول ځلی یی پیدا کړی یئ تاسی بیا به هم داسی پیدا سئ تاسی. یوی ډلی ته هدایت وکړ او هدایت ئی نه دی کړی بلی ډلی ته

حَقَّ عَلَيۡهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيۡنَ اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِ

حَقَّ	عَلَيۡهِمُ	الضَّلٰلَةُ	اِنَّهُمُ	اتَّخَذُوا	الشَّيٰطِيۡنَ	اَوۡلِيَآءَ	مِنۡ دُوۡنِ
چی مقرره سوی ده	پر دوی	گمراهی	بیشکه! چی	دوی نیولی دی	شیطانان	دوستان	بی له

چی مقرره سوی ده پر دوی گمراهی ، بیشکه! چی دوی نیولی دی شیطانان دوستان (خپل معبودان) بی له

اللّٰهِ وَيَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿٣٠﴾ يٰبَنِىۡۤ اٰدَمَ خُذُوۡا

اللّٰهِ	وَيَحۡسَبُوۡنَ	اَنَّهُمۡ	مُّهۡتَدُوۡنَ	يٰبَنِىۡۤ	اٰدَمَ	خُذُوۡا
الله ځنی	او گمان کوی دوی	چی بیشکه! هم دوی	هدایت پیدا کوونکی دی	ای ځامنو	د آدمه!	واخلئ تاسی

الله ځنی او گمان کوی دوی چی بیشکه! هم دوی هدایت موندونکی دی. ای ځامنو د آدمه! واخلئ تاسی

زِيۡنَتَكُمۡ عِنۡدَ كُلِّ مَسۡجِدٍ وَّكُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا وَلَا تُسۡرِفُوۡا ۚ

زِيۡنَتَكُمۡ	عِنۡدَ	كُلِّ	مَسۡجِدٍ	وَّكُلُوۡا	وَاشۡرَبُوۡا	وَلَا تُسۡرِفُوۡا
زینت خپل	په نزد	د هر	لمانځه	او خورئ	او چښئ	او اسراف مه کوئ تاسی

زینت (ښائست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په آغوستلو د پاکو کالیو) او خورئ او چښئ او اسراف مه کوئ تاسی

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴿٣١﴾ قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ

اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ	الۡمُسۡرِفِيۡنَ	قُلۡ	مَنۡ	حَرَّمَ
بیشکه! چی	الله نه خوښوی	مسرفان	ووایه (ای محمده!) چی	چا	حرام کړی دی

٣ ع٢ ١٠

بیشکه! چی الله نه خوښوی مسرفان (بی ځایه خرڅ کوونکی). ووایه (ای محمده!) چی چا حرام کړی دی

زِيۡنَةَ اللّٰهِ الَّتِىۡۤ اَخۡرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ

زِيۡنَةَ	اللّٰهِ	الَّتِىۡۤ	اَخۡرَجَ	لِعِبَادِهٖ	وَالطَّيِّبٰتِ	مِنَ
زینت	د الله	هغه چی	ایستلی ئی دی	د پاره د بندگانو خپلو	او پاک لذیذ شیان	له

زینت د الله هغه چی ایستلی ئی دی د پاره د بندگانو خپلو؟ او پاک لذیذ شیان له

وَّكُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا وَلَا تُسۡرِفُوۡا. ددنیا په شیانوکي اصل مباحوالی اوجوازوالی دی ترڅو چي په څه دلیل سره یي حراموالی او منعه ثابته نه وي هیڅ شی حرام نه دی: یوه مسئله ددي آیت څخه داحکام القرآن جصاص موافق داراووته چي په دنیا کي چي څومره شیان دخوړلو او چیښلو دي اصل په دوی کي دادی چي دغه ټول جایز او حلال دي: ترڅوپوري چي دیوه خاص شي حراموالی او منع په څه شرعي دلیل سره ثابته نه وي هر شی به جایز او حلال گڼل کیږي دې طرف ته اشاره په دې خبره سره وسوه چي د(وَّكُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا) مفعول يي ذکر نه کی چي څه شی خوری او څه شی چیښی او دعربي ژبي د عالمانو داتصریح ده چي پر داسي موقع مفعول نه ذکر کول دده دعاموالي طرف ته اشاره وي چي هر شي خوړلی او چیښلی سی بغیر دهغه شیانو څخه کم چي په صراحت سره حرام سویدي: (احکام القرآن الجصاص) دایت دآخري جملې څخه هم داثابته سوه چي دخوړلو او چیښلوخو اجازه ده بلکي حکم دی مگر ددې سره داسراف کولو څخه منع ده. (معارف القرآن ج٣ پ٨ ص١٣١)

الرِّزْقِ ؕ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

الرِّزْقِ	قُلْ	هِيَ	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	فِي	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا
رزقه څنې	ووايه	چې دغه	لپاره د هغو کسانو دی	چې ايمان يې راوړی دی	په دی	ژوندون	لږخسيس کښې

رزقه څنې، ووايه (ای محمده!) چې دغه لپاره د هغو کسانو دی چې ايمان يې راوړی دی په دی ژوندون لږخسيس کښې

خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

خَالِصَةً	يَّوْمَ	الْقِيٰمَةِ	كَذٰلِكَ	نُفَصِّلُ	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ
حال داچې خاص دی	په ورځ	د قيامت کښې	هم دارنګه	په تفصيل بيانوو موږ	آيتونه	له پاره د قوم

حال داچې خاص (مؤمنانو لره) دی په ورځ د قيامت کښې هم دارنګه په تفصيل بيانوو موږ آيتونه له پاره د (هغه) قوم

يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣٢﴾ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ

يَّعْلَمُوْنَ	قُلْ	اِنَّمَا	حَرَّمَ	رَبِّيَ	الْفَوَاحِشَ	مَا ظَهَرَ
چې پوهيږی	ووايه	بيشکه! هم داخبره ده	چې حرام کړی دی	رب زما	فواحش	هغه چې ظاهر وی له

چې پوهيږی (پرې). ووايه (ای محمده!) بيشکه! هم داخبره ده چې حرام کړی دی رب زما فواحش هغه چې ظاهر وی له

مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ

مِنْهَا	وَمَا	بَطَنَ	وَالْاِثْمَ	وَالْبَغْيَ	بِغَيْرِ الْحَقِّ	وَاَنْ
هغو څخه	او هغه چې	پټ وی	او ګناه	او ظلم	په ناحقه سره	او (بل داچې)

هغو څخه او هغه چې باطن وی او (حرام کړی ئی دی) ګناه او ظلم په ناحقه سره (بل داچې)

تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا

تُشْرِكُوْا	بِاللّٰهِ	مَا	لَمْ يُنَزِّلْ	بِهٖ	سُلْطٰنًا	وَّاَنْ تَقُوْلُوْا
شريک ونيسئ تاسی	په الله پوری	هغه شی چې	نه دی نازل کړی	په هغه باندی	هيڅ دليل	او ووايی تاسی

شريک ونيسئ تاسی په الله پوری، هغه شی چې نه دی نازل کړی په (شريکولو د) هغه باندی هيڅ برهان او ووايی تاسی

عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا

عَلَى	اللّٰهِ	مَا	لَا تَعْلَمُوْنَ	وَلِكُلِّ	اُمَّةٍ	اَجَلٌ	فَاِذَا
پر	الله	هغه خبری	چې تاسی نه پوهيږی	او هر يوه	امت ته	يو اجل سته	نو کله چې

پر الله هغه خبری چې تاسی نه پوهيږی. او هر يوه امت ته يو اجل (نيته) سته (د مرګ يا د عذاب) نو کله چې

قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ. **دښکلي لباس او خوندور خوراک څخه پرهيز د اسلام تعليم نه دی**: مطلب دادی چې يو شی حلال يا حرام ګرځول يوازي د هغه پاک ذات حق دی چا چې دا شيان پيدا کړي دي بل چا لره په دې کي دخل کول جايز نه دي په دې وجه هغه خلګ د زورني او عذاب قابل دي کم چې د الله ﷻ حلال کړي عمده پوښاک يا پاکيزه او خوندور خوراک حرام ګڼي: سره د طاقته په شيري ګريوان او ګډوډ او سيدل نه څه د اسلام تعليم دی او نه په اسلام کي ښه شی دی لکه چې ډير جاهلان يې داسي ګڼي په تيرو مشرانو او د اسلام په امامانو کي ډير مشران کمو ته چې الله ﷻ مالي فراخي ورکړې وه اکثرو به يې ښکلي او بيش قيمته لباس اغوستی سردار د دواړو جهانو نبي کريم ﷺ هم کله چې فراخي راغله نو تر ښولا ښې جامې يې زيب تن کړې دي داسي چادر وو چې قيمت به يې زر دراهمه وو **د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په باره کي نقل دي** چې ډير قيمت بها چادر به يې زيب تن کوی او استعمالوی به يې. (معارف القرآن ج٣ پ٨ ص١٣۶)

جَآءَ اَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً وَّلَا يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ ۳۴

جَآءَ	اَجَلُهُمۡ	لَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ	سَاعَةً	وَّلَا يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ
راسي	نيټه دمرګ د دوی	نه به وروستی کيږي دوی	يو ساعت	او نه مخته کيږي دوی

راسي اجل د دوی نه به وروستی کيږي دوی (ترې) يو ساعت او نه مخته کيږي دوی (ترې).

يٰبَنِيۡۤ اٰدَمَ اِمَّا يَاۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٌ مِّنۡكُمۡ

يٰبَنِيۡۤ	اٰدَمَ	اِمَّا	يَاۡتِيَنَّكُمۡ	رُسُلٌ	مِّنۡكُمۡ
ای ځامنو (اولادی)	د آدم	که	راسي تاسي ته	رسولان	له تاسي څنی

ای ځامنو (اولادی) د آدم! که راسي تاسي ته رسولان له تاسي څنی

يَقُصُّوۡنَ عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتِيۡ ۙ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصۡلَحَ فَلَا

يَقُصُّوۡنَ	عَلَيۡكُمۡ	اٰيٰتِيۡ	فَمَنِ	اتَّقٰى	وَاَصۡلَحَ	فَلَا
چي وائي دوی	پر تاسي باندی	آيتونه زما	نو هر څوک	چي ځان وساتي	او اصلاح کړي	نو نه به وي

چي لولي دوی پر تاسي باندي آيتونه (دکتاب) زما نو هر څوک چي ځان وساتي او اصلاح کړي عمل خپل نو نه به وي

خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ۳۵ وَالَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا

خَوۡفٌ	عَلَيۡهِمۡ	وَلَا هُمۡ	يَحۡزَنُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	كَذَّبُوۡا
هيڅ قسم بيره	پر دوی باندی	او نه به دوی	غمجن کيږي	او هغه کسان	چي نسبت ئی د دروغو کړی دی

هيڅ قسم بيره پر دوی باندی او نه به دوی غمجن کيږي. او هغه کسان چي نسبت ئی د دروغ کړی

بِاٰيٰتِنَا وَاسۡتَكۡبَرُوۡا عَنۡهَاۤ اُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ

بِاٰيٰتِنَا	وَاسۡتَكۡبَرُوۡا	عَنۡهَاۤ	اُولٰٓـئِكَ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	هُمۡ
آيتونو زموږ ته	او کبر يي کړی دی	له هغه آيتونو	هم دغه کسان	صاحبان	د اور دی	هم دوی به

آيتونو زموږ ته او کبر کوی (سرکشي کوی) له هغه آيتونو هم دغه کسان صاحبان (ملګری) د اور (د دوزخ) دی هم دوی به

فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ۳۶ فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	فَمَنۡ	اَظۡلَمُ	مِمَّنِ	افۡتَرٰى	عَلَى	اللّٰهِ
په دغه اور کښي	تل وی	نو څوک دی	ډير ظالم	له هغه چا چي	له ځانه تړي	پر	الله باندی

په دغه اور کښي تل وی. نو څوک دی ډير ظالم له هغه چا چي له ځانه تړي پر الله باندی

لَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً وَّلَا يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ.. په خوراک او پوښاک کي دنبي کريم ﷺ سنت: په خوراک او پوښاک کي دنبي کريم ﷺ او اصحابو کرامو ﷺ او تابعينو سنت دادی چي په دې شيانو کي دې تکليف نه کوي ځنګه پوښاک او خوراک چي په آسانی سره حاصليدی هغه دې دشکر سره استعمالوي غټه جامه او اوچ خوراک چي ورکول سي نو داتکليف دې نه کوي چي په څه ناڅه طريقه ښه حاصل کړي برابره خبره ده که قرض ورلره ولي ونه کي يا په دې فکر کي خپل ځان په يوبل مشکل کي داخته کولو نوبت رانه سي: دغه ډول ښه لباس او ښکلی لباس او خوندورخوراک چي حاصل سي نو دا تکلف دې نه کوي چي قصدا يي خراب کي يا يي داستعمال څخه پرهيز وکي ځنګه چي دنوي او ښه لباس او خوراکولتون تکلف دی دغه ډول دښه او خوندور خرابول يا يي پريښوول او خراب استعمالول هم تکلف او بدګڼل سوی دی په اسلام کي چي دصحابه کرامو ﷺ دژوند مطالعه وسي نو واقعةً معلومه به سي چي هغه خلګ بې تکلفه وه دادرسول الله ﷺ دصحبت برکت وو:
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۳۷)

كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِّنَ

كَذِبًا	اَوْ كَذَّبَ	بِاٰيٰتِهٖ	اُولٰٓئِكَ	يَنَالُهُمْ	نَصِيْبُهُمْ	مِّنَ
دروغ	يا نسبت د دروغو كوى	آيتونو د دغه (الله) ته	دغه (مكذبان)	وبه رسيږي دوى ته	برخه د دوى	له

دروغ يا نسبت د دروغو كوى آيتونو د دغه (الله) ته دغه (مكذبان) وبه رسيږي دوى ته برخه د دوى له

الْكِتٰبِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ قَالُوْٓا

الْكِتٰبِ	حَتّٰٓى	اِذَا	جَآءَتْهُمْ	رُسُلُنَا	يَتَوَفَّوْنَهُمْ	قَالُوْٓا
هغه ليكل سوى شخه	تر هغه پورى	كله چي	راسي دوى ته	رسولان زموږ	حال داچي قبضوى دوى	هغو وائي

هغه ليكل سوى شخه تر هغه پورى كله چي راسي دوى ته رسولان زموږ حال داچي قبضوى دوى (ارواح د) هغو وائي

اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا

اَيْنَ	مَا كُنْتُمْ	تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	قَالُوْا
چيرته دى	هغه چي وئ تاسي	چي بلل به مو	غير له	الله	نو وبه وائي دغه

(دا ملائكى دى كافرته) چيرته دى هغه (معبودان) چي وئ تاسي چي بلل به مو د غير له الله نو وبه وائي دغه (كافران)

ضَلُّوْا عَنَّا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ۝٣٧

ضَلُّوْا	عَنَّا	وَشَهِدُوْا	عَلٰٓى	اَنْفُسِهِمْ	اَنَّهُمْ	كَانُوْا	كٰفِرِيْنَ
وركسول	له موږ	او شاهدى به وركړى دوى	پر	نفسونو خپلو باندى	چي بيشكه! دوى	وو	كافران

وركسول له موږ او شاهدى به وركړى دوى پر نفسونو خپلو باندى چي بيشكه! دوى وو كافران.

قَالَ ادْخُلُوْا فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِّنَ الْجِنِّ

قَالَ	ادْخُلُوْا	فِيْٓ اُمَمٍ	قَدْ	خَلَتْ	مِنْ قَبْلِكُمْ	مِّنَ	الْجِنِّ
وبه فرمائى	چي ننوځئ	په هغو امتونو كښى	چي په تحقيق	تير سوى دى	پخوا له تاسي	له	پيريانو

وبه فرمائى (الله يا پربنته) چي ننوځئ په هغو امتونو كښى چي په تحقيق تير سوى دى پخوا له تاسي له (كفارو د جن) پيريانو

وَالْاِنْسِ فِي النَّارِ ؕ كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ اُخْتَهَا

وَالْاِنْسِ	فِي	النَّارِ	كُلَّمَا	دَخَلَتْ	اُمَّةٌ	لَّعَنَتْ	اُخْتَهَا
او له انسانانو	په	اور كښى	هر كله چي	ننوځي	يو امت	نو لعنت به وائي دغه امت	پر هغه بل وړاندى امت چي په مثل د دهٔ

او له انسانانو په اور كښى، هر كله چي ننوځي يو امت نو لعنت به وائي دغه امت پر هغه بل وړاندى امت چي په مثل د دهٔ

اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ ؕ لنډ تفسير:

الله جل جلاله فرمايي چي تر هغه سړي به بل لوى ظالم څوك وي كم چي پر الله جل جلاله باندي درواغ تړى يعني كمه خبره چي خداى جل جلاله نه وي ويلې هغې ته دخداى ويل سوې خبره وايي يا دهغه اياتونه درواغ كي يعني كمه خبره چي خداى جل جلاله ويلې وي هغې ته دخداى جل جلاله ناويل سوې ووايي ددې خلگو په نصيب كي چي څه رزق او عمر دى هغه خو دوى ته په دنيا كي به وركول كيږي ليكن په آخرت كي مصيبت او مصيبت دى تر دې پوري چي په برزخ كي دمرگ په وخت كي خو به ددوى داحالت وي چي كله دوى ته زموږ ليږل سوي ملايكي ددوى د روح قبض كولو ته راسي نو دوى ته به ووايي چي ووايا ست هغه چيري ولاړل كم چي تاسي دخداى جل جلاله څخه ماسوا دهغو عبادت كوى اوس په دې مصيبت كي موولي په كار نه راځي هغه كفار به ووايي چي زموږ څخه خو ټول ورك سول يعني واقعي په كاررانه غلل او داوخت به دوى دخپل كافر كيدو اقرا ر وكي ليكن ددغه وخت اقرار به بيكاره وي.

(معارف القرآن ج٣ پ٨ ص١٤٢)

حَتّٰٓى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ اُخْرٰىهُمْ

حَتّٰٓى	اِذَا	ادَّارَكُوْا	فِيْهَا	جَمِيْعًا	قَالَتْ	اُخْرٰىهُمْ
ترهغه پورې	كله چې	يو ځاى سى دوى	په دى (اور) كښې	ټول	نو وبه وائى	وروستنى د دوى

ترهغه پورې كله چې يو ځاى سى دوى په دى (اور) كښې ټول نو وبه وائى وروستنى د دوى (يعنى تابعان)

لِاُوْلٰىهُمْ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا

لِاُوْلٰىهُمْ	رَبَّنَا	هٰٓؤُلَآءِ	اَضَلُّوْنَا	فَاٰتِهِمْ	عَذَابًا
اولنيو خپلو ته	اى ربه! زموږ	دغو	گمراه كړى وو موږ	نو وركړه دوى ته	عذاب

په (باب د هغو) رومبنيو (متبوعانو) خپلو كښې (الله ته چې) اى ربه! زموږ دغو گمراه كړي وو موږ نو وركړه دوى ته عذاب

ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۬ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾

ضِعْفًا	مِّنَ	النَّارِ	قَالَ	لِكُلٍّ	ضِعْفٌ	وَّلٰكِنْ	لَّا تَعْلَمُوْنَ
دو چند	له	اوره	وبه فرمايي الله	چې دى لپاره د هر يوه	دوچنده	ليكن	نه پوهيږئ تاسى

دوچند (زموږ) له اوره (د دوزخ) وبه فرمايي الله چې دى لپاره د هر يوه دوچنده ليكن نه پوهيږئ تاسى.

وَقَالَتْ اُوْلٰىهُمْ لِاُخْرٰىهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ

وَقَالَتْ	اُوْلٰىهُمْ	لِاُخْرٰىهُمْ	فَمَا	كَانَ	لَكُمْ	عَلَيْنَا	مِنْ
او وبه وائى هغه	اولنى د دوى	په حق د وروستنيو د دوى كښى	چې پس نه	ؤ	تاسو ته	پر موږ باندې	هيڅ

او وبه وائى هغه رومبنى د دوى په حق د وروستنيو (تابعانو) د دوى كښى چې پس نه ؤ تاسو ته پر موږ باندى هيڅ

فَضْلٍ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ

فَضْلٍ	فَذُوْقُوا	الْعَذَابَ	بِمَا	كُنْتُمْ	تَكْسِبُوْنَ	اِنَّ
فضل	نو وڅكئ تاسى	عذاب	په سبب د هغو كارونو	چې وئ تاسى	چې كول به مو	بيشكه!

فضل نو وڅكئ تاسى عذاب په سبب د هغو كارونو چې وئ تاسى چې كول به مو (په دنيا كښى له شركه او كفره). بيشكه!

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ

الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا	وَاسْتَكْبَرُوْا	عَنْهَا	لَا تُفَتَّحُ
هغه كسان	چې نسبت د دروغو كوى	آيتونو زموږ ته	او تكبر كوى	دهغو څخه	خلاصى به نه كړى سى

هغه كسان چې نسبت د دروغو كوى آيتونو زموږ ته او تكبر كوى (له قبول) دهغو وبه نه پرانيستلى سى

اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا
په دغه ايت كي الله ﷻ
ارشاد فرمايي: چي كمو
خلگو انبياء عليهم السلام
درواغجن كړل او زموږ
دهدايتونو اوايتونو په
مقابله كي يي تكبر وكى
ددوى دپاره به دآسمان
دروازې خلاصي نسي: په
تفسير بحر محيط كي يي
دحضرت عبد الله ابن
عباس رضي الله عنه څخه ددې يو
تفسير دا نقل كړى دى چي
نه به ددې خلگو دعملونو
دپاره دآسمان دروازې
راخلاصيږي او نه به ددوى
ددعاگانو دپاره مطلب
دادى چي ددوى دعا به
قبوله نه سي او ددوى
عملونه به دغه مقام ته
درسيدو څخه بند سي په كم
ځاى كي چي د الله ﷻ
دنيكو بندگانو عملونه
محفوظ ايښوول كيږي
چي نوم يي دقرآن كريم په
سورت مطففين كي عليّين
ښوول سوى دى او دقران
كريم په يو بل آيت كي هم
ددغه مضمون طرف ته
اشاره ده (اليه يصعد
الكلم الطيب والعمل
الصالح يرفعه) يعني
دانسان پاكي كلمې الله
ﷻ ته پورته كيږي او
ددوى نيك عمل هغه ته
پورته كول كيږي او
دالله ﷻ په حضور كي په
اعزاز سره پيش كيږي.
معارف القرآن ج۳ پ۸ ص ۱۴۵)

ع ۴ ۸ ۱۱

لَهُمۡ اَبۡوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُوۡنَ الۡجَنَّةَ حَتّٰى

لَهُمۡ	اَبۡوَابُ	السَّمَآءِ	وَلَا يَدۡخُلُوۡنَ	الۡجَنَّةَ	حَتّٰى
دوی ته	دراوازی	دآسمان	او نه به داخل سی دوی	جنت ته	تر هغه پوری

دوی ته دروازی د آسمان (چی پورته یوړی سی نیک عملونه او ارواح د دوی) او نه به داخل سی دوی جنت ته تر هغه پوری

يَلِجَ الۡجَمَلُ فِىۡ سَمِّ الۡخِيَاطِ‌ؕ وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُجۡرِمِيۡنَ ۝۴۰

يَلِجَ	الۡجَمَلُ	فِىۡ	سَمِّ	الۡخِيَاطِ	وَكَذٰلِكَ	نَجۡزِى	الۡمُجۡرِمِيۡنَ
چی ننوځی	اوبن	په	سوری	دستنی کنبی	او همداسی	جزا ورکوو موږ	مجرمانو ته

چی ننوځی اوبن په سوری د ستنی کنبی، او همداسی (لکه جزا د متکبرانو) جزا ورکوو موږ مجرمانو (کافرانو) ته.

لَهُمۡ مِّنۡ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنۡ فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٍ‌ؕ وَكَذٰلِكَ

لَهُمۡ	مِّنۡ	جَهَنَّمَ	مِهَادٌ	وَّمِنۡ	فَوۡقِهِمۡ	غَوَاشٍ	وَكَذٰلِكَ
مقرر دی دوی ته	له	دوزخ ځنی	فرش	او وی به	دپاسه ددوی	آغوستنی	او همداسی

مقرر دی دوی ته له دوزخ ځنی فرش او وی به د پاسه د دوی آغوستنی (پردی د اور) او همداسی (لکه جزا د دی خلکو)

نَجۡزِى الظّٰلِمِيۡنَ ۝۴۱ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

نَجۡزِى	الظّٰلِمِيۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ
جزا ورکوو موږ	ظالمانو ته	او هغه کسان	چی ایمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)

جزا ورکوو موږ ظالمانو ته. او هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه)

لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا اِلَّا وُسۡعَهَاۤ اُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ الۡجَـنَّةِ‌

لَا نُكَلِّفُ	نَفۡسًا	اِلَّا	وُسۡعَهَاۤ	اُولٰٓـئِكَ	اَصۡحٰبُ	الۡجَـنَّةِ
تکلیف نه فرمایو	په هیڅ نفس	مگر	په قدر د طاقت د ده	دغه	صاحبان	دجنت دی

تکلیف نه فرمایو (بار نه آچوو) په هیڅ نفس مگر په قدر د طاقت د ده دغه (مؤمنان) صاحبان (ملگری) د جنت دی

هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ۝۴۲ وَنَزَعۡنَا مَا فِىۡ صُدُوۡرِهِمۡ مِّنۡ

هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	وَنَزَعۡنَا	مَا	فِىۡ	صُدُوۡرِهِمۡ	مِّنۡ
هم دوی	په هغه (جنت) کنبی	تل وی	او وبه باسو موږ	هغه چی	په	سینو د دغو کنبی دی	له

هم دوی به په هغه (جنت) کنبی تل وی. او وبه باسو موږ هغه چی په سینو د دغو (جنتیانو) کنبی دی له

وَلَا يَدۡخُلُوۡنَ الۡجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ. په دغه ایت کي دیلج لفظ د (وُلُوج) څخه جوړ دی: چي معنی یي ده په تنگ ځای کي ننوتل: او (جمل) اوښ ته ویل کیږي او (سم) د ستني سوري ته ویل کیږي: معنی دآیت داده چي داخلگ به تر هغه پوري جنت ته داخل نه سي تر څو پوري چي داوښ په ډول عظیم الجثة (لوی بدن والا) حیوان دستني په سوري کي دننه ولاړ نه سي مطلب دادی چي لکه څنگه چي دستني په سوري کي داوښ دننه کیدل محال او مشکل دي عادةً دغه ډول ددوی جنت ته تلل محال دي په دې سره ددې خلگو دجهنم دهمیشه عذاب بیان کول مقصود دي تر دې وروسته ددې خلگو دجهنم دعذاب دزیات سخت والي بیان یي په دې الفاظو سره کړی دی (لهم من جهنم مهاد ومن فوقهم غواش) د (مهاد) معنی دفرش او (غواش) دغاشية جمع ده چي معنی یه ده پټوونکی شی مطلب دادی چي تر دې خلگو به لاندي ستني او سربیره داغوستلو شی به ټول دجهنم څخه وي: الله ﷻ دي موږ او تاسي ددغه حالته څخه وساتي. (معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۴۷)

غِلٍّ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ۚ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ

غِلٍّ	تَجْرِیْ	مِنْ	تَحْتِهِمُ	الْاَنْهٰرُ	وَقَالُوا	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ
کینو څخه	بهیږی	له	لاندی د دوی	ویالی	او وائی به دغه	تولی ثناوی او احسانات	خاص الله لره دی

کینو څخه. بهیږی له لاندی د دوی ویالی، او وائی به دغه (جنتیان) تولی ثناوی او احسانات خاص الله لره دی

الَّذِیْ هَدٰىنَا لِهٰذَا ۗ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَاۤ اَنْ

الَّذِیْ	هَدٰىنَا	لِهٰذَا	وَمَا	كُنَّا	لِنَهْتَدِیَ	لَوْلَاۤ	اَنْ
هغه (الله)	چی برابرئی کړو موږ	دی (مقام) ته	او نه	وو موږ پخپله	چی پیدا کړی مو وی دلاره	که نه	ؤ

هغه (الله) چی برابرئی کړو موږ دی (مقام) ته او نه وو موږ پخپله چی موندلی مو وی دا لاره که نه ؤ

هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ؕ وَنُوْدُوْۤا

هَدٰىنَا	اللّٰهُ	لَقَدْ	جَآءَتْ	رُسُلُ	رَبِّنَا	بِالْحَقِّ	وَنُوْدُوْۤا
هدایت کړی موږ ته	الله	په تحقیق	راغلی ؤ	رسولان	درب زموږ	په حقه سره	او آواز به وکړسی دغو ته

هدایت کړی موږ ته الله په تحقیق راغلی ؤ رسولان د رب زموږ په حقه سره، او آواز به وکړسی دغو (جنتیانو) ته

اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٤٣

اَنْ تِلْكُمُ	الْجَنَّةُ	اُوْرِثْتُمُوْهَا	بِمَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ
داسی چی دغه	جنت	په میراث درکړی سوی دی تاسی ته هغه	په سبب د هغه	چی وئ تاسی	چی کول به مو

داسی چی دغه جنت په میراث (ویړیا) درکړی سوی دی تاسی ته هغه په سبب د هغه چی وئ تاسی چی کول به مو.

وَنَادٰۤی اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ اَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا

وَنَادٰۤی	اَصْحٰبُ	الْجَنَّةِ	اَصْحٰبَ	النَّارِ	اَنْ	قَدْ	وَجَدْنَا	مَا
او غږ به وکړی	صاحبان	د جنت	صاحبانو	د اور ته	داسی چی	په تحقیق	پیدا کړ موږ	هغه

او غږ به وکړی صاحبان د جنت صاحبانو د اور ته داسی چی په تحقیق موندہ کړ موږ هغه (ثواب)

وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ

وَعَدَنَا	رَبُّنَا	حَقًّا	فَهَلْ	وَجَدْتُّمْ	مَّا	وَعَدَ	رَبُّكُمْ
چی وعده کړی وه	رب له موږ سره	په حقه سره	نو آیا	پیدا کړه تاسی	هغه چی	وعده کړی وه	رب ستاسی

چی وعده کړی وه رب له موږ سره زموږ په حقه (ربنتیا) سره نو آیا پیدا کړه تاسی (هم) هغه چی وعده کړی وه رب ستاسی

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدٰىنَا. دجنتیانو دزړونو به دیوبل څخه خړوالی ایسته سوي وي: په دغه ایت کي الله جَلَّ جَلَالُهُ دجنتیانو دوه خالص حالتونه بیان کړي دي یو دا چي (ونزعنا ما في صدورهم من غلّ تجری من تحتهم الانهار) یعني دجنتیانو په زړونو کي که یو دبل سره څه رنځ او خړوالي وي نو موږ به هغه ټول ددوی دزړونو څخه وباسو داخلگ به دیو بل سره بالکل خوشحاله او ورونه وړونه سي جنت ته به راځي او هلته به اوسي په صحیح بخاري کي دي چي مومنان کله پر پل صراط تیر سي دجهنم څخه نجات حاصل کي نو دوی به دجنت اوددوږخ په مینځ کي پریو پُل سربیره ودروي او ددوی په مینځ کي که دچادچا سره څه خفگان وي یا دچا پرچا څه حق وي نو دلته چي ورسیږي نو دیو بل څخه به بدل واخلي او معاملې به صفا سي او دغه ډول دحسد، بغض، کینې او نورو څخه به صفا سي او جنت ته به داخلیږي او هلته به دخوشحالی ژوند تیروي دآبدالابد دپاره نه به مرگ وي نه به درد او نه به غم او تکلیف.
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۴۸)

الثلثة

حَقًّا ۚ قَالُوْا نَعَمْ ۚ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ

حَقًّا	قَالُوْا	نَعَمْ	فَاَذَّنَ	مُؤَذِّنٌ	بَيْنَهُمْ
په حقه سره	وبه وائي دوزخيان	چې هو !	نو ږغ به وکړي	يو ږغ کوونکی	په مينځ د دغو کښې

په حقه سره، (نو) وبه وائي دوزخيان چې هو! نو ږغ به وکړي يو ږغ کوونکی (اسرافيل) په مينځ د دغو کښې،

اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

اَنْ	لَّعْنَةُ	اللّٰهِ	عَلَى	الظّٰلِمِيْنَ	الَّذِيْنَ	يَصُدُّوْنَ	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ
داسې چې	وی دی لعنت	دالله	پر	ظالمانو باندی	هغه ظالمان	چې اړوی دوی (خلگ)	له	لارې	دالله

داسې چې وی دی لعنت د الله پر ظالمانو (کافرانو) باندی هغه ظالمان چې آړوی دوی (خلگ) له لارې د الله

وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۵﴾

وَيَبْغُوْنَهَا	عِوَجًا	وَهُمْ	بِالْاٰخِرَةِ	كٰفِرُوْنَ
او لټوی دوی په دغې کښې	کوږوالی	او هم دوی	په آخرت باندی	کافران و

او لټوی دوی په دغې (لارې) کښې کوږوالی (عيب) او هم دوی په (راتلو د) آخرت باندی کافران (منکران) و.

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ

وَبَيْنَهُمَا	حِجَابٌ	وَعَلَى	الْاَعْرَافِ	رِجَالٌ	يَّعْرِفُوْنَ
او په مينځ کښې د دغو دواړو	پردده	او پر	اعراف باندی	به سړی وی	چې پيژنی دوی

او په مينځ کښې د دغو دواړو (جنت او دوزخ يو ديوال) پردده، او پر اعراف باندی به سړی وی چې پيژنی دوی

كُلًّاۢ بِسِيْمٰهُمْ ۚ وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ

كُلًّا	بِسِيْمٰهُمْ	وَنَادَوْا	اَصْحٰبَ	الْجَنَّةِ	اَنْ	سَلٰمٌ
هر يو	په علامو د دوی سره	او غږ به وکړی	دغه صاحبانو ته	د جنت	داسې چې	سلام دی وی

هر يو (جنتی او دوزخی) په علامو د دوی سره او غږ به وکړی دغه (اعرافيان) صاحبانو د جنت ته داسې چې سلام دی وی

عَلَيْكُمْ ۟ لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِذَا

عَلَيْكُمْ	لَمْ يَدْخُلُوْهَا	وَهُمْ	يَطْمَعُوْنَ	وَاِذَا
پر تاسې باندی	حال دا چې داخل سوی به نه وی دغه جنت ته	او دوی به	طمع لری	او کله چې

پر تاسې باندی، حال دا چې داخل سوی به نه وی دغه (اعرافيان) جنت ته او دوی به طمع (اميد د جنت) لری. او کله چې

فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ. کله چې جنتيان جنت ته او دوږخيان دوږخ ته خپلو خپلو ځايونو ته ورسيږي: او ښکاره خبره ده چې په دې دواړو ځايونو کې به ډير لوی ليري والی حايل وي ليکن ددې باوجود دقرءان مجيد ډيرایاتونه پر دې شاهد دي چې ددې دواړو مقامونو په مينځ کې به څه داسې لاري وي په کمو سره چې يواو بل ليدل کيږي او په مينځ کي به يي خبري او سوال او جواب وي: په سورت صافات کي ددوو سړيانو ذکر په تفصيل سره راغلی دی کم چې په دنيا کي ديواو بل ملگري وه ليکن يو مومن اوبل کافر وو په آخرت کي چي کله مومنان جنت ته او کافران دوږخ ته داخل سي نو دوی به يواو بل ووينې او خبري به وکي ارشاد دی (فاطلع فرآه فی سوآء الجحيم الخ.) ددې مضمون خلاصه داده چې جنتي ملگری به وگوري دوږخي ملگری به ددوږخ په مينځ کي پيدا کړي نوورته وبه وايي چې کم بخته تا دا غوښتله چې زه هم ستا په ډول برباد سم او که دالله ﷻ فضل نه وای نن به زه هم ستا سره په دوږخ کي وای الخ.
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۵۳)

صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِۙ قَالُوْا رَبَّنَا

صُرِفَتْ	اَبْصَارُهُمْ	تِلْقَآءَ	اَصْحٰبِ	النَّارِ	قَالُوْا	رَبَّنَا
وګرځولی سی	سترګی د دغو	په لوری	د صاحبانو	د اور	نو وبه وائی دغه (اعرافیان)	ای ربه زموږ

وګرځولی سی سترګی د دغو په لوری د صاحبانو د اور نو وبه وائی دغه (اعرافیان) ای ربه زموږ

لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ

لَا تَجْعَلْنَا	مَعَ	الْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ	وَنَادٰۤى	اَصْحٰبُ
مه ګرځوه موږ	سره له	قومه	ظالمانو	او غږ به وکړی	صاحبان

مه ګرځوه (مه یو ځای کوه) موږ سره له قومه ظالمانو (کافرانو). او غږ به وکړی صاحبان

الْاَعْرَافِ رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا

الْاَعْرَافِ	رِجَالًا	يَّعْرِفُوْنَهُمْ	بِسِيْمٰهُمْ	قَالُوْا
د اعراف	هغو سړیو ته	چی پیژنی به دا هغو ی	په علامو د هغو سره	وبه وائی دا (اعرافیان)

د اعراف هغو سړیو ته (له دوزخیانو) چی پیژنی به دا (اعرافیان) هغو ی په علامو د هغو سره وبه وائی دا (اعرافیان)

مَاۤ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٨﴾

مَاۤ اَغْنٰى	عَنْكُمْ	جَمْعُكُمْ	وَمَا كُنْتُمْ	تَسْتَكْبِرُوْنَ
هیڅ دفع ونه کړه	له تاسی	ډیروالی ستاسی	او نه هغه چی وئ تاسی	لوئی به مو کوله

هیڅ دفع ونه کړه له تاسی ډیر والی (د مالیا د رجالو) ستاسی او نه هغه چی وئ تاسی لوئی به مو کوله.

اَهٰۤؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؕ

اَهٰۤؤُلَآءِ	الَّذِيْنَ	اَقْسَمْتُمْ	لَا يَنَالُهُمُ	اللّٰهُ	بِرَحْمَةٍ
آیا دغه (په جنت کښی)	هغه دی	چی قسمونه به خوړل تاسی	چی وبه نه رسوی دوی ته	الله	رحمت خپل

(وبه وائی اعرافیان) آیا دغه (په جنت کښی) هغه دی چی قسمونه به خوړل تاسی چی وبه نه رسوی دوی ته الله رحمت خپل

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَاۤ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿٤٩﴾

اُدْخُلُوا	الْجَنَّةَ	لَا خَوْفٌ	عَلَيْكُمْ	وَلَاۤ اَنْتُمْ	تَحْزَنُوْنَ
چی ننوځئ	جنت ته	چی نه به وی هیڅ ویره	پر تاسی باندی	او نه به تاسی	غمجن کیږئ

(الله هغو ته فرمایلی دی) چی ننوځئ جنت ته چی نه به وی هیڅ ویره پر تاسی باندی او نه به تاسی غمجن کیږئ.

وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا.. اعرافیان کم خلک دي ؟: په دغه آیت کي دا ښوول سویده چي څه خلګ به داسي هم وي چي دجهنم څخه خو به نجات پیدا کي مګر لا به جنت ته داخل سوي نه وي البتّه ددې امیدوار به وي چي دوی به هم جنت ته داخلیږي دې خلګو ته اعراف والا وایي :اعراف څه شی دی ؟: ددې تشریح دسورت حدید دآیت څخه کیږي دکم څخه چي معلومیږي چي په محشر کي به دخلګو دری ډلي وي یوه به ښکاره مشرکین او کافران وي دوی ته خو به ګرد سره پر پل صراط باندي دتیریدو نوبت ورنه کړل سي داول سرڅخه به دجهنم ودروازو ته ورپوري وهل سي :دوهمه ډله به دمومنانو وي ددوی سره به دایمان دړنا نور وي اودریمه ډله به دمنافقینو وي دوی به چي کله په دنیا کي دمومنانو سره وه نو هلته به هم په اول کي دمومنانو سره وي او پر پل صراط به تلل شروع کړي دغه وخت به یوه سخته تیاره پرتولو راسي مومنان به دخپل ایمان په نور سره مخ ته ځي او منافقین به چغي وهي مسلمانانو ته چي لږ ودریږی موږ ته یو څه رڼا راکی الخ ......
معرف القرآن ج٣ پ٨ ص١٥٤

ع ٥ ٨ ١٢

وَنَادٰٓى اَصۡحٰبُ النَّارِ اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ اَنۡ اَفِيۡضُوۡا

وَنَادٰٓى	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	اَصۡحٰبَ	الۡجَنَّةِ	اَنۡ	اَفِيۡضُوۡا
او غږبه وکړی	صاحبان	داور	صاحبانو	دجنت ته	داسی چی	راتوی کړئ تاسی

او غږبه وکړی صاحبان د اور صاحبانو د جنت ته داسی چی راتوی کړئ تاسی

عَلَيۡنَا مِنَ الۡمَآءِ اَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ قَالُوۡۤا اِنَّ اللّٰهَ

عَلَيۡنَا	مِنَ	الۡمَآءِ	اَوۡ مِمَّا	رَزَقَكُمُ	اللّٰهُ	قَالُوۡۤا	اِنَّ	اللّٰهَ
پرموږباندی	له	اوبو څخه	یا له هغو شیونو	چی روزی کړی دی تاسی ته	الله	وبه وایی جنتیان	چی بیشکه!	الله

پرموږباندی. له اوبو څخه یا (راواچوئ) له هغو شیونو چی روزی کړی دی تاسی ته الله، وبه وایی جنتیان چی بیشکه! الله

حَرَّمَهُمَا عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ ۝٥٠ الَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا دِيۡنَهُمۡ

حَرَّمَهُمَا	عَلَى	الۡكٰفِرِيۡنَ	الَّذِيۡنَ	اتَّخَذُوۡا	دِيۡنَهُمۡ
حرام کړی دی دا دواړه	پر	کافرانو	هغه کافران	چی نیولی دی دوی	دین خپل

حرام کړی دی دا دواړه (اکل او شرب) پر کافرانو. هغه کافران چی نیولی دی دوی دین خپل

لَهۡوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتۡهُمُ الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا ۚ فَالۡيَوۡمَ

لَهۡوًا	وَّلَعِبًا	وَّغَرَّتۡهُمُ	الۡحَيٰوةُ	الدُّنۡيَا	فَالۡيَوۡمَ
تماشا	او لوبی	او غولولی وو دوی	ژوندانه	لږخسیس	نو نن ورځ

تماشا او لوبی او غولولی وو دوی ژوندانه لږخسیس، نو نن ورځ

نَنۡسٰىهُمۡ كَمَا نَسُوۡا لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هٰذَا ۙ وَمَا كَانُوۡا بِاٰيٰتِنَا

نَنۡسٰىهُمۡ	كَمَا	نَسُوۡا	لِقَآءَ	يَوۡمِهِمۡ	هٰذَا	وَمَا كَانُوۡا	بِاٰيٰتِنَا
به هیروو موږدوی	لکه چی	هیر کړی وو دوی	ملاقات	د ورځی خپل	چی دغه ده	او وو دوی	چی په آیتونو زموږ

به هیروو (پریږدو) موږ دوی لکه چی هیر کړی وو دوی ملاقات د ورځی خپل چی دغه ده او وو دوی چی په آیتونو زموږ

يَجۡحَدُوۡنَ ۝٥١ وَلَقَدۡ جِئۡنٰهُمۡ بِكِتٰبٍ فَصَّلۡنٰهُ

يَجۡحَدُوۡنَ	وَلَقَدۡ	جِئۡنٰهُمۡ	بِكِتٰبٍ	فَصَّلۡنٰهُ
به ئی انکار کاوه	او خامخا په تحقیق	راوړی دی موږ دغو ته	کتاب	چی واضح بیان کړی دی موږ (معانی د) ده

به ئی انکار کاوه. او خامخا په تحقیق راوړی دی موږ دغو (کفارو) ته کتاب چی واضح بیان کړی دی موږ (معانی د) ده

وَنَادٰٓى اَصۡحٰبُ النَّارِ اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ لنډ تفسير: او لکه څنګه چي لوړ جنتيانو ددوږخيانو سره خبري وکړي دغه شان دوږخيان به جنتيانو ته اواز وکي چي موږ دلته دلوږي او تندي څخه بې دمه کيږو دخداى دپاره پر موږ يوڅه اوبه راتوى كى شايد چي څه لږ په ارام سو يانورڅه راكى كم چي الله ﷻ تاسي ته دركړيدي ددې څخه دانه لازميږي چي دوى به اميد كوى نو غواړي به يي ځکه چي په ډيره پريشانى كي دتوقع څخه ليري خبري هم دځلي څخه ووزي جنتيان به په جواب كي ووايي چي الله ﷻ دا دواړه شيان يعني دجنت خوراك اوچيښاك پركافرانو بند كړى دى چاچي په دنيا كي خپل دين دكم قبلول چي ددوى پر ذمه واجب وه لهو او لعب جوړ كړى وو او ځوك چي ددنيا ژوند په دوكه اوغفلت كي اچولي وه په دې وجه ددين يي ګر سره څه پرواه ونه كړه او دا خو دادرالجزاء ده كله چي دين نسته نو فايده يي دكمي خوا ؟ او مخ ته بيا الله ﷻ دجنتيانو او دهغو دجواب په رښتينوالي اوتاييدكي فرمايي الخ.
(معارف القرآن ج٣ پ٨ ص١٥٨)

عَلٰى عِلۡمٍ هُدًى وَّرَحۡمَةً لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۲﴾ هَلۡ

عَلٰى عِلۡمٍ	هُدًى	وَّرَحۡمَةً	لِّقَوۡمٍ	يُّؤۡمِنُوۡنَ	هَلۡ
په خپل علم سره	حال دا چي دغه کتاب هدایت	او رحمت دی	لپاره د قوم	چي ایمان لری	آیا

حال دا چي عالمان وو موږ، حال دا چي دغه کتاب هدایت او رحمت دی لپاره د قوم چي ایمان (پر) لری. آیا

يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّا تَاۡوِيۡلَهٗ ؕ يَوۡمَ يَاۡتِىۡ تَاۡوِيۡلُهٗ يَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ

يَنۡظُرُوۡنَ	اِلَّا	تَاۡوِيۡلَهٗ	يَوۡمَ	يَاۡتِىۡ	تَاۡوِيۡلُهٗ	يَقُوۡلُ	الَّذِيۡنَ
انتظار کوی دوی	مګر	عاقبت دهغه	په هغی ورځی کښی	چی راسی	عاقبت د ده	وائی	هغه کسان

انتظار کوی دوی مګر عاقبت دهغه په هغی ورځی کښی چی راسی عاقبت د ده (په قیامت کی)، وائی هغه کسان

نَسُوۡهُ مِنۡ قَبۡلُ قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِالۡحَقِّ ۚ فَهَلۡ

نَسُوۡهُ	مِنۡ قَبۡلُ	قَدۡ	جَآءَتۡ	رُسُلُ	رَبِّنَا	بِالۡحَقِّ	فَهَلۡ
چی هیر کړی وو دوی دغه کتاب	پخوا له دی څخه	په تحقیق	راغلی وو	رسولان	د رب زموږ	په حقه سره	نو آیا

چی هیر کړی وو دوی دغه کتاب پخوا له دی څخه په تحقیق راغلی وو رسولان د رب زموږ په حقه سره نو آیا

لَّنَا مِنۡ شُفَعَآءَ فَيَشۡفَعُوۡا لَنَاۤ اَوۡ نُرَدُّ فَنَعۡمَلَ

لَّنَا	مِنۡ	شُفَعَآءَ	فَيَشۡفَعُوۡا	لَنَاۤ	اَوۡ نُرَدُّ	فَنَعۡمَلَ
سته موږ لره	له	شفاعت کوونکو	چی شفاعت وکړی دوی	له پاره زموږ	یا بیرته بوتله سو	نو عمل به وکړو

سته موږ لره (اوس) له شفاعت کوونکو چی شفاعت وکړی دوی له پاره زموږ یا بیرته بوتله سو (دنیا ته) نو (بیا) عمل به وکړو

غَيۡرَ الَّذِىۡ كُنَّا نَعۡمَلُ ؕ قَدۡ خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ

غَيۡرَ الَّذِىۡ	كُنَّا	نَعۡمَلُ	قَدۡ	خَسِرُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ
غیر له هغه عمل	چی وو موږ	چی کاوه به مو	په تحقیق	زیان رسولی دی دوی	ځانونو خپلو ته په کفر

غیر له هغه (بد) عمل چی وو موږ چی کاوه به مو، (وبه فرمائی الله) په تحقیق زیان رسولی دی دوی ځانونو خپلو ته په کفر

وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۵۳﴾ ع اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىۡ

وَضَلَّ	عَنۡهُمۡ	مَّا كَانُوۡا	يَفۡتَرُوۡنَ	اِنَّ	رَبَّكُمُ	اللّٰهُ	الَّذِىۡ
او ورک سو	له دوی څخه	هغه چی وو دوی	چی دروغ بی ئی ویلی	بیشکه!	چی رب ستاسی	الله دی	هغه (الله)

او ورک سو له دوی څخه هغه چی وو دوی چی دروغ بی ئی ویلی. بیشکه! چی رب ستاسی الله دی هغه (الله)

اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىۡ خَلَقَ
داسمان او مځکي په
پیدایش کي شپږورځي
موده ځنګه تیره سوه ؟
دلته دایو سوال پیدا
کیږي چي الله ﷻ خو پر
دې قادر دی چي دا ټول
جهان په یو ساعت کي
پیدا کي په خپله قرآن کریم
دمختلفو عنواناتو څخه دا
خبره وار وار تکراریږي
یوځای ارشاد دی
(وماامرنا الا واحدة کلمح
البصر) یعني دستر ګو د
رپ په مقدار کي زموږ
حکم نافذ کیدای سي :
کله فرمایي (اذا اراد شیئا
ان یقول له کن فیکون)
یعني کله چي الله ﷻ دیو
شي پیدا کول وغواړي نو
فرمایي چي پیدا سه نو
هغه پیدا سي بیا دعالم
دپیدا کولو دپاره
دشپږورځودلګولو څه وجه
ده ؟ حضرت سعید بن
جبیر رضی الله عنه ددې جواب
داسي ور کړی دی چي
دالله ﷻ قدرت خو بیشکه
پر دې باندي حاوي دی
چي دا هر څه په یوه ساعت
کي پیدا کي لیکن په
تقاضا دحکمت ددې عالم
په پیدایش کي یې
شپږورځي ولګولې ددې
دپاره چي انسان ته دعالم
دنظام په چلولو کي
دتدریج یعني درجه پر
درجه کولو او پخته کاری
تعلیم ورکول سي.
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص ۱۶۰)

ع۱۴

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی

خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	فِیْ سِتَّةِ	اَیَّامٍ	ثُمَّ	اسْتَوٰی
چي پیدا کړی ئی دی	آسمانونه	او مځکه	په شپږو	ورځو کښی	بیا ئی	استواء وکړه

چي پیدا کړی ئی دی آسمانونه او مځکه په (مقدار د) شپږو ورځو کښی بیا ئی استواء وکړه

عَلَی الْعَرْشِ یُغْشِی الَّیْلَ النَّهَارَ یَطْلُبُهٗ حَثِیْثًا

عَلَی	الْعَرْشِ	یُغْشِی	الَّیْلَ	النَّهَارَ	یَطْلُبُهٗ	حَثِیْثًا
پر	عرش	پټوی	شپې	په ورځې	چي طلب کوی هره یوه بل لره	په تلوار سره

پر عرش پټوی (تیاره د) شپې په (رڼا د) ورځې چي طلب کوی هره یوه بل لره په تلوار سره

وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ؕ اَلَا لَهُ

وَّالشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	وَالنُّجُوْمَ	مُسَخَّرٰتٍ	بِاَمْرِهٖ	اَلَا	لَهُ
او لمر	او سپوږمی	او ستوری	حال دا چي مسخر کړی سوی دی	امر د الله ته	خبر دار سئ	چي (خاص) الله لره دی

او لمر او سپوږمی او ستوری حال دا چي مسخر (منقاد) کړی سوی دی امر د الله ته، خبردار سئ چي (خاص) الله لره دی

الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ؕ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۵۴﴾ اُدْعُوْا

الْخَلْقُ	وَالْاَمْرُ	تَبٰرَكَ	اللّٰهُ	رَبُّ	الْعٰلَمِیْنَ	اُدْعُوْا
پیدا کول	او امر	لوی برکت والا دی	الله	چي رب	دټولو مخلوقاتو دی	بولئ تاسی

پیدا کول او امر (حکم فرمایل) لوی برکت والا دی الله چي رب (پالونکی) د ټولو عالمیانو دی. بولئ تاسی

رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْیَةً ؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۵۵﴾

رَبَّكُمْ	تَضَرُّعًا	وَّخُفْیَةً	اِنَّهٗ	لَا یُحِبُّ	الْمُعْتَدِیْنَ
رب خپل	په زاری عذر	او په پټه سره	بیشکه! چي الله	نه خوښوی	تیریدونکی

رب خپل (هر وخت) په زاری عذر او په پټه سره، بیشکه! چي الله نه خوښوی تیریدونکی (له شرعی حدودو).

وَلَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ

وَلَا تُفْسِدُوْا	فِی	الْاَرْضِ	بَعْدَ	اِصْلَاحِهَا	وَادْعُوْهُ
او مه کوئ فساد	په	مځکه کښی	وروسته	له اصلاح د دی	او بولئ تاسی الله

او مه کوئ فساد (ای انسانانو!) په مځکه کښی وروسته له اصلاح د دی (د انبیاؤ په بعثت سره) او بولئ تاسی الله

فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ..دمځکي او اسمان او ستورو دپیدایش څخه دمخه ورځ او شپه څنګه پیژندل کیږي ؟ دلته یو سوال دا پیدا کیږي چي دشپې او ورځي وجود خو دلمر دحرکت څخه پیژندل کیږي دا سمان او مځکي دپیدایش څخه مخکي چي کله لمر او سپوږمی نه وه نو دشپږو ورځو شمیر په کم حساب سره وسو ؟ جواب ۱: ځیني تفسیر لیکونکي حضرات فرمایي چي مراد دشپږو ورځو څخه دومره وخت او زمانه ده په کمه کي چي شپږورځي اوشپې په دې دنیا کي وي دایو جواب سو.جواب ۲: لیکن صفااوبي غباره خبره داده چي دورځي او دشپې دااصطلاح چي دلمر دختو څخه تر پریوتو پوري د لمر به ورځ وي او دپریوتو څخه تر ختو پوري به شپه وي داخو ددې دنیا اصطلاح ده دعالم دپیدایش څخه مخکي کیدای سي چي الله ﷻ دشپې او دورځي نوري نښانې مقرري کړي وي لکه چي په جنت کي چي به وي چي هلته به شپه او ورځ دلمر تابع نه وي نو ضروري نه ده چي خامخا به شپه او ورځ دلمر تابع وي بلـه طریقه دي نه وي دالله ﷻ سره الـخ: (معرف القرآن ج ۳ پ۸ص۱۶۱)

خَوۡفًا وَّطَمَعًا ؕ اِنَّ رَحۡمَتَ اللّٰهِ قَرِيۡبٌ مِّنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿٥٦﴾

خَوۡفًا	وَّطَمَعًا	اِنَّ	رَحۡمَتَ	اللّٰهِ	قَرِيۡبٌ	مِّنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ
په خوف سره	او په طمع	بيشكه! چي	رحمت (مهرباني)	دالله	ډيره نژدې ده	محسنانو ته

په خوف (بيرې) سره (له عذابه د الله) او په طمع (اميد) بيشكه! چي رحمت (مهرباني) دالله ډيره نژدې ده محسنانو ته

وَهُوَ الَّذِيۡ يُرۡسِلُ الرِّيٰحَ بُشۡرًاۢ بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ

وَهُوَ	الَّذِيۡ	يُرۡسِلُ	الرِّيٰحَ	بُشۡرًا	بَيۡنَ يَدَيۡ	رَحۡمَتِهٖ
او هم دغه (الله)	هغه ذات دى	چي راليږى	بادونه	زيرى كوونكى	په مخ كښى د	رحمت د ده

او هم دغه (الله) هغه ذات دى چي راليږى بادونه زيرى كوونكى په مخ كښى د رحمت د ده (چي باران دى)

حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتۡ سَحَابًا ثِقَالًا سُقۡنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ

حَتّٰۤى	اِذَاۤ	اَقَلَّتۡ	سَحَابًا	ثِقَالًا	سُقۡنٰهُ	لِبَلَدٍ	مَّيِّتٍ
ترهغه پورى	چي	را واخلي	وريځې	درنې	چي روانوو موږ دغه	هغه ځكى ته چي	مړه وى

ترهغه پورى چي را واخلي وريځې درنې (په اوبو سره) چي روانوو موږ دغه هغه ځكى ته چي مړه (وچه بې گيا) وى

فَاَنۡزَلۡنَا بِهِ الۡمَآءَ فَاَخۡرَجۡنَا بِهٖ مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ

فَاَنۡزَلۡنَا	بِهِ	الۡمَآءَ	فَاَخۡرَجۡنَا	بِهٖ	مِنۡ	كُلِّ	الثَّمَرٰتِ
پس نازلوو موږ	له دى وريځو څخه	اوبه	نو راباسو موږ	په هغو اوبو	له	هرقسم	ميوو څخه

پس نازلوو موږ له دى وريځو څخه اوبه نو راباسو موږ په هغو اوبو له هرقسم ميوو څخه

كَذٰلِكَ نُخۡرِجُ الۡمَوۡتٰى لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُوۡنَ ﴿٥٧﴾ وَالۡبَلَدُ

كَذٰلِكَ	نُخۡرِجُ	الۡمَوۡتٰى	لَعَلَّكُمۡ	تَذَكَّرُوۡنَ	وَالۡبَلَدُ
هم داسى	راباسو موږ	مړى	دپاره د دى	چي پند واخلئ	او ځكه

هم داسى راباسو موږ مړى (له ځكى) دپاره د دى چي پند واخلئ . او ځكه

الطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذۡنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِيۡ خَبُثَ

الطَّيِّبُ	يَخۡرُجُ	نَبَاتُهٗ	بِاِذۡنِ	رَبِّهٖ	وَالَّذِيۡ	خَبُثَ
پاكه	راوځي	زرغونه واښه د دى	په اذن	د رب د ده	او هغه ځكه چي	خرابه بنوره ناكه وى

پاكه راوځي زرغونه د دى (ښه كامله) په اذن (حكم) د رب د ده، او هغه ځكه چي خرابه بنوره ناكه وى

اِنَّ رَحۡمَتَ اللّٰهِ قَرِيۡبٌ مِّنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ . دالله ﷻ رحمت بهاني لتوي: يعني دالله ﷻ رحمت نژدې دى نيكوكارانو ته په دي كي اشاره دي خبري ته ده چي كه څه هم په وخت كي ددعاء دبيري او اميدواره حالتونه پكار دي ليكن په دي دوارو حالتونو كي داميد جانب راجح دى ځكه چي درب العلمين او رحيم الرحمن په سخا او احسان كي نه څه كمى شته او نه بخل هغه تر بدو لا دبد انسان بلكي د شيطان هم دعا قبلوي البتّه كه دنه قبليدو څه بيره وي نو هغه دخپلو بدو عملونو او گناهونو نحوست كيداى سي ځكه چي دالله ﷻ درحمت دنژدې كيدو دپاره محسن يعني نيك عمله كيدل پكار دي په دي وجه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي ځيني خلگ اوږده اوږده سفرونه كوي او خپل هيئت فقيرانه جوړوي او دالله ﷻ په مخكي ددعاء دپاره لاسونه اوږدوي چي خواست مي قبول كړي مگر دده خوراك هم حرام دي چيښل يي هم حرام دي او لباس يي هم حرام وي نو دداسي سړي دعاء څنگه قبليداى سي؟! رواه مسلم والترمذي عن ابي هريرة رضي الله عنه. (معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۷۴)

لَا يَخْرُجُ اِلَّا نَكِدًا ؕ كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

لَا يَخْرُجُ	اِلَّا	نَكِدًا	كَذٰلِكَ	نُصَرِّفُ	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ
نه راوځی	مګر	لړناقصه	په شان د دی	بیا ، بیا بیانوو	آیتونه	دپاره د قوم

نه راوځی (زرغونه ئی) مګر لړناقصه ، په شان د دی بیا ، بیا بیانوو آیتونه د پاره د قوم (مؤمنانو)

يَّشْكُرُوْنَ ﴿۵۸﴾ لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ

ع ۷ / ۱۴

يَّشْكُرُوْنَ	لَقَدْ	اَرْسَلْنَا	نُوْحًا	اِلٰى	قَوْمِهٖ	فَقَالَ
چی شکر باسی	قسم دی په تحقیق	لیږلی ؤ موږ	نوح	په لوری	دقوم د ده	نو وویل (نوح)

چی شکر باسی. قسم دی په تحقیق لیږلی ؤ موږ نوح په لوری د قوم د ده نو وویل (نوح)

يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ

يٰقَوْمِ	اعْبُدُوا	اللّٰهَ	مَا لَكُمْ	مِّنْ	اِلٰهٍ	غَيْرُهٗ	اِنِّيْٓ	اَخَافُ
ای قومه زما	عبادت کوئ تاسی	د الله	نسته تاسی ته	هیڅ	معبود	بی له دغه (الله)	بیشکه! زه	بیریږم

ای قومه زما عبادت کوئ تاسی د الله نسته تاسی ته هیڅ معبود بی له دغه (الله)، بیشکه! زه بیریږم

عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۵۹﴾ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖٓ

عَلَيْكُمْ	عَذَابَ	يَوْمٍ	عَظِيْمٍ	قَالَ	الْمَلَاُ	مِنْ	قَوْمِهٖٓ
په تاسی باندی	له عذابه	ورځی	لویی	نو وویل	مشرانو	له	قومه د نوح

په تاسی باندی له عذاب د ورځی لویی (طوفان یا د قیامت) . نو وویل مشرانو له قومه د نوح

اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۶۰﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ

اِنَّا	لَنَرٰىكَ	فِيْ	ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ	قَالَ	يٰقَوْمِ	لَيْسَ	بِيْ
بیشکه! موږ	وینو تا	په	ګمراهی	ښکاره کښی	وویل	ای قومه زما	نسته	په ما کښی

بیشکه! موږ وینو تا په ګمراهی ښکاره کښی. وویل (نوح) ای قومه زما نسته په ما کښی

ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۱﴾ اُبَلِّغُكُمْ

ضَلٰلَةٌ	وَّلٰكِنِّيْ	رَسُوْلٌ	مِّنْ	رَّبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	اُبَلِّغُكُمْ
(له سره) هیڅ ګمراهی	ولیکن زه یم	رسول	له جانبه	د رب	دټولو عالمیانو	رسوم تاسی ته

(له سره) هیڅ ګمراهی ولیکن زه یم رسول له جانبه د رب (پالونکی) د ټولو مخلوقاتو. رسوم تاسی ته

كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ. په دغه پوره ایت کي الله ﷻ فرمايي: چي که څه هم د رحمت د باران فيض پر هر ښار ، هره مځکه يوډول دی ليکن د نتيجو او فايدو په اعتبار سره د مځکي دوه قسمونه دي يوه عمده او ښه مځکه چي په هغه کي د نشو او نما ء صلاحيت وي په دې کي خو هر قسم ګلونه او ميوې پيدا کيږي او فايده ورڅخه حاصليږي : دوهمه هغه سخته اوخرابه مځکه ده چي په هغه کي اول خو څه پيدا کيږي نه بيا چي په کښي پيدا هم سي نو هغه ډير په کم مقدار کي وي او څومره چي پيدا کيږي هغه هم بيکاره اوخراب وي.الله ارشاد فرمايي(کذلک نصرّف الايت لقوم يشكرون) يعني موږ خپل د قدرت دليلونه په ډول ډول سره بيانوو دهغو خلګو دپاره کم چي قدر کوونکي دي په دې کي اشاره ده چي که څه هم د رحمت د باران دعام فيض په ډول دالله ﷻ دهدايت اودښکاره آيتونو فيض هم دټولو انسانانو دپاره عام دی مګر لکه څنګه چي هره مځکه دباران څخه فايده نه سي اخيستی دغه ډول هر انسان دالله ﷻ دهدايت څخه نفع نه سي حاصلولی بلکي نفع يوازي هغه خلګ حاصلولی سي کم چي قدر شناس او شکر ګذار وي:
(معارف القرآن ج۳پ۸ص ۱۸۰)

رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا

رِسٰلٰتِ	رَبِّيْ	وَاَنْصَحُ	لَكُمْ	وَاَعْلَمُ	مِنَ	اللّٰهِ	مَا
پیغامونه	درب خپل	او پند درکوم	تاسی ته	او پوهیږم	له (جانبه د)	الله (په وحی سره)	په هغه چي

پیغامونه د رب خپل او پند درکوم تاسی ته او پوهیږم له (جانبه د) الله (په وحی سره) په هغه چي

لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

لَا تَعْلَمُوْنَ	اَوَعَجِبْتُمْ	اَنْ	جَآءَكُمْ	ذِكْرٌ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ
پری نه پوهیږئ تاسی	آیا تعجب کوئ تاسی	له دی چي	راغلی دی تاسی ته	ذکر	له لوری	درب ستاسی

پری نه پوهیږئ تاسی. آیا تعجب کوئ تاسی له دی چي راغلی دی تاسی ته ذکر (پند) له لوری د رب ستاسی

عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا

عَلٰى	رَجُلٍ	مِّنْكُمْ	لِيُنْذِرَكُمْ	وَلِتَتَّقُوْا
پر	یو سړی	له ستاسی	دپاره د دی چي وبیروی دی تاسی	او دپاره د دی چي پرهیزګاران سئ

پر (ژبی د) یو سړی له (جنسه د) ستاسی دپاره د دی چي وبیروی دی تاسی او دپاره د دی چي پرهیزګاران سئ تاسی

وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ

وَلَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ	فَكَذَّبُوْهُ	فَاَنْجَيْنٰهُ
او دپاره د دی چي پر تاسی باندی	رحم وکړی سی	پس نسبت د دروغو وکړ (کفارو نوح) ته	نو نجات مو ورکړ دغه (نوح)

او دپاره د دی چي پر تاسی باندی رحم وکړی سی. پس نسبت د دروغو وکړ (کفارو نوح) ته نو نجات مو ورکړ دغه (نوح)

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

وَالَّذِيْنَ	مَعَهٗ	فِي	الْفُلْكِ	وَاَغْرَقْنَا	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا
او هغو کسانو ته	چی له ده سره وو	په	بیړی کښتی	او غرق مو کړل	هغه کسان چي	نسبت د دروغو ئی کړی ؤ

او هغو کسانو ته چي له ده سره (ملګری) وو په بیړی کښتی او غرق مو کړل هغه کسان چي نسبت د دروغو ئی کړی ؤ

بِاٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا

بِاٰيٰتِنَا	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	قَوْمًا	عَمِيْنَ	وَاِلٰى عَادٍ	اَخَاهُمْ	هُوْدًا
آیتونو زموږ ته	بیشکه! دوی	وو	یو قوم	ړانده	او عاد ته	ورور د دوی	هود

آیتونو زموږ ته، بیشکه! دوی وو یو قوم ړانده. او (لیږلی ؤ موږ قوم د) عاد ته (قومی) ورور د دوی هود

ع ٨
١٥

اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ **تفسیر**: یعني آیا تاسي پر دې خبره باندي تعجب کوی چي ستاسي درب پیغام ستاسي طرف ته دیو داسي سړي په معرفت راغی چي ستاسي دجنس څخه دی چي هغه تاسي وبیروي او چي تاسي وبیریږی او چي پر تاسي رحم وسي یعني دده په بیرولو سره تاسي خبر سی او مخالفت پریږدی چي ددې په نتیجه کي به پر تاسي رحمت وسي: مطلب دادی چي دا څه دتعجب خبره نه ده چي بشر رسول جوړ کړل سي اول خو الله ﷻ مختار مطلق دی چاته چي غواړي هغه ته خپل نبوت اورسالت ورکوي په دې کي چاته دچون او چراه مجال نسته ددې څخه علاوه که پر اصله معامله باندي فکر وسي نو واضحه به سي چي عامو انسانانو ته درسالت او نبوت مقصد دبشر په ذریعه پوره کیدای سي دملایکو څخه داکار نه سي پوره کیدای ځکه چي اصلي مقصد درسالت دادی چي دالله ﷻ پر کامل اطاعت او عبادت باندي خلګ قایم سي اودهغه دحکمونو د مخالفت څخه محفوظه سي اودا هلته کیږي چي ددوی دجنس یو بشر عملي نمونه جوړه سي الخ.
معارف القرآن ج ٣ پ ٨ ص ١٨٥

قَالَ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَيۡرُهٗ ؕ

قَالَ	يٰقَوۡمِ	اعۡبُدُوا	اللّٰهَ	مَا لَكُمۡ	مِّنۡ	اِلٰهٍ	غَيۡرُهٗ
وویل (هود)	ای قومه زما	عبادت کوئ تاسی	د الله	نسته تاسی ته	هیڅ	معبود	بی له الله

وویل (هود) ای قومه زما! عبادت کوئ تاسی د الله نسته تاسی ته هیڅ (حق) معبود بی له الله! نو آیا

اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ الۡمَلَاُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ قَوۡمِهٖۤ

اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ	قَالَ	الۡمَلَاُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	مِنۡ	قَوۡمِهٖۤ
نو آیا تاسی نه بیریږئ	نو وویل	مشرانو	هغو چي	کافران سوی وو	له	قومه د دغه (هود)

تاسی نه بیریږئ. نو وویل مشرانو هغو چي کافران سوی وو له قومه د دغه (هود)

اِنَّا لَنَرٰكَ فِىۡ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ﴿۶۶﴾

اِنَّا	لَنَرٰكَ	فِىۡ	سَفَاهَةٍ	وَّاِنَّا	لَنَظُنُّكَ	مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ
بیشکه! موږ	خامخا وینو تا	په	بی عقلی کښی	او بیشکه! موږ	خامخا ګمان کوو پر تا	له دروغجنانو

بیشکه! موږ خامخا وینو تا (خبن) په بی عقلی کښی او بیشکه! موږ خامخا ګمان کوو په تا له دروغجنانو .

قَالَ يٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِىۡ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّىۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ

قَالَ	يٰقَوۡمِ	لَيۡسَ	بِىۡ سَفَاهَةٌ	وَّلٰكِنِّىۡ	رَسُوۡلٌ	مِّنۡ
وویل (هود)	ای قومه زما	نسته په ما کښی	هیڅ بی عقلی	ولیکن زه یم	رسول	له جانبه

وویل (هود) ای قومه زما نسته په ما کښی (له سره) هیڅ بی عقلی ولیکن زه یم رسول له جانبه

رَّبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۶۷﴾ اُبَلِّغُكُمۡ رِسٰلٰتِ رَبِّىۡ وَاَنَا لَكُمۡ نَاصِحٌ

رَّبِّ	الۡعٰلَمِيۡنَ	اُبَلِّغُكُمۡ	رِسٰلٰتِ	رَبِّىۡ	وَاَنَا لَكُمۡ	نَاصِحٌ
درب	دټولو مخلوقاتو	در رسوم تاسی ته	پیغامونه	درب خپل	او زه تاسی ته	نصیحت کوونکی

د رب (پالونکی) د ټولو عالمیانو. در رسوم تاسی ته پیغامونه د رب خپل او زه تاسی ته نصیحت کوونکی

اَمِيۡنٌ ﴿۶۸﴾ اَوَعَجِبۡتُمۡ اَنۡ جَآءَكُمۡ ذِكۡرٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ

اَمِيۡنٌ	اَوَعَجِبۡتُمۡ	اَنۡ	جَآءَكُمۡ	ذِكۡرٌ	مِّنۡ	رَّبِّكُمۡ
ښه امانت ګریم	آیا تعجب کوئ تاسی	له دی چي	راغلی دی تاسی ته	ذکر	له (لوری د)	رب ستاسی

ښه امانت ګریم. آیا تعجب کوئ تاسی له دی چي راغلی دی تاسی ته ذکر (پند) له (لوری د) رب ستاسی

قَالَ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمۡ.. دعاد او ثمود لنډ

تاریخ: عاد په اصل کي دیوسړي نوم دی چي دحضرت نوح ﷺ څخه په پنځم نسل او دده دزوی سام په نسل کي دی بیا ددې سړي اولاد او پوره قوم په عاد سره مشهوره سو په قرآن کریم کي دعاد سره کله لفظ د (عاد اولی) او کله لفظ د (ارم ذات العماد) هم راغلی دی ددې څخه معلومیږي چي دعاد قوم ته ارم هم ویل کیږي او دعاد اولی په مقابله کي یو څوک عاد ثانیه هم دي ددې په تحقیق کي دتفسیر لیکونکو او تاریخ لیکونکو خبري مختلفي دي زیاته مشهوره داده چي دعاد دنیکه نوم ارم دی دده دیوه زوی یعني د (عوص) په اولاد کي عاد دی ده ته عاد اولی وایي او دبل زوی د (جثو) زوی بیا ثمود دی ده ته عاد ثانیه وایي ددې تحقیق خلاصه داده چي عاد او ثمود دواړه دارم ښاخونه دي یوه ښاخ ته عاد اولی وایي او بل ښاخ ته ثمود د یا عاد ثانیه وایي او لفظ دارم ثمود او عاد دواړو ته شامل دی: او څیني بیا فرمایي چي دعاد پر قوم باندي چي کله عذاب راغی څه کسان نه وه هغه وخت بل ځای وه هغه پاته سول هغو ته عاد ثانیه وایي.
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۹۰)

عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ

عَلٰى	رَجُلٍ	مِّنْكُمْ	لِيُنْذِرَكُمْ	وَاذْكُرُوْٓا	اِذْ	جَعَلَكُمْ
پر	یوه سړی	له تاسی	دپاره د دی چی وبیروی تاسی	او یاد کړئ تاسی	هغه وخت	چی ګرځولی وئ (الله) تاسی

پر (ژبه د) یوه سړی له تاسی د پاره د دی چی وبیروی دی تاسی، او یاد کړئ تاسی هغه وخت چی ګرځولی وئ (الله) تاسی

خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ

خُلَفَآءَ	مِنْۢ بَعْدِ	قَوْمِ	نُوْحٍ	وَّزَادَكُمْ	فِي	الْخَلْقِ
خلیفګان	وروسته	له قوم	دنوح	او زیات کړی ئی دی تاسی ته	په	پیدائښت کښی

خلیفګان (په ځمکه کښی) وروسته له قوم د نوح او زیات کړی ئی دی تاسی ته په پیدائښت کښی

بَصْۜطَةً فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوْٓا

بَصْۜطَةً	فَاذْكُرُوْٓا	اٰلَآءَ	اللّٰهِ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ	قَالُوْٓا
قوت، قامت اوږدوالی	نو یاد وئ تاسی	نعمتونه	دالله	ښائی چی تاسی	خلاصی پیدا کړی	وویل عادیانو

قوت، قامت اوږدوالی، نو یادوئ تاسی نعمتونه (احسانونه) د الله ښائی چی تاسی خلاصی ومومئ! وویل عادیانو

اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ

اَجِئْتَنَا	لِنَعْبُدَ	اللّٰهَ	وَحْدَهٗ	وَنَذَرَ	مَا كَانَ	يَعْبُدُ
آیا راغلی ئی ته موږ ته	د دی دپاره چی عبادت وکړو موږ	دالله	یواځی	او پریږدو هغه	چی وو	چی عبادت به کاوه

آیا راغلی ئی ته موږ ته د دی دپاره چی عبادت وکړو موږ د الله یواځی او پریږدو هغه (بتان) چی وو چی عبادت به کاوه

اٰبَآؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٧٠﴾

اٰبَآؤُنَا	فَأْتِنَا	بِمَا	تَعِدُنَآ	اِنْ	كُنْتَ	مِنَ	الصّٰدِقِيْنَ
پلرونو زموږ	نو راوړه موږ ته	هغه عذاب	چی ته (پری) بیروی موږ	که	ئی ته	له	صادقانو

پلرونو زموږ نو راوړه موږ ته هغه عذاب چی ته (پری) بیروی موږ که ئی ته له صادقانو (رښتیا ویونکو).

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ

قَالَ	قَدْ	وَقَعَ	عَلَيْكُمْ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	رِجْسٌ	وَّغَضَبٌ
وویل (هود)	په تحقیق	واقع سو	پرتاسی	له (لوری)	د رب ستاسی	عذاب	او قهر

وویل (هود) په تحقیق واقع (واجب) سو پر تاسی له (لوری) د رب ستاسی عذاب او قهر،

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ **تفسير**: دلته الله پاک جَلَّ جَلَالُهٗ هغه انعامات یادوي چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ پر دې قوم باندي كړي وه ارشاد فرمايي (واذكروا اذ جعلكم خلفاء من بعد قوم نوح وزادكم في الخلق بسطة فاذكروا آلاء الله لعلكم تفلحون) يعني داخبره درپه ياد كی چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ تاسي دنوح عليه السلام تر قوم وروسته دمځكي مالكان او تصرف كوونكي جوړ كړاست او په شكل او صورت كي يي تاسي ته غټوالی هم زيات دركی دهغه دا نعمتونه درپه ياد كی نو ستاسي دپاره به ښه سي مګر دې سركښه او بدبخته قوم يوه خبره هم ونه منله او هغه جواب يي وركی كم چي په عام طور سره ګمراه خلګ وركوي چي آيا ته داغواړې چي زموږ دپلار نيكه مذهب په موږ پاته كې او ټول ديوتاګان پريږدو موږ يوازي ديوه خدای منونكي سو دا خوبه زموږ څخه ونه سي ته چي دكم عذاب بيره موږ ته راكوي هغه عذاب راوغواړه كه ته رښتينی يي؟ هود عليه السلام په جواب كي ورته وفرمايل چي ستاسي دا حالت دی نو اوس عذاب الهي پر تاسو راتلونكی دی:
(معارف القرآن ج٣ پ٨ ص١٩٣)

أَتُجَادِلُونَنِي فِيٓ أَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم

أَتُجَادِلُونَنِي	فِيٓ	أَسْمَآءٍ	سَمَّيْتُمُوهَآ	أَنتُمْ	وَءَابَآؤُكُم
آیا جګړه کوئ تاسی له ما سره	په	هغو نومونو کښې	چې ایښې دی هغه	تاسی	او پلرونو ستاسی

آیا جګړه کوئ تاسی له ما سره په هغو نومونو کښې چې ایښې دی هغه (نومونه) تاسی او پلرونو ستاسی

مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ۚ فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّي

مَّا نَزَّلَ	ٱللَّهُ	بِهَا	مِن	سُلْطَٰنٍ	فَٱنتَظِرُوٓا۟	إِنِّي
حال دا چې نه دی رالیږلی	الله	په عبادت کولو د دوی	هیڅ	برهان علمی سند	نو انتظار کوئ تاسی	بیشکه! زه چې یم

حال دا چې نه دی رالیږلی الله، په عبادت کولو د دوی هیڅ برهان علمی سند، نو انتظار کوئ تاسی، بیشکه! زه چې یم

مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ

مَعَكُم	مِّنَ	ٱلْمُنتَظِرِينَ	فَأَنجَيْنَٰهُ	وَٱلَّذِينَ	مَعَهُۥ
له تاسی سره	له	انتظار کوونکو څخه یم	نو خلاصی ورکړ موږ دغه هود ته	او هغو کسانو ته	چې له ده سره وو

له تاسی سره له منتظرانو څخه یم. نو خلاصی ورکړ موږ دغه هود ته او هغو کسانو ته چې له ده سره وو

بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا

بِرَحْمَةٍ	مِّنَّا	وَقَطَعْنَا	دَابِرَ	ٱلَّذِينَ	كَذَّبُوا۟	بِـَٔايَٰتِنَا
په رحمت سره	له (جانبه) زموږ	او پری کړ موږ	بیخ	د هغو کسانو	چې نسبت د دروغو ئی کړی ؤ	په آیتونو زموږ

په رحمت سره له (جانبه) زموږ او پری کړ موږ بیخ د هغو کسانو چې نسبت د دروغو ئی کړی ؤ په آیتونو زموږ

وَمَا كَانُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ

وَمَا كَانُوا۟	مُؤْمِنِينَ	وَإِلَىٰ ثَمُودَ	أَخَاهُمْ
او نه وو دوی	مؤمنان	او ثمودیانو ته	ورور د دوی

او نه وو دوی مؤمنان. او (لیږلی ؤ موږ) ثمودیانو ته (قومی) ورور د دوی

ع ۹ ۱۲

صَٰلِحًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ

صَٰلِحًا	قَالَ	يَٰقَوْمِ	ٱعْبُدُوا۟	ٱللَّهَ	مَا لَكُم	مِّنْ
صالح.	وویل (صالح)	ای قومه زما!	عبادت کوئ تاسی	د الله	نشته تاسی ته	هیڅ (حق)

صالح. وویل (صالح) ای قومه زما! عبادت کوئ تاسی د الله نشته تاسی ته هیڅ (حق)

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا

تفسیر: په دې ایاتونو کې د حضرت صالح عليه السلام او د هغه د قوم ثمود د حالاتو ذکر دی چې تر دې مخکې د قوم د نوح عليه السلام او د قوم د هود عليه السلام ذکر راغلی دی: په اولني ایت کې الله جل جلاله فرمايي (والی ثمود اخاهم صلحا) تر دې مخکې د عاد د قوم په بیان کې ذکر سوي وه چې عاد او ثمود د یوه نیکه په اولاد کې د دوو سړیانو نومونه دي د دوی اولاد هم د دوی په نومونو سره یاد سو دوه قومونه جوړ سول یو قوم ته عاد او بل ته ثمود وایي: د دوی د عربو په شمال مغرب کې اوسیدل او د دوی د لوی ښار نوم حجر وو چې اوس ورته په عام طور سره (مدائن صالح) وايي د عادیانو په ډول ثمودیان هم دولتمند قوي او بهادر قوم او په سنګ تراشی او د عمارتونو په فن کې ماهران وه په ډاګه مځکه د لویو لویو محلونو د جوړولو څخه علاوه غرونه به یې کیندل او په دې کې به یې قسم قسم عمارتونه جوړول: په ارض القرآن کې لیکلي دي چې د دوی تعمیري یادګارونه تر اوسه پوري باقي پاته دي: (معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۱۹۶)

اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۚ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۭ هٰذِهٖ

اِلٰهٍ	غَيْرُهٗ	قَدْ	جَآءَتْكُمْ	بَيِّنَةٌ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	هٰذِهٖ
معبود	بی له دغه (الله)	په‌تحقيق	راغلی ده تاسی ته	ښكاره معجزه	له (لوری د)	رب ستاسی	دا

معبود بی له دغه (الله)، په‌تحقيق راغلی ده تاسی ته ښكاره معجزه له (لوری د) رب ستاسی، دا

نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ

نَاقَةُ	اللّٰهِ	لَكُمْ	اٰيَةً	فَذَرُوْهَا	تَاْكُلْ	فِيْٓ	اَرْضِ	اللّٰهِ
اوښه	دالله ده	تاسی ته	نښه	نو پريږدئ تاسی دغه	چی خوری	په	مځكه	دالله كښی

او ښه د الله ده تاسی ته نښه نو پريږدئ تاسی دغه (اوښه) چی خوری (وابښه) په مځكه د الله كښی

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾

وَلَا تَمَسُّوْهَا	بِسُوْٓءٍ	فَيَاْخُذَكُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
او مه وروړئ تاسی لاسونه دی	ته‌په‌بدی	نو وبه‌نيسی تاسی	عذاب	دردناک

او مه وروړئ تاسی لاسونه دی ته په (نيت د) بدی (يعنی ضرر مه وررسوئ) نو وبه نيسی تاسی عذاب دردناک.

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ

وَاذْكُرُوْٓا	اِذْ	جَعَلَكُمْ	خُلَفَآءَ	مِنْۢ بَعْدِ	عَادٍ
او ياد كړئ تاسی	هغه‌وخت	چی وگرځولئ (الله) تاسی	خليفگان	وروسته له	عاديانو

(وويل صالح) او ياد كړئ تاسی هغه‌وخت چی وگرځولئ (الله) تاسی خليفگان وروسته له عاديانو

وَّبَوَّاَكُمْ فِي الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا

وَّبَوَّاَكُمْ	فِي	الْاَرْضِ	تَتَّخِذُوْنَ	مِنْ	سُهُوْلِهَا
او ځای ئی دركړو تاسی ته	په	مځكه كښی	چی نيسئ تاسی	له	هوارو نرمو ځايونو د دی مځكی

او ځای ئی دركړو تاسی ته په مځكه كښی چی نيسئ تاسی له هوارو نرمو ځايونو د دی مځكی

قُصُوْرًا وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ

قُصُوْرًا	وَّتَنْحِتُوْنَ	الْجِبَالَ	بُيُوْتًا	فَاذْكُرُوْٓا	اٰلَآءَ	اللّٰهِ
اوچتی ماڼی	او تراشی تاسی	غرونه	دپاره د كورونو	نو ياد كړئ تاسی	نعمتونه	دالله

هسكی (اوچتی) ماڼی او تراشی تاسی غرونه دپاره د كورونو، نو ياد كړئ تاسی نعمتونه د الله

هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا.. **تفسير**: يعني دا اوښه دالله ﷻ ده چې ستاسي دپاره دليل دی پس دا پريږدئ چې د الله ﷻ په مځکه کې خوري او ګرځي او په بده سره دې ته لاس مه وروړئ که نې تاسي به دردناک عذاب وويني: دې اوښې ته دالله ﷻ اوښه ځکه وويل سوه چې دالله ﷻ دکامل قدرت ددليل او دحضرت صالح عليه السلام د معجزې په طور سره په حيرانوونکي طريقه سره پيدا سوه لکه حضرت عيسى عليه السلام ته چې بيې روح الله وفرمايل چې دغه پيدايش هم په معجزانه انداز سره سوی وو په تاکل فی ارض الله) کې اشاره دې طرف ته ده چې ددې اوښې په خوراک او څښاک کې ستاسي دملکيت او ستاسي دکور څخه هيڅ نه ځي مځکه دالله ﷻ ده ددې دپيدا وار پيدا کوونکي هغه دی دغه اوښه دغه په مځکه کې آزاده پريږدئ چې په عامو څرځايونو کي خوراک کوي ثموديانو چې به دکم څاه څخه اوبه څښلې دغه څخه به دې اوښې هم اوبه څښلې مګر دومره اوبه به دې دالله ﷻ په حکمت سره څښلې چې دڅاه اوبه به يې تولې ختمې کړې. (معارف القرآن ج٣پ٨ص ١٩٩)

وَلَا تَعۡثَوۡا فِي الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِيۡنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ الۡمَلَاُ

وَلَا تَعۡثَوۡا	فِي	الۡاَرۡضِ	مُفۡسِدِيۡنَ	قَالَ	الۡمَلَاُ
او مه ګرځئ تاسي	په	مځکه کښې	حال داچي قصد کوونکي دفساد يئ	وويل	مشرانو

او مه ګرځئ تاسي په مځکه کښې حال داچي قصد کوونکي دفساد يئ. وويل مشرانو

الَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡا مِنۡ قَوۡمِهٖ لِلَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡا

الَّذِيۡنَ	اسۡتَكۡبَرُوۡا	مِنۡ	قَوۡمِهٖ	لِلَّذِيۡنَ	اسۡتُضۡعِفُوۡا
هغو	چي کبر ئي کړی وه	له	قومه دغه شخه	هغو کسانو ته	چي ضعيف ګڼلی سوی وو

هغو چي کبر (او سرکشي) ئې کړی وه له قومه د دغه (صالح) شخه هغو کسانو ته چي ضعيف ګڼلی سوی وو

لِمَنۡ اٰمَنَ مِنۡهُمۡ اَتَعۡلَمُوۡنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرۡسَلٌ مِّنۡ

لِمَنۡ	اٰمَنَ	مِنۡهُمۡ	اَتَعۡلَمُوۡنَ	اَنَّ	صٰلِحًا	مُّرۡسَلٌ	مِّنۡ
هغه چاته چي	ايمان يي راوړی ؤ	له دوی شخه	آيا يقين لرئ تاسي	په دی چي بيشکه!	صالح	راليږل سوی دی	له (لوری د)

هغه چاته چي ايمان يي راوړی ؤ له دوی شخه آيا يقين لرئ تاسي په دی چي بيشکه! صالح مرسل له (لوری د)

رَّبِّهٖ قَالُوۡۤا اِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلَ بِهٖ مُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ الَّذِيۡنَ

رَّبِّهٖ	قَالُوۡۤا	اِنَّا	بِمَاۤ	اُرۡسِلَ	بِهٖ	مُؤۡمِنُوۡنَ	قَالَ	الَّذِيۡنَ
رب د ده	وويل دغو	بيشکه! موږ	په هغه چي	راليږلی سوی دی	په هغه	مؤمنان يو	وويل	هغو کسانو

رب د ده وويل دغو (ضعفاؤ چي هوا) بيشکه! موږ په هغه چي راليږلی سوی دی په هغه مؤمنان يو. وويل هغو کسانو

اسۡتَكۡبَرُوۡۤا اِنَّا بِالَّذِيۡۤ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿٧٦﴾

اسۡتَكۡبَرُوۡۤا	اِنَّا	بِالَّذِيۡۤ	اٰمَنۡتُمۡ	بِهٖ	كٰفِرُوۡنَ
چي لوئ تکبر ئي کړی ؤ	بيشکه! موږ	په هغه شي	چي ايمان راوړی دی تاسي	په هغه باندی	کافران يو

چي لوئي تکبر ئي کړی ؤ بيشکه! موږ په هغه شي چي ايمان راوړی دی تاسي په هغه باندی کافران يو.

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوۡا عَنۡ اَمۡرِ رَبِّهِمۡ وَقَالُوۡا يٰصٰلِحُ ائۡتِنَا

فَعَقَرُوا	النَّاقَةَ	وَعَتَوۡا	عَنۡ	اَمۡرِ	رَبِّهِمۡ	وَقَالُوۡا	يٰصٰلِحُ	ائۡتِنَا
نو زخمي او مړه کړه دوی	اوښه	او سرکښي وکړه دوی	له	امره	د رب خپل	او وويل دغو	ای صالحه!	راوړه موږ ته

نو زخمي او مړه کړه دوی اوښه، او سرکشي وکړه دوی له امره د رب خپل او وويل دغو ای صالحه! راوړه موږ ته

قَالَ الۡمَلَاُ الَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡا ـ تفسير: يعني دصالح عليه السلام په قوم کي هغه کسانو وويل کمو چي تکبر کړی وو وهغه کسانوته چي سپک اوذليل ګڼل کيدل يعني کومو چي ايمان راوړی وو امام رازي رحمة الله عليه په تفسير کبير کي فرمايي چي دلته ددې دواړو ډلو دوه صفتونه قرآن کريم وښوول مګر دکفارو صفت يي په صيغه دمعروف سره وښووی (استكبروا) او دمومنانو صفت يي په صيغه دمجهول سره ذکر کی (اُستُضعفُوا) په دې کي اشاره ليدل کيږي چي دکفارو داحال چي دوی تکبر کوی داددوی خپل فعل وو چي قابل دمؤاخذې او دملامتی وواو انجام يي موجب دعذاب سواو دمومنانو چي کم صفت دې خلګو بيانوی چي دوی ذليل حقير اوضعيف دي دادکفارو ويناه ده په خپله دمومنانو واقعي حال او وصف نه دی چي پردوی څه ملامتي راسي بلکي ملامتي پر هغه کسانو وه چي بې وجي يه دوی ته سپک او ذليل ويل او ګڼل يي: مخکي هغه مکالمه ده چي ددواړو ډلو په مينځ کي وسوه: تفصيل په معارف القرآن کي وګوری. (معارف القرآن ج٣ پ٨ ص٢٠٠)

بِمَا تَعِدُنَآ اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۝٧٧ فَاَخَذَتۡهُمُ

بِمَا	تَعِدُنَآ	اِنۡ	كُنۡتَ	مِنَ	الۡمُرۡسَلِيۡنَ	فَاَخَذَتۡهُمُ
هغه عذاب	چې ته بیروی موږ تر	که	ئې ته	له	مرسلانو	پس ونیول دوی

هغه عذاب چې ته بیروی موږ ترې که ئې ته له مرسلانو (په حقه سره). پس ونیول دوی

الرَّجۡفَةُ فَاَصۡبَحُوۡا فِىۡ دَارِهِمۡ جٰثِمِيۡنَ ۝٧٨ فَتَوَلّٰى

الرَّجۡفَةُ	فَاَصۡبَحُوۡا	فِىۡ	دَارِهِمۡ	جٰثِمِيۡنَ	فَتَوَلّٰى
زلزلې	نو وګرځیدل دوی	په	کورونو خپلو کښې	مړه پر مخې پراته	نو وګرځیده (صالح)

زلزلې نو وګرځیدل دوی (ګهیځ سحر) په کورونو خپلو کښې مړه پر مخې پراته. نو وګرځیده (صالح)

عَنۡهُمۡ وَقَالَ يٰقَوۡمِ لَقَدۡ اَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَالَةَ رَبِّىۡ

عَنۡهُمۡ	وَقَالَ	يٰقَوۡمِ	لَقَدۡ	اَبۡلَغۡتُكُمۡ	رِسَالَةَ	رَبِّىۡ
له دوی	او وویل	ای قومه زما	قسم دی خامخا په تحقیق	ورساوه ما تاسی ته	پیغام	د رب خپل

له دوی (او لاړ ترې متاسفاً) او وویل ای قومه زما قسم دی خامخا په تحقیق ورساوه ما تاسی ته پیغام د رب خپل

وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ وَلٰكِنۡ لَّا تُحِبُّوۡنَ النّٰصِحِيۡنَ ۝٧٩

وَنَصَحۡتُ	لَكُمۡ	وَلٰكِنۡ	لَّا تُحِبُّوۡنَ	النّٰصِحِيۡنَ
او پند می درکړ	تاسی ته	ولیکن	نه خوښوئ تاسی	پند ورکوونکی

او پند می درکړ تاسی ته ولیکن نه خوښوئ تاسی پند ورکوونکی.

وَلُوۡطًا اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ اَتَاۡتُوۡنَ الۡفَاحِشَةَ

وَلُوۡطًا	اِذۡ	قَالَ	لِقَوۡمِهٖۤ	اَتَاۡتُوۡنَ	الۡفَاحِشَةَ
او لوط	کله چې	وویل	قوم خپل ته	آیا راتګ کوئ تاسی	ډیر بد کار (لواطت) ته

او (یاد کړه ای محمده دوی ته قصه د) لوط کله چې وویل قوم خپل ته آیا راتګ کوئ تاسی ډیر بد کار (لواطت) ته

مَا سَبَقَكُمۡ بِهَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنَ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٨٠

مَا سَبَقَكُمۡ	بِهَا	مِنۡ	اَحَدٍ	مِّنَ	الۡعٰلَمِيۡنَ
چې نه دی مخکی سوی له تاسی څخه	دی کار ته	هیڅ	یو	له	ټولو خلګو

چې نه دی مخکی سوی له تاسی څخه دی کار ته هیڅ یو له ټولو خلګو (نو تاسی ئې هم مه کوئ!).

وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ وَلٰكِنۡ لَّا تُحِبُّوۡنَ النّٰصِحِيۡنَ

تفسیر: یعني دعذاب د نازلیدو څخه وروسته حضرت صالح علیه السلام او پر ده ایمان راوړونکي مومنانو هم دا ځای پرینښوی یو بل ځای ته ولاړل: په ځینو روایاتو کي دي چي دحضرت صالح علیه السلام سره څلورزره (۴۰۰۰) مومنان وه داټول دیمن د حضرموت علاقې ته ولاړل او هلته حضرت صالح علیه السلام وفات سو: او دځینو روایتونو څخه ددوی مکي مکرمې ته تلل او هلته دحضرت صالح علیه السلام وفات کیدل معلومیږي دعبارت دظاهر څخه معلومیږي چي حضرت صالح علیه السلام دتللو په وخت کي خپل قوم ته خطاب وکی اوویي فرمایل چي ای زما قومه ما تاسي ته دخپل رب پیغام ورسوی او ستاسي خیرخواهي مي وکړه مګر افسوس چي تاسي خیرخواهان نه خوښوی: دلته دا سوال پیدا کیږي چي کله ټول قوم په عذاب هلاک سو نو دوی ته دخطاب کولو څه فایده ده؟ جواب: دادی چي یوه فایده خو داده چي دخلګو دپاره عبرت سي او په دې سره به دغه موجوده پاته قوم نور هم عبرت واخلي الخ: (معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۲۰۵)

لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ..
تفسير: عمرو بن دينار رحمة الله عليه فرمايي چي دحضرت لوط عليه السلام دقوم څخه مخکي په دنيا کي هيڅ داسي حرکت نه دی ليدل سوی) او نه تر اهل سدوم مخکي تر بيکاره لا بيکاره ديوه انسان ذهن دې طرف ته تللی دی (يعني دنرو سره بدکاري) اموي خليفه عبدالملک به ويل چي که دقوم لوط عليه السلام قصه په قرآن کريم کي نه وای ذکر سوی نو مابه هيڅکله گمان نه وای کړی چي يو انسان هم داسي کار کولای سي: په دغه اياتونو کي يي ددوی پر بې حيايي باندي په دوه حيثيته سره خبرداری ورکړی دی: اول خو دا چي په ډيرو گناهونو کي انسان دخپل ماحول يا دخپلو مشرانو دتقليد په وجه اخته کيدای سي که څه هم دغه هم څه شرعي عذر نه وي خو عرفا ده ته په څه ناڅه درجه کي معذور ويل کيږي مگر داسي گناه کمه چي دمخکي څخه چا نه وي کړې او نه ددې دپاره څه غوښتنه وي يعني حاجت وي دغه بيا نور هم زيات تاوان وي: ددوهم حيثيت تفصيل په معارف القرآن کي وگوری.
(معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۲۰۷)

اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ

اِنَّكُمْ	لَتَاْتُوْنَ	الرِّجَالَ	شَهْوَةً	مِّنْ دُوْنِ	النِّسَآءِ
بيشکه! تاسی	خامخا راځئ	سړيو ته	دپاره د شهوت	په دی حال کښی چی تجاوز کوونکی يئ	له (خپلو) ښځو

بيشكه! تاسى خامخا راځئ سړيو ته د پاره د شهوت په دی حال کښی چی تجاوز کوونکی يئ ماسيواء له (خپلو) ښځو

بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ

بَلْ	اَنْتُمْ	قَوْمٌ	مُّسْرِفُوْنَ	وَمَا	كَانَ	جَوَابَ
بلکه	يئ تاسی	يو قوم	اسراف کوونکی	او نه	ؤ	ځواب

بلکه يئ تاسی يو قوم اسراف کوونکی . (له شرعی حده تيريدونکی په هر شی). او نهٔ ؤ ځواب

قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ

قَوْمِهٖٓ	اِلَّآ	اَنْ	قَالُوْٓا	اَخْرِجُوْهُمْ	مِّنْ	قَرْيَتِكُمْ
د قوم د دغه	مگر خو	داسی چی	ويل قوم د لوط	وباسئ تاسی دوی (لوط او اهل)	له	قريي ستاسی

د قوم د دغه مگر خو داسی چی ويل قوم د لوط (په خپلو منځو کښی) وباسئ تاسی دغه (لوط) له قريي ستاسی (سدوم)

اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ

اِنَّهُمْ	اُنَاسٌ	يَّتَطَهَّرُوْنَ	فَاَنْجَيْنٰهُ	وَاَهْلَهٗٓ
بيشکه! دوی	داسی خلک دی	چی په تکلف سره ځان پاکوی	نو نجات ورکړ موږ دغه (لوط) ته	او اهل د ده ته

بيشكه! دوی داسی خلک دی چی په تکلف سره ځان پاکوی. نو نجات ورکړ موږ دغه (لوط) ته او اهل د ده ته

اِلَّا امْرَاَتَهٗ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَاَمْطَرْنَا

اِلَّآ	امْرَاَتَهٗ	كَانَتْ	مِنَ	الْغٰبِرِيْنَ	وَاَمْطَرْنَا
مگر	ښځه د ده	چی وه	له	پاتی کيدونکو	او اوورواوه موږ

مگر ښځه د ده ، چی وه له پاتی کيدونکو. (په عذاب کښی). او اوورواوه موږ

عَلَيْهِمْ مَّطَرًا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ ع

عَلَيْهِمْ	مَّطَرًا	فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُجْرِمِيْنَ
په دوی باندی	باران	پس وگوره ته	چی څرنگه	سو	عاقبت (بده خاتمه)	د گنهگارانو

په دوی باندی باران (دکانو هلاک مو کړل) پس وگوره ته چی څرنگه سو عاقبت (بده خاتمه) د گنهگارانو .

ع ۱۰ ۱۲ ۱۷

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا

اعْبُدُوا	يٰقَوْمِ	قَالَ	شُعَيْبًا	اَخَاهُمْ	وَاِلٰى مَدْيَنَ
عبادت کوئ	ای قومه زما	وويل	شعيب	وروردوی	او (ليږلی مو ؤ) مدين ته

او (ليږلی مو ؤ) مدين ته (قومی) وروردوی شعيب، وويل (شعيب چې) ای قومه زما عبادت کوئ

اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ

بَيِّنَةٌ	جَآءَتْكُمْ	قَدْ	غَيْرُهٗ	اِلٰهٍ	مِّنْ	مَا لَكُمْ	اللّٰهَ
دليل ښکاره	راغلی دی تاسی ته	په تحقيق	بی له ده	معبود	هيڅ	نسته تاسی ته	د الله

د الله نسته تاسی ته هيڅ معبود بی له ده، په تحقيق راغلی دی تاسی ته دليل ښکاره

مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا

وَلَا تَبْخَسُوا	وَالْمِيْزَانَ	الْكَيْلَ	فَاَوْفُوا	رَّبِّكُمْ	مِّنْ
او کم مه ورکوئ تاسی	او تله	پيمانه	نو پوره کړئ تاسی	رب ستاسی	له (لوری د)

له (لوری د) رب ستاسی نو پوره کړئ تاسی پيمانه (خلګو ته) او تله (تول هم) او کم مه ورکوئ تاسی

النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

الْاَرْضِ	فِي	وَلَا تُفْسِدُوْا	اَشْيَآءَهُمْ	النَّاسَ
مځکه کښی	په	او فساد مه کوئ تاسی	شيان د دوی	خلګو ته

خلګو ته شيونه (حقونه) د دوی او فساد (خرابی) مه کوئ تاسی په مځکه کښی (په کفر او خيانت سره)

بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

كُنْتُمْ	اِنْ	لَّكُمْ	خَيْرٌ	ذٰلِكُمْ	اِصْلَاحِهَا	بَعْدَ
يئ تاسی	که	تاسی ته	خير دی	دغه	اصلاح د دی	پس له

پس له اصلاح د دی دغه (اصلاح او امانتداری) خير (ډير بهتر) دی تاسی ته که يئ تاسی

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ

تُوْعِدُوْنَ	صِرَاطٍ	بِكُلِّ	وَلَا تَقْعُدُوْا	مُّؤْمِنِيْنَ
حال داچې بيروئ تاسی	لاره	پر هر	او مه کښينئ تاسی	ايمان راوړونکی

ايمان راوړونکی . او مه کښينئ تاسی پر هر لاره (له پاره د شکولو) حال داچې بيروئ تاسی (خلګ)

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا. **تفسير** : دانبياوو قصې دکمو سلسله چې دتيروايتونو څخه راروانه ده په دوی کې پنځمه قصه دحضرت شعيب عليه السلام اودده دقوم ده کمه چې په ذکر سوو اياتونوکې بيان سويده : حضرت شعيب عليه السلام دمحمد ابن اسحق درو ايت موافق دحضرت ابراهيم عليه السلام دزوی دمدين په اولاده کښې دی او دحضرت لوط عليه السلام سره هم قرابت لري مدين دحضرت ابراهيم عليه السلام اولاد دی دده نسل او اولاد هم دمدين په نامه سره مشهور سو او په کم کلي کې چې دوی اوسيدل هغه ته هم مدين وايې ګواکې مدين ديو قوم نوم هم دی اوديوښار نوم هم دی داښار نن هم داردن وه مشرقي بندرګاه معان ته نژدې پروت دی: په قرآن کريم کې بل ځای دحضرت موسى عليه السلام په قصه کې ارشاد دی (ولمّا ورد مآء مدين) په دې کې هم دغه کلمې مراد دي او حضرت شعيب عليه السلام ته دده دښه بيان په وجه خطيب الانبياء ويل کيدی او دده قوم قرآن کريم په اهل مدين او اصحاب مدين سره ذکر کړی دی او کله يې بيا داصحاب الايکه په نامه سره يې ذکر کړی دی.
(معارف القرآن ج٣ پ٨ ص٢١٣)

وَتَصُدُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ مَنۡ اٰمَنَ بِهٖ

بِهٖ	اٰمَنَ	مَنۡ	اللّٰهِ	سَبِيۡلِ	عَنۡ	وَتَصُدُّوۡنَ
په الله باندې	ایمان راوړی	څوک چې	دالله څخه	لارې	له	او منع کوئ تاسې

او منع کوئ تاسې (خلک) له لارې د الله څخه څوک چې ایمان راوړی په الله باندې

وَتَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا ۚ وَاذۡكُرُوۡۤا اِذۡ كُنۡتُمۡ قَلِيۡلًا

قَلِيۡلًا	كُنۡتُمۡ	اِذۡ	وَاذۡكُرُوۡۤا	عِوَجًا	وَتَبۡغُوۡنَهَا
لږ	چې وئ تاسې	هغه وخت	او یاد کړئ تاسې	کوږوالی	او لټوئ تاسې دی ته

او لټوئ تاسې دی (لارې) ته کوږوالی (عیب)، او یاد کړئ تاسې هغه وخت چې وئ تاسې لږ (په سړیو او مالونو کښې)

فَكَثَّرَكُمۡ ۖ وَانۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ۝٨٦

الۡمُفۡسِدِيۡنَ	عَاقِبَةُ	كَانَ	كَيۡفَ	وَانۡظُرُوۡا	فَكَثَّرَكُمۡ
دفساد کوونکو	عاقبت	سو	چې څرنګه	او وګورئ تاسې	نو ډیر کړئ (الله) تاسې

نو ډیر کړئ (الله) تاسې او وګورئ تاسې چې څرنګه سو عاقبت (بد خاتمه) د فساد کوونکو .

وَاِنۡ كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنۡكُمۡ اٰمَنُوۡا بِالَّذِىۡۤ اُرۡسِلۡتُ بِهٖ

بِهٖ	اُرۡسِلۡتُ	بِالَّذِىۡۤ	اٰمَنُوۡا	مِّنۡكُمۡ	طَآئِفَةٌ	كَانَ	وَاِنۡ
په هغه سره	رالیږلی سوی یم زه	په هغه شي چې	چې ایمان ئې راوړی ؤ	له تاسې	یوه طائفه	وه	او که

او که وه یوه طائفه له تاسې چې ایمان ئې راوړی ؤ په هغه شي چې رالیږلی سوی یم زه په هغه سره

وَطَآئِفَةٌ لَّمۡ يُؤۡمِنُوۡا فَاصۡبِرُوۡا حَتّٰى يَحۡكُمَ

يَحۡكُمَ	حَتّٰى	فَاصۡبِرُوۡا	لَّمۡ يُؤۡمِنُوۡا	وَطَآئِفَةٌ
چې حکم (فیصله وکړي)	تر هغه پورې	نو صبر کوئ تاسې	چې ایمان ئې نه ؤ راوړی	او طائفه

او (وه بله) طائفه چې ایمان ئې نه ؤ راوړی نو صبر کوئ تاسې (ای مؤمنانو) تر هغه پورې چې حکم (فیصله وکړي)

اللّٰهُ بَيۡنَنَا ۚ وَهُوَ خَيۡرُ الۡحٰكِمِيۡنَ ۝٨٧

الۡحٰكِمِيۡنَ	خَيۡرُ	وَهُوَ	بَيۡنَنَا	اللّٰهُ
له ټولو حکم (فیصله) کوونکو	خیر (بهتر) دی	او هم دی	په مینځ زموږ کښې	الله

الله په مینځ زموږ کښې او هم دی خیر (بهتر) دی له ټولو حکم (فیصله) کوونکو .

وَاذۡكُرُوۡۤا اِذۡ كُنۡتُمۡ قَلِيۡلًا فَكَثَّرَكُمۡ. **تفسير**: په دغه ایاتونو کې الله ﷻ د دغه خلګو د پاره د ترغیب او ترهیب دواړه ارخونه استعمال کړي دي اول خود ترغیب د پاره یې د الله ﷻ دا نعمت وریاد کی چې تاسې مخکې په شمېر او عدد کې کم وواست الله ﷻ ستاسې نسلونه زیات کړل او یولوی قوم یې درڅخه جوړ کی: یا د مال او سامان په اعتبار سره کم وواست الله ﷻ دولت درکی او غنیان یې جوړ کړاست: بیا د بیرولو د پاره فرمایي چې چې تر څان مخکې د فساد کوونکو قومونو پر انجام نظر واچوئ چې پر قوم د نوح ﷺ او پر قوم د عادیانو ، او ثمودیانو او قوم د لوط ﷺ باندې کم کم عذابونه راغلي دي چې تاسې د پوهې څخه کار واخلئ: په وروستني آیت کې د دوی دیوې شبهې جواب دی چې د حضرت شعیب ﷺ دایمان تر دعوت وروسته دا قوم په دوو حصو کې تقسیم سو چا ایمان راوړی او څوک منکره پاته سول مګر په ښکاره اعتبار سره په دواړو کې څه فرق نه وو دواړه اباد وه. **جواب** یې دا ورکی (چې صبر کوی تر هغه وخته چې الله ﷻ خپله بیا فیصله وکړي چې هغه د مجرمینو سزا ده : (معارف القرآن ج۳ پ۸ ص۲۱۷)

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِ جَنَّكَ

قَالَ	الْمَلَاُ	الَّذِيْنَ	اسْتَكْبَرُوْا	مِنْ	قَوْمِهٖ	لَنُخْرِ جَنَّكَ
وويل	مشرانو	هغو	چي كبرئې كړى وو	له	قومه ددغه شعيب	خامخا وباسو موږتا

وويل مشرانو هغو چي كبر (اوسركشي) ئې كړى وو (له ايمان راوړلو ځخه) له قومه د دغه شعيب خامخا وباسو موږتا

يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ

يٰشُعَيْبُ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مَعَكَ	مِنْ	قَرْيَتِنَآ
اى شعيبه!	او هغه كسان	چي ايمان ئې راوړى دى	له تاسره	له (دى)	كلى زموږ ځخه

اى شعيبه! او هغه كسان (هم درسره وباسو) چي ايمان ئې راوړى دى له تاسره له (دى) كلى (ښار) زموږ ځخه

اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ۚ قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ﴿٨٨﴾

اَوْ لَتَعُوْدُنَّ	فِيْ مِلَّتِنَا	قَالَ	اَوَلَوْ كُنَّا	كٰرِهِيْنَ
يا خامخا به راګرځئ تاسي	دين زموږته	نو وويل	آيا او اګركه اوسو موږ	ناخوښه

ياخامخا به راګرځئ تاسي دين زموږ ته، نو وويل (شعيب) آيا او اګر كه اوسو موږ ناخوښه (هم بلكه نه ګرځو).

قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ

قَدِ	افْتَرَيْنَا	عَلَى	اللّٰهِ	كَذِبًا	اِنْ	عُدْنَا	فِيْ	مِلَّتِكُمْ	بَعْدَ
په تحقيق به	تړلى وى موږ	پر	الله	دروغ	كه	وګرځو موږ	په	دين د تاسي كښى	وروسته له هغه

په تحقيق به تړلى وى موږ پر الله دروغ (بهتان) كه وګرځو موږ په دين د تاسي كښى وروسته له هغه

اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ

اِذْ نَجّٰىنَا	اللّٰهُ	مِنْهَا	وَمَا يَكُوْنُ	لَنَآ	اَنْ نَّعُوْدَ	فِيْهَآ	اِلَّآ
چي نجات راكړى موږته	الله	له هغه ځخه	او نه ښائيږى	موږته	داچي بيرته وګرځو	په هغه كښى	مګر

چي نجات راكړى موږته الله له هغه (دين) ځخه او نه ښائيږى موږته داچي بيرته وګرځو په هغه (دين) كښى مګر

اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى اللّٰهِ

اَنْ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	رَبُّنَا	وَسِعَ	رَبُّنَا	كُلَّ	شَيْءٍ	عِلْمًا	عَلَى	اللّٰهِ
كله چي اراده وفرمائى	الله	چي رب زموږ دى	احاطه كړى ده	رب زموږ	پر هر	شى	له جهته د علمه	پر	الله

كله چي اراده وفرمائى الله چي رب زموږ دى احاطه كړى ده رب زموږ پر هر شى له جهته د علمه، (خاص) پر الله

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا حضرت شعيب عليه السلام ته چي كله قوم دا وويل چي كه ته پر حقه واى نو ستا منونكي به ښه په ناز او نعمتو كي واى او پر نه منونكي به عذاب راتلاى مګر كيږي داسي چي دواړي ډلي په برابره درجه كي دآرام ژوند تيروى نو موږ تا ځنګه رښتيني وګڼو نو پر دې باندي حضرت شعيب عليه السلام وفرمايل چي تلوارى مه كوى ډير ژر به الله جل جلاله زموږ او ستاسي په مينځ كي فيصله وكړي پر دې باندي دقوم تكبركوونكو سردارانو هم هغه خبره وكړه كمه چي هميشه ظالمان او متكبره خلګ كوي چي اي شعيبه ياخوته اوكمو خلګو چي پرتا ايمان راوړى دى هغه ټول زموږ مذهب ته واپس راسى كنې موږبه تاسي ټول دخپل كلي ځخه وباسو. ددوى مذهب ته واپس راتلل د شعيب ع دقوم د مومنانو متعلق خو په دي وجه رښتينى دى چي دغه ټول مخكي ددوى پر مذهب اوطريقه باندي وه بيا د شعيب عليه السلام په دعوت باندي مسلمانان سوه مګر پاته سو حضرت شعيب عليه السلام هغه خو يوه ورځ هم ددوى پر باطل مذهب نه دى پاته سوى نو دهغه متعلق دا غوښتنه حماقت دى : (معرف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٣)

تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ

تَوَكَّلْنَا	رَبَّنَا	افْتَحْ	بَيْنَنَا	وَبَيْنَ	قَوْمِنَا	بِالْحَقِّ	وَاَنْتَ
توکل کړی دی موږ	ای ربه زموږ	فيصله وکړه	په مينځ زموږ	او په مينځ	دقوم زموږ کښې	په حقه سره	او هم دا ته ئې

توکل کړی دی موږ، ای ربه زموږ فيصله وکړه په مينځ زموږ او په مينځ دقوم زموږ کښې په حقه سره او هم دا ته ئې

خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ

خَيْرُ	الْفٰتِحِيْنَ	وَقَالَ	الْمَلَاُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ
غوره بهتره	د فيصله کوونکو	او ووئيل	مشرانو	هغو چي	کافران سوی وو	له

غوره بهتره فيصله کوونکو. او ووئيل مشرانو هغو چي کافران سوی وو له

قَوْمِهٖ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۹۰﴾

قَوْمِهٖ	لَئِنِ	اتَّبَعْتُمْ	شُعَيْبًا	اِنَّكُمْ	اِذًا	لَّخٰسِرُوْنَ
قومه د دغه شعيب	قسم دی خامخا	که متابعت وکړ تاسی	د شعيب	بيشکه! تاسی به	په دغه وخت کښی	خامخا له زيان کارانو ييځ

قومه د دغه شعيب قسم دی خامخا که متابعت وکړ تاسی د شعيب بيشکه! تاسی به په دغه وخت کښی خامخا له زيان کارانو ييځ .

فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۹۱﴾

فَاَخَذَتْهُمُ	الرَّجْفَةُ	فَاَصْبَحُوْا	فِيْ	دَارِهِمْ	جٰثِمِيْنَ
نو ونيول دوی	زلزلی	نو وګرځيدل دوی	په	کورونو خپلو کښی	مړه پر مخی پراته

نو ونيول دوی زلزلی نو وګرځيدل دوی (سحر وختی) په کورونو خپلو کښی مړه پر مخی پراته.

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۛ اَلَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	شُعَيْبًا	كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا	فِيْهَا	اَلَّذِيْنَ
هغه کسان	چی تکذيب ئی کړی ؤ	د شعيب	لکه چی له سره نه وو اوسيدلی	په دغو کښی	هغه کسان

هغه کسان چی تکذيب ئی کړی ؤ د شعيب (داسی هلاک سول) لکه چی له سره نه وو اوسيدلی په دغو کښی هغه کسان

كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ

كَذَّبُوْا	شُعَيْبًا	كَانُوْا	هُمُ	الْخٰسِرِيْنَ	فَتَوَلّٰى	عَنْهُمْ
چی تکذيب ئی کړی ؤ	د شعيب	وو دوی	هم دوی	زيان کاران	نو مخ وګرځاوه شعيب	له دوی څخه

چی تکذيب ئی کړی ؤ د شعيب وو دوی هم دوی زيان کاران. نو مخ وګرځاوه شعيب له دوی څخه

فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا تفسير: يعني قوم د شعيب عليه السلام يوې سختي زلزلې ونيوی چي په دې سره دوی په خپلو کورونو کي نسکور پراته پاته سوله دحضرت شعيب عليه السلام دقوم عذاب په دې ايت کي زلزله راغلې ده او په نورو اياتونو کي بيا دي (فاخذهم عذاب يوم الظلة) معنی داده چي دوی ديوم الظلة عذاب ونيول د(يوم الظلة) معنی ده دسايې ورځ ددې مطلب دادی چي پر دوی باندي اول توره وريځ راغله چي ټول لاندي تر جمع سول نو ددغې وريځې څخه پر دوی باندي کاڼي يا اور راووريدی. حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه په دې دواړو اياتونو کي د مطابقت دپاره فرمايي چي دحضرت شعيب عليه السلام پر قوم باندي اول خو داسي سخته ګرمي مسلطه سوه لکه دجهنم دروازه چي پر دوی راخلاصه کړی چي په دې سره ددوی ساه بنديدل شروع سوه نه به چاته په سايه کي ارام ورتلی او نه په اوبو کي آخر دښار څخه ځنګل ته راووتل او هلته يوه توره وريځ پر دوی باندي راغله او دوی تر لاندي جمع سول بيا داوريځ اور سوه پر دوی باندي ووه ريدی او وروسته تر دې اوربيا زلزله هم پرراغله دايي مطابقت سو الخ. (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۵)

١١ ع٩ ١

وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ

وَقَالَ	يٰقَوْمِ	لَقَدْ	اَبْلَغْتُكُمْ	رِسٰلٰتِ	رَبِّيْ	وَنَصَحْتُ
او وویل	ای قومه زما	خامخا په تحقیق	رسولی دی ما تاسی ته	پیغامونه	د رب خپل	او پند می درکړ

او وویل ای قومه زما! خامخا په تحقیق رسولی دی ما تاسی ته پیغامونه د رب خپل او پند می درکړ

لَكُمْ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ۝٩٣ وَمَآ اَرْسَلْنَا

لَكُمْ	فَكَيْفَ	اٰسٰى	عَلٰى	قَوْمٍ	كٰفِرِيْنَ	وَمَآ	اَرْسَلْنَا
تاسی ته	نو څرنګه به	زه خپه سم	پر	قوم	کافرانو	او نه ؤ	لیږلی موږ

تاسی ته نو څرنګه به زه خپه سم پر (هلاک کیدلو د) قوم کافرانو. او نه ؤ لیږلی موږ

فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ

فِيْ	قَرْيَةٍ	مِّنْ نَّبِيٍّ	اِلَّآ	اَخَذْنَآ	اَهْلَهَا	بِالْبَاْسَآءِ	وَالضَّرَّآءِ
په	هیڅ قریه کښی	هیڅ نبی	مګر	وبه نیول موږ	اهل د هغی	په سختیو	او تکلیفونو سره

په هیڅ قریه (ښار) کښی هیڅ نبی مګر وبه نیول موږ اهل د هغی (قریی) په سختیو (لکه فقر) او تکلیفونو سره

لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ ۝٩٤ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ

لَعَلَّهُمْ	يَضَّرَّعُوْنَ	ثُمَّ	بَدَّلْنَا	مَكَانَ	السَّيِّئَةِ
دپاره د دی چی دوی	زاری وکړی	بیا	بدله کړه موږ	په ځای	د بدی (سختی) کښی

دپاره د دی چی دوی زاری (عاجزی) وکړی. بیا بدله کړه موږ په ځای د بدی (سختی) کښی

الْحَسَنَةَ حَتّٰى عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ

الْحَسَنَةَ	حَتّٰى	عَفَوْا	وَّقَالُوْا	قَدْ	مَسَّ	اٰبَآءَنَا	الضَّرَّآءُ
نیکی	تر هغه پوری	چی ډیر سول	او وویل دوی	چی په تحقیق	رسیدلی وی	پلرونو زموږ ته	سختی

نیکی (اسانی) تر هغه پوری چی ډیر سول او وویل دوی (په ناشکری) چی په تحقیق رسیدلی وی پلرونو زموږ ته سختی

وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝٩٥

وَالسَّرَّآءُ	فَاَخَذْنٰهُمْ	بَغْتَةً	وَّهُمْ	لَا يَشْعُرُوْنَ
او خوشحالی	نو ونیول موږ دوی	ناڅاپه	او دوی	به نه پوهیدل

او خوشحالی نو ونیول موږ دوی ناڅاپه او دوی به نه پوهیدل. (چی پر موږ به عذاب راسی)

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ تفسیر: دپنځو انبیاوو تر قصو وروسته دلته یو څو خبرا دری ذکر کوي په اول ایت کي ارشاد دی چي دحضرت نوح عليه السلام دقوم او دعادیانو او ثمودیانو سره چي کم واقعات وسول دغه څه په دوی پوري خاص نه دي بلکي دالله جل جلاله عادت دادی چي دقومونو دهدایت او اصلاح او فلاح دپاره پیغمبران رالیږي کم خلګ چي پر دې غوږونه ګوروي نو اول خو ددنیا په مصیبتونو او تکلیفونو کي راګیر ول کیږي چي تکلیف او مصیبت ددوی مخ دالله جل جلاله طرف ته راوګرځوي ځکه چي انسان ته فطرتا دمصیبت په وخت کي خدای وریادیږي او ظاهري تکلیف او مصیبت په حقیقت کي درحمان او رحیم رحمت او عنایت وي دذکرسوي آیت (اخذنا اهلها بالباسأء والضرآء لعلهم یضرعون) هم دامطلب دی دبؤس او بأسآ معنی فقیري او لوږه ده آو دضرآء معنی ناروغي او مرض دی: په قرآن مجید کي دالفظ ځای پر ځای په دې معنی کي راغلی دی او ځیني بیا ددې الفاظو څخه مراد مالي او بدني تاوانونه اخلي: والله اعلم: (معارف القرآن ج ٣ پ٩ ص٩)

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ

وَلَوْ	اَنَّ اَهْلَ	الْقُرٰٓى	اٰمَنُوْا	وَاتَّقَوْا	لَفَتَحْنَا	عَلَيْهِمْ
او كه	بيشكه خلگو	د دې كليو	ايمان راوړى وى	او تقوىٰ ئې كړې وى	نو خامخا راخلاص كړى به واى	پر دوى باندى

او كه خلگو د دې كليو (ښارونو) ايمان راوړى وى او تقوىٰ ئې كړې وى نو خامخا پرانيستلى به وى موږ پر دوى باندى

بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا

بَرَكٰتٍ	مِّنَ	السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ	وَلٰكِنْ	كَذَّبُوْا
بركتونه	له لورى	دآسمان	او له (لورى) دمځكى	وليكن	نسبت د دروغو وكړى دوى

بركتونه له لورى د آسمانه اوله (لورى) د مځكى (په زرغونولو دمحصولاتو) وليكن نسبت د دروغو وكړى دوى

فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾ اَفَاَمِنَ اَهْلُ

فَاَخَذْنٰهُمْ	بِمَا	كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ	اَفَاَمِنَ	اَهْلُ
نو ونيول موږ هغوى	په سبب د هغو	چې وو دوى	چې كول به ئې	آيا نو په امن كښې دى	اهل

(انبياؤ ته) نو ونيول موږ هغوى په سبب د هغو چې وو دوى چې كول به ئې. آيا نو په امن كښې دى ، اهل

الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿٩٧﴾

الْقُرٰٓى	اَنْ	يَّاْتِيَهُمْ	بَاْسُنَا	بَيَاتًا	وَّهُمْ	نَآئِمُوْنَ
د قريو	له دى نه	چې راسى دوى ته	عذاب زموږ	دشپې	حال دا چې دوى	بيده (غافل) وى

د قريو (ښارونو) له دى نه چې راسى دوى ته عذاب زموږ دشپې حال دا چې دوى اوده (بيده، غافل) وى.

اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ

اَوَاَمِنَ	اَهْلُ	الْقُرٰٓى	اَنْ	يَّاْتِيَهُمْ	بَاْسُنَا	ضُحًى	وَّهُمْ
آيا په امن كښې دى	اهل	دقريو	له دى څخه	چې راسى دوى ته	عذاب زموږ	په څاښت كښې	حال دا چې دوى

آيا په امن كښې دى اهل د قريو (ښارونو) له دى څخه چې راسى دوى ته عذاب زموږ په څاښت كښې حال دا چې دوى

يَلْعَبُوْنَ ﴿٩٨﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا

يَلْعَبُوْنَ	اَفَاَمِنُوْا	مَكْرَ	اللّٰهِ	فَلَا	يَاْمَنُ	مَكْرَ	اللّٰهِ	اِلَّا
په لوبو مشغول وى	آيا نو په امن كښې دى دوى	له مكره	د الله	نو نه	په امن كيږى	له مكره	د الله	مگر

په لوبو مشغول وى. آيا نو په امن كښې دى دوى (بلكه نه دى) له مكره د الله نو نه په امن كيږى له مكره د الله مگر

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا. **تفسير:** په دې آيت كې د الله ﷻ ارشاد دى كه چيرې ددې كلو او سيدونكو ايمان راوړى واى او دنافرمانى څخه يې ځان ساتلاى نو موږ به پر دوى دآسمان او دمځكې بركتونه راخلاص كړې واى ليكن دوى درواغجن كړل نو موږ دوى ددوى ده عملونو په وجه ونيول: دبركت لفظې معنى زياتوب دى دآسمان او دمځكې دبركتونو څخه مراد دادى چې هر قسم خير به ده هر طرفه څخه دوى ته خلاص سوى واى دآسمان څخه به اوبه دضرورت موافق پر وخت اوريدلاى دمځكې څخه به هرشى دخواهش موافق پيدا كيداى بيا به ددې شيانو څخه دنفع اخيستو او راحت حاصلولو سامان جمع كيداى چې هيڅ پريشانې او فكر به ورسره نه واى دكم په وجه سره چې تر لوى لا لوى نعمت تريخ سي په هرشي كې به بركت يعني زياتوب واى: بيا بركت په دنيا كې په دوه قسمه سره ښكاره كيږي كله اصلي شى په واقع كې زيات سي لكه دنبي كريم ﷺ په معجزو كې ديوعادي لوښې په اوبو سره دټولې قافلې اوبه كيدل او نور داسې الخ.
(معرف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ١١)

ع ۱۲

الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ

الْقَوْمُ	الْخٰسِرُوْنَ	اَوَلَمْ يَهْدِ	لِلَّذِيْنَ	يَرِثُوْنَ
قوم	زیان کاران	آیا نه ده ظاهره سوی	هغو کسانو ته	چی وارثان سوی دی

قوم زیان کاران (په کفر او نفاق سره). آیا نه ده ظاهره (ښکاره) سوی (بلکه ښکاره ده) هغو کسانو ته چی وارثان سوی دی

الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ اَهْلِهَاۤ اَنْ لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ

الْاَرْضَ	مِنْۢ بَعْدِ	اَهْلِهَاۤ	اَنْ لَّوْ نَشَآءُ	اَصَبْنٰهُمْ
د ځمکی	وروسته	د اهل د هغی	دا خبره که اراده فرمائلی وی موږ	نو رسولی به ؤ موږ دوی ته

د ځمکی وروسته (له هلاک) د اهل د هغی دا خبره که اراده فرمائلی وی موږ (دنیولو د دوی) نو رسولی به ؤ موږ دوی ته

بِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

بِذُنُوْبِهِمْ	وَنَطْبَعُ	عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	فَهُمْ	لَا يَسْمَعُوْنَ
په سبب د ګناهونو د دوی	او مهر به ولګوو	پر	زړونو د دوی	نو دوی	به نه اوری.

(عذاب) په سبب د ګناهونو د دوی سره او مهر به ولګوو پر زړونو د دوی نو دوی به نه اوری.

تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ

تِلْكَ	الْقُرٰى	نَقُصُّ	عَلَيْكَ	مِنْ	اَنْۢبَآئِهَا	وَلَقَدْ
دغه	کلی	بیانوو موږ	پر تا	له ځینو	حالاتو د دی	او هرومرو په تحقیق

دغه کلی بیانوو موږ پر تا له ځینو حالاتو د دی (قریو)، او هرومرو په تحقیق

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا

جَآءَتْهُمْ	رُسُلُهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	فَمَا	كَانُوْا	لِيُؤْمِنُوْا	بِمَا
راوړی وی دوی ته	رسولانو د دوی	ښکاره معجزی	نو نه	وو دوی	چی ایمان راوړی	په هغه شی

راوړی وی دوی ته رسولانو د دوی ښکاره معجزی نو نه وو (له شانه) د دوی چی ایمان راوړی په هغه شی

كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ ۭ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ

كَذَّبُوْا	مِنْ قَبْلُ	كَذٰلِكَ	يَطْبَعُ	اللّٰهُ	عَلٰى	قُلُوْبِ
چی نسبت د دروغو ئی کړی ؤ	پخوا	هم دارنګه	مهر لګوی	الله	پر	زړونو

چی نسبت د دروغو ئی (ورته) کړی ؤ پخوا (له هم دغو معجزاتو) هم دارنګه مهر لګوی الله په زړونو

اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ.. تفسیر: په ذکر سوو ایاتونو کي هم دتیرو قومونو د حالاتو او واقعاتو بیانولو څخه موجوده عربو او عجمو ته دا ښوول مقصود دي چي په دې ایاتونو کي ستاسي دپاره دعبرت لوی سبق دی چي دکمو کارونو په وجه پر تیرو خلګو باندي دالله ﷻ غضب او عذاب نازل سو دي ته دي نه ورنږدي کیږي او دکمو کارونو په وجه سره چي انبیاء (علیهم السلام) او ددوی تابعدارانو ته کامیابي حاصله سوه هغه اختیاره کی لکه چي په دغه آیت کي ارشاد دی (اولم یهد للذین یرثون الارض من بعد اهلهان لو نشآء الخ) دهدی یهدی معنی نښاندي کول او ښوول دي دلته ددې (فاعل) هغه واقعات او حالات دي دکمو چي لوړ ذکر سوي دي معنی داده چي دموجوده زمانی خلګ کم چي دتیرو قومونو دهلاکیدو څخه وروسته ددوی دمځکو مکانونو وارثان جوړ سول یا آینده جوړیږي آیا دوی ته تیرو عبرتناکو واقعاتو داونه ښوول چي دکفر او انکار او دالله ﷻ دحکمونو څخه خلاف ورزي په نتیجه کي هغه قومونه څنګه هلاک سول. (معارف القرآن ۳ پ ۹ ص ۱۵)

الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ ۚ وَاِنْ

الْكٰفِرِيْنَ	وَمَا	وَجَدْنَا	لِاَكْثَرِهِمْ	مِّنْ	عَهْدٍ	وَاِنْ
دكافرانو باندى	او نه دى	پيداكړى موږ	له پاره د زياترو د دوى	له	عهد	او بيشكه!

د كافرانو باندى. او نه دى پيدا كړى موږ له پاره د زياترو د دوى له (وفا په) عهد، او بيشكه!

وَّجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ لَفٰسِقِيْنَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ

وَّجَدْنَآ	اَكْثَرَهُمْ	لَفٰسِقِيْنَ	ثُمَّ	بَعَثْنَا	مِنْ بَعْدِ	هِمْ
پيداكړى دى موږ	زياتره د دوى	خامخا فاسقان	بيا	وليږه موږ	وروسته	له دغو

پيداكړى دى موږ زياتره د دوى خامخا فاسقان. بيا وليږه موږ وروسته له دغو (رسولانو)

مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَاۡئِهٖ فَظَلَمُوْا بِهَا ۚ

مُّوْسٰى	بِاٰيٰتِنَآ	اِلٰى فِرْعَوْنَ	وَمَلَاۡئِهٖ	فَظَلَمُوْا	بِهَا
موسٰى	سره له معجزو زموږ	فرعون (دمصر)	او اتباعو د ده ته	نو ظلم وكړ دوى	په هغو

موسٰى سره له معجزو زموږ فرعون (دمصر) او اتباعو د ده ته نو ظلم وكړ (كافرسو) دوى په هغو (معجزاتو)،

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَقَالَ

فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُفْسِدِيْنَ	وَقَالَ
نو وګوره	څرنګه	سو	عاقبت	دمفسدينو	او وويل

نو وګوره څرنګه سو عاقبت (آخره خاتمه) د مفسدينو. او وويل

مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٤﴾

مُوْسٰى	يٰفِرْعَوْنُ	اِنِّيْ	رَسُوْلٌ	مِّنْ	رَّبِّ	الْعٰلَمِيْنَ
موسٰى	اى فرعونه!	بيشكه! زه	رسول يم	له (لورى)	د رب	دمخلوقاتو

موسٰى اى فرعونه! بيشكه! زه رسول يم له (لورى) د رب د عالميانو.

حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ قَدْ

حَقِيْقٌ	عَلٰٓى	اَنْ	لَّآ اَقُوْلَ	عَلَى	اللّٰهِ	اِلَّا	الْحَقَّ	قَدْ
قائم ثابت لايق ټينګ ولاړ يم	پر	دغه خبره	چي نه وايم	پر	الله	مګر	حق	په تحقيق

قائم ثابت لايق ټينګ ولاړ يم پر دغه خبره چي نه وايم پر الله مګر (وايم) حق (ربنتيا) په تحقيق

وَمَا وَجَدْنَا لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ ۚ تفسير: يعني په دوى كي اكثره خلګ موږ وعده پوره كوونكي پيدا نه كړل: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دوعدې څخه مراد د (الستُ عهد) دى چي په ازل كي دټول مخلوق د پيدا كولو څخه مخكي يي ددوى ټولو روحونه پيدا كړل او الله جل جلاله ورته وفرمايل (الستُ بربكم) يعني ايا زه ستاسي پروردګار نه يم؟ دغه وخت دټولو انسانانو روحونو داقرار او وعدې په طور سره جواب وركى (بلى) ولي نه: يعني خامخا ته زموږ رب يي دنيا ته چي راغلل نو اكثرو خلګو دازل داوعده هيره كړه خداى جل جلاله يي پرېښووى د مخلوق پرستى په لعنت كي ګرفتاره سول په دې وجه په دې آيت كي فرمايي چي موږ په دوى كي اكثره خلګ پر وعده پوره كولو پيدا نه كړل او حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي دوعدې څخه مراد وعده د ايمان ده لكه په قرآن كريم كي چي فرمايي (الا من اتخذ عند الرحمن عهدا) په دې كي دعهد څخه مراد عهد د ايمان او طاعت دى الخ.. (معرف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۱۷)

جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾

جِئۡتُكُم	بِبَيِّنَةٍ	مِّن	رَّبِّكُمۡ	فَأَرۡسِلۡ	مَعِيَ	بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
راوړی ده ما تاسی ته	ښکندہ معجزہ	له (لوری)	درب ستاسی	نو ولیږه	له ماسره	بنی اسرائیل

راوړی ده ماتاسی ته ښکنده (ښکاره) معجزه له (لوری د) رب ستاسی نو لیږه له ما سره بنی اسرائیل .

قَالَ إِن كُنتَ جِئۡتَ بِـَٔايَةٍ فَأۡتِ

قَالَ	إِن	كُنتَ	جِئۡتَ	بِـَٔايَةٍ	فَأۡتِ
وویل	که	ئی ته	چی راوړی دی وی	کومه معجزه	نو راحاضره کړه

وویل (فرعون) که ئی ته (ای موسیٰ) چه راوړی دی وی کومه معجزه نو راحاضره (راوړاندی) کړه

بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلۡقَىٰ عَصَاهُ

بِهَآ	إِن	كُنتَ	مِنَ	ٱلصَّٰدِقِينَ	فَأَلۡقَىٰ	عَصَاهُ
هغه	که	ئی ته	له	صادقانو	نو وغورځوله (موسیٰ)	همسا خپله

هغه (ماته) که ئی ته له صادقانو (ربتینو په دی دعوی خپله کښی) . نو وغورځوله (موسیٰ) همسا خپله

فَإِذَا هِيَ ثُعۡبَانٞ مُّبِينٞ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ

فَإِذَا	هِيَ	ثُعۡبَانٞ	مُّبِينٞ	وَنَزَعَ	يَدَهُۥ
نو له واره	هغه	اژدها وه	ښکاره	او وویست (موسیٰ)	(بنی) لاس خپل

نو له واره هغه اژدها وه ښکاره (چی پکښی نه ؤ شک د چا) . او وویست (موسیٰ بنی) لاس خپل

فَإِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن

فَإِذَا	هِيَ	بَيۡضَآءُ	لِلنَّٰظِرِينَ	قَالَ	ٱلۡمَلَأُ	مِن
نو ناڅاپه	هغه	تک سپین ؤ	د پاره د کتونکو	وویل	مشرانو	له

نو ناڅاپه هغه تک سپین (ځلیدونکی د تعجب موجب) ؤ د پاره د کتونکو . وویل مشرانو له

قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ﴿١٠٩﴾

قَوۡمِ	فِرۡعَوۡنَ	إِنَّ	هَٰذَا	لَسَٰحِرٌ	عَلِيمٞ
قومه	دفرعون	چی بیشکه!	دا (موسیٰ)	خامخا جادوګر دی	ډیر پوه

قومه د فرعون (سره له فرعونه) چی بیشکه! دا (موسیٰ) خامخا جادوګر دی ډیر پوه .

جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمۡ
تفسیر: یعني یوازي دا خبره نه ده چي ما هیڅ کله دروغ نه دي ویلي بلکي زما په دعوی باندي دلیل زما معجزې هم دي په دې وجه ددې تولو شیانو تقاضا داوه چي تاسي زما خبره واوری او ویه منی بني اسرآئیل چي تاسي غلامان جوړ کړي دي ددې څخه یي آزاد کړی او زما سره یي کی دفرعون یوه خبره بله هم پر غوږونو ونه لګیده دمعجزې لیدو مطالبه یي وکړه اووې ویل (ان كنت جئت بآية فات بها ان كنت من الصدقين) یعني که تا واقعي معجزه راوړې وي نو پیش یي کړه که په خپله خبره کي رښتینی یي حضرت موسی عليه السلام دده مطالبه ومنله او خپله لکړه یي پر مځکي راواچوله او غټ مار ځني جوړ سو (فاذا هى ثعبان مبين) ثعبان: لوی اژدها ته ویل کیږي: اوددې صفت یي مبین ذکر کی چي دا یي وښوول چي ددې همسا څخه مار جوړیدل څه داسي واقعه نه وه چي په تیاره کي یا په یو کنج کي داکار وسو چي څوک یي ونهویني او څوک یي بیا ووینی بلکي دا په یو ډک دربار کي د تولو په مخکي وسوه.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۲۱)

ع ۱۳ ۹ ۳

يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا

يُّرِيْدُ	اَنْ	يُّخْرِجَكُمْ	مِّنْ	اَرْضِكُمْ	فَمَاذَا
غواړي (موسیٰ)	دا چې	وباسي تاسې	له	مځکې ستاسې	نو څه

غواړي (موسیٰ) داچې وباسي تاسې (ای قبطیانو!) له مځکې ستاسې (چې مصر دی) نو (وویل فرعون مشرانو ته)

تَاْمُرُوْنَ ۝۱۱۰ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ

تَاْمُرُوْنَ	قَالُوْٓا	اَرْجِهْ	وَاَخَاهُ
امر کوئ تاسې؟	وویل	مهلت ورکړه دغه (موسیٰ) ته	او ورور د ده ته

امر (مصلحت او مشوره) کوئ تاسې؟. وویل (قطبیانو فرعون ته) مهلت ورکړه دغه (موسیٰ) ته او ورور د ده

وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ۝۱۱۱ يَاْتُوْكَ

وَاَرْسِلْ	فِي	الْمَدَآئِنِ	حٰشِرِيْنَ	يَاْتُوْكَ
او ولیږه	په	ښارونو کښې	راټولوونکی (دساحرینو، جادوګران)	چې راولی تا ته

او ولیږه په ښارونو کښې راټولوونکی (دساحرینو). چې راولی تاته

بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ۝۱۱۲ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ

بِكُلِّ	سٰحِرٍ	عَلِيْمٍ	وَجَآءَ	السَّحَرَةُ	فِرْعَوْنَ
هر	ساحر (جادوګر)	ډیر پوه	او راغلل	ساحران	فرعون ته

هر ساحر (جادو ګر) ډیر پوه (ماهر جادوګر). او راغلل ساحران (جادوګران) فرعون ته

قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ

قَالُوْٓا	اِنَّ	لَنَا	لَاَجْرًا	اِنْ	كُنَّا	نَحْنُ
وویل دغو ساحرانو	چې آیا بیشکه!	وی به موږ ته	خامخا ښه مزدوری	که	سوو موږ	هم دا موږ

وویل دغو جادوګرانو (فرعون ته) چې آیا بیشکه! وی به موږ ته خامخا ښه مزدوری که سوو موږ هم دا موږ

الْغٰلِبِيْنَ ۝۱۱۳ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ

الْغٰلِبِيْنَ	قَالَ	نَعَمْ	وَاِنَّكُمْ	لَمِنَ
غلبه کوونکی	وویل (فرعون)	هو !	او بیشکه! تاسې به	خامخا او وسئ زما له

غلبه کوونکی (پر موسیٰ). وویل (فرعون) هو! (وی به تاسې لره مزدوری) او بیشکه! تاسې به خامخا او وسئ زما له

يُرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ.. **په معجزه او جادو کي فرق:** الله ﷻ همیشه دانبیاوو (علیهم السلام) معجزې په داسي انداز سره ظاهروي چي که کتونکي لږ هم فکر په کښي وکي او عناد اختیاره نه کړي نو دمعجزې او سحر په فرق به په خپله پوه سي سحر کوونکي په عام طور سره په ناپاکی او ګندګی کي اوسي او څومره چي زیات په ناپاکی او ګندګی کي وي دومره ددوی جادو زیات کامیاب وي په خلاف دپیغمبرانو څخه چي پاکي او صفایي ددوی طبعیت ثانیه وي او داهم دالله ﷻ دطرفه څخه ښکاره فرق دی چي دنبوت ددعوه کوونکي سره دچا جادو هم نه چلیږي او دپوهي خاوندان خو اصل حقیقت پیژني چي په جادو سره کم شیان ظاهرېږي هغه ټول دطبعي دایرې په اسبابو کي وي فرق یوازي دومره دی چي دغه اسباب عامو خلګو ته ښکاره نه وي بلکي پټ اسباب دي په دې وجه دوی داسي ګڼي چي داکار بغیرد څخه ظاهري سبب څخه وسو په خلاف دمعجزې څخه چي په دې کي دطبعي اسبابو مطلق څه دخل نه وي دغه سیده په سیده دقدرت حق کار دی.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۲۳)

الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿١١٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰى اِمَّاۤ اَنْ تُلْقِيَ وَ اِمَّاۤ اَنْ

الْمُقَرَّبِيْنَ	قَالُوْا	يٰمُوْسٰى	اِمَّاۤ	اَنْ تُلْقِيَ	وَاِمَّاۤ	اَنْ
نژدې خلکو څخه	وويل جادوګرانو	چې اې موسیٰ	آيا	ته غورځوې (همسا خپله)	او يا	دا دې چې

مقربينو څخه (په مرتبه کښې). وويل جادوګرانو چې اې موسیٰ آيا ته غورځوې (همسا خپله) او يا دا دې چې

نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿١١٥﴾ قَالَ اَلْقُوْا ۚ فَلَمَّاۤ

نَّكُوْنَ	نَحْنُ	الْمُلْقِيْنَ	قَالَ	اَلْقُوْا	فَلَمَّاۤ
سو موږ	هم دا موږ	غورځوونکي	وويل (موسیٰ)	چې وغورځوئ تاسي	نو کله چې

سو موږ هم دا موږ (رومبي) غورځوونکي. وويل موسیٰ ساحرانو ته چې وغورځوئ تاسي (پړې او همساګانې)، نو کله چې

اَلْقَوْا سَحَرُوْۤا اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ

اَلْقَوْا	سَحَرُوْۤا	اَعْيُنَ	النَّاسِ	وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ	وَجَآءُوْ	بِسِحْرٍ
وغورځول دوی	نو جادو ئې وکړ	پر سترګو	دخلکو	او ويېرول دوی دا (خلک)	او راتله وکړه دوی	په جادو

وغورځول دوی نو جادو ئې وکړ پر سترګو د خلکو او ويېرول دوی دا (خلک) او راتله وکړه دوی په جادو

عَظِيْمٍ ﴿١١٦﴾ وَاَوْحَيْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَاِذَا

عَظِيْمٍ	وَاَوْحَيْنَاۤ	اِلٰى مُوْسٰۤى	اَنْ	اَلْقِ	عَصَاكَ	فَاِذَا
لوی سره	او وحی مو وليږه	موسیٰ ته	داسې چې	وغورځوه ته	همسا خپله	نو ناڅاپه

لوی سره. او وحی (حکم) مو وليږه موسیٰ ته داسې چې وغورځوه ته همسا خپله، نو ناڅاپه

هِيَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ

هِيَ	تَلْقَفُ	مَا	يَاْفِكُوْنَ	فَوَقَعَ	الْحَقُّ	وَبَطَلَ
دغې همسا	ښوی ئې تيرول	هغه شيان	چې جوړ کړي وو دغو	نو ثابت سو	حق	او باطل سو

دغې همسا ښوی ئې تيرول (نغړودل) هغه شيان چې جوړ کړي وو دغو (جادوګرانو). نو ثابت سو حق او باطل سو

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿١١٩﴾

مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	فَغُلِبُوْا	هُنَالِكَ	وَانْقَلَبُوْا	صٰغِرِيْنَ
هغه څه چې وو دوی	چې کول به ئې	نو مغلوب سول دوی	په هغه ځای کښې	او وګرځېدل دوی	خوار سپک

(ورک) سو هغه څه چې وو دوی چې کول به ئې. نو مغلوب سول دوی په هغه ځای کښې او وګرځېدل دوی خوار سپک.

قَالُوْا يٰمُوْسٰى اِمَّاۤ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّاۤ... **تفسير**: دالقاء معنى غورزول دي مراد دادى چې کله دمقابلې ميدان ته ورسيدل نو جادوګر حضرت موسى عليه السلام ته وويل چې اول يي ته غورزوې او که موږ مخکي غورزوونکي سو ؟دجادوګر داوينا دخپلي بې فکرى او لويي ښوولودپاره وه چې موږ ددې پرواه نه کوو چې ابتداء زموږ څخه وسي ځکه چې موږ په هرحالت کي پر خپل ځان اطمينان لرو ددوى دبيان داندازې څخه خو داسي معلوميږي چې غوښتله خو يي داچې اول وار ددوى سي مګر دقوت دښکاره کولو دپاره يي د حضرت موسى عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چې اول ته وار کول غواړې او که موږ يي وکو حضرت موسى عليه السلام ددوى په منشاء پوه سو نو په خپله معجزه دمکمل اطمينان په سبب يي اوله موقع وه دوى ته ورکړه او ويي فرمايل چې (القوا) يعني تاسي يي اول وغورزوى : او ابن کثير رحمه الله فرمايي چې جادوګر دحضرت موسى عليه السلام سره دادب او احترام معامله وکړه چې داولي موقع يي ده ته وړاندېز وکى ددغه ادب تاثير داوو چې الله جل جلاله دايمان د راوړلو توفيق ورکړى : (معرف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۲۸)

قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ... تفسير: په تاريخي رواياتو کي دي چي کله دجادوګرو سرداران مسلمانان سول نو چي دايي وليدل نو دفرعون دقوم څخه شپږو لکو کسانو ايمان راوړی پر حضرت موسی عليه السلام باندي او دهغه اعلان يي وکی ددې مقابلې او مناظرې څخه مخکي خو يوازي حضرت موسی عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام دفرعون مخالفين وه داوخت تر ټولو لوی جادوګران کم چي په قوم کي داقتدار مالکان وه او ددوی سره شپږ لکه عوام مسلمانان سول او يو لوی طاقت په مقابله کي راغی دغه وخت د فرعون پريشاني او ګډوګډ کيدل بې ځايه نه وه مګرده دا پته کړه او ديو چالاک او هوښيار سياستدان په انداز کي يي اول خو پر جادوګرانو دبغاوت الزام ولګوی چي تاسي د حضرت موسی عليه السلام سره پټ سازش جوړ کړی دی او دا کار مو خپل ملک او ملت ته دنقصان رسولو دپاره کړی دی او داسي وويل **(انّ هـذا لمكر مكرتموه فى المدينة)** يعني دا يو سازش دی کم چي تاسي دمقابلې ميدان ته تر راتلو مخکي په ښار کي په خپل مينځ کي کړی وو. (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۳۲)

وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ (۱۲۰) قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ

وَاُلْقِيَ	السَّحَرَةُ	سٰجِدِيْنَ	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	بِرَبِّ
او وغورځول سول	ساحران	په دی حال کښی چی سجده کوونکی وو	وويل جادوګرانو	ايمان مو راوړی دی	په رب

او وغورځول سول ساحران په دی حال کښی چی سجده کوونکی وو. وويل جادوګرانو ايمان مو راوړی دی په رب

الْعٰلَمِيْنَ (۱۲۱) رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ (۱۲۲) قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ

الْعٰلَمِيْنَ	رَبِّ	مُوْسٰى	وَهٰرُوْنَ	قَالَ	فِرْعَوْنُ	اٰمَنْتُمْ
دمخلوقاتو	(په) رب	دموسٰی	او هارون	وويل	فرعون	آيا ايمان راوړ تاسی

دعالميانو. (په) رب د موسٰی او (رب د) هارون. وويل فرعون آيا ايمان راوړ تاسی

بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ

بِهٖ	قَبْلَ	اَنْ	اٰذَنَ	لَكُمْ	اِنَّ	هٰذَا	لَمَكْرٌ	مَّكَرْتُمُوْهُ
په دغه	پخوا له هغه	چی	اجازه وکړم زه	تاسی ته	بيشکه!	دا کار	خامخا يو مکر دی	چی مکر کړی دی تاسی هغه

په دغه (موسٰی) پخوا له هغه چی اجازه وکړم زه تاسی ته، بيشکه! دا کار خامخا يو مکر دی چی مکر کړی دی تاسی هغه

فِى الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ (۱۲۳)

فِى	الْمَدِيْنَةِ	لِتُخْرِجُوْا	مِنْهَآ	اَهْلَهَا	فَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ
په	دا ښار کښی	دپاره د دی چی وباسئ تاسو	له دی ښاره	اهل د دی	نو ژر به	پوه سئ تاسی

په دا ښار کښی دپاره د دی چی وباسئ تاسو له دی ښاره اهل د دی نو ژر به پوه سئ تاسی.

لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ

لَاُقَطِّعَنَّ	اَيْدِيَكُمْ	وَاَرْجُلَكُمْ	مِّنْ	خِلَافٍ	ثُمَّ
خامخا به پری کوم زه هرومرو	لاسونه ستاسی	او پښی ستاسی	سره	مخالفی	بيا به

خامخا به پری کوم زه هرومرو لاسونه ستاسی او پښی ستاسی سره مخالفی بيا به

لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ (۱۲۴) قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ (۱۲۵)

لَاُصَلِّبَنَّكُمْ	اَجْمَعِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّآ	اِلٰى	رَبِّنَا	مُنْقَلِبُوْنَ
خامخا په دار کړم زه ضرور تاسی	ټول	وويل جادوګرانو	بيشکه! موږ	په لوری	د رب خپل	بيرته ورتلونکی يو

خامخا په دار کړم زه ضرور تاسی ټول. وويل جادوګرانو بيشکه! موږ په لوری د رب خپل بيرته ورتلونکی يو.

وَمَا تَنۡقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنۡ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا

وَمَا تَنۡقِمُ	مِنَّآ	اِلَّآ	اَنۡ	اٰمَنَّا	بِاٰيٰتِ	رَبِّنَا	لَمَّا
او عیب نه کښې	له موږ	مگر	دغه کار	چې ایمان راوړی دی موږ	په آیتونو	د رب خپل	کله چې

او عیب نه کښې (ته ای فرعونه!) له موږ مگر دغه کار چې ایمان راوړی دی موږ په آیتونو د رب خپل کله چې

جَآءَتۡنَا ؕ رَبَّنَآ اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَّتَوَفَّنَا مُسۡلِمِيۡنَ ﴿۱۲۶﴾ ع

جَآءَتۡنَا	رَبَّنَآ	اَفۡرِغۡ	عَلَيۡنَا	صَبۡرًا	وَّتَوَفَّنَا	مُسۡلِمِيۡنَ
راغله موږ ته	ای ربه زموږ	راتوی کړه	پر موږ	صبر	او مړه کړه موږ	په داسی حال کښې چې مسلمانان یو

راغله موږ ته ای ربه زموږ راتوی کړه پر موږ صبر او مړه کړه موږ په داسی حال کښې چې مسلمانان یو (خاتمه مو په اسلام کړه)

ع ۱۴ / ۱۸ / ۴

وَقَالَ الۡمَلَاُ مِنۡ قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ اَتَذَرُ مُوۡسٰى

وَقَالَ	الۡمَلَاُ	مِنۡ	قَوۡمِ	فِرۡعَوۡنَ	اَتَذَرُ	مُوۡسٰى
او وویل	مشرانو	له	قوم	د فرعون	آیا (ته) پرېږدی	موسیٰ

او وویل مشرانو له قوم د فرعون آیا (ته) پرېږدی موسیٰ

وَقَوۡمَهٗ لِيُفۡسِدُوۡا فِى الۡاَرۡضِ وَيَذَرَكَ

وَقَوۡمَهٗ	لِيُفۡسِدُوۡا	فِى	الۡاَرۡضِ	وَيَذَرَكَ
او قوم د ده	له پاره د دې چې فساد وکړی دوی	په	مځکه کښې	او پرېږدی (عبادت ستا)

او قوم د ده له پاره د دې چې فساد وکړی دوی په مځکه (په ملک د مصر) کښې او پرېږدی (عبادت ستا)

وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡىٖ

وَاٰلِهَتَكَ	قَالَ	سَنُقَتِّلُ	اَبۡنَآءَهُمۡ	وَنَسۡتَحۡىٖ
او د خدایانو ستا	وویل فرعون	ژر به ووژنو موږ	ځامن د دوی	او ژوندی به پرېږدو موږ

او د خدایانو (بتانو) ستا. وویل فرعون ژر به ووژنو موږ ځامن د دوی (چې نسل ئې ورک سی) او ژوندی به پرېږدو موږ

نِسَآءَهُمۡ ۚ وَاِنَّا فَوۡقَهُمۡ قٰهِرُوۡنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ مُوۡسٰى

نِسَآءَهُمۡ	وَاِنَّا	فَوۡقَهُمۡ	قٰهِرُوۡنَ	قَالَ	مُوۡسٰى
ښځې د دوی	او بیشکه! موږ	د پاسه د دغو	زورور یو	وویل	موسیٰ

ښځې (لونې) د دوی (خپل خدمت ته) او بیشکه! موږ (قبطیان) د پاسه د دغو (سبطیانو) زورور یو. وویل موسیٰ

وَمَا تَنۡقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنۡ اٰمَنَّا
تفسیر: دفکر کولو مقام دی چې هغه خلگ چې تر پرون پورې په ډیرناکاره کفر کې اخته وه چې دفرعون په شان یوبې کاره انسان یې خدای منی دخدای ﷻ دشان او لویې څخه بالکل نا اشناه وه په دوی کې یک دم داسې انقلاب راغی چې اوس دتیرو ټولو عقیدو او عملونو څخه یکسر توبه کوونکي جوړ سوه پر حق دین دومره پاخه پاته سول چې روح ورکولو ته هم تیار سوه او ددنیا څخه رخصت کیدل ځکه خوښوي چې خپل رب ته به ولاړسي او یوازې دا نه چې دایمان قوت او د الله ﷻ په لاره کې دجهاد همت په دوی کې پیدا سو بلکې معلومیږي چې دحقیقي علم او معرفت دروازې دوی ته راخلاصې سوې دغه وجه ده چې دفرعون په مقابله کې دغه دعا وکړه (ربّنا افرغ علینا صبرا وتوفّنا مسلمین) یعني ای زموږ پروردگاره موږ ته کامل صبر راکې او داسلام په حالت کې موږ ته وفات راکې او دثابت قدمی دعایې وکړه دااشاره ده ددوی دمعرفت طرف ته چې الله ﷻ ونه غواړي دانسان قصد او همت هیڅ هم نه سي کولای (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۳۴)

لِقَوۡمِهِ اسۡتَعِيۡنُوۡا بِاللّٰهِ وَاصۡبِرُوۡا ۚ اِنَّ الۡاَرۡضَ لِلّٰهِ ۙ قف

لِقَوۡمِهِ	اسۡتَعِيۡنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَاصۡبِرُوۡا	اِنَّ	الۡاَرۡضَ	لِلّٰهِ
قوم خپل ته	مدد غواړئ	له الله څخه	او صبر کوئ	بیشکه!	چې دغه مځکه	خاص الله لره ده

قوم خپل ته (دپاره د تسلی) مدد غواړئ له الله څخه او صبر کوئ، بیشکه! چې دغه مځکه خاص الله لره ده

يُوۡرِثُهَا مَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ ؕ وَالۡعَاقِبَةُ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۲۸﴾

يُوۡرِثُهَا	مَنۡ	يَّشَآءُ	مِنۡ	عِبَادِهٖ	وَالۡعَاقِبَةُ	لِلۡمُتَّقِيۡنَ
وارث گرځوی د دی	هغه څوک	چې اراده وفرمائی	له	بندگانو خپلو څخه	او نېه خاتمه	پرهیزگارانو ته ده

وارث گرځوی (الله) د دی (مځکی) هغه څوک چې اراده وفرمائی له بندگانو خپلو څخه او ښه خاتمه پرهیزگارانو ته ده.

قَالُوۡۤا اُوۡذِيۡنَا مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تَاۡتِيَنَا

قَالُوۡۤا	اُوۡذِيۡنَا	مِنۡ قَبۡلِ	اَنۡ	تَاۡتِيَنَا
وویل بنی اسرائیلو	چې ایذاء رسولی سوی ده موږ ته	پخوا له هغه	چې	راغلی وی ته (موسیٰ) موږ ته

وویل بنی اسرائیلو (موسیٰ ته) چې ایذاء رسولی سوی ده موږ ته پخوا له هغه چې راغلی وی ته (ای موسیٰ) موږ ته،

وَمِنۡۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمۡ اَنۡ يُّهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ

وَمِنۡۢ بَعۡدِ	مَا جِئۡتَنَا	قَالَ	عَسٰى	رَبُّكُمۡ	اَنۡ يُّهۡلِكَ	عَدُوَّكُمۡ
او له وروسته	د هغه چې راغلی ته موږ ته	وویل (موسیٰ)	نژدی ده	چې رب ستاسی	هلاک کړی	دښمن ستاسی

او له وروسته د هغه چې راغلی ته موږ ته وویل (موسیٰ) نژدی ده چې رب ستاسی هلاک کړی دښمن ستاسی

وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِى الۡاَرۡضِ فَيَنۡظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۲۹﴾ ع

وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ	فِى	الۡاَرۡضِ	فَيَنۡظُرَ	كَيۡفَ	تَعۡمَلُوۡنَ
او خلیفه کړی تاسی	په	دغی مځکی کښی	بیا به گوری (الله)	چې څرنگه	عمل کوئ تاسی

او خلیفه کړی تاسی په دغی مځکی کښی بیا به گوری (الله) چې څرنگه عمل کوئ تاسی.

۱۵ ع ۵

وَلَقَدۡ اَخَذۡنَاۤ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ بِالسِّنِيۡنَ وَنَقۡصٍ

وَلَقَدۡ	اَخَذۡنَاۤ	اٰلَ فِرۡعَوۡنَ	بِالسِّنِيۡنَ	وَنَقۡصٍ
او خامخا په تحقیق	نیولی ؤ موږ	قوم د فرعون	په کلونو د قحطی سره	او په نقصان سره

او خامخا په تحقیق نیولی ؤ موږ قوم د فرعون په کلونو د قحطی سره او په نقصان سره

اسۡتَعِيۡنُوۡا بِاللّٰهِ وَاصۡبِرُوۡا

تفسیر: د مشکلاتو او مصیبتونو څخه د نجات اکسیر نسخه:

حضرت موسی علیه السلام بني اسرائیلوته چې کمه حکیمانه نسخه پر دښمن دغالبه کیدو دپاره تلقین فرمایلې وه چې فکر پر وسي نو دا هم هغه اکسیره نسخه ده چې هیڅکله نه خطا کیږي چې تر دې وروسته کامیابي یقیني وي ددې نسخې اولنی جز دالله جل جلاله څخه مدد غوښتل دي کم چې ددې نسخې اصلي روح دی وجه داده چې دکائناتو خالق چې دچا پر مدد باندي وي نو دټولو کائناتو دمدد مخ دده طرف ته راگرځي ځکه چې ټول کائنات دهغه دحکم تابع دي (خاک وباد وآب وآتش بنده اند، بامن وتومرده باحق زنده اند) یعني خاوره، باد، اوبه، او اور دهغه دحکم تابعداره دي ما او تاته مړه دي خودخدای پاک جل جلاله سره ژوندي دي: په حدیث شریف کې دي چې کله الله جل جلاله د یو کار اراده وفرمایي نو دهغه اسباب خود په خوده تیاریږي په دې وجه ددښمن په مقابله کې تر لویو لا لوی قوت دانسان دپاره دومره کار نه سي کولای څومره چې دالله جل جلاله څخه دا مدادپه طلب کول کیږي.

(معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۳۹)

مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ ﴿١٣٠﴾ فَاِذَا جَآءَتۡهُمُ

مِّنَ الثَّمَرٰتِ	لَعَلَّهُمۡ	يَذَّكَّرُوۡنَ	فَاِذَا	جَآءَتۡهُمُ
د میوو	دپاره د دی	چې پند واخلی دوی	نو کله چې به	راغله دوی ته

د میوو دپاره د دی چې پند واخلی دوی. نو کله چې به راغله دوی ته

الۡحَسَنَةُ قَالُوۡا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنۡ تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٌ

الۡحَسَنَةُ	قَالُوۡا	لَنَا هٰذِهٖ	وَاِنۡ	تُصِبۡهُمۡ	سَيِّئَةٌ
حسنه	نو ویل به دوی	چې موږ لره ده هم دا	او که	وبه رسیدله دوی ته	بدی

حسنه (ښیګڼه پراخی او غنا) نو ویل به دوی چې موږ لره ده هم دا او که وبه رسیدله دوی ته سیئه (کومه بد حالی)

يَّطَّيَّرُوۡا بِمُوۡسٰى وَمَنۡ مَّعَهٗ ؕ اَلَاۤ اِنَّمَا

يَّطَّيَّرُوۡا	بِمُوۡسٰى	وَمَنۡ	مَّعَهٗ	اَلَاۤ	اِنَّمَا
نو بدفالی به ئې نیوله	په موسیٰ باندی	او په هغه چا چې	وو به له ده سره	واورئ خبردار سئ	بیشکه ! هم داخبره ده

نو بدفالی به ئې نیوله په موسیٰ باندی او په هغه چا چې وو به له ده سره (له مسلمانانو) واورئ خبردار سئ بیشکه ! هم داخبره ده

طٰۤئِرُهُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوۡا مَهۡمَا

طٰۤئِرُهُمۡ	عِنۡدَ	اللّٰهِ	وَلٰـكِنَّ	اَكۡثَرَهُمۡ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ	وَقَالُوۡا	مَهۡمَا
چې سبب د بد فالی د دوی	په نزد	دالله دی	ولیکن	زیات د دوی	نه پوهیږی	او ویل به دوی	هر شی چې

چې سبب د بدفالی د دوی په نزد د الله دی ولیکن زیات د دوی نه پوهیږی. او ویل به دوی هر شی چې

تَاۡتِنَا بِهٖ مِنۡ اٰيَةٍ لِّتَسۡحَرَنَا بِهَا ۙ فَمَا نَحۡنُ

تَاۡتِنَا	بِهٖ	مِنۡ	اٰيَةٍ	لِّتَسۡحَرَنَا	بِهَا	فَمَا نَحۡنُ
راوړی ته موږ ته	هغه	له	دلیل ښخه	له پاره د دی چې جادو وکړی ته پر موږ باندی	په هغه سره	نو نه یو موږ

راوړی ته موږ ته هغه (شی) له دلیل (معجزی) ښخه له پاره د دی چې جادو وکړی ته پر موږ باندی په هغه سره نو نه یو موږ

لَكَ بِمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٣٢﴾ فَاَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ الطُّوۡفَانَ وَالۡجَرَادَ وَالۡقُمَّلَ

لَكَ	بِمُؤۡمِنِيۡنَ	فَاَرۡسَلۡنَا	عَلَيۡهِمُ	الطُّوۡفَانَ	وَالۡجَرَادَ	وَالۡقُمَّلَ
تالره	تصدیق کوونکی	نو ولیږه موږ	پر دوی	طوفان	او ملخان	او ښپیږی

تا لره تصدیق کوونکی. نو ولیږه موږ پر دوی طوفان او ملخان او ښپیږی

فَاِذَا جَآءَتۡهُمُ الۡحَسَنَةُ قَالُوۡا لَنَا هٰذِهٖ **تفسیر**: يعني کله چي دي خلګوته به څه ګټه ارام او راحت حاصل سونو دا به يي ويل چي دا زموږ حق دی موږ ته يي حاصليدل پکار وه او کله چي به وربانـدي څه مصيبت او بدي راغله نو ويل به يي چي داد موسی علیه السلام او دده دملګرو بد بختي ده الله جل جلاله ددوی په جواب کي فرمايي (الا انّما طائرهم عند الله ولکنّ اکثرهم لا يعلمون) دلفظ د طائر لغوي معنی ده (مرغه) عربو به دمرغانو دراسته او چپه طرف ته دالوتلو څخه د ښو او بدو فالونو مطلبونه اخيستل په دي وجه مطلق فال ته به يي هم طائر وايه په دي آيت کي دطائر هم دا معنی ده او مطلب دآيت دادی چي ددوی فال ښه او بد هرڅه چي هم وي دا ټول دالله جل جلاله دطرفه څخه دي هرڅه چي په دي عالم کي ظاهريږي دا ټول دالله جل جلاله ده طرفه څخه دي او دهغه قدرت او رضا ده: نه په دي کي دچا دبدبختی څه دخل سته او نه دبرکت دا ټول ددوی کچه خيالونه او جهالت دی چي دمرغانو پر الوتنو او کښينستلو باندي ښه او بد فالونه نيسي او دخپل مقصد بنيادپر دوی باندي ايږدي.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٤١)

وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ فَاسْتَكْبَرُوْا

وَالضَّفَادِعَ	وَالدَّمَ	اٰيٰتٍ	مُّفَصَّلٰتٍ	فَاسْتَكْبَرُوْا
او چنگښې	او وینې	حال دا (چې دغه شیان)واضح دلائل وه	جلا جلا کړې سوې	نو تکبر وکړ دوی

او چنگښې او وینې حال دا (چې دغه شیان) واضح دلائل وه سره بیل بیل کړې سوې نو تکبر وکړ دوی

وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ۱۳۳ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ

وَكَانُوْا	قَوْمًا	مُّجْرِمِيْنَ	وَلَمَّا	وَقَعَ	عَلَيْهِمُ	الرِّجْزُ
او وو دوی	قوم	ګنهګاران	او کله چې	واقع سو	پر دغو	کوم عذاب

او وو دوی قوم ګنهګاران. او کله چې واقع سو پر دغو (فرعونیانو) کوم عذاب (له دغو ذکر سویو عذابونو)

قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ لَئِنْ

قَالُوْا	يٰمُوْسَى	ادْعُ	لَنَا	رَبَّكَ	بِمَا عَهِدَ	عِنْدَكَ	لَئِنْ
ویل به دوی	ای موسیٰ	دعاء وکړه	له پاره زموږ	له رب خپل څخه	په هغه سره چې وعده ئې کړې وه	له تاسره	قسم دی خامخا

ویل به دوی ای موسیٰ دعاء وکړه له پاره زموږ له رب خپل څخه په هغه سره چې وعده ئې کړې وه له تا سره ، قسم دی خامخا

كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ

كَشَفْتَ	عَنَّا	الرِّجْزَ	لَنُؤْمِنَنَّ	لَكَ	وَلَنُرْسِلَنَّ	مَعَكَ
که لرې کړ	تا له موږ	دغه عذاب	نو خامخا به ایمان راوړو هرومرو	پر تا	او خامخا به ولیږو	له تاسره

که لرې کړ تا له موږ دغه عذاب نو خامخا (موږ) به ایمان راوړو هرومرو په تا او خامخا به ولیږو له تا سره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۱۳۴ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى

بَنِيْٓ	اِسْرَآءِيْلَ	فَلَمَّا	كَشَفْنَا	عَنْهُمُ	الرِّجْزَ	اِلٰٓى
بنی	اسرائیل	نو کله چې	لرې کړ موږ	له دوی	دغه عذاب	تر هغی

بنی اسرائیل. نو کله چې لرې کړ موږ له دوی دغه عذاب تر هغی

اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ۱۳۵ فَانْتَقَمْنَا

اَجَلٍ	هُمْ	بٰلِغُوْهُ	اِذَا هُمْ	يَنْكُثُوْنَ	فَانْتَقَمْنَا
نیټې پورې	چې دوی	رسیدونکي وو هغی ته	ناڅاپه دوی	هغه وعده ماته کړه	پس اراده د بدل اخیستو وفرمایله موږ

نیټې پورې چې دوی رسیدونکي وو هغی ته ناڅاپه دوی هغه وعده ماته کړه. پس اراده د بدل اخیستو وفرمایله موږ

وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ. تفسیر: په ذکر سوو ایاتونو کي دفرعونیانو او دحضرت موسی علیه السلام باقي قصه ذکر ده چي دفرعون ساحرانو دحضرت موسی علیه السلام په مقابله کي وبا یلله او ایمان یي راوړی مګر دفرعون قوم هم داسي پر خپله سرکښي او کفر باندي ټینګ پاته سو تر دې واقعې وروسته د تاریخي روایاتو موافق حضرت موسی علیه السلام شل کاله په مصر کي مقیم پاته سو دې خلګو ته یي دالله جل جلاله پیغام اوروی او دحق طرف ته به یي دعوت ورکوی او په دې موده کي الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام ته نهه (۹) معجزې ورکړې دکمو په ذریعه چي دفرعونیانو خبرول او پرلاري کول مقصود وو په قرآن کریم کي په (ولقد آتینا موسی تسع آیات بینات) کي ددې نهو ۹ معجزو بیان سوی دی په دې نهه معجزو کي تر ټولو اول دوې معجزې سپین لاس او لکړه خو دفرعون په دربار کي ښکاره سوي وي او ددې دوو معجزو په ذریعه دجادوګر په مقابله کي حضرت موسی علیه السلام فتح حاصله کړه اوفرعون بدبخته ناکامه سو الخ: (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۴۴)

مِنۡهُمۡ فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ فِي الۡيَمِّ بِاَنَّهُمۡ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا

مِنۡهُمۡ	فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ	فِي	الۡيَمِّ	بِاَنَّهُمۡ	كَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِنَا
له دوی څخه	نو غرق کړل موږ دوی	په	بحر (کښی)	په سبب د دی چی دوی	به تکذیب کاوه	په آیتونو زموږ

له دوی څخه نو غرق کړل موږ دوی (تول له څرمی) په بحر (کښی) په سبب د دی چی دوی به تکذیب کاوه په آیتونو زموږ

وَكَانُوۡا عَنۡهَا غٰفِلِيۡنَ ۝١٣٦ وَاَوۡرَثۡنَا الۡقَوۡمَ الَّذِيۡنَ

وَكَانُوۡا	عَنۡهَا	غٰفِلِيۡنَ	وَاَوۡرَثۡنَا	الۡقَوۡمَ	الَّذِيۡنَ
او وو دوی	له هغو	غافلان	او په میراث ورکړه موږ	هغه قوم ته	چی

او وو دوی له هغو (آیتونو څنی) غافلان. او ورسته له پخوانیو څخه ورکړه موږ هغه قوم ته چی

كَانُوۡا يُسۡتَضۡعَفُوۡنَ مَشَارِقَ الۡاَرۡضِ وَمَغَارِبَهَا

كَانُوۡا	يُسۡتَضۡعَفُوۡنَ	مَشَارِقَ	الۡاَرۡضِ	وَمَغَارِبَهَا
وو دوی	چی کمزوری ګڼل کیدل	په مشرقونو د	مځکی	او مغربونو مځکی

وو دوی چی کمزوری ګڼل کیدل مشرقی (اطراف د) مځکی او مغربی (اطراف د) مځکی

الَّتِيۡ بٰرَكۡنَا فِيۡهَا ؕ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ الۡحُسۡنٰى عَلٰى

الَّتِيۡ	بٰرَكۡنَا	فِيۡهَا	وَتَمَّتۡ	كَلِمَتُ	رَبِّكَ	الۡحُسۡنٰى	عَلٰى
هغه چی	برکت اچولی ؤ موږ	په هغی کښی	او پوره سوه	خبره	د رب ستاسی	چی نیکه ده	پر

هغه چی برکت اچولی ؤ موږ په هغی کښی ، او پوره سوه کلمه (او وفاء ته ورسیده وعده) د رب ستاسی چی نیکه ده پر

بَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ ۙ بِمَا صَبَرُوۡا ؕ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ

بَنِيۡۤ	اِسۡرَآءِيۡلَ	بِمَا	صَبَرُوۡا	وَدَمَّرۡنَا	مَا كَانَ	يَصۡنَعُ
بنی	اسرائیلو	په سبب	د صبر کولو د دوی	او خرابی کړی موږ	هغه چی وی	چی ودانولی به

بنی اسرائیلو په سبب د صبر کولو د دوی (پر ظلمونو د فرعونیانو) او خرابی کړی موږ هغه چی وی کلکی ودانی چی ودانولی به

الربع

فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهٗ وَمَا كَانُوۡا يَعۡرِشُوۡنَ ۝١٣٧ وَجٰوَزۡنَا

فِرۡعَوۡنُ	وَقَوۡمُهٗ	وَمَا	كَانُوۡا	يَعۡرِشُوۡنَ	وَجٰوَزۡنَا
فرعون	او قوم د ده	او هغه چی	وو دوی	چی لوړولی به دوی (هغه)	او تیر کړل موږ

فرعون او قوم د ده او هغه چی وو دوی چی لوړولی به دوی (هغه)، او تیر کړل موږ

وَاَوۡرَثۡنَا الۡقَوۡمَ الَّذِيۡنَ كَانُوۡا. تفسیر: په ذکر سوو ایاتونو کي ددوی دبد انجام او دبني اسرائیلو دفتح او د کامرانی ذکر دی په اولني آیت کي ارشاد دی (واورثنا القوم الذین کانوا یستضعفون مشارق الارض ومغاربها اللتی برکنا فیها) یعني کم قوم چي کمزوری ګڼل کیدی هغه موږ ددغه مځکي دمشرق او مغرب مالکان جوړ کړل په کمه کي چي موږ برکتونه اینبي دي که دلته فکر وسي داسي یي ونه فرمایل چي کم قوم ضعیف او کمزوری وو بلکي دا یي وفرمایل چي کم قوم فرعون ضعیف اوکمزوری ګڼلی وو په دې کي اشاره دې طرف ته ده چي الله ﷻ دکم قوم په مددباندي وي هغه په حقیقت کي هیڅکله کمزوری او ذلیله نه وي که څه هم څه وخت ددوی دظاهري حال څخه نور خلګ دوکه وخوري او دوی کمزوري وګڼي مګر اخر بیا ټولو ته معلومه سي چي هغه خلګ کمزوري او ذلیله نه وه ځکه چي په حقیقت کي قوت اوعزت دالله ﷻ په قبضه کي دی (وتعزّ من تشآء وتذلّ من تشآء) یعني ذلت هم دده په لاس کي دی او عزت هم دده په لاس کي دی: (معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٤٩)

بَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ الۡبَحۡرَ فَاَتَوۡا عَلٰى قَوۡمٍ يَّعۡكُفُوۡنَ

بَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ	الۡبَحۡرَ	فَاَتَوۡا	عَلٰى	قَوۡمٍ	يَّعۡكُفُوۡنَ
بنی اسرائيل	له بحره	نو راغلل دوی	پر	يوه قوم	چی تل به ولاړ ؤ

بنی اسرائيل له بحره نو راغلل دوی پر يوه قوم چی تل به ولاړ ؤ

عَلٰٓى اَصۡنَامٍ لَّهُمۡ‌ ۚ قَالُوۡا يٰمُوۡسَى اجۡعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا

عَلٰٓى	اَصۡنَامٍ	لَّهُمۡ	قَالُوۡا	يٰمُوۡسَى	اجۡعَلْ	لَّنَآ	اِلٰهًا
پر	بتانو	چی وو دوی لره	نو وويل (بنی اسرائيلو)	ای موسٰی!	جوړ کړه	موږ لره (هم)	يو معبود

په (عبادت د) بتانو چی وو دوی لره، نو ويل (بنی اسرائيلو) ای موسٰی! جوړ کړه موږ لره (هم) يو معبود

كَمَا لَهُمۡ اٰلِهَةٌ‌ ؕ قَالَ اِنَّكُمۡ قَوۡمٌ تَجۡهَلُوۡنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ

كَمَا لَهُمۡ	اٰلِهَةٌ	قَالَ	اِنَّكُمۡ	قَوۡمٌ	تَجۡهَلُوۡنَ	اِنَّ	هٰٓؤُلَآءِ
لکه چی دی دوی لره	معبودان	وويل	بيشکه! تاسی	داسی يو قوم يئ	چی نه پوهيږئ	بيشکه !	دغه (بت پرستان)

لکه چی دی دوی لره معبودان وويل (موسٰی) بيشکه! تاسی داسی يو قوم يئ چی نه پوهيږئ. بيشکه ! دغه (بت پرستان)

مُتَبَّرٌ مَّا هُمۡ فِيۡهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ

مُتَبَّرٌ	مَّا هُمۡ	فِيۡهِ	وَبٰطِلٌ	مَّا كَانُوۡا	يَعۡمَلُوۡنَ	قَالَ
هلاک دی	هغه دين چی دوی	په هغه کبنی دی	او باطل دی	هغه عمل چی وی دوی	چی کوی (ئی)	وويل

هلاک دی هغه دين چی دوی په هغه کبنی دی او باطل دی هغه عمل چی وی دوی چی کوی (ئی). وويل (موسٰی)

اَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡغِيۡكُمۡ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۴۰﴾

اَغَيۡرَ	اللّٰهِ	اَبۡغِيۡكُمۡ	اِلٰهًا	وَّهُوَ	فَضَّلَكُمۡ	عَلَى	الۡعٰلَمِيۡنَ
آيا بی له	الله	ولټوم زه تاسی ته	معبود	حال دا چی هم دغه	الله فضيلت درکړی تاسی ته	پر	ټولو خلکو

آيا بی له الله ولټوم زه تاسی ته (بل) معبود حال دا چی هم دغه الله فضيلت درکړی تاسی ته پر ټولو خلکو دزمانی خپلی.

وَاِذۡ اَنۡجَيۡنٰكُمۡ مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ سُوۡٓءَ

وَاِذۡ	اَنۡجَيۡنٰكُمۡ	مِّنۡ	اٰلِ	فِرۡعَوۡنَ	يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ	سُوۡٓءَ
او هغه وخت	چی نجات درکړی ؤ موږ تاسی ته	له	تابعانو	د فرعون	چی رساوه به ئی تاسی ته	سخت

او (ياد کړئ) هغه وخت چی نجات درکړی ؤ موږ تاسی ته له تابعانو د فرعون چی رساوه به ئی تاسی ته سخت

فَاَتَوۡا عَلٰى قَوۡمٍ يَّعۡكُفُوۡنَ عَلٰٓى اَصۡنَامٍ تفسير:

يعني موږ بني اسرآئيل پر درياب پوري ايستل بني اسرآئيلو ته دفرعونيانو په مقابله کي معجزانه کاميابي حاصله سوه او اطمينان ورته حاصل سونو ددې هغه اثر وسو کم چي پر عامو قومونو باندي دعيش، او عيشرت او عزت او دولت کيږي چي په دوی کي جاهلانه کارونه پيدا سول، واقعه داسي وسوه چي اوس اوس کله چي دا قوم د حضرت موسی عليه السلام په معجزه سره تر درياب پوري وتل او دفرعون دټول قوم دغرقيد وتماشه يي په خپلو سترگو وليده چي لږ مخ ته ولاړل نو پر يوه داسي قوم باندي راغلل چي دمختلفو بتانو په عبادت کي لگياوه دبني اسرآئيلو ددوی دا طريقه څه خوښه غوندي سوه او حضرت موسی عليه السلام ته يي درخواست وکی چي لکه څنگه چي ددې خلکو ډير معبودان دي ته زموږ دپاره هم څه داسي معبود جوړ کړه چي موږ هم يو ليدونکی شی مخ ته کښيږدو او عبادت يي کوو دالله جل جلاله ذات خو موږ ته مخامخ نه دی حضرت موسی عليه السلام ورته وفرمايل (انکم قوم تجهلون) يعني په تاسي خلگو کي ډيرلوی جهالت دی الخ.

(معارف القرآن ج ۳ پ۹ ص ۵۲)

ع ١٢ ١٦ ٢

الْعَذَابِ يُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَ يَسْتَحْيُوْنَ

الْعَذَابِ	يُقَتِّلُوْنَ	اَبْنَآءَكُمْ	وَ يَسْتَحْيُوْنَ
عذاب	چي وژل به ئې	ځامن ستاسي	او ژوندی به ئې پرېښودی

عذاب، چي وژل به ئې ځامن ستاسي (چي نسل مو قطع سي) او ژوندی به ئې پرېښودی

نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿١٤١﴾ ع

نِسَآءَكُمْ	وَفِيْ	ذٰلِكُمْ	بَلَآءٌ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	عَظِيْمٌ
ښځې ستاسي	او په	دغه کښي	ازمېښتۇ	له	رب ستاسي څخه	ډېر لوی

ښځې (لوني) ستاسي (دپاره د خدمت) او په دغه کښي ازمېښتۇ له (طرفه د) رب ستاسي څخه ډېر لوی.

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّ اَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ

وَوٰعَدْنَا	مُوْسٰى	ثَلٰثِيْنَ	لَيْلَةً	وَّ اَتْمَمْنٰهَا	بِعَشْرٍ
او وعده کړې وه موږ	له موسٰی سره	دېرش	شپې	او بیا پوره کړې موږ هغه دېرش	په لسو نورو

او (یاد کړه هغه وخت چي) وعده کړې وه موږ له موسٰی سره دېرش شپې او بیا پوره کړې موږ هغه دېرش شپې په لسو

فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوْسٰى لِاَخِيْهِ

فَتَمَّ	مِيْقَاتُ	رَبِّهٖٓ	اَرْبَعِيْنَ	لَيْلَةً	وَقَالَ	مُوْسٰى	لِاَخِيْهِ
نو پوره سوه	وعده	د رب د ده	څلوېښت	شپې	او وويل	موسٰی	ورور خپل

(نورو) نو پوره سوه وعده د رب د ده څلوېښت شپې (او ورځې) ، او وويل موسٰی ورور خپل

هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ

هٰرُوْنَ	اخْلُفْنِيْ	فِيْ	قَوْمِيْ	وَاَصْلِحْ	وَلَا تَتَّبِعْ	سَبِيْلَ
هارون ته	چي خليفه اوسه زما	په	دی قوم زما کښي	او اصلاح کوه	او متابعت مه کوه	دلاری

هارون ته (طور ته د خپل تګ په وخت کی) چي خليفه اوسه زما په دی قوم زما کښي او اصلاح کوه او متابعت مه کوه د لاری

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ

الْمُفْسِدِيْنَ	وَلَمَّا	جَآءَ	مُوْسٰى	لِمِيْقَاتِنَا	وَكَلَّمَهٗ
د مفسدانو	او کله چي	راغی	موسٰی	وعده سوی وخت زموږ ته	او کلام وکړ له دغه سره

د مفسدانو. او کله چي راغی (راورسيد) موسٰی موعود وخت زموږ ته او کلام وکړ له دغه (موسٰی) سره

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً

تفسير: په دې آيت کي دحضرت موسی ﷺ او بني اسرآئيلو هغه واقعه ذکرده کمه چي دفرعون تر غرقيدو او دبني اسرائيلو تر مطمئن کيدووروسته مخ ته راغله چي بني اسرائيلو حضرت موسی ﷺ ته درخواست وکی چي اوس موږ مطمئن سو اوس که موږ ته څه کتاب او شريعت حاصل سي نو موږ به په بې فکری سره په هغه عمل کوو حضرت موسی ﷺ الله ﷻ ته دعا وکړه په دې کي لفظ د (واعدنا) دوعدې څخه مشتق دی او دوعدې حقيقت دادی چي چاته تر نفعي رسولو مخکي دهغه اظهار وسي چي موږ به ستا فلانی کار وکو پر دې موقع الله ﷻ پر حضرت موسی ﷺ دخپل کلام دنازلولو وعده وفرمايله اوددې دپاره يې داشرط ولګوی چي دېرش شپې په کوه طور يعني دطور په غره کي په اعتکاف او دالله ﷻ په ذکر کي تيري کړه اوبيا يې پر دېرشو لس نوري وراضافه کړې څلوېښت يې کړلي او موسی ﷺ هم دالله ﷻ دفرمان سره سم دا شپې پوره کړې الله ﷻ ورته تورات ورکړی الخ:
(معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٥٣)

رَبُّهٗ ۙ قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ؕ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ

لَنْ تَرٰىنِيْ	قَالَ	اِلَيْكَ	اَنْظُرْ	اَرِنِيْٓ	رَبِّ	قَالَ	رَبُّهٗ
له سره به ونه وینی ته ما	وفرمایل (الله)	تاته	چی زه وګورم	وښیه ماته	ای ربه زما	نو وویل	رب د دغه موسٰی

رب د دغه موسٰی، نو وویل (موسٰی) ای ربه زما وښیه ماته (ځان خپل) چی زه وګورم تا ته وفرمایل (الله) له سره به ونه وینی

وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ

فَسَوْفَ	مَكَانَهٗ	اسْتَقَرَّ	فَاِنِ	اِلَى الْجَبَلِ	انْظُرْ	وَلٰكِنِ
نو ژر به ته هم	په ځای خپل کښی	قرار پاتی سو هغه	که	غره ته	وګوره ته	ولیکن

ته ما (په دنیا کښی) ولیکن وګوره ته (دی) غره ته که قرار پاتی سو هغه (غر) په ځای خپل کښی نو ژر به ته هم

تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى

مُوْسٰى	وَخَرَّ	دَكًّا	جَعَلَهٗ	لِلْجَبَلِ	رَبُّهٗ	تَجَلّٰى	فَلَمَّا	تَرٰىنِيْ
موسٰی	او پریووت	ذری ذری	نو وئی ګرځاوه هغه	غره ته	رب د دغه	تجلی وکړه	نو کله چی	ووینی ما

ووینی ما نو کله چی (بلاکیف) تجلی وکړه رب د دغه (موسٰی) غره ته نو وئی ګرځاوه هغه (غر) ذری ذری او پریووت موسٰی

صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ

اِلَيْكَ	تُبْتُ	سُبْحٰنَكَ	قَالَ	اَفَاقَ	فَلَمَّآ	صَعِقًا
تاته	توبه می وویسته	چی پاکی ده تاته	وویل	په هوښ کښی راغی	نو کله چی	بیهوښه

بیهوښه (له ډیره هیبته تر ۳۴ ساعته) نو کله چی په خود سو (موسٰی نو) وویل چی پاکی ده تا ته توبه می وویسته تاته

وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى

عَلَى	اصْطَفَيْتُكَ	اِنِّيْ	يٰمُوْسٰٓى	قَالَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	اَوَّلُ	وَاَنَا
پر	غوره کړی ئی ته	بیشکه! ما	ای موسٰی	وفرمایل	د مؤمنانو یم	اول	او زه

او زه اول د مؤمنانو یم. وفرمایل (الله) ای موسٰی بیشکه! ما غوره کړی ئی ته پر

النَّاسِ بِرِسٰلٰتِيْ وَبِكَلَامِيْ ۖ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ

مِّنَ	وَكُنْ	مَآ اٰتَيْتُكَ	فَخُذْ	وَبِكَلَامِيْ	بِرِسٰلٰتِيْ	النَّاسِ
له	او اوسه	هغه څه چی درکړی می دی تاته	نو ونیسه	او په کلام خپل سره	په پیغامونو خپلو	ټولو خلګو

ټولو خلګو (دزمانی ستا) په پیغامونو خپلو او په کلام خپل سره نو ونیسه! هغه څه چی درکړی می دی تاته او اوسه له

قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ

تفسیر: حضرت موسی علیه السلام د الله جل جلاله څخه دغه ددیدار سوال وکی الله جل جلاله ورته وفرمایل (لن ترانی) یعني ته ما نه سي لیدلای په دي کي اشاره دي طرف ته ده چي د الله جل جلاله لیدل ناممکنه نه دي مګر مخاطب په موجوده حالت کي ددي برداشت نه سي کولای که نه نو که لیدل ممکن نه وای نو د (لن ترانی) پر ځای به یي ویلي وای (لن اُری) چي زما لیدل نه سي کیدای (مظهري) ددي څخه ثابته سوه چي د الله جل جلاله دیدار په دنیا کي هم عقلا ممکن خودی مګر ددي څخه ددي دلیدلو منع والی هم ثابت سو چي په دنیا کي یي واقع کیدل منع سوه او دا مذهب دی دجمهورو اهل سنتو چي په دنیا کي د الله جل جلاله دیدار عقلا ممکن دی مګر شرعا ممنوع دی لکه چي دصحیح مسلم شریف په یوه حدیث کي دي (لن یری احد منکم ربّه حتّی یموت) یعني په تاسي کي هیڅ کس ترمرګ مخکي خپل رب نسي لیدی چي هر وخت مرسو او دقیامت په ورځ راپورته سو عملونه یه نیک وه الله جل جلاله به خپل دیدار ور نصیب کړي. (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۵۹)

الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبْنَا لَهٗ فِي الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ

الشّٰكِرِيْنَ	وَكَتَبْنَا	لَهٗ	فِي	الْاَلْوَاحِ	مِنْ	كُلِّ	شَيْءٍ
شکر ایستونکو	او ليکلي ؤ موږ	دغه ته	په	تختو کښې	له	هر	شي ځنې

شکر ایستونکو. او ليکلي ؤ موږ دغه (موسیٰ) ته په تختو (د تورات) کښې له هر (ديني) شي ځنې

مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ

مَّوْعِظَةً	وَّتَفْصِيْلًا	لِّكُلِّ	شَيْءٍ	فَخُذْهَا	بِقُوَّةٍ	وَّاْمُرْ
نصيحت	او تفصيل	دپاره	د هر شي	پس واخله دا	په کامل قوت سره	او امر وکړه

نصيحت (پند) او تفصيل دپاره د هر شي (له احکامو) پس واخله دا (تختې د تورات) په کامل قوت سره او امر وکړه

قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ؕ سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿١٤٥﴾

قَوْمَكَ	يَاْخُذُوْا	بِاَحْسَنِهَا	سَاُورِيْكُمْ	دَارَ الْفٰسِقِيْنَ
قوم خپل ته	چي ونيسی	په ډير غوره د دی	ژر به وښيم زه تاسی ته	ځای دهستوګنی د فاسقانو

قوم خپل ته چي ونيسی (عمل وکړی) په ډير غوره احکامو د دی ژر به وښيم زه تاسی ته ځای د کور د فاسقانو .

سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ

سَاَصْرِفُ	عَنْ اٰيٰتِيَ	الَّذِيْنَ	يَتَكَبَّرُوْنَ	فِي	الْاَرْضِ
ژر به واړوم	د آيتونو خپلو څخه	هغه کسان	چي تکبر کوی	په	مځکه کښې

ژر به واړوم د آيتونو خپلو څخه هغه کسان چي تکبر کوی په مځکه کښې

بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ

بِغَيْرِ الْحَقِّ	وَاِنْ	يَّرَوْا	كُلَّ	اٰيَةٍ	لَّا يُؤْمِنُوْا	بِهَا	وَاِنْ
په نا حقه سره	او که	ووينی	هر	قسم نښه	نه راوړی ايمان	پر هغو	او که

په ناحقه سره او که ووينی (دغه متکبران) هر قسم آيت (د قرآن يا د نبوت معجزی) نه راوړی ايمان پر هغو او که

يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا

يَّرَوْا	سَبِيْلَ	الرُّشْدِ	لَا يَتَّخِذُوْهُ	سَبِيْلًا	وَاِنْ	يَّرَوْا
ووينی	لاره	د رشد او هدايت	نو نه نيسی دوی	هغه لاره	او که	ووينی دوی

ووينی لاره د رشد (طريقه د هدايت خپل الله او جنت ته) نو نه نيسی دوی هغه لاره او که ووينی دوی

سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ

تفسير : د دار الفسقين څخه څه مراد دي ؟: په دې کي دوې خبري دي : يو د مصر د ملک : بل د شام د ملک ځکه چي د حضرت موسى عليه السلام تر فتح کولو مخکي پر مصر باندي د فرعون او د ده د قوم حکمراني وه او غلبه وه په دې وجه يې مصر ته دار الفسقين وويل او پر ملک د شام باندي د عمالقه وو قبضه وه هغوی هم کافران او فاسقان وه په دې وجه د غه وخت شام هم دار الفسقين وو : په دې دواړو کي د لته کم ملک مراد دی ؟ په دې کي اختلاف پر دې بنياد باندي دی چي د فرعون د غرقيدو څخه وروسته بني اسرائيل مصر ته واپس تللي دي او که نه ؟ که د غه وخت مصر ته واپس تللي وي او پر مصر باندي قابض سوي وي لکه چي د آيت (واورثنا القوم الذين ..) څخه هم د دې تاييد کيږي نو پر مصر غلبه او قبضه تر دې واقعې د طور مخکي سويده په دې کي د (ساوريكم دار الفسقين) څخه د شام د ملک تعين کيږي او که د غه وخت واپس نه وي تللي نو دواړه ملکونه ور څخه مراد کيداى سي. (معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٦١)

سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا

سَبِيْلَ	الْغَيِّ	يَتَّخِذُوْهُ	سَبِيْلًا	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	كَذَّبُوْا
لاره	دګمراهي	نو نیسي دوی هغه	لاره	دغه په سبب د دی دی	بیشکه چې دوی	نسبت د دروغو کړی ؤ

لاره د ګمراهي نو نیسي دوی هغه لاره دغه ګرځیدل له سمې صافې لارې په سبب د دې دی چې دوی نسبت د دروغو کړی ؤ

بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿١٤٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

بِاٰيٰتِنَا	وَكَانُوْا	عَنْهَا	غٰفِلِيْنَ	وَالَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا
آیتونو زموږ ته	او وو دوی	له هغو څخه	غافلان	او هغه کسان چې	نسبت د دروغو یې کړی دی

آیتونو زموږ ته او وو دوی له هغو (آیتونو) څخه غافلان. او هغه کسان چې نسبت د دروغو یې کړی دی

بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۗ هَلْ يُجْزَوْنَ

بِاٰيٰتِنَا	وَلِقَآءِ	الْاٰخِرَةِ	حَبِطَتْ	اَعْمَالُهُمْ	هَلْ يُجْزَوْنَ
آیتونو زموږ ته	او ملاقات	دآخرت ته	خراب او باطل سول	عملونه د دوی	نسي جزا ورکولی دوی ته

آیتونو زموږ ته او ملاقات د آخرت ته خراب او باطل سول عملونه د دوی، نسي جزا ورکولی دوی ته

اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٧﴾ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى

اِلَّا	مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَاتَّخَذَ	قَوْمُ	مُوْسٰى
مګر	جزا د هغه عمل چې وو دوی	چې عمل به (ئې) کاوه	او ونیوه	قوم	د موسٰی

مګر جزا د هغه عمل چې وو دوی چې عمل به (ئې) کاوه. او ونیوه (جوړ کړ) قوم د موسٰی

ع

مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ۗ اَلَمْ يَرَوْا

مِنْۢ بَعْدِهٖ	مِنْ	حُلِيِّهِمْ	عِجْلًا	جَسَدًا	لَّهٗ	خُوَارٌ	اَلَمْ يَرَوْا
وروسته د ده	له	زیوراتو خپلو	ګیلګی	مجسم	چې ده لره	بړغ ؤ لکه د ګیلګی	آیا نه لیدل دوی

وروسته (د تللو) د ده (میقات ته) له زیوراتو خپلو ګیلګی مجسم چې ده لره غږ ؤ لکه د خسي آیا نه لیدل (نه پوهیدل) دوی

اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ

اَنَّهٗ	لَا يُكَلِّمُهُمْ	وَلَا يَهْدِيْهِمْ	سَبِيْلًا	اِتَّخَذُوْهُ
چې بیشکه! دغه	خبره نه کوی له دوی سره	او نه ښیی دوی ته	هیڅ لاره	ونیوو دوی هغه

چې بیشکه! دغه (خسی) خبرې نه کوی له دوی سره او نه ښیی دوی ته هیڅ لاره ونیوو دوی هغه (خسی په خدائی سره)

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

تفسیر: تکبر انسان دروغ فکره دعلوم الهیه وو څخه محرومه ګرځوي:

او دتکبر کوونکو یعني لویو جوړیدونکو دخپلو ایاتونو څخه داړولو مطلب دادی چې ددوی څخه د الله ﷻ په ایاتونو د پوهیدو اوددې څخه دفایدې اخیستو توفیق ور څخه واخیستل سي او دالله ﷻ ایاتونه هم دلته عام مراد کیدای سي چې په دې کې نازل سوي ایاتونه دتورات، انجیل، یا دقرآن کریم هم داخل دي او تکویني ایاتونه (نښانې) هم کم چې په ټوله مځکه او آسمان کې او ددوی په مخلوقاتو کې خپاره سوي دي په دې وجه دآیت دمضمون خلاصه داسوه چې تکبر یعني ځان تر نورو لوی او ښه ګڼل داسې ناکاره او منحوس خصلت دی چې کم سړی په دې کې اخته سي دده عقل او روغ فهم بیانه وي دی دالله ﷻ د ایاتونو د پوهیدو څخه محرومه وي نه په ده کې دقرآن دایاتونو دصحیح فهم او پوهیدو توفیق پاته کیږي او نه دالله ﷻ دقدرتونو په نښانو کې دغور او فکر کولو او په معرفت حاصلولو کې دده ذهن چلیږي.

(معارف القرآن ج٣ پ٩ ص ٦٤)

وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا

وَكَانُوْا	ظٰلِمِيْنَ	وَلَمَّا	سُقِطَ	فِيْٓ	اَيْدِيْهِمْ	وَرَاَوْا
او وو دوی	ظالمان	او کله چې	شرمنده سول	په	عبادت دخسی باندی	او پوه سول

او وو دوی ظالمان. او کله چې پښیمانه سول (په عبادت دخسی باندی) او پوه سول

اَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ

اَنَّهُمْ	قَدْ	ضَلُّوْا	قَالُوْا	لَئِنْ	لَّمْ يَرْحَمْنَا	رَبُّنَا	وَيَغْفِرْ
چې بیشکه! دوی	په تحقیق	گمراه سوی دی	نو وی ویل	قسم دی خامخا	که رحم ونه کړی پر موږ	رب زموږ	او بخښنه ونه کړی

چې بیشکه! دوی په تحقیق گمراه سوی دی نو وی ویل قسم دی خامخا، که رحم ونه کړی پر موږ رب زموږ او بخښنه ونه کړی

لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿١٤٩﴾ وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ

لَنَا	لَنَكُوْنَنَّ	مِنَ	الْخٰسِرِيْنَ	وَلَمَّا	رَجَعَ	مُوْسٰٓى	اِلٰى قَوْمِهٖ
موږ ته	خامخا به سو موږ هرومرو	له	زیانکارانو	او کله چې	بیرته راغی	موسٰی	قوم خپل ته

موږ ته (رب زموږ نو) خامخا به سو موږ هرومرو له زیانکارانو. او کله چې بیرته راغی موسٰی (دطور له غره) قوم خپل ته

غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ

غَضْبَانَ	اَسِفًا	قَالَ	بِئْسَمَا	خَلَفْتُمُوْنِيْ
په دی حال کی چې ډک ؤ له ډیر قهر او غصی	افسوس کوونکی	وویل	بد خلافت دی هغه څه	چې خلافت کړی دی تاسی زما

په دی حال کښی چې ډک ؤ له ډیر قهر او غصی افسوس کوونکی، وویل ډیره خرابه قایم مقامی وکړه تاسی زما

مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ

مِنْۢ بَعْدِيْ	اَعَجِلْتُمْ	اَمْرَ	رَبِّكُمْ	وَاَلْقَى	الْاَلْوَاحَ	وَاَخَذَ	بِرَاْسِ
وروسته له ما	ایا تلوار وکړ تاسی	دامره	د رب خپل	او وویې غورځولی	تختی	او وئی نیوه	سر

(داخلافت دی) وروسته له ما، آیا تلوار وکړ تاسی (په دی شرک) امر د رب خپل او وغورځولی تختی او وئی نیوه سر

اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ۭ قَالَ ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ

اَخِيْهِ	يَجُرُّهٗٓ	اِلَيْهِ	قَالَ	ابْنَ	اُمَّ	اِنَّ	الْقَوْمَ
د ورور خپل	چې را کښوی یی هغه	ځان خپل ته	نو وویل (هارون)	ای ځویه	د مور زما	بیشکه!	چې (دغه) قوم

د ورور خپل چې راکښوی ئی هغه ځان خپل ته، نو وویل (هارون موسٰی ته ای) ځویه د مور زما! بیشکه! چې (دغه) قوم

بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ.. تفسير: يعني تاسي زما وروسته دا ډیر نامعقوله کار وکی (اعجلتم امر ربكم) ایا تاسي دخپل رب دحکم دراتلو څخه تلوار وکی؟ يعني دالله ﷻ دکتاب دتورات دراتلو انتظار خو به مو کړی وای تاسي دهغه څخه تلوار وکی اوداگمراهي مو اختیاره کړه او ځيني تفسير ليکونکي بيا فرمايي ددې جملې مطلب دادی چې آیا تاسي تلواره وکړه او دامو گڼلې وه چې زما مرگ واقع سوی دی تر دې وروسته يي حضرت هارون عليه السلام ته مخ کی چې ته خو ما خپل خليفه جوړ کړی وي او زه تللی وم نو تا خلگ ددې گمراهی څخه ولي نه منع کول ده ته يي لاس ورواچوی نو دتورات تختې يي په لاسونو کي وي ژربي هغه کنبيښوولې داقرآن کريم په دې الفاظو کي بيان کړيده (والقی الالواح) دالقاء معنی ده غورزول :(اوالواح) دلوح جمع ده چې معنی يي ده تختې: تر دې وروسته په دې خيال چې حضرت هارون عليه السلام به په خپلو فرضو دنيا بت کي کوتاهي کړي وي دده دسر وريښتان يي ټينگ کړل اوراکش يي کړل الخ. (معرف القرآن ج٣ پ٩ ص ٦٦)

اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ۖ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ

اسْتَضْعَفُوْنِيْ	وَكَادُوْا	يَقْتُلُوْنَنِيْ	فَلَا	تُشْمِتْ	بِيَ
ضعيف کړی وم زه	او نژدی وو دوی	چی وژلی ئی وم زه	نو مه	خوشحالوه	په ما باندی

ضعيف کړی وم زه او نژدی وو دوی چی وژلی ئی وم زه نو مه خوشحالوه په ما باندی

الْاَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ

الْاَعْدَآءَ	وَلَا	تَجْعَلْنِيْ	مَعَ	الْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ	قَالَ
دښمنان	او مه	ملګری کوه ما	له	قوم	ظالمانو سره	وويل (موسیٰ)

دښمنان او مه ملګری کوه ما له قوم ظالمانو سره!- وويل (موسیٰ)

رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِاَخِيْ وَاَدْخِلْنَا فِيْ رَحْمَتِكَ ۖ وَاَنْتَ

رَبِّ	اغْفِرْ لِيْ	وَلِاَخِيْ	وَاَدْخِلْنَا	فِيْ	رَحْمَتِكَ	وَاَنْتَ
ای ربه زما	بخښنه وکړه ماته	او ورور زما ته	او داخل کړه موږ	په	رحمت خپل کښی	او هم دا ته

ای ربه زما بخښنه وکړه ماته او ورور زما ته (هم بخښنه وکړه) او داخل کړه موږ په رحمت خپل کښی او هم داته

اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١٥١﴾ ع اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ

اَرْحَمُ	الرّٰحِمِيْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوا	الْعِجْلَ
ډير مهربان ئی	له ټولو مهربانو څخه	بيشکه!	هغه کسان چی	نيولی دی دوی	خسی (په معبوديت)

ډير مهربان ئی له ټولو مهربانو څخه. بيشکه! هغه کسان چی نيولی دی دوی خسی (په معبوديت)

سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

سَيَنَالُهُمْ	غَضَبٌ	مِّنْ	رَّبِّهِمْ	وَذِلَّةٌ	فِي	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا
ژر به ورسيږی دوی ته	غضب	له	ربه د دوی	او ذلت	په	ژوندون	ددنيا کښی

ژر به ورسيږی دوی ته غضب له ربه د دوی او ذلت (خواری) په ژوندون لږ خسيس کښی،

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ ﴿١٥٢﴾ وَالَّذِيْنَ عَمِلُوا

وَكَذٰلِكَ	نَجْزِي	الْمُفْتَرِيْنَ	وَالَّذِيْنَ	عَمِلُوا
او هم داسی	سزا ورکوو موږ	بهتان ترونکو ته	او هغه کسان	چی کوی دوی

او هم داسی (لکه سزا د عابدانو دخسی) سزا ورکوو موږ بهتان ترونکو ته. او هغه کسان چی کوی دوی

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ. تفسير: دځينو ګناهونو څه سزاه په دنيا کي هم حاصليږي: لکه دسامري او دده دملګرو حال چي دی چي دوی دګيلګي دعبادت څخه صحيح توبه ونه کړه نو الله ﷻ دوی په دنيا کي هم خوار او ذليله کړه دده ته حضرت موسی عليه السلام دا حکم ورکی چي دی دي دټولو خلګو څخه جلا اوسي نه دي دی دچا سره لاس لګوي او نه دي څوک دده سره لاس لګوي لکه چي دی ټول عمر دغه ډول دحيوانانو سره ګرځيدی يو انسان به ته نژدي نه ورتلی: په تفسير قرطبي کي دي چي الله ﷻ پرده دا عذاب مسلطه کړی وو چي کله به چا دده ته لاس وروړی يا به ده چا ته لاس وروړی نو فورا به پر دواړو باندي تبه راغله او په تفسير روح البيان کي دي چي دا خاصيت دده په نسل کي هم تر اوسه باقي پاته دی: دآيت په آخر کي الله ﷻ فرمايي (وكذلك نجزى المفترين) يعني کم خلګ چي په الله ﷻ باندي درواغ جوړوي دوی ته هم داسي سزاور کول کيږي چي په دنيا کي ذلت او په آخرت کي هميشه عذاب ورکول کيږي. (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۷۱)

ع ۱۸
۸

وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا..داويا بني اسرائيلو انتخاب او ددوى دهلاكت واقعه: په دغه ايت كي الله ﷻ ديوي خاصي واقعې ذكر كړى دى چي حضرت موسى عليه السلام كله دالله ﷻ كتاب تورات راوړى او بني اسرآئيلو ته يي وركى نو دوى دخپل عناد او بهانو لټولو په وجه سره وويل چي زموږ به څنګه يقين راسي چي دادالله ﷻ كتاب دى ممكنه ده چي تا دخپل ځانه څخه جوړ كړى وي اوراوړى دي وي ددوى داطمينان دپاره حضرت موسى عليه السلام دعا وكړه نو دالله ﷻ دطرفه څخه دا ارشاد وسو چي ددې قوم منتخب سړي ته دطور غره ته راوله نو موږ به دوى ته خپل كلام واوروو چي ددوى يقين راسي حضرت موسى عليه السلام په دوى كي اويا كسه سړي منتخب كړل اودطور غره ته يي بوتلل دوعدې موافق دوى په خپلو غوږونو سره د الله ﷻ كلام واوريدى: بيا يي وويل موږ څه خبر يو چي دااواز دالله ﷻ دى كه دبل چا ؟موږ يي هلته منو چي الله په سترګو ووينو نوالله ﷻ ورته په قهر سو دلاندي زلزله پر راغله او لوړي څخه تندره تول يي بې هوښه كړل اوپه ظاهره مړه سول: الخ.
(معرف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۷۲)

السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا اِنَّ رَبَّكَ

السَّيِّاٰتِ	ثُمَّ	تَابُوْا	مِنْۢ بَعْدِهَا	وَاٰمَنُوْٓا	اِنَّ	رَبَّكَ
ناكاره كارونه	بيا	توبه وباسى	پس له كولو دهغو	او ايمان راوړى	بيشكه!	چي رب ستا

ناكاره كارونه (صغيره يا كبيره ګناه) بيا توبه وباسى پس له كولو دهغو (سيئاتو) او ايمان راوړى ، بيشكه! چي رب ستا

مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۵۳﴾ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى

مِنْۢ بَعْدِهَا	لَغَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	وَلَمَّا	سَكَتَ	عَنْ	مُّوْسَى
پس له دى	خامخا بنه بخښونكى	ډير رحم والا دى	او كله چي	قرار سو	له	موسىٰ

پس له دى (توبى) خامخا بنه بخښونكى (دخطياتو) ډير رحم والا دى. او كله چي قرار (سوړ) سو له موسىٰ

الْغَضَبُ اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۖ وَفِيْ نُسْخَتِهَا هُدًى وَّرَحْمَةٌ

الْغَضَبُ	اَخَذَ	الْاَلْوَاحَ	وَفِيْ	نُسْخَتِهَا	هُدًى	وَّرَحْمَةٌ
قهر	نو وائى خيستى	هغه تختى	او په	ليک د دغو كښنى	هدايت	او رحمت ؤ

قهر نو وائى خيستى هغه تختى (دتورات)، او په ليک د دغو (تختو) كښنى هدايت او رحمت ؤ

لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ وَاخْتَارَ مُوْسٰى

لِّلَّذِيْنَ	هُمْ	لِرَبِّهِمْ	يَرْهَبُوْنَ	وَاخْتَارَ	مُوْسٰى
له پاره دهغو كسانو	چي دوى	له رب خپل څخه	بيريږى	او غوره كړل	موسىٰ

له پاره د هغو كسانو چي دوى له رب خپل څخه بيريږى. او غوره كړل موسىٰ

قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ

قَوْمَهٗ	سَبْعِيْنَ	رَجُلًا	لِّمِيْقَاتِنَا	فَلَمَّآ	اَخَذَتْهُمُ
له قومه خپله	اويا	سړى	دپاره د موعوده وخت زموږ	نو كله چي	ونيول هغوى

له قومه خپله اويا (تنه) سړي (چي دخسى له عابدانو څخه نه وو) دپاره د موعوده وخت زموږ، نو كله چي ونيول هغوى

الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ

الرَّجْفَةُ	قَالَ	رَبِّ	لَوْ شِئْتَ	اَهْلَكْتَهُمْ	مِّنْ قَبْلُ
زلزلي	نو وويل (موسىٰ)	اى ربه زما !	كه اراده فرمايلي وى تا	هلاک كړى به وو تا دوى	پخوا له دى څخه

زلزلي (په دنيا كښى) نو وويل (موسىٰ) اى ربه زما! كه اراده فرمايلي وى تا هلاک كړى به وو تا دوى پخوا له دى څخه

وَاِيَّايَ ؕ اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ

وَاِيَّايَ	اَتُهْلِكُنَا	بِمَا	فَعَلَ	السُّفَهَآءُ	مِنَّا	اِنْ	هِيَ
او زه به دی هم	آیا هلاکوی ته موږ	په هغه کار چي	کړی دی	بی عقلانو	له موږ	نه دی	دا کار

او زه به دی هم (هلاک کړی وی) آیا هلاکوی ته موږ په هغه کار چی کړی دی بی عقلانو له موږ، نه دی دا کار

اِلَّا فِتْنَتُكَ ؕ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِيْ

اِلَّا	فِتْنَتُكَ	تُضِلُّ	بِهَا	مَنْ	تَشَآءُ	وَتَهْدِيْ
مګر	ازموینبت دی ستا	ګمراه کوی	په دی سره یا الله !	هر هغه څوک	چی اراده ئی وکړی ته	او هدایت کوی ته

مګر ازموینبت دی ستا، ګمراه کوی په دی سره یا الله! هر هغه څوک چی اراده ئی وکړی ته (دضلالت) او هدایت کوی ته

مَنْ تَشَآءُ ؕ اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا

مَنْ تَشَآءُ	اَنْتَ	وَلِيُّنَا	فَاغْفِرْ لَنَا	وَارْحَمْنَا
هر هغه چاته چی اراده وکړی ته	هم دا ته ئی	ولی زموږ	نو بخښنه وکړه موږ ته	او رحمت وکړه پر موږ

(یا الله) هر هغه چا ته چی اراده وکړی ته هم دا ته ئی ولی (واکدار) زموږ نو بخښنه وکړه موږ ته او رحمت وکړه پر موږ

وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ﴿١٥٥﴾ وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً

وَاَنْتَ	خَيْرُ	الْغٰفِرِيْنَ	وَاكْتُبْ	لَنَا	فِيْ	هٰذِهِ الدُّنْيَا	حَسَنَةً
او هم داته ئی	بهتر غوره	د ټولو بخښونکو	او ولیکه	موږ ته	په	په دغه ژوندون د دنیا کښی	نیکی

او هم دا ته ئی بهتر غوره د ټولو بخښونکو. او ولیکه (مقرره کړه) موږ ته په دغه ژوندون لږ خسیس کښی نیکی

وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَآ اِلَيْكَ ؕ قَالَ عَذَابِيْٓ

وَّفِي	الْاٰخِرَةِ	اِنَّا	هُدْنَآ	اِلَيْكَ	قَالَ	عَذَابِيْٓ
او په	آخرت کښی	بیشکه! موږ	راجع سوی یو	تاته	نو وفرمایل (الله)	چی عذاب زما

او په آخرت کښی (هم نیکی جنت) بیشکه! موږ راجع (او توبه ګار) سوی یو تاته نو وفرمایل (الله چی) عذاب زما

اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ؕ فَسَاَكْتُبُهَا

اُصِيْبُ	بِهٖ	مَنْ	اَشَآءُ	وَرَحْمَتِيْ	وَسِعَتْ	كُلَّ	شَيْءٍ	فَسَاَكْتُبُهَا
وبه رسوم	دا (عذاب)	هر هغه چاته	چی اراده وکړم زه	او رحمت زما	شامل دی	هر	شی ته	نو ژر به ولیکم دا

وبه رسوم دا (عذاب) هر هغه چا ته چی اراده وکړم زه (درسوایی ئی)، او رحمت زما شامل دی هر شی ته، نو ژر به ولیکم دا

وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً.. دحضرت موسی علیه السلام د دعا تکمله: په دغه آیت کي الله جل جلاله دحضرت موسی علیه السلام ددعا تکمله ذکر کړیده فرمايي (واکتب لنا فی هذه الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة انا هدنا الیک) يعني ای زموږ پروردګاره ته زموږ دپاره په دې دنیا کي هم نیک حالي ولیکي او په آخرت کي هم ځکه چي موږ ستا طرف ته په خلوص سره او اطاعت سره رجوع کړو ددې په جواب کي الله جل جلاله ارشاد وفرمايه (عذابي اصیب به من اشآء ورحمتی وسعت کلّ شیٔ الخ ....) يعني ای موسی اول زما رحمت مطلقا زما پر غضب باندي مخکي دی نو زه خپل عذاب او غضب خپوازي پر هغو واقع کوم پر کم چي وغواړم که څه هم مستحق دعذاب خو هر نافرمانه دی لیکن بیا هم عذاب پرټولو نه واقع کوم بلکي په دوی کي پر خاصو خاصو خلګو عذاب واقع کوم کم چي انتهایي سرکښه او عنادګر وي او زما رحمت داسي عام دی چي هر شی يې راګير کړی دی او هر شي ته عام دی او دنیا دالله جل جلاله درحمت درویشه ځخه ولاړه ده.

(معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٧۴)

لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا

لِلَّذِيْنَ	يَتَّقُوْنَ	وَيُؤْتُوْنَ	الزَّكٰوةَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	بِاٰيٰتِنَا
هغو كسانو ته	چي ځانونه ساتي له كفره او معصيت	او وركوي دوى	زكوة	او هغه كسان	چي دوى	په آيتونو زموږ

دا (رحمت) هغو كسانو ته چي ځانونه ساتي له كفره او معاصى او وركوي دوى زكوة او هغه كسان چي دوى په آيتونو زموږ

يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٥٦﴾ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ

يُؤْمِنُوْنَ	اَلَّذِيْنَ	يَتَّبِعُوْنَ	الرَّسُوْلَ	النَّبِيَّ	الْاُمِّيَّ	الَّذِيْ
ايمان لري	هغه كسان دي	چي متابعت كوي دوى	د هغه رسول	چي نبي	امي دى	هغه رسول چي

ايمان لري. (دا متقيان) هغه كسان دي چي متابعت كوي دوى د (دين) هغه رسول چي نبى امي دى هغه رسول چي

يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ

يَجِدُوْنَهٗ	مَكْتُوْبًا	عِنْدَهُمْ	فِي	التَّوْرٰىةِ	وَالْاِنْجِيْلِ
پيدا كوي دوى هغه	ليكلى سوى	په نزد د دوى	په	تورات	او انجيل كښى

مومى دوى (نوم او صفت د) ده ليكلى سوى په نزد د دوى په تورات او (په) انجيل كښى (هغه رسول چي حكم)

يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ

يَأْمُرُهُمْ	بِالْمَعْرُوْفِ	وَيَنْهٰىهُمْ	عَنِ	الْمُنْكَرِ
امر كوي دوى ته	په معروف سره	او منع كوي دوى	له	منكر (بدى) څخه

امر كوي دوى ته په معروف (نيكى) سره او منع كوي دوى له منكر (بدى) څخه

وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ

وَيُحِلُّ	لَهُمُ	الطَّيِّبٰتِ	وَيُحَرِّمُ	عَلَيْهِمُ
او حلالوي	دوى ته	ټول طيبات	او حراموي	پر دوى باندى

او حلالوي دوى ته ټول طيبات (پاك شيونه چي حرام كړى سوى وو پر دوى باندى) او حراموي پر دوى باندى

الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ

الْخَبٰٓئِثَ	وَيَضَعُ	عَنْهُمْ	اِصْرَهُمْ	وَالْاَغْلٰلَ	الَّتِيْ
خبيث شيان	او لري كوي	له دوى څخه	درانه بارونه د دوى	او قيدونه د سختيو	هغه چي

خبيث (پليت) شيان او لري كوي له دوى څخه درانه بارونه د دوى او قيدونه د سختيو هغه چي

اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ دخاتم النبيين محمد مصطفى ﷺ او دده ﷺ دامت خاص صفتونه او فضيلتونه: په دغه آيت كي الله جل جلاله دهغه خلګو ادرس وښوى پركمو چي د الله جل جلاله رحمت وي ليكن دمكمل نعمت او رحمت مستحق به هغه څوک وي كم چي دايمان تقوى او زكوة خاص شرطونه پوره كي اودا پوره كوونكي به هغه خلګ وي كم چي درسول امي ﷺ تابعداري وكي په دې ضمن كي يي دنبي كريم ﷺ يو څو خاص فضيلتونه او كمالات او علامات هم ذكر كړل پردوى يي يوازي دايمان راوړلو نه بلكي ددوى دتابعدارى حكم وركى ددې څخه معلومه سوه چي دآخرت دكاميابى دپاره دايمان سره دشريعت او سنت تابعداري هم ضروري ده: (الرّسول النبيّ الامىّ) دلته يي درسول اونبي ددوولقبونو سره دده ﷺ يو دريم صفت امي والى بيان كړى دامي دلفظ معنى ده ناخواننده كم چي په ليكلو او ويلو باندي نه پوهيږي دعربو عام قوم ته په قرآن كي اميّين په دې وجه ويل سوي دي چي په دوى كي دليكلو او ويلو رواج ډير كم وو. (معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٧٨)

كَانَتۡ عَلَيۡهِمۡ ۚ فَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِهٖ وَعَزَّرُوۡهُ وَنَصَرُوۡهُ

كَانَتۡ	عَلَيۡهِمۡ	فَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	بِهٖ	وَعَزَّرُوۡهُ	وَنَصَرُوۡهُ
وو	پر دوی	پس هغه کسان	چی ایمان ئی راوړی دی	په دغه	او عزت کوی د دغه	او مرسته کوی له دغه سره

وو پر دوی پس هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی په دغه (محمد) او عزت کوی د دغه (محمد) او مرسته کوی له دغه

وَاتَّبَعُوا النُّوۡرَ الَّذِيۡۤ اُنۡزِلَ مَعَهٗۤ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ

وَاتَّبَعُوا	النُّوۡرَ	الَّذِيۡۤ	اُنۡزِلَ	مَعَهٗۤ	اُولٰٓئِكَ	هُمُ
او متابعت کوی	دهغه نور	چی	نازله کړی سوی ده	سره له دغه (محمد)	نو دغه	هم دوی دی

(محمد) سره او متابعت کوی دهغه نور (رڼا) چی نازله کړی سوی ده سره له (متابعته د) دغه (محمد) نو دغه هم دوی دی

الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾ ؏ قُلۡ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ

الۡمُفۡلِحُوۡنَ	قُلۡ	يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اِنِّيۡ	رَسُوۡلُ	اللّٰهِ
په مراد رسیدلی	ووایه (ای محمده!)	ای	خلګو	بیشکه! زه	رسول	دالله یم

په مراد رسیدلی. ووایه (ای محمده!) ای خلګو بیشکه! زه رسول د الله یم

اِلَيۡكُمۡ جَمِيۡعَا ۨالَّذِيۡ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

اِلَيۡكُمۡ	جَمِيۡعًا	الَّذِيۡ	لَهٗ	مُلۡكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ
تاسی	ټولو ته	هغه الله	چی ده لره دی	ملک (پاچاهی)	دآسمانونو	او دمځکی

تاسی ټولو ته (نه بعضو ته لکه نور انبیاء) هغه الله چی (خاص) ده لره دی ملک (پاچاهی) د آسمانونو او د مځکی

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحۡيٖ وَيُمِيۡتُ ۖ فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ

لَاۤ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	يُحۡيٖ	وَيُمِيۡتُ	فَاٰمِنُوۡا	بِاللّٰهِ
نسته	لایق د عبادت	مګر	هم دی دی	چی ژوندی کول کوی	او مړه کول کوی	نو ایمان راوړئ	پر الله

نسته هیڅ لایق د عبادت (په حقه سره) مګر هم دی دی چی ژوندی کول کوی او مړه کول کوی نو ایمان راوړئ پر الله

وَرَسُوۡلِهِ النَّبِيِّ الۡاُمِّيِّ الَّذِيۡ يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ

وَرَسُوۡلِهِ	النَّبِيِّ	الۡاُمِّيِّ	الَّذِيۡ	يُؤۡمِنُ	بِاللّٰهِ	وَكَلِمٰتِهٖ
او په رسول د دغه (الله)	چی نبی	امی (دی)	هغه رسول	چی ایمان لری	په الله	او په ټولو خبرو د الله

او په رسول د دغه (الله) چی نبی امی (نالوستونکی نالیکونکی دی) هغه رسول چی ایمان لری په الله او په ټولو خبرو د الله

فَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِهٖ وَعَزَّرُوۡهُ وَنَصَرُوۡهُ.. تفسير: يعني په تورات او انجيل كي دنبي آخر زمان دواضحو صفتونو او نښانو ښوولو دانتيجه ده چي كم خلګ په ده ايمان راوړي او دده تعظيم او مدد كوي او دهغه نُور تابعداري كوي كم چي دده سره نازل سوي دى يعني قرآن عظيم نو دغه خلګ مراد پيدا كوونكي دي: دلته الله ﷻ دفلاح يعني مراد پيدا كيدو دپاره څلور شرطونه ذكر كړل: اول پر نبي كريم ﷺ باندي ايمان، دوهم دده ﷺ تعظيم، دريم دده ﷺ امداد، او څلورم دقرآن كريم تابعداري كول: دتعظيم او تكريم دپاره دلته لفظ (عزّروه) ذكر سوى دى چي دتعزير څخه مشتق دى چي معنى يي ده په شفقت سره منع كول او په شفقت سره حفاظت كول. حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما د (عزّروه) معنى دتعظيم او تكريم ښوولي ده او امام مبرد رحمه الله فرمايي چي داعلى درجي تعظيم او عزت وركولو ته په تعزير سره تعبير كيږي مراد دادي چي هغه خلګ چي د نبي كريم ﷺ دعظمت او محبت سره دده ﷺ تأييد او حمايت او مدد كوي دغه مراد پيدا كوونكي دي: (معارف القرآن ج۳ پ۹ ص۷۷)

ع ۱۹ / ۹

وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٨﴾ وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ

وَاتَّبِعُوْهُ	لَعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ	وَمِنْ	قَوْمِ	مُوْسٰٓى	اُمَّةٌ
او متابعت وکړئ د ده	دپاره د دی	چی تاسی لارپیداکړی	او ځینی	له قومه	د موسیٰ څخه	یو امت (ټولی) دی

او متابعت وکړئ د ده دپاره د دی چی تاسی لاره ومومئ. او ځینی له قومه د موسیٰ څخه یو امت (ټولی) دی

يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ

يَّهْدُوْنَ	بِالْحَقِّ	وَبِهٖ	يَعْدِلُوْنَ	وَقَطَّعْنٰهُمُ	اثْنَتَيْ عَشْرَةَ
چی لاره ښئ	په حقه	او په دی حق	انصاف کوی	او بیل بیل کړل موږ دغه (بنی اسرائیل)	دولس

چی لاره ښئ (خلګو ته) په حقه او په دی حق انصاف کوی. او بیل بیل کړل موږ دغه (بنی اسرائیل) دولس

اَسْبَاطًا اُمَمًا ۭ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ

اَسْبَاطًا	اُمَمًا	وَاَوْحَيْنَآ	اِلٰى مُوْسٰٓى	اِذِ	اسْتَسْقٰىهُ	قَوْمُهٗٓ
قبیلی	ټولی ټولی	او وحی مو ولیږه	موسیٰ ته	کله چی	اوبه وغوښتی	قوم د ده

قبیلی ټولی ټولی، او وحی (حکم) مو ولیږه موسیٰ ته کله چی اوبه وغوښتی تری قوم د ده (په میدان د تیه کښی)

اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۚ فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ

اَنِ	اضْرِبْ	بِّعَصَاكَ	الْحَجَرَ	فَانْۢبَجَسَتْ	مِنْهُ
چی	ووهه	په همسا خپله	تیږه	نو راوخوټیدلی	له هغی تیږی څخه

چی ووهه په همسا خپله تیږه (ګټه) نو (چی موسیٰ په همسا ووهله تیږه) راوخوټیدلی له هغی تیږی څخه

اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۭ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۭ

اثْنَتَا عَشْرَةَ	عَيْنًا	قَدْ	عَلِمَ	كُلُّ اُنَاسٍ	مَّشْرَبَهُمْ
دوولس	چینی	په تحقیق	وپیژانده	هری قبیلی	ځای (چینه) د اوبو چښلو خپلو

دوولس چینی (د قبیلو په شمار) په تحقیق وپیژانده هری قبیلی (له دوی څخه) ځای (چینه) د اوبو چښلو خپلو،

وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ

وَظَلَّلْنَا	عَلَيْهِمُ	الْغَمَامَ	وَاَنْزَلْنَا	عَلَيْهِمُ
او سیوری کړی ؤ موږ	پر دوی	وریځ	او نازل کړی وو موږ	پر دوی

او سیوری کړی ؤ موږ پر دوی وریځ (په میدان د تیه کښی) او نازل (رانبکته) کړی وو موږ پر دوی

وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ.. **دحضرت موسی عليه السلام په قوم کي یوحق پرست جماعت:** په دغه آیت کي الله جل جلاله ارشاد فرمايي چي (ومن قوم موسى امّة يهدون بالحقّ وبه يعدلون) يعني دحضرت موسى عليه السلام په قوم كي يو جماعت داسي هم دی چي په خپله هم دحق تابعداري كوي او په خپلو جګړو او معاملوكي هم فيصلې دحق موافق كوي : په تيرو اياتونو كي دحضرت موسى عليه السلام دقوم عناد او دګمراهي بيان وو په دې ايت كي الله جل جلاله وښووله چي ټول قوم دبني اسرآئيلو داسي نه دی بلكه په دوی كي څه خلګ داسي هم دي چي دحق تابعداري كوي او حق فيصلې كوي دا هغه خلګ دي كمو چي دتورات او انجيل په زمانه كي ددې د هداياتو موافق پوره عمل وكی او كله چي خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم راغی نو د تورات او انجيل دخبر موافق يي په ده صلى الله عليه وسلم باندي ايمان راوړی او دده صلى الله عليه وسلم تابعداري يي وكړه دبني اسرآئيلو ددې حق پر ست جماعت ذكر په قرآن كريم كي نورځايونه هم راغلی دی چي مراد ځيني عبدالله بن سلام رضي الله عنه او سلمان فارسي رضي الله عنه او هغه ته ورته خلګ دي.
(معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٩٣)

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَارَزَقْنٰكُمْ.. لنډ تفسير:

الله ﷻ فرمايي چي موږ يو انعام پر بني اسرائيلو داوکی چي ددوی داصلاح او انتظام دپاره مودوی په دوولسو خاندانونو کي تقسيم کړل ټول مو جلا جلا جماعت مقررکړل او پر هر يوه مو يو سردار دنګرانی دپاره مقررکی چي ذکر يي دسورت مائدې په دريمه رکوع کي دی (وبعثنا منهم اثنی عشر نقيباً) تيرسوی دی او يو انعام مو داپروکی چي موږ حضرت موسی عليه السلام ته حکم ورکی کله چي دده قوم دده څخه اوبه وغوښتلې او ده الله ﷻ ته دعا وکړه دغه وخت دا حکم وسو چي خپله لکړه پر فلانی ډبره باندي ووهه اوبه به ورڅخه راووزي پس دوهلو سره فورا اوبه راووتې او دوولس چينې ځينې روانې سوې او ددوی ددوولسو خاندانو نو په شمير راووتلې لکه چي هر يوه دخپلو اوبو چينېلو موقع معلومه کړه او يو انعام مو دا پروکی چي موږ پر دوی باندي وريځ سايه کوونکي کړه او يو انعام مو داپر وکی چي دغيبو څخه ترنجبين او مړزان (يعني کرکان) موورته ورسول او اجازت موورکی چي خوری د پاکو شيانو څخه چي موږ درکړي دي الخ. (معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٩٣)

الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۭ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ۭ

الْمَنَّ	وَالسَّلْوٰى	كُلُوْا	مِنْ	طَيِّبٰتِ	مَارَزَقْنٰكُمْ
من	او سلوٰی	(نو) وخورئ تاسی	له پاکيزه	او حلالو لذيذو	هغه شيانو چی درکړی دی موږ تاسی ته

من (ترجبين) او سلوٰی (مرځان،) (نو) وخورئ تاسی له پاکيزه او حلالو لذيذو هغه شيانو چی درکړی دی موږ تاسی ته

وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ وَاِذْ

وَمَا ظَلَمُوْنَا	وَلٰكِنْ	كَانُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ	وَاِذْ
او نه ؤ کړی ظلم دوی پر موږ	وليکن	وو دوی	چی په خپلو ځانونو به ئی	ظلم کاوه	او هغه وخت

او نه ؤ کړی ظلم دوی پر موږ (په دغه کفران او عصيان سره) وليکن وو دوی چی په خپلو ځانونو به ئی ظلم کاوه . او هغه وخت

قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ

قِيْلَ	لَهُمُ	اسْكُنُوْا	هٰذِهِ	الْقَرْيَةَ	وَكُلُوْا	مِنْهَا	حَيْثُ
چی وويل سوه	دوی ته	اوسيږئ تاسی	په دغی	قريی کښی	او خورئ تاسی	له (ميوو د) دی څخه	له هر ځای څخه

چی وويل سوه دوی ته اوسيږئ تاسی په دغی قريی کښی او خورئ تاسی له (ميوو د) دی څخه له هر ځای څخه

شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

شِئْتُمْ	وَقُوْلُوْا	حِطَّةٌ	وَّادْخُلُوا	الْبَابَ	سُجَّدًا
مو چی خوښه وی	او ووايئ	راوبخښه	او ننوځئ تاسی	دروازی ته	سجده کوونکی

مو چی خوښه وی او ووايئ راوبخښه (ګناهونه زموږ) او ننوځئ تاسی دروازی (د ددی قريی ــ ښاره) ته سجده کوونکی

نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيْٓـٰٔتِكُمْ ۭ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ

نَّغْفِرْ لَكُمْ	خَطِيْٓـٰٔتِكُمْ	سَنَزِيْدُ	الْمُحْسِنِيْنَ	فَبَدَّلَ	الَّذِيْنَ
نو وبه بخښو موږ تاسی ته	ګناهونه ستاسی	ژر به زيات کړو	محسنانو ته (اجر)	پس بدله کړه	هغو کسانو

نو وبه بخښو موږ تاسی ته ګناهونه ستاسی، ژر به زيات کړو محسنانو (نيکانو) ته (اجر). پس بدله کړه هغو کسانو

ظَلَمُوْا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَرْسَلْنَا

ظَلَمُوْا	مِنْهُمْ	قَوْلًا	غَيْرَ	الَّذِيْ	قِيْلَ	لَهُمْ	فَاَرْسَلْنَا
چی ظلم ئی کړی ؤ	له دوی څخه	خبره	غير له	هغی خبری	چی وويل سوی وه	دوی ته	نو وليږه موږ

چی ظلم ئی کړی ؤ (په خپلو ځانونو) له دوی څخه خبره غير له هغی خبری چی ويلی سوی وه دوی ته نو وليږه موږ

ع۲۰ ۵

عَلَيۡهِمۡ رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوۡا يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۶۲﴾

عَلَيۡهِمۡ	رِجۡزًا	مِّنَ	السَّمَآءِ	بِمَا كَانُوۡا	يَظۡلِمُوۡنَ
پر دوی	عذاب	له	آسمانه	په سبب د هغه چې وو دوی	چې ظلمونه به ئی کول

پر دوی عذاب له آسمانه په سبب د هغه چې وو دوی چې ظلمونه به ئی کول.

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ الۡقَرۡيَةِ الَّتِيۡ كَانَتۡ حَاضِرَةَ الۡبَحۡرِ ۘ اِذۡ

وَسۡـَٔلۡهُمۡ	عَنِ	الۡقَرۡيَةِ	الَّتِيۡ	كَانَتۡ	حَاضِرَةَ	الۡبَحۡرِ	اِذۡ
او پوښتنه وکړه	له (حاله د)	کلی څخه	هغه چې	وو	په غاړه	د بحر کښې	کله چې

او پوښتنه وکړه (ای محمده! له یهودو) له (حاله د) قریې (ښار) څخه هغه چې وو په غاړه د بحر کښې کله چې

يَعۡدُوۡنَ فِي السَّبۡتِ اِذۡ تَاۡتِيۡهِمۡ حِيۡتَانُهُمۡ يَوۡمَ

يَعۡدُوۡنَ	فِي	السَّبۡتِ	اِذۡ	تَاۡتِيۡهِمۡ	حِيۡتَانُهُمۡ	يَوۡمَ
له حده تیریدل دوی له (فرمانه)	په	ورځې د خالی کښې	کله چې	راتله دوی ته	ماهیان د دوی	په ورځ

له حده تیریدل دوی له (فرمانه په ښکار د ماهیانو) په ورځې د خالی کښې کله چې راتله دوی ته ماهیان د دوی په ورځ

سَبۡتِهِمۡ شُرَّعًا وَّيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُوۡنَ ۙ لَا تَاۡتِيۡهِمۡ ۛ

سَبۡتِهِمۡ	شُرَّعًا	وَّيَوۡمَ	لَا يَسۡبِتُوۡنَ	لَا تَاۡتِيۡهِمۡ
دخالی د دوی کښې	ښکاره	او په ورځ کښې چې	داخل به نه وو په خالی کښې	نو نه به راتله (ماهیان) دوی ته

دخالی د دوی کښې ښکاره (په سر د اوبو) او په ورځ کښې چې داخل به نه وو په خالی کښې نو نه به راتله (ماهیان) دوی ته

كَذٰلِكَ ۛۚ نَبۡلُوۡهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ﴿۱۶۳﴾ وَاِذۡ

كَذٰلِكَ	نَبۡلُوۡهُمۡ	بِمَا كَانُوۡا	يَفۡسُقُوۡنَ	وَاِذۡ
همداسی	آزمویو موږ دوی	په سبب د دی	چې فسق به ئی کاوه	او کله چې

همداسی آزمویو موږ دوی په سبب د دی چې وو دوی چې فسق به ئی کاوه. او (پوښتنه وکړه محمده له یهودانو) کله چې

قَالَتۡ اُمَّةٌ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُوۡنَ قَوۡمًا ۙ اللّٰهُ مُهۡلِكُهُمۡ اَوۡ

قَالَتۡ	اُمَّةٌ	مِّنۡهُمۡ	لِمَ تَعِظُوۡنَ	قَوۡمًا	اللّٰهُ	مُهۡلِكُهُمۡ	اَوۡ
وویل	یوی فرقی	له دوی	ولی نصیحت کوئ تاسی	هغه قوم ته	چې الله	هلاک کوونکی د دوی دی	یا

وویل یوی فرقی له دوی ولی نصیحت کوئ تاسی هغه قوم ته چې الله هلاک کوونکی د دوی دی (په دنیا کښې) یا

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ الۡقَرۡيَةِ الَّتِيۡ كَانَتۡ. لنډ تفسیر:

د موجوده زماني يهودو ته خطاب: په دغه اياتونو کي خطاب نبي کريم ﷺ ته دی چي ته دي دخپلي زماني يهوديانو ته په طور دخبرداري ووايه چي ددې کلي والاووکم چي ددرياب شور په خواه کي آبادوه او يهوديان په کښي اوسيدل پرکمو چي دهفتې په ورځ ښکار کول منع وو دهغه وخت دحال پوښتنه ورڅخه وکړه کله چي دوی يعني ددغه ځای اوسيدونکو ته دهفتې متعلق کم حکم وودې په باره کي د شرعي حد څخه وتلي وه کله چي به ددوی دهفتې په ورځ ددرياب څخه ماهي داوبو څخه سرونه رابهر کړل او ښکاره کيدل د درياب پر سرسر به دوی مخ ته راتلل او کله چي به دهفتې ورځ نه وه نو دوی ته به مخامخ نه راتلل بلکي ددغه ځايه څخه به يوځای ليري تلل او وجه ددې داوه چي موږ ددوی په دې شان سره سخت ازمايښت کوی چي څوک پر حکم ثابت قدم اوسي او څوک پر حکم ثابت قدم نه اوسي چا چي حکم ومنی هغه کاميابه سو او چاچي ونه منی هغه ناکامه سو الخ.
(معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۹۷)

نصف

مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۚ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ

مُعَذِّبُهُمْ	عَذَابًا	شَدِيْدًا	قَالُوْا	مَعْذِرَةً	اِلٰى رَبِّكُمْ
عذاب کوونکی د دوی دی	په عذاب	سخت	وويل دوی	دپاره د عذر پيداکولو	رب ستاسی ته

عذاب کوونکی د دوی دی په عذاب سخت، وويل دوی (چي وعظ کوو موږ) دپاره د عذر پيداکولو (خپل) رب ستاسی ته

وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا

وَلَعَلَّهُمْ	يَتَّقُوْنَ	فَلَمَّا	نَسُوْا	مَا ذُكِّرُوْا
او له پاره د دې چي بنايي دوی	ويريږي	نو کله چي	پريښود دوی	هغه چي پند ورکړی سوی ؤ دوی ته

او له پاره د دې چي بنايي دوی ويريږي. نو کله چي پريښود دوی هغه (نصيحت) چي پند ورکړی سوی ؤ دوی ته

بِهٖٓ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ

بِهٖٓ	اَنْجَيْنَا	الَّذِيْنَ	يَنْهَوْنَ	عَنِ	السُّوْٓءِ	وَاَخَذْنَا	الَّذِيْنَ
په هغه سره	(نو) نجات ورکړ موږ	هغو کسانو ته	چي منع کول دوی	له	بدی	او ومونيول	هغه کسان

په هغه سره (نو) نجات ورکړ موږ هغو کسانو ته چي منع کول دوی (دا نور) له بدی او ومونيول هغه کسان

ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۭ بَئِيْسٍۭ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۵﴾ فَلَمَّا

ظَلَمُوْا	بِعَذَابٍ	بَئِيْسٍ	بِمَا كَانُوْا	يَفْسُقُوْنَ	فَلَمَّا
چي ظلم ئې کړی ؤ	په عذاب	سخت سره	په سبب د هغه چي وو دوی	چي گناهونه به ئې کول	نو کله چي

چي ظلم ئې کړی ؤ (په کولو د ښکار) په عذاب سخت سره په سبب د هغه چي وو دوی چي گناهونه به ئې کول. نو کله چي

عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً

عَتَوْا	عَنْ	مَّا نُهُوْا	عَنْهُ	قُلْنَا لَهُمْ	كُوْنُوْا	قِرَدَةً
سرکشي وکړه دوی	له	هغه شي چي منع سوي وو دوی	له هغه شي څخه	وويل موږ دوی ته	چي سئ	بيزوگان

سرکشي وکړه دوی له (پريښودلو د) هغه شي څخه چي منع سوي وو دوی له هغه شي څخه وويل موږ دوی ته چي سئ بيزوگان

خٰسِئِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ

خٰسِئِيْنَ	وَاِذْ	تَاَذَّنَ	رَبُّكَ	لَيَبْعَثَنَّ
شرلي رټلي سپک کړی سوی	او هغه وخت چي	خبر ورکړئ ؤ	رب ستا	قسم دی خامخا مسلط به کړم هرومرو

شرلي رټلي سپک کړی سوی. او هغه وخت چي خبر ورکړی ؤ رب ستا (ددی خبري) قسم دی خامخا مسلط به کړم هرومرو

وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى: پر يهودو باندي د الله ﷻ د طرفه څخه ذلت مقرر دی: په دې اياتونو کي هم د دوی د سزا او بدانجام ذکر دی په اول آيت کي د دوی د دوو سزاگانو ذکر راغلی دی کم چي په دنيا کي پر دوی مسلطي سوي دي. اول داچي ترقيامته پوري به الله ﷻ پر دوی باندي يو داسي سړی خامخا مسلط ساتي کم چي دوی ته سخته سزا ورکوي او په ذلت اوخواری کي يي مبتلا ساتي لکه چي د هغه وخت څخه تر ننه پوري هميشه يهود هر ځای مقهور او مغلوب او محکوم دي نن سبا پر اسرائيلي حکومت باندي د دي شبه ځکه نه سي کيدای چي پوه خلگ په دي پوه دي چي په حقيقت کي نن هم د اسرآئيلو نه خپل څه قوت سته او نه حکومت دا خو د روس او امريکي د اسلام د دښمنی نتيجه ده او د اسلام خلاف يو سازش دی او اسرآئيلي حکومت د دوی يوه چاوني او مورچه ده چي دوی د اسلام خلاف قايمه کړي ده او نن هم اسرائيل د روس او امريکي مقهور او محکوم دي کارونه د اسلام خلاف د هغو په مشوره او حکم باندي کوي الخ. (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۱۰۰)

عَلَيۡهِمۡ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ مَنۡ يَّسُوۡمُهُمۡ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ‌ؕ اِنَّ رَبَّكَ

عَلَيۡهِمۡ	اِلٰى يَوۡمِ	الۡقِيٰمَةِ	مَنۡ	يَّسُوۡمُهُمۡ	سُوۡٓءَ	الۡعَذَابِ	اِنَّ	رَبَّكَ
پر دغو (يهودانو)	تر ورځې	د قيامت پورې	هغه څوک	چې رسوى به دوى ته	سخت	عذاب	بيشكه	رب ستا

په دغو (يهودانو) تر ورځې د قيامت پورې هغه څوک چې رسوى به دوى ته سخت عذاب. بيشكه رب ستا

لَسَرِيۡعُ الۡعِقَابِ‌ۖۚ وَاِنَّهٗ لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۶۷﴾ وَقَطَّعۡنٰهُمۡ فِى

لَسَرِيۡعُ	الۡعِقَابِ	وَاِنَّهٗ	لَغَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ	وَقَطَّعۡنٰهُمۡ	فِى
ژر دى	عذاب (د ده)	او بيشكه دغه (الله)	خامخا ښه بخښونكى	ډير رحم والا دى	او متفرق كړل موږ دوى	په

ژر دى عذاب (د ده) او بيشكه دغه (الله) خامخا ښه بخښونكى ډير رحم والا دى. او متفرق كړل موږ دوى په

الۡاَرۡضِ اُمَمًا‌ۚ مِنۡهُمُ الصّٰلِحُوۡنَ وَمِنۡهُمۡ دُوۡنَ ذٰلِكَ‌

الۡاَرۡضِ	اُمَمًا	مِنۡهُمُ	الصّٰلِحُوۡنَ	وَمِنۡهُمۡ	دُوۡنَ ذٰلِكَ
مځكه كښې	فرقې فرقې	ځينې له دوى څخه	نيكان دى	او ځينې له دوى څخه	راكښته دى له دې (مرتبې د صلاح)

مځكه كښې فرقې فرقې ځينې له دوى څخه نيكان دى او ځينې له دوى څخه راكښته دى له دې (مرتبې د صلاح)

وَبَلَوۡنٰهُمۡ بِالۡحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۱۶۸﴾

وَبَلَوۡنٰهُمۡ	بِالۡحَسَنٰتِ	وَالسَّيِّاٰتِ	لَعَلَّهُمۡ	يَرۡجِعُوۡنَ
او وآزمويل موږ دوى	په نيكيو	او په بديو	ښائي چې دوى	وګرځي (الله ته)

او وآزمويل موږ دوى په نيكيو (نعمتونو: صحت، غنا) او په بديو (زحمتونو: مرض فقر) ښائي چې دوى وګرځي (الله ته)

فَخَلَفَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ وَّرِثُوا الۡكِتٰبَ يَاۡخُذُوۡنَ

فَخَلَفَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	هِمۡ	خَلۡفٌ	وَّرِثُوا	الۡكِتٰبَ	يَاۡخُذُوۡنَ
نو پاتې سول	وروسته	له دوى څخه	بد خليفګان	چې وارثان سول	د كتاب (تورات)	اخلى دوى

نو پاتې سول وروسته له دوى څخه (داسى) بد خليفګان چې وارثان سول د كتاب (تورات) اخلى دوى

عَرَضَ هٰذَا الۡاَدۡنٰى وَيَقُوۡلُوۡنَ سَيُغۡفَرُ لَنَا‌ۚ وَاِنۡ

عَرَضَ	هٰذَا	الۡاَدۡنٰى	وَيَقُوۡلُوۡنَ	سَيُغۡفَرُ لَنَا	وَاِنۡ
مبلغ (او اسباب)	د دې	لږې خسيس (دنيا)	او وائى دوى	ژر به بخښنه وكړه سى موږ ته	او حال دا كه

مبلغ (او اسباب) د دې لږې خسيسى (دنيا په رشوت) او وائى دوى ژر به بخښنه وكړه سى موږ ته او حال دا كه

وَقَطَّعۡنٰهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ اُمَمًا

پر يهودو باندې د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د مسلطو سزاګانو څخه ديوې بلې سزا ذكر: په دغه ايت كې الله جَلَّ جَلَالُهٗ پر يهودو باندې ديوې بلې سزا ذكر كوي چې په دې دنيا كې دوى ته وركول سوې ده هغه دا چې د دوى آبادې د دنيا په مختلفو حصو كې خپره او جلا جلا سوه په يوه ځاى يا يوه ملک كې دوى په جمع نه دي پاته

وَقَطَّعۡنٰهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ اُمَمًا

د دغه آيت هم دغه مطلب دى (قطعنا) د مصدر (تقطيعٌ) څخه جوړ دى چې معنى يې ده ټكړې ټكړې كول او اُمَمَ د امةٌ جمع ده چې معنى يې ده يو جماعت يا يوه فرقه: مطلب دا دى چې موږ ديهودو قوم ټكړې ټكړى د مځكې په مختلفو حصو كې خپور كى ددې څخه معلومه سوه چې ديو قوم پر يوه ځاي او سيدل او جمع كيدل د خداى جَلَّ جَلَالُهٗ احسان او انعام دى او په مختلفو ځايونو كې د دوى خپريدل د الله جَلَّ جَلَالُهٗ يو قسم عذاب دى پر مسلمانانو د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دا انعام هميشه راغلى دى او انشآءالله چې تر قيامته پورې به وي چې دوى كم ځاى پاته كيږي نو هلته د دوى يو زبردست اجتماعي قوت پيدا سي:
(معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۱۰۱)

يَّأۡتِهِمۡ عَرَضٌ مِّثۡلُهٗ يَأۡخُذُوۡهُ ؕ اَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِمۡ

يَّأۡتِهِمۡ	عَرَضٌ	مِّثۡلُهٗ	يَأۡخُذُوۡهُ	اَلَمۡ يُؤۡخَذۡ	عَلَيۡهِمۡ
راسي دوی ته	مبلغ	په مثل د دې	نو اخلي دوی هغه	آيا نه وه اخيستی سوی	له دوی څخه

راسي دوی ته مبلغ (او اسباب نور) په مثل د دې نو اخلي دوی هغه (هم)، آيا نه وه اخيستی سوی له دوی څخه

مِّيۡثَاقُ الۡكِتٰبِ اَنۡ لَّا يَقُوۡلُوۡا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الۡحَقَّ

مِّيۡثَاقُ	الۡكِتٰبِ	اَنۡ	لَّا يَقُوۡلُوۡا	عَلَى	اللّٰهِ	اِلَّا	الۡحَقَّ
کلکه وعده	په دې کتاب کښې	چې	نه به وائې دوی	پر	الله	مګر	حق

کلکه وعده په دې کتاب کښې (بلکه اخيستی سوی وه داسې) چې نه به وائې دوی پر الله مګر حق (رښتيا خبره)

وَدَرَسُوۡا مَا فِيۡهِ ؕ وَالدَّارُ الۡاٰخِرَةُ خَيۡرٌ لِّلَّذِيۡنَ

وَدَرَسُوۡا	مَا فِيۡهِ	وَالدَّارُ	الۡاٰخِرَةُ	خَيۡرٌ	لِّلَّذِيۡنَ
او لوستی وو دوی	هغه احکام چې په دغه کښې وو	او کور	دآخرت (جنت)	خير (بهتره دی)	دپاره ده هغه کسانو

او لوستی (او لولي)وو دوی هغه احکام چې په دغه(تورات) کښې وو ،او دار د آخرت (جنت) خيردی دپاره د ه هغه کسانو

يَتَّقُوۡنَ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۶۹﴾ وَالَّذِيۡنَ يُمَسِّكُوۡنَ

يَتَّقُوۡنَ	اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	يُمَسِّكُوۡنَ
چې ېيرېږي	آيا نو تاسي عقل نه کوئ نه پوهېږئ	او هغه کسان	چې ښه ټينګ نيسي

چې ېيرېږي (له عذابه) آيا نو تاسي عقل نه کوئ نه پوهېږئ. او هغه کسان (له دوی څخه) چې ښه ټينګ نيسي

بِالۡكِتٰبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا لَا نُضِيۡعُ اَجۡرَ

بِالۡكِتٰبِ	وَاَقَامُوۡا	الصَّلٰوةَ	اِنَّا	لَا نُضِيۡعُ	اَجۡرَ
کتاب	او قائموی	لمونځ	بيشکه! موږ	نه ضايع کوو	ثواب

کتاب او قائموی (سم اداء کوی سره له ټولو حقوقو) لمونځ، بيشکه موږ نه ضايع کوو ثواب (عوض بدل)

الۡمُصۡلِحِيۡنَ ﴿۱۷۰﴾ وَاِذۡ نَتَقۡنَا الۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ

الۡمُصۡلِحِيۡنَ	وَاِذۡ	نَتَقۡنَا	الۡجَبَلَ	فَوۡقَهُمۡ	كَاَنَّهٗ	ظُلَّةٌ
دنيکو کارانو	او هغه وخت	چې راپورته کړ موږ	غر (د طور)	دپاسه د دوی	ګواکې دغه غر	يو سايبان ؤ

د نيکو کارانو (له دوی څخه). او هغه وخت چې راپورته کړ موږ غر (دطور) دپاسه د دوی ګواکې دغه غريو سايبان ؤ

وَالَّذِيۡنَ يُمَسِّكُوۡنَ بِالۡكِتٰبِ
دبني اسرائيلو دباعمله
علماوو ستاينه: په دغه
ايت کي الله ﷻ فرمايي
چي دبني اسرائيلو عالمان
ټول داسي نه دي چي بې
عمله دي په دوی کي ځيني
هغه هم دي چا چي دتورات
احکام په مضبوطی سره
ونيول او دايمان سره يي
دعمل پابندي هم وکړه او
لمونځ يي دپوره ادابو سره
قايم کړی دداسي خلګو په
باره کي الله ﷻ فرمايي
کم کسان چي دخپل
اصلاح کوشش کوونکي
دي الله ﷻ ددوی اجرنه
ضايع کوي نو کموخلګو
چي دايمان او عمل دواړه
فرائض ادا کړل او خپله
اصلاح يي وکړل نو ددوی
اجر خو بيخي نه ضايع
کيږي په دې ايت کي څو
فايدې دفکر کولو قابلي
دی اول دا چي دکتاب
څخه مراد په آيت کي هغه
کتاب دی دکم ذکر چي
مخکي راغلی دی يعني
تورات: او دا هم ممکنه ده
چي هر يو آسماني کتاب
ورڅخه مراد وي چي په
هغه کي تورات ،انجيل
اوقران کريم هم راځي اوبل
طرف ته په دغه آيت کي
دلمانځه دشان طرف ته هم
اشاره وسول چي څوک
لمونځ کوي دادالله ﷻ
دحکمونو دپابندی نښه ده
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص۱۰۷)

ع ۲۱

وَظَنُّوٓا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا مَآ

وَظَنُّوٓا	اَنَّهٗ	وَاقِعٌۢ	بِهِمْ	خُذُوْا	مَآ
او غالب گمان وکړ دوی	چي بيشکه! هغه غر	راپريوتونکی دی	پر دوی	نيسئ تاسی	هغه (تورات)

او غالب گمان وکړ دوی چي بيشکه! هغه غر راپريوتونکی دی پر دوی (ومو ويل دوی ته چي) نيسئ تاسي هغه (تورات)

اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ وَاِذْ

اٰتَيْنٰكُمْ	بِقُوَّةٍ	وَّاذْكُرُوْا	مَا فِيْهِ	لَعَلَّكُمْ	تَتَّقُوْنَ	وَاِذْ
چي درکړی مو دی تاسی ته	په قوت سره	او يادکړی	هغه چي په دی کښی دی	ښائی تاسی ته	چي ځانونه وساتی	او هغه وخت

چي درکړي مو دي تاسی ته په قوت سره او هغه احکام چي په دی کښی دی ښائی تاسی ته چي ځانونه وساتئ تاسی. او هغه وخت

اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَاَشْهَدَهُمْ

اَخَذَ	رَبُّكَ	مِنْۢ	بَنِيْٓ اٰدَمَ	مِنْ	ظُهُوْرِهِمْ	ذُرِّيَّتَهُمْ	وَاَشْهَدَهُمْ
چي واخيست	رب ستا	له	بنی آدمو څنی	له	شاګانو د دوی څخه	اولادی د دوی	او شاهدان يی کړل دوی

چي واخيست رب ستا له بنی آدمو څنی له شاګانو د دوی څخه اولادی د دوی او شاهدان يی کړل دوی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ ۚ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۛ شَهِدْنَا ۛ

عَلٰٓى	اَنْفُسِهِمْ	اَلَسْتُ	بِرَبِّكُمْ	قَالُوْا	بَلٰى	شَهِدْنَا
پر	ځانونو خپلو باندی	آيا نه يم زه	رب ستاسی!	وويل دوی	هو!	شاهدی وايو موږ

پر ځانونو خپلو باندی (وفرمايل الله) آيا نه يم زه رب ستاسی! وويل دوی هو! (ته رب زموږ يئ) ګواه کړه موږ خپل نفسونه

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ لا

اَنْ تَقُوْلُوْا	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	اِنَّا	كُنَّا	عَنْ	هٰذَا	غٰفِلِيْنَ
چي و (نه) وايئ تاسی	په ورځ	دقيامت کښی	چي بيشکه! موږ	وو	له	دغه (توحيد)	غافلان

(د دی جهته) چي و (نه) وايئ تاسی په ورځ دقيامت کښی چي بيشکه! موږ وو له دغه (توحيد) غافلان.

اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً

اَوْ تَقُوْلُوْٓا	اِنَّمَآ	اَشْرَكَ	اٰبَآؤُنَا	مِنْ قَبْلُ	وَكُنَّا	ذُرِّيَّةً
يا و (نه) وائی تاسی	چي بيشکه! هم داخبره ده	چي شرک غوره کړی ؤ	پلرونو زموږ	پخوا له (موږ)	او وو موږ	اولاده

يا و (نه) وائی تاسی چي بيشکه! هم دا خبره ده چي شرک غوره کړی ؤ پلرونو زموږ پخوا له (موږ) او وو موږ اولاده

وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ.. دالستُ دوعدې تفصيل او دهغې تحقيق:
په دې اياتونو کې دهغه عظيم الشان عالم ګير عهد او پيمان ذکر دی کم چې دخالق او مخلوق بنده او معبود په مينځ کې هغه وخت وسو کله چې مخلوق لادې جهان دکون او فساد ته نه وو راغلی کم ته چې وعده دازل يا عهد دالستُ وايي: الله جل جلاله دټولو، عالمونو خالق او مالک دی مځکه او آسمانونه او ددوی تر مينځ کې او ددوی څخه ماسوا چې هر څه دي دده مخلوق دي او دده ملکيت دي نه پرده باندې دچا قانون چليږي او نه دده پر څه کار باندې دچا دڅه سوال کولو حق سته ليکن ده محض په خپل فضل او کرم سره دعالم نظام داسې جوړ کړی دی چې دهر شي يوه قاعده او قانون دی دقانون موافق دچليدونکي دپاره هر قسم دهميشه هميشه راحت او دخلاف ورزي کوونکي دپاره هر قسم عذاب مقرر دی :بيا خلاف ورزي کوونکو مجرمانو ته دسزا ورکولو دپاره دده ذاتي احاطه کوونکی علم کافي ووکم چې دعالم يوه ذره قدر شی هم ورڅخه دباندې نه دی الخ تفصيل په معارف القرآن کې وګوری:
(معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۱۱۰)

مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ أَفَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿١٧٣﴾ وَكَذَٰلِكَ

مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ	أَفَتُهۡلِكُنَا	بِمَا	فَعَلَ	ٱلۡمُبۡطِلُونَ	وَكَذَٰلِكَ
پس له دوی څخه	آیا هلاکوی موږ	په هغه کار باندی	چی کړی ؤ	باطله عمل کوونکو	او همداسی

پس له دوی څخه نو آیا هلاکوی موږ په هغه کار باندی چی کړی ؤ باطله عمل کوونکو (مشرکانو). او همداسی

نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿١٧٤﴾ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ

نُفَصِّلُ	ٱلۡأٓيَٰتِ	وَلَعَلَّهُمۡ	يَرۡجِعُونَ	وَٱتۡلُ	عَلَيۡهِمۡ
په تفصیل سره بیانوو موږ	آیتونه دقدرت خپل	او د پاره د دی چی دوی بنائی	راوګرځی	او وولوایه	پر دغو

په تفصیل سره بیانوو موږ آیتونه د قدرت خپل او د پاره د دی چی دوی بنائی راوګرځی. او لوله (ای محمده!) پر دغو

نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا

نَبَأَ	ٱلَّذِيٓ	ءَاتَيۡنَٰهُ	ءَايَٰتِنَا	فَٱنسَلَخَ	مِنۡهَا
خبر	دهغه (سړی) چی	ورکړی ؤ موږ هغه ته	علم دآیتونو خپلو	نو راووت	له هغو آیتونو

خبر (او حال) دهغه (سړی) چی ورکړی ؤ موږ هغه ته (علم) د آیتونو خپلو نو راووت (او بی زاړسو) له هغو آیتونو،

فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ

فَأَتۡبَعَهُ	ٱلشَّيۡطَٰنُ	فَكَانَ	مِنَ	ٱلۡغَاوِينَ	وَلَوۡ شِئۡنَا	لَرَفَعۡنَٰهُ
نو پسی سو په ده	شیطان	نو سو	له	ګمراهانو	او که اراده فرمائلی وی موږ	نو خامخا پورته کړی به ؤ موږ دی

نو ورپسی سو شیطان (او تیر ئی ایست) نو سو له ګمراهانو او که اراده فرمائلی وی موږ نو خامخا پورته کړی به ؤ موږ دی

بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ

بِهَا	وَلَٰكِنَّهُۥٓ	أَخۡلَدَ	إِلَى ٱلۡأَرۡضِ	وَٱتَّبَعَ	هَوَىٰهُ	فَمَثَلُهُۥ
په دی آیتونو سره	ولیکن ده	مینه وکړه	مځکی ته	او متابعت ئی وکړ	دخواهش خپل	نو مثال د ده

په دی آیتونو سره ولیکن ده مینه وکړه مځکی ته او متابعت ئی وکړ دهوا خپل نو مثال د ده (په خساست کښی)

كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ

كَمَثَلِ	ٱلۡكَلۡبِ	إِن	تَحۡمِلۡ	عَلَيۡهِ	يَلۡهَثۡ	أَوۡ تَتۡرُكۡهُ
په شان	دسپی دی	چی که	حمله وکړی	پری	نو ژبه راباسی او غاپی	او که ئی پریږدی

په شان د سپی دی، چی که حمله وکړی پری نو ژبه راباسی او غاپی او که ئی پریږدی (او څه ورته ونه وائی هم)

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا... دبني اسرائيلو ديوه عالم او پيشواه دګمراهی يوه عبرتناکه واقعه: په دي اياتونو کي نبي کريم ﷺ ته حکم کيږي چي ته خپل قوم ته دا واقعه واوروه په کمه کي چي دبني اسرآئيلو ديولوی عالم او مشهور پيشواه دداسي حال څخه وروسته دزوال او دهدايت وروسته يي دګمراهی ذکر دی چي دلوی علم او پوره معرفت حاصليدو باوجود کله چي نفساني غرضونه پر ده غالبه سول نو دغه ټول علم او معرفت او مقبوليت يي ختم سو او ذليل او خوار سو: په قرآن کريم کي ددې سړي نوم او تشخص نه دی ذکر سوی دتفسير د امامانو او اصحابو او تابعينو دده په باره کي مختلف روايتونه ذکر دي په دي کي زيات مشهور او دجمهورو په نزد داعتماد قابل روايت هغه دی کم چي دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه منقول دی چي ددې سړي نوم **بلعم بن باعوراء** دی: دی دشام دملک بيت المقدس ته نژدې دکنعان اوسيدونکی وو او په يوه روايت کي دي چي دی دبني اسرآئيلو څخه وو پاته قصه دده پر راروان مخ وګوری.

يَلْهَثْ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

يَلْهَثْ	ذٰلِكَ	مَثَلُ	الْقَوْمِ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا
ژبه راباسي او غاپي	دغه	مثال	دقوم	هغه دي	چې دوی نسبت د دروغو کوی	آیتونو زموږ ته

ژبه راباسي او غاپي، دغه (تير مثل) مثال د قوم هغه دي چې دوی نسبت د دروغو کوی آیتونو زموږ ته

فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ مَثَلًا

فَاقْصُصِ	الْقَصَصَ	لَعَلَّهُمْ	يَتَفَكَّرُوْنَ	سَآءَ مَثَلًا
نو بيان كړه	دغه قصې	ښائي چې دوی	فكر وكړي	بد مثال دی

نو بيان كړه (دوی ته) دغه قصې (او احوال) ښائي چې دوی فكر وكړي (په كښې او يمان راوړي). بد مثال دی

الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا

الْقَوْمُ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا	وَاَنْفُسَهُمْ	كَانُوْا
د قوم	هغه چې	نسبت د دروغو ئې كړی وی	آیتونو زموږ ته	او په ځانو خپلو	وو دوی

(مثال د) قوم هغه چې نسبت د دروغو ئې كړی وی آیتونو زموږ ته او په ځانو خپلو وو دوی

يَظْلِمُوْنَ ﴿١٧٧﴾ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ وَمَنْ يُّضْلِلْ

يَظْلِمُوْنَ	مَنْ	يَّهْدِ	اللّٰهُ	فَهُوَ	الْمُهْتَدِيْ	وَمَنْ	يُّضْلِلْ
چې ظلم به ئې كاوه	هرچا ته	چې هدايت وكړي	الله	نو هغه	د هدايت پيدا كوونكی دی	او هر هغه څوک	چې گمراه كړي

چې ظلم به ئې كاوه. هرچا ته چې هدايت وكړي الله نو همغه دهدايت موندونكی دی او هر هغه څوک چې گمراه كړي

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٧٨﴾ وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا

فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْخٰسِرُوْنَ	وَلَقَدْ	ذَرَاْنَا	لِجَهَنَّمَ	كَثِيْرًا
نو دغه گمراهان	هم دوی دی	زيان كاران	او خامخا په تحقيق	پيدا كړی دی موږ	دپاره د جهنم	ډير كسان

نو دغه گمراهان هم دوی دی زيان كاران. او خامخا په تحقيق پيدا كړی دی موږ دپاره د جهنم (دوزخ) ډير كسان

مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا

مِّنَ	الْجِنِّ	وَالْاِنْسِ	لَهُمْ	قُلُوْبٌ	لَّا يَفْقَهُوْنَ	بِهَا
له	جن	او له انسانانو	چې دی دوی لره	زړونه	چې هيڅ نه پوهيږی دوی	په هغو سره

له جن (پيريانو) او له انسانانو چې دی دوی لره (داسې بې معنی) زړونه چې هيڅ نه پوهيږی دوی په هغو سره (حق له باطله)

ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا.. دتير مخ پاته قصه دلته ولولی: كله چې دفرعون دغرقيدو او دمصر دفتح كيدو څخه وروسته حضرت موسى عليه السلام او بني اسرآئيلو ته دجبارينو سره دجهاد كولو حكم حاصل سو او جبارينو وليدل چې حضرت موسى عليه السلام د ټولو بني اسرائيلو دلښكر سره راورسيدی او ددوی د مقابل فرعون او دده دقوم غرقيدل دوی ته دمخكي څخه معلوم سوي وه نو ددوی سره دا فكر پيدا سو او جمع سول بلعم بن باعوراء ته راغلل او ويې ويل چې حضرت موسى عليه السلام سخت سړی دی او دده سره ډير لښكر دی او هغه ددې دپاره راغلی دی چې موږ دخپل ملک څخه وباسي ته الله جل جلاله ته داسې سوال وكه چې دی زموږ دمقابلې څخه واپس كې وجه داده چې بلعم بن باعوراء ته اسم اعظم معلوم وو ده چې به ددې په ذريعه كمه دعا كوله هغه به قبليده بلعم وويل چې افسوس دی تاسې دا څه خبره كوی هغه دالله جل جلاله نبي دی دهغه سره دالله جل جلاله ملايكې دي زه څنگه دهغه خلاف ښرا وكم او هغه دالله جل جلاله سره غټ مقام لري. :پاته قصه پر راروان مخ وگوری :

وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۡ وَلَهُمْ اٰذَانٌ

وَلَهُمْ	اَعْيُنٌ	لَّا يُبْصِرُوْنَ	بِهَا	وَلَهُمْ	اٰذَانٌ
او دي دوی لره	سترګی	چي نهويني دوی	په هغو سره	او دي دوی لره	غوږونه

او دي دوی لره (داسي بی فائدی) سترګی چي نه ويني دوی په هغو سره (نښبی دقدرت) او دي دوی لره غوږونه

لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ

لَّا يَسْمَعُوْنَ	بِهَا	اُولٰٓئِكَ	كَالْاَنْعَامِ	بَلْ	هُمْ	اَضَلُّ
چي نه اوري په	هغو سره	دغه کسان	په شان د چارپايانو دي	بلکه	دوی	ډير ګمراهان دي

چي نه اوري په هغو سره (آيتونه د الله) دغه کسان په شان د چارپايانو دي بلکه دوی (چي مکلفان دي) ډير ګمراهان دي

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ص

اُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْغٰفِلُوْنَ	وَلِلّٰهِ	الْاَسْمَآءُ	الْحُسْنٰى	فَادْعُوْهُ بِهَا
دغه کسان	هم دوی دي	غافلان	او خاص الله لره دي	نومونه	ډير ښه	نو بولی دي په هم هغو سره

دغه کسان هم دوی دي غافلان. او خاص الله لره دي (ټول) نومونه ډير ښه نو وبولئ دغه (الله) په هم هغو (ښو نومونو) سره

وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ؕ سَيُجْزَوْنَ

وَذَرُوا	الَّذِيْنَ	يُلْحِدُوْنَ	فِيْٓ	اَسْمَآئِهٖ	سَيُجْزَوْنَ
او پريږدئ	هغه کسان	چي کوږوالي کوی	په	نومونو د الله کښی	ژر به سزا ورکړه سی دوی ته

او پريږدئ هغه کسان چي (له ډيره جهله) الحاد (کوږوالی) کوی په نومونو د الله کښی ژر به سزا ورکړه سی دوی ته

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ اُمَّةٌ

مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَمِمَّنْ	خَلَقْنَآ	اُمَّةٌ
دهغو کارونو چي وو دوی	چي کول به ئی	او ځيني له هغو کسانو	چي پيدا کړی دی موږ	يو امت (جماعت) دی

دهغو کارونو چي وو دوی چي کول به ئی. او ځيني له هغو کسانو چي پيدا کړی دی موږ يو امت (جماعت) دی

يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۸۱﴾ ع وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

يَّهْدُوْنَ	بِالْحَقِّ	وَبِهٖ	يَعْدِلُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا
چي لاره ښيي خلګو ته	په حقه	او په هم دی سره	برابری کوی	او هغه کسان	چي نسبت د دروغو کوی

چي لاره ښيي خلګو ته په حقه او په هم دی (حق) سره برابری کوی. او هغه کسان چي نسبت د دروغو کوی

اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ.. دتير مخ پاته قصه دلته وګوری: بلعم وويل که زه داسي وکړم نو زما دين او دنيا به دواړه تباه سي دې خلګو ډيري زاری ورته وکړی نو بلعم وويل چي ښه ده زه به دخپل رب څخه په دې معامله کي معلومه کړم چي دداسي دعا کولو اجازت سته که يه؟ هغه وو چي ده استخاره يا بل عمل وکی په خوب کي دته وښوول سوه چي هيڅکله به داسي نه کوې ده قوم ته وويل چي زه دښرا کولو څخه منع سوم دغه وخت دجبارينو قوم بلعم ته يوه لويه ډالی وړاندي کړه چي په حقيقت کي رشوت وه ده ډالی قبوله کړه نو بيا دقوم خلګ په ده پسي سول چي ته خامخا دا کار وکه او بې حده زاری يي ورته وکړې او په يوه روايت کي دي چي دده ښځي ده ته مشوره ورکړه چي دا رشوت قبول کړه او ددوی دا کار وکړه دغه دښځي رضا کولو او دمال محبت دی مخ ته کړی وو دحضرت موسی عليه السلام او دبني اسرائيلو خلاف يي ښرا شروع کړه هغه وو چي ده به کمه ښرا کوله حضرت موسی عليه السلام ته او دهغه قوم ته دده دژبي څخه به هغه الفاظ دښرا په خپله دخپل قوم جبارينو دپاره وتل. پاته قصه پر راروان مخ وګوری

ع ۲۲ ۱۲

بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۲﴾

بِاٰيٰتِنَا	سَنَسْتَدْرِجُهُمْ	مِّنْ	حَيْثُ	لَا يَعْلَمُوْنَ
آيتونو زموږ ته	ژر به و نيسو موږ دوی	له	داسی لوری	چی نه به پوهيږی دوی

آيتونو زموږ ته ژر به و نيسو موږ دوی له داسی لوری چی نه به پوهيږی دوی

وَاُمْلِيْ لَهُمْ ۗ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿۱۸۳﴾ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا

وَاُمْلِيْ	لَهُمْ	اِنَّ	كَيْدِيْ	مَتِيْنٌ	اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا
او مهلت ورکوم زه	دوی ته	بيشکه!	چی کيد (حيله) زما	ډير سخت دی	آيا فکر نه دی کړی دغو

او مهلت ورکوم زه دوی ته، بيشکه! چی کيد (حيله، نيونه) زما ډير سخت دی. آيا فکر نه دی کړی دغو (مکذبينو)

مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸۴﴾

مَا بِصَاحِبِهِمْ	مِّنْ جِنَّةٍ	اِنْ	هُوَ	اِلَّا	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ
چی نسته په صاحب د دوی پوری	هيڅ يو حال د ليونتوب	نه دی	دغه	مگر	يو بيروونکی	ښکاره

چه نسته په صاحب (ملګری) د دوی پوری هيڅ يو حال د ليونتوب نه دی دغه (صاحب) مګر يو بيروونکی ښکاره.

اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا	فِيْ	مَلَكُوْتِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا
آيا نظر نه کاوه دوی	په	سلطنت	د آسمانونو	او د ځمکی کښی	او په هغه کښی

آيا نظر نه کاوه دوی په سلطنت د آسمانونو او د ځمکی کښی او په هغه کښی

خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ

خَلَقَ	اللّٰهُ	مِنْ	شَيْءٍ	وَّاَنْ عَسٰۤى	اَنْ يَّكُوْنَ	قَدِ
چی پيدا کړی دی	الله	د هر	شی څخه	او چی بنائی	چی وی (داخبره)	چی په تحقيق

چی پيدا کړی دی الله له هر شی څخه او (بل په دی کښی فکر نه کوی) چی بنائی چی وی (داخبره) چی په تحقيق

اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۵﴾ مَنْ

اقْتَرَبَ	اَجَلُهُمْ	فَبِاَيِّ	حَدِيْثٍ	بَعْدَهٗ	يُؤْمِنُوْنَ	مَنْ
نژدی سوی به وی	وعده د دوی	نو په کومی	يوی خبری	پس له دی	ايمان به راوړی دوی	هر هغه چا لره

نژدی سوی به وی وعده د دوی نو په کومی يوی خبری پس له دی (قرآنه) ايمان به راوړی دوی. هر هغه چا لره

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ. دتير مخ پاته قصه دلته وګوری: قوم يي چغي کړي چي ته موږ ته ولي ښراوي کوي بلعم جواب ورکی چي نور دازما داختياره څخه بهر خبره ده زما ژبه ددې څخه په خلاف کولو قادره نه ده نتيجه داسوه چي دده پر قوم باندي هم تباهي راغله اوبلعم ته هم داسزا ورکړه سوه چي ژبه يي راووتله پرسينه يي راو زړيده اوس دخپل قوم ته وويل چي زما خو دنيا او آخرت دواړه تباه سول اوس زما دعا نه چليږي ليکن زه تاسي ته يو تدبير ښيم دکم په ذريعه چي تاسي دحضرت موسی عليه السلام پر قوم باندي غالب راتلی سی هغه دادی چي تاسي دخپل قوم يو څو پيغلاني سينګار کړی او دبني اسرائيلو قوم ته يي ورواستوی اودوی ته داسي ووايا ست چي دبني اسرآئيلو په لښکر کي هر کس ددوی سره هر څه کول وغ دي نه کوي ورته داخلګ مسافر دي او ډير وخت يي سوی دی چي دخپلو کورونو څخه راوتلي دي په دې تدبير سره ممکنه ده چي دوی په بدکاری مبتلاسي او دالله په نزد حرام کاري ډير مبغوض شی ده په کم قوم کي چي داسي کاروسي پر هغه به خامخا عذاب نازليږي. پاته قصه پر راروان مخ وګوری

يُضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ

يُضْلِلِ	اللّٰهُ	فَلَا	هَادِيَ	لَهٗ	وَيَذَرُهُمْ	فِيْ	طُغْيَانِهِمْ
چي گمراه کړی	الله	نو نشته	هیڅ لاربنوونکی	د (حق) ده ته	او پرېږدی دوی	په	شرارتونو خپلو کښې

چي گمراه کړی الله نو نشته هیڅ لاربنوونکی د (حق) ده ته، او (الله) پرېږدی دوی په شرارتونو خپلو کښې

يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۸۶﴾ يَسْــَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ۭ

يَعْمَهُوْنَ	يَسْــَٔلُوْنَكَ	عَنِ	السَّاعَةِ	اَيَّانَ	مُرْسٰهَا
په دی حال کښې چي حیران گرځی	پوښتنه کوی له تانه	له	قیامت	چي کله به وی	وخت د قیام د هغه

په دی حال کښې چي حیران او سرگردانه گرځی. پوښتنه کوی له تانه (محمده) له (حاله د) قیامت چي کله به وی وخت د قیام د هغه

قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ

قُلْ	اِنَّمَا	عِلْمُهَا	عِنْدَ	رَبِّيْ	لَا يُجَلِّيْهَا	لِوَقْتِهَآ
ووایه (دوی ته)	بیشکه! خبره هم دا ده	چي علم د ده	په نزد	د رب زما دی	نه ښکاروی دا قیامت	په وخت د ده کښې

ووایه (دوی ته) بیشکه! خبره هم دا ده چي علم د ده په نزد د رب زما دی، نه ښکاروی دا قیامت په وخت د ده کښې

اِلَّا هُوَ ۘ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ لَا تَاْتِيْكُمْ

اِلَّا هُوَ	ثَقُلَتْ	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	لَا تَاْتِيْكُمْ
مگر هم دغه	درونده دی	په	آسمانو	او مځکی کښې	رابه نسی دغه (قیامت) تاسی ته

مگر هم دغه (الله) درونده دی (د قیامت ډار) په (مخلوقاتو د) آسمانو او مځکی کښې رابه نسی دغه (قیامت) تاسی ته

اِلَّا بَغْتَةً ۭ يَسْــَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ۭ قُلْ اِنَّمَا

اِلَّا	بَغْتَةً	يَسْــَٔلُوْنَكَ	كَاَنَّكَ	حَفِيٌّ	عَنْهَا	قُلْ	اِنَّمَا
مگر	ناڅاپه	پوښتنه کوی دوی له تانه	گواکی ته	مبالغه کوونکی ئې په سوال کی	له قیامته	ووایه	چي بیشکه!

مگر ناڅاپه (بې خبره) پوښتنه کوی دوی له تا نه (محمده) گواکی ته مبالغه کوونکی ئې له قیامته، ووایه چي بیشکه!

عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ

عِلْمُهَا	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ	قُلْ	لَّآ اَمْلِكُ
علم د دغه	په نزد	د الله دی	او لیکن	زیاتره	خلک	نه پوهیږی	ووایه	چي زه نه لرم واک

علم د دغه (قیامت) په نزد د الله دی او لیکن زیاتره خلک نه پوهیږی. ووایه (ای محمده! دوی ته) چي زه نه لرم واک

وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ. د تیر مخ پاته

قصه دلته وګوری: داسي قوم چي په هغه کي زنا تر سره کیږي هغه هیڅ کله فتح مند کیدای نه سي هغه ووچي قوم دبلعم بن باعوراء په دغه شیطاني چال باندي پوه سواو پر هغه چال یي عمل وکړی هغه پیغلاني یي سینګار کړې ورو ایه استولې په بني اسرائیلو کي یولوی کس په دغه کي راګیر سو چي زمزم ابن شلوم نومیده (مظاهرحق) هغه دیوې ښځي سره بدکاري وکړه او خپلي خیمې ته یي بوتله موسی علیه السلام دی ډیر منع کی خو دی منع نه سواو په دې شیطاني چال کي اخته سوددې نتیجه دا سوه چي پر بني اسرائیلو باندي یو سخت قسم د طاعون عذاب راغی چي په هغه باندي په یوه ورځ اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان مړه سول تر دې چي کم سړي دا کار کړی وو آخر دغه جوړه بني اسرائیلو قتل کړل او بر سرعام یي وځړول چي ټول خلک ورڅخه عبرت واخلي او توبه وباسي نو د دغه زناکارانو وژلو څخه وروسته عذاب الهي پورته سواو طاعون ختم: اللّٰهم انفعنابما علمتنا وعلمنا ماينفعنا واجعلنا من الراشدين آمين ثم آمين:
(معارف القرآن ج۳ پ ۹ ص ۱۲۱)

لِنَفۡسِيۡ نَفۡعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

لِنَفۡسِيۡ	نَفۡعًا	وَّلَا ضَرًّا	اِلَّا مَا	شَآءَ	اللّٰهُ
دپاره د نفس خپل	د نفع	او نه د ضرر	مگر هغه چې	اراده وفرمائی	الله

د پاره د نفس (ځان) خپل د (رسولو د) نفع او نه د (دفع کولو د) ضرر مگر هغه چې اراده وفرمائی الله

وَلَوۡ كُنۡتُ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ لَاسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ الۡخَيۡرِ ۛۚ وَمَا

وَلَوۡ	كُنۡتُ	اَعۡلَمُ	الۡغَيۡبَ	لَاسۡتَكۡثَرۡتُ	مِنَ	الۡخَيۡرِ	وَمَا
او که	وی زه	چې پوهیدلی	په غیب باندی	نو خامخا حاصل کړی به می وی ډیر	له	خیره څخه	او نه به ؤ

او که وی زه چې پوهیدلی په (خبرو د) غیب باندی نو خامخا حاصل کړی به می وی ډیر له خیره (نفعی) څخه، او نه به ؤ

مَسَّنِيَ السُّوۡٓءُ ۛۚ اِنۡ اَنَا اِلَّا نَذِيۡرٌ وَّ بَشِيۡرٌ لِّقَوۡمٍ

مَسَّنِيَ	السُّوۡٓءُ	اِنۡ	اَنَا	اِلَّا	نَذِيۡرٌ	وَّبَشِيۡرٌ	لِّقَوۡمٍ
رسیدلی ماته	کوم زیان	نه یم	زه	مگر	بیروونکی	او زیری کوونکی	دپاره د (هغه) قوم

رسیدلی ماته کوم زیان، نه یم زه مگر (خو یم) بیروونکی (دکفارو په جحیم سره) او زیری کوونکی دپاره د (هغه) قوم

يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۸۸﴾ ع هُوَ الَّذِيۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ

يُّؤۡمِنُوۡنَ	هُوَ	الَّذِيۡ	خَلَقَكُمۡ	مِّنۡ	نَّفۡسٍ	وَّاحِدَةٍ
چې مؤمنان دی	هم دغه	هغه ذات دی	چې پیدا کړی ئی یئ تاسی	له	نفس	یوه څخه

چې مؤمنان دی (په نعیم سره). هم دغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړی ئی یئ تاسی له نفس یوه څخه

وَّجَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ اِلَيۡهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا

وَّجَعَلَ	مِنۡهَا	زَوۡجَهَا	لِيَسۡكُنَ	اِلَيۡهَا	فَلَمَّا	تَغَشّٰىهَا
او پیدا کړی ئی ده	له دی نفس څخه	ښځه د ده	دپاره د دی چې آرام ونیسی	له دی سره	نو کله چې	نارینه پټه کړه دغه ښځه

او پیدا کړی ئی ده له دی نفس څخه ښځه د ده دپاره د دی چې آرام ونیسی له دی سره، نو کله چې نارینه پټه کړه دغه ښځه

حَمَلَتۡ حَمۡلًا خَفِيۡفًا فَمَرَّتۡ بِهٖ ۚ فَلَمَّاۤ اَثۡقَلَتۡ

حَمَلَتۡ	حَمۡلًا	خَفِيۡفًا	فَمَرَّتۡ	بِهٖ	فَلَمَّاۤ	اَثۡقَلَتۡ
نو حامله سوه	په حمل	سپک	نو گرځیده	به له دی حمل سره	نو کله چې	درونډ سو حمل

(جماع ئی ورسره وکړه) نو حامله سوه په حمل خفیف نو گرځیده به له دی حمل سره، نو کله چې درونډ سو حمل

لَاۤ اَمۡلِكُ لِنَفۡسِيۡ نَفۡعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ

تفسیر: په دغه ایت کي الله جل جلاله د مشرکینو او عوامو د دغي غلطي عقیدي تردید کړی دی کم چي دې خلکو د پیغمبرانو په باره کي درلودې چي دوی غیبدانان دي او پټي پیژني د دوی علم د الله جل جلاله په شان د ټولو کائناتو پر ذره ذره حاوي دی دا رنگه دا چي دوی د هر نفعي او نقصان مالکان دي چاته چي غواړي نفع یا نقصان ورکولای سي او د دې عقیدې په سبب دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د قیامت د معین تاریخ ښوولو مطالبه کوله چي ذکر یي د دې څخه په مخکي ایت کي تیر سوی دی په دغه آیت کي یي د دوی د دې مشرکانه عقیدې تردید وکی ویي ښووله چي علم غیب او د ټولو کائناتو د ذرې ذرې علم محیط یوازي د الله جل جلاله خاص صفت دی په دې کي چا مخلوق لره شریک کول برابره خبره ده که ملایکه وي او که نبي وي یا رسول دا یو عظیم شرک دی او دا یو لوی ظلم دی دغه شان د هري نفعي او نقصان مالک یوازي د الله جل جلاله خاص صفت دی په دې کي څوک شریکول هم شرک دی.

(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۱۵۰)

ع ۲۳ / ۱۴

فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ

اللہ ﷻ دهر قسم شريک څخه پاک اومنزّه ذات دی

: ددغه آيت په آخر کي الله ﷻ ددي خلګـــو دبېلاري کيـــداو کريـــدو بـــنکاره کولو دپـــاره وفرمايـــل (فتعالى الله عما يشركون) يعنـــي پـــاک دی الله ﷻ ددې شريک څخه چي دې خلګــو اختيــاره کـړی دی دذکـر ســوو ايـاتونو ددې تفسـير څخـــه داخبـــره واضحه سوه چي ددې ايت پـه اولـه جملـه کـي يـي دحضرت آدم ﷺ او حـوا بـي بـي ذکـر وکـی او د آدم ﷺ اولاد ته يي ددوي دتابعداری او شکرګذاری تعليم ورکـړی دی او پـه آخري جملو کي دآدم ﷺ دوروسته راتلونکي اولاد دګمراهي او کريـد و بيـان سوی دی چي دوی پر ځای دشـکرګـذاری شـرک اختيـاره کـی ددې څخه معلومـه سـوه چي دشرک اختيـاروونکو دمعـاملي تعلق دحضرت آدم ﷺ او دحـوابي بـي سـره مطلـق نسـته دکـم پـه سـبب چي دحضرت آدم ﷺ پـر پـاک لمنـي بانـدې شـبه راځـي بلکي ددې تعلق دوروسته راتلونکي نسل دعمل سره دی اودا تفسير چي دلتـه مـوږ اختيـاره کـړی دی پـه درمنثورتفسـير کـي دی. (معارف القرآن ج٣ پ٩ص ١٥٣)

دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ

لَّنَكُوْنَنَّ	صَالِحًا	اٰتَيْتَنَا	لَئِنْ	رَبَّهُمَا	اللّٰهَ	دَّعَوَا
نو خامخا سو به موږ هرومرو	صالح زوی	که راکړی ته موږ ته	چي قسم دی خامخا	رب د دوی نه	الله	نو سوال وکړ دواړو له

نو سوال وکړ دواړو له الله رب د دوی نه چي قسم دی خامخا که راکړی ته موږ ته صالح (کامل) نو خامخا سو به موږ هرومرو

مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٨٩﴾ فَلَمَّآ اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ

شُرَكَآءَ	لَهٗ	جَعَلَا	صَالِحًا	اٰتٰهُمَا	فَلَمَّآ	الشّٰكِرِيْنَ	مِنَ
شريکان	الله ته	نو وګرځولی دوی دواړو	صالح (ولد)	ورکړ (الله) دوی ته	نو کله چي	شکر ايستونکو	له

له شکر ايستونکو . نو کله چي ورکړ (الله) دوی ته صالح (ولد) نو وګرځولی دوی دواړو الله ته شريکان

فِيْمَآ اٰتٰهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿١٩٠﴾ اَيُشْرِكُوْنَ

اَيُشْرِكُوْنَ	يُشْرِكُوْنَ	عَمَّا	اللّٰهُ	فَتَعٰلَى	اٰتٰهُمَا	فِيْمَآ
آيا شريک ګرځوی دوی	چي دوی ئی شريکوی	له هغه	الله	نو پورته دی	چي ورکړ دوی ته	په هغه کښي

په (نامه د) هغه کښي چي ورکړ دوی ته (الله) نو پورته (لوی) دی الله له هغه چي دوی ئی شريکوی. آيا شريک ګرځوی دوی

مَا لَا يَخْلُقُ شَيْــًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿١٩١﴾ ۖ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ	يُخْلَقُوْنَ	وَّهُمْ	شَيْــًٔا	لَا يَخْلُقُ	مَا
او طاقت نه لری دا (بتان)	پيدا کاوه سی	حال دا چي دوی	هيڅ شی	چي نسي پيدا کولی	هغه شی

هغه شی چي نسي پيدا کولی هيڅ شی حال دا چي دغه (بتان) پيدا کاوه سی. او طاقت نه لری دا (بتان)

لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٢﴾ وَاِنْ

وَاِنْ	يَنْصُرُوْنَ	وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ	نَصْرًا	لَهُمْ
او که	مرسته کولی سی	او نه له ځانونو خپلو سره	د مرستی کولو	له پاره د دغو

له پاره د دغو (عابدانو خپلو) د مرستی کولو او نه له ځانونو خپلو سره مرسته (مدد) کولی سی او که

تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ؕ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ

عَلَيْكُمْ	سَوَآءٌ	لَا يَتَّبِعُوْكُمْ	اِلَى الْهُدٰى	تَدْعُوْهُمْ
پر تاسی	برابره ده	نو نه کوی متابعت دوی ستاسی	سمی صافی لاری ته	تاسی را بولئ دوی

تاسی را بولئ دوی سمی صافی لاری ته نو نه کوی متابعت دوی ستاسی برابره ده پر تاسی (دغه خبره)

اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ﴿١٩٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

اَدَعَوْتُمُوْهُمْ	اَمْ	اَنْتُمْ	صَامِتُوْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ
چي آیا بولئ تاسی (دوی)	او كه	يئ تاسی	چپ	بيشكه!	هغه كسان

چي آیا بولئ تاسی (دوی) او كه يئ تاسی چپ (د دوی له بلنی څخه) بيشكه! هغه كسان

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ

تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	عِبَادٌ	اَمْثَالُكُمْ	فَادْعُوْهُمْ
چي عبادت ئي كوئ تاسي	بي له	الله	مملوكان دي	په شان ستاسي	نو وبولئ تاسي دوی

چي عبادت كوئ تاسي (اى مشركانو! د دوی او بولئ يي) بي له الله مملوكان دي په شان ستاسي نو وبولئ تاسي دوی

فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٩٤﴾ اَلَهُمْ

فَلْيَسْتَجِيْبُوْا	لَكُمْ	اِنْ	كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	اَلَهُمْ
نو دي مني دوی	ستاسي	كه	يئ تاسي	صادقان	ايا سته دوی ته

نو دي مني دوی (دغه بلنه) ستاسي كه يئ تاسي صادقان (رښتيني په دغه دعوى كښي). آيا سته دوی ته (داسي)

اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ

اَرْجُلٌ	يَّمْشُوْنَ	بِهَآ	اَمْ لَهُمْ	اَيْدٍ	يَّبْطِشُوْنَ	بِهَآ
پښي	چي تلل كوی دوی	په هغو سره	آيا سته دوی ته	لاسونه	چي نيول كوی دوی	په هغو سره

پښي چي تلل كوی دوی په هغو سره، آيا سته دوی ته (داسي) لاسونه چي نيول كوی دوی په هغو سره

اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ

اَمْ لَهُمْ	اَعْيُنٌ	يُّبْصِرُوْنَ	بِهَآ	اَمْ لَهُمْ	اٰذَانٌ	يَّسْمَعُوْنَ
آيا سته دوی ته	سترګی	چي ليدل كوی دوی	په هغو سره	آيا سته دوی ته	غوږونه	چي اوريدل كوی دوی

آيا سته دوی ته (داسي) سترګی چي ليدل كوی دوی په هغو سره، آيا سته دوی ته (داسي) غوږونه چي اوريدل كوی دوی

بِهَا قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ فَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿١٩٥﴾

بِهَا	قُلِ	ادْعُوْا	شُرَكَآءَكُمْ	ثُمَّ	كِيْدُوْنِ	فَلَا تُنْظِرُوْنِ
په هغو سره	ووايه	چي راوبولئ تاسي	شريكان خپل	بيا	ضرور ورسوئ ماته	پس مهلت مه راكوئ تاسي ماته

په هغو سره ، ووايه (اى محمده!) چي راوبولئ تاسي شريكان خپل بيا ضرور ورسوئ ماته پس مهلت مه راكوئ تاسي ما ته

اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ..لنډ تفسير: غرض دا چي اى كفارو تاسي خداى پريږدى او دكمو عبادت چي كوى دغه هم ستاسي په شان دالله ﷻ مملوك بندګان دي يعني تر تاسي زيات نه دي . پس موږ خو به تاسي رښتيني هلته وګڼو چي تاسي خو دوی راوبلى او بيا دوی ته پكار دي چي ستاسي خبره ومنى كه تاسي ددوی په عقيده دخدايي كي رښتيني ياست او دغه عاجزان خو ستاسي وينا لا څه كوي دخپلو منلو آلات هم دوی ته نصيب نه دي چي و ګوري آيا ددوی سترګي سته په كمو چي دوی ويني يا ددوی غوږونه سته په كمو چي واوري نو كله چي په دوی كي دكار طاقتونه نسته نو يو كار به څنګه ور څخه صادر سي او ته دا هم ووايه چي لكه څنګه چي دوی خپلو عقيدتمندو ته دنفع رسولو څخه عاجزه دي دغه ډول خپلو مخالفوته ضرر هم نسي رسولى لكه چي تاسي واياست چي زموږ دبتانو بي ادبي مه كوی كني دوی به پر تاسي څه آفت رانازل كړي او دا ستاسي دځانه جوړي خبري دي :
(معارف القرآن ج٣ پ٩ ص١٥٥)
مكتبه حبيبيه

إِنَّ وَلِـِّۧىَ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ الْکِتٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى

إِنَّ	وَلِيِّ	اللّٰهُ	الَّذِیْ	نَزَّلَ	الْکِتٰبَ	وَهُوَ	يَتَوَلَّى
بيشكه!	ولی زما	الله دی	هغه چې	تو ته تو ته ئی نازل کړی دی	کتاب	او هم دغه (الله)	دوستی کوی

بیشکه! ولی (ناصر او ساتونکی) می الله دی هغه چې تو ته تو ته ئی نازل کړی دی کتاب او هم دغه (الله) دوستی (ساتنه) کوی

الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٩٦﴾ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

الصّٰلِحِيْنَ	وَالَّذِيْنَ	تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ
د صالحانو	او هغه (معبودان)	چې ئی بولئ تاسی	بې له الله

د صالحانو (او کارونه یې جوړوی). او (بیشکه) هغه (معبودان) چې ئی بولئ تاسی بې له الله

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٧﴾

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ	نَصْرَكُمْ	وَلَآ اَنْفُسَهُمْ	يَنْصُرُوْنَ
طاقت نه لری دوی	د نصرت ستاسی	او نه د ځانونو خپلو سره	مرسته کولی سی

طاقت نه لری دوی د نصرت (مرستی کولو) ستاسی او نه د ځانونو خپلو سره مرسته کولی سی. (نو زه یی څه پروا لرم).

وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ۖ وَتَرٰىهُمْ

وَاِنْ	تَدْعُوْهُمْ	اِلَى	الْهُدٰى	لَا يَسْمَعُوْا	وَتَرٰىهُمْ
او که	راوبولئ تاسی دوی	په جانب	د هدایت	نو هیڅ نه اوری دوی	او وینی به ته دوی

او که راوبولئ تاسی دوی په جانب د هدایت نو هیڅ نه اوری دوی او وینی به ته (ای محمده!) دوی

يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٩٨﴾ خُذِ الْعَفْوَ

يَنْظُرُوْنَ	اِلَيْكَ	وَهُمْ	لَا يُبْصِرُوْنَ	خُذِ	الْعَفْوَ
چې ګوری به دوی	تا ته	حال دا چې دوی	به هیڅ نه وینی	ونیسه	عادت د عفوی کولو

چې ګوری به دوی تا ته حال دا چې دوی به هیڅ نه وینی. ونیسه (ای محمده! عادت د) عفوی کولو

وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿١٩٩﴾

وَاْمُرْ	بِالْعُرْفِ	وَاَعْرِضْ	عَنِ	الْجٰهِلِيْنَ
او امر وکړه	په معروف سره	او مخ وګرځوه!	له	جاهلانو څخه

او امر (حکم) وکړه په معروف (نیکو کارونو) سره او مخ وګرځوه! (په څنګ سه!) له جاهلانو څخه.

خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ... دقراني اخلاقو یوه جامعه هدایت نامه: په دغه ایاتونوکي الله جل جلاله دخپل کلام مبارک په ذریعه دنبي کریم ﷺ تربیت وکی ده ته یي په ټولو اولینو او اخرینو کي صاحب دخلق عظیم (یعني دلویو اخلاقو دمالک) خطاب ورکی: په تیرو ایاتونوکي داسلام د دښمنانو دعناد او بدو اخلاقو دذکر کولو څخه وروسته په دې ایاتونو کي ددې په مقابله کي نبي کریم ﷺ ته دښه اخلاقو هدایت ورکول سویدی چي ددې درو جملو څخه اوله جمله (خذالعفو) ده دعربي دلغت په اعتبار سره دلفظ د (عفو) ډیري معناوي کیدای سي او پر دې موقع دهري یوې معنی ګنجایش سته په دې وجه دتفسیر دعالمانو مختلفو ډلو مختلفي معناوي بیان کړي دي جمهورو تفسیر لیکونکو چي کمه اختیاره کړیده هغه داده چي عفو ویل کیږي هر داسي کار ته کم چي په آسانی سره بغیر دڅه تکلیف او مشقت څخه وسي نو معنی ددې جملې دا سوه چي ته قبلوه هغه شی کم چي خلګ په آسانی سره کولای سي یعني په شرعي واجباتوکي دخلګو څخه دلوړ معیار مطالبه مه کوه بلکي څومره چي دوی په آسانی سره کولی سي هم هغه ورڅخه قبلوه: (معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۱۵۸)

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۚ إِنَّهُ

وَإِمَّا	يَنزَغَنَّكَ	مِنَ	الشَّيْطٰنِ	نَزْغٌ	فَاسْتَعِذْ	بِاللّٰهِ	إِنَّهُ
او كه	باعث او تيز كړي تا	له	طرفه د شيطان	كومه وسوسه	نو پناه وغواړه	په الله پورې	بيشكه! دغه

او كه باعث او تيز كړي تا (په معصيت) له طرفه د شيطان كومه وسوسه نو پناه وغواړه په الله پورې بيشكه! دغه (الله)

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ

سَمِيعٌ	عَلِيمٌ	إِنَّ	الَّذِينَ	اتَّقَوْا	إِذَا	مَسَّهُمْ	طٰٓئِفٌ
ښه اوريدونكى	ښه عالم دى	بيشكه!	هغه كسان	چې ويريږي (له الله)	كله چې	ورسيږي دوى ته	كومه وسوسه

ښه اوريدونكى ښه عالم دى. بيشكه! هغه كسان چې ويريږي (له الله) كله چې ورسيږي دوى ته كومه وسوسه

مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾

مِّنَ	الشَّيْطٰنِ	تَذَكَّرُوا	فَإِذَا	هُم	مُّبْصِرُونَ
له طرفه	د شيطان	نو ياد وي دوى	پس ناڅاپه	دوى	ليدونكي وي

له طرفه د شيطان، نو ياد كاندي دوى (حكم د الله او ويښ شي) پس ناڅاپه دوى ليدونكي وي (د حق).

وَإِخْوٰنُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾ وَإِذَا

وَإِخْوٰنُهُمْ	يَمُدُّونَهُمْ	فِي الْغَيِّ	ثُمَّ	لَا يُقْصِرُونَ	وَإِذَا
او وروڼه د دوى	راكاږي دغه (كفار)	په ګمراهۍ كښې	بيا	نه كوي دوى تقصير	او ترهغه وخته پورې

او وروڼه د دوى (شيطانان) راكاږي (چلوي) دغه (كفار) په ګمراهۍ كښې بيا نه كوي دوى تقصير. او ترهغه وخته پورې

لَمْ تَأْتِهِم بِاٰيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَآ

لَمْ تَأْتِهِم	بِاٰيَةٍ	قَالُوا	لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا	قُلْ	إِنَّمَآ
چې رانه وړې دوى ته	كومه معجزه	وائي دوى	ولې دى غوره نه كړه داسې معجزه	نو ووايه	بيشكه! هم داخبره ده

چې رانه وړې دوى ته كومه معجزه وائي دوى ولې دى غوره نه كړه داسې معجزه، نو ووايه بيشكه!

أَتَّبِعُ مَا يُوحٰٓى إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هٰذَا بَصَآئِرُ مِن

أَتَّبِعُ	مَا	يُوحٰٓى	إِلَيَّ	مِن	رَّبِّي	هٰذَا	بَصَآئِرُ	مِن
چې زه متابعت كوم	د هغه څه	چې وحې كولى سي ماته	له طرفه	د	رب زما	دغه (قرآن)	دلايل پوهنى دى	له (جانبه)

چې زه متابعت كوم د هغه څه چې وحې كولى سي ماته له طرفه د رب زما، دغه (قرآن) پوهنى دى له (جانبه د

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ..په الله ﷻ پوري پناه د شيطان دوسوسو اكسير علاج دى: په دغه ايت كي الله ﷻ ارشاد فرمايي نبي كريم ﷺ ته او حكم عام دى امت ته هم كه چيري تاسي ته د شيطان دطرفه څخه وسوسه راسي نو دالله ﷻ څخه پناه غوړى هغه ښه اوريدونكى او پوه دى :په حقيقت كي دغه ايت هم داولني آيت دمضمون مكمل كوونكى دى ځكه چي په دي كي كم هدايت وركول سوى دى چي دظلم كوونكو او جاهلانود خطاګانو څخه درګزر كوه ددوى دبدى جواب په بدى سره مه وركوه داخبره دانساني طبعيت دپاره تر تولو زياته ګرانه او سخته ده او بيا شيطان خو په داسي موقعوكي ښه او نيك بنده ته هم غصه ورولي او دجنګ او جګړې دپاره يي تياروي په دې وجه په دې بل آيت كي ددې تلقين وسو چي كه داسي دبې صبرى په موقعو كي دغصې جذبات راپاروونكي سي نو پوه سى چي دادشيطان دطرف څخه دي او علاج يي دادى چي دالله ﷻ څخه پناه وغواړى او اعوذ بالله من الشيطن الرّجيم ووايا ست چي دې ته استعاذه ويل كيږي.
(معرف القرآن ج٣پ٩ص ١٦٢)

رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ

رَّبِّكُمْ	وَهُدًى	وَّرَحْمَةٌ	لِّقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	وَإِذَا	قُرِئَ	الْقُرْاٰنُ
رب ستاسی	او هدایت	او رحمت دی	له پاره د قوم	چي مؤمنان دی دوی	او کله چي	ولوستلی سی	قرآن

رب ستاسی او هدایت او رحمت دی له پاره د (هغه) قوم چي مؤمنان دی دوی. او کله چي ولوستلی سی قرآن

فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ وَاذْكُرْ

فَاسْتَمِعُوْا	لَهٗ	وَاَنْصِتُوْا	لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ	وَاذْكُرْ
نو غوږ ونیسئ تاسی	هغه ته	او چپ اوسئ تاسی	له پاره د دی چي	رحم درباندی وسی	او یاد وه ته (ای بنده!)

نو غوږ کیږدئ تاسی هغه ته او چپ اوسئ تاسی له پاره د دی چي رحم درباندی وسی. او یاد وه ته (ای بنده!)

رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ

رَّبَّكَ	فِيْ	نَفْسِكَ	تَضَرُّعًا	وَّخِيْفَةً	وَّدُوْنَ الْجَهْرِ	مِنَ
رب خپل	په	زړه خپل کښی	په زاری	او بیری سره	او کم تر لوړ اواز	له

رب خپل په زړه خپل کښی په زاری او بیری سره او کم له هسکه (وچته) غږه له

الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۲۰۵﴾

الْقَوْلِ	بِالْغُدُوِّ	وَالْاٰصَالِ	وَلَا تَكُنْ	مِّنَ	الْغٰفِلِيْنَ
وینا	په اولو برخو د سبا کښی	او په وروستنیو برخو د ماښام کښی	او مه کیږه	له	غافلانو

وینا په ړومبنیو برخو د سبا کښی او په وروستنیو برخو د بیګا کښی او مه کیږه (ای زما بنده) له غافلانو (بی خبرانو!)

اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	عِنْدَ	رَبِّكَ	لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ	عَنْ
بیشکه!	هغه (ملائیکی)	چي په نزد	د رب ستا کښی دی	نه کوی تکبر دوی	له

بیشکه! هغه (ملائیکی) چي په نزد د رب ستا کښی (مقربی) دی نه کوی تکبر (لوئی) دوی له

عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ﴿۲۰۶﴾ السجدة ۱ ع ۱۴

عِبَادَتِهٖ	وَيُسَبِّحُوْنَهٗ	وَلَهٗ	يَسْجُدُوْنَ
عبادت د دغه (الله) څخه	او پاکی وائی په هر وخت د دغه (الله)	او خاص هم دغه الله ته	سجدی کوی

عبادت د دغه (الله) څخه او پاکی وائی په هر وخت د دغه (الله) او خاص هم دغه الله ته سجدی کوی.

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ. د قران دتلاوت په وخت کي دچپ کیدو او اوریدو متعلق یو څو ضروري مسئلې: د دې په مقابله کي دا په خپله ښکاره خبره ده چي که چا ددې خلاف ورزي وکړه او د قرآن کریم بې حرمتي یې وکړه نو دغه به د رحمت پر ځای دقهر او غضب مستحق وي په لمانځه کي د ننه خو د قرآن کریم طرف ته غوږ اینبول او چپ کیدل په عام طور سره مسلمانانو ته معلوم دي که څه هم په عمل کي کوتاهي کوي ځیني خلګو ته خو دا هم پته نه وي چي امام کم سورت ویلی دی پر داسي خلګو لازم ده چي د قرآن کریم عظمت وپیژني او داوریدو طرف ته یي خیال وکي د جمعې دخطبې او نورو هم شرعاً حکم دی ددې آیت څخه علاوه د نبي کریم ﷺ ارشاد په خاص طور سره د خطبې متعلق دا راغلی دی چي (اذا خرج الامام فلاصلوة ولا کلام) یعني کله چي امام د خطبې د پاره راووزي نو نه لمونځ سته نه خبري او دا هم په حدیث شریف کي راغلي دي چي یو سړی به بل ته په طور د نصیحت هم نه وایي چي چپ سه د خطبې په وخت کښي الخ. (معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۱۶۶)

آياتونه ٧٥ — ٨ سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ مَدَنِيَّةٌ ٨٨ — ركوعي ١٠

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ۭ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ

يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ	الْاَنْفَالِ	قُلِ	الْاَنْفَالُ	لِلّٰهِ
پوښتنه کوي دوی له تا څخه	له	غنيمتونو څخه	ووايه	غنيمتونه	خاص الله لره دی

پوښتنه کوي دوی له تا څخه (ای محمده!) له (حکمه د) غنائمو څخه ووايه (دوی ته چي اموال د) غنيمتونه خاص الله لره دی

وَالرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۠

وَالرَّسُوْلِ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاَصْلِحُوْا	ذَاتَ	بَيْنِكُمْ
او رسول لره دی	پس وبيرېږئ تاسی	له الله څخه	او اصلاح وکړی تاسی	دهغه حال چي	په مينځ ستاسی کښی دی

او رسول (د الله) لره دی پس وبيرېږئ تاسی له الله څخه او اصلاح وکړی تاسی دهغه حال چي په مينځ ستاسی کښی دی

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ① اِنَّمَا

وَاَطِيْعُوا	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	اِنْ	كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	اِنَّمَا
او حکم ومنئ تاسی	د الله	او د رسول د الله	که	يئ تاسی	مؤمنان	بيشکه! خبره هم دا ده

او حکم ومنئ تاسی د الله او د رسول د الله که يئ تاسی مؤمنان. (په حقه سره). بيشکه! خبره هم دا ده

الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ

الْمُؤْمِنُوْنَ	الَّذِيْنَ	اِذَا	ذُكِرَ	اللّٰهُ	وَجِلَتْ	قُلُوْبُهُمْ
چي مؤمنان	هغه کسان دی	کله چي	ياد کړی سی	الله	نو بيرېږی	زړونه د دوی

چي مؤمنان هغه کسان دی کله چي ياد کړی سی (دوی ته نوم د) الله نو بيرېږی زړونه د دوی

وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى

وَاِذَا	تُلِيَتْ	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتُهٗ	زَادَتْهُمْ	اِيْمَانًا	وَّعَلٰى
او کله چي	ولوستی سی	پر دوی باندی	آيتونه د الله	نو زياتوی دغه (آيتونه) دوی لره	ايمان (د دوی)	او پر

او کله چي ولوستی شی پر دوی باندی آيتونه (کلام) د الله نو زياتوی دغه (آيتونه) دوی لره ايمان (د دوی) او پر

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ۭ قُلِ الْاَنْفَالُ. تفسير: دا آيت د بدر په غزا کي دپيښي سوي واقعې سره تعلق لري دآيت تر مفصل تفسير مخکي دغه واقعه مخ ته راولي نو په تفسير به پوهيدل آسان سي واقعه داده چي دبدر په غزا کي کمه چي دکفر او اسلام تر ټولو اوله جګړه وه په دي کي چي کله مسلمانانو فتح پيدا کړه او دغنيمت څه مال يې لاس ته راوی نو داصحابو کرامو ﷺ په مينځ کي ددي دتقسيم متعلق يوه داسي واقعه پيښه سوه کمه چي داخلاص او اتفاق د دغه مقام سره نه ښاييده په کم کي چي داصحابو کرامو ﷺ پوره ژوند برابر سوی وو په دي وجه يي ترټولو اول په آيت کي ددي فيصله وکړه دپاره ددي چي ددي پاکي ټولی په زړونو کي دصدق ، او اخلاص ، او اتفاق او قرباني څخه ماسوا څه پاته نه سي ددي واقعي تفصيل دبدر په غزا کي دشريک حضرت عبادة بن صامت ﷺ په ژبه داسي راغلی دی دی وايي چي دبدر دغنيمت په مالونو کي زموږ اختلاف سو الله ﷻ د دغه ايت په ذريعه هغه مالونه زموږ دلاسو څخه وايستل او نبي کريم ﷺ ته يي وسپارل الخ : (معارف القرآن ج٣ پ٩ ص ١٧٥)

رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُوۡنَ ۝٢ الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ

الصَّلٰوةَ	يُقِيۡمُوۡنَ	الَّذِيۡنَ	يَتَوَكَّلُوۡنَ	رَبِّهِمۡ
لمونځ	چي قائموی دوی	هغه (مؤمنان) دی	توکل کوی دوی	رب خپل باندی

رب (پالونکی) خپل باندی توکل (اعتماد) کوی دوی. (دوی) هغه (مؤمنان) دی چی قائموی دوی لمونځ

وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ۝٣ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ

الۡمُؤۡمِنُوۡنَ	هُمُ	اُولٰٓئِكَ	يُنۡفِقُوۡنَ	رَزَقۡنٰهُمۡ	وَمِمَّا
مؤمنان	هم دوی دی	دغه کسان	نفقه کوی	چی ورکړی دی موږ دوی ته	او له ځینی د هغه ماله

او له ځینی د هغه ماله چی ورکړی دی موږ دوی ته نفقه کوی (لګوی په لاره د الله کښی) دغه کسان هم دوی دی مؤمنان

حَقًّا لَهُمۡ دَرَجٰتٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٌ وَّرِزۡقٌ كَرِيۡمٌ ۝٤

كَرِيۡمٌ	وَّرِزۡقٌ	وَمَغۡفِرَةٌ	رَبِّهِمۡ	عِنۡدَ	دَرَجٰتٌ	لَهُمۡ	حَقًّا
نیک (دعزت)	او رزق	او مغفرت	د رب د دوی	په نزد	درجی	سته دوی ته	په حقه سره

په حقه سره سته دوی ته درجی په نزد د رب د دوی او مغفرت (بخښنه) او رزق نیک (دعزت).

كَمَآ اَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۡۢ بَيۡتِكَ بِالۡحَقِّ وَاِنَّ فَرِيۡقًا

فَرِيۡقًا	وَاِنَّ	بِالۡحَقِّ	بَيۡتِكَ	مِنۡ	رَبُّكَ	اَخۡرَجَكَ	كَمَآ
یوه (ډله)	حال دا چی بیشکه!	په حقه سره	کوره خپله	له	رب ستا	چی ایستلی وی ته	لکه

لکه چی ایستلی وی ته رب ستا له کوره خپله په حقه سره، حال دا چی بیشکه! یوه (ډله)

مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ لَكٰرِهُوۡنَ ۝٥ يُجَادِلُوۡنَكَ فِي الۡحَقِّ

فِي الۡحَقِّ	يُجَادِلُوۡنَكَ	لَكٰرِهُوۡنَ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	مِّنَ
په حقه خبره کښی	حال دا چی جګړه کوله دوی له تا سره	خامخا ناخوښه وه	مؤمنانو	له

له مؤمنانو خامخا ناخوښه وو (له دی ایستلو چی ورته تیار نه وو). حال دا چی جګړه کوله دوی له تا سره په حقه خبره کښی

بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا يُسَاقُوۡنَ اِلَى الۡمَوۡتِ وَهُمۡ

وَهُمۡ	الۡمَوۡتِ	اِلَى	يُسَاقُوۡنَ	كَاَنَّمَا	تَبَيَّنَ	مَا	بَعۡدَ
په داسی حال کښی چی دوی	د مرګ ته	طرف	بیولی کیږی دوی	ګواکی	چی ښکاره سوه	له هغه	وروسته

وروسته له هغه چی ښکاره سوه (دوی ته فتح ستا) ګواکی بیولی کیږی دوی طرف د مرګ ته په داسی حال کښی چی دوی

الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ۔ څلورم صفت دمومنانو لمونځ

قایمول: په دغه آیت کي الله ﷻ دمومنانو یو صفت دلمانځه قایم ساتل ذکر کړي دي په دې کي داخبره دیادوولو قابله ده چي دلته یي دلمانځه کول نه دي ویلي بلکي دلمانځه قایمول یي ویلي دي او دقایمولو څخه مراد دادی چي هغه دپوره شرطونو اوآدابو سره وسي لکه څنګه چي نبي کریم ﷺ په خپل قول او فعل کي کړی او ښوولی دی که دادابو او شرائطو کوتاهي په کښي وسوه نو هغه ته لمونځ خوویل کیږي مګر لمونځ قایمول ورته نه ویل کیږي په قرآن کریم کي چي دلمانځه کمي فایدې او او برکتونه ذکر سوي دي او فرمایلي یي دي (انّ الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر) یعني لمونځ دبې حیایي او هري ګناه څخه منع کوي داپر لمونځ قایم ساتلو باندي موقوف دي کله چي دلمونځ په ادابو کي کوتاهي وسي نو که څه هم دفتوی په اعتبار سره وده ته لمونځ ویل کیږي مګر دلمونځ په برکتونو کي به دکوتاهي په مقدار فرق راځي او په ځیني صورتو کي به په کلي طوربانديددې برکت څخه محرومي وي.

(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۱۸۴)

يَنْظُرُوْنَ ﴿٦﴾ وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ

يَنْظُرُوْنَ	وَاِذْ	يَعِدُكُمُ	اللّٰهُ	اِحْدَى	الطَّآئِفَتَيْنِ
وینی	او هغه وخت	چې وعده کوله له تاسی سره	الله	یوه د	دوو طائفو (ډلو څخه)

وینی (عینا مرګ په سترګو). او (یاد کړئ) هغه وخت چې وعده کوله له تاسی سره الله یو د دوو طائفو (ډلو څخه)

اَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ

اَنَّهَا	لَكُمْ	وَتَوَدُّوْنَ	اَنَّ	غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ	تَكُوْنُ
چې بیشکه! دغه	تاسی لره ده	او ستاسی خوښه وه	چې بیشکه!	هغه بې وسلې بې زحمته	وی

چې بیشکه! دغه تاسی لره ده او ستاسی خوښه وه چې بیشکه! هغه بې وسلې بې زحمته (بې اغزي ډله دی) وی

لَكُمْ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ

لَكُمْ	وَيُرِيْدُ	اللّٰهُ	اَنْ	يُّحِقَّ	الْحَقَّ	بِكَلِمٰتِهٖ	وَيَقْطَعَ	دَابِرَ
تاسی ته	او اراده لری	الله	ددی چې	ښکاره ثابت کړی	رښتیا	په کلامونو خپلو سره	او پرې کړی	بیخ

تاسی ته او اراده لری الله د دی چې ښکاره ثابت کړی رښتیا په کلامونو خپلو سره او پرې کړی بیخ

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧﴾ لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ

الْكٰفِرِيْنَ	لِيُحِقَّ	الْحَقَّ	وَيُبْطِلَ	الْبَاطِلَ	وَلَوْ كَرِهَ
دکافرانو	له پاره د دی چې ظاهر غالب کړی	حق	او ظاهر کړی	بطلان د باطل	او اګر که بده منی (داخبره)

د کافرانو . له پاره د دی چې ظاهر غالب کړی حق (دین د اسلام) او ظاهر کړی بطلان د باطل او اګر که بده منی (داخبره)

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٨﴾ اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ

الْمُجْرِمُوْنَ	اِذْ	تَسْتَغِيْثُوْنَ	رَبَّكُمْ	فَاسْتَجَابَ	لَكُمْ
مجرمان	هغه وخت چې	طلب د فریاد کوی تاسی	رب خپل ته	نو الله در ورسیده	له پاره د (فریاد) ستاسی

مجرمان (کافران). هغه وخت چې استغاثه به کوله تاسی رب خپل ته نو الله در ورسیده له پاره د (فریاد) ستاسی

اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ﴿٩﴾

اَنِّيْ	مُمِدُّكُمْ	بِاَلْفٍ	مِّنَ	الْمَلٰٓئِكَةِ	مُرْدِفِيْنَ
چې بیشکه! زه	مرسته کوونکی یم له تاسی سره	په زرو تنو	له	ملائیکو څخه	یو په بلې پسې راتلونکی

چې بیشکه! زه مرسته کوونکی یم له تاسی سره په زرو تنو له ملائیکو څخه یو په بلی پسې راتلونکی.

وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ.. دبدر دغزا ذکریه ذکر سوو اياتونوکي

په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله جل جلاله دبدر دغزا واقعه او په دي کي چي کم دالله جل جلاله دطرفه څخه د نصرت او امداد مخصوص انعامونه پر مسلمانانو باندي سوي وه دهغه بيان کړی دی په اول اودوهم آيت کي دابيان سوي دي چي څه وخت نبي کريم صلی الله علیه وسلم او اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته دا اطلاع ورسيده چي دقريشو لوی لښکر دخپلي تجارتي قافلي دحفاظت دپاره دمکي څخه راوتلی دی نو اوس دمسلمانانو په مخکي دوه جماعتونه وه يوه تجارتي قافله چي په روايتونو کي ورته نَفِير ويل سوی دی په دې ايت کي دا وښوول چي دا وخت الله جل جلاله دخپل رسول صلی الله علیه وسلم او دده په واسطه د ټولو مسلمانانو سره داوعده وفرمايله چي په دې دوارو ډلو کي پر يوه ډله به ستاسي مکمله قبضه راسي چي ددوی متعلق تاسي څه غواړی کولی به يي سی اوس دا ظاهره ده چي پر تجارتي قافله قبضه آسانه وه بيره په کښي نه وه او پر مسلح فوج باندي حمله مشکله او دخطرو څخه ډکه وه په دې وجه يي غير واضحه وعده واورولـه:
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص۱۹۴)

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَىِٕنَّ

وَمَا جَعَلَهُ	اللّٰهُ	اِلَّا	بُشْرٰى	وَلِتَطْمَىِٕنَّ
اونه وه ګرځولی دغه	الله	مګر	دپاره د دې چې زيری سی	او له پاره د دې چې مطمئن سی

او نه وه ګرځولی دغه (مرسته) الله مګر دپاره د دې چې زيری سی (د نصرت) او له پاره د دې چې مطمئن سی

بِهٖ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ

بِهٖ	قُلُوْبُكُمْ	وَمَا النَّصْرُ	اِلَّا	مِنْ	عِنْدِ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ
په دغې مرستې سره	زړونه ستاسې	او نه ده مرسته	مګر	له	جانبه	د الله	بيشکه!	الله

په دغې مرستې سره زړونه ستاسې او نه ده مرسته مګر (خوده) له جانبه د الله، بيشکه! الله

ع ۱۰
۱۵

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۱۰ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً

عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ	اِذْ	يُغَشِّيْكُمُ	النُّعَاسَ	اَمَنَةً
ښه غالب قوی دی	ښه حکمت والا	هغه وخت چې	واچوله (الله) په تاسې باندې	پر کالی د (خوب)	دپاره د امن

ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا. (ياد کړئ) هغه وخت چې واچوله (الله) په تاسې باندې پر کالی (دخوب) دپاره د امن

مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ

مِّنْهُ	وَيُنَزِّلُ	عَلَيْكُمْ	مِّنَ	السَّمَآءِ	مَآءً	لِّيُطَهِّرَكُمْ
ستاسې له خپله جانبه	او نازلی کړی	پر تاسې	له (طرفه د)	آسمانه	اوبه	دپاره د دې چې پاک کړی تاسې

(تسکين) ستاسې له خپله جانبه او نازلی کړی (الله) پر تاسې له (طرفه د) آسمانه اوبه دپاره د دې چې پاک کړی تاسې

بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ

بِهٖ	وَيُذْهِبَ	عَنْكُمْ	رِجْزَ	الشَّيْطٰنِ	وَلِيَرْبِطَ	عَلٰى	قُلُوْبِكُمْ
په دغو (اوبو) سره	اولری کړی	له تاسې	نجاست	د شيطان	او دپاره د دې چې قوت واچوی	په	زړونو ستاسې کښې

په دغو (اوبو) سره اولری کړی له تاسې نجاست د شيطان او دپاره د دې چې قوت واچوی په زړونو ستاسې کښې

وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ۝۱۱ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓىِٕكَةِ

وَيُثَبِّتَ	بِهِ	الْاَقْدَامَ	اِذْ	يُوْحِيْ	رَبُّكَ	اِلَى الْمَلٰٓىِٕكَةِ
او محکم کړی	په هغو سره	قدمونه ستاسې	هغه وخت چې	وحی وکړه	رب ستا	ملائيکو ته

او محکم کړی په هغو سره قدمونه ستاسې. (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چې وحی وکړه رب ستا ملائيکو ته

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَىِٕنَّ. دفرشتو راتګ مسلمانانوته يو لوی زيری وو: په دغه ايت کې الله جل جلاله دغه مضمون ارشاد فرمايي (وماجعله الله الا بشرى ولتطمئن به قلوبكم) يعني الله جل جلاله دا صرف ددې دپاره وکړل چې تاسي ته خوشخبري حاصله سي او ستاسي زړونه مطمئن سي دبدر په غزا کې چې کمې ملايکې الله جل جلاله دامداد دپاره راوليږلې ددوی شمير دلته زر ۱۰۰۰ ذکر دي او په سورت آل عمران کې درې زره ۳۰۰۰ او پنځه زره ۵۰۰۰ ذکر سوي دي ددې سبب په اصل کې درې مختلفې وعدې دي کمې چې په مختلفو حالاتو کې سوي وې اوله وعده دزرو ملايکو وسوه چې سبب يې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دعا او دعامو مسلمانانو فريادوو دوهمه وعده کمه چې ددرو زرو ملايکو دسورة آل عمران په اول کې ذکر سوي ده دا هغه وخت سوې وه کله چې مسلمانانو ته دا خبر حاصل سو چې دقريشو دلښکر دپاره نور کومک راروان دی لکه دمشرکينو دپاره دکرز بن جابر محاربي دراتګ او دکومک اوزاه مسلمانانو ته رارسيدلې وه.
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۱۹۷)

أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي

أَنِّي	مَعَكُمْ	فَثَبِّتُوا	الَّذِينَ	آمَنُوا	سَأُلْقِي	فِي
چې بیشکه! زه	له تاسی سره یم	نو ثابت کړئ تاسی	هغه کسان	چې مؤمنان دی	ژر به وغورځوم زه	په

(چې وواییٔ مؤمنانو ته) چې بیشکه! زه له تاسی سره یم نو ثابت کړئ تاسی هغه کسان چې مؤمنان دی ژر به وغورځوم زه په

قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا

قُلُوبِ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	الرُّعْبَ	فَاضْرِبُوا	فَوْقَ	الْأَعْنَاقِ	وَاضْرِبُوا
زړونو	دهغو کسانو کښې	چې کافران سوی دی	ییره	نو ووهئ تاسی	لوړ	پر غاړو	او ووهئ تاسی

زړونو د هغو کسانو کښې چې کافران سوی دی ییره نو ووهئ تاسی (سرونه د دی کفارو) دپاسه د ورمیږونو او ووهئ تاسی

مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا

مِنْهُمْ	كُلَّ بَنَانٍ	ذَٰلِكَ	بِأَنَّهُمْ	شَاقُّوا
له دغو	هر بند دګوتو	دغه دی دپاره دی	چې بیشکه! دوی	مخالفت کړی دی

له دغو (کفارو څخه هر بند) او ټولی ګوتی. دغه (وهل د کفارو) د دی دپاره دی چې بیشکه! دوی مخالفت کړی دی

اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَمَنْ يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ

اللَّهَ	وَرَسُولَهُ	وَمَنْ	يُشَاقِقِ	اللَّهَ	وَرَسُولَهُ	فَإِنَّ	اللَّهَ
له الله	او له رسول د دغه پر پرینبودلو	او هر هغه	چې مخالفت کوی	له الله	او له رسول د الله	نو بیشکه!	الله

له الله او له رسول د دغه (الله) پر پرینبودلو (دشرعی) او هر هغه چې مخالفت کوی له الله او له رسول د الله نو بیشکه! الله

شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذَٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ

شَدِيدُ	الْعِقَابِ	ذَٰلِكُمْ	فَذُوقُوهُ	وَأَنَّ	لِلْكَافِرِينَ
سخت دی	عذاب (د ده)	دغه (ستاسی دنیوی عقوبت دی)	نو وڅکئ تاسی دا	او بیشکه!	مقرر دی کافرانو ته

سخت دی عذاب (د ده). دغه (ستاسی دنیوی عقوبت دی) نو وڅکئ تاسی دا (عذاب) او بیشکه! مقرر دی کافرانو ته

عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ

عَذَابَ	النَّارِ	يَا أَيُّهَا	الَّذِينَ	آمَنُوا	إِذَا	لَقِيتُمُ	الَّذِينَ
عذاب	داور	ای	هغو کسانو	چې ایمان ئی راوړی دی	کله چې	یو ځای سئ تاسی	دهغو کسانو سره

عذاب د اور (دوزخ). ای هغو کسانو چې ایمان ئی راوړی دی کله چې یو ځای سئ تاسی د هغو کسانو سره

فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ.. پر مسلمانانو باندي دیو بل انعام ذکر: په دغه ایت کي الله ﷻ دیو بل انعام ذکر کړی دي کم چي الله ﷻ پر مسلمانانو باندي دبدر په میدان کي کړی وو هغه داچي الله ﷻ کمي ملایکي دمسلمانانو دامداد دپاره رااستولي وې هغوی ته یي خطاب وکی او وې فرمایل چي زه ستاسي سره یم تاسي د ایماندارو همت زیاتوی زه اوس دکفارو په زړونو کي رعب اچوم پس تاسي دکفارو پر څټونو نیزې را اچوی او ددوی بندونه بندونه وهی په دې کي ملایکوته دوه کارونه وسپارل سول یو دا چي د مسلمانانو همت زیات کي داداسي هم کیدای سي چي ملایکي میدان ته راسي ددوی ډله زیاته کي اوددوی سره یوځای سي په جنګ کي حصه واخلي او داسي هم کیدای سي چي په خپل تصرف سره دمسلمانانو زړونه مضبوطه کړې او په دوی کي قوت پیداسي. دوهم کار دوی ته دا هم وسپارل سو چي ملایکي په خپله په جنګ کي حصه واخلي او پر کفارو باندي حملې وکي او جهنم ته یي رسید کي الخ.
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص۲۰۳)

اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ.. داسلام دیو جنګي قانون بیان: په دغه ذکر سوو ایاتونوکي په اولني دوو ایاتوکي الله ﷻ داسلام یو جنګي قانون ښوولی دی په اولني ایت کي الله ﷻ لفظ د(زحف) څخه مراد د دواړو لښکرو مقابله کیدل او ګډوډ کیدل دي معنی داده چي دداسي جنګ او نښتو څخه وروسته شا کول او دمیدان څخه تښتیدل دمسلمانانو دپاره جایز نه دي په دوهم آیت کي ددې حکم څخه دېوې استثناء ذکر کړی دی او په ناجایزه دتښتیدونکو دسخت عذاب بیان دی: استثناء په دوو حالتونو کي ده (الا متحرّفاً لقتال او متحیزا الی فئة) یعني دجنګ په وخت کي شا کول صرف په دوو حالتونو کي جایز ده یو داچي دمیدان څخه شا ګرځول محض دیو جنګي چال په توګه باندي ودښمن ته دور ښوولو دپاره وي حقیقتا یي دمیدان څخه په ځنګ کیدل نه وي مقصد بلکي خپل مخالف په یو غفلت کي اچول وي او په یو وار ور باندي حمله کول یي مقصد وي: تفصیل په معارف القرآن کي وګوری. (معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۲۰۶)

كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿۱۵﴾ وَمَنْ

كَفَرُوْا	زَحْفًا	فَلَا تُوَلُّوْهُمُ	الْاَدْبَارَ	وَمَنْ
چي کافران سوي دي	په دغه حال کښي چي دوی ګڼ او غونډ وي	نو مه ګرځوئ تاسي دغو ته	شاوي خپلې	او هر هغه چي

چي کافران سوي دي په دغه حال کښي چي دوی غونډ وي نو مه ګرځوئ تاسي دغو ته شاوي خپلې. او هر هغه چي

يُّوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗۤ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ

يُّوَلِّهِمْ	يَوْمَئِذٍ	دُبُرَهٗۤ	اِلَّا	مُتَحَرِّفًا	لِّقِتَالٍ
وګرځوي دغو ته	په دغه ورځ	شا خپله	مګر	په دې حال کښي چي بیرته ګرځیدونکی وي	لپاره د جنګ

وګرځوي دغو (کفارو) ته په دغه ورځ شا خپله مګر په دې حال کښي چي بیرته ګرځیدونکی وي لپاره د جنګ

اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ

اَوْ مُتَحَيِّزًا	اِلٰى	فِئَةٍ	فَقَدْ	بَآءَ	بِغَضَبٍ	مِّنَ	اللّٰهِ
یا یو ځای کیدونکی وي	په طرف	دبلی طائفي	نو په تحقیق	رجوع ئي وکړه	او اخته سو په غضب	له (جانبه د)	الله

یا یو ځای کیدونکی وي په طرف د بلې طائفې (دمجاهدینو) نو په تحقیق رجوع ئي وکړه او اخته سو په غضب له (جانبه د) الله

وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

وَمَاْوٰىهُ	جَهَنَّمُ	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ
او ځای د اوسیدلو د ده	دوزخ دی	او بد	ځای د ورتلو دی	نو نه دي وژلي تاسي دغه	ولیکن	الله

او ځای د اوسیدلو د ده دوزخ دی او بد ځای د ورتلو دی. نو نه دي وژلي تاسي دغه ولیکن الله

قَتَلَهُمْ ۪ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ

قَتَلَهُمْ	وَمَا رَمَيْتَ	اِذْ	رَمَيْتَ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	رَمٰى
وژلي دي دغه	او نه دي ویشتلې کړي تا	په هغه وخت کښي	چي ویشتلې کړي وو تا	ولیکن	الله	دغه ویشتلې کړي وو

وژلي دي دغه (کفار) او نه دي ویشتلې کړي تا په هغه وخت کښي چي (ظاهري) ویشتلې کړي وو تا ولیکن الله دغه ویشتلې کړي وو

وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۷﴾

وَلِيُبْلِيَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	مِنْهُ	بَلَآءً	حَسَنًا	اِنَّ	اللّٰهَ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ
او د دې له پاره چي وازموئي	مومنان	له طرفه خپل	په ازموینه	نیکه سره	بیشکه!	الله	ښه اوریدونکی	ښه عالم دانا دی

او د دې له پاره چي وازموئي مومنانو له نزده خپل په ازموینه نیکه سره بیشکه الله ښه اوریدونکی ښه عالم دانا دی

ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۸﴾ اِنْ

ذٰلِكُمْ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	مُوْهِنُ	كَيْدِ	الْكٰفِرِيْنَ	اِنْ
دغه (تير احسان وسو)	او چي بيشكه!	الله	ضعيفوونكى	د تدبير	دكفارو دى	كه

دغه (تير احسان وسو) او دغه خبره حقه ده چي بيشكه الله ضعيفوونكى د تدبير د كفارو دى. كه

تَسْتَفْتِحُوْا فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ ۚ وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ

تَسْتَفْتِحُوْا	فَقَدْ	جَآءَكُمُ	الْفَتْحُ	وَاِنْ	تَنْتَهُوْا	فَهُوَ
غواړئ تاسي فتح	نو په تحقيق	راغلا تاسي ته	فتح	او كه	تاسي منع راوړه	نو دغه

غواړئ تاسي فتح نو په تحقيق راغلا تاسي ته فتح (فيصله) او كه تاسي منع راوړه له معصيته نو دغه

خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَعُوْدُوْا نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ

خَيْرٌ	لَّكُمْ	وَاِنْ	تَعُوْدُوْا	نَعُدْ	وَلَنْ تُغْنِيَ	عَنْكُمْ
خير دى	تاسي ته	او كه	بيا راوګرځيدئ تاسي	نو موږ به هم راوګرځو	او له سره به دفع ونه كړي	له تاسي

خير دى تاسي ته، او كه بيا راوګرځيدئ تاسي جنګ ته نو موږ به هم راوګرځو نصرت او له سره به دفع ونه كړي له تاسي

فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹﴾

فِئَتُكُمْ	شَيْـًٔا	وَّلَوْ	كَثُرَتْ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	مَعَ	الْمُؤْمِنِيْنَ
ډله ستاسي	هيڅ شي	او اګر كه	ډيره لويه هم وي	او چي بيشكه!	الله	سره له	مؤمنانو دى

ډله ستاسي هيڅ شي (له عذابه) او اګر كه ډيره لويه هم وي دا (ډله ستاسي) او (پوه سئ) چي بيشكه الله سره له مؤمنانو دى.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا

يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْۤا	اَطِيْعُوا	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَلَا تَوَلَّوْا
اى	هغو كسانو	چي ايمان ئې راوړى دى	حكم ومنئ تاسي	دالله	او د رسول د الله	او مخ مه ګرځوئ تاسي

اى هغو كسانو چي ايمان ئې راوړى دى حكم ومنئ تاسي د الله او (حكم ومنئ) د رسول د الله او مخ مه ګرځوئ تاسي

عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴿۲۰﴾ ۚ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

عَنْهُ	وَاَنْتُمْ	تَسْمَعُوْنَ	وَلَا تَكُوْنُوْا	كَالَّذِيْنَ
له دغه	حال دا چي تاسي	اورئ (قرآن)	او مه كيږئ تاسي	په شان د هغو كسانو

له دغه (اطاعته د رسول الله څخه) حال دا چي تاسي اورئ (قرآن). او مه كيږئ تاسي په شان د هغو كسانو

ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ. دكفارو تدبيرونه ناكامه او نامراده دي: په دغه ايت كي الله ﷻ ددې فتح يعني (فتح بدر) يوه بله فايده دا وښووله چي وې فرمايل (ذلكم وان الله موهن كيد الكفرين) يعني دا فتح او نصرت په دې وجه هم مسلمانانو ته وركول سو چي ددې په ذريعه دكافرانو تدبيرونه ناكامه او ناكاره كي چي په دې سره دغه كافران پوه سي چي دالله ﷻ مدد ددوى سره نه دى او هيڅ تدبير بغير دالله ﷻ دمدد څخه نسي كامیابه كيداى: په دغه بل آيت كي شكست خوړلو قريشو ته خطاب وكى او ديوې واقعې طرف ته اشاره ده كم چي دقريشو لښكر ته دمسلمانانو دمقابلې دپاره دمكې څخه دراوتلو په وخت كښې پيښه سوې وه هغه دا چي كله د قريشو دكافرانو لښكر دمسلمانانو دمقابلې دپاره تيار سو نو دمكې څخه تر وتلو مخكي دلښكر سردار ابوجهل اونور دبيت الله شريفي پرده ونيوله دعاګاني يې غوښتلې او عجيبه خبره داوه چي په دې دعا كي دوى دخپلې فتحې ددعا كولو پرځاى په عامو الفاظو كي داسي دعاوي وغوښتلې چي ځان ته ښراوي وې په حقيقت كي. (معارف القرآن ج ۳ پ ۹ ص ۲۱۰)

ع ۲/۱۲

قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٢١﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ

قَالُوْا	سَمِعْنَا	وَهُمْ	لَا يَسْمَعُوْنَ	اِنَّ	شَرَّ	الدَّوَآبِّ	عِنْدَ	اللّٰهِ
چې وائي	واوريده موږ	حال دا چې دوی	نه آوري	بيشکه!	بدتر	دټولو حيواناتو	په نزد	د الله

چې وائي واوريده موږ حال دا چې دوی نه آوري. بيشکه! بد ترد ټولو حيواناتو په نزد د الله (هغه دی چې)

الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَلَوْ

الصُّمُّ	الْبُكْمُ	الَّذِيْنَ	لَا يَعْقِلُوْنَ	وَلَوْ
کانه دی	گونگيان دی	هغه کسان دی	چې عقل نه لري دوی	او که

کانه دی (دحق له اوريدلو څخه) گونگيان دی (دحق له ويلو څخه) هغه کسان دی چې عقل نه لري دوی. او که

عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ۭ وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ

عَلِمَ	اللّٰهُ	فِيْهِمْ	خَيْرًا	لَّاَسْمَعَهُمْ	وَلَوْ	اَسْمَعَهُمْ
معلوم وی	الله ته	په دوی کښې	څه خير	نو خامخا اورولی به يې وی په دوی	او که	اورولی وی دوی ته

معلوم وی الله ته په دوی کښې څه خير نو خامخا اورولی به يې وی په دوی او که اورولی وی دوی ته

لَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

لَتَوَلَّوْا	وَّهُمْ	مُّعْرِضُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا
نو هرومرو به گرځيدلی وو دوی	حال دا چې دوی	به څنگ کوونکي وو	ای	هغو کسانو	چې ايمان ئې راوړی دی

نو هرومرو به گرځيدلی وو دوی حال دا چې دوی به څنگ کوونکي وو. ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی،

اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ۚ

اسْتَجِيْبُوْا	لِلّٰهِ	وَلِلرَّسُوْلِ	اِذَا	دَعَاكُمْ	لِمَا	يُحْيِيْكُمْ
حکم منئ تاسي	دالله	او درسول (دالله)	کله چې	وبولی تاسي	له پاره د هغه کار	چې ژوندی کوی تاسي

حکم منئ تاسي (خاص) دالله او درسول (د الله) کله چې وبولی تاسي له پاره د هغه کار چې ژوندی کوی تاسي

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗٓ اِلَيْهِ

وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	يَحُوْلُ	بَيْنَ	الْمَرْءِ	وَقَلْبِهٖ	وَاَنَّهٗٓ	اِلَيْهِ
او پوه سئ تاسي	چې بيشکه!	الله	پرده کيږي	په مينځ	دانسان	او د زړه د ده کښې	او بيشکه! شان دادی	چې خاص هم ده ته

او پوه سئ تاسي چې بيشکه! الله پرده کيږي په مينځ د انسان او د زړه د ده کښې او بيشکه! شان دا دی چې خاص هم ده ته

قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ.. کافر دعوی کوي خو عمل جذبه يي نسته: په دغه ايت کي الله ﷻ فرمايي چي تاسي دهغه خلگو په شان مه کيږی کم چي وايي داسي چي موږ واوريدل مگر په حقيقت کي دوی هيڅ نه وي اوريدلي ددې خلگو څخه مراد عام کفاردي کم چي داوريدو دعوی کوي داعتقاده يي نه کوي او منافقين هم دي کم چي داوريدو سره دپوهيدو او دعقيدې هم دعوی کوي مگر حقيقت دادی چي دغور او فکر او صحيح پوهي څخه دوی دواړه محروم دي په دې وجه ددوی اوريدل دنه اوريدو په حکم کي دي مسلمانان يي ددې خلگو سره دمشابه کيدو څخه منع کړل: په دابل ايت کي ددې خلگو سخت ناکاروالی دی کم چي حقه خبره په غور او فکر سره نه اوري او نه يي هم قبلوي داسي خلگ يي تر حيوانانو هم زيات بدتر گڼلي دي ارشاد فرمايي (انّ شرّ الدوابّ عند الله الصمّ البکم الذين لا يعقلون) معنی دآيت دا سوه چي تر ټولو بدترين حيوان د الله ﷻ په نزد هغه دی کم چي دحق اوريدو څخه کانه او دقبلولو څخه يي گونگيان دي او په دوی کي څه عقل نسته: (معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۲۱۴)

تُحۡشَرُوۡنَ ﴿٢٤﴾ وَاتَّقُوۡا فِتۡنَةً لَّا تُصِيۡبَنَّ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا

تُحۡشَرُوۡنَ	وَاتَّقُوۡا	فِتۡنَةً	لَّا تُصِيۡبَنَّ	الَّذِيۡنَ	ظَلَمُوۡا
تاسی جمع کیږئ	او ځان وساتئ تاسی	له هغی فتنی څخه	چی نه رسیږی	همغو کسانو ته	چی ظلم ئی کړی دی

تاسی جمع کیږئ. او ځان وساتئ تاسی له هغی فتنی څخه چی نه رسیږی همغو کسانو ته چی ظلم ئی کړی دی

مِنۡكُمۡ خَآصَّةً ۚ وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ﴿٢٥﴾

مِنۡكُمۡ	خَآصَّةً	وَاعۡلَمُوۡۤا	اَنَّ	اللّٰهَ	شَدِيۡدُ	الۡعِقَابِ
له تاسی څنی	خاص	او پوه سئ	چی بیشکه!	الله	سخت دی	عذاب (د ده)

له تاسی څنی خاص، او پوه سئ چی بیشکه! الله سخت دی عذاب (د ده مخالفانو ته په دنیا او عقبا کښی)

وَاذۡكُرُوۡۤا اِذۡ اَنۡتُمۡ قَلِيۡلٌ مُّسۡتَضۡعَفُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ

وَاذۡكُرُوۡۤا	اِذۡ	اَنۡتُمۡ	قَلِيۡلٌ	مُّسۡتَضۡعَفُوۡنَ	فِى	الۡاَرۡضِ
او یاد کړئ تاسی	هغه وخت	چی تاسی	لږ وئ	ضعیفان کړی سوی وئ	په	ځمکه کښی

او یاد کړئ تاسی هغه وخت چی تاسی لږ ضعیفان (مغلوبان) کړی سوی وئ په ځمکه کښی

تَخَافُوۡنَ اَنۡ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰٮكُمۡ وَاَيَّدَكُمۡ

تَخَافُوۡنَ	اَنۡ يَّتَخَطَّفَكُمُ	النَّاسُ	فَاٰوٰٮكُمۡ	وَاَيَّدَكُمۡ
بیریدئ تاسی	له دی نه چی وبه تښتوی په تلوار سره تاسی	خلک	نو ځای درکړ تاسی ته	او قوت ئی درکړی تاسی ته

بیریدئ تاسی له دی نه چی وبه تښتوی په جلتی سره تاسی خلق نو ځای درکړ (الله) تاسی ته او قوت ئی درکړ تاسی ته

بِنَصۡرِهٖ وَرَزَقَكُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿٢٦﴾

بِنَصۡرِهٖ	وَرَزَقَكُمۡ	مِّنَ	الطَّيِّبٰتِ	لَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ
په کومک خپل سره	او روزی یی درکړه تاسی ته	له	پاکو شیانو	لپاره د دی چی تاسی	شکر وباسئ

په کومک (مدد) خپل سره او روزی یی درکړه تاسی ته له طیباتو لپاره د دی چی تاسی شکر وباسئ!

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَخُوۡنُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوۡلَ

يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	لَا تَخُوۡنُوا	اللّٰهَ	وَالرَّسُوۡلَ
ای	هغو کسانو	چی ایمان ئی راوړی دی	مه کوئ خیانت	له الله سره	او له رسول سره

ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی مه کوئ خیانت له الله سره او (مه کوئ خیانت د الله) د رسول سره

وَاتَّقُوۡا فِتۡنَةً لَّا تُصِيۡبَنَّ الَّذِيۡنَ.. امر بالمعروف اونهی عن المنکر پرېښوول هلاکت دی: په دغه اولني آيت کي الله جل جلاله دداسي گناه څخه دځان ساتلو په خاص طور سره هدايت کړی دی دکم چي سخت عذاب يوازي پر ګناه کوونکو باندي نه راځي بلکي کمو خلګو چي ګناه نه وي کړي هغوی هم په کښي اخته کيږي:
هغه ګناه کمه يوه ده؟ په دې کي دتفسير شريف دعلماوو اختلاف دی ځيني حضرات فرمايي چي داګناه امر بالمعروف اونهی عن المنکر پرېښوول دي (يعني خلګو ته دنيکو کارونو هدايت او دبدو کارونو څخه دمنع کولو جد او جهد او کوشش پرېښوول دي:
حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چي الله جل جلاله مسلمانانو ته ددې حکم کړی دی چي څه جرم او ګناه په خپل ماحول کي مه ګرېږدی ځکه چي که دوی داسي ونه کي يعني جرم او ګناه ويني او دقدرته سره يي نه منع کوي نو الله جل جلاله به پر دې ټولو باندي خپل عام عذاب را نازل کړي چي نه به ګناهکار ور څخه خلاص سي او نه به بې ګناه ور څخه خلاص سي:
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۲۲۰)

وَتَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاعْلَمُوْٓا

وَتَخُوْنُوْٓا	اَمٰنٰتِكُمْ	وَاَنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ	وَاعْلَمُوْٓا
او (مه) كوئ خيانت تاسي	په امانتونو خپلو كښي	حال دا چي تاسي	پوهيږئ (چي د امانت ساتل واجب دى)	او پوه سئ تاسي

او (مه) كوئ خيانت تاسي په امانتونو خپلو كښي حال دا چي تاسي پوهيږئ چي د امانت ساتل واجب دى. او پوه سئ تاسي

اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ

اَنَّمَآ	اَمْوَالُكُمْ	وَاَوْلَادُكُمْ	فِتْنَةٌ	وَّاَنَّ	اللّٰهَ	عِنْدَهٗٓ	اَجْرٌ
چي بيشكه!	مالونه ستاسي	او اولادونه ستاسي	ابتلاء ده	او بيشكه!	الله	په نزد د ده	اجر (ثواب)

چي بيشكه! مالونه ستاسي او اولادونه ستاسي ابتلاء (ازموينه) ده او بيشكه! الله په نزد د ده اجر (ثواب)

ع ٣ ١٧ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ

عَظِيْمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنْ	تَتَّقُوا	اللّٰهَ	يَجْعَلْ	لَّكُمْ
ډير لوى دى	اى	هغو كسانو	چي ايمان ئې راوړى دى	كه	ويريږئ تاسي	له الله	وبه كړئ	ستاسي له پاره

ډير لوى دى. اى هغو كسانو چي ايمان ئې راوړى دى كه ويريږئ تاسي له الله وبه كړى ستاسي له پاره

فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ

فُرْقَانًا	وَّيُكَفِّرْ	عَنْكُمْ	سَيِّاٰتِكُمْ	وَيَغْفِرْ لَكُمْ
فيصله	او لرى به كړي	له تاسي	گناهونه ستاسي	او مغفرت به وكړي تاسي ته

فيصله (چي د مؤمن عزت او د كافر ذلت دى) او لرى به كړي له تاسي گناهونه ستاسي او مغفرت به وكړي تاسي ته.

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ

وَ	اللّٰهُ	ذُو	الْفَضْلِ	الْعَظِيْمِ	وَاِذْ	يَمْكُرُ بِكَ
او	الله	څيښتن	د فضل	ډير لوى دى	او هغه وخت چي	مكر فريب به كاوه له تاسره

او الله څيښتن (خاوند) د فضل ډير لوى دى. او (ياد كړه اى محمده!) هغه وخت چي مكر فريب به كاوه له تاسره

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِيُثْبِتُوْكَ	اَوْ يَقْتُلُوْكَ
هغو كسانو	چي كافران سوي وو	له پاره د دى چي بند كړي تا	يا ووژني تا

هغو كسانو چي كافران سوي وو له پاره د دى چي بندى كړي تا يا ووژني تا

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ..دنيا او اولاد د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د طرفه د بنده د پاره امتحان دى: په دغه آيت كي الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي چي اى مسلمانانو په دغه پوه سى او د اخبره ومنى چي ستاسي مال او اولاد ستاسي د پاره فتنه ده : د فتني معنى امتحان هم راځي او عذاب هم راځي او داسي شيانو ته هم فتنه ويل كيږي كم چي د عذاب سبب جوړيږي د قران كريم په مختلفو اياتونو كي د دې دواړو معناوو د پاره لفظ د فتنې استعمال سوى دى دلته هم د دواړو معناوو گنجايش سته ځيني وخت مال او اولاد په خپله د انسان د پاره په دنيا كي هم وبال جان جوړسي او د دوى په سبب سره په غفلت كي او گناه كي اخته سي او د عذاب سبب جوړيدل خو يي بالكل ښكاره خبره ده :اول دا چي د مال او اولاد په ذريعه ستاسي امتحان اخيستل مقصود دي چي دا شيان زموږ انعامات دي تاسي د انعام په اخيستو شكرگزاره او طاعت گزاره جوړيږى او كه ناشكره او نافرمانه جوړيږى ؟ ستاسي رب تاسي ته په انتظار كي دى (انّ ربک لبالمرصاد) الخ (معارف القرآن ج٣ پ٩ ص٣٢٣)

أَوْ يُخْرِجُوْكَ ۭ وَيَمْكُرُوْنَ وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ

أَوْ	يُخْرِجُوْكَ	وَيَمْكُرُوْنَ	وَيَمْكُرُ	اللّٰهُ	وَ	اللّٰهُ	خَيْرُ
يا	وباسي تا	او پټ فريب کوی دوی	او جزا د فريب ورکوی	الله	او	الله	بهتر

يا وباسي تا (له مکې څخه) او پټ فريب کوی دوی (له تاسره) او جزا د فريب ورکوی الله (دوی ته) او الله بهتر

الْمٰكِرِيْنَ ﴿٣٠﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا قَدْ

الْمٰكِرِيْنَ	وَاِذَا	تُتْلٰى	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتُنَا	قَالُوْا	قَدْ
دجزا ورکوونکو دمکردی	او کله چې	ولوستلی سی	پر دوی باندی	آيتونه زموږ	نو وائی دوی	په تحقيق

دجزاورکوونکو د مکردی. او کله چې ولوستلی سی پر دوی باندی آيتونه زموږ نو وائی دوی په تحقيق

سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ

سَمِعْنَا	لَوْ نَشَآءُ	لَقُلْنَا	مِثْلَ	هٰذَآ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّآ
واوريده موږ	که وغواړو موږ	نو خامخا وبه وايو موږ	په مثل	د ده	نه دی دغه (کلام)	مګر خو

واوريده موږ (دغه کلام) که وغواړو موږ نو خامخا وبه وايو موږ هم په مثل د ده نه دی دغه (کلام) مګر خو

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا

اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ	وَاِذْ	قَالُوا	اللّٰهُمَّ	اِنْ	كَانَ	هٰذَا
دی د دروغو ليکل	دپخوانيو	او هغه وخت	چې وويل دغو	يا الله	که چيری	وی	دغه

دی د دروغو ليکل (او باطل احوال) د پخوانيو. او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل دغو (کفارو) يا الله! که چيری وی دغه

هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ

هُوَ	الْحَقَّ	مِنْ	عِنْدِكَ	فَاَمْطِرْ	عَلَيْنَا	حِجَارَةً	مِّنَ
هم دغه	حق	له	له طرفه ستا	نو راووروه	پر موږ باندی	کاڼی	له

(قرآن يا دين) هم دغه حق (لکه محمد يې وايي نازل سوی) له نزده ستا نو راووروه پر موږ باندی کاڼی له

السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ

السَّمَآءِ	اَوِ ائْتِنَا	بِعَذَابٍ	اَلِيْمٍ	وَمَا كَانَ	اللّٰهُ
آسمانه	يا راوړه موږته	عذاب	دردناک	او نه دی	الله

آسمانه يا راوړه (راوليږه) (بل کوم قسم) عذاب دردناک. او نه دی الله

قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ ..دقران غوندي کلام بنده نسي راوړلای:

په دغه ايت کي الله ﷻ ددارالندوة ديوه شريک کافر نضر بن حارث دهغه عبثي خبري ذکر کړی دی او په درو دير شم (۳۳) ايت کي جواب ورکړی دی: نضربن حارث تجارت کسبه سړی وو دمختلفو ملکونو په سفرونو کي يي ديهودو او نصاراوو کتابونه او ددوی عبارتونه بار بار ليدلي وه په دې وجه کله چي ده په قرآن کريم کي دتيرو امتونو حالات واوريدل نو ويي ويل (قد سمعنا لو نشآء لقلنا مثل هذا ان هذا الا اساطير الاولين) يعني دا خبري موږ واوريدې که موږ وغواړو نو هم داسي ويلای سو دا خو دمخکنيو خلګو قصي دي او کله چي ځيني اصحابو ﷺ دی لا جوابه کی چي که ته داسي کلام ويلی سي نو رايه وړه نو ولې نه وايي؟ کله چي قرآن کريم دحق اوباطل فيصله پر دې مقرره کړي ده او ټولې دنيا ته يي چيلنج ورکړی دی چي که خلاف کوونکی رښتيني وي نو دقرآن کريم ديوه کوچني غوندي سورت مثال دې پيش کړي: ليکن ده بدبخته تر پايه پيش نه کی او شرمنده سوالخ.
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص ۲۳۲)

لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيهِمْ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ

لِيُعَذِّبَهُمْ	وَاَنْتَ	فِيهِمْ	وَمَا	كَانَ	اللّٰهُ	مُعَذِّبَهُمْ
چې عذاب ورکړي دوی ته	حال دا چې ته	په دوی کښې ئې	او نه	دی	الله	عذابوونکی د دوی

چې په عذاب کاندی دوی حال دا چې ته (ای رسوله) په دوی کښې ئې! او (بل دا چې) نه دی الله عذابوونکی د دوی

وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۞۳۳ وَمَا لَهُمْ اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ

وَهُمْ	يَسْتَغْفِرُوْنَ	وَمَا	لَهُمْ	اَلَّا يُعَذِّبَهُمْ	اللّٰهُ
حال دا چې دوی	مغفرت غواړي	او څه دی	دوی ته	چې به نه په عذابوی دوی	الله

حال دا چې دوی مغفرت غواړي. او څه دی دوی ته چې به نه په عذابوی دوی الله (پس له وتلو ستاسی او مؤمنانو له دوی نه)

وَهُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوْٓا

وَهُمْ	يَصُدُّوْنَ	عَنِ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	وَمَا كَانُوْٓا
حال دا چې دوی	منع کوی	له	مسجد الحرام څخه	او نه دی دوی

حال دا چې دوی منع کوی (خلک) له (دخول د) مسجد الحرام څخه او نه دی دوی

اَوْلِيَآءَهٗ ؕ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ

اَوْلِيَآءَهٗ	اِنْ	اَوْلِيَآؤُهٗٓ	اِلَّا	الْمُتَّقُوْنَ	وَلٰكِنَّ
واکداران د دغه	نه دی	واکداران د ده	مګر	پرهیزګاران	او لیکن

واکداران د دغه (مسجد حرام) نه دی واکداران د ده مګر (دی) متقیان او لیکن

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞۳۴ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ

اَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	وَمَا كَانَ	صَلَاتُهُمْ	عِنْدَ
اکثره د دوی	نه پوهیږی	او نه ؤ	لمونځ د دغو (کفارو)	په نزد

اکثره د دوی نه پوهیږی. او نه ؤ لمونځ (عبادت) د دغو (کفارو) په نزد

الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً ؕ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ

الْبَيْتِ	اِلَّا	مُكَآءً	وَّتَصْدِيَةً	فَذُوْقُوا	الْعَذَابَ
د کعبې کښې	مګر	شپیلی وهل	او لاسونه ټکول	نو وڅکئ تاسی	عذاب

د کعبې کښې مګر شپیلی وهل او لاسونه ټکول. (الله فرمائی) نو وڅکئ تاسی عذاب

وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ.. دنضر بن حارث شرا وخپل ځان ته او دالله ﷻ دطرفه څخه جواب: کله چې صحابه کرامو ﷺ نضر بن حارث ته دقرآن کریم حقوالي بیان کی نو ده بدبختـه پر خپل مذهب باندي ډیوخ والي شوولو ډیاره داسي شراه وکړه (اللّٰهمّ ان کان هذا هو الحقّ فامطر علینا حجارة من السمآء او ائتنا بعذاب الیم) یعني ای الله کـه دا قرآن حق وي ستا دطرفه څخه نو پر موږ دکاڼو باران وکړي یا بل سخت عذاب راته راکړي: قرآن کریم ددې جواب په خپله ورکـی اول یـي داارشاد وفرمایـه (وماکان الله لیعذبهم وانت فیهم) یعني الله ﷻ داسي نه کوي چې ته په مکه مکرمه کې یـي او پـر دوی عـذاب نـازل سـي ځکه چې اول خو دټولو انبیاوو علیهم السلام سره دالله ﷻ دادستوردي چې په کم کلي کې دوی موجود وي پر دوی تر هغه وخته پوري عـذاب نـه نـازلوي ترڅو چې خپل پیغمبران دهغه ځایه څخه را ایستلي نـه وي لکـه دحضـرت هـود ﷺ، او حضـرت صالح ﷺ، اوحضرت لوط ﷺ په واقعاتو کې ولیدل سوه داسي: (معرف القرآن ج۳پ۹ص ۲۳۲)

بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ

بِمَا	كُنْتُمْ	تَكْفُرُوْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	يُنْفِقُوْنَ
په سبب د هغه	چې وئ تاسې	چې کفر به مو غوره کاوه	بېشکه!	هغه کسان	چې کافران سوي دي	نفقه کوي دوي

په سبب د هغه چې وئ تاسې چې کفر به مو غوره کاوه. بېشکه! هغه کسان چې کافران سوي دي نفقه کوي (لګوي) دوي

اَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَسَيُنْفِقُوْنَهَا

اَمْوَالَهُمْ	لِيَصُدُّوْا	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	فَسَيُنْفِقُوْنَهَا
مالونه خپل	دپاره د دې چې منع کړي دوي	له	لارې	د الله څخه	نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه

مالونه خپل دپاره د دې چې منع کړي دوي (خلک) له لارې د الله څخه، نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه

ثُمَّ تَكُوْنُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

ثُمَّ	تَكُوْنُ	عَلَيْهِمْ	حَسْرَةً	ثُمَّ	يُغْلَبُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا
بيا به	سي	پر دوي	حسرت	بيا	به په آخر کښې مغلوب سي	او هغه کسان	چې کافران سوي دي

بيا به سي (دغه انفاق) پر دوي حسرت (پښېماني) بيا به په آخر کښې مغلوب سي، او هغه کسان چې کافران سوي دي

اِلٰى جَهَنَّمَ يُحْشَرُوْنَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ

اِلٰى جَهَنَّمَ	يُحْشَرُوْنَ	لِيَمِيْزَ	اللّٰهُ	الْخَبِيْثَ
دوزخ ته	شړلي (بيولي) کيږي	دپاره د دې چې بېل کړي	الله	خبيث (ناپاک کافر)

دوزخ ته شړلي (بيولي) کيږي. دپاره د دې چې بېل کړي الله خبيث (ناپاک کافر)،

مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ

مِنَ	الطَّيِّبِ	وَيَجْعَلَ	الْخَبِيْثَ	بَعْضَهٗ	عَلٰى	بَعْضٍ
له	پاک څخه	او بيا کښېږدي	خبيث	ځينې د ده	په	ځينو نورو باندې

له طيب (پاک مؤمن) څخه او بيا کېږدي خبيث (ناپاک سره لاندې باندې) ځينې د ده په ځينو نورو باندې

فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ ؕ اُولٰٓئِكَ

فَيَرْكُمَهٗ	جَمِيْعًا	فَيَجْعَلَهٗ	فِيْ	جَهَنَّمَ	اُولٰٓئِكَ
نو راجمع به کړي دا	ټول	نو وبه ئې غورځوي هغه	په	دوزخ کښې	دغه (خبيثان يا مال لګوونکي)

نو راجمع به کړي دا (خبيثان) ټول نو وبه ئې غورځوي په دوزخ کښې، دغه (خبيثان يا مال لګوونکي)

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ.. د الله ﷻ په معصيت کي مال مصرفول سبب د حسرت ګرځي:

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه دا سي نقل دي چي د بدر په غزا کي شکست خوړلي او زخم خوړلي پاته لښکر کله چي د مکې کافران چي هلته واپس مکې ته ورسيدل نو د کمو خلګو پلرونه او زامن چي په دې جنګ کي مړه سوي وه هغوی د تجارتي قافلې امير ابوسفيان ته راغلل او ويې ويل چي تا ته معلومه ده چي دا جنګ ستا د قافلې د حفاظت دپاره سويدی چي په نتيجه کي يې دا دومره جاني او مالي نقصانونه وسوه نو ته اوس د دغه تجارتي سامان څخه زموږ مدد وکړه چي موږ د مسلمانانو څخه خپل بدل واخلو نو هغه منظوره کړه او ډير لوی رقم او زياتي پيسې يې ورکړي چي دوی د بدر د بدل اخيستو دپاره د احد په غزا کي خرڅي کړي او د هغه انجام دا سو چي دوی مغلوب سول او د شکست خوړلو سره يې د مال ضايع کېدو غم نور هم زيات سو ځکه الله ﷻ فرمايي کم خلګ چي خپل مالونه د الله ﷻ په دښمنی کي مصرفوي نو بيا به وروسته افسوس کوي الخ:
(معارف القرآن ج۳ پ۹ ص۲۴۰)

ع ١٨

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّنْتَهُوْا

هُمُ	الْخٰسِرُوْنَ	قُلْ	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ يَّنْتَهُوْا
هم دوی	زیانکاران دی	وو ایه	هغو کسانو ته	چې کافران سوی دی	که منع سی د کفره څخه

هم دوی زیانکاران دی وو ایه (ای محمده!) هغو کسانو ته چې کافران سوی دی، که واوړی (بس کړی له کفره)

يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ۚ وَاِنْ يَّعُوْدُوْا فَقَدْ

يُغْفَرْ	لَهُمْ	مَّا	قَدْ	سَلَفَ	وَاِنْ	يَّعُوْدُوْا	فَقَدْ
نو وبه بخښلی سی	دوی ته	هغه بدی	چې په تحقیق	پخوا تیری سوی وی	او که	بیا وګرځی	نو په تحقیق

نو وبه ببنلی (بخښلی) سی دوی ته هغه بدی چې په تحقیق پخوا تیری سوی وی، او که بیا وګرځی نو په تحقیق

مَضَتْ سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ

مَضَتْ	سُنَّتُ	الْاَوَّلِيْنَ	وَقَاتِلُوْهُمْ	حَتّٰى	لَا تَكُوْنَ
تیره سوی ده	لاره	د پخوانیو	او وجنګیږئ له دغو سره	تر هغه پوری	چې نسی پاتی

تیره سوی ده لاره (عادت د الله په حق) د پخوانیو. او وجنګیږئ له دغو (کفارو) سره تر هغه پوری چې نسی پاتی

فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ ۚ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ

فِتْنَةٌ	وَّيَكُوْنَ	الدِّيْنُ	كُلُّهٗ	لِلّٰهِ	فَاِنِ	انْتَهَوْا	فَاِنَّ
فتنه	او سی	دین	ټول	خاص الله لره	نو که	واوړی دوی	نو بیشکه!

فتنه او سی دین (حکم) ټول خاص الله لره، نو که واوړی دوی (له کفره او اسلام ړاوړی) نو بیشکه

اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٣٩﴾ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

اللّٰهَ	بِمَا	يَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرٌ	وَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ
الله	پر هغو	عملونو چې دوی ئې کوی	بنه لیدونکی دی	او که	مخ وګرځوی دوی	نو پوه سئ	چې بیشکه!

الله پر هغو عملونو چې دوی ئې کوی بنه لیدونکی دی. او که مخ وګرځوی دوی (له ایمانه) نو پوه سئ چې بیشکه!

اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ۭ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿٤٠﴾

اللّٰهَ	مَوْلٰىكُمْ	نِعْمَ	الْمَوْلٰى	وَنِعْمَ	النَّصِيْرُ
الله	مولی ستاسی دی	(الله) بنه	مولی دی	او (الله نیک) بنه	مدد ګاردی

الله مولی (نیک بادار او ساتونکی) ستاسی دی (الله) بنه مولی دی او (الله نیک) بنه مدد ګار دی.

وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ مسلمانانو ته دجهاد کولو امر دالله جل جلاله دطرفه څخه: دادسورت انفال یو کم څلوېښتم آیت دی په دغه آیت کې دوه لفظونه قابل دغور دي: یو لفظ دفتنې: او بل لفظ ددین: دادواړه لفظونه دعربي لغت په اعتبار سره دمختلفو معناوو دپاره استعمال سوي دي دتفسیر شریف دامامانو، او اصحابو رضي الله عنهم او تابعینو رحمهم الله څخه دلته دوې معناوې نقل دي یوه داچې د (فتنې څخه مراد کفر او شرک دی او ددین څخه مراد دین اسلام دی: دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه دا تفسیر منقول دی پر دې تفسیر باندې به دآیت معنی داسې وي چې دکفارو سره جنګ تر هغه وخته پورې جاري وساتی تر څو چې کفر ختم نه سي ددې پر ځای اسلام راسي داسلام څخه ماسواه بل دین او مذهب پاته نه سي په دې سورت کې دا حکم یوازې داهل مکه وواو عربو دپاره خاص دی ځکه چې جزیرة العرب داسلام دپاره کور دی په دې کور کې باید داسلام څخه ماسواه بل دین پاته نه سي او که پاته سي نو خطره ده الخ: پاته تفصیل په معارف القرآن کې وګوری. (معارف القرآن ج ٣ پ ٩ ص ٢٤٣) مکتبه حبیبیه:

وَاعْلَمُوٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ

وَاعْلَمُوٓا	اَنَّمَا	غَنِمْتُمْ	مِّنْ	شَيْءٍ	فَاَنَّ	لِلّٰهِ
او پوه سئ	بیشکه! هرهغه شی	چی په غنیمت واخیست تاسی	له	یوه شی څخه	نو بیشکه!	الله لره دی

او پوه سئ (ای مسلمانانو!) بیشکه! هر هغه شی چی په غنیمت واخیست تاسی له یوه شی څخه نو بیشکه! الله لره دی

خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى

خُمُسَهٗ	وَلِلرَّسُوْلِ	وَلِذِي	الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى
پنځمه دهغه	او له پاره د رسول	او له پاره	دخپلوانو (د رسول	او (له پاره د) یتیمانو

(حکم کول په) پنځمه دهغه او (دغه خمس) له پاره د رسول (د الله) او له پاره د خپلو انو (درسول) او (له پاره د) یتیمانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ

وَالْمَسٰكِيْنِ	وَابْنِ السَّبِيْلِ	اِنْ كُنْتُمْ	اٰمَنْتُمْ	بِاللّٰهِ	وَمَآ
او مسکینانو	او مسافرانو	که يئ تاسی	ایمان لرئ	په الله	او په هغو

او (له پاره د) مسکینانو (محتاجانو) او (له پاره د)مسافرانو که ایمان لرئ په الله او په هغو (آیتونو یا ملائیکو یانصرت)

اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى

اَنْزَلْنَا	عَلٰى	عَبْدِنَا	يَوْمَ	الْفُرْقَانِ	يَوْمَ	الْتَقَى
چی نازل کړی دی موږ	پر	بنده خپل	په ورځ	دفیصلی کښنی	هغه ورځ	چی سره مخامخ سولی

چی نازل کړی دی موږ پر بنده خپل په ورځ دفیصلی کښنی هغه ورځ (دبدر ورځ وه) چی سره مخامخ سولی

الْجَمْعٰنِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤١﴾ اِذْ اَنْتُمْ

الْجَمْعٰنِ	وَ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	اِذْ اَنْتُمْ
دواړی ډلی جمعی	او	الله	په	هر	شی	بنه قادر دی	هغه وخت چی وئ تاسی

دواړی ډلی او الله پر هر شی باندی (چی اراده وفرمائی) بنه قادر دی. (یاد کړئ ای مسلمانانو) هغه وخت چی وئ تاسی

بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ

بِالْعُدْوَةِ	الدُّنْيَا	وَهُمْ	بِالْعُدْوَةِ	الْقُصْوٰى	وَالرَّكْبُ
په څنډی	د (کندی) نژدی	او وو دغه (کفار)	په څنډ ی	لری	حال داچی سواره (قافله)

په څنډی (غاړی) د (کندی) نژدی (مدینی ته) او وو دغه (کفار) په څنډی لری (وه له مدینی څخه) حال داچی سواره

وَاعْلَمُوٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ. دمال غنیمت حکمونه او دهغه دتقسیم قانون : په دغه آیت کي الله ﷻ دغنیمت دمال حکمونه او ددې دتقسیم قانون ذکر کړی دی تر دې مخکي دځو ضروري الفاظو تشریح ضروري ده : لفظ دغنیمت په لغت کي هغه مال ته ویل کیږي کم چي ددښمن څخه حاصل کړی سي دشریعت په اصطلاح کي دغیر مسلمو څخه چي کم مال په جهاد کي او دغلبې په ذریعه حاصل کړه سي دغه ته غنیمت وایي او کم مال چي په صلح او رضامندی سره حاصل سي لکه جزیه او خراج او نور دې ته مال فئ وایي: په قرآن کریم کي الله ﷻ په دې دواړو لفظونو سره ددواړو حکمونه ښوولي دي په سورت انفال کي دغنیمت دمالونو دحکمونو ذکر دی کم چي دجنګ او جګړې په وخت کي دغیر مسلمو څخه حاصل سي :دلته یوه خبره تر ټولو مخکي یا دساتل پکار دي هغه داچي دقرآني او اسلامي نظرې موافق دټولو کائناتو اصلي ملکیت یوازي دالله ﷻ دی هغه الله ﷻ چي دوي یي پیدا کړي دي هغه الله ﷻ چي دمال غنیمت تقسیم پر څه طریقه کړی دی هغه درست دی چا ته داشکال موقع نسته :
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص ۱)

اَسۡفَلَ مِنۡكُمۡ ؕ وَلَوۡ تَوَاعَدۡتُّمۡ لَاخۡتَلَفۡتُمۡ فِي

فِي	لَاخۡتَلَفۡتُمۡ	تَوَاعَدۡتُّمۡ	وَلَوۡ	مِنۡكُمۡ	اَسۡفَلَ
په	نو خامخا به مخالفت کړی وی تاسی	یو تر بله وعده کړی وی تاسی	او که	له تاسی	ښکته وو

ښکته (کښته) وو له تاسی، او که یو تر بله وعده کړی وی تاسی (دجنګ) نو خامخا به مخالفت کړی وی تاسی په

الۡمِيۡعٰدِ ۙ وَلٰكِنۡ لِّيَقۡضِيَ اللّٰهُ اَمۡرًا كَانَ مَفۡعُوۡلًا ۬ۙ لِّيَهۡلِكَ مَنۡ

مَنۡ	لِّيَهۡلِكَ	مَفۡعُوۡلًا	كَانَ	اَمۡرًا	اللّٰهُ	لِّيَقۡضِيَ	وَلٰكِنۡ	الۡمِيۡعٰدِ
هغه څوک	لپاره د دی چی هلاک سی	مقرر سوی	چی ؤ	هغه کار	الله	دپاره د دی چی پوره کړی	ولیکن	دغه وعده کښی

دغه وعده کښی ولیکن دپاره د دی چی پوره کړی الله هغه کار چی ؤ مقرر سوی لپاره د دی چی هلاک سی هغه څوک

هَلَكَ عَنۡۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحۡيٰى مَنۡ حَيَّ

حَيَّ	مَنۡ	وَّيَحۡيٰى	عَنۡۢ بَيِّنَةٍ	هَلَكَ
چی له شانئی ژوندون وی	هغه څوک	او ژوندی پاتی سی	د حجت روښانه څخه پس له قیامه	چی له شانئی هلاک وی

چی له شانئی هلاک وی پس له قیامه د حجت روښان څخه او ژوندی پاتی سی هغه څوک چی له شانئی ژوندون وی

عَنۡۢ بَيِّنَةٍ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ۝۴۲ اِذۡ يُرِيۡكَهُمُ اللّٰهُ

اللّٰهُ	يُرِيۡكَهُمُ	اِذۡ	عَلِيۡمٌ	لَسَمِيۡعٌ	اللّٰهَ	وَاِنَّ	عَنۡۢ بَيِّنَةٍ
الله	چی وښوول تاته دغه	هغه وخت	ښه عالم دی	خامخا ښه اوریدونکی	الله	او بیشکه!	پس له قیامه د روښانه حجت

پس له قیامه د روښانه حجت، او بیشکه! الله خامخا ښه اوریدونکی ښه عالم دی. هغه وخت چی وښوول تاته دغه (کفار) الله

فِيۡ مَنَامِكَ قَلِيۡلًا ؕ وَلَوۡ اَرٰىكَهُمۡ كَثِيۡرًا لَّفَشِلۡتُمۡ وَلَتَنَازَعۡتُمۡ

وَلَتَنَازَعۡتُمۡ	لَّفَشِلۡتُمۡ	كَثِيۡرًا	وَلَوۡ اَرٰىكَهُمۡ	قَلِيۡلًا	فِيۡ مَنَامِكَ
او خامخا جګړی به مو کولی	نو خامخا بی زړه سوی به وی تاسی	ډیر	او که ښوولی وی تاته دوی	لږ	په خوب ستا کښی

په خوب ست کښی لږ، او که ښوولی وی (الله) تاته (محمده!) دوی ډیر نو خامخا بی زړه سوی به وی تاسی او خامخا جګړی

فِي الۡاَمۡرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝۴۳

الصُّدُوۡرِ	بِذَاتِ	عَلِيۡمٌ	اِنَّهٗ	سَلَّمَ	اللّٰهَ	وَلٰكِنَّ	فِي الۡاَمۡرِ
په زړونو کښی دی	پر هغو خبرو چی	ښه عالم دی	بیشکه! دغه (الله)	سلامت وساتلئ	الله	ولیکن	په کار کښی

به مو کولی په کار کښی ولیکن الله سلامت وساتلئ، بیشکه! دغه (الله) ښه عالم دی پر هغو خبرو چی په زړونو کښی دی.

وَلَوۡ تَوَاعَدۡتُّمۡ لَاخۡتَلَفۡتُمۡ فِي الۡمِيۡعٰدِ...د بدر غزا د دنیا دعامو جنګونو په شان نه وه: د بدر د غزا واقعي ته وګوری چي دذي په اتفاقي او غیر اختیاري صورت کي په پیښیدو کي دا ګټه وه چي (ولو تواعدتم لاختلفتم في الميعاد) یعني که دعامو دنیا یي جنګونو په شان دا جنګ هم د هر اړخ څخه په غور او فکر او دیوه او بل سره د مقررکولو په ذریعه جوړول کیدای نو د حالاتو تقاضا داوه چي دا جنګ به ګر سره سوی نه وای بلکي اختلاف به پکښي لویدلای وای برابره خبره ده که په دي دول چي په خپله به مسلمانانو په خپلو کي هم دخپلي کمزوري او د مقابل د ډیروالي او قوت لیدلو په وجه مختلف سوي وای یا په دي شان چي دواړه طرفه کافران او مسلمانان به په مقرره وعده میدان ته نه وای رسیدلي مسلمانانو به خپل کموالي او کمزوري لیدلای میدان ته به یي دتلو همت نه سوای کولای او پر کفارو به الله ﷻ خپل او د مسلمانانو رعب اچولی وای سره د ډیروالي به د مقابلي میدان ته نه سوای راتللای الخ. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص ۱۳) مکتبه حبیبیه

وَاِذۡ يُرِيۡكُمُوۡهُمۡ اِذِ الۡتَقَيۡتُمۡ فِىۡۤ اَعۡيُنِكُمۡ

وَاِذۡ	يُرِيۡكُمُوۡهُمۡ	اِذِ	الۡتَقَيۡتُمۡ	فِىۡۤ	اَعۡيُنِكُمۡ
او كله چې	وښوول تاسې ته (الله) هغه	په هغه وخت كښې	چې سره مخامخ سوئ	په	ستر گو ستاسې كښې

او كله چې وښوول تاسې ته (الله) هغه (دښمنان ستاسې) په هغه وخت كښې چې سره مخامخ سوئ په ستر گو ستاسې كښې

قَلِيۡلًا وَّيُقَلِّلُكُمۡ فِىۡۤ اَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِىَ اللّٰهُ اَمۡرًا كَانَ

قَلِيۡلًا	وَّيُقَلِّلُكُمۡ	فِىۡۤ	اَعۡيُنِهِمۡ	لِيَقۡضِىَ	اللّٰهُ	اَمۡرًا	كَانَ
لږ	او لږ ښكاره كړئ تاسې	په	ستر گو د دښمنانو كښې	لپاره ددې چې وكړي	الله	هغه كار	چې ؤ

لږ او لږ ښكاره كړئ تاسې (الله) په ستر گو د دښمنانو كښې دپاره د دې چې وكړي الله هغه كار چې ؤ

مَفۡعُوۡلًا ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ۝۴۴ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

مَفۡعُوۡلًا	وَاِلَى اللّٰهِ	تُرۡجَعُ	الۡاُمُوۡرُ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ
مقرر كړى سوى	او خاص الله ته	بيرته گرځولى سي	ټول كارونه	اى	هغو كسانو

مقرر كړى سوى او خاص الله ته بيرته گرځولى سي ټول كارونه. اى هغو كسانو

اٰمَنُوۡۤا اِذَا لَقِيۡتُمۡ فِئَةً فَاثۡبُتُوۡا وَاذۡكُرُوا اللّٰهَ كَثِيۡرًا

اٰمَنُوۡۤا	اِذَا	لَقِيۡتُمۡ	فِئَةً	فَاثۡبُتُوۡا	وَاذۡكُرُوا	اللّٰهَ	كَثِيۡرًا
چې ايمان ئې راوړى دى	كله چې	مخامخ سئ	دكوم فوځ سره	نو ثابت قدم اوسئ تاسې	او يادوئ تاسې	الله	ډير

چې ايمان ئې راوړى دى، كله چې مخامخ سئ د كوم فوځ (د دښمن) سره نو ثابت قدم او سئ تاسې او يادوئ تاسې الله ډير

لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ۝۴۵ وَاَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ

لَّعَلَّكُمۡ	تُفۡلِحُوۡنَ	وَاَطِيۡعُوا	اللّٰهَ	وَرَسُوۡلَهٗ
ښائى چې تاسې	په مراد ورسيږئ	او حكم ومنئ	د الله	او د رسول د دغه (الله)

ښائى چې تاسې په مراد ورسيږئ (په برى سره پر دښمن). او حكم ومنئ تاسې د الله او د رسول د دغه (الله)

وَلَا تَنَازَعُوۡا فَتَفۡشَلُوۡا وَتَذۡهَبَ رِيۡحُكُمۡ وَاصۡبِرُوۡا ؕ اِنَّ

وَلَا تَنَازَعُوۡا	فَتَفۡشَلُوۡا	وَتَذۡهَبَ	رِيۡحُكُمۡ	وَاصۡبِرُوۡا	اِنَّ
او مه كوئ جگړه	پس بې زړه به سئ تاسې	او لاړ به سي	باد (د نصرت) ستاسې	او صبر كوئ	بيشكه!

او مه كوئ جگړه په خپلو منځونو كې پس بې زړه به سئ تاسې او لاړ به سي باد (د نصرت او قوت) ستاسې او صبر كوئ، بيشكه!

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا لَقِيۡتُمۡ. په جنگ او جهاد كي دكاميابى دپاره قراني هدايتونه: په اولنيو دوو اياتونو كي حق تعالى ﷻ مسلمانانوته دميدان جنگ او ددښمن دمقابلې دپاره يوه خاص هدايت نامه وركړيده كمه چي ددوى دپاره په دنيا كي دكاميابى او فتح مندى او دآخرت دنجات او مقصد حاصلولو اكسيره (مجرّبه) نسخه ده او داولنيو صديو په ټولو جنگونو كي تر عادت دزياتو كاميابيو او فتوحاتو راز په دې كي وو او هغه يو څو شيان دي: اول شى ثبات: يعني ثابت قدمه پاته كيدل چي په دي كي دقدمونو ثابتوالى او دزړونو مضبوطوالى دواړه داخل دي ځكه چي تر څو پوري ديوه سړي زړه مضبوط نه وي دده قدمونه او نور اندامونه ثابت نه سي پاته كيداى او دا يو داسي شى دى چي كم چي هر مومن او كافر پيژني او په پوهيږي او ددنيا هر قوم په خپلو جنگونو كي ددې اهتمام كوي ځكه چي دتجربې دخاوندانو څخه داخبره پټه نه ده چي دميدان جنگ تر ټولو كاميابه اوله اسلحه مضبوط والى دزړه او ثابت قدمي ده نوري ټولي اسلحي ددې څخه پرته بېكاره دي الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۷)

ع ۵

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ
دبنده کبر او غرور الله ﷻ ته مبغوض اودناکامي
سبب دی: په دغه ايت کي الله ﷻ ديوه بل مضر اړخ څخه خبرداری او دهغه څخه دپرهيز هدايت ورکړی دی هغه داچي په خپل قوت او کثرت باندي ناز يا په کار کي داخلاص پر ځای خپل يو بل غرض ساتل وي ځکه چي دادواړه شيان هم لوی لوی طاقتور جماعتونه پسپا او شاته غورزوي: په دي آيت کي يي اشاره دمکي قريشو ته او دهغو دحالاتو طرف ته ده کم چي دخپلي تجارتي قافلي دحفاظت دپاره په لوی شمير او اسبابو سره په خپل ډيروالي سره تکبر کوونکي راوتلي وه او کله چي تجارتي قافله د مسلمانانو تر واک دباندي ووتله دغه وخت هم په دي وجه ونه ګرځيدل چي دخپل شجاعت او بهادری مظاهره يي کوله: په روايانو کي دي چي کله ابوسفيان خپله تجارتي قافله روانه کړه او د مسلمانانو دوارخه ووتله نو ابوجهل ته يي قاصد ورولېږی چي اوس مخ ته مه راځی واپس ولاړ سی مګر ابوجهل په کبر قسم وخوړی چي تر هغه وخته نه ځو چي دخپلي فتحې جشن جوړ نه کو الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ص۲۱)

اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا

خَرَجُوْا	كَالَّذِيْنَ	وَلَا تَكُوْنُوْا	الصّٰبِرِيْنَ	مَعَ	اللّٰهَ
چي راووتل	دهغو کسانو	او مه کيږئ په شان	صابرانو سره دی	له	الله

الله له صابرانو سره دی (په جنګ کښي په نصرت او حفاظت). او مه کيږئ په شان د هغو کسانو چي راووتل

مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ

عَنْ	وَيَصُدُّوْنَ	النَّاسِ	وَّرِئَآءَ	بَطَرًا	دِيَارِهِمْ	مِنْ
له	او آړوی دوی	خلکو ته	او ښودني	دپاره د فخر	کورونو خپلو	له

له کورونو خپلو دپاره د فخر او ښودني خلکو ته (شوکت، دبدبه خپله) او آړوی دوی (خلک) له

سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۴۷﴾ وَاِذْ

وَاِذْ	مُحِيْطٌ	يَعْمَلُوْنَ	بِمَا	اللّٰهُ	وَ	اللّٰهِ	سَبِيْلِ
او هغه وخت چي	چاپيره دی	چي کوی ئې دوی	پر هغو کارونو	الله	او	دالله څخه	لاری

لاری د الله څخه او الله پر هغو کارونو چي کوی ئې دوی محيط (چاپير دی علم او قدرت د ده) او هغه وخت چي ښايسته کړی وو

زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ

لَكُمُ	لَا غَالِبَ	وَقَالَ	اَعْمَالَهُمْ	الشَّيْطٰنُ	لَهُمُ	زَيَّنَ
پر تاسی	چي نشته هيڅ غالب	او وی ويل	عملونه د دوی	شيطان	دغو (کفارو) ته	ښايسته کړی وو

دغو (کفارو) ته شيطان عملونه د دوی او وی ويل چي نشته هيڅ غالب پر تاسی

الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ

الْفِئَتٰنِ	تَرَآءَتِ	فَلَمَّا	جَارٌ لَّكُمْ	وَاِنِّيْ	النَّاسِ	مِنَ	الْيَوْمَ
دواړه فوځونو	سره وليده	نو کله چي	ساتونکی يم ستاسی	او بيشکه! زه	خلکو	له	نن ورځ

نن ورځ له خلکو او بيشکه زه ساتونکی يم ستاسی، نو کله چي سره وليده (مخامخ سول) دواړه فوځونو (داسلام او کفر)

نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ

مِّنْكُمْ	بَرِيْٓءٌ	اِنِّيْ	وَقَالَ	عَقِبَيْهِ	عَلٰى	نَكَصَ
له تاسی	بيزاريمه	بيشکه! زه	او وئې ويل	پوندو خپلو	په	بيرته ئې منډی کړی

بيرته ئې منډی کړی په پوندو خپلو (يعني وتښتيده) او وئې ويل بيشکه! زه بيزاريمه له (ساتنی) ستاسی

إِنِّيٓ أَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ ۚ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ

إِنِّيٓ	أَرٰى	مَا	لَا تَرَوْنَ	إِنِّيٓ	أَخَافُ	اللّٰهَ	وَ	اللّٰهُ	شَدِيْدُ
او بیشکه! زه	وینم	هغه	چې نه ئې وینئ تاسي	بیشکه!	زه بیریږم	له الله	او	الله	سخت دی

او بیشکه! زه وینم هغه (فوځ د ملائیکو) چې نه ئې وینئ تاسي بیشکه! زه بیریږم له الله او الله سخت دی

الْعِقَابِ ﴿۴۸﴾ إِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ

الْعِقَابِ	إِذْ	يَقُوْلُ	الْمُنٰفِقُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	فِيْ
سزا (د ده)	هغه وخت	چې ویل	منافقینو (دمدینې)	او هغو کسانو	چې په

عقوبت (د ده). (یاد کړئ) هغه وخت چې ویل منافقینو (دمدینې) او هغو کسانو چې په

قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ۗ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ

قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ	غَرَّ	هٰٓؤُلَآءِ	دِيْنُهُمْ	وَمَنْ	يَّتَوَكَّلْ
په زړونو د دوی کښې	مرض ؤ	چې مغرور کړی دی	دغو مؤمنانو له	دین د دوی	او هر څوک	چې توکل وکړی

په زړونو د دوی کښې مرض ؤ چې مغرور کړی دی دغو مؤمنانو له دین د دوی او هر څوک چې توکل وکړی

عَلَى اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۴۹﴾ وَلَوْ تَرٰٓى إِذْ

عَلَى	اللّٰهِ	فَإِنَّ	اللّٰهَ	عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ	وَلَوْ	تَرٰٓى	إِذْ
پر	الله	نو بیشکه!	الله	ښه غالب قوی	ښه حکمت والا دی	او که	ووینې ته	هغه وخت چې

په الله نو (غالبیږی ځکه چې) بیشکه! الله ښه غالب قوی ښه حکمت والا دی. او که ووینې ته (محمده!) هغه وخت چې

يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ

يَتَوَفَّى	الَّذِيْنَ	كَفَرُوا	الْمَلٰٓئِكَةُ	يَضْرِبُوْنَ	وُجُوْهَهُمْ
قبض د روح کوی	د هغو کسانو	چې کافران سوی دی	ملائیکې	په دی حال کښې چې وهی به	مخونه د دوی

قبض د روح کوی د هغو کسانو چې کافران سوی دی پرښتې (دعزرائیل مددګاران) په دی حال کښې چې وهی به مخونه د دوی

وَأَدْبَارَهُمْ ۚ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۵۰﴾ ذٰلِكَ بِمَا

وَأَدْبَارَهُمْ	وَذُوْقُوْا	عَذَابَ	الْحَرِيْقِ	ذٰلِكَ	بِمَا
او شاګانې د دوی	وڅکئ تاسي	عذاب	د سوځوونکی اور	دغه په سبب	د هغه (بد عمل) دی

او شاګانې د دوی، (وائی به ورته) وڅکئ تاسي عذاب د (اور) سوځوونکی. دغه (تعذیب) په سبب د هغه (بد عمل) دی

إِنِّيٓ أَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ... دشیطان دوستي ترنیمي لاري پوري ده: دبدر په غزا کي چي کله دمکې دمشرکینو ترشا یو شیطاني لښکر هم راغلی وو په دې وجه الله ﷻ ددوی په مقابله کي دملایکو لښکر دجبرائیل او میکائیل علیهما السلام په قیادت کي راولیږی دعبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه نقل دي چي شیطان کم چي په شکل دانسان دسراقه بن مالک په صورت کي دغه وخت راغلی وو او دخپل شیطاني لښکر قیادت یي کوی کله چي یي جبرآئیل امین او دده سره دملایکو لښکر ولیدی نو وبیریدی دغه وخت دده لاس دیو قریشي ځوان حارث بن هشام په لاس کي وو فوراً یي دهغه څخه خپل لاس خلاص کی او وتښتیدی حارث دی راکش کړی چي دا څه کوې نو حارث یي په سینه کي ووهی او غورزار یي کړی او دخپل شیطاني لښکر سره ولاړی وتښتیدی حارث دی سراقه وګڼی نو وې ویل ورته چي ای دعربو سرداره سراقه تا خو ویل چي زه ستاسي حامي او کومکي یم او اوس تښتې شیطان په شکل دسراقه وویل زه هغه شیان وینم چي تاسي یي نه وینی یعني ملایکي الخ.
(معرف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۲۳)

۲ع

قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡكُمۡ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ ۝٥١

قَدَّمَتۡ	اَيۡدِيۡكُمۡ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	لَيۡسَ	بِظَلَّامٍ	لِّلۡعَبِيۡدِ
چې وړاندې لیږلي ؤ	لاسونو ستاسې	او بیشکه!	الله	نه دی هیڅ	ظلم کوونکی	په بندګانو خپلو

چې وړاندې لیږلي ؤ لاسونو ستاسې او بیشکه! الله نه دی هیڅ ظلم کوونکی په بندګانو خپلو (چې بې ګناه ئې په عذاب کړي)

كَدَاۡبِ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ ۙ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ كَفَرُوۡا

كَدَاۡبِ	اٰلِ	فِرۡعَوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	كَفَرُوۡا
لکه حال د	تابعانو	دفرعون	او هغو کسانو چې	وو په خواله دوی شخه	چې کافران سوی ؤ

لکه حال د تابعانو دفرعون (له موسیٰ سره) او (لکه حال د) هغو کسانو چې وو په خواله دوی شخه چې کافران سوی ؤ

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوۡبِهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ

بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	فَاَخَذَهُمُ	اللّٰهُ	بِذُنُوۡبِهِمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	قَوِيٌّ
په آیتونو	دالله	نو نیولي ؤ دوی لره	الله	په ګناهونو د دوی	بیشکه!	الله	قوی دی

په آیتونو د الله نو نیولي ؤ دوی لره الله په ګناهونو د دوی بیشکه! الله قوی (زورور) دی

شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ۝٥٢ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعۡمَةً

شَدِيۡدُ	الۡعِقَابِ	ذٰلِكَ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	لَمۡ يَكُ	مُغَيِّرًا	نِّعۡمَةً
ډیر سخت دی	عذاب (د ده)	دغه په سبب د دی دی	چې په تحقیق	الله	نه دی	بدلوونکی	د نعمت

ډیر سخت دی عذاب (د ده). دغه (تعذیب) په سبب د دی دی چې په تحقیق الله نه دی بدلوونکی د (هغه) نعمت

اَنۡعَمَهَا عَلٰى قَوۡمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوۡا مَا بِاَنۡفُسِهِمۡ ۙ

اَنۡعَمَهَا	عَلٰى	قَوۡمٍ	حَتّٰى	يُغَيِّرُوۡا	مَا	بِاَنۡفُسِهِمۡ
چې انعام کړئ ئې وی	پر	یوه قوم باندی	تر هغه پوری	چې بدل (نه) کړی دوی	هغه حال	چې په نفسونو د دوی کښې دی

چې انعام کړی ئې وی پر یوه قوم باندی تر هغه پوری چې بدل (نه) کړی دوی هغه حال چې په نفسونو د دوی کښې دی

وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ۝٥٣ كَدَاۡبِ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ ۙ

وَاَنَّ	اللّٰهَ	سَمِيۡعٌ	عَلِيۡمٌ	كَدَاۡبِ	اٰلِ	فِرۡعَوۡنَ
او بیشکه	الله	ښه اوریدونکی داقوالو	ښه عالم دی	لکه حال د	تابعانو	د فرعون دی

او بیشکه! الله ښه اوریدونکی د اقوالو ښه عالم دی. (حال د دوی) لکه حال د تابعانو د فرعون دی (له الله سره)

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ. الله ﷻ پر خپلو بندګانو باندې ظلم کوونکی نه دی: په دغه آیت کې خطاب کفارو ته دی او فرمايي چې داعذاب ددنیا او دآخرت ستاسې دلاسونو ګټه ده کله چې عام کاروبار دلاسونو په ذریعه پیدا کیږي په دې وجه یې دلاسونو ذکر وکی: مطلب دادی چې داعذاب ستاسې دخپلو عملونو نتیجه ده او دا چې الله ﷻ پر خپلو بندګانو باندې ظلم کوونکی نه دی چې بې وجهې څوک په عذاب کې اخته کوي په دا بل آیت کې الله ﷻ دا وښووله چې پر دې مجرمانو باندې زما عذاب کمه نوې خبره نه ده بلکه دالله ﷻ داعادت او دستور دی چې دخپلو بندګانو دهدايت دپاره دوی ته عقل او پوهه ورکړې پر شا او خوا ددوی دپاره داسې شیان موجود کوي په کومو کې چې په غور اوفکر کولو سره دالله ﷻ لوی قدرت او لوی شان معلومیږي او چې عاجزه مخلوق بیا ور سره شریک نه جوړوي او بیا دزیاتې خبردارۍ دپاره یې خپل انبیار علیهم السلام هم رالیږل هغو هم ددغو قومونو دپوهولو کوشش وکړی الخ.
(معارف القرآن ج ۴ پ۱۰ ص۲۸)

وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ

وَالَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِ	رَبِّهِمْ
او دهغو كسانو دی	چي پخوا له دوی څخه وو	چي نسبت د دروغو ئې كړی ؤ	په آيتونو	درب خپل

او (لکه حال) دهغو کسانو دی چي پخوا له دوی څخه وو، چي نسبت د دروغو ئې کړی ؤ په آيتونو د رب خپل

فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ

فَاَهْلَكْنٰهُمْ	بِذُنُوْبِهِمْ	وَاَغْرَقْنَآ	اٰلَ	فِرْعَوْنَ	وَكُلٌّ
نو هلاک کړل موږ دوی	په سبب د ګناهونو د دوی	او غرق کړل موږ	تابعان	د فرعون	او (دوی) ټول

نو هلاک کړل موږ دوی په سبب د ګناهونو د دوی او غرق (ډوب) کړل موږ تابعان دفرعون، او (دوی) ټول

كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ۝٥٤ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ

كَانُوْا	ظٰلِمِيْنَ	اِنَّ	شَرَّ	الدَّوَآبِّ	عِنْدَ	اللّٰهِ	الَّذِيْنَ
وو	ظالمان	بیشکه!	بد تر	دښوریدونکو	په نزد	دالله	هغه کسان دی

وو ظالمان. بیشکه بدتر د خوځیدونکی (تلونکو) په نزد د الله هغه کسان دی

كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٥٥ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ

كَفَرُوْا	فَهُمْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	اَلَّذِيْنَ	عٰهَدْتَّ	مِنْهُمْ
چي کافران سوی دی	نو دوی	ایمان نه راوړی	هغه کسان چي	معاهده تړلې وه تا	له دوی سره

چي کافران سوی دی نو دوی ایمان نه راوړی. هغه کسان چي معاهده تړلې وه تا له دوی سره

ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ۝٥٦

ثُمَّ	يَنْقُضُوْنَ	عَهْدَهُمْ	فِيْ	كُلِّ	مَرَّةٍ	وَّهُمْ	لَا يَتَّقُوْنَ
بیا	ماتوی دوی	عهد خپل	په	هر	کرت کښی	او دوی	نه پوهیږی

بیا ماتوی دوی عهد خپل په هر کرت کښی او دوی نه ویریږی (له دی عهد ماتولو څخه).

فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ

فَاِمَّا	تَثْقَفَنَّهُمْ	فِي	الْحَرْبِ	فَشَرِّدْ	بِهِمْ	مَّنْ
نو که	پیداکړی ته دوی	په	جنګ کښی	پس سزاور کړه او ویروه	په سبب د ټیټولو د دوی	هغه کسان

نو که ومومی ته دوی په جنګ کښی پس تیت کړه (سزاورکړه) او ویروه په سبب د تیتلو (سزاورکولو) د دوی هغه کسان

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا.. كفار دالله ﷻ په نزد بدترين او مبغوض مخلوق دي: په دغه آيت كي الله ﷻ لفظ ددواب ذكر كړی دی (دوابّ) ددابة جمع ده چي لغوي معنى يې ده پر مځكي تلونكى شى مگر په عامو محاورو كي دا لفظ خاص دڅلورو پښو لرونكو حيوانانو ته استعماليږي معنى داده چي ددې خلگو حال په بې شعورى او ناپوهى كي تر حيواناتو هم زيات غورځيدلي دي په دې وجه يې په دې لفظ سره تعبير وكړ ورڅخه: معنى دآيت واضحه سوه چي په ټولو حيواناتو كي او ټولو انسانانو كي تر ټولو بدترينه حيوانان دا خلگ دي دآيت په آخر كي فرمايي (فهم لا يؤمنون) يعني دا خلگ ايمان نه راوړي مطلب دآيت دادى چي دې خلگو خپل خداى ﷻ وركړی استعداد او قابليت ضائع كړی دحيوانانو په شان خوراك او څيښاك خوب او وينښيدل دوى دژوند خپل اصلي مقصد جوړ كړی دی په دې وجه دوى ايمان ته نه سي رسيدلای دمخكي څخه لا الله ﷻ ددوى په باره كي پيشگويي وكړه دعدم ايمان. (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۳۴) مكتبه حبيبيه

خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ ۞ ﴿۵۷﴾ وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنۡ

خَلۡفَهُمۡ	لَعَلَّهُمۡ	يَذَّكَّرُوۡنَ	وَاِمَّا تَخَافَنَّ	مِنۡ
چې وروسته له دوی څخه دی	لپاره د دې چې دغه وروستني خلک	عبرت واخلي	او که ېیرېږې (محمده)	له

چې وروسته له دوی څخه دی لپاره د دې چې دغه وروستني خلک عبرت واخلي. او که ېیرېږې (محمده) له

قَوۡمٍ خِيَانَةً فَانۡۢبِذۡ اِلَيۡهِمۡ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

قَوۡمٍ	خِيَانَةً	فَانۡۢبِذۡ	اِلَيۡهِمۡ	عَلٰى	سَوَآءٍ	اِنَّ	اللّٰهَ
کوم قوم	د خیانت	نو وغورځوه	دوی ته	په	برابر	بیشکه!	الله

کوم قوم د خیانت نو وغورځوه دوی ته (دغه عهد) په (داسې ډول چې سئ تاسې او هغو سره) برابر، بیشکه! الله

لَا يُحِبُّ الۡخَآئِنِيۡنَ ۞ ﴿۵۸﴾ وَلَا يَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

لَا يُحِبُّ	الۡخَآئِنِيۡنَ	وَلَا يَحۡسَبَنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا
نه خوښوی	خیانت کوونکی	او نه دی کوی ګمان	هغه کسان	چې کافران سوی دی

نه خوښوی خیانت کوونکی. او نه دی کوی ګمان هغه کسان چې کافران سوی دی

سَبَقُوۡا ؕ اِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُوۡنَ ۞ ﴿۵۹﴾ وَاَعِدُّوۡا لَهُمۡ

سَبَقُوۡا	اِنَّهُمۡ	لَا يُعۡجِزُوۡنَ	وَاَعِدُّوۡا	لَهُمۡ
چې دوی به وتښتي	بیشکه! دوی	له سره نسی عاجزه کولای الله لره	او تیاروئ لپاره (د جنګ)	د دغو (کفارو)

چې دوی به وتښتي (له عذابه) بیشکه! دوی له سره نسی مغلوبولی. او تیاروئ لپاره (د جنګ) د دغو (کفارو)

مَّا اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ قُوَّةٍ وَّمِنۡ رِّبَاطِ الۡخَيۡلِ تُرۡهِبُوۡنَ

مَّا اسۡتَطَعۡتُمۡ	مِّنۡ	قُوَّةٍ	وَّمِنۡ	رِّبَاطِ	الۡخَيۡلِ	تُرۡهِبُوۡنَ
څومره چې توانیږئ تاسې	له	قوت	او له	روزل سوو ساتل سوو	آسونو	چې وبیروئ تاسې

څومره چې توانیږئ (جمع کولی سئ) تاسې له قوت او له روزل سوو ساتل سوو آسونو (لپاره د جهاد) چې وبیروئ تاسې

بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَاٰخَرِيۡنَ مِنۡ دُوۡنِهِمۡ ۚ

بِهٖ	عَدُوَّ	اللّٰهِ	وَعَدُوَّكُمۡ	وَاٰخَرِيۡنَ	مِنۡ دُوۡنِهِمۡ
په دغه سره	دښمنان	د الله	او دښمنان ستاسې	او نور کسان	بې له دوی څخه

په دغه (قوت او تیاری) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسې او نور کسان بې له دوی څخه

وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنۡ قَوۡمٍ خِيَانَةً دصلح دمعاهدې دختمولو یو صورت: په دغه آیت کې الله جل جلاله نبي کریم ﷺ ته دصلح او جنګ دقانون یوه مهمه دفعه ښوولې ده چې په دې کې یې دمعاهدې د پایبندی دخاص اهمیت سره سره دا هم وښووله چې که کم وخت دمعاهدې دبل فریق دطرفه څخه دخیانت یا عهد ماتولو خطره پیدا سي نو داضروري نه ده چې موږ دې دمعاهدې پایبنده وسولیکن دا هم جائز نه ده چې دمعاهدې په صفا ډول سره تر ختمولو مخکې موږ دهغه خلاف کم اقدام وکړو بلکه صحیح صورت دادی چې دوی داطمینان او فرصت په وخت کې ددې څخه خبر کړو چې ستاسې بدنیتی او خلاف ورزي موږ ته ښکاره سویده یا دا چې ستاسې معاملې شکمنې دي په دې وجه موږ آینده ددې معاهدې پایبند نه یو تاسې ته هر قسم اختیار دی چې زموږ خلاف څه قسم کارروایي غواړی نو کوی یې دآیت الفاظ دادي (واِمّا تخافنّ من قوم خیانة فانبذ الیهم علی سوآء ...) یعني که ددښمن دخیانت بیره وه نو ددوی عهد په داسې صورت کې حواله کی چې تاسې او دوی سره برابر یاست الخ: (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۳۷)

ع ۴

لَا تَعۡلَمُوۡنَهُمۡ ۚ اَللّٰهُ يَعۡلَمُهُمۡ ؕ وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ شَيۡءٍ

لَا تَعۡلَمُوۡنَهُمۡ	اَللّٰهُ	يَعۡلَمُهُمۡ	وَمَا	تُنۡفِقُوۡا	مِنۡ	شَيۡءٍ
چي نه پیژنئ تاسی هغوی	الله	عالم دی په هغو	او هر هغه	چي نفقه کوئ تاسی	له یوه	شي

چي نه پیژنئ تاسی هغوی الله عالم دی په (عداوت د) هغو ، او هر هغه چي نفقه کوئ (لګوئ) تاسی له یوه شي

فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيۡكُمۡ وَاَنۡتُمۡ لَا تُظۡلَمُوۡنَ ﴿۶۰﴾

فِيۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	يُوَفَّ	اِلَيۡكُمۡ	وَاَنۡتُمۡ	لَا تُظۡلَمُوۡنَ
په	لاره	دالله کښې	پوره به درکړې سی	تاسی ته	حال دا چي پر تاسی	به ظلم ونه کړې سی

په لاره د الله کښې (لپاره د ترقي د دین) پوره (بدل د هغه) به درکړې سی تاسی ته حال دا چي پر تاسی به ظلم ونه کړې سی .

وَاِنۡ جَنَحُوۡا لِلسَّلۡمِ فَاجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى

وَاِنۡ	جَنَحُوۡا	لِلسَّلۡمِ	فَاجۡنَحۡ	لَهَا	وَتَوَكَّلۡ	عَلَى
او که	میل وکړي کفار	صلحی ته	نو ته هم میل وکړه	دی (صلحی) ته	او توکل وکړه	پر

او که میل وکړي کفار صلحی (روغی) ته نو ته هم میل وکړه دی (صلحی) ته او توکل (اعتماد) وکړه په

اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۶۱﴾ وَاِنۡ يُّرِيۡدُوۡۤا اَنۡ

اللّٰهِ	اِنَّهٗ	هُوَ	السَّمِيۡعُ	الۡعَلِيۡمُ	وَاِنۡ	يُّرِيۡدُوۡۤا	اَنۡ
الله	او بیشکه! چي دغه (الله)	هم دی	ښه اوریدونکی	ښه عالم دی	او که	اراده کوی دوی	دغه چي

الله (او مه بیریږه له مکره د دوی) بیشکه چي دغه (الله) هم دی ښه اوریدونکی ښه عالم دی. او که اراده کوی دوی دغه چي

يَّخۡدَعُوۡكَ فَاِنَّ حَسۡبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيۡۤ اَيَّدَكَ

يَّخۡدَعُوۡكَ	فَاِنَّ	حَسۡبَكَ	اللّٰهُ	هُوَ	الَّذِيۡۤ	اَيَّدَكَ
فریب درکړي تاته	نو بیشکه!	کافي دی تاته	الله	هم دی	هغه ذات دی	چي قوت ئې درکړی دی تاته

فریب درکړي تاته (په دغه روغه کښې) نو بیشکه! کافي دی تاته الله ، هم دی هغه ذات دی چي قوت ئې در کړی دی تاته

بِنَصۡرِهٖ وَبِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۶۲﴾ وَاَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ

بِنَصۡرِهٖ	وَبِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَاَلَّفَ	بَيۡنَ	قُلُوۡبِهِمۡ
په مرستی خپلی سره	او په مؤمنانو سره	او الفت محبت ئې واچاوه	په مینځ	د زړونو د دغو (مؤمنانو) کښې

په مرستی خپلی سره او په مؤمنانو سره. او الفت محبت ئې واچاوه په مینځ د زړونو د دغو (مؤمنانو) کښې !

وَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ. ددښمن سره دصلح په صورت کي هم توکل پر الله ﷻ پکار دی : هر کله چي ددښمن دطرف څخه دصلح په خواهش کي دا احتمال وي چي دوی مسلمانانو ته دوکه ورکړي او په غفلت کي یي واچوي او بیا وربانديي په یوه وار حمله وکړي په دې وجه دآیت په آخر کي یي نبي کریم ﷺ ته داهدایت وکی چي (وتوکل علی الله انّه هو السمیع العلیم) یعني ته پر الله ﷻ باورساته چي هغه ښه اوریدونکی او پوهیدونکی دی هغه ددوی خبري هم اوري او ددوی په زړونوکي پټې ارادې هم پیژني هغه ستا دکومک دپاره کافي دی ته په داسي بې دلیله احتمالونو باندي دخپلو کارونو بنیاد مه ایږده او داسي خطرې الله ﷻ ته حواله کوه : تر دې وروسته په راروان آیت کي دا مضمون نور هم په زیات وضاحت او صراحت سره داسي بیانوي چي که دا احتمال وي چي په صلح کولو سره ددوی نیت خراب وي او تاته دوکه درکول غواړي نو بیا هم ته ددوی پرواه مه کوه ځکه چي الله ﷻ ستا دپاره کافي دی.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۴۳)

لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ

لَوْ اَنْفَقْتَ	مَا فِي	الْاَرْضِ	جَمِيْعًا	مَّآ اَلَّفْتَ	بَيْنَ
كه لګولی وی تا	هر هغه څه چې په	مځكه كښې دی	ټول	نو نه به دی سو اچولی الفت	په مینځ

كه لګولی وی تا هر هغه څه چې په مځكه كښې دی ټول نو نه به دی سو اچولی الفت محبت په مینځ

قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ

قُلُوْبِهِمْ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	اَلَّفَ	بَيْنَهُمْ	اِنَّهٗ	عَزِيْزٌ
دزړونو د دوی كښې	ولیكن	الله	الفت واچاوه	په مینځ د دوی كښې	بیشكه! چې	دغه ښه غالب

د زړونو د دوی كښې ولیكن الله الفت محبت واچاوه په مینځ د دوی كښې، بیشكه! چې دغه ښه غالب ښه حكمت والا دی.

حَكِيْمٌ ۝٦٣ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ

حَكِيْمٌ	يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	حَسْبُكَ	اللّٰهُ	وَمَنِ	اتَّبَعَكَ
ښه حكمت والا دی	ای	نبی	كافی (بس) دی تاته	الله	او هغه چا ته	چې متابعت كوی ستا

ای نبی كافی (بس) دی تاته الله او هغه چا ته چې متابعت كوی ستا له

۸ ع ۴

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝٦٤ ع يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى

مِنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	حَرِّضِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	عَلَى
له	مؤمنانو څخه	ای	نبی !	تیز كړه (اوترغیب وركړه)	مؤمنانو ته	پر

مؤمنانو څخه. ای نبی! تیز كړه (او ترغیب وركړه) مؤمنانو ته پر

الْقِتَالِ ؕ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا

الْقِتَالِ	اِنْ	يَّكُنْ	مِّنْكُمْ	عِشْرُوْنَ	صٰبِرُوْنَ	يَغْلِبُوْا
جنګ (دكفارو)	كه	وو	له تاسی څخه	شل تنه	صابران	نو غلبه دی وكړی

جنګ (دكفارو) كه وو له تاسی څخه شل تنه صابران (ثابت قدمان) نو غلبه دی وكړی

مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفًا مِّنَ

مِائَتَيْنِ	وَاِنْ	يَّكُنْ	مِّنْكُمْ	مِّائَةٌ	يَّغْلِبُوْٓا	اَلْفًا	مِّنَ
پر دوو سوو كافرانو	او كه	وو	له تاسی څخه	سل تنه	نو غالب دی سی	پر زرو تنو	له

پر دوو سوو كافرانو او كه وو له تاسی څخه سل تنه (صابران ثابت قدمان) نو غالب دی سی پر زرو تنو له

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ
دمسلمانانو اتحاد او اتفاق دالله ﷻ پر اطاعت موقوف دی: دسورت انفال په دغه ذكر سوو اياتونو كي په اولني آيت كي دمسلمانانو دفتح او كاميابی او ددې د حاصلولو طريقه بيان سويده تر دې په مخكي ايت كي يي نبي كريم ﷺ ته خطاب كړی دی چي الله ﷻ په خپل خاص كومك سره او د مسلمانانو په جماعت سره تائيد او نصرت فرمايلی دی په دې آيت كي يي دا ښوولی ده چي دمسلمانانو په جماعت سره دچا كومك او نصرت ښكاره ده چي يوازي په هغه صورت كي كيدای سي چي كله داجماعت ديوه اوبل سره متفق او متحد وي او په قدر داتحاد او اتفاق ددوی قوت اووزن وي چي ديوه او بل سره ديووالي او اتفاق ريښې او تعلقات قوي وي نو ټول جماعت قوي وي او كه داريښې او تعلقات سست وي نو ټول جماعت به سست او كمزوری وي: په دې كي الله ﷻ دخپل هغه خاص انعام ذكر وفرمايي كم چي دنبي كريم ﷺ دتائيد اونصرت دپاره پرعامو مسلمانانو وسوچي په دوی كي يي محبت پيدا كی الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۴۵)

اَلۡـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنۡكُمۡ وَعَلِمَ اَنَّ. دجهاد په معامله کې ومجاهدینو ته دالله ﷻ ورکړی تخفیف: دبدر اولني جهاد په یوداسې حالت کې وو چې په دې کې دمسلمانانو مجموعي طاقت ډیر کم وو او هغه هم تول دجنګ محاذ ته نه وه تللې بلکې په دستې دول سره چې کم خلګ تیار سول هغوی دې جنګ دپاره فوج جوړ سو په دې وجه په دې جنګ کې سلو مسلمانانو ته دزرو تنو کافرانو دمقابلې حکم ورکړل سو او په داسې انداز کې یې ورکړی چې دفتح او نصرت وعده ور سره وه په راروان ایت کې یې دآینده دپاره داحکم منسوخ کې. دوهم حکم یې داورکی چې اوس الله ﷻ آساني وکړه او معلومه یې کړه چې په تاسي کې دهمت کمی دی نو که په تاسي کې سل تنه ثابت قدمه پاته کیدونکي وي نو پر دووسوو تنو به غالبه راځي دلته هم مقصد داد ی چې سلو تنو مسلمانانو ته دوو سوو کافرانو دمقابلې څخه تښتیدل جایز نه دي په اولني ایت کې یو مسلمان ته دلسو په مقابله کې دریدو حکم سوی وو او دلته یې ددوو تنو په مقابله کې دتیښتې څخه منع کړې ده او داحکم به همیشه وي:

(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۴۸)

اَلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُوۡنَ ﴿۶۵﴾ اَلۡـٰٔنَ

اَلۡـٰٔنَ	لَّا يَفۡقَهُوۡنَ	قَوۡمٌ	بِاَنَّهُمۡ	كَفَرُوۡا	اَلَّذِيۡنَ
او س	چې نه پوهیږي	(داسي) قوم دي	په سبب د دې چې بیشکه! دوی	کافران سوي دي	هغو کسانو چې

هغو کسانو چې کافران سوي دي په سبب د دې چې بیشکه! دوی (داسي) قوم دي چې نه پوهیږي. او س

خَفَّفَ اللّٰهُ عَنۡكُمۡ وَعَلِمَ اَنَّ فِيۡكُمۡ ضَعۡفًا ؕ فَاِنۡ

فَاِنۡ	ضَعۡفًا	فِيۡكُمۡ	اَنَّ	وَعَلِمَ	عَنۡكُمۡ	اللّٰهُ	خَفَّفَ
نو که	سستي ده	په تاسي کښې	چې بیشکه!	او معلومه ئې کړه	پر تاسي	الله	آسانتیا وکړه

آسانتیا وکړه الله په تاسي (او تیر سو له سختی) او معلومه ئې کړه چې بیشکه! په تاسي کښې سستي ده نو که

يَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغۡلِبُوۡا مِائَتَيۡنِ ۚ وَاِنۡ

وَاِنۡ	مِائَتَيۡنِ	يَّغۡلِبُوۡا	صَابِرَةٌ	مِّائَةٌ	مِّنۡكُمۡ	يَّكُنۡ
او که	پر دوو سوو (کافرانو)	نو غالب دي سي	صابران	سل تنه	له تاسي څنې	وو

وو له تاسي څنې سل تنه صابران (ثابت قدمان) نو غالب دي سي پر دوو سوو (کافرانو) او که

يَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ اَلۡفٌ يَّغۡلِبُوۡۤا اَلۡفَيۡنِ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

اللّٰهُ	وَ	اللّٰهِ	بِاِذۡنِ	اَلۡفَيۡنِ	يَّغۡلِبُوۡۤا	اَلۡفٌ	مِّنۡكُمۡ	يَّكُنۡ
الله	او	دالله سره	په حکم	په دوو زرو	غالب دي سي	زر تنه	له تاسي څنې	وو

وو له تاسي څنې زر تنه غالب دي سي په دوو زرو (کفارو) په حکم د الله سره او الله

مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿۶۶﴾ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنۡ يَّكُوۡنَ لَهٗۤ اَسۡرٰى

اَسۡرٰى	لَهٗۤ	يَّكُوۡنَ	اَنۡ	لِنَبِيٍّ	مَا كَانَ	الصّٰبِرِيۡنَ	مَعَ
بندیان	ده لره	وي	داچې	نبي لره	نه ښائي	صابرانو (سره)	ملګری دی له

ملګری دی له صابرانو (ثابت قدمانو سره). نه ښائي نبي لره دا چې وي ده لره بندیان (چې تری فدیه واخلي)

حَتّٰى يُثۡخِنَ فِى الۡاَرۡضِ ؕ تُرِيۡدُوۡنَ عَرَضَ الدُّنۡيَا ۖ

الدُّنۡيَا	عَرَضَ	تُرِيۡدُوۡنَ	الۡاَرۡضِ	فِى	يُثۡخِنَ	حَتّٰى
دنیا (په اخیستلو)	اسباب د	اراده کوئ تاسي	مځکه کښې	په	چې قوي سي	ترهغه وخته

ترهغه وخته چې قوي سي په مځکه کښې اراده کوئ تاسي (ای مؤمنانو) اسباب د دنیا (په اخیستلو د فدیې سره)

وَ اللّٰهُ یُرِیۡدُ الۡاٰخِرَةَ ؕ وَ اللّٰهُ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ ﴿۶۷﴾ لَوۡ لَا کِتٰبٌ

وَ	اللّٰهُ	یُرِیۡدُ	الۡاٰخِرَةَ	وَ	اللّٰهُ	عَزِیۡزٌ	حَکِیۡمٌ	لَوۡ لَا کِتٰبٌ
او	الله	اراده لري	د آخرت	او	الله	غالب قوي	ښه حکمت والا دی	که نه وی لیکلی حکم

او الله اراده لري د آخرت او الله ښه غالب قوی ښه حکمت والا دی . که نه وی لیکلی حکم

مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّکُمۡ فِیۡمَاۤ اَخَذۡتُمۡ

مِّنَ	اللّٰهِ	سَبَقَ	لَمَسَّکُمۡ	فِیۡمَاۤ	اَخَذۡتُمۡ
له جانبه	د الله	چې مخکې لیکل سوی دی	نو خامخا رسیدلی به ؤ تاسی ته	په عوض د هغی کښې	چې اخیستی ده تاسی

له جانبه د الله چې رومبی لیکل سوی دی نو خامخا رسیدلی به ؤ تاسی ته په عوض د هغی کښې چې اخیستی ده تاسی

عَذَابٌ عَظِیۡمٌ ﴿۶۸﴾ فَکُلُوۡا مِمَّا غَنِمۡتُمۡ حَلٰلًا طَیِّبًا ۫ۖ وَّ اتَّقُوا

عَذَابٌ	عَظِیۡمٌ	فَکُلُوۡا	مِمَّا	غَنِمۡتُمۡ	حَلٰلًا	طَیِّبًا	وَّاتَّقُوا
عذاب	ډیر لوی	نو خورئ تاسی	له هغه ماله	چې غنیمت اخیستی دی تاسی	حلال	طیب	او وېرېږئ

عذاب ډیر لوی. نو خورئ تاسی له هغه ماله چې غنیمت اخیستی دی تاسی حلال طیب (پاکیزه) او وېرېږئ

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۶۹﴾ یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ قُلۡ لِّمَنۡ فِیۡۤ

اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِیۡمٌ	یٰۤاَیُّهَا	النَّبِیُّ	قُلۡ	لِّمَنۡ	فِیۡۤ
له الله	بیشکه!	الله	ښه بخښونکی	ډیر مهربان دی	ای	نبی!	وو وایه ته	هغه چا ته	چې په

له الله بیشکه! الله ښه بخښونکی د (خطیاتو) ډیر مهربان دی. ای نبی! وو وایه ته هغه چا ته چې په

اَیۡدِیۡکُمۡ مِّنَ الۡاَسۡرٰۤی ۙ اِنۡ یَّعۡلَمِ اللّٰهُ فِیۡ قُلُوۡبِکُمۡ خَیۡرًا

اَیۡدِیۡکُمۡ	مِّنَ	الۡاَسۡرٰۤی	اِنۡ	یَّعۡلَمِ	اللّٰهُ	فِیۡ	قُلُوۡبِکُمۡ	خَیۡرًا
لاسونو ستاسی کښې دی	له	بندیانو	که	معلوم کړی	الله	په	زړونو ستاسی کښې	کوم خیر

لاسونو ستاسی کښې دی له بندیانو (قیدیان) که معلوم کړی الله په زړونو ستاسی کښې کوم خیر (ایمان)

یُّؤۡتِکُمۡ خَیۡرًا مِّمَّاۤ اُخِذَ مِنۡکُمۡ وَ یَغۡفِرۡ لَکُمۡ ؕ

یُّؤۡتِکُمۡ	خَیۡرًا	مِّمَّاۤ	اُخِذَ	مِنۡکُمۡ	وَیَغۡفِرۡ	لَکُمۡ
نو ور به کړی تاسی ته	خیر	له هغه څخه	چې اخیستی سوی دی	له تاسی څخه	او مغفرت به وکړی	تاسی ته

نو ور به کړی تاسی ته خیر (بهتر) له هغه (مال) څخه چې اخیستی سوی دی له تاسی څخه او مغفرت به وکړی تاسی ته

وَ اللّٰهُ یُرِیۡدُ الۡاٰخِرَةَ ؕ وَ اللّٰهُ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ. **دغنیمت مال ددې امت دپاره حلال ګڼل سوی دی**: دبدر غزا په اسلام کي تر ټولو اولنی جهاد دی او ناڅاپه پېښ سوی دی تر دغه وخته پوري دجهاد په اړوند داحکامو تفصیل په قرآن کریم کي نه وو نازل سوی په جهاد کي چي دغنیمت مال په لاس ورسي په دې به څه کول کیږي ؟ ددښمن سپایان که په قبضه کي راسي دهغو سره به څه کول کیږي ؟ دغنیمت دمال متعلق دتیرو ټولو انبیاوو علیهم السلام په شریعتونو کي دا قانون ووچي مسلمانانو ته ددې څخه نفع اخیستل او استعمالول حلال نه وه بلکي حکم دا وو چي ټول مال دغنیمت دي جمع سي او پر یوه ډاګ دي کښېښوول سي او د الله جل جلاله دا قانون وو چي دآسمان څخه به یو اور راتلی او دغه ټول مال به یې سوزی او ایره کوی دا به ددغه جهاد دقبلیدو علامه وه او که دغه مال به آسماني اورنه وای سوځلی نو دا به ددې جهاد دنه قبلیدو علامه وه یو خصوصیت دنبي کریم ﷺ دخصوصیاتو څخه داد ی چي دغنیمت مال دده او دده دامت دپاره حلال ګڼل سوی دی: (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۵۰)

ع ۹ ۵ ۵

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٠﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ

وَ	اللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	وَاِنْ	يُّرِيْدُوْا	خِيَانَتَكَ	فَقَدْ
او	الله	ښه بخښونکی	ډیر رحم والا دی	او که	اراده وکړی دغه	دخیانت ستاسی سره	نو په تحقیق

او الله ښه بخښونکی د (خطیاتو) ډیر رحم والا دی، او که اراده وکړی دغه (بندیان) د خیانت ستاسی نو په تحقیق

خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

خَانُوا	اللّٰهَ	مِنْ قَبْلُ	فَاَمْكَنَ	مِنْهُمْ	وَ	اللّٰهُ	عَلِيْمٌ
خیانت کړی ؤ دوی	له الله سره	پخوا له دی څخه	نو قادر کړی	پر دوی	او	الله ښه	عالم دانا

خیانت کړی ؤ دوی له الله سره پخوا له دی څخه (په کفر) نو قادر کړی (ته الله) پر دوی او الله ښه عالم دانا (په ټولو احوالو)

حَكِيْمٌ ﴿٧١﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

حَكِيْمٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَهَاجَرُوْا	وَجٰهَدُوْا
ښه حکمت والا دی	بیشکه!	هغه کسان چی	ایمان ئی راوړی دی	او هجرت ئی کړی دی	او جهاد ئی کړی دی

ښه حکمت والا دی. بیشکه! هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او هجرت ئی کړی دی او جهاد ئی کړی دی

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا

بِاَمْوَالِهِمْ	وَاَنْفُسِهِمْ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	وَالَّذِيْنَ	اٰوَوْا
په مالونو خپلو سره	او په نفسونو خپلو سره	په	لاره د	الله کښی	او هغه کسان چی	ځای ئی ورکړی دی

په مالونو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره په لاره د الله کښی (د دین د ترقی له پاره) او هغه کسان چی ځای ئی ورکړی دی

وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۭ وَالَّذِيْنَ

وَّنَصَرُوْٓا	اُولٰٓئِكَ	بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ	وَالَّذِيْنَ
او مددگاری ئی کړه ده	دغه کسان	ځینی د دوی	دوستان دی	د ځینو نورو	او هغه کسان چی

او مددگاری ئی کړی ده (له دوی سره) دغه کسان ځینی د دوی دوستان دی د ځینو نورو او هغه کسان چی

اٰمَنُوْا وَلَمْ يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ

اٰمَنُوْا	وَلَمْ يُهَاجِرُوْا	مَا لَكُمْ	مِّنْ	وَّلَايَتِهِمْ
ایمان ئی راوړی دی	او هجرت ئی نه دی کړی	نشته تاسی ته	له	ولایت د دوی ځینی

ایمان ئی راوړی دی او هجرت ئی نه دی کړی نشته تاسی ته له ولایت (نصرت او ارث) د دوی ځینی

وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوْا.. دخیانت انجام هم په دنیا کي ناکامي ده: د بدر دغزا په قیدیانو کي څه خلگ مسلمانان سوه مگر ددوی په باره کي دابیره وه دخلگو په زړونو کي چي شاید داخلگ مکې ته ولاړسي نو داسلام څخه به وگرځي او بیا به موږ ته څه نقصان ورسوي الله ﷻ ددې څخه وروسته په راتلونکي آیت کي دابیره هم ایسته کړه او داسي یي وفرمایل (وان یریدوا خیانتک فقد خانوا من قبل فامکن منهم والله علیم حکیم) یعني که داخلگ ستا سره دخیانت اراده وکړي نو ددې څخه به تاته هیڅ نقصان ونه رسیږي دا خو هغه خلگ دي کم چي ددې څخه مخکي یي دالله ﷻ سره خیانت کړی دی یعني دازل په میثاق کي چي یي کم دالله ﷻ سره درب العلمین والي اقرار کړی وو دهغه مخالفت یي وکی لیکن ددوی دا خیانت په خپله ددوی دپاره مضر ثابت سو چي آخر ذلیل او خوار او گرفتار سول اوالله ﷻ خو دزړونو په رازونو پوهیدونکی او لوی حکمت والا دی اوس هم که دوی مخالفت وکړي دالله ﷻ دقبضي څخه نه سي تللای:

(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۵۹)

مِّنۡ شَيۡءٍ حَتّٰى يُهَاجِرُوۡا ۚ وَاِنِ اسۡتَنۡصَرُوۡكُمۡ فِي

مِّنۡ	شَيۡءٍ	حَتّٰى	يُهَاجِرُوۡا	وَاِنِ	اسۡتَنۡصَرُوۡكُمۡ	فِي
هيڅ	شي	ترهغه پورې	چې هجرت وکړي	او كه	طلب د نصرت وکړي دغه له تاسي څنې	په

هيڅ شي ترهغه پورې چې هجرت وکړي او که طلب د نصرت وکړي دغه (غير مهاجر) له تاسي څنې په

الدِّيۡنِ فَعَلَيۡكُمُ النَّصۡرُ اِلَّا عَلٰى قَوۡمٍۢ بَيۡنَكُمۡ

الدِّيۡنِ	فَعَلَيۡكُمُ	النَّصۡرُ	اِلَّا	عَلٰى	قَوۡمٍۢ	بَيۡنَكُمۡ
دين کښې	نو لازمه ده پر تاسي	مرسته کول	مګر	پر	هغه قوم باندې چې	په مينځ ستاسي

دين کښې نو لازمه ده په تاسي مرسته کول (له دوی سره) مګر (نه دی لازم) پر هغه قوم باندې چې په مينځ ستاسي

وَبَيۡنَهُمۡ مِّيۡثَاقٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿٧٢﴾ وَالَّذِيۡنَ

وَبَيۡنَهُمۡ	مِّيۡثَاقٌ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ	وَالَّذِيۡنَ
او په مينځ د دوی کښې	معاهده وی	او الله	په هغه کار	چې کوئ (ئې) تاسي	ښه ليدونکی دی	او هغه کسان چې

او په مينځ د دوی کښې معاهده وی، او الله په هغه کار چې کوئ (ئې) تاسي ښه ليدونکی دی. او هغه کسان چې

كَفَرُوۡا بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ ؕ اِلَّا تَفۡعَلُوۡهُ تَكُنۡ

كَفَرُوۡا	بَعۡضُهُمۡ	اَوۡلِيَآءُ	بَعۡضٍ	اِلَّا تَفۡعَلُوۡهُ	تَكُنۡ
کافران شوی دی	ځينې د دوی	دوستان دی	دځينو نورو	که ونه کړئ تاسي دا	نو پيدا به سی

کافران سوی دی ځينې د دوی دوستان دی د ځينو نورو که ونه کړئ تاسي دا (دوستی په خپل مينځ کښې) نو پيدا به سی

فِتۡنَةٌ فِي الۡاَرۡضِ وَفَسَادٌ كَبِيۡرٌ ﴿٧٣﴾ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

فِتۡنَةٌ	فِي	الۡاَرۡضِ	وَفَسَادٌ	كَبِيۡرٌ	وَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
(لويه) فتنه	په	مځکه کښې	او فساد	لوی	او هغه کسان چې	ايمان ئې راوړی دی

(لويه) فتنه په مځکه کښې او (خور به سی) فساد لوی. او هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دی

وَهَاجَرُوۡا وَجٰهَدُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَالَّذِيۡنَ اٰوَوۡا

وَهَاجَرُوۡا	وَجٰهَدُوۡا	فِيۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَالَّذِيۡنَ	اٰوَوۡا
او هجرت ئې کړی دی	او جهاد ئې کړی دی	په	لاره	د الله کښې	او هغه کسان چې	ځای ئې ورکړی دی

او هجرت ئې کړی دی او جهاد ئې کړی دی په لاره د الله کښې او هغه کسان چې ځای ئې ورکړی دی مهاجرينو ته

وَاِنِ اسۡتَنۡصَرُوۡكُمۡ فِي الدِّيۡنِ

يو مسلمان بايد د بل مسلمان غمخوره وي: په دغه آيت کي الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي که چيري دغه خلګ چي هجرت يي نه دی کړی که څه هم ددوی سره تعلق دوراثت ختم کړل سو مګر دغه بهر حال مسلمانان دي که هغوی دخپل دين دحفاظت دپاره دمهاجرو مسلمانانو څخه مدد وغواړي نو ددوی پر ذمه دهغوی امداد کول واجب دي مګر ددې سره سره دعدل او انصاف اصول او پابندی دمعاهدې شاته غورزول نه دي پکار که هغوی دچا داسي قوم په مقابله کي ستاسو څخه امداد غواړي دکم سره چي ستاسو معاهده دجنګ نه کولو ده نو ددوی په مقابله کي ددغه مسلمانانو امداد هم جايز نه دی دصلح حديبيي په وخت کي هم داسي واقعه مخ ته راغله کم وخت چي نبي کريم ﷺ دمکې دکفارو سره صلح وکړه او دصلح په شرطونو کي دا هم داخل وه چي دمکې څخه کم سړی اوس مدينې ته ځي هغه به نبي کريم ﷺ راګرځوي عين دصلح پر موقع ابو جندل رضي الله عنه راغی دمکې څخه او نبي کريم ﷺ بيرته ورواستوی الـخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۶۶)

وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ

وَّنَصَرُوْٓا	اُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْمُؤْمِنُوْنَ
او مدد گاری ئی کړی ده	دغه موصوف په دغو صفاتو سره	هم دوی دی	مؤمنان

او مدد گاری ئی کړی ده (له رسول الله او مهاجرینو سره) دغه موصوف په دغو صفاتو سره هم دوی دی مؤمنان

حَقًّا ۭ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۴﴾

حَقًّا	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّرِزْقٌ	كَرِيْمٌ
په حقه	دوی لره دی	مغفرت	او رزق	نیک

په حقه سره دوی لره دی مغفرت او رزق (روزی) نیکه (دعزت چی جنت دی).

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مِنْۢ بَعْدُ	وَهَاجَرُوْا	وَجٰهَدُوْا
او هغه کسان چی	ایمان ئی راووړ	وروسته	او هجرت ئی وکړ	او جهاد ئی وکړ

او هغه کسان چی ایمان ئی راووړ وروسته له اول هجرته او هجرت ئی وکړ او جهاد ئی وکړ

مَعَكُمْ فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ۭ وَاُولُوا

مَعَكُمْ	فَاُولٰٓئِكَ	مِنْكُمْ	وَاُولُوا
په ملګری توب ستاسی	نو دغه کسان	له تاسی څخه دی	او خاوندان

په ملګری توب ستاسی نو دغه (ستایل سوی په دغو صفاتو) له تاسی څخه دی (دمیراث په وړلو سره) او خاوندان

الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ

الْاَرْحَامِ	بَعْضُهُمْ	اَوْلٰى	بِبَعْضٍ	فِيْ	كِتٰبِ
دخپلوی	ځینی د دوی	غوره دی	په ځینو نورو	په	حکم

د خپلوی ځینی د دوی غوره دی په ځینو نورو په حکم

اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۵﴾ ع

اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ
د الله کښی	بیشکه!	الله	پر هر	شی باندی	ښه عالم دی .

د الله کښی، بیشکه! الله پر هر شی باندی ښه عالم دی .

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ.. دصحابه کرامو ﷺ څخه الله ﷻ راضي سوی دی : په دغه آیت کي الله ﷻ : دمکي مکرمي څخه دهجرت کوونکو صحابه کرامو ﷺ او ددوی دمدد کوونکو دمديني دانصارو تعريف او ثنا او ددوی دربښتيني مسلمانيدو شاهدي او ددوی سره د مغفرت او باعزته روزي دوعدي ذکر دی ارشاد فرمايي (اولئک المؤمنون حقا) يعني دا خلک ربښتيني پاخه مسلمانان دي په دي کي اشاره دي طرف ته ده چي دهجرت نه کوونکي حضرات هم که څه مسلمانان دي مګر ددوی اسلام کامل هم نه دی او يقيني هم نه دی ځکه چي دااحتمال هم دی چي په اصل کي منافقان وي او په ښکاره داسلام دعوی کوي خو بيا هم دکاميابي دار مدار پر خاتمي دی ددي څخه وروسته ارشاد فرمايي (لهم مغفرة) يعني ددوی دپاره مقرر دی مغفرت لکه چي په صحيح حديث کي دي چي (الاسلام يهدم ما کان قبله) والهجرة يهدم ما کان قبله) يعني ګسلمانيدل تير ټول ناهونه رژوي دغه رکم هجرت تير ټول ګناهونه ختموي (الحديث).
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۶۸)

ربع الربع

٩ سُوْرَةُ التَّوْبَةِ مَدَنِيَّةٌ ١١٣

آياتونه ١٢٩ — ١٦ كوعوي

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ

بَرَآءَةٌ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖٓ	اِلَى الَّذِيْنَ	عٰهَدْتُّمْ	مِّنَ
(دا) بيزاري ده	له (طرفه)	الله	او درسول دالله	هغو كسانو ته	چي عهد ورسره كړى دى تاسي	له

(دا) بيزاري (يا صاف ځواب) دى له (طرفه د) الله او رسول دالله هغو كسانو ته چي عهد ورسره كړى دى تاسي له

الْمُشْرِكِيْنَ ① فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا

الْمُشْرِكِيْنَ	فَسِيْحُوْا	فِي	الْاَرْضِ	اَرْبَعَةَ	اَشْهُرٍ	وَّاعْلَمُوْٓا
مشركانو	نو گرځئ تاسي	په	(دغه) مځكه كښي	څلور	مياشتي	او پوه سئ چي

مشركانو نو گرځئ تاسي په (دغه) مځكه كښي څلور مياشتي او پوه سئ چي

اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي

اَنَّكُمْ	غَيْرُ	مُعْجِزِي	اللّٰهِ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	مُخْزِي
بيشكه تاسي	نه يئ	عاجزكوونكي	دالله	او بيشكه!	الله	رسوا كوونكي

بيشكه تاسي نه يئ عاجز كوونكي د الله (دعذاب خپل) او (پوه سئ په دى چي) بيشكه الله رسوا كوونكي

الْكٰفِرِيْنَ ② وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ

الْكٰفِرِيْنَ	وَاَذَانٌ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖٓ	اِلَى النَّاسِ
د كافرانو دى	او خبرول دى	له (طرفه)	الله	اود رسول د دغه (الله)	ټولو خلكو ته

د كافرانو دى. او خبرول (آورول) دى له (طرفه د) الله او د رسول د دغه (الله) ټولو خلكو ته

يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِيْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ

يَوْمَ	الْحَجِّ	الْاَكْبَرِ	اَنَّ	اللّٰهَ	بَرِيْٓءٌ	مِّنَ	الْمُشْرِكِيْنَ
په ورځ	دحج	لوى كښي	په دى چي	الله	بيزاره دى	له	مشركانو

په ورځ د حج لوى كښي په دى چي الله بيزاره دى له مشركانو (او د دوى له عهد).

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ. سورت براءت ته سورت براءت ولي ويل كيږي ؟ سورت برآءت ته سورت توبه هم وايي او برآءت ورته ځكه وايي چي په دې سورت كي دكفارو څخه دبرآءت ذكر دى او توبه ورته په دې وجه وايي چي په دې كي دمسلمانانو دتوبې دقبليدو بيان دى (مظهري) ددې سورت يو خصوصيت دادى چي دقرآن په صحيفو كي ددې سورت په شروع كي بسم الله نه ليكل كيږي ددې څخه ماسوا دټولو قرآني سورتونو په شروع كي بسم الله ليكل كيږي يوه وجه يي داده چي ددې امكان سته چي سورت توبه جلا سورت نه وي بلكي دسورت انفال جز وي نو بسم الله كه يي په كښي ليكلې واى داداسي كيده لكه دسورت په مابين كي چي بسم الله وليكې: اوحضرت علي رضي الله عنه فرمايي چي دسورت برآءت په شروع كي ځكه بسم الله نسته چي بسم الله الرحمن الرحيم امان دى او په سورت برآءت كي دكفارو امان او عهد او پيمان الله جل جلاله ختم كړى دى نو دا هم يوه نكته ده چي داصلي سبب سره تكر نه لري هغه دا چي دادواړه يو سورت دي الخ. (معارف القرآن ج۴ پ ١٠ ص ٧۴)

وَرَسُوْلُهٗ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

وَرَسُوْلُهٗ	فَاِنْ	تُبْتُمْ	فَهُوَ	خَيْرٌ	لَّكُمْ	وَاِنْ	تَوَلَّيْتُمْ
او رسول د دغه (الله)	نو كه	توبه وويسته تاسي له	نو دا	خير دى	تاسي ته	او كه	مخ واړاوه تاسي

او رسول د دغه (الله هم بيزاره دى) نو كه توبه وويسته تاسي له (شركه) نو دا خير دى تاسي ته او كه مخ واړاوه تاسي

فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ ۗ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ

فَاعْلَمُوْٓا	اَنَّكُمْ	غَيْرُ مُعْجِزِى	اللّٰهِ	وَبَشِّرِ	الَّذِيْنَ
نو پوه سئ	بيشكه! تاسي	نه يئ عاجزكوونكي	د الله	او زيرى وكړه	هغو كسانو ته چي

نو پوه سئ (اى مشركانو) بيشكه! تاسي نه يئ عاجز كوونكي د الله (دعذاب خپل) او زيرى وكړه هغو كسانو ته چي

كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ

كَفَرُوْا	بِعَذَابٍ	اَلِيْمٍ	اِلَّا	الَّذِيْنَ	عٰهَدْتُّمْ	مِّنَ
كافران سوي دي	په عذاب	دردناك سره	مگر	هغه كسان	چي عهد كړى دى تاسي	له

كافران سوي دي په عذاب دردناك (دآخرت) سره. مگر هغه كسان چي عهد كړى دى تاسي (اى مسلمانانو) له

الْمُشْرِكِيْنَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْـًٔا وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ

الْمُشْرِكِيْنَ	ثُمَّ	لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ	شَيْـًٔا	وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا	عَلَيْكُمْ
مشركانو	بيا ئې	نقصان نه دى كړى له تاسي سره	هيڅ شى	او نه ئې مرسته كړې ده	په مقابل ستاسي كښې

مشركانو بيا ئې نقصان نه دى كړى له تاسي سره هيڅ شى او نه ئې مرسته كړې ده په مقابل ستاسي كښې

اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ ۗ

اَحَدًا	فَاَتِمُّوْٓا	اِلَيْهِمْ	عَهْدَهُمْ	اِلٰى	مُدَّتِهِمْ
له هيچا سره	نو پوره كړئ	له دغو مشركانو سره	عهد د دوى	تر	وعدې د دوى پورې

له هيچا سره نو پوره كړئ (اى مؤمنانو) له دغو مشركانو سره عهد د دوى تر (تماميدلو دمقررى) وعدې د دوى پورې

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۴﴾ فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ

اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُتَّقِيْنَ	فَاِذَا	انْسَلَخَ	الْاَشْهُرُ
بيشكه!	الله	خوښوى	ځان ساتونكي	نو كله چي	تيرى سوى	(څلور) مياشتي

بيشكه! الله خوښوى ځان ساتونكي (له بيوفائى). نو كله چي تيرى سوى (څلور) مياشتي

وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ.. مختصر بيان

دسورت توبې دمضامينو متعلق: اول: په تول سورت توبه كې دڅو غزاگانو او ددې سره دمتعلقه واقعاتو او دهغه په ضمن كې دډيرو احكامو او مسئلو بيان سوى دى مثلا دټولو قبائلو دعربو سره معاهدات ختمول بل طرف ته دمكې فتح، دحنين فتح، دتبوك غزا په دې واقعاتو كې دمكې فتح دټولو څخه اول په سنه (۸) هجري كې، بيا دحنين غزا په دې كال كې بيا دتبوك غزا په دې كال كې په مياشتې درجب كې په سنه (۹) هجري كې بيا دټولو قبائلو دعربو سره دمعاهدې دختمولو اعلان په ذي الحجه سنه (۹) هجري كې وسوه. دعهد متعلق چي كم مضامين په دې سورت كې ذكر دي ددغه خلاصه داده چي په سنه (۶) هجري كې نبي كريم ﷺ دعمرې اراده وفرمايله او دمكې قريشو دوى مكې ته پرې نښوول او دحديبيې پر مقام ددوى سره صلح وسوه ددې صلحې ميعاد دعلامه روح المعاني رحمه الله په نزد لس كاله وو او دا صلح او ترون يوازې په قريشو پورې هم نه وو خاص الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۷۶)

الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ

الْحُرُمُ	فَاقْتُلُوا	الْمُشْرِكِيْنَ	حَيْثُ	وَجَدْتُّمُوْهُمْ
حرامي	نو وژنئ اې مؤمنانو	عهد ماتوونکي مشركان	په هرځاى كښې	چې پيدا كړل تاسي دوى

حرامي نو وژنئ (اې مؤمنانو عهد ماتوونكي مشركان په هرځاى كښې چې ومومندل تاسي دوى

وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ

وَخُذُوْهُمْ	وَاحْصُرُوْهُمْ	وَاقْعُدُوْا	لَهُمْ
او نيسئ دوى	او حصار كړئ دوى	او كښينئ	دوى ته (منتظر)

او نيسئ (بنديان، قيديان،) دوى او حصار كړئ دوى (په كلاګانو كښې) او كينئ دوى ته (منتظر)

كُلَّ مَرْصَدٍ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

كُلَّ مَرْصَدٍ	فَاِنْ	تَابُوْا	وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ	وَاٰتَوُا	الزَّكٰوةَ
په هرځاى دڅارلو كښې	نو كه	توبه وويسته دوى	او قائم كړ دوى	لمونځ	او وركړ دوى	زكات

په هرځاى د څارلو او تيريدلو كښې نو كه توبه وويسته دوى (له كفره) او قائم كړ دوى لمونځ او وركړ دوى زكات

فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۵ وَاِنْ اَحَدٌ

فَخَلُّوْا	سَبِيْلَهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	وَاِنْ	اَحَدٌ
نو خوشي كړئ تاسي	لاره د دوى	بيشكه!	الله	ښه بخښونكى	ډير مهربان دى	او كه	يو تن

نو خوشي كړئ تاسي لاره د دوى (او څه مه ورته وايئ) بيشكه! الله ښه بخښونكى ډير مهربان دى. او كه يو تن

مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ

مِّنَ	الْمُشْرِكِيْنَ	اسْتَجَارَكَ	فَاَجِرْهُ	حَتّٰى	يَسْمَعَ
له	مشركانو څخه	امن وغواړي له تا	نو پناه وركړه ته! هغه ته	څو چې	واوري دى

له مشركانو څخه امن (پناه) وغواړي له تا (له قتله) نو پناه وركړه ته! هغه ته څو چې واوري دى

كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

كَلٰمَ	اللّٰهِ	ثُمَّ	اَبْلِغْهُ	مَاْمَنَهٗ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ
كلام	دالله	بيا	ورسوه ته دى	ځاى د امن د ده ته	دغه	په سبب د دى چې بيشكه! دوى

كلام د الله بيا ورسوه، ته دى ځاى د امن (وطن) د ده ته (كه ايمان ئې رانه ووړ) دغه په سبب د دى چې بيشكه! دوى

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ
ديوغير مسلم پر مسلمانيدو باندي اعتماد كول پر څو شيانو موقوف دي: ددغه ذكر سوي آيت څخه داثابته سوه چي ديو غير مسلم پر مسلمانيدو باندي اعتماد كول پر درو شيانو باندي موقوف دي چي په هغو كي يو شى توبه ده او بل شى دلمانځه قايمول دي ،دريم شى دزكوة ادا كول دي تر څو چي په دې عمل نه وي محض په كلمه ويلو سره ددوى سره جنګ نه سي بنديداى دنبي كريم ﷺ دوفات څخه كمو خلګو چي دزكوة دوركولو څخه انكار كړى وو دهغوى په مقابله كي صديق اكبر رضي الله عنه دجهاد كولو دپاره ددې آيت څخه دليل ونيوى او ټول يي مطمئن كړل: بله مسئله چي دسورت توبې داولني پنځو اياتونو سره تعلق لري هغه داده چي د (يوم الحج الاكبر) څخه څه شى مراد دى ؟ په دې كي مختلف اقوال دي ځيني مفسرين صحابه رضي الله عنهم فرمايي چي ددې څخه مراد دعرفات ورځ ده او ځيني مفسرين بيافرمايي چي ددې څخه مراد يوم النحر يعني دلوى اختر ورځ مراد ده الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۸۳)

١ ع٢ ٧

قَوۡمٌ لَّا يَعۡلَمُوۡنَ ۞ ٦ كَيۡفَ يَكُوۡنُ لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ عَهۡدٌ عِنۡدَ اللّٰهِ

قَوۡمٌ	لَّا يَعۡلَمُوۡنَ	كَيۡفَ	يَكُوۡنُ	لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ	عَهۡدٌ	عِنۡدَ	اللّٰهِ
(داسی) قوم دی	چی نه پوهیږی	څرنګه	به وی	مشرکانو ته	عهد	په نزد	د الله

(داسی) قوم دی چی نه پوهیږی. څرنګه به وی مشرکانو ته عهد په نزد د الله

وَعِنۡدَ رَسُوۡلِهٖۤ اِلَّا الَّذِيۡنَ عٰهَدۡتُّمۡ عِنۡدَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ ۚ

وَعِنۡدَ	رَسُوۡلِهٖ	اِلَّا	الَّذِيۡنَ	عٰهَدۡتُّمۡ	عِنۡدَ	الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ
او په نزد	درسول د دغه (الله)	مګر	هغه کسان چی	عهد کړی دی تاسی	په نزد	د مسجد الحرام

او په نزد د رسول د دغه (الله) (یعنی نه به وی) مګر هغه کسان چی عهد کړی دی تاسی په نزد د مسجد الحرام

فَمَا اسۡتَقَامُوۡا لَكُمۡ فَاسۡتَقِيۡمُوۡا لَهُمۡ ؕ

فَمَا اسۡتَقَامُوۡا	لَكُمۡ	فَاسۡتَقِيۡمُوۡا	لَهُمۡ
نو څو چی برابر ولاړ اوسی دوی	تاسی ته	نو برابر ولاړ اوسیږ تاسی	له هغو سره

نو څو چی برابر ولاړ اوسی دوی تاسی ته (په عهد خپل) نو برابر ولاړ اوسیږ تاسی (هم په عهد خپل) له هغو سره

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُتَّقِيۡنَ ۞ ٧ كَيۡفَ وَاِنۡ يَّظۡهَرُوۡا

اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الۡمُتَّقِيۡنَ	كَيۡفَ	وَاِنۡ يَّظۡهَرُوۡا
بیشکه! چی	الله	خوښوی	ځان ساتونکی	څرنګه به وی	حال دا که لاس برسی د دوی

بیشکه! چی الله خوښوی ځان ساتونکی. څرنګه (به وی دوی ته عهد) حال دا که لاس بر سی د دوی

عَلَيۡكُمۡ لَا يَرۡقُبُوۡا فِيۡكُمۡ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ يُرۡضُوۡنَكُمۡ

عَلَيۡكُمۡ	لَا يَرۡقُبُوۡا	فِيۡكُمۡ	اِلًّا	وَّلَا ذِمَّةً	يُرۡضُوۡنَكُمۡ
پر تاسی	نه ګوری دوی	په باب ستاسی کښی	(نه) قرابت (یا قسم) ته	او نه عهد ته	راضی کوی دوی تاسی

پر تاسی نه ګوری دوی په باب ستاسی کښی (نه) قرابت (یا قسم) ته او نه عهد ته راضی کوی دوی تاسی

بِاَفۡوَاهِهِمۡ وَتَاۡبٰى قُلُوۡبُهُمۡ ۚ وَاَكۡثَرُهُمۡ فٰسِقُوۡنَ ۞ ٨

بِاَفۡوَاهِهِمۡ	وَتَاۡبٰى	قُلُوۡبُهُمۡ	وَاَكۡثَرُهُمۡ	فٰسِقُوۡنَ
په خولو خپلو سره	او منع کوی	زړونه د دوی	او زیاتره د دوی	فاسقان دی

په (تشو خبرو د) خولو خپلو سره او منع کوی زړونه د دوی (دوعدی له وفاء) او زیاتره د دوی فاسقان دی.

اِلَّا الَّذِيۡنَ عٰهَدۡتُّمۡ عِنۡدَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ.. دکفارو په مقابله کي هم پر ربښتیا قایم پاته کیدل او ددوی متعلق دمبالغې څخه دځان ساتلو تعلیم:

دقرآن کریم دغه بیان مسلمانانو ته دا وښووله چي دخپل مخالف دښمن په معامله کي هم کله چي څه خبري راسي نو ربښتیا او انصاف دلاسه مه غورزوی ،دمبالغې څخه کار مه اخلی لکه چي په دې ایاتونو کي دمکې دمشرکینو په باره کي ددې پوره لحاظ ساتل سوی دی چي که څه هم دیوڅو خلګو څخه ماسواه ټولو غداري او وعده شکني کړې وه او په داسي حالاتو کي په عام طور سره ویونکي ټولو ته بدي ردي وایي مګر قرآن کریم (الا الذین عاهدتم عند المسجد الحرام) وفرمایل دهغو خلګو استثناء یي وکړه کمو چي وعده شکني نه وه کړې او دا حکم یي وکی چي تر څو پوري دوی برابر او پر وعده قایم وي تاسي هم پر وعده قایم اوسی دنورو خلګو دخیانت څخه مه متاثره کیږی او ددوی وعده مه ماتوی او هغو چي وعده ماته کړې وه دهغو په نیتو کي داوله څخه دوعدې پوره کول نه وه.

(معرف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۸۸)

اِشْتَرَوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِیْلًا فَصَدُّوْا عَنْ

اِشْتَرَوْا	بِاٰیٰتِ	اللّٰهِ	ثَمَنًا	قَلِیْلًا	فَصَدُّوْا	عَنْ
اخیستی دی دوی	په آیتونو	دالله	قیمت	لږ	نو منع کوی دوی	له

پیرودلی (او اخیستی) دی دوی په آیتونو (احکامو) د الله قیمت لږ نو منع کوی دوی (خلګ یا په خپله شنګ کوی) له

سَبِیْلِهٖ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ۹

سَبِیْلِهٖ	اِنَّهُمْ	سَآءَ	مَا	كَانُوْا	یَعْمَلُوْنَ
لاری د الله	بیشکه! دوی	بد کاردی	هغه شی چي	وو دوی چي	کاوه به ئی

لاری د الله، بیشکه! دوی بد کار دی هغه شي چي وو دوی چي کاوه به ئی (هغه دادي چي).

لَا یَرْقُبُوْنَ فِیْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

لَا یَرْقُبُوْنَ	فِیْ	مُؤْمِنٍ	اِلًّا	وَّلَا ذِمَّةً	وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ
نه ګوری دغه عهد ماتوونکی	په	(حق د)مؤمن کښی	د قرابت	او نه د عهد	او دغه کسان	هم دوی دی

نه ګوری دغه عهد ماتوونکی په (حق د هیڅ) مؤمن کښی د قرابت (یا د قسم) او نه د عهد، او دغه کسان هم دوی دی

الْمُعْتَدُوْنَ ۱۰ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

الْمُعْتَدُوْنَ	فَاِنْ	تَابُوْا	وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ
تیریدونکی	نو که	توبه ویستل دوی	او قائم کړ دوی	لمونځ

تیریدونکی (له حده په شرارت کښی). نو که توبه ویستل (دوی له کفره) او قائم کړ دوی (سم ئی اداء کړ) لمونځ

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِی الدِّیْنِ ؕ وَنُفَصِّلُ

وَاٰتَوُا	الزَّكٰوةَ	فَاِخْوَانُكُمْ	فِی	الدِّیْنِ	وَنُفَصِّلُ
او ورکړ دوی	زکات	نو وروڼه ستاسی دی	په	دین کښی	او په تفصیل بیانوو (موږ)

او ورکړ دوی زکات نو وروڼه ستاسی دی په دین (حکم د شریعت) کښی او په تفصیل بیانوو (موږ)

الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ ۱۱ وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَیْمَانَهُمْ

الْاٰیٰتِ	لِقَوْمٍ	یَّعْلَمُوْنَ	وَاِنْ	نَّكَثُوْٓا	اَیْمَانَهُمْ
آیتونه	دپاره د قوم	چي پوهیږی	او که	مات کړل دغو (مشرکانو)	قسمونه خپل

آیتونه (حکمونه د قرآن) دپاره د (هغه) قوم چي پوهیږی. او که مات کړل دغو (مشرکانو) قسمونه خپل

اِشْتَرَوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِیْلًا...د مشرکینو دغداری علت او ددوی دمرض سبب: په دغه آیت کي الله ﷻ دغه اړو مشرکینو دغداری علت او ددوی دمرض سبب بیان کړی دی او دوی ته یي یوه هدایت نامه داسي ورکړه چي که دوی فکر وکړي نو خپله اصلاح به وکړي او عام مسلمانان یي هم خبر کړل چي په کم سبب سره دا خلګ په غداری او خیانت کي اخته سول ددغه سبب څخه دي په پوره طور سره پرهیز کول خپل شعار جوړ کړي او دغه سبب دي ددنیا محبت چي ددنیا دمال او اسباب محبت دوی ړانده کړي دي دلږو پیسو په بدله کي دالله ﷻ ایاتونه او خپل ایمان خرڅوي او ددوی دا عمل ډیر ناکاره دی په وروسته آیت کي ددي خلګو دانتهايي کجروی بیان دی فرمايي چي (لایرقبون فی مؤمن الاّ ولاذمّة) یعني صرف دانه ده چي دي خلګو ده وعده کوونکو مسلمانانو سره غداري وکړه او ددوی خپلولي او وعده او پیمان یي شاته وغورځوي بلکي ددوی حال دادی چي دهیڅ یو مسلمان په باره کي نه دخپلولي او نه ده وعدي او پیمان خیال ساتي. (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۸۸)

مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُوۡا فِيۡ دِيۡنِكُمۡ فَقَاتِلُوۡٓا

مِّنۢ بَعۡدِ	عَهۡدِهِمۡ	وَطَعَنُوۡا	فِيۡ	دِيۡنِكُمۡ	فَقَاتِلُوۡٓا
وروسته	له عهد ترلو د دوی	او پیغور ونه درکړل	په	دین ستاسی کښی	نو وجنګیږئ تاسی

وروسته له عهد ترلو د دوی (له تاسی سره) او پیغورونه درکړل (عیبونه ئی ولګول) په دین ستاسی کښی نو وجنګیږئ تاسی

اَئِمَّةَ الۡكُفۡرِ ۙ اِنَّهُمۡ لَآ اَيۡمَانَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ

اَئِمَّةَ	الۡكُفۡرِ	اِنَّهُمۡ	لَآ اَيۡمَانَ	لَهُمۡ	لَعَلَّهُمۡ
له (دغو) مشرانو	دکفر سره	بیشکه! دوی	نشته قسمونه	دوی ته	له پاره د دی چی

له (دغو) مشرانو د کفر سره (او وئی وژنئ) بیشکه! دوی ته نشته قسمونه دوی ته له پاره د دی چی

يَنۡتَهُوۡنَ ﴿۱۲﴾ اَلَا تُقَاتِلُوۡنَ قَوۡمًا نَّكَثُوۡٓا اَيۡمَانَهُمۡ

يَنۡتَهُوۡنَ	اَلَا تُقَاتِلُوۡنَ	قَوۡمًا	نَّكَثُوۡٓا	اَيۡمَانَهُمۡ
دوی واوړی	آیا نه جنګیږئ تاسی	له داسی قوم سره	چی مات کړی دی دوی	قسمونه خپل

دوی واوړی. آیا نه جنګیږئ تاسی (ای مؤمنانو) له داسی قوم سره چی مات کړی دی دوی قسمونه خپل

وَهَمُّوۡا بِاِخۡرَاجِ الرَّسُوۡلِ وَهُمۡ بَدَءُوۡكُمۡ

وَهَمُّوۡا	بِاِخۡرَاجِ	الرَّسُوۡلِ	وَهُمۡ	بَدَءُوۡكُمۡ
او قصد کړی دی دوی	په ایستلو	د رسول	حال داچی هم دوی	شروع کړی دی له تاسی سره

او قصد کړی دی دوی په ایستلو د رسول (زما له مکی څخه) حال داچی هم دوی شروع کړی دی له تاسی سره جنګ

اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ اَتَخۡشَوۡنَهُمۡ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنۡ تَخۡشَوۡهُ اِنۡ كُنۡتُمۡ

اَوَّلَ مَرَّةٍ	اَتَخۡشَوۡنَهُمۡ	فَاللّٰهُ	اَحَقُّ	اَنۡ	تَخۡشَوۡهُ	اِنۡ كُنۡتُمۡ
اول واری	آیا بیریږئ تاسی له دوی څخه	نو الله	ښه لایق دی	په دی سره چی	وبیریږئ تاسی دهغه څخه	که یئ تاسی

اول کرت آیا بیریږئ تاسی له دوی څخه، نو الله ښه لایق دی په دی سره چی وبیریږئ تاسی ترې که یئ تاسی

مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۳﴾ قَاتِلُوۡهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ اللّٰهُ بِاَيۡدِيۡكُمۡ

مُّؤۡمِنِيۡنَ	قَاتِلُوۡهُمۡ	يُعَذِّبۡهُمُ	اللّٰهُ	بِاَيۡدِيۡكُمۡ
مؤمنان	وجنګیږئ تاسی له دغو (کفارو) سره	چی په عذاب کړی دوی	الله	په لاسونو ستاسی

مؤمنان. وجنګیږئ تاسی له دغو (کفارو) سره (ای مؤمنانو) چی په عذاب کړی دوی الله په لاسونو ستاسی (په قتل سره)

وَطَعَنُوۡا فِيۡ دِيۡنِكُمۡ فَقَاتِلُوۡٓا اَئِمَّةَ الۡكُفۡرِ .. په دارالاسلام کي غیر مسلم ذمیانوته پر اسلام دعلمي تنقید اجازه خو سته مګر دبدو ردو ویلو اجازه ورته نسته: د (طعنوا في دينكم) دلفظ څخه ځیني حضراتو پر دې دلیل نیولی دی چي دمسلمانانو دین ته بدرد ویل په وعده ماتولو کي داخل دي کم سړی چي اسلام او شریعت داسلام ته رد بد وایي دی دمسلمانانو معاهد نه سي پاته کیدای مګر په اتفاق دفقهاوو ددې څخه هغه رد اوبد مراد دي کم چي دمسلمانانو او داسلام دسپکوالي په باره کي وي او په ډاګه داسلام سپکوالی په کښي وي داحکامو او مسئلو په تحقیق کي څه علمي تنقید کول ددې څخه مستثنی دي او په لغت کي دې ته رد او بد هم نه ویل کیږي په دې آیت کي الله ﷻ فرمایي (انّهم لاايمان لهم) یعني دا خلګ داسي دي چي ددوی قسم څه د اعتبار لائق نه دی ځکه چي دا خلګ دقسم او وعدوماتولو سره عادت سوي دي: او ددې جملې معنی داهم کیدای سي چي کله دوی خپل قسمونه مات کړل نو اوس پر موږ ددوی دقسم او وعدې څه ذمه داري نسته.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص ۹۲)

وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنۡصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُوۡرَ

وَيُخۡزِهِمۡ	وَيَنۡصُرۡكُمۡ	عَلَيۡهِمۡ	وَيَشۡفِ	صُدُوۡرَ
او رسوا کړی دوی	او مرسته درکړی تاسی ته	پر دغو (کفارو) باندی	او شفاء ورکړی	(زخمی) سینو

او رسوا کړی دوی او مرسته درکړی تاسی ته پر دغو (کفارو) باندی او شفاء ورکړی (زخمی) سینو

قَوۡمٍ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٤﴾ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوۡبِهِمۡ

قَوۡمٍ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَيُذۡهِبۡ	غَيۡظَ	قُلُوۡبِهِمۡ
دقوم	مؤمنانو ته	او لری کړی	قهر	دزړونو دغو

د قوم مؤمنانو ته. او لری کړی (بوځی) قهر (او خفګان) د زړونو د دغو (مؤمنانو چی دکفارو له ایذاء څخه پیدا ؤ)

وَيَتُوۡبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿١٥﴾

وَيَتُوۡبُ	اللّٰهُ	عَلٰى	مَنۡ	يَّشَآءُ	وَ	اللّٰهُ	عَلِيۡمٌ	حَكِيۡمٌ
او رجوع کوی	الله	په رحمت سره	پر هغه	چی اراده وفرمائی	او	الله	ښه عالم دی	ښه حکمت والا دی

او رجوع کوی الله په رحمت سره پر هغه چی اراده وفرمائی (دهدایت ئی) او الله ښه عالم دی ښه حکمت والا دی.

اَمۡ حَسِبۡتُمۡ اَنۡ تُتۡرَكُوۡا وَلَمَّا يَعۡلَمِ اللّٰهُ

اَمۡ	حَسِبۡتُمۡ	اَنۡ	تُتۡرَكُوۡا	وَلَمَّا يَعۡلَمِ	اللّٰهُ
آیا	ګمان کوئ تاسی داسی	چی (هم داسی)	به پریښنود سئ؟	حال دا چی له سره نه وی معلوم کړی	الله

آیا ګمان کوئ تاسی (ای مؤمنانو) داسی چی (هم داسی) به پریښنود سئ؟ حال دا چی له سره نه دی معلوم کړی الله

الَّذِيۡنَ جٰهَدُوۡا مِنۡكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

الَّذِيۡنَ	جٰهَدُوۡا	مِنۡكُمۡ	وَلَمۡ يَتَّخِذُوۡا	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ
هغه کسان	چی جهاد ئی کړی وی	له تاسی څخه	او چی نه دی نیولی دوی	پرته (علاوه) له	الله

هغه کسان چی جهاد ئی کړی وی له تاسی څخه او چی نه دی نیولی دوی پرته (علاوه) له الله

وَلَا رَسُوۡلِهٖ وَلَا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَلِيۡجَةً ؕ وَاللّٰهُ خَبِيۡرٌۢ

وَلَا رَسُوۡلِهٖ	وَلَا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَلِيۡجَةً	وَ	اللّٰهُ	خَبِيۡرٌۢ
او پرته له رسول د دغه (الله)	او پرته له مؤمنانو	دپټو خبرو دوست	او	الله	ښه خبردار دی

او پرته (علاوه) له رسول دد غه (الله) او پرته له مؤمنانو دپټو خبرو دوست، او الله ښه خبردار دی

وَيَنۡصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُوۡرَ.. مسلمانانو ته دجنګ او جهاد ترغیب: په ذکر سوو دوو ایاتونو کي الله ﷻ مسلمانانو ته دجنګ او جهاد ترغیب په یو بل عنوان سره ورکوي چي په دې کي یي څو شیان ښوولي دي: اول دا چي که تاسي ددې جنګ دپاره تیار سی نو دالله ﷻ مدد به ستاسي سره وي او دغه قوم دکافرانو دخپلو بدو عملونو په سبب دالله ﷻ دعذاب مستحق سوی دی مګر پر دوی دالله ﷻ عذاب دتیرو قومونو په شان دآسمان یا مځکي څخه نه راځي بلکي (يعذبهم الله بايديكم) يعني دوی ته الله ﷻ ستاسي په لاس عذاب ورکوي: دوهم دا چي ددې جنګ په نتیجه کي به الله ﷻ دمسلمانانو زړونو ته دهغه رنځ او غم څخه شفا ورکړي کم چي دکفارو دطرف څخه دوی ته رسیدلي دي: دریم دا چي ددوی دغداری او وعدې ماتولو په سبب چي کمه غصه او غضب د مسلمانانو په زړونو کي پیدا سوی وو ددوی په لاس به دوی ته عذاب ورکړي ددوی غصه به لیری کړي اوداتولو د جهاد ثمره او میوه ده. (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۹۴)

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۶﴾ مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ اَنۡ يَّعۡمُرُوۡا

بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	مَا كَانَ	لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ	اَنۡ	يَّعۡمُرُوۡا
په هغو (کارونو)	چې کوئ (ئی) تاسی	نسته	مشرکانو ته	داچې	ودان کړی

په هغو (کارونو) چې کوئ (ئی) تاسی (دنیکی اوبدی). نسته مشرکانو ته (یعنی ناروا دی) داچې ودان کړی

مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيۡنَ عَلٰۤى اَنۡفُسِهِمۡ بِالۡكُفۡرِ ؕ

مَسٰجِدَ	اللّٰهِ	شٰهِدِيۡنَ	عَلٰٓى	اَنۡفُسِهِمۡ	بِالۡكُفۡرِ
مسجدونه	دالله	حال داچې شاهدان وی دوی	پر	نفسونو خپلو	په کفر سره

مسجدونه د الله (په عبادت په ناسته ولاړه او ورتلو سره) ، حال داچې شاهدان وی دوی پر نفسونو خپلو په کفر سره،

اُولٰٓئِكَ حَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ ۖۚ وَفِى النَّارِ هُمۡ خٰلِدُوۡنَ ﴿۱۷﴾

اُولٰٓئِكَ	حَبِطَتۡ	اَعۡمَالُهُمۡ	وَفِي	النَّارِ هُمۡ	خٰلِدُوۡنَ
دغه (مشرکان)	خراب دی	عملونه ددوی	او په	اورکښی به دوی	همیشه وی

دغه (مشرکان ابتداٗ او) خراب دی عملونه د دوی (چې ایمان نه لری) او په اورکښی به دوی همیشه وی.

اِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنۡ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ

اِنَّمَا	يَعۡمُرُ	مَسٰجِدَ	اللّٰهِ	مَنۡ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ	وَالۡيَوۡمِ
بیشکه هم داخبره ده چې	ودانوی	مسجدونه	دالله	هغه څوک چې	ایمان ئی راوړی وی	په الله	او په ورځې

بیشکه! هم داخبره ده چې ودانوی مسجدونه دالله هغه څوک چې ایمان ئی راوړی وی په الله او په ورځې

الۡاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمۡ يَخۡشَ

الۡاٰخِرِ	وَاَقَامَ	الصَّلٰوةَ	وَاٰتَى	الزَّكٰوةَ	وَلَمۡ يَخۡشَ
آخری (قیامت)	او قائموی	لمونځ	او ورکوی	زکات	او نه بیریږی

آخری (قیامت) او قائموی (سم اداء کوی) لمونځ او ورکوی زکات او نه بیریږی (په دینی امورو کښی له هیچا)

اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰۤى اُولٰٓئِكَ اَنۡ يَّكُوۡنُوۡا مِنَ الۡمُهۡتَدِيۡنَ ﴿۱۸﴾

اِلَّا	اللّٰهَ	فَعَسٰٓى	اُولٰٓئِكَ	اَنۡ يَّكُوۡنُوۡا	مِنَ الۡمُهۡتَدِيۡنَ
مگر	له الله څخه	نو امید دی	چې دغه کسان	به وی	له سمی لاری پیداکوونکو څنی

مگر له الله څخه، نو امید دی چې دغه کسان به وی له سمی لاری موندونکو څنی.

تفسیر: په دغه ایت کي الله ﷻ فرمایلي دي مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ اَنۡ يَّعۡمُرُوۡا مَسٰجِدَ اللّٰهِ یعني مشرکینو ته دا حق نسته چي دوی دالله ﷻ جماتونه اباد کړي ځکه چي مسجدهغه ځای دی کم چي دیوه الله ﷻ وحده لا شریک له دعبادت دپاره جوړ سوی دی شرک او کفر ددې خلاف دی داد مسجد دآبادوولو سره نه جمع کیږي: په دغه آیت کي چي دا راغلي دي چي مشرک او کافر دمسجدعمارت نه سي کولای بلکي دغه صرف دنیک صالح مسلمان کار دی ددې څخه مراد دمسجدونو تولیت او انتظامي ذمه واري ده :حاصل یي دادی چي یوکافر دیو اسلامي وقف متولي او منتظم جوړول جایز نه دي باقي پاته سو دښکاره در او دیوار وغیره تعمیر پس په دي کي که دیوغیر مسلم څخه هم کار واخیستل سي نو باک نسته:(تفسیر مراغي) دغه رکم که یو غیر مسلم ثواب وګڼي او جمات جوړ کړي یا دجماعت دجوړولو دپاره مسلمانانو ته چنده ورکړي نو قبلول یي په دې شرط جائز دي چي دده څخه دخه دیني یا دنیوي نقصان یاالزام یا دقبضې کولو احسان اچولو خه بیره نه وي. ردالمحتار شامي تفسیر مراغي. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص ۹۴) مکتبه حبیبیه

اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

اَجَعَلْتُمْ	سِقَايَةَ	الْحَآجِّ	وَعِمَارَةَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ
آيا ګڼلی دی تاسی	او به ورکول	حاجيانو ته	او ودانول	د مسجدالحرام

آيا ګڼلی (ګرځولی) دی تاسی اوبه ورکول حاجيانو ته او ودانول د مسجدالحرام

كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ

كَمَنْ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	وَجٰهَدَ	فِيْ	سَبِيْلِ
په مثل د هغه چاچي	ايمان لری	په الله	او (په) ورځی	آخری	او جهاد ئی کړی وی	په	لاره

په مثل (د ايمان) د هغه چا چي ايمان (او يقين) لری په الله او (په) ورځی آخری (د قيامت) او جهاد ئی کړی وی په لاره

اللّٰهِ ۭ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

اللّٰهِ	لَا يَسْتَوٗنَ	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَ	اللّٰهُ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ
د الله کښي	نه دی برابر دوی	په نزد	د الله	او	الله	نه ښيي سمه صافه لاره	قوم

د الله کښي نه دی برابر دوی په نزد د الله او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

الظّٰلِمِيْنَ	اَلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَهَاجَرُوْا	وَجٰهَدُوْا
ظالمانو ته	هغه کسان چي	ايمان ئی راوړی دی	او هجرت ئی کړی دی	او جهاد ئی کړی دی

ظالمانو ته. هغه کسان چي ايمان ئی راوړی دی (په ټولو مؤمن به شيانو) او هجرت ئی کړی دی او جهاد ئی کړی دی

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ

فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	بِاَمْوَالِهِمْ	وَاَنْفُسِهِمْ	اَعْظَمُ
په	لاره	د الله	په مالونو خپلو	او په ځانونو خپلو	ډير لوی دی

په لاره د الله کښي (د دين د ترقی له پاره) په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو ډير لوی دی (له نورو نه)

دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ ﴿۲۰﴾

دَرَجَةً	عِنْدَ	اللّٰهِ	وَاُولٰۗىِٕكَ	هُمُ	الْفَاۗىِٕزُوْنَ
له جهته د درجي	په نزد	د الله	او هم دغه کسان	هم دوی دی	په مراد رسيدونکی

له جهته د درجي په نزد د الله او هم دغه (ستايل سوی) کسان هم دوی دی په مراد رسيدونکی.

اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ. جهاد د مسجد تر جوړولو او ابادولو هم ښه عمل دی: په صحيح مسلم شريف کي د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه په روايت سره دا واقعه نقل ده چي دی يوه ورځ د جمعي په ورځ په مسجد نبوي کي د يو څو صحابه وو سره د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د منبر په خوا کي ناست وو په حاضرينو کي يو سړي وويل چي د اسلام او ايمان څخه وروسته زما په نزد حاجيانو ته د اوبو تر ورکولو بل لوی عمل نسته او ماته د دې په مقابله کي د بل هيڅ عمل پرواه نسته يو بل صاحب بيا دده په جواب کي وويل چي نه د الله جل جلاله په لاره کي جهاد تر ټولو لوی عمل دی د دې دواړو بحث وو چي حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه دواړه وترټل چي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د منبر په خوا کي شور او زوږ مه کوی مناسبه خبره داده چي د جمعي د لمانځه کولو څخه وروسته دا خبره په خپله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه معلومه کړی د دغه تجويز مطابق د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وسوه نو پر دغه باندي دغه اياتونه رانازل سول چي جهاد يي د مسجد تر ابادولو او د اوبو تر ورکولو ښه عمل وښوده.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۰۳)

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ

يُبَشِّرُهُمْ	رَبُّهُمْ	بِرَحْمَةٍ	مِّنْهُ	وَرِضْوَانٍ	وَّجَنّٰتٍ
زیری کوی پر دوی	رب د دوی	په رحمت سره	له جانبه خپله	او رضامندی سره	او په جنتونو سره

زیری کوی پر دوی رب د دوی په رحمت سره له جانبه خپله او رضامندی سره او په جنتونو سره

لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ ﴿٢١﴾ خٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ إِنَّ

لَّهُمْ	فِيهَا	نَعِيمٌ	مُّقِيمٌ	خٰلِدِينَ	فِيهَآ	أَبَدًا	إِنَّ
چې وی به دوی ته	په دغو کښې	نعمتونه	همیشه دایم	حال دا چې همیشه به وی دوی	په دغو کښې	تل تر تله	بیشکه!

چې وی به دوی ته په دغو (جنتونو) کښې نعمتونه همیشه . حال دا چې همیشه به وی دوی په دغو کښې تل تر تله بیشکه!

اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٢﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا

اللّٰهَ	عِنْدَهٗٓ	أَجْرٌ	عَظِيمٌ	يٰٓأَيُّهَا	الَّذِينَ	اٰمَنُوا
الله	هم د ده سره دی	اجر	ډیر لوی	ای	هغو کسانو چې	ایمان ئې راوړی دی

الله هم د ده سره دی اجر (ثواب) ډیر لوی. ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی یعنی (مؤمنانو!)

لَا تَتَّخِذُوٓا اٰبَآءَكُمْ وَإِخْوٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ

لَا تَتَّخِذُوٓا	اٰبَآءَكُمْ	وَإِخْوٰنَكُمْ	أَوْلِيَآءَ	إِنِ
مه نیسئ تاسی	پلرونه خپل	او ورونه خپل	دوستان	که

مه نیسئ تاسی پلرونه خپل او ورونه خپل دوستان که

اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمٰنِ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ

اسْتَحَبُّوا	الْكُفْرَ	عَلَى	الْإِيمٰنِ	وَمَنْ	يَّتَوَلَّهُمْ
محبوب گاڼه دوی	کفر	پر	ایمان	او هر چا چې	دوستی وکړه له دغو (کفارو) سره

محبوب گاڼه دوی کفر پر ایمان او هر چا چې دوستی وکړه له دغو (کفارو) سره

مِّنْكُمْ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ إِنْ كَانَ

مِّنْكُمْ	فَأُولٰٓئِكَ	هُمُ	الظّٰلِمُونَ	قُلْ	إِنْ	كَانَ
له تاسی	نو دغه کسان	هم دوی دی	ظالمان	ووایه (ای محمده!)	که	وی

له تاسی نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان. ووایه (ای محمده!) عذر ویونکو ته د هجرت له ترکه که وی

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ. دکامیابو خلکو دلوی اجر او درجوییان: یعني دغه خلګو ته پر دغه نیکو عملونو باندي چې هغه جهاد او هجرت او هغو ته ورته نیک عملونه دي ددوی دپروردګار دطرفه څخه خوشخبري اورول کیږي دهغه ذات درحمت او درضا او دداسي جنتونو کم چې دهمیشه دپاره قایم پاته کیدونکي وي او هغه نعمتونه به هم دایمي وي او دوی به هم په دي نعمتونو کي دایمي او همیشه اوسي دوی به ددي ځایه څخه هیڅ چیري ونه ایستل سي بیشکه د الله ﷻ سره ډیر لوی اجر دی په ذکر سوو ایاتونو کي دجهاد او او هجرت دفضیلوتونو بیان راغلی دی په کم کي چې وطن او خپل ،خپلوان ، او یاران ، او دوستان ، او مالونه ، او جایدادونه ، تول پریښوول کیږي او ښکاره ده چې دا دانسان پر طبیعت باندي ډیر ګران وي په دي وجه په راتلونکي آیت کي ددي شیانو سره دحد څخه زیات تعلق او محبت بدوالی فرمایي او دمسلمانانو ذهنونه یي دهجرت او جهاد دپاره تیار کړي دي الخ. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص۱۰۵) مکتبه حبیبیه

قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ شان نزول:
دهجرت پر نه کولو باندي عتاب او ملامتي: دسورت توبې دغه آیت په اصل کي دهغه خلګو په باره کي نازل سوی دی کمو چي دمکې څخه دهجرت دفرض کیدو په وخت کي هجرت ونه کی مور ، او پلار ،خوندي ، او وروڼه ، اولاد ، ښځي ،او دمالونو ، جایدادونو ، محبت دوی دفرض هجرت داده کولو څخه منع کړل ددوي په باره کي الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته دا حکم ورکی چي ته دې خلګوته ووايه که ستاسي پلرونه ، ستاسي زامن ،ستاسي وروڼه ،ستاسي بيبياني،او ستاسي خاندان ، او هغه مال چي تاسي ګټلی دی او هغه تجارت دکم دکوټ کیدو چي ستاسي سره بیره ده او هغه کورونه کم چي تاسي يې خوښوی تاسي ته دالله ﷻ څخه او دهغه درسول څخه او دهغه په لاره کي دجهاد کولو څخه زيات خواږه وي نوتاسي انتظار کوی تر دې پوري چي الله ﷻ خپل حکم راولیږي او دالله ﷻ نافرماني کوونکي خلګ خپل مقصود ته نه رسیږي دالله ﷻ دحکم څخه مراددجهاد حکم دی چي دغه وخت به دوی خوار او ذلیله سي:
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۰۸)

اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ

اٰبَآؤُكُمْ	وَاَبْنَآؤُكُمْ	وَاِخْوَانُكُمْ	وَاَزْوَاجُكُمْ
پلرونه ستاسی	او ځامن ستاسی	او وروڼه ستاسی	او ښځی ستاسی

پلرونه ستاسی او ځامن ستاسی او وروڼه ستاسی او ښځی ستاسی

وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ

وَعَشِيْرَتُكُمْ	وَاَمْوَالُ ۨ	اقْتَرَفْتُمُوْهَا	وَتِجَارَةٌ
او خپلوان ستاسی	او هغه مالونه چي	ګټلي دي تاسی هغه	او (هغه) تجارت

او خپلوان ستاسی او هغه مالونه چي ګټلي دي تاسی هغه او (هغه) تجارت (سوداګری)

تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ

تَخْشَوْنَ	كَسَادَهَا	وَمَسٰكِنُ	تَرْضَوْنَهَآ	اَحَبَّ
چی بیریږئ تاسی	دناچلیدلو د هغی	او هغه ځایونه دهستوګنی	چي خوښوئ تاسی هغه	ډیر محبوب

چی بیریږئ تاسی د ناچلیدلو دهغی او هغه ځایونه د هستوګنی چي خوښوئ تاسی هغه ډیر محبوب

اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ

اِلَيْكُمْ	مِّنَ	اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	وَجِهَادٍ	فِيْ	سَبِيْلِهٖ
تاسی ته	له	الله څخه	او له رسول د الله څخه	او له جهاده	په	لاره د الله کښی

تاسی ته له الله څخه او له رسول د الله څخه او له جهاده په لاره د الله کښی (له پاره د ترقی د دین)

فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى

فَتَرَبَّصُوْا	حَتّٰى	يَاْتِيَ	اللّٰهُ	بِاَمْرِهٖ	وَ	اللّٰهُ	لَا يَهْدِى
نو انتظار کوئ تاسی	تر هغه پوری	چي راولی	الله	امر خپل	او	الله	نه ښیی سمه صافه لاره

نو انتظار کوئ تاسی تر هغه پوری چي راولی (راولیږی) الله امر (حکم د عذاب) خپل او الله نه ښیی سمه صافه لاره

الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۴﴾ لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ ع

الْقَوْمَ	الْفٰسِقِيْنَ	لَقَدْ	نَصَرَكُمُ	اللّٰهُ	فِيْ	مَوَاطِنَ
قوم	فاسقانو ته	خامخا په تحقیق	مدد کړی دی له تاسی سره	الله	په	ځایونو

قوم فاسقانو ته. خامخا په تحقیق مدد کړی دی له تاسی سره الله په ځایونو

٣ ع ٩

كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ

كَثِيْرَةٍ	وَّيَوْمَ	حُنَيْنٍ	اِذْ	اَعْجَبَتْكُمْ	كَثْرَتُكُمْ	فَلَمْ تُغْنِ
ډيرو كښې	او په ورځ	دحنين كښې	كله چې	تعجب كښې واچولئ تاسې	ډيرو الى ستاسې	نو دفع نه كړ

ډيرو كښې او (خصوصاً) په ورځ د حنين كښې كله چې تعجب كښې واچولئ ډيروالى ستاسې نو دفع نه كړ (ډيروالى)

عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ

عَنْكُمْ	شَيْـًٔا	وَّضَاقَتْ	عَلَيْكُمُ	الْاَرْضُ	بِمَا رَحُبَتْ
له تاسې ځنې	هيڅ شي	او تنګه سوه	پر تاسې باندې	مځکه	سره د پراخوالى د دې

له تاسې ځنې هيڅ شي (له حملې د دښمن څخه) او تنګه سوه (له ډيرې) پر تاسې باندې مځکه سره د ارتوالى د دې

ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ۚ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ

ثُمَّ	وَلَّيْتُمْ	مُّدْبِرِيْنَ	ثُمَّ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ
بيا	شا كړه تاسې	حال دا چې شا ګرځوونكى وئ	بيا	راوليږه	الله

بيا شا كړه تاسې (دښمن ته) حال دا چې شا ګرځوونكى وئ. بيا راوليږه الله

سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ

سَكِيْنَتَهٗ	عَلٰى	رَسُوْلِهٖ	وَعَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَاَنْزَلَ
ارام خپل	پر	رسول خپل	او پر	مؤمنانو	او راوليږلى (الله)

تسكين خپل (چې د مؤمنانو د زړونو د آرامى سبب سى) پر رسول خپل او پر مؤمنانو او راوليږلى (الله)

جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

جُنُوْدًا	لَّمْ تَرَوْهَا	وَعَذَّبَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
لښكرى	چې نه وى ليدلى تاسې دا لښكرى	او په عذاب ئې كړل	هغه كسان	چې كافران سوى ؤ

لښكرى (د ملائيكو) چې نه وى ليدلى تاسې دا لښكرى او په عذاب ئې كړل هغه كسان چې كافران سوى ؤ

وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

وَذٰلِكَ	جَزَآءُ	الْكٰفِرِيْنَ	ثُمَّ	يَتُوْبُ	اللّٰهُ	مِنْۢ بَعْدِ	ذٰلِكَ
او هم دا (تعذيب)	سزا ده	د كافرانو	او بيا	به رجوع وكړى	الله	پس له	دى

او هم دا (تعذيب) سزا ده د كافرانو. او بيا به رجوع وكړى الله (د توبې په قبول) پس له دى (د حنين له جنګه)

وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ.. دحنين دغزا واقعات ،شكست ،اوفتح

حنين دمكې مكرمې او طائف په مينځ كې ديو مقام نوم دى چې دمكې مكرمې څخه دلسو ميلو څخه په لږه فاصله كې پروت دى دهجرت په آتم كال دروژې په مياشت كې چې كله مكه مكرمه فتح سول او دمكې مكرمې قريشو دنبي كريم ﷺ په مخكې وسله وغورزوله نو دعربو يوه ډيره لويه او مشهوره بهادره جنګ كوونكې او مالداره قبيله، هوازن دكمې چې يو ښاخ دطائف اوسيدونكي بنو ثقيف هم وه په دوى كې يو شور خپور سو دوى جمع سول او دا يې وويل چې دمكې دفتح كيدو څخه وروسته اوس مسلمانانو ته كافي قوت حاصل سو ده هوښيارتيا خبره داده چې ددوى دحملې كولو څخه مخكې موږ خپله پر دوى باندې حمله وكو ددې كار دپاره هوازن خپل ټول ښاخونه كم چې دمكې څخه تر طائف پورې خپاره وه جمع كړل ددې قبيلې ټول لوى واړه بغير ديو څو كسانو سره را جمع سول او پرمسلمانانو باندې يې دحملې تيارى وكړى.

(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص۱۱۴ مكتبه حبيبيه

عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	يٰۤاَيُّهَا	رَّحِيْمٌ	غَفُوْرٌ	اللّٰهُ	وَ	يَّشَآءُ	مَنْ	عَلٰى
هغو کسانو چي	ای	ښه رحم والا دی	ډیر بخښونکی	الله	او	اراده وفرمائی	هغه چا چي	پر

پر هغه چا چي اراده وفرمائی (درجوع) او الله ډیر بخښونکی ښه رحم والا دی. ای هغو کسانو چي

اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ	فَلَا يَقْرَبُوا	نَجَسٌ	الْمُشْرِكُوْنَ	اِنَّمَا	اٰمَنُوْۤا
مسجد الحرام ته	نو نه دی نژدی کیږی دوی	نجس دی	چي مشرکان	بیشکه! هم دا خبره ده	ایمان ئی راوړی دی

ایمان ئی راوړی دی بیشکه! هم دا خبره ده چي مشرکان نجس (پلیت) دی نو نه دی نژدی کیږی دوی مسجد الحرام ته

بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً

عَيْلَةً	خِفْتُمْ	وَاِنْ	هٰذَا	عَامِهِمْ	بَعْدَ
له فقره	ییریږئ تاسی	او که	چي دغه (۹کال دهجرت دی)	کاله د دوی	وروسته له

وروسته له کاله د دوی چي دغه (۹کال دهجرت دی) او که ییریږئ تاسی له فقره په (سبب دمنع د دوی)

فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖۤ اِنْ شَآءَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اللّٰهَ	اِنَّ	شَآءَ	اِنْ	فَضْلِهٖ	مِنْ	اللّٰهُ	يُغْنِيْكُمُ	فَسَوْفَ
الله	بیشکه! چي	اراده وفرمائی	که	فضله خپله	له	الله	غنیان کړی تاسی	نو ژر به

نو ژر به غنیان کړی تاسی الله له فضله خپله که اراده وفرمائی (دغنا ستاسی) بیشکه! چي الله

عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۸﴾ قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ

وَلَا بِالْيَوْمِ	بِاللّٰهِ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	الَّذِيْنَ	قَاتِلُوا	حَكِيْمٌ	عَلِيْمٌ
او نه په ورځی	پر الله	نه راوړی ایمان	له هغو کسانو سره چي	وجنګیږئ تاسی	ښه حکمت والا	ښه عالم دی

ښه عالم دی ښه حکمت والا. وجنګیږئ تاسی له هغو کسانو سره چي نه راوړی ایمان پر الله او نه په ورځی

الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

وَرَسُوْلُهٗ	اللّٰهُ	حَرَّمَ	مَا	وَلَا يُحَرِّمُوْنَ	الْاٰخِرِ
او رسول د دغه (الله)	الله	چي حرام کړی دی	هغه	او نه حرام ګڼی دوی	آخری باندی

آخری باندی او حرام نه ګڼی دوی هغه چي حرام کړی دی الله (په قرآن کښی) او رسول د دغه (الله په حدیثو کښی)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ.

مشرکین د مسجد حرام دداخلیدو څخه منع دي: لفظ د (نجس) په زبر دجیم سره استعمال سوی دی کم چي دنجاست (پلیتي) په معنی سره راځي او نجاست ویل کیږي هر هغه ګندګی ته دکمي څخه چي دانسان طبیعت نفرت کوي. امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمايي چي په دې کي هغه نجاست هم دا خل دی کم چي په سترګو پېژه اولاسو باندي محسوس کیږي او هغه هم داخل دی کم چي په علم او عقل سره معلومیږي په دې وجه په لفظ دنجس کي هغه ظاهري نجاست غلاظت او ګندګیاني هم شاملي دي کمي چي په ښکاره طو يي هر څوک محسوسوي او هغه معنوي نجاست هم دکم پر بنا چي شرعا اودس یا غسل واجبیږي لکه جنابت یا دحیض او نفاس د ختمید و څخه وروسته حالت او هغه باطني نجاست هم کم چي دانسان دزړه سره دی لکه فاسدي عقیدي او رزیل اخلاق نو معنی دا سوه چي مشرکین خالص نجاست دی او صحیح خبره داده چي مشرکین دادرې واړه قسمه نجاستونه دي او په کښي دي الخ.
(معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۲۳)

وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

وَلَا يَدِيْنُوْنَ	دِيْنَ	الْحَقِّ	مِنَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ
او نه قبلوی دوی	دین	حق	له	هغو کسانو څخه	چی ورکړی سوی دی دوی ته	کتاب

او نه قبلوی دوی دین حق (داسلام دغه مذکورین) له هغو کسانو څخه (دی) چی ورکړی سوی دی دوی ته کتاب

حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۲۹﴾

حَتّٰى	يُعْطُوا	الْجِزْيَةَ	عَنْ	يَّدٍ	وَّهُمْ	صٰغِرُوْنَ
ترهغه پوری	چی ورکړی دوی	جزیه	له (خپله)	لاسه	حال داچی دوی	ذلیل وی

ترهغه پوری چی ورکړی دوی جزیه له (خپله) لاسه حال داچی دوی ذلیل وی.

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى

وَقَالَتِ	الْيَهُوْدُ	عُزَيْرُ	ابْنُ	اللّٰهِ	وَقَالَتِ	النَّصٰرَى
او وائی	یهودان	چی عزیر	ځوی	دالله دی	او وائی	نصرانیان

او وائی یهودان چی عزیر ځوی دالله دی او وائی نصرانیان

الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ

الْمَسِيْحُ	ابْنُ	اللّٰهِ	ذٰلِكَ	قَوْلُهُمْ	بِاَفْوَاهِهِمْ
چی مسیح	ځوی	دالله دی	دغه (بیکاره)	ویناد دوی ده	په خولو خپلو سره

چی مسیح ځوی د الله دی دغه چټی (بیکاره) وینا د دوی ده په خولو خپلو سره (چی وائی ئی بی دلیله)

يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ؕ قٰتَلَهُمُ

يُضَاهِـُٔوْنَ	قَوْلَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ قَبْلُ	قٰتَلَهُمُ
مشابه ده دوی خبره	له خبرو د	هغو کسانو سره چی	کافران سوی وو	پخوا	هلاک دی کړی دوی

مشابه ده (خبره) د دوی له خبرو د هغو کسانو سره چی کافران سوی وو پخوا هلاک دی کړی دوی

اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ

اللّٰهُ	اَنّٰى	يُؤْفَكُوْنَ	اِتَّخَذُوْٓا	اَحْبَارَهُمْ	وَرُهْبَانَهُمْ
الله	چی څرنګه	ګرځولی سی دوی	نیولی دی دغو (کتابیانو)	عالمان خپل	او عابدان خپل

الله چی څرنګه ګرځولی سی دوی (له سمی لاری څخه). نیولی دی دغو (کتابیانو) عالمان خپل او عابدان خپل

حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ.. دکفارو څخه دمسلمانانو دطرفه څخه دجزيي اخيستل: يعني داحکم دقتال به تر هغه وخته پوري جاري وي تر څوچي دوی ماتحت سي رعيت جوړ سي اوجزيه ورکول منظور نه کړي دجزيي لفظي معنی بدله او جزاء ده او په اصطلاح دشرع کي ددې څخه مراد هغه رقم دی کم چي دکفارو څخه دقتل په بدله کي اخيستل کيږي وجه داده چي کفر او شرک دالله ﷻ اورسول ﷺ څخه بغاوت دی چي ددې اصلي سزا قتل دی مګر الله ﷻ په خپل کامل رحمت سره ددوی په سزا کي رعايت وکی چي که دوی داسلامي حکومت رعيت جوړ سي او داسلامي قانون لاندي اوسيدل منظور کړي نوددوی څخه دې معمولي رقم دجزيي واخيستل سي او پري دې ښوول سي او داسلامي ملک د اوسيدونکو په حيثيت سره ددوی دځان او مال او عزت حفاظت به داسلامي حکومت ذمه واري وي ددوی په مذهبي رسمونو کي به څه مزاحمت نه کول کيږي دې رقم ته جزيه ويل کيږي چي دکفارو څخه اخيستل کيږي. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۰ ص۱۳۱) مکتبه حبيبيه

ع ۴
۱۰

اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَمَآ اُمِرُوْٓا

اَرْبَابًا	مِّنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	وَالْمَسِيْحَ	ابْنَ	مَرْيَمَ	وَمَآ اُمِرُوْٓا
خدایان	بی له	الله	او مسیح	ځوی	دمریمی	حال داچي امر نه دی سوی دوی ته

خدایان بی له الله او مسیح ځوی د مریمی (هم په خدائی نیسی) حال داچي امر (حکم) نه دی سوی دوی ته

اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

اِلَّا	لِيَعْبُدُوْٓا	اِلٰهًا	وَّاحِدًا	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا
مګر	د دی چي عبادت وکړی دوی	دمعبود	یوه	چي نسته	هیڅ برحق معبود	مګر

مګر د دی چي عبادت وکړی دوی د معبود یوه چي نسته هیڅ برحق معبود مګر

هُوَ ۭ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۱﴾ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا

هُوَ	سُبْحٰنَهٗ	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ	يُرِيْدُوْنَ	اَنْ	يُّطْفِـُٔوْا
خو هم دی دی	پاکی ده الله لره	له هغه شی څخه	چي شریکوی یې دوی	اراده لری دغه (کتابیان)	داچي	مړکړی

خو هم دی دی ، پاکی د ه الله لره له هغه شی څخه چي شریکوی دوی (هغه د الله سره). اراده لری دغه (کتابیان) داچي مړکړی

نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ

نُوْرَ	اللّٰهِ	بِاَفْوَاهِهِمْ	وَيَاْبَى	اللّٰهُ	اِلَّآ	اَنْ	يُّتِمَّ	نُوْرَهٗ
نور شریعت د	الله	په خولو خپلو	او منع راوړی (نه خوښوی)	الله	مګر	داچي	پوره کړی	نور خپل

نور (رڼا) شریعت د الله په خولو خپلو او منع راوړی (نه خوښوی) الله مګر دا چي پوره کړی نور (رڼا) خپله

وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى

وَلَوْ	كَرِهَ	الْكٰفِرُوْنَ	هُوَ	الَّذِيْٓ	اَرْسَلَ	رَسُوْلَهٗ	بِالْهُدٰى
او اګر که	بد ګڼی	کافران	الله	هغه ذات دی	چي لیږلی ئی دی	رسول خپل	په هدایت سره

او اګر که بد ګڼی (دا کار) کافران. الله هغه ذات دی چي لیږلی ئی دی رسول خپل (محمد) په هدایت سره (چي قرآن دی)

وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ

وَدِيْنِ	الْحَقِّ	لِيُظْهِرَهٗ	عَلَى	الدِّيْنِ	كُلِّهٖ	وَلَوْ
او په دین	حق سره	دپاره د دی چي غالب کړی دغه	پر	نورو دینونو	ټولو	او اګر

او په دین حق سره (چي اسلام دی) دپاره د دی چي غالب کړی دغه (دین) پر نورو دینونو ټولو او اګر

اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ.. **دیهودو او نصاراوو دعالمانو او شیخانو ګمراهي:** په دغه ایاتونو کښي الله ﷻ دیهودو او نصاراوو د عالمانو او شیخانو او زاهدانو دګمراهی او ددوی دعملي او قولي کفریاتو ذکر کړی دی (احبار) جمع دحِبرٌ ده او رُهبان دراهب جمع ده حبر دیهودو او نصاراوو عالمانو ته ویل کیږي او راهب عابدا و زاهد ته ویل کیږي: په دغه ایت کي الله فرمايي چي دې خلګو خپل عالمان او شیخان دالله ﷻ څخه ماسوا خپل رب او معبود جوړ کړي دي دغه رکم عیسی ابن مریم ؑ یي خپل رب جوړ کړی دی دحضرت عیسی ؑ رب او معبود جوړول خو ښکاره خبره ده چي دی یي دخدای ﷻ زوی ومنی :او دعالمانو او شیخانو دمعبود جوړولو کم الزام چي پر دوی لګیدلی دی که څه هم په واضح طور سره دوی خپلو عالمانو ته خپل رب نه دي ویلي لیکن وجه یي داده چي دوی هغه اطاعت کم چي خالص دالله ﷻ حق دی دغه حق یي ودوی ته حواله کی چي په هرڅه او هر حالت کي به یي ددوی پیروي کوله الخ.
معارف القرآن ج۴ پ۱۰ص۱۳۵)

كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ كَثِيْرًا

كَرِهَ	الْمُشْرِكُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنَّ	كَثِيْرًا
كه بد ګڼي	مشركان	اى	هغو كسانو	چي ايمان ئې راوړى دى	بيشكه!	ډير

كه بد ګڼي (دا كار) مشركان. اى هغو كسانو چي ايمان ئې راوړى دى بيشكه! ډير

مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ

مِّنَ الْاَحْبَارِ	وَالرُّهْبَانِ	لَيَاْكُلُوْنَ	اَمْوَالَ	النَّاسِ
دعالمانو (ديهودانو)	او عابدانو (دنصرانيانو)	خامخا خورى دوى	مالونه	دخلكو

د عالمانو (ديهودانو) او عابدانو (دنصرانيانو) خامخا خورى دوى مالونه د خلكو

بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ

بِالْبَاطِلِ	وَيَصُدُّوْنَ	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	وَالَّذِيْنَ
په باطل سره	او منع كوى (خلك)	له	لارى	دالله څخه	او هغه كسان چي

په باطل (رشوت) سره او منع كوى (خلك) له لارى د الله څخه. او هغه كسان چي

يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ

يَكْنِزُوْنَ	الذَّهَبَ	وَالْفِضَّةَ	وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ
خزانه كوى	سره زر	او سپين زر	او نه لګوى هغه	په	لاره	دالله كښي

خزانه كوى سره زر او سپين زر او نه لګوى هغه په لاره د الله كښي (د دين د ترقى له پاره)

فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٣٤﴾ يَّوْمَ يُحْمٰى

فَبَشِّرْهُمْ	بِعَذَابٍ	اَلِيْمٍ	يَّوْمَ	يُحْمٰى
نو زيرى وركړه دوى ته	په عذاب	درد ناك سره	په هغې ورځي چي	سختى ګرمى به كړى سى

نو زيرى وركړه دوى ته په عذاب دردناك سره. په هغې ورځي چي سختى سرى به كړى سى

عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ

عَلَيْهَا	فِيْ	نَارِ	جَهَنَّمَ	فَتُكْوٰى	بِهَا	جِبَاهُهُمْ
دغه خزانى	په	اور	دجهنم (دوزخ) كښي	نو داغلى به سى	په هغه سره	وچولى (تندى) د دوى

دغه خزانى په اور د جهنم (دوزخ) كښي نو داغلى به سى په هغه سره وچولى (تندى) د دوى

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ

ديهودواونصاراووعلماو وخپل عوام ګمراهان كړل

په دغه آيت كي الله ﷻ مسلمانان مخاطب كړي دي او ديهودواونصاراوو دعالمانواو شيخانو د داسي حالاتو ذكر دى دكمو په وجه چي په عوامو كي ګمراهي خپره سوه دمسلمانانود مخاطب كولو څخه شايد دې طرف ته اشاره ده چي كه څه هم دا حالت ديهودو او نصاراوو اودعالمانواو شيخانو بيانيږي ليكن دوى له هم ددې څخه خبريدل پكار دي چي داسي حالت ددوى جوړ نه سي: په دې ايت كي ارشاد فرمايي چي ديهودو او نصاراوو او دډيرو عالمانوشيخانودا حال دى چي په باطلو طريقو سره دخلګو مالونه خوري او دالله ﷻ دسيده لاري څخه خلګ منع كوي ديهودو اونصاراوواو داكثرو عالمانوشيخانو دا حال وو اوپه داسي حالاتو كي په عام طور سره ويونكي تولو ته بدوايي ليكن قرآن كريم دلته لفظ دكثيرا زيات كى او مسلمانانو ته يي ددښمنانو په معامله كي هم دخبري داحتياط ښووونه وكړه چي دا نسبت ټولوته نه دى بلكي اكثره يي داسي دي.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۳۷)

وَجُنُوۡبُهُمۡ وَظُهُوۡرُهُمۡ‌ؕ هٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِاَنۡفُسِكُمۡ

وَجُنُوۡبُهُمۡ	وَظُهُوۡرُهُمۡ	هٰذَا	مَا	كَنَزۡتُمۡ	لِاَنۡفُسِكُمۡ
او اړخونه د دوی	او شاګانی د دوی	دا	هغه شی دی	چې خزانه کړی وه تاسی	دپاره د نفسونو خپلو

او اړخونه د دوی او شاګانی د دوی دا هغه شی دی چې خزانه کړی وه تاسی دپاره د نفسونو (ځانونو) خپلو

فَذُوۡقُوۡا مَا كُنۡتُمۡ تَكۡنِزُوۡنَ ۝٣٥ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوۡرِ

فَذُوۡقُوۡا	مَا	كُنۡتُمۡ	تَكۡنِزُوۡنَ	اِنَّ	عِدَّةَ	الشُّهُوۡرِ
نو وڅکئ تاسی	هغه	چې وئ تاسی	چې خزانه کاوه به مو	بیشکه! چې	شمیر	دمیاشتو

نو وڅکئ تاسی هغه (مال) چې وئ تاسی چې خزانه کاوه به مو (په دنیا کښې). بیشکه! چې مقدار (شمار) دمیاشتو

عِنۡدَ اللّٰهِ اثۡنَا عَشَرَ شَهۡرًا فِىۡ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوۡمَ خَلَقَ

عِنۡدَ	اللّٰهِ	اثۡنَا عَشَرَ	شَهۡرًا	فِىۡ	كِتٰبِ	اللّٰهِ	يَوۡمَ	خَلَقَ
په نزد	د الله کښې	دوولس	میاشتی دی	په	کتاب	د الله کښې	هغه ورځ چې	پیدا کړی ئی دی

په نزد د الله کښې دوولس میاشتی دی په کتاب د الله (لوح محفوظ) کښې هغه ورځ (وخت) چې پیدا کړی ئی دی

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ مِنۡهَاۤ اَرۡبَعَةٌ حُرُمٌ‌ؕ ذٰ لِكَ

السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	مِنۡهَاۤ	اَرۡبَعَةٌ	حُرُمٌ	ذٰلِكَ
آسمانونه	او ځمکه	دهغو څنی	څلور میاشتی	محرمی دی	دغه

آسمانونه او ځمکه دهغو (له جملی) څنی څلور میاشتی محرمی دی، دغه (حساب یا تحریم)

الدِّيۡنُ الۡقَيِّمُ ‌ۙ فَلَا تَظۡلِمُوۡا فِيۡهِنَّ اَنۡفُسَكُمۡ‌ وَقَاتِلُوا

الدِّيۡنُ	الۡقَيِّمُ	فَلَا تَظۡلِمُوۡا	فِيۡهِنَّ	اَنۡفُسَكُمۡ	وَقَاتِلُوا
دین دی	سم	نو مه کوئ ظلم	په دغو کښې	په ځانونو خپلو	او جنګونه کوئ تاسی

دین دی سم، نو مه کوئ ظلم په دغو کښې په ځانونو خپلو (په کولو دګناه) او جنګونه کوئ تاسی (ای مؤمنانو)

الۡمُشۡرِكِيۡنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوۡنَكُمۡ كَآفَّةً‌ ؕ وَاعۡلَمُوۡۤا

الۡمُشۡرِكِيۡنَ	كَآفَّةً	كَمَا	يُقَاتِلُوۡنَكُمۡ	كَآفَّةً	وَاعۡلَمُوۡۤا
له مشرکانو سره	ټوله	لکه چې	جنګونه کوی دوی له تاسی سره	ټوله په جمع	او پوه سئ چې

له مشرکانو سره ټول لکه چې جنګونه کوی دوی له تاسی سره ټول له څرمی ، او پوه سئ چې

فَذُوۡقُوۡا مَا كُنۡتُمۡ تَكۡنِزُوۡنَ
دزکوة نه ورکوونکي ته سخته سزا مقرره ده: په دغه آیت کی الله ﷻ وزکوة نه ورکوونکو ته سخته سزا بیان کړیده هغه دا چې څوک زکوة نه اداء کوي هغوی ته به دا دردناک عذاب دقیامت په ورځ ورکول کیږي کله چې به ددوی جمع کړي سره او سپین دجهنم په اور کي ګرمیږي بیا به په دي سره ددوی تندي ،بغلونه ، او شاګاني داغل کیږي او دوی ته به دزباني سزا په طور سره ویل کیږي چې دا هغه شی دی کم چې تاسی دځان دپاره جمع کړي وو پس دخپلي جمع کړي سرمایي خوند وڅکی: ددې څخه معلومه سوه چي دعمل جزا عین عمل دی کمه سرمایه چي په ناجایزه توګه سره جمع سوي وه یا اصل سرمایه خو جائزه وه مګر زکوة ادا نه سو ورڅخه نو په خپله دغه سرمایه ددغو خلقو عذاب جوړ سي: په دې آیت کي یې دداغ لګولو دپاره دتندیو بغلونو او شاګانو ذکر کړی دی یا خو ددې څخه مراد ټول بدن دی چي ټول بدن یې په داسي عذاب سره مبتلا وي: اوبله توجیه هم مفسرینو بیان کړي ده.
معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۳۸

اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٦﴾ اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ زِيَادَةٌ فِي

اَنَّ	اللّٰهَ	مَعَ	الْمُتَّقِيْنَ	اِنَّمَا	النَّسِيْٓءُ	زِيَادَةٌ	فِي
بيشكه!	الله	سره له	پرهيزګارانو دی	بيشکه! چې	تاخير	ډيروالی دی	په

بيشكه! الله سره له پرهيزګارانو دی. بيشكه! چې دغه تاخير درحمت ديوی مياشتی بلی ته ډيروالی دی په (زمانه د)

الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا

الْكُفْرِ	يُضَلُّ	بِهِ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	يُحِلُّوْنَهٗ	عَامًا
کفر کښی	چې ګمراه کاوه سی	په دی سره	هغه کسان	چې کافران سوی دی	حلالوی دوی دغه	يو کال

کفر کښی چې ګمراه کاوه سی په دی (عمل) سره هغه کسان چې کافران سوی دی حلالوی دوی دغه (حرامه مياشت) يو کال

وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ

وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ	عَامًا	لِّيُوَاطِـُٔوْا	عِدَّةَ	مَا	حَرَّمَ	اللّٰهُ
او حراموی دوی دغه	بل کال	له پاره د دی چې پوره کړی دوی	شمار	دهغو مياشتو	چې حرامی کړی دی	الله

او حراموی دوی دغه بل کال له پاره د دی چې پوره کړی دوی شمار دهغو مياشتو چې حرامی کړی دی الله

فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ ۭ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ

فَيُحِلُّوْا	مَا	حَرَّمَ	اللّٰهُ	زُيِّنَ	لَهُمْ	سُوْٓءُ
نو حلالوی	هغه مياشتی	چې حرامی کړی دی	الله	ښائسته کړی سوی دی	دوی ته	ناکاره

نو حلالوی (په زعم او عمل خپل) هغه مياشتی چې حرامی کړی دی الله ښائسته کړی سوی دی دوی ته ناکاره

اَعْمَالِهِمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اَعْمَالِهِمْ	وَاللّٰهُ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ	الْكٰفِرِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
عملونه د دوی	او الله	نه ښيی سمه صافه لاره	قوم	کافرانو ته	ای	هغو کسانو چې

عملونه د دوی او الله نه ښيی سمه صافه لاره قوم کافرانو ته. ای هغو کسانو چې

اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

اٰمَنُوْا	مَا لَكُمْ	اِذَا	قِيْلَ لَكُمُ	انْفِرُوْا	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ
ايمان ئې راوړی دی	څه باعث دی په تاسی	کله چې	وويل سی تاسی ته	چې ووځئ تاسی	په	لاره	د الله کښې

ايمان ئې راوړی دی څه باعث دی په تاسی کله چې وويل سی تاسی ته چې ووځئ تاسی په لاره د الله کښې (غزا ته)

اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ.. دزمانه جاهليت ديو رسم ذکر: په دغه آيت کښي الله ﷻ دجاهليت دزماني ديو رسم ذکر داسي کړي دی فرمايي (انّما النسئ زيادة في الكفر) لفظ دنسئ مصدر دی معنی يې ده (شاته کول او وروسته کول) اودوروسته کولو په معنی کي هم استعماليږي: دعربو مشرکينو ددې مياشتو مخکي کول او وروسته کول داسي ګڼلي وه چې په دې شان سره به زموږ نفساني غرضونه هم پوره کيږي او دالله ﷻ په حکم باندي به هم عمل کيږي دوی به راولاړ سول يوه مياشت به يې دبلي مياشتي پر ځای کښيښوول مثلاً دمحرم مياشت به وه دوی به هغه بدله کړه او وبه يې ويل چې داد کوچني اختر مياشت ده او په دې کي به يې خپل اغراض تر سره کول چې په حرامه مياشت کي خو جنګ نه وو رواه دوی به هغه دادب او حرامه مياشت بدله کړه دحلالي مياشت نوم به يې پر کښيووی الله ﷻ وفرمايل ورته چې دغه طريقه اختيارول ستاسي نو رستاسي په کفر کي زياتی او ترقي ده الخ. (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۴۳)

اثَّاقَلۡتُمۡ اِلَى الۡاَرۡضِ ؕ اَرَضِيۡتُمۡ بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا مِنَ

اثَّاقَلۡتُمۡ	اِلَى الۡاَرۡضِ	اَرَضِيۡتُمۡ	بِالۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا	مِنَ
درانه کيږئ	مځکې ته	آيا راضي سوي يئ تاسې	په دې ژوند	دنيوى	له (نعمتونو)

درانه (او مائل) کيږئ مځکې ته (او غزا ته نه ځئ) آيا راضي سوي يئ تاسې په دې حيات دنيوى له (نعمتونو)

الۡاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا فِي الۡاٰخِرَةِ اِلَّا

الۡاٰخِرَةِ	فَمَا مَتَاعُ	الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا	فِي	الۡاٰخِرَةِ	اِلَّا
دآخرت څخه	او نه دى نفع اخيستل	د دې ژوند	دنيوى	په (مقابل دنعمتونو د)	آخرت کښې	مګر

د آخرت څخه، او نه دى نفع اخيستل د دې حيات دنيوى (ژوندون لږ خسيس) په (مقابل دنعمتونو د) آخرت کښې مګر

قَلِيۡلٌ ﴿۳۸﴾ اِلَّا تَنۡفِرُوۡا يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۙ

قَلِيۡلٌ	اِلَّا تَنۡفِرُوۡا	يُعَذِّبۡكُمۡ	عَذَابًا	اَلِيۡمًا
لږ (حقير) دى	که ونه وځئ تاسې	نو په عذاب به کړي الله تاسې	په عذاب	دردناک سره

لږ (حقير) دى. که ونه وځئ تاسې (غزا ته او د رسول الله سره لا نرنسى) نو په عذاب به کړي الله تاسې په عذاب درد ناک سره

وَّيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوۡهُ شَيۡـًٔا ؕ وَاللّٰهُ

وَّيَسۡتَبۡدِلۡ	قَوۡمًا	غَيۡرَكُمۡ	وَلَا تَضُرُّوۡهُ	شَيۡـًٔا	وَاللّٰهُ
او بدل به راولي	(بل) قوم	چې غير له تاسې وي	او نه به رسوئ ضرر تاسې دغه الله (يارسول) ته	دهيڅ شئ	او الله

او بدل به راولي (بل) قوم چې غير له تاسې وي او نه به رسوئ ضرر تاسې دغه الله (يارسول الله) ته دهيڅ شي، او الله

عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۳۹﴾ اِلَّا تَنۡصُرُوۡهُ فَقَدۡ

عَلٰى	كُلِّ	شَيۡءٍ	قَدِيۡرٌ	اِلَّا تَنۡصُرُوۡهُ	فَقَدۡ
پر	هر	شى	ښه قادر دى	که وه نه کړئ تاسې مرسته له دغه سره	پس په تحقيق

پر هر شي (چې اراده وفرمائي) ښه قادر دى. که وه نه کړئ تاسې مرسته (مدد) له دغه (رسول الله) سره پس په تحقيق

نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذۡ اَخۡرَجَهُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

نَصَرَهُ	اللّٰهُ	اِذۡ	اَخۡرَجَهُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا
مرسته فرمايلې وه له دغه رسول الله سره	الله	کله چې	راوويستۍ دى	هغو کسانو	چې کافران سوي وو

مرسته فرمايلې وه له دغه رسول الله سره الله کله چې راوويست دى (له مکې) هغو کسانو چې کافران سوي وو

اَرَضِيۡتُمۡ بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا
دتبوک دغزا بيان او
دنبي کريم ﷺ اخري غزا
په ذکر سره ایاتونو کې
دنبي کريم ﷺ په غزاګانو
کې ديوه مهمې غزا بيان
او ددې په ضمن کې ډير
احکام او هدا يتونه دي
دې غزا ته دتبوک غزا
وايې او دنبي کريم ﷺ
تقريبا آخري غزا ده: تبوک
چيرې واقع دى؟ تبوک
دمدينې منورې څخه شمال
ته پر سرحد باندې ديو
مقام نوم دى شام دغه
وخت د روم د مسيحيانو
دحکومت يو ولايت وو
نبي کريم ﷺ چې دهجرت
په اتم کال دمکې مکرمې
دفتح او دحنين دغزا څخه
فارغه سوا و مدينې طيبې
ته ورسيدى نو دغه وخت
دجزيرة العرب مهمې
حصې د اسلامې حکومت
تر قبضې لاندې راغلې وي
او دمکې دمشرکينو سره
داته کاله جنګونو څخه
وروسته اوس مسلمانانو
ته دسکون لږ وخت پيدا
سوى وو مګر دکم ذات په
باره کې چې الله جلّ جلاله
دمخکې څخه دافرمايلي
وي (ليظهره على الدين
كلّه) چې زه به ددې نبي
ﷺ دين پر ټولو اديانو
باندې غالبه کوم نو دوى
او ددوى ملګرو ته فرصت
کم دى. (پاته بيان پر
راروان مخ وګورى)

ثَانِيَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ

ثَانِيَ	اثْنَيْنِ	اِذْ هُمَا	فِي	الْغَارِ	اِذْ	يَقُوْلُ	لِصَاحِبِهٖ
حال داچي دی دوهم	دد ووڅ	کله چې دوی دواړه	په	غار کښې وو	کله چې	وويل (محمد)	ملګري خپل ته

حال داچې دی دوهم د دوو ؤ کله چې دوی دواړه په غار کښې وو کله چې وويل (محمد) ملګری خپل (ابوبکر صديق) ته

لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ

لَا تَحْزَنْ	اِنَّ	اللّٰهَ	مَعَنَا	فَاَنْزَلَ	اللّٰهُ	سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ
مه خپه کيږه	بيشکه! چې	الله	له موږ سره دی	نو نازل کړ	الله	تسکين خپل په ده (محمد يا صديق)

مه خپه کيږه بيشکه! چې الله له موږ سره دی په ساتنه ثواب ورکولو او نصرت کښې، نو نازل کړ الله تسکين خپل په ده

وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ

وَاَيَّدَهٗ	بِجُنُوْدٍ	لَّمْ تَرَوْهَا	وَجَعَلَ	كَلِمَةَ
او تائيد وفرمايه (الله) د رسول خپل	په لښکرو	چې نه ليدلی تاسی هغوی	او وګرځوله الله	کلمه

(محمد يا صديق) او تائيد وفرمايه (الله) د رسول الله په (داسی) لښکرو سره چې نه ليدلی تاسی هغو او وګرځوله الله کلمه

الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ؕ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ

الَّذِيْنَ	كَفَرُوا	السُّفْلٰى	وَكَلِمَةُ	اللّٰهِ	هِيَ	الْعُلْيَا	وَاللّٰهُ	عَزِيْزٌ
د هغو کسانو چې	کافران سوی دی	ښکته	او کلمه	د الله	هم دغه ده	لوړه غالبه	او الله	ښه غالب قوی دی

د هغو کسانو چې کافران سوی دی ښکته، او کلمه د الله هم دغه ده لوړه غالبه او الله ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا.

حَكِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ

حَكِيْمٌ	اِنْفِرُوْا	خِفَافًا	وَّثِقَالًا	وَّجَاهِدُوْا	بِاَمْوَالِكُمْ
ښه حکمت والا	ځئ تاسی	حال داچې سپک اوسئ	او درانه	او جهاد کوئ تاسی	په مالونو خپلو

ځئ تاسی (غزاته) حال داچې سپک اوسئ او درانه او جهاد کوئ تاسی په مالونو خپلو

وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾

وَاَنْفُسِكُمْ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	ذٰلِكُمْ	خَيْرٌ	لَّكُمْ	اِنْ	كُنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ
او په ځانونو خپلو	په	لاره	د الله کښې	دغه تګ غزاته	خير بهتر دی	تاسی ته	که	يئ تاسی	چې پوهيږئ

او په ځانونو خپلو په لاره د الله کښې دغه تګ غزاته خير بهتر دی تاسی ته که يئ تاسی چې پوهيږئ.

وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ... د تير مخ پا ته بيان دلته وګوری

مديني منورې ته د رسيدو سره سم د شام څخه راتلونکو تجارت کوونکو خلګو کمو چې د شام څخه د زيتون تيل راوړل او په مدينه منوره وغيره کې به يې خرڅول دې خلګو داخبر راوړی چې د روم بادشاه هرقل خپل فوجونه د تبوک پر مقام د شام پر سرحد باندي جمع کړي دي او خپلو فوجونو ته يې د پوره کال پيشګي تنخواوي هم ورکړي دي او د عربو د ځينو قبيلو هم د دوی سره ساز باز دی د دوی مقصد دادی چې په يووار پر مدينه منوره حمله وکړي. کله چې نبي کريم ﷺ ته اطلاع ورسيده نو دوی دااراده وفرمايله چې د دوی د حملې څخه مخکې بايد موږ پيش قدمي وکړو او هلته مقابله وکړو کم ځای چې د دوی فوجونه جمع دي دازمانه اتفاقا سخته ګرمي وه او د مديني منورې خلګ په عام طور سره زميندار وه د دوی د مځکو او باغونو ميوې پخې سوي وي پر کمو چې د دوی دژوند او د ټول کال دارومدار وو چې لکه څنګه چې د نوکری کسب والا خلګو جيبونه د مياشتي په آخري ورځو کې خالي وي .. پاته بيان پر راروان مخ وګوری :

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ

لَوْ	كَانَ	عَرَضًا	قَرِيْبًا	وَّسَفَرًا	قَاصِدًا	لَّاتَّبَعُوْكَ
كه	وى	مال	نژدى	او سفر	آسان (منځنى)	نو خامخا متابعت به كړى ؤ دوى ستا

كه وى مال نژدى (آسان) او سفر سهل (منځنى) نو خامخا متابعت به كړى ؤ دوى ستا

وَلٰكِنْۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ

وَلٰكِنْۢ	بَعُدَتْ	عَلَيْهِمُ	الشُّقَّةُ	وَسَيَحْلِفُوْنَ	بِاللّٰهِ
وليكن	لرى سوى دى	په دوى باندى	هغه مسافه	او ژر به قسمونه وكړى منافقان	په الله

وليكن لرى سوى دى په دوى باندى هغه مسافه (نو ځكه ئى مخالفت وكړ) اوژر به قسمونه وكړى منافقان په الله

لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ

لَوِ اسْتَطَعْنَا	لَخَرَجْنَا	مَعَكُمْ	يُهْلِكُوْنَ	اَنْفُسَهُمْ	وَ	اللّٰهُ
كه طاقت وى زموږ	نو خامخا به وتلى وو موږ	له تاسى سره	هلاكوى دوى	نفسونه خپل	او	الله

كه طاقت وى زموږ (دسفر) نو خامخا به وتلى وو موږ له تاسى سره، هلاكوى دوى نفسونه خپل او الله

يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿٤٢﴾ عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ اَذِنْتَ

يَعْلَمُ	اِنَّهُمْ	لَكٰذِبُوْنَ	عَفَا	اللّٰهُ	عَنْكَ	لِمَ اَذِنْتَ
عالم دى	چى بيشكه! دوى	هرومرو دروغجنان دى	عفوه وكړه	الله	تاته	دځه دپاره اذن (اجازه) وركړه تا

عالم دى چى بيشكه! دوى هرومرو دروغجنان دى. عفوه وكړه الله تاته، دځه دپاره اذن (اجازه) وركړه تا

لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ

لَهُمْ	حَتّٰى	يَتَبَيَّنَ	لَكَ	الَّذِيْنَ	صَدَقُوْا	وَتَعْلَمَ
دوى ته	ترهغه پورى	چى ښكاره سوى وى	تاته	هغه كسان چى	رښتني دى	او معلوم كړى وى تا

دوى ته ترهغه پورى چى ښكاره سوى وى تاته هغه كسان چى رښتني دى (په دغه عذر كښى) او معلوم كړى وى تا

الْكٰذِبِيْنَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

الْكٰذِبِيْنَ	لَا يَسْتَاْذِنُكَ	الَّذِيْنَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ
دروغجنان	نه غواړى اجازه له تا ځخه	هغه كسان	چى مؤمنان دى	په الله

دروغجنان. نه غواړى اجازه له تا ځخه هغه كسان چى مؤمنان دى په الله

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا..دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:

دغه شان كرونده ګر خلګ هم دفصل پر ختميدو باندې خالي لاس وي يو طرف ته غريبي بل طرف ته دنژدې آمدني اميد او پر دې سربيره دګرمى دموسم سختوالى ددې قوم دپاره كمو ته چې اوس اوس ديو مقابل سره داته كاله پرله پسې جنګونو څخه لږ دساه اخيستلو موقع وركول سوې وه يو انتهايي دصبر او امتحان موقع وه مګر وخت دا غوښتله او دا جهاد په خپل قسم سره دمخكنيو ټولو جنګونو څخه په دې وجه يو خاص شان درلودى چې اولني جنګونه خو دخپلو ځانونو په شان دعوامو سره جنګونه وه او دلته دروم دبادشاه هرقل دتربيت يافته فوج سره مقابله وه په دې وجه نبي كريم ﷺ دمدينې منورې ټولو مسلمانانو ته ددې جهاد دپاره دوتلو حكم وركى او څه دخوا اوشا نورو قبائلو ته يي هم په دې جهاد كې دشركت وركولو دعوت وركى داعام اعلان پر اسلام دځان قربانوونكو دپاره يو سخت امتحان وواو بل طرف ته دمنافقانو دعوى لرونكو امتياز هم .. پاته بيان پر راروان مخ وګورى

ع ۵ ۱۲

وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ اَنۡ يُّجَاهِدُوۡا بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡؕ

وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	اَنۡ	يُّجَاهِدُوۡا	بِاَمۡوَالِهِمۡ	وَاَنۡفُسِهِمۡ
او په ورځې	آخرى	چې	جهاد وکړي دوی	په مالونو خپلو	او ځانونو خپلو سره

او په ورځې آخرى چې جهاد وکړي دوی په مالونو خپلو او ځانونو خپلو سره ،

وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِالۡمُتَّقِيۡنَ ۝٤٤ اِنَّمَا يَسۡتَاۡذِنُكَ الَّذِيۡنَ

وَ	اللّٰهُ	عَلِيۡمٌۢ	بِالۡمُتَّقِيۡنَ	اِنَّمَا	يَسۡتَاۡذِنُكَ	الَّذِيۡنَ
او	الله	ښه عالم دی	په پرهيزګارانو	بيشکه! هم داخبره ده	چې اجازه غواړی له تاڅخه	هغه کسان

او الله ښه عالم دی په پرهيزګارانو بيشکه! هم داخبره ده چې اجازه غواړی له تاڅخه (ای محمده) هغه کسان

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَارۡتَابَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ	بِاللّٰهِ	وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	وَارۡتَابَتۡ	قُلُوۡبُهُمۡ
چې ايمان نه لری	پر الله	او پر ورځې	آخرى باندی	او چې شکمن دی	زړونه د دوی

چې ايمان نه لری (په پټه) په الله او پر ورځې آخرى باندی (چې قيامت دی) او چې شکمن دی زړونه د دوی

فَهُمۡ فِىۡ رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُوۡنَ ۝٤٥ وَلَوۡ اَرَادُوا الۡخُرُوۡجَ

فَهُمۡ	فِىۡ	رَيۡبِهِمۡ	يَتَرَدَّدُوۡنَ	وَلَوۡ	اَرَادُوا	الۡخُرُوۡجَ
نو دوی	په	شک خپل کښی	سرګردانه دی	او که	اراده وی د دوی	د وتلو

نو دوی په شک خپل کښی سرګردانه (او متحيره) دی. او که اراده وی د دوی دوتلو (غزا ته له تاسره)

لَاَعَدُّوۡا لَهٗ عُدَّةً وَّلٰـكِنۡ كَرِهَ اللّٰهُ

لَاَعَدُّوۡا	لَهٗ	عُدَّةً	وَّلٰـكِنۡ	كَرِهَ	اللّٰهُ
نو هرومرو تيار کړی به وو دوی	دپاره دوتلو غزاته	څه اسباب دتياری	وليکن	نه ؤ غوره کړی	الله

نو هرومرو (خامخا) تيار کړی به وو دوی دپاره د وتلو غزا ته څه اسباب دتياری وليکن نه ؤ غوره کړی الله

انۡۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيۡلَ اقۡعُدُوۡا مَعَ الۡقٰعِدِيۡنَ ۝٤٦

انۡۢبِعَاثَهُمۡ	فَثَبَّطَهُمۡ	وَقِيۡلَ	اقۡعُدُوۡا	مَعَ	الۡقٰعِدِيۡنَ
پورته کيدل د دوی	نو سست کړل دوی	او وويل سول دوی ته	چې کښينئ تاسی	له	کښينستونکو سره

پورته کيدل د دوی (غزاته) نو سست کړل (الله) دوی او وويل سول دوی ته چې کښينئ (کښيني) تاسی له کيناستونکيو سره.

اِنَّمَا يَسۡتَاۡذِنُكَ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ... دتير مخ پاته بيان دلته وګوری : ددې څخه علاوه لازمي نتيجه داسوه چې داسلام دکلمه ويونکو مختلف حالات جوړ سول قرآن کريم په دوی کې دهر حالت متعلق جلا جلا ارشادات فرمايلي دي. اول حالت دهغو کاملو مکملو حضراتو ووکم چې بغير دڅه تردد څخه دجهاد دپاره تيار سول. دوهم حالت دهغه خلګو وو کم چې په اول کې دڅه تردد څخه بغير وروسته ملګري سول ددې دواړو طبقو متعلق قرآن کريم فرمايي (چې هغه خلګ دصفت لائق دي کمو چې دسختی په وخت کې دنبي کريم ﷺ تابعداري وکړه وروسته تردې چې په دوی کې ديوې فرقې زړونه په شويبدو سوي وه). دريم حالت دهغه کسانو وو کم چې څه دصحيح عذر پر بنا باندې دي جهاد ته نه ولاړه. څلورم حالت دهغه کسانو وو کم چې هيڅ عذر يې نه وو دسستی په وجه او سبب په جهاد کې شريک نه سوه ددوی متعلق ډير اياتونه نازل سوي دي. پنځم حالت : دهغه منافقينو وو چې دخپل نفاق په وجه سره يې په دې سخت امتحان کې خپل نفاق پټ ونه ساتی او په جهاد کې شريک نه سول: پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا خَبَالًا

لَوْ	خَرَجُوْا	فِيْكُمْ	مَّا زَادُوْكُمْ	اِلَّا	خَبَالًا
نو که	وتلي وی دغه	په تاسی کښي	نو نه به ؤزيات کړي دوی تاسی ته	مګر	شر

نو که وتلي وی دغه (منافقان) په (لښکر د) تاسی کښي نو نه به ؤزيات کړي دوی تاسی ته مګر شر ، خرابی ، فساد

وَّلَا۟اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ

وَّلَا۟اَوْضَعُوْا	خِلٰلَكُمْ	يَبْغُوْنَكُمُ	الْفِتْنَةَ	وَفِيْكُمْ
او خامخا چابکی به کړي وه دوی	په مينځ ستاسی کښي	حال دا چي غوښتله به دوی تاسی ته	فتنه	او سته په تاسی کښي

او خامخا چابکی به کړي وه دوی په مينځ ستاسی کښي حال دا چي غوښتله به دوی تاسی ته فتنه او سته په تاسی کښي

سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝۴۷ لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ

سَمّٰعُوْنَ	لَهُمْ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	بِالظّٰلِمِيْنَ	لَقَدِ	ابْتَغَوُا	الْفِتْنَةَ
جاسوسان	د دوی دپاره	او الله	ښه عالم دی	په ظالمانو	خامخا په تحقيق	لټولی وه دوی	فتنه

جاسوسان (اوريدونکی دخبرو) د دوی دپاره او الله ښه (پوه) عالم دی په ظالمانو. خامخا په تحقيق لټولی وه دوی فتنه

مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَاۗءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ

مِنْ قَبْلُ	وَقَلَّبُوْا	لَكَ	الْاُمُوْرَ	حَتّٰى	جَاۗءَ	الْحَقُّ	وَظَهَرَ	اَمْرُ
پخوا	او اړولی ئی وو	تاته	ټول کارونه	ترهغه پوری	چي راغی	حق	او ظاهر سو	امر (حکم)

پخوا (له دی نه) او اړولی ئی وو تاته ټول کارونه ترهغه پوری چي راغی حق او ظاهر (ښکاره غالب) سو امر (حکم)

اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ۝۴۸ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ

اللّٰهِ	وَهُمْ	كٰرِهُوْنَ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	يَّقُوْلُ	ائْذَنْ	لِّيْ
د الله	حال دا چي دوی	بد ګڼونکی وو	او ځيني له دغو څخه	هغه څوک دی	چي وائی	اجازه راکړه	ماته

د الله حال دا چي دوی بد ګڼونکی وو. او ځيني له دغو (منافقانو) څخه هغه څوک دی چي وائی اذن (اجازه) راکړه ماته

وَلَا تَفْتِنِّيْ ۭ اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ۭ وَاِنَّ جَهَنَّمَ

وَلَا تَفْتِنِّيْ	اَلَا	فِيْ	الْفِتْنَةِ	سَقَطُوْا	وَاِنَّ	جَهَنَّمَ
او مه اچوه ما په فتنه کښي	خبردار سئ	چي په	ګمراهی کښي	لويدلی دی دوی	او بيشکه! چي	جهنم

او مه اچوه ما په فتنه (ګمراهی) کښي خبردار سئ چي په ګمراهی کښي لويدلی دی دوی او بيشکه چي جهنم (دوزخ)

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى : شپږم حالت دهغه منافقينو وو کم چي دجاسوسی او شرارت دپاره دمسلمانانو سره سوي وه ددوی د حالت ذکر قرآن کريم په دېرو اياتونو کي دی (وفيكم سمّاعون لهم) ليکن ددې ټولی سختی او تکليف باوجود دجهاد د شرکت څخه دپاته کيدونکو مجموعي شمير هم برايي نام وو. لوی اکثريت ددغو مسلمانانو وو کم چي خپلي ټولي نفعي او راحتونه قربان کړل او د الله ﷻ په لاره کي دهر قسم تکليفونو برداشت کولو دپاره تيار سول په دې وجه په دې جهاد کي دوتلي اسلامي فوج شمير ديرش زره (۳۰۰۰۰) وو چي تر دې مخکي په هيڅ غزا کي دومره شمير نه دی ليدل سوی ددې جهاد نتيجه دا سوه چي کله دروم بادشاه هرقل ته دمسلمانانو ددومره لوی لښکر دمقابلې دراوتلو خبر ورسيدی نو رعب باندي پريوتی او مقابلې ته رانه غلی نبي کريم ﷺ دخپلو صحابه کرامو ؓ سره څوورځي هلته پر سرحد دشام باندي تيري کړي او کله چي ددوی دراتګه نااميده سو بيرته يي تشريف راوړی مدينې منورې ته :
معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۴۷)

لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ

لَمُحِيْطَةٌۢ	بِالْكٰفِرِيْنَ	اِنْ	تُصِبْكَ	حَسَنَةٌ	تَسُؤْهُمْ
چاپیر کیدونکی دی	په کافرانو	که	ورسیږی تاته	کومه ښیگڼه	نو خفه کوی دوی

محیط (چاپیر کیدونکی) دی په کافرانو. که ورسیږی تاته کومه ښیگڼه نو خفه کوی دوی (دغه نیکی له ډیره حسده)

وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ

وَاِنْ	تُصِبْكَ	مُصِيْبَةٌ	يَّقُوْلُوْا	قَدْ	اَخَذْنَآ	اَمْرَنَا	مِنْ قَبْلُ
او که	ورسیږی تاته	کومه سختی	نو وایی دوی	په تحقیق	نیولی ؤ موږ	کار خپل	لا له پخوا ځخه

او که ورسیږی تاته کومه سختی (له زخم یا مرگ) نو وایی دوی په تحقیق نیولی ؤ موږ کار خپل لا له پخوا ځخه

وَيَتَوَلَّوْا وَّهُمْ فَرِحُوْنَ ﴿٥٠﴾ قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ

وَيَتَوَلَّوْا	وَّهُمْ	فَرِحُوْنَ	قُلْ	لَّنْ يُّصِيْبَنَآ
او شاگرځوی دوی	حال دا چی دوی	خوشحاله وی	ووایه (محمده!)	له سره به نه رسیږی موږ ته

او شاگرځوی دوی (ځی ستا له مجلسه) حال دا چی دوی خوشحاله وی. ووایه (ای محمده!) له سره به نه رسیږی موږ ته

اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَاۚ هُوَ مَوْلٰىنَاۚ وَعَلَى اللّٰهِ

اِلَّا	مَا	كَتَبَ	اللّٰهُ	لَنَا	هُوَ	مَوْلٰىنَا	وَعَلَى	اللّٰهِ
مگر	همغه	چی لیکلی دی	الله	زموږ لپاره	همدغه دی	مددگار زموږ	او (خاص) پر همدغه	الله باندی دی

مگر همغه چی لیکلی دی الله زموږ لپاره همدغه (الله) دی مولا (کارجوړوونکی) زموږ، او (خاص) پر همدغه الله باندی دی

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ

فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُؤْمِنُوْنَ	قُلْ	هَلْ	تَرَبَّصُوْنَ	بِنَآ
نو توکل	کوی مؤمنان	ووایه (محمده)!	چی آیا	انتظار کوئ	موږ ته

نو توکل (اعتماد) کوی مؤمنان. ووایه (ای محمده) چی آیا انتظار کوئ موږ ته (یعنی نه کوئ)

اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِؕ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ

اِلَّآ اِحْدَى	الْحُسْنَيَيْنِ	وَنَحْنُ	نَتَرَبَّصُ	بِكُمْ	اَنْ يُّصِيْبَكُمُ
مگر د یوی	له دوو نیکیو ځخه	او موږ	انتظار کوو	تاسی ته	چی ورسوی تاسی ته

مگر دیوی له دوو نیکیو ځخه (شهادت، نصرت) او موږ انتظار کوو تاسی ته (د یوی له دوو بدیو ځخه) چی ورسوی تاسی ته

اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَاِنْ تُصِبْكَ. د منافقینو دیوېِ بلي کم ظرفی بیان

په دغه آیت کي الله ﷻ دمنافقینو دیوېِ بلي کم ظرفی بیان کړی دی چي دا خلگ که څه هم په ښکاره کي تاسي دمسلمانانو سره ووینی لیکن حال دادی چي (ان تصبک حسنة تسؤ هم) یعني که تاته څه فتح او کامیابي حاصلیږي نو پردوی ډیره بده لگیږي او که (وان تصبک مصیبة یقولوا قداخدنا امرنا من قبل ویتولوا وهم فرحون) یعني که تاته څه مصیبت رسیږي نو دا خلگ وایي چي موږ خو داول ځخه پوه وو چي دا خلگ ځانونه په مصیبت کي اچوي په دېِ وجه موږ خپل مصلحت اختیار کی ددوی سره دنه شریکیدلواو دا وایي په خوشحالی خوشحالی بیرته واپس کیږي: په وریسېِ آیت کي الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته او مسلمانانو ته دمنافقینو ددېِ ذکر سوو خبرو ځخه دنه متاثره کیدو او داصل حقیقت په مخکي دراوستوهدایت کړی دی (چي ته په دېِ مادي اسبابو مغروره کیدونکوته ووایه چي دامادي اسباب خو صرف یوه پرده ده په دوی کي دننه کارکوونکی قوت صرف دالله دی الخ.
(معرف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۵۸)

قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا

دمنافقينو صدقات ددوى دفسق دوجي څخه الله ﷻ نه قبلوي: الله ﷻ په دغه اياتونو كي خطاب نبي كريم ﷺ ته كړى دى چي ته دغه منافقينو ته ووايه چي تاسي په جهاد وغيره كي برابره خبره ده كه په خوښى سره يي خرڅوى او كه په ناخوښى سره يي خرڅوى په هيڅ شان دغه خرڅ كړى مال دالله ﷻ په نزد مقبول نه دى ځكه چي بيشكه تاسي نافرماني كوونكي ياست مرا ددي نافرماني څخه كفر دى لكه چي مخ ته به راسي او ددوى دخيرات په قبليدو كي ددې څخه ماسوا بل څه مانع نسته چي دوى دالله ﷻ سره او دهغه درسول سره كفر كړى دى ته يي لويه نافرماني ويلي وه او دكافر هيڅ عمل دقبوليت وړ نه دى او ددې باطني كفر علامه په ښكاره داده چي دغه خلګ لمونځ نه كوي مګر په بې زړه سره او په نيك كار كي خرڅ نه كوي مګر په ناخوښى سره ځكه چي په زړه كي يي ايمان نسته چي دثواب اميد يي وي اوپه دي اميد سره يي رغبت وي محض دبدنامى څخه دخلاصيدو دپاره يي كوي (معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۶۰)

اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۖ

اللّٰهُ	بِعَذَابٍ	مِّنْ عِنْدِهٖٓ	اَوْ بِاَيْدِيْنَا
الله	كوم قسم عذاب	له خپلى خوا	يا په لاسونو زموږ

الله كوم قسم عذاب (خاص) له خپلى خوا (لكه زلزله يا تالنده يا نور) يا په لاسونو زموږ (له قتال، شړل، جزيه يا نور).

فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿۵۲﴾ قُلْ اَنْفِقُوْا

فَتَرَبَّصُوْٓا	اِنَّا	مَعَكُمْ	مُّتَرَبِّصُوْنَ	قُلْ	اَنْفِقُوْا
او انتظار كوئ تاسي	بيشكه! چي موږ	هم له تاسي سره	انتظار كوونكي يو	ووايه	چي لګوئ (خپل مالونه)

او انتظار كوئ تاسي بيشكه! چي موږ هم له تاسي سره انتظار كوونكي يو. ووايه (اى محمده!) چي لګوئ (خپل مالونه)

طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۭ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ

طَوْعًا	اَوْ	كَرْهًا	لَّنْ يُّتَقَبَّلَ	مِنْكُمْ	اِنَّكُمْ	كُنْتُمْ
په رضا	يا	په زور	له سره به قبول نه كړى سى	له تاسي	بيشكه! چي تاسي	يئ

په رضا يا په زور (د اسلام) له سره به قبول نه كړى سى له تاسي بيشكه! چي تاسي يئ

قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ

قَوْمًا	فٰسِقِيْنَ	وَمَا	مَنَعَهُمْ	اَنْ	تُقْبَلَ	مِنْهُمْ
يو قوم	فاسقان	او نه دى	منع كړى دوى	له دى	چي قبول كړى سى	له دوى

يو قوم فاسقان (د اسلام د دايرى څخه وتونكي). او نه دى منع كړى دوى له دى چي قبول كړى سى له دوى

نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ

نَفَقٰتُهُمْ	اِلَّآ	اَنَّهُمْ	كَفَرُوْا	بِاللّٰهِ	وَبِرَسُوْلِهٖ
نفقى د دوى	مګر هم دى خبرى	چي بيشكه! دوى	كافران سوى دى	په الله	او په رسول د دغه (الله)

نفقى د دوى (هيڅ شى) مګر هم دى خبرى چي بيشكه! دوى كافران سوى دى په الله او په رسول د دغه (الله)

وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا

وَلَا يَاْتُوْنَ	الصَّلٰوةَ	اِلَّا	وَهُمْ	كُسَالٰى	وَلَا يُنْفِقُوْنَ	اِلَّا
او نه راځي دوى	لمانځه ته	مګر	په دى حال چي دوى	سست وى	او نه لګوى دوى	مګر

او نه راځي دوى لمانځه ته مګر په دى حال چي دوى سست وى او نه لګوى دوى (د الله په لاره كښى هيڅ مال) مګر

وَهُمۡ كٰرِهُوۡنَ ﴿۵۴﴾ فَلَا تُعۡجِبۡكَ اَمۡوَالُهُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُهُمۡ ؕ

وَهُمۡ	كٰرِهُوۡنَ	فَلَا تُعۡجِبۡكَ	اَمۡوَالُهُمۡ	وَلَاۤ اَوۡلَادُهُمۡ
په دی حال کښې چې دوی	ناخوښه وی	نو په تعجب کښې دی نه آچوی تا	مالونه د دوی	او نه اولاد د دوی

په دی حال کښې چې دوی ناخوښه وی. نو په تعجب کښې دی نه آچوی تا (ډیر) مالونه د دوی او نه (ډیر) اولاد د دوی

اِنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ بِهَا فِى الۡحَيٰوةِ

اِنَّمَا	يُرِيۡدُ	اللّٰهُ	لِيُعَذِّبَهُمۡ	بِهَا	فِى الۡحَيٰوةِ
بیشکه! هم دا خبره ده	چې اراده لری	الله	د دی چې عذاب ورکړی دوی ته	په سبب د هغو	په دغه ژوندانه

بیشکه! هم دا خبره ده چې اراده لری الله د دی چې عذاب ورکړی دوی ته په سبب د هغو (شیانو) په دغه ژوندانه

الدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ اَنۡفُسُهُمۡ وَهُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿۵۵﴾

الدُّنۡيَا	وَتَزۡهَقَ	اَنۡفُسُهُمۡ	وَهُمۡ	كٰفِرُوۡنَ
دنیوی کښې	او راووځی	ارواح د دوی	حال دا چې دوی	کافران وی

دنیوی کښې او (په سختئ او غم) راووځی ارواح د دوی حال دا چې دوی کافران وی.

وَيَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمۡ لَمِنۡكُمۡ ؕ وَمَا هُمۡ مِّنۡكُمۡ

وَيَحۡلِفُوۡنَ	بِاللّٰهِ	اِنَّهُمۡ	لَمِنۡكُمۡ	وَمَا هُمۡ	مِّنۡكُمۡ
او قسمونه کوی	په الله	چې بیشکه! دوی	خامخا له (ډلی) ستاسی څخه دی	حال دا چې نه دی دوی	له تاسی څخه

او قسمونه کوی په الله چې بیشکه! دوی خامخا له (ډلی) ستاسی څخه دی حال دا چې نه دی دوی له (ډلی) ستاسی څخه

وَلٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٌ يَّفۡرَقُوۡنَ ﴿۵۶﴾ لَوۡ يَجِدُوۡنَ مَلۡجَاً

وَلٰكِنَّهُمۡ	قَوۡمٌ	يَّفۡرَقُوۡنَ	لَوۡ يَجِدُوۡنَ	مَلۡجَاً
ولیکن دوی	قوم دی	چې بیریږی (له تاسی)	که پیدا کړی دوی ځای	د پناه

ولیکن دوی (داسی یو) قوم دی چې بیریږی (له تاسی) که مومی دوی ځای د پناه

اَوۡ مَغٰرٰتٍ اَوۡ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوۡا اِلَيۡهِ وَهُمۡ يَجۡمَحُوۡنَ ﴿۵۷﴾

اَوۡ مَغٰرٰتٍ	اَوۡ مُدَّخَلًا	لَّوَلَّوۡا	اِلَيۡهِ	وَهُمۡ	يَجۡمَحُوۡنَ
یا غارونه	یا بل کوم ځای د ننوتلو	خامخا ګرځیدلی به وو دوی	هغه ته	حال دا چې دوی	به منډی وهلی.

یا غارونه یا بل کوم ځای د ننوتلو (او د پناه نو) خامخا ګرځیدلی به وو دوی هغه ته حال دا چې دوی به منډی وهلی.

اِنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ بِهَا.. دمنافقینو مال او اولاد ددوی دپاره نعمت نه دی عذاب دی: په دغه ذکر سوو ایاتونو کې دمنافقینو دبدو اخلاقو او بدو عملونو مضمون بیان سوی دی الله ﷻ فرمایي اِنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ بِهَا چې دمنافقینو مال او اولاد ددوی دپاره نعمت نه دی عذاب دی: وجه دړي داده چې ددنیا په محبت کې ورکیدل دانسان دپاره په دې دنیا کې عذاب او مصیبت جوړیږي اول ددنیا دمال حاصلولو ارزوګانو او بیا ددې په تدبیرونو کې خومره خومره محنتونه، مشقتونه او جسماني او روحاني سختئ برداشت کړل کیږي نه دورځې ارام او نه دشپې خوب وي نه دخپل تن او بدن څخه خبروي او نه ورته دخپل اهل او عیال خبر وي او که لږ څه نقصان وسي ورته یا یو څه ناجوړي ورته پیښه سي نو دغمونو یو غر پر راپریوزي او که ټول شیان په اتفاق سره دطبیعت او خواهش موافق حاصل هم سي نو بیا ددغه شیانو دکمیدو فکر او دزیاتولو فکرونه ور سره مل وي او ښکاره ده خبره چې داسي دنیا خو عذاب دی. (معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۶۱)

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّلۡمِزُكَ فِي الصَّدَقٰتِ ۚ فَاِنۡ اُعۡطُوۡا

وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ	يَّلۡمِزُكَ	فِي	الصَّدَقٰتِ	فَاِنۡ	اُعۡطُوۡا
او ځینی له دغو څخه	هغه دی	چې عیب وائی ستا	په	(تقسیم) د صدقاتو کښې	نو که	ورکړه سی دوی ته

او ځینی له دغو (منافقانو) څخه هغه دی چې عیب وائی ستا په (تقسیم) د صدقاتو کښې نو که ورکړه سی دوی ته

مِنۡهَا رَضُوۡا وَاِنۡ لَّمۡ يُعۡطَوۡا مِنۡهَاۤ اِذَا هُمۡ يَسۡخَطُوۡنَ ﴿٥٨﴾

مِنۡهَا	رَضُوۡا	وَاِنۡ	لَّمۡ يُعۡطَوۡا	مِنۡهَاۤ	اِذَا هُمۡ	يَسۡخَطُوۡنَ
له هغی څخه	راضی کیږی	او که	ورنه کړی سی دوی ته	له هغه څخه	نو هغه وخت دوی	په قهریږی

له هغی څخه راضی کیږی (په دی قسمت سره) او که ورنه کړی سی دوی ته له هغه څخه نو هغه وخت دوی په قهریږی.

وَلَوۡ اَنَّهُمۡ رَضُوۡا مَاۤ اٰتٰـهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ ۙ

وَلَوۡ	اَنَّهُمۡ	رَضُوۡا	مَاۤ	اٰتٰـهُمُ	اللّٰهُ	وَرَسُوۡلُهٗ
او که	په تحقیق دوی	راضی سوی وی	په هغه چې	ورکړی ؤ دوی ته	الله	او رسول د دغه (الله)

او که په تحقیق دوی راضی سوی وی په هغه چې ورکړی ؤ دوی ته الله او رسول د دغه (الله)

وَقَالُوۡا حَسۡبُنَا اللّٰهُ سَيُؤۡتِيۡنَا اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ

وَقَالُوۡا	حَسۡبُنَا	اللّٰهُ	سَيُؤۡتِيۡنَا	اللّٰهُ	مِنۡ	فَضۡلِهٖ
او ویلی وی دوی	کافی دی موږ ته	الله	ژر به راکړی موږ ته	الله	له	فضل خپل

او ویلی وی دوی کافی (بس) دی موږ ته الله ژر به راکړی موږ ته الله له فضل (احسان رحمت) خپل

وَرَسُوۡلُهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوۡنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ

وَرَسُوۡلُهٗۤ	اِنَّاۤ	اِلَى اللّٰهِ	رٰغِبُوۡنَ	اِنَّمَا	الصَّدَقٰتُ
او رسول د دغه	بیشکه! موږ	الله ته	رغبت کوونکی یو	بیشکه! هم داخبره ده	چې صدقی

او رسول د دغه بیشکه! موږ الله ته رغبت (تمه) کوونکی یو. بیشکه! هم داخبره ده چې صدقی (زکات صرفیږی)

لِلۡفُقَرَآءِ وَالۡمَسٰكِيۡنِ وَالۡعٰمِلِيۡنَ عَلَيۡهَا وَالۡمُؤَلَّفَةِ

لِلۡفُقَرَآءِ	وَالۡمَسٰكِيۡنِ	وَالۡعٰمِلِيۡنَ	عَلَيۡهَا	وَالۡمُؤَلَّفَةِ
لپاره د فقیرانو	او مسکینانو	او عاملانو دی	پر هغه	او هغو ته چې الفت اچولی سی

لپاره د فقیرانو او مسکینانو او عاملانو (مقررو) پر هغه (تحصیل د صدقی) او هغو ته چې الفت (آشنائی) اچولی سی

اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَالۡمَسٰكِيۡنِ... دزکوة د مستحقینو بیان او دیوې اشتباه لیري کیدل: په دغه ایت کي الله ﷻ دصدقو مصرفونه مقررکړل او ددوی داغلط فهمي یي لیري کړل چي الله ﷻ داخبره خپله مقرره کړیده چي صدقې کمو خلگو لره ورکول پکار دي او نبي کریم ﷺ دصدقو په تقسیم کي دالله ﷻ د ارشاد موافق عمل فرمایلی دی په خپله رایه سره هیڅ هم نه کوي ددې خبري تصدیق دیو حدیث شریف څخه هم کیږي: زیاد بن حارث صدایي رضي الله عنه فرمایي چي زه دنبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو معلومه سوه چي دوی ﷺ دده دقوم د مقابلې دپاره یو لښکر دمسلمانانو روانوي ما عرض وکی چي یارسول الله ﷺ تاسي لښکر مه لیږی زه ددې ذمه داري اخلم چي دوی به ټول حکم مني او تاسي ته به فرمانبرداره حاضر سي بیا ما خپل قوم ته خط ولیږی نو دوی ټول مسلمانانو سول نو پر دې باندي دوی وفرمایل (یا اخاصداء المطاع فی قومه) چي په دي کي گویا ده ته دا خطاب ورکول سو چي دی دخپل قوم محبوب مقتداء دی: پاته بیان پر راروان مخ وگوری

ع ١٣

قُلُوْبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

قُلُوْبُهُمْ	وَفِي	الرِّقَابِ	وَالْغٰرِمِيْنَ	وَفِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ
پەزړونو د دوی کښې	او په	غاړو کښې	او پوروړو	او په	لاره	دالله کښې

پەزړونو د دوی کښې (لەاسلام سره) او (صرفیږی) پەغاړو کښې دنادارو مکاتبانو او پوروړو او پەلاره د الله کښې

وَابْنِ السَّبِيْلِ ۚ فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٠﴾

وَابْنِ السَّبِيْلِ	فَرِيْضَةً	مِّنَ	اللّٰهِ	وَ	اللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ
او مسافرانو	فریضه (زکات)	له (جانبه)	دالله	او	الله	پەهرڅه ښه پوه	او د حکمت خاوند دی

او مسافرانو ، دغه فریضه (زکات) له (جانبه) د الله دی (دغو مصارفولره) او الله پەهر څه ښه پوه او د حکمت خاوند دی.

وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ

وَمِنْهُمُ	الَّذِيْنَ	يُؤْذُوْنَ	النَّبِيَّ	وَيَقُوْلُوْنَ	هُوَ
او ځینې لەدوی	هغه کسان دی	چې آزار رسوی دوی	نبی ته	او وائی چې	دغه (رسول تول)

او ځینی لەدوی هغه کسان دی چې آزار رسوی دوی نبی ته او وائی چې دغه (رسول تول)

اُذُنٌ ۚ قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

اُذُنٌ	قُلْ	اُذُنُ	خَيْرٍ	لَّكُمْ	يُؤْمِنُ	بِاللّٰهِ
غوږونه دی	ووایه	چې دی آوریدونکی	د نیکی (خبری)	ستاسی دی	باور یقین لری دی	په الله

غوږونه دی ووایه (ای محمده!) چې دی آوریدونکی دنیکی (خبری) ستاسی دی باور یقین لری دی په (کلام د) الله

وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۚ

وَيُؤْمِنُ	لِلْمُؤْمِنِيْنَ	وَرَحْمَةٌ	لِّلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مِنْكُمْ
او باور کوی دی	پەمؤمنانو	او (دی) رحمت دی	دپاره د هغو کسانو	چې ایمان یئ راوړی دی	لەتاسی

او باور کوی دی په (خبرو د خالصو) مؤمنانو او (دی) رحمت دی دپاره د هغو کسانو چې ایمان یئ راوړی دی لەتاسی

وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُوْنَ

وَالَّذِيْنَ	يُؤْذُوْنَ	رَسُوْلَ	اللّٰهِ	لَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	يَحْلِفُوْنَ
او هغه کسان	چې آزار رسوی	رسول	الله ته	مقرر دی دوی ته	عذاب	دردناک	قسمونه خوری دوی

او هغه کسان چې آزار رسوی رسول الله (محمد) ته مقرر دی دوی ته عذاب دردناک. قسمونه خوری دوی

وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری :
ماعرض وکی چي پە دي کي زما هیڅ کمال نسته دالله ﷻ پە کرم سره دوی تە دا هدیت حاصل سواو دوی مسلمانان سول دی فرمایي چي زە لا پە دې مجلس کي حاضر وم چي یو سړی دنبي کریم ﷺ پە خدمت کي دڅه سوال او غوښتلو دپاره حاضر سو دوی ﷺ داجواب ورکی چي دصدقو تقسیم الله ﷻ چا نبي یاغیر نبي تە هم نە دی حوالە کړی بلکي پە خپلە یي ددې اتە مصرفونه مقرر کړي دي کە تاسي پە دې اتو کي داخل یاست نو زە یي تاسي تە درکولی سم : نوداحدیث شریف صفا او بې غبارە دلیل دی چي دصدقاتو مستحقین الله ﷻ پە خپلە متعین کړي دي نە داچي دالله ﷻ رسول ﷺ پر خپل سر دااتە مصرفە بیان کړي دي نو پە دي کي دمنافقینو هغە اشتباە هم لیري سوه چي ددوی پە زړو کي وه چي کیدای سي دغە مصرفونه دصدقې نبي کریم ﷺ خپلە خودسریزه (العیاذ بالله) کړی وي حالانکي داغلط فکر او خیال دی.
(معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۶۳)

بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَحَقُّ اَنْ

بِاللّٰهِ	لَكُمْ	لِيُرْضُوْكُمْ	وَاللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗٓ	اَحَقُّ	اَنْ
په الله	تاسي ته	دپاره د دي چي راضي كړي دوى تاسي	او الله	او رسول د دغه (الله)	ډير حق دار دى	د دى خبرى چي

په الله تاسي ته دپاره د دي چي راضي كړي دوى تاسي، او الله او رسول د دغه (الله) ډير حق دار دى د دى خبرى چي

يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۲﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ

يُّرْضُوْهُ	اِنْ	كَانُوْا	مُؤْمِنِيْنَ	اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا	اَنَّهٗ
راضي كړي دغه هغه	كه	وي دوى	ايمان راوړونكي	آيا نه دي پوه سوي دوى	په دي چي بيشكه!

راضي كړي دغه (منافقان) هغه (رسول) كه وي دوى ايمان راوړونكي. آيا نه دي پوه سوي دوى په دي چي بيشكه! شان دادى

مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ

مَنْ	يُّحَادِدِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَاَنَّ	لَهٗ	نَارَ	جَهَنَّمَ
هر څوك چي	مخالفت كوي	د الله	او د رسول د الله	پس بيشكه!	مقرر دى ده ته	اور	د دوزخ

هر څوك چي مخالفت كوي د الله او (مخالفت كوي) د رسول د الله پس بيشكه! مقرر دى ده ته اور د دوزخ

خَالِدًا فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۳﴾ يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ

خَالِدًا	فِيْهَا	ذٰلِكَ	الْخِزْيُ	الْعَظِيْمُ	يَحْذَرُ	الْمُنٰفِقُوْنَ	اَنْ
حال دا چي هميشه به وي دى	په دغه دوزخ كښي	او هم دغه	رسوائي ده	ډيره لويه	بيريږي	دغه منافقان	له دي څخه چي

حال دا چي هميشه به وي دى په دغه دوزخ كښي او هم دغه رسوائي ده ډيره لويه. بيريږي دغه منافقان له دي څخه چي

تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۭ قُلِ

تُنَزَّلَ	عَلَيْهِمْ	سُوْرَةٌ	تُنَبِّئُهُمْ	بِمَا	فِيْ	قُلُوْبِهِمْ	قُلِ
نازل كړى سي	پر دغو	سورت	چي خبروي دغه	په هغه	چي په	زړونو د دوى كښي دى	وواېه

نازل كړى سي پر دغو سورت چي خبروي دغه (مؤمنان) په هغه (كفر او نفاق) چي په زړونو د دوى كښي دى، وواېه

اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَىِٕنْ

اسْتَهْزِءُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	مُخْرِجٌ	مَّا	تَحْذَرُوْنَ	وَلَىِٕنْ
چي كوئ تاسي مسخرى	بيشكه! چي	الله	ښكاره كوونكى دى	دهغو	چي بيريږئ تاسي	او قسم دى خامخا

(اى محمده!) چي كوئ تاسي مسخرى بيشكه! چي الله ښكاره كوونكى دى دهغو چي بيريږئ تاسي ځيني. او قسم دى خامخا

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ..

دمنافقينو عبث اعتراضونه او نبي كريم ﷺ ته ازار رسول:

تر دغه آيت په مخكي ايت كي الله ﷻ دمنافقينو عبث اعتراضونه او نبي كريم ﷺ ته دآزار رسولو او بيا ددرواغو قسمونو خوړلو او دخپل ايمان دښوولو واقعات او پر دې خبرداري وركوي: هغه داسي چي داخلګ دنبي كريم ﷺ متعلق په طور دمسخرو داوايي چي دى خو بس غوږونه دي يعني څه چي دچا څخه اوري په هغه يقين كوي په دې وجه زموږ هيڅ فكر نسته كه زموږ سازش ښكاره هم سي نو موږ به بيا قسمونه واخلو او دوى ته به دخپلي پاكي يقين وركړو ددې په جواب كي الله ﷻ ددوى دبې وقوفي ښكاره كړه چي دوى كمي دمنافقينو او مخالفينو خبري اوري او دخپل ښه خوى پر بناء باندي خاموش پاته كيږي په دې سره دا مه ګڼي چي دوى دحال په حقيقت نه دي خبرصرف ستاسي په وينا يقين كوي بلكي دوى دهر څه دپوره پوره حقيقت څخه خبر دي دخپل نفس دشرافت او كرم په بناء باندي مخامخ ستاسي رد نه كوي.

معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۸۷

سَاَلۡتَهُمۡ لَيَقُوۡلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوۡضُ

سَاَلۡتَهُمۡ	لَيَقُوۡلُنَّ	اِنَّمَا	كُنَّا	نَخُوۡضُ
که پوښتنه وکړې ته له دوی څخه	نو ضرور به وائی خامخا دوی	چی بیشکه! هم داخبره ده	چی وو موږ	چی مجلس مو کوی

که پوښتنه وکړې ته له دوی څخه نو ضرور به وائی خامخا دوی چی بیشکه! هم داخبره ده چی وو موږ چی مجلس

وَنَلۡعَبُ ؕ قُلۡ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوۡلِهٖ كُنۡتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿٦٥﴾

وَنَلۡعَبُ	قُلۡ	اَبِاللّٰهِ	وَاٰيٰتِهٖ	وَرَسُوۡلِهٖ	كُنۡتُمۡ	تَسۡتَهۡزِءُوۡنَ
اولوبی مو کولی	ووايه	آیا په الله	او په آیتونو د الله	او په رسول د الله پوری	وئ تاسی چی	استهزاء به مو کوله

او لوبی مو کولی، ووایه (محمده!) آیا په الله او په آیتونو د الله او په رسول د الله پوری وئ تاسی چی استهزاء به مو کوله.

لَا تَعۡتَذِرُوۡا قَدۡ كَفَرۡتُمۡ بَعۡدَ اِيۡمَانِكُمۡ ؕ اِنۡ نَّعۡفُ عَنۡ

لَا تَعۡتَذِرُوۡا	قَدۡ	كَفَرۡتُمۡ	بَعۡدَ	اِيۡمَانِكُمۡ	اِنۡ	نَّعۡفُ	عَنۡ
عذرونه مه کوئ تاسی	په تحقیق	کافران سوی یئ	وروسته له	ایمان ستاسی	که	عفوه وکړو موږ	له

عذرونه مه کوئ تاسی په تحقیق (ظاهراً هم) کافران سوی یئ وروسته له (اظهار د) ایمان ستاسی که عفوه وکړو موږ له

طَآئِفَةٍ مِّنۡكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةًۢ بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا

طَآئِفَةٍ	مِّنۡكُمۡ	نُعَذِّبۡ	طَآئِفَةً	بِاَنَّهُمۡ	كَانُوۡا
یوی ډلی	د تاسی څخه	نو ضرور عذاب به ورکړو	بلی ډلی ته	په سبب د دی چی دوی بیشکه!	وو

یوی ډلی د تاسی څخه نو ضرور عذاب به (هم) ورکړو بلی ډلی ته په سبب د دی چی دوی بیشکه! وو

مُجۡرِمِيۡنَ ﴿٦٦﴾ اَلۡمُنٰفِقُوۡنَ وَالۡمُنٰفِقٰتُ بَعۡضُهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡضٍ

مُجۡرِمِيۡنَ	اَلۡمُنٰفِقُوۡنَ	وَالۡمُنٰفِقٰتُ	بَعۡضُهُمۡ	مِّنۡۢ بَعۡضٍ
ګناهګاران	سړی منافقان	او ښځی منافقانی	ځینی د دوی	له ځینو نورو دی

ګناهګاران. سړی منافقان او ښځی منافقانی ځینی د دوی له ځینو نورو دی

يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمُنۡكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمَعۡرُوۡفِ

يَاۡمُرُوۡنَ	بِالۡمُنۡكَرِ	وَيَنۡهَوۡنَ	عَنِ	الۡمَعۡرُوۡفِ
امر کوی	پر منکراتو	او منع کوی دوی	له	نیکیو څخه

(او په کفر او په نفاق کښی تول سره یو شان دی) امر کوی پر منکراتو او منع کوی دوی (خلګ) له نیکیو څخه

اَلۡمُنٰفِقُوۡنَ وَالۡمُنٰفِقٰتُ بَعۡضُهُمۡ.. منافقين نر او ښځي تولـه يو رکم دي يعني داسلام خلاف تعليم ورکوي: په دغه آيت کي الله ﷻ دمنافقينو يوحالت دغه ذکر کړی چي دوی خپل لاسونه بند ساتي فرمايي (يقبضون ايديهم) په تفسير قرطبي کي دي چي دلاسونو دبند و ساتلو مطلب دادی چي دوی جهاد نه کوي او واجب حقونه نه اداء کوي نوکم همته هم دي او کم ظرفه او بخيلان هم دي: بيا الله ﷻ وفرمايل (نسوا الله فنسيهم) ددي ښکاره معنی داده چي دي خلګو الله ﷻ هير کړی نو الله ﷻ دوی هير کړل: اوس خبره داده چي الله ﷻ خو دهيريدو څخه منزه او پاک ذات دی مراد دلته دادی چي دي خلګو دالله ﷻ حکمونه داسي پريښوول لکه چي بي هير سوي دي نو الله ﷻ هم دوی دآخرت دثواب په معامله کي داسي پريښوول چي په نيکي او ثواب کي هم هيڅکله ددوی نوم رانغلي او پر دوی بي خپل خاص رحمت ونه کړی په هغه ورځ چي ټولـه مخلوقات دالله ﷻ په حضور کي حاضري ورکوي دوی به دذلت سره مخ وي. (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۹۰)

ع ٨ / ١٤

وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ

وَيَقْبِضُوْنَ	اَيْدِيَهُمْ	نَسُوا	اللّٰهَ	فَنَسِيَهُمْ	اِنَّ
او کلک نیسي دوی	لاسونه خپله	هیر کړی دی دوی	الله	نو بې برخې کړی دی دوی	بیشکه! چې

او کلک نیسي دوی لاسونه خپل هیر کړی دی دوی الله نو (الله) بې برخې کړی دی دوی (له خپل رحمت څخه) بیشکه! چې

الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ

الْمُنٰفِقِيْنَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ	وَعَدَ	اللّٰهُ	الْمُنٰفِقِيْنَ
منافقان	هم دوی دی	فاسقان	وعده کړې ده	الله	له منافقانو سړیو سره

منافقان هم دوی دی فاسقان. وعده کړې ده الله له منافقانو سړیو سره

وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

وَالْمُنٰفِقٰتِ	وَالْكُفَّارَ	نَارَ	جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا
او له منافقانو ښځو سره	او له کفارو سره	اور	د دوزخ	تل به وی	په دغه کښې

او له منافقانو ښځو سره او له (ټولو) کفارو سره اور د دوزخ تل به وی (دوی) په دغه (دوزخ) کښې

هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ ۙ

هِيَ	حَسْبُهُمْ	وَلَعَنَهُمُ	اللّٰهُ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	مُّقِيْمٌ
هم دغه دوزخ	بس دی دوی ته	او لعنت کړی دی پر دوی	الله	او مقرر دی دوی ته	عذاب	تل مدام

هم دغه دوزخ بس دی دوی ته، او لعنت کړی دی په دوی الله او مقرر دی دوی ته عذاب تل مدام (برقرار پاتې کیدونکی).

كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً

كَالَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	كَانُوْٓا	اَشَدَّ	مِنْكُمْ	قُوَّةً
په شان د هغو کسانو یئ	چې پخوا له تاسی څخه وو	وو	هغوی سخت	له تاسی	له جهته د زوره

(تاسی ای منافقانو) په شان د هغو کسانو یئ چې پخوا له تاسی څخه وو، وو هغوی سخت له تاسی له جهته د زوره

وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ

وَّاَكْثَرَ	اَمْوَالًا	وَّاَوْلَادًا	فَاسْتَمْتَعُوْا	بِخَلَاقِهِمْ
او زیات	له جهته د مالونو	او اولادونو	نو نفع واخیسته دوی	په برخې خپلې

او زیات له جهته د مالونو او اولادونو، نو نفع واخیسته دوی په برخې خپلې (له دنیوی لذتونو)

كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ مسلمانان به هم یو خت د یهودو او نصاراوو طریقې اختیاره کي: ددغې جملې یو تفسیر خو دادی چې داخطاب منافقینو ته دی لکه چې په لنډ تفسیر کي راغلي دي دوهم تفسیر یې دادی چې خطاب مسلمانانو ته دې یعني (انتم کالذین من قبلکم) مراد دادی چې تاسي خلګ هم ترڅان دمخکي خلګو په شان یاست څنګه چې دغه خلګ ددنیا په خوندونو کي ورک سول آخرت یې هیرکی او په قسم قسم ګناهونو او بدو اخلاقو کي اخته سول تاسي به هم دغه خلګ سی: ددې آیت په تفسیر کي حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت کړی دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې تاسي به هم هغه طریقې اختیاره کی کمي چې تر تاسو مخکي امتونو اختیاري کړي وي لاس په لاس او لویشت په لویشت یعني هو بهو ددوی نقل به کوی تر دې چې که په دوی کي څوک د سمساري په غار ننوتلی وو نو تاسي به هم ننوزی. ابوهریره رضي الله عنه وروسته وفرمایل چې ددې خبري تصدیق په دغه ایت کي وګوری.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۹۰)

فَاسۡتَمۡتَعۡتُمۡ بِخَلَاقِكُمۡ كَمَا اسۡتَمۡتَعَ الَّذِيۡنَ

فَاسۡتَمۡتَعۡتُمۡ	بِخَلَاقِكُمۡ	كَمَا	اسۡتَمۡتَعَ	الَّذِيۡنَ
نو گټه واخيسته تاسي	په برخي خپلي	لکه چي	گټه اخيستي وه	هغو کسانو چي

نو گټه (فائده) واخيسته تاسي په برخي خپلي لکه چي گټه (فائده) آخيستي وه هغو کسانو چي

مِنۡ قَبۡلِكُمۡ بِخَلَاقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَالَّذِيۡ

مِنۡ قَبۡلِكُمۡ	بِخَلَاقِهِمۡ	وَخُضۡتُمۡ	كَالَّذِيۡ
پخوا وو له تاسي څخه	په برخي خپلي سره	او ډوب سوی تاسي په باطلو کښې	په شان د هغو کسانو

پخوا وو له تاسي څخه په برخي خپلي سره او ډوب سوی تاسي په باطلو کښې په شان د هغو کسانو چي

خَاضُوۡا ؕ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ فِي الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ ۚ

خَاضُوۡا	اُولٰٓئِكَ	حَبِطَتۡ	اَعۡمَالُهُمۡ	فِي الدُّنۡيَا	وَالۡاٰخِرَةِ
چي ډوب سوي وو په باطلو کښې	دغه کسان	باطل سول	عملونه د دوی	په دنيا	او آخرت کښې

ننوتلي وه په باطلو کښې پخوا له تاسي، دغه کسان باطل (خراب محو) سول عملونه د دوی په دنيا او آخرت کښې

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ۝٦٩ اَلَمۡ يَاۡتِهِمۡ نَبَاُ الَّذِيۡنَ

وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الۡخٰسِرُوۡنَ	اَلَمۡ يَاۡتِهِمۡ	نَبَاُ	الَّذِيۡنَ
او دغه کسان	هم دوی دي	زيانکاران	آيا نه دی راغلی دوی ته	خبر	هغو کسانو چي

او دغه کسان هم دوی دي زيانکاران. آيا نه دی راغلی دوی ته خبر (دعذاب د) هغو کسانو چي

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوۡحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوۡدَ ۬ وَقَوۡمِ اِبۡرٰهِيۡمَ

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	قَوۡمِ	نُوۡحٍ	وَّعَادٍ	وَّثَمُوۡدَ	وَقَوۡمِ	اِبۡرٰهِيۡمَ
پخوا وو له دوی څخه	قوم	د نوح	او عاد	او ثمود	او قوم	د ابراهيم

پخوا وو له دوی څخه قوم د نوح او عاد او ثمود، او قوم د ابراهيم

وَاَصۡحٰبِ مَدۡيَنَ وَالۡمُؤۡتَفِكٰتِ ؕ اَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُمۡ

وَاَصۡحٰبِ	مَدۡيَنَ	وَالۡمُؤۡتَفِكٰتِ	اَتَتۡهُمۡ	رُسُلُهُمۡ
او څښتنان	د مدين	او د چپه سوو آړول سوو کليو	چي راوړي وی دوی ته	رسولانو د دوی

او څښتنان د (ښار د) مدين او د چپه سوو آړول سوو کليو (د لوط)، چي راوړي وی دوی ته رسولانو د دوی

كَمَا اسۡتَمۡتَعَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ بِخَلَاقِهِمۡ.. منافقين هم په کفر او په استحقاق دسزاکي د تيرو قومونو په شان دي: الله ﷻ فرمايي اى منافقينو ستاسي حالت (دکفر او په مستحق کيدو کي دسزا) دهغه خلگو په شان دی کم چي تر تاسي په مخکي زمانه کي تير سوي دي چي په سخت والي دطاقت کي او په ډير والي دمال او اولادکي ستاسي څخه هم زيات وه نو دوی دخپلي دنيوي حصې څخه ښه فايده واخيسته او تاسي هم په بدو خبرو کي داسي ننوتلي ياست لکه چي دغه خلگ په بدو خبر کي ننوتلي وه ددې خلگو نيک عملونه په دنيا او آخرت ټولو کي ضايع سول چي په دنيا کي پر دې عملونو ثواب زيری نسته او په آخرت کي يي هم ثواب نسته او په وجه دحبطه کيدو دعمل په دنيا او آخرت کي دغه خلگ په لوی نقصان کي دي چي په دواړه جهانه دخوشحالی او راحت څخه محرومه دي پس دغه رکم تاسي هم ددوی په شان کفر کوی نو ددوی په شان تاوان کوونکي او زيانکاره سواست او خپل آخرت مو تباه کی.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۸۹)

بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ

بِالْبَيِّنٰتِ	فَمَا	كَانَ	اللّٰهُ	لِيَظْلِمَهُمْ	وَلٰكِنْ
ښکاره معجزی	نو نه	ؤ	الله	چې ظلم به ئې کاوه پر دوی	لیکن

ښکاره معجزی نو نهٔ ؤ الله چې ظلم به ئې کاوه په دوی لیکن

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝٧٠ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

كَانُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ	وَالْمُؤْمِنُوْنَ
وو دوی	چې په ځانونو خپلو به ئې	ظلم کاوه	او سړی مؤمنان

وو دوی چې په ځانونو خپلو به ئې ظلم کاوه (په کفر او تکذیب سره). او سړی مؤمنان

وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ

وَالْمُؤْمِنٰتُ	بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ	يَاْمُرُوْنَ
او ښځې مؤمنانې	ځینې د دوی	دوستان دی	دځینو نورو	حکم کوی دوی

او ښځې مؤمنانې ځینې د دوی دوستان دی د ځینو نورو (په ایمان کښې تول سره یو شان دی) حکم کوی دوی

بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ

بِالْمَعْرُوْفِ	وَيَنْهَوْنَ	عَنِ	الْمُنْكَرِ	وَيُقِيْمُوْنَ
په نیکیو سره	او منع کوی	له	بدیو څخه	چې سم دروی

په نیکیو (چې د الله او د رسول الله اطاعت دی) او منع کوی له بدیو چې او دروی (له تولو حقوقو سره سم اداء کوی)

الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

الصَّلٰوةَ	وَيُؤْتُوْنَ	الزَّكٰوةَ	وَيُطِيْعُوْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ
لمونځ	او ورکوی دوی	زکات	او حکم منی	د الله	او د رسول د الله

لمونځ او ورکوی دوی زکات او حکم منی د الله او (حکم منی) د رسول الله

اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝٧١

اُولٰٓئِكَ	سَيَرْحَمُهُمُ	اللّٰهُ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ
دغه کسان	ژر به رحم وکړی پر دوی	الله	بیشکه! چې	الله	ښه غالب قوی دی	ښه د حکمت خاوند

دغه کسان ژر به رحم وکړی په دوی الله بیشکه! چې الله ښه غالب قوی دی ښه د حکمت خاوند.

وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ

دمخلصینو مومنانو حالات او ددوی دثواب او ددرجو بیان : په ذکر سوو ایاتونو کي الله ﷻ د مخلصینو مومنانو حالات او ددوی دثواب ذکر کړی دی: دلته دا خبره دغور قابله ده چي پردې موقع دمنافقینو او مخلصینو مسلمانانو مقابله سوې ده مګریو ځای دمنافقینو په باره کي خويي دا وفرمايل (بعضهم من بعض) او ددې په مقابله کي چي دمومنانو ذکر راغی نو په دې کي فرمايي (بعضهم اولیآء بعض) په دې کي اشاره ده چي دمنافقینو دیو بل سره تعلقات او رابطي محضي په خانداني شریکوالي یا غرضونو باندي مبني وي نه یي عمراووخت زیات وي او نه پر دې هغه فايده مرتب وي کمه چي دزړه ددوستی اودزړه پر همدردی باندي مرتّب وي په خلاف دمومنانو څخه چي دوی دیو بل مخلص دوستان او ربښتيني همدرد وي. (قرطبي) او چونکي دا دوستي او همدردي د الله ﷻ دپاره وي نو دا په ښکاره اوپه باطن او په مخامخ او وروسته د شاپسي يوډول وي الخ.
(معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۱۹۲)

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

وَعَدَ	اللّٰهُ	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ
وعده کړې ده	الله	له نارینهؤ مؤمنانو	او له ښځو مؤمنانو سره	دجنتونو	چې بهیږي

وعده کړې ده الله له نارینهؤ مؤمنانو او له ښځو مؤمنانو سره د جنتونو چې بهیږي

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً

مِنْ	تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	وَمَسٰكِنَ	طَيِّبَةً
له	لاندې دهغو	ویالې	تل به وي دوی	په دغو کښې	او دځايونو	پاکو

له لاندې (دمانیو او ونو) دهغو (ځلور قسمه) ویالې تل به وي دوی په دغو (جنتونو) کښې او دځايونو پاکو

فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ

فِيْ	جَنّٰتِ	عَدْنٍ	وَرِضْوَانٌ	مِّنَ اللّٰهِ	اَكْبَرُ	ذٰلِكَ
په	جنتونو	دتل اوسیدلو کښې	او رضاء	دالله	ډیره لویه ده	دغه (رضاء دالله)

په جنتونو د تل او سیدلو کښې، او رضاء له (جانبه د) الله ډیره لویه ده، دغه (رضاء دالله ده)

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۷۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ

هُوَ	الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ	يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	جَاهِدِ	الْكُفَّارَ
هم دغه	بري دی	ډیر لوی	ای	نبي (محمده!)	جهاد کوه	له کفارو سره

هم دغه بري دی ډیر لوی. ای نبي (محمده!) جهاد کوه ته له کفارو سره (په توره)

وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ

وَالْمُنٰفِقِيْنَ	وَاغْلُظْ	عَلَيْهِمْ	وَمَاْوٰىهُمْ
او له منافقانو سره	او سختي کوه	پر دوی	او (آخرې) ځای دورتلو د دوی

او له منافقانو سره (په حجت او اقامت د حدودو) او سختي کوه پر دوی، او (آخرې) ځای د ورتلو د دوی

جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۷۳﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ

جَهَنَّمُ	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	يَحْلِفُوْنَ	بِاللّٰهِ
دوزخ دی	او بد	ځای دېیرته ورتلو دی	قسمونه خوري دوی	په الله باندې

دوزخ دی، او بد ځای د بیرته ورتلو دی (دا دوزخ). قسمونه خوري دوی په الله باندې

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ. دكفارو او منافقينو دواړو سره دجهاد حكم او دهغه تاكيد : په دغه آيت كي الله جل جلاله دكفارو او منافقينو دواړو ډلو سره دجهاد او ددوی په معامله كي دسختی اختيارولو حكم نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته وركړی دی دظاهري كافرانو سره دجهاد معامله خو ښكاره خبره ده ليكن دمنافقينو سره دجهاد مطلب په خپله دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دعمل څخه دا ثابت سوی دی چي دا ددوی سره زباني جهاد دی چي دوی ته داسلام په حقوالي ده پوهيدووطرفته يي بلنه وركړي ده چي دوی داسلام په خپله دعوی كي مخلصان سي (تفسير قرطبي او مظهري) او بيا فرمايي چي (واغلظ عليهم) لفظ دغلظ اصلي معنی داده چي دمخاطب سره كم طرز عمل په كار وي په هغه كي كمی ونه سي او نه په كښي نرمي او رعايت وسي دالفظ د (رأفة) په مقابله كي استعماليږي چي ددې معنی رحمت او رحمدلي ده : مطلب دا چي پر دوی باندي دشرعي احكامو په جاري كولو كي څه رعايت او نرمي ورسره ونه سي.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۹۲)

ع ۱۵

مَا قَالُوْا ؕ وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَ كَفَرُوْا

مَا قَالُوْا	وَلَقَدْ	قَالُوْا	كَلِمَةَ	الْكُفْرِ	وَ كَفَرُوْا
چې نه دي ويلې دوی	او خامخا په تحقيق	ويلې وه دوی	كلمه	دكفر	او كافران سوي دي دوی

چې نه دي ويلې دوی (داخبرې چې تاته رسيدلي دي) او په تحقيق ويلې وو دوی كلمه (الفاظ) دكفر او كافران سوي دي دوی

بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا ۚ وَمَا نَقَمُوْٓا

بَعْدَ	اِسْلَامِهِمْ	وَهَمُّوْا	بِمَا	لَمْ يَنَالُوْا	وَمَا نَقَمُوْٓا
وروسته	له اسلام خپل	او قصدئې كړی ؤ	دهغه شي چې	ورونه رسيدل دوی	او عيب نه لګاوه دوی

وروسته له (اظهاره د) اسلام خپل او قصد ئې كړی ؤ دهغه شي چې ور ونه رسيدل دوی (هغه ته)، او عيب نه لګاوه دوی

اِلَّآ اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَاِنْ

اِلَّآ	اَنْ	اَغْنٰىهُمُ	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ	مِنْ	فَضْلِهٖ	فَاِنْ
مګر	له دې جهته	چې غنيان كړل دوی	الله	او رسول دالله	له	فضله خپله	نو كه

مګر له دې جهته چې غنيان كړل دوی الله او رسول دالله له فضله خپله، نو كه

يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ

يَّتُوْبُوْا	يَكُ	خَيْرًا	لَّهُمْ	وَاِنْ	يَّتَوَلَّوْا	يُعَذِّبْهُمُ
توبه وويسته دوی	نو وی به	خير	دوی ته	او كه	بيرته وګرځی دوی	نو عذاب به وركړي دوی ته

توبه وويسته دوی نو وی به (دغه توبه غوره) خير دوی ته، او كه بيرته وګرځی دوی (له توبې) نو عذاب به وركړي دوی ته

اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ

اللّٰهُ	عَذَابًا	اَلِيْمًا	فِي	الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ	وَمَا لَهُمْ
الله	په عذاب	دردناک سره	په	دنيا كښې	او په آخرت كښې	حال دا چې نه به وی دوی ته

الله په عذاب دردناک سره په دنيا كښې (په وژلو) او په آخرت كښې (په سوځولو سره)، حال دا چې نه به وی دوی ته

فِي الْاَرْضِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۷۴﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ

فِي	الْاَرْضِ	مِنْ	وَّلِيٍّ	وَّلَا نَصِيْرٍ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ
په	مځكه كښې	هيڅ	ولي	او نه مددګار	او ځيني له دغو څخه	هغه دي چې

په (تمامه) مځكه كښې هيڅ ولي (دوست) او نه مددګار. او ځيني له دغو (منافقانو) څخه هغه دي چې

وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ

منافقين په خپلو مجلسو كي دكفر خبري كوي او بيا دروا غ قسمونه هم پراخلي :

په دغه ايت كي بيا الله ﷻ دمنافقينو ذكر كړی دی چې دوی په خپلو مجلسونو كي دكفر خبري كوي بيا كه مسلمانان په خبر سي نو په دروغه قسمونه اخلي او خپل پاكوالي ثابتوي :

(شان نزول) ددې آيت په شان نزول كي دا واقعه نقل سوي ده چې نبي كريم ﷺ دتبوک دغزا پر موقع باندې يوه خطبه وركړه چې په دې كې يې دمنافقينو دبد حالي او بدانجام ذكر وفرمايي په حاضرينو كي يو منافق جلاس نوميده هغه هم موجود وو چې دی ولاړی نو په خپل مجلس كي يې وويل چې محمد ﷺ چې څه وايي كه دا رښتيا وي نو موږ تر خرو زيات بد تر يو : دده دا كلمه يوه صحابي عامر بن قيس رضي الله عنه واوريده نو وې وويل چې بيشكه نبي كريم ﷺ چې څه فرمايلي دي دا رښتيادي او تاسې واقعي تر خرو بد تر ياست كله چې نبي كريم ﷺ دتبوک څخه واپس بيرته مدينې منورې ته راغی نو عامر ابن قيس رضي الله عنه دا واقعه نبي كريم ﷺ ته واوروله .باته قصه پر راروان مخ وګورى

عٰهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ

عٰهَدَ	اللّٰهَ	لَئِنْ	اٰتٰىنَا	مِنْ فَضْلِهٖ
عهد ئې کړې ؤ	له الله سره	قسم دی	چې خامخا که راکړي موږ ته	له فضله خپله

عهد ئې کړې ؤ له الله سره قسم دی چې خامخا که راکړي (الله) موږ ته (مال) له فضله خپله

لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ

لَنَصَّدَّقَنَّ	وَلَنَكُوْنَنَّ	مِنَ	الصّٰلِحِيْنَ	فَلَمَّآ	اٰتٰىهُمْ	مِّنْ
نو خامخا خیراتونه به ورکوو هرومرو	او خامخا به سو موږ هرومرو	له	صالحانو څخه	نو کله چې	ورکړ دوی ته	له

نو خامخا خیراتونه به ورکوو هرومرو او خامخا به سو موږ هرومرو له صالحانو څخه نو کله چې ورکړ (الله) دوی ته (مال) له

فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۶﴾

فَضْلِهٖ	بَخِلُوْا	بِهٖ	وَتَوَلَّوْا	وَّهُمْ	مُّعْرِضُوْنَ
فضله خپله	نو بخل ئې اختیار کړ	په هغه	او بیرته وګرځیدل دوی	حال دا چې دوی	څنګ کوونکي ؤ

فضله خپله نو بخل ئې اختیار کړ په هغه (مال) او بیرته وګرځیدل دوی حال دا چې دوی څنګ کوونکي ؤ (له حقه).

فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ

فَاَعْقَبَهُمْ	نِفَاقًا	فِيْ	قُلُوْبِهِمْ	اِلٰى	يَوْمِ	يَلْقَوْنَهٗ
پس وګرځاوه عاقبت د دوی	نفاق	په	زړونو د دوی کښې	تر	ورځې پورې	چې یو ځای کیږي به له الله سره

پس وګرځاوه (الله) عاقبت د فعل د دوی نفاق په زړونو د دوی کښې تر (هغې) ورځې پورې چې یو ځای کیږي به له الله سره

بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا

بِمَآ	اَخْلَفُوا	اللّٰهَ	مَا	وَعَدُوْهُ	وَبِمَا	كَانُوْا
په سبب د هغه	چې مخالفت کړې ؤ دوی	له الله	د هغې خبرې	چې وعده کړې وه دوی له الله سره	او په سبب د دې	چې وو دوی

په سبب د هغه چې مخالفت کړې ؤ دوی له الله د هغې خبرې چې وعده کړې وه دوی له الله سره او په سبب د دې چې وو دوی

يَكْذِبُوْنَ ﴿۷۷﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ

يَكْذِبُوْنَ	اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	يَعْلَمُ	سِرَّهُمْ	وَنَجْوٰىهُمْ
چې دروغ به ئې ویل	آیا نه دي پوهیدلي دغه	چې بیشکه!	الله	عالم دی	په پټو د دوی	او په پټو مجلسونو د دوی

چې دروغ به ئې ویل. آیا نه دي پوهیدلي دغه (وعده خلافان) چې بیشکه! الله عالم دی په پټو د دوی او په پټو مجلسونو د دوی

فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ.. د تیر مخ پاته

قصه دلته وګورئ: او بیا جلاس د خپلي خبري څخه منکره سو او وې ویل چې عامر بن قیس ﵁ په ما پسي تهمت پوري کړی دی: نبي کریم ﷺ دواړو ته حکم ورکی چې د منبر نبوي په خوا کي ودریږي او قسمونه واخلي جلاس فورا پر درواغو باندي قسم واخیستی چې ما داسي نه دي ویلي عامر ﵁ درواغ وایي کله چې د حضرت عامر ﵁ نمبر راغی نو ده قسم واخیستی او بیا یې د دعا د پاره لاسونه پورته کړه چې یا الله ته خپل د رسول په ذریعه د وحي د دي معاملي حقیقت ښکاره کړي پر دي دعا نبي کریم ﷺ او ټولو مسلمانانو آمین وو ایه او س لا داخلګ پر ځای ناست وه چي جبرآئیل امین وحي راوړي حاضر سو چي دغه ذکر سوي آیت په کښي وو جلاس چي کله دا آیت واوریدی نو فوراً ودریدی او وې ویل چي یا رسول الله او س زه اقرار کوم چي دا غلطي زما څخه سوي ده او عامر بن قیس ﵁ چي څه ویلي دي هغه حق دي نور زه توبه کایم نبي کریم ﷺ د ده توبه قبوله کړه او بیا دی پر دي توبه باندي قایم پاته سو.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۱۹۵)

وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ

وَاَنَّ	اللّٰهَ	عَلَّامُ	الْغُيُوْبِ	اَلَّذِيْنَ	يَلْمِزُوْنَ
او بیشکه!	الله	ښه عالم دی	په تولو پټو	هغه منافقان	چې عیب وائی

او بیشکه! الله ښه عالم دی په تولو پټو (خبرو هم). هغه منافقان چې عیب وائی

الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ

الْمُطَّوِّعِيْنَ	مِنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	فِي	الصَّدَقٰتِ	وَالَّذِيْنَ
په خیرات کوونکو باندی	له	مؤمنانو	په	صدقاتو کښی	او دهغو (بی وزلو عیب وائی) چې

په (ډیرو) خیرات کوونکو باندی له مؤمنانو په (اداء د) صدقاتو کښی او (بل) دهغو (بی وزلو عیب وائی) چې

لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ۭ

لَا يَجِدُوْنَ	اِلَّا	جُهْدَهُمْ	فَيَسْخَرُوْنَ	مِنْهُمْ
هیڅ نه پیدا کوی دوی	مګر	په قدر دوس او زیار خپل	پس مسخری کوی دغه (منافقان)	په دوی پوری

هیڅ نه مومی دوی مګر په قدر د وس او زیار (کوښښ) خپل پس مسخری کوی دغه (منافقان) په دوی پوری ،

سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ۡ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ

سَخِرَ	اللّٰهُ	مِنْهُمْ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	اِسْتَغْفِرْ	لَهُمْ
سزا به ورکړی	الله	دوی ته	او سته دوی ته	عذاب	دردناک	بخښنه وغواړه دپاره	ددغو (منافقانو)

سزا به ورکړی الله دوی ته (دمسخرو). او سته دوی ته عذاب دردناک. بخښنه وغواړه دپاره د دغو (منافقانو)

اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۭ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً

اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ	اِنْ	تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ	سَبْعِيْنَ مَرَّةً
یا مه غواړه بخښنه د پاره د دغو	که	بخښنه وغواړی ته دوی ته	او یا کرته

یا مه غواړه بخښنه دپاره د دغو (منافقانو) که بخښنه وغواړی ته دوی ته او یا کرته

فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا

فَلَنْ يَّغْفِرَ	اللّٰهُ	لَهُمْ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	كَفَرُوْا
نو له سره به بخښنه ونه کړی	الله	دوی ته	دغه په سبب د دی	چې بیشکه! دوی	کافران سوی دی

نو له سره به بخښنه ونه کړی الله دوی ته ، دغه (نه بخښل) په سبب د دی چې بیشکه! دوی کافران سوی دی

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ

پـر خیـرات کوونکـو مسـلمانانو بانـدي دمنافقینو بدورد: په دغه آیت کي الله ﷻ پر نفلي صـدقو ورکوونکـو مسـلمانانو بانـدي د منـافقینو دردو بـدو ذکـر کړی دی په صحیح مسلم شریف کي دي چي حضرت ابـو مسـعود ﷺ فرمـايلي دي چـي دالله ﷻ دطرفـه څخه موږ ته دصدقو حکم وسواو زموږ حال داوو چي موږ به محنت او مزدوري کوله هیڅ مال زموږ سره نه وو :پـه دي مـزدوری سـره چي بـه موږ تـه څـه راکول کیـده ددي څخـه بـه مـوږ صدقي کولې نوابو عقیل نیم اوړی تقریبـا (پـاو کـم دوه سـیره) صـدقه پـیش کـړل بـل سـړی راغـی هغـه ددي څخه لـږ زیاتـه صدقه وکـړه منـافقینو پـر دي بانـدي بـدي ردي شـروع کړي چي خومره لږ اوحقیر شـی يـې پـه صـدقه کـي راوړی دالله ﷻ داسي شي تـه څـه ضـرورت دی او چـاچي څـه زیاتـه صدقه ورکړه پر هغه يې دا الزام ولګوی چي دده دریا دپاره خلګـو تـه دځان دښـوولو دپـاره صـدقه کړیـده پـر دي باندي دا آیت را نـازل سـو او ددوی حقیقـت حـال الله ﷻ مسـلمانانو تـه ور ښـکاره کـې.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۲۰۰)

ع ١٠/١٢

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَ اللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الْفٰسِقِیْنَ ﴿۸۰﴾ ع

بِاللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	وَ	اللّٰهُ	لَا یَهْدِی	الْقَوْمَ	الْفٰسِقِیْنَ
په الله	او په رسول د الله	او	الله	نه بيي سمه صافه لاره	قوم	فاسقانو ته

په الله او په رسول د الله ، او الله نه بيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته.

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

فَرِحَ	الْمُخَلَّفُوْنَ	بِمَقْعَدِهِمْ	خِلٰفَ	رَسُوْلِ	اللّٰهِ
خوشحاله سوي وو	بيرته پاتي سوي	په کښيناستو خپلو	وروسته	له رسول	دالله څخه

خوشحاله سوي وو بيرته پاتي سوي له (غزا) دخپل نفاق له امله په کيناستو (کښيناستو) خپلو بيرته له رسول د الله څخه

وَ كَرِهُوْۤا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ

وَ كَرِهُوْۤا	اَنْ	يُّجَاهِدُوْا	بِاَمْوَالِهِمْ	وَ اَنْفُسِهِمْ
او بد ګڼله دوی	داچي	جهاد وکړي دوی	په مالونو خپلو	او په ځانونو خپلو سره

او بد ګڼله دوی دا چي جهاد وکړي دوی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ قَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِی الْحَرِّ ؕ

فِیْ	سَبِیْلِ	اللّٰهِ	وَقَالُوْا	لَا تَنْفِرُوْا	فِی	الْحَرِّ
په	لاره	دالله کښي	او ويل به دوی	چي مه ځئ تاسي	په دغي	ګرمي کښي

په لاره د الله کښي او ويل به دوی (پخپلو منځو کښي يا مؤمنانو ته) چي مه ځئ تاسي په دغي ګرمي کښي (دتبوک غزاته)

قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾

قُلْ	نَارُ	جَهَنَّمَ	اَشَدُّ	حَرًّا	لَوْ كَانُوْا	يَفْقَهُوْنَ
ووايه	چي اور	د دوزخ	ډير سخت دی	له جهته دګرمي	که وی دوی	چي پوهيدی

ووايه (ای محمده! دوی ته) چي اور د دوزخ ډير سخت دی له جهته د ګرمي که وی دوی چي پوهيدی .

فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّ لْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا

فَلْيَضْحَكُوْا	قَلِيْلًا	وَّلْيَبْكُوْا	كَثِيْرًا	جَزَآءً	بِمَا كَانُوْا
نو ودی خاندی دوی	لږ	او ودی ژاړی	ډير	له جهته دجزاء	په سبب د هغه عمل چي وو دوی

نو ودی خاندی دوی لږ (په دنيا کښي) او ودی ژاړی ډير (په آخرت کښي) له جهته دجزاء په سبب د هغه عمل چي وو دوی

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ... منافقين الله ﷻ د جهاد غوندي مقدسي فريضې څخه محروم کړل: په دغه ذکر سوو اياتونو کي هم دمنافقينيو حال او بيا ددوی دآخرت سزا ، او په دنيا کي په راتلونکي وخت کي ددوی نوم دمجاهدينو دفهرست څخه خارجول او آينده دوی لره په جهاد کي دشرکت اجازه نه ورکول ذکر کړي دي. (مخلّفون) دمخلّف جمع ده چي معنى يي ده پاته سوي يعني کم خلګ چي پاته سوي وي په دي کي اشاره دې طرف ته ده چي دا خلګ خو دا ګڼي خوشحاليږي چي موږ خپل ځان په مصيبت کي دلويدو څخه وساتی او په جهاد کي مو شرکت ونه کی مګر حقيقت دادی چي الله ﷻ دوی ددې قابل ونه ګڼل چي دوی دافضليت پيدا کي په دې وجه دوی دجهاد پريښوونکي نه دي بلکي دوی پاته سوي دي چي الله ﷻ او رسول ﷺ دوی دپاته کولو قابل وګڼل : ددې مطلب دا سوچي دا خلګ دنبي کريم ﷺ جهاد ته دتلو څخه وروسته ددوی ﷺ څخه په وروسته پاته کيدو خوشحاليږي کم چي په حقيقت کي دخوشحالي شی نه دی. (معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۲۰۲)

يَكۡسِبُوۡنَ ﴿۸۲﴾ فَاِنۡ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى طَآٮِٕفَةٍ مِّنۡهُمۡ

يَكۡسِبُوۡنَ	فَاِنۡ	رَّجَعَكَ	اللّٰهُ	اِلٰى طَآٮِٕفَةٍ	مِّنۡهُمۡ
چې کاوه به ئې	نو که	بیرته راوستی ته	الله	یوې طایفې ته	له دغو وروسته پاتې سویو خلګو څخه

چې کاوه به ئې. نو که بیرته راوستی ته الله (مدینې ته) یوې طایفې ته له دغو وروسته پاتې سویو خلګو څخه

فَاسۡتَاۡذَنُوۡكَ لِلۡخُرُوۡجِ فَقُلۡ لَّنۡ تَخۡرُجُوۡا

فَاسۡتَاۡذَنُوۡكَ	لِلۡخُرُوۡجِ	فَقُلۡ	لَّنۡ تَخۡرُجُوۡا
نو بیا اجازه وغواړي دوی له تا څخه	د وتلو	نو ووایه (محمده!)	چې له سره به ونه وځئ تاسې

(چې منافقان دي) نو بیا اجازه وغواړي دوی له تا څخه د وتلو نو ووایه (محمده!) چې له سره به ونه وځئ تاسې

مَعِىَ اَبَدًا وَّلَنۡ تُقَاتِلُوۡا مَعِىَ عَدُوًّا ؕ

مَعِىَ	اَبَدًا	وَّلَنۡ تُقَاتِلُوۡا	مَعِىَ	عَدُوًّا
له ما سره	هیڅکله	او له سره به ونه جنګیږئ	په ملګرتیا زما کې	د هیڅ دښمن سره

له ما سره هیڅکله (هیڅېرې جنګ ته) او له سره به ونه جنګیږئ په ملګرتیا زما د هیڅ دښمن سره

اِنَّكُمۡ رَضِيۡتُمۡ بِالۡقُعُوۡدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقۡعُدُوۡا

اِنَّكُمۡ	رَضِيۡتُمۡ	بِالۡقُعُوۡدِ	اَوَّلَ	مَرَّةٍ	فَاقۡعُدُوۡا
بیشکه! چې تاسې	راضي سوي یئ	په کېنیناستو	اول	وارې	نو بیا ناست او سئ تاسې

بیشکه! چې تاسې راضي سوي یئ په کېناستو (کېنیناستو) اول وارې نو بیا ناست او سئ تاسې

مَعَ الۡخٰلِفِيۡنَ ﴿۸۳﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ

مَعَ	الۡخٰلِفِيۡنَ	وَلَا تُصَلِّ	عَلٰٓى	اَحَدٍ	مِّنۡهُمۡ
سره	د بیرته پاتې سویو	او مه کوه لمونځ	پر	هیڅ یو تن	له دغو (منافقانو)

سره د بیرته پاتې سویو (ښځو او هلکانو). او مه کوه لمونځ (دجنازې) په هیڅ یو تن له دغو (منافقانو)

مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمۡ عَلٰى قَبۡرِهٖ ؕ اِنَّهُمۡ كَفَرُوۡا

مَّاتَ	اَبَدًا	وَّلَا تَقُمۡ	عَلٰى	قَبۡرِهٖ	اِنَّهُمۡ	كَفَرُوۡا
چې مړ سي	هیڅکله	او مه دریږه	پر	قبر د ده	بیشکه! چې دغه	کافران سوي دي

چې مړ سي هیڅکله او مه دریږه په قبر د ده (د دعا، استغفار لپاره،) بیشکه! چې دغه (منافقان) کافران سوي دي

وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ مَّاتَ اَبَدًا.. دعبدالله ابن ابی منافق مړګ او دده دجنازې لمونځ: شان نزول: دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چې کله عبدالله ابن ابی ابن سلول مړ سو نو دده زوی عبدالله چې مخلص مسلمان او صحابي وو دی دنبي کریم ﷺ مجلس ته راغی او درخواست یې وکړی چې تاسې خپل قمیص مبارک راکړی چې زه یې خپل پلار ته په کفن کې ورواغوندم نبي کریم ﷺ ورته خپل قمیص مبارک ورکی بیا حضرت عبدالله ﷺ دادرخواست هم وکی چې دجنازې لمونځ یې هم تاسې ورکړې دوی دادرخواست قبول کی او دجنازې دلمانځه دپاره ودریدی نو حضرت عمر بن خطاب ﷺ ددوی مبارک جامې ونیولې او عرض یې وکی چې تاسې ددې منافق جنازه کوی حال دادی چې الله ﷻ تاسې ددوی دجنازې دلمانځه څخه منع کړې یاست نبي کریم ﷺ وفرمایل چې ماته الله ﷻ اختیار راکړی دی چې که زه دعا دمغفرت کوم او که یې نه کوم بیا نبي کریم ﷺ دجنازې لمونځ ورکی دلمانځه څخه وروسته دغه ایاتونه رانازل سول. (معارف القرآن ج۴پ۱۰ص۴۰۲)

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَلَا تُعْجِبْكَ

بِاللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	وَمَاتُوْا	وَهُمْ	فٰسِقُوْنَ	وَلَا تُعْجِبْكَ
په الله	او په رسول د الله	او مړه سول	حال دا چي دوی	فاسقان وو	او نه دي په تعجب کښی اچوی تا

په الله او په رسول د الله او مړه سول حال دا چي دوی فاسقان وو. او نه دي په تعجب کښی اچوی تا

اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ

اَمْوَالُهُمْ	وَاَوْلَادُهُمْ	اِنَّمَا	يُرِيْدُ	اللّٰهُ	اَنْ
مالونه د دغو	او اولادونه د دوی	بیشکه! هم داخبره د ه	چي اراده لری	الله	د دی چي

ما لونه د دغو (منافقانو) او اولادونه د دوی بیشکه! هم داخبره ده چي اراده لری الله د دی چي

يُّعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ

يُّعَذِّبَهُمْ	بِهَا	فِي	الدُّنْيَا	وَتَزْهَقَ	اَنْفُسُهُمْ	وَهُمْ
په عذاب کړي دوی	په دغو	په دغه	دنیا کښی	او وځی	ارواح د دوی	حال دا چي دوی

په عذاب کړي دوی په دغو (مالونو او اولادونو) په دغه دنیا کښی او وځی (له بدنه ساوی) ارواح د دوی حال دا چي دوی

كٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ وَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

كٰفِرُوْنَ	وَاِذَآ	اُنْزِلَتْ	سُوْرَةٌ	اَنْ	اٰمِنُوْا	بِاللّٰهِ
کافران وی	او کله چي	نازل کړسی	کوم سورت	په دی خبره چي	ایمان راوړئ تاسی	په الله

کافران وی. او کله چي نازل کړسی کوم سورت په دی خبره چي ایمان راوړئ تاسی په الله

وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ اسْتَاْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ

وَجَاهِدُوْا	مَعَ	رَسُوْلِهِ	اسْتَاْذَنَكَ	اُولُوا	الطَّوْلِ
او جهاد وکړئ تاسی	په ملګرتوب	د رسول د الله	نو غواړی اجازه له تا څخه	خاوندان	د قدرت

او جهاد وکړئ تاسی په ملګرتوب د رسول د الله نو غواړی اجازه له تا څخه (د پیرته پاتی کیدو) خاوندان د قدرت (دمال)

مِنْهُمْ وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ رَضُوْا

مِنْهُمْ	وَقَالُوْا	ذَرْنَا	نَكُنْ	مَّعَ	الْقٰعِدِيْنَ	رَضُوْا
له دوی	او وائی دغه	پرېږده موږ	چي اوسو	سره د	کښیناستونکو	راضی سول په دی چي

له دوی او وائی دغه (منافقان) پرېږده موږ چي اوسو سره د (کور) (کښیناستونکو). راضی سول په دی چي

وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ.. **دتبوک دغزا څخه دپاته سوو منافقينو حال بيا بيانيږي:** په ذکر سوو اياتونو کي بيا الله ﷻ ددغه منافقينو حال بيان کړی دی کم چي دتبوک دغزا څخه په حيلو او بهانو سره پاته سوي وه په دې منافقينو کي ځيني هغه وه چي مالداره او خوشحاله خلګ هم وه ددوی په حال سره به مسلمانانو ته دا خيال راپيدا سوچي کله دا خلګ دالله ﷻ په نزد نامقبول او مردود دي نو دوی ته په دنيا کي داسي نعمتونه ولي ورکړل سوي دي؟ ددې په جواب کي په اول آيت کي الله ﷻ فرمايي چي که فکر وکړی نو ددوی مالونه او اولادونه ددوی دپاره رحمت او نعمت نه دي بلکي په دنيا کي خو هم عذاب دی او په آخرت کي به عذاب وي خامخا: په دنيا کي عذاب داسي دی چي دمال محبت او حقارت او بيا ددې دزياتولو فکر داسي ددوی سره ور سره دی چي په هيڅ وخت او هيڅ حال کي دوی ارام ته نه پريږدي دراحت اسباب چي هرڅومره د دوی سره ورسره دي مګر دزړه سکون او ارام د دوی سره نسته نو دا خو عذاب سو که يا؟:

(معرف القرآن ج۴پ۱۰ص۲۰۸)

بِاَنۡ یَّكُوۡنُوۡا مَعَ الۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ فَهُمۡ

بِاَنۡ یَّكُوۡنُوۡا	مَعَ	الۡخَوَالِفِ	وَطُبِعَ	عَلٰی	قُلُوۡبِهِمۡ	فَهُمۡ
وی دوی	سره له	بیرته پاتی سوو	او مهر لګولی سوی دی	پر	زړونو د دوی	نو

وی دوی سره له بیرته پاتی سوو (ښځو، انجونو) او مهر لګولی سوی دی په زړونو د دوی (د کفر او نفاق) نو

لَا یَفۡقَهُوۡنَ ﴿۸۷﴾ لٰكِنِ الرَّسُوۡلُ وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

لَا یَفۡقَهُوۡنَ	لٰكِنِ	الرَّسُوۡلُ	وَالَّذِیۡنَ	اٰمَنُوۡا
نه پوهیږی دوی	لیکن	رسول (د الله)	او هغه کسان	چې ایمان لرونکی دی

نه پوهیږی دوی (د جهاد په اجر). لیکن رسول (د الله) او هغه کسان چې ایمان لرونکی دی

مَعَهٗ جٰهَدُوۡا بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡ ؕ وَاُولٰٓئِكَ

مَعَهٗ	جٰهَدُوۡا	بِاَمۡوَالِهِمۡ	وَاَنۡفُسِهِمۡ	وَاُولٰٓئِكَ
د سره	جهاد ئی وکړ	په مالونو خپلو	او ځانونو خپلو	او دغه کسان

له ده سره جهاد ئی وکړ په مالونو خپلو او ځانونو خپلو، او دغه کسان

لَهُمُ الۡخَیۡرٰتُ ۡ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۸۸﴾ اَعَدَّ

لَهُمُ	الۡخَیۡرٰتُ	وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الۡمُفۡلِحُوۡنَ	اَعَدَّ
هم دوی لره دی	ښیګڼی	او دغه کسان	هم دوی دی	په مراد رسیدلی	تیار کړی دی

هم دوی لره دی ښیګڼی (فائدی) او دغه کسان هم دوی دی په مراد رسیدلی (بریالیان). تیار کړی دی

اللّٰهُ لَهُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ

اللّٰهُ	لَهُمۡ	جَنّٰتٍ	تَجۡرِیۡ	مِنۡ	تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	خٰلِدِیۡنَ
الله	دوی ته	جنتونه	چې بهیږی	له	لاندی د هغو	ویالی	تل به وی دوی

الله دوی ته جنتونه چې بهیږی له لاندی (د ماڼیو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ویالی تل به وی دوی

فِیۡهَا ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ﴿۸۹﴾ؑ وَجَآءَ الۡمُعَذِّرُوۡنَ

فِیۡهَا	ذٰلِكَ	الۡفَوۡزُ	الۡعَظِیۡمُ	وَجَآءَ	الۡمُعَذِّرُوۡنَ
په دغو کښی	دغه	بری دی	لوی	او راغلل	د دروغو عذر کوونکی

په دغو (جنتونو) کښی، دغه (تنو تل د جنت) بری دی لوی (پر نفس او شیطان). او راغلل د دروغو عذر کوونکی

لٰكِنِ الرَّسُوۡلُ وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ. منافقین دجهاد په وتلو کي یو طرف ته بهاني او بل طرف ته رخصتونه غواړي: ددې منافقینو حال دادی چې کله دقرآن کریم یو سورت یا یوه توته په دې مضمون سره را نازله سي چې تاسي دزړه په خلوص سره پر الله ﷻ ایمان راوړی او دده د رسول سره ملګري سی جهاد وکی نو په دوی کي دطاقت خاوندان ستا څخه رخصت غواړي او رخصت هم په دې مضمون سره غواړي چې موږ ته اجازه راکړې چې موږ هم دلته دپاته کیدونکو سره سو البتّه دایمان او اخلاص په دعوی کي څه کول نه غواړي او بیا وایي چې موږ مخلصان یو دغه خلګ دډیري بې غیرتی څخه دکور دکښینستونکو ښځو سره په پاته کیدو راضي سول او ددوی پر زړونو باندي مهر ولګیدی چي په دې سره دوی غیرت او بې غیرتي نه پیژني البتّه لیکن رسول الله ﷻ او دده په ملګرتیا کي چې کم کسان مسلمانان دي دوی البته داحکم مني او په خپلو مالونو سره او په خپلو ځانونو سره جهاد کوي او دداسي کسانو دپاره ګټي دي.

معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۲۰۸

ع ۱۱ / ۱۷

مِنَ الۡاَعۡرَابِ لِیُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَ قَعَدَ الَّذِیۡنَ

مِنَ	الۡاَعۡرَابِ	لِیُؤۡذَنَ	لَهُمۡ	وَقَعَدَ	الَّذِیۡنَ
له	اعرابو څخه	دپاره د دی چې اجازه ورکړه سی	دوی ته	او کښيناستل	هغه کسان چې

له (صحرائی) اعرابو څخه دپاره د دی چې اذن ورکړ سی (دپاتی کيدلو) دوی ته او کيناستل (کښيناستل) هغه کسان چې

كَذَبُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ ؕ سَیُصِیۡبُ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡهُمۡ

كَذَبُوا	اللّٰهَ	وَرَسُوۡلَهٗ	سَیُصِیۡبُ	الَّذِیۡنَ	كَفَرُوۡا	مِنۡهُمۡ
دروغ ئې ويلی وو	الله ته	اورسول دالله ته	ژر به ورسيږی	هغو کسانو ته	چې کافران سوی دی	له دوی څخنی

دروغ ئې ويلی وو الله ته او رسول دالله ته، ژر به ورسيږی هغو کسانو ته چې کافران سوی دی له دوی څخنی

عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۹۰﴾ لَیۡسَ عَلَی الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَی

عَذَابٌ	اَلِیۡمٌ	لَیۡسَ	عَلَی	الضُّعَفَآءِ	وَلَا	عَلَی
عذاب	دردناک	نسته	پر	ضعيفانو	او نه	پر

عذاب دردناک. نسته په ضعيفانو او نه په

الۡمَرۡضٰی وَلَا عَلَی الَّذِیۡنَ لَا یَجِدُوۡنَ مَا یُنۡفِقُوۡنَ

الۡمَرۡضٰی	وَلَا	عَلَی	الَّذِیۡنَ	لَا یَجِدُوۡنَ	مَا	یُنۡفِقُوۡنَ
رنځورانو	او نه	پر	هغو کسانو	چې نه لری دوی	هغه (مال) چې	ئې ولګوی دوی

رنځورانو او نه په هغو کسانو چې نه مومی دوی هغه (مال) چې ئې ولګوی دوی (په غزا کښی)

حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوۡا لِلّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ ؕ مَا عَلَی

حَرَجٌ	اِذَا	نَصَحُوۡا	لِلّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	مَا عَلَی
هيڅ ګناه	کله چې	اخلاص کوی دوی	له الله	او له رسول د الله سره	نسته پر

هيڅ ګناه (له غزا څخه په وروسته پاتی کيدلو کښی) کله چې اخلاص کوی دوی له الله او له رسول الله سره، نسته په

الۡمُحۡسِنِیۡنَ مِنۡ سَبِیۡلٍ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۹۱﴾

الۡمُحۡسِنِیۡنَ	مِنۡ	سَبِیۡلٍ	وَ	اللّٰهُ	غَفُوۡرٌ	رَّحِیۡمٌ
نيکو کارانو	هيڅ	لاره	او	الله	ښه بخښونکی	ډير رحم والا دی

نيکو کارانو هيڅ لاره د الزام او ملامتيا او الله ښه بخښونکی (دګناهونو) ډير رحم والا دی (داجر او ثواب په انعام سره).

لَیۡسَ عَلَی الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَی الۡمَرۡضٰی.. هغه مخلص مسلمانان چې دعذر پر بنا په جهاد کې نه سوه شريکان : په دغه ذکر سوو اياتونو کې الله ﷻ دهغه مخلصو مسلمانانو ذکر کړی دی کم چې په حقيقت کې دمعذورۍ په سبب دجهاد دشرکت څخه بې وسه وه په دوی کې څه خو مخکې ناجوړې وه او معذوره وه چې ددوی عذر خو ښکاره وواو څه هغه خلګ هم وه کم چې په جهاد کې دشرکت دپاره تياروه بلکې په جهاد کې دتلو دپاره بې قراره وه مګر ددوی سره دسفر دپاره سپرلی او څاروی نه وې سفر اوږد او موسم دګرمی وو دوی دجهاد دپاره دخپلې جذبې اودسپرلی دنه پيدا کيدو دمجبوری ذکر وکې نبي کريم ﷺ ته يې درخواست وکی چې زموږ دپاره دسپرلی څه انتظام وسي: دتفسير شريف اوتاريخ ليکونکو ددې قسم ډير بې شميره واقعات ليکلي دي دځينو معامله خو داسې وسوه چې په شروع کې نبي کريم ﷺ دوی ته عذر وکی چې زما سره دسپرلی هيڅ انتظام نسته مګر دا خلګ په ژړا ژړا بيرته اغلل : پاته حصه پر راروان مخ وګوری :

وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ

وَّلَا عَلَى	الَّذِيْنَ	اِذَا	مَآ اَتَوْكَ	لِتَحْمِلَهُمْ	قُلْتَ
او نسته پر	هغو کسانو	کله چي	راغلل دوی تاته	دپاره د دې چي سورلی ورکړې ته دوی ته	نو وویل تا ورته

او نسته (ګناه) په هغو کسانو کله چي راغلل دوی تاته دپاره د دې چي سورلی ورکړې ته دوی ته نو وویل تا

لَآ اَجِدُ مَآ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ

لَآ اَجِدُ مَآ	اَحْمِلُكُمْ	عَلَيْهِ	تَوَلَّوْا	وَّاَعْيُنُهُمْ
چي زه نه لرم هغه شی	چي سواره کړم تاسي	پر هغه	نو بیرته وګرځیدل دوی	حال دا چي سترګی د دوی

ورته چي نه مومم زه (هم او س) هغه شی چي سواره کړم تاسي په هغه نو بیرته وګرځیدل دوی حال دا چي سترګی د دوی

تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ۩ ﴿٩٢﴾ اِنَّمَا

تَفِيْضُ	مِنَ	الدَّمْعِ	حَزَنًا	اَلَّا يَجِدُوْا	مَا	يُنْفِقُوْنَ	اِنَّمَا
بهیدی	له	اوښکو	له جهته د غمه	له دې وجې چي نه لری دوی	هغه څه چي	ئې ولګوی	خبره هم دا ده چي

بهیدی له او ښکو له جهته د غمه له دې وجې چي نه مومی دوی هغه څه چي ئې ولګوی (په جهاد کښی). خبره هم دا ده چي

السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ

السَّبِيْلُ	عَلَى	الَّذِيْنَ	يَسْتَاْذِنُوْنَكَ	وَهُمْ	اَغْنِيَآءُ
لاره د ملامتی	پر	هغو کسانو ده	چي اجازه غواړی له تا څخه	حال دا چي دوی	غنیان وی

لاره د ملامتی په هغو کسانو ده چي اذن (د بیرته پاتي کیدلو) غواړی له تا څخه حال دا چي دوی غنیان وی،

رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ

رَضُوْا	بِاَنْ	يَّكُوْنُوْا	مَعَ	الْخَوَالِفِ	وَطَبَعَ
راضي سول	په دې چي	وی دوی	سره له	بیرته پاته سوو	او مهر لګولی دی

راضي سول په دې چي وی دوی (ناست) سره له بیرته پاته سوو (ښځو، انجونو) او مهر لګولی دی

اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٩٣﴾

اللّٰهُ	عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	فَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ
الله	پر	زړونو د دوی	نو دوی	نه پوهیږی

الله په زړونو د دوی نو دوی نه پوهیږی (په خپلی بدی خاتمی)

وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: مګر دا خلګ په ژړا ژړا بیرته رغلل او پر مخ یي وژړل نو الله جَلَّ جَلَالُهُ د دوی دپاره داسي انتظام وکی چي شپږ او ښان نبي کریم ﷺ ته دغه وخت راغلل نو نبي کریم ﷺ دغه دوی ته ورکړل په دوی کي ددرو کسانو د سپرلی انتظام حضرت عثمان غني ﷺ وکی حال دا وو چي هغه ددې څخه مخکي ډیرو زیاتو خلګو انتظام هم په خپل خرڅ سره کړی وو: او ځیني داسي خلګ پاته سول چي د هغوی د سپرلی انتظام تر آخره پوري هم ونه سو او هغوی د مجبوری څخه پاته سول په ذکر سوو ایاتونو کي ددې ټولو حضراتو ذکر راغلی دی د کمو عذر چي الله جَلَّ جَلَالُهُ قبول وفرمایي: په آخر کي یي بیا پر دې خبره باندي خبرداری وفرمایي چي وبال خو صرف پر هغو خلګو باندي دی کمو چي د قدرت او طاقت سره د جهاد څخه پاته کیدل د ښځو په شان خوښ کړل نو ځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: انّما السبیل علی الذین یستأذنونک وهم اغنیآء ددې آیت هم دغه مطلب دی.

معارف القرآن ج۴ پ۱۰ ص۲۱۲

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ؕ قُلْ

يَعْتَذِرُوْنَ	اِلَيْكُمْ	اِذَا	رَجَعْتُمْ	اِلَيْهِمْ	قُلْ
عذرونه به کوی دغه (منافقين)	تاسی ته	کله چی	بيرته راوګرځئ تاسی	دوی ته	ووايه (محمده!)

عذرونه به کوی دغه (منافقين) تاسی ته کله چی بيرته راوګرځئ تاسی (له تبوکه) دوی ته ووايه (ای محمده! دوی ته)

لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ

لَّا تَعْتَذِرُوْا	لَنْ نُّؤْمِنَ	لَكُمْ	قَدْ نَبَّاَنَا	اللّٰهُ	مِنْ
مه کوئ دا عذرونه	له سره به باور ونه کړو موږ	په تاسی	په تحقيق خبر کړی يو موږ	الله	له (ځينو)

مه کوئ دا عذرونه (د دروغو موږ ته) له سره به باور ونه کړو موږ ستاسی په تحقيق خبر کړی يو موږ الله له (ځينو)

اَخْبَارِكُمْ ؕ وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ

اَخْبَارِكُمْ ؕ	وَسَيَرَى	اللّٰهُ	عَمَلَكُمْ	وَرَسُوْلُهٗ	ثُمَّ	تُرَدُّوْنَ
احوالو ستاسی	او ژر به ووينی	الله	عملونه ستاسی	او رسول د ده	بيا به	بيرته بوتلی سئ تاسی

احوالو ستاسی او ژر به ووينی الله (په علم الشهود سره هم) عملونه ستاسی او رسول د ده بيا به بيرته بوتلی سئ تاسی

اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

اِلٰى عٰلِمِ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا كُنْتُمْ
هغه عالم	دپټو	او ښکاره ؤ (الله) ته	نو خبر به درکړی تاسی ته	په هغو کارونو چی وئ تاسی

(په قيامت کښی هغه) عالم د پټو او ښکاره ؤ (الله) ته نو خبر به درکړی تاسی ته په هغو کارونو چی وئ تاسی

تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٤﴾ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ

تَعْمَلُوْنَ	سَيَحْلِفُوْنَ	بِاللّٰهِ	لَكُمْ	اِذَا	انْقَلَبْتُمْ	اِلَيْهِمْ
چی کول به مو	ژر به قسمونه خوری دوی	پر الله	تاسی ته	کله چی	بيرته راسئ تاسی	دوی ته

چی کول به مو. ژر به قسمونه خوری دوی پر الله تاسی ته کله چی بيرته راسئ تاسی (له غزا نه) دوی ته دپاره د دی چی

لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ اِنَّهُمْ رِجْسٌ

لِتُعْرِضُوْا	عَنْهُمْ	فَاَعْرِضُوْا	عَنْهُمْ	اِنَّهُمْ	رِجْسٌ
دپاره د دی چی څنګ وکړئ تاسی	له دوی څخه	نو څنګ وکړئ تاسی	له دوی څخه	بيشکه! چی دوی	پليت دی

څنګ وکړئ تاسی له (عتاب د) دوی څخه، نو څنګ وکړئ تاسی له دوی څخه، بيشکه! چی دوی پليت دی

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ.. د هغه منافقينو ذکر چي درواغ عذرونه يي پيش کړل: په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله ﷻ دهغه منافقينو ذکر کړی دی کم چي دنبي کريم ﷺ دجهاد څخه پر واپسی دده په خدمت کي حاضر سول او جهاد ته دنه تللو ددرواغو عذرونه يي پيش کړل دغه اياتونه ومديني منورې ته دبيرته رارسيدو څخه مخکي نازل سوي وه چي په دي کي ددې راتلونکي پيښيدونکي واقعې خبر وو چي کله تاسي مدينې طيبې ته ورسيږی نو منافقين به دعذر کولو دپاره تاسي ته راسي چنانچه هم داسي وسوه په ذکر سوو اياتونو کي ددې متعلق نبي کريم ﷺ ته درې حکمونه ورکول سوي دي اول دا چي کله دا عذرکوونکي راسي نوته ورته ووايه چي عبث ددرواغو عذرونه مه جوړوی موږ ستاسي خبره نه رشتيا کوو ځکه چي الله ﷻ موږدوحي په ذريعه ستاسي دټولو حالاتو او خيالاتو او ستاسي دشرارتونو څخه او په زړونو کي دپټو ارادو څخه خبر کړي يو چي په دې سره ستاسي درواغجن کيدل موږ ته ښکاره سوه الخ. پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ٩٥

وَمَاْوٰىهُمْ	جَهَنَّمُ	جَزَآءً	بِمَا	كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ
او ځای د ورتلو د دوی	جهنم دی	دپاره د جزا ورکولو	په هغو کارونو	چې وو دوی	چې کول بې ئې

او ځای د ورتلو د دوی جهنم (دوزخ) دی، دپاره د جزا ورکولو په هغو کارونو چې وو دوی چې کول بې ئې.

يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ تَرْضَوْا

يَحْلِفُوْنَ	لَكُمْ	لِتَرْضَوْا	عَنْهُمْ	فَاِنْ	تَرْضَوْا
قسمونه خوری دغه	تاسی ته	لپاره د دی چې راضی سئ تاسی	له دوی څخه	نو که	راضی سئ تاسی

قسمونه خوری دغه (منافقان په دروغو سره) تاسی ته لپاره د دی چې راضی سئ تاسی له دوی څخه نو که راضی سئ تاسی

عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ٩٦

عَنْهُمْ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَرْضٰى	عَنِ الْقَوْمِ	الْفٰسِقِيْنَ
له دوی څخه	نو بیشکه!	الله	نه راضی کیږی	له قومه	فاسقانو

له دوی څخه (په قسم سره) نو بیشکه! الله نه راضی کیږی له قومه فاسقانو.

اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا

اَلْاَعْرَابُ	اَشَدُّ	كُفْرًا	وَّنِفَاقًا	وَّاَجْدَرُ	اَلَّا يَعْلَمُوْا
اعرابیان	ډیر سخت دی	له جهته د کفره	او له جهته د نفاقه	او ډیر لایق دی له دی سره	چې پوه نسی دوی

(ځینی له صحرائی) اعرابو ډیر سخت دی له جهته د کفره او له جهته د نفاقه او ډیر لایق دی له دی سره چې پوه نسی دوی

حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ٩٧

حُدُوْدَ	مَآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	عَلٰى	رَسُوْلِهٖ	وَ اللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ
په حدودو	د هغو چې نازل کړی دی	الله	پر	رسول خپل	او الله	ښه عالم دی	ښه حکمت والا

په حدودو د هغو (احکامو) چې نازل کړی دی الله پر رسول خپل، او الله ښه عالم دی ښه حکمت والا.

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا

وَمِنَ	الْاَعْرَابِ	مَنْ يَّتَّخِذُ	مَا يُنْفِقُ	مَغْرَمًا
او ځینی	له اعرابو	هغه دی چې نیسی	هغه شی چې لګوی یې	تاوان

او ځینی له (صحرائی) اعرابو هغه دی چې نیسی (ګڼی شمیری) هغه شی چې لګوی تاوان

يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ... د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ:
دمنافقینو په باره کې درې حکمونه ونبي کریم ﷺ ته: اول حکم دا وو چې دوی ته مهلت ورکړه سو دتوبې که نفاق پرېږدي او په صحیح معنی مسلمانان سی نو الله ﷻ به ستاسي تېوله ګناهونه معاف کړي: دوهم حکم په دوهم آیت کي دا بیان سوی دی چې دا خلګ به ستا دېرته راتلو څخه وروسته په دروغو قسمونه اخلي تا به مطمئن کوي او مقصد به ددې څخه داوي چې (لتعرضوا عنهم) چې تاسي ددوی دادجهاد څخه غیر حاضري نظر انداز کړی په دې یې ملامت نه کړی نو په دې باندي داارشاد وسوچي ته ددوی داخواهش ورپوره کړه (فاعرضوا عنهم) یعني ته دوی ته څه مه وایه مه یې ملامتوه او مه ورسره سم سلوک کوه ځکه چې دملامتولو څخه یې فایده نسته: دریم حکم: په دریم ایت کي داورکړه سوی دی چې داخلګ قسمونه اخلي او ستا او دمسلمانانو راضي کول غواړي ددې متعلق الله ﷻ وفرمایل چې ددوی داخواهش مه پوره کوی تاسي مه ورڅخه راضي کیږی. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص۲) مکتبه حبیبیه

وَّيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ۭ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ السَّوۡءِ ۭ وَاللّٰهُ

وَّيَتَرَبَّصُ	بِكُمُ	الدَّوَآئِرَ	عَلَيۡهِمۡ	دَآئِرَةُ	السَّوۡءِ	وَاللّٰهُ
او انتظار كوى	پہ تاسى	دگردشونو دزمانى	پرهم دوى	دى وى گرځيدل	دبدى	او الله

او انتظار كوى په تاسى د گردشونو د زمانى (چي گوندى دربانـدى چپه سى) پرهم دوى دى وى گردش د بدى، او الله

سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۹۸﴾ وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ مَنۡ يُّؤۡمِنُ بِاللّٰهِ

سَمِيۡعٌ	عَلِيۡمٌ	وَمِنَ الۡاَعۡرَابِ	مَنۡ	يُّؤۡمِنُ	بِاللّٰهِ
ښه اوريدونكى	ښه عالم دى	او ځينى له اعرابو څخه	هغه دى	چي ايمان لرونكى دى	په الله

ښه اوريدونكى ښه عالم دى. او ځينى له (صحرائى) اعرابو څخه هغه دى چي ايمان لرونكى دى په الله

وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنۡفِقُ قُرُبٰتٍ عِنۡدَ اللّٰهِ

وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	وَيَتَّخِذُ	مَا يُنۡفِقُ	قُرُبٰتٍ	عِنۡدَ	اللّٰهِ
او په ورځى	آخرى	او نيسى	هغه شى چي لگوى	اسباب دنژدى والى	په نزد	دالله

او په ورځى آخرى (قيامت) او نيسى (گڼى شميرى) هغه شى چي لگوى (ئى په لاره دالله) اسباب دنژدى والى په نزد د الله

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوۡلِ ۭ اَلَآ اِنَّهَا قُرۡبَةٌ لَّهُمۡ ۭ سَيُدۡخِلُهُمُ

وَصَلَوٰتِ	الرَّسُوۡلِ	اَلَآ	اِنَّهَا	قُرۡبَةٌ	لَّهُمۡ	سَيُدۡخِلُهُمُ
او (سبب د) دعاؤ	درسول د الله	خبردار سئ	بيشكه اچي دغه	نژدى والى دى	دوى ته	ژر به داخل كړى دوى

او (سبب د) دعاؤ درسول دالله، خبردار سئ چي دغه (نفقات يا صلوة سبب د) نژدى والى دى دوى ته ژر به داخل كړى دوى

اللّٰهُ فِيۡ رَحۡمَتِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۹۹﴾ وَالسّٰبِقُوۡنَ

اللّٰهُ	فِيۡ رَحۡمَتِهٖ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ	وَالسّٰبِقُوۡنَ
الله	په رحمت خپل كښى	بيشكه!	چي الله	ښه مغفرت كوونكى	ډير مهربان دى	او هغه وړاندنى

الله په رحمت خپل كښى بيشكه! چي الله ښه مغفرت كوونكى ډير مهربان دى (پر متقربانو). او هغه وړاندنى

الۡاَوَّلُوۡنَ مِنَ الۡمُهٰجِرِيۡنَ وَالۡاَنۡصَارِ وَالَّذِيۡنَ

الۡاَوَّلُوۡنَ	مِنَ الۡمُهٰجِرِيۡنَ	وَالۡاَنۡصَارِ	وَالَّذِيۡنَ
اولنى (ايمان لرونكى)	له مهاجرينو څخه	او له انصارو څخه	او (نور) هغه كسان

اولنى (ايمان لرونكى) له مهاجرينو څخه او له انصارو څخه او (نور) هغه كسان

وَّيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ السَّوۡءِ
منافقين مسلمانانو ته دمصيبت په انتظار كي وي
په دغه آيت كي الله ﷻ دمنافقينو يوبل حالت بيان كړى دى هغه دا چي داخلگ څه چي په زكوة وغيره كي خرڅ كوي دا تاوان گڼي وجه داده چي په زړه كي خو يي ايمان نسته محضي دخپل كفر پټولو دپاره لمونځ هم كوي او فرض زكوة هم وركوي مگر په زړه كي وايي چي دامال عبث ولاړى په دي وجه په دې انتظار كي دي چي په څه ډول سره پر مسلمانانو څه مصيبت راسي او دوى شكست وخوري نو ددې تاوان څخه به موږ خلاص سو. (الدوآئر) ددآئرة جمع ده دعربي لغت په اعتبار سره دآئرة هغه بدل سوي حالت ته وايي كم چي داولني ښه حالت څخه وروسته بدسي په دې وجه قرآن كريم ددوى په جواب كي وايي (عليهم دآئرة السّوء) يعني پر دوى بد حالت راتلونكى دى او دوى به ددې كارونو او خبرو پر بنا نور زيات ذليله سي: او بل طرف ته يي بيا مخلص مسلمانان ذكر كړل چي هغوي بيا زكوة او صدقي دالله ﷻ د رضا دپاره وركوي: (معرف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۵)

ع ۱۲

اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا

وَرَضُوْا	عَنْهُمْ	اللّٰهُ	رَّضِىَ	بِاِحْسَانٍ	اتَّبَعُوْهُمْ
او راضي سوي دي دوی	له دوی څخه	الله	راضي سوي دی	په احسان سره	چې متابعت کړی دی دوی د (سابقانو)

چې متابعت کړی دی دوی د (سابقانو) په احسان (نيکی) سره راضي سوی دی الله له دوی څخه او راضي سوي دي دوی

عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

فِيْهَآ	خٰلِدِيْنَ	الْاَنْهٰرُ	تَحْتَهَا	تَجْرِىْ	جَنّٰتٍ	وَاَعَدَّ لَهُمْ	عَنْهُ
په هغو کښې	چې تل به وی دوی	ويالی	لاندی د دوی	چې بهيږی	جنتونه	او تيار کړی دی (الله) دوی ته	له الله څخه

له الله څخه او تيار کړی دی (الله) دوی ته جنتونه چې بهيږی لاندی د دوی ويالی چې تل به وی دوی په هغو کښې

اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ

مِّنَ	حَوْلَكُمْ	وَمِمَّنْ	الْعَظِيْمُ	الْفَوْزُ	ذٰلِكَ	اَبَدًا
له	چې په شاؤ خوا د تاسي کښې دی	او ځينی له هغو کسانو	ډير لوی	بری دی	دغه	هميشه

هميشه، دغه بری دی ډير لوی. او ځينی له هغو کسانو چې په شاؤخوا د تاسی (اهل المدينة) کښې دی له

الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛؕ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛؔ مَرَدُوْا

مَرَدُوْا	الْمَدِيْنَةِ	اَهْلِ	وَمِنْ	مُنٰفِقُوْنَ	الْاَعْرَابِ
عادت ئې نيولی دی	دمدينی څخه	له خلکو	او ځينی	منافقان دی	اعرابو څنې

(صحرائی) اعرابو څنې منافقان دی، او ځينی له خلکو دمدينی څخه عادت ئې نيولی دی

عَلَى النِّفَاقِ ۫ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ

سَنُعَذِّبُهُمْ	نَعْلَمُهُمْ	نَحْنُ	لَا تَعْلَمُهُمْ	النِّفَاقِ	عَلَى
ژر به په عذاب کړو موږ دوی	عالمان يو پر دوی	موږ	نه پيژنی ته دوی	منافقت	پر

پر منافقت نه پيژنی ته دوی، موږ عالمان يو پر (نفاق د) دوی، ژر به په عذاب کړو موږ دوی

مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠١﴾ وَاٰخَرُوْنَ

وَاٰخَرُوْنَ	عَظِيْمٍ	اِلٰى عَذَابٍ	يُرَدُّوْنَ	ثُمَّ	مَّرَّتَيْنِ
او (ځينی) نور دی	ډير لوی ته	عذاب	بوتلل سی دوی	بيا به	دوه کرته

دوه کرته بيا به بوتلل سی دوی عذاب ډير لوی ته. او (ځينی) نور (خلک) دی

(رضی الله عنهم ورضوا عنه) اصحاب کرام ﷺ تول په جمع بې داستثناء څخه جنتيان او دالله ﷻ په رضا سره مشرف دي: دمحمد بن کعب قرظي رحمه الله څخه يو چاپوښتنه وکړه چې دنبي کريم ﷺ دصحابه کرامو په باره کي تاسي څه فرمايا ست؟ دوی وويل چې صحابه کرام تول په جمع جنتيان دي که څه هم هغه خلګ وي دکمو څخه چې په دنيا کي غلطی او ګناهونه هم سوي وي: دي سړي پوښتنه وکړه چې دا خبره ته دکم ځايه څخه وايي؟ ددې دليل څه دی؟ دوی وفرمايل چې دقرآن کريم دا آيت ووايه (السّابقون الاولون) په دې کي دټولو صحابه کرامو ﷺ متعلق بې دڅه شرط څخه الله ﷻ فرمايلي دي (رضی الله عنهم ورضوا عنه) البته دتابعينو په معامله کي الله ﷻ داتباع باحسان قيد لګولی دی: ددې څخه معلومه سوه چې صحابه کرام ﷺ بيله څه قيده او دشرط څخه ټول په جمع په رضوان الهي سره سرفرازه سوي دي او حديث شريف هم دی نبي کريم ﷺ فرمايي چې دجهنم اور هغه مسلمان نه سي مسح کولای چا چې زه ليدلی يم يا يي زما ليدونکی ليدلی وي. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۷)

اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ

اعْتَرَفُوْا	بِذُنُوْبِهِمْ	خَلَطُوْا	عَمَلًا صَالِحًا	وَّاٰخَرَ
چی اقرارئی کړی دی	په ګناهونو خپلو	ګډ کړی دی دوی	نیک عمل	او بل

چی قائلان سوی دی په ګناهونو خپلو ګډ کړی دی دوی نیک عمل (چی توبه او پښیمانی ده) او بل بد عمل (چی تخلف دی)

سَيِّئًا عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ اِنَّ اللّٰهَ

سَيِّئًا	عَسَى	اللّٰهُ	اَنْ يَّتُوْبَ	عَلَيْهِمْ	اِنَّ	اللّٰهَ
بد عمل	نژدی ده چی	الله به	رجوع وکړی	پر دوی باندی	بیشکه! چی	الله

قریب دی چی الله به رجوع وکړی په دوی باندی (په قبول د توبی)، بیشکه! چی الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	خُذْ	مِنْ	اَمْوَالِهِمْ	صَدَقَةً	تُطَهِّرُهُمْ
ښه بخښونکی	ډیر رحم والا دی	واخله (محمده!)	له	مالونو د دوی	صدقه	چی ښه پاک کړی ته دوی له ګناهونو

ښه بخښونکی دخطیاتو ډیر رحم والا دی. واخله (محمده!) له مالونو د دوی صدقه چی ښه پاک کړی ته دوی له ګناهونو

وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ

وَتُزَكِّيْهِمْ	بِهَا	وَصَلِّ	عَلَيْهِمْ	اِنَّ صَلٰوتَكَ	سَكَنٌ
او با برکته کړی ته دوی	دهغی په وسیله	او دعا کوه	دوی ته	بیشکه! چی دعا ستا	تسکین دی

او با برکته کړی ته دوی دهغه په وسیله او دعا کوه (دنیکی) دوی ته، بیشکه! چی دعا ستا تسکین دی

لَّهُمْ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٠٣﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ

لَّهُمْ	وَاللّٰهُ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ	اَلَمْ يَعْلَمُوْا	اَنَّ	اللّٰهَ	هُوَ
دوی ته	او الله	ښه اوریدونکی	ښه عالم دی	آیا نه پوهیدل دغه (تائبان)	په دی چی بیشکه!	الله	هم دی

دوی ته، او الله ښه آوریدونکی ښه عالم. آیا نه پوهیدل دغه (تائبان) په دی چی بیشکه! الله هم دی

يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ وَاَنَّ اللّٰهَ

يَقْبَلُ	التَّوْبَةَ	عَنْ عِبَادِهٖ	وَيَاْخُذُ	الصَّدَقٰتِ	وَاَنَّ	اللّٰهَ
قبلوی	توبه	له بندګانو خپلو	او آخلی، قبلوی	خیراتونه (صدقات)	او بیشکه!	الله

قبلوی توبه له بندګانو خپلو او آخلی، قبلوی، صدقات او (نه پوهیږی په دی چی) بیشکه! الله

اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا.. په اخلاص سره د توبې کښونکو توبه الله جل جلاله قبلوي: د تبوک د غزا د پاره چې کله د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د طرفه څخه عام اعلان او ټولو مسلمانانو ته د تللو حکم وسو نو د سختي ګرمی زمانه وه مزل ډير ليري وو او ديو باقاعده لوی حکومت د تربيت يافته فوج سره مقابله وه کمه چي د اسلام په تاريخ کي اوله واقعه وه د دغه اسباب وه د کمو په وجه سره چي د دي حکم متعلق د خلګو حالات مختلف سول او د دوی ډير قسمونه ډلي جوړي سوې. يو قسم ډله د هغه مخلصو حضراتو وه چي د اول حکم اوريدو سره بې د څه تردد څخه د جهاد د پاره تيار سول: دوهم قسم هغه خلګ وه چي په اول کې څه تردد وکی خو وروسته بيا ملګري سول په دغه آيت کي الله جل جلاله د دغه کسانو ذکر کړی دی (الذين اتبعوه فی ساعة العسرة من بعد ما كاد يزيغ قلوب فريق منهم) دريم قسم د هغو حضراتو دی چي په واقعي طور سره د عذر خاوندان وه په دې وجه دوی د دغي غزا ته نه ولاړل د دوی ذکر په دغه آيت کي راغلی دی (ليس على الضعفآء الخ) پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿١٠٤﴾ وَقُلِ اعۡمَلُوۡا فَسَيَرَى اللّٰهُ

هُوَ التَّوَّابُ	الرَّحِيۡمُ	وَقُلِ	اعۡمَلُوۡا	فَسَيَرَى	اللّٰهُ
هم دی ښه توبه قبلوونکی	ښه رحم والا دی	وواېه (ای محمده!)	عمل کوئ تاسی	نو ژر به ووینی	الله

هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه رحم والا دی. وواېه (ای محمده!) عمل کوئ تاسی نو ژر به ووینی الله

عَمَلَكُمۡ وَرَسُوۡلُهٗ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ ؕ وَسَتُرَدُّوۡنَ اِلٰى عٰلِمِ

عَمَلَكُمۡ	وَرَسُوۡلُهٗ	وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ	وَسَتُرَدُّوۡنَ	اِلٰى عٰلِمِ
عمل ستاسی	او رسول د ده	او مؤمنان	او ژر به بیا بوتلی سئ تاسی	په (بعث سره) عالم

عمل ستاسی (په علم الشهود هم) او رسول د ده او مؤمنان، او ژر به بیا بوتلی سئ تاسی (په بعث سره) عالم

الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۚ﴿١٠٥﴾

الۡغَيۡبِ	وَالشَّهَادَةِ	فَيُنَبِّئُكُمۡ	بِمَا كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ
د پټو	او ښکاره وُ (الله) ته	نو خبر به کړی (الله) تاسی	په هغه سره چی وئ تاسی	چی کول به مو

د پټو او ښکاره وُ (الله) ته نو خبر به کړی (الله) تاسی په هغه سره چی وئ تاسی چی کول به مو.

وَاٰخَرُوۡنَ مُرۡجَوۡنَ لِاَمۡرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَاِمَّا

وَاٰخَرُوۡنَ	مُرۡجَوۡنَ	لِاَمۡرِ	اللّٰهِ	اِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ	وَاِمَّا
او نور کسان دی	چی وروسته کړی سوی دی	دپاره د امر کولو	د الله	یا به په عذاب کړی (الله) دوی	یا به

او نور کسان دی چی وروسته کړی سوی دی (له قبول د توبی) دپاره د امر کولو د الله یا به په عذاب کړی (الله) دوی یا به

يَتُوۡبُ عَلَيۡهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿١٠٦﴾ وَالَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا

يَتُوۡبُ	عَلَيۡهِمۡ	وَاللّٰهُ	عَلِيۡمٌ	حَكِيۡمٌ	وَالَّذِيۡنَ	اتَّخَذُوۡا
مهربانی وکړی	پر دوی	او الله	ښه عالم دی	ښه حکمت والا	او هغه (منافقان) دی چی	نیولی دی دوی

مهربانی وکړی پر دوی، او الله ښه عالم دی ښه حکمت والا. او (ځینی) هغه (منافقان) دی چی نیولی دی دوی

مَسۡجِدًا ضِرَارًا وَّكُفۡرًا وَّتَفۡرِيۡقًا ۢ بَيۡنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ

مَسۡجِدًا	ضِرَارًا	وَّكُفۡرًا	وَّتَفۡرِيۡقًا	بَيۡنَ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ
مسجد	دپاره د ضرر رسولو	او دپاره د کفر	او دپاره د بیلتون آچولو	په مینځ	د مؤمنانو کښی

مسجد دپاره د ضرر رسولو (مؤمنانو ته) او دپاره د کفر او دپاره د بیلتون آچولو په مینځ د مؤمنانو کښی

وَاٰخَرُوۡنَ مُرۡجَوۡنَ لِاَمۡرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ.. د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

څلورم قسم د هغه مخلصینو مسلمانانو وو کم چي د عذر د نیستوالي د سستی او ناراستی په وجه په جهاد کي شریک نه سول د دوی ذکر په دغه آیت کي الله ﷻ کړی دی (وآخرون اعترفوا) پنځم قسم د منافقینو وو کم چي د نفاق په سبب په جهاد کي نه وه شریک سوي د دوی ذکر په تیرو ډیرو ایاتونو کي راغلی دی لنډه داده چي په تیرو ایاتونو کي زیات ذکر د پنځم قسم منافقینو سوی دی په دې ذکر سوو ایاتونو کي د څلورم قسم حضراتو ذکر دی کم چي سره د مومن کیدو څخه د سستی او ناراستی په وجه په جهاد کي شریک نه سول: په اولني آیت کي الله ﷻ فرمايي (وآخرون اعترفوا بذنوبهم ..) یعني څه خلګ داسي هم دي کمو چي د خپلو ګناهونو اقرار وکی د دې خلګو عملونه ګډوډ دي څه ښه څه بد امید دی چي الله ﷻ د دوی توبه قبوله کړي حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمایي چي د الس کسان وه چي بې د څه صحیح عذره څخه د تبوک غزا ته نه وه تللي :پاته بیان پر راروان مخ وګوری

وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ

وَإِرْصَادًا	لِّمَنْ	حَارَبَ	اللَّهَ	وَرَسُولَهُ	مِن قَبْلُ
او دپاره د انتظار	دپاره د هغه چا چي	جنګ ئې کړی دی	له الله سره	او له رسول د دغه (الله) سره	پخوا (له دی څخه)

او دپاره د انتظار دپاره د هغه چا چي جنګ ئې کړی دی له الله سره او له رسول د دغه (الله) سره پخوا (له دی څخه)

وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ يَشْهَدُ

وَلَيَحْلِفُنَّ	إِنْ أَرَدْنَا	إِلَّا	الْحُسْنَىٰ	وَ اللَّهُ	يَشْهَدُ
او خامخا قسمونه خوری هرومرو دوی	چي اراده نه ده کړی موږ	مګر	د نیکی	او الله	شاهدی اداء کوی

او خامخا قسمونه خوری هرومرو دوی چي اراده نه ده کړی موږ مګر د (خصلت) نیک، او الله شاهدی اداء کوی

إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿۱۰۷﴾ لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا لَّمَسْجِدٌ

إِنَّهُمْ	لَكَاذِبُونَ	لَا تَقُمْ	فِيهِ	أَبَدًا	لَمَسْجِدٌ
چي بیشکه! دوی	هرومرو دروغجنان دی	مه دریږه ته	په دغه کښی	له سره هیڅکله	خامخا هغه مسجد

چي بیشکه! دوی هرومرو دروغجنان دی. مه دریږه ته په دغه (مسجد کښی) له سره هیڅکله، خامخا هغه مسجد

أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ

أُسِّسَ	عَلَى التَّقْوَىٰ	مِنْ أَوَّلِ	يَوْمٍ	أَحَقُّ	أَن تَقُومَ	فِيهِ
چي بنیاد ئې ایښول سوی دی	پر تقوی	له اولی	ورځی	ډیر لایق د دی دی	چي ودریږی ته	په هغه کښی

چي ایښی سوی دی (تاداو ئې) پر تقوی له اولی ورځی ډیر لایق د دی دی چي ودریږی ته په هغه کښی (لپاره د لمانځه)

فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿۱۰۸﴾

فِيهِ	رِجَالٌ	يُحِبُّونَ	أَن يَتَطَهَّرُوا	وَ اللَّهُ	يُحِبُّ	الْمُطَّهِّرِينَ
په دغه کښی	هسی سړی دی	چي خوښوی دوی	دا چي ښه پاک وساتی دوی	او الله	خوښوی	ښه ځان پاکوونکی

په دغه (مسجد) کښی هسی سړی دی چي خوښوی دوی دا چي ښه پاک وساتی ځانونه، او الله خوښوی ښه ځان پاکوونکی.

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ

أَفَمَنْ	أَسَّسَ	بُنْيَانَهُ	عَلَىٰ	تَقْوَىٰ	مِنَ	اللَّهِ	وَرِضْوَانٍ
آیا نو هغه څوک	چي ایښی ئې وی	تاداو خپل	پر	تقوی باندی	له	الله څخه	او په رضا (دالله سره)

آیا نو هغه څوک چي ایښی ئې وی تاداو (دودانی د دین) خپله پر تقوی (ویری) باندی له الله څخه او په رضا (دالله سره)

وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: بیا دغه کسان پر خپل کار باندي پښیمانه سول په دې کي اوو ۷ تنو خپل ځانونه د مسجد نبوي په ستنو پسي وتړل او دا وعده یي وکړل چي تر څو پوري زموږ توبه قبوله نه سي او نبي کريم ﷺ موږ په خپله خلاص نه کړي نو موږ به دغسي بند یو په دې حضراتو کي دابولبابه رضي الله عنه پر نوم باندي دټولو روایتونو اتفاق دی دنورو په نومونو کي مختلف روایتونه دي: نبي کريم ﷺ چي کله دوی تړلي وليدل او معلومه سول چي دوی داسي وعده کړیده چي تر څو پوري موږ نبي کريم ﷺ نه یو خلاص کړي تر هغه وخته پوري به موږ هم داسي بند یو نو دوی وفرمایل چي زه هم په الله جل جلاله باندي قسم کوم چي تر هغه وخته پوري به یي خلاص نه کړم تر څو چي الله جل جلاله ماته ددوی دخلاصولو حکم ونه کي ځکه چي جرم لوی دی پر دغه باندي دغه ذکر سوي ایاتونه رانازل سول او نبي کريم ﷺ ددوی دخلاصیدو حکم وکی اودوی خلاص سول. (تفسیر قرطبي) (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۱۰)

خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ

خَيْرٌ اَمْ	مَّنْ	اَسَّسَ	بُنْيَانَهٗ	عَلٰى	شَفَا	جُرُفٍ	هَارٍ
خير غوره دی	یا هغه څوک	چي اېښې ئې وی	تاداو خپل	په	غاړی	دکندی باندی	نړېدونکی

خير غوره دی يا هغه څوک چي اېښې ئې وی تاداو (دودانۍ د دين) خپل په غاړی دکندی باندی نړېدونکی

فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

فَانْهَارَ	بِهٖ	فِيْ نَارِ	جَهَنَّمَ	وَاللّٰهُ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ
نو ونړېږی	سره له جوړوونکی	په اور	د دوزخ کښی	او الله	نه ښيي سمه صافه لاره	قوم

نو ونړيږی (داغاړه د کندی) سره له جوړوونکی په اور د دوزخ کښی او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ

الظّٰلِمِيْنَ	لَا يَزَالُ	بُنْيَانُهُمُ	الَّذِيْ	بَنَوْا	رِيْبَةً	فِيْ
ظالمانو ته	هميشه به وی	ماڼی (دنفاق د) دوی	هغه چي	بناء کړی ده دوی	سبب د شک	په

ظالمانو ته. هميشه به وی ماڼی (دنفاق د) دوی هغه چي بناء کړی ده دوی موجب د شبهې د شک او دنفاق په

قُلُوْبِهِمْ اِلَّاۤ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١١٠﴾ ع

قُلُوْبِهِمْ	اِلَّاۤ	اَنْ تَقَطَّعَ	قُلُوْبُهُمْ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ
زړونو د دوی کښی	مګر	چي ټوټې ټوټې سی	زړونه د دوی	او الله	ښه عالم دی	ښه حکمت والا دی

زړونو د دوی کښی مګر چي ټوټې ټوټې سی زړونه د دوی (يعني چي مړه سی) او الله ښه عالم دی ښه حکمت والا دی.

اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ

اِنَّ	اللّٰهَ	اشْتَرٰى	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ	اَنْفُسَهُمْ	وَاَمْوَالَهُمْ
بيشکه! چي	الله	اخيستی دی	له مؤمنينو څخه	نفسونه د دوی	او مالونه د دوی

بيشکه! چي الله پيرودلی (آخيستلی) دی له مؤمنينو څخه نفسونه د دوی او مالونه د دوی

بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ

بِاَنَّ	لَهُمُ	الْجَنَّةَ	يُقَاتِلُوْنَ	فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	فَيَقْتُلُوْنَ
په عوض د دی چي بيشکه!	سته دوی ته	جنت	جنګونه کوی دوی	په لاره	د الله کښی	نو وژني مؤمنان دا (کفار)

په عوض د دی چي بيشکه! سته دوی ته جنت، جنګونه کوی دوی په لاره د الله کښی نو وژني مؤمنان دا (کفار)

اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ.

دمنافقينو يوبل سازش داسلام او مسلمانانو خلاف: په دغه ذکر سوو اياتونو کي هم ددوی ديو سازش ذکر دی چي واقعه يي داده چي په مدينه منوره کي يو سړی چي نوم يي ابوعامر وو د جاهليت په زمانه کي نصراني سوی وو او دابو عامر راهب په نامه سره مشهور وو دا هغه سړی دی د کم زوی حضرت حنظله ﷺ چي مشهور صحابي وو د چا مړ بدن ته چي فرشتو غسل ورکی او په دې وجه دغسيل الملائکه په نامه سره مشهور سو مګر پلارې يي پر خپله ګمراهي او نصرانيت باندي قايم پاته سو: کله چي نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړی نو ابوعامر راهب په خدمت کي حاضر سو او پر اسلام يي قسم قسم اعتراضونه وکړل دنبي کريم ﷺ په جواب باندي هم ددې بد نصيبه اطمينان ونه سو بلکي دا يي وويل چي په موږ دواړو کي چي کم درواغجن وي هغه دي مردود او دخپلو خپلوانو څخه ليري په مسافری کي مړ سي او وې ويل چي ستا په مقابله کي چي کم دښمن راځي زه به يي مدد کوم: پاته بيان پر راروان مخ ګوري:

ع ١٣ ٢

وَيُقْتَلُوْنَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ

وَيُقْتَلُوْنَ	وَعْدًا	عَلَيْهِ	حَقًّا	فِي التَّوْرٰىةِ	وَالْاِنْجِيْلِ
او وژلی سی دغه مؤمنان	وعده ده	په دغه باندی	وعده حقه	په تورية كښى	او په انجيل كښى

او (كله د كفارو له لوری) وژلی سی دغه مؤمنان وعده ده په دغه (الله) باندی وعده حقه په تورية كښى او په انجيل كښى

وَالْقُرْاٰنِ وَمَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا

وَالْقُرْاٰنِ	وَمَنْ	اَوْفٰى	بِعَهْدِهٖ	مِنَ	اللّٰهِ	فَاسْتَبْشِرُوْا
او په قرآن كښى	او څوک دى	ښه وفا كوونكى	په وعده خپلى سره	له	الله څخه	نو خوشحاله سئ تاسى

او په قرآن كښى، او څوک دى ښه وفا كوونكى په وعدى خپلى سره له الله څخه، نو خوشحاله سئ تاسى (اى مؤمنانو)

بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١١١﴾

بِبَيْعِكُمُ	الَّذِيْ	بَايَعْتُمْ	بِهٖ	وَذٰلِكَ	هُوَ الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ
په بيع ستاسى باندى	هغه چى	معامله كړى ده تاسى له الله سره	په هغى	او دغه	هم دغه برى دى	ډير لوى

په بيع ستاسى باندى هغه چى معامله كړى ده تاسى له الله سره په هغى، او دغه (بيعه چى ده) هم دغه برى دى ډير لوى.

اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ

اَلتَّآئِبُوْنَ	الْعٰبِدُوْنَ	الْحٰمِدُوْنَ	السَّآئِحُوْنَ
توبه كوونكى دى	عبادت كوونكى دى	شكر كوونكى دى	بى تعلقه پاتى كيدونكى دى

(دوى) توبه كوونكى دى (له معاصيو) عبادت كوونكى شكر كوونكى (الله ته په اخلاص) بى تعلقه پاتى كيدونكى دى

الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

الرّٰكِعُوْنَ	السّٰجِدُوْنَ	الْاٰمِرُوْنَ	بِالْمَعْرُوْفِ
ركوع كوونكى دى	سجدى كوونكى دى	حكم كوونكى دى	په معروف نيكيو

ركوع كوونكى دى سجدى كوونكى دى (په لمونځونو خپلو كښى) حكم كوونكى دى په معروف

وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ وَبَشِّرِ

وَالنَّاهُوْنَ	عَنِ الْمُنْكَرِ	وَالْحٰفِظُوْنَ	لِحُدُوْدِ	اللّٰهِ	وَبَشِّرِ
او منع كوونكى دى	له منكرو له بديو	او ساتونكى دى	دحدودو	دالله	او زيرى وركړه

او منع كوونكى دى (خلګو لره) له منكرو او ساتونكى دى د حدودو د الله او زيرى وركړه (اى محمده)

اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ دتير مخ پاته بيان دلته وكورى:
چنانچي دحنين تر غزا پوري په ټولو غزاګانو كي يي دمسلمانانو ددښمنانو سره په جنګ كي شركت وكى كله چي دهوازنو لويي او قوي قبيلې هم شكست وخوړى نو دى مايوسه سواو دشام ملک ته وتښتيدى ځكه چي دا ملک دنصرانيانو مركز وو هلته چي ولاړى نو دخپلو خپلوانو څخه ليري مړسو كمه دعا چي يي كړى وه هغه هم پرده پيټ سوه كله چي ديو سړي رسوايي په تقديركي مقرره سي نو هغه هم داسي كار كوي په خپله دعا سره ذليل اوخوار سو مګر تر څو پوري چي ژوندى وو داسلام او مسلمانانو په خلاف سازشونوكي اخته وو چنانچي دروم بادشاه قيصر يي دې ته تياركى چي دى په خپل لښكر سره پر مدينه منوره حمله وكړي او مسلمانان ددې څخه وباسي: ددې سازش يوه معامله داسي پيښه سوه چي ده مديني منافقينو ته دكمو چي دده سره تعلق وو خط وليكى چي زه ددې كوشش كوم چي قيصر پر مدينه منوره حمله وكړي: پاته بيان پر راروان مخ وګورى:

الْمُؤْمِنِينَ ۝۱۱۲ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوٓا أَنْ

الْمُؤْمِنِينَ	مَا كَانَ	لِلنَّبِيِّ	وَالَّذِينَ	آمَنُوٓا	أَنْ
مومنينو ته	نه دی لايق	نبی ته	او هغو کسانو ته	چې ايمان لرونکی دی	دغه چې

مومنينو ته (په جنت سره). نه دی (لايق او روا) نبی ته او هغو کسانو ته چې ايمان لرونکی دی دغه چې

يَّسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓا أُولِي قُرْبَىٰ مِنْ بَعْدِ

يَّسْتَغْفِرُوا	لِلْمُشْرِكِينَ	وَلَوْ كَانُوٓا	أُولِي	قُرْبَىٰ	مِنْ بَعْدِ
مغفرت وغواړي دوی	دپاره د مشرکانو	او اگر که وی دا	خاوندان	دخپلوی	وروسته له دی خبری چې

مغفرت وغواړي دوی دپاره د مشرکانو او اگر که وی دا (مشرکان) خاوندان دخپلوی وروسته له دی خبری چې

مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ۝۱۱۳ وَمَا كَانَ

مَا تَبَيَّنَ	لَهُمْ	أَنَّهُمْ	أَصْحَابُ	الْجَحِيمِ	وَمَا كَانَ
ښکاره سی	دوی ته	چې بيشکه! دوی	صاحبان دی	د دوزخ	او نه وه

ښکاره سی دوی ته چې بيشکه! دوی صاحبان دی د دوزخ (او پر کفر مړه دی). او نه وه

اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ إِيَّاهُ

اسْتِغْفَارُ	إِبْرَاهِيمَ	لِأَبِيهِ	إِلَّا	عَنْ	مَّوْعِدَةٍ	وَّعَدَهَآ	إِيَّاهُ
بخښنه غوښتل	دابراهيم	دپاره د پلار خپل	مگر	په سبب	د وعدی	چې کړی وه هغه وعده	له دغه (ابراهيم) سره

بخښنه غوښتل د ابراهيم دپاره د پلار خپل مگر په سبب د وعدی چې کړی وه (پلار) هغه وعده له دغه (ابراهيم) سره چې مسلمانيږم

فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ

فَلَمَّا	تَبَيَّنَ	لَهُ	أَنَّهُ	عَدُوٌّ	لِّلَّهِ	تَبَرَّأَ	مِنْهُ
نو کله چې	معلومه سوه	ابراهيم ته	چې بيشکه دغه پلار د ده	دښمن دی	د الله	نو بيزاره سو	له هغه

نو کله چې معلومه سوه ابراهيم ته چې بيشکه! دغه پلار د ده دښمن دی د الله (چې مړ سو په کفر) نو بيزاره سو له هغه

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ۝۱۱۴ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا

إِنَّ	إِبْرَاهِيمَ	لَأَوَّاهٌ	حَلِيمٌ	وَمَا كَانَ	اللَّهُ	لِيُضِلَّ	قَوْمًا
بيشکه!	ابراهيم	خامخا ډير آه کوونکی	ډير تحمل والاؤ	او نه دی	الله	چې بې لاری کړی	هيڅ يو قوم

بيشکه! ابراهيم خامخا ډير آه کوونکی (په زړه پوست) ډير تحمل والاؤ. او نه دی الله چې بې لاری کړی هيڅ يو قوم

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوٓا.. دتير مخ پاته بيان

دلته وگوری: مگر ستاسي يو اجتماعي طاقت پکار دي چي په دغه وخت کي دقيصر مدد وکی ددې صورت داسي پکار دی چي تاسي په مدينه منوره کي يو کور جوړ کړی او دا ښکاره کړی چي موږ جمات جوړوو چي دمسلمانانو شک نه وي بيا په دغه ځای کي تاسي خپل خلگ جمع کوی او ځومره وسله او سامان چي جمع کيږي هغه هم جمع کړی دلته دمسلمانانو خلاف په خپل مينځ کي په مشوره سره معاملې طی کوی: دده په مشوره باندي دوولسو منافقينو دمدينې طيبې په قبا محله کي کم ځای چي دهجرت په اول کي نبي کريم ﷺ قيام وفرمايي او يو جمات يي جوړ کړی وو هلته يي ديو بل جمات بنياد کښيښووی بيا يي مسلمانانو ته دفريب ورکولو دپاره او په دوکه کي دساتلو دپاره يي دااراده وکړه چي په خپله نبي کريم ﷺ يو لمونځ دلته وکړي چي ټول مسلمانان مطمئن سي چي داهم يو جمات او مسجد دی لکه چي ددې ځخه مخکي يو مسجد دلته جوړ سوی وو. پاته بيان پر راروان مخ وگوری.

بَعۡدَ اِذۡ هَدٰىهُمۡ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمۡ مَّا يَتَّقُوۡنَ ؕ

بَعۡدَ اِذۡ	هَدٰىهُمۡ	حَتّٰى	يُبَيِّنَ	لَهُمۡ	مَّا يَتَّقُوۡنَ ؕ
وروسته له هغه وقت چي	لاره ئې وښوول له دوى ته	ترهغه پورى	چي بيان كړى	دوى ته	هغه چي ځان ترى وساتى

وروسته له هغه وقت چي لاره ئې وښوول له دوى ته (داسلام) ترهغه پورى چي بيان كړى دوى ته هغه شيز چي ځان ترى وساتى

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴿١١٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ

اِنَّ	اللّٰهَ	بِكُلِّ شَىۡءٍ	عَلِيۡمٌ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَهٗ	مُلۡكُ	السَّمٰوٰتِ
بيشكه	الله	پرهر شي باندى	ښه عالم دى	بيشكه! چي	الله	(خاص) ده لره دى	سلطنت	دآسمانونو

بيشكه! الله پرهر شيز (شى) باندى ښه عالم دى. بيشكه! چي الله (خاص) ده لره دى سلطنت دآسمانونو

وَالۡاَرۡضِ ؕ يُحۡىٖ وَيُمِيۡتُ ؕ وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ

وَالۡاَرۡضِ ؕ	يُحۡىٖ	وَيُمِيۡتُ ؕ	وَمَا	لَكُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مِنۡ وَّلِىٍّ
او دمځكى	ژوندى كول كوى	او مره كول كوى	او نسته	تاسي ته	بى له	الله څخه	هيڅ ولى

او دمځكى ژوندى كول او مره كول كوى، او نسته تاسي ته بى له الله څخه هيڅ ولى (دوست ساتونكى له آفاتو)

وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿١١٦﴾ لَقَدۡ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِىِّ وَالۡمُهٰجِرِيۡنَ

وَّلَا نَصِيۡرٍ	لَقَدۡ	تَّابَ	اللّٰهُ	عَلَى النَّبِىِّ	وَالۡمُهٰجِرِيۡنَ
او نه مددګار	خامخا په تحقيق	رجوع كړى ده	الله	پرنبى باندى	او (پر) مهاجرينو

او نه مدد ګار. خامخا په تحقيق رجوع كړى ده الله پرنبى باندى او (پر) مهاجرينو

وَالۡاَنۡصَارِ الَّذِيۡنَ اتَّبَعُوۡهُ فِىۡ سَاعَةِ الۡعُسۡرَةِ مِنۡۢ بَعۡدِ

وَالۡاَنۡصَارِ	الَّذِيۡنَ	اتَّبَعُوۡهُ	فِىۡ سَاعَةِ	الۡعُسۡرَةِ	مِنۡۢ بَعۡدِ
او انصارو	هغو كسانو باندى	چي متابعت كړى وو دوى دنبى	په وخت	دتنګسى كښى	وروسته له هغه چي

او انصارو هغو كسانو باندى چي متابعت كړى وو دوى د نبى په وقت د تنګسى (او سختى) كښى وروسته له هغه چي

مَا كَادَ يَزِيۡغُ قُلُوۡبُ فَرِيۡقٍ مِّنۡهُمۡ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّهٗ

مَا كَادَ	يَزِيۡغُ	قُلُوۡبُ	فَرِيۡقٍ	مِّنۡهُمۡ	ثُمَّ	تَابَ	عَلَيۡهِمۡ ؕ	اِنَّهٗ
نژدى سوى وو	چي كاږه سى	زړونه	ديوى ډلى	له دوى	بيا يې	رجوع په رحمت سره وكړه	پردوى	بيشكه! چي الله

نژدى سوى وو چي كاږه سى زړونه د يوى ډلى له دوى بيا رجوع په رحمت سره وكړه (الله) پردوى! بيشكه! چي الله

اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: ددوى يوه ډله دنبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او عرض يي وكى چي دقبا موجوده مسجد دډيرو خلګو څخه ليري دى كمزورو او ناجوړوته هلته تلل مشكل دي او په خپله مسجد قبا دومره لوى اوپراخه هم نه دى چي دټول كلي خلګ په دي كي ځاى سي په دي وجه موږ يو بل مسجد ددې كار دپاره جوړ كړى دى چي ضعيفو مسلمانانو ته فايده ورسيږي تاسي په دې مسجد كي يو لمونځ وكى چي بركتي سي. نبي كريم ﷺ دغه وخت د تبوك دغزا په تيارى كي مصروفه وو دوى داوعده وكړه چي داوخت خو موږ ته سفر په مخكي دى دواپسى څخه وروسته به موږ په دې كي لمونځ وكړو ليكن دتبوك دغزا څخه پر واپسى چي كله دوى دمدينې منورې په خواه كي پريو مقام باندي ديره سوله نو دا ذكر سوي اياتونه رانازل سول چي په هغه كي الله ﷻ دمنافقينو سازش په ډاګه او ښكاره كى. نور تفصيل په معارف القرآن تفسير كي وګورى.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۱۸)

بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾ وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ؕ

بِهِمْ	رَءُوْفٌ	رَّحِيْمٌ	وَّعَلَى	الثَّلٰثَةِ	الَّذِيْنَ	خُلِّفُوْا ؕ
پر دوی باندی	ډیر مهربان	زیات رحم والا دی	او پر	دری تنو	هغو چي	بیرته پاتي سوي وو

پر دوی باندی ډیر مهربان زیات رحم والا دی. او (خصوصاً) پر هغو دری تنو چي بیرته پاتي سوي وو (له قبوله د توبی)

حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ

حَتّٰۤى	اِذَا	ضَاقَتْ	عَلَيْهِمُ	الْاَرْضُ	بِمَا	رَحُبَتْ
ترهغه پوری	چي	تنګه سوه	پر دوی	مځکه	سره له	پراخوالی د دی (مځکی)

ترهغه پوری چي تنګه سوه پر دوی مځکه (په سبب د بی التفاتی د خلګو) سره له ارتوالی د دی (مځکی)

وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ

وَضَاقَتْ	عَلَيْهِمْ	اَنْفُسُهُمْ	وَظَنُّوْۤا	اَنْ لَّا مَلْجَاَ	مِنَ	اللّٰهِ
او تنګ سول	پر دوی	زړونه د دوی	او یقین ئی وکړ	چي نسته ځای د پناه	له (قهره د)	الله

او تنګ سول پر دوی زړونه د دوی او یقین ئی وکړ چي نسته ځای د پناه له (قهره د)

اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

اِلَّاۤ	اِلَيْهِ ؕ	ثُمَّ تَابَ	عَلَيْهِمْ	لِيَتُوْبُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ
مګر	هم د ده ته دی	بیا رجوع وکړه	پر دوی	د پاره د دی چي توبه وباسی دوی	بیشکه! چي	الله	هم دی دی

الله مګر هم د ده ته دی، بیا رجوع وکړه (الله) پر دوی د پاره د دی چي توبه وباسی دوی، بیشکه! چي الله هم دی دی

التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ

التَّوَّابُ	الرَّحِيْمُ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	اللّٰهَ
ښه توبه قبلوونکی	ډیر رحم والا	ای	هغو کسانو	چي ایمان ئی راوړی دی	وبیریږئ تاسی	له الله

ښه توبه قبلوونکی ډیر رحم والا. ای هغو کسانو چي ایمان ئی راوړی دی وبیریږئ تاسی له الله

وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ

وَكُوْنُوْا	مَعَ الصّٰدِقِيْنَ	مَا كَانَ	لِاَهْلِ	الْمَدِيْنَةِ
او اوسئ	سره له صادقانو	نه دی روا	د پاره د خلګو	د مدینی

او اوسئ سره له صادقانو (چي محمد او اصحاب ئی دی). نه دی روا د پاره د خلګو د مدینی

ع

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ. دتقوی صفت په انسان کي دصالحانو او متقیانو په صحبت سره پیداکیږي: ددغه ایت څخه په مخکني ایاتونو کي الله جل جلاله دهغه درو مخلصو صحابه کرامو رضي الله عنهم قصه ذکرکړې وه کم چي دتبوک دغزا څخه پاته سوي وه خو بیا هم الله جل جلاله ددوی توبه قبوله کړه ځکه چي دوی توبه په اخلاص سره ویسته او دا ټوله ددوی دتقوای او دخدای جل جلاله څخه دبیري نتیجه وه په دې وجه په دې آیت کي الله جل جلاله عامو مسلمانانو ته دتقوی هدایت فرمایلی دی او په (کونوا مع الصدقین) کي یې دې ته طرفته اشاره وفرمایله چي دتقوی دصفت دحاصلولو طریقه دصالحانو او صادقانو سره صحبت او په عمل کي ددوی سره موافقت دی په دې کي شاید دې طرفته اشاره وي چي دکمو حضراتو څخه دا خطا وسوه په دوی کي دمنافقینو دصحبت اومجلس او ددوی د مشورې هم دخل وو د الله جل جلاله دنافرمانو دصحبت څخه ځان ساتل پکار دي او دصادقانو صحبت او دهغو سره ناسته ولاړه او وخت تیرول اختیارول پکار دي.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ص۴۳)

وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ

وَمَنْ	حَوْلَهُمْ	مِّنَ	الْاَعْرَابِ	اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا	عَنْ
او هغه چاته چې	چاپېره د دوی دی	له	اعرابو څخه	دا کار چې ېېرته پاتې سي دوی	له

او هغه چاته چې چاپېر د دوی دی له (صحرائی) عربو څخه دا کار چې ېېرته پاتې سی دوی له

رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ذٰلِكَ

رَّسُوْلِ	اللّٰهِ	وَلَا يَرْغَبُوْا	بِاَنْفُسِهِمْ	عَنْ نَّفْسِهٖ	ذٰلِكَ
رسول	دالله څخه	او نه دا چې مینه به کوی دوی	په ځانونو خپلو	له نفسه د رسول څخه	دا

رسول د الله څخه (په تلو د غزا کښی) او نه (دا چې) مینه به کوی دوی په ځانونو خپلو له نفسه د رسول څخه دغه

بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ

بِاَنَّهُمْ	لَا يُصِيْبُهُمْ	ظَمَاٌ	وَّلَا نَصَبٌ	وَّلَا مَخْمَصَةٌ	فِيْ سَبِيْلِ
په سبب د دی دی چې بیشکه! دوی چې دی	نه رسیږی دوی ته	تنده	او نه ستومانی	او نه لوږه	په لاره

په سبب د دی دی چې بیشکه! دوی چې دی نه رسیږی دوی ته تنده او نه ستومانی او نه لوږه په لاره

اللّٰهِ وَلَا يَطَــُٔوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ

اللّٰهِ	وَلَا يَطَــُٔوْنَ	مَوْطِئًا	يَّغِيْظُ	الْكُفَّارَ
دالله کښی	او نه ږدی دوی قدمونه	پر کوم ځای	چې په قهر سره راولی	کفارو لره

د الله کښی او نه ږدی دوی قدمونه پر کوم ځای (له ځایونو د کفارو) چې په قهر سره راولی (دغه قدمونه) کفارو لره

وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ

وَلَا يَنَالُوْنَ	مِنْ عَدُوٍّ	نَّيْلًا	اِلَّا	كُتِبَ	لَهُمْ
او نه رسیږی دوی	هیڅ دښمن ته	په رسیدلو	مګر	لیکلی سوی دی	دوی ته

او نه رسیږی دوی هیڅ دښمن ته په رسیدلو سره (چې وژل یا بندیان کول یا لوټ کول) مګر لیکلی سوی دی دوی ته

بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢٠﴾

بِهٖ	عَمَلٌ	صَالِحٌ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُضِيْعُ	اَجْرَ	الْمُحْسِنِيْنَ
په سبب د هر یوه له دغو	عمل	نیک	بیشکه! چې	الله	نه خرابوی	اجر (ثواب)	دنیکی کوونکو .

په سبب د هر یوه له دغو مذکوره ؤ شیانو عمل نیک ، بیشکه! چې الله نه خرابوی اجر (ثواب) دنیکی کوونکو .

وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ...په جهاد کي قدم پر قدم همداشان پر هر محنت او مشقت باندي اجر سته : په دغه آیت کي الله ﷻ فرمايي چي دمديني اوسيدونكوته او كم خلگ چي چار چاپيره دمديني منورې پراته دي دوی لره نه دي پكار چي درسول الله ﷺ ملگرتيا پريږدي اونه ورته دا ښايي چي خپل ځانونه ددوی دځان څخه عزيز وگڼي چي دوی تكليف تيروي او دغه خلگ په ارامه ناست وي بلكه ددوي سره تلل ورته ضروري وه او داددوی سره تلل ضروري كيدل په دې سبب سره چي علاوه داداء كولو دحق دمحبت درسول دغو مجاهدينو ته په خبره خبره باندي ثواب حاصل سو كه دوی په اخلاص سره تلی نو دوی ته به هم دا وركول كيدای چنانچي دوی ته دالله ﷻ په لاره كي (يعني جهاد كي) چي كمه تنده ورسيږي او كم ستړی والی ورسيږي او كمه لوږه ورسيږي او كم چي ځي په دغه تلو سره كفار خفه كوي او ددښمانو چي څه خبر اخلي په دې ټولو ددوی په نوم يو يو كار ليكل كيږي يعني نيكی ورته ليكل كيږي.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۴۴)

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ

وَلَا يُنفِقُونَ	نَفَقَةً	صَغِيرَةً	وَّلَا كَبِيرَةً	وَّلَا يَقْطَعُونَ
او نه لګوی دوی	هیڅ یوه نفقه	وړه	او نه لویه	او نه قطع کوی هیڅ

او نه لګوی دوی (په جهاد کښی) هیڅ یوه نفقه وړه (یعنی لږه) او نه لویه او نه قطع کوی هیڅ

وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ

وَادِيًا	إِلَّا	كُتِبَ	لَهُمْ	لِيَجْزِيَهُمُ	اللَّهُ
یو میدان	مګر	خو لیکلی سی هغه	دوی ته	لپاره د دی چی جزا ورکړی دوی ته	الله

یو میدان مګر خو لیکلی سی (ثواب د) هغه دوی ته (د هغه لیکل) لپاره د دی چی جزا ورکړی دوی ته الله

أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً

أَحْسَنَ مَا	كَانُوا	يَعْمَلُونَ	وَمَا كَانَ	الْمُؤْمِنُونَ	لِيَنفِرُوا	كَافَّةً
دهغو ډیرو ښو نیکو کارونو	چی وو دوی	چی کول به ئی	او نه دی	مؤمنان	داسی چی ووځی	ټول له

دهغو ډیرو ښو نیکو کارونو چی وو دوی چی کول به ئی. او نه دی مؤمنان داسی چی ووځی ټول له څرمی

فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ

فَلَوْ	لَا نَفَرَ	مِن كُلِّ	فِرْقَةٍ	مِّنْهُمْ	طَائِفَةٌ	لِّيَتَفَقَّهُوا	فِي الدِّينِ
نو ولی	نه ووځی	له هری	ډلی	له دی مؤمنانو څخه	یو ټولی	دپاره د دی چی پوه پیدا کړی دغه	په دین کښی

نو ولی نه ځی له هری ډلی له دی مؤمنانو څخه یو ټولی دپاره د دی چی پوه پیدا کړی دغه (ټولنکی) په دین کښی

وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ

وَلِيُنذِرُوا	قَوْمَهُمْ	إِذَا	رَجَعُوا	إِلَيْهِمْ	لَعَلَّهُمْ
او دپاره د دی چی خبر ورسوی	قوم خپل ته	کله چی	بیرته راسی دوی	په لوری دهغو	لپاره د دی چی هغوی

او دپاره د دی چی خبر ورسوی قوم خپل ته کله چی بیرته راسی دوی په لوری دهغوی لپاره د دی چی هغوی

يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ

يَحْذَرُونَ	يَا أَيُّهَا	الَّذِينَ	آمَنُوا	قَاتِلُوا	الَّذِينَ
ویریږی (له الله)	ای	هغو کسانو چی	ایمان ئی راوړی دی	جنګ کوئ تاسی	له هغو خلګو سره

ویریږی (له الله). ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی جنګ کوئ تاسی له هغو خلګو سره

ع ۱۵

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً .. دعلم دین دطلب کولو فرض والی او دهغه دحصول فضیلتونه:

امام قرطبي رحمه الله فرمايي چي دا ايت دعلم دين دطلب اصل او بنياد دی او چي فکر وسي نو په دې آيت کي يي دعلم دين دنصاب خلاصه ښوولې ده او دعلم دحاصلولو څخه وروسته دعالم فرائض: دعلم دين په فضيلتونو او لوی ثواب او ددې په متعلقاتو باندي علماوو مستقل کتابونه ليکلي دي دلته يو څو مختصر حديثونه نقل کيږي:

دحضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دی، دی فرمايي چي ما دنبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چي کم سړی پر يوه لاره باندي ځي چي مقصد يي علم حاصلول وي الله جل جلاله ددې تلو په ثواب کي دده لاره جنت ته برابروي او دا چي دالله جل جلاله فرشتې دطالب العلم دپاره خپل وزرونه هواروي او دا چي دعالم دپاره دټولو اسمانونو او مځکي مخلوقات او داوبو ماهي دعا او استغفار کوي او دا چي دعالم ښه والی پرډير نفلي عبادت کوونکي باندي داسي دی لکه دڅوارلسم دسپوږمۍ ښه والی پر باقي ستورو باندي. پاته حديث شريف پر راروان مخ وګوری.

الربع

يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوْٓا

يَلُوْنَكُمْ	مِّنَ	الْكُفَّارِ	وَلْيَجِدُوْا	فِيْكُمْ	غِلْظَةً	وَاعْلَمُوْٓا
چې نژدې دي تاسي ته	له	کفارو	او پیدا دې کړي دوی	په تاسې کښې	کلکوالی	او پوه سئ چې

چې نژدې (او خرمې) دې تاسي ته له کفارو او ودې مومي دوی په تاسې کښې کلکوالی ، او پوه سئ (ای مؤمنانو) چې

اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ

اَنَّ	اللّٰهَ	مَعَ الْمُتَّقِيْنَ	وَاِذَا	مَآ اُنْزِلَتْ	سُوْرَةٌ	فَمِنْهُمْ
بېشکه!	الله	له پرهیزګارانو سره دی	او کله چې	نازل کړی سي	کوم سورت	نو ځینې له دغو منافقانو هغه دي

بېشکه! الله له پرهیزګارانو سره دی. او کله چې نازل کړی سي کوم سورت (برخه د قرآن) نو ځینې له دغو منافقانو هغه دي

مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ

مَّنْ يَّقُوْلُ	اَيُّكُمْ	زَادَتْهُ	هٰذِهٖٓ	اِيْمَانًا
چې وائي	کوم یو دی له تاسي	چې زیات کړ هغه ته	دې سورت	ایمان

چې وائي (په مینځ خپل کښې) کوم یو دی له تاسي چې زیات کړ هغه ته دې سورت ایمان (وفرمایل الله)

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ

فَاَمَّا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	فَزَادَتْهُمْ	اِيْمَانًا	وَّهُمْ
نو هر څه	هغه کسان چې	ایمان لرونکی دي	نو زیات کړ دوی ته	ایمان	حال دا چې دوی

نو هر څه هغه کسان چې ایمان لرونکی دي نو زیات کړ (دغه سورت) دوی ته ایمان حال دا چې دوی

يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

يَسْتَبْشِرُوْنَ	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ
خوشحالیږي	او هر څه	هغه کسان چې	په زړونو د دوی	کښې مرض دی

خوشحالیږي. او هر څه هغه کسان چې په زړونو د دوی کښې مرض (دنفاق، شک او کفر) دی

فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ

فَزَادَتْهُمْ	رِجْسًا	اِلٰى	رِجْسِهِمْ	وَمَاتُوْا	وَهُمْ
نو زیاتوي دوی ته	ګندګي	پر	ګندګی د دوی	او مري دوی	په دې حال چې دوی

وَاعْلَمُـــوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَـــعَ الْمُتَّقِيْنَ دتیـر مـخ پاتـه بیان دلته وګوری: اوداهـم نبـي کـریم ﷺ وفرمایـل چـي عالمـان دپیغمبرانـو وارثـــان دي اودا چـــي انبیاوو د سرو سپینو څخه میـراث نـه دی پاتـه کـړی لیکن دعلم میراث یي پاته کـړی دی نـو کـم سـړی چي دادعلم میراث حاصل کي هغه ډیر لوی دولت حاصل کـی: پـه بـل حدیث شریف کـي دي چـي یـوه سـړي درســول الله ﷺ څخــه پوښتنه وکـړه چي پـه بني اسـرآئیلوکي دوه سـړي وه یـو عـالم وو چـي صـرف لمونځ به يي کوی او بیا به خلګـو تـه پـه دینـي تعلـیم ورکولـو کـي مشـغولیدی. دوهـم بـه ټولـه ورځ روژه نیولـه او ټولـه شپه بـه یـي عبـادت کـوی پـه دې دواړوکـي کـم یوښـه دی؟ دوی ﷺ وفرمایـل چـي ددغه عالم ښه والی پر دغه عبـادت کـوونکي بانـدي داسـي دی لکـه زمـا ښـه والی چي په تاسي کي پر یـوادنی سـړي بانـدي دی اونبـي کـریم ﷺ فرمـایلي دي چـي یـو فقیـه دشـیطان پـه مقابلـه کـي دیـوزر عبادت ګذارو څخه زیات قـوي او مضـبوط دی: نـورهم زیـات حدیثونـه پـه فضـیلت کـي دعلـم سـته دلتـه هـم دغـه کـافي دي: (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۴۷)

كٰفِرُوۡنَ ﴿١٢٥﴾ اَوَلَا يَرَوۡنَ اَنَّهُمۡ يُفۡتَنُوۡنَ فِيۡ كُلِّ عَامٍ

كٰفِرُوۡنَ	اَوَلَا يَرَوۡنَ	اَنَّهُمۡ	يُفۡتَنُوۡنَ	فِيۡ كُلِّ	عَامٍ
كافران دي	آيا نه ګوري دوى	چې بيشكه! دوى	مبتلا كولى سي	په هر	يوه كال كښې

كافران دي. آيا (فكر نه كوي) او نه ګوري دوى چې بيشكه! دوى مبتلا كولى سي په هر يوه كال كښې

مَّرَّةً اَوۡ مَرَّتَيۡنِ ثُمَّ لَا يَتُوۡبُوۡنَ وَلَا هُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ ﴿١٢٦﴾

مَّرَّةً	اَوۡ مَرَّتَيۡنِ	ثُمَّ	لَا يَتُوۡبُوۡنَ	وَلَا هُمۡ	يَذَّكَّرُوۡنَ
يو كرت	يا دوه كرته	بيا	له سره هغوى نه كوي توبه	او نه دوى	پند اخلي

يو كرت يا دوه كرته بيا له سره هغوى نه كوي توبه (له نفاقه) او نه دوى پند اخلي (په دې ابتلاء) .

وَاِذَا مَاۤ اُنۡزِلَتۡ سُوۡرَةٌ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ اِلٰى بَعۡضٍ

وَاِذَا	مَاۤ اُنۡزِلَتۡ	سُوۡرَةٌ	نَّظَرَ	بَعۡضُهُمۡ	اِلٰى بَعۡضٍ
او كله چې	نازل كړى سي	كوم سورت	نو وګوري	ځينى د دوى	ځينو نورو ته

او كله چې نازل كړى سي كوم سورت (چې پكښې عيب وى د منكرينو) نو وګوري ځينى د دوى ځينو نورو ته

هَلۡ يَرٰىكُمۡ مِّنۡ اَحَدٍ ثُمَّ انۡصَرَفُوۡا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوۡبَهُمۡ

هَلۡ	يَرٰىكُمۡ	مِّنۡ اَحَدٍ	ثُمَّ	انۡصَرَفُوۡا	صَرَفَ	اللّٰهُ	قُلُوۡبَهُمۡ
آيا	وينى تاسى	كوم يو	بيا	به ولاړل	ګرځولي دى	الله	زړونه د دوى

آيا وينى تاسى كوم يو (د مسلمانانو څخه) بيا به ولاړل (له مجلسه)، ګرځولي دى الله زړونه د دوى (له تولو نيكيو)

بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُوۡنَ ﴿١٢٧﴾ لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ

بِاَنَّهُمۡ	قَوۡمٌ	لَّا يَفۡقَهُوۡنَ	لَقَدۡ	جَآءَكُمۡ	رَسُوۡلٌ	مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ
په سبب د دې چې دوى	هسى قوم دى	چې نه پوهيږي	خامخا په تحقيق	راغلى دى تاسى	يو رسول	له جنسه ستاسى

په سبب د دې چې دوى هسى قوم دى چې نه پوهيږي. خامخا په تحقيق راغلى دى تاسى ته يو رسول له جنسه ستاسى

عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ

عَزِيۡزٌ	عَلَيۡهِ	مَا عَنِتُّمۡ	حَرِيۡصٌ	عَلَيۡكُمۡ
چې ډير سخت درونددى	پر ده باندى	هغه كار چې تاسى تكليف احساسوى ځينى	ډير حرصناک دى	پر تاسى

چې ډير سخت درونددى پر ده باندى هغه كار چې تاسى تكليف مومئ (له هغه) ډير حرصناک دى پر (هدايت د) تاسى

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ .. نبي كريم ﷺ پر تولـه مخلـوق او خصوصا پـر مسلمانانو زيـات مهربانـه دى :

دا دسورت توبې آخري اياتونه دي په کمو کې چې دنبي کريم ﷺ پر تول مخلوق دخداى باندې او بياخاص پرمسلمانانو باندې بې حده مهرباني او شفقت اوهمدردي بيان سوې ده او په آخري آيت کې يې دوى ته هدايت فرمايلى دى چې ستا دتولو کوششونو باوجود که بيا هم څه خلک ايمان رانه وړي نو ته صبر کوه او په الله ﷻ توکل کوه دسورت توبې په اخر کې دا مضمون څکه راوړل مناسب سو چې په دې تول سورة کې دکفارو څخه دبرآءت ، او قطع تعلق ، او دجنگ او جهاد ذکر وو کم چې دالله ﷻ طرف ته دبلنې آخري صورت دى چې کله په زباني دعوت او تبليغ سره داصلاح اميد پاته نه سو :: ليکن اصل کار دانبياوو (عليهم السلام) داى چې دشفقت او رحمت او همدردى او دخيرخواهى په جذبې سره دخداى ﷻ مخلوق دخداى ﷻ طرف ته راوبلي او که يې نه مني نو يې الله ﷻ ته وسپاري السخ (معارف القرآن ج۴ پ ١١ص ٥٦)

بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿١٢٨﴾ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا

تَوَلَّوۡا	فَاِنۡ	رَّحِيۡمٌ	رَءُوۡفٌ	بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ
وګرځيدل دا	نوكه	ډير مهربان دی	نهايت شفيق	خاص پر مؤمنينو باندی

خاص پر مؤمنينو باندی نهايت شفيق ډير مهربان دی. نو كه وګرځيدل دا (خلګ له ايمان راوړلو په تاباندی)

فَقُلۡ حَسۡبِيَ اللّٰهُ ۖ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ عَلَيۡهِ


عَلَيۡهِ	هُوَ	اِلَّا	اِلٰهَ	لَاۤ	اللّٰهُ	حَسۡبِيَ	فَقُلۡ
(خاص) پرهم ده	هم دی	مګر	هيڅ لايق دعبادت	نشته	الله	كافي دی ماته	نو ووايه

نو ووايه كافي دی ماته الله نشته هيڅ لايق دعبادت مګر هم دی ، (خاص) پر هم ده

تَوَكَّلۡتُ وَهُوَ رَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ﴿١٢٩﴾ ع

الۡعَظِيۡمِ	الۡعَرۡشِ	رَبُّ	وَهُوَ	تَوَكَّلۡتُ
عظيم دی	دعرش	رب	حال دا چی هم دی	توكل (اعتماد) كړی دی ما

توكل (اعتماد) كړی دی ما حال دا چی هم دی رب (مالک) د عرش عظيم دی.



اٰياتونه ١٠٩ | ١٠ سُوۡرَةُ يُوۡنُسَ مَكِّيَّةٌ ٥١ | ركوعي ١١

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چی ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكی ذات دی

الٓرٰ ۚ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ ﴿١﴾ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا

عَجَبًا	لِلنَّاسِ	اَكَانَ	الۡحَكِيۡمِ	الۡكِتٰبِ	اٰيٰتُ	تِلۡكَ	الٓرٰ
تعجب	خلګو ته	آيا دی	ډک له حكمته	دكتاب	آيتونه دی	دغه	الف لام را

الف لام را. دغه (سورت) آيتونه دی د كتاب (قرآن) ډک له حكمته. آيا دی خلګو ته تعجب (له دی خبری) دی

اَنۡ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى رَجُلٍ مِّنۡهُمۡ اَنۡ اَنۡذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ

وَبَشِّرِ	النَّاسَ	اَنۡ اَنۡذِرِ	مِّنۡهُمۡ	اِلٰى رَجُلٍ	اَوۡحَيۡنَاۤ	اَنۡ
او زيری وركړه	خلګ	چی وبيروی	له دوی څخه	يو سړی ته	وحی وكړه موږ	چی

چی وحی وكړه موږ يو سړی ته له دوی څخه چی وبيروی خلګ (كفار له عذاب د الله) او زيری وركړه

تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ

دسورت يونس مضامين

او اهداف: سورت يونس دمكي سورتونو څخه دی البته ځينو حضراتو ددي صرف دري ايـاتونو تـه مدني ويلي دي كـم چي دمديني منوري دهجرت څخه وروسته نازل سوي دي په دي سورت كي هم الله ﷻ دقرآن كـريم او اسلام بنيادي مقصدونه لكه،توحيد ، رسالت ، آخرت ، وغيره دكائناتو دعـالم او پـه دي كـي دكيدونكو تغيراتـو او مشـاهداتو څخـه دليـل نيولی دی او ددي سره يي د څـه عبرتناكوتـاريخي واقعاتو او قصو پـه ذريعه هغه خلګ بيروولي دي كم چي دالله ﷻ دي نبـكاره نبـوته ګـوري او ددي پـه مينځ ميـنځ كـي دشـرک بـاطلوالي او ددي متعلـق دځينو شبهو جواب ارشاد سـوی دی دغـه خلاصـه دسـورت دمضـامينوده: دسورت پـه دي مضـامينو كـي دفكـر كولوڅخـه وروسـته پـه اسـانی سـره دا خبـره معلـوميږي چـي دتيـر سـورت توبـه او ددي سـورت پـه مـابين كـي څـه تـرون دی پـه سـورت توبـه كـي هـم ددغـه مقصـدونو ديـاره دجهـاد حكـم مسـلمانانو تـه دمنكرينـو او كفارو سره وركول سـوی وو (معارف القرآن ج۴ پ۱۱ص۵۹)

ع٥/١٦

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اَنَّ لَهُمْ	قَدَمَ	صِدْقٍ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ
هغو کسانو ته	چې ايمان ئې راوړی دی	چې بيشکه سته دوی ته	مرتبه لويه	رښتينې	په نزد	د رب د دوی

هغو کسانو ته چې ايمان ئې راوړی دی چې بيشکه! سته دوی ته مرتبه لويه رښتينې په نزد د رب د دوی ،

قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝۲ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ

قَالَ	الْكٰفِرُوْنَ	اِنَّ	هٰذَا	لَسٰحِرٌ	مُّبِيْنٌ	اِنَّ	رَبَّكُمُ	اللّٰهُ
نو وائی	دا کافران	چې بيشکه!	دغه (محمد)	خامخا کوډګر دی	ښکاره	بيشکه! چې	رب ستاسی	الله دی

نو وائی دا کافران چې بيشکه! دغه (محمد) خامخا کوډګر دی ښکاره. بيشکه! چې رب ستاسی الله دی

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ

الَّذِيْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	فِيْ سِتَّةِ	اَيَّامٍ	ثُمَّ
هغه (الله) چې	پيدا کړی ئې دی	آسمانونه	او مځکه	په شپږو	ورځو کښې	بيا ئې

هغه (الله) چې پيدا کړی ئې دی آسمانونه او مځکه (په کامل قدرت خپل سره) په شپږو ورځو کښې بيا ئې

اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ مَا مِنْ شَفِيْعٍ

اسْتَوٰى	عَلَى	الْعَرْشِ	يُدَبِّرُ	الْاَمْرَ ؕ	مَا مِنْ	شَفِيْعٍ
برابر سو	پر	عرش باندی	تدبير کوی	د ټولو کارونو	نسته هيڅ	شفاعت کوونکی

استولی وکړه پر عرش باندی تدبير کوی د ټولو کارونو، نسته هيڅ شفيع (چې شفاعت وکړی سی په ورځ د قيامت کښې)

اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ

اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِ	اِذْنِهٖ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمْ	فَاعْبُدُوْهُ
مګر	وروسته له	حکم د الله	دغه	الله	رب ستاسی دی	عبادت کوئ تاسی د هم ده

مګر وروسته له اذنه د الله دغه الله (چې موصوف دی په دی صفاتو) رب ستاسی دی عبادت کوئ تاسی د هم ده،

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝۳ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ	اِلَيْهِ	مَرْجِعُكُمْ	جَمِيْعًا	وَعْدَ	اللّٰهِ	حَقًّا ؕ
آيا نو پند نه اخلئ دوی	خاص هم ده ته	ورتله ستاسی دی	ټولو	وعده کړی ده	الله	وعده حقه

آيا (فکر نه چلوئ) نو پند نه اخلئ؟ خاص هم ده ته ورتله ستاسی دی ټولو وعده کړی ده الله وعده حقه،

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ.. په دغه آيت کي د (لفظ) قدم اصلي معنى خو قدم يعني پښه دي چونکي دانسان د کوشش او عمل او ددي په سبب د ترقي ذريعه قدمونه وي په دي وجه مجازا لوړي مرتبي ته قدم ويل کيږي او دلفظ د (قدم) اضافت يي صدق ته وکی او دا يي وښووله چي لوړه مرتبه کمه چي دوی ته ورکول کيدونکي ده هغه حقه او يقيني هم ده او قايمه باقي پاته کيدونکي لازواله هم ده د دنيا د مرتبو او وعدو په شان نه ده چي ديو عمل په نتيجه کي اول خو ددي حاصلول يقيني نه وي او که حاصله هم سي خو د باقي پاته کيدل يي يقيني کيدای نه سي بلکه فاني او زائله کيدل يي يقيني وي کله خو په ژوند کي زائله سي او د مرګ په وخت کي خو د دنيا دهري مرتبي او عهدي او دولت او نعمت څخه انسان خالي لاسونه کيږي غرض دا چي دلفظ د صدق په مطلب کي ددې يقيني کيدل هم شامل دي او کامل مکمل او لازواله کيدل هم :په دي وجه ددي جملي معنی دا سوه چي ايماندارو ته خوشخبري واوروه چي ددوی د پاره ددوی د رب سره لويه درجه ده.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۶۰)

إِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ

إِنَّهٗ	يَبْدَؤُا	الْخَلْقَ	ثُمَّ	يُعِيْدُهٗ	لِيَجْزِيَ	الَّذِيْنَ
بیشکه! دی	اول پیدا کوی	دا مخلوق	بیا	ژوندی کوی ئی	لپاره د دی چی جزا ورکړی	هغو کسانو ته

بیشکه! دی اول پیدا کوی دا مخلوق بیا ژوندی کوی ئی (پس له مرګه) لپاره د دی چی جزا ورکړی هغو کسانو ته

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	بِالْقِسْطِ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
چی ایمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)	په عدل، انصاف سره	او هغه کسان چی	کافران سوی دی

چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) په عدل، انصاف سره، او هغه کسان چی کافران سوی دی

لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ④

لَهُمْ	شَرَابٌ	مِّنْ حَمِيْمٍ	وَّعَذَابٌ	اَلِيْمٌ	بِمَا كَانُوْا	يَكْفُرُوْنَ
سته دوی ته	څښل	له ایشیدلو اوبو	او عذاب دی	دردناک	په سبب د دی چی وو دوی	چی کافران کېدل

سته دوی ته څښل له ایشیدلو اوبو او عذاب دی دردناک په سبب د دی چی وو دوی چی کافران کېدل.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاۗءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا وَّقَدَّرَهٗ

هُوَ	الَّذِيْ	جَعَلَ	الشَّمْسَ	ضِيَاۗءً	وَّالْقَمَرَ	نُوْرًا	وَّقَدَّرَهٗ
الله	هغه ذات دی	چی ګرځولی ئی دی	لمر	روڼ	او سپوږمی	روښانه	او مقرر کړی ئی دی هر یوه ته

الله هغه ذات دی چی ګرځولی ئی دی لمر روڼ (ځلیدونکی) او سپوږمی روښانه او مقدر (مقرر) کړی ئی دی هر یوه ته

مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ مَا خَلَقَ

مَنَازِلَ	لِتَعْلَمُوْا	عَدَدَ	السِّنِيْنَ	وَالْحِسَابَ	مَا خَلَقَ
منزلونه	لپاره د دی چی پوه سئ تاسی	په شمیر	د کلونو	او په حساب	نه دی پیدا کړی

منزلونه لپاره د دی چی پوه سئ تاسی په شمیر د کلونو او په حساب (د میاشتو او ورځو)، نه دی پیدا کړی

اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ⑤

اللّٰهُ	ذٰلِكَ	اِلَّا	بِالْحَقِّ	يُفَصِّلُ	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ
الله	دا څیزونه	مګر	په حقه سره	په تفصیل سره بیانوی	دلائل	د پاره د قوم	چی پری پوهیږی

الله دا څیزونه مګر په حقه سره، په تفصیل سره بیانوی (ظاهروی الله) دلائل (د قدرت خپل) د پاره د قوم چی پری پوهیږی.

إِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ. اول وار هم الله ﷻ ټوله مخلوق پیدا کوي او دوهم واریي هم راژوندي کوي: په دغه آیت کي الله خپل قدرت کامله بیان کړی دی الله ﷻ فرمايي زه هغه ذات یم چي اول ځل ټوله مخلوق پیدا کوم او بیرته هم دغه مخلوقات به دقیامت په ورځ داعمالو دجزا او سزا دپاره راژوندي کړم او دقبرونو څخه به يي راوباسم او دحشرګاه میدان ته به يي بوزم په دغه جمله کي الله ﷻ دا وښووله چي دا هیڅ دتعجب ځای نه دی چي دا ټول کائنات به دفنا کیدو څخه وروسته بیا څنګه راپورته کیږي ځکه چي دکم ذات په قبضه کي داوي چي اول وار يوشی بغير دڅه مادې څخه او بغير دڅه مخکي شکل او صورت څخه پیدا کړي نو دهغه دپاره بیا دا څه مشکله ده چي هغه پیدا سوی مخلوق دفنا کیدو څخه وروسته بیا دوباره راژوندي کړي: دغه مضون الله ﷻ په سورت یس کي داسي بیان کړی دی (اولیس الذی خلق السموات والارض بقادر علی ان یحیي الموتی بلی وهو الخلق العلیم).
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۶۳)

إِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ

إِنَّ	فِي اخْتِلَافِ	الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ	وَمَا	خَلَقَ	اللّٰهُ
بيشكه!	په اختلاف	دشپې	او ورځې کښې	او په هغو څيزونو کښې	چې پيدا کړی دی	الله

بيشکه! په اختلاف د شپې او ورځې کښې (چې تل اوړديږی او لنډيږی) او په هغو څيزونو کښې چې پيدا کړی دی الله

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝٦ إِنَّ

فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ	يَّتَّقُوْنَ	إِنَّ
په	آسمانونو کښې	او مځکه کښې	خامخا دلائل دی	دپاره دقوم	چې بيريږی	بيشکه!

په آسمانونو کښې او مځکه کښې خامخا دلائل دی (دقدرت) دپاره د قوم چې بيريږی له رحمٰن څخه. بيشکه!

الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

الَّذِيْنَ	لَا يَرْجُوْنَ	لِقَآءَنَا	وَرَضُوْا	بِالْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا
هغه کسان	چې نه لری اميد	دملاقات زموږ	او خوښ دی	په دی ژوندون	ددنيا

هغه کسان چې نه لری اميد د ملاقات زموږ او خوښ دی په دی ژوندون لږ خسيس (دنيوی)

وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝٧

وَاطْمَاَنُّوْا	بِهَا	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	عَنْ	اٰيٰتِنَا	غٰفِلُوْنَ
او آرام ئی نيولی دی	په دی (ژوند پوری)	او هغه کسان	چې دوی	له	آيتونو زموږ	څخه غافلان دی

او آرام ئی نيولی (راضی سوی دی) په دی (ژوند پوری) او هغه کسان چې دوی له آيتونو زموږ څخه غافلان دی.

اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝٨

اُولٰٓئِكَ	مَاْوٰىهُمُ	النَّارُ	بِمَا كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ
دغه مذکوره کسان	ځای دورتلو د دوی	اور (دوزخ) دی	په سبب د هغه چې وو دوی	چې کول بی ئی

دغه مذکوره کسان ځای د ورتلو د دوی اور (دوزخ) دی په سبب د هغه چې وو دوی چې کول بی ئی.

إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ

إِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	يَهْدِيْهِمْ	رَبُّهُمْ
بيشکه !	هغه کسان چې	ايمان ئی راوړی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)	وبه ښيي دوی ته	رب د دوی

بيشکه! هغه کسان چې ايمان ئی راوړی او کړی ئی دی ښه (عملونه) وبه ښيي دوی ته رب د دوی (په آخرت کښې)

إِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ.. دشپې او ورځ بـدلون د الله ﷻ دقدرت دنښو څخه دي:

پـه دغـه آيـت کـي الله ﷻ فرمـايي چـې دشـپې او ورځې پـه يوبـل پسې پـه راتلـو کـي او څـه چـې الله ﷻ پـه مځکـي او اسمانونو کـي پيـدا کـړي دي پـه دې تولو کي دهغه خلګو دپاره دتوحيد او آخرت دليلونه دي کم څوک چې د الله ﷻ څخـه بيريـږي: دتوحيـد دليلونـه خـو دقـدرت او صـنعت يـووالي او بغيـر دچـا دامـداد څخـه ددې تولو شيانو پيدا کول او پـه داسې نظام سره يې چلول دي چې نـه کله بدليږي او نـه مـاتيږي: او دآخـرت دليلونه په دې وجه دي چې حکيـم ذات چـې دا ټولـه شيان دانسـانانو دفايـدې دپـاره جـوړ کـړل او ديـو محکم نظـام يـې پايينـده کړل دهغه څخه دا ممکنه نه ده چې هغه دکائناتو دا مخدوم يعنـي انسـان بـې فايـدې محـض دخوړلـو چيښلـو دپـاره پيـدا کـړی وي او ده پـر ذمـه يـې څه فرض نه وي ايښي او کله چـې دا لازمـه سـوه چـې د کائنـاتو پـر دې مخدوم هـم څـه پايينـدې راتلـل ضروري دي نودا هم لازمه سـوه چـې چـې ددغـه پايبندی دکوو نکو او نـه کوونکـو سـره بـه يـوه ورځ حسـاب او کتـاب کيـږي: (معرف القرآن ج۴ پ ۱۱ص ۶۷)

بِإِيمَانِهِمْ ۚ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٩﴾

بِإِيمَانِهِمْ	تَجْرِي	مِن	تَحْتِهِمُ	الْأَنْهَارُ	فِي	جَنَّاتِ	النَّعِيمِ
(لاره د جنت) په سبب د ايمان د دوی	چې بهيږي	له	لاندې د دوی	(ځلور قسمه) وياله	په	باغونو	دنعمتونو

(لاره د جنت) په سبب د (نور د) ايمان د دوی، چې بهيږي له لاندې د دوی (ځلور قسمه) وياله په باغونو د نعمتونو.

دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا

دَعْوَاهُمْ	فِيهَا	سُبْحَانَكَ	اللَّهُمَّ	وَتَحِيَّتُهُمْ	فِيهَا
دعاوی د دوی	په دې جنتونو کښې	چې په پاکی سره يادوو تا	ای الله	او پيشکشی د دوی به	په دغه (جنت) کښې

دعاوی (ويناوی) د دوی په دې جنتونو کښې چې په پاکي سره يادوو تا ای الله او پيشکشی د دوی به په دغه (جنت) کښې

سَلَامٌ ۚ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠﴾

سَلَامٌ	وَآخِرُ	دَعْوَاهُمْ	أَنِ	الْحَمْدُ	لِلَّهِ	رَبِّ	الْعَالَمِينَ
سلام وی	او خاتمه	د دعا د دوی به	داوی چې	ټولې ثناوی ستاينې	خاص الله لره دی	چې رب	دټولو عالميانو دی

سلام وی، او خاتمه د دعا (وينا) د دوی به دا وی چې ټولې ثناوی ستاينې خاص الله لره دی چې رب دټولو عالميانو دی

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُم بِالْخَيْرِ

وَلَوْ	يُعَجِّلُ	اللَّهُ	لِلنَّاسِ	الشَّرَّ	اسْتِعْجَالَهُم	بِالْخَيْرِ
او كه	ژر ورکړی	الله	خلکو ته	بدی	په شان د تلواری د غوښتنې د دوی	نيکی لره

او که جلت ورسوی الله خلکو ته بدی په شان دجلتی دغوښتنې د دوی نيکی لره

لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ

لَقُضِيَ	إِلَيْهِمْ	أَجَلُهُمْ	فَنَذَرُ	الَّذِينَ	لَا يَرْجُونَ
نو خامخا راليږی سوی به وُ	دوی ته	اجل د دوی	نو پريږدو موږ	هغه کسان چې	نه لری اميد دوی

نو خامخا راليږی سوی به وُ دوی ته اجل (موت، مرگ) د دوی ، نو پريږدو موږ هغه کسان چې نه لری اميد دوی

لِقَاءَنَا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١﴾ وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ

لِقَاءَنَا	فِي	طُغْيَانِهِمْ	يَعْمَهُونَ	وَإِذَا	مَسَّ	الْإِنسَانَ
دملاقات زموږ	په	سرکشی د دوی کښې	چې سرگردانه به وی دوی	او کله چې	ورسيږی	انسان ته

دملاقات زموږ (په قيامت کښې) په سرکشی د دوی کښې چې سرگردانه به وی دوی. او کله چې ورسيږی انسان ته

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ . دذکر سوو اياتونو څخه داولني آيت تعلق دهغو خلگو سره دی کم چي دآخرت څخه منکر دي اوکله چي دوی دآخرت دعذابه څخه بيرول کيږي نو دوی په طور دمسخرو وايي چي که ته ربښتيني يي نو دا عذاب اوس راوړه يا دا چي بيا دا عذاب ژر ولي نه راځي لکه نضر بن حارث چي ويلي وه يا الله که دا خبره ربښتيا وي نو پر موږ باندي دآسمان څخه کاڼي را وورو يا يو بل سخت عذاب را وليږه : په اولني آيت کي يي ددې جواب ورکړی دی چي الله ﷻ خو پر هر څه قادر دی دکم عذاب چي وعده سويده دا فورا هم نازلولی سي مگر هغه په خپل حکمت بالغه او لطف او کرم سره داسي نه کوي دا کم عقلان چي دخپل ځان دپاره ښراوي کوي او مصيبت طلب کوي که الله ﷻ ددوی ښراوي هم دغسي ژر قبلوي لکه څنگه چي ددوی ښه دعا اکثره قبلوي نو دا ټوله به هلاک سوي وای: ددې څخه معلومه سوه چي دخير ددعا او ښې دعا متعلق خو دالله ﷻ دا عادت دی چي اکثره يي ژر قبلوي او کله کله دڅه حکمت او مصلحت په وجه يي نه قبليدل ددې منافي نه دي :
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۷۶)

الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۡۢبِهٖۤ اَوۡ قَاعِدًا اَوۡ قَآئِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفۡنَا

الضُّرُّ	دَعَانَا	لِجَنۡۢبِهٖۤ	اَوۡ قَاعِدًا	اَوۡ قَآئِمًا	فَلَمَّا	كَشَفۡنَا
ضرر	نو بولي موږ	په اړخ خپل	یا ناست	یا ولاړ (په هر حال)	نو کله چي	لرى کړو

ضرر (تکلیف) نو بولي موږ (لپاره د دفعى د ضرر) (پروت) په اړخ خپل یا ناست یا ولاړ (په هر حال)، نو کله چي لرى کړو

عَنۡهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنۡ لَّمۡ يَدۡعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ؕ

عَنۡهُ	ضُرَّهٗ	مَرَّ	كَاَنۡ لَّمۡ يَدۡعُنَاۤ	اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ
له ده څخه	ضرر تکليف د ده	نو تيرېږي	لکه چي نه ئى وو بللى موږ	هغه ضرر ته چي رسيدلى ؤ ده ته

له ده څخه ضرر تکليف د ده نو درومی (پاتی کيږی په کفر) لکه چي نه ئى وو بللى موږ هغه ضرر ته چي رسيدلى ؤ ده ته

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِيۡنَ مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۲﴾ وَلَقَدۡ

كَذٰلِكَ	زُيِّنَ	لِلۡمُسۡرِفِيۡنَ	مَا كَانُوۡا	يَعۡمَلُوۡنَ	وَلَقَدۡ
هم داسى	ښائسته کړى سوى دى	دغو اسراف کوونکو ته	هغه چي وو دوى	چي کاوه به ئى	او خامخا په تحقيق

هم داسى ښائسته کړى سوى دى دغو اسراف کوونکو ته هغه (عصيان) چي وو دوى چي کاوه به ئى . او خامخا په تحقيق

اَهۡلَكۡنَا الۡقُرُوۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُوۡا ۙ وَجَآءَتۡهُمۡ

اَهۡلَكۡنَا	الۡقُرُوۡنَ	مِنۡ قَبۡلِكُمۡ	لَمَّا ظَلَمُوۡا	وَجَآءَتۡهُمۡ
هلاک کړى ؤ موږ	اهل د زمانو	چي وو پخوا له تاسى	کله چي ظلم ئى کړى ؤ	او حال دا چي راوړى وو هغو ته

هلاک کړى ؤ موږ اهل د زمانو چي وو پخوا له تاسى (اى مکى والو) کله چي ظلم ئى کړى ؤ او حال دا چي راوړى وو هغو ته

رُسُلُهُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوۡا لِيُؤۡمِنُوۡا ؕ كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡقَوۡمَ

رُسُلُهُمۡ	بِالۡبَيِّنٰتِ	وَمَا كَانُوۡا	لِيُؤۡمِنُوۡا	كَذٰلِكَ	نَجۡزِى	الۡقَوۡمَ
رسولانو د هغو	ظاهرى معجزى	او له سره نه وو دوى	چي ايمان ئى راوړى وى	هم داسى	سزا ورکوو موږ	قوم

رسولانو د هغو ظاهرى معجزى او له سره نه وو دوى چي ايمان ئى راوړى وى، هم داسى سزا ورکوو موږ قوم

الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ جَعَلۡنٰكُمۡ خَلٰٓئِفَ فِى الۡاَرۡضِ مِنۡۢ بَعۡدِ

الۡمُجۡرِمِيۡنَ	ثُمَّ	جَعَلۡنٰكُمۡ	خَلٰٓئِفَ	فِى الۡاَرۡضِ	مِنۡۢ بَعۡدِ
مجرمانو ته	بيا	موږ وګرځولئ تاسى	خليفګان	په مځکه کښى	وروسته

مجرمانو (کافرانو) ته. بيا موږ وګرځولئ تاسى (اى محمدى امته!) خليفګان په مځکه کښى وروسته

دَعَانَا لِجَنۡۢبِهٖۤ اَوۡ قَاعِدًا اَوۡ قَآئِمًا. کافرانو هم دلوى مصيبت په وخت کي خالي الله ﷻ ته رجوع کوله: په دغه آيت کي الله ﷻ دتوحيد او آخرت منکرين په يو بل بليغ انداز سره قائله کړي دي هغه دا چي دا خلګ دراحت او اطمينان په عامو حالاتو کي دخداى ﷻ او آخرت خلاف دليل بازي کوي او غير دخداى ﷻ سره شريکوي او دحاجتونو دپوره کيدو اميدونه ورڅخه ساتي ليکن کله چي لوى مصيبت باندي راسي نو دغه وخت دا خلګ په خپله هم دخپلو ټولو هغو ځايونو څخه مايوسه سي چي اميدونه يي ساتل او يو الله ﷻ ته راوګرځي او په پروتي ناستي ولاړي . غرض دا چي په هر حال کي دهغه په رابللو مجبوره سي مګر سره ددې داحسان فراموشي يي دا حال دى چي کله الله ﷻ ددوى مصيبت ليري کړي نو دخداى ﷻ څخه داسي ازاداوبې فکره سي چي ګويا کله يي دى رابللى هم نه وو او دده څخه يي څه حاجت غوښتلى هم نه وو دغه ددغو بدبختانو حال وو چي ياري او تعلق يي تر مطلبه پوري وو نو داسي نمک حرامه خلګ الله ﷻ نه خوښوي
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ص۷۸)

هِمۡ لِنَنۡظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٤﴾ وَاِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ

هِمۡ	لِنَنۡظُرَ	كَيۡفَ	تَعۡمَلُوۡنَ	وَاِذَا	تُتۡلٰى	عَلَيۡهِمۡ
له هغو څخه	دپاره ددې چې وګورو موږ	چې څرنګه	عمل کوئ تاسې	او کله چې	ولوستل سي	پر دغو

له (هلاک د) هغو څخه دپاره د دې چې وګورو موږ چې څرنګه عمل کوئ تاسې. او کله چې ولوستل سي پر دغو (کفارو)

اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ لِقَآءَنَا ائۡتِ

اٰيَاتُنَا	بَيِّنٰتٍ	قَالَ الَّذِيۡنَ	لَا يَرۡجُوۡنَ	لِقَآءَنَا	ائۡتِ
آيتونه زموږ	حال دا چې واضح دي	نو وائي هغه کسان	چې نه لري اميد	د (اخروي) ملاقات زموږ	چې راوړه

آيتونه (د قرآن) زموږ حال دا چې واضح دي نو وائي هغه کسان چې نه لري اميد د (اخروي) ملاقات زموږ چې راوړه يو

بِقُرۡاٰنٍ غَيۡرِ هٰذَاۤ اَوۡ بَدِّلۡهُ قُلۡ مَا يَكُوۡنُ لِيۡۤ اَنۡ اُبَدِّلَهٗ

بِقُرۡاٰنٍ	غَيۡرِ	هٰذَاۤ	اَوۡ بَدِّلۡهُ	قُلۡ	مَا يَكُوۡنُ	لِيۡۤ اَنۡ	اُبَدِّلَهٗ
يو (بل) قرآن	چې غير وي	له دې څخه	يا بدل کړه هغه	ووايه	چې نه بنائيږي	ماته دا چې	بدل کړم دغه

(بل) قرآن چې غير وي له دې قرآن څخه وي يا ئې بدل کړه ، ووايه (محمده!) چې نه بنائيږي ماته دا چې بدل کړم دغه (قرآن)

مِنۡ تِلۡقَآئِ نَفۡسِيۡ اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوۡحٰۤى اِلَيَّ اِنِّيۡۤ

مِنۡ تِلۡقَآئِ	نَفۡسِيۡ	اِنۡ اَتَّبِعُ	اِلَّا	مَا يُوۡحٰۤى	اِلَيَّ	اِنِّيۡۤ
له طرفه	دځان خپل	متابعت نه کوم زه	مګر	د هغه چې رالیږلی سوی دی	ماته	بیشکه! زه

له ځانه خپله متابعت نه کوم زه مګر د هغه (حکم) چې راليږلی سوی دی ماته (بې له زيادت او نقصان) ، بيشکه زه

اَخَافُ اِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّيۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿١٥﴾ قُلۡ لَّوۡ شَآءَ

اَخَافُ	اِنۡ عَصَيۡتُ	رَبِّيۡ	عَذَابَ	يَوۡمٍ	عَظِيۡمٍ	قُلۡ	لَّوۡ شَآءَ
بيريږم	که بې فرماني وکړم	درب خپل	له عذاب	دورځې	لوئې	ووايه	که اراده وفرمايلې وي

بيريږم که بې فرماني وکړم د رب خپل (په تبديل د قرآن) له عذاب د ورځې لوئې. ووايه (ای محمده!) که اراده فرمايلې وي

اللّٰهُ مَا تَلَوۡتُهٗ عَلَيۡكُمۡ وَلَاۤ اَدۡرٰىكُمۡ بِهٖ فَقَدۡ

اللّٰهُ	مَا تَلَوۡتُهٗ	عَلَيۡكُمۡ	وَلَاۤ اَدۡرٰىكُمۡ	بِهٖ	فَقَدۡ
الله	نو ما به نه ؤ لوستی دا (قرآن)	پر تاسې	او نه به عالمان کړي وي (الله) تاسې	په دې (قرآن)	نو په تحقيق

الله نو ما به نه ؤ لوستی دا (قرآن) پر تاسې او نه به عالمان کړي وي (الله) تاسې په دې (قرآن) نو په تحقيق

بَعۡدِهِمۡ لِنَنۡظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ. کفار بد بختان دتيرو قومونو دهلاکت څخه هم عبرت نه اخلي:

په دغه آيت کي الله ﷻ فرمايي چي ای دمکي کفارو دتيرو قومونو دهلاکولو څخه وروسته موږ تاسي ددوی قائم مقام جوړ کړاست او دمځکي خلافت مو درته درکی مګر داسي مه ګڼئ چي داد مځکي خلافت ستاسي دعيش او ارام دپاره تاسي ته سپارل سوی دی بلکي ددې اعزاز او اکرام اصل مقصد دادی چي ستاسي امتحان واخيستل سي چي تاسي څنګه عمل کوی ؟دتيرو امتونو دتاريخ څخه متاثره کيږی دخپلو حالاتو اصلاح کوی او که دحکومت اودولت په نشه کي بد مسته کيږی ؟ددې څخه معلومه سوه چي ددنيا حکومت او اقتدار څه دفخر او ناز شی نه دی بلکي يو لوی بار دی چي ډيري ذمه داری يي دي په راروانو څلورو وارو اياتونو کي دآخرت څخه دمنکرينو ديو غلط خيال او بې ځايه فرمايش ترديد دی دې خلګو ته نه دخدای ﷻ معرفت حاصل وو او نه دوحي او درسالت او نبوت په سلسله خبروه پيغمبران يي هم د عامو خلګو په شان بلل.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ص۷۸)

لَبِثۡتُ فِيۡكُمۡ عُمُرًا مِّنۡ قَبۡلِهٖ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۶﴾ فَمَنۡ

لَبِثۡتُ	فِيۡكُمۡ	عُمُرًا	مِّنۡ قَبۡلِهٖ	اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ	فَمَنۡ
او سيدلي وم زه	په تاسي کښې	ډير عمر	پخوا له قرآنه	آيا نو عقل نه لرئ تاسي	نو څوک دی

او سيدلي وم زه په تاسي کښې ډير عمر (چې ۴۰ کاله ؤ) پخوا له (نزوله د) قرآنه ، آيا نو عقل نه لرئ تاسي. نو څوک دی

اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوۡ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ

اَظۡلَمُ	مِمَّنِ	افۡتَرٰى	عَلَى	اللّٰهِ	كَذِبًا	اَوۡ كَذَّبَ	بِاٰيٰتِهٖ
ډير ظالم	له هغه چا څخه	چې تړي	پر	الله باندې	دروغ	يا نسبت د دروغو کوی	آيتونو د ده ته

ډير ظالم له هغه چا څخه چې تړي پر الله باندې دروغ يا نسبت د دروغو کوی آيتونو د ده ته،

اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ﴿۱۷﴾ وَيَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا

اِنَّهٗ	لَا يُفۡلِحُ	الۡمُجۡرِمُوۡنَ	وَيَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مَا
بيشکه! شان دادی چې	خلاصی به پيدا نه کړی	مجرمان	او عبادت کوی دغه	غير له	الله	دهغو بتانو چې

بيشکه! شان دادی چې خلاصی نه مومي مجرمان (له عذابه). او عبادت کوی دغه (کفار) غير له الله د هغو بتانو چې

لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنۡفَعُهُمۡ وَيَقُوۡلُوۡنَ هٰٓؤُلَاۤءِ شُفَعَآؤُنَا

لَا يَضُرُّهُمۡ	وَلَا يَنۡفَعُهُمۡ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	هٰٓؤُلَاۤءِ	شُفَعَآؤُنَا
نسی رسولی هيڅ ضرر دوی ته	او نه نفع رسولی سی دوی ته	او وائی دغه (کفار) چې	دغه (بتان)	شفاعت گران زمونږ دی

نسی رسولی هيڅ ضرر دوی ته ، او نه نفع رسولی سی دوی ته ، او وائی دغه (کفار) چې دغه (بتان) شفاعت گران زمونږ دی

عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ قُلۡ اَتُنَبِّـــُٔوۡنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ

عِنۡدَ	اللّٰهِ	قُلۡ	اَتُنَبِّـــُٔوۡنَ	اللّٰهَ	بِمَا	لَا يَعۡلَمُ
په نزد	د الله کښې	و وايه (محمده!)	آيا خبر ورکوئ تاسي	الله ته	په هغه شي	چې نه دی معلوم ده ته

په نزد د الله کښې، و وايه (ای محمده!) آيا خبر ورکوئ تاسي الله ته په هغه شيز چې نه دی معلوم ده ته

فِى السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿۱۸﴾

فِى السَّمٰوٰتِ	وَلَا فِى الۡاَرۡضِ	سُبۡحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا	يُشۡرِكُوۡنَ
(نه) په آسمانونو کښې	او نه په مځکه کښې	پاک دی الله	او ډير پورته دی	له هغو اشياؤ چې	شريکوی ئی دوی

(نه) په آسمانونو کښې او نه په مځکه کښې ، الله پاک او ډير پورته دی له هغو اشياؤ چې شريکوی ئی دوی.

لَبِثۡتُ فِيۡكُمۡ عُمُرًا مِّنۡ قَبۡلِهٖ. قران كريم د الله ﷻ كلام دی او د هغه د طرفه څخه دی: په دغه آيت کي الله ﷻ دا واضحه وښووله چي داد د الله ﷻ كلام دی او د الله ﷻ د طرفه څخه دی (فقد لبثت فيكم عمرا من قبله) يعني تاسي لږ سوچ وکی چي د قرآن د نزول څخه مخکي ما ستاسي په مخکي د عمر څلويښت کاله اوږده موده تيره کړيده په دې موده کي تاسي کله هم زما څخه شعر او شاعري يا څه مقاله نه ده اوريدلې که ما دخپل د طرفه څخه داسي کلام ويلی سوای نو څه ناڅه به مي په دې څلويښت کاله موده کي هم ويلی وای د دې څخه علاوه په دې څلويښت کاله اوږدوند کي تاسي زما د چال چلند صدق او ايمان داری تجربه کړيده چي په ټول عمر کي مي هيڅکله دروغ نه دي ويلي نو نن څلويښت کاله وروسته د دروغو ويلو څه وجه کيدای سي؟ د دې څخه خو په لازمي طور سره ثابته سوه چي نبي کريم ﷺ صادق او امين دی په قرآن کريم کي چي څه دي دغه د الله ﷻ كلام دی او د هغه د طرفه څخه راغلی دی: (معارف القرآن ج۴ پ ۱۱ ص۸۰)

وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ

وَمَا كَانَ	النَّاسُ	اِلَّآ اُمَّةً	وَّاحِدَةً	فَاخْتَلَفُوْا	وَلَوْ	لَا كَلِمَةٌ	سَبَقَتْ
او نه وه	دغه خلک	مگر امت	یو	نو اختلاف وکړ دوی !	او که	نه وی هغه کلمه چی	پخوا ثابته سوی ده

او نهؤ دغه خلګ مگر امت یو (متفق) نو اختلاف وکړ دوی! او که نه وی هغه کلمه چی پخوا ثابته سوی ده

مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيْمَا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٩﴾

مِنْ رَّبِّكَ	لَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ	فِيْمَا	فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ
له ربه ستا	نو خامخا به حکم کړی سوی ؤ	په مینځ د دوی کښی	په هغه شی کښی	چی په هغه کښی	اختلاف کوی دوی

له رب ستا نو خامخا به حکم کړی سوی ؤ په مینځ د دوی کښی په هغه شی کی چی په هغه کی اختلاف کوی دوی.

وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ فَقُلْ اِنَّمَا

وَيَقُوْلُوْنَ	لَوْلَآ اُنْزِلَ	عَلَيْهِ	اٰيَةٌ	مِّنْ رَّبِّهٖ	فَقُلْ	اِنَّمَا
او وائی دوی	ولی نه ده نازله کړی سوی	پر دغه (محمد)	معجزه	له ربه د ده	نو وو ایه	بیشکه! هم دا خبره ده

او وائی دوی ولی نه ده نازله کړی سوی پر دغه (محمد باندی) معجزه له ربه د ده ، نو وو ایه بیشکه! هم دا خبره ده

الْغَيْبُ لِلّٰهِ فَانْتَظِرُوْا ۚ اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿٢٠﴾ ع

الْغَيْبُ	لِلّٰهِ	فَانْتَظِرُوْا	اِنِّيْ	مَعَكُمْ	مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ
چی (علم د) غیب	خاص الله ته دی	نو منتظر اوسیږ تاسی	بیشکه! زه	له تاسی سره	له منتظرینو څخه یم

چی (علم د) غیب خاص الله ته دی نو منتظر اوسیږ تاسی ، بیشکه! زه (هم) له تاسی سره له منتظرینو څخه یم.

وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ

وَاِذَآ	اَذَقْنَا	النَّاسَ	رَحْمَةً	مِّنْۢ بَعْدِ	ضَرَّآءَ	مَسَّتْهُمْ
او کله چی	ورو څکوو موږ	خلګو ته	کوم قسم رحمت	وروسته	له سختی	چی رسیدلی دی دوی ته

او کله چی ورو څکوو موږ خلګو ته کوم قسم رحمت وروسته له سختی چی رسیدلی دی دوی ته

اِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ فِيْٓ اٰيَاتِنَا ۭ قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا ۭ

اِذَا	لَهُمْ	مَّكْرٌ	فِيْٓ اٰيَاتِنَا	قُلِ	اللّٰهُ	اَسْرَعُ	مَكْرًا
نو ناڅاپه به وی	دوی لره	مکر	په آیتونو زموږ کښی	وو ایه	الله	ډیر ژر او تیز دی	له جهته د مکر

نو ناڅاپه به وی دوی لره مکر په (دفع د) آیتونو زموږ کښی ، وو ایه (ای محمده!) الله ډیر جلت دی له جهته د مکر ،

وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا. کافر او مسلم دوه جلا جلا قومونه دي نسلي او وطني قوميت عبث دی: (وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا) يعني دآدم عليه السلام تول اولاد په شروع کي يو امت يو قوم او موحدين وه دشرک اوکفر نوم نه وو بيا په توحيد کي اختلاف پيدا سو مختلف قومونه مختلفي ډلي جوړی سوې دازمانه ديوه امت او دټولو دمسلمان کيدو څومره وه اوترکمه پوري وه ؟ د حديث شريف درواياتونو څخه معلوميږي چي دحضرت نوح عليه السلام تر زمانې پوري دا صورت وو دحضرت نوح عليه السلام په زمانه کي شرک او کفر ښکاره سو چي حضرت نوح عليه السلام يې مقابله وکړه (مظهري) دا هم ظاهره ده چي دحضرت آدم عليه السلام څخه تر حضرت نوح عليه السلام پوري يوه اوږده زمانه ده په دنيا کي دانسانانو نسلونه او آبادي پوره خپره سوې وه په دې ټولو انسانانو کي درنګ او شکل او طرز معاشرت اختلاف راتلل يو طبعي امر دی او په مختلفو ملکونو کي دخپريدو څخه وروسته دوطن اختلاف هم يقيني دی الخ. (پاته بيان پر راروان مخ وګوری)

ع ۷

إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُوْنَ مَا تَمْكُرُوْنَ ﴿٢١﴾ هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ

إِنَّ	رُسُلَنَا	يَكْتُبُوْنَ	مَا تَمْكُرُوْنَ	هُوَ الَّذِيْ	يُسَيِّرُكُمْ
بيشكه!	رسولان زموږ	ليكي	هغه څه چي تاسي مكر كوى	الله هغه ذات دى	چي ګرځوى تاسى

بيشكه! رسولان (كرام الكاتبين) زموږ ليكى مكر ستاسي. الله هغه ذات دى چي ګرځوى تاسى پر پښو يا پر سپرليو

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ حَتّٰٓى إِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ ۚ وَجَرَيْنَ بِهِمْ

فِي الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ	حَتّٰٓى	إِذَا	كُنْتُمْ	فِي الْفُلْكِ	وَجَرَيْنَ	بِهِمْ
په وچه	او په بحر كي	تر هغه پورى	چي	سواره سئ	په كشتيو كښى	او رواني سي	سره له دغو

په وچه او په بحر (سيند) كي، تر هغه پورى چي سواره سئ، په كشتيو كښى، او روانه سي (داكښتى) سره له دغو (خلګو)

بِرِيْحٍ طَيِّبَةٍ وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِيْحٌ عَاصِفٌ

بِرِيْحٍ	طَيِّبَةٍ	وَّفَرِحُوْا	بِهَا	جَآءَتْهَا	رِيْحٌ	عَاصِفٌ
په هغه باد	ښه	او خوشحاله سى	په هغه سره	نو راسى هغه كشتى ته	باد	سخت

په هغه باد ښه او خوشحاله سى په هغه سره نو راسى هغه كشتى ته باد سخت (مخالف د مراد جكړ)

وَّجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّظَنُّوْٓا أَنَّهُمْ أُحِيْطَ

وَّجَآءَهُمُ	الْمَوْجُ	مِنْ كُلِّ	مَكَانٍ	وَّظَنُّوْٓا	أَنَّهُمْ	أُحِيْطَ
او راسي دوى ته	موج	له هر	ځايه	او وګڼي دوى	دا چي بيشكه! دوى	احاطه وكړه سوه

او راسي دوى ته موج (څپې د سيند) له هر ځايه او وګڼي دوى دا چي بيشكه! دوى احاطه وكړه سوه

بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا

بِهِمْ	دَعَوُا	اللّٰهَ	مُخْلِصِيْنَ	لَهُ الدِّيْنَ	لَئِنْ	أَنْجَيْتَنَا
پر دوى	دعا وكړي وبولي دوى	الله	چي خالص كوونكى وى	ده ته دين خپل	قسم دى	كه نجات دى راكړ موږ ته

پر دوى، دعا وكړي وبولي دوى الله چي خالص كوونكى وى ده ته دين خپل قسم دى كه نجات دى راكړ موږ ته

مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ أَنْجٰىهُمْ

مِنْ هٰذِهٖ	لَنَكُوْنَنَّ	مِنَ الشّٰكِرِيْنَ	فَلَمَّآ	أَنْجٰىهُمْ
له دى سختى	نو خامخا به سو موږ هرو مرو	له شكر كوونكو	نو هر كله چي	نجات وركړي دوى ته

له دى نو خامخا به سو موږ هرو مرو له شكر كوونكو. نو هر كله چي نجات وركړى دوى ته الله له غرقه څخه

هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ .. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: او ممكنه ده چي په خبرو اترو كي او ژبوكي هم اختلاف راغلى وي ليكن قرآن كريم دانسبي ، قبائلي ، درنګ او وطن اختلاف كم چي فطري كارونه دي دامت په يووالي كي خلل راوستونكى نه دى مقرر كړي اوددې اختلافونو په وجه سره يي دآدم عليه السلام اولاد مختلف قومونه او مختلف امتونه نه بلكي يوامت مقرر كي خو كله چي دايمان خلاف كفر او شرك خپور سو نو كافر او مشرك يي جلا جلاقوم او ملت مقرر كړي او دوى بيا خپله اختلافونه سره وكړه: دقرآن كريم دغه ايت (هوالذى خلقكم فمنكم كافر ومنكم مؤمن) دغه مضمون نور هم زيات واضح كي چي دالله جل جلاله مخلوق دحضرت آدم عليه السلام داولادپه مختلفو قومونو كي دتقسيم شي صرف دايمان او اسلام څخه اوړل دي په نسبي او وطني قرابتوسره قومونه نه جدا جدا كيږي دژبي او وطن يا رنګ او نسل پر بنا باندي دانسانانو دمختلفو ډلو مقررول جهالت او نوى حماقت دي او ډير خلګ اوس هم په دغه مفكوره پسي دي.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ص۸۲)

إِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا

إِنَّمَا	النَّاسُ	يٰٓاَيُّهَا	بِغَيْرِ الْحَقِّ	فِي الْأَرْضِ	يَبْغُوْنَ	إِذَا هُمْ
بیشکه! هم دا خبره ده چی	خلګو	ای	په ناحقه سره	په مځکه کښې	فساد شرارت کوی	ناڅاپه دوی

ناڅاپه دوی فساد شرارت کوی په مځکه کښې په ناحقه سره ، ای خلګو بیشکه! هم دا خبره ده چی

بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ ثُمَّ

ثُمَّ	الدُّنْيَا	الْحَيٰوةِ	مَّتَاعَ	اَنْفُسِكُمْ	عَلٰٓى	بَغْيُكُمْ
بیا	د دی دنیا	دژوندون	نفع او فائده	نفسونو ستاسی ده	پر	جزاء د شرارت ستاسی

جزاء د شرارت ستاسی پر نفسونو (ځانونو) ستاسی ده (اوس کوئ تاسی دا) عیش د ژوندون لږ خسیس بیا

اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٣﴾

تَعْمَلُوْنَ	كُنْتُمْ	بِمَا	فَنُنَبِّئُكُمْ	مَرْجِعُكُمْ	اِلَيْنَا
چی کاوه به مو .	وئ تاسی	په هغه عمل چی	نو خبر به درکړو تاسی ته	راتلله ستاسی دی	خاص موږ ته

خاص موږ ته راتلله ستاسی دی (په قیامت کښې) نو خبر به درکړو تاسی ته په هغه عمل چی وئ تاسی چی کاوه به مو .

اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

مِنَ السَّمَآءِ	اَنْزَلْنٰهُ	كَمَآءٍ	الدُّنْيَا	الْحَيٰوةِ	مَثَلُ	اِنَّمَا
له آسمانه	چی نازلی کړی دی موږ هغه	په شان د اوبو دی	د دنیا	ژوندون	چی مثال د دی	بیشکه! هم دا خبره ده

بیشکه! هم دا خبره ده چی مثال د دی ژوندون لږ خسیس په شان د اوبو دی چی نازلی کړی دی موږ هغه له (طرفه د) آسمانه

فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ

النَّاسُ	يَاْكُلُ	مِمَّا	الْاَرْضِ	نَبَاتُ	بِهٖ	فَاخْتَلَطَ
انسانان	چی خوری ئی	له هغه (قسم)	د مځکی	وابنه	په دی اوبو سره	نو خلط سی

نو خلط سی په (سبب د) دی اوبو سره (هر قسم) زرغونه د مځکی له هغه (قسم) چی خوری ئی بنیادمان

وَالْاَنْعَامُ ۭ حَتّٰٓى اِذَآ اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا

زُخْرُفَهَا	الْاَرْضُ	اَخَذَتِ	اِذَآ	حَتّٰٓى	وَالْاَنْعَامُ
زینت خپل	مځکی	واخیست	کله چی	ترهغو پوری	او چارپایان

او چارپایان (لکه انواع د وښو) ، ترهغه پوری کله چی واخیست مځکی زینت خپل

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ ظالم ته الله ﷻ دظلم سزا پر دې دنیا هم ورکوي لهذا ظلم نه دی پکار: په دغه آیت کي الله ﷻ دا خبره په ښکاره بیان کړیده چي دظلم وبال پر ظالم باندي په دې دنیا کي هم واقع کیږي. فرمايي (انما بغيكم على انفسكم) يعني ستاسو دظلم وبال پر تاسي پر یوزي ددې څخه معلومه سوه چي دظلم وبال يقيني دی او دآخرت څخه مخکي په دنيا کي هم ددې سزا کیدای سي: په حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چي الله ﷻ دصله رحمي او دخلګو سره داحسان کوونکو بدله هم ژر ورکوي (چي دآخرت څخه مخکي په دنیا کي هم ددې برکتونه لیدل کیږي) او دظلم او صله رحمي دپريکولو بدله هم ژر ورکوي: (چي په دنیا کي يې هم سزا پیدا کیدای سي: او په يوه حديث کي په روايت دعائشي رضي الله عنها ذکردي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي درې ګناهونه داسي دي چي ددوی وبال پر خپل کوونکي باندي پريوزي اول ظلم، دوهم بد عهدي دريم دوکه اوفريب. (معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۸۵)

وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ

وَازَّيَّنَتْ	وَظَنَّ	اَهْلُهَآ	اَنَّهُمْ	قٰدِرُوْنَ	عَلَيْهَآ
او ښه ښایسته سی	او ګمان وکړی	خاوندان د دی (مځکی)	چی بیشکه! دوی	قادر دی	په دی مځکه باندی

او ښه ښایسته سی، او ګمان وکړی خاوندان د دی (مځکی) چی بیشکه! دوی قادر دی په دی مځکه باندی

اَتٰىهَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ

اَتٰىهَآ	اَمْرُنَا	لَيْلًا	اَوْ نَهَارًا	فَجَعَلْنٰهَا	حَصِيْدًا	كَاَنْ	لَّمْ تَغْنَ
ناڅاپه راسی دی ته	امر زموږ	د شپی	یا د ورځی	نو وګرځوو موږ دغه	ریبلی سوی	ګواکی	نه ؤ دغه کښت

ناڅاپه راسی دی (مځکی) ته امر زموږ د شپی یا د ورځی نو وګرځوو موږ دغه (فصل) ریبلی سوی ګواکی نه ؤ،

بِالْاَمْسِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾

بِالْاَمْسِ	كَذٰلِكَ	نُفَصِّلُ	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّتَفَكَّرُوْنَ
پرون	هم داسی	په تفصیل سره بیانوو موږ	دلائل	دپاره د قوم	چی فکر کوی

پرون هم داسی (لکه مذکوره بیان) په تفصیل سره بیانوو موږ دلائل دپاره د قوم چی فکر کوی.

وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ

وَاللّٰهُ	يَدْعُوْٓا	اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ	وَيَهْدِيْ	مَنْ	يَّشَآءُ
او الله	بولی	کور د سلامتیا ته	او لاره ښیی	هغه چاته چی	اراده وفرمائی

او الله بولی (بندګان خپل) کور د سلامتیا ته (جنت دی) او لاره ښیی هغه چاته چی اراده وفرمائی (د هدایت د ده)

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۵﴾ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى

اِلٰى صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	لِلَّذِيْنَ	اَحْسَنُوا	الْحُسْنٰى
لاری	سمی ته	دپاره د هغو کسانو چی	نیکی ئی کړی دی	نیکه جزا

لاری سمی ته (چی اسلام دی). (سته) دپاره د هغو کسانو چی نیکی ئی کړی (ایمان ئی راوړی) نیکه (جزا د جنت)

وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓئِكَ

وَزِيَادَةٌ	وَلَا يَرْهَقُ	وُجُوْهَهُمْ	قَتَرٌ	وَّلَا ذِلَّةٌ	اُولٰٓئِكَ
او زیادت	او نه به پټوی	مخونه د دوی	هیڅ تور ګرد او غبار	او نه هیڅ ذلت	دغه (محسنان)

او زیادت (له اجره هم سته) او نه به پټوی مخونه د دوی هیڅ تور ګرد او غبار او نه هیڅ ذلت (رسوائی)، دغه (محسنان)

وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ مَنْ. جنت د هر قسم آفتونو او مصیبتونو څخه خلاص کور دی: په دغه آیت کي الله ﷻ فرمایي چي زه خپل بندګان د دارالسلام طرف ته رابلم یعني د داسي کور طرف ته چي په هغه کي هر قسم سلامتی سلامتي وي نه په دې کي څه تکلیف وي نه رنځ او غم نه د نا جوړی بیره وي نه د فنا کیدو حالت او نه د بدلیدو فکر وي د دارالسلام څخه مراد جنت دی دې ته د دارالسلام ویلو یوه وجه خو داده چي په دې کي هر قسم سلامتي او امن او سکون به هر سړي ته حاصل وي: دوهمه وجه په ځینو روایتونو کي دي چي د جنت نوم دارالسلام ځکه ایښوول سوی دی چي په دې کي اوسیدونکو ته به همیشه د الله ﷻ د طرفه څخه او د اکرم د ملایکو د طرفه څخه سلام رسیږي بلکي لفظ د سلام به د جنتیانو اصطلاح وي چي د دې په ذریعه به دوی د خپلو خواهشاتو اظهار کوي او ملایکي به یې ورته تیاروي لکه چي دا خبره د دې څخه په مخکي آیت کي تیره سویده. الله ﷻ دي موږ او تاسو ته را نصیب کړي: (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۸۸)

اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيۡنَ كَسَبُوا

اَصۡحٰبُ	الۡجَنَّةِ	هُمۡ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	كَسَبُوا
صاحبان	دجنت دی	هم دوی	په دغه جنت کښی	تل او سيدونکی دی	او هغه کسان چي	کسب ئې کړی دی

صاحبان د جنت دی، هم دوی په دغه جنت کښی تل او سيدونکی دی. او هغه کسان چي کسب ئې کړی دی

السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ بِمِثۡلِهَا ۙ وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٌ ؕ

السَّيِّاٰتِ	جَزَآءُ	سَيِّئَةٍۭ	بِمِثۡلِهَا	وَتَرۡهَقُهُمۡ	ذِلَّةٌ
دبدو	جزا	دبدی (د دوی)	په قدر د بدی ده	او پټوی به دوی لره	ذلت (رسوائی)

دبدو (لکه کفر او نفاق) جزا د بدی (د دوی) په قدر د بدی ده او پټوی به دوی لره ذلت (رسوائی)،

مَا لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَاۤ اُغۡشِيَتۡ وُجُوۡهُهُمۡ

مَا لَهُمۡ	مِّنَ	اللّٰهِ	مِنۡ عَاصِمٍ	كَاَنَّمَاۤ	اُغۡشِيَتۡ	وُجُوۡهُهُمۡ
نه به وی دوی ته	له	الله	هيڅ ساتونکی	ګواکی	پټ کړی سوی دی	مخونه د دوی

نه به وی دوی ته له (عذابه د) الله هيڅ ساتونکی ګواکی پټ کړی سوی دی مخونه د دوی

قِطَعًا مِّنَ الَّيۡلِ مُظۡلِمًا ؕ اُولٰٓـئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ

قِطَعًا	مِّنَ	الَّيۡلِ	مُظۡلِمًا	اُولٰٓـئِكَ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	هُمۡ
په ټوټو	د	شپې سره	حال دا چې تک توره وی	دغه	صاحبان	داور دی	هم دوی

په قطعو (ټوټو) د شپې سره حال دا چې تک توره وی. دغه صاحبان د اور (د دوزخ) دی، هم دوی

فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٢٧﴾ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيۡعًا ثُمَّ نَقُوۡلُ

فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	وَيَوۡمَ	نَحۡشُرُهُمۡ	جَمِيۡعًا	ثُمَّ	نَقُوۡلُ
په دغه دوزخ کښی	تل او سيدونکی دی	او هغه ورځ چي	راجمع به کړو دا خلک	ټول	بيا	به وو ايو

په دغه دوزخ کښی تل او سيدونکی دی. او (ياد کړه ای محمده!) هغه ورځ چي راجمع به کړو دا خلک ټول بيا به وو ايو

لِلَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡا مَكَانَكُمۡ اَنۡتُمۡ وَشُرَكَآؤُكُمۡ ۚ فَزَيَّلۡنَا

لِلَّذِيۡنَ	اَشۡرَكُوۡا	مَكَانَكُمۡ	اَنۡتُمۡ	وَشُرَكَآؤُكُمۡ	فَزَيَّلۡنَا
هغو کسانو ته	چی شرک ئې راوړی دی	(ودرېږئ) په ځايونو خپلو کښی	تاسی	او شريکان ستاسی	نو بيلتون به وکړو موږ

هغو کسانو ته چي شرک ئې راوړی دی په ځايونو خپلو کښی تاسی او (هم) شريکان ستاسی، نو بيلتون به وکړو موږ

وَالَّذِيۡنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ بِمِثۡلِهَا.

دوږخيانو ته به الله ﷻ سزا ددوی دبدو عملونو په اندازه ورکړي: په دغه آيت کي الله ﷻ د دوږخيانو حالت بيان کړی دی چي کمو خلګو په دې دنيا کي بد عمل وکی دوی ته به دبدی بدله برابربرابر ورکول سي په دې کي به څه زياتی نه وي ددوی پر مخونو به ذلت خپور وي څوک به دوی دالله ﷻ دعذاب څخه بچ کوونکی نه وي ددوی پر مخونو به دتوروالي دا حال وي چي ګويا دتوري شپې پردې راخپرې سوي وي: ددې څخه وروسته په دوو اياتونو کي يوه مکالمه ذکر ده کمه چي به د دوږخيانو او ددوی د ګمراه کوونکو بتانو يا شيطانانو په مينځ کي په محشر کي وي ارشاد فرمايي چي په دغه ورځ به موږ ټوله راجمع کړو: بيا به مشر کينو ته ووايو چي تاسي او ستاسي خوښ کړي معبودان پر خپل ځای ودرېږی چي تاسي ته دخپلي عقيدې حقيقت معلوم سي ددې څخه وروسته به ددې خلګو او ددوی د معبودانو په مينځ کي تعلقات پري سي او دوی به سره جلا سي الخ.

(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۹۰)

بَيۡنَهُمۡ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا تَعۡبُدُونَ ﴿٢٨﴾

بَيۡنَهُمۡ	وَقَالَ	شُرَكَآؤُهُم	مَّا كُنتُمۡ	إِيَّانَا	تَعۡبُدُونَ
په مینځ د دوی کښې	او وبه وائي	شریکان د دوی	چې نه وئ تاسي	چې خاص موږ لره به	مو عبادت کاوه

په مینځ د دوی کښې او وبه وائي شریکان د دوی (دوی ته) چې نه وئ تاسي چې خاص موږ لره به مو عبادت کاوه.

فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ إِن كُنَّا عَنۡ

فَكَفَىٰ	بِٱللَّهِ	شَهِيدًا	بَيۡنَنَا	وَبَيۡنَكُمۡ	إِنۡ	كُنَّا	عَنۡ
نو کافي دی	الله	شاهد	په مینځ زموږ	او په مینځ ستاسی کښې	بیشکه!	شان دادی چې موږ وو	له

نو کافی دی الله شاهد په مینځ زموږ او په مینځ ستاسی کښې بیشکه! شان دادی چې وو موږ له

عِبَادَتِكُمۡ لَغَٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾ هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٖ مَّآ

عِبَادَتِكُمۡ	لَغَٰفِلِينَ	هُنَالِكَ	تَبۡلُواْ	كُلُّ	نَفۡسٖ	مَّآ
عبادت ستاسی څخه	خامخا بې خبران	په دغه ځای کښې	به ښکاره پیدا کړي	هر	یو نفس جزا	د هغه عمل

عبادت ستاسی څخه خامخا بې خبران. په دغه ځای کښې به ښکاره ومومي (او وڅکي) هر یو نفس جزا د هغه عمل

أَسۡلَفَتۡ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۖ وَضَلَّ عَنۡهُم

أَسۡلَفَتۡ	وَرُدُّوٓاْ	إِلَى ٱللَّهِ	مَوۡلَىٰهُمُ	ٱلۡحَقِّ	وَضَلَّ	عَنۡهُم
چې پخوائي لیږلی دی	او بیرته به بوتله سی د دوی	الله ته	چې مولی د دوی	حق دی	او ورک به سی	له دوی څخه

چې پخوا ئي لیږلی دی او بیرته به بوتله سی دوی الله ته چې مولی د دوی حق دی او ورک به سی له دوی څخه

مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٣٠﴾ قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ

مَّا كَانُواْ	يَفۡتَرُونَ	قُلۡ	مَن يَرۡزُقُكُم	مِّنَ ٱلسَّمَآءِ
هغه دروغ چې ؤ دوی	چې جوړول به ئې.	وو ایه (محمده)	څوک رزق روزی درکوی تاسی ته	له جانبه د آسمانه

هغه دروغ چې ؤ دوی چې جوړول به ئې. وو ایه (ای محمده!) څوک رزق روزی درکوی تاسی ته له جانبه د آسمانه

وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن

وَٱلۡأَرۡضِ	أَمَّنۡ	يَمۡلِكُ	ٱلسَّمۡعَ	وَٱلۡأَبۡصَٰرَ	وَمَنۡ
او له مځکې	آیا څوک دی	چې مالک دی	د غوږونو	او د سترګو	او څوک دی

(په باران) او له مځکې (په نباتاتو) بلکه آیا څوک دی چې مالک دی د (پیدا کولو د) غوږونو او د سترګو او څوک دی

قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ.

د مشرکینو د سترګو د خلاصولو د پاره یو څو سوالونه د دوی څخه: په راروانو ایاتونو کي الله جل جلاله په خپلي حکیمانه طریقې سره د مشرکینو څخه د دوی د سترګو د خلاصولو د پاره یو څو سوالونه کړي دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یي خطاب کړی دی چې دې خلګو ته ووایه چې د آسمان او مځکي څخه تاسي ته رزق څوک درکوي؟ یا د غوږونو او سترګو مالک څوک دی؟ چې کله غواړي اوریدل او لیدل په کښې پیدا کوي او چې کله غواړي نولیري کوي یې ورڅخه او څوک دی چې د مړو شیانو څخه ژوندي پیدا کوي لکه د خاورو څخه ګیاه او درختي یا د نطفې څخه انسان او حیوانان یا د مرغی د هګۍ څخه چرګوړی او د ژوندي څخه مړي پیدا کوي لکه د انسان او حیوان مړه نطفه او څوک دی چې د ټولو کائناتو د کارونو تدبیر کوي؟ بیا فرمایي چې کله ته د دغو خلګو څخه دا پوښتنه وکړې نو ټول به په جمع دا ووایي چې د دې شیانو پیدا کوونکی یو الله جل جلاله دی نو ته دوی ته ووایه چې بیا تاسي ولې د خدای څخه نه بیریږئ؟
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۹۰)

ع۱۰ ۳ نصف

يُّخۡرِجُ الۡحَیَّ مِنَ الۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ الۡمَيِّتَ مِنَ الۡحَيِّ وَمَنۡ

يُّخۡرِجُ	الۡحَیَّ	مِنَ الۡمَيِّتِ	وَيُخۡرِجُ	الۡمَيِّتَ	مِنَ الۡحَيِّ	وَمَنۡ
چي راوباسي	ژوندی	له مړی	او راوباسي	مړی	له ژوندی	او څوک دی هغه

چي راوباسي ژوندی (بچی، مؤمن، عالم،) له مړی (هګۍ، کافر، جاهل) او راوباسي مړی له ژوندی او څوک دی هغه

يُّدَبِّرُ الۡاَمۡرَ ؕ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ اللّٰهُ ۚ فَقُلۡ اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۳۱﴾

يُّدَبِّرُ الۡاَمۡرَ	فَسَيَقُوۡلُوۡنَ	اللّٰهُ	فَقُلۡ	اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ
چي تدبير کوی	نو ژر به ووائي دوی	الله دی	نو ووايه	نو آيا نه ويريږئ تاسي

چي تدبير کوی (دهرکار) نو ژر به ووائي دوی (چي هغه) الله دی، نو ووايه (محمده) نو آيا نه ويريږئ تاسي.

فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الۡحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعۡدَ الۡحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۖ

فَذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمُ	الۡحَقُّ	فَمَاذَا	بَعۡدَ	الۡحَقِّ	اِلَّا	الضَّلٰلُ
نو دغه	الله	رب ستاسی دی	حق	نو څه شی دی	وروسته	له حقه	مګر	ګمراهي

نو دغه (موصوف په دغو صفاتو سره) الله رب ستاسی دی حق، نو څه شی دی وروسته له حقه (هيڅ نسته) مګر ګمراهي

فَاَنّٰى تُصۡرَفُوۡنَ ﴿۳۲﴾ كَذٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ

فَاَنّٰى	تُصۡرَفُوۡنَ	كَذٰلِكَ	حَقَّتۡ	كَلِمَتُ	رَبِّكَ
نو کوم خواته	ګرځولی سئ تاسی	همداسی	لايق سو	حکم	د رب ستا

نو کوم خواته ګرځولی سئ تاسی. همداسی لايق سو حکم (لازم سو عذاب) د رب ستا

عَلَى الَّذِيۡنَ فَسَقُوۡۤا اَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۳۳﴾ قُلۡ هَلۡ مِنۡ

عَلَى الَّذِيۡنَ	فَسَقُوۡۤا	اَنَّهُمۡ	لَا يُؤۡمِنُوۡنَ	قُلۡ	هَلۡ مِنۡ
پر هغو کسانو	چي کافران سوی دی	په سبب د دی چي بيشکه! دوی	ايمان نه راوړی	وو ايه (محمده!)	آيا سته له دی

پر هغو کسانو چي کافران سوی دی په سبب د دی چي بيشکه! دوی ايمان نه راوړی. وو ايه (ای محمده!) آيا سته له دی

شُرَكَآئِكُمۡ مَّنۡ يَّبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ ؕ قُلِ

شُرَكَآئِكُمۡ	مَّنۡ	يَّبۡدَؤُا	الۡخَلۡقَ	ثُمَّ	يُعِيۡدُهٗ	قُلِ
شريکانو ستاسی	هغه څوک چي	پيدا کړی دی په اول کښي	خلګ	بيا	ژوندی کړی دوی	وو ايه (محمده)

شريکانو (بتانو) ستاسی هغه څوک چي پيدا کړی دی خلګ په اول کښي بيا ژوندی کړی دوی وو ايه (ای محمده!)

فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الۡحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعۡدَ الۡحَقِّ. دالله ﷻ بر حق معبودوالی چي ثابت دی نو هغه دعبادت مستحق دی: په دغه آيت کي الله ﷻ فرمايي چي زه هغه ذات يم په چا کي چي دغه دکمال صفتونه اوس تير سول هغه موجود دي نو په دغه دکمال په صفتو سره دالله ﷻ بر حق معبودوالی ثابت سو نو بيا دا حق پريښوول اوبل طرف ته مخ ګرځول څومره دبي عقلی خبره ده: ددې ايت په مسئلو او فائدو کي داخبره دياد ساتلو ده چي په ايت کي د (ماذا بعد الحق الا الضلل) څخه داثابته سوه چي دحق او ګمراهی په مينځ کي هيڅ واسطه نسته کم چي حق نه وي هغه په ګمراهی کي داخل وي داسي يو کارنه سي کيدی کم چي نه حق وي او نه ګمراهي وي او دا هم نه سي کيدای چي دوه مخالف شيان حق وي په تولو اصولو دعقيدو کي داقاعده دجمهور امت په نزد منل سويده البتّه په جزئي مسئلو او فقهي جزئياتو کي دعلماوو اختلاف سته دځينو حضراتو په نزد په اجتهادي مسئلو کي مخالف جانب ته ضلال او ګمراهي نه سي ويل کيدی.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۹۱)

اللهُ يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ فَاَنّٰى تُؤۡفَكُوۡنَ ﴿٣٤﴾ قُلۡ

اللهُ	يَبۡدَؤُا	الۡخَلۡقَ	ثُمَّ	يُعِيۡدُهٗ	فَاَنّٰى	تُؤۡفَكُوۡنَ	قُلۡ
چي الله	اول پيدا كوى	خلګ	بيا	ژوندى كوى ئى	نو كوم لورى ته	آړول كيږئ تاسى	ووايه (محمده)

چي الله اول پيدا كوى خلګ بيا ژوندى كوى ئى (بعدالموت) نو كوم لورى ته آړول كيږئ تاسى. ووايه (محمده)

هَلۡ مِنۡ شُرَكَآئِكُمۡ مَّنۡ يَّهۡدِيۡۤ اِلَى الۡحَقِّ ؕ قُلِ اللهُ يَهۡدِيۡ

هَلۡ مِنۡ	شُرَكَآئِكُمۡ	مَّنۡ يَّهۡدِيۡۤ	اِلَى الۡحَقِّ	قُلِ	اللهُ	يَهۡدِيۡ
چي آيا شته لهٔ دى	شريكانو ستاسى	هغه څوک چي لاره وښيي	حق ته	ووايه (محمده!)	چي الله	لاره ښيي

چي آيا شته لهٔ دى شريكانو (بتانو) ستاسى هغه څوک چي لاره وښيي حق ته؟ ووايه (محمده!) چي الله لاره ښيي

لِلۡحَقِّ ؕ اَفَمَنۡ يَّهۡدِيۡۤ اِلَى الۡحَقِّ اَحَقُّ اَنۡ يُّتَّبَعَ اَمَّنۡ

لِلۡحَقِّ	اَفَمَنۡ	يَّهۡدِيۡۤ	اِلَى الۡحَقِّ	اَحَقُّ	اَنۡ يُّتَّبَعَ	اَمَّنۡ
حق ته	آيا نو هغه څوک	چي لاره ښيي	حق ته	ډير لايق دى	د دى چي متابعت ئى وكړى سى	او كه هغه چي

حق ته ، آيا نو هغه څوک چي لاره ښيي حق ته ډير لايق دى د دى چي متابعت ئى وكړى سى؟ او كه هغه چي (په خپله هم)

لَّا يَهِدِّيۡۤ اِلَّاۤ اَنۡ يُّهۡدٰى ۚ فَمَا لَكُمۡ ۟ كَيۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ ﴿٣٥﴾

لَّا يَهِدِّيۡۤ	اِلَّاۤ	اَنۡ يُّهۡدٰى	فَمَا لَكُمۡ	كَيۡفَ	تَحۡكُمُوۡنَ
لاره نسي پيدا كولاى	مګر	چي ده ته لاره وښوولي سى	نو څه باعث دى تاسى لره	څرنګه	حكم كوئ

لاره نسي موندلى؟ مګر چي ده ته لاره وښوولي سى، نو څه باعث دى تاسى لره څرنګه حكم كوئ (مخالف له مقتضٰى د عقل)

وَمَا يَتَّبِعُ اَكۡثَرُهُمۡ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ

وَمَا يَتَّبِعُ	اَكۡثَرُهُمۡ	اِلَّا ظَنًّا	اِنَّ	الظَّنَّ
او نه كوى متابعت	اكثره د دوى	مګر د ګمان	بيشكه!	ګمان (اټكل)

او نه كوى متابعت اكثر د دوى مګر د (فاسد اټكل) ګمان، بيشكه! ګمان (اټكل)

لَا يُغۡنِيۡ مِنَ الۡحَقِّ شَيۡـًٔا ؕ اِنَّ اللهَ عَلِيۡمٌۢ بِمَا يَفۡعَلُوۡنَ ﴿٣٦﴾

لَا يُغۡنِيۡ	مِنَ الۡحَقِّ	شَيۡـًٔا	اِنَّ	اللهَ	عَلِيۡمٌ	بِمَا يَفۡعَلُوۡنَ
نه بې پراو كوى	له حقه	د هيڅ شى	بيشكه!	الله	ښه عالم دى	په هغه څه چي كوى (ئى) دوى

نه بې پروا كوى هيڅوک له حقه د هيڅ شى ،بيشكه! الله ښه عالم دى په هغه څه چي كوى (ئى) دوى نو جزا به وركړى

قُلۡ هَلۡ مِنۡ شُرَكَآئِكُمۡ مَّنۡ يَّهۡدِيۡ..دكافرانو پر نه مسلمانيدو باندي نبي كريم ﷺ ته دالله ﷻ دطرفه څخه تسلي:

الله ﷻ فرمايي چي دا زما ازلي خبره ده چي دوى ايمان نه راوړي او دغه خبره دټولو سركښانو په حق كي ثابته سوي ده پس ته ولي غمجن يي او ته دوى ته داسي هم ووايه چي ايا ستاسي په دې خوښ كړو شريكانو كي په عام طور سره كه ذوي العقول وي لكه شيطانان يه غير ذوي العقول وي لكه بتان څوک داسي سته چي په اول وار هم مخلوق پيدا كړي بيا يي په قيامت كي دوباره هم راژوندي كړي كه دغه خلګ په دې وجه چي په دې كي ددوى دشريكانو سپكوالى دى په جواب كي څه نه وايي نو ته ووايه چي الله ﷻ يي په اول وار هم پيدا كوي بيا به يي هغه دوباره هم پيدا كوي پس ددې تحقيق څخه وروسته هم بيا تاسي كمي خواته دحق څخه ليري كيږى اودوى ته داسي هم ووايه چي آيا ستاسي په تجويز سوو ذوي العقولو شريكانو كي لكه شيطانان څوک داسي سته چي دحق كار دلاري ښوونه كوي؟ (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ص۹۲)

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ

وَمَا	كَانَ	هٰذَا	الْقُرْاٰنُ	اَنْ يُّفْتَرٰى	مِنْ دُوْنِ
او نه	دی	دا	قرآن	چي په دروغو جوړ کړی سی	غير له

او نه دی دا قرآن (سره له داسی فصاحته، بلاغته او اعجازه) چي په دروغو جوړ کړ سی غير له

اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ

اللّٰهِ	وَلٰكِنْ	تَصْدِيْقَ	الَّذِىْ	بَيْنَ يَدَيْهِ
الله څخه	وليکن دی	تصديق کوونکی	دهغه (کتاب)	چي تير سوی دی په مخکښی د ده

الله نه وليکن دی تصديق (رښتيني) کوونکی د هغه (کتاب) چي تير سوی دی په مخکښی د ده

وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ

وَتَفْصِيْلَ	الْكِتٰبِ	لَا رَيْبَ	فِيْهِ	مِنْ
او دی تفصيل کوونکی	دهغه څه چي ليکلی سوی دی	نسته هيڅ شک	په ده کښی	(چي راغلی دی) له لوری

او دی تفصيل کوونکی دهغه څه چي ليکلی سوی دی (پر تاسو) نسته هيڅ شک په ده کښی (چي راغلی دی) له لوری

رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٣٧ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ

رَّبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	اَمْ	يَقُوْلُوْنَ	افْتَرٰىهُ
درب	دعالميانو	بلکه آيا	وائی دوی چي (محمد)	له ځانه جوړ کړی دی دغه (قرآن)

د رب د عالميانو. بلکه آيا وائی دوی چي (محمد) له ځانه جوړ کړی دی دغه (قرآن)

قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ

قُلْ	فَاْتُوْا	بِسُوْرَةٍ	مِّثْلِهٖ	وَادْعُوْا	مَنِ
ووايه (محمده!)	چي نو راوړی	يو سورت	په شان د ده	او راوبولئ تاسی	هغه څوک

ووايه (ای محمده! دوی ته) چي نو راوړی يو (لنډ) سورت په شان د ده (په اعجاز کښی) او راوبولئ تاسی هغه څوک

اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٣٨

اسْتَطَعْتُمْ	مِّنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ
چي ستاسی له لاسه کيږی	غير له	الله څخه	که يئ تاسی	رښتني

چي ستاسی له لاسه کيږی، غير له الله څخه که يئ تاسی صادقان (رښتني په دغه دعوی د افتراء کښی).

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ.. داقران دالله ﷻ کلام دی دبنده جوړ نه دی: په دغه ايت کي الله ﷻ فرمايي چي قرآن کريم دالله ﷻ کتاب دی دځانه څخه جوړ سوی نه دی بلکي دا خو دهغو کتابونو تصديق کوونکی دی کم چي دده څخه مخکي نازل سوی دی او دالله ﷻ دضروري حکمونو دتفصيل بيانوونکی دی او په دې کي څه خبره دشک او شبهي نسته او دغه درب العلمين دطرف څخه نازل سوی دی سره ددې چي دی دځانه جوړ سوی نه دی دا خلگ داسي وايي چي نعوذ بالله تا دا دځانه جوړ کړی دی ته دوی ته ووايه چي ښه ده نو بيا تاسي هم خو عرب ياست او داعلی درجي فصيحان او بليغان هم ياست ددې په مثل يو سورة جوړ کړی رايه وړی او يوازي نه کم کم غير الله چي رابللي سی هغوی دمدد دپاره راوبولی که تاسي رښتيني ياست چي نعوذ بالله ما جوړ کړی دی نو تاسي خو يي هم جوړ کړی مگر مشکله خو داده چي په دا قسم دليلونو سره فائده خو هغه چاته رسيږي کوم چي پوهيدل هم غواړي او دوی خو هيڅکله پوهيدل نه دي غوښتي:

(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص۹۳)

وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ وَلَكُمْ. مسلمان ته به دخپل عمل بدله او كافر ته به دخپل عمل بدله وركول كيږي: كه چيري ددغه دلائلو څخه وروسته بياهم دوى تا دروا غجن كوي نو بس آخري خبره دا ووايه چي ښه صاحبه زما عمل به ماته راكول كيږي او ستاسي عمل به تاسي ته دركول كيږي تاسي زما دعمل جواب وركونكي نه ياست او زه ستاسي دعمل جواب وركوونكى نه يم په كمه طريقه چي غواړى اوسى تاسي ته به معلومه سي او ته ددوى څخه دايمان اميد مه كوه ځكه چي په دوى كي كه څه هم ځيني داسي هم دي كم چي په ښكاره يي ستا طرف ته غوږ ايښي ناست وي ليكن په زړه كي يي اراده دايمان او حق طلب كولو نسته پس په دې اعتبار سره ددوى اوريدل او نه اوريدل برابر دي پس ددوى حالت دكڼو په شان سونو بيا ايا ته كڼو ته اورولى سې او ددوى څخه دمنلو انتظار كولى سي كه څه هم دوى پوه نه وي البته كه پوه يي وي نو سره دكوڼوالي به يي هم څه كار كيداى سي يعني نه سي كيداى په كڼو به يي څوک واوري:
(معارف القرآن ج۴ پ ۱۱ ص۹۵)

بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ

بَلْ كَذَّبُوْا	بِمَا	لَمْ يُحِيْطُوْا	بِعِلْمِهٖ	وَلَمَّا	يَاْتِهِمْ
بلكه نسبت د دروغو ئي وكړ	په هغه قرآن	چي پوره نه ؤ رسيدلى دوى	په علم د هغه	او نه ؤ	راغلى دوى ته

بلكه نسبت د دروغو ئي وكړ په هغه قرآن چي پوره نه ؤ رسيدلى دوى په علم د هغه او نه ؤ راغلى دوى ته

تَاْوِيْلُهٗ ۭ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

تَاْوِيْلُهٗ	كَذٰلِكَ	كَذَّبَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
معنى او حقيقت د دى قرآن	همداسي	تكذيب كړى وو	هغو كسانو چي	وو پخوا له دوى څخه

معنى او حقيقت د دى قرآن، همداسي تكذيب كړى وو (دخپلو انبياؤ) هغو كسانو چي وو پخوا له دوى څخه

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ۝٣٩ وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ

فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الظّٰلِمِيْنَ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ يُّؤْمِنُ
نو وګوره ته چي	څرنګه	وو	عاقبت	دظالمانو	او ځينى له دى (مكذبانو) هغه دى	چي ايمان راوړى

نو وګوره ته چي څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د ظالمانو . او ځينى له دى (مكذبانو) هغه دى چي ايمان راوړى

بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ۭ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ

بِهٖ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	لَّا يُؤْمِنُ	بِهٖ	وَرَبُّكَ	اَعْلَمُ
پر دغه (قرآن)	او ځينى له دوى څخه	هغه دى	چي ايمان نه راوړى	په دغه (قرآن)	او رب ستا	ښه عالم دى

پر دغه (قرآن) او ځينى له دوى څخه هغه دى چي ايمان نه راوړى په دغه (قرآن هيڅكله) ، او رب ستا ښه عالم دى

بِالْمُفْسِدِيْنَ ۝٤٠ وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ وَلَكُمْ

بِالْمُفْسِدِيْنَ	وَاِنْ	كَذَّبُوْكَ	فَقُلْ	لِّيْ عَمَلِيْ	وَلَكُمْ
پر (حال د) مفسدانو	او كه	تكذيب وكړي دوى ستا	نو ووايه	ماته عمل ځما دى	او تاسي ته

پر (حال د) مفسدانو. او كه تكذيب وكړي دوى ستا نو ووايه (اى محمده! دوى ته) ماته عمل ځما دى او تاسي ته

عَمَلُكُمْ ۚ اَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ مِمَّآ اَعْمَلُ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا

عَمَلُكُمْ	اَنْتُمْ	بَرِيْٓـُٔوْنَ	مِمَّآ	اَعْمَلُ	وَاَنَا بَرِيْٓءٌ	مِّمَّا
عمل ستاسى دى	تاسي	بيزاره يئ	له هغه كار	چي زه ئي كوم	او زه هم بيزاره يم	له هغه كارونو چي

جزا د عمل ستاسى ده، تاسي بيزاره يئ له (جزاء د) هغه كار چي كوم ئې زه او زه هم بيزاره يم له (جزا د) هغه كارونو چي

ع

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٤١﴾ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّسۡتَمِعُوۡنَ اِلَيۡكَ اَفَاَنۡتَ

تَعۡمَلُوۡنَ	وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ يَّسۡتَمِعُوۡنَ	اِلَيۡكَ	اَفَاَنۡتَ
کوئ‌ئی تاسی	او ځینی له‌دی کفارو هغه کسان دی	چي غوږونه نیسی	تاته	آیا نو ته

کوئ‌ئی تاسی. او ځینی له‌دی کفارو هغه کسان دی چي غوږونه نیسی تاته (تمسخراً یا ظاهراً) آیا نو ته

تُسۡمِعُ الصُّمَّ وَلَوۡ كَانُوۡا لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿٤٢﴾ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ

تُسۡمِعُ	الصُّمَّ	وَلَوۡ كَانُوۡا	لَا يَعۡقِلُوۡنَ	وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ
آوروی	کاڼه‌ته	او اگر که‌وی دوی	چي هیڅ عقل هم نه‌لری	او ځینی له‌دوی	هغه‌دی

آوروی (مادر زاده) کاڼه‌ته او اگر که‌وی دوی چي هیڅ عقل هم نه‌لری. او ځینی له‌دوی هغه‌دی

يَّنۡظُرُ اِلَيۡكَ اَفَاَنۡتَ تَهۡدِى الۡعُمۡىَ وَلَوۡ كَانُوۡا

يَّنۡظُرُ	اِلَيۡكَ	اَفَاَنۡتَ	تَهۡدِى	الۡعُمۡىَ	وَلَوۡ كَانُوۡا
چي گوری	تاته	آیا نو ته‌به	لاره‌وښیي	ړندو ته	او اگر که‌وی‌دوی

چي گوری تاته (دسرپه‌سترگو) آیا نو ته به‌لاره‌وښیي (مادر زادو) ړندو ته‌او اگر که‌وی دوی

لَا يُبۡصِرُوۡنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظۡلِمُ النَّاسَ شَيۡـًٔا وَّلٰكِنَّ

لَا يُبۡصِرُوۡنَ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَظۡلِمُ	النَّاسَ	شَيۡـًٔا	وَّلٰكِنَّ
چي هیڅ بصیرت نه‌لری	بیشکه! چي	الله	نه‌کوی ظلم	پر خلکو	هیڅ قدر	ولیکن

چي هیڅ بصیرت (او پوه) نه‌لری. بیشکه! چي الله نه‌کوی ظلم پر خلکو هیڅ قدر ولیکن

النَّاسَ اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿٤٤﴾ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَاَنۡ

النَّاسَ	اَنۡفُسَهُمۡ	يَظۡلِمُوۡنَ	وَيَوۡمَ	يَحۡشُرُهُمۡ	كَاَنۡ
خلک	پر نفسونو خپلو	ظلم‌کوی	او هغه‌ورځ چي	راجمع‌کړی کفار	حال‌دا لکه‌چي

خلک پر نفسونو (ځانونو) خپلو ظلم کوی. او هغه‌ورځ چي (پس له‌مرگه الله) راجمع کړی کفار حال‌دالکه چي

لَّمۡ يَلۡبَثُوۡۤا اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُوۡنَ بَيۡنَهُمۡ

لَّمۡ يَلۡبَثُوۡۤا	اِلَّا	سَاعَةً	مِّنَ النَّهَارِ	يَتَعَارَفُوۡنَ	بَيۡنَهُمۡ
پاته‌سوی نه‌وه‌دوی	مگر	په‌قدر د یوه‌ساعت	له‌ورځی	پیژنی به‌دوی یو تر بله	پخپلو منځونو کښی

پاته‌سوی نه‌وه‌دوی (په‌دنیا یا په‌قبر کښی) مگر په‌قدر د یوه ساعت له‌ورځی پیژنی به‌دوی یو تر بله پخپلو منځونو کښی

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَاَنۡ لَّمۡ يَلۡبَثُوۡۤا..دقیامت ورځ به پر کافرانو باندي سخته او اوږده هم وي: او ته دوی ته هغه ورځ هم درپه یاد که په کمه کي چي الله ﷻ دوی په داسي شان سره راجمع کړی چي دوی به وګڼی چي ګویا دوی په دنیا یا برزخ کي دټولي ورځي یو ساعت یا نیم ساعت به پاته سوي وي چونکي دغه ورځ به اوږده هم وي او سخته به هم وي په دې وجه به ددنیا او برزخ موده او تکلیف ټول هیر کړی داسي به ګڼی چي دغه زمانه ډیر ژر تیره سوه او په خپل مینځ کي به یو بل پیژنی هم لیکن دیو بل مدد به نه سي کولی په دې به یي غم او صدمه نوره زیاته سي ځکه چي دآشنا خلګو څخه دنفع امید وي واقعي دغه وخت په تاوان کي پریوتل هغه خلګو ته دي کمو چي دالله ﷻ خواته راتلل دروا غجن کړل او دوی په دنیا کي هم هدایت کوونکي نه وه په دې وجه نن په خساره کي پریوتل پس ددوی دعذاب اصلي وخت خو داورځ ده دوی ته یي ورپه یاد کړه: الله ﷻ دي دغه اوږده ورځ پر موږ او تاسي باندي لنډه کړي: (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص۹۷)

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا

وَمَا كَانُوْا	اللّٰهِ	بِلِقَآءِ	كَذَّبُوْا	الَّذِيْنَ	خَسِرَ	قَدْ
اونه ؤ دوی	د الله	د ملاقات	چي تكذيب ئې كړی دی	هغه كسان	زيانمن سوی دی	په تحقيق

په تحقيق زيانمن سوی دی هغه كسان چي تكذيب ئې كړی دی د ملاقات د الله او نه ؤ دوی

مُهْتَدِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ

نَعِدُهُمْ	الَّذِيْ	بَعْضَ	وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ	مُهْتَدِيْنَ
وعده ئې كوو له دوی سره	چي	ځيني له هغه عذاب	او كه وښيو خامخا تا ته	سمه صافه لاره پيدا كوونكي

سمه صافه لاره موندونكي. او كه وښيو خامخا تا ته ځيني له هغه عذاب چي وعده ئې كوو له دوی سره

اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى

عَلٰى	شَهِيْدٌ	اللّٰهُ	ثُمَّ	مَرْجِعُهُمْ	فَاِلَيْنَا	اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ
په	شاهدی دی	نو الله	بيا	راتلل د دوی دی	نو خاص موږ ته بيا	او كه وفات كړو تا

او كه وفات كړو تا نو خاص موږ ته بيا راتلل د دوی دی بيا نو الله شاهد دی په

مَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ فَاِذَا جَآءَ رَسُوْلُهُمْ

رَسُوْلُهُمْ	فَاِذَا جَآءَ	رَّسُوْلٌ	اُمَّةٍ	وَلِكُلِّ	مَا يَفْعَلُوْنَ
رسول د دوی	نو كله چي رابه غي	يو رسول دی	او لپاره د هر امت	چي كوی ئې دوی	هغو كارونو

هغو كارونو چي كوی ئې دوی. او لپاره د هر امت يو رسول دی نو كله چي رابه غي (دوی ته) رسول د دوی

قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾

لَا يُظْلَمُوْنَ	وَهُمْ	بِالْقِسْطِ	بَيْنَهُمْ	قُضِيَ
به مظلومان نه ؤ	حال دا چي دوی	په انصاف سره	په مينځ د دوی كښي	نو حكم به وكړ سو

(او دوی به و نه مانه) نو حكم به وكړ سو په مينځ د دوی كښي په انصاف سره حال دا چي دوی به مظلومان نه ؤ.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ قُلْ

قُلْ	صٰدِقِيْنَ	اِنْ كُنْتُمْ	الْوَعْدُ	هٰذَا	مَتٰى	وَيَقُوْلُوْنَ
وو ايه (محمده)	صادقان	يئ تاسي	وعده كه	دغه	كله به وی	او وائي دوی

او وائي دوی كله به وی دغه وعده كه يئ تاسي (ای رسوله ای مؤمنانو) صادقان. وو ايه (ای محمده!)

وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ. كفارو ته الله ﷻ خامخا عذاب وركوي يا په دې دنيا كي او په هغه دنيا كي خو يقيني دی: پر كفارو باندي عذاب واقع كيدل او نه واقع كيدل نو ددې په نسبت دا خبره ده چي د كم عذاب ددوی سره وعده كول كيږي په دې كي لږ څه عذاب كه موږ تا ته وښيو يعني ستا په ژوند كي پر دوی ددې نزول وسي يا ددې د نازليدو څخه مخكي موږ تا وفات كړو بيا برابره خبره ده كه وروسته نازل سي يا نه سي پس دواړه احتماله سته يو طرف ضروري نه دی ليكن په هر احتمال باندي زموږ خوا ته خو ددوی راتلل خامخا دي بيا تولو ته معلومه ده چي الله ﷻ ددوی په ټولو كارونو باندي خبر دی پر دې به سزا وركړي غرض دا چي په دنيا كي سزا وي او كه نه وي مگر پر اصلي موقع به خامخا وي او دا سزا كمه چي ددوی د پاره تاكل سويده نو د حجت پوره كيدو او عذر ليرې كيدو څخه وروسته سويده او ددوی څه تخصيص نسته بلكي د هميشه څخه زموږ دا عادت پاته سوی دی چي هر امت ته يو حكم رسوونكي رااستوو. (معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۹۷)

لَآ اَمۡلِكُ لِنَفۡسِيۡ ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ لِكُلِّ

لَآ اَمۡلِكُ	لِنَفۡسِيۡ	ضَرًّا	وَّلَا نَفۡعًا	اِلَّا	مَا شَآءَ	اللّٰهُ	لِكُلِّ
نه يم مالک	دپاره د ځان خپل	دضرر	او نه دنفعې	مگر	دهغې چې اراده وفرمائی	الله	لپاره د

نه يم مالک دپاره د ځان خپل دضرر او نه (درسولو) دنفعې مگر دهغې چې اراده وفرمائی الله ، لپاره د

اُمَّةٍ اَجَلٌ ؕ اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمۡ فَلَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً

اُمَّةٍ	اَجَلٌ	اِذَا جَآءَ	اَجَلُهُمۡ	فَلَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ	سَاعَةً
هر امت	يوه نيټه ده	کله چې راسي	هغه اجل د دوی	نو نه به وروستی کيږی دوی	يو ساعت

هر امت يوه نيټه ده (دهلاک) ، کله چې راسی هغه اجل د دوی نو نه به وروستی کيږی دوی (د دغې نيټې خپل) يو ساعت

وَّلَا يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ ﴿۴۹﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ اَتٰىكُمۡ عَذَابُهٗ

وَّلَا يَسۡتَقۡدِمُوۡنَ	قُلۡ	اَرَءَيۡتُمۡ	اِنۡ اَتٰىكُمۡ	عَذَابُهٗ
او نه مخکی کيږی دوی	ووايه (محمده)	آيا وينئ تاسی	که راسی تاسو ته	عذاب د الله

او نه رومبی کيږی دوی (پرې). ووايه (ای محمده!) آيا وينئ تاسی (خبر راکړئ ماته) که راسی تاسو ته عذاب د الله

بَيَاتًا اَوۡ نَهَارًا مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ مِنۡهُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ﴿۵۰﴾

بَيَاتًا	اَوۡ نَهَارًا	مَّاذَا	يَسۡتَعۡجِلُ	مِنۡهُ	الۡمُجۡرِمُوۡنَ
دشپې	يا د ورځې	نو څه به وی هغه	چې په تلوار غوښتی	له هغه څخه	مجرمانو

دشپې يا د ورځې نو څه به وی هغه (عذاب) چې په جلتی سره غوښت له هغه نه مجرمانو (کافرانو)

اَثُمَّ اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ ؕ آٰلۡـٰٔنَ وَقَدۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ

اَثُمَّ	اِذَا	مَا وَقَعَ	اٰمَنۡتُمۡ	بِهٖ	آٰلۡـٰٔنَ	وَقَدۡ	كُنۡتُمۡ	بِهٖ
آيا	کله چې	واقع سی	نو ايمان به راوړئ تاسی	په هغه	آيا اوس	حال دا چې په تحقيق	وئ تاسی	چې په دغه

آيا کله چې واقع سی (دغه عذاب) نو ايمان به راوړئ تاسی په هغه، آيا اوس حال دا چې په تحقيق وئ تاسی چې په دغه

تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ قِيۡلَ لِلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا ذُوۡقُوۡا عَذَابَ

تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ	ثُمَّ قِيۡلَ	لِلَّذِيۡنَ	ظَلَمُوۡا	ذُوۡقُوۡا	عَذَابَ
(عذاب) به مو تلوار کوله	بيا به وويل سی	هغو کسانو ته	چې ظلم ئې کړی وی	وڅکئ	عذاب (دائم)

(عذاب) به مو تلوار کوله. بيا به وويل سی هغو کسانو ته چې ظلم ئې کړی وی وڅکئ عذاب (دائم)

اَثُمَّ اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ آٰلۡـٰٔنَ... دالله ﷻ عذاب چي واقع سي نو بيا ايمان راوړل هيڅ فايده نه ورکوي يعني ايا تاسي ايمان پر داسي وخت راوړی کله چي پر تاسي عذاب واقع سي؟ برابره خبره ده که دمرگ په وخت کي وي يا ددې څخه مخکي مگر داسي وخت به ستاسي دايمان په جواب کي وويل سي (آلئن) ايا اوس ايمان راوړی کله چي دايمان وخت تير سو لکه دغرقيدو په وخت کي چي فرعون وويل (آمنت انه لااله الا الذی آمنت به بنو اسرآئيل) په جواب کي ورته وويل سوه (آلئن) او دده ايمان نه سو قبول څکه چي دمرگ دغرغري په وخت کي ايمان او توبه دالله ﷻ په نزد معتبر نه دی دغه رکم په دنيا کي دعذاب واقع کيدو څخه مخکي مخکي توبه قبليدی سي کله چي عذاب راسي بيا توبه نه قبليږي دسورت په آخر کي چي دحضرت يونس عليه السلام دقوم کومه واقعه راځي چي ددوی توبه قبوله سوه هغه ددي ضابطي ماتحت دی چي دوی دعذاب د ليري څخه راتلونکي وليدی نو دزړه په صدق سره يي زاری وکړي او توبه يي قبوله سوه او عذاب ځيني ليري سو. (معارف القرآن ۴ پ ۱۱ ص ۹۹)

الْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٥٢﴾

الْخُلْدِ	هَلْ تُجْزَوْنَ	اِلَّا بِمَا	كُنْتُمْ	تَكْسِبُوْنَ
دهميشگى	آيا سزا به دركولى سى تاسى ته	مګر (په سبب دهغه شرک او تكذيب)	چي وئ تاسى	چي كول به مو

د هميشگى، آيا سزا به دركولى سى تاسى ته مگر په سبب د هغه شرک او تكذيب چي وئ تاسى چي كول به مو.

وَيَسْتَنْبِئُوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ

وَيَسْتَنْبِئُوْنَكَ	اَحَقٌّ	هُوَ	قُلْ	اِيْ	وَرَبِّيْٓ
او پوښتنه كوى له تانه	چي آيا حق دى	دا	ووايه (اى محمده)	هو!	قسم دى وى زما په رب خپل

او پوښتنه كوى له تا نه چي آيا حق دى دا (قرآن يا دعوى دنبوت يا عذاب) ووايه (محمده) هو! قسم دى وى زما په رب خپل

اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؔ ؕ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ

اِنَّهٗ	لَحَقٌّ	وَمَآ اَنْتُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ	وَلَوْ اَنَّ	لِكُلِّ	نَفْسٍ	ظَلَمَتْ
چي بيشكه! دغه	خامخا حق دى	او نه يئ تاسى	عاجزوونكى	او كه بيشكه!	دپاره د	هر نفس	چي ظلم ئى كړى وى

چي بيشكه! دغه خامخا حق دى، او نه يئ تاسى عاجزوونكى. او كه بيشكه! دپاره د هر نفس چي ظلم ئى كړى وى

مَا فِي الْاَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا

مَا فِي	الْاَرْضِ	لَافْتَدَتْ	بِهٖ	وَاَسَرُّوا	النَّدَامَةَ	لَمَّا	رَاَوُا
هغه چي دى په	ځمكه كښى	نو خامخا به فديه وركړى دغه نفس	په دغه	او دوى به پټوى	پښيمانى	كله چي	ووينى دوى

هغه چي دى په ځمكه كښى نو خامخا به فديه وركړى دغه نفس په دغه، او دوى به پټوى پښيمانى كله چي ووينى دوى

الْعَذَابَ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٥٤﴾

الْعَذَابَ	وَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ	بِالْقِسْطِ	وَهُمْ	يُظْلَمُوْنَ
عذاب	او فيصله به وكړه سى	په مينځ د دوى كښى	په انصاف	او حال داچي دوى	به مظلومان نه وى

عذاب او فيصله به وكړه سى په مينځ د دوى (يعنى د خلائقو) كښى په انصاف او حال داچي دوى به مظلومان نه وى.

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَلَآ

اَلَآ	اِنَّ	لِلّٰهِ	مَا فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	اَلَآ
واورئ خبردار سئ	چي بيشكه!	خاص الله لره دى	هر هغه څه چي	په آسمانونو	او په ځمكه كښى دى	واورئ خبردار سئ

واورئ خبردار سئ چي بيشكه! خاص الله لره دى هر هغه څه چي په آسمانونو او په ځمكه كښى دى واورئ خبردار سئ

وَيَسْتَنْبِئُوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ

كفار چي هر څه وكي خو الله ﷻ نه سي عاجزه كولاى: دغه كفار او مشركين دنبي كريم ﷺ څخه په طور دتعجب پوښتنه كوي چي ايا داعذاب يقيني شى دى ؟ ته وفرمايه چي هو قسم دى زما په رب چي دغه واقعي شى دى او تاسي په هيڅ شان سره خداى نه سى عاجزه كولاى چي هغه عذاب دركوي او تاسي ورڅخه خلاص سى او دا عذاب به داسي سخت وي چي كه ده هر يو مشرک سړي سره دومره مال وي چي ټوله ځمكه ور څخه ډكه سي بيادى دخپل ځان دخلاصولو دپاره وركول وغواړي كه څه هم چي نه به خزانه وي او نه به اخيستل كيږي ليكن سختى به دومره وي چي كه مال يي واى نو په ټول مال وركولو باندي به دى راضي سي او كله چي عذاب ووينى نو دزياتي رسوايي دبيري څخه به پټه پښيمانى په زړه كي كوي يعني دپښيمانى ظاهري قولي اوفعلي نخښي به نه ښكاره كوي چي ليدونكي ورپوري زيات ونه خاندي ليكن په آخركي به يي دا ضبط او برداشت هم ونه سي.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۹۸)

ع ١٣/١٠

إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾ هُوَ يُحْيٖ

إِنَّ	وَعْدَ	اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	هُوَ يُحْيٖ
چې بیشکه!	وعده	دالله	حقه ده	ولیکن	زیات له خلکو	نه پوهیږي	هم دغه ژوندي کول کوي

چې بیشکه! وعده دالله حقه ده ولیکن زیات له خلکو نه پوهیږي (پرې). هم دغه (الله) ژوندي کول کوي

وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ

وَيُمِيْتُ	وَاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	قَدْ	جَآءَتْكُمْ
او مره کول کوي	او هم ده ته	بیا بیولی کیږئ	ای	خلکو!	په تحقیق	راغلی دی تاسی ته

او مره کول کوي او هم ده ته بیا بیولی کیږئ (په قیامت کښی لپاره دجزا). ای خلکو! په تحقیق راغلی دی تاسی ته

مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ

مَّوْعِظَةٌ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	وَشِفَآءٌ	لِّمَا	فِي الصُّدُوْرِ
نصیحت	له جانبه	درب ستاسی	او شفاء	دپاره د هغو چې	دی په سینو (دخلکو کښی)

موعظ (پند) له جانبه د رب ستاسی او شفاء (دارو) دپاره دهغو (ټولو روحانی امراضو) چې دی په سینو (دخلکو کښی)

وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ

وَهُدًى	وَّرَحْمَةٌ	لِّلْمُؤْمِنِيْنَ	قُلْ	بِفَضْلِ	اللّٰهِ
او هدایت	او رحمت دی	دپاره د مؤمنینو	ووایه (محمده)	په فضل (قرآن)	د الله سره

او هدایت او رحمت دی دپاره د مؤمنینو. ووایه (ای محمده! مؤمنانو ته چې خوشحاله اوسئ) په فضل (قرآن) د الله سره

وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا

وَبِرَحْمَتِهٖ	فَبِذٰلِكَ	فَلْيَفْرَحُوْا	هُوَ خَيْرٌ	مِّمَّا
او په رحمت د الله سره	نو په هم دغه سره	دی خوشحاله سی مؤمنان	دغه ډیر غوره دی	له هغو مالونو

او په رحمت (دین) د الله سره نو په هم دغه (فضل او رحمت) دی خوشحاله سی مؤمنان، دغه ډیر غوره دی له هغو مالونو

يَجْمَعُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ

يَجْمَعُوْنَ	قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	مَّآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	لَكُمْ	مِّنْ رِّزْقٍ
چې جمع کوی (ئې) دوی	ووایه	آیا وینئ تاسی	هغه شی چې نازل کړی دی	الله	تاسو ته	له رزق څخه

چې جمع کوی (ئې) دوی. ووایه آیا وینئ تاسی هغه شی چې نازل کړی دی الله تاسو ته له رزق څخه

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ. دالله جَلَّ جَلَالُهُ کتاب او دنبي کریم ﷺ سنت طریقې داخرت دعذاب څخه دنجات ذریعه ده: په ذکر سوو ایاتونو کي په اولني دوو ایاتونو کې یې دکفارود بد حالی او گمراهی څخه دوتلو طریقه او داخرت دعذاب څخه دنجات ذریعه وښووله او هغه دالله جَلَّ جَلَالُهُ کتاب قرآن او دهغه رسول محمد ﷺ او دهغه دسنت طریقو پیروي کول دي: او دانسانیت او انسان دپاره دا دواړه داسي عظیم نعمتونه دي چي دآسمان او مځکي دټولو نعمتونو څخه اعلی او افضل دی دقرآن داحکامواو درسول ﷺ دسنتو تابعداري انسان په صحیح معنی کي انسان جوړوي او کله چي انسان په صحیح معنی انسان کامل جوړ سي نو ټول جهان برابر سي اودادنیا هم جنت جوړ سي: په اولني آیت کي دقرآن کریم دڅلورو خاصیتونو ذکر دی. اول خاصیت: (موعظة من ربکم) د موعظه او وعظ اصلي معنی دداسي شیانو بیانول دي دکمو په ذریعه چي دانسان زړه نرم سي او دالله جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته بېه راوگرځي. پاته بیان پر راروان مخ وگوری.

فَجَعَلۡتُمۡ مِّنۡهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلۡ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمۡ

فَجَعَلۡتُمۡ	مِّنۡهُ	حَرَامًا	وَّحَلٰلًا	قُلۡ	آٰللّٰهُ	اَذِنَ	لَكُمۡ
نو گرځولی دی تاسی	له دغه رزق څخه	حرام	او حلال	ووايه (محمده!)	آيا الله	حکم کړی دی	تاسی ته

نو گرځولی دی تاسی له دغه رزق څخه ځینی حرام او (ځینی) حلال، ووایه (ای محمده) آیا الله اذن کړی دی تاسی ته

اَمۡ عَلَى اللّٰهِ تَفۡتَرُوۡنَ ﴿٥٩﴾ وَمَا ظَنُّ الَّذِيۡنَ يَفۡتَرُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ

اَمۡ	عَلَى اللّٰهِ	تَفۡتَرُوۡنَ	وَمَا ظَنُّ	الَّذِيۡنَ	يَفۡتَرُوۡنَ	عَلَى	اللّٰهِ
بلکه	په الله پوری	دروغ تړی تاسی	او څه شی دی گمان	دهغو کسانو چی	له ځانه تړی	پر	الله باندی

بلکه په الله پوری دروغ تړی تاسی. او څه شی دی گمان دهغو کسانو چی له ځانه تړی پر الله باندی

الۡكَذِبَ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى

الۡكَذِبَ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَذُوۡ	فَضۡلٍ	عَلَى
دروغ	په ورځ	دقیامت کښی	بیشکه!	الله	خامخا ښتن	دفضل دی	پر

دروغ په ورځ د قیامت کښی ، بیشکه! الله خامخا څښتن (خاوند) د فضل دی پر

النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُوۡنَ ﴿٦٠﴾ وَمَا تَكُوۡنُ

النَّاسِ	وَلٰكِنَّ	اَكۡثَرَهُمۡ	لَا يَشۡكُرُوۡنَ	وَمَا	تَكُوۡنُ
خلکو	ولیکن	اکثره خلک	نه وباسی شکر	او نه ئی	ته (مشغول)

خلکو ، ولیکن اکثره خلک نه وباسی شکر (په دغو نعماؤ). او نه ئی ته (مشغول)

فِيۡ شَاۡنٍ وَّمَا تَتۡلُوۡا مِنۡهُ مِنۡ قُرۡاٰنٍ وَّلَا تَعۡمَلُوۡنَ مِنۡ عَمَلٍ

فِيۡ شَاۡنٍ	وَّمَا تَتۡلُوۡا	مِنۡهُ	مِنۡ قُرۡاٰنٍ	وَّلَا تَعۡمَلُوۡنَ	مِنۡ عَمَلٍ
په کوم کار کښی	او نه وائی ته	له دی څخه	له قرآنه	او نه کوئ تاسی	له کارونو څخه

په کوم کار کښی او نه لولی ته (هیڅ آیت، سورت) له دی نه (یعنی) له قرآنه او نه کوئ له کارونو څخه

اِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُوۡدًا اِذۡ تُفِيۡضُوۡنَ فِيۡهِ ؕ

اِلَّا	كُنَّا	عَلَيۡكُمۡ	شُهُوۡدًا	اِذۡ تُفِيۡضُوۡنَ	فِيۡهِ
مگر	او سو موږ	پر تاسی	شاهدان	کله چی مصروف اوسیږئ تاسی	په هغه کښی !

مگر اوسو موږ پر تاسی شاهدان (ساتونکی) کله چی مصروف (بوخت) اوسیږئ تاسی په هغه کښی !

وَمَا ظَنُّ الَّذِيۡنَ يَفۡتَرُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ.. دتیر مخ پاته بیان

دلته وګوری: او ددنیا د غفلت پرده خیري سي دآخرت فکر مخ ته راسي قرآن کریم داول څخه تر آخره پوري ددې ښه وعظ نهایت بلیغ مبلغ دی په دې کي هر ځای دجنت دوعدې سره دعذاب بیره ذکر ده دثواب سره عذاب ددنیا او اخرت دکامیابی ناکامي او ګمراهي وغیره ګډوډ ذکر دی چي ددې په اوریدو سره کاني زړه هم نرمیږي او بیا پر دې سربیره دقرآن دبیان اعجاز چي په زړونو بدلولو کي بې مثله دی: دموعظه سره د (من ربکم) قید دقرآن دوعظ حیثیت نور هم لوړ کی ددې څخه معلومه سوه چي دا وعظ دځان په شان دیو عاجز انسان دطرف څخه نه دی دکم په لاس کي چي دچا نفع نقصان یا عذاب او ثواب هیڅ نه وي بلکي درب کریم دطرف څخه دي چي دهغه په وینا کي دغلطی امکان نسته او چي دهغه په وعده او وعید کي دڅه عاجزوالي یا کمزوری یا عذر څه خطره نسته بلکي هغه یوه طرفته حکیم او بل طرف ته قوي او غښتلی ذات دی.
(معارف القرآن ج۴ پ ۱۱ ص۱۰۲)

۲ ع ۶ ۱۱

وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ

وَمَا يَعْزُبُ	عَنْ رَّبِّكَ	مِنْ مِّثْقَالِ	ذَرَّةٍ	فِي الْاَرْضِ
او نه غائب کیږي	له ربه ستا	په اندازه	دیوې ذرې	په مځکه کښې

او نه غائب کیږي له ربه ستا په اندازه د یوې ذرې (واړه میږې یا پوټي د ګرد نه) په مځکه کښې

وَلَا فِي السَّمَآءِ وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

وَلَا فِي السَّمَآءِ	وَلَآ اَصْغَرَ	مِنْ ذٰلِكَ	وَلَآ اَكْبَرَ	اِلَّا	فِيْ كِتٰبٍ
او نه په آسمانونو کښې	او نسته ډیره وړوکی	له دغې ذرې څخه	او نه ډیر غټ	مګر	په کتاب

او نه په آسمانونو کښې او نسته ډیره وړوکی له دغې ذرې څخه او نه ډیر غټ (له دې څخه) مګر په کتاب

مُّبِيْنٍ ﴿٦١﴾ اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

مُّبِيْنٍ	اَلَآ	اِنَّ	اَوْلِيَآءَ	اللّٰهِ	لَا خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ
واضح کښې	واورئ خبردار سئ	چې بیشکه!	دوستان	د الله	نسته هیڅ قسم ېیره	پر دوی

واضح (ښکاره په لوح محفوظ) کښې. واورئ خبردار سئ چې بیشکه! دوستان د الله نسته هیڅ قسم ېیره پر دوی

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٦٣﴾

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَكَانُوْا	يَتَّقُوْنَ
او نه به وي دوی چې خفه کیږي	هغه کسان دي	چې ایمان لري	او وي دوی	چې ځان ساتي

(له کومه مکروه) او نه به دوی خفه کیږي. (دغه دوستان) هغه کسان دي چې ایمان لري او وي دوی چې ځان ساتي.

لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ

لَهُمُ	الْبُشْرٰى	فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَفِي الْاٰخِرَةِ
سته دوی ته	زیری	په دغه ژوندون	د دنیا کښې	او په آخرت کښې

دوی ته زیری په دغه ژوندون د دنیا کښې او په آخرت کښې،

لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٤﴾

لَا تَبْدِيْلَ	لِكَلِمٰتِ	اللّٰهِ	ذٰلِكَ	هُوَ الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ
نسته هیڅ بدلول	د کلماتو	د الله (تعالی)	دغه (زیری)	هم دغه دی بری	ډیر لوی

نسته هیڅ بدلول د کلماتو د الله (تعالی) ، دغه (زیری د دواړو جهانو) هم دغه دی بری ډیر لوی.

اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ...د الله ﷻ ددوستانو پیژندنه او په دنیا او اخرت کې دوی ته زیری: فرمایي چې د خدای ﷻ پر دوستانو به نه د ناخوښه شي د پیښیدو خطره وي او نه د څه مقصد د فوت کیدو غم وي او د خدای دوستان هغه دي کم چې ایمان راوړي او کمو چې تقوی او پرهیزګاري اختیاره کړه د دوی د پاره په دنیا کې هم خوشخبري ده او په آخرت کې هم: دلته څو خبري د غور قابلي دي: اول دا چې په اولیآء الله یعني د خدای پر دوستانو د بیري او غم نه راتلو څه معنی ده؟ دوهمه دا چې د اولیآء الله تعریف څه دی؟ یعني اولیآء الله چا ته وایي؟ او د دوی نښانې څه دي؟ دریم دا چې په دنیا او په اخرت کې دوی ته د زیري ورکولو څخه څه مراد دي؟ اوله خبره چې د خدای دوستانو ته به بیره او غم نه وي د دې څخه دا مراد کیدای سي چې په آخرت کې د حساب او کتاب څخه وروسته کله چې دوی جنت ته داخل سي نو د بیري او غم څخه به دوی ته د همیشه د پاره نجات پیدا کي نه به د څه تکلیف او پریشانی بیره پاته سي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری

وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ؕ هُوَ السَّمِيْعُ

وَلَا يَحْزُنْكَ	قَوْلُهُمْ	اِنَّ	الْعِزَّةَ	لِلّٰهِ	جَمِيْعًا	هُوَ السَّمِيْعُ
او نه دی خفه کوی تا	خبر د دوی	بیشکه! چی	عزت (زور)	خاص الله لره دی	ټول	هم دی ښه آوریدونکی

او نه دی خفه کوی تا (ای محمده!) خبر د دوی بیشکه! چی زور خاص الله لره دی ټول، هم دی ښه آوریدونکی

الْعَلِيْمُ ﴿٦٥﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

الْعَلِيْمُ	اَلَآ	اِنَّ	لِلّٰهِ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَنْ
ښه خبردار	واورئ خبردار سئ	بیشکه!	خاص الله لره دی	هر هغه څوک	چی په آسمانونو کښی دی	او هغه څوک چی

ښه خبردار واورئ خبردار سئ چی بیشکه! خاص الله لره دی هر هغه څوک چی په آسمانونو کښی دی او هغه څوک چی

فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

فِي الْاَرْضِ	وَمَا يَتَّبِعُ	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ
په ځمکه کښی دی	او نه کوی متابعت	هغه کسان	چی بولی دوی	غیر د	الله څخه

په ځمکه کښی دی، او نه کوی متابعت هغه کسان چی بولی (عبادت کوی) دوی غیر الله

شُرَكَآءَ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٦٦﴾

شُرَكَآءَ	اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ	اِلَّا الظَّنَّ	وَاِنْ هُمْ	اِلَّا	يَخْرُصُوْنَ
دهغو شریکانو	نو متابعت نه کوی دوی د (هیڅ شی)	مگر د گمان	او نه دی دوی	مگر	دروغ وائی

دهغو شریکانو، نو متابعت نه کوی دوی د (هیڅ شی) مگر د گمان او نه دی دوی مگر دروغ وائی.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ

هُوَ الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الَّيْلَ	لِتَسْكُنُوْا	فِيْهِ	وَالنَّهَارَ
الله هغه ذات دی	چی گرځولی ئی ده	تاسی ته	شپه	د پاره د دی چی آرام سئ تاسی	په دی شپه کښی	او ورځ

الله هغه ذات دی چی گرځولی ئی ده تاسی ته شپه (تیاره) د پاره د دی چی آرام سئ تاسی په دی شپه کښی او ورځ

مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٧﴾

مُبْصِرًا	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ	يَّسْمَعُوْنَ
ښوونکی (روښانه)	بیشکه	په دغه (ظلمت او نور) کښی	خامخا ډیر دلایل دی	د پاره د قوم	چی اوری دغه قرآن

ښوونکی (روښانه)، بیشکه! په دغه (ظلمت او نور) کښی خامخا ډیر دلایل دی د پاره د قوم چی آوری دغه قرآن.

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ. د تیر مخ پاته بیان دلته وگوری :
او نه به ور سره د څه خوښ او غو ښتونکي شي د فوت کیدو غم وي بلکي د جنت نعمتونه به دايمي او لا زواله وي : د دې معنی په اعتبار سره خو د آیت په مضمون کي څه اشکال نسته لیکن دا سوال خامخا پیدا کیږي چي په دې کي خو د اولیآء الله څه خصوصیت پاته نه سو بلکي ټول جنتیان کمو ته چي د جهنم څخه نجات ورکړه سي هغوی به په دې حال کي وي البته دا ویل کیږي چي کم خلګ آخر جنت ته ورسیږي هغوی ټولو ته به اولیآء الله وایي په دنیا کي د دوی عملونه که هر څومره چي مختلف سوي وي مګر جنت ته د داخلیدو څخه وروسته به ټول د اولیاء الله په فهرست کي شمیرل کیږي: لیکن ډیر تفسیر لیکونکي فرمایي چي پر اولیآء الله د بیري او غم نه کیدل د دنیا او آخرت دواړو د پاره عام دی او د اولیآء الله خصوصیت دا دی چي په دنیا کي به هم دوی د بیري څخه محفوظ وي او په آخرت کي هم پر دوی د بیري او غم نه کیدل خو ټولو ته معلوم دي او په دې کي ټول جنتیان داخل دي : پاته بیان پر راروان مخ وګوری :

قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبۡحٰنَهٗ هُوَ الۡغَنِيُّ لَهٗ مَا

قَالُوا	اتَّخَذَ	اللّٰهُ	وَلَدًا	سُبۡحٰنَهٗ	هُوَ الۡغَنِيُّ	لَهٗ	مَا
وائی كفار	نيولی دی	الله	ولد (ځوی لور)	پاک دی الله	هم دی غنی (دی)	خاص ده لره دی	هر هغه څه چی

وائی كفار نيولی دی الله ولد (ځوی لور) پاک دی الله (په پاکی)، هم دی غنی (بی پروا دی) خاص ده لره دی هر هغه څه چی

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ اِنۡ عِنۡدَكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍۢ بِهٰذَا

فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الۡاَرۡضِ	اِنۡ عِنۡدَكُمۡ	مِّنۡ سُلۡطٰنٍ	بِهٰذَا
چی په آسمانونو كښی دی	او هر هغه څه چی	په مځكی كښی دی	نسته ستاسی څخه	هيڅ برهان حجت سند	په دی

چی په آسمانونو كښی دی او هر هغه څه چی په مځكی كښی دی نسته ستاسی څخه هيڅ حجت سند په دی چی (الله زوی لری)

اَتَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۶۸﴾ قُلۡ اِنَّ الَّذِيۡنَ

اَتَقُوۡلُوۡنَ	عَلَى	اللّٰهِ	مَا	لَا تَعۡلَمُوۡنَ	قُلۡ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ
آيا وايئ تاسی	پر	الله	هغه خبری	چی نه پوهيږئ تاسی	وواېه (محمده)	بيشكه	هغه كسان چی

آيا وايئ تاسی پر الله هغه خبری چی نه پوهيږئ تاسی (پری). وواېه (ای محمده! دوی ته) بيشكه! هغه كسان چی

يَفۡتَرُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُوۡنَ ﴿۶۹﴾ مَتَاعٌ

يَفۡتَرُوۡنَ	عَلَى	اللّٰهِ	الۡكَذِبَ	لَا يُفۡلِحُوۡنَ	مَتَاعٌ
له خپله ځانه تړی	پر	الله	دروغ	خلاص به نسی	نفع آخيستل دی

له خپله ځانه تړی پر الله دروغ خلاص به نسی (له عذابه او په مراد به ونه رسيږی). نفع آخيستل دی

فِي الدُّنۡيَا ثُمَّ اِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ نُذِيۡقُهُمُ الۡعَذَابَ

فِي الدُّنۡيَا	ثُمَّ اِلَيۡنَا	مَرۡجِعُهُمۡ	ثُمَّ نُذِيۡقُهُمُ	الۡعَذَابَ
په دنيا كښی	بيا موږ ته	راتلل د دوی دی	بيا به ورو څكوو موږ دوی ته	عذاب

په دنيا كښی بيا موږ ته راتلل د دوی دی (پس له مرګه) بيا به ورو څكوو موږ دوی ته عذاب

الشَّدِيۡدَ بِمَا كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ ﴿۷۰﴾ وَاتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَاَ

الشَّدِيۡدَ	بِمَا كَانُوۡا	يَكۡفُرُوۡنَ	وَاتۡلُ	عَلَيۡهِمۡ	نَبَاَ
سخت	په سبب د دی چی وو دوی	چی كافران كيدل	او وواېه	پر دوی	حال

سخت په سبب د دی چی وو دوی چی كافران كيدل (په الله او په رسول د الله). او ولوله (ای محمده) پر دوی حال

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ. دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: مګر په دې باندې دحالاتو او واقعاتو په اعتبار سره دااشكال دی چي په دنيا كي خو دا خبره دمشاهدې څخه خلاف ده ځكه چي اوليآء الله خو لا څه كوې انبياء عليهم السلام هم په دې دنيا كي دبيري او غم څخه محفوظ نه دی بلكي ددوی بيره خو دنورو څخه زياته وي لكه چي دقرآن كريم ارشاد دی (چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ څخه په پوره شان سره علماء بيريږي) او واقعات هم داسي دي لكه چي دترمذي شريف په شمايل كي په حديث كي دي چي نبي كريم ﷺ به په اكثرو حالاتو كي فكر مند او غمګين ليدل كيدی او دوی په خپله فرمايي چي زه په تاسي ټولو كي دخدای جَلَّ جَلَالُهُ څخه زيات بيريږم: په صحابه كرامو كي تر ټولو دا فضل حضرت صديق رضي الله عنه او فاروق اعظم رضي الله عنه او ټولو صحابه كرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله او اوليآء الله ژړا فريادا و دآخرت دبيري واقعات بېشميره دي په دې وجه په روح المعاني كي علامه آلوسي رحمه الله داسي فرمايي چي داوليآء الله حضراتو په دنياكي دبيري: پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

المنزل ۲

نُوۡحٍ ۘ اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖ يٰقَوۡمِ اِنۡ كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُمۡ

نُوۡحٍ	اِذۡ قَالَ	لِقَوۡمِهٖ	يٰقَوۡمِ	اِنۡ كَانَ	كَبُرَ	عَلَيۡكُمۡ
دنوح	كله چي وويل (نوح)	قوم خپل ته	چي اى قومه زما	كه چيرى وى	سخت	پر تاسى

د نوح كله چي وويل (نوح) قوم خپل ته چي اى قومه زما كه چيرى وى سخت پر تاسى

مَّقَامِىۡ وَتَذۡكِيۡرِىۡ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡتُ

مَّقَامِىۡ	وَتَذۡكِيۡرِىۡ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	فَعَلَى	اللّٰهِ	تَوَكَّلۡتُ
اوسيدل زما	او پند دركول زما	په آيتونو	دالله	نو خاص	په الله باندى	توكل كړى دى ما

اوسيدل زما او پند دركول زما (تاسى ته) په آيتونو د الله (او بى موجبه مى آزاروئ) نو خاص په الله باندى توكل كړى دى ما

فَاَجۡمِعُوۡۤا اَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ اَمۡرُكُمۡ

فَاَجۡمِعُوۡۤا	اَمۡرَكُمۡ	وَشُرَكَآءَكُمۡ	ثُمَّ لَا يَكُنۡ	اَمۡرُكُمۡ
نو راپيو ځاى كړى تاسى	كار خپل	او شريكان خپل	بيا دى نه وى	كار ستاسى

نو راغونډ (او كلك) كړئ تاسى كار خپل او (راټول كړئ) شريكان خپل بيا دى نه وى كار ستاسى

عَلَيۡكُمۡ غُمَّةً ثُمَّ اقۡضُوۡۤا اِلَىَّ وَلَا تُنۡظِرُوۡنِ ﴿٧١﴾

عَلَيۡكُمۡ	غُمَّةً	ثُمَّ اقۡضُوۡۤا	اِلَىَّ	وَلَا تُنۡظِرُوۡنِ
په تاسى باندى	پټ	بيا راورسوئ	ماته هر قسم ضرر	او مهلت مه راكوئ ماته

په تاسى باندى پټ (يعنى تول بنكاره راپسى ملا وتړئ) بيا راورسوئ ماته هر قسم ضرر او مهلت مه راكوئ ماته.

فَاِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَاَلۡتُكُمۡ مِّنۡ اَجۡرٍ ؕ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ

فَاِنۡ	تَوَلَّيۡتُمۡ	فَمَا سَاَلۡتُكُمۡ	مِّنۡ اَجۡرٍ	اِنۡ اَجۡرِىَ	اِلَّا عَلَى	اللّٰهِ
نو كه	وګرځيدئ تاسى	پس نه ده غوښتى ما له تاسى څخه	هيڅ اجر	نه دى اجر ځما	مګر	پر الله دى

نو كه وګرځيدئ تاسى پس نه ده غوښتى ما له تاسى څخه هيڅ اجر (مزدورى) نه دى اجر ځما مګر پر الله دى

وَاُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿٧٢﴾ فَكَذَّبُوۡهُ

وَاُمِرۡتُ	اَنۡ اَكُوۡنَ	مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ	فَكَذَّبُوۡهُ
او امر (حكم) سوى دى ماته	په دى چي اوسم زه	له مسلمانانو	نو نسبت د دروغو وكړ دوى نوح ته

او امر (حكم) سوى دى ماته په دى چي اوسم زه له مسلمانانو. نو نسبت د دروغو وكړ دوى نوح ته

اِنۡ كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُمۡ مَّقَامِىۡ وَتَذۡكِيۡرِىۡ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: او غم څخه محفوظ كيدل په دې اعتبار سره دي چي دكمو شيانو په بيره او غم كي چي په عام طور سره ددنيا خلګ مبتلاوي چي په دنيوي مقصدونو ارام او راحت عزت او دولت كي په لږ څه كمي راتلو باندي مړه كيږي او دلږ لږ تكليف او پريشانى څخه په بيره سره ددوى څخه دبچ كيدو په تدبيرونو كي شپه او ورځ ورک وي د اولياء الله مقام ددې ټولو څخه لوړ او پورته دى ددوى په نظر كي نه ددنيا فاني عزت او دولت ،راحت او ارام څه حيثيت لري چي په طلب كي يي سرګردانه سي او نه ددې ځاي محنت او مشقت او غم څه دالتفات قابل وي چي په دفع كولو كي يي پريشانه سي بلكي ددوى حال داوي چي (نه څه اسباب خوشحالي راته پيدا كوي او نه غم نقصان را ته راوړي زما دهمت په مخكي هر څه چي وي خو حيثيت يي د ميلمه وي) دالله ﷻ لويي او محبت خوف او بيره پردې حضراتو داسي راخپره سوي وي چي ددې په مقابله كي ددنيا رنج او راحت سود او زيان د وابنه هومره حيثيت هم نه لري. (معارف القرآن ج۴ پ۱۱ص۱۰۶)

فَنَجَّيۡنٰهُ وَمَنۡ مَّعَهٗ فِي الۡفُلۡكِ وَجَعَلۡنٰهُمۡ خَلٰٓئِفَ

فَنَجَّيۡنٰهُ	وَمَنۡ	مَّعَهٗ	فِي الۡفُلۡكِ	وَجَعَلۡنٰهُمۡ	خَلٰٓئِفَ
پس نجات ورکړ موږ دغه ته	او هغه چاته	چي وو له ده سره	په بیړی کښی	او وګرځول موږ	دوی خلیفګان

پس نجات ورکړ موږ دغه (نوح) ته او هغه چاته چي وو له ده سره په بیړی کښی (کشتئ) او وګرځول موږ دوی خلیفګان

وَاَغۡرَقۡنَا الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ

وَاَغۡرَقۡنَا	الَّذِيۡنَ	كَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِنَا	فَانۡظُرۡ	كَيۡفَ كَانَ
او غرق کړل موږ	هغه کسان چي	تکذیب ئی کړی وو	د آیتونو زموږ	نو وګوره چي	څرنګه سوه

اوغرق کړی موږ (په طوفان کښی) هغه کسان چي تکذیب ئی کړی وو د آیتونو زموږ، نو وګوره چي څرنګه سوه

عَاقِبَةُ الۡمُنۡذَرِيۡنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ رُسُلًا

عَاقِبَةُ	الۡمُنۡذَرِيۡنَ	ثُمَّ بَعَثۡنَا	مِنۡۢ بَعۡدِهٖ	رُسُلًا
آخره خاتمه	د بیرول سوو	بیا لیږلی وو موږ	پس له نوح	نور رسولان

آخره خاتمه د ویرولیو شویو (یعنی هلاک سول). بیا لیږلی وو موږ پس له نوح نور رسولان

اِلٰی قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوۡهُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوۡا لِيُؤۡمِنُوۡا

اِلٰی قَوۡمِهِمۡ	فَجَآءُوۡهُمۡ	بِالۡبَيِّنٰتِ	فَمَا كَانُوۡا	لِيُؤۡمِنُوۡا
قوم دهغو ته	نو راوړی وو دغو هغوی ته	دلائل ښکاره	پس نه وو دوی	چي ایمان ئی راوړی وی

قوم دهغو ته نو راوړی وو دغو (رسولانو) هغوی ته دلائل ښکاره پس نه وو دوی (دی ته) چي ایمان ئی راوړی وی

بِمَا كَذَّبُوۡا بِهٖ مِنۡ قَبۡلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطۡبَعُ عَلٰی قُلُوۡبِ

بِمَا كَذَّبُوۡا	بِهٖ	مِنۡ قَبۡلُ ؕ	كَذٰلِكَ	نَطۡبَعُ	عَلٰی قُلُوۡبِ
په هغو چي تکذیب ئی کړی وو	دهغو (اصولو)	پخوا	هم داسی	مهر لګوو موږ	(په) زړونو

په هغو (دینیهؤ اصولو) چي تکذیب ئی کړی وو دهغو (اصولو) پخوا ، هم داسی مهر لګوو موږ (په) زړونو

الۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴿٧٤﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ مُّوۡسٰی وَهٰرُوۡنَ

الۡمُعۡتَدِيۡنَ	ثُمَّ بَعَثۡنَا	مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ	مُّوۡسٰی	وَهٰرُوۡنَ
دتیریدونکو	بیا ولیږلی موږ	وروسته له دغو (رسولانو) څخه	موسٰی	او هارون (دواړه وروڼه)

د تیریدونکو (له شرعی حدودو). بیا ولیږل موږ وروسته له دغو (رسولانو) څخه موسٰی او هارون (دواړه وروڼه)

فَنَجَّيۡنٰهُ وَمَنۡ مَّعَهٗ فِي الۡفُلۡكِ.. دنوح عليه السلام قوم غرق سو خو مسلمانانو ته الله جل جلاله نجات ورکی :
په دغه ایاتونو کي الله جل جلاله ونبي کريم صلى الله عليه وسلم ته حکم کړی دی چي ودغه کفارو دمکي ته دنوح عليه السلام قصه واوروه کمه چي هغه وخت واقع سوې وه کله چي دوی خپل قوم ته وفرمایل چي ای زما قومه که پر تاسي زما اوسیدل یعني په حالت دوعظ کي پاته کیدل او دخدای جل جلاله دحکمونو نصیحت کول ګران او نا خوښه معلومیږي نو کیږي دي زه یي هیڅ پرواه نه کوم ځکه چي زما په خدای جل جلاله بروسه او توکل دی پس تاسي ماته دضرر رسولو متعلق خپل تدبیرونه کم چي کولی سی سره دخپلو شریکانو یعني بتانو یعني تاسي او ستاسي معبودان ټول یو ځای سی ماته په ضرر رسولو کي خپل ارمان وباسی بیا ستاسي دغه تدبیر ستاسي د خفګان او زړه تنګی باعث نه دي جوړیدل پکار یعني اکثره په پټ تدبیر سره طبیعت تنګیږي پس دپټ تدبیر ضرورت نسته څه چي تدبیر کوی په ډاګه یي وکړی او ماته یوه ذره مهلت مه راکوی.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۱۱۴)

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ىِٕهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا

اِلٰى فِرْعَوْنَ	وَمَلَا۟ىِٕهٖ	بِاٰيٰتِنَا	فَاسْتَكْبَرُوْا	وَكَانُوْا
طرف دفرعون	او سردارانو د قوم د ده ته	په ښکاره معجزو زموږ	نو تکبر وکړ دوی	او وو دوی

طرف د فرعون (دمصر) او سردارانو د قوم د ده ته په ښکاره معجزو زموږ نو تکبر وکړ دوی او وو دوی

قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ۝٧٥ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا

قَوْمًا	مُّجْرِمِيْنَ	فَلَمَّا	جَآءَهُمُ	الْحَقُّ	مِنْ عِنْدِنَا
قوم	مجرمان	نو کله چي	راغی دوی ته	حق	له نزده زموږ

قوم مجرمان (کافران زړور په ګناهونو). نو کله چي راغی دوی ته حق (ربنتيا خبره) له نزده زموږ

قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧٦ قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ

قَالُوْٓا	اِنَّ هٰذَا	لَسِحْرٌ	مُّبِيْنٌ	قَالَ	مُوْسٰٓى	اَتَقُوْلُوْنَ
نو وويل دوی	بيشکه! دا خامخا	جادو (کوډی) دی	ښکاره	وويل	موسٰی	آيا وايئ تاسی

نو وويل دوی بيشکه! دا خامخا سحر (کوډی) دی ښکاره. وويل موسٰی (دغو قائلانو ته) آيا وايئ تاسی

لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۭ اَسِحْرٌ هٰذَا ۭ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ۝٧٧

لِلْحَقِّ	لَمَّا	جَآءَكُمْ	اَسِحْرٌ	هٰذَا	وَلَا يُفْلِحُ	السّٰحِرُوْنَ
دغه حق ته (چي معجزه ده)	کله چي	راغله تاسی ته	آيا جادو دی	دا	حال دا چي نه پيدا کوی بری	جادوګران

دغه حق ته کله چي راغله تاسی ته (چي معجزه نه ده سحر دی) آيا سحر دی دا حال دا چي نه مومی بری ساحران (له عذابه).

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ

قَالُوْٓا	اَجِئْتَنَا	لِتَلْفِتَنَا	عَمَّا	وَجَدْنَا	عَلَيْهِ
وويل فرعونيانو	آيا راغلی ئی ته موږ ته	دپاره د دی چي واړوی موږ	له هغه کاره	چي پيدا کړی دی موږ	پر هغه

وويل فرعونيانو (موسٰی ته) آيا راغلی ئی ته موږ ته دپاره د دی چي واړوی موږ له هغه کاره چي موندلی دی موږ پری

اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِى الْاَرْضِ ۭ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا

اٰبَآءَنَا	وَتَكُوْنَ	لَكُمَا	الْكِبْرِيَآءُ	فِى الْاَرْضِ	وَمَا نَحْنُ	لَكُمَا
پلرونه خپل	او چي سی	تاسی دواړو ته	غلبه (سلطنت)	په مځکه کښی	او نه يو موږ	ستاسی دواړو (په نبوت)

پلرونه خپل او چي سی تاسی دواړو ته غلبه (سلطنت) په مځکه (دمصر) کښی. او نه يو موږ ستاسی دواړو (په نبوت)

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا.. **فرعون او دده قوم دحق دطلب دپاره غور هم نه ووکړی:** الله جلّ جلاله فرمايي چي بيا موږ ددغه ذکر سوو پيغمبرانو څخه وروسته موسی عليه السلام او هارون عليه السلام فرعون او دده سردارانو ته دخپلو معجزو لکړه او سپين لاس سره وليږل پس دوی په دعوی سره ددوی دتصديق کولو څخه تکبر وکی او دحق دطلب دپاره يي غور هم ونه کړی او دغه خلګ دجرمونو عادت وه په دې وجه يي اطاعت ونه کی بيا چي کله ددعوې څخه وروسته دوی ته زموږ دطرفه څخه دموسی عليه السلام پر نبوت باندي صحيح دليل ورسيدی مراد ددې څخه معجزه ده نو دغه خلګو وويل چي يقينا دا ښکاره جادو دی موسی عليه السلام وفرمايل ايا تاسي ددې صحيح دليل په نسبت کله چي دغه تاسي ته ورسيدی داسي خبره واياست چي دا جادو دی ايا دا جادو دی حال دادی چي جادوګر کله چي دعوی دنبوت وکړي نو په ظاهرولو دمعجزه کي نه سي کاميابيدای اوزه کامياب سوم چي اول مي دعوی وکړه بيا مي معجزې ښکاره کړې.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۱۱۶)

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٨﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِيْ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿٧٩﴾

بِمُؤْمِنِيْنَ	وَقَالَ	فِرْعَوْنُ	ائْتُوْنِيْ	بِكُلِّ	سٰحِرٍ	عَلِيْمٍ
باور کوونکي	او وويل	فرعون	راولئ تاسي ماته	هر هغه	جادوګر	چي ښه ماهر وي

باور کوونکي. او وويل فرعون (مقربانو خپلو ته چي) راولئ تاسي ماته هر هغه ساحر چي ښه (پوه او) ماهر وي.

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ

فَلَمَّا	جَآءَ السَّحَرَةُ	قَالَ لَهُمْ	مُّوْسٰى	اَلْقُوْا	مَآ اَنْتُمْ
نو کله چي	راغلل جادوګران	وويل دوی ته	موسٰی	چي وغورځوئ	هغه څه چي تاسي (ئې)

نو کله چي راغلل ساحران وويل دوی ته موسٰی چي وغورځوئ هغه څه چي تاسي (ئې)

مُّلْقُوْنَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّآ اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ

مُّلْقُوْنَ	فَلَمَّآ	اَلْقَوْا	قَالَ	مُوْسٰى	مَا جِئْتُمْ
غورځوونکي يئ	نو کله چي	وغورځول جادوګرانو	نو وويل	موسٰی	هغه شيز چي راوړی دی تاسی

غورځوونکي يئ. نو کله چي وغورځول ساحرانو (پړی او همساګانی) نو وويل موسٰی هغه شيز (شی) چي راوړی دی تاسو

بِهِ السِّحْرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ

بِهِ السِّحْرُ	اِنَّ	اللّٰهَ	سَيُبْطِلُهٗ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُصْلِحُ	عَمَلَ
هغه يوازی جادو دی	بيشکه! چي	الله	ژر تباه کوی دغه (جادو)	بيشکه! چي	الله	نه جوړوی	کار

هغه يوازی سحر دی (نه بل شی)، بيشکه! چي الله ژر تباه کوی دغه (سحر)، بيشکه! چي الله نه جوړوی کار

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ

الْمُفْسِدِيْنَ	وَيُحِقُّ	اللّٰهُ	الْحَقَّ	بِكَلِمٰتِهٖ	وَلَوْ كَرِهَ
دفساد کوونکو	او رښتيا کوی	الله	حقه خبره	په کلماتو خپلو سره	او اګر که ئی بد ګنی

دفساد کوونکو. او (بيا ژر) رښتيا کوی الله حقه خبره په کلماتو (او حکمونو) خپلو سره او اګر که ئی بد ګنی

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٨٢﴾ ع فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ

الْمُجْرِمُوْنَ	فَمَآ اٰمَنَ	لِمُوْسٰى	اِلَّا	ذُرِّيَّةٌ	مِّنْ قَوْمِهٖ
مجرمان	نو ايمان نهٔ راوړی	په موسٰی باندی	مګر	څو اولادو	له قومه د ده

مجرمان (کافران). نو ايمان نهٔ راوړی (روميی) په موسٰی باندی مګر څو اولادو (ځلميانو) له قومه د ده

فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ.. پر موسی ﷺ باندي دده قوم څه کسانو ايمان راوړی سره ديري دفرعون: پس کله چي دلکړي معجزه ښکاره سوه نو پر موسی ﷺ باندي په شروع شروع کي ددوی دقوم څخه صرف لږ قدر خلګو ايمان راوړی هغه هم دفرعون څخه او دخپل حاکمانو څخه په بيره چي هسي نه په ښکاره کيدو دوی ته تکليف ونه رسوي اوپه واقع کي ددوی بيره بې ځايه نه وه ځکه چي فرعون په دې ملک کي دزور حکومت درلودی او دا خبره هم وه چي دی دانصاف دحد څخه ووتی ظلم يي کوی بيا چي کم سړی دحکومت څخه ظلم کوي دهغه څخه خو خامخا بيره کيږي او موسی ﷺ چي کله د دوی بيره وليده نو دوی ته يي وفرمايل چي ای زما قومه که تاسي په رښتيا سره په الله ﷻ ايمان لري نو سوچ او فکر مه کوی بلکي پر هغه توکل کوی که چيري تاسي دهغه اطاعت کوونکي ياست دوی په جواب کي وويل چي موږ پر الله ﷻ توکل کړی دی او بيا يي خواست وکی چي ای ربه موږ دظالمانو دظلمه څخه خلاص کړې.
(معارف القرآن ج۴ پ ۱۱ ص۱۱۷)

ع ۸ ۱۳

عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَاۡ ىِٕهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ

عَلٰى خَوْفٍ	مِّنْ	فِرْعَوْنَ	وَمَلَاۡ ىِٕهِمْ	اَنْ يَّفْتِنَهُمْ	وَاِنَّ
سره دبيرى	له	فرعونه	او له مشرانو د دوى	له دى نه چى دوى و (نه) ښويوى	او بيشكه!

سره د بيرى له فرعونه او له مشرانو د دوى له دى نه چى دوى و (نه) ښويوى، او بيشكه!

فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٨٣﴾

فِرْعَوْنَ	لَعَالٍ	فِي الْاَرْضِ	وَاِنَّهٗ	لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ
چى دغه فرعون	خامخا جابر متكبر ؤ	په مځكه كښى	او بيشكه! چى دى	خامخا له حده تيريدونكو څخه ؤ

چى دغه فرعون خامخا جابر متكبر ؤ په مځكه (دمصر) كښى، او بيشكه! چى دى خامخا له حده تيريدونكو څخه ؤ.

وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ

وَقَالَ	مُوْسٰى	يٰقَوْمِ	اِنْ كُنْتُمْ	اٰمَنْتُمْ	بِاللّٰهِ	فَعَلَيْهِ
او وويل	موسٰى	اى قومه ځما	كه يئ تاسى	چى ايمان مو راوړى دى	پر الله	نو خاص پر هم ده

او وويل موسٰى اى قومه ځما كه يئ تاسى چى ايمان مو راوړى دى پر الله (چى خير او شر د ده له طرفه دى) نو خاص پر هم ده

تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

تَوَكَّلُوْٓا	اِنْ كُنْتُمْ	مُّسْلِمِيْنَ	فَقَالُوْا	عَلَى	اللّٰهِ	تَوَكَّلْنَا
توكل وكړئ	كه يئ تاسى	مسلمانان	نو وويل دوى	خاص پر	الله	توكل كړى دى موږ

توكل وكړئ كه يئ تاسى مسلمانان (حكم منونكى د الله). نو وويل دوى خاص پر الله توكل كړى دى موږ

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا

رَبَّنَا	لَا تَجْعَلْنَا	فِتْنَةً	لِّلْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ	وَنَجِّنَا
اى ربه زموږ	مه ګرځوه موږ	فتنه	دپاره د قوم	ظالمانو	او نجات راكړه موږ ته

اى ربه زموږ مه ګرځوه موږ (سبب د) فتنى (ضلالت) دپاره د قوم ظالمانو. او نجات راكړه موږ ته

بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى

بِرَحْمَتِكَ	مِنَ الْقَوْمِ	الْكٰفِرِيْنَ	وَاَوْحَيْنَآ	اِلٰى مُوْسٰى
په (سبب د) رحمت خپل	له قوم	كافرانو څخه	او وحى وكړه موږ	موسٰى ته

په (سبب د) رحمت خپل له قوم كافرانو څخه. او وحى وكړه موږ موسٰى ته

بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ.. دحضرت موسى اوهارون عليهما السلام او دبني اسرائيلو او دفرعون دقوم څه احكام: په اوه اتيايم (٨٧) ايت كي الله جل جلاله ديوي خاصي واقعي متعلق حكم بيان كړى دى: هغه دا چي بني اسرآئيل كم چي دحضرت موسى عليه السلام په دين باندي عمل كوونكي وه دي ته وليه دعام عادت په مطابق لمونځونه صرف په خپلو عبادت خانو كي ادا كول او دتيرو امتونو دپاره حكم هم دا وو چي ددوى لمونځونه به په كورونو كي نه ادا كيدل دا خاص آساني امت محمدي ته وركول سويده چي په هرځاى كي كم ځاى چي غواړي لمونځ ادا كوى: دمسلم شريف په يوه حديث كي دي چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خپلو شپږو خاصيتونو كي يو خاصيت دا هم بيان كړى دى چي زما دپاره ټوله مځكه جمات جوړ سوى دى چي لمونځ هر ځاى ادا كيږي دابله خبره ده چي فرض لمونځونه په جمات كي دجماعت سره ادا كول سنت مؤكده مقرر سوي دي او نفلي لمونځونه په كورونو كي ادا كول ښه دي دنبي كريم صلى الله عليه وسلم عمل په دي باندي دى. باقي بيان پسر راروان مخ وګورى

وَاَخِيۡهِ اَنۡ تَبَوَّاٰ لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوۡتًا

وَاَخِيۡهِ	اَنۡ تَبَوَّاٰ	لِقَوۡمِكُمَا	بِمِصۡرَ	بُيُوۡتًا
او ورور د ده ته	داسي چې جوړ (مقرر) کړئ تاسي	دپاره د قوم خپل	په مصر کښې	کوټې

او ورور د ده ته داسي چې جوړ (مقرر) کړئ تاسي دپاره د قوم خپل په مصر کښې (دپاره د عبادت) کوټې

وَّاجۡعَلُوۡا بُيُوۡتَكُمۡ قِبۡلَةً وَّاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ

وَّاجۡعَلُوۡا	بُيُوۡتَكُمۡ	قِبۡلَةً	وَّاَقِيۡمُوا	الصَّلٰوةَ	وَبَشِّرِ
او وګرځوئ	کوټې خپلې	قبلې (ته)	او سم ودروئ تاسي	لمونځ	او زيرى ورکړه

او وګرځوئ کوټې خپلې (مخامخ) قبلې (ته) او سم ودروئ (اداء کوئ) تاسي لمونځ، او زيرى ورکړه (اى موسىٰ)

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالَ مُوۡسٰى رَبَّنَاۤ اِنَّكَ اٰتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَقَالَ	مُوۡسٰى	رَبَّنَاۤ	اِنَّكَ	اٰتَيۡتَ	فِرۡعَوۡنَ
مؤمنانو ته	او وويل	موسىٰ	اى ربه زموږ	بيشکه! تا	ورکړى دى	دى فرعون

مؤمنانو ته. او وويل موسىٰ (تضرعاً) اى ربه زموږ بيشکه! تا ورکړى دى دى فرعون

وَمَلَاَهٗ زِيۡنَةً وَّاَمۡوَالًا فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوۡا

وَمَلَاَهٗ	زِيۡنَةً	وَّاَمۡوَالًا	فِي الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا ۙ	رَبَّنَا	لِيُضِلُّوۡا
او سردارانو د ده ته	زينت	او مالونه	په دغه ژوندون	د دنيا کښې	اى ربه زموږ	دپاره د دې چې ګمراه کړى دوى

او سردارانو د ده ته زينت (رونق) او مالونه په دغه ژوندون لږ خسيس کښې اى ربه زموږ، دپاره د دې چې ګمراه کړى دوى

عَنۡ سَبِيۡلِكَ ۚ رَبَّنَا اطۡمِسۡ عَلٰۤى اَمۡوَالِهِمۡ وَاشۡدُدۡ

عَنۡ سَبِيۡلِكَ ۚ	رَبَّنَا	اطۡمِسۡ	عَلٰۤى اَمۡوَالِهِمۡ	وَاشۡدُدۡ
(خلګ) له لارى ستا څخه	اى ربه زموږ	محوه راوله	پر اموالو د دوى	او سختي راوله

(خلګ) له لارى ستا څخه اى ربه زموږ محوه (کړه هلاک او مسخ) راوله په اموالو د دوى او سختي راوله

عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُوۡا حَتّٰى يَرَوُا الۡعَذَابَ الۡاَلِيۡمَ ﴿٨٨﴾

عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ	فَلَا يُؤۡمِنُوۡا	حَتّٰى	يَرَوُا	الۡعَذَابَ	الۡاَلِيۡمَ
پر زړونو د دوى	نو ايمان نه راوړى دوى	ترهغه چې	ووينى دوى	عذاب	دردناک

په زړونو د دوى نو ايمان نه راوړى دوى ترهغه چې ووينى دوى عذاب دردناک.

وَّاجۡعَلُوۡا بُيُوۡتَكُمۡ قِبۡلَةً وَّاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ.. د تير مخ پاته بيان دلته وګورى بني اسرآئيل د خپل مذهب مطابق په دې پابينده وه چې لمونځ دې صرف په خپلو عبادتخانو کي ادا کوي فرعون چې به کم دوى ته قسم قسم تکليفونه ورکول او ظلم به يي باندي کوى هغه چي داوليدل نو ددوى ټولي عبادتخاني يي ورونړولې چې دوى دخپل مذهب موافق لمونځ ونه کړي په دې باندي الله جَلَّ جَلَالُهٗ دبني اسرآئيلو دواړو پيغمبرانو حضرت موسى عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام ته هغه حکم وکى کم چي په دې ايت کي ذکر دي چي دبني اسرائيلو دپاره په مصر کي نوي کورونه جوړ کړي او ددې کورونو مخونه دې قبلې ته وي چي دوى په دغو خپلو داوسيدو په کورونو کي لمونځونه کوي : ددې څخه معلومه سوه چي په تيرو امتونو کي که څه هم عام حکم داوو چي لمونځ دې صرف په عبادت خانو کي وي ليکن ددې خاص حادثې په وجه سره دبني اسرآئيلو دپاره ددې عارضي اجازه ورکول سوه چي په کورونو کي دې لمونځ کوي :الخ.

(معارف القرآن ج۴ پ ۱۱ ص۱۲۰)

قَالَ قَدۡ اُجِيۡبَتۡ دَّعۡوَتُكُمَا فَاسۡتَقِيۡمَا وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ

قَالَ	قَدۡ	اُجِيۡبَتۡ	دَّعۡوَتُكُمَا	فَاسۡتَقِيۡمَا	وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ
وفرمايل (الله)	په تحقيق	قبوله کړه سوه	دعا ستاسي	نو سم ولاړ اوسئ	او متابعت مه کوئ تاسي

وفرمايل (الله) په تحقيق قبوله کړه سوه دعا ستاسي نو سم ولاړ اوسئ (په تبليغ خپل) او متابعت مه کوئ تاسي

سَبِيۡلَ الَّذِيۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٨٩﴾ وَجٰوَزۡنَا بِبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ

سَبِيۡلَ	الَّذِيۡنَ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ	وَجٰوَزۡنَا	بِبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ
دلاری	دهغو کسانو	چي نه پوهيږی	او تير کړل موږ	بني اسرائيل

دلاری دهغو کسانو چي نه پوهيږی (په حق يا نا پوهان دی په حکمت د تاخير). او تير کړل موږ بني اسرائيل

الۡبَحۡرَ فَاَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُوۡدُهٗ بَغۡيًا وَّعَدۡوًا ؕ حَتّٰۤى

الۡبَحۡرَ	فَاَتۡبَعَهُمۡ	فِرۡعَوۡنُ	وَجُنُوۡدُهٗ	بَغۡيًا	وَّعَدۡوًا	حَتّٰۤى
له بحره	نو چي پسي ورسيده په دوی پسي	فرعون	او لښکری د ده	دپاره د ظلم	او جفا	ترهغه

له بحره (دقلزم روغ رمټ) نو چي پسي ورسيده په دوی پسي فرعون او لښکری د ده دپاره د ظلم او جفا زياتی، ترهغه

اِذَاۤ اَدۡرَكَهُ الۡغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنۡتُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ

اِذَاۤ	اَدۡرَكَهُ	الۡغَرَقُ	قَالَ اٰمَنۡتُ	اَنَّهٗ	لَاۤ اِلٰهَ
کله چي	ورسيده دغه (فرعون) ته	غرق	نو وی ويل چي ايمان راوړ ما	چي بيشکه!	نسته هيڅ برحق معبود

کله چي ورسيده دغه (فرعون) ته غرق (ډوب سو) نو وی ويل چي ايمان راوړ ما په دی چي بيشکه نسته هيڅ بر حق معبود

اِلَّا الَّذِيۡۤ اٰمَنَتۡ بِهٖ بَنُوۡۤا اِسۡرَآءِيۡلَ وَاَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿٩٠﴾ آٰلۡـٰٔنَ

اِلَّا	الَّذِيۡۤ	اٰمَنَتۡ	بِهٖ	بَنُوۡۤا اِسۡرَآءِيۡلَ	وَاَنَا	مِنَ	الۡمُسۡلِمِيۡنَ	آٰلۡـٰٔنَ
مګر يوائی	هغه ذات دی	چي ايمان راوړی دی	پر هغه	بني اسرائيلو	او زه يم	له	مسلمانانو	آيا اوس

مګر يوائی هغه ذات دی چي ايمان راوړی دی پر هغه بني اسرائيلو او زه يم له مسلمانانو. آيا اوس (دی ايمان راوړ)

وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنۡتَ مِنَ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿٩١﴾

وَقَدۡ	عَصَيۡتَ	قَبۡلُ	وَكُنۡتَ	مِنَ	الۡمُفۡسِدِيۡنَ
حال دا چي په تحقيق	نافرماني دی کوله	پخوا	او وی ته	له	مفسدينو څخه

حال دا چي په تحقيق نافرماني دی کوله پخوا (له دی څخه د رسول زما) او وی ته له مفسدينو (فساد کوونکو) څخه.

قَالَ قَدۡ اُجِيۡبَتۡ دَّعۡوَتُكُمَا فَاسۡتَقِيۡمَا.. دحضرت موسی عليه السلام تر مايوسی وروسته وقوم ته دفرعون ښرا او دهغې قبليدل:

حضرت موسی عليه السلام چي کله دفرعونيانو د اصلاح څخه مايوسه او نا اميده سونو ددوی د مال او دولت څخه يي دنورو دګمراهی خطره محسوسه کړه او داسي ښرا يي وکړه (ربّنا اطمس على اموالهم) يعني ای زما پروردګاره ددوی د مالونو صورت بدل کړې مسخ او بيکاره يي کړې :دحضرت قتاده رضي الله عنه بيان دی چي ددې دعا اثر داسي وسو چي د فرعونيانو ټول زر او جواهرات او نقدې سکې او دباغونو کښتونه ټول پيداوار دډبرو په شکل کې بدل سوه : دحضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه په زمانه کې يوه خلطه پيدا سوه چي په هغه کې دفرعون دزمانې شيان وه په دې کې هګی او بادام هم وليدل سوه چي بالکل کاڼي سوي وه : دتفسير شريف امامان فرمايي چي الله جل جلاله ددوی ټولې ميوې سبزياني او غلې کاڼي کړې او داورکړه دهغه نهه معجزو څخه وه چي ذکريي په قرآن کريم کې راغلی دی (ولقد آتينا موسی تسع آيات بيّنات) پاته بيان پر راروان مخ وګوری

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ

فَالْيَوْمَ	نُنَجِّيْكَ	بِبَدَنِكَ	لِتَكُوْنَ	لِمَنْ خَلْفَكَ
نن ورځ	به خلاصى درکړو تاته	په بدن ستاسره	دپاره د دى چې سى ته	دپاره د هغه چاچې وروسته له تا راځى

نن ورځ به خلاصى درکړو تاته په بدن ستا سره (بى روحه) دپاره ددى چې سى ته دپاره دهغه چا چې وروسته له تا راځى

ع ۹ / ۱۴

اٰيَةً ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَلَقَدْ

اٰيَةً	وَاِنَّ	كَثِيْرًا	مِّنَ النَّاسِ	عَنْ اٰيٰتِنَا	لَغٰفِلُوْنَ	وَلَقَدْ
دليل د عبرت	او بيشکه! چې	ډير	له خلکو	دآياتونو زموږ څخه	خامخا غافلان دى	او خامخا په تحقيق

آيت (دليل دعبرت)، او بيشکه! چې ډير له خلکو د آيتونو زموږ څخه خامخا غافلان دى. او خامخا په تحقيق

بَوَّاْنَا بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ مُبَوَّاَ صِدْقٍ وَّرَزَقْنٰهُمْ

بَوَّاْنَا	بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ	مُبَوَّاَ صِدْقٍ	وَّرَزَقْنٰهُمْ
ځاى ورکړ موږ	بنى اسرائيلو ته	ځاى د صدق	او غوره رزق روزى موږ ورکړه دوى ته

ځاى ورکړ موږ بنى اسرائيلو ته ځاى د صدق (ربنتنى لايق په مصر او شام کښى) او غوره رزق روزى مو ورکړه دوى ته

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى جَاۗءَهُمُ الْعِلْمُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ	فَمَا اخْتَلَفُوْا	حَتّٰى	جَاۗءَهُمُ	الْعِلْمُ	اِنَّ رَبَّكَ
له طيباتو	نو اختلاف ونه کړ دوى	تر هغه پورى چې	راغلى دوى ته	علم	بيشکه! رب ستا

له طيباتو (پاکيزو څيزونو) نو اختلاف ونه کړ دوى (په دين کښى) تر هغه پورى چې راغلى دوى ته علم، بيشکه! رب ستا

يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ

يَقْضِيْ	بَيْنَهُمْ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ	فِيْمَا كَانُوْا	فِيْهِ
حکم (فيصله) به وکړى	په مينځ د دوى کښى	په ورځ د قيامت کښى	په هغه شى کښى چې وو دوى	چې په هغه کښى به ئى

حکم (فيصله) به وکړى په مينځ د دوى کښى په ورځ د قيامت کښى په هغه شى کښى چې وو دوى چې په هغه کښى به ئى

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَسْــَٔـلِ

يَخْتَلِفُوْنَ	فَاِنْ كُنْتَ	فِيْ شَكٍّ	مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	فَسْــَٔـلِ
اختلاف کاوه	نو که فرضاً ئى ته	په شک کښى	له هغه چې نازل کړى دى موږ	تا ته	نو پوښتنه وکړه

اختلاف کاوه. نو که فرضاً ئى ته (يعنى امت ستا) په شک کښى له هغه (قرآن) چې نازل کړى دى موږ تا ته نو پو ښتنه وکړه

وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: دوهمه ښرا حضرت موسى عليه السلام ددوى دپار دا وکړه (واشدد على قلوبهم فلا يؤمنوا حتى يروا العذاب الاليم) يعني اى پروردګاره ددوى زړونه داسي سخت کړې چي په دوى کي دايمان او څه خير صلاحيت پاته نه سي چي دوى ددردناک عذاب دراتلو څخه مخکي ايمان را نه وړلى سي: دابښرا په ښکاره ډيو رسول او پيغمبر دژبي څخه ډيره ليري معلوميږي ځکه چي دپيغمبر دژوند وظيفه دا وي چي خلګو ته دايمان او نيک عمل طرف ته بلنه ورکوي او ددې دپاره تدبيرونه کوي: مګر دلته واقعه داده چي حضرت موسى ع دټولو تدبيرونو کولو څخه وروسته ددوى داصلاح څخه مايوسه سوى وو او اوس يي غوښتل چي دوى دخپلو عملونو سزا ويني: په دي کي دا احتمال ووچي هسي نه دا خلګ عذاب راتلونکى ويني او دايمان اقرار و کړي او په دې سره عذاب بيرته واپس سي په دې وجه دکفر څخه بغض او نفرت ددې دعا سبب جوړ سو. (معارف القرآن ج۴ پ ۱۱ ص ۱۲۲)

الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ

الْحَقُّ	جَآءَكَ	لَقَدْ	مِنْ قَبْلِكَ	الْكِتٰبَ	يَقْرَءُوْنَ	الَّذِيْنَ
حق	راغلی دی تاته	خامخا په تحقيق	پخوا له تا څخه	کتاب	چي وائی دوی	له هغو کسانو

له هغو کسانو چي لولی دوی کتاب (تورات او انجيل) پخوا له تا څخه، خامخا په تحقيق راغلی دی تاته حق

مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُوْنَنَّ

وَلَا تَكُوْنَنَّ	الْمُمْتَرِيْنَ	مِنَ	فَلَا تَكُوْنَنَّ	مِنْ رَّبِّكَ
او مه کيږه ته له سره	شک راوړونکو څخه	له	نو مه کيږه ته له سره	له (طرفه د) رب ستا

له (طرفه د) رب ستا نو مه کيږه ته (يعنی امت ستا) له سره له شک راوړونکو څخه. او مه کيږه ته له سره

مِنَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٩٥﴾

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ	فَتَكُوْنَ	اللّٰهِ	بِاٰيٰتِ	كَذَّبُوْا	مِنَ الَّذِيْنَ
له زيان کارانو	نو به سی ته	د الله	د آيتونو	تکذيب کوی دوی	له هغو کسانو چي

له هغو کسانو چي تکذيب کوی دوی د آيتونو د الله نو به سی ته (يعنی امت ستا) له زيان کارانو.

اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٩٦﴾

لَا يُؤْمِنُوْنَ	رَبِّكَ	كَلِمَتُ	عَلَيْهِمْ	حَقَّتْ	الَّذِيْنَ	اِنَّ
نو نه راوړی ايمان دوی	د رب ستا	کلمه	پر دوی	چي حقه (ثابته) سوی ده	هغه کسان	بيشکه!

بيشکه! هغه کسان چي حقه (ثابته) سوی ده پر دوی کلمه (حکم د عذاب) د رب ستا نو نه راوړی ايمان دوی

وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٩٧﴾

الْاَلِيْمَ	الْعَذَابَ	حَتّٰى يَرَوُا	كُلُّ اٰيَةٍ	جَآءَتْهُمْ	وَلَوْ
دردناک	عذاب	ترهغه پوری چي ووينی دوی	هر نښه	راسی دوی ته	او اگر که

او اگر که راسی دوی ته دليل د وحدانيت ترهغه پوری چي ووينی دوی عذاب دردناک (په نزع يا قيامت کښی).

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ

اِيْمَانُهَآ	فَنَفَعَهَآ	اٰمَنَتْ	قَرْيَةٌ	فَلَوْلَا كَانَتْ
ايمان د (اهل د) دی (قريی)	پس نفع رسولی وی ورته	چي ايمان ئی راوړی وی	اهل د يوی قريی	نو ولی نه وه

نو ولی نه وه اهل د يوی (نافرمانی) قريی چي ايمان ئی راوړی وی پس نفع رسولی وی ورته ايمان د (اهل د) دی (قريی)

يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ. کم سړي ته چي د دين په معامله کي څه شبه وريپښه سي نو دي د علماوو څخه پوښتنه وکړي: په دغه آيت کي په ښکاره خطاب نبي کريم ﷺ ته دی مگر دا ښکاره ده چي دوی ته په وحي کي د شک راتلو احتمال نسته په دي وجه د دي خطاب په ذريعه مقصود امت ته اورول دي په خپله دی ﷺ مقصود نه دی. او دا هم کيدای سي چي دا خطاب عامو انسانانو ته وي چي ای انسانه که ستا په دي وحي الهي کي شک وي کمي چي په واسطه د محمد مصطفی ﷺ ستا سي طرف ته راليږلي سوي دي نو ته د هغه خلگو څخه پوښتنه وکړه کمو چي تر تا مخکي د الله ﷻ کتاب تورات او انجيل وواييه هغوی به تاته ووايي چي تيرو تولو پيغمبرانو او دوی کتابونو د محمد ﷺ خوشخبري ورکړيده چي په دي سره به ستا وسوسي ليري سي: په تفسير مظهري کي دي چي د دي آيت څخه معلومه سوه چي کم سړي ته د دين په معامله کي څه شک وريپيښ سي نو پر ده لازمه ده چي د علماوو څخه پوښتنه وکړي: (معارف القرآن ج۴ پ ١١ص ١٢٨)

إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ

إِلَّا	قَوْمَ	يُونُسَ	لَمَّآ ءَامَنُوا۟	كَشَفْنَا	عَنْهُمْ	عَذَابَ	ٱلْخِزْىِ
مگر	قوم	دیونس	کله چې ایمان راوړ هغو	نو دفع پورته کړی موږ	له دوی څخه	عذاب	دذلت

مگر قو د یونس کله چې ایمان راوړ هغو (په لیدلو د علائمو د عذاب) نو دفع پورته کړی موږ له دوی څخه عذاب د ذلت

فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

فِى ٱلْحَيَوٰةِ	ٱلدُّنْيَا	وَمَتَّعْنَٰهُمْ	إِلَىٰ حِينٍ	وَلَوْ شَآءَ	رَبُّكَ
په دې ژوندون	د دنیا کښې	او فائده ورسوله موږ دوی ته	تروخت د مرګ پورې	او که اراده فرمائلې وی	رب ستا

په دې ژوندون د دنیا کښې او فائده ورسوله موږ دوی ته تر وخت د مرګ پورې. او که اراده فرمائلې وی رب ستا

لَءَامَنَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ

لَءَامَنَ	مَن فِى ٱلْأَرْضِ	كُلُّهُمْ	جَمِيعًا	أَفَأَنتَ	تُكْرِهُ
خامخا ایمان به راوړی وی	هغه کسانو چې په مځکه کښې دی	ټولو	په اجتماع سره	آیا نو ته	مجبوره کوی

خامخا ایمان به راوړی وی هغو کسانو چې په مځکه کښې دی ټولو په اجتماع سره ، آیا نو ته مجبوره کوی

ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ

ٱلنَّاسَ	حَتَّىٰ	يَكُونُوا۟	مُؤْمِنِينَ	وَمَا كَانَ	لِنَفْسٍ
خلک	تر هغه	چې سی دوی	مؤمنان	او نه دی	لپاره د هیڅ نفس

خلک تر هغه چې سی دوی (ټول) مؤمنان (یقین لرونکی بلکه نه ئی سی)، او نه دی (ممکن) لپاره د هیڅ نفس

أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ

أَن تُؤْمِنَ	إِلَّا	بِإِذْنِ	ٱللَّهِ	وَيَجْعَلُ	ٱلرِّجْسَ	عَلَى ٱلَّذِينَ
داچې ایمان راوړی	مگر	په حکم	د الله	او آچوی	ګندګی (مرداری)	پر هغو کسانو

دا چې ایمان راوړی مگر (ممکن دی) په اذن (اراده) د الله ، او آچوی پلیتی (غضب خپل) په هغو کسانو

لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٠﴾ قُلِ ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ

لَا يَعْقِلُونَ	قُلِ	ٱنظُرُوا۟	مَاذَا	فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
چې نه چلوی عقل	ووایه (ای محمده!)	چې وګورئ	چې څه دی	په آسمانونو

چې نه چلوی عقل (او فکر په دلائلو او آیتونو د الله کښې). ووایه (ای محمده!) چې وګورئ چې څه دی په آسمانونو

كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ. منکرین او سرکښان دي اوس هم وخت فرصت وګڼي او الله ﷻ ته دي رجوع وکړي: په دغه آیت کښې الله ﷻ ارشاد فرمايي (فلولا كانت قرية آمنت) چې داسې ولي ونه سوه چې منکرو قومونو په داسي وخت کي ایمان را نه وړی چې ددوی ایمان دوی ته نفع ورکړي وای یعني د مرګ په وخت کي یا دعذاب د واقع کیدو او په عذاب کي داخته کیدو څخه وروسته یا دقیامت دقائمیدو په وخت کي کله چې د توبې دروازه بنده سي دچا توبه او ایمان به مقبول نه وي ددې څخه مخکي باید دخپلي سرکشی څخه واپس کیدلای او ایمان یي راوړی وای بغیر دحضرت یونس ؑ دقوم څخه چې هغوی دداسي وخت راتلو څخه مخکي کله چې دخدای ﷻ عذاب راتلونکي ولیدی نو فورا یي توبه وکښله او ایمان یي راوړی ددې په وجه موږ ددوی څخه رسوا کوونکی عذاب بیرته واستوي: ددې تفسیر خلاصه داده چې ددنیا دعذاب مخ ته په راتلو سره هم دتوبې دروازه نه بندیږي بلکه توبه قبلیږي البته دآخرت عذاب مخ ته په راتلو سره توبه نه قبلیږي الخ: (معارف القرآن ج۴پ ۱۱ص۱۲۹)

وَالۡاَرۡضِ ؕ وَمَا تُغۡنِي الۡاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنۡ قَوۡمٍ

وَالۡاَرۡضِ ؕ	وَمَا تُغۡنِي	الۡاٰيٰتُ	وَالنُّذُرُ	عَنۡ قَوۡمٍ
او په مځکه کښې	او نه دفع کوي	دلائل	او بیروونکي	له هغه قوم څخه چي

او مځکه کښې، او نه دفع کوي (عذاب) دلائل (دوحدانيت) او (آوريدل دکلام د) بيروونكيو له هغه قوم څخه چي

لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝۱۰۱ فَهَلۡ يَنۡتَظِرُوۡنَ اِلَّا مِثۡلَ اَيَّامِ الَّذِيۡنَ

لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ	فَهَلۡ	يَنۡتَظِرُوۡنَ	اِلَّا	مِثۡلَ	اَيَّامِ	الَّذِيۡنَ
ایمان راوړونکي نه دي دوی	نو آیا	انتظار کوي دا (مشرکان)	مګر	په شان دهغو	بدو ورځو	دهغو کسانو

ایمان راوړونکي نه دي دوی. نو آيا انتظار کوي دا (مشرکان) مګر په شان د هغو بدو ورځو (وقايعو) دهغو کسانو

خَلَوۡا مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ قُلۡ فَانۡتَظِرُوۡۤا اِنِّيۡ مَعَكُمۡ

خَلَوۡا	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	قُلۡ	فَانۡتَظِرُوۡۤا	اِنِّيۡ	مَعَكُمۡ
چي تير سوي دي	پخوا له دوی څخه	ووايه (ای محمده!)	نو انتظار کوئ تاسي	بیشکه! زه	هم له تاسي سره

چي تير سوي دي پخواله دوی څخه، ووايه (ای محمده!) نو انتظار کوئ تاسي بيشکه! زه هم له تاسي سره

مِّنَ الۡمُنۡتَظِرِيۡنَ ۝۱۰۲ ثُمَّ نُنَجِّيۡ رُسُلَنَا وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

مِّنَ الۡمُنۡتَظِرِيۡنَ	ثُمَّ	نُنَجِّيۡ	رُسُلَنَا	وَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
له انتظار کوونکو څخه یم	بیا	نجات ورکړو موږ	رسولانو زموږ ته	او هغو کسانو ته چي	ایمان ئې راوړی وو

له انتظار کوونکو څخه يم. بيا نجات ورکړو موږ رسولانو زموږ ته او هغو کسانو ته چي ايمان ئې راوړی وو

كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنۡجِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝۱۰۳ قُلۡ

كَذٰلِكَ ۚ	حَقًّا	عَلَيۡنَا	نُنۡجِ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	قُلۡ
هم داسي	ثابته ده	پر موږ	خلاصوو	(نور) مؤمنان	ووايه (ای محمده!)

هم داسي، ثابته ده پر موږ (تلطفاً دا چي) خلاصوو (نور) مؤمنان (هم). ووايه (ای محمده!)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنۡ كُنۡتُمۡ فِيۡ شَكٍّ مِّنۡ دِيۡنِيۡ فَلَاۤ اَعۡبُدُ الَّذِيۡنَ

يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	فِيۡ شَكٍّ	مِّنۡ دِيۡنِيۡ	فَلَاۤ اَعۡبُدُ	الَّذِيۡنَ
ای	خلګو	که یئ تاسي	په شک کښې	له دینه زما	نو عبدت نه کوم زه	دهغو (بتانو او نورو)

ای خلګو که يئ تاسي په شک کښې له دينه زما نو (ئې دربنکاروم چي) عبادت نه کوم زه دهغو (بتانو او نورو)

وَمَا تُغۡنِي الۡاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنۡ قَوۡمٍ .. کم خلک چي دعناد څخه ایمان نه راوړي هغو ته بیرول او دلیلونه فایده نه ورکوي:

په دغه آیت کي الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته خطاب کړی دی چي ته دغه کفارو ته وو ایه چي تاسي فکر وکړی او وګوری چي څه شیان دي په اسمانونو کي او په مځکه کي په اسمانونو کي ستوري وغیره او په مځکه کي بې انتها مخلوق په نظر راځي یعني په دې کي په فکر کولو سره به دتوحید عقلي دلیل حاصلیږي دابیان سو ددوی دمکلف کیدو: او کم خلګ چي دعناد څخه ایمان نه راوړی هغوی ته دلیلونه او بیرول هیڅ فایده نه رسوي دابیان سو ددوی دعناد پس ددوی دعناد ددې حالت څخه داسي معلومیږي چي دغه خلګ (ددوی دحال دلالت دادی چي) صرف دهغو خلګو دواقعاتو په شان انتظار کوی کم چي ددوی څخه مخکي تیر سوي دي یعني سره ده دلیلونو او عذاب څخه دبیرولو چي کم ایمان را نه وړي نو د دوی حالت دهغه سړي مشابه دی کم چي دداسي عذاب منتظر وي چي پر مخکي قومونو راغلی وو.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۱۳۹)

ع ۱۰ ۱۵

تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَلٰكِنۡ اَعۡبُدُ اللّٰهَ الَّذِیۡ

تَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	وَلٰكِنۡ	اَعۡبُدُ	اللّٰهَ	الَّذِیۡ
چي عبادت کوئ تاسی	غیر له	الله څخه	ولیکن	عبادت کوم	زه دالله	هغه

چي عبادت کوئ تاسی غیر له الله څخه ولیکن عبادت کوم زه دالله هغه چي

یَتَوَفّٰىكُمۡ ۚۖ وَاُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۰۴﴾

یَتَوَفّٰىكُمۡ	وَاُمِرۡتُ	اَنۡ اَكُوۡنَ	مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ
وفات کوی تاسی	او امر حکم سوی دی ماته	داسی چي یم	له مؤمنانو څخه

وفات کوی تاسی (وباسی روح ستاسی په شدت سره) او امر حکم سوی دی ماته داسی چي یم له مؤمنانو (یقین لرونکو) څخه.

وَاَنۡ اَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّیۡنِ حَنِیۡفًا ۚ وَلَا تَكُوۡنَنَّ

وَاَنۡ	اَقِمۡ	وَجۡهَكَ	لِلدِّیۡنِ	حَنِیۡفًا	وَلَا تَكُوۡنَنَّ
او چي	سم ودروه	مخ خپل	دین ته	حال داچي مائل ئی له باطلو ادیانو څخه	او مه کیږه له سره

او (داسی حکم راباندی سوی) چي سم ودروه مخ خپل دین ته حال داچي مائل ئی له باطلو ادیانو څخه او مه کیږه له سره

مِنَ الۡمُشۡرِكِیۡنَ ﴿۱۰۵﴾ وَلَا تَدۡعُ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا یَنۡفَعُكَ

مِنَ الۡمُشۡرِكِیۡنَ	وَلَا تَدۡعُ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مَا	لَا یَنۡفَعُكَ
له مشرکانو	او مه بوله	پرته له	الله	هغه چي	نفع نه رسوی تاته

له مشرکانو. او مه بوله (په عبادت سره) پرته (سیوا) له الله هغه چي نفع نه رسوی تاته (بلنه د هغه)

وَلَا یَضُرُّكَ ۚ فَاِنۡ فَعَلۡتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۱۰۶﴾

وَلَا یَضُرُّكَ	فَاِنۡ فَعَلۡتَ	فَاِنَّكَ	اِذًا	مِّنَ الظّٰلِمِیۡنَ
او نه ضرر رسولی سی تاته	نو که دی وکړ عبادت د غیر الله	نو بیشکه! ته هم	په دغه وخت کښی	ئی له ظالمانو

او نه ضرر رسولی سی تاته نو که بالفرض دی وکړ عبادت د غیر الله نو بیشکه ته هم په دغه وخت کښی ئی له ظالمانو.

وَاِنۡ یَّمۡسَسۡكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنۡ

وَاِنۡ	یَّمۡسَسۡكَ	اللّٰهُ	بِضُرٍّ	فَلَا كَاشِفَ	لَهٗۤ	اِلَّا هُوَ	وَاِنۡ
او که	ورسوی تاته	الله	کوم قسم ضرر	نو نسته لری کوونکی	د هغه	مګر هم دی دی	او که

او که ورسوی تاته الله کوم قسم ضرر (لکه: مرض او فقر) نو نسته لری کوونکی د هغه مګر هم دی دی، او که

وَلٰكِنۡ اَعۡبُدُ اللّٰهَ الَّذِیۡ یَتَوَفّٰىكُمۡ.. مسلمان دالله ﷻ عبادت کوي او کافر دباطل معبود خو دهر یوه تتیجه جلا جلا ده: په دغه راروانو ایاتونو کي الله ﷻ ونبي کريم ﷺ ته حکم کړی دی چي ته دغه کفارو ته ووايه چي ای خلګو که تاسي زما ددين څخه په شک او تردد کي یاست نوزه تاسي ته ددې حقيقت ښيم هغه داچي زه دهغو معبودانو عبادت نه کوم دکمو چي تاسي دخدای ﷻ څخه ماسوا عبادت کوی ليکن ها دهغه معبود حقيقي عبادت کوم چي ستاسي روح قبضه کوي او ماته دالله ﷻ دطرفه څخه دا حکم سوی دی چي زه پر دا سي حقيقي معبود باندي دعبادت کوونکو څخه وسم او ماته دا حکم سوی دی چي خپل ځان ددې دين (خالص توحيد چي ذکر يي وسو) طرف ته داسي متوجه کړه چي دنورو ټولو طريقو څخه ماسوا دداسي شي عبادت مه کوه کم چي تاته نه په (په حالت دعبادت کولو کي) څه نفع رسولی سي او نه دعبادت دنه کولو په حالت کي څه ضرر رسولی سي ځکه چي داخالي جمادات دي الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۱ ص۱۴۰)

قُلۡ يَآأَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكُمۡ

خوک چي پر دين محمدي باندي عمل کوي نو نفع او فايده يې دځان ده پريل دي احسان نه اچوي: په دغه آيت کي الله ﷻ بيا خطاب نبي كريم ﷺ ته کړی دی چي ته دا کفارو ته دا هم وواېه چي ای خلګو تاسي ته حق دين ستاسي درب دطرف څخه په دليل سره رارسيدلی دی پس (دحق دين درسيدو څخه وروسته) چي کم سړی پر سيده لاره راسي پس هغه به دخپل ځان دنفعي دپاره پر سيده لاره راسي او کم سړی چي اوس هم بې لاري پاته سي نو دده بې لاري کيدل يعني ددوی وبال به هم پر ده پريوزي او زه پر تاسي (دخه ذمه واري په طور مسلط سوي نه يم چي ګوندي ستاسو دبې لاري کيدو پوښتنه به زما څخه کيږي نو زما څه نقصان دی) او تاسي دهغه څه تابعداري کوی کم څه چي تاسي ته په وحي سره راليږل سوي دي(په دغه حکم کي دتولو عملونو سره تبليغ هم راغی او ددغه کفارو او مشرکينو پر ازار رسولو باندي صبر کوه تر دي چي الله ﷻ ددوی فيصله ور کړي:
(معارف القرآن ج۴پ۱۱ص۱۴۱)

يُّرِدۡكَ بِخَيۡرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهٖ ؕ يُصِيۡبُ بِهٖ

يُّرِدۡكَ	بِخَيۡرٍ	فَلَا رَآدَّ	لِفَضۡلِهٖ	يُصِيۡبُ	بِهٖ
اراده وکړي تاته	د خير	نو نسته هيڅ منع کوونکی	دفضل د ده	رسوی (الله)	دا (خير)

اراده وکړي تاته د خير (لکه: صحت او غنا) نو نسته هيڅ منع کوونکی دفضل د ده! رسوی (الله) دا (خير)

مَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ۝۱۰۷ قُلۡ

مَنۡ يَّشَآءُ	مِنۡ عِبَادِهٖ	وَهُوَ	الۡغَفُوۡرُ	الرَّحِيۡمُ	قُلۡ
هر هغه چاته چي اراده وفرمائی	له بندګانو خپلو څخه	او هم دی	ښه مغفرت کوونکی	ډير رحم والا دی	ووايه (محمده!)

هر هغه چا ته چي اراده وفرمائی له بندګانو خپلو څخه او هم دی ښه مغفرت کوونکی ډير رحم والا دی. ووايه (ای! محمده!)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكُمۡ ۚ فَمَنِ اهۡتَدٰى

يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	قَدۡ جَآءَكُمُ	الۡحَقُّ	مِنۡ رَّبِّكُمۡ	فَمَنِ	اهۡتَدٰى
ای	خلګو	په تحقيق راغلی دی تاسی ته	حق	له جانبه د رب ستاسی	نو هر چا چي	سمه لاره پيدا کړه

ای خلګو په تحقيق راغلی دی تاسی ته حق (قرآن او رسول) له جانبه د رب ستاسی نو هرچا چي سمه لاره وموندله

فَاِنَّمَا يَهۡتَدِىۡ لِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ ضَلَّ فَاِنَّمَا

فَاِنَّمَا	يَهۡتَدِىۡ	لِنَفۡسِهٖ	وَمَنۡ	ضَلَّ	فَاِنَّمَا
نو بيشکه! هم دا خبره ده	چي لاره پيدا کوی	دپاره د ځان خپل	او هر څوک	چي ګمراه سو	نو بيشکه! همدا خبره ده

نو بيشکه! هم دا خبره ده چي لاره مومی دپاره (دنفع) دځان خپل، او هر څوک چي ګمراه سو نو بيشکه! هم دا خبره ده

يَضِلُّ عَلَيۡهَا ۚ وَمَاۤ اَنَا عَلَيۡكُمۡ بِوَكِيۡلٍ ۝۱۰۸ وَاتَّبِعۡ مَا يُوۡحٰۤى اِلَيۡكَ

يَضِلُّ	عَلَيۡهَا	وَمَاۤ اَنَا	عَلَيۡكُمۡ	بِوَكِيۡلٍ	وَاتَّبِعۡ	مَا يُوۡحٰۤى	اِلَيۡكَ
چي ګمراه کيږي	پر ځان خپل	او نه يم زه	پر تاسی باندی	وکيل	او متابعت وکړه	دهغه شي چي وحي کولی سی	تاته

چي ګمراه کيږی پر ځان خپل، او نه يم زه پر تاسی باندی وکيل. او متابعت وکړه (محمده) دهغه شيز چي وحي کولی سی تاته

وَاصۡبِرۡ حَتّٰى يَحۡكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيۡرُ الۡحٰكِمِيۡنَ ۝۱۰۹ ع

وَاصۡبِرۡ	حَتّٰى يَحۡكُمَ	اللّٰهُ	وَهُوَ	خَيۡرُ	الۡحٰكِمِيۡنَ
او صبر کوه	ترهغه پوری چي حکم وفرمائی	الله	او هم دغه الله	خير غوره	دټولو حکم کوونکو دی

او صبر کوه ترهغه پوری چي حکم وفرمائی الله او هم دغه الله خير غوره د ټولو حکم کوونکو دی.

ع ۱۲

اياتونه ١٢٣ — ١١ سُوْرَةُ هُوْدٍ مَكِّيَّةٌ ٥٢ — رکوعوي ١٠

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓرٰ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ

الٓرٰ	كِتٰبٌ	اُحْكِمَتْ	اٰيٰتُهٗ	ثُمَّ فُصِّلَتْ	مِنْ لَّدُنْ
الف لام را	(دا) کتاب دی	چي محکم کړي سوي دي	آيتونه د ده	بيا په تفصيل سره بيان سوي دي	له طرفه

الف لام را، (دا) کتاب دی چي محکم کړي سوي دي آيتونه د ده بيا په تفصيل سره بيان سوي دي له طرفه

حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ۝١ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنَّنِيْ لَكُمْ

حَكِيْمٍ	خَبِيْرٍ	اَلَّا تَعْبُدُوْٓا	اِلَّا	اللّٰهَ	اِنَّنِيْ	لَكُمْ
دلوی حکمت والا	ښه خبردار څخه	چي عبادت مه کوئ	مګر	د الله	چي بيشکه! زه	تاسي ته

دلوی حکمت والا ښه خبردار څخه. چي عبادت مه کوئ (دهيچا) مګر (يواځي) د الله، چي بيشکه! زه تاسي ته

مِّنْهُ نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ ۝٢ وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ

مِّنْهُ	نَذِيْرٌ	وَّبَشِيْرٌ	وَّاَنِ	اسْتَغْفِرُوْا	رَبَّكُمْ	ثُمَّ
له (طرفه د) الله	ويرووونکی يم	او زيری ورکوونکی يم	او چي	مغفرت وغواړئ	له رب خپل څخه	بيا

له (طرفه د) الله ويرووونکی يم (له جحيمه) او زيری ورکوونکی يم (په نعيم). او چي مغفرت وغواړئ له ربه خپله بيا

تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى

تُوْبُوْٓا	اِلَيْهِ	يُمَتِّعْكُمْ	مَّتَاعًا	حَسَنًا	اِلٰٓى اَجَلٍ	مُّسَمًّى
رجوع وکړئ	الله ته	چي فائده دررسوي تاسي ته	په نفع	غوره سره	تر هغه نيټي	ټاکل سوي پوري

رجوع وکړئ الله ته (په طاعت سره) چي فائده دررسوي تاسي ته په نفع غوره سره ترهغي نيټي ټاکلي (مقرر) سوي پوري

وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ۭ وَاِنْ تَوَلَّوْا

وَّيُؤْتِ	كُلَّ	ذِيْ	فَضْلٍ	فَضْلَهٗ	وَاِنْ	تَوَلَّوْا
او وربه کړي الله	هر	خاوند	د فضل ته	فضل دهغه	او که	وګرځيدئ تاسي

او وربه کړي الله هرخاوند د فضل ته فضل دهغه، او که وګرځيدئ تاسي (ای کفارو د اسلام څخه)

الٓرٰ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ... دسورت هود اهداف او خصوصيات:

سورت هود دهغه سورتونو څخه دی په کمو کي چي پر تيرو قومونو دعذاب نازليدو قهر الهي او مختلف قسم عذابونو او بيا دقيامت دهيبتناکو واقعاتو او دجزا او سزا ذکر په خاص انداز کي راغلی دی: داوجه ده چي کله دنبي کريم ﷺ په ږيره مبارکه کي څه وريښته سپين سول نو حضرت صديق اکبر رضي الله عنه په طور داظهار دغم عرض وکی چي يارسول الله ته خوهم سپين ږيری سوې نو دوی ﷺ وفرمايل چي هو زه سورت هود سپين ږيری کړم: او په ځيني روايتونو کي دسورت هود سره دسورت واقعه، مرسلات، او عمّ يتسآءلون او سورت تکوير هم ذکر دی: مطلب دا وو چي دديِ واقعاتو دبيري او هيبت په وجه سره دزوړوالي نخښي ښکاره سوي دي اولنی ايت يي د(الر) څخه شروع کړی دی دادهغو حرفونو څخه دی دکمو مراد چي دالله جل جلاله او دهغه درسول ﷺ په مينځ کي راز دی نور خلګ يي په دې نه دي خبر کړي او دوی يي په دي کي دفکر کولو څخه هم منع کړي دي.
(معارف القرآن ج٤ پ١١ ص١٤٣)

فَاِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْکُمْ عَذَابَ یَوْمٍ کَبِیْرٍ ۳

فَاِنِّیْٓ	اَخَافُ	عَلَیْکُمْ	عَذَابَ	یَوْمٍ	کَبِیْرٍ
نو بیشکه!	زه بیریږم	پر تاسی	له عذابه	دورځی	لوئ شخه (قیامت)

نو بیشکه! زه بیریږم پر تاسی له عذابه د ورځی لوئی شخه (دقیامت) .

اِلَی اللّٰهِ مَرْجِعُکُمْ ۚ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ

اِلَی اللّٰهِ	مَرْجِعُکُمْ	وَهُوَ	عَلٰی	کُلِّ شَیْءٍ
خاص الله ته	بیرته ورتله ستاسی دی	او الله	پر	هر شی باندی

خاص الله ته بیرته ورتله ستاسی دی ، او الله په هر شیز باندی

قَدِیْرٌ ۴ اَلَآ اِنَّهُمْ یَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ

قَدِیْرٌ	اَلَآ	اِنَّهُمْ	یَثْنُوْنَ	صُدُوْرَهُمْ
بنه قادر دی	خبر دار سئ	بیشکه! دا	تاووی	سینی خپلی

بنه قادر دی . خبر دار سئ بیشکه! دا (کفار دوه قته کوی) تاووی سینی خپلی

لِیَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ؕ اَلَا حِیْنَ یَسْتَغْشُوْنَ ثِیَابَهُمْ ۙ

لِیَسْتَخْفُوْا	مِنْهُ	اَلَا	حِیْنَ	یَسْتَغْشُوْنَ	ثِیَابَهُمْ
لپاره د دی چی پټ کړی	له الله شخه	واورئ خبردار سئ	په هغه وخت کښی	چی واغوندی دوی	جامی خپلی

لپاره د دی چی پټ کړی (دا عداوت) له الله شخه، واورئ خبردار سئ په هغه وخت کښی چی واغوندی دوی جامی خپلی

یَعْلَمُ مَا یُسِرُّوْنَ وَمَا یُعْلِنُوْنَ ۚ

یَعْلَمُ	مَا یُسِرُّوْنَ	وَمَا یُعْلِنُوْنَ
عالم دی	په هغه شه چی پټوی ئی دوی	او په هغه شه چی ښکاروی ئی په ژبو خپلو

عالم دی (الله) په هغه شیز چی پټوی ئی دوی (په سینو خپلو کښی) او هغه شه چی ښکاروی ئی په ژبو خپلو

اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۵

اِنَّهٗ	عَلِیْمٌۢ	بِذَاتِ	الصُّدُوْرِ
بیشکه! الله	بنه خبردار دی	په پټو خبرو	د سینو (هم) .

بیشکه! الله بنه خبر دار دی په پټو خبرو د سینو (هم).

فَاِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْکُمْ عَذَابَ یَوْمٍ کَبِیْرٍ .. دخیراو نصیحت خبره منل او استغفارکول دانسان دنجات سبب گرځي :دایت په آخر کي ارشاد فرمايي (وان تولوفانی اخاف علیکم عذاب یوم کبیر) یعني که ددې نصیحت او خیر خواهي څخه مو مخ واړوی او دتیرو گناهونو څخه استغفار او آینده مو ددې څخه دځان ساتلو اهتمام ونه کی نو دا قوي بیره ده چي تاسي به دیوې لويي ورځي په عذاب کي گرفتار سي : دلويي ورځي څخه مراد دقیامت ورځ ده ځکه چي دغه دخپلي فراخی په اعتبار سره هم دزرو کالو ورځ وي او په دې کي دواقع کیدونکو واقعاتو په اعتبارسره به هم دغه دټولو څخه لویه ورځ وي :په ورپسې آیت کي ددې مضمون زیات تاکید راغلی دی چي په دنیا کي تاسي چي هر څه کوی او هر څنگه دا ژوند تیروی مگر آخر به دمرگ څخه وروسته ستاسي دخدای ﷻ طرف ته واپس کیدل وي او هغه پر هر څه قادر دی دهغه دپاره هیڅ مشکل نه دی چي پسله مرگه تاسي دقبرونو څخه راپورته کړي او راژوندي موکړي.
(معارف القرآن ج ۴ پ ۱۱ ص ۱۴۷)

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ

وَمَا	مِنْ دَآبَّةٍ	فِي الْاَرْضِ	اِلَّا	عَلَى	اللّٰهِ	رِزْقُهَا	وَيَعْلَمُ
او نشته	هيڅ تلونکی	په مځکه کښی	مګر چی دی	پر	الله	رزق د هغه	او عالم دی (الله)

او نشته هيڅ تلونکی (ښوريدونکی ذی روح) په مځکه کښی مګر چی دی پر الله رزق (روزی) دهغه او عالم دی (الله)

مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۞٦

مُسْتَقَرَّهَا	وَمُسْتَوْدَعَهَا	كُلٌّ	فِيْ	كِتٰبٍ	مُّبِيْنٍ
په ځای د اوسيدلو دهغه	او ځای د سپاريدلو دهغه	ټول	په	کتاب	واضح کښی دی

په ځای د اوسيدلو دهغه او ځای دسپاريدلو دهغه، ټول (دا مذکوره اشياء) په کتاب واضح کښی دی.

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ

وَهُوَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	فِيْ سِتَّةِ	اَيَّامٍ
او دغه	هغه ذات دی	چی پيدا کړی ئی دی	آسمانونه	او مځکی	په شپږو	ورځو کښی

او دغه (الله) هغه ذات دی چی پيدا کړی ئی دی آسمانونه او مځکی په (مقدار د) شپږو ورځو کښی

وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ

وَّكَانَ	عَرْشُهٗ	عَلَى الْمَآءِ	لِيَبْلُوَكُمْ	اَيُّكُمْ	اَحْسَنُ
حال دا چی ؤ	عرش د ده	پر اوبو	لپاره د دی چی وازمويی تاسی	چی کوم يو له تاسی	ډير ښه دی

حال دا چی ؤ عرش (تخت) د ده پر اوبو (پيدا کړی دی الله) لپاره د دی چی وازمويی تاسی چی کوم يو له تاسی ډير ښه دی

عَمَلًا ۭ وَلَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْۢ بَعْدِ الْمَوْتِ

عَمَلًا	وَلَئِنْ	قُلْتَ	اِنَّكُمْ	مَّبْعُوْثُوْنَ	مِنْ بَعْدِ	الْمَوْتِ
له جهته د عمل	او قسم دی چی خامخا	که ووائی ته	چی بيشکه! تاسی	بيا ژوندی کيدونکی يئ	پس له	مرګه

له جهته د عمل، او قسم دی چی خامخا که ووائی ته (خپل قوم ته) چی بيشکه! تاسی بيا ژوندی کيدونکی يئ پس له مرګه

لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۞٧

لَيَقُوْلَنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا	سِحْرٌ	مُّبِيْنٌ
نو هرومرو وبه وائی خامخا	هغه کسان	چی کافران سوی دی	چی نه دی دغه	مګر	سحر (جادو)	ښکاره

نو هرومرو وبه وائی خامخا هغه کسان چی کافران سوی دی چی نه دی دغه مګر سحر (جادو) ښکاره.

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ... دانسان درزق کفالت الله ﷻ خپل پر ذمه اخيستی دی: ددوولسمي سيپاري په دغه اول ايت کي الله ﷻ پر انسان ديو عظيم الشان احسان ذکر کړی دی هغه دا چي دده درزق کفالت ده ﷻ پخپله پر خپل ذمه اخيستی دی او نه صرف دانسان بلکي په مځکه کي دهر يوه تلونکي او هريو جاندار هغه چي کم ځای اوسي يا ځي دده رزق ده ته رسيږي نو دکفارو دا ارادې چي خپل يو کار دالله ﷻ څخه پټ کړي دجهالت او دبې وقوفی څخه ما سوا هيڅ نه دي بيا ددې په عموم کي دځنګل ټول درندګان مارغان او دمځکي چينجی منجی وغيره او ددرياب او مځکي ټول حيوانان داخل دي ددې عموم دتاکيد دپاره يي (لفظ دمن) زيات کی او مامن دابّة يي وفرمايل: (دابّة) هرهغه حيوان ته وايي کم چي پر مځکه ځي مارغان حيوان هم په دې کي داخل دي ځکه چي ددوی ځالي ځيني ځايونه په مځکه کي وي او ددرياب دحيوانانو هم تعلق دمځکي سره پټ نه دی ددې ټولو جاندارو درزق ذمه داري الله ﷻ خپل پر ذمه اخيستې ده. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۲ ص ۲) مکتبه حبيبيه

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا	عَنْهُمُ	الْعَذَابَ	إِلَىٰ	أُمَّةٍ	مَّعْدُودَةٍ
او قسم دی چې خامخا که وروستی کړو موږ	له دوی څخه	عذاب	تر	راتلو د او قاتو	شمیرلیو سویو پوری

او قسم دی چې خامخا که وروستی کړو موږ له دوی څخه (هغه) عذاب تر راتلو د اوقاتو شمیرلیو شویو (لږو)پوری

لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ ۗ أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ

لَّيَقُولُنَّ	مَا يَحْبِسُهُ	أَلَا يَوْمَ	يَأْتِيهِمْ
نو هرومرو به وائی دوی	څه شی بند کړی دی دا	(الله وائی) خبردار سئ واورئ هغه ورځ	چې راسی دا (عذاب) دوی ته

نو هرومرو به وائی دوی (استهزاء) څه شی بند کړی دی دا، خبردارسئ واورئ، هغه ورځ چې راسی دا (عذاب) دوی ته

لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ

لَيْسَ	مَصْرُوفًا	عَنْهُمْ	وَحَاقَ	بِهِم	مَّا كَانُوا	بِهِ
نو نه به وی	دفع کړی سوی	له دوی څخه	او چاپیر به سی	له دوی څخه	هغه عذاب چې وو دوی	چې په هغه پوری

نو نه به وی (دا عذاب) دفع کړی سوی له دوی څخه او چاپیر به سی له دوی څخه هغه عذاب چې وو دوی چې په هغه پوری

يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا

يَسْتَهْزِئُونَ	وَلَئِنْ أَذَقْنَا	الْإِنسَانَ	مِنَّا	رَحْمَةً	ثُمَّ	نَزَعْنَاهَا
به ئې مسخری کولی	او قسم دی خامخا که وروڅکوو موږ	انسان ته	له طرفه خپله	رحمت	بیا	بیرته راټول کړو موږ دا نعمت

به ئې مسخری کولی. او قسم دی خامخا که وروڅکوو موږ (کافر،ناشکره) ته له نزده خپله رحمت بیا بیرته راټول کړو موږ دا نعمت

مِنْهُ ۚ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ﴿٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ

مِنْهُ	إِنَّهُ	لَيَئُوسٌ	كَفُورٌ	وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ	نَعْمَاءَ	بَعْدَ
له ده څخه	بیشکه! دی	خامخا ناامیده	ناشکره وی	او قسم دی خامخا که وروڅکوو موږ دغه ته	نعمت	وروسته

له ده څخه، بیشکه! دی خامخا ناامیده ناشکره وی. او قسم دی خامخا که وروڅکوو موږ دغه ته نعمت وروسته

ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي ۚ إِنَّهُ

ضَرَّاءَ	مَسَّتْهُ	لَيَقُولَنَّ	ذَهَبَ	السَّيِّئَاتُ	عَنِّي	إِنَّهُ
له ضرره	چې رسیدلی ؤ ده ته	نو هرومرو به وائی دی خامخا	لاړی	سختی	له ما څنی	بیشکه! دغه (انسان)

له (هغه) ضرره چې رسیدلی ؤ ده ته نو هرومرو وائی به دی خامخا لاړی سختی له ما څنی، بیشکه! دغه (انسان)

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً. دانسان موجوده حالت خوښیدل او ماضي او مستقبل هیرول:

په دغه ایاتونو کي الله ﷻ په فطري طور سره دانسان غیر مستقل مزاجی او تلوار پسندی او پر موجوده حالت باندي راضي کیدل او بیا ماضي او مستقبل هیرولو بیان کړی دی ارشاد فرمایي (ولئن اذقنا الانسان ...) چي که موږ انسان ته یو نعمت وڅکووا او بیا یي دده څخه بیرته واخلونو دی بې همته او ناامیده او ناشکره جوړسي او که دده ته دڅه تکلیف وروسته کم چي ده ته رسیدلی وودیو نعمت خوند وڅکوونووایي چي زما ټول درد او تکلیف رخصت سو او دی خوشحالی کوونکی او فخر کوونکی سي: مطلب دادی چي انسان فطرتًا تلواره کوونکی او ده موجوده حالت هر څه ګڼونکی عادت دی په مخکي او وروسته حالاتو او واقعاتو دغور او فکر کوولو او ددې دیاد ساتلو مینه لرونکی نه دی په دې وجه چي دنعمت څخه وروسته تکلیف راسي نو درحمت څخه نا امیده او ناشکری کوونکی سي داخیال نه کوي چي کم حق ذات اول نعمت راکړی وو هغه یي بیا هم راکولای سي:
(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۰)

ع-٨

لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿۱۰﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ط اُولٰٓئِكَ

لَفَرِحٌ	فَخُوْرٌ	اِلَّا الَّذِيْنَ	صَبَرُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	اُولٰٓئِكَ
خامخا خوشحالیدونکی دی	متکبر فخرکوونکی دی	مګر هغه انسان	چی صبر کوی	او کوی	ښه (عملونه)	دغه

خامخا خوشحالیدونکی دی متکبر فخرکوونکی دی. مګر هغه انسان چی صبر کوی او کوی ښه (عملونه) دغه

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوْحٰٓى

لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّاَجْرٌ	كَبِيْرٌ	فَلَعَلَّكَ	تَارِكٌۢ	بَعْضَ مَا	يُوْحٰٓى
ستهدوی ته	مغفرت	او اجر	ډیر لوی	نو ښائی ته به	پریښودونکی ئی	ځینی دهغه قرآنه	چی وحی کولی سی

ستهدوی ته مغفرت (دګناهونو) او اجر ډیر لوی. نو ښائی ته به پریښودونکی ئی ځینی دهغه قرآنه چی وحی کولی سی

اِلَيْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهٖ صَدْرُكَ اَنْ يَّقُوْلُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ

اِلَيْكَ	وَضَآئِقٌۢ	بِهٖ	صَدْرُكَ	اَنْ يَّقُوْلُوْا	لَوْلَآ اُنْزِلَ
تاته	او تنګیدونکی ده	په هغه سره	سینه ستا	چی وائی به دوی	ولی نه ده نازله سوی

تاته او تنګیدونکی ده په (تبلیغ د) هغه سره سینه (زړه) ستا چی وائی به دوی ولی نه ده نازله سوی

عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ط اِنَّمَآ اَنْتَ نَذِيْرٌ ط

عَلَيْهِ	كَنْزٌ	اَوْ جَآءَ	مَعَهٗ	مَلَكٌ	اِنَّمَآ	اَنْتَ	نَذِيْرٌ
په ده باندی	خزانه	یا راغلی	له ده سره	ملائیکه	بیشکه! هم دا خبره ده	چی ته	بیروونکی ئی

په ده باندی خزانه یا (ولی نه ده) راغلی له ده سره ملائیکه، بیشکه! هم دا خبره ده چی ته بیروونکی ئی ،

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ط ﴿۱۲﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ط

وَاللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	وَّكِيْلٌ	اَمْ يَقُوْلُوْنَ	افْتَرٰىهُ
او الله	پر	هر شی باندی	وکیل دی	بلکه آیا وائی دوی	چی له خپله ځانه جوړ کړی دی دا (قرآن)

او الله پر هر شی باندی وکیل (ښه ساتونکی) دی. بلکه آیا وائی دوی چی له خپله ځانه جوړ کړی دی (محمد) دا (قرآن)

قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا

قُلْ	فَاْتُوْا	بِعَشْرِ	سُوَرٍ	مِّثْلِهٖ	مُفْتَرَيٰتٍ	وَّادْعُوْا
ووایه (محمده)	نو راوړئ تاسی	لس	سورتونه	په شان د یوه سورت د ده	له خپل ځانه جوړ کړی سوی	اوراوبولئ

ووایه (ای محمده!) نو راوړئ تاسی لس سورتونه په شان د یوه سورت د ده له خپل ځانه جوړ کړی سوی او راوبولئ

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوْحٰٓى.. دمکي مشرکینو دنبي کریم ﷺ په مخکي مختلف فرمایشونه پیش کړل: دغه ایت په یوه خاصه واقعه کي نازل سوی دی واقعه داده چي دمکي کفارو او مشرکینو دنبي کریم ﷺ په مخکي مختلف فرمایشونه پیش کړل یو دا چي په دې قرآن کي زموږ بتانو ته بدویل سوي دي په دې وجه موږ پر ده ایمان نه سو راوړی نو یا خوته بل قرآن راوړه یا په دې کي څه بدلون او ترمیم وکړه (ائت بقرآن غير هذا اوبدّله ...) : دوهم دا چي موږ ستا په رسالت اونبوت هلته یقین کوو چي یا خو ددنیا دبادشاهانو په شان پر تا یوه خزانه نازله سي چي ددې څخه ته ټولو ته بخشش وکړې یا یوه ملایکه دآسمانه څخه راسي او هغه ستا سره ګرځي او دا تصدیق کوي چي بیشکه داد الله ﷻ رسول دی نبي کریم ﷺ ددوی په دې خطا او عبثو فرمایشونو سره زړه تنګی سو ځکه چي درحمة للعلمین څخه دا هم ممکنه نه وه چي دوی ددوی پر حال پریږدي ددوی دایمان راوړلو فکر دزړه څخه وباسي اونه دا ممکنه ده : پاته بیان پر راروان مخ وګوری :

مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٣﴾ فَاِنْ

مَنِ اسْتَطَعْتُمْ	مِّنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	فَاِنْ
هغه کسان چي توانيږئ تاسي	غير له	الله څخه	که يئ تاسي	صادقان	نو که

هغه کسان چي توانيږئ تاسي (دپاره د کومک) غير له الله څخه که يئ تاسي صادقان. نو که

لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ

لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا	لَكُمْ	فَاعْلَمُوْٓا	اَنَّمَآ	اُنْزِلَ	بِعِلْمِ	اللّٰهِ
جواب درنه کړ دوی	تاسي ته	نو پوه سئ چي	بيشکه! هم داخبره ده	چي رالېږلې سوې دی (قرآن)	په علم	دالله سره

جواب درنه کړ دوی تاسي ته نو پوه سئ چي بيشکه! هم داخبره ده چي رالېږلي سوی دی (قرآن) په علم د الله سره

وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٤﴾ مَنْ كَانَ

وَاَنْ	لَّآ	اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	فَهَلْ	اَنْتُمْ	مُّسْلِمُوْنَ	مَنْ كَانَ
او چي	نسته	هيڅ لايق دعبادت	مګر هم دی	نو آيا	يئ تاسي	مسلمانان	هر څوک چي وی

او چي نسته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی، نو آيا يئ تاسي مسلمانان. هر څوک چي وی (له خپلې کم همتی)

يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ

يُرِيْدُ	الْحَيٰوةَ	الدُّنْيَا	وَزِيْنَتَهَا	نُوَفِّ	اِلَيْهِمْ	اَعْمَالَهُمْ
چي غواړي	يواځي ژوندون	د دنيا	او ښائست د دی	نو پوره به ورکړو	دوی ته	بدل د اعمالو د دوی

چي غواړي يواځي ژوندون د دنيا او ښائست د ده نو پوره به ورکړو دوی ته (بدل د) اعمالو د دوی

فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ

فِيْهَا	وَهُمْ	فِيْهَا	لَا يُبْخَسُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	لَيْسَ
په دی دنيا کښي	حال دا چي دوی	په دی دنيا کښي	نه سی کم کيدلی	دا	هغه کسان دی	چي نسته

په دی دنيا کښي حال دا چي دوی په دی دنيا کښي نه سی کم کيدلی. دا هغه کسان دی چي نسته

لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا

لَهُمْ	فِي الْاٰخِرَةِ	اِلَّا النَّارُ	وَحَبِطَ	مَا صَنَعُوْا	فِيْهَا
دوی ته	په آخرت کښي	مګر اور (د دوزخ)	او خراب سوی دی	هغه چي کړي ؤ دوی	په دی دنيا کښي

دوی ته په آخرت کښي مګر اور (د دوزخ) او خراب (ابته) سوی دی هغه (نيک عمل) چي کړي ؤ دوی په دی دنيا کښي

فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا... دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: چي ددوی داعبث فرمايشونه پوره کړي څکه چي اول خو دا فرمايشونه صرف پر بې عقلی باندي بنا وه څکه چي بتانو او بت پرستی او نورو ناکاره شيانو ته بد ونه ويل سي نو هدايت به څنګه وسي؟ او دنبوت سره دخزانې څه تعلق دی؟ دي خلګو نبوت پر بادشاهی باندي قياس کی دغه رکم دالله ﷻ دا دستورنه دی چي داسي حالت پيدا کړي چي خلګ پر ايمان راوړو باندي په مادي طور سره مجبوره سي کنه نو ټوله جهان دهغه په قبضه دقدرت کي دی دچا څه مجال وو چي دالله ﷻ درضا خلاف يي يو عمل يا عقيده ساتلي وای مګر ده په خپل حکمت بالغه سره دادنيا دار الامتحان جوړ کړی دی دلته دخه نيکی په کولو يا دبدی څخه په منع کولو دمادي اسبابو په ذريعه څوک نه سي مجبوره کيدای البته دآسماني کتابونو او رسولانو په ذريعه دنيک، او بد، ښه، او ناکاره، فرق او ددې نتيجي ښوول کيږي نه دا چي ددوی بې ځايه فرمايشونه پوره سي الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۱۲)

وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ

وَبٰطِلٌ	مَّا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	اَفَمَنْ	كَانَ	عَلٰى	بَيِّنَةٍ	مِّنْ
او باطل دی	هغه عمل چې وو دوی	چې کوو به ئې	آیا پس هغه څوک	چې دی	پر	واضح دلیل	له جانبه د

او باطل دی هغه عمل چې وو دوی چې کوو به ئې. آیا پس هغه څوک چې دی پر صاف برهان له جانبه د

رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى

رَّبِّهٖ	وَيَتْلُوْهُ	شَاهِدٌ	مِّنْهُ	وَمِنْ قَبْلِهٖ	كِتٰبُ	مُوْسٰٓى
رب خپل	او تابع وی د دی پسی	یو شاهد	له (جانبه) د الله	او پخوا له دی	کتاب	د موسیٰ

رب خپل او تابع وی د دی (برهان) پسی شاهد له (جانبه) د الله او پخوا له دی کتاب د موسیٰ (تورېت شاهد ؤ)

اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ اُولٰۗىِٕكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ

اِمَامًا	وَّرَحْمَةً	اُولٰۗىِٕكَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِهٖ	وَمَنْ	يَّكْفُرْ	بِهٖ
په دی حال کښې چې پیشوا	او رحمت ؤ	دغه کسان	ایمان لری	په دی (قرآن)	او هر څوک	چې کافر سو	په دی (قرآن)

په دی حال کښې چې پیشوا او رحمت ؤ، دغه کسان ایمان لری په دی (قرآن)، او هر څوک چې کافر سو په دی (قرآن)

مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ

مِنَ	الْاَحْزَابِ	فَالنَّارُ	مَوْعِدُهٗ	فَلَا تَكُ	فِيْ مِرْيَةٍ
له	ټولو فرقو (د کافرو) څخه	نو اور (د دوزخ)	ځای د وعدی د هغه دی	نو مه کیږه	په شک کښې

له ټولو فرقو (د کافرو) څخه نو اور (د دوزخ) ځای د وعدی د هغه دی نو مه کیږه په شک کښې

مِّنْهُ ۤ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

مِّنْهُ	اِنَّهُ	الْحَقُّ	مِنْ	رَّبِّكَ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ
له دی	بیشکه! چې هغه	حق دی	له جانبه	د رب ستا	ولیکن	اکثر	د خلکو

له دی (قرآن یا موعد نه) بیشکه! چې هغه حق دی له جانبه د رب ستا و لیکن اکثر د خلکو

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٧﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَمَنْ	اَظْلَمُ	مِمَّنِ	افْتَرٰى	عَلَى	اللّٰهِ	كَذِبًا
نه راوړی ایمان	او څوک دی	ډیر ظالم	له هغه چا چې	تړی له ځانه	پر	الله پوری	دروغ

نه راوړی ایمان. او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چې تړی له ځانه پر الله پوری دروغ (چې نسبت د ولد یا د شریک کوی)

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ. ایا مومن او کافر په مرتبه کې برابر یدلای سي ؟ په دغه آیت کې الله ﷻ دنبي کریم ﷺ او دمخلصو مومنانو حال دهغه کسانو په مقابل کې بیان کړی دی کمو چې دعلم او مقصود انتها صرف دنیا گرځولې ده اودا حال یې ددې دپاره بیان کړی دی چې دنیا یې وويني چې دادواړه ډلې نه سي سره برابریدلای او بیا یې ددوی دا حال بیان کی چې دنبي کریم ﷺ رسالت او نبوت دټول عالم دپاره تر قیامته پوري عام دی او کم سړی چې پرده ایمان نه راوړي که څه هم ډیر او زیات نیک عملونه یې کړي وي خوبیا هم داسې خلک گمراهان او ددوږخ مستحقین دي. دآیت په اوله کې الله ﷻ فرمایي چې آیا دقرآن څخه منکر دداسې سړي سره برابریدای سي کم چې پر قرآن باندې قایم وي کم چې دده درب دطرفه څخه راغلی دی او ددې سره یو شاهد خو په دې کې موجود دی اوددې څخه مخکې دحضرت موسی ﷺ کتاب شاهد دی کم چې داقتدآء قابل او دخلکو دپاره رحمت جوړ کړی رالیږلی دی.

(معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۸)

أُولَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ

أُولَٰٓئِكَ	يُعۡرَضُونَ	عَلَىٰ	رَبِّهِمۡ	وَيَقُولُ	ٱلۡأَشۡهَٰدُ
دغه (دروغ‌تړونکی)	وړاندی به کړی سی	په	رب د دوی	او وبه وائی	شاهدان

دغه (دروغ‌تړونکی) وړاندی به کړی سی (په قیامت کښی) په رب د دوی او وبه وائی شاهدان (کرام الکاتبین یا نور)

هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى

هَٰٓؤُلَآءِ	ٱلَّذِينَ	كَذَبُواْ	عَلَىٰ	رَبِّهِمۡ	أَلَا	لَعۡنَةُ	ٱللَّهِ	عَلَى
چی هم دوی دی	هغه کسان	چی دروغ ئی تړلی وو	په	رب خپل	واورئ خبردار سئ	لعنت	دالله دی وی	پر

چی هم دوی دی هغه کسان چی دروغ ئی تړلی وو په رب خپل ، واورئ خبردار سئ لعنت د الله دی وی پر

ٱلظَّٰلِمِينَ ١٨ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ

ٱلظَّٰلِمِينَ	ٱلَّذِينَ	يَصُدُّونَ	عَن	سَبِيلِ	ٱللَّهِ
ظالمانو	هغه ظالمان	چی آړوی خلک	له	لاری (د دین)	دالله

ظالمانو . هغه ظالمان (کافران) چی آړوی خلک له لاری (د دین) دالله

وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ١٩

وَيَبۡغُونَهَا	عِوَجًا	وَهُم	بِٱلۡأٓخِرَةِ	هُمۡ	كَٰفِرُونَ
او لټوی (ستائ) دا لاره خلکو ته	په کوږوالی سره	او هم دوی	په آخرت	هم دوی	کافران منکران کیدونکی دی

او لټوی (ستائی) دا لاره خلکو ته په کوږوالی سره، او هم دوی په آخرت هم دوی کافران منکران کیدونکی دی.

أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانَ

أُوْلَٰٓئِكَ	لَمۡ يَكُونُواْ	مُعۡجِزِينَ	فِي ٱلۡأَرۡضِ	وَمَا كَانَ
دا کفار	نه دی دوی	عاجزکوونکی (د الله)	په مځکه کښی	او نه به وی

داکفار نه دی دوی عاجز کوونکی (د الله) په مځکه (دنیا کښی په تیښته سره) او نه به وی

لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ

لَهُم	مِّن دُونِ	ٱللَّهِ	مِنۡ	أَوۡلِيَآءَ	يُضَٰعَفُ	لَهُمُ
دوی ته	غیر له	الله	هیڅ	دوستان	دوه چنده به کړسی	دوی ته

دوی ته غیر له الله هیڅ دوستان (چی عذاب ځنی دفع کړی که اراده وفرمائی بلکه) دوه چنده به کړسی دوی ته

أُولَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ .. دالله جل جلاله دتوحید او دنبي کریم ﷺ دنبوت څخه منکر کس ډیرلوی ظالم دی :

په دغه ایاتونو کي الله فرمايي چي تر داسي سړي به بل څوک لوی ظالم وي کم چي پر الله جل جلاله باندي دروغ تړي ددرواغو مطلب دا دی چي دهغه دتوحید او دهغه درسول درسالته څخه او دقرآن کریم دکلام الهي والي څخه انکار کوي داسي خلک به دقیامت په ورځ وه خپل رب ته مخامخ ددرواغجنو په حیثیت سره پیش کړی کیږي او دعملونو شاهدي ملایکي به علی الاعلان داسي وو ايي چي داهغه خلگ دي کمو چي دخپل رب په نسبت درواغ خبري تړلي وي تول واوری چي پر داسي ظالمانو باندي دخدای جل جلاله لعنت دی کمو چي دخپل کفر اوظلم سره سره نور به يي هم دالله جل جلاله دلاري څخه منع کول او په دغه لاره کي ددين به يي کوږوالی اوشبهاتي ورته راايستلې چي نور خلگ هم گمراهان کړي او دآخرت څخه هم منکره وه دا اعلان به ملایکي دالله جل جلاله په حضور کي دکفارو او مشرکینو خلاف وکي.

(معارف القرآن ج۴پ ۱۲ص۲۱)

الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا

وَمَا كَانُوْا	السَّمْعَ	يَسْتَطِيْعُوْنَ	مَا كَانُوْا	الْعَذَابُ
او نه وو دوی چی	داوریدلو	چی طاقت ئی وی	نه وو دوی	عذاب

عذاب، نه وو دوی چی طاقت ئی وی د آوریدلو (دحق د زړه له کوېنوالی) او نه وو دوی چی

يُبْصِرُوْنَ ﴿۲۰﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ

وَضَلَّ	اَنْفُسَهُمْ	خَسِرُوْٓا	الَّذِيْنَ	اُولٰٓئِكَ	يُبْصِرُوْنَ
او ورک سول	نفسونو خپلو ته	چی زیان ئی رسولی دی	هغه کسان	هم دوی دی	لیدلی ئی وی

لیدلی ئی وی (دلائل د قدرت). هم دوی دی هغه کسان چی زیان ئی رسولی دی نفسونو (ځانونو) خپلو ته او ورک سول

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ

فِى الْاٰخِرَةِ	اَنَّهُمْ	لَا جَرَمَ	يَفْتَرُوْنَ	مَّا كَانُوْا	عَنْهُمْ
په آخرت کښی	چی بیشکه! دوی	حقه خبره داده	چی دروغ ئی تړل	هغه چی وو دوی	له دوی

له دوی هغه چی وو دوی چی دروغ ئی تړل (چی بتان زمونږ شفاعت گران دی) . حقه خبره د اده چی بیشکه! دوی په آخرت کښی

هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿۲۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

وَعَمِلُوا	اٰمَنُوْا	الَّذِيْنَ	اِنَّ	الْاَخْسَرُوْنَ	هُمُ
او کړی ئی دی	ایمان ئی راوړی دی	هغه کسان چی	بیشکه!	ډیر زیانکاران دی	هم دوی

هم دوی ډیر زیانکاران دی (له نورو څخه). بیشکه! هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی

الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

الْجَنَّةِ	اَصْحٰبُ	اُولٰٓئِكَ	اِلٰى رَبِّهِمْ	وَاَخْبَتُوْٓا	الصّٰلِحٰتِ
د جنت دی	صاحبان	دغه کسان	رب خپل ته	او عاجزی کوی دوی	ښه (عملونه)

ښه (عملونه) او عاجزی کوی دوی رب خپل ته دغه کسان صاحبان (اوسیدونکی) د جنت دی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۳﴾ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ كَالْاَعْمٰى

كَالْاَعْمٰى	الْفَرِيْقَيْنِ	مَثَلُ	خٰلِدُوْنَ	فِيْهَا	هُمْ
لکه ړانده	د دی دواړو فرقو (داسی دی)	مثال	همیشه وی	په دی جنت کښی	دوی به

دوی به په دی جنت کښی همیشه وی. مثال د دی دواړو فرقو (داسی دی) لکه ړانده

مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا... کفار چي هرڅومره ترقي وکړي خو الله ﷻ نه سي عاجزه کولای: په دغه آیت کي الله ﷻ دکفارو بې وسي او کمزوري خپل په مقابل کي بیان کړې ده چي دې خلگو پرتوله مځکه باندي هم خدای ﷻ نه کی عاجزه چي یو ځای پټ سوي وای او دخدای ﷻ په لاس نه وای ورغلي او نه هم دخدای ﷻ څخه ماسوا ددوی څوک مددگار سو چي وروسته دتینگولو څخه یي خلاص کړي وای داسي خلگو ته به دنورو څخه دوچنده سزاوي یو خپل دکافرکیدو او بودنورو دکافرکولو دکوشش کولو دغه خلگو به دوجي دنفرت کولو دالله ﷻ احکام نه اوریده او نه یي په وجه دعناد وحقي لاري ته کتل دا هغه خلگ دي چي خپل ځانونه یي برباد کړل او کم څوک چي دوی معبودان جوړ کړي وه هغه نن ددوی څخه ټول غایب او ورک سول هیڅ یي هم پکار ورنغلل: پس نو لازمي خبره ده چي په آخرت کي به تر ټولو په تاوان او خساره کي اخته دغه خلگ وي. دادکافرانو انجام سو مخ ته بیا الله ﷻ دمسلمانانو انجام ذکر کوي الخ: (معارف القرآن ج۴ پ ۱۲ ص۲۱)

ع ۲

وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰى قَوۡمِهٖۤ ۡ اِنِّىۡ.. **دحضرت نوح ﷺ وخپل قوم ته دهغو دیـــو ځوشــــبهاتو او اعتراضاتو جواب ورکول :**

حضرت نوح ﷺ چي کله خپل قوم ته دایمان دعوت ورکی نو قوم دده پر نبوت اورسالت باندي یوځو شبهات او اعترضات پیش کړل حضرت نوح ﷺ دالله ﷻ په اذن او اجازه سره ددوی ددغه سوالونو جوابونه دوی ته ورکړه چي ددې په ضمن کي ډیري اصولي او فروعي مسئلې ددیانت او معاشرت هم راغلي په ذکر سوو ایاتونوکي دغه مکالمه بیان سویده : ددغه خلګو اولنی اعتراض پر حضرت نوح ﷺ باندي اودده پررسالت او نبوت باندي داووچي (مانراک الا بشرا مثلنا) یعني ته خو زموږ په شان انسان او بني آدم یي زموږ په شان خوري او چیښي ګرځي ، بیده کیږي ،ویښیږي بیا موږ ستا دافوق العادت فرق څنګه ومنوچي ته دخدای ﷻ پیغمبر او رسول یي ؟ ددي خلګو داخیال وو چي دانسانانو طرف ته کم سړی دالله ﷻ دطرف څخه رسول لیږل کیږي هغه به دجنس څخه دبشر نه وي فرښته به وي :پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

وَالۡاَصَمِّ وَالۡبَصِيۡرِ وَالسَّمِيۡعِ ؕ هَلۡ يَسۡتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ

وَالۡاَصَمِّ	وَالۡبَصِيۡرِ	وَالسَّمِيۡعِ	هَلۡ	يَسۡتَوِيٰنِ	مَثَلًا
او دکانه	او دلیدونکی	او داوریدونکی	آیا	برابر دی دغه دواړه	له جهته د مثاله

او دکانه او (لکه) دلیدونکی او داوریدونکی، آیا برابر دی دغه دواړه له جهته د مثاله ، (او صفته؟)

اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰى قَوۡمِهٖۤ ۡ اِنِّىۡ

اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اَرۡسَلۡنَا	نُوۡحًا	اِلٰى قَوۡمِهٖۤ	اِنِّىۡ
آیانو نه آخلئ پند تاسی	او هرومرو په تحقیق	لیږلی ؤ موږ	نوح	قوم د ده ته	بیشکه! زه

آیا نو نه آخلئ پند تاسی؟. او هرومرو په تحقیق لیږلی ؤ موږ نوح قوم د ده ته (حال دا چي ویونکی ؤ) بیشکه! زه

لَـكُمۡ نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۙ‏ ﴿۲۵﴾ اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ‌ ؕ اِنِّىۡۤ

لَـكُمۡ	نَذِيۡرٌ	مُّبِيۡنٌ	اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا	اِلَّا	اللّٰهَ	اِنِّىۡۤ
تاسی ته یم	بیروونکی (له جحیمه)	ښکاره	چی مه کوئ تاسی عبادت (دبل چا)	بی له	الله	بیشکه! زه

تاسی ته یم بیروونکی (له جحیمه) ښکاره چی مه کوئ تاسی عبادت (د بل چا) بی له الله ، بیشکه! زه

اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ اَلِيۡمٍ ﴿۲۶﴾ فَقَالَ الۡمَلَاُ الَّذِيۡنَ

اَخَافُ	عَلَيۡكُمۡ	عَذَابَ	يَوۡمٍ	اَلِيۡمٍ	فَقَالَ	الۡمَلَاُ الَّذِيۡنَ
بیریږم	پر تاسی	له عذابه	دورځی	دردناکی څخه	نو وویل	مشرانو هغو چی

بیریږم پر تاسی له عذابه د ورځی دردناکی (دقیامته) څخه. نو وویل هغو مشرانو

كَفَرُوۡا مِنۡ قَوۡمِهٖ مَا نَرٰٮكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثۡلَنَا

كَفَرُوۡا	مِنۡ قَوۡمِهٖ	مَا نَرٰٮكَ	اِلَّا بَشَرًا	مِّثۡلَنَا
کافران سوی ؤ	له قومه دده (نوح)	چی نه وینو موږ تا	مګر یو بشر	په شان زموږ

کافران سوی ؤ له قومه د دغه (نوح) چي نه وینو موږ تا (ای نوحه په هیڅ صفت) مګر یو بشر په شان زموږ

وَمَا نَرٰٮكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيۡنَ هُمۡ اَرَاذِلُنَا

وَمَا نَرٰٮكَ	اتَّبَعَكَ	اِلَّا الَّذِيۡنَ	هُمۡ	اَرَاذِلُنَا
او نه وینو موږ تا	چی متابعت کړی ستا (هیچا)	مګر هغه کسان	چی دوی	د لاندی (کښته) زموږ دی

او نه وینو موږ تا چي متابعت کړی ستا (هیچا) مګر هغه کسان چي دوی د لاندی (کښته) زموږ دی (رذیلان دی)

بَادِيَ الرَّأْيِۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍۢ بَلْ نَظُنُّكُمْ

بَادِيَ الرَّأْيِ	وَمَا نَرٰى	لَكُمْ	عَلَيْنَا	مِنْ فَضْلٍ	بَلْ	نَظُنُّكُمْ
په سرسری رايه سره	او نه وينو موږ	تاسی لره	پر موږ باندی	هيڅ بهتری	بلکه	ګمان کوو موږ پر تاسی

د سرسری عقل خاوندان او نه وينو موږ تاسی لره پر موږ باندی هيڅ بهتری بلکه ګمان کوو موږ پر تاسی

كٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ

كٰذِبِيْنَ	قَالَ	يٰقَوْمِ	اَرَءَيْتُمْ	اِنْ كُنْتُ	عَلٰى	بَيِّنَةٍ
د دروغجنانو	وويل (نوح)	ای قومه زما	آيا وينئ خبر راکړئ تاسی (ماته)	که يم زه	پر	سمه لاره

د دروغجنانو . وويل (نوح) ای قومه زما آيا وينئ خبر راکړئ تاسی (ماته) که يم زه پر سمه لاره (واضح برهان ښکاره حجت)

مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ؕ

مِّنْ	رَّبِّيْ	وَاٰتٰىنِيْ	رَحْمَةً	مِّنْ عِنْدِهٖ	فَعُمِّيَتْ	عَلَيْكُمْ
له	ربه خپله	او راکړی ئی وی ماته	رحمت	له نزده خپله	نو پټ کړی سوی دی	پر ستړګو د تاسی

له ربه خپله او راکړی ئی وی ماته رحمت له نزده خپله نو پټ کړی سوی دی (حقیقت د دی دليل) پر سترګو د تاسی

اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿٢٨﴾

اَنُلْزِمُكُمُوْهَا	وَاَنْتُمْ	لَهَا	كٰرِهُوْنَ
آيا مجبور کولی سو موږ تاسی په قبول دغو سره	حال دا چی تاسی	دغه لره	بد ګڼونکی انکار کوونکی ياست

آيا مجبور کولی سو موږ تاسی په قبول دغو سره حال دا چی تاسی دغه (برهان) لره بد ګڼونکی انکار کوونکی ياست

وَيٰقَوْمِ لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا

وَيٰقَوْمِ	لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَيْهِ	مَالًا	اِنْ اَجْرِيَ	اِلَّا عَلَى	اللّٰهِ	وَمَاۤ اَنَا
ای قومه زما	نه غواړم زه له تاسی	په دغه (تبليغ)	څه مال	نه دی اجر زما	مګر په	الله باندی	او نه يم زه

ای قومه زما نه غواړم زه له تاسی په دغه (تبليغ) څه مال (مزدوری)، نه دی اجر (مزدوری) زما مګر په الله باندی او نه يم زه

بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْۤ

بِطَارِدِ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	اِنَّهُمْ	مُّلٰقُوْا	رَبِّهِمْ	وَلٰكِنِّيْۤ
شړونکی	دهغو کسانو چی	ايمان ئی راوړی دی	بيشکه! دوی	ملاقات کوونکی دی	له ربه خپله سره	وليکن زه

شړونکی دهغو کسانو چی ايمان ئی راوړی دی بيشکه! دوی ملاقات کوونکی دی له ربه خپله سره ، وليکن زه

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ.. دتیر مخ پاته بيان دلته وګوری:

ددوی ددغه سوال جواب الله ﷻ په دغه آيت کی ورکړی دی په دي کی دا نبوول سوي دي چي درسول بشر يا بنيادم والی د نبوت او رسالت سره منافي نه دي بلکي که فکر وسي نو دا ضروري ده چي دبنيادمو رسول بنيادم يکار دی چي بنيادمو ته ورخخه دين زده کول آسانه سي دبنيادم او ملايکي په مزاج کي خو دآسمان او دمځکي فرق دی که ملايکه رسول راليږل کيدای نو بنيادمو ته به دين ورخخه زده کول ګران کار وای ځکه چي ملايکه نه وږي کيږي ، نه تږي کيږي ، نه خوب ورته راځي ، نه ستړي کيږي، نه انساني ضرورتونه او حاجتونه مخ ته ورته راځي هغه به دبنيادمو په دي کمزوريو څه پوه سي اوبغير ددي دپوهيدو څخه به بنيادم په عمل کي ددوی تابعداري څنګه وکولای سي ؟ دغه مضمون دقرآن کريم په نورو اياتونوکي هم په وضاحت او اشارو سره شو ځايه راغلی دی دلته يي هم داښوولي ده چي که دعقل څخه کار واخيستل سي. پاته بيان پر راروان مخ باندي وګوری:

أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾ وَيَٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ

أَرَىٰكُمْ	قَوْمًا	تَجْهَلُونَ	وَيَٰقَوْمِ	مَن يَنصُرُنِي	مِنَ
ګورم تاسي	داسي قوم	چي جاهلان یئ	او ای قومه زما	څوک به مرسته وکړي له ما سره	له عذابه

ګورم تاسي داسي قوم چي جاهلان یئ. او ای قومه زما څوک به مرسته (مدد) وکړي له ما سره له عذابه

ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ

ٱللَّهِ	إِن طَرَدتُّهُمْ	أَفَلَا تَذَكَّرُونَ	وَلَآ أَقُولُ	لَكُمْ
د الله	که وشړم زه دوی	آیا نو پند نه آخلئ تاسی	او نه وایم زه	تاسو ته

د الله که وشړم زه دوی، آیا (فکر نه کوئ) نو پند نه آخلئ تاسی. او نه وایم زه تاسو ته

عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ

عِندِي	خَزَآئِنُ	ٱللَّهِ	وَلَآ أَعْلَمُ	ٱلْغَيْبَ	وَلَآ أَقُولُ	إِنِّي	مَلَكٌ
چی زما څخه	خزانی	د الله دی	او نه پوهیږم	په غیب باندی	او نه وایم زه چی	بیشکه! زه	ملائیکه یم

چی زما څخه خزانی د الله دی او نه (وایم داچی) پوهیږم په غیب باندی او نه وایم زه چی بیشکه! زه ملائیکه یم

وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِيٓ أَعْيُنُكُمْ لَن يُؤْتِيَهُمُ

وَلَآ أَقُولُ	لِلَّذِينَ	تَزْدَرِيٓ	أَعْيُنُكُمْ	لَن يُؤْتِيَهُمُ
او نه وایم زه	په حق د هغو (فقیرانو مؤمنانو)	چی سپک ورته ګوری	سترګی ستاسی	چی له سره به ورنه کړی دوی ته

او نه وایم زه په حق د هغو (فقیرانو مؤمنانو) چی سپک ورته ګوری سترګی ستاسی چی له سره به ورنه کړی دوی ته

ٱللَّهُ خَيْرًا ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمْ ۖ إِنِّيٓ إِذًا

ٱللَّهُ	خَيْرًا	ٱللَّهُ	أَعْلَمُ	بِمَا فِيٓ	أَنفُسِهِمْ	إِنِّيٓ	إِذًا
الله	هیڅ خیر	الله	ښه عالم دی	په هغه چی په	نفسونو د دوی کښی دی	نو زه	په دغه وخت کښی

الله هیڅ خیر، الله ښه عالم دی په هغه (اخلاص) چی په نفسونو د دوی کښی دی، نو زه په دغه وخت کښی

لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالُوا۟ يَٰنُوحُ قَدْ جَٰدَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ

لَّمِنَ	ٱلظَّٰلِمِينَ	قَالُوا۟	يَٰنُوحُ	قَدْ	جَٰدَلْتَنَا	فَأَكْثَرْتَ
خامخا	له ظالمانو څخه یم	وویل (کفارو)	ای نوحه	په تحقیق	جګړه دی وکړه له موږ سره	پس ډیره دی کړه

خامخا له ظالمانو څخه یم. وویل (کفارو) ای نوحه په تحقیق جګړه دی وکړه له موږ سره پس ډیره دی کړه

وَيَٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

درسول دپاره داضروري نه ده چي بنیادم دي نه وي البته داضروري ده چي دالله ﷻ دطرفه څخه یو واضح دلیل دده سره وي چي ددغه په لیدو سره خلګو ته دا منل اسانه سي چي داد خدای ﷻ دطرفه څخه رالیږل سوی رسول دی دغه حجت او دلیل دعامو خلګو دپاره دپیغمبرانو معجزې وي په دې وجه حضرت نوح عليه السلام و فرمایل چي ما دخپل ځان سره دالله ﷻ دطرف څخه حجت او رحمت راوړی دی که تاسي دې ته کتلای او فکر مو باندي کولای نو انکار به مو نه کولای مګر ستاسي دغه انکار او عناد ستاسي سترګي ددې څخه ړندې کړي دي او تاسي انکار وکی او پرخپل ضد باندي تینګ سواست :مګر د خدی ﷻ دا رحمت کم چي دپیغمبرپه ذریعه راځي داسي شی نه دی چي په زور سره دخلګو پر سرونو وروتپل سي ترڅوچي دوی په خپله ددې طرف ته رغبت ونه کړي لیکن دوی بدبختانو دنوح عليه السلام خبري ته غوږ نه ایښووی الخ.

(معرف القرآن ج۴پ۱۲ص ۲۶)

جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ

جِدَالَنَا	فَأْتِنَا	بِمَا تَعِدُنَآ	اِنْ كُنْتَ	مِنَ الصّٰدِقِيْنَ	قَالَ
جګړه زموږ	نو راوړه موږ ته	هغه عذاب چې وعده ئې کوې ته له موږ سره	که ئې ته	له صادقانو	نو وويل نوح

جګړه زموږ نو راوړه موږ ته هغه عذاب چې وعده ئې کوې ته له موږ سره که ئې ته له صادقانو. نو وويل نوح

اِنَّمَا يَأْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٣٣﴾

اِنَّمَا	يَأْتِيْكُمْ	بِهِ	اللّٰهُ	اِنْ شَآءَ	وَمَآ اَنْتُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ
بيشکه! هم دا خبره ده	چې رابه ولي تاسي ته	دا عذاب	خاص الله	که اراده وفرمائي	حال دا چې نه يئ تاسي	عاجزکوونکي

بيشکه! هم دا خبره ده چې رابه ولي تاسي ته دا عذاب خاص الله که اراده وفرمائي حال دا چې نه يئ تاسي عاجز کوونکي

وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ

وَلَا يَنْفَعُكُمْ	نُصْحِيْٓ	اِنْ اَرَدْتُّ	اَنْ اَنْصَحَ	لَكُمْ
او نه نفع در رسوي تاسي ته	نصيحت زما	که اراده وکړم زه	چې نصيحت وکړم	تاسي ته

او نه نفع در رسوي تاسي ته نصيحت زما که اراده وکړم زه چې نصيحت وکړم تاسي ته

اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ رَبُّكُمْ ۟ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٤﴾ؕ

اِنْ كَانَ	اللّٰهُ	يُرِيْدُ	اَنْ يُّغْوِيَكُمْ	هُوَ رَبُّكُمْ	وَاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ
که وي	الله	چې اراده لري	د دې چې ګمراه وفرمائي تاسي	هم دی دی رب ستاسي	او خاص هم ده ته	بيرته بيولی کيږئ

که وي الله چې اراده لري د دې چې ګمراه وفرمائي تاسي، هم دی دی رب ستاسي، او خاص هم ده ته بيرته بيولی کيږئ.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ

اَمْ يَقُوْلُوْنَ	افْتَرٰىهُ	قُلْ	اِنِ افْتَرَيْتُهٗ
بلکه آيا وائي دوی	چې له خپله ځانه يې جوړه کړې ده دغه وحې	(الله فرمائي) ووايه	که مې له ځانه جوړه کړې وي دغه وحې

(وفرمايل الله) بلکه آيا وائي دوی چې له خپله ځانه يې جوړه کړې ده دغه (وحې)، ووايه که مې له ځانه جوړه کړې وي دغه وحې

فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿٣٥﴾ ع وَاُوْحِيَ

فَعَلَيَّ	اِجْرَامِيْ	وَاَنَا	بَرِيْٓءٌ	مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ	وَاُوْحِيَ
نو خاص پر ما دی	عقوبت د ګناه زما	او زه	بيزاره يم	له هغه ګناه چې تاسي ئې کوئ	او وحې کړې سوې وه

نو خاص پر ما دی عقوبت د ګناه زما او زه بيزاره يم له هغه ګناه چې تاسي ئې کوئ. او وحې کړې سوې وه

ع ٣

فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ... د حضرت نوح عليه السلام د قوم احمقانه جواب: کله چې حضرت نوح عليه السلام د خپل قوم د ټولو شبهاتو او اعتراضاتو جوابونه ورکړل او د دوي په وسه دا نه وه چې د ته جواب ورکړي نو بيا يې وويل چې اې نوحه تا زموږ سره بحث وکړی بيا دې بحث اوږد هم کړی پس اوس بحث پرېږده او د کم شي څخه چې ته موږ بيروې چې عذاب به راسي هغه زموږ مخ ته راوله دوی عليه السلام وفرمايل چې د دې راوستونکی زه کله يم ما ته خو د رسولو او اورولو حکم وو پس ما هغه پرځای کړ دغه خو به الله جل جلاله په دې شرط چې هغه ته منظوره وي ستاسي مخ ته راولي او دغه وخت به بيا تاسي هغه عاجزه نه کړی سئ چې هغه عذاب واقع کول وغواړي او تاسي يې واقع کولو ته پرې نه ږدئ او کم چې زما کار وو رسول او اورول په دې کې ما ستاسي پوره پوره خيرخواهي او او دلسوزي وکړه ليکن زما خبره د خيرخواهی ستاسي په کار نه سي درتلای که څه هم زه ستاسي هر څومره خيرخواهي کول غواړم نور کار د کاره څخه تير سو.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۲۵)

إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ

إِلَىٰ نُوحٍ	أَنَّهُ	لَن يُؤْمِنَ	مِن قَوْمِكَ	إِلَّا مَن	قَدْ	آمَنَ
نوح ته	چي بيشكه! شان دادى	چي له سره به ايمان رانه وړى	له قومه ستا	مګر هغه چي	په تحقيق	ايمان ئى راوړى دى

نوح ته چي بيشكه! شان دا دى چي له سره به ايمان رانه وړى له قومه ستا مګر هغه چي په تحقيق ايمان ئى راوړى دى

فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ۝٣٦ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ

فَلَا تَبْتَئِسْ	بِمَا كَانُوا	يَفْعَلُونَ	وَاصْنَعِ	الْفُلْكَ
نو مه غمجن كيږه	په هغه چي وو دوى	چي كول به ئى	او جوړه كړه	ته بيړى (كښتى)

نو مه غمجن كيږه په هغه (ايذاء او تكذيب) چي وو دوى چي كول به ئى . او جوړه كړه ته بيړى (كښتى)

بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا

بِأَعْيُنِنَا	وَوَحْيِنَا	وَلَا تُخَاطِبْنِي	فِي الَّذِينَ	ظَلَمُوا
په حفاظت زموږ	او په (حكم) زموږ	او مه كوه خبرى زما سره	په حق دهغو كسانو كي	چي ظالمان سوى دى

په نګرانى زموږ او په (حكم) زموږ او مه كوه خبرى زما سره (په دفع د عذاب) په حق دهغو كسانو چي ظالمان سوى دى

إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ۝٣٧ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ

إِنَّهُم	مُّغْرَقُونَ	وَيَصْنَعُ	الْفُلْكَ	وَكُلَّمَا	مَرَّ	عَلَيْهِ
چي بيشكه! دوى	غرقيدونكى دى	او جوړوله (نوح)	بيړى	حال دا هر كله چي	تيريدله به	پر دغه (نوح)

چي بيشكه! په دوى باندى حكم كړى سوى د غرقيدلو . او جوړوله (نوح) بيړى حال دا هر كله چي تيريدله به پر دغه (نوح)

مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا

مَلَأٌ	مِّن قَوْمِهِ	سَخِرُوا	مِنْهُ	قَالَ	إِن تَسْخَرُوا	مِنَّا
ډله	له قومه د نوح	نو مسخرى به ئى كولى	په دغه (نوح) پورى	نو وويل (نوح)	كه مسخرى كوئ تاسى	پر موږ پورى

ډله له قومه د نوح نو مسخرى به ئى كولى په دغه (نوح) پورى، نو وويل (نوح) كه مسخرى كوئ تاسى پر موږ پورى

فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ۝٣٨ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن

فَإِنَّا	نَسْخَرُ	مِنكُمْ	كَمَا تَسْخَرُونَ	فَسَوْفَ	تَعْلَمُونَ	مَن
نو بيشكه! موږ	به هم مسخرى وكړو	په تاسى پورى	لكه چي او سى مسخرى كوئ تاسى	نو ژر به	وپيژنئ تاسى	هغه څوک

نو بيشكه! موږ به هم مسخرى وكړو په تاسى پورى لكه چي اوس مسخرى كوئ تاسى. نو ژر به وپيژنئ تاسى هغه څوک

نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن. دحضرت نوح عليه السلام عزم او كلك همت او دده دقوم دهلاكت واقعه: حضرت نوح عليه السلام ته الله جل جلاله تقريبا زر كاله اوږد عمر وركړى ددې سره يې دالله جل جلاله دطرف څخه ددعوت وركولو او دقوم داصلاح كولو فكر او دپيغمبرانه جد او جهد هم دادرجه وركړه چي په دې اوږده موده دعمر كي يې هميشه خپل قوم ته ددين حق او دتوحيد دكلمې طرف ته دعوت وركوى دقوم دطرفه څخه ورته سخت سخت تكليفونه ورسيدل قوم په ډېرو وويشتى تر دې چي بې هوښه به يه كړى بيا چي به پر هوښ راغى نو دعا به يې كوله چي يا الله زما قوم معاف كړې دوى ناپوه جاهلان دي نه پوهيږي دقوم ديو نسل څخه بل نسل او دبل څخه دريم ته په دې اميد يې دعوت وركوى چي شايد دوى حق قبول كړي : كله چي پر دې كار باندي صدى او پيړى تيري سوې نو درب العزة په مخكي يې دخپل حالت زار شكايت وكى كم چي په سورت نوح كي ذكر دي او ددومره لوى مصيبت څخه وروسته ددې شخص پر ژبه باندي دادعا راغله: پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

يَّأۡتِيۡهِ عَذَابٌ يُّخۡزِيۡهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٌ مُّقِيۡمٌ ﴿٣٩﴾

يَّأۡتِيۡهِ	عَذَابٌ	يُّخۡزِيۡهِ	وَيَحِلُّ	عَلَيۡهِ	عَذَابٌ	مُّقِيۡمٌ
چې رابه‌سی ورته	عذاب	چې وبه شرموی ده لره	او نازلیږی به	پر ده	عذاب	دائم

چې رابه‌سی ورته (داسی) عذاب چې وبه شرموی ده لره په (غرق سره) او نازلیږی به پر ده عذاب دائم (په حرق سره).

حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَمۡرُنَا وَفَارَ التَّنُّوۡرُ ۙ قُلۡنَا احۡمِلۡ فِيۡهَا

حَتّٰۤى	اِذَا جَآءَ	اَمۡرُنَا	وَفَارَ	التَّنُّوۡرُ	قُلۡنَا	احۡمِلۡ	فِيۡهَا
ترهغه‌پوری	کله‌چې راغی	امرزموږ	او راوخوټیده	تنور	وویل موږ	سواره کړه	په‌دی بیړی کښې

ترهغه‌پوری کله چې راغی امر (حکم د عذاب) زموږ او راوخوټیده تنور وویل موږ (نوح ته) سواره کړه په‌دی بیړی کښې

مِنۡ كُلٍّ زَوۡجَيۡنِ اثۡنَيۡنِ وَاَهۡلَكَ اِلَّا مَنۡ سَبَقَ عَلَيۡهِ

مِنۡ كُلٍّ	زَوۡجَيۡنِ	اثۡنَيۡنِ	وَاَهۡلَكَ	اِلَّا مَنۡ	سَبَقَ	عَلَيۡهِ
له‌هری	جوړه	دوه‌دوه (نراوښځه)	او اهل خپل	مګر	مه‌سوروه هغه‌چې مخکښې سوی وه	په‌ده

له‌هری (نوعی نافعی دحیواناتو ښځه) جوړه دوه دوه او اهل خپل مګر مه‌سوروه هغه چې مخکښې سوی وه په‌ده

الۡقَوۡلُ وَمَنۡ اٰمَنَ ؕ وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِيۡلٌ ﴿٤٠﴾

الۡقَوۡلُ	وَمَنۡ	اٰمَنَ	وَمَاۤ اٰمَنَ	مَعَهٗۤ	اِلَّا	قَلِيۡلٌ
وینا	او هغه‌چې	ایمان‌ئی راوړی دی	او نه‌وو ایمان راوړی	سره له‌دغه (نوح)	مګر	خو لږ خلګو

وینا (او حکم د ډوبیدلو) او هغه چې ایمان ئی راوړی دی، او نه‌وو ایمان راوړی سره له‌دغه (نوح) مګر خو لږ خلګو

وَقَالَ ارۡكَبُوۡا فِيۡهَا بِسۡمِ اللّٰهِ مَجۡرٖىهَا وَمُرۡسٰىهَا ؕ اِنَّ رَبِّىۡ

وَقَالَ	ارۡكَبُوۡا	فِيۡهَا	بِسۡمِ	اللّٰهِ	مَجۡرٖىهَا	وَمُرۡسٰىهَا	اِنَّ	رَبِّىۡ
او وویل نوح	چې سپاره سئ	په‌دی کښې	په‌نامه	دالله‌دی	روانیدل‌د دی	او دریدل‌د دی	بیشکه! چې	رب‌زما

او وویل نوح چې سپاره سئ پر دغی (بیړی او وایئ) په‌نامه د الله دی راونیدل د دی او دریدل د دی ، بیشکه! چې رب زما

لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿٤١﴾ وَهِىَ تَجۡرِىۡ بِهِمۡ فِىۡ مَوۡجٍ كَالۡجِبَالِ

لَغَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ	وَهِىَ	تَجۡرِىۡ	بِهِمۡ	فِىۡ مَوۡجٍ	كَالۡجِبَالِ
خامخا بښه‌بخښونکی	ډیر رحم‌والادی	او دی (بیړی)	به‌ورل	دوی	په‌څپو کښې	په‌شان‌د غرونو

خامخا بښه بخښونکی مغفرت کوونکی ډیر رحم والادی. او دی (بیړی) به ورل دوی په موجونو کښې په شان د غرونو

مَنۡ يَّأۡتِيۡهِ عَذَابٌ يُّخۡزِيۡهِ وَيَحِلُّ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری : (رب انصرنی بما کانوا یکذبون.) یعني ای زما پروردګاره ددغه قوم ددرواغجن کولو په مقابله کي ته زما مدد وکړه : د حضرت نوح عليه السلام دقوم زور او ظلم چي زيات سو نو الله جل جلاله حضرت نوح عليه السلام ته په دې اياتونو سره خطاب وفرمايه کم چي دالوړ ذکر سوي دي په دې کي اول خو حضرت نوح عليه السلام ته دا ښوول سويده چي ستا په قوم کي دکمو چي ايمان راوړل مقرر وو هغوی ايمان راوړی اوس به څوک بل سړی ايمان نه قبلوي ددوی په زړونو باندي ددوی دعناد او سرکشۍ په وجه سره مهر لګيدلی دی : دوهمه خبره يي دا وښووله چي اوس موږ پر دې قوم داوبو طوفان عذاب راليږونکي يو نو ددې دپاره ته يوه کښتی تياره کړه چي ته په کښتي داهل او عياله سره او څو مره چي مسلمانان دي سره دخپلو ضرورتونو ځای سی چي دطوفان په وخت کي داټول په دې کي سپاره سی او نجات به پيدا کی حضرت نوح عليه السلام دالله جل جلاله دحکم موافق کښتی جوړه کړه : پاته بيان پر راروان مخ وګوری :

وَنَادٰى نُوْحُ ۨابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا

وَنَادٰى	نُوْحُ	ابْنَهٗ	وَكَانَ	فِيْ مَعْزِلٍ	يّٰبُنَيَّ	ارْكَبْ	مَّعَنَا
او ناری کړې	نوح	ځوی خپل ته	حال دا چې ؤ هغه	په کناره	ای زویه زما	راځه سور سه !	له موږ سره

او ناری کړې نوح (له ډیره شفقته) ځوی خپل ته حال دا چې ؤ هغه په کناره ای زویه زما راځه سور سه! له موږ سره

وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ سَاٰوِيْٓ

وَلَا تَكُنْ	مَّعَ	الْكٰفِرِيْنَ	قَالَ	سَاٰوِيْٓ
او مه کیږه	له	کافرانو سره	وویل (کنعان)	چې ژر به لاړ سم ځای به ونیسم

او مه کیږه له کافرانو سره (چې غرق به سې). وویل (کنعان ځوی د نوح) چې ژر به لاړ سم ځای به ونیسم

اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ؕ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ

اِلٰى جَبَلٍ	يَّعْصِمُنِيْ	مِنَ الْمَآءِ	قَالَ	لَا عَاصِمَ	الْيَوْمَ	مِنْ اَمْرِ
پر سر د کوم غره باندې	چې وساتي مې	له اوبو څخه	وویل (نوح)	چې نسته ساتونکی	نن ورځ	له امره

پر سر د کوم غره باندې چې وساتي مې له اوبو څخه، وویل (نوح) چې نسته ساتونکی نن ورځ له امره (حکمه او له عذابه)

اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ

اللّٰهِ	اِلَّا مَنْ	رَّحِمَ	وَحَالَ	بَيْنَهُمَا	الْمَوْجُ	فَكَانَ	مِنَ
د الله څخه	مګر په هغه چا چې	هغه رحم وکړی	او پرده سوه د دوی	دواړو په مینځ کښی	څپه	نو وګرځید (کنعان)	له

د الله څخه مګر په هغه چا چې هغه رحم وکړی، او پرده سو د دوی دواړو په مینځ کښی موج نو وګرځید (کنعان) له

الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ

الْمُغْرَقِيْنَ	وَقِيْلَ	يٰٓاَرْضُ	ابْلَعِيْ	مَآءَكِ	وَيٰسَمَآءُ
جمله د غرق کړیو سویو	او وویل سوه	چې ای ځمکې	جذبې کړه	اوبه خپل	او ای آسمانه

جمله د غرق کړیو سویو. او وویل سوه چې ای ځمکې جذبې کړه (بیرته) او به خپل او ای آسمانه

اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى

اَقْلِعِيْ	وَغِيْضَ	الْمَآءُ	وَقُضِيَ	الْاَمْرُ	وَاسْتَوَتْ	عَلَى
بندې کړه (اوبه خپلې)	او کمې کړې سوې	اوبه	او پوره کړ سو	هغه حکم	او ودریده بیړی	پر

بندې کړه (او به خپلې) او کمې کړې سوې او به او پوره کړ سو هغه حکم (داهلاک د اشرارو) او ودریده بیړی پر

وَنَادٰى نُوْحُ ۨابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ... دتیر مخ پاته بیان

دلته وګورئ: بیا کله چې دطوفان اولنی نخښې را ښکاره سوې او دمځکې څخه اوبه په راجوشیدو سوې نو حضرت نوح علیه السلام ته حکم وسو چې په خپله سره داهل او عیال او هغه خلګو چې کمو پر تا ایمان راوړی دی په دې کښتی کښې سپاره سی او دانسانانو ضرورتونه چې دکمو حیوانانو سره متعلق دي لکه غوا ، غويي ، آس ، خر وغیره ددوی هم یوه یوه جوړه په کښتی کي سپاره کړی حضرت نوح علیه السلام هم دحکم موافق ټوله سپاره کړه : او په آخر کي فرمايي چې پر حضرت نوح علیه السلام ایمان راوړنکي او په کښتی کي سپر یدونکي دهغو مسلمانانو شمیر ډیر کم وو : حضرت نوح علیه السلام ته چې کله دکښتی دجوړولو حکم وسو دغه وخت ده کښتی جوړول نه پیژندل: داحادیثو په روایتونو کي دي چي جبرائیل امین دوحی الهي په ذریعه حضرت نوح علیه السلام ته دکښتی جوړولو ټول ضروریات او ددې طریقه وښووله دوی دسال دلرګي څخه داکښتی جوړه کړه په ځیني روایاتو کي یې اندازه هم راغلې ده. (معارف القرآن ج ۴ پ ۱۲ ص ۳۳) مکتبه حبیبیه

الربع

الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَنَادَىٰ

الْجُودِيِّ	وَقِيلَ	بُعْدًا	لِّلْقَوْمِ	الظَّالِمِينَ	وَنَادَىٰ
غره دجودی	او وویل سو	لریوالی دی وی	قوم	ظالمانو (کافرانو) ته	او غږ (سوال) وکړ

غره د جودی او وویل سو (هلاک) لریوالی دی وی قوم ظالمانو (کافرانو) ته. او غږ (سوال) وکړ

نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ

نُوحٌ	رَّبَّهُ	فَقَالَ	رَبِّ	إِنَّ ابْنِي	مِنْ أَهْلِي	وَإِنَّ	وَعْدَكَ
نوح	رب خپل ته	نو وی ویل	ای ربه زما	بیشکه! چی ځوی زما	له اهله زما څخه دی	او بیشکه! چی	وعده ستا

نوح رب خپل ته نو وی ویل ای ربه زما بیشکه! چی ځوی زما له اهله زما څخه دی او بیشکه! چی وعده ستا

الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ

الْحَقُّ	وَأَنتَ	أَحْكَمُ	الْحَاكِمِينَ	قَالَ	يَا نُوحُ	إِنَّهُ
حقه ده	او ته ئی	ښه عالم عادل لوی حاکم	له ټولو حکم کوونکو څخه	وفرمایل (الله)	ای نوحه!	بیشکه! چی هغه ځوی

حقه ده او ته ئی ښه عالم عادل لوی حاکم له ټولو حکم کوونکو څخه. وفرمایل (الله) ای نوحه! بیشکه! چی هغه ځوی

لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ۖ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا

لَيْسَ	مِنْ أَهْلِكَ	إِنَّهُ	عَمَلٌ	غَيْرُ صَالِحٍ	فَلَا تَسْأَلْنِ	مَا
نه دی	له اهله ستا	بیشکه! دی (خاوند د)	عمل	ناکاره دی	نو سوال مه کوه له ما نه څخه	د هغه شی

نه دی له اهله ستا بیشکه! دی (خاوند د) عمل ناکاره دی نو سوال مه کوه له ما نه د هغه څیز (شی)

لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۖ إِنِّي أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٤٦﴾

لَيْسَ	لَكَ	بِهِ	عِلْمٌ	إِنِّي	أَعِظُكَ	أَن تَكُونَ	مِنَ الْجَاهِلِينَ
چی نه وی	تاته	په هغه شی کښی	څه علم پوه	بیشکه! زه	پند درکوم تاته	چی (نه) سی ته	له جاهلانو

چی نه وی تاته په هغه څیز کښی څه علم پوه، بیشکه! زه پند درکوم تاته چی (نه) سی ته له جاهلانو (په دی ناجائز سوال سره)

قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ

قَالَ	رَبِّ	إِنِّي	أَعُوذُ بِكَ	أَنْ أَسْأَلَكَ	مَا لَيْسَ	لِي بِهِ
وویل (نوح)	ای ربه زما	بیشکه! زه	پناه نیسم په تا پوری	له دی چی سؤال وکړم له تا څخه	د هغه شی چی نسته	ماته په هغه شی

وویل (نوح) ای ربه زما بیشکه! زه پناه نیسم په تا پوری له دی چی سؤال وکړم له تا نه د هغه شی چی نسته ماته په هغه شی

عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ.. دحضرت نوح عليه السلام کښتی اخر دجودي پر غره باندي ودریده: په دغه آیت کي الله جل جلاله فرمايي چي مځکي او اسمان حکم ومنی نو دطوفان قصه ختمه سوه او د حضرت نوح عليه السلام کښتی دجودي پر غره باندي ودريده او ظالمانو ته دهميشه دپاره درحمت څخه ليري وويل سوه: جودي غر نن سبا هم په دغه نامه سره قايم دی ددې محل وقوع دحضرت نوح عليه السلام داصلي وطن عراق دموصل په شمال کي دجزيره ابن عمر په خواه کي دآرمينيه پر سرحد باندي دايوه غريزه سلسله ده چي ديوې حصې نوم يي جودي دی دده يوې حصې ته ارارط ويل کيږي په موجوده تورات کي يي دکښتی ددريدو مقام دارارط غر ښوولی دی په دې دواړورو ايتونو کي څه داسي خاص تضاد نسته مگر په مشهورو پخوانيو تاريخونو کي هم دادي چي دحضرت نوح عليه السلام کښتی پر جودي غره باندي دريدلې وه اودا لاهم ذکر دي چي دعراق په ډيرو ځايونو کي ددې کښتی تکړې تر اوسه پوري موجود دي. (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۴۱)

عِلۡمٌ ؕ وَاِلَّا تَغۡفِرۡ لِیۡ وَتَرۡحَمۡنِیۡۤ اَکُنۡ مِّنَ الۡخٰسِرِیۡنَ ۝۴۷

عِلۡمٌ	وَاِلَّا تَغۡفِرۡ لِیۡ	وَتَرۡحَمۡنِیۡۤ	اَکُنۡ	مِّنَ الۡخٰسِرِیۡنَ
علم پوه	او که مغفرت ونه کړې ته ماته	او رحم ونه کړې پر ما	نو سم به زه	له زیانکارانو

علم پوه، او که مغفرت ونه کړې ته ماته او رحم ونه کړې پر ما نو سم به زه له زیانکارانو.

قِیۡلَ یٰنُوۡحُ اہۡبِطۡ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَکٰتٍ عَلَیۡکَ وَعَلٰۤی

قِیۡلَ	یٰنُوۡحُ	اہۡبِطۡ	بِسَلٰمٍ	مِّنَّا	وَبَرَکٰتٍ	عَلَیۡکَ	وَعَلٰۤی
وویل سو	ای نوحه	کښته سه	سره له سلامتی	له جانبه زموږ	او سره له برکتونو	پر تا	او پر

وویل سو ای نوحه کوز (کښته) سه (له دی بېړی) سره له سلامتی له جانبه زموږ او سره له برکتونو پر تا او پر

اُمَمٍ مِّمَّنۡ مَّعَکَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُہُمۡ ثُمَّ یَمَسُّہُمۡ

اُمَمٍ	مِّمَّنۡ	مَّعَکَ	وَاُمَمٌ	سَنُمَتِّعُہُمۡ	ثُمَّ	یَمَسُّہُمۡ
ځو فرقو	له هغه چانه	چي له تا سره دي	او څه نوري فرقې دي	ژر به نفع ورکړو هغو ی ته	بیا به	ورسیږی دوی ته

ځو فرقو له هغه چا نه چي له تا سره دي، او څه نوري فرقې (کافری) ژر به نفع ورکړو هغو ی ته بیا به ورسیږی دوی ته زموږ

مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ۝۴۸ تِلۡکَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ الۡغَیۡبِ نُوۡحِیۡہَاۤ اِلَیۡکَ ۚ

مِّنَّا	عَذَابٌ	اَلِیۡمٌ	تِلۡکَ	مِنۡ اَنۡۢبَآءِ	الۡغَیۡبِ	نُوۡحِیۡہَاۤ	اِلَیۡکَ
زموږ له جانبه	عذاب	دردناک	دغه	له ځینو اخبارونو	دغیب ده	چي رالیږو هغه	تاته

له جانبه عذاب دردناک. دغه (قصه د نوح) له ځینو اخبارونو د غیب ده چي رالیږو هغه (اخبار) تاته (ای محمده!)

مَا کُنۡتَ تَعۡلَمُہَاۤ اَنۡتَ وَلَا قَوۡمُکَ مِنۡ قَبۡلِ ہٰذَا ۚۛ فَاصۡبِرۡ ۚۛ

مَا کُنۡتَ	تَعۡلَمُہَاۤ	اَنۡتَ	وَلَا قَوۡمُکَ	مِنۡ قَبۡلِ	ہٰذَا	فَاصۡبِرۡ
نه وی ته	چي پوهیدلې په دی قصی	ته	او نه قوم ستا	پخوا	له دی	نو صبر کوه

نه وی ته چي پوهیدی په دی قصی (نه) ته او نه قوم ستا پخوا له دی (اخبار زموږ) نو صبر کوه

ع ۴ اِنَّ الۡعَاقِبَۃَ لِلۡمُتَّقِیۡنَ ۝۴۹ وَاِلٰی عَادٍ اَخَاہُمۡ

اِنَّ	الۡعَاقِبَۃَ	لِلۡمُتَّقِیۡنَ	وَاِلٰی	عَادٍ	اَخَاہُمۡ
بیشکه! چي	عاقبت	دپاره د پرهیزګارانو ده	او لیږلی ؤ موږ	قوم دعاد ته	وروړ د دوی

بیشکه! چي عاقبت (ښه خاتمه) دپاره د پرهیزګارانو ده. او لیږلی ؤ موږ قوم دعاد ته (قومی) وروړ د دوی

وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُہُمۡ ثُمَّ یَمَسُّہُمۡ مِّنَّا عَذَابٌ.

ددنیا سلامتیا او برکت خو دالله ﷻ بې دریغه سترخوان د په دغه آیت کي الله ﷻ فرمایي چي ددنیا سلامتیا او برکت خو زما د طرفه څخه بې دریغه سترخوان دی چي دوست او دښمن ټول یې خوري او چیښي په دي کي به هغه خلګ هم شامل وي کم چي دحضرت نوح ؑ په اولاد کي کفر اختیاره کي لیکن دآخرت نجات او فلاح دا به صرف دمومنانو دپاره خاص وي کافر ته به دده دنیک عمل بدله په دنیا کي ورکول سي حساب به یې باقي سي په آخرت کي به دده دپاره بغیر دعذاب څخه نور هیڅ نه وي: دطوفان نوح دا تفصیلي خبرونه نبي کریم ﷺ په ذریعه دوحي معلوم کړل او خپل قوم ته یې واورول نو دا واقعه په خپله دنبي کریم ﷺ په حقه دنبي کیدو یو شهادت جوړ سو په دې دپوهولو دپاره په ورپسې آیت کي الله ﷻ ارشاد فرمایي چي حضرت نوح ؑ او دده دطوفان واقعات دادغیبو خبرونه دي چي دانه تا دمخکي څخه پیژندل او نه ستا قوم عرب ددې څخه خبر وه الخ (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۴۸)

هُوْدًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ

غَيْرُهٗ	مِّنْ اِلٰهٍ	مَا لَكُمْ	اللّٰهَ	اعْبُدُوا	يٰقَوْمِ	قَالَ	هُوْدًا
غير له الله څخه	هيڅ برحق معبود	نشته تاسي ته	دالله	عبادت كوئ	اى قومه زما	وويل	هود

هود، وويل (هود) اى قومه زما عبادت كوئ (يوائحى) دالله، نشته تاسي ته هيڅ برحق معبود غير له الله څخه

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ۝٥٠ يٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ

عَلَيْهِ	لَآ اَسْـَٔلُكُمْ	يٰقَوْمِ	اِلَّا مُفْتَرُوْنَ	اِنْ اَنْتُمْ
پردى تبليغ د رسالت	نه غواړم له تاسى	اى قومه زما	مگر دروغ تړونكى	نه يئ تاسى

نه يئ تاسى مگر دروغ تړونكى پر الله. اى قومه زما نه غواړم له تاسى پردى تبليغ د رسالت

اَجْرًا ؕ اِنْ اَجْرِىَ اِلَّا عَلَى الَّذِىْ فَطَرَنِىْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝٥١

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ	فَطَرَنِىْ	عَلَى الَّذِىْ	اِلَّا	اِنْ اَجْرِىَ	اَجْرًا
آيا نو عقل نه كوئ تاسى	چى پيدا كړى ئى يم زه	پر هغه الله	مگر	نه دى اجر زما	څه اجر

څه اجر (مزدورى)، نه دى اجر زما مگر پر هغه الله چى پيدا كړى ئى يم زه، آيا نو عقل نه كوئ تاسى.

وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُرْسِلِ

يُرْسِلِ	اِلَيْهِ	تُوْبُوْٓا	ثُمَّ	رَبَّكُمْ	اسْتَغْفِرُوْا	وَيٰقَوْمِ
چى وبه ليږى (له)	په طرف د دغه (الله)	رجوع وكړئ	بيا	له رب خپل	مغفرت وغواړئ	او اى قومه زما

او اى قومه زما مغفرت وغواړئ (له شركه) له رب خپل بيا رجوع وكړئ په طرف د دغه (الله) چى وبه ليږى (الله له جانبه د)

السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ

قُوَّتِكُمْ	اِلٰى	قُوَّةً	وَّيَزِدْكُمْ	مِّدْرَارًا	عَلَيْكُمْ	السَّمَآءَ
قوت ستاسى	پر	قوت	او درزيات به كړى الله تاسى ته	(باران) اوريدونكى	پر تاسى	آسمانه

آسمانه پر تاسى (باران) اوريدونكى (په شيبو شيبو) او درزيات به كړى الله تاسى ته قوت پر قوت ستاسى

وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ۝٥٢ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ

بِبَيِّنَةٍ	مَا جِئْتَنَا	يٰهُوْدُ	قَالُوْا	مُجْرِمِيْنَ	وَلَا تَتَوَلَّوْا
دليل ښكاره	نه دى راوړى تا موږ ته	اى هوده	وويل دوى	حال دا چى گنهگاران او سيږئ	او مخ مه گرځوئ تاسى

او مخ مه گرځوئ تاسى حال دا چى گنهگاران او سيږئ. وويل دوى اى هوده نه دى راوړى تا موږ ته دليل ښكاره (ظاهر)

يٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ اَجْرِىَ.. دسورت هــود پــه دغــه ذكــر سوويوولســو ايــاتونوكي دحضرت هود ﷺ ذكردى: په دغه راروانو اياتونو كي الله ﷻ دخپل يو پيغمبر حضرت هود ﷺ ذكر كړى دى دكم نبي په نامه سره چي دا سورت مسمى سوى هم دى په دغه سورت هود كي الله ﷻ دحضرت نوح ﷺ څخه واخله تر حضرت موسى ﷺ پوري دقرآن كريم په خاص طرز كي داوو ٧ پيغمبرانو او ددوى دامتونو واقعاتي ذكر كړيدي چي په دي كي دعبرت داسي نښي نښاني سته چي په كم زړه كي يوه ذره هم عقل او شعور او ژوند باقي وي هغه بغير دمتاثره كيدونه سي پاته كيداى: دعبرت څخه علاوه دايمان او نيك عمل ډير اصول ،او فروع ،او دانسان دپاره ښه هدايتونه پكښي موجود دي قصي او واقعاتي خو په دي سورت كي داوو ٧ پيغمبرانو ليكلي دي مگر دا سورت په نامه دحضرت هود ﷺ سره منسوبه سوى دى ددي څخه معلوميږي چي په دي سورت كي دحضرت هود ﷺ قصي ته يو خاص اهميت حاصل دى: پاته بيان پر راروان مخ وگورى

وَّمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيۡۤ اٰلِهَتِنَا عَنۡ قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ

لَكَ	وَمَا نَحۡنُ	عَنۡ قَوۡلِكَ	اٰلِهَتِنَا	بِتَارِكِيۡۤ	وَّمَا نَحۡنُ
پرتا باندی	او نه یو موږ	له جهته د وینا ستا	د خدایانو خپلو	پریښودونکی	او نه یو موږ

او نه یو موږ پریښودونکی د (عبادت د) خدایانو خپلو له جهته د وینا ستا او نه یو موږ پر تا باندی

بِمُؤۡمِنِيۡنَ ۞ اِنۡ نَّقُوۡلُ اِلَّا اعۡتَرٰىكَ بَعۡضُ اٰلِهَتِنَا

اٰلِهَتِنَا	بَعۡضُ	اِلَّا اعۡتَرٰىكَ	اِنۡ نَّقُوۡلُ	بِمُؤۡمِنِيۡنَ
خدایانو زموږ	ځینو	مگر چی رسولی دی تاته	نه وایو موږ	ایمان راوړونکی

ایمان راوړونکی (نبوت ستا). نه وایو موږ مگر (دا لفظ وایو) چی رسولی دی تاته ځینو خدایانو زموږ

بِسُوۡٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّيۡۤ اُشۡهِدُ اللّٰهَ وَاشۡهَدُوۡۤا اَنِّيۡ بَرِيۡٓءٌ

بَرِيۡٓءٌ	اَنِّيۡ	وَاشۡهَدُوۡۤا	اللّٰهَ	اُشۡهِدُ	اِنِّيۡۤ	قَالَ	بِسُوۡٓءٍ
بیزاریم	چی بیشکه! زه	او شاهدان سئ تاسی	الله	شاهد کوم	بیشکه! زه	نو وویل هود	څه ضرر

څه ضرر (لیونتوب) ، نو وویل هود بیشکه! زه شاهد کوم الله او شاهدان سئ تاسی (هم) چی بیشکه! زه بیزاریم

مِّمَّا تُشۡرِكُوۡنَ ۞ مِنۡ دُوۡنِهٖ فَكِيۡدُوۡنِيۡ جَمِيۡعًا ثُمَّ

ثُمَّ	جَمِيۡعًا	فَكِيۡدُوۡنِيۡ	مِنۡ دُوۡنِهٖ	تُشۡرِكُوۡنَ	مِّمَّا
بیا	ټول	نو حیلی جوړی کړئ تاسی ماته	غیر له الله	چی شریکوئی تاسی	له هغو خدایانو

له هغو خدایانو چی شریکوئی. غیر له الله نو حیلی (تبیرونه) جوړی کړئ تاسی (هلاک) زما ته ټول بیا

لَا تُنۡظِرُوۡنِ ۞ اِنِّيۡ تَوَكَّلۡتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيۡ وَرَبِّكُمۡ ؕ

وَرَبِّكُمۡ	رَبِّيۡ	عَلَى اللّٰهِ	تَوَكَّلۡتُ	اِنِّيۡ	لَا تُنۡظِرُوۡنِ
او رب ستاسی دی	چی رب زما	پر الله	توکل کړی دی	بیشکه! ما	نو مهلت مه راکوئ ماته

نو مهلت مه راکوئ ماته بیشکه! ما توکل کړی دی پر (هغه) الله چی رب زما او رب ستاسی دی،

مَا مِنۡ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا ؕ اِنَّ رَبِّيۡ عَلٰى صِرَاطٍ

صِرَاطٍ	عَلٰى	رَبِّيۡ	اِنَّ	بِنَاصِيَتِهَا	اٰخِذٌۢ	اِلَّا هُوَ	مَا مِنۡ دَآبَّةٍ
لاره	په	رب زما	بیشکه!	له (ویښتو) تندی د ده	دی نیوونکی	مگر هم دغه (الله)	نسته هیڅ تلونکی

نسته هیڅ تلونکی (ذی روح) مگر هم دغه (الله) دی نیوونکی له (ویښتو د تندی) د ده، بیشکه! رب زما په لاره

بِتَارِكِيۡۤ اٰلِهَتِنَا عَنۡ قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وکورئ: الله ﷻ حضرت هود ﷺ د عادیانو قوم ته لیږلی وو داقوم دخپل شکل او صورت قوت په اعتبار سره په ټوله دنیا کي ممتاز ګڼل کیدی حضرت هود ﷺ هم ددې قوم څخه یو فرد وو په لفظ د (اخاهم هودا) کي یې دې طرف ته اشاره وکړه مګر دې دومره قوي اوبهادر قوم افسوس چي خپل عقل او فکر ورک کړی وو او دخپلو لاسونو تراش سوو ډبرو او بتانوته به یې خپل معبودان ویل: حضرت هود ﷺ چي کم دعوت ددین خپل قوم ته وړاندي کړی ددې درې اصولي خبرې په اولو درو ایاتونو کي ذکر دي. اول دتوحید دعوت او دا چي دالله ﷻ څخه ما سوا څوک لائق دعبادت ګڼل دروغ او دځانه جوړول دي دوهم داچي ما کم دعوت دتوحید راوړی دی اوددې دپاره مي خپل ژوند وقف کړی دی تاسي دا سوچ وکړی او ځان پوه کړی چي ما دا محنت او مشقت ولي اختیاره کړی دی ؟ نه زه ستاسي څخه ددې خدمت یو معاوضه غواړم .... پاته بیان پر راروان مخ وګوری

مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّا أُرْسِلْتُ بِهِ

مُّسْتَقِيمٍ	فَإِن	تَوَلَّوْا	فَقَدْ	أَبْلَغْتُكُم	مَّا أُرْسِلْتُ	بِهِ
سمه برابره دی	نو که	مخ واړوئ تاسی	نو په تحقیق	رسولی دی ما تاسی ته	هغه پیغام چی را لیږلی سوی وم	په هغه سره

سمه برابره دی. نو که مخ واړوئ تاسی نو په تحقیق رسولی دی ما تاسی ته هغه پیغام چی را لیږلی سوی وم په هغه سره

إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُ

إِلَيْكُمْ	وَيَسْتَخْلِفُ	رَبِّي	قَوْمًا	غَيْرَكُمْ	وَلَا تَضُرُّونَهُ
تاسی ته	او خلیفه به وګرځوی	رب زما	یو قوم	غیر له تاسی	او ضرر به ونه رسوئ تاسی الله ته

تاسی ته او خلیفه به وګرځوی رب زما (را به ولی ستاسی په ځای) یو قوم غیر له تاسی. او ضرر به ونه رسوئ تاسی الله ته

شَيْئًا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾ وَلَمَّا جَاءَ

شَيْئًا	إِنَّ	رَبِّي	عَلَىٰ	كُلِّ شَيْءٍ	حَفِيظٌ	وَلَمَّا	جَاءَ
دهیڅ شی	بیشکه!	رب زما	پر	هر شی (څیز)	بنه ساتوونکی دی	او کله چی	راغی

دهیڅ څیز، بیشکه! رب زما پر هر شی بنه ساتوونکی (شاهد) دی. او کله چی راغی

أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ

أَمْرُنَا	نَجَّيْنَا	هُودًا	وَالَّذِينَ	آمَنُوا	مَعَهُ	بِرَحْمَةٍ
امر زموږ	نجات مو ورکړ	هود	او هغه کسانو ته	چی ایمان ئی راوړی ؤ	له ده سره	په رحمت سره

امر (حکم عذاب) زموږ نجات مو ورکړ هود د او هغه کسانو ته چی ایمان ئی راوړی ؤ له ده سره (له هغه عذابه) په رحمت سره

مِّنَّا وَنَجَّيْنَاهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ عَادٌ ۖ جَحَدُوا

مِّنَّا	وَنَجَّيْنَاهُم	مِّنْ عَذَابٍ	غَلِيظٍ	وَتِلْكَ	عَادٌ	جَحَدُوا
له نزده خپله	او نجات مو ورکړ او وساتل موږ دوی	له عذابه	سخته	او دغه	عادیان دی	چی منکران سوی ؤ

له نزده خپله او نجات مو ورکړ او وساتل موږ دوی له عذابه سخته. او دغه(په قبرونو کښی) عادیان دی چی منکران سوی ؤ

بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوا أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ

بِآيَاتِ	رَبِّهِمْ	وَعَصَوْا	رُسُلَهُ	وَاتَّبَعُوا	أَمْرَ	كُلِّ	جَبَّارٍ
په آیتونو	درب خپل	اونافرمانی کړی وه دوی	له رسولانو د دغه (الله)	او تابع سوی ؤ دوی	د امر	دهر	سرکښه

په آیتونو د رب خپل او نافرمانی کړی وه دوی له رسولانو د دغه (الله) او تابع سوی ؤ دوی د امر دهر سرکښه

فَإِن تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّا أُرْسِلْتُ بِهِ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: اونه ماته ستاسي دطرفه څخه یو مادي فائده رسیږي که چیري ما دا دالله ﷻ فرمان او حق نه ګڼلای نو آخر ضرورت څه وو چي تاسي ته په دعوت درکولو او ستاسي په اصلاح کولو کي دومره محنت برداشت کوم: دریمه خبره یي دا فرمایلي ده چي په خپل تیر ژوندکي کم کفر او ګناه تاسي کړیده دالله ﷻ څخه دهغه مغفرت غواړئ او په راتلونکي ژوندکي ددي ټولو ګناهونو څخه توبه وباسی یعني ددي پخه اراده وکړئ چي اوس به نه نژدي کیږئ ورته که تاسي دا داستغفار اوتوبي عمل وکئ نو ددي په نتیجه کي به دآخرت همیشه کامیابي خو به درکول کیږي بلکي په دنیا کي به هم ددي لویي فائدي ووینئ یوه دا چي په توبه او استغفار سره به ستاسي قحط او نیستي لیري سي پر وخت به بنه باران وسي چي ستاسي په رزق کي به فراخي راسي دوهم دا چي ستاسي طاقت او قوت به زیات سي: دلته دطاقت او قوت لفظ عام دی چي بدني صحت او قوت هم په کښي داخل دی: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

عَنِيۡدٍ ۝۵۹ وَاُتۡبِعُوۡا فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا لَعۡنَةً وَّيَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ

عَنِيۡدٍ	وَاُتۡبِعُوۡا	فِىۡ هٰذِهِ	الدُّنۡيَا	لَعۡنَةً	وَّيَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ
عناد كرد	او وليږلى سو	په دغى	دنيا كښى	لعنت (چې هلاک كړ سول په سخت باد)	او په ورځ	د قيامت كښى

عناد والا. او وليږلى سو (په دوى پسى) په دغى دنيا كښى لعنت او په ورځ دقيامت كښى (هم په او ركښى سوځى)

اَلَاۤ اِنَّ عَادًا كَفَرُوۡا رَبَّهُمۡ ؕ اَلَا بُعۡدًا لِّعَادٍ

اَلَاۤ	اِنَّ	عَادًا	كَفَرُوۡا	رَبَّهُمۡ	اَلَا بُعۡدًا	لِّعَادٍ
خبردار سئ	بيشكه!	عاديان	كافران سوى ؤ	په رب خپل	بيا واورئ خبردار سئ چې لرى والى دى	عاد

خبردار سئ بيشكه! عاديان كافران سوى ؤ په رب خپل، بيا واورئ خبردار سئ چې لرى والى دى (له رحمته دالله) عاد

قَوۡمِ هُوۡدٍ ۝۶۰ ع وَاِلٰى ثَمُوۡدَ اَخَاهُمۡ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوۡمِ

قَوۡمِ	هُوۡدٍ	وَاِلٰى ثَمُوۡدَ	اَخَاهُمۡ	صٰلِحًا	قَالَ	يٰقَوۡمِ
قوم	دهود ته	او ثموديانو ته	ورور د دوى	صالح	وى ويل	اى قومه زما

قوم د هود ته. او (ليږلى ؤ موږ) ثموديانو ته (قومى) ورور د دوى صالح. وى ويل اى قومه زما

اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَـكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَيۡرُهٗ ؕ هُوَ اَنۡشَاَكُمۡ

اعۡبُدُوا	اللّٰهَ	مَا لَـكُمۡ	مِّنۡ اِلٰهٍ	غَيۡرُهٗ	هُوَ	اَنۡشَاَكُمۡ
عبادت كوئ	دالله	نسته تاسى ته	هيڅ برحق معبود	غير له ده	هم دغه (الله)	پيدا كړى يئ تاسى

عبادت كوئ (يوائځې) دالله نسته تاسى ته هيڅ برحق معبود غير له ده، هم دغه (الله) پيدا كړى يئ تاسى

مِّنَ الۡاَرۡضِ وَاسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيۡهَا فَاسۡتَغۡفِرُوۡهُ ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا

مِّنَ الۡاَرۡضِ	وَاسۡتَعۡمَرَكُمۡ	فِيۡهَا	فَاسۡتَغۡفِرُوۡهُ	ثُمَّ	تُوۡبُوۡۤا
له مځكى	او اوږده عمرونه ئې دركړى دى تاسى ته	په دغى كښى	نو مغفرت وغواړئ له ده څخه	بيا	رجوع وكړئ

له مځكى او اوږده عمرونه ئې دركړى دى تاسى ته په دغى (مځكى) كښى نو مغفرت وغواړئ له ده څخه بيا رجوع وكړئ

اِلَيۡهِ ؕ اِنَّ رَبِّىۡ قَرِيۡبٌ مُّجِيۡبٌ ۝۶۱ قَالُوۡا يٰصٰلِحُ قَدۡ كُنۡتَ

اِلَيۡهِ	اِنَّ	رَبِّىۡ	قَرِيۡبٌ	مُّجِيۡبٌ	قَالُوۡا	يٰصٰلِحُ	قَدۡ	كُنۡتَ
ده ته	بيشكه!	رب زما	ډير نژدې دى	بنه قبلوونكى د دعا دى	وويل ثموديانو	اى صالحه!	په تحقيق	وى ته

ده ته، بيشكه! رب زما ډير نژدې دى بنه قبلوونكى د دعادى. وويل ثموديانو اى صالحه! په تحقيق وى ته

وَاُتۡبِعُوۡا فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا لَعۡنَةً وَّيَوۡمَ... دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:

اوهغه طاقت هم كم چي دمال او اولاد په ډيروالي سره انسان ته حاصليږي: ددې څخه معلومه سوه چي دګناهونو څخه دتوبې او استغفار خاصه داده چي په دنيا كي هم په رزق كي فراخي او په مال او اولاد كي بركت وي: دحضرت هود عليه السلام قوم دده د دعوت دغه جواب په خپل جاهلانه طريقې سره وركى چي تا موږ ته دسره يوه معجزه ښوولې نه ده دا خو صرف زباني خبره ده په دې وجه موږ ستا په دې وينا باندې خپل معبودان نه سو پريښوولى او پر تا ايمان نه راوړو بلكي زموږ خيال خودادى چي زموږ معبودانو او بتانو ته دبدو ردو ويلو په وجه سره ته په يودماغي خرابى كي اخته سوى يې په دې وجه داسي خبري كوې ددې په جواب كي حضرت هود عليه السلام ورته وفرمايل چي كه تاسي زما دا خبره نه منى نو واورى چي زه الله جل جلاله شايد كوم او تاسي هم شاهد سى چي زه دالله جل جلاله څخه ماسوا دنورو ټولو معبودانو څخه بيزاره يم اوس نو تاسي سره يو ځاى سى هر څه چي كوى سى زما خلاف يې وكړى الخ. (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص ۵۵)

فِيۡنَا مَرۡجُوًّا قَبۡلَ هٰذَاۤ اَتَنۡهٰىنَاۤ اَنۡ نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ

فِيۡنَا	مَرۡجُوًّا	قَبۡلَ	هٰذَاۤ	اَتَنۡهٰىنَاۤ	اَنۡ نَّعۡبُدَ	مَا يَعۡبُدُ
په موږ کښې	امید کړی سوی	پخوا	له دې	آیا ته مو منع کوې	له دې چې عبادت وکړو	دهغو بتانو چې عبادت به ئې کاوه

په موږ کښې امید کړی سوی پخوا له دې آیا ته مومنع کوې له دې چې عبادت وکړو دهغو بتانو چې عبادت به ئې کاوه

اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيۡ شَكٍّ مِّمَّا تَدۡعُوۡنَاۤ اِلَيۡهِ مُرِيۡبٍ ﴿٦٢﴾

اٰبَآؤُنَا	وَاِنَّنَا	لَفِيۡ شَكٍّ	مِّمَّا	تَدۡعُوۡنَاۤ	اِلَيۡهِ	مُرِيۡبٍ
پلرونو زموږ	او بیشکه! موږ	خامخا په شک کښې لویدلي یو	له هغه توحیده	چې ته بولې موږ	هغه ته	چې واقع کوونکی دی د اضطراب

پلرونو زموږ او بیشکه موږ خامخا په شک کښې لویدلي یو له هغه توحیده چې ته بولې موږ هغه ته چې واقع کوونکی دی د اضطراب

قَالَ يٰقَوۡمِ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ كُنۡتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنۡ رَّبِّيۡ

قَالَ	يٰقَوۡمِ	اَرَءَيۡتُمۡ	اِنۡ كُنۡتُ	عَلٰى	بَيِّنَةٍ	مِّنۡ	رَّبِّيۡ
وویل (صالح)	ای قومه زما	آیا وینئ تاسې	که یم زه	په	(دلیل) ښکاره	له جانبه	د رب خپل

وویل (صالح) ای قومه زما آیا و ینئ تاسې یعنې خبر راکړئ ماته که یم زه په (برهان) ښکاره له جانبه د رب خپل

وَاٰتٰىنِيۡ مِنۡهُ رَحۡمَةً فَمَنۡ يَّنۡصُرُنِيۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ

وَاٰتٰىنِيۡ	مِنۡهُ	رَحۡمَةً	فَمَنۡ	يَّنۡصُرُنِيۡ	مِنَ	اللّٰهِ	اِنۡ
او راکړی ئې وي ماته	له نزده خپله	رحمت	نو څوک به	مدد وکړي له ماسره	له عذابه	د الله	که

او راکړی ئې وي ماته له نزده خپله رحمت (نبوت) نو څوک به مدد وکړي له ماسره له عذابه د الله که

عَصَيۡتُهٗ فَمَا تَزِيۡدُوۡنَنِيۡ غَيۡرَ تَخۡسِيۡرٍ ﴿٦٣﴾ وَيٰقَوۡمِ هٰذِهٖ

عَصَيۡتُهٗ	فَمَا تَزِيۡدُوۡنَنِيۡ	غَيۡرَ تَخۡسِيۡرٍ	وَيٰقَوۡمِ	هٰذِهٖ
نافرماني وکړم زه له ده څخه	نو نه به زیاتوئ ماته	غیر له نقصانه	او ای قومه زما	دا

نافرماني وکړم زه له ده څخه، نو نه به زیاتوئ ماته غیر له نقصانه. او ای قومه زما دا

نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمۡ اٰيَةً فَذَرُوۡهَا تَاۡكُلۡ فِيۡۤ اَرۡضِ اللّٰهِ

نَاقَةُ	اللّٰهِ	لَكُمۡ	اٰيَةً	فَذَرُوۡهَا	تَاۡكُلۡ	فِيۡۤ اَرۡضِ	اللّٰهِ
اوښه	د الله ده	تاسې ته	معجزه	نو پریږدئ دا	چې خوري	په مځکه	د الله کښې

اوښه د الله ده (چې پیدا کړې ئې ده) تاسې ته معجزه نو پریږدئ دا چې خوري په مځکه د الله کښې (له مباحو وښو څخه)

اَتَنۡهٰىنَاۤ اَنۡ نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ اٰبَآؤُنَا ... حضرت صالح عليه السلام الله جل جلاله دقوم عاد دوهم ښاخ یعني قوم ثمود ته لیږلی وو: په دغه ایاتونوکي الله جل جلاله د حضرت صالح عليه السلام قصه ذکر کړیده کم چي الله جل جلاله دقوم ثمود طرف ته ددوی داصلاح او هدایت دپاره لیږلی وودوی هم خپل قوم ته دټولو څخه دمخه دتوحید دعوت ورکی قوم یي دعادت موافق دی درواغجن کړی اوداضد یي ونیوي چي موږ به ستا دنبوت حقوالی هلته ومنو چي کله ته زموږ په مخکي ددې غر دیو لویي ګاري څخه یوه اوښه راوباسي: جضرت صالح عليه السلام دوی وبیرول چي ستاسي غوښتلې معجزه که الله جل جلاله ښکاره کړه او بیا هم تاسي په ایمان راوړو کي کوتاهي وکړه نو دالله جل جلاله دعادت موافق به پر تاسي عذاب راسي او ټول به هلاک او برباد سی مګر دوی دخپل ضد څخه واپس نه سول الله جل جلاله ددوی غوښتلې معجزه په خپل قدرت سره ور ښکاره کړه دهغه غره تړه (ګاره) وچاوده ددوی په غوښتلي صفتونو سره اوښه تر راووتله الله جل جلاله حکم وکی چي دې اوښي ته دي څوک تکلیف نه رسوي: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيْبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوْهَا

وَلَا تَمَسُّوْهَا	بِسُوْٓءٍ	فَيَاْخُذَكُمْ	عَذَابٌ	قَرِيْبٌ	فَعَقَرُوْهَا
او لاس مه وروړئ دی ته	په بدی	نو وبه نیسی تاسی	عذاب	نژدی	پس زخمی او مړه ئی کړه غه (اوښه)

او لاس مه وروړئ دی ته په بدی ، نو وبه نیسی تاسی عذاب نژدی . پس زخمی او مړه ئی کړه هغه (اوښه)

فَقَالَ تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ

فَقَالَ	تَمَتَّعُوْا	فِيْ دَارِكُمْ	ثَلٰثَةَ	اَيَّامٍ	ذٰلِكَ
نو وویل صالح	فائده واخلئ تاسی	په کورونو خپلو کښی	دری	ورځی	دا داسی

نو وویل صالح فائده واخلئ تاسی په کورونو خپلو کښی دری ورځی (له ژوندانه څخه) ، دا داسی (راتګ دعذاب پر تاسی)

وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا

وَعْدٌ	غَيْرُ مَكْذُوْبٍ	فَلَمَّا	جَآءَ	اَمْرُنَا	نَجَّيْنَا	صٰلِحًا
وعده ده	چی هیڅ دروغ پکښی نسته	بیا کله چی	راغلی	امر زموږ	نو نجات ورکړ موږ	صالح ته

وعده ده چی هیڅ دروغ پکښی نسته . بیا کله چی راغلی امر (حکم عذاب) زموږ نو نجات ورکړ موږ صالح ته

وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ؕ

وَّالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مَعَهٗ	بِرَحْمَةٍ	مِّنَّا	وَمِنْ	خِزْيِ	يَوْمِئِذٍ
او هغو کسانو ته	چی ایمان ئی راوړی ؤ	له ده سره	په رحمت سره	له نزده خپله	او له	رسوائی	د دغی ورځی

او هغو کسانو ته چی ایمان ئی راوړی ؤ له ده سره په رحمت سره له نزده خپله او له رسوائی د دغی ورځی ، یا د قیامت)

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ

اِنَّ	رَبَّكَ	هُوَ	الْقَوِيُّ	الْعَزِيْزُ	وَاَخَذَ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوا	الصَّيْحَةُ
بیشکه!	رب ستا	هم دی دی	قوی	بنه غالب	او ونیول	هغو کسانو لره	چی ظلم ئی کړی وو	چغی

بیشکه! رب ستا هم دی دی قوی بنه غالب . او ونیول هغو کسانو لره چی ظلم ئی کړی وو پر ځانونو خپلو چغی

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾

فَاَصْبَحُوْا	فِيْ دِيَارِهِمْ	جٰثِمِيْنَ
بیا سحر وګرځیدل دوی	په کورونو خپلو کښی	مړه پر ځنګنونو پر مخی پراته

(هیبتناکی دجبرئیل) بیا ګهیځ (سحر) وګرځیدل دوی په کورونو خپلو کښی مړه وچ کلک پر ځنګنونو پر مخی پراته.

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: که مو دې اوښي ته تکلیف ورسوی نو پر تاسي د الله جل جلاله عذاب راځي مګر دوی پر دې قائم پاته نه سول او اوښه یې هلاکه کړل آخر الله جل جلاله دوی ونیول حضرت صالح علیه السلام او دده مومنان ملګري دعذاب څخه خلاص سول باقي ټوله قوم دیو سخت هیبتناک آواز په ذریعه سره هلاک سول: په دې واقعه کي دحضرت صالح علیه السلام قوم ده ته وویل (قد کنت مرجوا قبل هذا) یعني ستا دنبوت ددعوې او دبت پرستی څخه دمنع کولو څخه مخکي موږ په تا پوري لوی لوی امیدونه تړلي وه چي ته به زموږ دقوم دپاره لوی مصلح او راهنما ثابت سي ددې وجه داده چي الله جل جلاله دخپلو پیغمبرانو پرورش د کوچنیوالي څخه په ډیرو پاکو اخلاقو او عادتونو کي کوي چي ددې په لیدو هر سړی دده سره محبت کوي او لوی یې ګڼي لکه چي دحضرت خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم هم دنبوت داعلان څخه مخکي په ټولو عربو کي ورته دامین خطاب ورکول سوی وو لیکن دنبوت په دعوی ور څخه ټول مخالف سول.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ص۵۸)

كَانْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَاۡ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ

كَانْ	لَّمْ يَغْنَوْا	فِيْهَا	اَلَآ	اِنَّ	ثَمُوْدَاۡ	كَفَرُوْا	رَبَّهُمْ
لكه چې	نه وو اوسيدلى دوى	په دى كورونو كښې	واورئ خبردار سئ	بيشكه!	ثموديان	كافران سوى ؤ	په رب خپل

لكه چې نه وو اوسيدلى دوى په دى كورونو كښې، واورئ خبردار سئ بيشكه! ثموديان كافران سوى ؤ په رب خپل

اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ

اَلَا بُعْدًا	لِّثَمُوْدَ	وَلَقَدْ	جَآءَتْ	رُسُلُنَآ	اِبْرٰهِيْمَ
واورئ خبردار سئ	لرى والى دى له رحمته ثموديانو ته	او هرومرو په تحقيق	راغلى وو	رسولان زموږ	ابراهيم ته

واورئ خبردار سئ لرى والى دى له رحمته ثموديانو ته. او هرومرو په تحقيق راغلى وو رسولان زموږ (ملائيكى) ابراهيم ته

بِالْبُشْرٰى قَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ

بِالْبُشْرٰى	قَالُوْا	سَلٰمًا	قَالَ	سَلٰمٌ	فَمَا لَبِثَ	اَنْ جَآءَ
په زيرى	نو وويل (ملائكو)	سلام	وويل (ابراهيم)	سلام	نو ځنډ ئى ونه كړ	چې رائى وړ

په زيرى، نو وويل (ملائكو) سلام (آچوو پر تاسى) وويل (ابراهيم) سلام (دى وى پر تاسى) نو ځنډ ئى ونه كړ چې رائى وړ

بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَآٰ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ

بِعِجْلٍ	حَنِيْذٍ	فَلَمَّا رَآٰ	اَيْدِيَهُمْ	لَا تَصِلُ	اِلَيْهِ	نَكِرَهُمْ
ګيلګى	كباب كړى سوى	نو كله چې وليد	(ابراهيم) لاسونه د دوى	چې نه رسيږى	دغى ته	نا اشنائى وګڼل دوى

(دوى ته) خسى سور كړى سوى. نو كله چې وليد (ابراهيم) لاسونه د دوى چې نه رسيږى دغى ته نا اشنا ئى وګڼل دوى

وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ

وَاَوْجَسَ	مِنْهُمْ	خِيْفَةً	قَالُوْا	لَا تَخَفْ	اِنَّآ	اُرْسِلْنَآ
او په زړه كښى ئى راوسته	له دوى څخه	ويره	وويل (ملائكو)	چې مه ويريږه	بيشكه!	چې موږ ليږلى سوى يو

او په زړه كښى ئى راوسته له دوى څخه ويره، وويل (ملائكو) چې مه ويريږه بيشكه! چې موږ ليږلى سوى يو

اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٠﴾ وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنٰهَا

اِلٰى قَوْمِ	لُوْطٍ	وَامْرَاَتُهٗ	قَآئِمَةٌ	فَضَحِكَتْ	فَبَشَّرْنٰهَا
قوم	د لوط ته	او ښځه د دغه (ابراهيم)	ولاړه وه	نو وئى خندل	نو زيرى وركړ موږ هغى ته

قوم د لوط ته (چې هلاک ئى كړو). او ښځه د دغه (ابراهيم ساره) ولاړه وه نو وئى خندل، نو زيرى وركړ موږ هغى ته

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى. الله جل جلاله ابراهيم عليه السلام ته ملايكي داولاد دزيري ورکولو دپاره راواستولي:

په دغه راروانو پنځه ايساتونوکي الله جل جلاله دحضرت خليل الله ابراهيم عليه السلام يوه واقعه ذکر کړيده چي الله جل جلاله دوی ته يو څو ملايکي داولاد دزيري ورکولو دپاره راواستولي ځکه چي حضرت ابراهيم عليه السلام دبي بي محترمي حضرت سارا رضي الله عنها څخه هيڅ اولاد نه درلودی او ددي داولاد ارزو هم وه مګر دواړه بوډاګان وه په ښکاره يي يو اميد هم نه وو الله جل جلاله دملايکو په ذريعه خوشخبري ورته واورولـه اوهغه هم په دي شان سره چي نارينه اولادبه وي او نوم يي هم ورته اسحاق وټاکی او بيا يي دا هم وفرمايله چي هغه به ژوندی هم وي او دهغه به هم اولاد وسي او دهغه دزوی نوم به يعقوب وي او دادواړه به دالله جل جلاله رسولان او پيغمبران وي داملايکي چونکي په انساني شکل کی راغلي وې په دي وجه حضرت ابراهيم عليه السلام دوی عام ميلمانه وګڼل او ميلمستوب يي ورته شروع کړی کباب سوې غوښه يي ورته راوړه (پاته بيان پر راروان مخ وګوری)

بِاِسۡحٰقَ ۙ وَمِنۡ وَّرَآءِ اِسۡحٰقَ يَعۡقُوۡبَ ﴿۷۱﴾ قَالَتۡ يٰوَيۡلَتٰۤى

بِاِسۡحٰقَ	وَمِنۡ وَّرَآءِ	اِسۡحٰقَ	يَعۡقُوۡبَ	قَالَتۡ	يٰوَيۡلَتٰۤى
په (تولد د) اسحٰق	او بيا پسله	اسحٰق	په يعقوب	نو وويل (ساره)	اى تعجب زما

په (تولد د) اسحٰق، او بيا پس له اسحٰق په(تولد د) يعقوب. نو وويل (ساره) اى تعجب زما آيا ځيږومه زه (ولد)

ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوۡزٌ وَّهٰذَا بَعۡلِىۡ شَيۡخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَىۡءٌ

ءَاَلِدُ وَاَنَا	عَجُوۡزٌ	وَّهٰذَا	بَعۡلِىۡ	شَيۡخًا	اِنَّ	هٰذَا	لَشَىۡءٌ
آيا ځيږومه زه او زه	زړه يمه	او دغه (ابراهيم)	ميړه زما دى	زوړ	بيشكه!	چې دغه	يو شى دى

حال دا چې زه زړه يمه (۹۹كلنه) او دغه (ابراهيم) ميړه زما دى زوړ (۱۰۰ يا ۱۲۰ كلن) بيشكه! چې دغه يو شى دى

عَجِيۡبٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوۡۤا اَتَعۡجَبِيۡنَ مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ رَحۡمَتُ اللّٰهِ

عَجِيۡبٌ	قَالُوۡۤا	اَتَعۡجَبِيۡنَ	مِنۡ اَمۡرِ	اللّٰهِ	رَحۡمَتُ	اللّٰهِ
ډير عجيب	وويل دغو (ملائيكو)	آيا تعجب كوى	له امره	دالله	رحمت	دالله دى

ډير عجيب (عادتاً نه قدرتاً) . وويل دغو (ملائيكو) آيا تعجب كوى له امره دالله؟ رحمت دالله دى

وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيۡكُمۡ اَهۡلَ الۡبَيۡتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيۡدٌ مَّجِيۡدٌ ﴿۷۳﴾

وَبَرَكٰتُهٗ	عَلَيۡكُمۡ	اَهۡلَ	الۡبَيۡتِ	اِنَّهٗ	حَمِيۡدٌ	مَّجِيۡدٌ
او بركتونه د ده دى وى	پر تاسى	اى خاوندانو	د كورونو	بيشكه! چې	الله ښه ستايلى سوى	ښه لوئ والا دى

او بركتونه د ده دى وى پر تاسى اى خاوندانو د كورونو دنبوت او خلت، بيشكه! چې الله ښه ستايلى سوى ښه لوئ والا دى.

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنۡ اِبۡرٰهِيۡمَ الرَّوۡعُ وَجَآءَتۡهُ الۡبُشۡرٰى

فَلَمَّا	ذَهَبَ	عَنۡ	اِبۡرٰهِيۡمَ	الرَّوۡعُ	وَجَآءَتۡهُ	الۡبُشۡرٰى
نو كله چې	لاړه	له	ابراهيم څخه	ويره	او راغى ده ته	زيرى

نو كله چې لاړه له ابراهيم څخه ويره او راغى ده ته زيرى (دځوى او اهلاک د قوم د لوط)

يُجَادِلُنَا فِىۡ قَوۡمِ لُوۡطٍ ﴿۷۴﴾ اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ لَحَلِيۡمٌ اَوَّاهٌ

يُجَادِلُنَا	فِىۡ قَوۡمِ	لُوۡطٍ	اِنَّ	اِبۡرٰهِيۡمَ	لَحَلِيۡمٌ	اَوَّاهٌ
نو بيا ئى جګړه كوله زموږ سره	په (حق) د قوم	دلوط كښې	بيشكه!	ابراهيم	خامخا تحمل والا	آه كوونكى

نو بيا ئى جګړه كوله (له رسولانو) زموږ سره په (حق) د قوم دلوط كښې . بيشكه! ابراهيم خامخا تحمل والا آه كوونكى

قَالَتۡ يٰوَيۡلَتٰۤى ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوۡزٌ...دتير مخ پاته بيان

دلته وګورى: او په مخكې يې دا غوښه ورته كښېښوله مګر هغوى خو په حقيت كې ملايكې وې دخوړلو او څښلو څخه پاكې وې نو سره ددې چې خوراک مخكې ورته پروت وو خو لاس يې ورمخ ته نه كى حضرت ابراهيم عليه السلام چې داحال وليدى نو ويره يې پيدا سوه چې دا خو ميلمانه نه معلوميږي ممكنه ده چې دڅه فساد په نيت راغلي وي ملايكو دده دا ويره معلومه كړه نو خبره يې ښكاره كړه او وې ويل چې موږ ملايكې يو ته بيريږه مه موږ تاته داولاد دزيري كولو څخه علاوه ديو بل كار دپاره هم راغلي يو چې دحضرت لوط عليه السلام پر قوم باندې د عذاب نازلول دي دحضرت ابراهيم عليه السلام بي بي محترمه حضرت سارا دپردې څخه بلې خواته دا خبرې واوريدې كله چې ورته معلومه سوه چې داانسانان نه دي ملايكې دي نو دپردې ضرورت پاته نه سو اوبيا يې وخندل اووې ويل چې ايا زه به په دې زوړوالي كې اولادراوړم او دا زما خاوند هم بوډا دى ملايكو ورته وويل چې هو داد الله جل جلاله فيصله ده هم داسې به كيږي.
(معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۶۱)

مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ يٰۤاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ

مُّنِيْبٌ	يٰۤاِبْرٰهِيْمُ	اَعْرِضْ	عَنْ	هٰذَا	اِنَّهٗ	قَدْ	جَآءَ
لوی نرم زړه رجوع کوونکې ؤ	ای ابراهیم	واوړه	له	دی جګړې څخه	بیشکه! شان دادی	په تحقیق	راغلی دی

لوی نرم زړه رجوع کوونکی ؤ (الله ته) . ای ابراهیم واوړه له دی جګړې څخه ، بیشکه! شان دادی په تحقیق راغلی دی

اَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمْ اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿۷۶﴾ وَلَمَّا

اَمْرُ	رَبِّكَ	وَاِنَّهُمْ	اٰتِيْهِمْ	عَذَابٌ	غَيْرُ مَرْدُوْدٍ	وَلَمَّا
امر حکم	د رب ستا	او بیشکه! دوی	راتلونکی دی دوی ته	عذاب	چې نسی بیرته ګرځولی	او کله چې

امر حکم د رب ستا ، او بیشکه! دوی راتلونکی دی دوی ته عذاب چې نسی بیرته ګرځولی. او کله چې

جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

جَآءَتْ	رُسُلُنَا	لُوْطًا	سِيْٓءَ	بِهِمْ	وَضَاقَ	بِهِمْ	ذَرْعًا
راغلل	رسولان زموږ	لوط ته	نو غمجن سو	په هغو	او تنګه سوه	له جهته د دوی	سینه د ده

راغلل رسولان زموږ لوط ته نو غمجن سو (لوط) په هغو او تنګه سوه له جهته د دوی سینه د ده چې بې عزتی یې ونه سی

وَّقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ﴿۷۷﴾ وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ ؕ

وَّقَالَ	هٰذَا	يَوْمٌ	عَصِيْبٌ	وَجَآءَهٗ	قَوْمُهٗ	يُهْرَعُوْنَ	اِلَيْهِ
او وویل لوط	دغه	ورځ ده	ډېره سخته	او راغی ده ته	قوم د ده	حال دا چې راځغاسته	ده ته

او وویل لوط دغه ورځ ده ډېره سخته. او راغی ده ته قوم د ده حال دا چې راځغاسته ده ته (د پاره د بدکاری)

وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ قَالَ يٰقَوْمِ

وَمِنْ قَبْلُ	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	السَّيِّاٰتِ	قَالَ	يٰقَوْمِ
او پخوا	وو هغوی	چې عملونه ئې کول	د ناکارو کارونو !	نو وویل لوط	ای قومه زما

او پخوا (له دی نه هم) وو هغوی چې عملونه ئې کول د ناکارو کارونو ! نو وویل لوط ای قومه زما

هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ

هٰٓؤُلَآءِ	بَنَاتِيْ	هُنَّ	اَطْهَرُ لَكُمْ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَلَا تُخْزُوْنِ
دا ښځې	لوڼې زما دی	چې دوی	ښې پاکې دی تاسی ته	نو وېرېږئ	له الله	او مه رسوا کوئ ما

دا ښځې لوڼې زما دی (په نکاح ئې واخلئ) چې دوی ښې پاکې دی تاسی ته نو وېرېږئ له الله او مه رسوا کوئ ما

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ.. پر قوم دلوط عليه السلام دسخت عذاب دنازلیدو بیان: دحضرت لوط عليه السلام قوم د کافر کیدو څخه علاوه په یوه داسې خبیثه بدکاری او بې حیایي کې اخته وو چې په دنیا کې د دوی څخه مخکې ګرسره د دې نوم نه وو د کم څخه چې د ځنګل حیوان هم نفرت کوي چې سړی د سړي سره مخ تور کړي چې د دې عذاب او وبال د عامې بدکاری څخه په ډېرو درجو زیات دی په دې وجه پر دې قوم داسې سخت عذاب راغی کم چې په عامو بې حیایو او بدکاریو کوونکو باندې هیڅکله نه دی راغلی :

دحضرت لوط عليه السلام واقعه کمه چې په دې ایاتونو کې ذکر ده داسې ده چې الله جل جلاله خپلې څو ملایکې چې په دوی کې حضرت جبرآئیل عليه السلام هم وو پر دې قوم دعذاب نازلولو دپاره را ولیږلې کمې چې اول دحضرت ابراهیم عليه السلام خواته فلسطین ته ورسیدې چې واقعه یې په تیرو ایاتونو کې تیره سوه د دې څخه وروسته دغه فرشتې دحضرت لوط عليه السلام خواته راغلې چې مقام یې د دغه ځایه څخه د لس دوولس میله پر فاصله باندې پروت دی

:پاته بیان پر راروان مخ باندې وګورئ:

فِيْ ضَيْفِيْ ؕ اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ۞ قَالُوْا لَقَدْ

لَقَدْ	قَالُوْا	رَّشِيْدٌ	رَجُلٌ	مِنْكُمْ	اَلَيْسَ	فِيْ ضَيْفِيْ
هرومرو په تحقیق	وویل قوم د لوط	پوهنده	کوم سړی	له تاسی	آیا نسته	په حق د میلمنو زما کښی

په حق د میلمنو زما کښی، آیا نسته له تاسی کوم سړی پوهنده (نیک کرداره). وویل قوم د لوط هرومرو په تحقیق

عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ

لَتَعْلَمُ	وَاِنَّكَ	حَقٍّ	مِنْ	فِيْ بَنٰتِكَ	مَا لَنَا	عَلِمْتَ
خامخا پوهیږی	او بیشکه! ته	حاجت	هیڅ	په لوڼو ستا کښی	چی نسته موږ لره	پوه ئی ته

پوه ئی ته چی نسته موږ لره په لوڼو ستا کښی هیڅ حاجت، او بیشکه! ته خامخا پوهیږی

مَا نُرِيْدُ ۞ قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ

اِلٰى رُكْنٍ	اَوْ اٰوِيْٓ	قُوَّةً	لِيْ بِكُمْ	لَوْ اَنَّ	قَالَ	مَا نُرِيْدُ
پناه ځای	یا می پناه وړی سوی	زور	ماته پر تاسی	کاشکی وی	نو وویل لوط	په هغه کار چی موږئ غواړو

په هغه کار چی موږئ غواړو (لواطت). نو وویل لوط کاشکی وی ماته پر تاسی زور یا می پناه وړی سوی پناه ځای

شَدِيْدٍ ۞ قَالُوْا يٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَّصِلُوْٓا

لَنْ يَّصِلُوْٓا	رَبِّكَ	رُسُلُ	اِنَّا	يٰلُوْطُ	قَالُوْا	شَدِيْدٍ
له سره به ونه رسیږی دوی	درب ستا یو	رسولان	بیشکه! موږ	ای لوط!	وویل ملائیکو	مستحکم ته

مستحکم ته. وویل ملائیکو ای لوطه! بیشکه! موږ رسولان د رب ستا یو له سره به ونه رسیږی دوی

اِلَيْكَ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ

وَلَا يَلْتَفِتْ	مِّنَ الَّيْلِ	بِقِطْعٍ	بِاَهْلِكَ	فَاَسْرِ	اِلَيْكَ
او نه دی ګوری بیرته	د شپی کښی	په یوی ټوټی	اهل خپل	نو بوځه	تا ته

تا ته (په ضرر)، نو بوځه اهل خپل (له دی ښاره) په یوی ټوټی د شپی کښی او نه دی ګوری بیرته

مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ اِنَّهٗ مُصِيْبُهَا

مُصِيْبُهَا	اِنَّهٗ	امْرَاَتَكَ	اِلَّا	اَحَدٌ	مِنْكُمْ
چی رسیدونکی دی دی ته	بیشکه! شان دادی	ښځه ستا	مګر	هیڅ یو	له تاسی

له تاسی هیڅ یو مګر (مه بیایه هغه) ښځه ستا (چی کافره ده)، بیشکه! شان دادی چی رسیدونکی دی دی ته

قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ... د تیر مخ پاته بیان

دلته وګوری: الله ﷻ چی کم قوم په عذاب باندي نیسي نو پر دوی هم د دوی دعمل مناسب عذاب رالیږي پر دغه موقع هم الله ﷻ د ملایکي د ښایسته هلکانو په شکل کي راولیږلي کله چي دوی د حضرت لوط ﷺ کور ته راورسیدي اولوط ﷺ دوی د انسان په شکل ولیدي نو دوی هم میلمانه وګڼل او سخت پریشانه سو چي که د میلمنو میلمستوب نه کوي نو دا خو د پیغمبرانه شان خلاف دی او که میلمانه کوي بيي نو دخپل قوم خباثت ورته معلوم دی ددې بیره ده چي دوی به پر کور راوخیژي او د ې میلمنو ته به تکلیف ورسوي اودی به یي مدافعت وه نه کړی سي او په زړه کي یي وویل چي نن ډیره سخته دمصیبت ورځ ده کله چي فرشتي د حضرت لوط ﷺ په کور کي د میلمنو په حیث پاته سوي نو د حضرت لوط ﷺ ښځي ددوی د قوم بدمعاشان په خبر کړل چي نن زموږ کورته داسي میلمانه راغلي دي هغه وو چي دا بدبخته قوم په منډه منډه د دوی کورته راغلی او د دوی په مخکي یي نامعقوله حرکتونه کوله: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

مَآ اَصَابَهُمۡ ؕ اِنَّ مَوۡعِدَهُمُ الصُّبۡحُ ؕ اَلَيۡسَ الصُّبۡحُ بِقَرِيۡبٍ ﴿۸۱﴾

مَآ اَصَابَهُمۡ	اِنَّ	مَوۡعِدَهُمُ	الصُّبۡحُ	اَلَيۡسَ	الصُّبۡحُ	بِقَرِيۡبٍ
هغه عذاب چی رسیږی دوی ته	بیشکه!	وعده د دوی	سهار ده	آیا نه دی	سهار	نژدی

هغه عذاب چی رسیږی دوی ته ، بیشکه! وعده د (نزول د عذاب پر) دوی صباح ده، آیا نه دی صباح نژدی.

فَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمۡطَرۡنَا

فَلَمَّا	جَآءَ	اَمۡرُنَا	جَعَلۡنَا	عَالِيَهَا	سَافِلَهَا	وَاَمۡطَرۡنَا
نو څه وخت	چی راغی	امر زمونږ	نو وګرځاوه مونږ	پورته طرف د دی (ښار)	ښکته طرفته	او واورول

نو څه وخت چی راغی امر (حکم، عذاب) زمونږ نو وګرځاوه مونږ پورته طرف د دی (ښار) ښکته طرف ته او واورول

عَلَيۡهَا حِجَارَةً مِّنۡ سِجِّيۡلٍ ۙ مَّنۡضُوۡدٍ ﴿۸۲﴾ مُّسَوَّمَةً عِنۡدَ

عَلَيۡهَا	حِجَارَةً	مِّنۡ سِجِّيۡلٍ	مَّنۡضُوۡدٍ	مُّسَوَّمَةً	عِنۡدَ
مونږ پر دغو ښارو باندی	کاڼی	له ختو جوړ سوو په اور پخو سوو	پرله پسی	نخښه داره سوی وی	په نزد

مونږ پر دغو ښارو باندی کاڼی له ختو جوړ سوو په اور پخو سوو لاندی باندی (پرله پسی) . ښنی کړی سوی وی په نزد

رَبِّكَ ؕ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ بِبَعِيۡدٍ ﴿۸۳﴾ ع وَاِلٰى مَدۡيَنَ

رَبِّكَ	وَمَا هِيَ	مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ	بِبَعِيۡدٍ	وَاِلٰى مَدۡيَنَ
د رب ستا	او نه دی دا	له ظالمانو	څخه لری	او مدین ته

د رب ستا، او نه دی دا (کڼی یا ښارونه) له ظالمانو (کافرانو) څخه لری. او (لیږلی ؤ مونږ ښار یا اولاده د) مدین ته (قومی)

اَخَاهُمۡ شُعَيۡبًا ؕ قَالَ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمۡ

اَخَاهُمۡ	شُعَيۡبًا	قَالَ	يٰقَوۡمِ	اعۡبُدُوا	اللّٰهَ	مَا لَكُمۡ
(قومی) ورور د دوی	شعیب	وویل (شعیبب)	ای قومه زما	عبادت کوئ	د الله	نسته تاسی لره

ورور د دوی شعیب، وویل (شعیب) ای قومه زما عبادت کوئ (یوائی) د الله نسته تاسی لره

مِّنۡ اِلٰهٍ غَيۡرُهٗ ؕ وَلَا تَنۡقُصُوا الۡمِكۡيَالَ وَالۡمِيۡزَانَ اِنِّيۡۤ

مِّنۡ اِلٰهٍ	غَيۡرُهٗ	وَلَا تَنۡقُصُوا	الۡمِكۡيَالَ	وَالۡمِيۡزَانَ	اِنِّيۡۤ
هیڅ (برحق) معبود	بی له دغه (الله)	او مه کموئ	پیمانه	او تله دترازو	بیشکه! چی زه

هیڅ (برحق) معبود بی له دغه (الله)، او مه کموئ پیمانه او تله بیشکه! چی زه

فَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَالِيَهَا... او دا قوم دومره بې حیا سوی وو چې چې په ډاګه دحضرت لوط ؑ پر کور راوختل حضرت لوط ؑ چې کله ولیدل چې ددوی دفعه کول ګران وه نو دوي یې د شر څخه ددفع کولو دپاره وفرمایل چې تاسي ددې شر او فساد څخه منع سی نو زه به خپلې لوڼي ستاسي سردارانو ته په نکاح درکړم په دغه زمانه کي دمسلماني ښځي نکاح دکافر سره رواه وه او د نبي کریم ﷺ تر اولې زماني پوري دا حکم جاري وو په دې وجه نبي کریم ﷺ دخپلو دوو لوڼو نکاح دعتبه ابن ابی لهب او ابو العاص ابن ربيع سره کړي وه حال داوو چې دادواړه کافران وه وروسته بیا هغه ایاتونه نازل سول په کمو کي چې دمسلمانو ښځو نکاح دکافرانو سره سره نارواه سول: قوم یې په جواب کي ورته وویل چې مونږ ته ستا دلوڼو هیڅ ضرورت نسته مونږ چې څه غواړو هغه تاته معلوم دي حضرت لوط ؑ هم پریشانه او هم عاجزه سو ملایکو چې دلوط ؑ پریشاني ولیده نو وې فرمایل چې بیره مه کوه ستا ډله او جماعت قوي دی: پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

نصف ع۱۵

اَرٰىكُمۡ بِخَيۡرٍ وَّاِنِّيۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ مُّحِيۡطٍ ﴿٨٤﴾

اَرٰىكُمۡ	بِخَيۡرٍ	وَّاِنِّيۡۤ	اَخَافُ	عَلَيۡكُمۡ	عَذَابَ	يَوۡمٍ	مُّحِيۡطٍ
وينمه تاسي	په خير	او بيشكه! زه	بيريږم	پر تاسي	له عذابه	دورځي	راګيرووونكي

وينمه تاسي په خير او بيشكه زه بيريږم پر تاسي (په سبب د دې خيانت) له عذابه د ورځي چاپيريدونكي په تاسي پوري عذاب

وَيٰقَوۡمِ اَوۡفُوا الۡمِكۡيَالَ وَالۡمِيۡزَانَ بِالۡقِسۡطِ

وَيٰقَوۡمِ	اَوۡفُوا	الۡمِكۡيَالَ	وَالۡمِيۡزَانَ	بِالۡقِسۡطِ
او اې قومه زما	پوره وركوئ تاسي	پيمانه	او تله	په انصاف (عدل سره)

او اې قومه زما پوره وركوئ تاسي پيمانه او تله په انصاف (عدل سره)

وَلَا تَبۡخَسُوا النَّاسَ اَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡا فِي الۡاَرۡضِ

وَلَا تَبۡخَسُوا	النَّاسَ	اَشۡيَآءَهُمۡ	وَلَا تَعۡثَوۡا	فِي الۡاَرۡضِ
او مه كموئ تاسي	خلكو ته	شيان (مالونه) د دوى	او مه لټوئ تاسي	په مځكه كښې

او مه كموئ تاسي خلكو ته څيزونه (مالونه) د دوى او مه لټوئ تاسي (خرابى) په مځكه كښې

مُفۡسِدِيۡنَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ

مُفۡسِدِيۡنَ	بَقِيَّتُ	اللّٰهِ	خَيۡرٌ لَّكُمۡ	اِنۡ كُنۡتُمۡ
په دغه حال كښې چې فساد كوونكي يئ	هغه باقي رزق پاتې كړى	د الله	خير ډير غوره دى تاسي ته	كه يئ تاسي

په دغه حال كښې چې فساد كوونكي يئ. هغه باقي رزق پاتي كړى د الله خير ډير غوره دى تاسي ته كه يئ تاسي

مُّؤۡمِنِيۡنَ ۚ وَمَاۤ اَنَا عَلَيۡكُمۡ بِحَفِيۡظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُوۡا يٰشُعَيۡبُ اَصَلٰوتُكَ

مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَمَاۤ اَنَا	عَلَيۡكُمۡ	بِحَفِيۡظٍ	قَالُوۡا	يٰشُعَيۡبُ	اَصَلٰوتُكَ
مؤمنان	او نه يم زه	پر تاسي	ډير ساتونكى	نو وويل قوم د ده	اې شعيبه	آيا دغه ډير لمونځ كول ستا

مؤمنان، او نه يم زه پر تاسي ډير ساتونكى (له منهياتو) . نو وويل قوم د ده اې شعيبه آيا دغه ډير لمونځ كول ستا

تَاۡمُرُكَ اَنۡ نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ اٰبَآؤُنَاۤ اَوۡ اَنۡ

تَاۡمُرُكَ	اَنۡ نَّتۡرُكَ	مَا يَعۡبُدُ	اٰبَآؤُنَاۤ	اَوۡ اَنۡ
امر كوى تا ته	په دې چې پريږدو موږ	هغه بتان چې عبادت به كاوه	پلرونو زموږ	يا دا چې

(دربنيبي) امر كوى تاته په دې چې پريږدو موږ هغه بتان چې عبادت به كاوه پلرونو زموږ يا (په دې امر كوى چې پريږدو موږ) دا چې

وَّاِنِّيۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ مُّحِيۡطٍ

دتير مخ پاته بيان دلته وكوري: يعني مونږ د الله ﷻ ملايكي يو ددوى په واك كي دراتلو نه يو موږ پر دوى دعذاب واقع كولو دپاره راغلي يو: دبخاري شريف په روايت كي دي چي الله ﷻ دي پر حضرت لوط عليه السلام رحم وكړي هغه ديوې مضبوطي ډلي په پناه اخيستو مجبوره سو او دترمذي شريف په روايت كي دي چي دحضرت لوط عليه السلام وروسته الله ﷻ هيڅ نبي داسي نه دى راليږلى چي دهغه خاندان او قبيله دهغه حمايت كوونكي نه وي: په خپله دنبي كريم ﷺ متعلق دقريشو كافرانو په زرګونو تدبيرونه وكړل ليكن ددوي ﷺ تولـه خاندان ددوى حمايت وكى اګر چي په مذهب كي دغو ټولو ددوى ﷺ سره موافقت ونه كى په دې وجه ټول بني هاشم ددوى ﷺ سره په مقاطعه كي شريک سول په كمه كي چي دقريشو كافرانو پر نبي كريم ﷺ باندي اوبه او دانه بنده كړه خو آخر كار دغه خلګ حضرت جبرآئيل عليه السلام په خپل وزر باندي ووهل ړانده دكوره څخه ووتل او بيا ټول قوم په هلاكت ورسيدى الخ: (معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۶۸)

نَّفۡعَلَ فِيۡٓ اَمۡوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ؕ اِنَّكَ لَاَنۡتَ الۡحَلِيۡمُ

نَّفۡعَلَ	فِيۡٓ اَمۡوَالِنَا	مَا نَشٰٓؤُا	اِنَّكَ	لَاَنۡتَ	الۡحَلِيۡمُ
وکړو موږ	په اموالو خپلو کښې	هغه تصرف چې غواړو ئې	بیشکه! ته	خامخا هم ته ئې	لوی باوقاره

وکړو موږ په اموالو خپلو کښې هغه تصرف چې غواړو ئې بیشکه! ته خامخا هم ته ئې لوی باوقاره

الرَّشِيۡدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ يٰقَوۡمِ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ كُنۡتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ

الرَّشِيۡدُ	قَالَ	يٰقَوۡمِ	اَرَءَيۡتُمۡ	اِنۡ كُنۡتُ	عَلٰى	بَيِّنَةٍ
سم په لاره	وویل شعیب	ای قومه زما	آیا وینئ تاسی	که یم زه	په	برهان (واضح بیان)

سم په لاره (نیک کرداره). وویل شعیب ای قومه زما آیا وینئ تاسی (خبر راکړئ ماته) که یم زه په برهان (واضح بیان)

مِّنۡ رَّبِّيۡ وَرَزَقَنِيۡ مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنًا ؕ وَمَاۤ اُرِيۡدُ اَنۡ

مِّنۡ	رَّبِّيۡ	وَرَزَقَنِيۡ	مِنۡهُ	رِزۡقًا	حَسَنًا	وَمَاۤ اُرِيۡدُ	اَنۡ
له جانبه	درب خپل	او راکړی ئی وی ماته	له درباره خپله	رزق روزی	ښائسته نیکه	او نه لرم اراده	د دی چې

له جانبه د رب خپل او راکړی ئی وی ماته له درباره خپله رزق روزی ښائسته نیکه، او نه لرم اراده د دی چې

اُخَالِفَكُمۡ اِلٰى مَاۤ اَنۡهٰكُمۡ عَنۡهُ ؕ اِنۡ اُرِيۡدُ اِلَّا

اُخَالِفَكُمۡ	اِلٰى مَاۤ اَنۡهٰكُمۡ	عَنۡهُ	اِنۡ اُرِيۡدُ	اِلَّا
مخالفت وکړم له تاسی	هغه کار ته چې منع کوم تاسی	له هغه کاره	اراده نه لرم زه	مگر

مخالفت وکړم له تاسی (او راسم) هغه کار ته چې منع کوم تاسی له هغه کاره، اراده نه لرم زه مگر

الۡاِصۡلَاحَ مَا اسۡتَطَعۡتُ ؕ وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡۤ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ

الۡاِصۡلَاحَ	مَا اسۡتَطَعۡتُ	وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡۤ	اِلَّا	بِاللّٰهِ
د اصلاح (ستاسی)	څو چې توان کیږی زما	او نه دی توفیق زما	مگر	په الله

د اصلاح (ستاسی) څو چې توان کیږی زما، او نه دی توفیق زما (په اصلاح ستاسی کښې) مگر په (هدایت نصرت د) الله

عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡهِ اُنِيۡبُ ﴿٨٨﴾ وَيٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ

عَلَيۡهِ	تَوَكَّلۡتُ	وَاِلَيۡهِ	اُنِيۡبُ	وَيٰقَوۡمِ	لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ
خاص پر هم دغه الله	توکل کړی دی ما	او دهم ده په طرف	رجوع کوم	او ای قومه زما	تیار دی نه کړی تاسی

خاص پر هم دغه الله توکل کړی دی ما او دهم ده په طرف رجوع کوم. او ای قومه زما حاصل دی نه کړی تاسی ته

قَالَ يٰقَوۡمِ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ كُنۡتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ.. **حضرت شعیب ﷺ او دده دقوم واقعه**: په دغه ذکر سوو ایاتونو کي الله ﷻ دحضرت شعیب ﷺ او دده دقوم واقعه ذکر کړیده دده قوم بیا دشرک او کفر څخه علاوه په پیمانه او تول کي کمی کوی حضرت شعیب ﷺ دوی ته دایمان دعوت ورکی او په تول اوترازو کي دکمي کولو څخه منع کړل او ددې خلاف په کولويي دالله د عذاب څخه وبیرول مگر دوی هم پر خپل انکاراو سرکښی باندي قائم پاته سول نو ټول قوم دیو سخت عذاب په ذریعه باندي هلاک سوچي تفصیل یي راروان دی (والی مدین اخا هم شعیبا) یعني موږ دمدین طرف ته ددوی ورور شعیب ﷺ ورولیږی: مدین په اصل کي دیو ښار نوم دی کم چي مدین ابن ابراهیم اباد کړی وو ددې محل وقوع دشام موجوده مقام (معان) ښوول سوی دی ددې ښار اوسیدونکوته هم پر ځای داهل مدینو مدین ویل کیږي حضرت شعیب ﷺ دالله ﷻ یو جلیل القدره پیغمبر دی کم چي ددې مدین دقوم څخه دی او دهغو یو فرد دی: پاته بیان پر راروان مخ وگوری.

وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ. په دې وجه يې وده ته د مدين ورور وفرمايل او ددې نعمت طرف ته يې اشاره وکړه چې ددې قوم رسول او نبي خپله الله ﷻ ددې قوم څخه جوړ کړی چې د دوی سره عادت وي او هدايتونه يې په اسانی سره قبول کړي. (قال يقوم اعبدوا الله مالکم من اله غيره) په دې کې حضرت شعيب ﷺ اول خپل قوم ته دتوحيد دعوت ورکی ځکه چې دا خلګ مشرکين وه ددرختو عبادت به يې کوی چې دا يې په قرآن کريم کې په لفظ دايکة سره تعبير کړي دي او په دې نسبت سره يې مدين والاوو ته د (اصحب الايکة) لقب هم په قرآن کريم کې ورکړی دی ددې کفر اوشرک سره يو بل عيب او ګناه چې په دوی کې وه هغه دا وه چې دترازو او دلين دين او معاملې په وخت کې به يې په تول اوترازو کې کمی کوی او دخلګو حق به يې خوړی حضرت شعيب ﷺ دوی ددغه څخه منع کړل: دلته دا خبره په خاص طور سره دذکر کولو قابله ده چې کفر او شرک دټولو ګناهونوريښه ده کم قوم چې په دې کې مبتلاوي. پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ

شِقَاقِيْٓ	اَنْ يُّصِيْبَكُمْ	مِّثْلُ	مَآ اَصَابَ	قَوْمَ	نُوْحٍ
مخالفت زما	داخبره چې ورسيږی تاسی ته	په شان	دهغه چې رسيدلی ؤ	قوم	دنوح ته

مخالفت زما داخبره چې ورسيږی تاسی ته په شان دهغه (عذاب) چې رسيدلی ؤقوم د نوح ته (چې غرق ؤ)

اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ

اَوْقَوْمَ	هُوْدٍ	اَوْ قَوْمَ	صٰلِحٍ	وَمَا قَوْمُ	لُوْطٍ	مِّنْكُمْ
ياقوم	دهود ته	يا قوم	دصالح ته	او نه دی قوم	دلوط	ستاسی څخه

يا قوم د هود ته (چې سخت باد ؤ) يا قوم د صالح ته (چې زلزله وه)، او نه دی (نسکور سوی) قوم د لوط ستاسی څخه

بِبَعِيْدٍ ﴿٨٩﴾ وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ

بِبَعِيْدٍ	وَاسْتَغْفِرُوْا	رَبَّكُمْ	ثُمَّ	تُوْبُوْٓا	اِلَيْهِ	اِنَّ	رَبِّيْ
لری	او مغفرت وغواړئ تاسی	له رب خپل	بيا	رجوع وکړئ تاسی	په طرف د ده	بيشکه!	رب زما

(ای کفارو دومره) لری. او مغفرت وغواړئ تاسی له رب خپل بيا رجوع وکړئ تاسی په طرف د ده، بيشکه! رب زما

رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا

رَحِيْمٌ	وَّدُوْدٌ	قَالُوْا	يٰشُعَيْبُ	مَا نَفْقَهُ	كَثِيْرًا	مِّمَّا
ډير مهربان	لوی محبت والا دی	وويل قوم (د ده)	ای شعيبه	نه پوهيږو موږ	په ډيرو	هغو خبرو چې

ډير مهربان لوی محبت والا دی. وويل قوم (د ده په جواب کښی) ای شعيبه نه پوهيږو موږ په ډيرو هغو خبرو چې

تَقُوْلُ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ

تَقُوْلُ	وَاِنَّا	لَنَرٰىكَ	فِيْنَا	ضَعِيْفًا	وَلَوْلَا رَهْطُكَ
ته ئی وائی	او بيشکه! موږ	خامخا وينو تا	په موږ کښی	کمزوری	او که نه وی دغه خپلوان ستا

ته ئی وائی، او بيشکه! موږ خامخا وينو تا په موږ کښی کمزوری، او که نه وی دغه خپلوان ستا

لَرَجَمْنٰكَ ؗ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ يٰقَوْمِ

لَرَجَمْنٰكَ	وَمَآ اَنْتَ	عَلَيْنَا	بِعَزِيْزٍ	قَالَ	يٰقَوْمِ
نو خامخا سنګسار کړی به وی موږ ته	او نه ئی ته	پر موږ	هيڅ قدر عزتناک	وويل (شعيب)	ای قومه زما

نو خامخا سنګسار کړی به وی موږ ته او نه ئی ته پر موږ هيڅ قدر عزتناک. وويل (شعيب) ای قومه زما

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ. اول وار ورته دایمان دعوت ورکول کیږي دایمان څخه مخکي پــه نـــورو معـــاملاتواو عملونوکي توجـه نـه سـي ورکول کیدای په دنیا کي ددوی نجات یاعذاب هم دديِ ایمان او کفر پـه سبب وي دټولـو تیروپیغمبرانـو او ددوی دقومونـــــو چي خـومره واقعـاتي پـه قـرآن کـریم کـي ذکـر سـوي دي دغـه طرز دعمـل شاهدي ورکــــوي: صــــرف دوه قومونـه داسـي دي پر کمـو چي په عذاب نازلیدو کي دکفـر سـره ددوی خبیـث عملونـه هـم داخـل دي: یو دحضرت لـوط ﷺ قوم چي ذکر یي مخکي وسو چي پر دوی عذاب داسـي راغی چي کلي يـه الله ﷻ سـرچپه کـره ددي سـبب ددوی یـو خبیـث عمـل وو هغــه دنارینـــه ســره بــد فعلي. دوهم قوم دحضرت شعیب ﷺ دی چي ددوی د عـذاب سـبب دکفـر او شرک څخه علاوه پـه تـول اوترازو کي کمی کول هم مقرر سوي دي :ددي څخه معلومـه سـوه چي دادواړه کارونـه دالله ﷻ پـه نـزد دټولو ګناهونو څخه زیات مبغـــوض او ســـخت دي بـــــکاره وجــــــه داده چـــي دادواړه کارونـــه داسـي دي: پاتــه بیــا پــر راروان مـــخ وګـــوری:

اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ

وَرَآءَكُمْ	وَاتَّخَذْتُمُوْهُ	اللّٰهِ	مِّنَ	عَلَيْكُمْ	اَعَزُّ	اَرَهْطِيْٓ
وروسته د تاسي	او ګرځولی مو دی دغه (الله)	الله	له	پر تاسي	ډیر عزیز دی	آیا دغه خپلوان زما

آیا دغه خپلوان زما ډیر عزیز (مخور) دی پر تاسي له الله ، او ګرځولی مو دی دغه (الله) وروسته د تاسي

ظِهْرِيًّا ۭ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۹۲﴾ وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا

اعْمَلُوْا	وَيٰقَوْمِ	مُحِيْطٌ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ	رَبِّيْ	اِنَّ	ظِهْرِيًّا
عمل کوئ	او ای قومه زما	بنه احاطه کوونکی دی	پرهغو کارونو چي کوئ ئی تاسي	رب زما	بیشکه!	شاته غورځولی سوی

شاته غورځولی سوی، بیشکه! رب زما پرهغو کارونو چي کوئ ئی تاسي ښه احاطه کوونکی دی. او ای قومه زما عمل کوئ

عَلٰي مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ ۭ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ

مَنْ يَّاْتِيْهِ	تَعْلَمُوْنَ	سَوْفَ	عَامِلٌ	اِنِّىْ	مَكَانَتِكُمْ	عَلٰي
هغه څوک چي راځی ده ته	وبیژنئ تاسي	ژر به	هم عمل کوونکی یم په حال خپل	چي بیشکه! زه	ځای خپل	په

پرحالت خپل چي بیشکه زه هم عمل کوونکی یم په حال خپل چي توحید او طاعت دی ژر به وبیژنئ تاسي هغه څوک چي راځی ده ته

عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ۭ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّىْ

اِنِّىْ	وَارْتَقِبُوْٓا	كَاذِبٌ	وَمَنْ هُوَ	يُّخْزِيْهِ	عَذَابٌ
بیشکه! زه	او انتظار کوئ	دروغ ویونکی دی	او هغه څوک چي هغه	چي راسوا کوی هغه	عذاب

عذاب چي رسوا کوی هغه او (وبه پیژنئ) هغه څوک چي دروغ ویونکی دی، او انتظار کوئ (دعاقبت خپله) بیشکه! زه

مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ

وَّالَّذِيْنَ	شُعَيْبًا	نَجَّيْنَا	اَمْرُنَا	جَاۗءَ	وَلَمَّا	رَقِيْبٌ	مَعَكُمْ
او هغه کسان چي	شعیب	نو خلاص کړ موږ	امر زموږ	راغی	او کله چي	انتظار کوونکی یم د عاقبت خپل	هم له تاسي سره

هم له تاسي سره انتظار کوونکی یم د عاقبت خپل. او کله چي راغی امر زموږ نو خلاص کړ موږ شعیب او هغه کسان چي

اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا

ظَلَمُوا	الَّذِيْنَ	وَاَخَذَتِ	مِّنَّا	بِرَحْمَةٍ	مَعَهٗ	اٰمَنُوْا
چي ظلم ئی کری ؤ	هغه کسان	او ونیول	له نزده خپله	په رحمت سره	د ده سره	ایمان ئی راوړی ؤ

ایمان ئی راوړی ؤ له ده سره (له دغه عذابه) په رحمت سره له نزده خپله او ونیول هغه کسان چي ظلم ئی کری ؤ

الصَّيۡحَةُ فَاَصۡبَحُوۡا فِيۡ دِيَارِهِمۡ جٰثِمِيۡنَ ﴿۹۴﴾

الصَّيۡحَةُ	فَاَصۡبَحُوۡا	فِيۡ دِيَارِهِمۡ	جٰثِمِيۡنَ
غږسخت	نو سحر وګرځيدل دوی	په کورونو خپلو کښې	مړه وچ کلک پراته پر زنګنونو خپلو

غږسخت (دجبرئيل) نو ګهيځ (سحر) وګرځيدل دوی (ټول) په کورونو خپلو کښې مړه وچ کلک پراته پر زنګنونو خپلو .

كَاَنۡ لَّمۡ يَغۡنَوۡا فِيۡهَا ؕ اَلَا بُعۡدًا لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ

كَاَنۡ لَّمۡ يَغۡنَوۡا	فِيۡهَا	اَلَا بُعۡدًا	لِّمَدۡيَنَ	كَمَا بَعِدَتۡ
لکه چې نه وو اوسيدلی	په دغو کورونو کښې	خبردار سئ لرې والی دی	مدين ته	لکه چې لرې او هلاک سول

لکه چې نه وو اوسيدلی په دغو کورونو کښې، خبردار سئ واورئ لرې والی دی مدين ته لکه چې لرې او هلاک سول

ثَمُوۡدُ ﴿۹۵﴾ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلۡطٰنٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۹۶﴾

ثَمُوۡدُ	وَلَقَدۡ	اَرۡسَلۡنَا	مُوۡسٰى	بِاٰيٰتِنَا	وَسُلۡطٰنٍ	مُّبِيۡنٍ
ثموديان	او خامخا په تحقيق	ليږلی وو موږ	موسٰی	(په ښکاره نهو) معجزو خپلو سره	او په دليل	واضح سره

ثموديان. او خامخا په تحقيق ليږلی وو موږ موسٰی (په ښکاره نهو) معجزو خپلو سره او په برهان واضح سره.

اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاتَّبَعُوۡۤا اَمۡرَ فِرۡعَوۡنَ ۚ وَمَاۤ اَمۡرُ

اِلٰى فِرۡعَوۡنَ	وَمَلَا۟ئِهٖ	فَاتَّبَعُوۡۤا	اَمۡرَ	فِرۡعَوۡنَ	وَمَاۤ اَمۡرُ
فرعون	او مشرانو د ده ته	او متابعت وکړ دغو	دامر (حکم)	دفرعون	حال دا چې نه ؤ حکم

فرعون او مشرانو د (قوم د) ده ته او متابعت وکړ دغو دامر (حکم) دفرعون، حال دا چې نه ؤ حکم

فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيۡدٍ ﴿۹۷﴾ يَقۡدُمُ قَوۡمَهٗ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ

فِرۡعَوۡنَ	بِرَشِيۡدٍ	يَقۡدُمُ	قَوۡمَهٗ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ
دفرعون	برابر وونکی پر سمی لاری	مخکښی به سی (دغه فرعون)	دقوم خپل	په ورځ	دقيامت کښی

د فرعون برابر وونکی پر سمی لاری. مخکښی به سی (دغه فرعون) دقوم خپل په ورځ دقيامت کښی

فَاَوۡرَدَهُمُ النَّارَ ؕ وَبِئۡسَ الۡوِرۡدُ الۡمَوۡرُوۡدُ ﴿۹۸﴾

فَاَوۡرَدَهُمُ	النَّارَ	وَبِئۡسَ	الۡوِرۡدُ	الۡمَوۡرُوۡدُ
نو ننه به باسی هغوی په	اور کښی	او بد	ځای د ورتلو دی	چې ور وستل سی دوی

نو ننه به باسی هغوی په اور کښی، او بد ځای د ورتلو (د دوی هغه) دی چې ور وستل سی دوی (هغه ته چې اور دی) .

اَلَا بُعۡدًا لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُوۡدُ. چې ټول نسل انساني ته دديې سخت نقصان رسيږي او يو غټ فساد ځني پيدا کيږي: په تفسير قرطبي کې دي چې دحضرت شعيب عليه السلام دقوم يو عادت دا وو چې دملک درائجو سکو درهمونو او دينارونو څخه به يې غاړي پري کولې سره او سپين به يې بچت کول او دا پري سوي سکې به يې په پوره قيمت سره بدلولې حضرت شعيب عليه السلام دوی ددې څخه منع کړل: په حديث شريف کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم دا سلامي حکومت دسکو پريکول حرام ګرځولي دي او دآيت (تسعة رهط يفسدون فى الارض ولا يصلحون) په تفسير کې دتفسير امام حضرت زيد بن اسلم دا فرمايلي دي چې دې خلګو به درهمونه او دينارونه پريکول او خپلې فايدې به يې حاصلولې کم چې قرآن عظيم فساد ګرځولی دی: دحضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه دخلافت په زمانه کې يو سړی په دې جرم ونيول سو چې ده درهمونه پريکول نو خليفه ددُرّوسزا ورته ورکړه او سر يې ور وخرايې په ښار کې يې وګرځوی. (معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۸۱)

ع ۸

وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهٖ لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ بِئْسَ الرِّفْدُ

وَاُتْبِعُوْا	فِيْ هٰذِهٖ	لَعْنَةً	وَّيَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	بِئْسَ	الرِّفْدُ
او وروسته لګولی سوی دی	په دغه دنیا کښې	لعنت	او په ورځ	دقیامت	بد	انعام دی

او وروسته لګولی سوی دی په دغه دنیا کښې لعنت او په ورځ د قیامت (هم) ، بد انعام دی

الْمَرْفُوْدُ ﴿۹۹﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ

الْمَرْفُوْدُ	ذٰلِكَ	مِنْ اَنْۢبَآءِ	الْقُرٰى	نَقُصُّهٗ	عَلَيْكَ
ورکړی سوی (دی)	دا	له احوالو	دقریو دی	چی بیانوو موږ هغه	پرتا باندی

(هغه چی دوی ته)ورکړی سوی (دی). دا (تیری سوی خبری) له (جملې د) احوالو دقریو دی چی بیانوو موږ هغه پر تا باندی

مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ ﴿۱۰۰﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْۤا

مِنْهَا	قَآئِمٌ	وَّحَصِيْدٌ	وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ	وَلٰكِنْ	ظَلَمُوْۤا
چی ځینی له هغو قریو	ولاړی دی	او ځینی ئی ریبلی سوی دی	او ظلم نهٔ کړی موږ پر دوی	ولیکن	ظلم کړی وو هغوی

چی ځینی له هغو قریو ولاړی دی او ځینی ئی ریبلی سوی دی. او ظلم نهٔ کړی موږ پر دوی ولیکن ظلم کړی وو هغوی

اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ

اَنْفُسَهُمْ	فَمَآ اَغْنَتْ	عَنْهُمْ	اٰلِهَتُهُمُ	الَّتِيْ	يَدْعُوْنَ
پر ځانونو خپلو	نو هیڅ دفع ونه کړه	له دوی څخه	هغو باطلو خدایانو د دوی	هغه چی	بلل به دوی

پر ځانونو خپلو نو هیڅ دفع ونه کړه له دوی څخه هغو باطلو خدایانو د دوی هغه چی بلل به دوی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ

مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	مِنْ شَيْءٍ	لَّمَّا	جَآءَ	اَمْرُ	رَبِّكَ	وَمَا زَادُوْهُمْ
غیر له	الله	هیڅ شی	کله چی	راغی	امر	د رب ستا	او زیات نه کړ دغو خدایانو دوی ته

غیر له الله هیڅ شی (دعذاب) کله چی راغی امر (حکم ، عذاب) د رب ستا ، او زیات نه کړ دغو خدایانو دوی ته

غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾ وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى

غَيْرَ	تَتْبِيْبٍ	وَكَذٰلِكَ	اَخْذُ	رَبِّكَ	اِذَآ	اَخَذَ	الْقُرٰى
غیر له	هلاکته	او په شان د هم دغو	نیول	د رب ستا دی	کله چی	ونیسی الله	هغه اهل د قریو

(هیڅ شی) غیر له هلاکته. او په شان د هم دغو (نیولو) نیول د رب ستا دی کله چی ونیسی الله اهل د قریو

وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهٖ لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ... فرعون او دده سردارانو یوه لاهم دموسی علیه السلام خبره ونه منله: الله جل جلاله فرمایي چي موږ موسی علیه السلام ته هم خپلي معجزې او روښانه دلیل ورکړی فرعون او دده سردارانو ته مو ولیږی پس نه فرعون ومنی او نه دده سردارانو ومنی بلکه فرعون هم پر خپل کفر پاته سو او دغه خلګ هم دفرعون په رایي روان سول او دفرعون رایه یوه صحیح نه وه دغه فرعون به دقیامت په ورځ دخپل قوم څخه مخکي مخکي وي بیا به دوی ټوله دوږخ ته ورکښته سي او په دې دنیا کي هم لعنت ددوی سره ملګری سو او دقیامت په ورځ به هم ددوی سره وي چنانچي دلته په قهر سره غرق سوه او هلته به یې دوږخ نصیب سي ناکاره انعام دی کم چي دوی ته ورکول سو دا څه چي لوړ په قصو کي ذکر سول دهغو تباسوو کلو ځیني حالات وه کم چي موږ تاته بیانوو پس ځیني کلي خو په دغه کلو کي تر اوسه هم قایم دي مثلا مصر چي دفرعونیانو د هلاکیدو څخه وروسته هم آباد پاته سو او ځیني کلي بیا بالکل ختم سوي دي (معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۸۲)

وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

وَهِيَ	ظَالِمَةٌ	إِنَّ	أَخْذَهُ	أَلِيمٌ	شَدِيدٌ	إِنَّ	فِي ذَٰلِكَ
حال داچي	دا ظالم وی	بیشکه!	نیول دالله	ډیر دردناک	سخت زورور دی	بیشکه!	په دی

حال داچي دا (اهل د قریو) ظالم وی، بیشکه! نیول د الله ډیر دردناک سخت زورور دی. بیشکه په دی (مذکوره ؤ قصو)

لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ

لَآيَةً	لِّمَنْ	خَافَ	عَذَابَ	الْآخِرَةِ	ذَٰلِكَ	يَوْمٌ
کښی خامخا ډیر عبرت دی	دپاره دهغه چا	چی ویریږی	له عذابه	دآخرت څخه	دغه ورځ د قیامت	داسی یوه ورځ ده

کښی خامخا ډیر عبرت دی دپاره د هغه چا چی ویریږی له عذابه د آخرت څخه، دغه ورځ د قیامت داسی یوه ورځ ده

مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهُ

مَّجْمُوعٌ	لَّهُ النَّاسُ	وَذَٰلِكَ	يَوْمٌ	مَّشْهُودٌ	وَمَا نُؤَخِّرُهُ
چی جمع به کړی سی	په دی کښی ټول خلک	او دا	ورځ ده چی	حاضر به سی ورته ټول مخلوقات	او نه به یې وروستی کوو موږ دا

چی جمع به کړی سی په دی کښی ټول خلک، او دا ورځ ده چی حاضر به سی ورته ټول مخلوقات. او نه به وروستی کوو موږ دا ورځ

إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴿١٠٤﴾ يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ

إِلَّا لِأَجَلٍ	مَّعْدُودٍ	يَوْمَ	يَأْتِ	لَا تَكَلَّمُ	نَفْسٌ
مگر دپاره دپوره کیدلو	دنیټی معلومی	په هغه وخت کښی	چی راسی قیامت	نه کوی خبری	هیڅ نفس

مگر دپاره د پوره کیدلو دنیټی معلومی(په نزد دالله). په هغه وخت کښی چی راسی قیامت نه کوی خبری هیڅ نفس

إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا

إِلَّا بِإِذْنِهِ	فَمِنْهُمْ	شَقِيٌّ	وَسَعِيدٌ	فَأَمَّا	الَّذِينَ	شَقُوا
مگر په حکم د الله سره	نو ځینی له دغو خلکو به	بدبخته	او ځینی به نیک بخته وی	نو هر څه	هغه کسان	چی بدبختان سوی دی

مگر په اذن حکم د الله سره، نو ځینی له دغو خلکو به بدبخته او ځینی به نیک بخته وی. نو هر څه هغه کسان چی بدبختان سوی دی

فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ خَالِدِينَ فِيهَا

فَفِي	النَّارِ	لَهُمْ	فِيهَا	زَفِيرٌ	وَشَهِيقٌ	خَالِدِينَ	فِيهَا
نو په	اور کښی به وی	وی به هغوته	په هغه اور کښی	جګ سخت غږ	او ټیټ نرم غږ	همیشه به وی دوی	په دغه اور کښی

نو په اور کښی به وی. وی به هغوی ته په هغه اور کښی جګ سخت غږ او ټیټ نرم غږ لکه دخر وهمیشه به وی دوی په دغه اور کښی

وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ...دالله ﷻ نیول ډیر سخت دي کله چي ظالم قوم او دهغو کلي راتینګ کړي: په دغه ایاتونو کي الله ﷻ دخپل عذاب شدت او سختوالی بیان کړی دی او خپل بندګان یي دخپل عذابه څخه بیرولي دي فرمایي (وکذلک اخذ ربّک اذا اخذ القری) یعني ستا درب نیول ډیر سخت دي کله چي هغه دیو کلي خلګ راتینګ کړي کله چي هغه خلګ ظلم او کفر کوي بیشکه دهغه نیول ډیر زیات دردناک او سخت دي چي په دې سره سخت تکلیف رسیږي او هیڅوک ورڅخه خلاصیدای نه سي: په دغه واقعاتو کي دهغه سړي دپاره لوی عبرت دی کم چي دآخرت دعذاب څخه بیریږي او وجه دعبرت یي ښکاره ده چي کله یي ددنیا عذاب داسي سخت دی او حال دادی چي داځای دارالجزاء نه ده نو دآخرت عذاب به یي څومره سخت وي چي هغه دارالجزاء ده او هغه ورځ به داسي ورځ وي چي په دې کي به ټوله خلګ راجمع سي او هغه دټولو دحاضری ورځ ده او هغه ورځ که څه هم اوس نه ده راغلې لیکن په راتلو کي یي شک هم نسته. (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص ۸۴)

مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ اِنَّ

مَا دَامَتِ	السَّمٰوٰتُ	وَالْاَرْضُ	اِلَّا	مَا شَآءَ	رَبُّكَ	اِنَّ
ثو چې وی	آسمانونه	او مځکه	مګر	چې اراده وفرمائی	رب ستا	بیشکه!

ثو چې وی آسمانونه او مځکه مګر چې اراده وفرمائی رب ستا (چې بوزی دوی له سعیره زمهریر ته)، بیشکه!

رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ۝١٠٧ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي

رَبَّكَ	فَعَّالٌ	لِّمَا يُرِيْدُ	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	سُعِدُوْا	فَفِي
رب ستا	کوونکی دی	دهر هغه کار چې اراده وفرمائی	او هر څه	هغه کسان	چې نیک بختان سوی دی	نو

رب ستا کوونکی دی دهر هغه کار چې اراده وفرمائی او هر څه هغه کسان چې نیک بختان سوی دی نو

الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ

الْجَنَّةِ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	مَا دَامَتِ	السَّمٰوٰتُ	وَالْاَرْضُ
په جنت کښې به وی	همیشه به وی	په هم دغه جنت کښې	تر ثو چې وی	آسمانونه	او مځکه

په جنت کښې به وی همیشه به وی په هم دغه جنت کښې ترڅو چې وی آسمانونه او مځکه

اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ۝١٠٨ فَلَا تَكُ فِيْ

اِلَّا	مَا شَآءَ	رَبُّكَ	عَطَآءً	غَيْرَ مَجْذُوْذٍ	فَلَا تَكُ	فِيْ
مګر	چې اراده وفرمائی	رب ستا	عطاء بخشش دی	بی انتهاء	پس مه کیږه ته	په

مګر چې اراده وفرمائی رب ستا (دغه ورکړه) عطاء بخشش دی بی انتهاء (بی له ختمیدو). پس مه کیږه ته په (نه دی سی امت ستا)

مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ؕ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ

مِرْيَةٍ	مِّمَّا	يَعْبُدُ	هٰٓؤُلَآءِ	مَا يَعْبُدُوْنَ	اِلَّا	كَمَا يَعْبُدُ
شک کښې	له هغو بتانو	چې عبادت ئې کوی	دغه کسان	نه کوی عبادت دوی	مګر	لکه چې عبادت به کاوه

شک کښې له هغو بتانو چې عبادت ئې کوی دغه کسان، نه کوی عبادت دوی مګر لکه چې عبادت به کاوه

اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ

اٰبَآؤُهُمْ	مِّنْ قَبْلُ	وَاِنَّا	لَمُوَفُّوْهُمْ	نَصِيْبَهُمْ	غَيْرَ
پلرونو د دوی	پخوا	او بیشکه! چې موږ	پوره ورکوونکی یو دوی ته	دبرخې د دوی	بی له

پلرونو د دوی پخوا (له دی څخه)، او بیشکه! چې موږ پوره ورکوونکی یو دوی ته دبرخې د دوی بی له

اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ
دقیامت په ورځ به دحشر پر میدان باندي هیڅوک دالله ﷻ داجازې څخه بغیر خبره نسي کولای: الله ﷻ فرمایي چي کله یو وخت دغه ورځ راسي دهیبت او خوف څخه به یي دخلګو داحال وي چي هیڅوک به بغیر دخدای ﷻ داجازې څخه خبره قدر هم نه سي کولای البته کله چي دحساب او کتاب دپاره حاضروي او پر عملونوجواب ورڅخه طلب سي دغه وخت به خامخا دخولي څخه څه خبره وزي بیا نو برابره خبره ده که دغه مقبوله وي او که غیر مقبوله وي پس په دې حالت کي به ټول اهل موقف شریک وي بیا مځکي په دوی کي دافرق وي چي ځیني به بدبختان وي او ځیني به نیکبختان وي یعني یوه ډله به دکافرانو وي او بله ډله به دمومنانو وي پس کم خلګ چي بدبختان وي هغه به په دوږخ کي په داسي حال کي وي چي په هغه کي به ددوی چیغي او کوکاري وي او همیشه همیشه به په دې کي وي ترڅه وخته چي مځکی او اسمانونه قایم وي دغه محاوره کنایه ده دهمیشه والي څخه الخ.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۸۴)

ع ٩

مَنْقُوْصٍ ﴿١٠٩﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ

مَنْقُوْصٍ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوْسَى	الْكِتٰبَ	فَاخْتُلِفَ
نقصانه	او خامخا په تحقيق	ورکړې ؤ موږ	موسٰی ته	کتاب	نو اختلاف وکړ سو

نقصانه (کامله تامه). او خامخا په تحقيق ورکړې ؤ موږ موسٰی ته کتاب (توريت) نو اختلاف وکړ سو

فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

فِيْهِ	وَلَوْلَا كَلِمَةٌ	سَبَقَتْ	مِنْ	رَّبِّكَ	لَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ
په دغه کښی	او که نه وی هغه کلمه	چی مخکی سوی ده	له	ربه ستا	نو خامخا فيصله به سوی وای	په مينځ د دوی کښی

په دغه (توريت) کښی، او که نه وی هغه کلمه چی رومبی سوی ؤ له ربه ستا نو خامخا فيصله به سوی وه په مينځ د دوی کښی

وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿١١٠﴾ وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا

وَاِنَّهُمْ	لَفِيْ	شَكٍّ	مِّنْهُ	مُرِيْبٍ	وَاِنَّ	كُلًّا لَّمَّا
او بيشکه! دوی	خامخا	په شک کښی دی	له دی نه	په اضطراب کی اچوونکی د زړونو	او بيشکه!	هر فرقه ځنی قسم دی

او بيشکه! دوی خامخا په شک کښی دی له دی نه په زور شک کښی. او بيشکه هر فرقه ځنی قسم دی د مؤمنانو او کافرانو

لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ

لَيُوَفِّيَنَّهُمْ	رَبُّكَ	اَعْمَالَهُمْ	اِنَّهٗ	بِمَا يَعْمَلُوْنَ
خامخا پوره به ورکړی دوی ته	رب ستا	(جزاء) دعملونو د دوی	بيشکه! چی الله	په هغو کارونو چی کوی (ئی) دوی

خامخا پوره به ورکړی دوی ته رب ستا (جزاء) دعملونو د دوی، بيشکه! چی الله په هغو کارونو چی کوی (ئی) دوی

خَبِيْرٌ ﴿١١١﴾ فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ

خَبِيْرٌ	فَاسْتَقِمْ	كَمَآ اُمِرْتَ	وَمَنْ تَابَ	مَعَكَ
ښه خبردار دی	نو مستقيم او ثابت اوسه	لکه چی حکم کړی سوی دی تاته	او هغه څوک چی توبه ئی ايستلی ده	له تا سره

ښه خبردار دی. نو مستقيم او ثابت اوسه لکه چی حکم کړی سوی دی تاته او هغه څوک چی توبه ئی ايستلی ده له تا سره

وَلَا تَطْغَوْا ؕ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿١١٢﴾ وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى

وَلَا تَطْغَوْا	اِنَّهٗ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرٌ	وَلَا تَرْكَنُوْٓا	اِلَى
او مه تيريږئ له حده	بيشکه! چی الله	په هغو کارونو چی کوئ ئی تاسی	ښه ليدونکی دی	او مه مائليږئ تاسی	په طرف

او مه تيريږئ له حده، بيشکه! چی الله په هغو کارونو چی کوئ ئی تاسی ښه ليدونکی دی. او مه مائليږئ تاسی په طرف

فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ... نبي کريم ﷺ او امت دواړو ته دالله ﷻ مشترکه خطاب: په دغه آيت کي الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته خطاب کوي (فاستقم کما امرت ومن تاب معک) يعني ته ددين پر لاري داسي مضبوط برابر اوسه لکه څنګه چي تا ته حکم سوی دی او هغه خلګ دي هم برابر سي کمو چي دکفر څخه توبه کښلي ده او ستا سره ملګري سويدي او دالله ﷻ دمقررو حدونو څخه مه وزی ځکه چي هغه ستاسي ټوله عملونهويني: داستقامت معنی سيدا دريدل دي چي يو طرف ته په هغه کي ذره غوندي کوږوالی هم نه وي. ښکاره خبره ده چي داکارآسان نه دی د اوسپني اوږدبري غوندي عمودا و ميل يو ماهر انجنيئرداسي درولی سي چي هر طرف يي پر زاويه قايم او برابر وي يوه طرف ته يي ادنی غوندي ميلان هم نه وي ليکن ديو حرکت کوونکي شي هر وخت په هر حال کي په دې حالت پاته کيدل ځومره مشکل دي دعقل د خاوندانو او دپوهي دخاوندانو څخه دا خبره پټه نه ده چي دا يو مشکل کار دی تر څه وخته چي توفيق الهي نه وي: پاته بيان پر راروان مخ وګوری

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ

الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	فَتَمَسَّكُمُ	النَّارُ	وَمَا لَكُمْ	مِّنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	مِنْ
دهغو کسانو	چې ظلم ئې کړی دی	نو وبه رسيږی تاسی ته	اور	حال داچې نه به وی تاسی ته	پرته له	الله	هيڅ

دهغو کسانو چې ظلم ئې کړی دی نو وبه رسيږی تاسی ته اور حال دا چې نه به وی تاسی ته پرته له الله هيڅ

اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ

اَوْلِيَآءَ	ثُمَّ	لَا تُنْصَرُوْنَ	وَاَقِمِ	الصَّلٰوةَ	طَرَفَيِ	النَّهَارِ
دوستان	بيا به	ونه کړه سی درسره مرسته	او قائم کړه	لمونځ	په دواړو طرفونو	دورځی

دوستان بيا به ونه کړه سی درسره مرسته (مدد). او قائم کړه (سم ودروه) لمونځ په دواړو طرفونو د ورځی

وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ

وَزُلَفًا	مِّنَ الَّيْلِ	اِنَّ الْحَسَنٰتِ	يُذْهِبْنَ	السَّيِّاٰتِ
او په ساعاتو	له شپی	بيشکه! چې نيکی	لری کوی	بدی

او په ساعاتو له شپی، بيشکه! چې نيکی (پنځه وخته لمونځ) لری کوی بدی (کوچنی ګناهونه) .

ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿١١٤﴾ وَاصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ

ذٰلِكَ	ذِكْرٰى	لِلذّٰكِرِيْنَ	وَاصْبِرْ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُضِيْعُ
دغه	پند دی	دپاره د پند قبلوونکو	او صبر وکړه	نو بيشکه! چې	الله	نه ضائع کوی

دغه (فرمان او وعده) پند دی دپاره د پند قبلوونکو. او صبر وکړه (ای محمده!) نو بيشکه! چې الله نه ضائع کوی

اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٥﴾ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ

اَجْرَ	الْمُحْسِنِيْنَ	فَلَوْلَا	كَانَ	مِنَ الْقُرُوْنِ
ثواب	دنيکی کوونکو	نو ولی نه	وُ	له اهله د هغو زمانو چې وو

ثواب دنيکی کوونکو. نو ولی نه وُ له اهله د هغو زمانو چې

مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْاَرْضِ

مِنْ قَبْلِكُمْ	اُولُوْا	بَقِيَّةٍ	يَّنْهَوْنَ	عَنِ الْفَسَادِ	فِي الْاَرْضِ
پخوا له تاسی څخه	خاوندان	دفکر او عقل	چې منع کول ئی	(خلګ) له (کولو د) فساد	په مځکه کښی

پخوا له تاسی څخه وو خاوندان د فکر او عقل چې منع کول ئی (خلګ) له (کولو د) فساد په مځکه کښی

فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ...

دتير مخ پاته بيان

دلته وګوری: نبي کريم ﷺ او ټولو مسلمانانو ته په دې ايت کي په خپل هر کار کي په هر حال کي پر استقامت داوسيدو حکم فرمايل سوی دی: داستقامت: لفظ خو کوچنی دی مګر ددې مطلب يو ډير لوی عظيم الشان فراخوالی لري ځکه چي معنی ددې داده چي انسان په خپلو عقيدو، عبادتونو، معاملو و اخلاقو، او معاشرت، دمعاش کسب او ددې دګټي او خرڅ په ټولو بابونوکي دالله ﷻ دقائمو کړو حدونو دننه دهغه په ښوول سوې لاره سيده روان وي په دې کي دهر باب په هر عمل او هر حال کي هر يو طرف ته کوږوالی يا کمی زياتی چي وسي نو استقامت پر ځای نه پاته کيږي: په دنيا کي چي څومره ګمراهي او عملي خرابي چي راځي دغه ټولي ددې استقامت څخه دليري کيدو نتيجه وي په عقيدو کي چي استقامت پاته نه سي نو دبدعتونو څخه شروع سي تر کفر او شرک پوري نوبت رسيږي دالله ﷻ ديووالي او دهغه دذات او صفاتو چي کم درميانه او صحيح. پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ

اِلَّا قَلِيْلًا	مِّمَّنْ	اَنْجَيْنَا	مِنْهُمْ	وَاتَّبَعَ	الَّذِيْنَ
مګر چې منع وکړه لږ	له هغو خلګو څخه	چې خلاص کړل موږ له عذابه	دهغو پخوانیو څخه	او متابعت وکړ	هغو کسانو

مګر چې منع وکړه لږ له هغو خلګو څخه چې خلاص کړل موږ له عذابه دهغو پخوانیو څخه او متابعت وکړ هغو کسانو

ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ

ظَلَمُوْا	مَآ اُتْرِفُوْا	فِيْهِ	وَكَانُوْا	مُجْرِمِيْنَ	وَمَا كَانَ	رَبُّكَ
چې ظلم ئې کړی ؤ	دهغې لارې چې آسوده کړی سوي وو دوی	په هغه کښې	او وو دوی	ګنهکاران کافران	او له سره نه دی	رب ستا

چې ظلم ئې کړی ؤ دهغې لارې چې آسوده کړی سوي وو دوی په هغه کښې او وو دوی ګنهکاران کافران. او له سره نه دی رب ستا

لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿١١٧﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

لِيُهْلِكَ	الْقُرٰى	بِظُلْمٍ	وَّاَهْلُهَا	مُصْلِحُوْنَ	وَلَوْ شَآءَ	رَبُّكَ
چې هلاک کړی	اهل دقریو	په ظلم سره	حال دا چې وی اهل د دغو قریو	مصلحان	او که اراده فرمایلی وی	رب ستا

چې هلاک کړی کلی په ظلم سره حال دا چې وی اهل د دغو قریو مصلحان. او که اراده فرمایلی وی رب ستا

لَجَعَلَ النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿١١٨﴾

لَجَعَلَ	النَّاسَ	اُمَّةً	وَّاحِدَةً	وَّلَا يَزَالُوْنَ	مُخْتَلِفِيْنَ
نو هرومرو به ئې ګرځولی ؤ	دا خلګ	ټول سره امت	یو	او همیشه به وی دوی	اختلاف کوونکی

نو هرومرو به ئې ګرځولی ؤ دا خلګ ټول سره امت یو او همیشه به وی دوی اختلاف کوونکی.

اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ۗ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ

اِلَّا	مَنْ	رَّحِمَ	رَبُّكَ	وَلِذٰلِكَ	خَلَقَهُمْ	وَتَمَّتْ	كَلِمَةُ
مګر	هغه څوک چې	رحم پرې وفرمائی	رب ستا	او دپاره د دی	پیدا کړی دی الله دوی	او تمامه پوره سوه	کلمه

مګر هغه څوک چې رحم پرې وفرمائی رب ستا او دپاره د دی اختلاف او رحمت پیدا کړی دی الله دوی ، او تمامه پوره سوه کلمه

رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿١١٩﴾

رَبِّكَ	لَاَمْلَئَنَّ	جَهَنَّمَ	مِنَ الْجِنَّةِ	وَالنَّاسِ	اَجْمَعِيْنَ
درب ستا	چې خامخا ډک به کړم هرومرو	دوزخ	له پیریانو	او انسانانو	سره ګډ

د رب ستا چې خامخا ډک به کړم هرومرو دوزخ له پیریانو او انسانانو سره ګډ د ټولو څخه.

وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ

:اصول چي نبي کريم ﷺ بيان کړي دي په دي کي کمی او زياتی کوونکی که څه هم په نيک نيت په دي کي اخته وي ګمراه ورته ويل کيږي دانبياوو عليهم السلام دلويي او محبت چي کم حدونه مقرر سويدي په دي دکمي کوونکو ګمراهي او ګستاخي کيدل خو هر څوک پيژني خو په دي کي زيادت او غلو کول او رسول دخدايي صفتونو اواختياراتو مالک جوړول هم دغه رکم ګمراهي ده.يهود اونصار په دي ګمراهی کي ورک سوي وه دعباداتو او الله ﷻ ته دنژدي کيدو دپاره چي کمي طريقي قرآن کريم او نبي کريم ﷺ ښوولي دي په دي کي لږ څه کمی او کوتاهي انسان داستقامته څخه غورزوي اوپه دي کي دخپل طرف څخه زياتی هم استقامت بربادوي انسان په بدعتونو کي اخته کوي دی په ډيره نيک نيتی سره داګڼي چي زه خپل رب راضي کوم او حال دا چي هغه عين درب د ناراضی سبب وي.الله ﷻ دي موږ او تاسي ته په هره معامله کي کامل استقامت را نصيب ګړي.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص ۸۷)

وَ كُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ

وَ كُلًّا	نَّقُصُّ	عَلَيْكَ	مِنْ اَنْۢبَآءِ	الرُّسُلِ	مَا نُثَبِّتُ
او دا ټول اخبار	وايو موږ	پر تا	له احوالو	د تيرو رسولانو	هغه چې کلک کوو قوی مطمئن کوو موږ

او دا ټول اخبار وايو موږ پرتا (ای رسول الله) له احوالو د تيرو رسولانو هغه چې کلک کوو قوی مطمئن کوو موږ

بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ وَ جَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ وَ مَوْعِظَةٌ وَّ ذِكْرٰى

بِهٖ	فُؤَادَكَ	وَ جَآءَكَ	فِيْ هٰذِهٖ	الْحَقُّ	وَ مَوْعِظَةٌ	وَّ ذِكْرٰى
په هغو سره	زړه ستا	او راغلی دی تاته	په دغو اخبارونو کښې	حق	او موعظ	او يادونه

په هغو سره زړه ستا او راغلی دی تاته په دغو اخبارونو کښې حق او موعظ (پند) او يادونه

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ وَ قُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى

لِلْمُؤْمِنِيْنَ	وَ قُلْ	لِّلَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	اعْمَلُوْا	عَلٰى
د پاره د مؤمنانو	او ووايه (محمده)	هغو کسانو ته	چې ايمان نه راوړی	چې عمل وکړئ	پر

د پاره د مؤمنانو. او ووايه (ای محمده) هغو کسانو ته چې ايمان نه راوړی چې عمل وکړئ پر

مَكَانَتِكُمْ ؕ اِنَّا عٰمِلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَ انْتَظِرُوْا ۚ اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

مَكَانَتِكُمْ	اِنَّا عٰمِلُوْنَ	وَ انْتَظِرُوْا	اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ
ځای خپل	بيشکه! موږ هم عمل کوونکی يو	او انتظار کوئ	بيشکه! موږ هم انتظار کوونکی يو

ځای خپل بيشکه! موږ هم عمل کوونکی يو. او انتظار کوئ (عاقبت د کارته)، بيشکه! موږ هم انتظار کوونکی يو.

وَ لِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ اِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ

وَ لِلّٰهِ	غَيْبُ	السَّمٰوٰتِ	وَ الْاَرْضِ	وَ اِلَيْهِ	يُرْجَعُ	الْاَمْرُ
او خاص الله لره دی	(علم په) پټو	د آسمانونو	او (په پټو د) ځمکی	او خاص هم ده ته	بيرته ګرځولی سی	کار

او خاص الله لره دی (علم په) پټو د آسمانونو او (په پټو د) ځمکی (هم) او خاص هم ده ته بيرته ګرځولی سی امر

ع ۱۰

كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَ تَوَكَّلْ عَلَيْهِ ؕ وَ مَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

كُلُّهٗ	فَاعْبُدْهُ	وَ تَوَكَّلْ	عَلَيْهِ	وَ مَا رَبُّكَ	بِغَافِلٍ	عَمَّا تَعْمَلُوْنَ
ټول	نو عبادت کوه د الله	او توکل وکړه	پر الله	او نه دی رب ستا	بی خبره	د هغو کارونو څخه چې کوئ ئی تاسی

ټول نو عبادت کوه د الله او توکل وکړه پر الله، او نه دی رب ستا بی خبره د هغو کارونو څخه چې کوئ ئی تاسی.

وَ كُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ.. **دپيغمبرانو قصي بيانول دنبي كريم ﷺ دزړه دمضبوط والي ذريعه ده:** په دغه آيت كي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي چې موږ دا ټولي ذكر سوي قصي تاته بيانوو دكمو په ذريعه چي موږ ستا زړه قوي كوو يوه فائده دقصو بيانوولو خو داسوه چي حاصل يي تاته تسلي دركول دي او په دې قصو كي تاته يو داسي مضمون هم راغلی دی چي په خپله هم حق او قطعي دی او دمسلمانانو دپاره دبدو كارونو څخه دمنع كولو دپاره نصيحت دی او دنيكو كارونو كوونكو دپاره يادګيرنه ده دا يه دوهمه فائده سوه نو يوه فائده دنبي كريم ﷺ دپاره او بله دامت دپاره او كم خلګ چي سره ددغه مضبوطو او محكمو دلائلو هم ايمان نه راوړي دوی ته ووايه چي زه ستاسي سره نه منبلم تاسي په خپل حالت عمل كوی او موږ هم په خپل طور سره عمل كوو او ددې عملونو دنتيجې تاسي هم اتظار كوی موږ يي هم انتظار كوو نو ډير ژر به باطل ښكاره سي او د (الله جَلَّ جَلَالُهُ وعمّ نواله) څخه هيڅ شی پټ او غائب نه دي. (معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۹۳)

اٰياتونه ١١١ | ١٢ سُوْرَةُ يُوْسُفَ مَكِّيَّةٌ ٥٣ | ركوعوي ١٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاك چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ① اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا

الٓرٰ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	الْكِتٰبِ	الْمُبِيْنِ	اِنَّآ	اَنْزَلْنٰهُ	قُرْءٰنًا
الف لام را	دا	آيتونه دي	دكتاب	واضح	بيشكه! چي موږ	نازل كړى دى دا كتاب	په دى حال كښي چي قرآن

الف لام را. دا آيتونه دي د كتاب واضح ، بيشكه! چي موږ نازل كړى دى دا كتاب په دى حال كښي چي قرآن

عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ② نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ اَحْسَنَ

عَرَبِيًّا	لَّعَلَّكُمْ	تَعْقِلُوْنَ	نَحْنُ	نَقُصُّ	عَلَيْكَ	اَحْسَنَ
عربي دى	دپاره د دى	چي تاسي پوه سئ	موږ	بيانوو	پر تا باندى	ډيره ښه

عربي دى دپاره د دى چي تاسي پوه سئ (پرى). موږ بيانوو (لولوو) پر تا باندى ډيره ښه

الْقَصَصِ بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَاِنْ كُنْتَ

الْقَصَصِ	بِمَآ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ	هٰذَا	الْقُرْاٰنَ	وَاِنْ	كُنْتَ
قصه له ټولو قصو	په سبب	دوحى زموږ	تاته	دغه	قرآن	او بيشكه! شان دادى	چي وى ته

قصه له ټولو قصو (ځكه چي خاوند ئى ښه دى) په سبب د وحى زموږ تاته دغه قرآن او بيشكه! شان دادى چي وى ته

مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ③ اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ

مِنْ قَبْلِهٖ	لَمِنَ	الْغٰفِلِيْنَ	اِذْ قَالَ	يُوْسُفُ	لِاَبِيْهِ
پخوا د دى قرآن	خامخا له	ناخبرانو	هغه وخت چي وويل	يوسف	پلار خپل ته

پخوا (له نزوله) د دى قرآن خامخا له ناخبرانو (په دى قصى). (ياد كړه) هغه وخت چي وويل يوسف پلار خپل (يعقوب) ته

يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

يٰٓاَبَتِ	اِنِّيْ	رَاَيْتُ	اَحَدَ عَشَرَ	كَوْكَبًا	وَّالشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ
اى پلاره زما	بيشكه! ما	وليدل	يوولس	ستورى	او لمر	او سپوږمى

اى پلاره زما بيشكه! ما وليدل (په خوب كښى) يوولس ستورى او لمر او سپوږمى

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ... سورت يوسف ماسوا دخلورو اياتونو څخه نور ټوله مكي دى: په دغه سورت كي دحضرت يوسف عليه السلام قصه په تسلسل او ترتيب سره بيان سويده او دا قصه صرف په دي سورت كي راغلي ده په ټول قرآن كريم كي دوهم وار د دغي قصي هيڅ ذكر نسته دا خصوصيت صرف دحضرت يوسف عليه السلام وقصي ته حاصل دى كنه نور ټولو انبياوو عليهم السلام قصي او واقعات په ټول قرآن كي تر خاص حكمت لاندي جزونه جزونه راوړل سويدي او بار بار راوړل سوي دي: حقيقت دادى چي د دنيا په تاريخ او په تيرو تجربو كي دانسان دراتلونكي ژوند دپاره لوى سبق وي چي ددوى دقدرتي تاثير رنګ دانسان پر زړه او دماغ دعامو تعليماتو څخه ډير زيات ژور او بي محنته وي په دي وجه قرآن كريم كم چي دټولو قومونو دعالم دپاره دآخري هدايت نامي په حيثيت سره راليږل سوى دى په دي كي د دنيا دټولو قومونو دتاريخ هغه حصه را اخستي سويده كمه چي دانسان دحال او انجام داصلاح دپاره كيميايي نسخه ده. (معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۰۲)

رَاَيْتُهُمْ لِيْ سٰجِدِيْنَ ④ قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ

رُءْيَاكَ	لَا تَقْصُصْ	يٰبُنَيَّ	قَالَ	لِيْ سٰجِدِيْنَ	رَاَيْتُهُمْ
(دا) خوب خپل	مه بيانوه	اى زويه زما	وويل (يعقوب)	چې ماته سجده كوونكي وو	وليدل ما دوى

وليدل ما دوى چې ماته سجده كوونكي وو . وويل (يعقوب) اى زويه زما مه بيانوه (مه ښكاروه دا) خوب خپل

عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ

الشَّيْطٰنَ	اِنَّ	لَكَ كَيْدًا	فَيَكِيْدُوْا	عَلٰٓى اِخْوَتِكَ
چې شيطان	بيشكه!	تاته په حيله كولو سره	نو حيله به وكړي دوى	ورونو خپلو ته

ورونو خپلو ته نو حيله (تدبير) به وكړي دوى (هلاک د) تاته په حيله (تدبير) كولو سره ، بيشكه! چې شيطان

لِلْاِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ⑤ وَ كَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ

رَبُّكَ	يَجْتَبِيْكَ	وَ كَذٰلِكَ	مُّبِيْنٌ	عَدُوٌّ	لِلْاِنْسَانِ
رب ستا	غوره به كړي تا	او همدا رنګه	ښكاره	دښمن دى	انسان ته

انسان ته دښمن دى ښكاره . او همدارنګه غوره به كړي تا رب ستا (څنګه چې په دغه خوب سره غوره سوى يې ته)

وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ

عَلَيْكَ	نِعْمَتَهٗ	وَيُتِمُّ	الْاَحَادِيْثِ	مِنْ تَاْوِيْلِ	وَيُعَلِّمُكَ
پرتا	نعمت خپل	او پوره به كړي	دخبرو	څه له ګرځولو	او وبه ښيي تاته

او وبه ښيي تاته څه له ګرځولو د خبرو (خپلو ځايونو ته لكه تعبير د خوبونو ، بيان د كتابونو) او پوره به كړي نعمت خپل پر تا

وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ

اَبَوَيْكَ	عَلٰٓى	اَتَمَّهَا	كَمَآ	يَعْقُوْبَ	اٰلِ	وَعَلٰٓى
دوو پلرونو ستا	پر	پوره كړى ئى دى دا نعمت	لكه چې	ديعقوب	كورنى	او پر

او پر (نوري) كورنى د يعقوب (په نبوت) لكه چې پوره كړى ئى دى دا نعمت پر دوو پلرونو (په نيكه او ورنيكه) ستا

مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ⑥ ع لَقَدْ

لَقَدْ	حَكِيْمٌ	عَلِيْمٌ	رَبَّكَ	اِنَّ	وَاِسْحٰقَ	اِبْرٰهِيْمَ	مِنْ قَبْلُ
خامخا په تحقيق	ښه حكمت والا	ښه عالم دى	رب ستا	بيشكه! چې	او اسحٰق دى	چې ابراهيم دى	پخوا له تا څخه

پخوا له تا څخه چې ابراهيم دى او اسحٰق دى ، بيشكه! چې رب ستا ښه عالم دى ښه حكمت والا . خامخا په تحقيق

قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلٰٓى...خوب هر سړي ته بيانول نه دي ښكار

مسئله: په دغه آيت كې حضرت يعقوب عليه السلام حضرت يوسف عليه السلام د ورونو په مخ كې دخپل خوب بيانولو څخه منع كړى ددې څخه معلومه سوه چې خوب دداسې سړي په مخكې بيانول نه دي ښكار كم چې دده خيرخواه او همدرده نه وي او نه دداسې سړي په مخكې كم چې دخوب په تعبير كې ماهره نه وي: په ترمذي شريف كې يو حديث دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې رښتيا خوب دنبوت څلويښتم جز دى او خوب معلق او زړيږي ترهغه پوري چې چاته بيان نه سي كله چې بيان سو او اوريدونكي يې يو تعبير وايستى نو د هغه تعبير موافق واقع كيږي په دې وجه ښكاردي چې خوب چاته بيان نه سي بغير دهغه سړي څخه چې عالم وي او عاقل وي يا كم از كم دده دوست او خير خواه وي: همداشان په بل حديث شريف كې راغلي دي چې خوب درې قسمه وي يو دالله جل جلاله دطرفه څخه ، او دوهم دنفس خيالات ، او دريم دشيطان تصورات الخ.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۰۸)

ع-٤

كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۞ اِذْ

كَانَ	فِيْ يُوْسُفَ	وَاِخْوَتِهٖ	اٰيٰتٌ	لِّلسَّآئِلِيْنَ	اِذْ
چې ؤ	په (قصې د) يوسف	او ورونو د ده كښې	دلائل	دپاره دپوښتنو كوونكو	هغه وخت چې

چې ؤ په (قصې د) يوسف او ورونو د ده كښې دلائل (د قدرت د الله او نبوت ستا) دپاره د پوښتنو كوونكو. هغه وخت چې

قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا وَنَحْنُ

قَالُوْا	لَيُوْسُفُ	وَاَخُوْهُ	اَحَبُّ	اِلٰٓى اَبِيْنَا	مِنَّا	وَنَحْنُ
وويل دغو	خامخا يوسف	او ورورئې	ډير ګران دى	پلار زموږ ته	له موږ څنې	حال دا چې موږ

وويل دغو (ورونو يو بل ته) خامخا يوسف او ورو ئې (بنيامين) ډير ګران دى پلار زموږ ته له موږ څنې حال دا چې موږ

عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنِۨ ۞ ۨاقْتُلُوْا يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ

عُصْبَةٌ	اِنَّ	اَبَانَا	لَفِيْ	ضَلٰلٍ	مُّبِيْنِ	اقْتُلُوْا	يُوْسُفَ	اَوِ اطْرَحُوْهُ
ډله يو قوتناكه	بيشكه!	پلار زموږ	خامخا په	خطا	ښكاره كښې دى	ووژنئ	يوسف	يا وغورځوئ تاسې هغه

ډله يو قوتناكه بيشكه! پلار زموږ خامخا په خطا ښكاره كښې دى. ووژنئ يوسف يا وغورځوئ تاسې هغه

اَرْضًا يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا

اَرْضًا	يَّخْلُ لَكُمْ	وَجْهُ	اَبِيْكُمْ	وَتَكُوْنُوْا
په كومې مځكې كښې	چې خالي سي تاسې ته	مخ	دپلار ستاسې	او سئ به تاسې

په كومې مځكې (لرې) كښې چې وزګار (او خالص) سي تاسې ته مخ دپلار ستاسې، او سئ به تاسې

مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۞ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا

مِنْۢ بَعْدِهٖ	قَوْمًا	صٰلِحِيْنَ	قَالَ قَآئِلٌ	مِّنْهُمْ	لَا تَقْتُلُوْا
وروسته له دې	يو قوم	صالحان	وويل يوه ويونكي	له دوى څخه	چې مه وژنئ

وروسته له دې (كار) يو قوم صالحان. وويل يوه ويونكي له دوى څخه چې مه وژنئ

يُوْسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ

يُوْسُفَ	وَاَلْقُوْهُ	فِيْ غَيٰبَتِ	الْجُبِّ	يَلْتَقِطْهُ	بَعْضُ
يوسف	او (بلكه) وغورځوئ تاسې هغه	په تياره د	دوركڅاه كښې	چې وائى خلى هغه لره	ځينې

يوسف (چې لويه ګناه ده) او (بلكه) وغورځوئ تاسې هغه په تياره بيغ د ګمنامى كوهى كښې چې وائى خلى هغه لره ځينې

اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰى. دخوب پر برابر مهم هدايات او شرعي مسائل: په صحيح مسلم شريف كي يو حديث دى چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي كله په تاسي كي يو كس بد خوب ويني نو چپه طرف ته دي درې واره ناړي تو كړي او دالله ﷻ څخه دي ددې بدى څخه پناه وغواړي او چاته دي ذكر نه كوي نو دا خوب به ده ته هيڅ نقصان ونه رسوي: وجه داده چي ځيني خوب شيطاني تصورات وي هغه به په دې عمل سره دفع سي او كه ښتيني خوب وي نو ددې عمل په ذريعه دده دبد والي دليري كيدو هم اميد دى. مسئله: دخوب دتعبير پر خوب باندي دموقوف پاته كيدو مطلب په تفسير مظهري كي دابيان سوى دى چي ځيني تقديري كارونه قطعي نه وي بلكي معلق وي چي كه فلانى كار وسو نو دا مصيبت به بيرته ولاړسي او كه ونه سونو واقع به سي دې ته معلقه قضا ويل كيږي په داسي صورت كي په بد تعبير سره معامله بده او په ښه تعبير سره ښه كيداى سي په دغه وجه په حديث شريف كي داسي سړي ته دخوب بيانولو څخه منع سويده: پاته مسئله پر راروان مخ وګورى:

السَّيَّارَةِ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۝١٠ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَالَكَ

السَّيَّارَةِ	اِنْ كُنْتُمْ	فٰعِلِيْنَ	قَالُوْا	يٰٓاَبَانَا	مَالَكَ
تیریدونکی	که یئ تاسی	کوونکی	نو وویل دوی	ای پلاره زمونږ	څه باعث دی تالره

تیریدونکی که یئ تاسی کوونکی (د دی بیلتون). نو وویل دوی ای پلاره زمونږ څه باعث دی تالره

لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ۝١١ اَرْسِلْهُ مَعَنَا

لَا تَاْمَنَّا	عَلٰى	يُوْسُفَ	وَاِنَّا	لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ	اَرْسِلْهُ	مَعَنَا
چی امین نه گرځوی ته موږ	پر	یوسف باندی	حال دا چی بیشکه! موږ	ده ته خامخا نصیحت کوونکی یو	ولیږه دی	له موږ سره

چی امین نه گرځوی ته موږ پر یوسف باندی حال دا چی بیشکه! موږ ده ته خامخا نصیحت کوونکی یو. ولیږه دی له موږ سره

غَدًا يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝١٢ قَالَ اِنِّيْ

غَدًا	يَّرْتَعْ	وَيَلْعَبْ	وَاِنَّا	لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ	قَالَ	اِنِّيْ
صباح	چی وخوری ډیری میوی	او لوبی وکړی	او بیشکه! موږ	ده لره خامخا ساتونکی یو	وویل (یعقوب)	بیشکه! زه چی یم

صباح چی وخوری ډیری میوی او لوبی وکړی او بیشکه! موږ ده لره خامخا ساتونکی یو. وویل (یعقوب) بیشکه! زه چی یم

لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ

لَيَحْزُنُنِيْٓ	اَنْ تَذْهَبُوْا	بِهٖ	وَاَخَافُ	اَنْ يَّاْكُلَهُ	الذِّئْبُ
خامخا غمجنوی می	دا چی بیول دتاسی دی	یو سف لره	او بیریږم	له دی څخه چی وبه خوری یوسف لره	لیوه

خامخا غمجنوی می دا چی بیول د تاسی دی یوسف لره او بیریږم له دی څخه چی وبه خوری یوسف لره شرمښ

وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ۝١٣ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ

وَاَنْتُمْ	عَنْهُ	غٰفِلُوْنَ	قَالُوْا	لَئِنْ	اَكَلَهُ	الذِّئْبُ	وَنَحْنُ
حال دا چی تاسی	به له ده څخه	غافلان یئ	وویل (ورونو د یوسف)	قسم دی	که وخوری یوسف لره	لیوه	حال دا چی موږ

حال دا چی تاسی به له ده نه غافلان یئ. وویل (ورونو د یوسف) قسم دی که وخوری یوسف لره شرمښ حال دا چی موږ

عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۝١٤ فَلَمَّا ذَهَبُوْا

عُصْبَةٌ	اِنَّآ	اِذًا	لَّخٰسِرُوْنَ	فَلَمَّا	ذَهَبُوْا
ډله قوتناکه یو	نو بیشکه! موږ	په دغه وخت کښی	خامخا له زیان کارانو څخه یو	نو کله چی	بوتلو دوی

ډله قوتناکه یو نو بیشکه! موږ په دغه وخت کښی خامخا له زیان کارانو (عاجزانو) څخه یو. نو کله چی بوتلو دوی

قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَالَكَ لَا تَاْمَنَّا... دتیر مخ پاته مسئله دلته وګوری: کم چي عقلمند نه وي یا دده خیر خواه او همدرده نه وي: او دا وجه هم کیدای سي چي دخوب یو ناکاره تعبیر وکړي او دانسان په زړه کي دا خیال کلک سي چي اوس پر ما مصیبت راتلونکی دی او په حدیث شریف کي دي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي (انّی عند ظن عبدی بی) یعني بنده چي زما متعلق څنګه ګمان وي زه دده په حق کي هم هغسي کیږم: کله چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ دطرفه څخه په مصیبت راتلو یقین وکړي نو دالله جَلَّ جَلَالُهُ دعادت موافق ضرور په ده مصیبت راتلل سي. مسئله: ددې څخه چي کمه دا معلومه سوه چي په کم خوب کي دڅه تکلیف یا مصیبت خبره ویني هغه دي چاته نه بیانوي: دحدیثونو درو ایتونو څخه معلومیږي چي دغه منع محض دشفقت او همدردی پر بناه باندي ده شرعي حرامه نه ده په دې وجه که چاته یي بیان وکړې کوم ګناه نه ده ځکه چي په بعض اوقاتو کي نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دداسي څه خوبو بیان صحابه رامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته کړی دی: (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۰۸)

بِهٖ وَاَجۡمَعُوۡۤا اَنۡ يَّجۡعَلُوۡهُ فِىۡ غَيٰبَتِ الۡجُبِّ‌ۚ وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡهِ

بِهٖ	وَاَجۡمَعُوۡۤا	اَنۡ يَّجۡعَلُوۡهُ	فِىۡ غَيٰبَتِ	الۡجُبِّ	وَاَوۡحَيۡنَاۤ	اِلَيۡهِ
يوسف لره	او اتفاق ئی سره وکړ	په دی چی وغورځوی دی	په تياره	دورک ځاه کښی	او وحی وکړه موږ	يوسف ته

يوسف لره او اتفاق ئی سره وکړ په دی چی وغورځوی دی په تياره بيخ دکوهی او وحی وکړه موږ يوسف ته

لَـتُنَـبِّئَنَّهُمۡ بِاَمۡرِهِمۡ هٰذَا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۵﴾

لَـتُنَـبِّئَنَّهُمۡ	بِاَمۡرِهِمۡ	هٰذَا	وَهُمۡ	لَا يَشۡعُرُوۡنَ
چی خامخا به ته خبر ورکړی دوی ته	په کار د دوی چی	دغه دی	حال دا چی دوی	به نه پوهيږی

چی خامخا به خبر ورکړی دوی ته په کار د دوی چی دغه دی حال دا چی دوی به نه پوهيږی (چی ته يوسف ئی).

وَجَآءُوۡۤ اَبَاهُمۡ عِشَآءً يَّبۡكُوۡنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوۡا يٰۤاَبَانَاۤ اِنَّا

وَجَآءُوۡۤا	اَبَاهُمۡ	عِشَآءً	يَّبۡكُوۡنَ	قَالُوۡا	يٰۤاَبَانَاۤ	اِنَّا
او راغلل دوی	پلار خپل ته	په تياره کښی	چی ژړل ئی	وويل دوی	چی ای پلاره زموږ	بيشکه! چی موږ

او راغلل دوی پلار خپل ته بيگا (په تياره کښی) چی ژړل ئی. وويل دوی چی ای پلاره زموږ بيشکه! چی موږ

ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوۡسُفَ عِنۡدَ مَتَاعِنَا

ذَهَبۡنَا	نَسۡتَبِقُ	وَتَرَكۡنَا	يُوۡسُفَ	عِنۡدَ	مَتَاعِنَا
لاړو	مسابقه مو سره کوله	او پريښود موږ	يوسف (يوائی)	په نزد	د اسباب خپلو

لاړو مسابقه مو سره کوله (په غشو ويشتلو او ځغښتلو) کښی او پريښود موږ يوسف (يوائی) په نزد د اسباب خپلو

فَاَكَلَهُ الذِّئۡبُ‌ۚ وَمَاۤ اَنۡتَ بِمُؤۡمِنٍ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صٰدِقِيۡنَ ﴿۱۷﴾

فَاَكَلَهُ	الذِّئۡبُ	وَمَاۤ اَنۡتَ	بِمُؤۡمِنٍ	لَّنَا	وَلَوۡ كُنَّا	صٰدِقِيۡنَ
نو وخوړ ده لره	ليوه	او نه ئی ته	باور کوونکی	موږ لره	او اگر که يو موږ	رښتينی

نو وخوړ ده لره شرمښ، او نه ئی ته باوری کوونکی موږ لره ، او اگر که يو موږ رښتينی .

وَجَآءُوۡ عَلٰى قَمِيۡصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ‌ؕ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ

وَجَآءُوۡ	عَلٰى	قَمِيۡصِهٖ	بِدَمٍ	كَذِبٍ	قَالَ	بَلۡ	سَوَّلَتۡ
او راوړه دوی	د پاسه	په قميص د يوسف باندی	وينه	دروغه	نو وويل (يعقوب)	بلکه	ښائسته کړی دی

او راوړه دوی دپاسه په قميص د يوسف باندی وينه دروغه ، نو وويل (يعقوب دا تهول دروغ دی) بلکه ښائسته کړی دی

وَجَـآءُوۡۤ اَبَاهُمۡ عِشَـآءً يَّبۡكُوۡنَ. دخوب په باره کي څه شرعي مسائل دلته ليکل کيږي.

مسئله : دلته دا خبره هم معلومه سوه چي مسلمان ته د نورو د شر څخه د ساتني دپاره دهغوی ديو خوی يا نيت اظهار کول جائز دي دا په غيبت کي داخل نه دي مثلا چا ته معلومه سي چي د فلانی سړی د کور څخه دغلا يا دده دقتل کولو منصوبه جوړيږي نو ده ته پکار دي چي دا سړی خبر کړي دا په حرام غيبت کي داخله نه ده لکه چي حضرت يعقوب عليه السلام حضرت يوسف عليه السلام ته ددي اظهار وکی چي دوړونو څخه دده ځان ته خطره وه نو ځکه دي دغه خوب دی وووړونو ته نه وايي : **مسئله** : دا خبره هم دلته معلومه سوه چي دکم سړي متعلق دا احتمال وي چي زما دخوشحالی او دنعمت ذکر وواري نو حسد به کوي او دنقصان رسولو فکر به کوي نو دده په مخکي دي خپل نعمت او عزت وغيره ذکر نه کوي : دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چي دخپلو مقصدونو دکاميابو جوړولو دپاره ددوی په راز کي په ساتلو سره مدد حاصل کړی ځکه چي په دنيا کي دهر نعمت دخاوند سره حسد کيږي.

(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۰۹)

لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۖ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ

لَكُمْ	اَنْفُسُكُمْ	اَمْرًا	فَصَبْرٌ	جَمِيْلٌ	وَاللّٰهُ	الْمُسْتَعَانُ
تاسی ته	نفسونو ستاسی	یو کار	نو کار زما صبر	جمیل دی	او د الله څخه	مدد غوښتلی سی

تاسي ته نفسونو ستاسي یو (لوی بد) کار نو کار زما صبر ښایسته دی بی شکایته، او (له هم دغه) الله څخه مدد د غوښتلی سی

عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿١٨﴾ وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ

عَلٰى	مَا تَصِفُوْنَ	وَجَآءَتْ	سَيَّارَةٌ	فَاَرْسَلُوْا	وَارِدَهُمْ
په	هغی کښی چی تاسی ئی بیانوئ	او راغله	قافله	نو ولیږه دوی	او به راوړونکی خپل

په (تحمل د) هغی کښی چی تاسی ئی بیانوئ. او راغله قافله (له مدین مصر ته تله) نو ولیږه دوی او به راوړونکی خپل

فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ۖ قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ ۖ

فَاَدْلٰى	دَلْوَهٗ	قَالَ	يٰبُشْرٰى	هٰذَا	غُلٰمٌ
نو ورایله ئی کړه	ځلواغه خپله	نو وی وویل	ای خوشالیه زما	دا	یو هلک دی

نو (ځوړنده) خوشی ئی کړه بوکه خپله (په کوهی) نو وی ویل ای خوشالیه زما (راحاضره سه!) چی دا یو هلک دی ډیر ښاسته،

وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ۖ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾

وَاَسَرُّوْهُ	بِضَاعَةً	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	بِمَا يَعْمَلُوْنَ
او پټ کړ دوی هغه	د تجارت د مال په توګه	او الله	ښه عالم دی	په هغو کارونو چی کول دوی

او پټ کړ دوی هغه د تجارت د مال په توګه (طور) ، او الله ښه عالم دی په هغو کارونو چی کول. (وروڼو د یوسف د ده سره)

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ وَكَانُوْا

وَشَرَوْهُ	بِثَمَنٍ	بَخْسٍ	دَرَاهِمَ	مَعْدُوْدَةٍ	وَكَانُوْا
او خرڅ ئی کړی هغه	په پیسو	ناکارو سره	چی څو روپی وی	شمیرلی سوی	او ؤ دوی

او وپلوره (خرڅ کړ) دوی هغه (ورور خپل) په پیسو ناکارو سره چی یو څو روپی وی شمیرلی سوی (لږی)، او ؤ دوی

فِيْهِ مِنَ الزّٰهِدِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَقَالَ الَّذِى اشْتَرٰىهُ مِنْ مِّصْرَ

فِيْهِ	مِنَ الزّٰهِدِيْنَ	وَقَالَ	الَّذِى	اشْتَرٰىهُ	مِنْ مِّصْرَ
په حق د یوسف کښی	له بی رغبتانو	او وویل	هغه سړی	چی ئی آخیستی ؤ یوسف	او ؤ له مصره

په حق د یوسف کښی له بی رغبتانو. او وویل هغه سړی (عزیز د مصر) چی ئی آخیستی ؤ یوسف او ؤ له اهله د مصره

ع ۲ / ۱۴ / ۱۲

وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ..

دقافلې خلکو حضرت یوسف ؑ پیدا کې او دڅاه څخه یې راوکښی:

مطلب دادی چې اتفاقا یوه قافله دې مځکې ته راغله داقافله دشام څخه مصر ته تلله چې لار ورڅخه ورکه سوه او دې غیر آباد ځنګل ته راغله او داوبو راوړونکي یې څاه ته ولیږل: دخلقو په نظر کې دااتفاقي واقعه وه چې شامي قافلې لاره هیره کړه دلته راغله او ددې غیر آباد څاه سره یې مخامخ کیدل راغلل لیکن دکائناتو په راز پوهیدونکي پوهیږي چې داټول واقعات یودبل سره تړل سوي او محکم نظام په یوبل پوري پیوست کړي دي دحضرت یو سف ؑ پیدا کوونکې او حفاظت کوونکې قافله دلاري څخه بې لاري کوي دلته یې راولي او دقافلې سړي دې غیر آباد څاه ته لیږي دا حال دی ددې ټولو حالاتو او واقعاتو کمې چې عام انسان اتفاقي حادثې ګڼي او فلسفیان ورته نصیبه او اتفاقیه وایي کم چې په حقیقت کې دکائناتودنظام څخه پر ناواقفیت باندي مبني وي کنه نو په تکویني سلسله کې نصیبه او اتفاق نسته:

(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۲۵)

لِامۡرَاَتِهٖۤ اَكۡرِمِىۡ مَثۡوٰىهُ عَسٰٓى اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ اَوۡ نَتَّخِذَهٗ

لِامۡرَاَتِهٖۤ	اَكۡرِمِىۡ	مَثۡوٰىهُ	عَسٰٓى	اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ	اَوۡ نَتَّخِذَهٗ
ښځې خپل ته	چې په عزت لره	ځای د دغه (یوسف)	ښائی چې	نفع ورسوی موږ ته	یا به ونیسو موږ دی

ښځې خپل ته چې په عزت لره ځای د دغه (یوسف) ښائی چې نفع ورسوی موږ ته یا به ونیسو موږ دی

وَلَدًا ؕ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوۡسُفَ فِى الۡاَرۡضِ وَلِنُعَلِّمَهٗ

وَلَدًا	وَكَذٰلِكَ	مَكَّنَّا	لِيُوۡسُفَ	فِى الۡاَرۡضِ	وَلِنُعَلِّمَهٗ
ځوی	او همداسی	ځای او قدرت ورکړ موږ	یوسف ته	په مځکه کښې	او ښیو موږ یوسف ته

ځوی (چې دواړه اولاد نه لرو) او همداسی ځای او قدرت ورکړ موږ یوسف ته په مځکه (دمصر) کښې او ښیو موږ یوسف ته

مِنۡ تَاۡوِيۡلِ الۡاَحَادِيۡثِ ؕ وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰۤى اَمۡرِهٖ

مِنۡ تَاۡوِيۡلِ	الۡاَحَادِيۡثِ	وَاللّٰهُ	غَالِبٌ	عَلٰۤى	اَمۡرِهٖ
څه له ګرځولو	دخبرو	او الله	غالب دی	په	کارونو خپلو

څه له ګرځولو د خبرو (خپل محل ته لکه تعبیر دخوبونو، بیان د کتابونو) او الله غالب دی په کارونو خپلو ،

وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗۤ

وَلٰـكِنَّ	اَكۡثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ	وَلَمَّا	بَلَغَ	اَشُدَّهٗۤ
ولیکن	زیات	خلګ	نه پوهیږی (په دی)	او کله چې	ورسید	یوسف قوت خپل ته

ولیکن زیات خلګ نه پوهیږی (په دی). او کله چې ورسید یوسف قوت خپل ته

اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا وَّعِلۡمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۲۲﴾

اٰتَيۡنٰهُ	حُكۡمًا	وَّعِلۡمًا	وَكَذٰلِكَ	نَجۡزِى	الۡمُحۡسِنِيۡنَ
نو ورکړ موږ ده ته	حکم	او علم	او همداسی	جزاء (بدل) ورکوو	نیکو کارانو ته

نو ورکړ موږ ده ته حکم او علم، او همداسی جزا (بدل) ورکوو نیکو کارانو ته .

وَرَاوَدَتۡهُ الَّتِىۡ هُوَ فِىۡ بَيۡتِهَا عَنۡ نَّفۡسِهٖ وَغَلَّقَتِ

وَرَاوَدَتۡهُ	الَّتِىۡ	هُوَ	فِىۡ	بَيۡتِهَا	عَنۡ نَّفۡسِهٖ	وَغَلَّقَتِ
او طلب د فریب وکړ ده لره	هغی چې	دغه یوسف	په	کور دهغی کښې ؤ	دپاره د نفس د ده	او کلکی ئی بندی کړی

او طلب د فریب وکړ ده لره هغه (ښځی) چې دغه یوسف په کور دهغو کښې ؤ دپاره د نفس د ده او کلکی ئی بندی کړی

اَكۡرِمِىۡ مَثۡوٰىهُ عَسٰٓى اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ اَوۡ نَتَّخِذَهٗ. عزیز مصر وخپلي ښځي ته دیوسف عليه السلام سره دښه سلوک امر وکړ: په دغه آیت کي الله جل جلاله فرمايي چي وویل هغه سړي چاچي یوسف عليه السلام په مصر کي رانیولی وو وخپلي ښځي ته چي دحضرت یوسف عليه السلام داوسیدو ښه انتظام کوه. مطلب دادی چي دقافلې خلګو دی مصر ته بوتلی اودخرڅولو اعلان یي وکړی نو په تفسیر قرطبي کي دي چي خلګو قیمتونه زیاتول شروع کړل تر دې چي دحضرت یوسف عليه السلام دوزن برابر سره زر او دده برابر مشک او دده برابر وریښمیني جامې دده قیمت مقرر سودادولت الله جل جلاله دعزیز مصر په قسمت کي مقرر کړی وو هغه دا ټول شیان په قیمت کي اداکړل حضرت یوسف عليه السلام یي واخیستی لکه چي اول دقرآني ارشاد څخه دا معلومه سویده چي دا ټوله یوه اتفاقي واقعه ه وه بلکي دربّ العزت دجوړ سوي مستحکم تدبیر اجزاء دي چي په مصر کي دحضرت یوسف عليه السلام دپاره د ټولو څخه عزتمند شخص مقرر کړی او دادمصر دخزانې وزیر وو په قول دمفسرینو الخ:
معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۳۰)

الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۭ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ

الْاَبْوَابَ	وَقَالَتْ	هَيْتَ	لَكَ	قَالَ	مَعَاذَ	اللّٰهِ	اِنَّهٗ
تولې دروازې	او بيا وويل دغې ښځې	هله ژر راسه ته	زه تالره يمه	وويل يوسف	پناه نيسم	په الله پورې	چې بيشکه! عزيز

دروازې او بيا وويل دغې ښځې هله زر راشه ته! زه تالره يمه، وويل يوسف پناه نيسم په الله پورې چې بيشکه عزيز مالک

رَبِّيْٓ اَحْسَنَ مَثْوَايَ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَلَقَدْ

رَبِّيْٓ	اَحْسَنَ	مَثْوَايَ	اِنَّهٗ	لَا يُفْلِحُ	الظّٰلِمُوْنَ	وَلَقَدْ
خاوند زما دی	چې ښه ئې کړی ده	ساتنه زما	بيشکه! شان دادی	نه کاميابه کيږی	ظالمان	او خامخا په تحقيق

خاوند زما دی چې ښه ئې کړی ده ساتنه زما بيشکه! شان دادی چې نيکی نه مومی ظالمان. او خامخا په تحقيق

هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ۭ

هَمَّتْ	بِهٖ	وَهَمَّ	بِهَا	لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ	بُرْهَانَ	رَبِّهٖ
قصد کړی دی دی	دغه ته	او (يوسف) به قصد کړی وی	دی ښځی ته	که نه وی ليدلی يوسف	دليل	د رب خپل

قصد کړی دی دغه (يوسف) ته(دجماع) او (يوسف) به قصد کړی وی دی ښځی ته که نه وی ليدلی برهان درب خپل

كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْۗءَ وَالْفَحْشَاۗءَ ۭ اِنَّهٗ

كَذٰلِكَ	لِنَصْرِفَ	عَنْهُ	السُّوْۗءَ	وَالْفَحْشَاۗءَ	اِنَّهٗ
هم داسی (ساتلی دی)	دپاره د دی چې وګرځوو موږ	له ده څنې	بد	او ناکاره فعل	بيشکه! دغه (يوسف)

هم داسی (ساتلی دی موږ يوسف) دپاره د دی چې وګرځوو موږ له ده څنې بد او ناکاره فعل، بيشکه دغه (يوسف)

مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ۝ وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيْصَهٗ

مِنْ عِبَادِنَا	الْمُخْلَصِيْنَ	وَاسْتَبَقَا	الْبَابَ	وَقَدَّتْ	قَمِيْصَهٗ
له بندګانو زموږ څخه ؤ	چې مخلصين دی	او سره منډی وهلی دواړو	دروازی ته	او څيرې کړ (ښځی)	کميس د ده

له بندګانو مخلصو (غورو پاکو) زموږ څخه ؤ. او سره منډ ی وهلی دواړو دروازی ته او څيرې کړ (ښځی) کميس د دغه

مِنْ دُبُرٍ وَّاَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ۭ قَالَتْ

مِنْ دُبُرٍ	وَّاَلْفَيَا	سَيِّدَهَا	لَدَا الْبَابِ	قَالَتْ
د شا له طرفه	او مخامخ سول دوی دواړه	خاوند د زليخا سره	د دروازې سره	وويل (زليخا)

(يوسف) د شا له طرفه او مخامخ سو ل دوی دواړه ميره (خاوند) د زليخا (عزيز) سره د دروازی څخه، وويل (زليخا عزيز ته)

وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۭ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ.. دکمي ښځي په کور کي چي حضرت يوسف عليه السلام اوسيدی هغه پرده عاشقه سوه: نو دغه ښځه راولاړه سوه او د حضرت يوسف عليه السلام څخه يې دخپل مطلب د حاصلولو دپاره ده ته په خطا ايستلو سوه او دکور تولي دروازې يې بندې کړې او ده ته يې وويل چي ژر راسه تاته وايم په اول آيت کي دا معلومه سوې ده چي دا ښځه دعزيز مصر ښځه وه مګر دلته قرآن کريم دعزيز مصر دښځي لنډلفظ پرينبوی اوداسي تعبير يې اختياره کی **(التی هو فی بيتها)** الفاظ يې اختياره کړل په دي کي اشاره دې طرف ته ده چي دحضرت يوسف عليه السلام دګنا څخه دخلاصيدو په مشکلاتو کي دي خبري نور هم اضافه کړې وه چي دی ددغه ښځي په کور کي ددې په پناه کي اوسيدی ددې خبره نه منل آسان کار نه وو: **او دګناه څخه دخلاصيدو قوي ذريعه په خپله دالله جل جلاله څخه پناه غوښتل دي.** اوددې ظاهري سبب دا سو چي حضرت يوسف عليه السلام کله خپل ځان راګير وليدی نو په پيغمبرانه اندازيي د ټولو څخه اول دخدای پناه وغوښته: (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۳۲)

مَا جَزَآءُ مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾

مَا جَزَآءُ	مَنْ اَرَادَ	بِاَهْلِكَ	سُوْٓءًا	اِلَّآ	اَنْ يُّسْجَنَ	اَوْ عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
نه ده جزا	دهغه چاچي اراده ئی کړې ده	په اهل ستا	دبدی	مګر	داچي بندي کړسي	يا عذاب	دردناک دی

نه ده جزاء دهغه چاچي اراده ئی کړې ده په اهل ستا دبدی مګر دا چي بندي کړسي يا عذاب دردناک دی.

قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ

قَالَ	هِيَ	رَاوَدَتْنِيْ	عَنْ نَّفْسِيْ	وَشَهِدَ	شَاهِدٌ	مِّنْ
وويل (يوسف)	چي هم دی	طلب کړی دی له ما څخه	دپاره د نفس زما	او شاهدی ورکړه	شاهد	له

وويل (يوسف) چي هم دی طلب (او فريب) کړی دی له ماسره دپاره د نفس زما او شاهدی ورکړه (يوه تی رودونکی) شاهد له

اَهْلِهَا اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ

اَهْلِهَا	اِنْ كَانَ	قَمِيْصُهٗ	قُدَّ	مِنْ	قُبُلٍ	فَصَدَقَتْ	وَهُوَ
کورنی د زليخا څخه	که ؤ	کميس ديوسف	څيری کړی سوی	د	مخی له خوا	نو رښتيا وائی زليخا	او دغه (يوسف)

کورنی د زليخا څخه (داسی) که ؤ کميس د يوسف څيری کړی سوی د مخی له خوا نو رښتيا وائی زليخا او دغه (يوسف)

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ	وَاِنْ كَانَ	قَمِيْصُهٗ	قُدَّ	مِنْ دُبُرٍ	فَكَذَبَتْ
د دروغجنانو څخه دی	او که وو	کميس د دغه (يوسف)	څيری کړی سوی	د شا له لوری	نو دروغ وائی زليخا

د دروغجنانو څخه دی. او که ؤ کميس د دغه (يوسف) څيری کړی سوی د شا له لوری نو دروغ وائی زليخا

وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ

وَهُوَ	مِنَ	الصّٰدِقِيْنَ	فَلَمَّا	رَاٰ قَمِيْصَهٗ	قُدَّ	مِنْ دُبُرٍ
اويوسف	له	رښتيا ويونکو څخه دی	نو کله چي	وليدی کميس ديوسف	چي څيری سوی دی	د شا له لوری

اويوسف له رښتيا ويونکو څخه دی. نو کله چي وليد (عزيز) کميس د يوسف چي څيری سوی دی د شا له لوری

قَالَ اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ۭ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾

قَالَ	اِنَّهٗ	مِنْ	كَيْدِكُنَّ	اِنَّ	كَيْدَكُنَّ	عَظِيْمٌ
نو وويل (عزيز)	چي بيشکه! دغه	له	مکرونو ستاسی ښځو څخه دی	بيشکه!	فريب د تاسو ښځو	ډير لوی دی

نو وويل (عزيز) چي بيشکه! دغه (يو فريب دی) له فريبانو ستاسی ښځو څخه بيشکه! فريب د تاسو ښځو ډير لوی دی.

اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ. حضرت يوسف عليه السلام ددباندي وتلو دپاره ددروازې طرف ته منډه کړه په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله جل جلاله داښوولي ده چي حضرت يوسف عليه السلام په دغه خلوت ګاه کي دخپل رب ددليل په ليدو سره ددغه ځايه څخه په منډه سو او ددباندي وتلو دپاره يي دروازې ته منډه کړه دعزيز مصر ښځه دده دنيولو دپاره ورپسې په منډه سوه او دحضرت يوسف عليه السلام قميص يي ونيوی او ددباندي تلو څخه يي منع کوی خو دی دخپلي ارادې مطابق ونه دريدی نو قميص يي دشا دخوا څخه څيري سو مګر حضرت يوسف عليه السلام ددروازي څخه دباندي راووتی او په ده پسي زليخا هم دباندي راووته: په تاريخي روايتونو کي ذکر دي چي دروازه قلف وه کله چي حضرت يوسف عليه السلام منډه کړه او دروازې ته ورسيدی نو قلف په خپله مات سو او لاندي راولويدی کله چي دوی دواړه ددروازي څخه د باندي راووتل نو وي کتل چي عزيز مصر په مخکي ولاړدی نو دده ښځه وبيريده او خبره يي داسي جوړه کړه چي الزام پر حضرت يوسف عليه السلام راسي پاته يا پر راروان مخ وګوری.

ع ٣ ١٣

يُوسُفُ اَعۡرِضۡ عَنۡ هٰذَا وَاسۡتَغۡفِرِيۡ لِذَنۡبِكِ

يُوسُفُ	اَعۡرِضۡ	عَنۡ هٰذَا	وَاسۡتَغۡفِرِيۡ	لِذَنۡبِكِ
ای یوسف	واوړه	له دی کاره	او مغفرت وغواړه ای زلیخا	گناه خپل ته

ای یوسف! واوړه له دی کاره او پټ د زلیخا وساته او مغفرت وغواړه گناه خپل ته

اِنَّكِ كُنۡتِ مِنَ الۡخٰطِـِٕيۡنَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ نِسۡوَةٌ فِي الۡمَدِيۡنَةِ

اِنَّكِ	كُنۡتِ	مِنَ الۡخٰطِـِٕيۡنَ	وَقَالَ	نِسۡوَةٌ	فِي الۡمَدِيۡنَةِ
بیشکه! چي	ته ئی	له خطاکارانو	او وویل	یو څو ښځو	په ښار کښی

بیشکه چی ته ئی (ای زلیخا!) له خطا کارانو . او وویل یو څو ښځو په ښار (د مصر) کښی

امۡرَاَتُ الۡعَزِيۡزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنۡ نَّفۡسِهٖ ۚ قَدۡ شَغَفَهَا

امۡرَاَتُ	الۡعَزِيۡزِ	تُرَاوِدُ	فَتٰىهَا	عَنۡ نَّفۡسِهٖ	قَدۡ	شَغَفَهَا
چی ښځه	د عزیز	طلب کوی	د مریئ خپل څخه	له نفس د ده	په تحقیق	څیری کړی ده پرده د زړه د دی ښځی

چی ښځه د عزیز طلب کوی د مریئ خپل له نفس د ده (مراد خپل) په تحقیق څیری کړی ده پرده د زړه د دی ښځی

حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿٣٠﴾ فَلَمَّا سَمِعَتۡ

حُبًّا	اِنَّا لَنَرٰىهَا	فِيۡ	ضَلٰلٍ	مُّبِيۡنٍ	فَلَمَّا	سَمِعَتۡ
له جهته د محبت	بیشکه! موږ خامخا وینو زلیخا	په	گمراهی	ښکاره کښی	نو کله چی	واورید (زلیخا غیبت)

له جهته د محبت، بیشکه! موږ خامخا وینو زلیخا په گمراهی ښکاره کښی. نو کله چی واورید (زلیخا غیبت)

بِمَكۡرِهِنَّ اَرۡسَلَتۡ اِلَيۡهِنَّ وَاَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَاً

بِمَكۡرِهِنَّ	اَرۡسَلَتۡ	اِلَيۡهِنَّ	وَاَعۡتَدَتۡ	لَهُنَّ	مُتَّكَاً
مکر د دوی	نو ولیږه (زلیخا)	دغو (ښځو) ته	او تیاری کړی	دغو ښځو ته	مجلس

مکر (فریب) د دوی ، نو ولیږه (زلیخا یو څوک) دغو (ښځو) ته او تیاری کړ دغو ښځو ته مجلس یا میلمستیا

وَّاٰتَتۡ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنۡهُنَّ سِكِّيۡنًا وَّقَالَتِ اخۡرُجۡ

وَّاٰتَتۡ	كُلَّ	وَاحِدَةٍ	مِّنۡهُنَّ	سِكِّيۡنًا	وَّقَالَتِ	اخۡرُجۡ
او ورئی کړه	هری	یوی ښځی ته	له دغو څخه	چاړه	وویل (زلیخا یوسف ته)	راووځه

او ورئی کړی هری یوی ښځی ته له دغو (ښځو) څخه چړوکئ او وویل (زلیخا یوسف ته) راووځه

يُوسُفُ اَعۡرِضۡ عَنۡ هٰذَا
دتیر مخ پاته بیان دلته
وگوری: الله جَلَّ جَلَالُهُ خپل
غوره بندگان دگناه څخه
محفوظ او معصوم ساتي.
او زلیخا بیا وویل عزیز
مصرته چي کم سړی ستا
دښځي سره دبد کار اراده
وکړي نو دده سزا ددې
څخه ماسوا څه کیدای سي
چي دی په قید کي واچول
سي یا بله بدني سخته
سزا ورته ورکړه سي:
حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ دخپل
پیغمبرانه شرافت پر بنا
غالبا ددې راز ښکاره نه
کی مگر کله چي دامخکي
سوه او پر حضرت یوسف
عَلَيْهِ السَّلَامُ یي تهمت ورپوري
کی نو مجبوره سو او دوی
دحقیقت اظهار وکی او
وې فرمایل (هی راودتنی
عن نفسی) یعني دې زه
دخپل مطلب دپاره
خطا یستلم : خو معامله
ډیره نازکه وه او دعزیز
مصر دپاره ددې فیصله
کول ډیر گران وو چي په
دواړو کي یو ربنستینی
وگڼي دشاهدی او ثبوت
هیڅ موقع نه وه مگر الله
جَلَّ جَلَالُهُ چي څنگه خپل غوره
کړي بندگان دگناه څخه
ساتي دغه رکم په دنیا کي
هم ددوی درسوایي څخه
دساتلو انتظام په معجزانه
اندازسره کوي او په
عمومي طورسره .. پاته
بیان پر راروان مخ وگوری

وَلَقَدۡ رَاوَدۡتُّهٗ عَنۡ نَّفۡسِهٖ فَاسۡتَعۡصَمَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: پـر داسـي موقعـو بانـدي دداسـي ورو بچيـانو څخـه کار اخيستل کيږي کم چي عادتا دخبرو کولو قابل نه وي مګر په طور دمعجزې ودوی تـه دخبـرو ورکولـو طاقت ورکړه سي او دخپلو مقبولـــو بنـــدګانوبرآءت يعني بري کيدل ظاهر کړي لکه چي پر حضرت مريم بانـدي چـي کلـه خلګـو تهمت ولګـوی نـو صرف ديوي ورځي بچي حضرت عيسى عليه السلام حق تعالى جل جلاله ګويـا کـی دده دژبـي څخـه يي دمور پاک لمني ښکاره کـړه او يـو خـاص خـدايي نخښـه ونښـوول سـوه دغـه رکـم دلتـه هـم درواياتـو موافق يـو کوچني الله جل جلاله ګويا کي او هغه هم پـه يوه ډيـر عاقلانـه او حکيمانـه انداز سره: داکوچني بچي پـه دي کـور کـي پـه زانګـو کي پروت وودادچاګمان وو چـي دی بـه دا کارونـه ويني او پوهيږي به باندي او بيـا بـه دا پـه يوانـداز کـي بيـان هـم کـړي مګـر الله جل جلاله چـي ديـو شـي اراده وکـړي خـو هغـه بيـا ډيـــر آســـانه دی الله جل جلاله دنيـا دنيـا تـه دحضـرت يوســف عليه السلام پـــاکي او عفـت وروښـووی الـخ. (معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۴۱)

عَلَيۡهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَيۡنَهٗۤ اَكۡبَرۡنَهٗ وَقَطَّعۡنَ اَيۡدِيَهُنَّ وَقُلۡنَ

عَلَيۡهِنَّ	فَلَمَّا	رَاَيۡنَهٗ	اَكۡبَرۡنَهٗ	وَقَطَّعۡنَ	اَيۡدِيَهُنَّ	وَقُلۡنَ
په دوی	نو کله چي	وليد دوی دغه	نو ډير لوی ښائيسته ئی پيدا کړی هغه	او پری یئ کړل	لاسونه خپل	او وویل دوی

په دوی نو کله چي وليد دوی دغه (يوسف) نو ډير لوی ښائسته ئی ومونډ او غوڅ ئی کړل لاسونه خپله او وويل دوی

حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيۡمٌ ﴿۳۱﴾

حَاشَ	لِلّٰهِ	مَا هٰذَا	بَشَرًا	اِنۡ هٰذَاۤ	اِلَّا مَلَكٌ	كَرِيۡمٌ
پاکي ده	الله ته	نه دی دغه	انسان	نه دی دغه	مګر ملائيکه ده	لويه عزتمنده

پاکي ده الله ته نه دی دغه (ځلمی) انسان، نه دی دغه (ځلمی) مګر ملائيکه ده لويه.

قَالَتۡ فَذٰلِكُنَّ الَّذِیۡ لُمۡتُنَّنِیۡ فِيۡهِ ؕ وَلَقَدۡ رَاوَدۡتُّهٗ

قَالَتۡ	فَذٰلِكُنَّ الَّذِیۡ	لُمۡتُنَّنِیۡ	فِيۡهِ	وَلَقَدۡ	رَاوَدۡتُّهٗ
نو وويل	دا هغه ځلمی دی چي	ملامته کړی ومه تاسوزه	په (محبت د) ده کښې	او خامخا په تحقيق	طلب کړی ؤ ما له ده

نو وويل (زليخا) دا هغه ځلمی دی چي ملامته کړی ومه تاسو زه په (محبت د) ده کښې، او خامخا په تحقيق طلب کړی ؤما

عَنۡ نَّفۡسِهٖ فَاسۡتَعۡصَمَ ؕ وَلَئِنۡ لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَاۤ اٰمُرُهٗ

عَنۡ نَّفۡسِهٖ	فَاسۡتَعۡصَمَ	وَلَئِنۡ لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَاۤ	اٰمُرُهٗ
له نفسه د ده	نو ځان ئی وساته	او قسم دی خامخا که ونه کړی هغه څه چي	امر کوم زه ده ته

له ده له نفسه د ده (مدعا خپله) نو ځان ئی وساته، او قسم دی خامخا که ونه کړی هغه څه چي امر کوم زه ده ته (او وايم زه)

لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُوۡنًا مِّنَ الصّٰغِرِيۡنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ

لَيُسۡجَنَنَّ	وَلَيَكُوۡنًا	مِّنَ الصّٰغِرِيۡنَ	قَالَ	رَبِّ
نو خامخا به بندی کړی سی هرومرو	او خامخا سی به دی	له ذليلانو	نو وويل يوسف	ای ربه زما

نو خامخا به بندی (قيد) کړی سی هرومرو او خامخا سی به دی له ذليلانو . نو وويل (يوسف) ای ربه زما

السِّجۡنُ اَحَبُّ اِلَیَّ مِمَّا يَدۡعُوۡنَنِیۡۤ اِلَيۡهِ ۚ وَاِلَّا تَصۡرِفۡ

السِّجۡنُ	اَحَبُّ	اِلَیَّ مِمَّا	يَدۡعُوۡنَنِیۡۤ	اِلَيۡهِ	وَاِلَّا تَصۡرِفۡ
بندی خانه	ډيره خوښه ده زما	له هغه کاره چي	بولي دا ښځی ما	هغه کار ته	او که ونه ګرځوی ته

بندی خانه ډيره خوښه ده زما له هغه کاره چي بولی دا ښځی ما هغه کار ته ، او که ونه ګرځوی ته

عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ٣٣

عَنِّيْ	كَيْدَهُنَّ	اَصْبُ	اِلَيْهِنَّ	وَاَكُنْ	مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ
له ما څخه	مکر فریب د دی ښځو	نو میلان به وکړم زه	دوی ته	او بیا به وګرځم	له جاهلانو

له ما څخه مکر فریب د دی ښځو نو میلان به وکړم زه دوی ته او بیا به وګرځم له جاهلانو .

فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۭ اِنَّهٗ هُوَ

فَاسْتَجَابَ	لَهٗ	رَبُّهٗ	فَصَرَفَ	عَنْهُ	كَيْدَهُنَّ	اِنَّهٗ	هُوَ
نو قبوله کړه	ده ته	رب د ده	نو وګرځاوه	له ده څخه	فریب د دوی	بیشکه! الله	هم دی

نو قبوله کړه ده ته رب د ده (دا دعا) نو وګرځاوه له ده څخه فریب د دوی ، بیشکه! الله هم دی

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ٣٤ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا

السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ	ثُمَّ	بَدَا لَهُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ مَا	رَاَوُا
ښه آوریدونکی	ښه عالم دی	نو بیا	ښکاره سو دوی ته	وروسته له هغه	چي ولیدل دوی

ښه آوریدونکی ښه عالم دی. نو بیا ښکاره سو دوی ته وروسته له هغه چي ولیدل دوی

الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ٣٥ ع وَدَخَلَ مَعَهُ

الْاٰيٰتِ	لَيَسْجُنُنَّهٗ	حَتّٰى حِيْنٍ	وَدَخَلَ	مَعَهُ
دلائل	چي خامخا په بندی خانه کښې به واچوی هرومرو دی	تر یو وخت پوری	او ننوتل	له ده سره

دلائل (دپاکئ د یوسف) چي خامخا په بندی خانه کښې به واچوی هرومرو دی تر یو وخت پوری. او ننو تل له ده سره

السِّجْنَ فَتَيٰنِ ۭ قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ

السِّجْنَ	فَتَيٰنِ	قَالَ	اَحَدُهُمَآ	اِنِّيْٓ	اَرٰىنِيْٓ	اَعْصِرُ	خَمْرًا
په زندان کښې	دوه ځوانان	وویل	یو له دی دواړو	بیشکه! زه	وینم ځان خپل	داچي انګور نښتیړم	دپاره د شرابو

په زندان کښې دوه ځلمیان، وویل یو له دی دواړو بیشکه زه وینم ځان خپل (په خوب کی) حال داچي نچوړوم انګور دپاره د شرابو

وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّيْرُ

وَقَالَ	الْاٰخَرُ	اِنِّيْٓ	اَرٰىنِيْٓ	اَحْمِلُ	فَوْقَ رَاْسِيْ	خُبْزًا	تَاْكُلُ	الطَّيْرُ
او وویل	هغه بل	چي بیشکه! زه	وینم ځان خپل	بار کړی می ده	لوړ پر سر خپل	ډوډوی	چي خوری	مرغان

او وویل هغه بل چي بیشکه! زه وینم ځان خپل حال داچي بار کړی می ده په سر خپل ډوډی چي خوری مرغان

فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ...

حضرت یوسف علیه السلام دښځو دخواهشاتو دپوره کولو په بدل کي محبس خوښ کړی: حضرت یوسف علیه السلام چي کله دا ولیدل چي دا ښځي دمصر هم دزلیخا ملګر تیا کوي او ددوی دمکر او فریب څخه دخلاصید وظاهري یو تدبیر هم پاته نه سو نو بیا یي دالله جل جلاله طرف ته رجوع وکړه او دالله جل جلاله رب العزت په دربار کي یي عرض وکی چي ای زما پالونکي ذاته دا ښځي چي ما کم طرف ته بولي ددې څخه خو زما محبس او جیل خانه زیاته خوښه ده که ته ددوی دا مکر او فریب زما څخه منع نه کړې نو ممکنه دچي زه ددوی طرف ته مایله سم او دناپوهی کار وکړم: دحضرت یوسف علیه السلام دا فرمایل چي جیل خانه زما خوښه ده څه دقید او بند طلب کول یا خواهش کول نه وو بلکي دګناه په مقابله کي دادنیوي مصیبت دآسانه ګڼلو اظهار دی: په بعضي روایاتو کي دي چي کله یوسف علیه السلام محبس ته واچول سو الله جل جلاله وحی ورته راواستولې چي تا په خپله محبس اختیاره کی که دي عافیت غوښتی وای نو در کړی به مي وای الخ . معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۴۹)

ع ٤ ١٤

مِنۡهُ‌ؕ نَبِّئۡنَا بِتَاۡوِيۡلِهٖ‌ۚ اِنَّا نَرٰٮكَ مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝٣٦

مِنۡهُ	نَبِّئۡنَا	بِتَاۡوِيۡلِهٖ	اِنَّا	نَرٰٮكَ	مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ
له هغی	خبر کړه ته موږ	په تعبير د دی	بيشکه! موږ	وينو تا	له نيکو کارانو

له هغی (ډوډی) ، خبر کړه ته موږ په تعبير د دی (هر يوه خوب) ، بيشکه! موږ وينو تا له نيکو کارانو.

قَالَ لَا يَاۡتِيۡكُمَا طَعَامٌ تُرۡزَقٰنِهٖۤ اِلَّا نَبَّاۡتُكُمَا

قَالَ	لَا يَاۡتِيۡكُمَا	طَعَامٌ	تُرۡزَقٰنِهٖۤ	اِلَّا	نَبَّاۡتُكُمَا
وويل يوسف	چی لا نه به وی راغلی تاسی ته	ډوډی	چی روزی درکوله سی تاسی ته هغه	مگر	چی خبر به کړم تاسی

وويل (يوسف) چی لا نه به وی راغلی تاسی ته طعام چی روزی درکولی سی تاسی ته هغه (طعام) مگر چی خبر به کړم تاسی

بِتَاۡوِيۡلِهٖ قَبۡلَ اَنۡ يَّاۡتِيَكُمَا‌ؕ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِىۡ رَبِّىۡ‌ؕ اِنِّىۡ

بِتَاۡوِيۡلِهٖ	قَبۡلَ	اَنۡ يَّاۡتِيَكُمَا	ذٰلِكُمَا	مِمَّا	عَلَّمَنِىۡ	رَبِّىۡ	اِنِّىۡ
په تعبير د دی خوب	مخکی تر	راتلو تاسی ته	دا تعبير	له هغه عمل څخه دی	چی ښوولی دی ماته	رب زما	بيشکه! ما

په تعبير د دی خوب پخوا له راتلو (د دی طعام) تاسی ته، دا تعبير له هغه علم څخه دی چی ښوولی دی ماته رب زما بيشکه ما

تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ

تَرَكۡتُ	مِلَّةَ	قَوۡمٍ	لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ	بِاللّٰهِ	وَهُمۡ	بِالۡاٰخِرَةِ
پريښئ می دی	دين	دهغو خلگو	چی ايمان نه راوړی	پر الله	او حال دا چی دوی	په آخرت

پريښی می دی دين دهغو خلگو چی ايمان نه راوړی پر الله او حال دا چی دوی په آخرت

هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝٣٧ وَاتَّبَعۡتُ مِلَّةَ اٰبَآءِىۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَاِسۡحٰقَ

هُمۡ	كٰفِرُوۡنَ	وَاتَّبَعۡتُ	مِلَّةَ	اٰبَآءِىۡۤ	اِبۡرٰهِيۡمَ	وَاِسۡحٰقَ
هم دوی	کافران کيدونکی دی	او متابعت کړی دی ما	د دين	د پلرونو خپلو	چی ابراهيم	او اسحٰق

هم دوی کافران کيدونکی دی. او متابعت کړی دی ما د دين د پلرونو خپلو چی ابراهيم او اسحٰق

وَيَعۡقُوۡبَ‌ؕ مَا كَانَ لَنَاۤ اَنۡ نُّشۡرِكَ بِاللّٰهِ مِنۡ شَىۡءٍ‌ؕ

وَيَعۡقُوۡبَ	مَا كَانَ	لَنَاۤ	اَنۡ نُّشۡرِكَ	بِاللّٰهِ	مِنۡ شَىۡءٍ
او يعقوب دی	نه ښائيږی	موږ ته	چی شريک ونيسو	په الله پوری	هيڅ شی په هيڅ شی کښی

او يعقوب دی ، نه ښائيږی موږ ته چی شريک ونيسو په الله پوری، هيڅ شی په هيڅ شی کښی.

اِنَّا نَرٰٮكَ مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ

حضرت يوسف عليه السلام په محبس کي هم دبنديانو دلداري او خبرګيري کوله

حضرت يوسف عليه السلام چي کله محبس ته ورسيدی نو دده سره دوه مجرمان قيدايان نور هم داخل سول په دوی کي يو دبادشاه ساقي يعني اوبه ورکوونکی وو او بل دبادشاه اشپز وواودواړه په دي الزام ګرفتار سوي وه چي دوی بادشاه ته په خوراک وغيره کي دزهرو ورکولو کوشش کړی وو دمعاملي تحقيق روان وو په دي وجه دادواړه محبس اوبنديخاني ته واستول سول: حضرت يوسف عليه السلام چي بنديخاني ته داخل سونو دخپل پيغمبرانه اخلاقو او رحمت او شفقت په سبب به يي دټولو قيديانو دلداري او خبرګيري کوله څوک چي به ناجوړي سول دهغه پوښتنه او خدمت به يي کوی څوک چي به يي غمجن او پريشانه وليدی تسلي به يي ورکوله او دصبر تلقين او دآزادی په اميد به يي دده زړه لويوی په خپله به يي تکليف تيروی اونوروته به يي دارام رسولو فکر کوی او توله شپه به دالله جل جلاله په عبادت کي مشغول وو.

معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۵۴

ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ

ذٰلِكَ	مِنْ فَضْلِ	اللّٰهِ	عَلَيْنَا	وَعَلَى	النَّاسِ	وَلٰكِنَّ
دا (توحيد)	له فضل	دالله دى	پر موږ باندې	او پر نورو	خلکو	وليکن

دا (توحيد) له فضل د الله دى پر موږ باندې او پر نورو خلکو وليکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝٣٨ يٰصَاحِبَيِ

اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَشْكُرُوْنَ	يٰصَاحِبَيِ
زيات له	خلکو	شکر نه وباسي	اى دواړو ملګرو زما

زيات له خلکو شکر نه وباسي (په دى راتلو د انبياؤ). اى دواړو ملګرو زما

السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ

السِّجْنِ	ءَاَرْبَابٌ	مُّتَفَرِّقُوْنَ	خَيْرٌ	اَمِ اللّٰهُ
د زندان	آيا خدايان	متفرق (تارپه تار)	غوره دى	که هغه الله (غوره دى)

د زندان آيا خدايان متفرق (تارپه تار) غوره دى که (هغه الله (غوره دى چې)

الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝٣٩ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اَسْمَآءً

الْوَاحِدُ	الْقَهَّارُ	مَا تَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِهٖٓ	اِلَّآ اَسْمَآءً
چې يو دى؟	ډير قوي غالب دى	عبادت نه کوئ تاسي	غير له الله	مګر د خو نومونو

چې يو دى؟ (بې له شريکه په الوهيت کښې) ډير قوي غالب دى. عبادت نه کوئ تاسي غير له الله مګر د خو نومونو

سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ

سَمَّيْتُمُوْهَآ	اَنْتُمْ	وَاٰبَآؤُكُمْ	مَّآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	بِهَا	مِنْ سُلْطٰنٍ
چې نومونه مو ايښى دى د هغو	تاسي	او پلرونو ستاسي	نه دى نازل کړى	الله	په هغوى	کوم برهان حجت سند

چې نومونه مو ايښى دى د هغو تاسي او پلرونو ستاسي نه دى نازل کړى الله په (عبادت د) هغوى کوم برهان حجت سند،

اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

اِنِ الْحُكْمُ	اِلَّا	لِلّٰهِ	اَمَرَ	اَلَّا تَعْبُدُوْٓا
نه دى حکومت (دهيچا)	مګر	خاص د الله دى	امر ئې کړى دى	په دى چې عبادت مه کوئ تاسي

نه دى حکومت (دهيچا) مګر خاص د الله دى، امر ئې کړى دى په دى چې عبادت مه کوئ تاسي

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ... دحضرت يوسف عليه السلام دووقيديانو ملګرو خوب ليدلى وو: هغه دوه قيديان کم چې دحضرت يوسف عليه السلام سره جيل ته تللي وه يوه ورځ دوى وويل چې ته موږ ته نيک او صالح بزرګ معلوميږي په دې وجه موږ ستا څخه دخپل خوب تعبير غواړو: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې داخوب دوى په حقيقت کي ليدلى وو: او حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې خوب هيڅ نه وو محض دحضرت يوسف عليه السلام دبزرګى او رېښتينوالي دازمايش دپاره يي خوب جوړ کړى وو: په هر حال په دوى کي يوه يعني شاهي ساقي دا وويل چې ما په خوب کي وليدل چې زه دانګورو څخه شراب باسم او دوهم اشپز بيا وويل چې ما په خوب کي وليدل چې پر خپل سر مي د ډوډى ټوکرى رااخيستي ده او مارغان باندي کښيني او خوري يي او درخواست يي وکى چې موږ ته ددغه خوبو معناوي راکړه حضرت يوسف عليه السلام به په محبس کي دبنديانو دخوبونو تعبيرونه ورکول نو دوى هم دخپلو خوبونو تعبير وپوښتى الخ
معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۵۴)

إِلَّآ إِيَّاهُ ۚ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

إِلَّآ إِيَّاهُ	ذٰلِكَ	الدِّيْنُ	الْقَيِّمُ	وَلٰكِنَّ	أَكْثَرَ	النَّاسِ
مګر د هم ده	دا (عبادت د ده)	دین دی	سم	ولیکن	زیات	دخلګو

مګر د هم ده ، دا (عبادت د ده) دین دی سم ولیکن زیات دخلګو

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٠﴾ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ

لَا يَعْلَمُوْنَ	يٰصَاحِبَيِ	السِّجْنِ	أَمَّآ	أَحَدُكُمَا	فَيَسْقِيْ
نه پوهیږی	ای دواړو ملګرو زما	د بندی خانی	هر څه	یو له تاسی دواړو	نو وبه څښوی

نه پوهیږی (په لاره حقه). ای دواړو ملګرو زما د بندی خانی! هر څه یو له تاسی دواړو نو وبه څښوی

رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَأَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ

رَبَّهٗ	خَمْرًا	وَأَمَّا	الْاٰخَرُ	فَيُصْلَبُ	فَتَأْكُلُ	الطَّيْرُ
مالک بادار خپل ته	شراب	او هر څه	دابل	نو په دار به سی	نو خوری به	مرغان (غوبنی)

مالک بادار خپل ته شراب (لکه د پخوا په شان) او هر څه دابل (دباچا خباز) نو په دار به سی نو خوری به مرغان (غوښی)

مِنْ رَّأْسِهٖ ۚ قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ﴿٤١﴾

مِنْ رَّأْسِهٖ	قُضِيَ	الْأَمْرُ	الَّذِيْ	فِيْهِ	تَسْتَفْتِيٰنِ
له سره د ده	فیصله سوی دی	کار	هغه چی	په هغه کښی	فتوٰی او تعبیر غو ښت تاسی له ما څخه

له سره د ده ، فیصله سوی دی کار هغه چی په هغه کښی فتوٰی او تعبیر غو ښت تاسی له ما څخه.

وَقَالَ لِلَّذِيْ ظَنَّ أَنَّهٗ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِيْ

وَقَالَ	لِلَّذِيْ	ظَنَّ	أَنَّهٗ	نَاجٍ	مِّنْهُمَا	اذْكُرْنِيْ
او وویل یوسف	هغه یو ته	چی یقین ئی درلود	چی بیشکه! دی	خلاصیدونکی دی	له دی دواړو څخه	چی یاد کړه ما

او وویل یوسف هغه یو ته چی یقین ئی درلود (لرلو) چی بیشکه! دی خلاصیدونکی دی له دی دواړو څخه چی یاد کړه ما

عِنْدَ رَبِّكَ ۫ فَأَنْسٰىهُ الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ

عِنْدَ رَبِّكَ	فَأَنْسٰىهُ	الشَّيْطٰنُ	ذِكْرَ	رَبِّهٖ	فَلَبِثَ
په نزد د مالک خپل	نو هیر کړتری	شیطان	یاد ول د یوسف	هغه بادار خپل ته	نو پاتی سو یوسف

په نزد د مالک بادار خپل (چی خوشی می کړی) نو هیر کړتری شیطان یادول د یوسف هغه بادار خپل ته نو پاتی سو یوسف

قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ... حضرت یوسف عليه السلام دخوب تعبیر مخکی دوی دالله ﷻ دعبادت طرف ته راوبلل: حضرت یوسف عليه السلام دوی قیدیانو څخه پوښتنه وکړه چی ښه دا تاسي وواياست چي انسان ډيرو خدايانو عبادت کوي دا ښه دی يا دا چي ديوه الله بنده جوړسي ؟ دکم قهر او قوت چي پر ټولو باندي غالبه دی: بيا يي دبت پرستی بدوالی په يوه بله طريقه سره بيان کی چي تاسي او ستاسي پلرونه نيکه ګان چي څه بتان يي خپل خدايان ګڼلي دي دا خو صرف نومونه دي کم چي تاسي جوړ کړي دي نه په دوی کي ذاتي صفتونه دي قابل دي چي دوی د څه ادنی طاقت او قوت مالکان وګڼل سي ځکه چي داټول بي حس او بي حرکته دي او دا خبره خو په سترګو ليدل کيږي تر دعوت اوتبليغ وروسته يي اوس دخوب تعبير ورته بيان کړی اووي فرمايل چي په تاسي کي يو خو به ازاد سي او بيا به پرخپلي نوکری باندي ودريږي او په بادشاه به شراب چيښي. او پر دوهم به جرم ثابت سي او په دار به سي او مارغان به دده غوښي په مشوکه وخوري

معارف القرآن ج۴پ۱۲ص۱۵۶

ع ٥ / ١٥

فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ اِنِّيْٓ اَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ

فِي السِّجْنِ	بِضْعَ	سِنِيْنَ	وَقَالَ	الْمَلِكُ	اِنِّيْٓ	اَرٰى	سَبْعَ	بَقَرٰتٍ
په بندي خانه کښې	څو	کاله	او وويل	باچا	بيشکه! ما	وليدلې په خوب کښې	اووه	غواوې

په بندي خانه کښې څو کاله. او وويل باچا (ورو سته له اوو کلونو) بيشکه ما وليدلې په خوب کښې اووه غواوې

سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ

سِمَانٍ	يَّاْكُلُهُنَّ	سَبْعٌ	عِجَافٌ	وَّسَبْعَ	سُنْۢبُلٰتٍ	خُضْرٍ
چاغې	چې خوړلې دا چاغې	اووه نورو	خوارو غواوو	او اووه	وږي	شنه

څربې چې خوړې دا څربې اوو نورو خوارو غواوو او (بيا مې وليده) اووه وږي شنه

وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِيْ فِيْ رُءْيَايَ

وَّاُخَرَ	يٰبِسٰتٍ	يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ	اَفْتُوْنِيْ	فِيْ رُءْيَايَ
او نور اووه مې وليد	وچ	اې ډلې د درباريانو	فتوىٰ راکړئ تاسې ټول ماته	په دې خوب زما کښې

او نور اووه مې وليد وچ اې ډلې د درباريانو! فتوىٰ (تعبير) راکړئ تاسې ټول ماته په دې خوب زما کښې

اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُوْنَ ﴿٤٣﴾ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ

اِنْ كُنْتُمْ	لِلرُّءْيَا	تَعْبُرُوْنَ	قَالُوْٓا	اَضْغَاثُ	اَحْلَامٍ
که يئ تاسې	چې د خوب	تعبير کوئ ئې	نو وويل	داګډوډ	خوبونه دي

که يئ تاسې چې د خوب تعبير کوئ ئې. نو وويل (د غو درباريانو) داګډوډ (تخيلي) خوبونه دي،

وَمَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ الَّذِيْ نَجَا مِنْهُمَا

وَمَا نَحْنُ	بِتَاْوِيْلِ	الْاَحْلَامِ	بِعٰلِمِيْنَ	وَقَالَ	الَّذِيْ	نَجَا مِنْهُمَا
او نه يو موږ	په تعبيرونو	د خوشې خيالي خوبونو باندې	پوهيدونکي	او وويل	هغه سړي چې	خلاص سو ئ له هغو دواړو

او نه يو موږ په تعبيرونو د خوشې خيالي خوبونو باندې پوهيدونکي. او وويل هغه سړي چې خلاص سو ئ له هغو دواړو

وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهٖ

وَادَّكَرَ	بَعْدَ	اُمَّةٍ	اَنَا	اُنَبِّئُكُمْ	بِتَاْوِيْلِهٖ
او په ياد ئې سو	پس له	ډيرې مودې	چې زه به	خبر کړم تاسې	په تعبير د دې خوب

(يعني ساقي) او په ياد ئې سو (يوسف) پس له ډيرې مودې چې زه به خبر کړم تاسې په تعبير د دې خوب

وَقَالَ الْمَلِكُ اِنِّيْٓ اَرٰى سَبْعَ... الله ﷻ دحضرت يوسف ﷺ دخلاصون دپاره دغيبو څخه يو صورت پيداکي: په ذکر سوو اياتونوکي دابيان سوى دى چې الله ﷻ دحضرت يوسف ﷺ دخلاصون دپاره دغيبو څخه يو صورت داپيدا کي چې دمصر باچا يو خوب وليدى چې په دې سره دى پريشانه سو دخپل حکومت تعبير کوونکي عالمان او کاهنان يې را جمع کړل اودخوب دتعبير پوښتنه يې څني وکړه په دغه خوب هيڅوک پوه نه سول نوټولو جواب ورته ورکى چې داخوب څه ګډوډ دى چې خيالات وغيره پکښي شامل دي او موږ داسي خوبونو تعبير نه پيژنو که صحيح خوب واى نو تعبير به يې موږ درښوولى واى: ددې واقعې دليدو څخه ډير وروسته دې ازادسوي قيدي ته دحضرت يوسف ﷺ خبره وريه يادسوه او دى ورورانـدې سو او وې ويل چې زه به تاسې ته ددې خوب تعبير دروښيم دا وخت ده دحضرت يوسف ﷺ دکمالاتو او دخوبونو په تعبير کي دمهارت او بيا دده بې ګناه قيدېدل ذکر کړل: پاته بيان پر راروان مخ وګورى

فَاَرْسِلُوْنِ ۝٤٥ يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا

فَاَرْسِلُوْنِ	يُوْسُفُ	اَيُّهَا	الصِّدِّيْقُ	اَفْتِنَا
نو ولیږئ تاسی ما	ای یوسفه !	ای	ډیره رښتینه!	حکم راکړه مونږته

نو ولیږئ تاسی ما (یوسف زندانی ته). ای یوسفه! ای ډیره رښتینه! حکم را کړه مونږ ته

فِيْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ

فِيْ سَبْعِ	بَقَرٰتٍ	سِمَانٍ	يَّاْكُلُهُنَّ	سَبْعٌ	عِجَافٌ	وَّسَبْعِ
په اوو	غواګ	چاغو کښی	چی وخوری دی چاغو لره	اووه	خواری غواوی	او په اوو

په اوو غواګ خربو کښی چی وخوری دی خربو لره اووه (نوری) خواری غواوی او په اوو

سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّيْٓ اَرْجِعُ

سُنْۢبُلٰتٍ	خُضْرٍ	وَّاُخَرَ	يٰبِسٰتٍ	لَّعَلِّيْٓ	اَرْجِعُ
وږیو	شنو کښی	او اوو نورو	وچو وږیو کښی	ښائی چی زه	بیرته لاړ سم

وږیو شنو کښی او اوو نورو وچو وږیو کښی (چی له هغو شنو چاپیر دی) ښائی چی زه بیرته لاړ سم (سره له تعبیر)

اِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝٤٦ قَالَ تَزْرَعُوْنَ

اِلَى النَّاسِ	لَعَلَّهُمْ	يَعْلَمُوْنَ	قَالَ	تَزْرَعُوْنَ
خلکو ته	دپاره د دی چی دوی	پوه سی	وویل یوسف	چی کرئ به تاسی

خلکو ته دپاره د دی چی دوی پوه سی (په تعبیر د خوب دباچا). وویل (یوسف) چی کرئ به تاسی (هر قسم فصل)

سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِيْ

سَبْعَ	سِنِيْنَ	دَاَبًا	فَمَا	حَصَدْتُّمْ	فَذَرُوْهُ	فِيْ
اووه	کاله	پر له پسی	نو هر هغه	چی وریبل تاسی	نو پریږدئ هغه غله	په

اووه کاله پرله پسی په ډیر زیار (کوشش) سره ډیر، نو هر هغه چی وریبل تاسی نو پریږدئ هغه غله په

سُنْۢبُلِهٖٓ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ۝٤٧ ثُمَّ يَاْتِيْ

سُنْۢبُلِهٖٓ	اِلَّا قَلِيْلًا	مِّمَّا	تَاْكُلُوْنَ	ثُمَّ	يَاْتِيْ
وږی خپل کښی	مګر لږ شانی	له هغه چی تاسی	ئی خورئ	بیا به	راسی

وږی خپل کښی مګر لږ شانی له هغه چی تاسی ئی خورئ. بیا به راسی

يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا...دتیر مخ پاته بیان

دلته وګوری: اودایې وغوښتل چې ماته دې په جیل خانه کې دهغه سره دلیدو اجازه راکړل سي باچا ددې انتظام وکی کله چې داسړی جیل خانې ته ورسیدی حضرت یوسف ﷺ ته یې دواقعې اظهار داسې شروع کی چې اول وار یې دحضرت یوسف ﷺ دصدیق یعني په قول او فعل کې درښتینوالي اقرار وکی او بیا یې درخواست وکی چې ماته دیو خوب تعبیر وښیه خوب دادی چې باچا دالیدلي دي چې اووه چاغ غوایان دي چې نور اووه غوایان یې خوري او دا خوړونکي غوایان خوار او کمزوري دي او دارکم اووه دغنمو شنه وږي دي او اووه دانې بیا وچ دي دې سړي دخوب دبیانولو څخه وروسته وویل (لعلی ارجع الی الناس لعلهم یعلمون) یعنې ته تعبیر وښیه نو ممکنه ده چې زه دغه خلګو ته ولاړ سم اودوی ته تعبیر وښیم اوممکنه ده چې دوی دغه رکم ستا دفضل او کمال څخه خبر سي او دا هم ممکنه ده چې ددغه خوب تعبیر ورکول ستادپاره دزندان څخه دخلاصیدو سبب هم سي.
معارف القرآن ج۴پ۱۲ص ۱۶۲

مِنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ سَبۡعٌ شِدَادٌ يَّأۡكُلۡنَ مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ

مِنۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ	سَبۡعٌ	شِدَادٌ	يَّأۡكُلۡنَ	مَا قَدَّمۡتُمۡ	لَهُنَّ
وروسته	له دغو	اووه نور	سخت	چې وبه خوري	هغه غلې چې پخوا ذخيره کړې وي تاسې	دپاره د دې

وروسته له دغو (اووه کلونو ودانو) اووه نور (کلونه) سخت چې وبه خوري هغه غلې چې پخوا ذخيره کړې وي تاسې دپاره د دې

اِلَّا قَلِيۡلًا مِّمَّا تُحۡصِنُوۡنَ ۝٤٨ ثُمَّ يَاۡتِىۡ مِنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِيۡهِ

اِلَّا قَلِيۡلًا	مِّمَّا	تُحۡصِنُوۡنَ	ثُمَّ	يَاۡتِىۡ	مِنۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ	عَامٌ	فِيۡهِ
مګر لږ شانې	له هغه چې	تاسې ساتئ تخم ته	بيا به	راسي	وروسته	له دې	يو کال	چې په هغه کښې به

مګر لږ شانې له هغه چې تاسې ساتئ. بيا به راسي وروسته له دې (کلونو د قحط) يو کال چې په هغه کښې به

يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيۡهِ يَعۡصِرُوۡنَ ۝٤٩ ع

يُغَاثُ	النَّاسُ	وَفِيۡهِ	يَعۡصِرُوۡنَ
فرياد رسي وکړه سي	د خلکو	او په دې کښې به	ونښتيځې خلګ

فرياد رسي وکړه سي د خلکو (په غلو او باران) او په دې کښې به ونښتيځې (نچوړ کړي) خلګ (ميوې او غوړي دانې)

وَقَالَ الۡمَلِكُ ائۡتُوۡنِىۡ بِهٖ‌ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوۡلُ

وَقَالَ	الۡمَلِكُ	ائۡتُوۡنِىۡ	بِهٖ	فَلَمَّا	جَآءَهُ	الرَّسُوۡلُ
او وويل	باچا	راولئ تاسې ماته	دغه يوسف	نو کله چې	راغی دغه (يوسف ته)	استاځی (د باچا)

او وويل باچا راولئ تاسې ماته دغه (يوسف)، نو کله چې راغی دغه (يوسف ته) استاځی (د باچا)

قَالَ ارۡجِعۡ اِلٰى رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ النِّسۡوَةِ

قَالَ	ارۡجِعۡ	اِلٰى رَبِّكَ	فَسۡـَٔلۡهُ	مَا بَالُ	النِّسۡوَةِ
ووېل يوسف	چې بيرته لاړ سه	مالک بادار خپل ته	نو پوښتنه وکړه ته له ده	چې څه حال ؤ	د ښځو

ووېل يوسف چې بيرته لاړ سه! مالک بادار (آقا) خپل ته نو پوښتنه وکړه ته له ده چې څه حال ؤ د ښځو

الّٰتِىۡ قَطَّعۡنَ اَيۡدِيَهُنَّ‌ ؕ اِنَّ رَبِّىۡ بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيۡمٌ ۝٥٠

الّٰتِىۡ	قَطَّعۡنَ	اَيۡدِيَهُنَّ	اِنَّ	رَبِّىۡ	بِكَيۡدِهِنَّ	عَلِيۡمٌ
هغه چې	پرې کړې يې ؤ	لاسونه خپل	بيشکه! چې	رب زما	په کيدونو د دوی	ښه خبردار دی

هغه چې غوڅ کړي ئې ؤ لاسونه خپل، بيشکه! چې رب زما په کيدونو (مکرونو) د دوی ښه خبردار دی.

ثُمَّ يَاۡتِىۡ مِنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ عَامٌ... حضرت يوسف عليه السلام د مصر د باچا د خوب تعبير ورته بيان کی او دا کمال د الله جل جلاله ورکړه ده: حضرت يوسف عليه السلام چي کله دا خوب واوريدی نو پوه سو چي اووه چاغ غوايان او داوو شنو وږو څخه مراد اووه کلونه دي چي پيداوار به په کښي د دستور موافق وسي ځکه چي د غوايانو د مځکي دا ړولو سره او د غلي د پيدا کولو سره خاص تعلق دی دغه رکم د اووه کمزورو غوايانو او اووه وچو وږو څخه مراد دادی چي داولنيو اووه کلونو څخه وروسته به اووه کلونه د قحط او نيستی راسي او د کمزورو اووه غوايان چاغ د خوړلو څخه مراد دادی چي په اولنيو اووه کلونو کي چي کمه ذخيره جمع سوې وه د غلي څخه هغه به ټوله ددې قحط او نيستی په کلونو کي خرڅه سي صرف د تخم د پاره به يو څه غله ورڅخه پاته سي: د باچا د خوب څخه په ښکاره دومره خبره معلومه سوي ده چي اووه کاله به ښه پيداوار وسي بيا به اووه کاله قحطي وي په دغه کلونو کي به هغه ذخيره سوی مال او غله د ملک خلګ وخوري.
(معارف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۶۲)

ع ٦ ١٢

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ

قَالَ	مَا خَطْبُكُنَّ	اِذْ	رَاوَدْتُّنَّ	يُوْسُفَ	عَنْ نَّفْسِهٖ
وويل	چې څهٔ حال ستاسې	کله چې	تاسې طلب کړ	يوسف ته	دپاره د تيراېستلو د نفس د ده

و ويل (باچا هغو ښځو ته) چې څهٔ حال ستاسې کله چې تاسې طلب کړ يوسف ته دپاره د تير ايستلو د (حفاظت د) نفس د ده

قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ

قُلْنَ	حَاشَ	لِلّٰهِ	مَا عَلِمْنَا	عَلَيْهِ
وويل ټولو ښځو	پاکي ده	اللّٰه ته	نه يو پوهيدلې موږ	په دغه يوسف باندې

(نو ميلانئ وکړ تاسې ته؟ کهٔ نه) وويل ټولو ښځو پاکي ده الله ته نه يو پوهيدلې موږ په دغه (يوسف) باندې

مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ

مِنْ سُوْٓءٍ	قَالَتِ	امْرَاَتُ	الْعَزِيْزِ	الْـٰٔنَ	حَصْحَصَ	الْحَقُّ
له هيڅ بدۍ	وويل	ښځې	دعزيز	چې اوس	ظاهر سو	حق (رښتيې خبره)

له هيڅ بدۍ، وويل ښځې د عزيز (زليخا) چې اوس ظاهر سو حق (رښتيا خبره)

اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٥١﴾

اَنَا رَاوَدْتُّهٗ	عَنْ نَّفْسِهٖ	وَاِنَّهٗ	لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ
ما طلب کړې ؤ د ده څخه	دپاره د تير ايستلو دنفس د ده	او بيشکه! يوسف	خامخا له رښتينيو څخه دی

ما طلب کړې ؤ په فريب دپاره د تير ايستلو د نفس د ده او بيشکه! يوسف خامخا له صادقينو (رښتينيو) څخه دی.

ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ

ذٰلِكَ	لِيَعْلَمَ	اَنِّيْ	لَمْ اَخُنْهُ	بِالْغَيْبِ
دغه چې	چې پوه سي	چې بيشکه! ما	خيانت نه دی کړی د ده سره	په پسې شا هم

دغه (پوښتنه مې ځکه وکړه) چې پوه سي (عزيز) چې بيشکه! ما خيانت نه دی کړی د ده سره په پسې شا هم

وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ ﴿٥٢﴾

وَاَنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِيْ	كَيْدَ	الْخَآئِنِيْنَ
او بيشکه! چې	الله	په لاره نه برابروي	کيد مکر	دخيانت کرانو

او بيشکه! چې الله په لاره نه برابروي کيد مکر د خيانت کرانو (او په مقصد ئې نه رسوي).

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ....

دمصر باچا حضرت يوسف عليه السلام دځان طرف ته طلب کې: دقصې دسياق څخه داسې معلوميږي چې دغه سړي دخوب تعبير دحضرت يوسف عليه السلام څخه معلوم کې بيرته ولاړ او باچا يې خبر کې هغه په دې مطمئن سو او دحضرت يوسف عليه السلام دفضل او کمال معتقد سو باچا حکم ورکی چې حضرت يوسف عليه السلام دې دجيل خاني څخه راوېستل سي او دربار ته دې راوستل سي چنانچې حسب حکم دباچا يو قاصد داپيغام راوړی اوجيل خاني ته را ورسيدی مو قع خو داوه چې حضرت يوسف عليه السلام کله دبند يخاني څخه دازادۍ حکم اوريدلی وای فورا ورسره روان سوی وای مګر الله جل جلاله چې خپلو پيغمبرانو ته کم لوړ مقام ورکوي په هغه نور خلګ هم نه پوهيږي قاصد ته يې دا جواب ورکی چې ته خپل باچا ته ولاړسه اول دا پوښتنه وکړه چې ستا په نزد دهغه ښځو معامله څنګه ده کمو چې خپل لاسونه پرې کړي وه ايا په دې واقعه کې دوی ما مشتبه ګڼي او ما قصوروار ګرځوي؟ الخ.
معرف القرآن ج۴ پ۱۲ ص۱۶۳

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا

وَمَآ أُبَرِّئُ	نَفۡسِيٓۚ	إِنَّ	ٱلنَّفۡسَ	لَأَمَّارَةُۢ	بِٱلسُّوٓءِ	إِلَّا
او زه نه پاکوم	نفس خپل	بیشکه!	نفس	خامخا ډیر امر کوونکی دی	په بدی سره	مګر

او زه نه پاکوم نفس خپل (چی نه کوی میل بدی ته) بیشکه! نفس خامخا ډیر امر کوونکی دی(هروخت) په بدی سره مګر

مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥٣ وَقَالَ

مَا رَحِمَ	رَبِّيٓۚ	إِنَّ	رَبِّي	غَفُورٞ	رَّحِيمٞ	وَقَالَ
هغه چی رحم مهربانی پری کړی وی	رب زما	بیشکه!	رب زما	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی	او وویل

هغه (نفس) چی رحم مهربانی پری کړی وی رب زما بیشکه! رب زما ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی. او وویل

ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا

ٱلۡمَلِكُ	ٱئۡتُونِي	بِهِۦٓ	أَسۡتَخۡلِصۡهُ	لِنَفۡسِيۖ	فَلَمَّا
باچا	چی راولی	ماته دغه (یوسف)	چی خالص کړم دغه	دپاره دځان خپل	نو کله چی

باچا چی راولی (تاسی ای مقربینو زما) ماته دغه (یوسف) چی خالص کړم دغه (یوسف) دپاره (دکارونو) د ځان خپل، نو کله چی

كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ۝٥٤ قَالَ

كَلَّمَهُۥ	قَالَ	إِنَّكَ	ٱلۡيَوۡمَ	لَدَيۡنَا	مَكِينٌ	أَمِينٞ	قَالَ
خبری وکړی له دغه (یوسف)سره	وویل	چی بیشکه!	ته نن ورځ	زمونږ په نزد	خاوند د مرتبی	آمانتګری	وویل (یوسف)

خبری وکړی (باچا) له دغه (یو سف) سره وویل چی بیشکه! ته نن ورځ زمونږ په نزد خاوند د مرتبی آمانتګری. وویل

ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ۝٥٥ وَكَذَٰلِكَ

ٱجۡعَلۡنِي	عَلَىٰ	خَزَآئِنِ	ٱلۡأَرۡضِۖ	إِنِّي	حَفِيظٌ	عَلِيمٞ	وَكَذَٰلِكَ
چی مقرر کړه ما	پر	خزانو	دمځکی	بیشکه! زه	ښه ساتونکی	ښه پوه یم	او په مثل د دغه

چی مقرر کړه ما پر خزانو دمځکی (دمصر) بیشکه! زه ښه ساتونکی (داموالو) ښه پوه یم. او په مثل د دغه (مذکوره نعمت)

مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا

مَكَّنَّا	لِيُوسُفَ	فِي ٱلۡأَرۡضِ	يَتَبَوَّأُ	مِنۡهَا
ځای ورکړ موږ	یو سف ته	په مځکه (د مصر) کښی	چی ځای به ئی نیوه	له دغی مځکی څخه

ځای (قدرت) ورکړ موږ یوسف ته په مځکه (دمصر) کښی، چی ځای به ئی نیوه له دغی مځکی (مصر) څخه

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ ..

دانساني نفس دري حالتونه: په دغه آیت کي دا مسئله دغور قابله ده چي په دي کي هر نفس انساني ته (امّارة بالسوء) ویل سوي دي یعني دبدوکارو حکم ورکوونکی لکه په یو حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ دصحابه کرامو ؓ څخه پوښتنه وکړه چي دداسي ملګري په باره کي تاسي څه وایاست چي دهغه حال داوي چي که تاسو دده عزت او اکرام کوی خوراک ورکوی جامي په اغوندی نو دی تاسي په بلا او مصیبت کي غورزوي او که تاسو دده بي عزتي کوی وږی اولغږي ساتی نو ستاسو سره ښه معامله کوي صحابه کرامو ؓ وفرمایل چي یارسول الله دده څخه زیات بیکاره خو په دنیا کي یو ملګری هم نسي کیدای نو حضور ﷺ وفرمایل چي قسم دی په هغه پاک ذات دچا په قبضه کي چي زما روح دی چي ستاسو نفس کم چي ستاسو په خوا کي دی هغه دغسي ملګری دی او په یوه حدیث شریف کي دي چي ستاسو دټولو څخه لوی دښمن په خپله ستاسو نفس دی : پاته بیان پرراروان مخ وګوری :

حَيۡثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ

حَيۡثُ	يَشَآءُ	نُصِيبُ	بِرَحۡمَتِنَا	مَن نَّشَآءُ	وَلَا نُضِيعُ
هر چیرته چي	بهٔ ئی خوښه سوه	رسوو مونږ	رحمت خپل	هر چا ته چي اراده وفرمایو مونږ	او نه ضائع کوو مونږ

هر چیرته چي بهٔ ئی خوښه سوه، رسوو مونږ رحمت خپل هر چا ته چي اراده وفرمایو مونږ او نه ضائع کوو مونږ

أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝٥٦ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ

أَجۡرَ	ٱلۡمُحۡسِنِينَ	وَلَأَجۡرُ	ٱلۡأٓخِرَةِ	خَيۡرٌ	لِّلَّذِينَ	ءَامَنُواْ
اجر	د محسنانو	او خامخا اجر	دآخرت	خیر دی	هغه کسانو ته چي	ایمان ئی راوړی دی

اجر (بدل) دمحسنانو (نیکو کارانو). او خامخا اجر دآخرت خیر دی (له دنیوی اجره) هغه کسان چي ایمان ئی راوړی دی

وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ۝٥٧ وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ

وَكَانُواْ	يَتَّقُونَ	وَجَآءَ	إِخۡوَةُ	يُوسُفَ	فَدَخَلُواْ
او وو دوی چي	پرهیزګاری ئی کوله	او راغلل	ورونه	د یوسف	نو راننوتل په دغه (یوسف)

او وو دوی چي پر هیزګاری ئی کوله (له شرک او فواحشو). او راغلل ورونه د یوسف (مصر ته) نو راننوتل په دغه (یوسف)

عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ۝٥٨ وَلَمَّا جَهَّزَهُم

عَلَيۡهِ	فَعَرَفَهُمۡ	وَهُمۡ	لَهُۥ مُنكِرُونَ	وَلَمَّا	جَهَّزَهُم
باندی	پس وپیژندل (یوسف) دوی	او دوی دغه	له ناپیژندونکی وو	او کله چي	تیار کړ دوی ته

باندی پس وپیژندل (یوسف) دوی او دوی دغه (یوسف) له ناپیژندونکی وو. او کله چي تیار کړ (یوسف) دوی ته

بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡ ۚ أَلَا تَرَوۡنَ

بِجَهَازِهِمۡ	قَالَ	ٱئۡتُونِي	بِأَخٖ	لَّكُم	مِّنۡ أَبِيكُمۡ	أَلَا تَرَوۡنَ
اسباب د سفر د دوی	نو وویل	چي راولئ تاسی ماته	هغه ورور	ستاسی	چي له پلار ستاسی دی	آیا نه وینئ تاسی چي

اسباب دسفر د دوی نو وویل چي راولئ تاسی ماته هغه ورور ستاسی چي له پلار ستاسی دی! آیا نه وینئ تاسی چي

أَنِّيٓ أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ۝٥٩ فَإِن

أَنِّيٓ	أُوفِي	ٱلۡكَيۡلَ	وَأَنَا۠	خَيۡرُ	ٱلۡمُنزِلِينَ	فَإِن
بیشکه! زه	پوره درکومه	پیمانه	او زه	غوره	دمیلمستیا ورکوونکو یم	نو که

بیشکه! زه پوره درکومه پیمانه او زه غوره د میلمستیا ورکوونکو یم. نو که

نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُ وَلَا نُضِيعُ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: کم چي تاسو په بدو کارونو کي اخته کوي ذلیل او خوار مو ګرځوي او په قسم قسم مصیبتونو کي مو ګرفتاره کوي: نو دذکر سوي آیت او ذکر سوي حدیثونو څخه دا معلومه سوه چي دانسان نفس دبدو کارونو تقاضا کوي لیکن په سورت قیامة کښي دغه نفس انساني ته نفس لوّامه او هلته یي بیا دته دا اعزاز ورکړی دی چي رب العزت په ده قسم خوړلی دی (لااقسم بیوم القیامة ولا اقسم بنفس اللوامة) او په سورت الفجر کي یي بیا دغه نفس ته نفس مطمئنة ویلی دی او دجنت خوشخبري یي ورکړي ده: نو په دغه شان سره ونفس انساني ته، یو ځای نفس امارة، او بل ځای ورته نفس لوامة، او دریم ځای ورته نفس مطمئنة ویل سوي دي: وضاحت ددي خبري دادی چي هر نفس انساني په خپل ذات کي خو (امارة بالسوء) یعني دبدو کارو حکم کوونکی او خواهش کوونکی دی لیکن کله چي انسان دآخرت دورځي دبیري څخه دده تقاضې نه پوره کوي: پاته بیان پر راروان مخ وګورئ:

ع٨

لَّمۡ تَأۡتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيۡلَ لَكُمۡ عِندِي وَلَا تَقۡرَبُونِ ⑥٠

لَّمۡ تَأۡتُونِي	بِهِۦ	فَلَا	كَيۡلَ	لَكُمۡ	عِندِي	وَلَا تَقۡرَبُونِ
رانه وست تاسی ماته	دغه	نو له سره نسته	پیمانه	تاسی ته	زماسره	او مه نژدی کیږئ تاسی بیا ماته

را نه وست تاسی ماته دغه نو له سره نسته پیمانه (دغلی) تاسی ته زما سره او مه نژدی کیږئ تاسی بیا ماته (په مصر کښی).

قَالُوا سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ⑥١ وَقَالَ

قَالُوا	سَنُرَٰوِدُ	عَنۡهُ	أَبَاهُ	وَإِنَّا	لَفَٰعِلُونَ	وَقَالَ
وویل دوی	ژر به په کوښښ سره غواړو	دی له	پلاره	او بیشکه! موږ	خامخا کوونکی یو	او وویل (یوسف)

وویل دوی ژر به په کوښښ سره غواړو دی له پلاره د ده او بیشکه! موږ خامخا کوونکی یو (د دی کار). او وویل (یوسف)

لِفِتۡيَٰنِهِ ٱجۡعَلُوا بِضَٰعَتَهُمۡ فِي رِحَالِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ

لِفِتۡيَٰنِهِ	ٱجۡعَلُوا	بِضَٰعَتَهُمۡ	فِي رِحَالِهِمۡ	لَعَلَّهُمۡ
مریانو (پیمانه‌گرو) خپلو ته	چی کښیږدئ	هغه‌پنګه د دوی	په بارونو د دوی کښی	ښائیږی چی دوی

مریو (پیمانه‌گرو) خپلو ته چی کښیږدئ هغه‌پنګه (ثمن) د دوی په بارونو د دوی کښی په پټه سره ښائیږی چی دوی

يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓا إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ⑥٢

يَعۡرِفُونَهَآ	إِذَا	ٱنقَلَبُوٓا	إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ	لَعَلَّهُمۡ	يَرۡجِعُونَ
وپیژنی دا	کله چی	بیرته لاړ سی دوی	اهل خپل ته	ښائیږی چی دوی	به بیا بیرته راسی

وپیژنی دا (پنګه خپله) کله چی بیرته لاړ سی دوی اهل خپل ته ښائیږی چی دوی به بیا بیرته راسی (او رابه ولی وروړ زما)

فَلَمَّا رَجَعُوٓا إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُوا يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا

فَلَمَّا	رَجَعُوٓا	إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ	قَالُوا	يَٰٓأَبَانَا	مُنِعَ	مِنَّا
نو کله چی	بیرته وګرځیدل دوی	پلار خپل ته	نو وویل دوی	ای پلاره زموږ	منع کړی سوی ده	له موږ څخه

نو کله چی بیرته وګرځیدل دوی پلار خپل ته نو وویل دوی ای پلاره زموږ منع کړی سوی ده (بیا) له موږ څخه

ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ⑥٣

ٱلۡكَيۡلُ	فَأَرۡسِلۡ	مَعَنَآ	أَخَانَا	نَكۡتَلۡ	وَإِنَّا لَهُۥ	لَحَٰفِظُونَ
پیمانه	نو ولیږه	زموږسره	وروړ زموږ	چی پیمانه واخلو	او بیشکه! موږ دده لره	خامخا ساتونکی یو

پیمانه نو ولیږه له موږ سره وروړ زموږ چی پیمانه واخلو او بیشکه! موږ دده لره خامخا ساتونکی یو (له مضراتو).

قَالُوا سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری : نودده نفس لوامة جوړیږي یعني پر بدو کارونو باندي ملامتی کوونکی او دديږ څخه توبه کوونکی لکه دعامو صالحینو دامت نفسونه چي دي : او کله چي یو انسان دخپل نفس خلاف مجاهده کوي او خپل نفس دي حالت ته ورسوي چي دبدو کارونو تقاضا په کښي پاته نه سي نو دغه نفس بیا نفس مطمئنة وګرځي دامت صالحینو ته ته دا حال په مجاهده او ریاضت سره حاصلیدای سي او بیا هم پر دي حالت همیشه پاته کیدل یقیني نه وي او انبیاء (علیهم السلام) ته په خدایي بخشش سره خود بخوده داسي نفس مطمئنة بغیر دڅه مجاهدي څخه نصیب کیږي اودوی همیشه پر دي باندي قایم پاته وي نودغه شان دنفس ددرو حالتونو په اعتبار سره دري قسمه کارونه دده طرف ته منسوب سوي دي : او په آخر کي بیا فرمایي (انّ ربی غفور رحیم) یعني زما رب لوی مغفرت کوونکی او رحمت کوونکی دی چي بنده الله ﷻ ته رجوع وکي په اخلاص سره الله ﷻ یي ګناهونه معاف کوي. (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۳) مکتبه حبیبیه

قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓى اَخِيْهِ

قَالَ	هَلْ اٰمَنُكُمْ	عَلَيْهِ	اِلَّا	كَمَآ اَمِنْتُكُمْ	عَلٰٓى	اَخِيْهِ
وویل (یعقوب)	آیا امینان کړم تاسی	په بنیامین	مګر	لکه چې امینان کړی مو وئ تاسی	پر	ورور د ده

وویل (یعقوب) آیا امینان کړم تاسی په بنیامین مګر (په دی شان) لکه چې امینان کړی می وئ تاسی پر وروړ د ده (یوسف)

مِنْ قَبْلُ ۚ فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۶۴﴾

مِنْ قَبْلُ	فَاللّٰهُ	خَيْرٌ	حٰفِظًا	وَّهُوَ	اَرْحَمُ	الرّٰحِمِيْنَ
پخواله دی څخه	نو الله	خیر دی	له جهته د ساتنی	او هم دی دی	ډیر مهربان	دټولو مهربانانو

پخوا له دی څخه نو الله خیر (ډیر غوره) دی له جهته د ساتنی او هم دی دی ډیر مهربان د ټولو مهربانانو.

وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ

وَلَمَّا	فَتَحُوْا	مَتَاعَهُمْ	وَجَدُوْا	بِضَاعَتَهُمْ	رُدَّتْ
او کله چې	پرانستل دوی	بارونه خپلو	پیدا کړه دوی	پنګه خپله	چې بیرته رالیږلی سوی وه

او کله چې پرانستل دوی بارونه خپل وموندله دوی پنګه (سرمایه) خپله چې بیرته رالیږلی سوی وه

اِلَيْهِمْ ۚ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ۚ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ

اِلَيْهِمْ	قَالُوْا	يٰٓاَبَانَا	مَا نَبْغِيْ	هٰذِهٖ	بِضَاعَتُنَا	رُدَّتْ
دوی ته	نو وویل دوی	ای پلاره زموږ	څه به غواړو موږ	دا ده هغه	پنګه زموږ	چې بیرته رد کړی سوی ده

دوی ته نو وویل دوی ای پلاره زموږ څه به (لا زیات احسان) غواړو موږ، دا ده هغه پنګه زموږ چې بیرته رد کړی سوی ده

اِلَيْنَا ۚ وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ اَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ

اِلَيْنَا	وَنَمِيْرُ	اَهْلَنَا	وَنَحْفَظُ	اَخَانَا	وَنَزْدَادُ	كَيْلَ	بَعِيْرٍ
موږ ته	او غله راوړو	اهل خپل ته	او ساتو به	ورور خپل	او زیات به راوړو	بار	د اوښ

موږ ته او (بیا ځو چې) غله راوړو اهل خپل ته او ساتو به وروړ خپل او زیات به راوړو بار د اوښ (د بنیامین برخه)

ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ﴿۶۵﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى

ذٰلِكَ	كَيْلٌ	يَّسِيْرٌ	قَالَ	لَنْ اُرْسِلَهٗ	مَعَكُمْ	حَتّٰى
دا	پیمانه ده	اسانه	وویل (یعقوب)	له سره به و نه لیږم هغه	له تاسی سره	تر هغه پوری

دا (یو بار د اوښ) پیمانه ده اسانه. وویل (یعقوب) له سره به و نه لیږم هغه (بنیامین) له تاسی سره تر هغه پوری

قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ... د یوسف عليه السلام وړونو د ده د کشر ورور بنیامین د تللو غوښتنه پلار ته پیش کړه: په دې ذکر سوو ایاتونو کي باقي قصه داسي بیان سویده چي کله د حضرت یوسف عليه السلام وړونو د مصر څخه غلّه واخیستله او کور ته ورسیدل نو د مصر د معاملې ذکر یي پلار ته وکی دا یي هم ورته وښووله چي عزیز د مصر آینده د غلې راکولو د پاره دا شرط لګولی دی چي که خپل کشر ورور مو د ځان سره راوستی نو غله به درکول سي کنې نو نسته: نو په دې وجه ته آینده زموږ سره بنیامین ولیږه چي موږ ته غله راکول سي او موږ به ددې ورور پوره حفاظت کوو ده ته به هیڅ قسم تکلیف ونه رسیږي پلار صاحب یي وفرمایل چي ایا دده په باره کي په تاسي اطمینان وکم لکه چي ددې څخه وړاندي دده د ورور په باره کي چي مي کړی وو مطلب ښکاره دی یعني اوس ستاسو په خبره څه اعتبار دی یو ځل مي په تاسي اطمینان کړی دی نو په مصیبت کي ګیر سوی یم د غه الفاظ د حفاظت تاسي هغه وخت هم ویلي وه الخ (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۸) مکتبه حبیبیه

تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يُّحَاطَ

تُؤْتُوْنِ	مَوْثِقًا	مِّنَ	اللّٰهِ	لَتَاْتُنَّنِيْ	بِهٖٓ	اِلَّآ	اَنْ يُّحَاطَ
چی راکړئ تاسی ماته	عهد محکم	د	الله	چی خامخا بیرته به راولی ماته هرومرو	دی	مګر	که چاپیروالی وکړ سی

چی راکړئ تاسی ماته عهد محکم دالله (په دی خبره) چی خامخا بیرته به راولی ماته هرومرو دی مګر که چاپیروالی وکړ سی

بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ

بِكُمْ	فَلَمَّآ	اٰتَوْهُ	مَوْثِقَهُمْ	قَالَ	اللّٰهُ	عَلٰى	مَا نَقُوْلُ
پر تاسی باندی	نو کله چی	ورکړه دوی دغه پلار ته	وعده محکمه خپله	نو وویل	چی الله	په هغه	چی وایو ئی موږ

پر تاسی باندی، نو کله چی ورکړه دوی دغه پلار ته وعده محکمه خپله نو وویل (یعقوب) چی الله په هغه چی وایو ئی موږ

وَكِيْلٌ ﴿۶۶﴾ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ

وَكِيْلٌ	وَقَالَ	يٰبَنِيَّ	لَا تَدْخُلُوْا	مِنْۢ	بَابٍ	وَّاحِدٍ
وکیل دی	اووویل (یعقوب)	ای ځامنو زما	مه ننوځئ تاسی	له	دروازی	یوی

وکیل (شاهد) دی. او وویل (یعقوب) له شفقته ای ځامنو زما مه ننوځئ تاسی (مصر ته) له دروازی یوی (چی نظر وانخلئ)

وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۗ وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ

وَّادْخُلُوْا	مِنْ اَبْوَابٍ	مُّتَفَرِّقَةٍ	وَمَآ اُغْنِيْ	عَنْكُمْ	مِّنَ
او ننوځئ	له دروازو	بیلو بیلو څخه	او نسم دفع کولی زه	له تاسی څخه	له (قضا) د

او ننوځئ (دوه دوه یا دری دری) له دروازو بیلو بیلو څخه، او نسم دفع کولی زه له تاسی نه له (قضا) د

اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ۗ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۗ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ

اللّٰهِ	مِنْ	شَيْءٍ	اِنِ الْحُكْمُ	اِلَّا	لِلّٰهِ	عَلَيْهِ	تَوَكَّلْتُ
الله څخه	هیڅ	شی	نه دی حکم	مګر	خاص الله ته دی	خاص پر هم ده	توکل کړی دی ما

الله څخه (په تدبیر سره)، هیڅ شی، نه دی حکم (په قضا سره) مګر خاص الله ته دی خاص پر هم ده توکل کړی دی ما

وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ

وَعَلَيْهِ	فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُتَوَكِّلُوْنَ	وَلَمَّا	دَخَلُوْا	مِنْ
او هم په هم ده باندی	نو توکل دی وکړی	توکل کوونکی	او کله چی	ننوتل دوی	له

او هم په هم ده باندی نو توکل دی وکړی توکل کوونکی. او کله چی ننوتل دوی (مصر ته) له

فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ.. انسان بې وسه دی دده په ذاتي قبضه او قدرت کي هیڅ نسته: کله چي دحضرت یعقوب عليه السلام زامنو په غوښتل سوي طریقې سره عهد او پیمان وکی یعني ټولو قسمونه وخوړل او دپلار دمطمئن ولو دپاره یې ډیر په سختی سره قسم وکی نو حضرت یعقوب عليه السلام وفرمایل چي دبنیامین دحفاظت دپاره چي کم دقسمونو کار موږ وکی ددې ټولې معاملې باور پر الله جل جلاله باندي دی دده په توفیق سره څوک دچا حفاظت کولای سي او خپل عهد پورا کولای سي که نه نو انسان بې وسه دی دده په ذاتي قبضه او قدرت ي هیڅ نسته: بله خبره او هدایت چي دلته ددې ایاتونو څخه ثابته سویده هغه دادی چي داولاد څخه چي ګناه او خطا وسي نو دتعلق قطع کولو پرځای ددوی داصلاح فکر کول پکار دي دحضرت یوسف عليه السلام دورونو څخه چي کمه خطا ددې څخه وړاندي سوې وه هغه پر ډیره لویه او سخته ګناه باندي مشتمله وه مثلا اول داچي دروغ یې وویل او پلار یې دې ته تیار کی. پاته بیا پر راروان مخ وګوری:

حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

حَيْثُ	اَمَرَهُمْ	اَبُوْهُمْ ؕ	مَا كَانَ	يُغْنِيْ	عَنْهُمْ	مِّنَ	اللّٰهِ
هغه ځایه چي	امر کړی ؤ دوی ته	پلار د دوی	نه ؤ دغه (ننوتل)	چي دفع کړی	له دوی نه	له قضا د	الله څخه

هغه ځایه چي امر کړی ؤ دوی ته پلار د دوی نه ؤ دغه ننوتل له بیلو بیلو دروازو چي دفع کړی له دوی نه له قضا د الله څخه

مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً فِيْ نَفْسِ يَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ وَاِنَّهٗ

مِنْ شَيْءٍ	اِلَّا	حَاجَةً	فِيْ نَفْسِ	يَعْقُوْبَ	قَضٰىهَا	وَاِنَّهٗ
هیڅ شیز	لیکن	یو حاجت چي	په نفس	د یعقوب کښی ؤ	ادائی کړی هغه	او بیشکه دغه (یعقوب)

هیڅ شیز لیکن یو حاجت چي په نفس د یعقوب کښی ؤ ادائی کړ هغه، او بیشکه! دغه (یعقوب)

لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ ع

لَذُوْ عِلْمٍ	لِّمَا	عَلَّمْنٰهُ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ
خامخا خاوند د پوه ؤ	په سبب د دی	چي خبردار کړی ؤ موږ دی	لیکن	زیات	د خلکو	نه پوهیږی

خامخا خاوند د پوه ؤ په سبب د دی چي خبردار کړی ؤ موږ دی لیکن زیات د خلکو نه پوهیږی.

ع ۸ ۲

وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰۤى اِلَيْهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّيْۤ

وَلَمَّا	دَخَلُوْا	عَلٰى يُوْسُفَ	اٰوٰۤى	اِلَيْهِ	اَخَاهُ	قَالَ اِنِّيْۤ
او کله چي	ورننوتل دغه	پر یوسف	نو رانژدی ئی کړ	خپل ځان ته	ورور خپل	وویل (یوسف) زه

او کله چي ورننوتل دغه (ورونه) پر یوسف نو رانژدی ئی کړ خپل ځان ته ورور خپل (بنیامین) وویل (یوسف) زه

اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا

اَنَا اَخُوْكَ	فَلَا تَبْتَئِسْ	بِمَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	فَلَمَّا
چي یم هم دا زه یم ورور ستا	نو مه خفه کیږه	په هغو کارونو چي ؤ دوی	چي کول ئی	نو کله چي

چي یم هم دا زه یم ورور ستا (یوسف) نو مه خفه کیږه په هغو کارونو چي ؤ دوی چي کول ئی (پخوا له موږ سره). نو کله چي

جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ ثُمَّ

جَهَّزَهُمْ	بِجَهَازِهِمْ	جَعَلَ	السِّقَايَةَ	فِيْ رَحْلِ	اَخِيْهِ	ثُمَّ
تیارئی کړی دوی ته	اسباب د سفر د دوی	نو یئ کښیښوی	جام د اوبو څښلو	په بار	د ورور خپل کښی	نو (بیا)

تیارئی کړل دوی ته اسباب د سفر د دوی نو کیښوده جام د اوبو څښلو (د باچا پټ) په بار د ورور خپل کښی نو (بیا)

مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ. د تیر مخ پاته بیان

دلته وګوری: چي حضرت یوسف علیه السلام یې د دوی سره د سیل د پاره ولیږی. **دویم** د پلار سره عهد کول او د هغه خلاف ورزي ، **دریم**: دوړوکي او معصوم ورور سره بې رحمي او سختي کول. **څلورم**: د ضعیف پلار د انتهایي زړه ازاروول او پرواه نه کول: **پنځم**: د یو بې ګناه انسان د قتلولو منصوبه جوړول **شپږم**: وازاد انسان جبرا قهرا او ظلما خرڅول دا داسي انتهایي سخت جرمونه وه چي کله حضرت یعقوب علیه السلام ته دا واضحه سوه چي دوی دروغ ویلي دي او قصدا یې حضرت یوسف علیه السلام ضایع کړی دی د دې خبري تقاضا خو په ظاهره داوه چي ده د دې زامنو سره تعلقات قطع کړي وای یا یې دوی د کوره ایستلي وای مګر حضرت یعقوب علیه السلام داسي ونه کړل بلکې هغوی پر مخ هم د پلار په خدمت کي پاته سول تر دې چي دوی یې مصر ته دغلې د پاره ولیږل او پر دې سربیره داچي دوباره بیا دوی ته د کشر ورور متعلق پلار ته د عرض معروض کولو موقع پیدا سوه او آخر داچي د دوی خبره یې ومنله او کشر زوی یې هم دوی ته حواله کی. (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۲۰) مکتبه حبیبیه

اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿۷۰﴾ قَالُوْا

اَذَّنَ	مُؤَذِّنٌ	اَيَّتُهَا الْعِيْرُ	اِنَّكُمْ	لَسٰرِقُوْنَ	قَالُوْا
برغ وکړ	برغ کوونکی	ای خلکو د قافلې	بیشکه! تاسی	خامخا غلهیئ	وویل (ورونو د یوسف)

برغ وکړ برغ کوونکی او (خلکو د) قافلې (ودرېږئ چی) بیشکه! تاسی خامخا غلهیئ. وویل (ورونو د یوسف)

وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ قَالُوْا

وَاَقْبَلُوْا	عَلَيْهِمْ	مَّاذَا	تَفْقِدُوْنَ	قَالُوْا
او مخونه ئی راواړول	پر دغو (نوکرانو)	چی څه شی دی هغه	چی تاسی ورک کړی دی	وویل دوی

او مخونه ئی راواړول پر دغو (نوکرانو د یوسف) چی څه شی دی هغه چی تاسی ورک کړی دی. وویل دوی

نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿۷۲﴾

نَفْقِدُ	صُوَاعَ	الْمَلِكِ	وَلِمَنْ جَآءَ	بِهٖ	حِمْلُ	بَعِيْرٍ	وَّاَنَا	بِهٖ زَعِيْمٌ
ورکه کړی دی موږ	پیمانه	دباچا	او دی هغه چاته چی رائی وړه	دغه پیمانه	بار	د یوه اوښ	او زه	په دی ضامن یم

لټوو موږ پیمانه د باچا او دی هغه چاته چی رائی وړه پیمانه بار د یوه اوښ او زه په دی (بار) ضامن یم.

قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ

قَالُوْا	تَاللّٰهِ	لَقَدْ	عَلِمْتُمْ	مَّا جِئْنَا	لِنُفْسِدَ	فِي الْاَرْضِ
وویل دوی	قسم دی په الله	خامخا په تحقیق	پوه یئ تاسی	چی نه یو راغلی موږ	دپاره د دی چی فساد وکړو	په مځکه کښی

وویل دوی قسم دی په الله خامخا په تحقیق پوه یئ تاسی چی نه یو راغلی موږ دپاره د دی چی فساد وکړو په مځکه (مصر) کښی

وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗ اِنْ كُنْتُمْ

وَمَا كُنَّا	سٰرِقِيْنَ	قَالُوْا	فَمَا جَزَآؤُهٗ	اِنْ كُنْتُمْ
او هرگز نه یو موږ	غلاکوونکی د دی جام	وویل (دغو نوکرانو)	چی څه به وی جزاء د هغه	که (ښکاره) سوئ تاسی

او هرگز (نه یو موږ غلاکوونکی) د دی جام. وویل (دغو نوکرانو) چی څه به وی جزاء د هغه که (ښکاره) سوئ تاسی

كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ

كٰذِبِيْنَ	قَالُوْا	جَزَآؤُهٗ	مَنْ	وُّجِدَ	فِيْ رَحْلِهٖ
دروغجنان	نو وویل	چی سزا د دی (غلا)	هغه څوک دی	چی پیدا سی	په بار د ده کښی

دروغجنان. نو وویل (ورونو د یوسف) چی سزا د دی نیول د هغه چا دی چی وموندلی سوه (دغه پیمانه) په بار د ده کښی

اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ..حضرت یوسف عليه السلام دخپل کشر ورور دپاته کولو دپاره یو تدبیر جوړ کی: په دغه ذکر سوو ایاتونو کي ددې بیان دی چي حضرت یوسف عليه السلام دخپل حقیقي ورور دپاته کولو دپاره دا حیله او تدبیر اختیار کړچي کله تولو ورونو ته دقاعدې موافق غله ورکړل سوه نو دهر ورورغله پر یوه جدا جدا اوښ نوم په نوم بار کړل سوه دبنیامین دپاره چي کومه غله پر اوښ بار سوه په دې کي یو لوښی پټ کښیښوول سو دې لوښي ته قرآن کریم یو ځای :سقایه ، او بل ځای : صُوَاعَ الملک ویلي دي: دسقایه معنی داوبو لوښی او صواع هم دغه لوښي ته وایي ددې باچا طرف ته په نسبت کولو سره دومره خبره نوره معلومه سوه چي دې لوښي څه خاص قیمت او حیثیت درلودی: په ځینو روایاتو کي چي دا لوښی دزبرجدو څخه جوړ وو ځینو دسرو او سپینو ویلي دي په هر حال دالوښی کم چي دبنیامین په اسبابو کي اینبوول سوی وو دخاص قیمتي کیدو څخه علاوه دمصر دحکومت سره خاص امتیاز درلودی. (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۳۰) مکتبه حبیبیه

فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجۡزِي الظّٰلِمِيۡنَ ۝۷۵ فَبَدَاَ بِاَوۡعِيَتِهِمۡ

فَهُوَ	جَزَآؤُهٗ	كَذٰلِكَ	نَجۡزِي	الظّٰلِمِيۡنَ	فَبَدَاَ	بِاَوۡعِيَتِهِمۡ
نو هم دی دی	سزا دهغه	هم داسی	سزا ورکوو موږ	ظالمانو ته	نو شروع وکړه	په بارونو د دوی

نو هم دی دی سزا دهغه (مریی سی) هم داسی سزا ورکوو موږ ظالمانو (غلو) ته. نو شروع وکړه (په لټولو د) بارونو د دوی

قَبۡلَ وِعَآءِ اَخِيۡهِ ثُمَّ اسۡتَخۡرَجَهَا مِنۡ وِّعَآءِ اَخِيۡهِ ؕ

قَبۡلَ	وِعَآءِ	اَخِيۡهِ	ثُمَّ	اسۡتَخۡرَجَهَا	مِنۡ وِّعَآءِ	اَخِيۡهِ
مخکی	له باره	د ورور د ده	بیا یئ	راوویستله هغه	له باره د	ورور خپل

مخکی له باره د ورور د ده بیا ئی و نه موند په هغو کښی بیا ئی راوویستله دغه (پیمانه) له باره د (سکه) ورور خپل

كَذٰلِكَ كِدۡنَا لِيُوۡسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاۡخُذَ اَخَاهُ فِيۡ دِيۡنِ

كَذٰلِكَ	كِدۡنَا	لِيُوۡسُفَ	مَا كَانَ	لِيَاۡخُذَ	اَخَاهُ	فِيۡ دِيۡنِ
هم دارنګه	تدبیر ښوولی وو موږ	یوسف ته	نه وو دغه	چی ونیسی	ورور	په دین

هم دارنګه تدبیر ښوولی وو موږ یوسف ته، نه وو دغه (یوسف داسی) چی ونیسی ورور خپل په دین (قانون)

الۡمَلِكِ اِلَّآ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنۡ نَّشَآءُ ؕ

الۡمَلِكِ	اِلَّآ	اَنۡ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	نَرۡفَعُ	دَرَجٰتٍ	مَّنۡ نَّشَآءُ
دباچا کښی	مګر چی	اراده وفرمایله	الله	پورته کوو موږ	مرتبی	د هر چا چی اراده وفرمایو موږ

دباچا (مصر) کښی مګر چی اراده وفرمایله الله (تدبیر ئی وروښود) پورته کوو موږ مرتبی د هر چا چی اراده وفرمایو موږ

وَفَوۡقَ كُلِّ ذِيۡ عِلۡمٍ عَلِيۡمٌ ۝۷۶ قَالُوۡٓا اِنۡ يَّسۡرِقۡ فَقَدۡ

وَفَوۡقَ	كُلِّ ذِيۡ	عِلۡمٍ	عَلِيۡمٌ	قَالُوۡٓا	اِنۡ	يَّسۡرِقۡ	فَقَدۡ
او لوړ پر	هر خاوند	دعلم	بل لوی عالم سته	نو وویل	که	غلا وکړه دغه (بنیامین)	پس په تحقیق سره

او د پاسه د هر خاوند د علم لوی عالم دی. نو وویل (ورونو د یوسف) که غلا وکړه دغه (بنیامین) پس په تحقیق سره

سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ ۚ فَاَسَرَّهَا يُوۡسُفُ فِيۡ نَفۡسِهٖ

سَرَقَ	اَخٌ	لَّهٗ	مِنۡ قَبۡلُ	فَاَسَرَّهَا	يُوۡسُفُ	فِيۡ نَفۡسِهٖ
غلا کړې وه	ورور	د ده هم	پخوا له دی نه	نو پټه وساتله دغه (خبره)	یوسف	په نفس خپل کښی

غلا کړې وه (سکنی) ورور د ده هم پخوا له دی نه، نو پټه وساتله دغه (خبره) یوسف په نفس خپل کښی

فَبَدَاَ بِاَوۡعِيَتِهِمۡ قَبۡلَ وِعَآءِ اَخِيۡهِ .. دحضرت یوسف عليه السلام دورونو دسامان تلاشي اخیستل شروع سوه : په دغه ایت کي دا خبره په ډاګه سویده چي سرکاري لټونکو پر اصلي سازش باندي دپردې اچولو دپاره اول دټولو وروڼو دسامان تلاشي واخیسته او اول یي دبنیامین دسامان تلاشي ونه کړه چي ددوی شک رانه سي او په آخر کي یي دبنیامین سامان خلاص کی نو ددې څخه یي دباچا لوښی راویستی دغه وخت دټولو وروڼو څټونه دشرم څخه کښته سول او بنیامین ته یي سختي بدې ردې وویلې چي تا زموږ مخ تور کی: بیا الله جل جلاله فرمایي **(وکذلک کدنا لیوسف ماکان لیأخذ اخاه فی دین الملک)** یعني دغه شان موږ تدبیر وکی دیوسف عليه السلام دپاره دخپل ورور ده خپل ورور د مصر تر قانون لاندي نسوای ګرفتاره کولای ځکه چي دمصر قانون دغلا کوونکي متعلق داوو چي غله ته دوهلو سزا ورکړي او غلا کړی مال دوچنده ورڅخه واخیستل سي مګر دوی دلته دحضرت یوسف عليه السلام دوروڼو څخه دغله حکم دیعقوب عليه السلام دشریعت مطابق معلوم کړی وو :**پاته بیان پر راروان مخ وګوری.**

وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡ ۚ قَالَ اَنۡتُمۡ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَ اللّٰهُ

وَلَمۡ يُبۡدِهَا	لَهُمۡ	قَالَ	اَنۡتُمۡ	شَرٌّ	مَّكَانًا	وَ اللّٰهُ
او ښکاره ئې نه کړه	دوی ته	وويل (يوسف)	چې تاسې	ډير بديئ	له جهته مرتبې	او الله

او ښکاره ئې کړه (هغه خبره) دوی ته، وويل (يوسف په زړه کښې) چې تاسې ډير بد يئ له جهته دمرتبې او الله

اَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُوۡنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوۡا يٰۤاَيُّهَا الۡعَزِيۡزُ اِنَّ لَهٗۤ اَبًا شَيۡخًا

اَعۡلَمُ	بِمَا	تَصِفُوۡنَ	قَالُوۡا	يٰۤاَيُّهَا	الۡعَزِيۡزُ	اِنَّ لَهٗ	اَبًا	شَيۡخًا
ښه عالم دی	په هغه خبره	چې تاسې ئې بيانوئ	وويل دوی	ای	عزيزه	بيشکه! ده لره	يو پلار دی	زوړ

ښه عالم دی په هغه خبره چې تاسې ئې بيانوئ (په حق د يوسف کښې). وويل دوی ای عزيزه بيشکه! ده لره يو پلار دی زوړ

كَبِيۡرًا فَخُذۡ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۷۸﴾

كَبِيۡرًا	فَخُذۡ	اَحَدَنَا	مَكَانَهٗ	اِنَّا نَرٰىكَ	مِنَ	الۡمُحۡسِنِيۡنَ
د ډير عمر	نو ونيسه	يو له موږ	په ځای د ده	بيشکه! موږ وينو تا	له	احسان کوونکو څخه

ډير معمر نو ونيسه يو له موږ په ځای د ده (يرغمال او دی راپريږده) بيشکه! موږ وينو تا له احسان کوونکو څخه.

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنۡ نَّاۡخُذَ اِلَّا مَنۡ وَّجَدۡنَا مَتَاعَنَا

قَالَ	مَعَاذَ	اللّٰهِ	اَنۡ نَّاۡخُذَ	اِلَّا	مَنۡ	وَّجَدۡنَا	مَتَاعَنَا
وويل	پناه غواړم	په الله پورې	چې ونيسو موږ	مګر	هغه څوک	چې پيدا کړی دی موږ	اسباب خپل

وويل (يوسف) پناه غواړم په الله پورې چې ونيسو موږ (بې ګناه) مګر (به نسو) هغه څوک چې موندلی دی موږ اسباب خپل

عِنۡدَهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِذًا لَّظٰلِمُوۡنَ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا اسۡتَيۡـَٔسُوۡا مِنۡهُ

عِنۡدَهٗ	اِنَّاۤ	اِذًا	لَّظٰلِمُوۡنَ	فَلَمَّا	اسۡتَيۡـَٔسُوۡا	مِنۡهُ
په نزد دهغه	نو موږ به	په هغه وخت کښې	خامخا له ظالمانو اوسو	نو کله چې	نا اميده سول دوی	له دغه

په نزد دهغه، نو موږ به په هغه وخت کښې خامخا له ظالمانو اوسو. نو کله چې نااميده سول دوی له دغه (يوسف څخه)

خَلَصُوۡا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيۡرُهُمۡ اَلَمۡ تَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اَبَاكُمۡ

خَلَصُوۡا	نَجِيًّا	قَالَ	كَبِيۡرُهُمۡ	اَلَمۡ تَعۡلَمُوۡۤا	اَنَّ اَبَاكُمۡ
نو ګوښه سول دوی	په دی حال کښې چې مشوره کوونکي وُ	وويل	مشر د دوی	آيا نه پوهيږئ	چې بيشکه! پلار ستاسې

نو ګوښه (بيل) سول دوی په دی حال کښې چې مشوره کوونکي وُ وويل مشر د دوی، آيا نه پوهيږئ چې بيشکه! پلار ستاسې

قَالُوۡا يٰۤاَيُّهَا الۡعَزِيۡزُ اِنَّ لَهٗۤ اَبًا دتير مخ پاته بيان دلته

وګوری: دحضرت يعقوب عليه السلام د شريعت درويه څخه حضرت يوسف عليه السلام کولای سوه چې بنيامين ددوی څخه راوګرځوي پر دغه طريقه باندي دالله جل جلاله دحکمت او رضا مطابق دحضرت يوسف عليه السلام مراد هم پوره سو اوبيا الله جل جلاله فرمايي (نرفع درجات من نشآء وفوق كل ذی علم عليم) يعني موږ چي چاته غواړو درجې يې لوړوولکه په دي واقعه کي چي دحضرت يوسف عليه السلام درجې دده دورونو په مقابله کي موږ لوړي کړي دي او پر هر علم والا سربيره دده څخه زيات علم والا موجود دی: مطلب دادی چي په مخلوق کي موږدعلم په اعتبار سره ځينو لره پر ځينو باندي لوړوالی ورکړی دی دلوی څخه دلوی عالم په مقابله کي يو څوک دده څخه زيات علم لرونکی وي او که يو سړی بالفرض داسي هم وي چي په ټولو مخلوقاتو کي څوک دده څخه زيات علم نه لري نو خو بيرته اخر کار درب العزة جل جلاله علم خو دټولو څخه لوړ او دټولو مخلوقاتو تر علم زيات دی (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۳۲) مکتبه حبيبه

ع ۹ / ۳

قَدۡ اَخَذَ عَلَیۡكُمۡ مَّوۡثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنۡ قَبۡلُ مَا فَرَّطۡتُّمۡ

قَدۡ	اَخَذَ	عَلَیۡكُمۡ	مَّوۡثِقًا	مِّنَ اللّٰهِ	وَمِنۡ قَبۡلُ	مَا فَرَّطۡتُّمۡ
په تحقیق	اخیستی وه	له تاسی	سخته وعده	له وعدو دالله	او پخواله دی څخه	تقصیر کړی ؤ تاسی

په تحقیق اخیستی وه له تاسی سخته وعده له وعدو دالله (په حفظ دبنیامین) او پخوا له دی نه تقصیر کړی ؤ تاسی

فِیۡ یُوۡسُفَ ۚ فَلَنۡ اَبۡرَحَ الۡاَرۡضَ حَتّٰی یَاۡذَنَ لِیۡۤ اَبِیۡۤ

فِیۡ یُوۡسُفَ ۚ	فَلَنۡ اَبۡرَحَ	الۡاَرۡضَ	حَتّٰی	یَاۡذَنَ	لِیۡۤ	اَبِیۡۤ
په حق د یوسف کښی	نو له سره به زه نه بنورم	له دی مځکی	تر هغه پوری	چی اجازه راکړی	ماته	پلار زما

په حق د یوسف کښی، نو له سره به زه نه خوځیږم له دی مځکی (مصر څخه) تر هغه پوری چی اذن راکړی ماته پلار زما

اَوۡ یَحۡكُمَ اللّٰهُ لِیۡ ۚ وَهُوَ خَیۡرُ الۡحٰكِمِیۡنَ ﴿۸۰﴾ اِرۡجِعُوۡۤا

اَوۡ یَحۡكُمَ	اللّٰهُ	لِیۡ	وَهُوَ	خَیۡرُ	الۡحٰكِمِیۡنَ	اِرۡجِعُوۡۤا
یا حکم راکړی	الله	ماته	او هم دغه (الله)	ډیر غوره	دحکم کوونکو دی	بیرته لاړ سئ تاسی

یا حکم راکړی الله ماته (په تلو سره د مصر) او هم دغه (الله) ډیر غوره دحکم کوونکو دی. بیرته لاړ سئ تاسی

اِلٰۤی اَبِیۡكُمۡ فَقُوۡلُوۡا یٰۤاَبَانَاۤ اِنَّ ابۡنَكَ سَرَقَ ۚ وَمَا شَهِدۡنَاۤ اِلَّا

اِلٰۤی اَبِیۡكُمۡ	فَقُوۡلُوۡا	یٰۤاَبَانَاۤ	اِنَّ ابۡنَكَ	سَرَقَ	وَمَا شَهِدۡنَاۤ	اِلَّا
پلار خپل ته	نو ووایئ	ای پلاره زموږ	په تحقیق ځوی ستا	غلا وکړه	او موږ شاهدی نه ده ویلی	مګر

پلار خپل ته نو ووایئ (ورته) ای پلاره زموږ په تحقیق ځوی ستا (بنیامین) غلا وکړه، او موږ نه ؤ ویلی بل شی مګر

بِمَا عَلِمۡنَا وَمَا كُنَّا لِلۡغَیۡبِ حٰفِظِیۡنَ ﴿۸۱﴾ وَسۡـَٔلِ

بِمَا عَلِمۡنَا	وَمَا	كُنَّا	لِلۡغَیۡبِ	حٰفِظِیۡنَ	وَسۡـَٔلِ
هغه مو وویل چی پری خبر وو	او نه	وو موږ	دغیبو دپاره	ساتونکی	او پوښتنه وکړه پخپله

هغه مو وویل چی پری خبر وو او نه وو موږ د پټ کار دپاره ساتونکی. او پوښتنه وکړه پخپله (دقاصد په ژبه له خلګو)

الۡقَرۡیَةَ الَّتِیۡ كُنَّا فِیۡهَا وَالۡعِیۡرَ الَّتِیۡۤ اَقۡبَلۡنَا فِیۡهَا ؕ

الۡقَرۡیَةَ	الَّتِیۡ	كُنَّا	فِیۡهَا	وَالۡعِیۡرَ الَّتِیۡۤ	اَقۡبَلۡنَا	فِیۡهَا
دهغی قریی	چی	وو موږ	په هغه کښی	او له هغه کاروانه	چی موږ راغلی وو	په دغه (قافله) کښی

له خلګو دقریی چی وو موږ په هغه کښی او (پوښتنه وکړه) له هغه کاروانه چی موږ مخ کړی ؤ په دغه (قافله) کښی

قَدۡ اَخَذَ عَلَیۡكُمۡ مَّوۡثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنۡ... دحضرت یوسف علیه السلام ورونه دبنیامین دازادی څخه مایوسه سول نو یه مشوره وکړه: یعني کله چي دحضرت یوسف علیه السلام ورونه دبنیامین دازادی څخه مایوسه او ناامیده سول نو دمشورې دپاره په جلا ځای کي کښینستل ددوی مشرورور وویل چي تاسو ته معلومه نه ده چي ستاسي پلار ستاسي څخه دبنیامین دواپس راوستلو پخه وعده اخیستې ده او دا چي تاسو ددې څخه وړاندي هم دیوسف علیه السلام په معامله کي یوه کوتاهي او غلطي کړې ده په دې وجه زه خو اوس دمصر مځکه تر هغه وخته نه پرېږدم تر څو چي زما پلار ماته په خپله ددې ځایه څخه دواپس راتلو حکم نه وي راکړی او الله جل جلاله غوره حکم کوونکی دی: دغه مشر وروردکم خبره چي بیان سوه ځیني فرمایي چي یهودا دی او دی اګر چه په عمر کي دټولو څخه لوی نه دی مګر په علم او فضل کي لوی وو او ځیني فرمایي چي روبیل دی کم چي په عمر کي دټولو څخه لوی دی او په علم او فضل کي هم لوی وو: معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۳۸) مکتبه حبیبیه

وَإِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ

وَإِنَّا	لَصٰدِقُوْنَ	قَالَ بَلْ	سَوَّلَتْ	لَكُمْ	اَنْفُسُكُمْ	اَمْرًا
او بيشكه! موږ	خامخا موږ رښتيا ويونكي يو	وويل بلكه	ښائسته كړي دي	تاسي ته	نفسونو ستاسي	يو كار

او بيشكه! موږ خامخا موږ صادقان يو. وويل (داسي نه ده) بلكه ښائسته كړي دي تاسي ته نفسونو ستاسي يو كار

فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ

فَصَبْرٌ	جَمِيْلٌ	عَسَى	اللّٰهُ	اَنْ يَّاْتِيَنِيْ	بِهِمْ	جَمِيْعًا	اِنَّهٗ
نو صبر	بهتر دی	نژدې دی داچي	الله	راولي ماته	دوی	ټول	بيشكه! دغه الله

نو (اوس كارزما) صبر بهتردی، نژدې دی داچي الله راولي ماته دوی ټول، بيشكه! دغه الله جل جلاله

هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰاَسَفٰى عَلٰى

هُوَ	الْعَلِيْمُ	الْحَكِيْمُ	وَتَوَلّٰى	عَنْهُمْ	وَقَالَ	يٰاَسَفٰى	عَلٰى
هم دی دی	ښه عالم	ښه حكمت والا	او مخ وګرځاوه	له دغو څخه	او وی ويل	ای افسوسه او غم زما	پر

هم دی دی ښه عالم ښه حكمت والا. او مخ وګرځاوه (يعقوب) له دغو (ځامنو) څخه او وی ويل ای افسوسه او غم زما پر

يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿٨٤﴾

يُوْسُفَ	وَابْيَضَّتْ	عَيْنٰهُ	مِنَ الْحُزْنِ	فَهُوَ	كَظِيْمٌ
(بيلتون د) يوسف (راشه دغه وخت دی)	او تكي سپيني سوی	دواړی سترګی د دغه	له غمه	نو دی	ډک ؤ له قهره

(بيلتون د) يوسف راشه دغه دی وخت دی او تكي سپيني سوی دواړی سترګی د دغه (يعقوب) له غمه نو دی ډک ؤ له قهره

قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا

قَالُوْا	تَاللّٰهِ	تَفْتَؤُا	تَذْكُرُ	يُوْسُفَ	حَتّٰى	تَكُوْنَ	حَرَضًا
وويل (ځامنو)	قسم دی پر الله	چي هميشه ئی ته	چي يادوی	يوسف	ترهغه پوری	چي سی ته	ناجوړی

وويل (ځامنو د يعقوب) قسم دی پر الله چي هميشه ئی ته چي يادوی يوسف ترهغه پوری چي سی ته قريب الموت (ناجوړه)

اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿٨٥﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ

اَوْ تَكُوْنَ	مِنَ الْهٰلِكِيْنَ	قَالَ	اِنَّمَآ	اَشْكُوْا	بَثِّيْ
يا سی ته	له هلاک سوو څخه	نو وويل (يعقوب)	بيشكه! هم دا خبره ده	چي شكايت كوم زه	د خفګان خپل

يا سی ته له هلاک سوو څخه. نو وويل (يعقوب) بيشكه! هم دا خبره ده چي شكايت كوم (اوژار م دلوی او واره) غم

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ.. دحضرت يعقوب عليه السلام زامن وطن ته واپس راغلل او ټول حالات يي وپلار ته بيان كړل: دحضرت يعقوب عليه السلام كشر زوی بنيامين چي كله په مصر كي ګرفتاره سو ددې څخه وروسته دده وړونه واپس وطن ته راغلل او حضرت يعقوب عليه السلام ته يي ټوله حالات بيان كړل او دا يقين يي ده ته وركوی چي موږ په دې واقعه كي بالكل رښتيني يو ته ددې خبري تصديق دمصر دخلګو څخه هم كولای سې او كمه قافله چي زموږ سره دكنعانه څخه راغلې ده دهغو خلګو څخه يي هم كولای سي چي بنيامين په غلاكي ونيول سو په دې وجه هغه ټينګ او ګرفتاره سوه حضرت يعقوب عليه السلام ته چونكه دحضرت يوسف عليه السلام په معامله كي ددوی درواغ معلوم سوي وه په دې وجه دا ځل يي هم يقين رانه غلی كه څه هم په حقيقت كي ددې واري دوی درواغ نه وه ويلي په دې وجه پر دې موقع يي هم هغه خبره وكړه كمه چي يي دحضرت يوسف عليه السلام دوركيدو په وخت كي فرمايلي وه.(بل سولت لكم انفسكم امرا فصبر جميل) معارف القرآن ج ٥ پ ١٣ ص ٤٢) مكتبه حبيبيه

وَحُزْنِيٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾

وَحُزْنِيٓ	اِلَى	اللّٰهِ	وَاَعْلَمُ	مِنَ	اللّٰهِ	مَا	لَا تَعْلَمُوْنَ
او دغم خپل	طرف د	الله ته	او پوهیږم زه	له جانبه	د الله	په هغه چي	تاسي پرې نه پوهیږئ

(او اضطراب) او خفګان خپل طرف د الله ته (یوائی) او پوهیږم زه له جانبه د الله په هغه چي تاسي پرې نه پوهیږئ.

يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا

يٰبَنِيَّ	اذْهَبُوْا	فَتَحَسَّسُوْا	مِنْ يُّوْسُفَ	وَاَخِيْهِ	وَلَا تَايْـَٔسُوْا
ای ځامنو زما	لاړسئ	نو لټونه وکړئ	له (حاله د) یوسف	او له حاله د ورور د ده	او مه نا امیده کیږئ

ای ځامنو زما، لاړسئ نو لټونه وکړئ له (حاله د) یوسف او له حاله د ورور د ده او مه نا امیده کیږئ

مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ

مِنْ رَّوْحِ	اللّٰهِ	اِنَّهٗ	لَا يَايْـَٔسُ	مِنْ رَّوْحِ	اللّٰهِ
له رحمته	د الله	بیشکه! شان دادی	چي نه نا امیده کیږی	له رحمته	د الله څخه

له فیضه د الله بیشکه! شان دادی چي نه نا امیده کیږی له فیضه د الله څخه

اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ قَالُوْا

اِلَّا	الْقَوْمُ	الْكٰفِرُوْنَ	فَلَمَّا	دَخَلُوْا	عَلَيْهِ	قَالُوْا
مګر	قوم	کافران	نو کله چي	ورننوتل ورونه د یوسف	پر ده	نو وویل دوی (یوسف ته)

مګر قوم کافران (منکران له الله) . نو کله چي ورننوتل ورونه د یوسف نو وویل دوی (یوسف ته)

يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ

يٰٓاَيُّهَا	الْعَزِيْزُ	مَسَّنَا	وَاَهْلَنَا	الضُّرُّ	وَجِئْنَا	بِبِضَاعَةٍ
چې ای	عزیزه	رسیدلی ده موږ ته	او اهل زموږ ته	سختی	او راوړی ده موږ	پنګه (سرمایه)

چې ای عزیزه، رسیدلی ده موږ ته او اهل (عیال) زموږ ته سختی (او لوږه) او راوړی ده موږ پنګه (سرمایه)

مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ

مُّزْجٰىةٍ	فَاَوْفِ	لَنَا الْكَيْلَ	وَتَصَدَّقْ	عَلَيْنَا	اِنَّ	اللّٰهَ
ناقصه	نو پوره راکړه	موږ ته پیمانه	او خیرات وکړه	پر موږ	بیشکه!	چې الله

معمولی نو پوره راکړه موږ ته پیمانه او خیرات وکړه پر موږ (په قبول د نقصان یا تزئید د احسان) بیشکه! چې الله

يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ. حضرت يعقوب عليه السلام وخپلو زامنو ته د يوسف عليه السلام او دبنیامین دتلاش کولو امر ورکړی: حضرت يعقوب عليه السلام وخپلو زامنو ته وويل چي ای بچیانو زما ولاړسی یوسف او دهغه ورور تلاش کړی او دالله جل جلاله درحمت څخه مه مایوسه کیږی ځکه چي دهغه درحمت څخه بغیر د کافرانو څخه نور څوک نه مایوسه کیږي حضرت يعقوب عليه السلام ددومره زماني دتیریدو څخه وروسته زامنو ته دا حکم ورکی چي ولاړسی یوسف عليه السلام او دهغه ورور تلاش کړی اوددوی دپیدا کیدو څخه مه مایوسه کیږی ددې څخه مخکي هیڅکله داسي حکم ده نه وو ورکړی دا ټول شیان دتقدیر الهي تابع وه ددې څخه مخکي حاصلیدل په تقدیر کي نه وه په دې وجه داسي څه کار ونه سو او اوس چونکه دملاقات وخت راغلی وو په دې وجه الله جل جلاله ددې مناسب تدبیر ورته په زړه کي ورواچوی: او ددواړو دتلاش مخ یې مصر ته مقرر کی کم چي دبنیامین په حق کي خو معلوم او متعین وو البته د یوسف عليه السلام په: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

يَجۡزِی الۡمُتَصَدِّقِيۡنَ ﴿۸۸﴾ قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُمۡ مَّا فَعَلۡتُمۡ

مَّا فَعَلۡتُمۡ	عَلِمۡتُمۡ	قَالَ هَلۡ	الۡمُتَصَدِّقِيۡنَ	يَجۡزِی
چی څه فعل کړی ؤ تاسی	پوهیږئ تاسی	وویل (یوسف) آیا	خیرات ورکوونکو ته	جزاء ورکوی

جزاء (بدل د دارینو ورکوی) خیرات ورکوونکو ته. وویل (یوسف) آیا پوهیږئ تاسی چی څه فعل کړی ؤ تاسی

بِيُوۡسُفَ وَاَخِيۡهِ اِذۡ اَنۡتُمۡ جٰهِلُوۡنَ ﴿۸۹﴾ قَالُوۡۤا ءَاِنَّكَ

ءَاِنَّكَ	قَالُوۡۤا	جٰهِلُوۡنَ	اِذۡ اَنۡتُمۡ	وَاَخِيۡهِ	بِيُوۡسُفَ
آیا بیشکه! ته چی ئی	وویل (ورونو)	ناپوهان وئ	کله چی تاسی	او له ورور د ده سره	له یوسف

له یوسف او له ورور د ده سره کله چی تاسی ناپوهان وئ (له عاقبت د فعل خپل). وویل (ورونو) آیا بیشکه! ته چی ئی

لَاَنۡتَ يُوۡسُفُ ؕ قَالَ اَنَا يُوۡسُفُ وَهٰذَاۤ اَخِیۡ ۡ قَدۡ مَنَّ

قَدۡ مَنَّ	اَخِیۡ	وَهٰذَاۤ	اَنَا يُوۡسُفُ	قَالَ	يُوۡسُفُ	لَاَنۡتَ
په تحقیق احسان فرمایلی دی	می سکه ورور دی	او دغه (بنیامین)	هم دا زه یم یوسف	وویل (هو!)	یوسف	خامخا دا ته ئی

خامخا دا ته ئی یوسف وویل (هو!) هم دا زه یم یوسف او دغه (بنیامین) می سکه ورور دی په تحقیق احسان فرمایلی دی

اللّٰهُ عَلَيۡنَا ؕ اِنَّهٗ مَنۡ يَّتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَاِنَّ اللّٰهَ

اللّٰهَ	فَاِنَّ	وَيَصۡبِرۡ	مَنۡ يَّتَّقِ	اِنَّهٗ	عَلَيۡنَا	اللّٰهُ
الله	نو بیشکه!	او صبر وکړی	هر څوک چی وبیریږئ له الله	بیشکه! شان دادی	پر موږ باندی	الله

الله پر موږ باندی (په سلامت او کرامت) بیشکه! شان دا دی هر څوک چی وبیریږئ له الله او صبر وکړی نو بیشکه! الله

لَا يُضِيۡعُ اَجۡرَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۹۰﴾ قَالُوۡا تَاللّٰهِ لَقَدۡ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيۡنَا

عَلَيۡنَا	اللّٰهُ	اٰثَرَكَ	لَقَدۡ	تَاللّٰهِ	قَالُوۡا	الۡمُحۡسِنِيۡنَ	اَجۡرَ	لَا يُضِيۡعُ
پر موږ	الله	غوره کړی ئی ته	په تحقیق	قسم دی پر الله	وویل (ورونو)	دنیکو کارانو	اجر	نه ضایع کوی

نه ضایع کوی اجر (بدل عوض) دنیکو کارانو. وویل (ورونو) قسم دی پر الله خامخا په تحقیق غوره کړی ئی ته الله پر موږ

وَاِنۡ كُنَّا لَخٰطِــِٕيۡنَ ﴿۹۱﴾ قَالَ لَا تَثۡرِيۡبَ عَلَيۡكُمُ الۡيَوۡمَ ؕ

الۡيَوۡمَ	عَلَيۡكُمُ	لَا تَثۡرِيۡبَ	قَالَ	لَخٰطِــِٕيۡنَ	كُنَّا	وَاِنۡ
نن ورځ	(له جانبه ځما) پر تاسو	نسته هیڅ ملامتی	وویل (یوسف)	خامخا له خطا کوونکو	چی وو موږ	او بیشکه!

او بیشکه! چی وو موږ خامخا له خطا کوونکو. وویل (یوسف) نسته هیڅ ملامتی (له جانبه ځما) پر تاسو نن ورځ

قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُمۡ مَّا فَعَلۡتُمۡ بِيُوۡسُفَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: مصر کي دتلاش کولو دظاهر حال په اعتبار سره هیڅ وجه نه وه لیکن الله ﷻ چي کله دیو کار اراده وفرمایي نو مناسب اسباب ورته راجمع کړي په دې وجه ددې واري دتلاش او تفتیش دپاره یي بیا زامنو ته دمصر وطرفته دتللو هدایت ورکی: ځیني حضرات بیا دا فرمایي چي حضرت یعقوب علیه السلام ته په اول وار دمصر دعزیز ددې معاملې څخه چي ددوی پانګه یي هم ددوی په سامان کي واپس کړه دې طرف ته خیال سوی وو چي دا عزیز یو څوک ډیر شریف او کریم دی شاید چي دی یوسف وي: امام قرطبي رحمه الله فرمایي چي د حضرت یعقوب علیه السلام دواقعې څخه دا ثابته سوه چي پر هر مسلمان باندي واجب دي چي کله ده ته دیو تکلیف دخپل ځان یا اولاد یا مال په باره کي ورپیښ سي نو ددې علاج صبر جمیل او دالله ﷻ په قضا باندي راضي کیدل دي چي دحضرت یعقوب علیه السلام او دنورو پیغمبرانو (علیهم السلام) اقتداء او پیروي هم په کښي راسي: معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۴۶) مکتبه حبیبیه

یَغْفِرُ اللّٰہُ لَکُمْ ۫ وَھُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۹۲﴾ اِذْھَبُوْا

یَغْفِرُ	اللّٰہُ	لَکُمْ	وَھُوَ	اَرْحَمُ	الرّٰحِمِیْنَ	اِذْھَبُوْا
مغفرت دی وکړی	الله	تاسی ته	او هم دی دی	ښه غوره مهربان	دټولو مهربانی کوونکو	یو سئ

مغفرت دی وکړی الله تاسی ته او هم دی ښه غوره مهربان دټولو مهربانی کوونکو. یو سئ

بِقَمِیْصِیْ ھٰذَا فَاَلْقُوْہُ عَلٰی وَجْہِ اَبِیْ یَاْتِ بَصِیْرًا ۚ

بِقَمِیْصِیْ	ھٰذَا	فَاَلْقُوْہُ	عَلٰی وَجْہِ	اَبِیْ	یَاْتِ	بَصِیْرًا
قمیص زما	دغه (قمیص)	نو واچوئ هغه	پر مخ	دپلار زما	رابه سی	بیا لیدونکی

قمیص زما دغه (قمیص) نو واچوئ هغه پر مخ د پلار زما نو به ګرځی بیا لیدونکی

وَاْتُوْنِیْ بِاَھْلِکُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِیْرُ قَالَ اَبُوْھُمْ

وَاْتُوْنِیْ	بِاَھْلِکُمْ	اَجْمَعِیْنَ	وَلَمَّا	فَصَلَتِ	الْعِیْرُ	قَالَ	اَبُوْھُمْ
او راسئ تاسی ماته	سره له اهل خپل	ټول	او کله چی	بیا جلا سو	کاروان	وویل	پلار د دوی

او راسئ تاسی ماته سره له اهل خپل ټول. او کله چی بیا جلا (جدا) سو کاروان (له مصره) وویل پلار د دوی (یعقوب)

اِنِّیْ لَاَجِدُ رِیْحَ یُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۴﴾

اِنِّیْ	لَاَجِدُ	رِیْحَ	یُوْسُفَ	لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ
بیشکه! زه چی یم	خامخا پیدا کوم	بوی	د یوسف	که چیری نسبت د کم عقلی نه کوئ ماته

بیشکه! زه چی یم خامخا پیدا کوم (بولم مومم) بوی د یوسف که چیری نسبت د کم عقلی (دزوړوالی) نه کوئ ماته .

قَالُوْا تَاللّٰہِ اِنَّکَ لَفِیْ ضَلٰلِکَ الْقَدِیْمِ ﴿۹۵﴾

قَالُوْا	تَاللّٰہِ	اِنَّکَ	لَفِیْ ضَلٰلِکَ	الْقَدِیْمِ
وویل (حاضرینو)	قسم دی پر الله	بیشکه! ته چی ئی	خامخا په همغه خطا او سرګردانی خپل کښی یی	پخوانی

وویل (حاضرینو) قسم دی پر الله بیشکه! ته چی ئی خامخا په همغه خطا او سرګردانی پخوانی خپل کښی (همغسی) یی .

فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِیْرُ اَلْقٰہُ عَلٰی وَجْہِہٖ فَارْتَدَّ بَصِیْرًا ۚ

فَلَمَّآ	اَنْ جَآءَ	الْبَشِیْرُ	اَلْقٰہُ	عَلٰی	وَجْہِہٖ	فَارْتَدَّ	بَصِیْرًا
نو کله چی	راغی	زیری کوونکی	نو واچوه ده هغه (قمیص)	پر	مخ د دغه (یعقوب) باندی	نو وګرځیده	لیدونکی

نو کله چی راغی زیری کوونکی نو واچوه ده هغه (قمیص) پر مخ د دغه (یعقوب) باندی نو وګرځیده (یعقوب) لیدونکی،

اِذْھَبُوْا بِقَمِیْصِیْ ھٰذَا فَاَلْقُوْہُ عَلٰی وَجْہِ.. حضرت یوسف علیه السلام خپل راز وخپلو وړونو ته ښکاره کی: په تیرو ایاتونو کي دا معلومه سول چي کله دخدای جل جلاله په حکم سره ددې وخت راغی چي حضرت یوسف علیه السلام خپل راز ووړونو ته ښکاره کی او اصل حقیقت یي ظاهر کی وړونو یي معافي وغوښته ده نه دا چي یوازي معاف یي کړل بلکه پر تیرو واقعاتو یي ملامت هم نه کړل ددوی دپاره یي دالله جل جلاله څخه دعا وغوښتله اواوس یي دپلار سره دملاقات فکر سو دحالاتو په اعتبار سره یي داسي مناسبه وګڼله چي پلار دي سره دخاندانه دلته تشریف راوړي مګر معلومه سوې وه چي ددې جدایي په وجه ددوی نظر ختم سوی دی په دې وجه دټولو څخه اول یي دا فکر سو او وړونو ته یي وفرمایل (اذهبوا بقمیصی هذا فالقوه علی وجه ابی) یعني دا زما قمیص تاسي یوسی او زما دپلار پر مخ یي واچوی نو دهغه نظر به بیرته واپس راسي اودا په حقیقت کي دحضرت یوسف علیه السلام معجزه وه چي الله جل جلاله دته ورکړې وه.
معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۵۶)

الربع

قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ ۚۙ اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۶﴾

قَالَ	اَلَمۡ اَقُلۡ	لَّكُمۡ	اِنِّیۡۤ	اَعۡلَمُ	مِنَ	اللّٰهِ	مَا	لَا تَعۡلَمُوۡنَ
وویل (یعقوب)	آیا نهٔ وېلی ما	تاسی ته	چی بیشکه! زه	پوهېږم	له (ښوونی د)	الله	په هغه	چی نه پوهېږئ تاسی

وویل (یعقوب) آیا نهٔ وېلی ما تاسی ته چی، بیشکه! زه پوهېږم له (ښوونی د) الله په هغه چی نه پوهېږئ تاسی.

قَالُوۡا یٰۤاَبَانَا اسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَاۤ اِنَّا كُنَّا خٰطِئِیۡنَ ﴿۹۷﴾

قَالُوۡا	یٰۤاَبَانَا	اسۡتَغۡفِرۡ لَنَا	ذُنُوۡبَنَاۤ	اِنَّا	كُنَّا	خٰطِئِیۡنَ
وویل	ای پلاره زموږ	مغفرت وغواړه له الله زموږ دپاره	دګناهونو زموږ	بیشکه!	چی وو موږ	خطا کوونکی

وویل (وروڼو دیوسف) ای پلاره زموږ مغفرت وغواړه له الله زموږ دپاره دګناهونو زموږ بیشکه! چی موږ خطا کوونکی (یو).

قَالَ سَوۡفَ اَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّیۡ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ ﴿۹۸﴾

قَالَ	سَوۡفَ	اَسۡتَغۡفِرُ	لَكُمۡ	رَبِّیۡ	اِنَّهٗ	هُوَ الۡغَفُوۡرُ	الرَّحِیۡمُ
وویل (یعقوب)	ژربه	مغفرت وغواړم	تاسی ته	له ربه خپله	بیشکه! دغه (الله)	هم دی دی بخښونکی	ډیر رحم والا

وویل (یعقوب) ژربه مغفرت وغواړم تاسی ته له ربه خپله، بیشکه! دغه (الله) هم دی دی بخښونکی ډیر رحم والا.

فَلَمَّا دَخَلُوۡا عَلٰی یُوۡسُفَ اٰوٰۤی اِلَیۡهِ اَبَوَیۡهِ وَقَالَ

فَلَمَّا	دَخَلُوۡا	عَلٰی	یُوۡسُفَ	اٰوٰۤی	اِلَیۡهِ	اَبَوَیۡهِ	وَقَالَ
نو کله چی	ننه وتل دوی	پر	یوسف (په مجلس کی)	نو رانژدی ئی کړل	ځان ته	مور او پلار خپل	او وویل یوسف

نو کله چی ننه وتل دوی پر یوسف په ماڼی او مجلس د یوسف نو رانژدی ئی کړل ځان ته مور او پلار خپل او وویل یوسف

ادۡخُلُوۡا مِصۡرَ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِیۡنَ ﴿۹۹﴾ ؕ وَرَفَعَ اَبَوَیۡهِ عَلَی

ادۡخُلُوۡا	مِصۡرَ	اِنۡ شَآءَ	اللّٰهُ	اٰمِنِیۡنَ	وَرَفَعَ	اَبَوَیۡهِ	عَلَی
چی ننوځئ	(ښارد) مصر ته	که اراده وفرمائی	الله	حال دا چی په امن کښی به سئ	او پورته ئی کړل	مور او پلار خپل	پر

چی ننوځئ (ښارد) مصر ته که اراده وفرمائی الله حال دا چی په امن کښی به سئ. او پورته ئی کړل مور او پلار خپل پر

الۡعَرۡشِ وَخَرُّوۡا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ یٰۤاَبَتِ هٰذَا

الۡعَرۡشِ	وَخَرُّوۡا	لَهٗ	سُجَّدًا	وَقَالَ	یٰۤاَبَتِ	هٰذَا
تخت خپل	او پریوتل	دغه (یوسف ته)	سجده کوونکی	او وویل (یوسف)	ای پلاره زما	دا (سجدی)

تخت خپل او پریوتل (دغه ۱۱ وروڼه او والدین) دغه (یوسف ته) سجده کوونکی او وویل (یوسف) ای پلاره زما دا (سجدی)

اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ.. حضرت یعقوب علیه السلام ته هغه علم حاصل وو چي زامنو ته یي نه وو حاصل: کله چي زیری ورکوونکی کنعان ته راورسیدی او دحضرت یوسف علیه السلام قمیص یي دحضرت یعقوب علیه السلام پر مخ ورواچوی نو فورا دهغه نظر بیرته راغی زیري ورکوونکی دحضرت یوسف علیه السلام ورور یهودا وو چي دده قمیص یي دمصر څخه راوړی حضرت یعقوب علیه السلام وخپلو زامنو ته وویل چي ایا ما نه وویل چي ما ته دالله جل جلاله دطرفه څخه هغه علم حاصل دی چي تاسي ته نه دی حاصل چي یوسف علیه السلام ژوندی دی او هغه به بیا پیداسي اوس چي کله دحال حقیقت ښکاره سو نو دحضرت یوسف علیه السلام وروڼو دحضرت یعقوب علیه السلام څخه دخپلو خطاګانو معافي په دې شان سره وغوښتله چي پلار ته یي درخواست وکی چي زموږ دپاره دالله جل جلاله څخه بخښنه وغواړه او دا ښکاره خبره ده چي کم سړي د الله جل جلاله څخه ددوی دخطا معاف کولو دعا کوي هغه به په خپله هم ددوی خطا معاف کوي حضرت یعقوب علیه السلام هم ددعا کولو وعده ورسره وکړه.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص ۵۸)

تَأْوِيلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا

تَأْوِيلُ	رُءْيَايَ	مِنْ قَبْلُ	قَدْ	جَعَلَهَا	رَبِّي	حَقًّا
بیان (تعبیر) دی	دهغه خوب زما (چی لیدلی می ؤ)	پخوا له دی څخه	په تحقیق	وګرځاوه دا خوب	رب زما	حق

بیان (تعبیر) دی د هغه خوب زما (چی لیدلی می ؤ) پخوا له دی څخه په هلکتوب کښی په تحقیق وګرځاوه دا خوب رب زما حق

وَقَدْ أَحْسَنَ بِيٓ إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ

وَقَدْ	أَحْسَنَ بِيٓ	إِذْ أَخْرَجَنِي	مِنَ السِّجْنِ	وَجَآءَ	بِكُم	مِّنَ
او په تحقیق	احسان انعام ئی کړی دی له ما سره	کله چی را وئ ایستم زه	له بندیخانی	او رائی وستئ	تاسی	له

(او ربنتنی)، او په تحقیق احسان انعام ئی کړی دی له ما سره کله چی راوئ ایستم زه له بندیخانی او رائی وستئ تاسی له

الْبَدْوِ مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَٰنُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِيٓ

الْبَدْوِ	مِنۢ بَعْدِ	أَن نَّزَغَ	الشَّيْطَٰنُ	بَيْنِي	وَبَيْنَ	إِخْوَتِيٓ
میری (صحرا څخه)	وروسته له هغه	چی فساد جګړه غورځولی وه	شیطان	په مینځ زما	او په مینځ	د ورورنو زما کښی

میری (صحرا څخه مصر ته) وروسته له هغه چی فساد جګړه غورځولی وه شیطان په مینځ زما او په مینځ د ورورنو زما کښی،

إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ إِنَّهُۥ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾

إِنَّ	رَبِّي	لَطِيفٌ	لِّمَا يَشَآءُ	إِنَّهُۥ	هُوَ	الْعَلِيمُ	الْحَكِيمُ
بیشکه!	رب زما چی دی	باریک تدبیر والا دی	دپاره دهغه چی اراده وفرمائی	بیشکه! الله	هم دی دی	ښه عالم	ښه حکمت والا

بیشکه! رب زما چی دی باریک تدبیر والا دی دپاره د هغه چی اراده وفرمائی، بیشکه! الله هم دی دی ښه عالم ښه حکمت والا.

رَبِّ قَدْ ءَاتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ

رَبِّ	قَدْ	ءَاتَيْتَنِي	مِنَ الْمُلْكِ	وَعَلَّمْتَنِي	مِن تَأْوِيلِ	الْأَحَادِيثِ
ای ربه زما	په تحقیق	راکړی دی ده ماته	څه له باچاهی	او ښوولی دی دی ماته	څه له ګرځولو	دخبرو

ای ربه زما په تحقیق راکړی دی ده ماته څه له باچاهی او ښوولی دی دی ماته څه له ګرځولو دخبرو (تعبیر د خوبونو بیان د کتابونو)

فَاطِرَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي الدُّنْيَا

فَاطِرَ	السَّمَٰوَٰتِ	وَالْأَرْضِ	أَنتَ	وَلِيِّۦ	فِي الدُّنْيَا
ای پیدا کوونکیه	دآسمانونو	او د مځکی	هم ته ئی	ولی (دوست) زما	په دنیا کښی

ای پیدا کوونکیه د آسمانونو، او د مځکی (بی له نمونی) هم ته ئی ولی (دوست) زما په دنیا کښی

رَبِّ قَدْ ءَاتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ..حضرت یوسف علیه السلام د الله جل جلاله په حمد او ثنا او دعا کي مشغوله سو: کله چي حضرت یوسف علیه السلام ته خپل دمور اوپلار او دورنو په ملاقات سره یو مهم مقصد حاصل سو او سکون ورته حاصل سو نو سیده په سیده د الله جل جلاله په حمد او ثنا او دعا کي مشغوله سو وي فرمایل (ربّ قد اتیتنی من الملک وعلمتنی من تاویل الاحادیث) یعني ای زما پروردګاره تا ماته دحکومت لویه حصه راکړه او ماته دي دخوبونو تعبیر ورکول راوښوول ای دآسمانونو او مځکي خالقه ته په دنیا او آخرت کي زما کارسازه یي ما دیوره فرمانبرداری په حالت کي ددنیا څخه پورته کړي او ما په کاملو نیکو بندګانو کي شامل کړي: اوکامل نیک بندګان انبیاء کیدای سي کم چي دهري ګناه څخه معصوم دي په دغه دعا کي دحضرت یوسف علیه السلام دحسن خاتمي دعا په خاص طور سره دنظر قابله ده چي د الله جل جلاله دمقبولو بندګانو رنګ داوي چي په هیڅ حال کي په خپلو مرتبو اولوړوالي باندي نه مغروره کیږي. (معرف القرآن ج۵پ۱۳ص ۶۳)

وَالْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۰۱﴾ ذٰلِكَ

وَالْاٰخِرَةِ	تَوَفَّنِیْ	مُسْلِمًا	وَّاَلْحِقْنِیْ	بِالصّٰلِحِیْنَ	ذٰلِكَ
او آخرت کښې	وفات کړه ما	په دې حال کښې چې مسلمان یم	او یو ځای مې کړه	له صالحانو سره	دغه (قصه)

او آخرت کښې ، وفات کړه ما په دې حال کښې چې مسلمان یم او یو ځای مې کړه له صالحانو سره. دغه (قصه د یوسف)

مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ

مِنْ اَنْۢبَآءِ	الْغَیْبِ	نُوْحِیْهِ	اِلَیْكَ	وَمَا	كُنْتَ	لَدَیْهِمْ
له خبرو	د غیبو ده چې	وحیه کوو مونږ هغه	تا ته	او نه وې	ته	له دغو سره

له خبرو د غیبو ده چې (اعجازاً) وحیه کوو مونږ هغه تاته (ای محمده!)، او نه وې ته (محمده) له دغو (ځامنو د یعقوب) سره

اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ یَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَمَآ اَكْثَرُ

اِذْ اَجْمَعُوْٓا	اَمْرَهُمْ	وَهُمْ	یَمْكُرُوْنَ	وَمَآ	اَكْثَرُ
کله چې دوی راټول کړ	فکر خپل	حال دا چې دوی	مکر فریب کاوه	او نه دی	زیاتره

کله چې دوی راټول کړ فکر خپل حال دا چې دوی مکر فریب کاوه (له یوسف سره). او نه دي زیاتره

النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ

النَّاسِ	وَلَوْ حَرَصْتَ	بِمُؤْمِنِیْنَ	وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ
خلک	او اگر که حرص وکړې ته	ایمان راوړونکی	او نه غواړې ته له دوی څخه

خلک او اگر که حرص وکړې ته (محمده! په ایمان راوړلو د دوی) ایمان راوړونکی. او نه غواړې ته (محمده!) له دوی څخه

عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَكَاَیِّنْ

عَلَیْهِ	مِنْ اَجْرٍ	اِنْ هُوَ	اِلَّا	ذِكْرٌ	لِّلْعٰلَمِیْنَ	وَكَاَیِّنْ
په دغه	هیڅ اجر	نه دی دا قرآن	مگر	پند دی	د پاره د ټولو خلگو	او ډیر دی

په دغه (ابلاغ د قرآن) هیڅ اجر (بدل، عوض)، نه دی دا قرآن مگر پند دی د پاره د ټولو خلگو. او ډیر دي

مِّنْ اٰیَةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ یَمُرُّوْنَ عَلَیْهَا وَهُمْ

مِّنْ اٰیَةٍ	فِی السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	یَمُرُّوْنَ	عَلَیْهَا	وَهُمْ
له دلائلو	په آسمانونو	او په مځکه کښې	تیریږی دوی	پر هغو	حال دا چې دوی

له دلائلو په آسمانونو او په مځکه کښې (چې دغه معاندین) تیریږی پرې (او په سترگو ئې وینی) حال دا چې دوی

وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا...د حضرت یوسف علیه السلام قصه د مکي کفارو ته بیانول هم د نبي کریم ﷺ د نبوت د حقانیت دلیل دی: په دغه ایاتونو کې د حضرت یوسف علیه السلام د پوره قصې د بیانولو څخه وروسته اول نبي کریم ﷺ ته خطاب دی (ذلک من انباء الغیب نوحیه الیک) یعني دا قصه د غیبو د خبرو څخه ده کم چې موږ په ذریعه د وحې تاته ښیو ته د حضرت یوسف علیه السلام دوړونو سره موجود نه وې کله چې هغوی د حضرت یوسف علیه السلام څاه ته اچول مقرر کړل او د دې دپاره یې تدبیرونه کول د دې اظهار څخه مقصد دادی چې د حضرت یوسف علیه السلام قصه په پوره تفصیل سره صحیح صحیح بیانول ستا د نبوت یو واضح دلیل دی ځکه چې دا قصه ستا د زماني څخه په زرګونو کاله مخکې تیره سوې ده نه ته هلته موجود وې چې لیدلې دې وای او بیان کړې دې وای او نه تا د چا څخه تعلیم حاصل کړی دی چې د تاریخ کتابونه ګورې یا یې د چا څخه اورې بیانوې یې په دې وجه بغیر د وحې څخه چې د الله جل جلاله د طرفه څخه دې بله لار د دې د علم نسته. (معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۶۸)

ع ۱۱ / ۵

عَنۡهَا مُعۡرِضُوۡنَ ﴿۱۰۵﴾ وَمَا يُؤۡمِنُ اَكۡثَرُهُمۡ بِاللّٰهِ اِلَّا

عَنۡهَا	مُعۡرِضُوۡنَ	وَمَا يُؤۡمِنُ	اَكۡثَرُهُمۡ	بِاللّٰهِ	اِلَّا
له هغو نښو څخه	تل څنګ کوونکی دی	او ایمان نه راوړی	اکثره له دغو مشرکانو	پر الله	مګر

له هغو نښو څخه تل څنګ کوونکی دی. او ایمان نه راوړی اکثره له دغو مشرکانو پر (وجود او خالقیت د) الله مګر

وَهُمۡ مُّشۡرِكُوۡنَ ﴿۱۰۶﴾ اَفَاَمِنُوۡۤا اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ

وَهُمۡ	مُّشۡرِكُوۡنَ	اَفَاَمِنُوۡۤا	اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ
په دی حال کښی	چی دوی شریک نیوونکی دی	آیا نو په امن کښی دی دوی	له دی څخه چی راسی دوی ته

په دی حال کښی چی دوی شریک نیوونکی (له الله سره). آیا نو په امن کښی دوی دا (مشرکان) له دی څخه چی راسی دوی ته

غَاشِيَةٌ مِّنۡ عَذَابِ اللّٰهِ اَوۡ تَاۡتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغۡتَةً وَّهُمۡ

غَاشِيَةٌ	مِّنۡ	عَذَابِ	اللّٰهِ	اَوۡ تَاۡتِيَهُمُ	السَّاعَةُ	بَغۡتَةً	وَّهُمۡ
چاپیریدونکی پټوونکی	له	عذابه	د الله څخه	یا راسی دوی ته	قیامت	ناڅاپه	حال دا چی دوی

چاپیریدونکی پټوونکی له عذابه د الله څخه یا راسی دوی ته قیامت ناڅاپه حال دا چی دوی

لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلۡ هٰذِهٖ سَبِيۡلِيۡۤ اَدۡعُوۡۤا اِلَى

لَا يَشۡعُرُوۡنَ	قُلۡ هٰذِهٖ	سَبِيۡلِيۡۤ	اَدۡعُوۡۤا	اِلَى
پری خبر نه وی	ووایه (ای محمده!) چی دغه	لاره زما ده	چی بولم زه تول خلک	طرف

پری خبر نه وی. ووایه (ای محمده!) چی دغه (ایمان او توحید) لاره زما ده چی (ټینګ پری ولاړ یم) بولم زه تول خلک طرف

اللّٰهِ عَلٰى بَصِيۡرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيۡ وَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ

اللّٰهِ	عَلٰى	بَصِيۡرَةٍ	اَنَا	وَمَنِ	اتَّبَعَنِيۡ	وَسُبۡحٰنَ	اللّٰهِ
د الله ته	په	بیان (او ښکاره دلیل سره	زه	او هغه څوک چی	متابعت پیروی کوی زما	او پاک دی	الله

د (توحید) د الله ته په بیان (او ښکاره دلیل) سره (هم) زه او (هم هر) هغه څوک چی متابعت پیروی کوی زما، او پاک دی الله

وَمَاۤ اَنَا مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۱۰۸﴾ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ اِلَّا رِجَالًا

وَمَاۤ اَنَا	مِنَ	الۡمُشۡرِكِيۡنَ	وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا	مِنۡ قَبۡلِكَ	اِلَّا	رِجَالًا
او نه یم زه	له	شریک نیوونکیو	او نه ؤ لیږلی موږ	پخوا له تا	مګر	سړی

(له شرکه) او نه یم زه له شریک نیوونکیو (په الله پوری). او نه ؤ لیږلی موږ پخوا له تا (په رسالت سره) مګر سړی

وَمَا يُؤۡمِنُ اَكۡثَرُهُمۡ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمۡ... دهغه خلګو بیان چي دالله ﷻ دوجود قائل دي خو بیا هم نورورسره شریکوي: په دغه آیت کي الله ﷻ دهغه خلګو بیان کړی دی کم چي دالله ﷻ دوجود قائله دي خوبیا هم نور دده سره په خدایي کي شریکوي فرمايي (ومایؤمن اکثرهم بالله الا وهم مشرکون) یعني په دوی کي چي کم خلګ په الله ﷻ ایمان هم راوړي نو دغه هم دشرک سره یعني دالله ﷻ په علم او قدرت وغیره صفتونو کي نور شریکوي کم چي سراسر ظلم دی: ابن کثیر رحمة الله علیه فرمايي چي ددې آیت په معنی کي هغه مسلمانان هم داخل دي کم چي دایمان باوجود په مختلف قسم شرک کي اخته وي: نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چي زما چي پر تاسي دڅه شي بیره ده په هغه کي دټولو څخه زیات خطرناک شرک اصغر دی صحابه وو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه چي یا رسول الله شرک اصغر څه شی دی دوفرمایل چي ریا شرک اصغر دی په یوه حدیث شریف کي یي په غیر الله باندي قسم اخیستلو ته هم شرک ویلی دی. (ابن کثیروالترمذی)

(معرف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۷۰)

نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡقُرٰیؕ اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا

نُّوۡحِیۡۤ	اِلَیۡهِمۡ	مِّنۡ اَهۡلِ	الۡقُرٰیؕ	اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا
چې وحې به کوله موږ	دوی ته	له اهل	دقريو	آيا نو نه گرځي (داکافران)

چې وحې به کوله موږ دوی ته له اهل د قريو (او ښارونو نه له صحرايانو او بيابانيو) آيا نو نه گرځي (دا کافران)

فِی الۡاَرۡضِ فَیَنۡظُرُوۡا کَیۡفَ کَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیۡنَ

فِی الۡاَرۡضِ	فَیَنۡظُرُوۡا	کَیۡفَ	کَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِیۡنَ
په مځکه کښې	پس ودې ويني دوی	چې څرنگه	ؤ	عاقبت	دهغو (دروغجنانو)

په مځکه (ملکونو) کښې پس ودې ويني دوی (په نظر د عبرت سره) چې څرنگه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) دهغو (دروغجنانو)

مِنۡ قَبۡلِهِمۡؕ وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ خَیۡرٌ لِّلَّذِیۡنَ اتَّقَوۡاؕ

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	وَلَدَارُ	الۡاٰخِرَةِ	خَیۡرٌ	لِّلَّذِیۡنَ	اتَّقَوۡا
چې پخوا تيرسوي دي له دوي څخه	او خامخا کور	دآخرت (جنت)	ډير غوره دي	دپاره دهغو کسانو	چې ځان وساتي

چې پخوا تير سوي دي له دوي څخه، او خامخا کور د آخرت (جنت) ډيره غوره دي دپاره د هغو کسانو چې ځان ساتي له شرکه،

اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ۞۱۰۹ حَتّٰۤی اِذَا اسۡتَیۡـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ

اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ	حَتّٰۤی	اِذَا اسۡتَیۡـَٔسَ	الرُّسُلُ	وَظَنُّوۡۤا	اَنَّهُمۡ
آيا نو تاسې عقل نه چلوئ	ترهغه پورې	چې نااميده به سول	رسولان (له اسلامه دکفارو)	او گمانه به وکړ دوی	بيشکه! دوی

آيا نو تاسې عقل نه چلوئ. ترهغه پورې چې نا اميده به سول رسولان (له اسلام دکفارو) او گمان به وکړ دوی چې بيشکه! دوی

قَدۡ کُذِبُوۡا جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَاۙ فَنُجِّیَ

قَدۡ	کُذِبُوۡا	جَآءَهُمۡ	نَصۡرُنَا	فَنُجِّیَ
په تحقيق	دروغ ويلي سوي دي دوی ته	ناڅاپه به راغې دوی ته	نصرت مدد زموږ	نو خلاصي به وورکړه سوه

په تحقيق دروغ ويلي سوي دي دوی ته، ناڅاپه به راغې دوی ته نصرت مدد زموږ نو خلاصي به وركړه سوه

مَنۡ نَّشَآءُؕ وَلَا یُرَدُّ بَاۡسُنَا عَنِ الۡقَوۡمِ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ۞۱۱۰ لَقَدۡ

مَنۡ نَّشَآءُ	وَلَا یُرَدُّ	بَاۡسُنَا	عَنِ الۡقَوۡمِ	الۡمُجۡرِمِیۡنَ	لَقَدۡ
له (عذابه) هغه چاته چې اراده به وفرمايله موږ	او نسي دفع کيدلی	عذاب زموږ	له قوم	گنهگارانو څخه	خامخا په تحقيق

له (عذابه) هغه چاته چې اراده به وفرمايله موږ، او نسي دفعه کيدلی عذاب زموږ له قوم گنهگارانو څخه. خامخا په تحقيق

نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡقُرٰی.. دمشركينو داخيال بې بنياده دی چې دالله ﷻ رسول ملايكه پكاره نه انسان: په دغه ايت كې الله ﷻ دمشركينو پر هغه بې بنياده خيال باندې رد كړی دی چې دوی به ويل چې دالله ﷻ رسول خو ملايكه پكاروه نه دا چې انسان دې وي الله ﷻ فرمايي دلته معامله بالكل بر عكس ده چې دانسانانو دپاره دالله ﷻ رسولان هميشه انسانان راغلي دي البته دعامو انسانانو څخه ددوی دا فرق وي چې دوی ته سيده په سيده دحق وحی او پيغام راځي او دچا دكوشش او عمل نتيجه نه وي الله ﷻ په خپله دخپلو بندگانو څخه څوک چې مناسب وگڼي ددې كار دپاره يې منتخب كوي او دا انتخاب دداسې خاصو كمالي صفتونو پر بنا باندې وي كم چې په عامو انسانانو كې نه وي: مخ ته بيا دغه خلگو ته خبرداری دی كم چې دالله ﷻ طرف ته دبلونكي او درسول ﷺ دهدايتونو خلاف ورزي كوي هغوی دالله ﷻ دعذابونو طرف ته دعوت وركوي او حال دا چې دهغه عذاب ډير سخت دی.
(معارف القرآن ج۵پ۱۳ص ۷۱)

كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ؕ مَا كَانَ حَدِيْثًا

حَدِيْثًا	مَا كَانَ	الْاَلْبَابِ	لِّاُولِي	عِبْرَةٌ	فِيْ قَصَصِهِمْ	كَانَ
يوه داسې خبره	نه دی (دغه قرآن)	دعقلونو	دپاره دخاوندانو	عبرت	په قصو د دوی کښې	سته

سته په قصه د دوی (يوسف يا د نورو انبياؤ) کښې عبرت (پند) دپاره د خاوندانو دعقلونو، نه دی (دغه قرآن) يوه داسې خبره

يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ


بَيْنَ يَدَيْهِ	الَّذِيْ	تَصْدِيْقَ	وَلٰكِنْ	يُّفْتَرٰى
چې وړ وپخوا له دی شخه	دهغو کتابونو	تصدیق کوونکی	لیکن دی دغه قرآن	چې له ځانه په دروغو ویل سوی وی

چې له ځانه په دروغو ویل سوی وی لیکن دی دغه قرآن تصدیق کوونکی او (موافق) دهغو کتابونو چې وړ وپخوا له دی شخه

وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ ع

يُّؤْمِنُوْنَ	لِّقَوْمٍ	وَّرَحْمَةً	وَّهُدًى	كُلِّ شَيْءٍ	وَتَفْصِيْلَ
چې ایمان ئی راوړی	دپاره د هغه قوم	او رحمت دی	او هدایت دی	د هر شی	او دی تفصیل

او دی تفصیل د هرشی او هدایت دی او رحمت دی دپاره د هغه قوم چې ایمان ئی راوړی (په الله او په رسول دالله).



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ؕ وَالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

اِلَيْكَ	اُنْزِلَ	وَالَّذِيْٓ	الْكِتٰبِ	اٰيٰتُ	تِلْكَ	الٓمّٓرٰ
تاته	نازل کړی سوی دی	او هغه کتاب چې	د کتاب (قرآن) دی	آیتونه	دا	الف لام میم را

الف لام میم را. دا آیتونه د کتاب (قرآن) دی، او هغه کتاب چې نازل کړی سوی دی تاته

مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ

اَللّٰهُ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	النَّاسِ	اَكْثَرَ	وَلٰكِنَّ	الْحَقُّ	مِنْ رَّبِّكَ
الله	ایمان نه راوړی	خلګ	زیات	ولیکن	حق دی	له (طرف د) رب ستا

له (طرف د) رب ستا حق دی ولیکن زیات خلګ نه کوی یقین پری (چې له جانبه د الله دی). الله

مـا كان حـديثا يفتـرى ولكن تصديق ...دا قصه دځانه شخه جوړه سوی نه ده بلکي دسابقه کتابونو تصدیق هم کوي: په دغه آیت کي الله ﷻ رد دهغه کفارو اومشرکینو پرخبرو باندي کوي چي دوی وایي دا کلام محمد ﷺ دځانه جوړ کړی دی دا دالله ﷻ کلام نه دی فرمایي (ماکان حدیثا یفتری ولکن تصدیق) یعني نه ده دا قصه څه جوړه سوي خبره بلکه تصدیق دی دهغه کتابونوکم چي دده څخه مخکي نازل سوي دي ځکه چي په تورات او انجیل کي هم دا قصه دحضرت یوسف علیه السلام ذکر ده: او حضرت وهب ابن منبه رحمه الله فرمایي چي څومره آسماني کتابونه اوصحیفي نازلي سوي دي دحضرت یوسف علیه السلام دقصي څخه یو هم خالي نه دی: او بیا فرمایي (وتفصیل کل شئ وهدی ورحمة لقوم یؤمنون) یعني داقرآن تفصیل دی دهرشي: مراددادی چي په قرآن کریم کي دهر هغه شي تفصیل موجود دی دکم چي په دین کي انسان ته ضرورت وي که عبادات وي که اخلاق وي او که دژوند ده تیرولو طریقي حکومت یا سیاست وغیره وي. (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۷۷)

الَّذِیۡ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَیۡرِ عَمَدٍ تَرَوۡنَهَا ثُمَّ اسۡتَوٰی

الَّذِیۡ	رَفَعَ	السَّمٰوٰتِ	بِغَیۡرِ	عَمَدٍ	تَرَوۡنَهَا	ثُمَّ اسۡتَوٰی
هغه ذات دی	چي پورته کړی ئی دی	آسمانونه	بیله	ستنو	چي وئ وینئ تاسی	بیا ئی استواء وکړه

هغه ذات دی چي پورته کړی ئی دی آسمانونه (او درولی ئی دی) بی له ستنو چي وئ وینئ تاسی بیا ئی استواء وکړه

عَلَی الۡعَرۡشِ وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ ؕ کُلٌّ یَّجۡرِیۡ

عَلَی	الۡعَرۡشِ	وَسَخَّرَ	الشَّمۡسَ	وَالۡقَمَرَ	کُلٌّ	یَّجۡرِیۡ
په	عرش باندی	او مسخر کړی ئی دی	لمر	او سپوږمی	هریو (له دوی څخه)	روان دی

په عرش باندی، او مسخر کړی ئی دی لمر او سپوږمی، هریو (له دوی څخه) روان دی

لِاَجَلٍ مُّسَمًّی ؕ یُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ یُفَصِّلُ الۡاٰیٰتِ

لِاَجَلٍ	مُّسَمًّی	یُدَبِّرُ	الۡاَمۡرَ	یُفَصِّلُ	الۡاٰیٰتِ
ترنیټی	معلومی پوری	تدبیر کوی	د هر امر	بیانوی په تفصیل سره	دلائل

ترنیټی معلومی پوری، تدبیر کوی د هر امر بیانوی (ظاهروی) په تفصیل سره د لائل (د توحید او قدرت خپل)

لَعَلَّکُمۡ بِلِقَآءِ رَبِّکُمۡ تُوۡقِنُوۡنَ ﴿۲﴾ وَهُوَ الَّذِیۡ مَدَّ الۡاَرۡضَ

لَعَلَّکُمۡ	بِلِقَآءِ	رَبِّکُمۡ	تُوۡقِنُوۡنَ	وَهُوَ الَّذِیۡ	مَدَّ	الۡاَرۡضَ
دپاره د دی چی تاسی	په ملاقات	درب خپل	یقین وکړئ	او دغه (الله) همغه ذات دی	چي غوړولی ئی ده	مځکه

دپاره د دی چي تاسی په ملاقات د رب خپل یقین وکړئ. او دغه (الله) همغه ذات دی چي غوړولی ئی ده مځکه

وَجَعَلَ فِیۡهَا رَوَاسِیَ وَاَنۡهٰرًا ؕ وَمِنۡ کُلِّ الثَّمَرٰتِ

وَجَعَلَ	فِیۡهَا	رَوَاسِیَ	وَاَنۡهٰرًا	وَمِنۡ کُلِّ الثَّمَرٰتِ
او پیدائی کړه	په دغی مځکی کښی	غرونه ثابت	او ویالی (د اوبو)	او د هر قسمه میوو څخه ئی

او پیدا ئی کړه په دغی مځکی کښی غرونه ثابت (مضبوط د میخو په شان ولاړ دی) او ویالی، او د هرو قسمو میوو څخه

جَعَلَ فِیۡهَا زَوۡجَیۡنِ اثۡنَیۡنِ یُغۡشِی الَّیۡلَ النَّهَارَ ؕ اِنَّ فِیۡ

جَعَلَ	فِیۡهَا	زَوۡجَیۡنِ	اثۡنَیۡنِ	یُغۡشِی	الَّیۡلَ	النَّهَارَ	اِنَّ فِیۡ
پیدا کړی دی	په دغی مځکی کښی	جوړه	دوه	پټوی	په تیاری د شپی سره	ورځ	بیشکه! په دی

ئی پیدا کړی دی په دغی مځکی کښی جوړه دوه (لکه خواږه تروه، واړه غټ)، پټوی په تیاری د شپی سره ورځ، بیشکه! په دی

الَّذِیۡ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَیۡرِ عَمَدٍ. ایا داسمان وجود په سترګو سره په نظر باندي راځي : په عام طور سره دا ویل کیږي چي دا شین رنګ کم چي موږ ته په نظر راځي دآسمان رنګ دی مګر فلاسفه وایي چي دا رنګ درڼا او تیارې دیوځای کیدو څخه په نظر راځي ځکه چي دباندي دستورو رڼا ده او سربیره تیاره ده نو ددباندي څخه یي رنګ شین ښکاري لکه چي پر ژورو اوبو باندي چي رڼا راسي نوداشنې په نظر راځي : دقرآن کریم داڅو ایاتونه داسي چي په دي کي داسمان دلیدو ذکردی لکه چي په دې ایت کي لفظ د [ترونها] اوپه بل ایت کي بیا فرمایي (والی السمآء کیف رفعت) الفاظ دي دفلاسفه وو دا تحقیق اول خو ددې منافي نه دی ځکه چي داسي ممکنه ده چي دآسمان رنګ هم شین وي یا څه بل رنګ وي مګر ددرمیاني رڼا او تیارې دخلط څخه شین په نظر راځي او ددې څخه هیڅ انکار نسته چي ددې فضا په رنګ کي دآسمان رنګ هم شامل دی او دا هم ممکنه ده چي داسمان څخه مراد معنی مجازي وي یعني داسمان وجود په داسي یقیني دلایلو سره ثابت دی ګواکي تاسو هغه لیدلی دی.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص ۸۱)

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝٣ وَفِي الْاَرْضِ قِطَعٌ

ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ	يَّتَفَكَّرُوْنَ	وَفِي الْاَرْضِ	قِطَعٌ
دی مذکوره ؤ خبرو کښې	خامخا دلائل دی	لپاره د (هغه) قوم	چې فکر کوی	او په مځکه کښې	ټوټې دی

دی مذکوره ؤ خبرو کښې خامخا دلائل دی (د قدرت) لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوی . او په مځکه کښې ټوټې دی

مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ

مُّتَجٰوِرٰتٌ	وَّجَنّٰتٌ	مِّنْ اَعْنَابٍ	وَّزَرْعٌ	وَّنَخِيْلٌ
څنګ په څنګ پیوستی یو له بل سره	او (نور) باغونه دی	له انګورو	او کښتونه دی	او ونې د خرما دی

(مختلفې) څنګ په څنګ پیوستی یو له بل سره او (نور) باغونه دی له انګورو او کښتونه (فصلونه) دی او ونې د خرما دی

صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۣ وَنُفَضِّلُ

صِنْوَانٌ	وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ	يُّسْقٰى	بِمَآءٍ	وَّاحِدٍ	وَنُفَضِّلُ
چې ځینې له یوه بیخه پورته سوی دی	او ځینې ځان ځان ته بیخ لری	چې اوبه کولی سی	په اوبو	یو قسم سره	او غوره کوو

چې ځینې له یوه بیخه پورته سوی دی او ځینې ځان ځان ته بیخ لری چې اوبه کولی سی په اوبو یو قسم سره او غوره کوو

بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِي الْاُكُلِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

بَعْضَهَا	عَلٰى	بَعْضٍ	فِي الْاُكُلِ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ
ځینې له هغو څخه	په	ځینو نورو باندی	په خوراک کښې	بیشکه!	په دغو کښې	خامخا دلائل دی

ځینې له هغو څخه په ځینو نورو باندی په خوراک (خوند رنګ کی) بیشکه! په دغو کښې خامخا دلائل (د قدرت) دی

لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝٤ وَاِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ

لِّقَوْمٍ	يَّعْقِلُوْنَ	وَاِنْ	تَعْجَبْ	فَعَجَبٌ	قَوْلُهُمْ
لپاره د (هغه) قوم	چې عقل چلوی پکښې	او که	تعجب لری ته	نو لا عجیبه ده	(دا) خبره د دوی چې (وائی)

لپاره د (هغه) قوم چې عقل چلوی پکښې . او که تعجب لری ته (محمده!) نو لا عجیبه ده (دا) خبره د دوی چې (وائی)

ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ڛ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

ءَاِذَا كُنَّا	تُرٰبًا	ءَاِنَّا لَفِيْ	خَلْقٍ	جَدِيْدٍ	اُولٰۗىِٕكَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
آیا کله چې سو موږ	خاورې	آیا سو به موږ خامخا	په پیدا اینبت	نوی کښې	دوی	همغه کسان دی	چې کافران سوی دی

آیا کله چې سو موږ خاورې آیا سو به موږ خامخا په پیدا اینبت نوی کښې، دوی همغه کسان دی

وَفِي الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ
دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دقدرت په نښو کي دغور اوفکر کولو څخه ایمان مستحکم کیږي: په دغه آیت کي الله جَلَّ جَلَالُهٗ خپل دقدرت نښې او نښاني بیان کړیدي فرمايي(وفى الارض قطع متجورات وجنت) یعني په مځکه کي ډیري ټکړي دیوبل سره دیوځای والي باوجود په مزاج او خاصیت کي مختلفي دي ځیني مځکي ښې او ځیني بیا خرابي دي ځیني نرمي او ځیني بیا سختي دي ځیني دفصل قابلي دي او ځیني بیا دباغ او په دې ټوټو کي دمځکي بیا باغونه دي دانګورو او فصلونه دي او دخرماوو درختي دي چي په دي کي ځیني داسي دي چي تر یوې تنې لوړ دوې تنې جوړي سوي دي لکه عامي درختي او دځینو بیا یوه تنه وي لکه خرما وغیره او داټولي میوې که څه هم چي دیوې مځکي څخه پیدا کیږي په یوشان اوبو باندي اوبه کیږي او دلمر او سپوږمی شغلې او مختلف قسم هواوې هم دې ټولو ته په یوه شان رسیږي مګر بیاهم ددوی خوند مختلف او دکوچني اولوی ښکاره فرق دی.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۳ص ۸۳)

بِرَبِّهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ ۖ

بِرَبِّهِمْ	وَأُولَٰئِكَ	الْأَغْلَالُ	فِي أَعْنَاقِهِمْ
په رب خپل	او هم دغه ګمراهان دي	چې د اور طوقونه به وي	په غاړو د دوی کښې

په رب خپل او هم دغه ګمراهان دي چې د اور طوقونه به وي (په قيامت کښې) په غاړو د دوی کښې

وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ⑤ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ

وَأُولَٰئِكَ	أَصْحَابُ	النَّارِ	هُمْ فِيهَا	خَالِدُونَ	وَيَسْتَعْجِلُونَكَ
او دغه (خاوندان د طوقونو)	ملګری	د اور دی	دوی به په دی اور کښې	هميشه وی	او ژر غواړی دوی له تا څخه

او دغه (خاوندان د طوقونو) صاحبان(ملګری) د اور دی، دوی به په دی اور کښې هميشه وی. او ژر غواړی دوی له تا څخه

بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ

بِالسَّيِّئَةِ	قَبْلَ	الْحَسَنَةِ	وَقَدْ	خَلَتْ	مِنْ قَبْلِهِمُ
بدی (عذاب)	پخوا له	نيکی (رحمت) څخه	حال دا چې په تحقيق	تير سوی دی	پخوا له دوی څخه

بدی (عذاب) پخوا له نيکی (رحمت) څخه حال دا چې په تحقيق تير سوی دی پخوا له دوی څخه

الْمَثُلَاتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ

الْمَثُلَاتُ	وَإِنَّ رَبَّكَ	لَذُو مَغْفِرَةٍ	لِلنَّاسِ	عَلَىٰ	ظُلْمِهِمْ
عذابونه	او بيشکه! رب ستا	خامخا څيښتن د مغفرت دی	خلګو ته	سره له	ظلمه (کفره) د دوی

عذابونه (مثالونه)، او بيشکه! رب ستا خامخا څيښتن (مالک) د مغفرت دی خلګو ته سره له ظلمه (کفره) د دوی

وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ⑥ وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا

وَإِنَّ	رَبَّكَ	لَشَدِيدُ	الْعِقَابِ	وَيَقُولُ	الَّذِينَ	كَفَرُوا
او بيشکه!	رب ستا	خامخا سخت دی	عذاب د ده (کفاروته)	او وائی	هغه کسان	چې کافران سوی دی

(که ايمان راوړی) او بيشکه! رب ستا خامخا سخت دی عذاب د ده (کفاروته). او وائی هغه کسان چې کافران سوی دی

لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ ۗ إِنَّمَا أَنْتَ

لَوْلَا أُنْزِلَ	عَلَيْهِ	آيَةٌ	مِنْ	رَبِّهِ	إِنَّمَا	أَنْتَ
ولی نه نازلوه سی	په دغه محمد باندی	کومه معجزه	له (طرفه د)	رب د ده	نو (وفرمايل الله) بيشکه! هم دا خبره ده	چې ته

ولی نه نازلوه سی په دغه محمد باندی کومه معجزه له (طرفه د) رب د ده، (نو وفرمايل الله)بيشکه هم دا خبره ده چې ته

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ. مشرکين هميشه تر عافيت مخکي دمصيبت نازليدل غواړي

په دغه آيت کي الله ﷻ بيا دکفارو او مشرکينو حماقت او بې عقلي بيان کړيده او فرمايي (ويستعجلونک بالسيئة قبل الحسنة) چي دا خلګ هميشه دعافيت دميعاد تر ختميدو مخکي ستا څخه دمصيبت دنازليدو تقاضا کوي چي که ته نبي يي نوفوراً عذاب راوغواړی ددې څخه معلوميږي چي دا خلګ دعذاب راتلل ډيرليري يا ناممکن بولي حال دادی چي ددوی څخه وړاندي پر نورو کافرانو باندي ډير واقعات دعذاب تير سوي دي چي ډيرو خلګو ليدلي دي نو پر دوی عذاب راتلل څه ليري خبره نه ده :دلته په آيت کي لفظ (مثلت) جمع دمثلة ده چي معنی يي داسي سزا ده چي انسان دټولو خلګو په وړاندي رسوا کړي او نورو ته دعبرت ذريعه جوړه سي بيا فرمايي چي بيشکه ستا رب دخلقو دګناهونو او نافرمانيو باوجود لوی مغفرت او رحمت والا هم دی چي يودم او ځای پر ځای څوک نه راټينګوي.

(معرف القرآن ج۵پ۱۳ص ۸۷)

ع٧

مُنۡذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ۝٧ اَللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ اُنۡثٰى

مُنۡذِرٌ	وَّلِكُلِّ	قَوۡمٍ	هَادٍ	اَللّٰهُ	يَعۡلَمُ	مَا تَحۡمِلُ	كُلُّ	اُنۡثٰى
ييرونكى ئى	او دپاره دهر	قوم	لاربنوونكى دى	الله	عالم دى	په هغه چې بار اخلي	هره	ښځه

ييرونكى ئى او دپاره دهر قوم لار ښوونكى (خاوند دخاصى معجزى مقرر) دى. الله عالم دى په هغه چې بار اخلي هر ښځه

وَمَا تَغِيۡضُ الۡاَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُ ؕ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِنۡدَهٗ

وَمَا	تَغِيۡضُ	الۡاَرۡحَامُ	وَمَا تَزۡدَادُ	وَكُلُّ	شَيۡءٍ	عِنۡدَهٗ
او په هغه څه	چې كموى ئى	ارحام (رحمونه)	او په هغه چې زياتوى ئى	او هر	شى	په نزد

او (الله عالم دى) په هغه څه چې كموى ئى ارحام (اوناقص ئى ځيږوى) او په هغه چې زياتوى ئى ، او هر شى په نزد

بِمِقۡدَارٍ ۝٨ عٰلِمُ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ الۡكَبِيۡرُ الۡمُتَعَالِ ۝٩

بِمِقۡدَارٍ	عٰلِمُ	الۡغَيۡبِ	وَالشَّهَادَةِ	الۡكَبِيۡرُ	الۡمُتَعَالِ
د دغه (الله) په اندازه دى	عالم دى	په پټو	او ښكاروؤ	چې ډيرلوى	لو ړبرتر دى

د دغه (الله) په اندازه دى. عالم دى په پټو او ښكاره ؤ چې (دټولو څخه) ډير لوى لو ړ برتر دى (په قدرت او غلبه خپله كښى).

سَوَآءٌ مِّنۡكُمۡ مَّنۡ اَسَرَّ الۡقَوۡلَ وَمَنۡ جَهَرَ بِهٖ وَمَنۡ

سَوَآءٌ	مِّنۡكُمۡ	مَّنۡ اَسَرَّ	الۡقَوۡلَ	وَمَنۡ	جَهَرَ بِهٖ	وَمَنۡ
يو شان دى	له تاسو څخه	هر هغه څوك چې پټوى	خبره	او هر هغه چې	ښكاره كوى دا خبره	او هر هغه څوك چې

يو شان دى له تاسو څخه (علم دالله ته) هر هغه څوك چې پټوى خبره او هر هغه چې ښكاره كوى دا خبره او هر هغه څوك چې

هُوَ مُسۡتَخۡفٍ بِالَّيۡلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۝١٠ لَهٗ

هُوَ مُسۡتَخۡفٍ	بِالَّيۡلِ	وَسَارِبٌۢ	بِالنَّهَارِ	لَهٗ
هغه پټيدونكى دى	په شپه كښى	او هر هغه څوك چې ظاهروونكى (دعمل خپل)	په ورځ كښى	انسان لره (ملائيكى)

هغه پټيدونكى دى په شپه كښى او هر هغه څوك چې ظاهروونكى (دعمل خپل) په ورځ كښى. انسان لره (له جانبه دالله ملائيكى)

مُعَقِّبٰتٌ مِّنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهٖ يَحۡفَظُوۡنَهٗ مِنۡ اَمۡرِ

مُعَقِّبٰتٌ	مِّنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ	وَمِنۡ خَلۡفِهٖ	يَحۡفَظُوۡنَهٗ	مِنۡ اَمۡرِ
نوبت په نوبت راتلونكى دى يو په بل پسى	دمخى له طرفه ددغه	او د شا له طرفه ددغه	چې ساتنه كوى د ده	په امر

نوبت په نوبت راتلونكى دى يو ه له بلى پسى د مخى له طرفه د دغه (انسان) او دشا له طرفه د دغه (انسان) چې ساتنه كوى د ده په امر

اَللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ اُنۡثٰى وَمَا تَغِيۡضُ.

الله جل جلاله په غيبو باندي عالم او دكائناتو د ذرې ذرې څخه خبر دى:

په دغه آيت كي بيا الله جل جلاله دتوحيد دمضمون بيان كوي دكم ذكر چي ددغه سورت داوله څخه راروان دى ارشاد فرمايي: (الله يعلم ماتحمل كل انثى وما تغيض) يعني الله جل جلاله دهر څه څخه خبر دى څه چي دښځي په حمل كي وي هلك وي او كه انجلى ښايسته دى كه بدرنګه نيک دى كه بد او څه چي ددې ښځي په رحم كي كمى كوي يا زياتى كوي چي كله يو ماشوم پيدا كيږي كله زيات او كله ژر پيدا كيږي او كله وروسته: په دغه آيت كي دالله جل جلاله ديو خاص صفت ذكر دى چي هغه جل جلاله په غيبو باندي عالم دټولو كائناتو او مخلوقاتو دذرې ذرې څخه خبر دى او دهرې ذرې دبدليدونكو حالاتو څخه هم خبر دى ددې سره دانسان د پيدايش دهر درد او هربدلون او هرصفت څخه دپوره خبرداری ذكر دى چي دحمل يقيني او صحيح علم صرف هغه ته وي چي هلک دى او كه انجلى ده او كه دواړه دي او يا هيڅ نسته صرف او به يا هواده.

(معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص ۸۹)

اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُغَیِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتّٰی یُغَیِّرُوۡا مَا بِاَنۡفُسِهِمۡ ؕ

اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا یُغَیِّرُ	مَا بِقَوۡمٍ	حَتّٰی	یُغَیِّرُوۡا	بِاَنۡفُسِهِمۡ
دالله سره	بیشکه!	الله	نه بدلوی حالت	دهیڅ قوم	ترهغه پوری	چی بدل کړی دوی هغه ښه حالت	چی په نفسونو د دوی کښی وی

دالله سره، بیشکه! الله نه بدلوی حالت د هیڅ قوم ترهغه پوری چی بدل کړی دوی هغه ښه حالت چی په نفسونو د دوی کښی وی

وَاِذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوۡمٍ سُوۡٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ

وَاِذَاۤ اَرَادَ	اللّٰهُ	بِقَوۡمٍ	سُوۡٓءًا	فَلَا مَرَدَّ لَهٗ	وَمَا لَهُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِهٖ
او کله چی اراده وکړی	الله	پریوقوم باندی	دبدی (آفت)	نو نسته بیرته ګرځیدل د هغه	او نسته دوی ته	بی له الله څخه

او کله چی اراده وکړی الله پر کوم قوم باندی د بدی (آفت) نو نسته بیرته ګرځیدل دهغه، او نسته دوی ته بی له الله څخه

مِنۡ وَّالٍ ⑪ هُوَ الَّذِیۡ یُرِیۡکُمُ الۡبَرۡقَ خَوۡفًا

مِنۡ وَّالٍ	هُوَ الَّذِیۡ	یُرِیۡکُمُ	الۡبَرۡقَ	خَوۡفًا
هیڅوک مدد ګار	دغه (الله) همغه ذات دی	چی دربنیی تاسی ته	برق بریښنا	دپاره د خوف

هیڅوک متولی (مدد ګار). دغه (الله) همغه ذات دی چی دربنیی تاسی ته برق بریښنا (چی نښه دباران ده) دپاره د خوف

وَّطَمَعًا وَّیُنۡشِیُٔ السَّحَابَ الثِّقَالَ ۚ ⑫ وَیُسَبِّحُ الرَّعۡدُ

وَّطَمَعًا	وَّیُنۡشِیُٔ	السَّحَابَ	الثِّقَالَ	وَیُسَبِّحُ	الرَّعۡدُ
یا دپاره د طمع	او راپورته کوی	وریځی	درنی (په اوبو په هوا کښی)	او تسبیح وائی	رعد (ملائیکی)

یا د پاره د طمع (او امید) راپورته کوی وریځی درنی (په اوبو په هوا کښی). او تسبیح وائی رعد (ملائیکی)

بِحَمۡدِهٖ وَالۡمَلٰٓئِکَةُ مِنۡ خِیۡفَتِهٖ ۚ وَیُرۡسِلُ الصَّوَاعِقَ

بِحَمۡدِهٖ	وَالۡمَلٰٓئِکَةُ	مِنۡ خِیۡفَتِهٖ	وَیُرۡسِلُ	الصَّوَاعِقَ
سره له ثناء د دغه (الله)	او تسبیح وائی نوری ټولی ملائیکی	له ییری (دالله) څخه	او لیږی (الله)	تالندی (تندر)

سره له ثناء د دغه (الله) او تسبیح وائی نوری ټولی ملائیکی له ییری (او له هیبته دالله) څخه او لیږی (الله) تالندی (تندر)

فَیُصِیۡبُ بِهَا مَنۡ یَّشَآءُ وَهُمۡ یُجَادِلُوۡنَ فِی اللّٰهِ ۚ

فَیُصِیۡبُ بِهَا	مَنۡ	یَّشَآءُ	وَهُمۡ	یُجَادِلُوۡنَ	فِی	اللّٰهِ
نو رسوی هغه	پر هغه چا چی	اراده وفرمائی	حال دا چی دغه خلک	جګړی کوی	په شان	دالله کښی

نو رسوی (غورځوی دغه تالندی) پر هغه چا چی اراده وفرمائی حال دا چی دغه خلک جګړی کوی په شان د الله کښی

اللّٰهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُغَیِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتّٰی یُغَیِّرُوۡا. ترڅه وخته چي ديو قوم حالات په بدی او فساد بدل نه سي نو الله ﷻ يي عافيت هم نه بدلوي: په دغه آيت کي دالله ﷻ ارشاد دی (ان الله لایغیر ما بقوم حتی یغیروا بانفسهم) یعني الله ﷻ دیو قوم دامن او عافیت حالت په آفت او مصیبت کي ترهغه وخته پوري نه بدلوي تر څو چي دغه قوم په خپله خپل عملونه او حالات په بدی او فساد باندي بدل نه کړي او کله چي دوی خپل حالات په سرکښی او نافرمانی کي بدلوي نو الله ﷻ هم خپل طرز بدلوي او دا ظاهره خبره ده چي کله الله ﷻ دچابدي وغواړي او عذاب ورکول وغواړي نونه بیا دا څوک منع کولای سي او نه څوک دالله ﷻ دحکم خلاف دده مدد کولای سي: لنډه داده چي دالله ﷻ دطرف څخه دانسانانو دحفاظت دپاره دملایکو پیره لګيدلي وي لیکن کله چي یوقوم دالله ﷻ دنعمتونو شکر او دهغه فرمانبرداري پریږدي اوبدعملي اختیاره کړي نو الله ﷻ هم خپل دحفاظت پیره څیني واخلي او خپل قهر پر رامسلطه کړي (معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۹۴)

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ... الله ﷻ ددعا گانو قبلوونکی دی او پر قبلولو يي قادرهم دی:

يعني الله ﷻ ډير لوی قوت والا ذات دی چي بندګانو ته بيريدل ورڅخه پکار دي مګر کفار او مشرکين بيا هم نه ځيني بيريږي او دده سره شريک جوړوي او هغه داسي دعاګاني قبلوونکی دی چي رښتيني بلل دهغه دپاره خاص دي ځکه چي هغه يي پر قبلولو باندي قادر دی او دخدای ﷻ څخه ماسواکم چي داخلګ په خپلو حاجتونو او مصيبتونو کي رابولي هغه په وجه دنه قدرت ددوی درخواست ددي څخه ماسوا نسي منظوروﻻی کم چي خپل دواړه لاسونه داوبو طرف ته غزولي وي اوپه اشاره سره يي خپل طرف ته رابلي چي دغه اوبه دده خلې ته راوالوزي راسي او هغه دځانه دده خلې ته په هيڅ ډول راتلونکي نه وي نو لکه څنګه چي دغه اوبه دده ددرخواست قبلولو څخه عاجزه دي دغه شان ددوی معبودان هم ددوی دحاجتونو دپوره کولو څخه عاجزه دي ځکه چي قدرت نسته ورسره خالي جمادات دي او خپله مخلوق دي.

(معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۹۱)

وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿١٣﴾ لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

وَهُوَ	شَدِيْدُ	الْمِحَالِ	لَهٗ دَعْوَةُ	الْحَقِّ	وَالَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ
اوحال داچي الله	سخت دی	نيول دده	خاص هم دغه (الله) ته دی دعوت	دحق	او هغه شيان چي	عبادت ئی کوی کفار

او حال داچي الله سخت دی عقوبت دده. خاص هم دغه (الله) ته دی دعوت (او بلنه) دحق او هغه شيان چي بلنه (عبادت کوی)

مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ

مِنْ دُوْنِهٖ	لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ	لَهُمْ	بِشَيْءٍ	اِلَّا	كَبَاسِطِ
بی له دغه (الله)	نه قبلوی دوی	دغو بلونکو ته	په هيڅ شي سره	مګر	لکه قبول دغوونکی

بی له دغه (الله) نه قبلوی دوی (جواب نه ورکوی دغه اشياء) دغو بلونکو ته په هيڅ شي سره مګر داسی قبلول دغوونکی

كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ

كَفَّيْهِ	اِلَى الْمَآءِ	لِيَبْلُغَ	فَاهُ	وَمَا هُوَ
د دواړو ارغويو خپلو	طرف داوبو ته	دپاره د دی چي ورسيږی دغه اوبه	خولی ته دده	حال داچي نه دی دغه اوبه

د دواړو ارغويو خپلو طرف د اوبو ته دپاره د دی چي ورسيږی دغه اوبه خولی ته دده حال داچي نه دی دغه اوبه

بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿١٤﴾ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ

بِبَالِغِهٖ	وَمَا دُعَآءُ	الْكٰفِرِيْنَ	اِلَّا	فِيْ ضَلٰلٍ	وَلِلّٰهِ	يَسْجُدُ	مَنْ
رسيدونکی خولی د دده ته	او نه ده دعا	دکافرانو	مګر	په زيان او بطلان کښی ده	او خاص الله ته	سجده کوی	هر هغه څوک

رسيدونکی خولی د دده ته او نه ده دعا د کافرانو مګر په زيان او بطلان کښی دی. او خاص الله ته سجده کوی هر هغه څوک

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ

فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	طَوْعًا	وَّكَرْهًا	وَّظِلٰلُهُمْ
چي په آسمانونو کښی دی	او په مځکه کښی دی	په خوښه	او په زور	او (سجده کوی) سوری د دغو

چي په آسمانونو کښی دی او په مځکه کښی دی په خوښه او (ځينی) په زور او (سجده کوی) سوری د دغو (مخلوقاتو)

بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿١٥﴾ السجدة قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ

بِالْغُدُوِّ	وَالْاٰصَالِ	قُلْ	مَنْ رَّبُّ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	قُلِ
په صبا	او مابنام کښی	ووايه (ای محمده!)	څوک دی رب	دآسمانونو	او د مځکی	ووايه (محمده!)

په صبا او بيګاه کښی (يعنی هميشه). ووايه (ای محمده) څوک دی رب د آسمانونو او دمځکی، ووايه (ای محمده!)

السجدة ۳

اللّٰهُ ؕ قُلۡ اَفَاتَّخَذۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُوۡنَ

اللّٰهُ ؕ	قُلۡ	اَفَاتَّخَذۡتُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِهٖۤ	اَوۡلِيَآءَ	لَا يَمۡلِكُوۡنَ
چې الله دی	ووايه (محمده!)	نو آيا پس نيولي دي تاسي	بې له دغه (الله) څخه	دوستان	چې نه دي مالک

چې الله دی! ووايه (محمده!) نو آيا پس نيولي دي تاسي بې له دغه (الله) څخه دوستان چې نه دي مالک (اختيار نه لري)

لِاَنۡفُسِهِمۡ نَفۡعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِى الۡاَعۡمٰى

لِاَنۡفُسِهِمۡ	نَفۡعًا	وَّلَا ضَرًّا	قُلۡ	هَلۡ يَسۡتَوِى	الۡاَعۡمٰى
دپاره د نفسونو خپلو	د څه نفع (رسولو)	او نه د څه ضرر	ووايه (اى محمده!)	آيا برابر دی	ړوند

دپاره د نفسونو (ځانونو) خپلو د څه نفع (رسولو) او نه د څه ضرر (د دفع کولو)، ووايه (محمده) آيا برابر دی ړوند

وَالۡبَصِيۡرُ ۙ اَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِى الظُّلُمٰتُ وَالنُّوۡرُ ۚ

وَالۡبَصِيۡرُ	اَمۡ هَلۡ	تَسۡتَوِى	الظُّلُمٰتُ	وَالنُّوۡرُ
او ليدونکی	بلکه	آيا برابر دي سره	تياری	او نور (رڼا)

(چې کافر دی) او ليدونکی (چې مؤمن دی)، بلکه آيا برابر دي سره تياری (شرک او انکار) او نور (رڼا) (توحيد او معرفت دی)

اَمۡ جَعَلُوۡا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوۡا كَخَلۡقِهٖ فَتَشَابَهَ

اَمۡ جَعَلُوۡا	لِلّٰهِ	شُرَكَآءَ	خَلَقُوۡا	كَخَلۡقِهٖ	فَتَشَابَهَ
آيا ګرځولی دی دوی	الله لره	شريکان	چې پيدا کول ئې کړی دی	په شان د پيداکولو د دغه (الله)	نو ښيا مشتبه سوی وی

آيا ګرځولی دی دوی الله لره شريکان چې پيدا کول ئې کړی دی په شان د پيداکولو د دغه (الله) نو ښيا مشتبه سو

الۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡ ؕ قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَىۡءٍ وَّهُوَ الۡوَاحِدُ الۡقَهَّارُ ﴿۱۶﴾

الۡخَلۡقُ	عَلَيۡهِمۡ	قُلِ	اللّٰهُ	خَالِقُ	كُلِّ	شَىۡءٍ	وَّهُوَ الۡوَاحِدُ	الۡقَهَّارُ
پيدائښت	پر دوی باندی	ووايه (محمده)	خاص الله	پيداکوونکی	دهر	شی دی	او هم دی دی يو	قوی غالب

پيدائښت (دالله سره) پر دوی باندی، ووايه (محمده) خاص الله پيدا کوونکی د هر شی دی او هم دی دی يو قوی غالب.

اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ اَوۡدِيَةٌ ۢ بِقَدَرِهَا

اَنۡزَلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَسَالَتۡ	اَوۡدِيَةٌ	بِقَدَرِهَا
نازلی کړی دی (الله)	له آسمانه	اوبه	نو وبهيدلی	شلی - ويالی	په اندازه د دوی سره

نازلی کړی دی (الله) له آسمانه اوبه نو بهيدل خوړونه په اندازه (د ډکيدو) د دوی سره

قُلۡ اَفَاتَّخَذۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ... داسمانونو او دمځکو پيداکوونکی او باقي پاته کوونکی الله ﷻ دی: په دغه آيت کي الله ﷻ خطاب نبي کريم ﷺ ته کړی دی چې ته دې کفارو ته ووايه چې داسمانونو او مځکي پروردګار يعني ايجاد کوونکی او باقي پاته کوونکی يعني خالق او حفاظت کوونکی څوک دی چونکي ددې جواب خو معلوم دی په دې وجه جواب هم ته ووايه چې الله ﷻ دی بيا ته داورته ووايه ايا ای کفارو دغه دليلونه دتوحيد هم اوری بيا هم تاسي دخدای ﷻ څخه ماسوا نور مددګاران يعني معبودان مقرر کوی کم چې په وجه دډيری ناچاری په خپله دځان نفع او نقصان هم اختيار نه لري او بيا دشرک دباطليدو او دتوحيد دحق کيدو څخه وروسته دموحدينو او مشرکينو او په خپله دتوحيد او شرک په مينځ کي دفرق ظاهرولو دپاره ته دا هم ووايه چې آيا ړوند اوليدونکی سره برابر کيدای سي داخبره ښکاره ده چې ړوند اوليدونکی نه دي سره برابر هم داسي مثال د شرک او دتوحيد دی چې دوی نه دي سره برابر. (معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۹۷)

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى۔ دحق او باطل دخاوندانو نخښې بيانيږي

په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله ﷻ دحق او دباطل دخاوندانو نخښي او صفتونه او ددوی دښو او بدو عملونو او دجزا او سزا بيان کړی دی: په اولني آيت کي د الله ﷻ د حکمونو دعمل کوونکي دپاره دښې بدلې او دنافرمانی کوونکي دپاره دسختي سزا بيان دی او په دوهم آيت کي يي ددواړو مثال دليدونکي او ړوند سره ور کړی دی او ددې په آخر کي بيا فرمايي (انما يتذکر اولو الالباب) يعني اگر چي خبره واضح ده مگر په دې هغه سړی ښه پوهيږي کم چي عقل والا وي او دکومو عقلونه چي غفلت او نافرمانيو بيکاره کړي دي هغه په دې دومره لوی فرق هم نه پوهيږي: الله ﷻ فرمايي کومو خلگو چي دخپل رب وينا ومنله او توحيد او طاعت يي اختياره کی ددوی دپاره ښه بدل يعني جنت مقرر دی او کومو خلگو چي دهغه وينا ونه منله او پر کفر باندي پاته سول ددوی سره که دقيامت په ورځ دټولي دنيا شيان هم وي نو ځيني قبول به نه سي ددوی دخلاصون دپاره. (معرف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۹۹)

فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ

فَاحْتَمَلَ	السَّيْلُ	زَبَدًا	رَّابِيًا	وَمِمَّا	يُوْقِدُوْنَ	عَلَيْهِ
نو پرسر راواخيست	دی سيلاب	ځګ	پورته سوی	او له هغو شيانو	چي بلوي	باندی (داخلګ لمبی)

نو پر سر راواخيست دی سيلاب ځګ (اوخيری) اوچت سوی (په سر د اوبو)، او له هغو شيانو چي بلوي پری (داخلګ لمبی)

فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ اَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ

فِي النَّارِ	ابْتِغَآءَ	حِلْيَةٍ	اَوْ مَتَاعٍ	زَبَدٌ	مِّثْلُهٗ	كَذٰلِكَ
په اور کښی	دپاره د طلب د	زيوراتو	يا نور اسباب	ځګ	په شان د هغه	په مثل د دی (مذکورو مثالونو)

په اور کښی دپاره د طلب د زيوراتو يا نور اسباب ځګ (خيره) په شان د هغه (ځګ)، په مثل د دی (مذکورو مثالونو)

يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ؕ فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ

يَضْرِبُ	اللّٰهُ	الْحَقَّ	وَالْبَاطِلَ ؕ	فَاَمَّا	الزَّبَدُ	فَيَذْهَبُ
بيانوی	الله	حق	او باطل	نو هر څه	ځګ او خيری	نو لاړ به سی په دغه حال کښی چی پريوتی وی له نظره

بيانوی الله (مثالونه د) حق او د باطل، نو هر څه ځګ او خيری نو لاړ به سی په دغه حال کښی چی پريوتی وی له نظره

جُفَآءً ۚ وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ؕ

جُفَآءً	وَاَمَّا	مَا يَنْفَعُ	النَّاسَ	فَيَمْكُثُ	فِي الْاَرْضِ
وچ سئ	او هر څه	هغه شي چی نفع رسوی	خلګو ته	نو پاتی کيږی	په ځمکه کښی

(اوبی نفعی به وی) وچ سئ او هر څه هغه خيز چي نفع رسوی خلګو ته نو پاتي کيږی په ځمکه کښی (للا نتفاع)

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ﴿١٧﴾ لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا

كَذٰلِكَ	يَضْرِبُ	اللّٰهُ	الْاَمْثَالَ	لِلَّذِيْنَ	اسْتَجَابُوْا
هم داسي	بيانوی	الله	مثالونه	سته لپاره د هغو کسانو	چی حکم قبول کړی دی دوی

هم داسي بيانوی الله مثالونه (دحق او دباطل دپاره د متفکرينو). سته لپاره د هغو کسانو چي حکم قبول کړی دی دوی

لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ۚ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ اَنَّ لَهُمْ

لِرَبِّهِمُ	الْحُسْنٰى	وَالَّذِيْنَ	لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا	لَهٗ	لَوْ اَنَّ	لَهُمْ
درب خپل	نيکی (چی جنت دی)	او هغه کسان چی	نه وی قبول کړی دوی حکم	د دغه (الله)	که چيری بيشکه!	وی دوی ته

د رب خپل (جزا) نيکی (چی جنت دی). او هغه کسان چي نه وی قبول کړی دوی حکم د دغه (الله) که چيری وی دوی ته

مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا

مَّا	فِي الْأَرْضِ	جَمِيْعًا	وَّمِثْلَهُ	مَعَهُ	لَافْتَدَوْا
هر هغه څه چې دی	په مځکه کښې	ټول	او په مثل د دی	له دی سره	نو خامخا به فديه ورکړی دوی

هر هغه څه چې دی په مځکه کښې ټول او (نور هم وی) په مثل د دی له دی سره نو خامخا به فديه ورکړی دوی

بِهٖ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ

بِهٖ	اُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	سُوْٓءُ	الْحِسَابِ	وَمَاْوٰىهُمْ	جَهَنَّمُ
په هغو (ټولو سره)	دغه کسان	مقرر دی دوی لره	بد (سخت)	حساب	او ځای د استوګنی د دوی	دوزخ دی

په هغو (ټولو سره) دغه کسان مقرر دی دوی لره بد (سخت) حساب، او ځای د استوګنی د دوی دوزخ دی

وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۸﴾ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

وَبِئْسَ	الْمِهَادُ	اَفَمَنْ	يَّعْلَمُ	اَنَّمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ
او بد	ځای د آرام دی	آیا نو هغه څوک	چې پوهيږی په دی خبره	چې بيشکه! هغه (قرآن)	چې نازل کړی سوی دی	تاته

او بد ځای د آرام دی (دوزخ). آیا نو هغه څوک چې پوهيږی په دی خبره چې بيشکه! هغه (قرآن) چې نازل کړی سوی دی تاته

مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا

مِنْ رَّبِّكَ	الْحَقُّ	كَمَنْ هُوَ	اَعْمٰى	اِنَّمَا	يَتَذَكَّرُ	اُولُوا
له طرفه د رب ستا	حق دی (ربنتيا)	په مثل د هغه چا دی چې دی	روند دی	بيشکه! خبره هم داده	چې پند اخلی	خاوندان

له طرفه د رب ستا حق د ی(ربنتيا) په مثل د هغه چا دی چې دی روند دی، بيشکه! خبره هم داده چې پند اخلی خاوندان

الْاَلْبَابِ ﴿۱۹﴾ الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ

الْاَلْبَابِ	الَّذِيْنَ	يُوْفُوْنَ	بِعَهْدِ	اللّٰهِ	وَلَا يَنْقُضُوْنَ
دعقلونو خالصو	هغه کسان چې	وفا کوی	په عهد	د الله باندی	او نه ماتوی دوی (هغه)

دعقلونو خالصو. هغه کسان چې وفا کوی په عهد د الله باندی (چې په ورځی دميثاق ئی کړی ده) او نه ماتوی دوی (هغه)

الْمِيْثَاقَ ﴿۲۰﴾ وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ

الْمِيْثَاقَ	وَالَّذِيْنَ	يَصِلُوْنَ	مَآ اَمَرَ	اللّٰهُ	بِهٖٓ اَنْ	يُّوْصَلَ
ټينګ عهد	او هغه کسان چې	منبلوی	هغه چې امر کړی دی	الله	په هغه سره داسی	چې وصل دی کړی سی

ټينګ عهد. او هغه کسان چې وصل کوی هغه (شی) چې امر (حکم) کړی دی الله په هغه سره داسی چې وصل دی کړی سی

الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ... دالله ﷻ دحکم منونکو صفتونه په لاندي ډول دي:

الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ يعني داهغه خلګ دي کم چي دالله ﷻ سره سوې وعده پوره کوي مراد ددې څخه ټول هغه عهدونه او لوظونه دي کم چي الله ﷻ دخپلو بندګانو څخه اخيستي دي چي په دي کي دټولو څخه اولنی هغه عهد درب والي دی کم چي په ازل کي دټولو ارواحانو څخه اخيستل سوی وو (الست بربکم) يعني آيا زه ستاسو رب نه يم؟ چي په جواب کي يي ټولو وفرمايل په جمع سره [بلی] ولي نه يي خامخا زموږ رب يي دغه شان دالله ﷻ دټولو حکمونو دمنلو، دټولو فرضو دادا کولو، او دناجايز و شيانو څخه دځان ساتلو، دالله ﷻ دطرف څخه وصيت او دبندګانو دطرف څخه ددې اقرار په مختلفو اياتونو کي راغلی دی: دويم صفت دادی (ولاينقضون الميثاق) يعني دوی ديوعهد او لوظ خلاف ورزي نه کوي په دې کي هغه عهد او لوظونه هم داخل دي چي دبنده او دالله ﷻ په مابين کي دي او هغه هم چي دبنده او بنده تر مابين دي.

معارف القرآن ج ۵ پ۱۳ ص۱۰۰

النصف ع۲

وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَالَّذِيْنَ

وَيَخْشَوْنَ	رَبَّهُمْ	وَيَخَافُوْنَ	سُوْٓءَ	الْحِسَابِ	وَالَّذِيْنَ
او بيريږي دوی له عذابه	د رب خپل	او بيريږي	له بده	حسابه (د قيامت)	او هغه کسان چي

او بيريږي دوی له عذابه د رب خپل او خوف کوی له بده حسابه (د قيامت). او هغه کسان چي

صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا

صَبَرُوْا	ابْتِغَآءَ	وَجْهِ	رَبِّهِمْ	وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ	وَاَنْفَقُوْا
صبر کوی	لپاره د طلب	د رضا	د رب خپل	او قائموی (سم اداء کوی)	لمونځ	او نفقه کوی

صبر کوی لپاره د طلب د رضا درب خپل (په مالی او جانی مصائبو) او قائموی لمونځ او نفقه کوی (په لاره د الله کښې)

مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ

مِمَّا	رَزَقْنٰهُمْ	سِرًّا	وَّعَلَانِيَةً	وَّيَدْرَءُوْنَ	بِالْحَسَنَةِ
ځينی له هغه څخه	چي ورکړی دی موږ دوی ته	هم په پټه	او هم په ښکاره	او دفع کوی دوی	په نيکی سره

ځينی له هغه (حلالو اموالو) څخه چي ورکړی دی موږ دوی ته هم په پټه او هم په ښکاره او دفع کوی دوی په نيکی سره

السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ

السَّيِّئَةَ	اُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	عُقْبَى	الدَّارِ	جَنّٰتُ	عَدْنٍ
بدی	دغه کسان موصوف په دغو صفاتو	سته دوی ته	عاقبت	د دار (د آخرت)	چي جنتونه دی	د تل او سيدلو

بدی دغه کسان موصوف په دغو صفاتو سته دوی ته (ښه) عاقبت د دار (د آخرت چي) جنتونه دی د تل اوسيدلو

يَّدْخُلُوْنَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ

يَّدْخُلُوْنَهَا	وَمَنْ	صَلَحَ	مِنْ اٰبَآئِهِمْ	وَاَزْوَاجِهِمْ
چي ننوځی به دوی په هغو کښې	او هغه څوک	چي صالح (مؤمن) وی	له پلرونو د دوی	او له ښځو د دوی

چي ننوځی به دوی په هغو کښې او (ننوځی به پکښې بل) هغه څوک چي صالح (مؤمن) وی له پلرونو د دوی او له ښځو د دوی

وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾

وَذُرِّيّٰتِهِمْ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ	يَدْخُلُوْنَ	عَلَيْهِمْ	مِّنْ كُلِّ	بَابٍ
او له اولادی د دوی	او ملائيکی به	ورننوځی	پر دوی	له هری	دروازی

او له اولادی د دوی او ملائيکی به ورننوځی پر دوی له (سره له تحائفو او زيری او رضوان) د هری دروازی.

وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ.... دالله ﷻ دنيکو بندګانو څلورم صفت دالله ﷻ څخه خوف او ويره ده: يعني دا هغه خلګ دي چي دخپل رب څخه بيريږي: دلته يي دخوف پر ځای لفظ د خشية راوړی په دي کي اشاره دې طرفته ده چي دالله ﷻ څخه ددوی بيره داسي نه ده لکه ددرنده حيوان يا موذی انسان څخه چي طبعا بيره وي بلکي داسي بيره ده لکه اولاد چي يي دمور او پلار څخه، او شاګرد يي داستاذ څخه عادتا لري چي ددې منشاء دآزار رسولو بيره نه وي بلکي دلويي او محبت په وجه سره ددوی څخه بيره لري چي هسي نه زما څخه يو داسي کار وسي چي الله ﷻ به په هغه باندي خفه سي په دې وجه دصفت په ځای کي چي کم ځای دالله ﷻ دبيري ذکر دی په عام طور سره هلته دا لفظ د خشية استعماليږي ځکه چي خشيت هغه بيري ته وايي کمه چي دعظمت او محبت په وجه سره پيدا کيږي په دې وجه په راتلونکي جمله کي کم ځای چي دحساب دسختی بيره بيان سويده هلته يي د خشية لفظ نه دی راوړی بلکه دخوف لفظ يي راوړی دی.
(معارف القرآن ج٥ پ١٣ ص١٠١)

سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ بِمَا صَبَرۡتُمۡ فَنِعۡمَ عُقۡبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾

سَلٰمٌ	عَلَيۡكُمۡ	بِمَا صَبَرۡتُمۡ	فَنِعۡمَ	عُقۡبَى	الدَّارِ
سلامتيا دې وي	پر تاسي	په سبب د صبر كولو ستاسي	نو ښه	عاقبت	د كور (د آخرت د تاسي دى)

(او وائي به ورته چې) سلامتيا دې وي پر تاسي په سبب د صبر كولو ستاسي نو ښه عاقبت د دار (د آخرت د تاسي دى).

وَالَّذِيۡنَ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مِيۡثَاقِهٖ

وَالَّذِيۡنَ	يَنۡقُضُوۡنَ	عَهۡدَ	اللّٰهِ	مِنۡۢ بَعۡدِ	مِيۡثَاقِهٖ
او هر هغه كسان چې	ماتوي دوى	عهد	د الله	وروسته	د محكمولي د هغه

او هر هغه كسان چې ماتوي دوى عهد د الله وروسته د محكمولي د هغه (په قبول او اقرار سره)

وَيَقۡطَعُوۡنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ يُّوۡصَلَ وَيُفۡسِدُوۡنَ

وَيَقۡطَعُوۡنَ	مَاۤ اَمَرَ	اللّٰهُ	بِهٖۤ	اَنۡ يُّوۡصَلَ	وَيُفۡسِدُوۡنَ
او پرې كوي دوى	هغه شي چې امر كړى دى	الله	په هغه سره	چې وصل دې كړى سي	او فساد كوي دوى

او پرې كوي دوى هغه شي چې امر (حكم) كړى دى الله په هغه سره چې وصل دې كړى سي او فساد كوي دوى

فِي الۡاَرۡضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوۡٓءُ الدَّارِ ﴿٢٥﴾

فِي الۡاَرۡضِ	اُولٰٓئِكَ	لَهُمُ	اللَّعۡنَةُ	وَلَهُمۡ	سُوۡٓءُ	الدَّارِ
په مځكه كښې	دغه كسان	سته دوى ته	لعنت لرې والى له رحمته د الله	او سته دوى ته	بد عاقبت	د كور د آخرت

په مځكه كښې (په كفر سره) دغه (مذكور) كسان سته دوى ته لعنت لرې والى له رحمت د الله او سته دوى ته بد عاقبت د دار.

اَللّٰهُ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ وَيَقۡدِرُ ؕ

اَللّٰهُ	يَبۡسُطُ	الرِّزۡقَ	لِمَنۡ يَّشَآءُ	وَيَقۡدِرُ
الله	فراخوي	رزق	هر هغه چاته چې اراده وفرمائي	او تنگوى (ئې پر هغه چا چې اراده وفرمائي)

الله فراخوي رزق هر هغه چاته چې اراده وفرمائي د (فراخي ئې) او تنگوى (ئې پر هغه چا چې اراده وفرمائي)

وَفَرِحُوۡا بِالۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ؕ وَمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا فِي الۡاٰخِرَةِ اِلَّا

وَفَرِحُوۡا	بِالۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا	وَمَا الۡحَيٰوةُ	الدُّنۡيَا	فِي الۡاٰخِرَةِ	اِلَّا
او خوشحاله سوي دي	په دې ژوندون	د دنيا	او نه دى دا ژوندون	د دنيا	په آخرت كښې	مگر

او خوشحاله سوي دي (كفار) په دې ژوندون لږ خسيس، او نه دى دا ژوندون لږ خسيس په (مقابل د) آخرت كښې مگر

وَالَّذِيۡنَ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ... د الله ﷻ د نافرمانه بندگانو نښې او مذموم صفتونه: په دغه آيت كې الله ﷻ د دغو سركښه او نافرمانه بندگانو يو خصلت دا وښووى چې وَالَّذِيۡنَ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ يعني دا هغه خلگ دي چې د الله ﷻ عهد د پخولو څخه وروسته ماتوي د الله ﷻ په عهد كې هغه عهد هم داخل دى كم چې په ازل كې د الله ﷻ په وړاندې د هغه د ربوالي او يووالي متعلق د ټولو پيدا كيدونكو روحونو څخه اخيستل سوى دى كم چې كفارو او مشركينو په دنيا كې مات كى او د الله ﷻ سره يې په سوونو او زرگونو ربونه او معبودان جوړ كړل: او هغه ټول عهدونه هم په كښې شامل دي د كمو پابندي چې د (لا اله الا الله) په ضمن كې پر انسان لازميږي ځكه چې كلمه طيبه (لا اله الا الله محمد رسول الله) د يوې عظيمې معاهدې عنوان دى چې تر دې لاندې د الله ﷻ او د رسول ﷺ د ښوول سوو ټولو احكامو پابندي او د كوم څخه چې منع سويده د دې څخه د ځان ساتلو عهد هم په كښې را ځي. (معارف القرآن ج۵ پ۳ ص۱۰٦)

مَتَاعٌ ﴿٢٦﴾ وَيَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡهِ اٰيَةٌ

مَتَاعٌ	وَيَقُوۡلُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ	عَلَيۡهِ	اٰيَةٌ
لږسامان	او وائی	هغه کسان	چی کافران سوی دی	ولی نه دی رالیږلی سوی	پر دغه (محمد) باندی	معجزه

لږ متاع (حقیر مال). او وائی هغه کسان چی کافران سوی دی ولی نه دی رالیږلی سوی پر دغه (محمد) باندی (هغه) معجزه

مِّنۡ رَّبِّهٖ ؕ قُلۡ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ وَيَهۡدِيۡۤ اِلَيۡهِ

مِّنۡ رَّبِّهٖ	قُلۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُضِلُّ	مَنۡ يَّشَآءُ	وَيَهۡدِيۡۤ	اِلَيۡهِ
له (طرفه) د رب د ده	ووایه	بیشکه!	الله	گمراه کوی	هغه څوک چی اراده وفرمائی	او هدایت کوی	په طرف خپل

له (طرفه) د رب د ده؟ ووایه (ای محمده! بیشکه! الله گمراه کوی هغه څوک چی اراده وفرمائی او هدایت کوی په طرف خپل

مَنۡ اَنَابَ ﴿٢٧﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَتَطۡمَٮِٕنُّ قُلُوۡبُهُمۡ

مَنۡ اَنَابَ	اَلَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَتَطۡمَٮِٕنُّ	قُلُوۡبُهُمۡ
هغه ته چی رجوع وکړی	هغه کسان دی	چی ایمان ئی راوړی دی	او آرام نیسی	زړونه د دغو

هغه ته چی رجوع وکړی (الله ته). (دغه رجوع کوونکی) هغه کسان دی چی ایمان ئی راوړی دی او ارام نیسی زړونه د دغو

بِذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ اَلَا بِذِكۡرِ اللّٰهِ تَطۡمَٮِٕنُّ الۡقُلُوۡبُ ﴿٢٨﴾ اَلَّذِيۡنَ

بِذِكۡرِ	اللّٰهِ	اَلَا بِذِكۡرِ	اللّٰهِ	تَطۡمَٮِٕنُّ	الۡقُلُوۡبُ	اَلَّذِيۡنَ
په ذکر	د الله سره	واورئ خبردار سئ په ذکر	د الله سره	مطمئن کیږی ارام نیسی	زړونه	هغه کسان

(مؤمنانو) په ذکر د الله سره، واورئ خبردار سئ چی په ذکر د الله سره مطمئن کیږی ارام نیسی زړونه (دمؤمنانو). هغه کسان

اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوۡبٰى لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَاٰبٍ ﴿٢٩﴾

اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	طُوۡبٰى لَهُمۡ	وَحُسۡنُ	مَاٰبٍ
چی ایمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)	خوشحالی ده دوی ته	او ښه	ځای دهستوګنی (جنت) دی

چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) طوبٰی (ښه حال) دی دوی ته او ښه ځای د هستوګنی (جنت) دی.

كَذٰلِكَ اَرۡسَلۡنٰكَ فِىۡۤ اُمَّةٍ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهَاۤ اُمَمٌ

كَذٰلِكَ	اَرۡسَلۡنٰكَ	فِىۡۤ اُمَّةٍ	قَدۡ	خَلَتۡ	مِنۡ قَبۡلِهَاۤ	اُمَمٌ
هم دارنګه	لیږلی ئی موږ ته	په داسی یو امت کښی	چی په تحقیق	تیرسوی دی	پخوا له دی څخه	ډیر امتونه

هم دارنګه لیږلی ئی موږ ته (ای محمده!) په داسی یو امت کښی چی په تحقیق تیرسوی دی پخوا له دی څخه ډیر امتونه

وَيَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ.. كفارو به دنبي كريم ﷺ پر نبوت باندي بد ويل او اعتراضونه به يه كول: په دغه آيت كي الله ﷻ فرمايي چي دغه كافران خلگ ستا دنبوت دبدويلو او داعتراض كولو دپاره داسي وايي چي پردغه پيغمبر يوه معجزه زموږ دفرمايش دمعجزو څخه دده درب دطرفه څخه ولي نه نازليږي؟ ته ورته ووايه چي واقعي ستاسي ددې بې ځايه فرمايشونو څخه داسي معلوميږي چي الله ﷻ چالره چي وغواړي گمراه كوي يي او دمعلوميدو وجه يي ظاهره ده چي سره دكافي معجزو چي په دوى كي دټولو څخه لوى قرآن كريم دى او بيا هم دوى فضول خبري كوي ددې څخه معلوميږي چي ددوى په قسمت كي گمراهي ليكلې ده او لكه څنگه چي دې عناد گروته قرآن كريم چي دلويو معجزو څخه دى دهدايت دپاره كافي نه سو او گمراهي ددوى نصيب سوه دغه شان كم سړى چي دهغه طرف ته متوجه كيږي او دحقي لاري طلب كوي نو الله ﷻ دوى ته دخپل طرف ته درسيدو هدايت او راهنمايي كوي او دگمراهي څخه يي ساتي

معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۰۵

لِّتَتْلُوَاْ عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ

لِّتَتْلُوَاْ	عَلَيْهِمُ	الَّذِيْٓ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ	وَهُمْ	يَكْفُرُوْنَ	بِالرَّحْمٰنِ
چي وايئ ته	پردوی	هغه (قرآن)	چي وحی کړی دی موږ	تاته	حال داچي دوی	كافران دی	په رحمٰن

چي وايئ ته پر دوی هغه (قرآن) چي وحی کړی ده موږ تاته حال داچي دوی کافران دی په رحمٰن،

قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ

قُلْ	هُوَ	رَبِّيْ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	عَلَيْهِ	تَوَكَّلْتُ
ووايه (محمده)	چي دغه	رب زما دی	نشته بل هيڅ لائق د عبادت	مګر	يوائې هم دی دی	پر هم ده	توکل کړی دی ما

ووايه (محمده !) چي دغه (رحمٰن) رب زما دی نشته بل هيڅ لائق د عبادت مګر يوائې هم دی دی، پر هم ده توکل کړی دی ما

وَاِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ

وَاِلَيْهِ	مَتَابِ	وَلَوْ اَنَّ	قُرْاٰنًا	سُيِّرَتْ	بِهِ الْجِبَالُ
او خاص هم ده ته	بيا ورتله او رجوع زما دی	او که په تحقيق	يو قرآن	روان کيدلی	په (ويلو) د سره غرونه

او خاص هم ده ته بيا ورتله او رجوع زما دی. او که په تحقيق يو قرآن (داسي وی په علم کښي) روان کيدلی په (ويلو) ده سره غرونه

اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى بَلْ

اَوْ قُطِّعَتْ	بِهِ الْاَرْضُ	اَوْ كُلِّمَ	بِهِ الْمَوْتٰى	بَلْ
يا څيريدلی ټوټې کولی سو	په ده سره مځکه	يا په خبرو راوستلی سو	په هغه سره مړی	بلکه

يا څيريدلی ټوټې کولی سو پری مځکه يا په خبرو راوستلی سو په هغه سره مړی، (بيا هم ايمان نه وو راوړی دی) بلکه (خاص)

لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا اَفَلَمْ يَايْـَٔسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَآءُ

لِّلّٰهِ	الْاَمْرُ	جَمِيْعًا	اَفَلَمْ يَايْـَٔسِ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اَنْ لَّوْ يَشَآءُ
(خاص) الله ته دی	امر	ټول	آيا لا نا اميده سوی نه دی	هغه کسان	چي ايمان يئ راوړی دی	که اراده فرمايلي وی

الله ته دی (اختيار د دی) امر ټول، آيا لا نا اميده سوی نه دی هغه کسان چي ايمان لرونکی دی که اراده فرمايلي وی

اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اللّٰهُ	لَهَدَى	النَّاسَ جَمِيْعًا	وَلَا يَزَالُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
الله	نو خامخا به ئې هدايت فرمايلي وی	خلکو ټولو ته	او هميشه	هغه کسان	چي کافران سوی دی

الله نو خامخا به ئې هدايت فرمايلي وی ټولو خلکو ته. او هميشه هغه کسان چي کافران سوی دی

وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ. دابوجهل او دده دملګرو يو څو سوالونه دنبي کريم ﷺ څخه او دهغو جواب: په تفسير بغوي کي دي چي دمکې مشرکينو چي په دوی کي ابوجهل بن هاشم او عبدالله ابن امية په خصوصيت سره دذکر قابل دي يوه ورځ دبيت الله شاته کښيناستل او عبدالله ابن امية يي په نبي کريم ﷺ پسې وليږی ده نبي کريم ﷺ ته دا وويل چي که ته غواړې چي ستا قوم او موږ ټوله تا رسول ومنو او ستا تابعداران سو نوزموږ يو څو مطالبې دي دخپل قرآن کريم په ذريعه دا راپوره کړه نو موږ به ټوله اسلام قبول کړو: په مطالبو کي يوه مطالبه داوه چي دمکې مځکه ډيره تنګه ده دهرطرف څخه په غرونو کي راګيرده چي نه په کښي دکروندې او دفصل ګنجايش سته اونه دباغونو اونورو ضرورتونو ته دمعجزې په ذريعه داغرونه ليري يوسه چي دمکې مځکه فراخه سي آخر ستا دوينا مطابق دحضرت داود عليه السلام دپاره غرونه مسخر سوي وه کله چي به هغه تسبيح کوله نو غرونو به هم ورسره کوله: **پاته بيان پر راروان مخ وګوری:**

تُصِيۡبُهُمۡ بِمَا صَنَعُوۡا قَارِعَةٌ اَوۡ تَحُلُّ قَرِيۡبًا

تُصِيۡبُهُمۡ	بِمَا صَنَعُوۡا	قَارِعَةٌ	اَوۡ تَحُلُّ	قَرِيۡبًا
رسيږي دوی ته	په سبب د هغو عملونو چې کړي دي دوی	زړه ټکوونکې (یا ښوروونکې عذاب)	یا چې کښته سي	نژدې

رسيږي دوی ته په سبب د هغو عملونو چې کړي دي زړه ټکوونکې یا خوځوونکې عذاب یا چې کښته سي ته نژدې

مِّنۡ دَارِهِمۡ حَتّٰى يَاۡتِىَ وَعۡدُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ﴿۳۱﴾

مِّنۡ دَارِهِمۡ	حَتّٰى	يَاۡتِىَ	وَعۡدُ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُخۡلِفُ	الۡمِيۡعَادَ
کورونو د دوی ته	تر هغه پوري	چې راسي	وعده	د الله	بیشکه!	چې الله	هیچیری نه کوی مخالفت	له وعدې

کورونو د دوی ته تر هغه پوري چې راسي وعده د الله بیشکه! چې الله (په نصرت) هیچیری نه کوی خلاف له وعدې (خپلې).

وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ فَاَمۡلَيۡتُ

وَلَقَدِ	اسۡتُهۡزِئَ	بِرُسُلٍ	مِّنۡ قَبۡلِكَ	فَاَمۡلَيۡتُ
او خامخا په تحقیق	مسخرې کړې سوې وې	له رسولانو سره	پخوا له تا څخه	نو مهلت مې ورکړی ؤ

او خامخا په تحقیق مسخرې کړې سوې وې له (نورو ډیرو) رسولانو سره (چې وو) پخوا له تا څخه نو مهلت مې ورکړی ؤ

لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ثُمَّ اَخَذۡتُهُمۡ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۳۲﴾ اَفَمَنۡ

لِلَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	ثُمَّ	اَخَذۡتُهُمۡ	فَكَيۡفَ	كَانَ	عِقَابِ	اَفَمَنۡ
هغو کسانو ته	چې کافران سوي وو	بیا مې	ونیول دوی (په عذاب)	نو څرنګه	ؤ	عقوبت (عذاب زما)	آیا نو هغه ذات

هغو کسانو ته چې کافران سوي وو، بیا مې ونیول دوی (په عذاب) نو څرنګه ؤ عقوبت (عذاب زما). آیا نو هغه ذات

هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفۡسٍۢ بِمَا كَسَبَتۡ ۚ وَجَعَلُوۡا لِلّٰهِ

هُوَ	قَآئِمٌ	عَلٰى كُلِّ	نَفۡسٍ	بِمَا كَسَبَتۡ	وَجَعَلُوۡا	لِلّٰهِ
چې وی دی	ولاړ	پر هر	نفس	سره له هغه عمل چې کړی وی	او ګرځولی دی (کفارو)	الله ته

چې وی دی ولاړ (ساتونکی) پر هر نفس (صالح او طالح باندې) سره له هغه عمل چې کړی وی او ګرځولی دی (کفارو) الله ته

شُرَكَآءَ ؕ قُلۡ سَمُّوۡهُمۡ ؕ اَمۡ تُنَبِّـئُوۡنَهٗ بِمَا

شُرَكَآءَ	قُلۡ	سَمُّوۡهُمۡ	اَمۡ تُنَبِّـئُوۡنَهٗ	بِمَا
شریکان	ووایه (محمده!)	چې واخلئ نومونه د دوی	بلکه آیا خبر ورکوئ تاسی الله ته	په هغه باطل معبودانو باندې

شریکان، ووایه (ای محمده!) چې واخلئ نومونه د دوی. بلکه آیا خبر ورکوئ تاسی الله ته په هغه باطل معبودانو باندې

وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ...د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری: ته دخپلې وینا مطابق د الله ﷻ په نزد د حضرت داود ﷺ څخه کم خو نه یې. د وهمه مطالبه مو داده چې لکه څنګه چې د حضرت سلیمان ﷺ د پاره ستا د وینا مطابق الله ﷻ هوا مسخره کړې وه او ورځې اوږدې فاصلې یې ورته لنډې کړې وې ته هم زموږ د پاره داسې وکړه چې موږ ته د شام او یمن سفرونه آسانه سي. دریمه مطالبه مو داده چې لکه څنګه چې حضرت عیسی ﷺ مړې ژوندي کول ته هم د هغه څخه خو کم نه یې ته هم زموږ د پاره زموږ نیکه [قُصَی] راژوندی کړه چې موږ د هغه څخه پوښتنه وکړو چې ستا دغه دین ریښتینی دی که نه دی: دغه یو څو غوښتنې وې چې د مکې کفارو د نبي کریم ﷺ څخه وکړې د دوی د دغه غوښتنو په مقابله کې الله ﷻ دغه ایاتونه رانازل کړل او داسې جواب یې ورته ورکړی (ولوانّ قرآنا سیرت به الجبال اوقطعت به الارض) یعني که چیری د قرآن کریم په ذریعه په طور د معجزې د دوی داغوښتنې پوره سي پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

ربع ۱۰

لَا يَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ۗ بَلْ

لَا يَعْلَمُ	فِي الْأَرْضِ	أَمْ بِظَاهِرٍ	مِّنَ الْقَوْلِ	بَلْ
چې نه دی معلوم الله ته	په مځکه کښې	بلکه په ظاهره	وینا سره	(داسې نه دی) بلکه

چې نه دی معلوم الله ته په مځکه کښې، بلکه (مسمّٰی کوی دوی شرکاء) په ظاهره وینا سره (داسې نه دی) بلکه

زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۚ

زُيِّنَ	لِلَّذِينَ	كَفَرُوا	مَكْرُهُمْ	وَصُدُّوا	عَنِ	السَّبِيلِ
بنائسته کړی سوی دی	هغو کسانو ته	چې کافران سوی دی	مکر دروغ د دوی	او بند سوی دی دوی	له	سمې لارې

بنائسته کړی سوی دی هغو کسانو ته چې کافران سوی دی مکر دروغ د دوی او بند (او اړولی) سوی دی دوی له سمې لارې

وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ

وَمَنْ	يُضْلِلِ	اللَّهُ	فَمَا لَهُ	مِنْ هَادٍ	لَهُمْ	عَذَابٌ	فِي الْحَيَاةِ
او هر څوک چې	ګمراه کړي	الله	نو نسته ده لره	هیڅ لارښوونکی	سته دوی ته	عذاب	په ژوندانه

او هر څوک چې ګمراه کړي الله (هغه لره) نو نسته ده لره هیڅ لارښوونکی. سته دوی ته عذاب په ژوندانه

الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَاقٍ ﴿٣٤﴾

الدُّنْيَا	وَلَعَذَابُ	الْآخِرَةِ	أَشَقُّ	وَمَا لَهُمْ	مِّنَ	اللَّهِ	مِنْ وَّاقٍ
د دنیا کښې	او خامخا عذاب	د آخرت	ډیر سخت دی	او نه به وی دوی ته	له عذابه	د الله څخه	هیڅ ساتونکی

لږ خسیس کښې او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دی (له عذابه د دنیا)، او نه به وی دوی ته له عذابه د الله څخه هیڅ ساتونکی.

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا

مَثَلُ	الْجَنَّةِ	الَّتِي	وُعِدَ	الْمُتَّقُونَ	تَجْرِي	مِنْ	تَحْتِهَا
مثال (صفت)	د جنت	هغه چې	وعده کړی سوی دی	د پرهیزګارانو سره	بهیږي	له	لاندې د هغه

مثال (صفت) د جنت هغه چې وعده کړی سوی ده (په هغه سره) پرهیزګاران (دا دی چې) بهیږي له لاندې د هغه

الْأَنْهَارُ ۖ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ

الْأَنْهَارُ	أُكُلُهَا	دَائِمٌ	وَظِلُّهَا	تِلْكَ	عُقْبَى	الَّذِينَ
ویالې	میوې د هغه به	همیشه وی	او سورې د هغه به	دا (جنت)	عاقبت دی	د هغو کسانو چې

(څلور قسمه) ویالې، میوې د هغه وی او سورې د هغه (به هم همیشه وی بې زواله)، دا (جنت) عاقبت دی د هغو کسانو چې

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا... د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: خو بیا هم دوی ایمان را وړونکي نه دي ځکه چې دوی د دې مطالبو څخه وړاندې داسې معجزې لیدلې دي چې هغه د دوی د دې مطلوبه معجزو څخه ډیرې زیاتې لویې دي د نبي کریم ﷺ په اشاره سره د سپوږمۍ دوه ځایه کیدل د غرونو د خپل ځایه څخه دلیرې کیدو څخه او د هوا د مسخر کیدو څخه ډیره زیاته او لویه معجزه ده او د غه شان د بې روحه ډبرو د دوی ﷺ په لاس مبارک کې خبرې کول او تسبیح ویل د مړو د دوباره ژوندي کیدو څخه او د هغو د خبرو کولو څخه زیاته او لویه معجزه ده: د معراج په شپه و مسجد اقصی ته تلل او بیا د هغه ځایه څخه د آسمانونو سفر او بیرته په ډیر لږ وخت کې راتلل د هوا د مسخر کیدو څخه او د تخت سلیماني د معجزې څخه زیاته عظیمه معجزه ده: مګر دې ظالمانو د دې هر څه د لیدو باوجود چې ایمان را نه وړی نو اوس د دوی د دې مطالبو څخه هم د دوی د نیت څخه معلومه ده چې دوی هسې وخت تیروي او د ایمان د راوړلو اراده نه لري الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۳ ص۱۱۳)

اتَّقَوۡا ؕ وَّ عُقۡبَی الۡكٰفِرِيۡنَ النَّارُ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ

اتَّقَوۡا	وَّعُقۡبَی	الۡكٰفِرِيۡنَ	النَّارُ	وَالَّذِيۡنَ	اٰتَيۡنٰهُمُ	الۡكِتٰبَ
پرهيزګاري کوی	او عاقبت	دکافرانو	اور (دوزخ) دی	او هغه کسان چې	ورکړی دی موږ دوی ته	کتاب

پرهيزګاري کوی او عاقبت (مرجع) د کافرانو اور (دوزخ) دی. او هغه کسان چې ورکړی دی موږ دوی ته کتاب

يَفۡرَحُوۡنَ بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ وَمِنَ الۡاَحۡزَابِ مَنۡ يُّنۡكِرُ

يَفۡرَحُوۡنَ	بِمَاۤ اُنۡزِلَ	اِلَيۡكَ	وَمِنَ	الۡاَحۡزَابِ	مَنۡ يُّنۡكِرُ
خوشحاليږی	په هغه (قرآن) چې نازل سوی دی	تاته	او ځينی	له فرقو څخه	هغه دی چې نه مني

خوشحاليږی په هغه (قرآن) چې نازل سوی دی تاته او ځينی له فرقو (داهل الکتب) څخه هغه دی چې نه مني

بَعۡضَهٗ ؕ قُلۡ اِنَّمَاۤ اُمِرۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ اللّٰهَ

بَعۡضَهٗ	قُلۡ	اِنَّمَاۤ	اُمِرۡتُ	اَنۡ	اَعۡبُدَ	اللّٰهَ
ځينی احکام د دی (قرآن)	ووايه	بيشکه!	امر سوی دی ماته	په دی چې	عبادت کوم زه	دالله

ځينی احکام د دی (قرآن)، ووايه (ای محمده!) بيشکه! امر (حکم) سوی دی ماته په دی چې عبادت کوم زه د الله

وَلَاۤ اُشۡرِكَ بِهٖ ؕ اِلَيۡهِ اَدۡعُوۡا وَاِلَيۡهِ مَاٰبِ ﴿۳۶﴾ وَكَذٰلِكَ

وَلَاۤ اُشۡرِكَ	بِهٖ	اِلَيۡهِ	اَدۡعُوۡا	وَاِلَيۡهِ	مَاٰبِ	وَكَذٰلِكَ
او شريک نه نيسم	له دغه (الله) سره	خاص د همغه طرف ته	بولم	او خاص هم ده ته	دی ورتلل زما	او لکه

او شريک نه نيسم له دغه (الله) سره خاص د همغه طرف ته بولم او خاص هم ده ته دی ورتلل. او لکه (پر نورو انبياؤ پخوا)

اَنۡزَلۡنٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيًّا ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآءَهُمۡ

اَنۡزَلۡنٰهُ	حُكۡمًا	عَرَبِيًّا	وَلَئِنِ	اتَّبَعۡتَ	اَهۡوَآءَهُمۡ
نازل کړی ليږلی مو دی دغه (قرآن)	حکم کوونکی	په عربی ژبه	او قسم دی	که متابعت وکړی ته	دخواهشونو د دغو

نازل کړی ليږلی مو دی دغه (قرآن) حکم کوونکی په عربی ژبه، او قسم دی که متابعت وکړی ته (محمده) دخواهشونو د دغو

بَعۡدَمَا جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ﴿۳۷﴾ ع۵

بَعۡدَ	مَا جَآءَكَ	مِنَ الۡعِلۡمِ	مَا لَكَ	مِنَ	اللّٰهِ	مِنۡ	وَّلِيٍّ	وَّلَا وَاقٍ
وروسته	له هغه چې راغلی دی تا ته	علم	نو نه به وی تاته	له جانبه	دالله څخه	هيڅ	ولي	او نه ساتونکی

(مشرکانو او کتابيانو) وروسته له هغه چې راغلی دی تاته علم نو نه به وی تاته له جانبه دالله څخه هيڅ ولي او نه ساتونکی .

وَالَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ يَفۡرَحُوۡنَ.. په يهودو کي هم انصاف داره خلک دقران کريم په نازليدو خوشحاله وه لکه عبدالله ابن سلام رضي الله عنه وغيره: په دغه آيت کي الله جل جلاله فرمايي هغه کسان کمو ته چي موږ اسماني کتاب تورات او انجيل ورکړی دی اودوی هغه په پوره طور سره مني هغوی په دې کتاب او دهغه په نازليدو سره خوشحاله کيږي کم چي پر تانازليږي ځکه چي دوی ددې خبر په خپل کتاب کي ويني او بيا خوشحاليږي اومني يي او ايمان وربانـدي راوړي لکه په يهودو کي چي عبدالله ابن سلام رضي الله عنه او دده ملګري وه او په نصاراوو کي نجاشي رضي الله عنه او دهغه استاذي چي ذکر يي په نورو اياتونو کي راغلی دی او په دغه يهودو اونصاراوو کي بيا ځيني داسي دي چي ددې کتاب دځيني حصې څخه چي په هغه کي ددوی دکتاب خلاف حکمونه دي انکار کوي ته دوی ته وفرمايه چي احکام پر دوه قسمه دي فروع او اصول که تاسي په اصولو کي مخالف ياست نو دا خودټولو شريعتونو سره شريک دي چي تر ټولو لوی بنياد دهغوی توحيد دی الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۱۷)

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا

وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَا	رُسُلًا	مِّنْ قَبْلِكَ	وَجَعَلْنَا	لَهُمْ	اَزْوَاجًا
او خامخا په تحقیق	لیږلي ؤ موږ	ډیر رسولان	پخوا له تا څخه	او ورکړی وی موږ	دوی ته	ښځې

او خامخا په تحقیق لیږلي ؤ موږ ډیر رسولان (انسانان) پخوا له تانه او ورکړی وی موږ دوی ته ښځې

وَّذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ

وَّذُرِّيَّةً	وَمَا كَانَ	لِرَسُوْلٍ	اَنْ يَّاْتِيَ	بِاٰيَةٍ	اِلَّا	بِاِذْنِ
او اولادونه	او نه ښائیږي	دپاره د هیڅ رسول	دا کار چې راوړی داسې	یوه معجزه	مګر	په حکم (تقدیر)

او اولادونه ، او نه ښائیږي دپاره د هیڅ رسول (او نه توانیږي) دا کار چې راوړي داسې یوه معجزه مګر په اذن (تقدیر)

اللّٰهِ ۗ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾ يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۖ

اللّٰهِ	لِكُلِّ	اَجَلٍ	كِتَابٌ	يَمْحُوا	اللّٰهُ	مَا يَشَآءُ	وَيُثْبِتُ
دالله سره	دپاره د هر	وخت او حادثې	یو حکم دی لیکل سوی	لرې کوي	الله	هغه چې اراده فرمائي	او ثابتوي

د الله سره ، دپاره د هر وخت او حادثې یو حکم دی. محوه کوي الله هغه چې اراده فرمائي (دامحائي) او ثابتوي

وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿٣٩﴾ وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ

وَعِنْدَهٗٓ	اُمُّ الْكِتٰبِ	وَاِنْ	مَّا نُرِيَنَّكَ	بَعْضَ	الَّذِيْ
او په نزد دالله	اصل د هر کتاب دی	او که	وښيو موږ خامخا تاته	ځينې	له هغه (عذابه)

او په نزد دالله اصل د هر کتاب (علم الله یا لوح محفوظ) دی .او که وښیو موږ خامخا تاته (په حیات دتا) ځینې له هغه (عذابه)

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ

نَعِدُهُمْ	اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ	فَاِنَّمَا	عَلَيْكَ	الْبَلٰغُ
چې وعده ئې کوو موږ له دغو سره	یا که وفات کړو موږ تا	نو بیشکه! هم دا خبره ده	چې پر تا	رسول د پیغامونو دی

چې وعده ئې کوو موږ له دغو (کفارو) سره یا که وفات کړو موږ تا نو بیشکه! هم دا خبره ده چې په تا رسونه د پیغامونو دی

وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ

وَعَلَيْنَا	الْحِسَابُ	اَوَلَمْ يَرَوْا	اَنَّا	نَاْتِي	الْاَرْضَ	نَنْقُصُهَا	مِنْ
او پر موږ دی	حساب	آیا نه ګوری دوی	چې په تحقیق موږ	راځو موږ	مځکې ته	چې کموو ئې	له

او پر موږ دی حساب. آیا نه ګوری (کفار) چې په تحقیق موږ راځو موږ مځکې (د دوی) ته چې کموو ئې (فتحه کوئې) له

اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا... دکفارو او مشرکینو داخیال وو چې رسول دجنس بشر او انسان څخه علاوه دی: په دغه ایاتونو کي الله ﷻ دکفارو او مشرکینو دیو فاسد خیال ردکړی دی هغه دا چي ددوی عام خیال داوو چي رسول او نبي دجنس بشر او انسان څخه علاوه یو بل مخلوق لکه ملایکي پکار دی چي ددي په وجه دعامو انسانانو څخه ددوی برتري واضحه سي قرآن کریم ددوی ددې فاسد خیال جواب په ډیروایاتونو کي ورکړی دی چي تاسو دنبوت او رسالت په حقیقت او حکمت باندي پوه نه یاست په دې وجه په داسي خیالاتو پسې سواست ځکه چي الله ﷻ رسول یوه نمونه جوړوي اوراليږي يي چي دامت ټول خلق دده پیروي وکړي دده په شان اخلاق او عملونه زده کړي اودا ظاهره ده چي یو انسان دخپل هم جنس انسان پیروي او تابعداري کولی سي :اوکم چي دده دجنس څخه نه وي دهغه پیروي دانسان څخه نامکنه ده مثلا فرشته نه وږې کیږي نه یي دنفساني خواهشاتو سره څه واسطه وي نه خوب ورته راځي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری :

أَطْرَافِهَا ۚ وَاللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ ۚ وَهُوَ

أَطْرَافِهَا	وَاللّٰهُ	يَحْكُمُ	لَا مُعَقِّبَ	لِحُكْمِهٖ	وَهُوَ
څنډو د دی	او الله	حکم کوی	نشته هیڅوک رد کوونکی	دپاره دحکم دالله	او الله

څنډو (غاړو) د دی، او الله حکم کوی (په هر څه چی اراده وفرمائی) نشته هیڅوک رد کوونکی دپاره د حکم دالله او الله

سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۴۱﴾ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

سَرِيْعُ	الْحِسَابِ	وَقَدْ	مَكَرَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
ډیر ژر دی	حساب (د ده)	او په تحقیق	مکر فریب کړی ؤ	هغو (کفارو)	چی پخوا له دغو (کفارو) څخه ؤ

ډیر ژر دی حساب (د ده) . او په تحقیق مکر فریب کړی ؤ هغو (کفارو) چی پخوا له دغو (کفارو) څخه ؤ

فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا ۚ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۚ

فَلِلّٰهِ	الْمَكْرُ	جَمِيْعًا	يَعْلَمُ	مَا تَكْسِبُ	كُلُّ نَفْسٍ
نو خاص الله لره ده	(جزا) دمکرونو	ټولو	معلوم دی الله ته	هر هغه کار چی کوی ئی	هر نفس

نو خاص الله لره ده (جزا) د مکرونو ټولو، معلوم دی الله ته هر هغه (ښه او بد) کار چی کوی ئی هر نفس،

وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۴۲﴾

وَسَيَعْلَمُ	الْكُفّٰرُ	لِمَنْ	عُقْبَى	الدَّارِ
او ژر به پوه سی	کفار	چی چاته به وی	(ښه) خاتمه	د کور (دآخرت)

او ژر به پوه سی (په قیامت) کفار چی چاته به وو (ښه) خاتمه د دار (دآخرت).

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ

وَيَقُوْلُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَسْتَ	مُرْسَلًا	قُلْ
او وائی	هغه کسان	چی کافران دی	چی نه ئی ته	لیږلی سوی	ووایه (ای محمده!)

او وائی هغه کسان چی کافران دی (تاته ای محمده!) چی نه ئی ته لیږلی سوی (دالله له لوری په نبوت سره) ووایه (محمده)

كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۙ وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ﴿۴۳﴾ ع

كَفٰى	بِاللّٰهِ	شَهِيْدًا	بَيْنِيْ	وَبَيْنَكُمْ	وَمَنْ	عِنْدَهٗ	عِلْمُ	الْكِتٰبِ
بس کافی دی	الله	شاهد	په مینځ زما	او ستاسی کی	او بل هغه څوک	چی په نزد د ده	علم	د کتاب دی

بس کافی دی الله شاهد په مینځ زما او ستاسی او بل هغه څوک چی په نزد د ده علم دکتاب دی (جبرئیل).

۶ ع ۶ ۱۲

وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: او نه ستړي کیږي اوس که انسانانو ته ددوی دپیروي او تابعداری حکم وسي نو دا به ددوی دپاره پردوی تر طاقت زیات تکلیف وای: دلته هم دمشرکینو دااعتراض پیش سو خاص بیا دنبي کریم ﷺ دبیبیانو پر ډیروالي باندي ددوی دا شبه نوره زیاته سوه ددې جواب داولني آیت په اولو جملو کي داورکړل سو چي دیوې یا دزیاتو نکـــاحو کولو او دښځو او بچیانو مالک کیدل تاسي په کم دلیل سره دنبوت او رسالت څخه خلاف ګڼی دالله ﷻ خو د مخلوق دپیدایش دابتداء څخه دا سنت راغلی دی چي هغه پیغمبران داهل او عیال مالکان جوړوي څومره پیغمبران عليهم السلام چي مخکي تیر سوي دي او چي په دوی کي دنبوت تاسي هم قائل یاست دغو ټولو ډیري بیبیاني درلودې او صاحب اولاده وه دانبوت اورسالت یا بزرګی او ولایت خلاف ګڼل ناپوهي ده په حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي زه روژه هم نیسم او ماتوم یي هم الخ. (معارف القرآن ج۵ پ۳ ص۱۲۱)

آياتونه ۵۲ ۱۴ سُوْرَةُ إِبْرَاهِيْمَ مَكِّيَّةٌ ۷۲ ۷ کوعوي ۷

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓرٰ ۟ كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ اِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ

الٓرٰ	كِتٰبٌ	اَنۡزَلۡنٰهُ	اِلَيۡكَ	لِتُخۡرِجَ
الف لام را	(دا قرآن) یو کتاب دی	چې نازل کړی دی موږ	تاته	دپاره د دې چې راوباسې ته

الف لام را، (دا قرآن) یو کتاب دی چې نازل کړی (لیږلی) دی موږ تاته دپاره د دې چې راوباسې

النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ ۙ بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ

النَّاسَ	مِنَ	الظُّلُمٰتِ	اِلَى النُّوۡرِ	بِاِذۡنِ	رَبِّهِمۡ
خلک	له	تیارو د کفر څخه	رڼا د ایمان ته	په حکم (توفیق)	د رب د دوی

خلک (په دې کتاب سره) له تیارو د کفر څخه رڼا د ایمان ته په اذن (اراده، توفیق) د رب د دوی

اِلٰى صِرَاطِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَمِيۡدِ ۙ ۝١ اللّٰهِ الَّذِىۡ لَهٗ

اِلٰى	صِرَاطِ	الۡعَزِيۡزِ	الۡحَمِيۡدِ	اللّٰهِ الَّذِىۡ	لَهٗ
طرف د	لارې	د هغه الله ته چې ښه غالب دی	ښه تل ثناء ویلی سوی دی	هغه الله	چې خاص د ده ته دی

(طرف د) لارې د هغه الله ته چې ښه غالب دی ښه تل ثناء ویلی سوی دی، هغه الله چې خاص د ده ته دی

مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ

مَا	فِى السَّمٰوٰتِ	وَمَا فِى	الۡاَرۡضِ
هر هغه چې	په آسمانونو کښې دی	او هر هغه چې په	ځمکه کښې دی

هر هغه چې په آسمانونو کښې دی (له علویاتو) او هر هغه چې په ځمکه کښې دی (له سفلیاتو سره د آسمانونو او د ځمکو)

وَوَيۡلٌ لِّلۡكٰفِرِيۡنَ مِنۡ عَذَابٍ شَدِيۡدِ ۝٢

وَوَيۡلٌ	لِّلۡكٰفِرِيۡنَ	مِنۡ عَذَابٍ	شَدِيۡدِ
او خرابي (عذاب، مصیبت، اور) دی	دپاره د کفارو	له عذابه	سخته

او خرابي (عذاب، مصیبت، اور) دی دپاره د کفارو له عذابه سخته.

الٓرٰ كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ اِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ... د سورت ابراهيم علیه السلام اهداف او خصوصيات: دغه سورت د قرآن کریم څوارلسم سورت دی دا سورت مکي دی د هجرت څخه وړاندي نازل سوی دی بغیر د څو اياتونو څخه چي د هغو په باره کي اختلاف دی چي مکي دي او که مدني دي: د دې سورت په شروع کي د رسالت او نبوت او د دې د ځينو خاصيتونو بيان دی بيا د توحید مضمون او د دې د شواهدو بيان دی په دې سلسله کي د حضرت ابراهيم علیه السلام قصه ذکر سوېده او د دغې قصې په مناسبت سره و دغه سورت ته سورت ابراهيم ويل کیږي: (الٓرٰ) دا د حروفو مقطعاتو څخه دي چي د دې په باره کي منل سوې او بې غباره خبره داده چي سلف صالحينو کړې ده چي پر دې ايمان او يقين ساتی چي څه د دې څخه مراد دي بس هغه ځيني مراد دي ليکن د دغه الفاظو د معانيوو په تحقيق او تلاش پسې کيدل نه دي پکار (كتب انزلنه اليک) يعني دا هغه حق کتاب دی کم چي موږ ستا طرف ته نازل کړی دی او دا ډيري لوي مرتبې خاوند کتاب دی.
(معارف القرآن ج۵ پ۳ ص۱۲۷)

اَلَّذِيۡنَ يَسۡتَحِبُّوۡنَ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا عَلَى الۡاٰخِرَةِ

اَلَّذِيۡنَ	يَسۡتَحِبُّوۡنَ	الۡحَيٰوةَ	الدُّنۡيَا	عَلَى	الۡاٰخِرَةِ
هغه کفار چي	خوښوی	ژوندون	د دنیا	پر	آخرت

هغه کفار چي خوښوی (غوره کوی له ډيره حماقته) ژوندون لږ خسيس پر آخرت

وَيَصُدُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَيَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا ؕ اُولٰٓئِكَ

وَيَصُدُّوۡنَ	عَنۡ	سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَيَبۡغُوۡنَهَا	عِوَجًا	اُولٰٓئِكَ
او اړوی (خلگ)	له	لاری	د الله	او لټوی دوی دغی لاری ته	کوږوالی	دغه کسان

او اړوی (خلگ) له لاری د الله (چي دين او متابعت د رسول الله دی) او لټوی دوی دغی لاری ته کوږوالی، دغه کسان

فِيۡ ضَلٰلٍ بَعِيۡدٍ ③ وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا بِلِسَانِ

فِيۡ ضَلٰلٍ	بَعِيۡدٍ	وَمَآ اَرۡسَلۡنَا	مِنۡ رَّسُوۡلٍ	اِلَّا بِلِسَانِ
په گمراهی	لری کښی دی	او نه دی لیږلی موږ	هیڅ رسول	مگر خو په ژبه

په گمراهی لری کښی دی. او نه دی لیږلی موږ هیڅ رسول مگر خو په ژبه

قَوۡمِهٖ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡ ؕ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنۡ يَّشَآءُ

قَوۡمِهٖ	لِيُبَيِّنَ	لَهُمۡ	فَيُضِلُّ	اللّٰهُ	مَنۡ يَّشَآءُ
د قوم د ده	د پاره د دی چي بیان کړی	دوی ته	نو گمراه کوی	الله	هر هغه چي اراده وفرمائی

دقوم د ده د پاره د دی چي بیان کړی دوی ته (امر او نهی د الله)، نو گمراه کوی الله هر هغه چي اراده وفرمائی (د گمراهی ئی)

وَيَهۡدِيۡ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ④ وَلَقَدۡ

وَيَهۡدِيۡ	مَنۡ يَّشَآءُ	وَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ	الۡحَكِيۡمُ	وَلَقَدۡ
او هدایت کوی	هر هغه ته چي اراده وفرمائی	او هم دی	ښه قوی غالب دی	حکمت والا	او خامخا په تحقیق

او هدایت کوی هر هغه ته چي اراده وفرمائی (د هدایت ئی) او هم دی ښه قوی غالب دی حکمت والا. او خامخا په تحقیق

اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰى بِاٰيٰتِنَآ اَنۡ اَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ الظُّلُمٰتِ

اَرۡسَلۡنَا	مُوۡسٰى	بِاٰيٰتِنَآ	اَنۡ اَخۡرِجۡ	قَوۡمَكَ	مِنَ الظُّلُمٰتِ
لیږلی ؤ موږ	موسٰی	په ښکاره معجزو زموږ	چي راوباسه	قوم خپل	له تیارو (د جهالت او ظلمت)

لیږلی ؤ موږ موسٰی په ښکاره معجزو زموږ چي راوباسه قوم خپل له تیارو (د جهالت او ظلمت)

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا.. دعربي ژبي خصوصيات

عربي ژبه داسمان دفتري ژبه ده: قرآن کريم الله جَلَّ جَلَالُهٗ په عربي ژبه نازل کړی دی ځکه چي عربي ژبه دآسمان دفتري ژبه ده او بل طرفته دملايکو ژبه عربي ده، دلوح محفوظ ژبه عربي ده لکه چي دقرآن کريم دغه ايت پر دې باندي شاهد دی (بل هو قرآن مجيد فى لوح محفوظ) او جنت چي دانسانانو اصلي وطن دی او کم ته چي به دوی بيرته گرځي دهغه ژبه هم عربي ده حديث شريف کي دي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي (احبوا العرب من ثلاث لانّی عربي، والقرآن عربي، وكلام اهل الجنة عربي) يعني تاسي خلگ په درووجهو سره دعربو سره محبت کوی يودا چي زه عربي يم دويم داچي قرآن عربي دی او دريم داچي دجنتيانو ژبه عربي ده: په تفسير قرطبي وغيره کي دا هم دي چي دحضرت آدم عليه السلام ژبه په جنت کي عربي وه پرمځکه دنازليدو او دتوبې دقبليدو څخه وروسته په عربي ژبه کي يي څه رداو بدل وسو او سرياني ژبه بيا راپيدا سوه او خلگو بيا هغه ويل شروع کړه.

(معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۳۵)

اِلَى النُّوْرِ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

اِلَى النُّوْرِ	وَذَكِّرْهُمْ	بِاَيّٰىمِ	اللّٰهِ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ
رڼا ته (علم او یقین)	او وریاد کړه دوی ته	په ورځو	د الله	بیشکه!	په دغو کښې

رڼا ته او وریاد کړه (پند ورکړه دوی ته) په هغو سختو ورځو د الله، بیشکه! په دغو (سختیو او نعمتونو) کښې

لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

لَاٰيٰتٍ	لِّكُلِّ	صَبَّارٍ	شَكُوْرٍ	وَاِذْ	قَالَ	مُوْسٰى
خامخا دلائل د قدرت دی	د پاره د هر	ډیر صبر کوونکی	ډیر شکر کوونکی	او (یادکړه) هغه وخت	چې وویل	موسیٰ

خامخا دلائل د قدرت دی د پاره د هر ډیر صبر کوونکی ډیر شکر کوونکی. او (یاد کړه) هغه وخت چې وویل موسیٰ

لِقَوْمِهِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ مِّنْ

لِقَوْمِهِ	اذْكُرُوْا	نِعْمَةَ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	اِذْ اَنْجٰىكُمْ	مِّنْ
قوم خپل ته	یاد کړئ	نعمت	د الله	پر تاسی	کله چې خلاص ئې کړل نیکونه د تاسی	له

قوم خپل ته یاد کړئ نعمت د الله (چې احسان ئې کړی دی) پر تاسی کله چې خلاص ئې کړل نیکونه د تاسی له

اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْۗءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ

اٰلِ فِرْعَوْنَ	يَسُوْمُوْنَكُمْ	سُوْۗءَ	الْعَذَابِ	وَيُذَبِّحُوْنَ
تابعانو د فرعون څخه	چې رساوه به ئې تاسی ته	بد سخت	عذاب	او ذبح کول (وژل) به ئې

تابعانو (عملی) د فرعون څخه چې رساوه به ئې تاسی ته بد سخت عذاب او ذبح کول (وژل) به ئې

اَبْنَاۗءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَاۗءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَاۗءٌ

اَبْنَاۗءَكُمْ	وَيَسْتَحْيُوْنَ	نِسَاۗءَكُمْ	وَفِيْ ذٰلِكُمْ	بَلَاۗءٌ
واړه ځامن ستاسی	او ژوندی به پرېښودی د پاره د خدمت	لوڼی ښځی ستاسی	او په دی کښې	ابتلاوه

واړه ځامن ستاسی او ژوندی به ئې پرېښودی د پاره د خدمت لوڼی ښځی ستاسی، او په دی (حلالولو یا خلاصولو کی) ابتلاوه

مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَىِٕنْ

مِّنْ	رَّبِّكُمْ	عَظِيْمٌ	وَاِذْ	تَاَذَّنَ	رَبُّكُمْ	لَىِٕنْ
له جانبه	د رب ستاسی	ډیره لویه	او یاد کړه هغه وخت	چې خبر درکړ تاسی ته	رب ستاسی	په دی چې قسم دی که چیری

له جانبه د رب ستاسی ډیره لویه. او یاد کړه هغه وخت چې خبر درکړ تاسی ته رب ستاسی په دی چې قسم دی که چیری

وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ... حضرت موسیٰ ؑ ته حکم سوی وو چې خپل قوم ته ایام الله ورپه یادکړه: (ایام) مع د یوم ده چې مشهوره معنی یې دورځې ده لفظ د ایام الله د دوو معناوو د پاره استعمالیږي او دادواړي دلته مراد کیدای سي. اول: هغه خاص ورځي په کومو کي چې جنګ یا انقلاب راغلی وي لکه د بدر، یا احد، احزاب، حنین وغیره جهادونو واقعات یا پر تیرو امتونو د عذاب نازلیدو واقعات دي چې په دي کي لوی لوی قومونه نیست اونابود سول او په دې صورت کي د ایام الله یادولو څخه ددې قومونو د کفر د بد انجام څخه بیرول او خبردارول به وي. دوهمه معنی د ایام الله د الله ﷻ د نعمتونو او احسانونو هم راځي نو ددې د یادولو مقصد به داوي چې شریف انسان ته کله دیو محسن احسان ورپه یاد کړل سي نو هغه دده د مخالفت او نافرمانی څخه وشرمیږي. د قرآن مجید د اصلاح طریقه په عام طور سره داده چې کله یو حکم ورکوي نو ددې سره په دې حکم د عمل آسانولو تدبیرونه هم وربښوول کیږي الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۳ ص۱۳۹)

ع۲ ۱۴

شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي

شَكَرْتُمْ	لَأَزِيدَنَّكُمْ	وَلَئِن	كَفَرْتُمْ	إِنَّ	عَذَابِي
شکر وویست تاسی	نو خامخا زیات به کړم تاسی ته نعمت	او قسم دی که	بی قدری ناشکری وکړه تاسی	نو بیشکه!	عذاب زما

شکر وویست تاسی نو خامخا زیات به کړم تاسی ته نعمت او قسم دی که بی قدری ناشکری وکړه تاسی نو بیشکه! عذاب زما

لَشَدِيدٌ ۝ وَقَالَ مُوسَىٰ إِن تَكْفُرُوا أَنتُمْ وَمَن فِي الْأَرْضِ

لَشَدِيدٌ	وَقَالَ	مُوسَىٰ	إِن تَكْفُرُوا	أَنتُمْ	وَمَن	فِي الْأَرْضِ
خامخا ډیر سخت دی	او وویل	موسٰی	که کافران سئ	تاسی	او هر هغه څوک چی	په ځمکه کښی دی

خامخا ډیر سخت دی. او وویل موسٰی (ای قومه زما) که کافران سئ (بیقدری وکړئ) تاسی او هر هغه څوک چی په ځمکه کښی دی

جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ۝ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ

جَمِيعًا	فَإِنَّ	اللَّهَ	لَغَنِيٌّ	حَمِيدٌ	أَلَمْ يَأْتِكُمْ	نَبَأُ	الَّذِينَ
ټول	نو بیشکه!	الله	خامخا غنی دی	تل بنه ستایلی سوی	آیا نه دی راغلی تاسی ته	خبر	دهغو کسانو چی

ټول نو بیشکه! الله خامخا غنی دی تل بنه ستایلی سوی. آیا نه دی راغلی تاسی ته خبر دهغو کسانو چی

مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ ۛ وَالَّذِينَ

مِن قَبْلِكُمْ	قَوْمِ	نُوحٍ	وَعَادٍ	وَثَمُودَ	وَالَّذِينَ
پخوا له تاسی څخه وه	چی قوم	دنوح	او عاد	او ثمود (دی)	او هغه کسان

(تیر سوی دی) پخوا له تاسی څخه چی قوم د نوح او عاد (چی قوم د هود دی) او ثمود (چی قوم د صالح دی) او هغه کسان

مِن بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ۚ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم

مِن بَعْدِهِمْ	لَا يَعْلَمُهُمْ	إِلَّا	اللَّهُ	جَاءَتْهُمْ	رُسُلُهُم
چی وُ پس له دوی څخه	چی نه دی خبر پر دوی	مګر	یو الله	چی راوړی وه دوی ته	رسولانو د دوی

چی وُ پس له دوی څخه چی نه دی خبر پر دوی (هیڅوک) مګر یو الله، چی راوړی وو دوی ته رسولانو د دوی

بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا

بِالْبَيِّنَاتِ	فَرَدُّوا	أَيْدِيَهُمْ	فِي أَفْوَاهِهِمْ	وَقَالُوا	إِنَّا
ښکاره دلائل	نو رد کړل دوی	لاسونه خپل	په خولو خپلو کښی	او وویل دوی	چی بیشکه! موږ

ښکاره دلائل (دقدرت) نو رد کړل (وګرځول دغو کفارو) لاسونه خپل په خولو خپلو کښی او وویل دوی چی بیشکه! موږ

وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ... دشكر اداء كولو او نه اداء كولو نتيجې:

ددغه آيت په شروع كې لفظ دتأذن راغلى دى او دالفظ داعلان او اطلاع وركولو په معنى سره راځي. مطلب دآيت دادى چې دا خبره دیادولوده چې الله ﷻ دا عام اعلان كړى دى چې كه تاسو زما دنعمتونو شكر اداء كړى چې دغه تاسې زما په نافرمانيو او ناجائزو كارونو كې خرڅ نه كې او دخپلو عملونو او كارونو زما درضا مطابق دجوړولو كوشش وكړى نو زه به دغه نعمتونه نور در زيات كړم دازياتوالى دنعمتونو په مقدار كي هم كيداى سي او ددې په باقي او هميشه پاته كيدو كي هم كيداى سي: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې دكم سړي دشكر دادا كولو توفيق وسودى به هيڅكله په نعمتونوكي دبركت او زيادت څخه محرومه نه سي: اوبيا الله ﷻ فرمايي چې كه تاسو زما دنعمتونو ناشكري وكى نو زما عذاب سخت دى دناشكرى مطلب دادى چې دهغه په نافرماني او ناجائزه امورو كي مصرف كړي يا دده په فرائضو او واجباتو كي سستي وكړى. پاته بيان پر راروان مخ وګورى:

كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا

كَفَرْنَا	بِمَآ	اُرْسِلْتُمْ	بِهٖ	وَاِنَّا	لَفِيْ	شَكٍّ	مِّمَّا
كافران سوي يو	په هغه	چي ليږلي سوي يئ تاسي	په هغه سره	او بيشكه! موږ	خامخا په	شك شبهه كښي يو	له هغه (توحيد) څخه

كافران سوي يو په هغه چي ليږلي سوي يئ تاسي په هغه سره او بيشكه! موږ خامخا په شك شبهه كښي يو له هغه (توحيد) څخه

تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ⑨ قَالَتْ رُسُلُهُمْ اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ

تَدْعُوْنَنَآ	اِلَيْهِ	مُرِيْبٍ	قَالَتْ	رُسُلُهُمْ	اَفِي	اللّٰهِ	شَكٌّ
چي بولئ تاسي موږ	هغه ته	چي اچونكي په اضطراب كي دي	وويل	رسولانو د دوى	آيا په	الله كښي	شبهه او شک دى

چي بولئ تاسي موږ هغه ته چي واقع كوونكي دي. وويل رسولانو د دوى آيا په (وجود د) الله كښي شبهه او شک دى

فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ

فَاطِرِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	يَدْعُوْكُمْ	لِيَغْفِرَ لَكُمْ
چي پيدا كوونكى	دآسمانونو	او د ځمكى دى	بولي تاسي	دپاره د دى چي وبخښي تاسي ته

چي پيدا كوونكى د آسمانونو او د ځمكى دى (بلكه شك نسته) ، بولي تاسي (لره الله) دپاره د دى چي وبخښي تاسي ته

مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى قَالُوْٓا

مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ	وَيُؤَخِّرَكُمْ	اِلٰٓى	اَجَلٍ	مُّسَمًّى	قَالُوْٓا
بعضى له ګناهونو ستاسى	او چي مهلت دركړي تاسي ته	تر	وخته	معينه پورى	وويل (كفارو)

بعضى له ګناهونو ستاسى (حقوق الله دى) او چي مهلت دركړي تاسي ته تر وخته معينه پورى وويل (كفارو)

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا

اِنْ اَنْتُمْ	اِلَّا بَشَرٌ	مِّثْلُنَا	تُرِيْدُوْنَ	اَنْ تَصُدُّوْنَا	عَمَّا
چي نه يئ تاسي	مګر بشر، انسان	په شان زموږ	اراده لرئ تاسي	د دى چي منع كړئ واړوئ موږ	له هغو شيانو څخه

چي نه يئ تاسي مګر آدميان په شان زموږ اراده لرئ تاسي د دى چي منع كړئ واړوئ موږ له هغو شيانو څخه

كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ⑩ قَالَتْ لَهُمْ

كَانَ	يَعْبُدُ	اٰبَآؤُنَا	فَاْتُوْنَا	بِسُلْطٰنٍ	مُّبِيْنٍ	قَالَتْ	لَهُمْ
چي ؤ	چي عبادت به كاوه (دهغو)	پلرونو زموږ	نو راوړئ موږ ته	كوم دليل	ښكاره	وويل	دوى ته

چي ؤ چي عبادت به كاوه (دهغو) پلرونو زموږ نو راوړئ موږ ته كوم برهان ښكاره. وويل دوى ته

وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ... دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:

او دالله ﷻ د نعمتونو د ناشكرى عذاب په دنيا كي هم كيداى سي چي الله ﷻ داوركړى نعمت بيرته ورڅخه واخلي يا يي په داسي مصيبت كي ګرفتاره كي چي دهغه وركړي نعمت څخه بيا فايده وانه اخلي او په آخرت كي به هم په عذاب كي ګرفتاره وي: دلته دا خبره ديادوولوقابله ده چي په دې ايت كي الله ﷻ دشكر ګذاره بندګانو دپاره داجر او او ثواب او دنعمت دزياتوالي وعده وكړه او هغه يي هم په لفظ دتاكيدوكړه (لازيدنّكم) ليكن ددې په مقابله كي دناشكري كوونكو دپاره يي دا ونه فرمايل چي (لاعذبنّكم) يعني چي زه به خامخا تاسي ته عذاب دركوم بلكه صرف يي پر دومره ويلوباندي اكتفاء وكړه او داسي وفرمايل چي زما عذاب چاته ورسيږي هغه ډير سخت دى. دااشاره دې طرفته ده چي دهريوه ناشكره كس په عذاب كي ګرفتاره كيدل څه ضروري نه دي دمعافى امكان هم سته: الله ﷻ دي موږ ته دراكړو نعمتونو دشكر دادا كولو توفيق را نصيب كړي.

معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۴۲

المنزل

رُسُلُهُمْ اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى

رُسُلُهُمْ	اِنْ نَّحْنُ	اِلَّا بَشَرٌ	مِّثْلُكُمْ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يَمُنُّ	عَلٰى
رسولانو د دوی	نه يو موږ	مګر انسانان	په شان ستاسی	وليکن	الله	احسان کوی	پر

رسولانو د دوی (چې هو!) نه يو موږ مګر آدميان په شان ستاسی وليکن الله احسان کوی (په ايمان او نبوت سره) پر

مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَمَا كَانَ لَنَآ اَنْ نَّاْتِيَكُمْ

مَنْ يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ	وَمَا كَانَ	لَنَآ	اَنْ نَّاْتِيَكُمْ
هر چا چې اراده وفرمائی	له بندګانو خپلو	او نه ښائی	موږ ته	داچې راوړو موږ تاسی ته

هرچا چې اراده وفرمائی (د احسان دهغوی) له بندګانو خپلو، او نه ښائی موږ ته(او نه توانيږو) داچې راوړو موږ تاسی ته

بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑪

بِسُلْطٰنٍ	اِلَّا	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَعَلَى	اللّٰهِ	فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُؤْمِنُوْنَ
کوم دليل	مګر	په حکم	دالله سره	او خاص پر	الله	نو توکل دی وکړی	مؤمنان

کوم برهان مګر په اذن (حکم) دالله سره، او خاص پر الله نو توکل دی وکړی مؤمنان.

وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ؕ

وَمَا لَنَآ	اَلَّا نَتَوَكَّلَ	عَلَى	اللّٰهِ	وَقَدْ	هَدٰىنَا	سُبُلَنَا
او څه عذر دی موږ ته	په دی کښې چې توکل به نه کوو	پر	الله	حال داچې	ښوولی ئی دی موږ ته	لاری (د دين) زموږ

او څه عذر دی موږ ته په دی کښې چې توکل به نه کوو پر الله حال داچې ښوولی ئی دی موږ ته لاری (د دين) زموږ،

وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

وَلَنَصْبِرَنَّ	عَلٰى	مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا	وَعَلَى	اللّٰهِ	فَلْيَتَوَكَّلِ
او قسم دی چې صبر به وکړو خامخا	پر	ضرر رسولو د تاسی موږ لره	او خاص پر	الله	نو تل دی توکل وکړی

او قسم دی چې صبر به وکړو خامخا پر ضرر رسولو د تاسی موږ لره، او خاص پر الله نو تل دی توکل وکړی

الْمُتَوَكِّلُوْنَ ⑫ ۧ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ

۲ ع ۱۴

الْمُتَوَكِّلُوْنَ	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِرُسُلِهِمْ
توکل کوونکی	او وويل	هغو کسانو	چې کافران سوی وُ	رسولانو خپلو ته

متوکلان. او وويل هغو کسانو چې کافران سوی وُ رسولانو خپلو ته

اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ..انبياء عليهم السلام چې الله دنيا ته راليږلي وه هغه ټوله بشر او انسانان وه: په دغه آيت کې الله جل جلاله دخپلو انبياوو دهغه خبري حکايت کړی دی کمه چې دوی دکفارو دخبرو په جواب کې فرمايلې وه هغه دا چې انبياوو عليهم السلام ودوی ته وفرمايل چې موږ خپل بشريت منو چې واقعي موږ ستاسي په شان انسانان يو ليکن په بشريت او نبوت کې څه منافات نسته ځکه چې نبوت دالله جل جلاله يو اعلی درجه احسان دی او الله جل جلاله لره اختيار دی چې په خپلو بندګانو کې پر چا چې وغواړي دغه احسان فرمايي :اوداحسان دغير بشر سره دخاصوالي څه دليل نسته : او داخبره هم واوری چې موږ تاسي ته معجزې نه سو ښوولای بيله دخدای جل جلاله دحکمه څخه نو په دې سره ستاسو دټولو شبهاتو جواب وسواوبيا که پر دې سربيره بي هم تاسي نه منی او مخالفت کوی نو خير موږ ستاسو دمخالفت څخه نه بيريږوبلکي په الله جل جلاله باندي موږ باورکوو او پر الله جل جلاله باندي ټولو ايماندارو ته باورکول پکاردي او چونکي موږ هم ايمانداره يو اوايمان تقاضادتوکل کوي په دې موږهم دغه توکل اختيارو چې نور ستاسي په مقابل کي الله جل جلاله زموږ کارسازه دی.

معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۴۶

لَنُخۡرِجَنَّكُمۡ مِّنۡ اَرۡضِنَاۤ اَوۡ لَتَعُوۡدُنَّ فِيۡ مِلَّتِنَا

لَنُخۡرِجَنَّكُمۡ	مِّنۡ اَرۡضِنَاۤ	اَوۡ لَتَعُوۡدُنَّ	فِيۡ مِلَّتِنَا
چې خامخا وبه باسو موږ تاسې هرومرو	له مځکې خپلې	يا به خامخا وګرځئ تاسې هرومرو	په دين زموږ کښې

چې خامخا وبه باسو موږ تاسې هرومرو له مځکې خپلې يا به خامخا وګرځئ تاسې هرومرو په دين زموږ کښې

فَاَوۡحٰۤى اِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿١٣﴾

فَاَوۡحٰۤى	اِلَيۡهِمۡ	رَبُّهُمۡ	لَنُهۡلِكَنَّ	الظّٰلِمِيۡنَ
پس وحې وکړه	دوی ته	رب د دوی	چې هرومرو هلاک به کړو موږ	ظالمان

پس وحې وکړه دوی ته رب د دوی چې هرومرو هلاک به کړو موږ ظالمان،

وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ الۡاَرۡضَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ ؕ ذٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ

وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ	الۡاَرۡضَ	مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ	ذٰلِكَ	لِمَنۡ	خَافَ
او خامخابه او سوو موږ تاسې	په مځکه د دوی کښې	وروسته د دوی	دغه (حق دی)	دپاره د هغه چا	چې ويريږي

او خامخا به واوسوو موږ تاسې په مځکه د دوی کښې وروسته(دهلاک) د دوی ، دغه (حق دی) دپاره د هغه چا چې ويريږي

مَقَامِيۡ وَخَافَ وَعِيۡدِ ﴿١٤﴾ وَاسۡتَفۡتَحُوۡا

مَقَامِيۡ	وَخَافَ	وَعِيۡدِ	وَاسۡتَفۡتَحُوۡا
له دريدلو په مخ زما کښې	او ويريږي	له وعدې زما	او فيصله (فتح او نصرت) وغوښت دوئ

له دريدلو په مخ زما کښې او ويريږي له وعدې (دعذاب زما) . او فيصله (فتح او نصرت) وغوښت (انبياؤ)

وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيۡدٍ ﴿١٥﴾ مِّنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسۡقٰى مِنۡ مَّآءٍ

وَخَابَ	كُلُّ	جَبَّارٍ	عَنِيۡدٍ	مِّنۡ وَّرَآئِهٖ	جَهَنَّمُ	وَيُسۡقٰى	مِنۡ مَّآءٍ
او نامراده زيان کاره نا اميده سو	هر	يو متکبر	سر کښ	چې وروسته د هغه څخه	دوزخ دی	او ورڅښولې به سی	له اوبو

او نامراده زيان کاره نا اميده سو هر يو متکبر سر کښ. چې وړاندې د ده دوزخ دی او ورڅښولی به سی (پرې په زوره) له اوبو

صَدِيۡدٍ ﴿١٦﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيۡغُهٗ وَيَاۡتِيۡهِ الۡمَوۡتُ

صَدِيۡدٍ	يَّتَجَرَّعُهٗ	وَلَا يَكَادُ	يُسِيۡغُهٗ	وَيَاۡتِيۡهِ	الۡمَوۡتُ
نوو نو	چې غړپ غړپ به ئې څښې	او نه به وی نژدې	چې تير کړی هغه	او رابه سی ده ته	مرګ

(زوی وينې) چې غړپ غړپ به ئې څښې او نه به وی نژدې چې تير کړی هغه په اسانۍ سره ، او رابه سی ده ته (سختی) مرګ

مِّنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسۡقٰى مِنۡ مَّآءٍ.. عنادګروته به الله ﷻ ددنيا دعذاب څخه ماسوا داخرت عذاب هم ورکوي: دغه کم جبارين او عنادګر چې لوړ ذکر سويدي علاوه ددنيوي عذاب څخه ده ته په وړاندي ددوږخ هم سته يعني عذاب يي راتلونکی دی او ده ته به په دوږخ کي داسي او به چيښلو ته ورکول کيږي کمي چي به ويني زوی وي يعني دويني او زووبو په شان به وي کمي چي به ډيري تندي څخه غړپ غړپ کوي او چيښي به يي او ډيري ګرمی او بدوالي څخه به يي دمری څخه تيرول ګران وي هيڅ صورت به يي دتيروولو نه وي او دهر څلور طرفه څخه به پرده سامان دمرګ راځي اودی به په هيڅ شان سره نه مري بلکي دغسي به په عذابيږي او بيا داسي هم نه ده چي داذکر سوی عذاب به پريو حالت وي بلکي داسړی به دنورزيات سخت عذاب سره برابر مخامخ کيږي چي ددي سره دعادت کيدو احتمال پکښي دسره نه وي لکه چي دغه قول دالله ﷻ دی (كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُوۡدُهُمۡ بَدَّلۡنٰهُمۡ جُلُوۡدًا غَيۡرَهَا ..) الله ﷻ دي پناه ځيني راکړي.
(معرف القرآن ج٥ پ٣ ص١٤٧)

مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ

عَذَابٌ	وَّرَآئِهٖ	وَمِنْ	بِمَيِّتٍ	وَّمَا هُوَ	مَكَانٍ	مِنْ كُلِّ
عذاب	وروسته ده ځنې	او له	مړكيدونكى	حال دا چې نه به وى دى	طرف	له هر

له هر طرف (او له هر ځايه) حال دا چې نه به وى دى مړكيدونكى (چې په آرام سى) او له شا او په مخ ده كښې به عذاب

غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ

اَعْمَالُهُمْ	بِرَبِّهِمْ	كَفَرُوْا	الَّذِيْنَ	مَثَلُ	غَلِيْظٌ
عملونه د دوى	په رب خپل باندى	چې كافران سوى دى	دهغو كسانو	مثال	ډير سخت وى

ډير سخت وى. مثال (حال - صفت) د هغو كسانو چې كافران سوى دى په رب خپل باندى عملونه د دوى

كَرَمَادِ ِۨاشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ؕ

عَاصِفٍ	فِيْ يَوْمٍ	الرِّيْحُ	بِهِ	اشْتَدَّتْ	كَرَمَادِ ِ
سخت او ښووروونكى وى باد ئې	په هغه ورځ چې	باد	پر هغې	چې سخت را والوځى	په شان د ايرى دى

په شان د (ډيرى د) ايرى دى چې سخت را والوځى پرى باد په هغه ورځ چې سخت او ښووروونكى وى باد ئې،

لَا يَقْدِرُوْنَ مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ

الضَّلٰلُ	هُوَ	ذٰلِكَ	عَلٰى شَيْءٍ	كَسَبُوْا	مِمَّا	لَا يَقْدِرُوْنَ
گمراهي ده	هم دغه	دا (گمان د نيكى د دوى)	په هيڅ شى	چې كړى دى دوى	دهغو عملونو	نه به قادريږى دوى

نه به قادريږى دوى دهغو عملونو چې كړى دى دوى په هيڅ شى، دا (گمان د نيكى د دوى) هم دغه گمراهي ده

الْبَعِيْدُ ﴿۱۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

وَالْاَرْضَ	السَّمٰوٰتِ	خَلَقَ	اللّٰهَ	اَنَّ	اَلَمْ تَرَ	الْبَعِيْدُ
او مځكه	آسمانونه	پيدا كړى دى	الله	چې بيشكه!	آيا نه وينى	لرى (له حقه)

لرى (له حقه). آيا نه وينى (نه پوهيږى اى ليدونكيه!) چې بيشكه! الله پيدا كړى دى آسمانونه او مځكه (او مافيهما)

بِالْحَقِّ ؕ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۹﴾

جَدِيْدٍ	بِخَلْقٍ	وَيَاْتِ	يُذْهِبْكُمْ	اِنْ يَّشَاْ	بِالْحَقِّ
نوى	نور خلگ	او را به ولى	نو بو به ځى تاسى	كه اراده وفرمائى	په حقه سره

په حقه سره كه اراده وفرمائى (الله د هلاكولو) نو بو به ځى تاسى په (مړينه سره) او را به ولى نور خلگ نوى (پيدا به ئې كړى).

مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ.. دكافرانو چي هر څومره نيک اعمال وي دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد مقبول نه دي: الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي چي ددغه كافرانو كه دخپل نجات متعلق داگمان وي چي زموږ عملونه به موږ ته نفع راكي نو ددې قاعده كليه دا واورى چي كم خلگ دخپل پروردگار سره كفركوي ددوى حالت په اعتبار دعمل دادى يعني ددوى دعملونو داسي مثال دى لكه څه ايره چي وي چي په الوتلو كي ډيره سپكه وي كمه چي دتيزي سيلى اوباد په ورځ په تيزى سره هوا والوزوي چي په دې صورت كي به ددغي ايرې نوم هم پاته نه سي دغه شان دې خلگو چي كم عملونه كړي وه ددې هيڅ حصه يعني ډيره كمه نفع او اثر به دوى ته حاصل نه سي ددې ايرې په شان به ضائع او برباد سي دا هم ډيره لويه او اوږده گمراهي ده چي گمان يي وو چي زموږ عمل نيک او نافع دي او بيا ښكاره سي بد او مضر: لكه عبادت دبتانو او ياغير نافع لكه ازادول د غلامانو او صله رحمي او چونكي دحق څخه ددې ډيرليري والى دى الخ.

معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۴۹

وَّمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيۡزٍ ۝٢٠ وَبَرَزُوۡا لِلّٰهِ جَمِيۡعًا فَقَالَ

وَّمَا ذٰلِكَ	عَلَى	اللّٰهِ	بِعَزِيۡزٍ	وَبَرَزُوۡا	لِلّٰهِ	جَمِيۡعًا	فَقَالَ
او نه دی دغه	په	الله باندی	سخت او مشکل	او ظاهر به سی دوی	الله ته	ټول	نو وبه وائی

او نه دی دغه (هلاک د تاسی او پیدا کول د نورو) په الله باندی سخت او مشکل. او ظاهر به سی دوی الله ته ټول، نو وبه وائی

الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡۤا اِنَّا كُنَّا لَكُمۡ تَبَعًا

الضُّعَفٰٓؤُا	لِلَّذِيۡنَ	اسۡتَكۡبَرُوۡۤا	اِنَّا	كُنَّا لَكُمۡ	تَبَعًا
کمزوران	هغو کسانو ته	چی کبر لوئي به ئی کوله	چی بیشکه! موږ	وو تاسی ته	(په دنیا کښی) تابعان

کمزوران (د کفارو) هغو کسانو ته چی کبر لوئي به ئی کوله (په کفر کی) چی بیشکه! موږ وو تاسی ته (په دنیا کښی) تابعان

فَهَلۡ اَنۡتُمۡ مُّغۡنُوۡنَ عَنَّا مِنۡ عَذَابِ اللّٰهِ مِنۡ شَيۡءٍ ؕ قَالُوۡا

فَهَلۡ	اَنۡتُمۡ	مُّغۡنُوۡنَ	عَنَّا	مِنۡ عَذَابِ	اللّٰهِ	مِنۡ شَيۡءٍ	قَالُوۡا
نو آیا اوس	ئی تاسی	دفع کوونکی	له موږ څخه	له عذابه	د الله څخه	څه شی	نو وبه وائی

نو آیا اوس ئی تاسی دفع کوونکی له موږ څخه له (دغه اخروی) عذابه د الله څخه څه شی، نو وبه وائی (دغه مشرکان)

لَوۡ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَيۡنٰكُمۡ ؕ سَوَآءٌ عَلَيۡنَاۤ

لَوۡ هَدٰىنَا	اللّٰهُ	لَهَدَيۡنٰكُمۡ	سَوَآءٌ	عَلَيۡنَاۤ
که هدایت کړی وی موږ ته	الله	نو خامخا هدایت به کړی وای موږ تاسی ته	برابر دی (اوس)	پر موږ

که هدایت کړی (لاربنوونه) وی موږ ته الله نو خامخا هدایت (لاربنوونه) به کړی وه موږ تاسی ته، برابر دی (اوس) پر موږ

اَجَزِعۡنَاۤ اَمۡ صَبَرۡنَا مَا لَنَا مِنۡ مَّحِيۡصٍ ۝٢١ وَقَالَ الشَّيۡطٰنُ لَمَّا

اَجَزِعۡنَاۤ	اَمۡ	صَبَرۡنَا	مَا لَنَا	مِنۡ	مَّحِيۡصٍ	وَقَالَ	الشَّيۡطٰنُ	لَمَّا
چی آیا شور،فریاد وکړو؟	یا که	صبر وکړو	نسته موږ ته	هیڅ	ځای د خلاصی	او وبه وائی	شیطان	کله چی

چی آیا شور، فریاد وکړو؟ یا که صبر وکړو نسته موږ ته هیڅ ځای د خلاصی. او وبه وائی شیطان کله چی

قُضِيَ الۡاَمۡرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ الۡحَقِّ وَوَعَدۡتُّكُمۡ

قُضِيَ	الۡاَمۡرُ	اِنَّ	اللّٰهَ	وَعَدَكُمۡ	وَعۡدَ	الۡحَقِّ	وَوَعَدۡتُّكُمۡ
فیصله سی	امر	بیشکه! چی	الله	وعده کړی وه له تاسی سره	وعده	د حق	او وعده کړی وه ما له تاسی سره

فیصله سی امر په قیامت کی بیشکه! چی الله وعده کړی وه له تاسی سره (په دنیا کښی) وعده د حق او وعده کړی وه ما له تاسی سره

وَبَرَزُوۡا لِلّٰهِ جَمِيۡعًا فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا... د قیامت په ورځ به ټوله مخلوقات د الله ﷻ په حضور کي پیش سي:
په دغه آیت کي الله ﷻ فرمایي چي د قیامت په ورځ به ټول د خدای ﷻ په وړاندي پیش سي بیا به د کښتي درجي خلګ یعني عوام او تابعین د لوی درجي خلګو ته یعني خواص او متبوعینو ته په طور د ملامتي او عتاب به وایي چي موږ په دنیا کي ستاسي تابع وو تر دي چي ستاسي له لاره تاسي موږ ته ووله پر هغه موږ روان وو او نن پر موږ مصیبت دی وآیا تاسي د خدای ﷻ د عذاب څه حصه زموږ څخه لیري کولای سی هغه به په جواب کي ورته وایي چي موږ ستاسي څه حفوظ کولای سو موږ په ځیله نه سو محفوظه میدای که چیري الله ﷻ سوږ ته یوه بله لاره محفوظه کیدو وښوول نو لا موږ به تاسي ته هم دغه د محفوظه کیدو ښوولای او اوس خو زموږ ټولو په حق کي دواړه ورتونه برابر دي برابره خبره ده که پریشانه کیږو که ستاسي د پریشاني څخه چي ظاهره ده چي د عذاب د لیري کیدو ناري وهي او که نه پریشانه کیږو الخ.
(معارف القرآن ج۵پ۳ ص۱۴۹)

ع ۱۵
۳

فَاَخۡلَفۡتُكُمۡ ؕ وَمَا كَانَ لِیَ عَلَیۡكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ اِلَّاۤ اَنۡ

فَاَخۡلَفۡتُكُمۡ	وَمَا كَانَ	لِیَ عَلَیۡكُمۡ	مِّنۡ سُلۡطٰنٍ	اِلَّاۤ	اَنۡ
بیا نو وعده خلافي وکړه ما ستاسي سره	او نه ؤ ماته	پر تاسي	هیڅ حکومت	مګر	دا قدر

بیا نو خلاف مې وکړله تاسي سره (په وعده کښې)، او نه ؤ ماته پر تاسي هیڅ حکومت (او غلبه) مګر دا قدر

دَعَوۡتُكُمۡ فَاسۡتَجَبۡتُمۡ لِیۡ ۚ فَلَا تَلُوۡمُوۡنِیۡ وَلُوۡمُوۡۤا

دَعَوۡتُكُمۡ	فَاسۡتَجَبۡتُمۡ	لِیۡ	فَلَا تَلُوۡمُوۡنِیۡ	وَلُوۡمُوۡۤا
چې وبللئ ماتاسي	نو قبول کړ تاسي دعوت	زما	نو مه ملامتوئ تاسو ما	او ملامت کړئ

چې وبللئ ماتاسي (ګمراهی ته) نو قبول کړ تاسي (په تشو غلو لو سره) دعوت زما، نو مه ملامتوئ تاسو ما او ملامت کړئ

اَنۡفُسَكُمۡ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُصۡرِخِیَّ ؕ اِنِّیۡ

اَنۡفُسَكُمۡ	مَاۤ اَنَا	بِمُصۡرِخِكُمۡ	وَمَاۤ اَنۡتُمۡ	بِمُصۡرِخِیَّ	اِنِّیۡ
نفسونه خپل	نه یم زه	اوس فریاد رس ستاسي	او نه یئ تاسي	فریاد رس زما	بیشکه زه

نفسونه (ځانونه) خپل نه یم زه او س فریادرس (له عذابه خلاصوونکی) ستاسي او نه یئ تاسي فریاد رس زما، بیشکه زه

كَفَرۡتُ بِمَاۤ اَشۡرَكۡتُمُوۡنِ مِنۡ قَبۡلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِیۡنَ

كَفَرۡتُ	بِمَاۤ	اَشۡرَكۡتُمُوۡنِ	مِنۡ قَبۡلُ	اِنَّ	الظّٰلِمِیۡنَ
کافر یم	له هغه	اشراکه دتاسي مالره	پخوا ترد ی	بیشکه! چي	ظالمان

کافر (منکر بیزاره یم) له هغه اشراکه دتاسي مالره (له الله سره په طاعت کښې) پخوا، (فرمائي الله) بیشکه! چي ظالمان

لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۲۲﴾ وَاُدۡخِلَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

لَهُمۡ	عَذَابٌ	اَلِیۡمٌ	وَاُدۡخِلَ	الَّذِیۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا
سته دوی ته	عذاب	ډیر دردناک	او داخل به کړی سی	هغه کسان	چي ایمان ئې راوړی دی	او کړی ئې دی

سته دوی ته عذاب ډیر دردناک. او داخل به کړی سی هغه کسان چي ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ

الصّٰلِحٰتِ	جَنّٰتٍ	تَجۡرِیۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	خٰلِدِیۡنَ
ښه (عملونه)	په جنتونو کښې	چي بهیږي	لاندي له هغو	ویالي	په دي حال چي همیشه به وي دوي

ښه (عملونه) جنتونو کښې چي بهیږي لاندي له (ماڼیو او ونو د) هغو (ځلور قسمه) ویالي په دي حال چي همیشه به وي دوي

وَمَا كَانَ لِیَ عَلَیۡكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ اِلَّاۤ... دقیامت په ورځ به کافران په شیطان هم پسي سي او ملامت به یي کړي: کله چي په قیامت کي ټولي مقدمي فیصله سي یعني ایماندار جنت ته او کافران دوږخ ته ولیږل سي نو دوږخیان به ټوله په شیطان پسي سي چي دی به هم هلته وي او ملامت به یي کي چي کم بخته ته خو ډوب وې موږ دي هم ډوب کړو دځانه سره نو دغه وخت به شیطان په جواب کي ووايي چي تاسي ما په ناحقه ملامتوی ځکه چي الله ﷻ ستاسي سره ځومره وعدي کړي وي ټولي رشتیا وعدې یي کړي وي چي په قیامت کي به پر کفر هلاکت وي او پر ایمان به نجات وي او ماهم وعده ستاسي سره کړیوه چي قیامت نسته او دا ستاسي طریقه دکفر دنجات طریقه ده نو ما دغه وعدې ستاسي سره خلاف کولې او د الله ﷻ دوعدو پر حقوالي اوزما دوعدوپر باطلوالي باندي قطعي دلیلونه قایم وه خو سره ددې تاسي زما وعده صحیح وبلله او د الله ﷻ ریښتیني وعده مو دراواغ وبلله اودا ستاسي دهلاکت سبب جوړ سو.

معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۵۰

فِيۡهَا بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ ؕ تَحِيَّتُهُمۡ فِيۡهَا سَلٰمٌ ﴿۲۳﴾

فِيۡهَا	بِاِذۡنِ	رَبِّهِمۡ	تَحِيَّتُهُمۡ	فِيۡهَا	سَلٰمٌ
په دغو کښې	په حکم	د رب د دوی	پیشکشي د دوی	په دغه جنت کښې	لفظ د سلام وی

په دغو (جنتونو کښې) په اذن د رب د دوی، پیشکشي د دوی (په وخت د ملاقات کښې) په دغه جنت کښې لفظ د سلام وی.

اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ

اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ	ضَرَبَ	اللّٰهُ	مَثَلًا	كَلِمَةً	طَيِّبَةً	كَشَجَرَةٍ	طَيِّبَةٍ
آیا وینی ته څرنګه	بیانوی	الله	یو مثال	کلمه	پاکیزه	په شان د هغی ونی	پاکیزه

آیا وینی ته (ای بنده) څرنګه بیانوی الله یو مثال کلمه پاکیزه (چې لا اله الا الله ده) په شان د هغی ونی پاکیزی (د خرما ده)

اَصۡلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرۡعُهَا فِي السَّمَآءِ ﴿۲۴﴾ تُؤۡتِيۡۤ

اَصۡلُهَا	ثَابِتٌ	وَّفَرۡعُهَا	فِي السَّمَآءِ	تُؤۡتِيۡۤ
چې بیخ د دی	خښ (ټینګ) وی	او ښاخګی ئی	په آسمان کښې (تللی) وی	چې ورکوی (دا ونه)

چې بیخ د دی خښ وی (په مځکه کښې) او ښاخګی ئی (پورته) په (جانب د) آسمان (تللی) وی، چې ورکوی (دا ونه)

اُكُلَهَا كُلَّ حِيۡنٍۭ بِاِذۡنِ رَبِّهَا ؕ وَيَضۡرِبُ اللّٰهُ الۡاَمۡثَالَ لِلنَّاسِ

اُكُلَهَا	كُلَّ	حِيۡنٍۭ	بِاِذۡنِ	رَبِّهَا	وَيَضۡرِبُ	اللّٰهُ	الۡاَمۡثَالَ	لِلنَّاسِ
خوراک خپل	هر	مقرر وخت	په حکم	د رب خپل	او بیانوی	الله	مثالونه	د پاره د خلګو

خوراک (میوه) خپله هر مقرر وخت په اذن (حکم) د رب خپل، او بیانوی الله مثالونه د پاره د خلګو

لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۲۵﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيۡثَةٍ كَشَجَرَةٍ

لَعَلَّهُمۡ	يَتَذَكَّرُوۡنَ	وَمَثَلُ	كَلِمَةٍ	خَبِيۡثَةٍ	كَشَجَرَةٍ
د پاره د دی چې دوی	پند ځنې واخلی	او مثال	د کلمی	خبیثې	په شان د هغی ونی

د پاره د دی چې دوی پند پری واخلی. او مثال د کلمی خبیثې (چې کلمه د کفر ده) په شان د هغی ونی

خَبِيۡثَةِ ۟اجۡتُثَّتۡ مِنۡ فَوۡقِ الۡاَرۡضِ مَا لَهَا مِنۡ قَرَارٍ ﴿۲۶﴾

خَبِيۡثَةِ	اجۡتُثَّتۡ	مِنۡ فَوۡقِ	الۡاَرۡضِ	مَا لَهَا	مِنۡ قَرَارٍ
خبیثې دی	چې ایستلی سوی وی	له سره	د مځکی	چې نه وی دی ته	هیڅ قدر قرار

خبیثې دی چې ایستلی سوی وی له سره د مځکی چې نه وی دی ته هیڅ قدر قرار (ثبات استحکام).

اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً..د مومن او د ده د عملونو یو مثال الله ﷻ بیانوي: په دغه آیت کي الله ﷻ د مومن او د ده د عملونو مثال دیوې داسي درختي سره ورکړی دی چي تنه یي مضبوطه او لوړه وي او ریښې یي په مځکه کي ژوري تللي وي او تر مځکي لاندي د چینو په اوبو اوبه کیږي د ژورو ریښو په وجه سره دا درخته مضبوطه او مستحکمه وي چي د هوا په ځپو نسي لویدای او په مځکه کي د سطحي څخه د پورته تلو په وجه سره د دې میوه د ګندګی څخه پاکه وي: دویم صفت یي د دې درختي دا ذکر کی چي د دې ښاخونه په لوړوالي کي د آسمان طرف ته ختلي وي دریم صفت یي د دې درختي دا بیان کی چي د دې میوه په هر وخت او په هر حال کي خوړه کیږي: دا درخته کمه او کم ځای ده د دې متعلق د مفسرینو روایتونه مختلف دي خو زیاته راجح خبره دا ده چي دا د خرما درخته ده د دې په تایید کي تجربه او مشاهده هم ده او د احادیثو د روایاتو څخه هم د دې تایید کیږي چي دا د خرما درخته ده.
معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۵۴

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ

يُثَبِّتُ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	بِالْقَوْلِ	الثَّابِتِ
مضبوطوی	الله	هغه کسان	چې ایمان ئې راوړی دی	په خبره	ثابته سره

مضبوطوی الله هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی په خبره ثابته سره

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ

فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَفِي الْاٰخِرَةِ	وَيُضِلُّ	اللّٰهُ	الظّٰلِمِيْنَ
په ژوندون	د دنیا کښې	او په آخرت کښې	او بنوبوی	الله	ظالمان

په ژوندون د دنیا (په وخت د فتنې او مرګ) کښې او په آخرت کښې (یعنې په قبر کښې) او بنوبوی الله ظالمان .

وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿۲۷﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

وَيَفْعَلُ	اللّٰهُ	مَا يَشَآءُ	اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ
او کوی	الله	هر هغه څه چې اراده وفرمائی	آیا نه ګوری ته	هغه کسانو ته چې

او کوی الله هر هغه څه چې اراده وفرمائی . آیا نه ئې خبر نه ګوری ته هغو کسانو (دکفارو) ته چې

بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ

بَدَّلُوْا	نِعْمَةَ	اللّٰهِ	كُفْرًا	وَّاَحَلُّوْا	قَوْمَهُمْ
بدل کړی ئې دی	نعمت	دالله	په ناشکری سره	او راښکته (کښته) کړی دی دوی	قوم خپل

بدل کړی ئې دی نعمت دالله په ناشکری سره (په اختیار د کفر) او راښکته کړی دی دوی قوم خپل

دَارَ الْبَوَارِ ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿۲۹﴾

دَارَ الْبَوَارِ	جَهَنَّمَ	يَصْلَوْنَهَا	وَبِئْسَ	الْقَرَارُ
په کور د هلاک کښې	چې دوزخ دی	داخل به سی دوی په هغه کښې	او بد ځای	د قرار او هستوګنې دی

په کور د هلاک کښې، چې دوزخ دی ، داخل به سی دوی په هغه کښې ، او بد ځای د قرار او هستوګنې دی (دا دوزخ) .

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ قُلْ

وَجَعَلُوْا	لِلّٰهِ	اَنْدَادًا	لِّيُضِلُّوْا	عَنْ سَبِيْلِهٖ	قُلْ
او ګرځولی ؤ دوی	الله ته	شریکان	دپاره د دی چې ګمراه کړی	له لاری (دتوحید) دالله څخه	ووایه (ای محمده!)

او ګرځولی ؤ دوی الله ته شریکان د پاره د دی چې ګمراه کړی (واړوی خلګ) له لاری (دتوحید) دالله ، ووایه (ای محمده)

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ.. دقبر عذاب او ثواب د قران او حدیث څخه ثابت دي: حدیث دادی چې نبي کریم ﷺ فرمايي چې کله په قبر کې د مومن څخه سوال وسي نو په داسي هیبتناک او سخت حال کې به هم دی دالله ﷻ په تایید سره پردې کلمه قایم وي او د (لااله الا الله محمد رسول الله) شهادت به ورکړي اوبیا فرمايي چې دقرآن کریم ددغه ارشاد او آیت هم دغه مطلب دی: دغه شان تقریبا دڅلوېښتو صحابه کرامو ﷺ څخه په معتبرو سندونو سره ددې مضمون حدیثونه نقل سویدي کم چې امام ابن کثیر رحمه الله دلته په خپل تفسیر کې نقل کړیدي او شیخ جلال الدین سیوطي رحمه الله په خپله رساله (التثبیت عند التبییت) کې او په شرح صدور کې یې داویا احادیثو حواله نقل کړیده او دې روایتونو ته یې متواتر فرمایلي دي دي تولو حضراتو صحابه کرامو ﷺ په ذکر سوي آیت کې دآخرت څخه مراد قبر او دغه آیت یې دقبر د عذاب او ثواب سره متعلق مقرر کړی دی خوافسوس پر هغه کسانو چې اوس هم ځیني منکره دي. معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۵۶

ع ۱۶

تَمَتَّعُوْا فَاِنَّ مَصِيْرَكُمْ اِلَى النَّارِ ۝٣٠ قُلْ

تَمَتَّعُوْا	فَاِنَّ	مَصِيْرَكُمْ	اِلَى النَّارِ	قُلْ
چې نفعه واخلئ تاسې	نو بیشکه!	بیرته ورتله ستاسې	اورد دوزخ ته دی	وواېه (ای محمده!)

چې نفعه واخلئ تاسې (په شهواتو سره په دنیا کښې) نو بیشکه! بیرته ورتله ستاسې او ر د دوزخ ته دی. وواېه (ای محمده!)

لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا

لِّعِبَادِيَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	يُقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ	وَيُنْفِقُوْا	مِمَّا
بندګانو زما ته	هغو ته چې	ایمان ئې راوړی دی	چې سم دې دروی	لمونځ	او ورکړه دې کوی	ځینې له هغه ماله

هغو بندګانو زما ته چې ایمان ئې راوړی دی چې سم دې دروی (ادا کړی) لمونځ او ورکړه دې کوی ځینې له هغه ماله

رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ

رَزَقْنٰهُمْ	سِرًّا	وَّعَلَانِيَةً	مِّنْ قَبْلِ	اَنْ يَّاْتِيَ	يَوْمٌ
چې ورکړی دی موږ دوی ته	په پټه	او په ښکاره	مخکې تر دې	چې راسی	هغه ورځ

چې ورکړی دی موږ دوی ته په پټه (که مستحب ؤ) او په ښکاره (که فرض ؤیا واجب) پخوا له راتلو دهغې ورځې

لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ۝٣١ اَللّٰهُ الَّذِيْ

لَّا بَيْعٌ	فِيْهِ	وَلَا خِلٰلٌ	اَللّٰهُ	الَّذِيْ
چې نسته رانیول او خرڅول	په هغې کښې	او نه دوستي	الله	هغه ذات دی

چې نسته سودا پلورل (خرڅول) او پیرودل (اخستل) په هغې کښې او نه دوستي. الله هغه ذات دی چې

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ

خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَاَنْزَلَ	مِنَ	السَّمَآءِ
چې پیدا کړی ئې دی	آسمانونه	او ځمکه	او نازلی کړی ئې دی	له طرفه	دآسمانه

پیدا کړی ئې دی آسمانونه او ځمکه (او مافیهما) او نازلی کړی ئې دی (له طرفه) د آسمانه

مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ

مَآءً	فَاَخْرَجَ	بِهٖ	مِنَ الثَّمَرٰتِ	رِزْقًا لَّكُمْ	وَسَخَّرَ
اوبه	نو راېستلی ئې دی	په دی اوبو سره	له هر قسمه میوو څخه	رزق تاسی ته	او مسخر (تابع) کړی دی

اوبه ، نو راېستلی ئې دی په دی اوبو سره له هر قسمه میو څخه رزق (روزی) تاسی ته ، او مسخر (تابع) کړی دی

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ... هغه ورځ راتلونکې ده چې نه به مال او نه به دوستي فائده ورکوي : مطلب دادی چې نن خو الله جل جلاله د فرصت طاقت درکړی دی چې لمونځ ادا کې او که په تیر عمر کې درڅخه غفلت سوی وي لمونځ درڅخه قضا سوی وي نو بیا یې قضا وکړی : همداشان نن مال ستا په لاس او قبضه کې دی دا د الله جل جلاله د پاره یې خرڅ کې او د همیشه ژوند کار په جوړولای سې لیکن هغه ورځ نږدې راتلونکې ده کله چې دا دواړه قوتونه او قدرتونه ستا څخه واخیستل سي نه به ستا بدن د لمونځ کولو قابل سي او نه به ستا په لاس کې څه مال پاته سي چې ضائع سوي حقونه په ادا کړل سي او په دغه ورځ به اخیستل او خرڅول هم نه سي کیدای چې ته یو شی واخلې او د خپلو کوتاهیو او ګناهونو کفاره یې کړې او په دغه ورځ به دیو بل په مینځ کې دوستي او تعلقات هم پکار نه راځي هیڅ عزیز دوست به د چا د ګناهونو بار پورته نه کړي او نه به د ده څخه عذاب په څه طور سره لیري کړی سي د خپل کړي عمل بدله به ویني.
معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۶۱

لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهٖ وَسَخَّرَ لَكُمُ

لَكُمُ	الْفُلْكَ	لِتَجْرِيَ	فِي الْبَحْرِ	بِأَمْرِهٖ	وَسَخَّرَ لَكُمُ
تاسی ته	بیړی	دپاره ددی چی ګرځی	په بحرکښی	په امر دغه سره	او مسخر کړی دی تاسی ته

تاسی ته بیړی دپاره د دی چی ګرځی په سیند کښی په امر (حکم) د دغه (الله) سره او مسخر کړی (لګولی) دی تاسی ته

الْأَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ

الْأَنْهٰرَ	وَسَخَّرَ	لَكُمُ	الشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	دَآئِبَيْنِ
ویالی	او مسخر کړی دی	دپاره دمنافعو ستاسی	لمر	او سپوږمی	په دی حال چی ګرځیدونکی دی سم له دستوره سره

ویالی او مسخر کړی دی دپاره د منافعو ستاسی لمر او سپوږمی په دی حال چی ګرځیدونکی دی سم له دستوره سره برابر،

وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ

وَسَخَّرَ	لَكُمُ	الَّيْلَ	وَالنَّهَارَ	وَاٰتٰىكُمْ	مِّنْ كُلِّ
او په کار کښی ئی لګولی دی	تاسی ته	شپه	او ورځ	او درکړی دی تاسی ته	ځینی له هر

او په کار کښی ئی لګولی دی تاسی ته شپه او ورځ، او درکړی دی تاسی ته ځینی له هر

مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

مَا سَاَلْتُمُوْهُ	وَاِنْ	تَعُدُّوْا	نِعْمَتَ	اللّٰهِ
هغه شی چی سوال کړی دی تاسی دهغه	او که	وشمیرئ تاسی	نعمت	دالله

هغه شی (شئ) چی سوال کړی دی تاسی دهغه (شی سم له مصلحته)، او که وشمیرئ تاسی (تول) نعمت د الله

لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾ وَاِذْ

لَا تُحْصُوْهَا	اِنَّ	الْاِنْسَانَ	لَظَلُوْمٌ	كَفَّارٌ	وَاِذْ
نو و به نه شمیرلی سئ تاسی دا نعمتونه د الله	بیشکه!	انسان	خامخا لوی ظالم	دیر ناشکره دی	او هغه وخت چی

نو و به نه شمیرلی سئ تاسی دا نعمتونه د الله بیشکه! انسان خامخا لوی ظالم دیر ناشکره دی. او (یادکړه) هغه وخت چی

قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ

قَالَ	اِبْرٰهِيْمُ	رَبِّ	اجْعَلْ	هٰذَا	الْبَلَدَ	اٰمِنًا	وَّاجْنُبْنِيْ	وَبَنِيَّ
وویل	ابراهیم	ای ربه زما	وګرځوه	دا	ښار	امن والا	او لری وساته ما	او ځامن زما

وویل ابراهیم ای ربه زما وګرځوه دا ښار (د مکی) امن والا او لری وساته ما او ځامن زما

وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ.. کم څه چي دغوښتلو قابل دي هغه الله جل جلاله موږ ته راکړي دي يعني الله جل جلاله درکی تاسي ته دهر هغه شي څخه چي تاسي غوښتل که څه هم دالله جل جلاله ورکړه او بخشش دچا پر غوښتلو باندي موقوفه نه ده موږ خو داخپل وجود هم نه وو غوښتی مگر هغه په خپل فضل سره بې غوښتلو راکی (مانبوديم وتقاضا ما نبود -- لطف تو ناګفته مامي شنود) موږ نه وو او نه زموږ تقاضا وه ستا مهربانيو ای خدايه ناويلي ارزوګاني زموږ اوريدلې: دغه شان داسمان ،مځکي سپوږمی ،لمروغيره پيداکولو دعا چاغوښتې وه ؟ داهرڅه مالک موږ ته بې غوښتلو راکړه: دغه شان قاضي بيضاوي رحمة الله عليه ددې لفظ دا معنی بيان کړيده چي الله جل جلاله تاسي ته هر هغه شی درکړی دی کم چي دغوښتلو قابل دی که څه هم تاسي غوښتلی نه وي ليکن که دالفاظو ظاهري معنی مراد وي نو هم هيڅ اشکال نسته چي په عام طور سره انسان چي څه غواړي او دڅه طلب کوي اکثره دته ورکول کيږي او دالله جل جلاله ده ورکړې خزانې فراخه دي.
معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۶۳

ع ۵
۱۷

أَنْ نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا

أَنْ نَّعْبُدَ	الْأَصْنَامَ	رَبِّ	إِنَّهُنَّ	أَضْلَلْنَ	كَثِيرًا
له دې څخه چې عبادت به کوو	د بتانو	اې ربه زما	بیشکه! دغو (بتانو)	ګمراه کړي دي ډیر	ډیر

له دې څخه چې عبادت به کوو دبتانو. اې ربه زما بیشکه! دغو (بتانو) لغزولي دي ډیر

مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ

مِّنَ النَّاسِ	فَمَنْ	تَبِعَنِي	فَإِنَّهُ	مِنِّي	وَمَنْ
له خلکو	نو هر چا چي	متابعت کړی دی زما	نو بیشکه! هغه له	(اهل دملت) زما دی	او هر چا چي

له خلکو نو هر چا چي متابعت کړی دی زما نو بیشکه! هغه له (اهل دملت) زما دی، او هر چا چي

عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ

عَصَانِي	فَإِنَّكَ	غَفُورٌ	رَّحِيمٌ	رَبَّنَا	إِنِّي	أَسْكَنْتُ
نافرماني کړې ده زما	نو بیشکه! چي ته ئی	ښه بخښونکی	ډیر رحم والا	اې ربه زمونږ	بیشکه! چي ما	اوسولی دی

نافرماني کړې ده زما نو بیشکه! چي ته ئی ښه بخښونکی ډیر رحم والا. اې ربه زمونږ بیشکه! چي ما اوسولی دی

مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ

مِنْ ذُرِّيَّتِي	بِوَادٍ	غَيْرِ	ذِي	زَرْعٍ	عِنْدَ	بَيْتِكَ
ځینی له اولاد خپل	په داسې یوه شله (ناوه) کښې	چې نه دی	خاوند	دکښت (فصل)	په نزد	دکوټې ستا

ځینی له اولاد خپل په داسې یوه وادی (ناو) کښې چې نه دی خاوند د کښت (فصل) په نزد د کوټې ستا

الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَوٰةَ فَاجْعَلْ

الْمُحَرَّمِ	رَبَّنَا	لِيُقِيمُوا	الصَّلَوٰةَ	فَاجْعَلْ
چې حرمت (عظمت) والا ده	اې ربه زمونږ	د دې دپاره چې سم ودروی	لمونځ	نو وګرځوه (مائل کړه)

چې حرمت (عظمت) والا ده اې ربه زمونږ (ومې اوسول دوی دلته) د دې دپاره چې سم ودروی لمونځ نو وګرځوه (مائل کړه)

أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ

أَفْئِدَةً	مِّنَ النَّاسِ	تَهْوِي	إِلَيْهِمْ	وَارْزُقْهُمْ	مِّنَ
زړونه	دخلکو	چې مایله وی	دوی ته	او رزق روزی ورکړه دوی ته	له

زړونه د ځینو خلکو په مینه چې راڅغلي (په محبت سره) دوی ته او رزق روزی ورکړه دوی ته له

أَنْ نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ..

دحضرت ابراهیم عليه السلام ددعا ذکر چي دمکې دښار او دځان او اولاد دپاره يي کړې وه: داهغه وخت دی چي دمکې ښار اباد سوی دی او بیا يي دوې دعاوې وکړلې اوله دعاداده چي اې خدایه دا ځای دامن جوړ کړې دوهمه دعا داده چي اې خدایه ماو زما اولاد دبت پرستی څخه وساتې: انبیاء عليهم السلام که څه هم چي دګناهونو څخه معصوم او پاک دي ددوی څخه شرک او بت پرستي بلکې هیڅ ګناه هم نه کیږي مګر دلته حضرت خلیل عليه السلام په دې دعا کې خپل ځان هم شامل کی ددې وجه یا خوداده چي دطبعي بیري په بناسره انبیاء عليهم السلام هم هروخت خپل ځانونه په خطره کې محسوسوي یا دا چي اصل مقصد دخپل اولاد دشرک او بت پرستی څخه دمحفوظ کولو دعا کول وه اولاد ته ددې داهمیت دښوولو دپاره يي ځان هم په دعا کې شامل کی الله جل جلاله دخپل خلیل دعا قبوله وفرمایله ددوی اولاد دشرک اوبت پرستی څخه محفوظ پاته سو تر نته پوري تاسي وینی چي ټوله جزیره عرب دشرکه څخه پاکه ده.

معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۶۸

الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُوۡنَ ۝٣٧ رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعۡلَمُ

الثَّمَرٰتِ	لَعَلَّهُمۡ	يَشۡكُرُوۡنَ	رَبَّنَآ	اِنَّكَ	تَعۡلَمُ
هر قسمه میوو شخه	دپاره د دی چی	دوی شکر وباسی	ای ربه زمونږ	بیشکه! چی تاته	معلوم دی

هر قسمه میوو شخه دپاره د دی چی دوی شکر وباسی. ای ربه زمونږ بیشکه! چی تاته معلوم دی

مَا نُخۡفِيۡ وَمَا نُعۡلِنُ ؕ وَمَا يَخۡفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنۡ شَيۡءٍ

مَا نُخۡفِيۡ	وَمَا نُعۡلِنُ ؕ	وَمَا يَخۡفٰى	عَلَى	اللّٰهِ	مِنۡ شَيۡءٍ
هغه چی پټوو ئی موږ	او هغه چی ښکاره کوو ئی	او نه دی پټ	پر	الله باندی	هیڅ شی

هغه چی پټوو ئی موږ او په هغه چی ښکاره کوو ئی، او نه دی پټ پر الله باندی هیڅ څیز (شی)،

فِي الۡاَرۡضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۝٣٨ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ

فِي الۡاَرۡضِ	وَلَا فِي السَّمَآءِ	اَلۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ
(نه) په مځکه کښی	او نه په آسمان کښی	(ټول صفت او) ثناء ده (هغه)	الله لره

(نه) په مځکه کښی (له سفلیاتو شخه) او نه په آسمان کښی (له علویاتو شخه). (ټول صفت او) ثنا ده (هغه) الله لره

الَّذِيۡ وَهَبَ لِيۡ عَلَى الۡكِبَرِ اِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ ؕ اِنَّ

الَّذِيۡ	وَهَبَ لِيۡ	عَلَى الۡكِبَرِ	اِسۡمٰعِيۡلَ	وَاِسۡحٰقَ	اِنَّ
چی	رابخښلی یئ دی ماته	سره د زوړوالی	اسماعیل	او اسحاق	بیشکه! چی

چی رابخښلی دی ماته سره له زوړ والی اسماعیل او اسحاق، بیشکه! چی

رَبِّيۡ لَسَمِيۡعُ الدُّعَآءِ ۝٣٩ رَبِّ اجۡعَلۡنِيۡ مُقِيۡمَ الصَّلٰوةِ

رَبِّيۡ	لَسَمِيۡعُ	الدُّعَآءِ	رَبِّ	اجۡعَلۡنِيۡ	مُقِيۡمَ	الصَّلٰوةِ
رب زما	خامخا ښه اوریدونکی	د دعاء دی	ای ربه زما	وګرځوی ما	همیشه قایموونکی	د لمانځه

رب زما خامخا ښه اوریدونکی د دعاء دی. ای ربه زما وګرځوی ما همیشه قائموونکی د لمانځه (سره له ټولو حقوقو ئی)

وَمِنۡ ذُرِّيَّتِيۡ ۖ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ۝٤٠ رَبَّنَا

وَمِنۡ ذُرِّيَّتِيۡ	رَبَّنَا	وَتَقَبَّلۡ	دُعَآءِ	رَبَّنَا
او له اولادی زما هم	ای ربه زمونږ	او قبول کړی	دعاء زما	ای ربه زمونږ

او له اولادی زما (هم ګلک کړی پر لمانځه) ای ربه زمونږ او قبوله کړی دعاء زما. ای ربه زمونږ

رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِيۡ وَمَا نُعۡلِنُ... دابراهیم عليه السلام د دعا تکمله: په دغه آیت کي دحضرت ابراهیم عليه السلام ددعا تکمله ذکر ده حضرت ابراهیم عليه السلام دالله جل جلاله دعلم محیط حواله ورکړې ده او لفظ د (ربّنا) یي دزاری او عاجزی دپاره مکرر راوړی دی: معنی داده چي ای الله ته زموږ دهر حاله شخه واقف یي او زموږ دزړه او باطني حالاتو او ظاهري عرض او معروض هر شه شخه خبرداره یي: دباطني کیفیاتو شخه مرادهغه غم او فکر دی کم چي دشیدو ماشوم بچی او دده دمور پر ډاګ میدان باندي دپریښودو او ددوی دجدایي په وجه په فطري طور سره لاحق کیدی: اوظاهري عرض او معروض شخه دحضرت ابراهیم عليه السلام دعا او دحضرت هاجرې رضي الله عنها هغه کلمې مراد دي کمي چي دی دالله جل جلاله دحکم خبري واوریدې او وې وویل چي کله الله جل جلاله تاته حکم کړی دی نو هغه زموږ دپاره کافي دی هغه به موږ هم ضائع نه کړي: دآیت په آخر کي دعلم الهي ددې وسعت زیات بیان دی چي زموږ ظاهر او باطن خه چي په مځکه او آسمانونو کي دي د الله جل جلاله شخه پټ نه دي.

معارف القرآن ج ۵ پ ۱۳ ص ۱۷۵

ع ۱۸ / ۲

اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ ع

اغْفِرْ لِي	وَلِوَالِدَيَّ	وَلِلْمُؤْمِنِينَ	يَوْمَ	يَقُومُ	الْحِسَابُ
بخښنه وکړی ماته	او مور او پلار زما ته	او مؤمنانو ته	په هغه ورځ	چي قائميږي	حساب

بخښنه وکړی ماته او مور او پلار زما ته او مؤمنانو ته په هغه ورځ (دقیامت کښي) چي قائميږي حساب.

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ

وَلَا تَحْسَبَنَّ	اللَّهَ	غَافِلًا	عَمَّا	يَعْمَلُ	الظَّالِمُونَ
او مه کوه ګمان	په الله	چي غافل دی	له هغو کارونو	چي کوی ئی	ظالمان

او مه کوه ګمان (ای انسانه) په الله چي غافل (بې خبره) دی له هغو کارونو چي کوی ئی ظالمان،

إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾

إِنَّمَا	يُؤَخِّرُهُمْ	لِيَوْمٍ	تَشْخَصُ	فِيهِ	الْأَبْصَارُ
بیشکه! هم داخبره ده	چي وروستی کوی دوی	هغې ورځې ته	چي خلاصي به پاتي وی	په هغه کښي	سترګې

بیشکه! هم داخبره ده چي وروستی کوی دوی هغې ورځې ته چي خلاصي به پاتي وی (له ډیری ویرې) په هغه کښي سترګې

مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ

مُهْطِعِينَ	مُقْنِعِي	رُءُوسِهِمْ	لَا يَرْتَدُّ	إِلَيْهِمْ
چي منډې وهونکی به وی	چي جګ نیوونکی به وی	د سرونو خپلو	بیرته به نه ګرځي	دوی ته

چي منډې وهونکی به وی دا (مخلوقات) چي جګ (اوچت) نیوونکی به وی د سرونو خپلو بیرته به نه ګرځي دوی ته

طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ

طَرْفُهُمْ	وَأَفْئِدَتُهُمْ	هَوَاءٌ	وَأَنذِرِ	النَّاسَ	يَوْمَ
رپول د سترګو د دوی	او زړونه د دوی به	به تش وی	او بیروه	خلک	له هغې ورځې څخه

رپول د سترګو د دوی، او زړونه د دوی به تش وی (له عقله او فهمه). او بیروه (ای رسوله زما) خلک له هغې ورځې څخه

يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا

يَأْتِيهِمُ	الْعَذَابُ	فَيَقُولُ	الَّذِينَ	ظَلَمُوا
چي رابه سی دوی ته	عذاب	نو وبه وائي	هغه کسان	چي ظلم ئی کړی دی

چي را به سی دوی ته عذاب (چي قیامت یا مرګ دی) نو وبه وائي هغه کسان چي ظلم ئی کړی دی (په شرک او تکذیب سره)

اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ..دحضرت ابراهیم علیه السلام یوه جامع دعا: په دغه ایت کي الله ﷻ دحضرت ابراهیم علیه السلام دهغه جامع دعا حکایت کړی دی کمه چي ده دخپل دعا په آخر کي فرمایله ارشاد فرمایي (ربّنا اغفرلي ولوالدی وللمؤمنين يوم يقوم الحساب) يعني اې زما پروردګاره زما او زما دمور اوپلار او دټولو مومنانو مغفرت وفرمایه په هغه ورځ کله چي به په محشر کي دټول ژوند دعملونو حساب اخیستل کیږي: ده مبارک په دغه دعا کي خپل مور او پلار هم ذکر کړل او حال دادی چي دده دپلار کافروالي په قرآن کي ذکر سوی دی چي آزر دده پلار کافر وو جواب دادی چي کیدای سي دادعا یي هغه وخت کړې وي کله چي حضرت ابراهیم علیه السلام دکافرانو دسفارش او دبخښي څخه نه وو منع سوی لکه بل ځای چي په قرآن کریم کي دي فرمایي (اغفرلابي انه کان من الضالين) خدایه زما پلار ته بخښنه وکي بیشکه دی دګمراهانو څخه دی: دذکر سوو ایاتونو څخه ددعا آداب هم معلوم سول چي باربار وي اوپه عاجزی اوزاری سره وي.
معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۷۶

رَبَّنَآ اَخِّرۡنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيۡبٍۙ نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ

رَبَّنَآ	اَخِّرۡنَآ	اِلٰٓى	اَجَلٍ	قَرِيۡبٍ	نُّجِبۡ	دَعۡوَتَكَ	وَنَتَّبِعِ
ای ربه زموږ	وروستی کړه موږ	تر	نیټی	نژدی پوری	چی قبوله کړو	بلنه ستا	او متابعت وکړو

ای ربه زموږ وروستی کړه (مهلت راکړه) موږ ته تر نیټی نژدی پوری چی قبوله کړو بلنه ستا او متابعت وکړو

الرُّسُلَؕ اَوَلَمۡ تَكُوۡنُوۡۤا اَقۡسَمۡتُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ مَا لَـكُمۡ

الرُّسُلَ	اَوَلَمۡ تَكُوۡنُوۡۤا	اَقۡسَمۡتُمۡ	مِّنۡ قَبۡلُ	مَا لَـكُمۡ
د رسولانو	آیا نه وئ تاسو	چی قسم به کاوه تاسی	پخوا له دی څخه	چی نشته تاسی ته

د رسولانو ، (وبه فرمائی الله) آیا نه وئ تاسو چی قسم به کاوه تاسی پخوا له دی څخه (په دنیا کښی) چی نشته تاسی ته

مِّنۡ زَوَالٍۙ ۝۴۴ وَّسَكَنۡتُمۡ فِىۡ مَسٰكِنِ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ

مِّنۡ زَوَالٍ	وَّسَكَنۡتُمۡ	فِىۡ مَسٰكِنِ	الَّذِيۡنَ	ظَلَمُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ
هیڅ زوال	او اوسیدلی وئی تاسی	په کورونو	دهغو کسانو کښی	چی ظلم ئی کړی وو	پر ځانونو خپلو

هیڅ زوال. او اوسیدلی وئی تاسی په کورونو دهغو کسانو کښی چی ظلم ئی کړی وو پر ځانونو خپلو

وَتَبَيَّنَ لَـكُمۡ كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ

وَتَبَيَّنَ	لَـكُمۡ	كَيۡفَ	فَعَلۡنَا	بِهِمۡ
او ښکاره سوی ده	تاسی ته	چی څرنګه	کار کړی ؤ موږ	په دوی باندی

(په کفر او معاصیو سره) او ښکاره سوی ده تاسی ته (دغه خبره) چی څرنګه کار کړی ؤ موږ په دوی باندی

وَضَرَبۡنَا لَـكُمُ الۡاَمۡثَالَ ۝۴۵ وَقَدۡ مَكَرُوۡا مَكۡرَهُمۡ

وَضَرَبۡنَا	لَـكُمُ	الۡاَمۡثَالَ	وَقَدۡ	مَكَرُوۡا	مَكۡرَهُمۡ
او بیان کړی وه موږ	تاسی ته	مثالونه	او په تحقیق سره	مکر کړی دی دوی	مکر خپل

(دعذابه او اهلاکه) او بیان کړی ؤ موږ تاسی ته مثالونه. او په تحقیق سره کوښښ دمکر او فریب وکړ دوی

وَعِنۡدَ اللّٰهِ مَكۡرُهُمۡؕ وَاِنۡ كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُوۡلَ

وَعِنۡدَ اللّٰهِ	مَكۡرُهُمۡ	وَاِنۡ كَانَ	مَكۡرُهُمۡ	لِتَزُوۡلَ
احال دا چی د الله سره ده	(جزاء د) مکر د دوی	او نه ؤ	مکر (فریب) د دوی	چی له ځایه به بیرته سی

مکر او فریب خپل حال دا چی د الله سره ده (جزاء د) مکر د دوی، او نه ؤ مکر (فریب) د دوی چی له ځایه به بیرته سی

وَّسَكَنۡتُمۡ فِىۡ مَسٰكِنِ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡۤا.. دعربو ومشرکینو ته خطاب: ظاهره دلته داده چي دا خطاب دعربو ومشرکینو ته دی دکمو دپاره چي نبي کریم ﷺ ته حکم سوی دی (انذرالناس) یعني وبیروی تاسي دغه خلګ: په دې خطاب کي یي دوی ته خبر ورکړی دی چي دتیرو قومونو حالات او انقلابات ستاسي دپاره غوره وعظونه دي تعجب دی چي تاسي ددې څخه عبرت نه حاصلوی حال دادی چي تاسي دد ې هلاک سوو قومونو په کورونو کي اوسی او په کښي ګرځی راګرځی او تاسي ته څه حالات په لیدلو سره او څه په متواترو خبرونو سره داهم معلومه سویده چي الله جل جلاله ددوی دنافرمانیو په وجه سره پردوی څنګه سخت عذاب نازل کی او موږ هم ستاسي پر لاره دراوستو دپاره ډیر مثالونه بیان کړل بیا هم تاسي په هوښ کي نه راځی: او تاسي ای کفارو دحق دین دخرابولو دپاره او دحق ددعوت قبلوونکو مسلمانانو دآزار ولو او تکلیف رسولو دپاره ډیر زیات تدبیرونه او کوششونه وکړل خو الله جل جلاله تولسه ناکامه او نامراده کړل.
(معارف القرآن ج۵ پ۳ ص۱۸۱)

مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿۴۶﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ

مِنْهُ	الْجِبَالُ	فَلَا تَحْسَبَنَّ	اللّٰهَ	مُخْلِفَ
له دغه مکره	غرونه	نو مه کوه گمان	په الله باندی	دخلاف کوونکی

له دغه مکره غرونه (له ځیله ځایه). نو مه کوه گمان په الله باندی دخلاف کوونکی

وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۴۷﴾

وَعْدِهٖ	رُسُلَهٗ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَزِيْزٌ	ذُو انْتِقَامٍ
د وعدی خپلی	درسولانو خپلو سره	بیشکه!	الله	ډیر غالب ښه قوی دی	څیښتن د انتقام

د وعدی خپلی رسولانو خپلو سره، بیشکه! الله ډیر غالب ښه قوی دی څیښتن (خاوند) د انتقام (سخت عذاب له اعداء الله)

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ

يَوْمَ	تُبَدَّلُ	الْاَرْضُ	غَيْرَ	الْاَرْضِ	وَالسَّمٰوٰتُ
(یاد کړه) هغه ورځ	چی بدله به کړه سی	دغه مځکه	په بلی	مځکی سره	او آسمانونه (به هم بدل کړی سی)

(یاد کړه) هغه ورځ چی بدله به کړه سی (په کښی) دغه مځکه په بلی مځکی سره او آسمانونه به هم بدل کړی سی

وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾ وَتَرَى

وَبَرَزُوْا	لِلّٰهِ	الْوَاحِدِ	الْقَهَّارِ	وَتَرَى
او راوبه وځی دوی	الله ته	چی یو	ښه غالب ډیر قوی دی	او وینی به ته

او را وبه وځی (ټول خلک له قبرونو) الله ته چی یو ښه غالب ډیر قوی دی. او وینی به ته

الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۴۹﴾

الْمُجْرِمِيْنَ	يَوْمَئِذٍ	مُّقَرَّنِيْنَ	فِي الْاَصْفَادِ
دغه گنهگاران	په دغه ورځ کښی	چی تړلی سوی به وی	یو له بل سره په ځولنو کښی

دغه گنهگاران (کافران) په دغه ورځ کښی چی تړلی سوی به وی یو له بل سره په ځولنو (غاړکیو او ځنځیرونو) کښی.

سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ

سَرَابِيْلُهُمْ	مِّنْ قَطِرَانٍ	وَّتَغْشٰى	وُجُوْهَهُمُ
قمیصونه د دوی به	له گوگړو وی	او پټ به کړی	مخونه د دوی

قمیصونه د دوی له نانزړو (له گوگړو) به وی او پټ به کړی مخونه د دوی

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ. دقیامت دورځي دهیبتناکو حالاتو او واقعاتو ذکر: یعني دقیامت ورځ به داسي وي چي په دي کي به موجوده مځکه هم بدله کړل سي او اسمان هم او ټول به دالله ﷻ واحد اوقهار په مخ کي حاضر سي: دمځکي او اسمان دبدليدو دامعنی هم کيدای سي چي ددوی صفتونه او شکل صورت بدل کړل سي لکه چي دقرآن کريم په نورو اياتونو اوپه روايتونو دحديثو کي دي چي ټوله مځکه به يوه همواره سطح جوړه کړل سي چي نه به په کښي ديو کور پناه وي نه درخته وغيره نه به څه غر اوشله وي اونه غارونه اوژوره: قرآن کريم ددې حال داسي ذکر فرمايلی دی (لاترى فيها عوجا ولاامتا) يعني دآباديو اوغرونو په وجه سره چي کم نن سبا لار او سړکونه کاږه واږه تيريږي يو ځای لوړ دی يو ځای ژور دی داصورت به پاته نه سي بلکه ټوله به يو هوار ميدان سي: او دمځکي اوآسمان دتبديلی دا معنی هم کيدای سي چي بالکل به ددغه مځکي په بدله کي بله مځکه اوددې اسمان په بدل کي بل اسمان جوړ سي الخ.
معارف القرآن ج۵ پ۱۳ ص۱۸۲

النَّارُ ۝٥٠ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ؕ

النَّارُ	لِيَجْزِيَ	اللّٰهُ	كُلَّ	نَفْسٍ	مَّا كَسَبَتْ
اور (د دوزخ)	چې جزاء ورکړي	الله	هر يوه	نفس ته	د هغه عمل چې کړی يې وی

اور (د دوزخ). (راوځي له قبرونو دپاره د دې) چې جزاء ورکړي الله هر يوه نفس ته (جزاء) د هغه عمل چې کړی يې وی

اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝٥١ هٰذَا بَلٰغٌ

اِنَّ	اللّٰهَ	سَرِيْعُ	الْحِسَابِ	هٰذَا	بَلٰغٌ
بيشکه!	الله	ډير ژر دی	حساب (د ده)	دغه قرآن	خبر رسونه ده

بيشکه! الله ډير ژر دی حساب (د ده). دغه قرآن خبر رسونه ده (کافي ده له جانبه د الله)

لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا

لِّلنَّاسِ	وَلِيُنْذَرُوْا	بِهٖ	وَلِيَعْلَمُوْٓا
دپاره د خلګو	او لپاره د دې چې وبيرولی سی	په (وعظ) د ده سره	او چې وپوهيږی دوی

دپاره د خلګو (چې پند واخلي) او لپاره د دې چې وبيرولی سی (خلګ) په (وعظ) د ده سره او چې وپوهيږی دوی په دی

اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٥٢ ع

ع ١١ / ١٩

اَنَّمَا	هُوَ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	وَّلِيَذَّكَّرَ	اُولُوا	الْاَلْبَابِ
چې بيشکه! خبره هم دا ده	چې الله	معبود	يو دی	او چې پند واخلي	خاوندان	دعقلونو خالصو

چې بيشکه! خبره هم دا ده چې الله معبود واحد دی (بې شريکه) او چې پند واخلي (تری) خاوندان دعقلونو خالصو.

أياتونه ٩٩ — ١٥ سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ ٥٤ — رکوعي ٦

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝١

الٓرٰ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	الْكِتٰبِ	وَقُرْاٰنٍ	مُّبِيْنٍ
الف لام را	دغه چې وروسته راځي	آياتونه	دکتاب دی	او د قرآن	چې واضح دی

الف لام را، دغه چې وروسته راځي آياتونه د کتاب دی او د قرآن چې واضح (بيانوونکی د حق او د باطل) دی.

لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ... دقيامت په ورځ به هر شخص ته دخپلو کړنو پوره پوره بدله ورکړه سي: په تفسير مظهري

کي دي چي دامځکه به راونغښتل سي دقيامت په ورځ او ددې په خوا کي به يوه بله مځکه وي چي پر هغې به خلګ دحساب او کتاب دپاره ودرول سي: په يوبل حديث شريف کي دي چي نبي کريم ﷺ ته يو يهودي عالم راغی او داسوال يې وکی چي کله دامځکه بدليږي نو انسانان به کم ځای وي د ﷺ ارشاد وفرمايه چي دپل صراط په خواه کي به يوه تياره وي په هغه کي به وي ددې څخه هم داسي معلوميږي چي دموجوده مځکي څخه به په ذريعه دپل صراط بل طرف ته خلګ منتقل کړی سي او ابن جرير په خپل تفسير کي دډيرو صحابه وو ﷺ څخه او تابعينو رحمهم الله دا اقوال نقل کړي دي: چي دغه وخت به موجوده مځکه او ددې ټول دريابونه اورسي ګواکي داټوله علاقه پرکمه چي اوس دنيا اباده دغه وخت به ده جهنم علاقه سي او حقيقت دحال الله جل جلاله ته معلوم دی دبنده دپاره داقرار څخه ماسوا بله چاره نسته.

معارف القرآن ج ٥ پ ١٣ ص ١٨٣

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ۝٢

مُسْلِمِيْنَ	لَوْ كَانُوْا	كَفَرُوْا	الَّذِيْنَ	يَوَدُّ	رُبَمَا
مسلمانان	چې کشکې وی دوی	چې کافران سوی دی	هغه کسان	آرزو کوی	ډیر ځلی به

ډیر ځلی به آرزو (تمنا) کوی هغه کسان چې کافران سوی دی (چې وینی خپل احوال) چې کشکې وی دوی مسلمانان.

ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ

فَسَوْفَ	الْاَمَلُ	وَيُلْهِهِمُ	وَيَتَمَتَّعُوْا	يَأْكُلُوْا	ذَرْهُمْ
نو ژر ده چې	اوږد امید	او مشغول کړی دوی	او ګټې فائدی اخلی	چې خوری	پریږده دوی

پریږده دوی (ای محمده) چې خوری او ګټې فائدی اخلی او مشغول کړی دوی اوږد امید (د ژوندون) نو ژر ده چې

يَعْلَمُوْنَ ۝٣ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ

كِتَابٌ	اِلَّا وَلَهَا	مِنْ قَرْيَةٍ	وَمَآ اَهْلَكْنَا	يَعْلَمُوْنَ
یو وخت	مګر خو دپاره دهغه به	له هیڅ کلی	او نه دی هلاک کړی موږ	پوه به سی

پوه به سی (په عاقبت خپل). او نه دی هلاک کړی موږ له (اهله د) هیڅ کلی مګر خو دپاره (دهلاک) دهغه به یو وخت

مَّعْلُوْمٌ ۝٤ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا

اَجَلَهَا	مِنْ اُمَّةٍ	مَا تَسْبِقُ	مَّعْلُوْمٌ
له وخته (دهلاک) خپل	هیڅ امت	نه مخکی (رومبی) کیږی	معلوم وو

معلوم وو (لیکلی په لوح محفوظ کښی). نه مخکی کیږی هیڅ امت له وخته (دهلاک) خپل

وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ۝٥ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ

عَلَيْهِ	نُزِّلَ	الَّذِيْ	يٰٓاَيُّهَا	وَقَالُوْا	وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ
پر هغه	چې نازل کړی سوی دی	هغه سړیه	ای	او ویلی (دغو کفارو محمد ته)	او نه (ځنی) وروستی کیږی

او نه (ترې) وروستی کیږی. او ویلی (دغو کفارو محمد ته) ای هغه سړیه چې نازل کړی سوی دی پر هغه

الذِّكْرُ اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ۝٦ لَوْ مَا تَاْتِيْنَا

لَوْ مَا تَاْتِيْنَا	لَمَجْنُوْنٌ	اِنَّكَ	الذِّكْرُ
ولی نه راولی موږ ته	خامخا لیونی ئی	بیشکه! ته	ذکر

ذکر (قرآن پند په زعم د منکرینو) بیشکه! ته خامخا لیونی ئی. ولی نه راولی موږ ته

ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ.. په دنیا کې صرف خوراک او چیښاک خپله مشغله جوړول د کفارو عمل کیدای سي: ددې آیت څخه معلومه سول چې خوړل او چیښل مقصد او اصلي مشغله جوړول او ددنیا دعیش او عیشرت په سامان کې دمرګ څخه بې فکره کیدل اوږدې منصوبې جوړول دکفارو څخه کیدای سي دکمو چې په آخرت او ددې په حساب او کتاب او جزا او سزا باندې ایمان نسته مومن هم خوراک او چیښاک کوي او دژوند دپاره په قدر دضرورت اسباب تیاروي او دراتلونکې کار و بار دپاره منصوبې هم جوړوي مګر په دې کارونو دمرګ او اخرت څخه غافله کیږي نه : په دې وجه په هر کار کې دحرامو او حلالو فکر کوي اوفضول منصوبه بندي خپله مشغله نه جوړوي : نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې څلور شیان د بدبختۍ او بد نصیبي نښې دي، دسترګو څخه اوښکې نه بهیدل (یعني په خپلو ګناهونو اوغفلتونو نه پښیمانه کیدل اونه ژړل)، او دزړه سختیدل ، اواوږده امیدونه، اوددنیا حرص. (معارف القرآن ج ۵ پ ۱۴ ص ۲)

بِالْمَلٰٓئِكَةِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ مَا نُنَزِّلُ

بِالْمَلٰٓئِكَةِ	اِنْ كُنْتَ	مِنَ الصّٰدِقِيْنَ	مَا نُنَزِّلُ
ملائيكي	كه ئې ته	له صادقانو	(نو په جواب كښې الله فرمائي) چې نه نازلوو موږ

ملائيكي (دپاره د تعذيب او تكذيب زموږ په تصديق د تا) كه ئې ته له صادقانو. (نو الله فرمائي) چې نه نازلوو موږ

الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا اِذًا مُّنْظَرِيْنَ ۝

الْمَلٰٓئِكَةَ	اِلَّا بِالْحَقِّ	وَمَا كَانُوْٓا	اِذًا	مُّنْظَرِيْنَ
ملائيكي	مگر په حق سره	او نه به وی	په دغه وخت كښې	مهلت وركړی سوی

ملائيكي مگر په حق (حكمت يا عذاب) سره او نه به وی په دغه وخت كښې مهلت وركړی سوی.

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝ وَلَقَدْ

اِنَّا	نَحْنُ	نَزَّلْنَا	الذِّكْرَ	وَاِنَّا	لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ	وَلَقَدْ
بيشكه! موږ	پخپله	نازل كړی دی	ذكر (پند قرآن)	او بيشكه! چې موږ	د ده خامخا ساتونكي يو	او خامخا په تحقيق

بيشكه! موږ پخپله نازل كړی دی ذكر (پند قرآن) او بيشكه! چې موږ د ده خامخا ساتونكي يو. او خامخا په تحقيق

اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ۝ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ

اَرْسَلْنَا	مِنْ قَبْلِكَ	فِيْ شِيَعِ	الْاَوَّلِيْنَ	وَمَا يَاْتِيْهِمْ	مِّنْ
ليږلي ؤ موږ (رسولان)	پخوا له تا	په ټوليو	دپخوانيو (خلكو) كښې	او نه به راتلي هغوی ته	هيڅ

ليږلي ؤ موږ (رسولان) پخوا له تا په ټوليو د پخوانيو (خلكو) كښې او نه به راته هغوی ته هيڅ

رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ

رَّسُوْلٍ	اِلَّا كَانُوْا	بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ	كَذٰلِكَ	نَسْلُكُهٗ
رسول	مگر حال دا چې وو به	چې په هغه پوری به ئې	مسخری كولې	هم داسې	ننه به باسو دغه (تمسخر)

رسول مگر حال دا چې وو به (دكبره او عناده) چې په هغه پوری به ئې مسخری كولې. هم داسې ننه به باسو دغه (تمسخر)

فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ

فِيْ قُلُوْبِ	الْمُجْرِمِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِهٖ	وَقَدْ	خَلَتْ
په زړونو	دمجرمينو	چې ايمان نه راوړی	په دغه	او په تحقيق	تيره سوی ده

په زړونو د مجرمينو (كفارو د زمانې ستاسې كښې هم). چې ايمان نه راوړی په دغه (نبي او قرآن) او په تحقيق تيره سوی ده

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ. دمامون ددربار يوه واقعه: امام قرطبي رحمة الله عليه دلته يوه واقعه دامير المؤمنين مامون ددربار نقل كړيده چې دمامون عادت وو چې كله كله به دده په دربار كي پر علمي مسئلو باندي بحث او مباحثي او مذاكري كيدلې چې په دي كي به هر عالم ته دراتلو اجازه وه په داسي يوې مذاكره كي يو يهودي هم راغی چې دصورت شكل او لباس وغيره په اعتبار سره يو ممتاز سړی معلوميدی بيا چې خبري يي وكړی هغه هم فصيحي او بليغي دعاقلانو خبري وې كله چې مجلس ختم سو نو مامون دی راوغوښتی او پوښتنه يي ورځخه وكړه چي ته اسرآئيلي يي ؟ هغه اقرار وكی چې هو نو مامون يي دامتحان اخيستو دپاره وويل چې كه ته مسلمان سوې نو موږ به ستا سره ډير ښه سلوك وكو ده جواب وركی چې زه خپل اود خپل پلاراو نيكه دين نه سم پريښوولی خبره ختمه سوه دا سړی ولاړی بيا يو كال وروسته دا سړی مسلمان سوی وو راغی اود مذاكري په مجلس كي يي داسلامي فقهي: پاته بيان پر راروان مخ باندي وگوری

لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا.. دتير مخ پاته بيان دلته وگورى: پر موضوع باندې بهترين تقرير وكى دمجلس دختميدو څخه وروسته مامون دى راوغوښتى ورته يي وويل چې ته هغه سړى يې كم چې تير كال راغلى وې ده جواب وركى چې هو هغه يمه مامون ورڅخه پوښتنه وكړه چې هغه وخت خو تا داسلام دقبلولو څخه انكار كړى وو بيا اوس دي د مسلمانيدو څه سبب سو؟ ده وويل چې كله زه ددې ځايه څخه ولاړم نو پر موجوده مذهبونو مې دتحقيق كولو اراده وكړه زه يو خطاط او خوشنويس يم چې كتابونه و ليكم نو په ډيره ښه قيمت سره خرڅيږي ما دامتحان كولو دپاره دتورات دري نسخې كتابت كړي چې په ډيرو ځايونو كې مې په كښې دخپل طرف څخه كمى او زياتى وكى او دا نسخې مې كنيسې ته د (يهوديانو عبادتخانې ته) يووړي يهوديانو په ډيره ښه مينه سره واخيستې بيا مې دغه شان دانجيل دري نسخې دكمي اوزيادت سره وليكلې دنصاراوو عبادتخانې ته مې يووړي هلته هم نصاراوو دا په ډيره ښه : پاته بيان پرراوان مخ وگورى:

سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ⑬ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا

سُنَّةُ	الْاَوَّلِيْنَ	وَلَوْ	فَتَحْنَا	عَلَيْهِمْ	بَابًا
طريقه	ډېرخوانيو (كفارو)	او كه	پرانستلې وي موږ	پر دغو	كومه دروازه

طريقه (عادت دالله په اهلاک) د پخوانيو (كفارو). او كه پرانستلې وي موږ پر دغو (غوښتونكو دمعجزو) كومه دروازه

مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ⑭ لَقَالُوْٓا

مِّنَ السَّمَآءِ	فَظَلُّوْا	فِيْهِ	يَعْرُجُوْنَ	لَقَالُوْٓا
له آسمانه	پس تل گرځيدلي وي دوى به	په هغه (دروازه) كښې	چې تل ختل (آسمان ته)	نو خامخا به ئې ويلي ؤ

له آسمانه پس تل گرځيدلي وي دوی په هغه (دروازه) كښې چې تل ختل (آسمان ته). نو خامخا به ئې ويلي ؤ (له ډيره عناده)

اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ⑮ ع

اِنَّمَا	سُكِّرَتْ	اَبْصَارُنَا	بَلْ نَحْنُ	قَوْمٌ	مَّسْحُوْرُوْنَ
بيشكه! هم داخبره ده	چې تړلي سوي دي	سترگې زموږ	بلكه موږ	يو قوم يو	چې جادو راباندې كړى دوى دى.

بيشكه! هم داخبره ده چې تړلي سوي دي سترگې زموږ بلكه موږ يو قوم يو چې جادو راباندې كړى دوی دی.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّزَيَّنّٰهَا

وَلَقَدْ	جَعَلْنَا	فِي السَّمَآءِ	بُرُوْجًا	وَّزَيَّنّٰهَا
او خامخا په تحقيق	پيدا كړي دي موږ	په آسمان كښې	برجونه	او ښائيسته كړي دي موږ دغه

او خامخا په تحقيق پيدا كړي دي موږ په آسمان كښې (دولس) برجونه او ښائيسته كړي دي موږ دغه (آسمان په ستورو سره)

لِلنّٰظِرِيْنَ ⑯ وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ⑰ اِلَّا مَنِ

لِلنّٰظِرِيْنَ	وَحَفِظْنٰهَا	مِنْ كُلِّ	شَيْطٰنٍ	رَّجِيْمٍ	اِلَّا مَنِ
دپاره د كتونكيو	او ساتلي دي موږ دغه	له هر	شيطان	ويشتلي سوي	ليكن هغه (شيطان)

دپاره د كتونكيو .او ساتلي دي موږ دغه (آسمان) له هر شيطان ويشتلي سوي (په شغلو سره) . ليكن هغه (شيطان)

اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ⑱

اسْتَرَقَ	السَّمْعَ	فَاَتْبَعَهٗ	شِهَابٌ	مُّبِيْنٌ
چې غلا كړي	(خبره) اوريدلي سوې (له ملائيكو)	پس ورپسې سي په ده	ستورى	روښانه

چې غلا كړي (خبره) اوريدلي سوې (له ملائيكو) پس ورپسې سي ستورى ښكاره (نو وئى سوځي پخپلي لمبې سره)

ع ۱۵ ۱

وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا

وَالْاَرْضَ	مَدَدْنٰهَا	وَاَلْقَيْنَا	فِيْهَا	رَوَاسِيَ	وَاَنْۢبَتْنَا
او مځکه	غوړولی ده موږ دغه	او غورځولی دی موږ	په دغه کښی	غرونه	او زرغونه کړی دی موږ

او مځکه غځولی (غوړولی) ده موږ دغه (مځکه) او غورځولی دی موږ په دغه کښی غرونه (درانه محکم) او زرغونه کړی دی موږ

فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ

فِيْهَا	مِنْ	كُلِّ شَيْءٍ	مَّوْزُوْنٍ	وَجَعَلْنَا	لَكُمْ	فِيْهَا	مَعَايِشَ
په دی کښی	له	هر شی	اندازه کړی سوی شخه	او پیدا کړی مو دی	تاسی ته	په دغه (مځکه) کښی	اسباب دژوند

پکښی له هر شی اندازه کړی سوی شخه. او پیدا کړی مو دی تاسی ته په دغه (مځکه) کښی (اسباب د) معیشت

وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ

وَمَنْ	لَّسْتُمْ	لَهٗ	بِرٰزِقِيْنَ	وَاِنْ	مِّنْ شَيْءٍ	اِلَّا	عِنْدَنَا	خَزَآئِنُهٗ
او هغه شیان	چی نه یئ تاسی	هغوی ته	رزق روزی ورکوونکی	او نسته	هیڅ شی	مگر	زموږ سره دی	خزانی د هغه

او هغه شیان چی نه یئ تاسی هغوی ته رزق روزی ورکوونکی. او نسته هیڅ شی مگر په نزد زموږ دی خزانی د هغه

وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ

وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ	اِلَّا بِقَدَرٍ	مَّعْلُوْمٍ	وَاَرْسَلْنَا	الرِّيٰحَ	لَوَاقِحَ
او نه نازلو هغه شی	مگر په اندازی	معلومی سره	او رالیږلی دی موږ	بادونه	بلاربوونکی

او نه نازلو (نه رالیږو) هغه شی مگر په اندازی معلومی سره (نه لږنه ډیر). او رالیږلی دی موږ بادونه بلاربوونکی

فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ

فَاَنْزَلْنَا	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ
پس نازلی کړی دی موږ	له آسمانه (له وریځو) څخه	اوبه	نو وڅښولی موږ تاسی ته دغه اوبه

(ونو او وریځو لره یا پخپله بلاربه) پس نازلی کړی دی موږ له آسمانه (له وریځو) څخه اوبه نو وڅښولی موږ تاسی ته دغه اوبه

وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ﴿٢٢﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ

وَمَآ اَنْتُمْ	لَهٗ	بِخٰزِنِيْنَ	وَاِنَّا	لَنَحْنُ	نُحْيٖ
او نه یئ تاسی	دغو اوبو لره	خزانه کوونکی (ساتونکی)	او بیشکه! موږ	خامخا هم دا موږ	ژوندی کوو

او نه یئ تاسی دغو اوبو لره خزانه کوونکی ساتونکی (بلکه موږ یئ ساتو). او بیشکه! موږ خامخا هم دا موږ ژوندی کول

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ

دتیر مخ پاته بیان دلته وگوری: مینه اورغبت او قدر او عزت سره واخیستې بیا مې دغه کار دقرآن کریم سره هم وکړی ددې مې هم درې نسخې کتابت کړې چې په دې کې مې دخپل طرف څخه زیاتی او کمی وکړی دا نسخې چې مې کله وبازار ته دخرڅولو دپاره راویستې نو چاته چې به مې وروړې نو هغه به کتلې چې صحیح دي که نه دي؟ کله چې به ورته په کښې کمی او زیاتی په نظر راغی نو ماته به یې واپس کړې .ددې واقعې څخه ماته دا سبق حاصل سو چې داکتاب محفوظ دی او الله ﷻ ددې حفاظت کوونکی دی نو په دغه وجه زه مسلمان سوم: **قاضي یحیٰ ابن اکتم** رحمه الله علیه ددغې واقعې روایت کوونکی وایي چې اتفاقا په دې کال زما دحج توفیق نصیب سو او هلته مې **دسفیان ابن عیینه** رحمه الله علیه سره ملاقات وسو نو دا قصه مې هغه ته واوروله هغوی وفرمایله چې بیشکه دا سې پکار ده ځکه چې ددې تصدیق په قرآن کریم کې موجود دی یحیٰ ابن اکتم رحمه الله علیه پوښتنه وکړه چې: **پاته بیان پر راروان مخ وگوری**

وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا

وَنُمِيْتُ	وَنَحْنُ	الْوٰرِثُوْنَ	وَلَقَدْ	عَلِمْنَا
او هم وژل کوو	او هم دا موږ	وارث باقي پاتې کيدونکي يو	او خامخا په تحقيق	معلوم دي موږ ته

او هم وژل کوو او هم دا موږ وارث باقي پاتې کيدونکي يو (پس له فنا دعالميانو هم). او خامخا په تحقيق معلوم دي موږ ته

الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿٢٤﴾

الْمُسْتَقْدِمِيْنَ	مِنْكُمْ	وَلَقَدْ	عَلِمْنَا	الْمُسْتَاْخِرِيْنَ
مخکني (پرومبني)	له تاسي	او خاخا په تحقيق	معلوم دي موږ ته	وروستني خلک هم

پرومبني (مخکني، اولني) له تاسي او خامخا په تحقيق معلوم دي موږ ته وروستني خپل خلک (ستاسي هم).

وَاِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾ ع

وَاِنَّ	رَبَّكَ	هُوَ	يَحْشُرُهُمْ	اِنَّهٗ	حَكِيْمٌ	عَلِيْمٌ
او بيشکه!	رب ستا	هم دی به	راټولوي دوی	بيشکه! چي دغه (الله)	ښه حکمت والا دی	ښه علم والا

او بيشکه! رب ستا هم دی به راټولوي دوی (په محشر کښې) ، بيشکه! چي دغه (الله) ښه حکمت والا دی ښه علم والا.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾

وَلَقَدْ	خَلَقْنَا	الْاِنْسَانَ	مِنْ صَلْصَالٍ	مِّنْ حَمَاٍ	مَّسْنُوْنٍ
او خامخا په تحقيق	پيدا کړی دی موږ	انسان (آدم)	له وچې خټې چې کړنګيدی	له توري خټې	بد بويه کړی سوی

او خامخا په تحقيق پيدا کړی دی موږ انسان (آدم) له وچې خټې چې کړپيدونکې (لکه کودری) له توری خټې سخا کړی سوی.

وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ وَاِذْ

وَالْجَآنَّ	خَلَقْنٰهُ	مِنْ قَبْلُ	مِنْ نَّارِ	السَّمُوْمِ	وَاِذْ
او جان (پلار د پيريانو)	پيدا کړی دی موږ هغه	پخوا له (انسانه)	له اوره	بې دوده څخه	او هغه وخت چې

او جان (پلار د پيريانو) پيدا کړی دی موږ هغه پخوا له (انسانه) له اوره بې لوګی څخه. او (ياد کړه) هغه وخت چې

قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ

قَالَ	رَبُّكَ	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اِنِّيْ	خَالِقٌۢ	بَشَرًا	مِّنْ صَلْصَالٍ
وويل	رب ستا	ملائيکو ته	چي بيشکه! زه	پيدا کوونکی يم	ديوه بشر	له کودرو کړنګيدونکو وچوختو څخه

وويل رب ستا ملائيکو ته چي بيشکه! زه پيدا کوونکی يم د يوه بشر له کودرو کرنګيدونکو وچوختو څخه

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ. دتير مخ پاته بيان دلته وګوری : دقرآن کريم په کم آيت کي ؟ نو سفيان ابن عيينة رحمة الله عليه وفرمايل چي قرآن کريم چي کم ځای دتورات اوانجيل ذکر کړی دی هلته فرمايي (بما استحفظوا من كتاب الله) يعني يهودو او نصاراوو ته دالله جل جلاله دکتابونو تورات او انجيل دحفاظت ذمه داري سپارل سوې وه نو په دې وه چي کله يهودو اونصاراوو ددغه کتابو دحفاظت ذمه داري نه کړه اداء نو داکتابونه مسخ و محرّف او ضائع سول بر خلاف دقرآن کريم څخه چي ددې متعلق الله جل جلاله فرمايلي دي (انّا نحن نزلنا الذكر وانا له لحافظون) يعني الله جل جلاله فرمايي چي موږ خپله ددې حفاظت کوونکي يونو په دې وجه چي ددې دحفاظت ذمه په خپله الله جل جلاله اخيستې ده نو ددښمنانو دزرګونو کوششونو باوجود ددې په يوه نقطه او يو زبر، اوزير کي فرق را نه ويستل سو نن درسالت دزماني څخه تقريبا پنځلس سوه کاله وروسته هم هغسې محفوظ دی چي په نړی کي دکرورهاوو حافظانو دغه قرآن په سينه کي پروت دی.

(معارف القرآن ج ٥ پ١٤ ص ٤)

ع٢

مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٨﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ

مِّنْ حَمَاٍ	مَّسْنُوْنٍ	فَاِذَا	سَوَّيْتُهٗ	وَنَفَخْتُ	فِيْهِ	مِنْ
(چې جوړسوی دی) له توری خټې	بدبوداره	نو کله چې	برابر می کړ دغه	او پو می کړ	په ده کښې	له

(چې جوړ سوی دی) له توری خټې سخا سوی څخه، نو کله چې برابر می کړ دغه (بشر) او پو می کړ په ده کښې له

رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ

رُّوْحِيْ	فَقَعُوْا	لَهٗ	سٰجِدِيْنَ	فَسَجَدَ	الْمَلٰٓئِكَةُ	كُلُّهُمْ
روح خپل	نو پریوځئ تاسی	ده ته	په دی حال کښې چې سجده کوونکی یئ	نو سجده وکړه	ملائیکو	ټولو د دوی

روح خپل نو پریوځئ تاسی ده ته په دی حال کښې چې سجده کوونکی یئ. نو سجده وکړه ملائیکو ټولو د دوی

اَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ

اَجْمَعُوْنَ	اِلَّآ	اِبْلِيْسَ	اَبٰٓى	اَنْ يَّكُوْنَ	مَعَ
پریوه ځای	مگر	خو ابلیس	منع ئی راوړه	له دی څخه چی سی دی	سره له

تمامو (یو کرت). مګر خو ابلیس (چی له ډیره کبره) منع ئی راوړه له دی څخه چی سی دی سره له

السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا لَكَ اَلَّا تَكُوْنَ مَعَ

السّٰجِدِيْنَ	قَالَ	يٰٓاِبْلِيْسُ	مَا لَكَ	اَلَّا تَكُوْنَ	مَعَ
سجده کوونکو	وفرمایل (الله)	ای ابلیسه!	څه (عذر) ؤ تالره	چی نه سوی ته	سره له

سجده کوونکو (آدم ته نو) وفرمایل (الله) ای ابلیسه! څه (عذر) ؤ تالره (په دی کښی) چی نه سوی ته سره له

السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ

السّٰجِدِيْنَ	قَالَ	لَمْ اَكُنْ	لِّاَسْجُدَ	لِبَشَرٍ	خَلَقْتَهٗ
سجده کوونکو	وویل (ابلیس)	چی نه یم زه (لائق د دی کار)	چی سجده وکړم	بشرته	چی پیدا کړی دی تا هغه

سجده کوونکو؟ وویل (ابلیس) چی نه یم زه (لائق د دی کار) چی سجده وکړم (داسی) بشر ته چی پیدا کړی دی تا

مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَاخْرُجْ

مِنْ صَلْصَالٍ	مِّنْ حَمَاٍ	مَّسْنُوْنٍ	قَالَ	فَاخْرُجْ
له کودرو کړنګیدونکیو وچوختو څخه	له توری خټی	بدبویه کړی سوی څخه	نو وفرمایل (الله ابلیس ته)	پس ووځه ته

له کودرو کړنګیدو نکیو وچ (چی جوړ سوی دی) له توری خټی سخا سوی. نو وفرمایل (الله ابلیس ته) پس ووځه ته

فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ... حکم دسجدې ملایکوته سوی وو ابلیس پکښې تبعا شامل سوی وو په سورت اعراف کې ابلیس ته خطاب کوي ارشاد فرمايي (مامنعک الا تسجد اذامرتک) ددې څخه معلومیږي چې دسجدې حکم دملایکو سره ابلیس ته هم سوی وو په دې وجه په دې سورت کې چې کم آیت تاسې اوس لوستلی دی په کم سره چې په ظاهره دا حکم دملایکو دپاره خاص معلومیږي ددې مطلب داکیدای سي چې اصالةً دا حکم ملایکوته ورکړل سوی وومګر ابلیس چونکې په ملایکو کې موجود وو په دې وجه تبعا هغه هم په دې حکم کې شامل وو ځکه چې دحضرت آدم ﷺ دتعظیم او تکریم دپاره کله چې دالله ﷻ بزرګ ترین مخلوق ملایکو ته دا حکم وسو نودنورمخلوق تبعا په دې حکم کې داخلیدل بالکل ظاهره وه په دې وجه ابلیس په جواب کې داونه وویل چې ماته خو دسره دسجدې امر نه دی سوی نو دمنلو جرم پر مانه راځي اوپه الفاظو (ان یکون مع الساجدین) کې هم دغه طرف ته اشاره ده چې دی تبعاً شامل وو په دغه حکم کې.
(معارف القرآن ج ۵ ۱۴ ص ۲۱)

مِنۡهَا فَاِنَّكَ رَجِيۡمٌ ﴿۳۴﴾ وَّاِنَّ عَلَيۡكَ اللَّعۡنَةَ اِلٰى يَوۡمِ الدِّيۡنِ ﴿۳۵﴾

مِنۡهَا	فَاِنَّكَ	رَجِيۡمٌ	وَّاِنَّ	عَلَيۡكَ	اللَّعۡنَةَ	اِلٰى	يَوۡمِ	الدِّيۡنِ
له دی ځایه	نو بیشکه! ته	رټلی سوی ئی	او بیشکه!	پر تا باندی دی	لعنت	تر	ورځی	دجزاء پوری

له دی آسمانه یا جنته نو بیشکه! ته رټلی سوی ئی. او بیشکه! پر تا باندی دی (ای شیطانه) لعنت تر ورځی د جزاء پوری.

قَالَ رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِىۡۤ اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۳۶﴾

قَالَ	رَبِّ	فَاَنۡظِرۡنِىۡۤ	اِلٰى	يَوۡمِ	يُبۡعَثُوۡنَ
وویل (ابلیس)	ای ربه زما	پس وګوره ماته	تر هغی	ورځی پوری	چی بیا پورته کولی سی له قبرونو

وویل (ابلیس) ای ربه زما پس وګوره (مهلت راکړه) ماته تر هغی ورځی پوری چی بیا پورته کولی سی (خلک) له قبرونو.

قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الۡمُنۡظَرِيۡنَ ﴿۳۷﴾ اِلٰى يَوۡمِ الۡوَقۡتِ

قَالَ	فَاِنَّكَ	مِنَ الۡمُنۡظَرِيۡنَ	اِلٰى	يَوۡمِ	الۡوَقۡتِ
وفرمایل (الله)	نو بیشکه! چی ته	له کتلیو (مهلت ورکړیو) سویو ئی	تر (هغی)	ورځی	د وخت

وفرمایل (الله) نو بیشکه! چی ته له کتلیو (مهلت ورکړیو) سویو ئی تر (هغی) ورځی د وخت

الۡمَعۡلُوۡمِ ﴿۳۸﴾ قَالَ رَبِّ بِمَاۤ اَغۡوَيۡتَنِىۡ لَاُزَيِّنَنَّ

الۡمَعۡلُوۡمِ	قَالَ	رَبِّ	بِمَاۤ اَغۡوَيۡتَنِىۡ	لَاُزَيِّنَنَّ
معلوم پوری	وویل (ابلیس)	ای ربه زما قسم دی ما لره	په ګمراه کولو د تا ما لره	چی خامخا ښائسته به کړم هرومرو

معلوم پوری. وویل (ابلیس) ای ربه زما قسم دی ما لره په ګمراه کولو د تا ما لره چی خامخا ښائسته به کړم هرومرو

لَهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ وَلَاُغۡوِيَنَّهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۳۹﴾ اِلَّا عِبَادَكَ

لَهُمۡ	فِى الۡاَرۡضِ	وَلَاُغۡوِيَنَّهُمۡ	اَجۡمَعِيۡنَ	اِلَّا	عِبَادَكَ
(ګناهونه) دوی ته	په ځمکه کښی	او خامخا زه به ګمراهان کړم هرومرو دوی	ټول	مګر	خو هغه بندګان ستا

(ګناهونه) دوی ته په ځمکه کښی او خامخا زه به ګمراهان کړم هرومرو دوی ټول. مګر خو هغه بندګان ستا

مِنۡهُمُ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ﴿۴۰﴾ قَالَ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَىَّ

مِنۡهُمُ	الۡمُخۡلَصِيۡنَ	قَالَ	هٰذَا	صِرَاطٌ	عَلَىَّ
له دوی څخه	چی خالص کړی سوی دی	نو بیا وفرمایل (الله)	دغه	لاره ده	تر ما پوری

له دوی څخه چی خالص کړی سوی دی (له ګناهونو). نو بیا وفرمایل (الله) دغه (اخلاص په عمل کښی) لاره ده تر ما پوری

وَّاِنَّ عَلَيۡكَ اللَّعۡنَةَ اِلٰى يَوۡمِ الدِّيۡنِ... **ابلیس سجده ونه کړه الله ﷻ داسمانه څخه وشړی:** کله چي ابلیس ته دسجدې کولو حکم وسو نو ده انکار وکړی او عقلي دلایل یي دالله ﷻ دحکم په مقابل کي ویل شروع کړل چي زه دي داوره څخه پیدا کړی یم او دی دي دخاوري څخه نو زه پر ده افضل یم زه ده ته سجده نه کوم نو د الله ﷻ دطرفه څخه ورته ارشاد وسو نو بیا داسمان څخه ووزه ځکه چي بیشکه ته په دغه حرکت سره مردود سوې او بیشکه پر تا زما لعنت دی تر قیامته پوري لکه چي په بل آیت کي دي (وعلیک لعنتی) یعني تر قیامته پوري ته زما درحمته څخه لیري سوې دتوبې توفیق به دي ونه سي او مقبول او مرحوم به نه سې او ظاهره ده چي ترقیامته پوري څوک محل درحمت نه وي نو بیا په قیامت کي خو دمرحوم کیدو ګر سره احتمال نسته نو تر څه وخته پوري چي احتمال وو دهغه څخه خو نفی وسوه: دلته بدبخته دچالاکی څخه کار واخیستی او الله ﷻ ته یي داخواست وکی چي ماته وخت راکه الخ. (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص ۱۹)

مُسْتَقِيْمٌ ﴿٤١﴾ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ اِلَّا مَنِ

مُسْتَقِيْمٌ	اِنَّ عِبَادِيْ	لَيْسَ	لَكَ	عَلَيْهِمْ	سُلْطٰنٌ	اِلَّا مَنِ
برابره	بیشکه! خاص بندګان زما	نسته	تاته	پر دوی	هیڅ تسلط	مګر هغه څوک چي

برابره. بیشکه! خاص بندګان زما چي دي نسته تاته پر دوی هیڅ تسلط (او غلبه په ګمراه کولو) مګر هغه څوک چي

اتَّبَعَكَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ

اتَّبَعَكَ	مِنَ الْغٰوِيْنَ	وَاِنَّ	جَهَنَّمَ	لَمَوْعِدُهُمْ
متابعت کوی ستا	له ګمراهانو	او بیشکه! چي	جهنم (دوزخ)	ځای دوعدی د دغو (تابعانو ستا) دی

متابعت کوی ستا له ګمراهانو. او بیشکه! چي جهنم(دوزخ) خامخا ځای د وعدی د دغو (تابعانو ستا) دی

اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ ؕ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ

اَجْمَعِيْنَ	لَهَا	سَبْعَةُ	اَبْوَابٍ	لِكُلِّ	بَابٍ	مِّنْهُمْ	جُزْءٌ
د ټولو	چي دی دی (دوزخ) لره	اوه	دروازی	دپاره دهری	دروازی	له دی (ګمراهانو) څخه	یوه برخه به وی

د ټولو. چي دی دی (دوزخ) لره اوه دروازی دپاره دهری دروازی له دی (ګمراهانو) څخه یوه برخه به وی

مَّقْسُوْمٌ ﴿٤٤﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٤٥﴾

مَّقْسُوْمٌ	اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ	فِيْ جَنّٰتٍ	وَّعُيُوْنٍ
قسمت (او تعین) کړی سوی	بیشکه! ځان ساتونکی	په جنتونو کښی به وی	او په چینو کښی به وی

قسمت (او تعین) کړی سوی. بیشکه! ځان ساتونکی له متابعته د ابلیس په جنتونو کښی به وی او په چینو کښی به وی.

اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا

اُدْخُلُوْهَا	بِسَلٰمٍ	اٰمِنِيْنَ	وَنَزَعْنَا
ننوځئ دغو جنتونو ته	په سلامتی له هره آفته	په دغه حال کښی چي په امن به یئ	او وبه باسو

(وبه ویلی سی دوی ته) ننوځئ دغو جنتونو ته په سلامتی له هره آفته په دغه حال کښی چي په امن به یئ. او وبه باسو (لری به کړو)

مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٧﴾

مَا	فِيْ صُدُوْرِهِمْ	مِّنْ	غِلٍّ	اِخْوَانًا	عَلٰى	سُرُرٍ	مُّتَقٰبِلِيْنَ
هر هغه	چي په زړونو د دغو کښی دی	له	کینی څخه	حال دا چي ورونه به وی سره ناست به وی	پر	تختونو	مخامخ یو بل ته

هر هغه چي په زړونو د دغو (جنتیانو) کښی دی له کینی څخه حال دا چي ورونه به وی سره ناست به وی پر تختونو مخامخ یو بل ته.

اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ. دالله ﷻ پر مخصوصو بندګانو دشیطان دتسلط نه کیدو
معنی: ددغه آیت څخه معلومه سوه چي دالله ﷻ پر خاصو او منتخبو بندګانو دشیطاني فریب اثر نه سي کیدای مګر په دي واقعه دآدم عليه السلام کي دا هم ذکر سوي دي چي پر آدم عليه السلام او حوا انا باندي دده فریب وچلیدی دغه شان دصحابه کرامو رضي الله عنهم په باره کي دقرآن کریم ارشاد دی چي (انما استزلهم الشیطان ببعض ما کسبوا) ددي ایت څخه معلومیږي چي پر اصحابو کرامو رضي الله عنهم هم دشیطان فریب پر دي موقع وچلیدی. جواب دادی: چي په ذکر سوي آیت کي دالله ﷻ پر خاصو بندګانو دشیطان دوس نه چلیدو مطلب دادی چي ددوی پر زړونو او عقلونو دشیطان داسي واک نه سي راتلی چي دوی په خپله غلطي هیڅ وخت خبرداره نه سي او په دي وجه ورته هیڅ وخت هم توبه نصیب نه سي یا یو داسي ګناه وکړي چي مغفرت یي ونه سي او حضرت آدم عليه السلام او حوا انا توبه وکړه او دا قبوله هم سوه هم دا شان صحابه کرامو رضي الله عنهم هم توبه وکړه او قبوله هم سوه. (معرف القرآن ج ۵ پ ۱۴ ص ۱۹)

۳ ع ۱۹ ۳

لَا يَمَسُّهُمۡ فِيۡهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمۡ مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِيۡنَ ﴿۴۸﴾

لَا يَمَسُّهُمۡ	فِيۡهَا	نَصَبٌ	وَّمَا هُمۡ	مِّنۡهَا	بِمُخۡرَجِيۡنَ
نه به رسیږی دغوته	په دغه (جنت) کښې	هیڅ قدر تکلیف	او نه به وی دوی	له دغه (جنت)	ایستلی سوی هیڅری

نه به رسیږی دغو (جنتیانو) ته په دغه (جنت) کښې هیڅ قدر تکلیف او نه به وی دوی له دغه (جنت) ایستلی سوی هیڅری.

نَبِّئۡ عِبَادِيۡۤ اَنِّيۡۤ اَنَا الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ﴿۴۹﴾ وَاَنَّ

نَبِّئۡ	عِبَادِيۡۤ	اَنِّيۡۤ	اَنَا الۡغَفُوۡرُ	الرَّحِيۡمُ	وَاَنَّ
خبر کړه (محمده!)	بندګان زما	چې بیشکه! زه هم	دا زه یم بخښونکی	ډیر رحم والا یم	او بیشکه!

خبر کړه (ای محمده!) بندګان زما (په دی) چې بیشکه! زه هم دا زه یم بخښونکی ډیر رحم والا یم (په انعام). او بیشکه!

عَذَابِيۡ هُوَ الۡعَذَابُ الۡاَلِيۡمُ ﴿۵۰﴾ وَنَبِّئۡهُمۡ عَنۡ ضَيۡفِ

عَذَابِيۡ	هُوَ الۡعَذَابُ	الۡاَلِيۡمُ	وَنَبِّئۡهُمۡ	عَنۡ	ضَيۡفِ
عذاب زما	هم دغه عذاب	ډیر دردناک دی	او خبردار کړه دوی	له	(احوال د) میلمنو

عذاب زما هم دغه عذاب ډیر دردناک دی. او خبردار کړه دوی له (احوال د) میلمنو

اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿۵۱﴾ اِذۡ دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ فَقَالُوۡا سَلٰمًا

اِبۡرٰهِيۡمَ	اِذۡ دَخَلُوۡا	عَلَيۡهِ	فَقَالُوۡا	سَلٰمًا
د ابراهیم څخه	کله چې ننوتلی دغه (ملائیکی)	پر ده (ابراهیم)	نو وویل دوی	په سلام اچولو سره

د ابراهیم څخه (چې څلور ملائیکی وی). کله چې ننوتلی دغه (ملائیکی) پر ده (ابراهیم) نو وویل دوی په سلام اچولو سره

قَالَ اِنَّا مِنۡكُمۡ وَجِلُوۡنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوۡا لَا تَوۡجَلۡ اِنَّا نُبَشِّرُكَ

قَالَ	اِنَّا	مِنۡكُمۡ	وَجِلُوۡنَ	قَالُوۡا	لَا تَوۡجَلۡ	اِنَّا	نُبَشِّرُكَ
نو وویل (ابراهیم)	بیشکه! موږ	له تاسی څخه	بیریدونکی یو	نو وویل	مه بیریږه	بیشکه! چې موږ	زیری کوو تاته

نو وویل (ابراهیم) بیشکه! موږ له تاسی څخه بیریدونکی یو. نو وویل (ملائیکو) مه بیریږه بیشکه! چې موږ زیری کوو تاته

بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ ﴿۵۳﴾ قَالَ اَبَشَّرۡتُمُوۡنِيۡ عَلٰۤى اَنۡ مَّسَّنِيَ

بِغُلٰمٍ	عَلِيۡمٍ	قَالَ	اَبَشَّرۡتُمُوۡنِيۡ	عَلٰۤى	اَنۡ مَّسَّنِيَ
په هلک	ډیر پوه هوښیار سره	وویل (ابراهیم)	آیا زیری راکوئ ماته	سره د دی چې	رسیدلی دی ماته

په هلک ډیر پوه هوښیار سره (کله چې بالغ سی). وویل (ابراهیم) آیا زیری راکوئ ماته سره د دی چې رسیدلی دی ماته

لَا يَمَسُّهُمۡ فِيۡهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمۡ... په ایت کي ذکر سوي دجنت دوه خصوصیات: په دغه آیت کي الله جَلَّ جَلَالُهُ دجنت دوه خصوصیات ذکر کړل. اول دا چي چاته به پکښي ستړی والی او کمزوري محسوسه نه سي په خلاف ددنیا څخه چي دلته محنت او مشقت په کارونو سره کمزوري او ستړی والی وي: په خالص ارام او تفریح سره هم څه ناڅه وخت سړی ستړی کیږي او کمزوري محسوسوي برابره خبره ده که هر څومره خوندناک کار او شغل وي. دویمه خبره دا معلومه دسوه چي کم ارام او راحت او نعمتونه هلته چاته ورکول سي بیا به دغه دایمي وي نه به دغه نعمتونه کله کمیږي او نه به ددغو څخه داسړی ایستل کیږي: په سورت ص کي ارشاد دی (ان هذا لرزقنا ما له من نفاد) یعني دا زموږ رزق دی کم چي به هیڅ کله ختم نه سي او په دي ایت کي بیا فرمایي (وماهم منها بمخرجین) یعني جنتیان به هیڅکله دجنت او دهغه دنعمتونو څخه ونه ایستل سي په خلاف ددنیا نعمتونه چي هغه یو وخت زایلیږي او ختمیږي الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص ۲۴)

قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ... فرشتي حضرت ابراهيم عليه السلام ته دانسانانو په شکل کي راغلي: په دغــه ايــاتونوکي الله جل جلاله دحضــرت ابــراهيم عليه السلام قصــه ذکــر کريــده کمــي فرشــتي چـــي ودوه تـــه دانســانانو پــه شــکل کــي راغلــي وي دقصــي شروع ديو پنځوسم آيت څخه په داسي شکل سره کيږي چي اول وار الله جل جلاله خطاب نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته کړی دی چي تــه دغــه کفــارو دمکــي تــه دحضــرت ابــراهيم عليه السلام د ميلمنو دقصي خبر ورکړه دغه قصه هغه وخت واقع سوه کله چي دغــه ميلمانــه کــم چــي پــه واقــع کــي ملايکــي وي او دانســاني شکل کيــدو پــه وجــه سره حضرت ابراهيم عليه السلام دوی ميلمانــه وګنــل دحضــرت ابراهيم عليه السلام خواتــه راغلل بيا يي دراتلوسره ابراهيم عليه السلام دوی ميلمانه وګنل او فوراً يي خوراک تيار کی او دوی ته يي راوړی مګر چونکي هغه ملايکي وي او ملايکــي نــه خــوراک کــوي او نــه چيښــاک کــوي او نــه نفســاني خواهشــات لــري هغــو دغــه پــوخ کــړی کتــغ او خــواړه ونــه خــوړه پــس ابــراهيم عليه السلام پــه زړه کي وبيريدی چي دا خلګ خوراک ولي نه کوي: پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ﴿۵۴﴾ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ

الْكِبَرُ	فَبِمَ	تُبَشِّرُوْنَ	قَالُوْا	بَشَّرْنٰكَ	بِالْحَقِّ
زوړوالي	نو په کومه وجه	تاسی زيری راکوئ	وويل (ملائيکو)	چي زيری کړی دی موږ تاته	په حقه (په ربښتيا) سره

زوړوالي نو په کومه وجه تاسی زيری راکوئ؟. وويل (ملائيکو) چي زيری کړی دی موږ تاته په حقه (په ربښتيا) سره

فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿۵۵﴾ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ

فَلَا تَكُنْ	مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ	قَالَ	وَمَنْ	يَّقْنَطُ	مِنْ رَّحْمَةِ
نو مه کيږه ته	له جملې د نا اميدانو څخه	وويل (ابراهيم)	او څوک دی؟	چي نااميده کيږی به	له رحمته

نو مه کيږه ته له جملې د نا اميدانو څخه، وويل (ابراهيم چي زه نه يم نا اميده) او څوک دی ؟ چي نا اميده کيږی به له رحمته

رَبِّهٖۤ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴿۵۶﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا

رَبِّهٖۤ	اِلَّا الضَّآلُّوْنَ	قَالَ	فَمَا خَطْبُكُمْ	اَيُّهَا
د رب خپل	مګر خو ګمراهان (کافران)	وويل (ابراهيم)	نو نور څه مقصود دی ستاسی	ای

د رب خپل (نه نااميده کيږی هيڅوک) مګر خو ګمراهان (کافران). وويل (ابراهيم) نو نور څه مقصود دی ستاسی ای

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۷﴾ قَالُوْۤا اِنَّاۤ اُرْسِلْنَاۤ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۸﴾

الْمُرْسَلُوْنَ	قَالُوْۤا	اِنَّاۤ	اُرْسِلْنَاۤ	اِلٰى قَوْمٍ	مُّجْرِمِيْنَ
راليږلی سويو	نو وويل	چي بيشکه! موږ	راليږلی سوی يو (اهلاک د)	هغه قوم ته	چي مجرمان دی

راليږلی سويو نو وويل (ملائيکو) چي بيشکه! موږ راليږلی سوی يو (اهلاک د)هغه قوم (دلوط) ته چي مجرمان (کافران) دی .

اِلَّاۤ اٰلَ لُوْطٍ ؕ اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ

اِلَّاۤ	اٰلَ لُوْطٍ	اِنَّا	لَمُنَجُّوْهُمْ	اَجْمَعِيْنَ	اِلَّا امْرَاَتَهٗ
مګر	آل د لوط	چي بيشکه!	هرومرو موږ نجات ورکوونکي يو د دوی	دټولو (له عذابه)	مګر ښځه د دغه (لوط)

مګر آل د لوط چي بيشکه! هرومرو موږ نجات ورکوونکي ساتونکي يو د دوی دټولو (له عذابه) مګر ښځه د دغه (لوط)

قَدَّرْنَاۤ ۙ اِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ

قَدَّرْنَاۤ	اِنَّهَا	لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ	فَلَمَّا	جَآءَ	اٰلَ لُوْطِ
چي مقدره مقرره کړی وه موږ	چي بيشکه! دا	له بيرته پاتی کيدونکو ده	نو کله چي	راغلل	آل د لوط ته

چي مقدره مقرره کړی وه موږ چي بيشکه! دا له بيرته پاتی کيدونکو ده (په معذبينو کښې). نو کله چي راغلل آل د لوط ته

ع ۲

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾

الْمُرْسَلُوْنَ	قَالَ	اِنَّكُمْ	قَوْمٌ	مُّنْكَرُوْنَ
(هغه) ليږلي سوي (ملائيكې)	نو وويل (لوط دوى ته)	بيشكه! تاسې	يو قوم يئ	بل رنګ (ناآشنا بيروونكى)

(هغه) ليږلي سوي (ملائيكې). نو وويل (لوط) دوى ته بيشكه! تاسې يو قوم يئ بل رنګ (ناآشنا بيروونكى).

قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا فِيْهِ

قَالُوْا	بَلْ	جِئْنٰكَ	بِمَا كَانُوْا	فِيْهِ
وويل	بلكه	راغلي يو تاته	په هغه (عذاب) سره چي وه	چي په هغه (عذاب) كښې

وويل (ملائيكو) بلكه (ملائيكې يو چي) راغلي يو تاته په هغه (عذاب) سره چي وه (قوم ستا) چي په هغه (عذاب) كښې

يَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾

يَمْتَرُوْنَ	وَاَتَيْنٰكَ	بِالْحَقِّ	وَاِنَّا	لَصٰدِقُوْنَ
به ئې شک کاوه	او راوړى دى موږ تاته	حق	او بيشكه! موږ	خامخا يو صادقان

به ئې شک کاوه. او راوړى دى موږ تاته حق (چي عذاب دى) او بيشكه! موږ خامخا يو صادقان (رشتيني په دغه خبره كښې)

فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ

فَاَسْرِ	بِاَهْلِكَ	بِقِطْعٍ	مِّنَ الَّيْلِ	وَاتَّبِعْ	اَدْبَارَهُمْ	وَلَا يَلْتَفِتْ
نو بوځه	عيال خپل	په يوه ټوټه	د شپې	او ته ځه	وروسته په دوى پسې	او نه دى ګورى بيرته

نو بوځه (وباسه) عيال خپل (له دې ښار) په يوه ټوټه د شپې او ته (هم ځه) وروسته په دوى پسې او نه دى ګورى بيرته

مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ تُؤْمَرُوْنَ ﴿۶۵﴾

مِنْكُمْ	اَحَدٌ	وَّامْضُوْا	حَيْثُ	تُؤْمَرُوْنَ
له تاسو څخه	هيڅ يو	او ځئ تاسې	هغه ځاى ته	چي پرى امر حكم سوى دى (تاسې ته)

له تاسو څخه هيڅ يو (چي ونه بيريږى) او ځئ تاسې هغه ځاى ته چي پرى امر حكم سوى دى (تاسې ته).

وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ

وَقَضَيْنَآ	اِلَيْهِ	ذٰلِكَ	الْاَمْرَ	اَنَّ	دَابِرَ	هٰٓؤُلَآءِ	مَقْطُوْعٌ
او وحى كړى وه موږ	دغه (لوط) ته	د دى	كار	چي بيشكه!	بيخ	د دى كسانو	به پرى كړى سى

او وحى كړى وه موږ دغه (لوط) ته د دى كار (چي تفسير ئې دادى) چي بيشكه! بيخ د دى كسانو به پرى كړى سى

قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالُوْا.. د تير مخ پاته بيان دلته وګورى: ځكه چي دوى په شكل د انسان ملايكي وې او د انسانان وګڼل او د خوراک نه كولو څخه يې شک پيدا سو چي دا خلګ هسي نه چي مخالفين وي او ورته وې ويل چي موږ ستاسي څخه بيره كوو هغوى وويل چي تاسي بيره مه كوى ځكه چي موږ ملايكي يو او د الله ﷻ د طرف څخه مو خوشخبري راوړې ده تاته د يو زوى زيرى در كوو كم چي به لوى عالم وي مطلب دادى چي نبي به وي ځكه چي په انسانانو كي د ټولو څخه زيات علم انبياوو ته وي مراد د دې زوى څخه حضرت اسحق ﷺ دى او په نورو اياتونو كي د حضرت اسحق ﷺ سره د حضرت يعقوب ﷺ خوشخبري هم ذكر ده ابراهيم ﷺ وفرمايل چي آيا تاسي ماته په داسي حالت كي د زوى زيرى راكوى چي پر ما بوډاوالى راغلى دى نو په داسي حالت كي به تاسي ماته د څه شي زيرى راكى يعني دا كار في نفسه عجيبه دى نه دا چي د قدرت څخه ليرى دى ملايكو په جواب كي ورته وويل: پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

مُّصۡبِحِيۡنَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ اَهۡلُ الۡمَدِيۡنَةِ يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ ﴿٦٧﴾

مُّصۡبِحِيۡنَ	وَجَآءَ	اَهۡلُ	الۡمَدِيۡنَةِ	يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ
په دې حال کښې چې دوی په صبا کښې داخليږي	او راغلل	اهل (دهغه)	ښار (کور د لوط ته)	چې خوشحالي يې کولې

په دې حال کښې چې دوی په صبا کښې داخليږي. او راغلل اهل (دهغه) ښار (کور د لوط ته) چې خوښي زيرې ئې کاوه.

قَالَ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ ضَيۡفِيۡ فَلَا تَفۡضَحُوۡنِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

قَالَ	اِنَّ	هٰۤؤُلَآءِ	ضَيۡفِيۡ	فَلَا تَفۡضَحُوۡنِ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ
وويل (لوط)	چې بيشکه!	دا کسان	ميلمانه زما دي	نو مه شرموئ ما	او ويريږئ تاسي	له الله

وويل (لوط) چې بيشکه! دا کسان ميلمانه زما دي نو مه شرموئ ما (په رسوائي د دوی) او ويريږئ تاسي له الله

وَلَا تُخۡزُوۡنِ ﴿٦٩﴾ قَالُوۡۤا اَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٧٠﴾

وَلَا تُخۡزُوۡنِ	قَالُوۡۤا	اَوَلَمۡ نَنۡهَكَ	عَنِ الۡعٰلَمِيۡنَ
او مه سپکوئ تاسي ما	بيا وويل (قوم دلوط)	آيا نه وی منع کړی مونږ ته له	(پناه ورکولو د) خلکو څخه

(او لوا طت مه کوی) او مه سپکوئ تاسي ما. بيا وويل (قوم دلوط) آيا نه وی منع کړی مونږ ته له (پناه ورکولو د) خلکو څخه؟

قَالَ هٰۤؤُلَآءِ بَنٰتِيۡۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ فٰعِلِيۡنَ ﴿٧١﴾

قَالَ	هٰۤؤُلَآءِ	بَنٰتِيۡۤ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	فٰعِلِيۡنَ
وويل (لوط)	چې دغه دي	لوڼې زما	که يئ تاسي	کوونکي (د نکاح له دغو سره)

وويل (لوط) چې دغه (ستاسي ښځې) دی لوڼې زما که يئ تاسي کوونکي (د نکاح له دغو سره).

لَعَمۡرُكَ اِنَّهُمۡ لَفِيۡ سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُوۡنَ ﴿٧٢﴾

لَعَمۡرُكَ	اِنَّهُمۡ	لَفِيۡ	سَكۡرَتِهِمۡ	يَعۡمَهُوۡنَ
(وفرمايل الله) قسم دی په عمر ستا	چې بيشکه! دغه (قوم)	خامخا	په مستی (دګمراهی) خپله کښې	سرګردان دی

(وفرمايل الله) قسم دی په عمر (ژوند ستا محمده!) چې بيشکه! دغه (قوم) خامخا په مستی (دګمراهی) خپله کښې مدهوشان دی

فَاَخَذَتۡهُمُ الصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِيۡنَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلۡنَا عَالِيَهَا

فَاَخَذَتۡهُمُ	الصَّيۡحَةُ	مُشۡرِقِيۡنَ	فَجَعَلۡنَا	عَالِيَهَا
نو ونيول هغوی لره	يږغ هيبتناک (دجبريل)	داچې داخليدل دوی په وخت دختلو دلمر کښې	نو وګرځاوه مونږ	پورته طرف د دی ښارونو

نو ونيول هغوی لره يږغ هيبتناک (دجبريل) حال دا چې داخليدل دوی په وخت دختلو دلمر کښې. نو وګرځاوه مونږ پورته طرف د دی

وَجَآءَ اَهۡلُ الۡمَدِيۡنَةِ يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ. دتيـــرمخ پاته بيان دلته وګورئ: چي مونږ تاته داوقعي کار زيرې درکوو چي دغه زوی به دي خامخا کيږي ته نا اميده کيږه مه او خپل زوړوالي ته مه ګوره ځکه چي پر داسي عادتي اسبابو باندي په نظر کولو سره دنااميدی وسوسې غالبه کيږي ابراهيم عليه السلام وفرمايل چي دخپل رب درحمت څخه به څوک نا اميده کيږي مګر ګمراه خلک به نااميده کيږي يعني زه نبي يم دګمراهانو په صف کي شنګه شامليدای سم محض مقصود ددې کار عجيبه والي دی: باقي دالله جل جلاله وعده رشتيا ده اوزما داميد څخه زيات پر دي کامل يقين دی ددې څخه وروسته دنبوت په پوه سره ده ته معلومه سوه چي ددې ملايکو دزيرې څخه علاوه دبل يوکار هم دراتلو وجه ده نو وي فرمايل ملايکو ته چي دا وواياست چي اوس ستاسي بل مهم څه دی ای ملايکو؟ ملايکو ورته وويل چي مونږ ديو مجرم قوم طرف ته چي دحضرت لوط عليه السلام قوم دی دهغه دهلاکت دپاره هم راغلي يو البته مسلمانان به نه هلاکيږي. (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۲۶)

سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۞۷۴ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

سَافِلَهَا	وَاَمْطَرْنَا	عَلَيْهِمْ	حِجَارَةً	مِّنْ سِجِّيْلٍ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ
کښته طرف د دوی	او وؤرول موږ	پر هغوی	کاڼی	له پخو خټو څخه جوړ	بیشکه! چې	په دغه (قصی کښی)

کښته طرف د دوی او وؤرول موږ پر هغوی کاڼی له کوټکانو څخه. بیشکه! چې په دغه (قصی کښی)

لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ۞۷۵ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ۞۷۶ اِنَّ

لَاٰيٰتٍ	لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ	وَاِنَّهَا	لَبِسَبِيْلٍ	مُّقِيْمٍ	اِنَّ
خامخا دلائل دی	دپاره د پوهانو عبرت اخیستونکو	او بیشکه! دغه (قریی)	خامخا پرتی دی پر لاره	سمه کښی	او بیشکه!

خامخا دلائل دی دپاره د پوهانو عبرت اخیستونکو. او بیشکه! دغه (قریی) خامخا پرتی دی په لاره سمه کښی. او بیشکه!

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۞۷۷ وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ

فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	لِّلْمُؤْمِنِيْنَ	وَاِنْ كَانَ	اَصْحٰبُ
په دغه کښی	خامخا دلیل دی	مؤمنینو ته	او په تحقیق شان دادی چی وو	خاوندان

په دغه (اهلاک د هغوی) کښی خامخا دلیل (د قدرت) دی مؤمنینو ته. او په تحقیق شان دادی چی وو خاوندان

الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ ۞۷۸ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۘ وَاِنَّهُمَا

الْاَيْكَةِ	لَظٰلِمِيْنَ	فَانْتَقَمْنَا	مِنْهُمْ	وَاِنَّهُمَا
د ځنګل	خامخا له ظالمانو	نو انتقام واخیست موږ	د دوی څخه	او بیشکه! دا (ښارونه)

د ځنګل (له قوم د شعیب) خامخا له ظالمانو. نو انتقام واخیست موږ د دوی څخه او بیشکه! دا (ښارونه) د لوط او شعیب

لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ۞۷۹ وَلَقَدْ كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ ع ۱۹ ۵

لَبِاِمَامٍ	مُّبِيْنٍ	وَلَقَدْ	كَذَّبَ	اَصْحٰبُ	الْحِجْرِ
خامخا پراته دی په لاره	لویه ښکاره کښی	او خامخا په تحقیق	دروغجن شمیرلی ؤ	خاوندانو	دحجر

خامخا پراته دی په لاره لویه ښکاره کښی. او خامخا په تحقیق دروغجن شمیرلی ؤ خاوندانو (ثمودیانو) دحجر (چی کنده ده)

الْمُرْسَلِيْنَ ۞۸۰ وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا

الْمُرْسَلِيْنَ	وَاٰتَيْنٰهُمْ	اٰيٰتِنَا	فَكَانُوْا	عَنْهَا
د الله رسولانو لره	او ورکړی دی موږ د هغو (ثمودیانو) ته	دلائل خپل	نو وو دوی	له هغو (معجزو) څخه

دالله رسولانو لره. او ورکړی دی موږ د هغو (ثمودیانو) ته دلائل (د قدرت) خپل نو وو دوی له هغو (معجزو) څخه

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ... پر کمو کلو چي عذاب نازل سو دهغو څخه عبرت حاصلول پکار دي: په دغه آیت کي الله جل جلاله ددغو کليو محل وقوع بيان کړی دی کم چي دعربو څخه وشام ته دتلو پر لاره باندي دي او ددې سره يي ارشاد وفرمايي چي په دي کي دهوښيارانو دپاره دالله جل جلاله دکامل قدرت نښي دي په يو بل ايت کي الله جل جلاله ددې متعلق ارشاد کړی ی دی (لم تسكن من بعدهم الا قليلا) يعني دغه کلي دالله جل جلاله دعذاب په ذريعه دورانيدو څخه وروسته بيا دوباره آبادنه سول بغير ديو څو کلو څخه ددې تولو څخه معلومه سوه چي الله جل جلاله داکلي او ددې مکانونه دراتلونکو نسلونو دپاره دعبرت اسباب جوړ کړي دي دغه وجه ده چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم به کله پر دې مقاماتو باندي تيريدی نو پر دوی صلی الله علیه وسلم به دالله جل جلاله دهيبت يو خاص حال وو چي سر مبارک به يي کښته کړی او دوی به خپله سپرلی په دې ځايونو کي تيزه کړه اوډژر تيريدو کوشش به يي کوی ځکه چي دلته دالله جل جلاله عذابونه پر دغه نافرمانه قومونو باندي نازل سوي وه.
(معرف القرآن ج۵ پ ۱۴ ص ۳۰)

مُعْرِضِيْنَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا

مُعْرِضِيْنَ	وَكَانُوْا	يَنْحِتُوْنَ	مِنَ الْجِبَالِ	بُيُوْتًا
مخ گرځوونکی	او وو دوی	چې توږلی به ئی	له غرو څخه	کوټې (په دی حال کښې)

مخ گرځوونکی. او وو دوی چې توږلی تراشلی به ئی له غرو څخه کوټې په دی حال کښې

اٰمِنِيْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿٨٣﴾

اٰمِنِيْنَ	فَاَخَذَتْهُمُ	الصَّيْحَةُ	مُصْبِحِيْنَ
چې په امن کښې به وو	نو ونیول هغوی لره	ږغ هیبتناک	په دغه حال کښې چې داخلیدل دوی په صبا کښې

چې په امن کښې به وو. نو ونیول هغوی لره ږغ هیبتناک (دجبریل) په دغه حال کښې چې داخلیدل دوی په صبا کښې.

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا

فَمَآ اَغْنٰى	عَنْهُمْ	مَّا كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ	وَمَا خَلَقْنَا
نو دفع نه کړ	له دوی څخه (هیڅ عذاب)	هغو شیانو چې وو دوی	چې حاصلول به ئی	او نه دی پیدا کړی موږ (دغه)

نو دفع نه کړ له دوی څخه (هیڅ عذاب) هغو شیانو چې وو دوی چې حاصلول به ئی. او نه دی پیدا کړی موږ (دغه)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَمَا بَيْنَهُمَآ	اِلَّا	بِالْحَقِّ	وَاِنَّ
آسمانونه	او مځکه	او هر هغه څه چې په مینځ د دوی کښې دی	مگر	په حق سره	او بیشکه!

آسمانونه او مځکه او هر هغه څه چې په مینځ د دوی کښې دی مگر په حق (او حکمت او تدبیر) سره، او بیشکه!

السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ

السَّاعَةَ	لَاٰتِيَةٌ	فَاصْفَحِ	الصَّفْحَ	الْجَمِيْلَ	اِنَّ
قیامت	خامخا راتلونکی دی	نو څنگ وکړه ته له دوی څخه	په څنگ کولو	نیکو سره	بیشکه!

قیامت خامخا راتلونکی دی، نو څنگ وکړه ته له دوی څخه په څنگ کولو نیکو سره (یعنی عفوه ورته وکړه). بیشکه!

رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ

رَبَّكَ	هُوَ الْخَلّٰقُ	الْعَلِيْمُ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنٰكَ	سَبْعًا	مِّنَ
رب ستا	هم دی دی بنه پیدا کوونکی	ډیر علم والا	او خامخا په تحقیق	درکړی دی موږ تاته	اوه آیته	له

رب ستا هم دی دی بنه پیدا کوونکی ډیر علم والا. او خامخا په تحقیق درکړی دی موږ تاته اوه آیته له

وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا... دحضرت شعیب عليه السلام دقوم حال دقران کریم په ژبه:

الله جل جلاله فرمايي چې د حضرت شعیب عليه السلام قوم هم ډیر ظالمان وه نو موږ ددوی څخه هم دابدله واخیسته او دوی مو په عذاب سره هلاک کړل او ددواړو قومونوکلي پر ښکاره سړک باندي واقع دي اوشام ته دتلو په وخت باندي په نظر راځي او حجر والا هم پیغمبرانو ته دروا غجن وویل ځکه چې صالح عليه السلام ته یي درواغجن وویل گواکي ټولو ته يي وویل ځکه چي دټولو پیغمبرانو دین یودی نو گواکي ټول یي درواغجن کړل او موږ دوی ته خپلي نخښي دخپل طرف څخه ورکړې هغه نخښي په کومو سره چي دالله جل جلاله توحید او دصالح عليه السلام نبوت ثابتيدی مثلا دليلونه دتوحید او اوښه چي دصالح عليه السلام معجزه وه پس دغه خلگو ددې نخښي څخه مخ واړوی او هغه يي زور او طاقت وو چي په غرونو کي به يي کورونه تراشل او جوړول اوبیا دټولوافتونو څخه په امن کي په کښي اوسيدل خو سره ددې ټوله طاقته بیا هم الله جل جلاله هلاک کړل الخ.

(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۳۱)

الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ

الْمَثَانِيْ	وَالْقُرْاٰنَ	الْعَظِيْمَ	لَا تَمُدَّنَّ	عَيْنَيْكَ
چې بیا بیا ویل کیږي	او قرآن	عظیم (ډیر لوی)	مه راکاږه (او مه پورته کوه)	سترګی خپلی

وظائفو یا له فاتحی او (درکړی دی موږ تاته) قرآن عظیم (الشان خورا، ډیر، لوی). مه راکاږه او مه پورته کوه سترګی خپلی

اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

اِلٰى مَا مَتَّعْنَا	بِهٖٓ	اَزْوَاجًا	مِّنْهُمْ	وَلَا تَحْزَنْ	عَلَيْهِمْ
هغو شیانو ته چې نفع ورکړی ده موږ	په هغه سره	حال دا چې هغه قسم قسم شیان دی	دغو کفارو ته	او خفګان مه کوه	په دغو

هغو شیانو ته چې نفع ورکړی ده موږ په هغه سره حال دا چې هغه قسم قسم شیان دی دغو کفارو ته. او خفګان مه کوه په دغو

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ اِنِّيْٓ اَنَا

وَاخْفِضْ	جَنَاحَكَ	لِلْمُؤْمِنِيْنَ	وَقُلْ	اِنِّيْٓ	اَنَا
او کښته کړه	وزر خپل	دپاره د مؤمنانو	او ووایه (محمده!)	چې بیشکه! زه چې یم	هم دا زه

او کښته کړه وزر خپل دپاره د مؤمنانو (شفقت او مرحمت کوه پر دوی). او ووایه (ای محمده!) چې بیشکه! زه چې یم هم دا زه

النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾

النَّذِيْرُ	الْمُبِيْنُ	كَمَآ اَنْزَلْنَا	عَلَى	الْمُقْتَسِمِيْنَ
بیرونکی	ښکاره یم	لکه چې نازل کړی ؤ موږ (عذاب)	پر	قسمت ویشونکو

بیرونکی ښکاره یم (له عذابه د الله). (درکړی مو دی تاته) لکه چې نازل کړی ؤ موږ (عذاب) پر قسمت کوونکو .

الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ

الَّذِيْنَ	جَعَلُوا	الْقُرْاٰنَ	عِضِيْنَ	فَوَرَبِّكَ
هغو چې	ګرځولی ئې وو	(دغه) قرآن	ټوټې ټوټې	نو قسم دی په رب ستا

هغو چې ګرځولی ئې وو (دغه) قرآن ټوټې ټوټې (چې ځینې ته به ئې شعر او ځینې ته به ئې سحر ویل). نو قسم دی په رب ستا

لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ	اَجْمَعِيْنَ	عَمَّا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ
چې خامخا وبه پوښتو موږ هرومرو	دوی ټول	دهغو اعمالو څخه چې وو دوی	چې کول به ئې.

چې خامخا وبه پوښتو موږ هرومرو دوی ټول. دهغو اعمالو (دقسمت یا نسبت) څخه چې وو دوی چې کول به ئې.

فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ.....په محشر کي به سوال دڅه شي په باره کي کيږي ؟ په ذکر سوي آيت کي الله ﷻ په خپل پاک ذات قسم خوري اوفرمايي چي ددې ټولو مخکنيو او وروستنيو څخه به خامخا سوال او پوښتنه کيږي صحابه کرامو ﷺ دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي داسوال به دڅه شي په باره کي وي نو دوی ﷺ وفرمايل چي د (لااله الا الله) متعلق : په تفسير قرطبي کي ددې روايت کولو څخه وروسته فرمايي چي زموږ په نزد ددې څخه مراد ددې عهد په عملي طور سره پوره کول دي دکم نخښه چي (لااله الا الله) ده محض زباني وينا مقصود نه ده ځکه چي په ژبه سره اقرار خو به منافقينو هم کوی : حضرت حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي چي ايمان ديو خاص وضع او هيئت په جوړولو سره او دين محض په ارزوګانو کولو سره نه جوړيږي بلکي ايمان د هغه يقين نوم دی کم چي په زړه کي غورزول سوی وي او عملونه ددې تصديق وي. لهذا عمل هم ضروري اولازم دی خو ايمان يي اصل دی که ايمان نه وي خو بيا دعمل هيڅ فائده نسته : (معارف القرآن ج٥پ١٤ص ٣٥)

الربع

فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَاَعۡرِضۡ عَنِ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿٩٤﴾

فَاصۡدَعۡ	بِمَا	تُؤۡمَرُ	وَاَعۡرِضۡ	عَنِ الۡمُشۡرِكِيۡنَ
نوښکاره کړه	هغه	چې ته مامورئ یې	او مخ واړوه	له مشرکانو څخه

نو ښکاره (او په جهر کړه ای محمده!) هغه چې ته مامورئ یې او مخ واړوه له مشرکانو څخه (او مه کوه هیڅ التفات او پروا)

اِنَّا كَفَيۡنٰكَ الۡمُسۡتَهۡزِءِيۡنَ ﴿٩٥﴾ الَّذِيۡنَ

اِنَّا	كَفَيۡنٰكَ	الۡمُسۡتَهۡزِءِيۡنَ	الَّذِيۡنَ
بیشکه! موږ	کافي سوي یو دپاره ستا	دمسخرو کوونکو	هغه کسان چې

بیشکه! موږ کافي سوي یو دپاره ستا (له شره) د مسخرو کوونکو. (او بس یو په مقابل د اضرارو دهغو کښې) هغه کسان چې

يَجۡعَلُوۡنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ‌ۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٩٦﴾

يَجۡعَلُوۡنَ	مَعَ	اللّٰهِ	اِلٰهًا	اٰخَرَ	فَسَوۡفَ	يَعۡلَمُوۡنَ
ګرځوي دوی (شریکوي)	سره له	الله	معبود	بل	نو ژر به	پوه سي دوی

ګرځوي (شریکوي) دوی سره له الله معبود دبل نو ژر به پوه سي دوی (په عاقبت د کار خپل په دنیا او عقبیٰ کښې).

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ اَنَّكَ يَضِيۡقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ ۙ﴿٩٧﴾

وَلَقَدۡ	نَعۡلَمُ	اَنَّكَ	يَضِيۡقُ	صَدۡرُكَ	بِمَا	يَقُوۡلُوۡنَ
او خامخا په تحقیق	معلوم دی موږ ته	چې بیشکه! ته چې ئې	تنګیږي	سینه ستا	په سبب دهغه خبرو	چې وائي دغه (کفار)

او خامخا په تحقیق معلوم د ی موږ ته چې بیشکه! ته چې ئې تنګیږي سینه ستا په سبب د هغه خبرو چې وائي دغه (کفار)

فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُنۡ مِّنَ السّٰجِدِيۡنَ ۙ﴿٩٨﴾

فَسَبِّحۡ	بِحَمۡدِ	رَبِّكَ	وَكُنۡ	مِّنَ	السّٰجِدِيۡنَ
نو تل تسبیح وایه	سره له حمده	درب خپل	او سه تل	له	سجده کوونکو څخه

نو تل تسبیح وایه سره له حمده د رب خپل او سه تل له سجده کوونکو څخه

وَاعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتّٰى يَاۡتِيَكَ الۡيَقِيۡنُ ﴿٩٩﴾

وَاعۡبُدۡ	رَبَّكَ	حَتّٰى	يَاۡتِيَكَ	الۡيَقِيۡنُ
او عبادت کوه	درب خپل	ترهغه پوري	چې راسي تاته	یقین (یعني مرګ).

او عبادت کوه درب خپل ترهغه پوري چې راسي تاته یقین (یعني مرګ).

فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَاَعۡرِضۡ عَنِ الۡمُشۡرِكِيۡنَ په تبلیغ اوارشادکي تدریج په قدر دطاقت وي: ددې آیت دنازلیدو څخه مخکي نبي کریم ﷺ اوصحابه کرامو په پټه پټه عبادت او تلاوت کوی او دتبلیغ اوارشاد سلسله هم په پټه دیو یو ددوو دوو کسانو سره جاري وه ځکه چې په اظهار او اعلان کي دکفارودآزار رسولو بیره وه په دې آیت کي الله جل جلاله دمسخرو کوونکو اوآزار رسوونکو کفارو دآزار څخه د محفوظ ساتلو ذمه داري پر خپل ځان باندي واخیسته په دې وجه دغه وخت په بې فکری سره داعلان او اظهار په ذریعه دتلاوت او عبادت اوتبلیغ او دعوت سلسله شروع سوه: په (انا کفیناک المستهزئین)کي چې دکمو خلګو ذکر دی ددوی مشران پنځه تنه وه عاص ابن وائل، اسود ابن المطلب، اسود ابن یغوث، ولید ابن مغیره، حارث ابن طلاطله، داپنځه واړه په معجزانه طریقي سره په یو وخت کي دحضرت جبرائیل علیه السلام په اشاره سره هلاک کړل سول ددې واقعي چې کمي فواید دي په تفسیر شریف کي وګوری دایه حواله ده.
(معارف القرآن ج۵پ۱۴ص ۳۶)

ع ۶ ۲

آیاتونه ۱۲۸ | ۱۶ سُوْرَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ ۷۰ | ۱۶ رکوعونه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَتٰۤی اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ؕ سُبْحٰنَهٗ

اَتٰۤی	اَمْرُ	اللّٰهِ	فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ	سُبْحٰنَهٗ
راغی	امر	دالله	نو تلوار مه کوئ تاسی هغه ته (ای کفارو)	پاکی ده الله ته

راغی امر (حکم) دالله (په نصرت د مؤمنین او قیام دیوم الدین) نو تلوار مه کوئ تاسی هغه ته (ای کفارو) پاکی ده الله ته

وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ① يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى

وَتَعٰلٰى	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ	يُنَزِّلُ	الْمَلٰٓئِكَةَ	بِالرُّوْحِ	مِنْ اَمْرِهٖ	عَلٰى
او لوی دی	له هغه	چې دوی شریک ورسره پیدا کوی	نازلوی (الله)	ملائیکې	سره له روح	په امر خپل	پر

او لوی دی له هغه چې دوی شریک ورسره پیدا کوی. نازلوی (الله) ملائیکې سره له روح (اسرار د وحی) په امر خپل پر

مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖۤ اَنْ اَنْذِرُوْۤا اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ

مَنْ يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ	اَنْ اَنْذِرُوْۤا	اَنَّهٗ	لَاۤ	اِلٰهَ
هر چا چې اراده وفرمائی	له بندګانو خپلو	چې وبیروی	په دی چې بیشکه!	نشته	بر حق معبود

هر چا چې اراده وفرمائی له بندګانو خپلو (او داسی فرمائی انبیاؤ ته) چې وبیریږئ په دی چې بیشکه! نشته برحق معبود

اِلَّاۤ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ② خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ تَعٰلٰى

اِلَّاۤ	اَنَا	فَاتَّقُوْنِ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	بِالْحَقِّ	تَعٰلٰى
مګر	هم دا زه یم	نو وبیریږئ تاسی له ما څخه	پیدا کړی دی (الله)	آسمانونه	او ځمکی	په حق سره	پورته دی

مګر هم دا زه یم نو وبیریږئ تاسی له ما څخه. پیدا کړی دی (الله) آسمانونه او ځمکی په حق (حکمت او ربتیا) سره پورته دی

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ③ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا

عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ	خَلَقَ	الْاِنْسَانَ	مِنْ	نُّطْفَةٍ	فَاِذَا
له هغه چې	شریکان ورته نیسی دغه (مشرکان)	پیدا کړی دی (الله)	انسان لره	له	نطفی (اوبو دمنیو) څخه	نو ناڅاپه

(الله) له هغه چې شریکان ورته نیسی دغه (مشرکان). پیدا کړی دی (الله) انسان لره له نطفی (اوبو دمنیو) څخه نو ناڅاپه

اَتٰۤی اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ دغه سورت الله ﷻ دیوې سختي وعدې دعذاب او هیبتناک عنوان څخه شروع کړی دی: ددې وجه داده چې دمشرکینو دا ویناوه چې محمد ﷺ موږ دقیامت څخه او د الله ﷻ دعذاب څخه بیروي او راته وایي چې الله ﷻ دده دغالب کولو او مخالفینو ته دسزا ورکولو وعده کړیده او حال دا چي موږ ته هیڅ کیدل هم نه ښکاري ددې په جواب کي الله ﷻ وفرمایل چي راغی حکم دالله ﷻ تاسي تلواره مه کوی: دالله ﷻ دحکم څخه مراد دلته هغه وعده ده کمه چي الله ﷻ دخپل رسول سره کړیده چي دده دښمنان به لاندي او مغلوبه کړل سي او مسلمانانو ته به فتح او نصرت او عزت او شوکت حاصل سي په دې ایت کي الله ﷻ په هیبتناکه لهجه کي ارشاد فرمایي چي دالله ﷻ حکم راورسیدی یعني رارسیدونکی دی کم چي به تاسي ډیر ژر ووینی. او ځیني حضرات بیا فرمایي چي دالله ﷻ دحکم څخه مراد قیامت دی او درارسیدو مطلب یي هم داغه دی چي راتلونکی دی تاسي یي انتظار کوی. (معارف القرآن ج۵پ۱۴ص ۳۸)

هُوَ خَصِيۡمٌ مُّبِيۡنٌ ۝٤ وَالۡاَنۡعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمۡ

هُوَ خَصِيۡمٌ	مُّبِيۡنٌ	وَالۡاَنۡعَامَ	خَلَقَهَا	لَكُمۡ
دغه (انسان) سخت جګړه کوونکی ؤ	ښکاره	او چارپایان ئې	پیداکړی دی (الله) دغه (چارپایان)	تاسی ته

دغه (انسان) سخت جګړه کوونکی ؤ ښکاره (په ناحقه سره). او چارپایان ئې پیداکړی دی (الله) دغه (چارپایان) تاسی ته

فِيۡهَا دِفۡءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنۡهَا تَاۡكُلُوۡنَ ۝٥ وَلَكُمۡ

فِيۡهَا	دِفۡءٌ	وَّمَنَافِعُ	وَمِنۡهَا	تَاۡكُلُوۡنَ	وَلَكُمۡ
چی سته په دوی کښی	اسباب دګان ساتلو	او نفعی	او له ځینو دغو څخه	خوړئ تاسی	او سته تاسی ته

(ای انسانانو!) چی سته په دوی کښی اسباب د ځان ساتلو له یخه او نفعی او له ځینو دغو څخه خوړئ تاسی. او سته تاسی ته

فِيۡهَا جَمَالٌ حِيۡنَ تُرِيۡحُوۡنَ وَحِيۡنَ تَسۡرَحُوۡنَ ۝٦

فِيۡهَا	جَمَالٌ	حِيۡنَ تُرِيۡحُوۡنَ	وَحِيۡنَ	تَسۡرَحُوۡنَ
په دغو کښی	زیب زینت	هغه وخت چی کورته یئ بیرته راولی	او کله چی	بهرته ئی د څر لپاره بیایئ

په دغو (چارپایانو) کښی زیب زینت کله چی بیرته یئ کورته راولئ لپاره د راحت او کله چی بهرته ئی د څر لپاره بیایئ.

وَتَحۡمِلُ اَثۡقَالَكُمۡ اِلٰى بَلَدٍ لَّمۡ تَكُوۡنُوۡا بٰلِغِيۡهِ اِلَّا

وَتَحۡمِلُ	اَثۡقَالَكُمۡ	اِلٰى بَلَدٍ	لَّمۡ تَكُوۡنُوۡا	بٰلِغِيۡهِ	اِلَّا
او باروی	دغه درانه بارونه ستاسی	هغه ښار ته	چی نه وئ تاسی	رسیدونکی هغه (ښار) ته	مګر

او باروی دغه (چارپایان) درانه بارونه ستاسی (او رسوی ئی) هغه ښار ته چی نه وئ تاسی رسیدونکی هغه (ښار) ته مګر

بِشِقِّ الۡاَنۡفُسِ ؕ اِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ۝٧

بِشِقِّ	الۡاَنۡفُسِ	اِنَّ	رَبَّكُمۡ	لَرَءُوۡفٌ	رَّحِيۡمٌ
په سختی مشقت	دنفسونو خپلو سره	بیشکه! چی	رب ستاسی	خامخا لوی شفقت والا	ډیر رحم والا دی

په سختی مشقت دنفسونو (ځانو) خپلو سره ، بیشکه! چی رب (پالونکی) ستاسی خامخا لوی شفقت والا ډیر رحم والا دی

وَّالۡخَيۡلَ وَالۡبِغَالَ وَالۡحَمِيۡرَ لِتَرۡكَبُوۡهَا وَزِيۡنَةً ؕ وَيَخۡلُقُ

وَّالۡخَيۡلَ	وَالۡبِغَالَ	وَالۡحَمِيۡرَ	لِتَرۡكَبُوۡهَا	وَزِيۡنَةً	وَيَخۡلُقُ
او آسونه	او غاتر	او خره	لپاره د دی چی سوریږئ تاسی په دوی باندی	او په زینت کولو سره	او پیداکوی

او (پیداکړی دی الله) آسونه او غاتر او خره لپاره د دی چی سوریږئ تاسی په دوی باندی او په زینت کولو سره، او پیداکوی

وَالۡاَنۡعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمۡ فِيۡهَا دِفۡءٌ دهغه شیانو ذکر کم چي دانسان دفائدې دپاره جوړ سوي دي : په دغه آیت کي الله ﷻ دهغه شیانو ذکر کړی دی کم چي دانسان دفائدې دپاره پیدا سوي دي او دقرآن کریم دټولو څخه اولني مخاطب چونکه عرب وه اودعربو د ژوند لوی دار او مدار پر ساتونکو حیوانانو اوښ غوا اوبزه باندي ووپه دې وجه اول یې ددوی ذکر وفرمایه. (والانعام خلقها) بیا دحیوانانو څخه چي کمي فایدې انسان ته حاصلیږي په دي کي یې دوې فایدې په خاص طور سره بیان کړي دي یوه (لکم فیها دفء) یعني ددې حیوانانو دوړی څخه انسان جامې او دڅرمني څخه پوستین ټوپی وغیره تیاروی دیخني په موسم کي ګرمی په حاصلوی : دوهمه فایده : (ومنها تأکلون) یعني انسان دا حیوانان ذبح کوي خپل خوراک یې جوړوی او ترڅو پوري چي دغه حیوانان ژوندي وي د شیدو څخه یې دځان دپاره غوره خوراک پیدا کوی چي هغه مستې، کوچې، غوړي او نور داسې دخوراک شیان تیاروی. (معارف القرآن ج٥ پ ١٤ ص٤٠)

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ⑧ وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ	وَعَلَى اللّٰهِ	قَصْدُ	السَّبِيْلِ	وَمِنْهَا	جَآئِرٌ
هغه شيان چي اوس ئی نه پيژنئ تاسی	او خاص پر الله دی	بيان	دلاری	او ځينی د لارو څخه	کږی مائلی هم دی

(الله دير نور) ځيزونه چي اوس ئی نه پيژنئ تاسی. او خاص پر الله دی بيان دلاری او ځينی دلارو څخه کږی مائلی هم دی (له حقه)

وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ⑨ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

وَلَوْ شَآءَ	لَهَدٰىكُمْ	اَجْمَعِيْنَ	هُوَ	الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ
او که اراده وفرمايلی وی	خامخا سمه برابره لاره به ئی ښوولی وه تاسی	ټولو ته	الله	هغه (ذات) دی	چی نازل کړی دی

او که اراده فرمايلی وی نو خامخا سمه برابره لاره به ئی ښوولی وه تاسی ټولو ته. الله هغه (ذات) دی چی نازل کړی دی

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيْهِ

مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	لَّكُمْ	مِّنْهُ	شَرَابٌ	وَّمِنْهُ	شَجَرٌ	فِيْهِ
له (طرفه د) آسمانه	اوبه	چی دی تاسو ته	له دی اوبو څخه	څښل	او له دغو اوبو څخه	ونه (واښه)	چی په دغو وښو کښی

له (طرفه د) آسمانه اوبه چی دی تاسو ته له دی اوبو څخه څښل او له دغو اوبو څخه ونه (واښه) هم ده چی په دغو وښو کښی

تُسِيْمُوْنَ ⑩ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ

تُسِيْمُوْنَ	يُنْۢبِتُ	لَكُمْ	بِهِ	الزَّرْعَ	وَالزَّيْتُوْنَ
ګورئ تاسی (حيوانات خپل)	زرغونوی (الله)	تاسی ته	په دغو اوبو سره	کښت (فصل)	او زيتون

ګورئ تاسی (حيوانات خپل). زرغونوی (الله) تاسی ته په دغو اوبو سره کښت (فصل) او زيتون

وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

وَالنَّخِيْلَ	وَالْاَعْنَابَ	وَمِنْ	كُلِّ	الثَّمَرٰتِ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ
او خرما ګانی	او انګور	او له	هر قسمه	ميوو څخه	بيشکه!	په دغه کښی

(خونه) او خرما ګانی او (تاکونه دکورو) انګور او له هر قسمه ميوو څخه بيشکه! په دغه (زرغونتيا) کښی

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ⑪ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ

لَاٰيَةً	لِّقَوْمٍ	يَّتَفَكَّرُوْنَ	وَسَخَّرَ لَكُمُ	الَّيْلَ
خامخا لويه نښه ده	لپاره د (هغه) قوم چی	فکر کوی (پکښی)	او تابع کړی يئ ده تاسی ته	شپه

خامخا لويه نښه (د قدرت) ده لپاره د (هغه) قوم چی (غور) فکر کوی (پکښی). او مسخره کړی ئی ده تاسی ته شپه

وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ... الله ﷻ دخلګو دپاره سيده لاره واضحه کوي کمه چي الله ﷻ ته رسيدونکې ده: په دغه آيت کي الله ﷻ دخپلې مخکنۍ وعدې ذکر کړی دی هغه داچي الله ﷻ دا خبره خپل پر ذمه اخيستې ده چي دی دخلګو دپاره سيده لاره واضحه کوي هغه سيدا لاره کمه چي الله ﷻ ته رسيدونکې ده په دې وجه دالله ﷻ دوجود او توحيد دليلونه جمع کول کيږي: ليکن ددې بر خلاف ځيني خلګو نوري کږې لاري هم اختياره کړي دي اودوی ددې ټولو واضحو د ليلونو او ايتونو څخه هيڅ فائده نه اخلي بلکي په ګمراهی کي ورک ګرځي: بيا الله ﷻ ارشاد فرمايي که ما غوښتلای نو ټول به مي مجبوراً پر سيدا لاره روان کړي وای اودا کار دهغه په اختيار کي هم دی مګر دحکمت او مصلحت تقاضا داوه چي جبر ونه کړل سي دواړي لاري بايد وړاندي کړای سي نو تلونکي چي پر کمه لار تلل غواړي ولاړ دي سي سيده لاره به يي الله ﷻ او جنت ته ورسوي او کږه لاره به يي چي دشيطان لاره ده جهنم ته ورسوي. (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص ۴۳)

ع ۲

وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ ؕ وَالنُّجُوۡمُ مُسَخَّرٰتٌ

وَالنَّهَارَ	وَالشَّمۡسَ	وَالۡقَمَرَ	وَالنُّجُوۡمُ	مُسَخَّرٰتٌ
او ورځ	او لمر	او سپوږمی	او ستوری	تابع دی

او ورځ او لمر او سپوږمی، او ستوری مسخری (په کارونو کښی لګولی سوی) دی

بِاَمۡرِهٖ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ یَّعۡقِلُوۡنَ ۙ ﴿۱۲﴾

بِاَمۡرِهٖ	اِنَّ	فِیۡ ذٰلِکَ	لَاٰیٰتٍ	لِّقَوۡمٍ	یَّعۡقِلُوۡنَ
په امر حکم د دغه (الله) سره	بیشکه!	په دغو کښی	خامخا ډیر دلائل دی	دپاره د (هغه) قوم	چی عقل چلوی

په امر حکم د دغه (الله) سره. بیشکه! په دغو کښی خامخا ډیر دلائل (د قدرت) دی دپاره د (هغه) قوم چی عقل چلوی.

وَمَا ذَرَاَ لَکُمۡ فِی الۡاَرۡضِ مُخۡتَلِفًا اَلۡوَانُهٗ ؕ اِنَّ

وَمَا ذَرَاَ لَکُمۡ	فِی الۡاَرۡضِ	مُخۡتَلِفًا	اَلۡوَانُهٗ	اِنَّ
او هغه شیان چی پیدا کړی دی (الله) تاسی ته	په ځمکه کښی	حال دا چی مختلف دی سره	رنګونه د دوی	بیشکه!

او هغه شیان چی پیدا کړی غوړولی دی (الله) تاسی ته په ځمکه کښی حال دا چی مختلف دی سره رنګونه د دوی. بیشکه!

فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیَةً لِّقَوۡمٍ یَّذَّکَّرُوۡنَ ﴿۱۳﴾ وَهُوَ الَّذِیۡ سَخَّرَ

فِیۡ ذٰلِکَ	لَاٰیَةً	لِّقَوۡمٍ	یَّذَّکَّرُوۡنَ	وَهُوَ	الَّذِیۡ	سَخَّرَ
په دغه کښی	خامخا دلیل دی	دپاره د هغه قوم	چی پند اخلی	او الله	هغه (ذات) دی	چی تابع کړی دی

په دغه (اختلاف داشکالو) کښی خامخا دلیل دی دپاره د هغه قوم چی پند اخلی او الله هغه (ذات) دی چی تابع کړی دی

الۡبَحۡرَ لِتَاۡکُلُوۡا مِنۡهُ لَحۡمًا طَرِیًّا وَّتَسۡتَخۡرِجُوۡا مِنۡهُ حِلۡیَةً

الۡبَحۡرَ	لِتَاۡکُلُوۡا	مِنۡهُ	لَحۡمًا	طَرِیًّا	وَّتَسۡتَخۡرِجُوۡا	مِنۡهُ	حِلۡیَةً
بحر	دپاره د دی چی وخورئ تاسی	له دی (بحره)	غوښه	تازه	او راوباسی تاسی	له دغه (بحره)	زیورات

بحر دپاره د دی چی وخورئ تاسی له (ښکاره د) دی (بحره) غوښه تازه او راوباسی تاسی له دغه (بحره) ګاڼه

تَلۡبَسُوۡنَهَا ۚ وَتَرَی الۡفُلۡکَ مَوَاخِرَ فِیۡهِ وَلِتَبۡتَغُوۡا

تَلۡبَسُوۡنَهَا	وَتَرَی	الۡفُلۡکَ	مَوَاخِرَ	فِیۡهِ	وَلِتَبۡتَغُوۡا
چی اغوندئ ئی تاسی هغه	او وینی به ته (ای کتونکیه)	کښتی	روانه	په دغه (بحر) کښی	او چی طلب کړئ تاسی

چی اغوندئ ئی تاسی (ښځی ستاسی)، او وینی به ته بیړی رهی (روانه) په دغه (بحر) کښی او چی طلب کړئ تاسی

وَّتَسۡتَخۡرِجُوۡا مِنۡهُ حِلۡیَةً تَلۡبَسُوۡنَهَا.. ددریاب فوائد دانسانیت دپاره قران کریم داسي بیانوي : په دغه ایت کي الله ﷻ ددریاب دفائدو څخه دانسانیت دپاره یوه فائده دابیان کریده چي په دي کي په غوټو وهلو سره انسان دخپل ځان دپاره کالي راباسي : د (حلیه) لفظي معنى زینت دی دلته مراد ور څخه هغه ملغلري او غمي او جواهرات دي کم چي دسمندر څخه راوزي او ښځي ورڅخه هارونه جوړوي په غاړه یا په بله طریقه سره یي په غوږونو کي اچوي داکالي اگر چي ښځي اغوندي لیکن قرأن کریم لفظ دمذکر استعمال کړی دی او وي فرمایل (تلبسونها) یعني تاسي خلق یي اغوندی اشاره ددي خبري طرف ته ده چي دښځو کالي اغوستل په حقیقت کي دسړو دفائدي پاره دي د ښځي ښایست په حقیقت کي دسړي حق دی .دی خپله ښځه په ښایسته جامو او کالو اغوستلو مجبوره کولای هم سي د دي څخه علاوه دجواهراتو استعمال سړي هم په گوتمی وغیره کي کولای سي .داقول دالله ﷻ نعمتونه دي ویندگانو ته : (معارف القرآن ج۵پ۱۴ص۴۷)

مِنۡ فَضۡلِهٖ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ⑭ وَاَلۡقٰى فِى الۡاَرۡضِ

مِنۡ فَضۡلِهٖ	وَلَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ	وَاَلۡقٰى	فِى الۡاَرۡضِ
له فضله د دغه (الله)	او دپاره د دی چی	شکر وباسئ تاسی	او غورځولی ئی دی	په مځکه کښی

(رزق) له فضله د دغه (الله) او دپاره د دی چی شکر وباسئ تاسی(پر دغو نعمتونو). او غورځولی ئی دی په مځکه کښی

رَوَاسِىَ اَنۡ تَمِيۡدَ بِكُمۡ وَاَنۡهٰرًا وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمۡ

رَوَاسِىَ	اَنۡ تَمِيۡدَ بِكُمۡ	وَاَنۡهٰرًا	وَّسُبُلًا	لَّعَلَّكُمۡ
غرونه محکم	لپاره د دی چی ونه ښوریږی پر تاسی باندی	او ویالی	او لاری	لپاره د دی

بارونه (غرونه میخونه محکم) لپاره د دی چی ونه ښوریږی (چپه نسی مځکه) پر تاسی باندی او ویالی د لاری لپاره د دی

تَهۡتَدُوۡنَ ⑮ وَعَلٰمٰتٍ ؕ وَبِالنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُوۡنَ ⑯

تَهۡتَدُوۡنَ	وَعَلٰمٰتٍ	وَبِالنَّجۡمِ	هُمۡ يَهۡتَدُوۡنَ
چی لاری پیدا کړی	او (پیدا کړی دی الله) علامی	او په ستوریو سره	هم دوی لاری پیدا کوی (مومی)

چی لاری ومومئ (پیدا کړی). او (پیدا کړی دی الله) علامی (لاری) او په ستوریو سره دغه لاری مومی (پیدا کړی)

اَفَمَنۡ يَّخۡلُقُ كَمَنۡ لَّا يَخۡلُقُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ⑰ وَاِنۡ

اَفَمَنۡ	يَّخۡلُقُ	كَمَنۡ	لَّا يَخۡلُقُ	اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ	وَاِنۡ
آیا هغه (ذات)	چی هر شی پیدا کولی سی	پشان د هغه دی	چی نسی پیدا کولی	آیا نو پند نه اخلئ تاسی	او که

آیا هغه (ذات چی هر شی) پیدا کولی سی پشان د هغه دی چی نسی پیدا کولی (هیڅ شی) آیا نو پند نه اخلئ تاسی. او که

تَعُدُّوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ لَا تُحۡصُوۡهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ⑱

تَعُدُّوۡا	نِعۡمَةَ	اللّٰهِ	لَا تُحۡصُوۡهَا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَغَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ
وشمیرئ تاسی	نعمتونه	د الله	نو نه به ئی سئ شمیرلی	بیشکه! چی	الله	خامخا ښه بخښونکی	ډیر رحم والا دی

وشمیرئ تاسی نعمتونه د الله نو نه به ئی سئ شمیرلی بیشکه! چی الله خامخا ښه بخښونکی ډیر رحم والا دی (په انعام داجر).

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّوۡنَ وَمَا تُعۡلِنُوۡنَ ⑲ وَالَّذِيۡنَ

وَاللّٰهُ	يَعۡلَمُ	مَا تُسِرُّوۡنَ	وَمَا تُعۡلِنُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ
او الله ته	معلوم دی	هغه چی پټوئ ئی تاسی	او هغه چی ښکاره کوی ئی تاسی	او هغه (بتان)

او الله ته معلوم دی هغه (عقائد) چی پټوئ ئی تاسی او هغه (اعمال) چی ښکاروئ ئی تاسی. او هغه (بتان)

وَاَلۡـقٰى فِى الۡاَرۡضِ رَوَاسِىَ اَنۡ تَمِيۡدَ بِكُمۡ. غرونه الله ﷻ دمځکي دجيتکو ښخه دمنع کولو دپاره پيدا کړي دي: رواسی جمع ده راسية ده درونـد غرته ويـل کيـږي (تميـد) دميد مصدر ښخه جوړ دی چي معنی يي پريښوول يا ښوريدونکي حرکت کول دي :معنی دايت داده چي دمځکي کُره الله ﷻ دډيرو حکمتونو تر مخه دسختو او متوازنو اجزاوو ښخه نه ده جوړه کړې په دې وجه دايوه طرف ته درنه او بل طرف ته پسته واقع سويده ددې لازمـي نتيجـه داوه چـي کـه مځکـه دعـامو فلاسفرانو پـه شان ساکنه ومنل سي يا دځه پخوانيو او نـوو فلاسفرانو پـه شان ورلـره حرکـت مستديره ومنـل سـي نـو پـه دواړو حالاتو کي به په مځکه کي دننه يو اضطرابي حرکت وو کـم تـه چي رپيـدل يـا ښوريدل ويـل کيـږي :ددې رپيـدونکي حرکـت دمنـع کولـو او دمځکـي اجـزاء دمتـوازن کولودپـاره الله ﷻ پر مځکه دغرونو وزن کښيښووی چي داد رپيدو حرکت ونه کړي : پاته سوه مسـئله دهغـه حرکـت کـم چـي مځکـه يـي پـه خپلـه دائـره کـي کـوي تفصـيل يـي پـه معـارف القرآن تفسير کي وگوری.

(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۴۸)

يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَا يَخۡلُقُوۡنَ شَيۡـًٔا وَّهُمۡ

يَدۡعُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	لَا يَخۡلُقُوۡنَ	شَيۡـًٔا	وَّهُمۡ
عبادت يئ كوي دوئ	غير له	الله څخه	نسي پيداكولی دوی	هيڅ شي	حال دا چي دوی پخپله (هم)

چي ئې بولي (عبادت ئې كوی) غير له الله څخه نسي پيداكولی دوی هيڅ شيز حال دا چي دوی پخپله (هم)

يُخۡلَقُوۡنَ ﴿۲۰﴾ اَمۡوَاتٌ غَيۡرُ اَحۡيَآءٍ ۚ وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ ۙ

يُخۡلَقُوۡنَ	اَمۡوَاتٌ	غَيۡرُ	اَحۡيَآءٍ	وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ
پيداكاوه سي	(دغه بتان) مړه دي	نه دي	ژوندي	او نه پوهيږي دغه (بتان)

پيداكاوه سي. (دغه بتان پخپله) مړه دي (روح نه لري) نه دي ژوندي، او (په دي هم) نه پوهيږي دغه (بتان)

اَيَّانَ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۲۱﴾ اِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيۡنَ

اَيَّانَ	يُبۡعَثُوۡنَ	اِلٰهُكُمۡ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	فَالَّذِيۡنَ
چي كله به	راپورته كړی سی	معبود ستاسی	معبود	يو دی	نو هغه (كسان)

چي كله به راولاړاوه سی دغه (بتان يا عابدان ئې). معبود ستاسی معبود يو دی، نو هغه (كسان)

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مُّنۡكِرَةٌ وَّهُمۡ

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ	بِالۡاٰخِرَةِ	قُلُوۡبُهُمۡ	مُّنۡكِرَةٌ	وَّهُمۡ
چي نه راوړي ايمان	په آخرت	زړونه د دغو (بې ايمانانو)	منكر دي	او دوی

چي نه راوړي ايمان په (ژوندانه د) آخرت زړونه د دغو (بې ايمانانو) منكر دي (له وحدانيت د رب العزت) او دوی

مُّسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿۲۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا

مُّسۡتَكۡبِرُوۡنَ	لَا جَرَمَ	اَنَّ	اللّٰهَ	يَعۡلَمُ	مَا
تكبر كوونكي دي	ربنتيا واقعي خبره داده	بيشكه!	الله ته	معلوم دي	هغه

تكبر كوونكي (مغروران) دي (له ايمان راوړلو څخه). ربنتيا واقعي خبره دا ده بيشكه! الله ته معلوم دي هغه (مكر او فريب)

يُسِرُّوۡنَ وَمَا يُعۡلِنُوۡنَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الۡمُسۡتَكۡبِرِيۡنَ ﴿۲۳﴾ وَاِذَا

يُسِرُّوۡنَ	وَمَا يُعۡلِنُوۡنَ	اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ	الۡمُسۡتَكۡبِرِيۡنَ	وَاِذَا
چي پټوی ئې دوی	او هغه چي ښكاره كوی ئې	بيشكه! چي	دغه (الله) نه خوښوی	تكبر كوونكي	او كله چي

چي پټوی ئې دوی او هغه (جنګ او جګړه) چي ښكاره كوی ئې بيشكه! چي دغه (الله) نه خوښوی تكبر كوونكي. او كله چي

يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَا يَخۡلُقُوۡنَ. ايا الله ﷻ چي حقيقي معبود برحق ذات دی دباطل خدايانو سره برابريداى سي؟ په تيرو ايــاتونو كــي دالله ﷻ دنعمتونـو او دكائنـاتو دپيدايش دتفصيلي ذكر كولو څخه وروسته يي دغه خبرداری ور كړی دی دكم دپاره چي يي ددې تولو نعمتونو تفصيل بيان كـړی دی او هغـه دالله ﷻ يـووالي دی چي دده څخه ماسوا بل څوک دعبادت مستحق نسته په دغه وجه سره فرمـايي چي كلـه دا ثابتـه سـوه چـي الله ﷻ يكـي يـوازي مځكـه او آسمانونه جوړ كړل غرونه او دريابونـه يـي جـوړ كړل نباتـات او حيوانـات يـي پيدا كړل درختي او ددې ګلونـه او ميـوې يــي پيداكړي نو آيا دغه پاک ذات چي ددې ټولو شيانو خـالق دی ددغـه بتـانو پـه شان كيداى سي كم چي هيڅ نه سي پيداكولای نو آيـا تاسـي دومـره هـم نـه پـوهيږی نو معلومـه سـول چــي كفـار نــه پــوهيږي كـه دوی پوهيــدلای نــو ددغــه جمـادو بتــانو او بـاطلو خـدايانو عبـادت بـه يـي نـه كـولای او دوی دآخرت پـه معاملـه كـي رانـده دي نـه پــوهيږي: اللهم احفظنا من حالهم. (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۵۰)

رکوع ۸ / ۱۲

قِيلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوْٓا

قِيلَ	لَهُمْ	مَّاذَآ	اَنْزَلَ	رَبُّكُمْ	قَالُوْٓا
وويلې سي	دغو ته	څه شی دی هغه	چې نازل کړی دی	رب ستاسی	نو وائی دوی

وويلې سي دغو (متکبرانو) ته څه شی دی هغه چې نازل کړی ليږلی دی رب ستاسی (په محمد باندی) نو وائی دوی (دغه)

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَّوْمَ

اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ	لِيَحْمِلُوْٓا	اَوْزَارَهُمْ	كَامِلَةً	يَّوْمَ
(دغه) خوشی قصی	د پخوانيو (خلګو) دی	دپاره د دی چی په شا واخلی	پيتی (دګناهونو) خپلو	پوره	په ورځ

خوشی افسانی د پخوانيو (خلګو) دی. (نو الله فرمائی) دپاره د دی چی په شا واخلی پيتی (دګناهونو) خپلو پوره په ورځ

الْقِيٰمَةِ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ

الْقِيٰمَةِ	وَمِنْ	اَوْزَارِ	الَّذِيْنَ	يُضِلُّوْنَهُمْ	بِغَيْرِ عِلْمٍ
دقيامت کښې	او له	پيتي (دګناهونو)	دهغو کسانو	چي ګمراه کړی دی دوی هغوی لره	په ناپوهی

د قيامت کښې او (هم داسی واخلی) له پيتی (دګناهونو) دهغو (کسانو) چي ګمراه کړی دی دوی هغوی لره په ناپوهی،

اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ

اَلَا سَآءَ	مَا يَزِرُوْنَ	قَدْ	مَكَرَ	الَّذِيْنَ
واورئ خبردار سئ چې بد دی	هغه شی چي باروی ئی دوی	په تحقيق	مکر کړی ؤ	هغه کسانو چي

واورئ خبردار سئ چي بد دی هغه شی چي باروی ئی دوی. په تحقيق مکر کړی ؤ (له رسولانو سره) هغه کسانو چي (تير سوی) دی

مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ

مِنْ قَبْلِهِمْ	فَاَتَى	اللّٰهُ	بُنْيَانَهُمْ	مِّنَ الْقَوَاعِدِ	فَخَرَّ
پخوا له دوی څخه وه	نو راغی (حکم د)	الله	(په خرابولو د) بناګانو د دوی	له تاداوونو	نو پريوت

پخوا له دوی څخه نو راغی (حکم د) الله (په خرابولو د اوچتو) بناګانو د دوی له تاداوونو (د ودانيو د دوی) نو پريوت

عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

عَلَيْهِمُ	السَّقْفُ	مِنْ فَوْقِهِمْ	وَاَتٰىهُمُ	الْعَذَابُ	مِنْ حَيْثُ
پردوی	چت	له پاسه د دوی	او راغی دوی ته	عذاب	له هغه طرفه چي

پر دوی چت (د کوټو د دوی) له پاسه د (سرونو د) دوی او راغی دوی ته عذاب له هغه طرفه چي

قِيلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوْٓا... کفاروا او مشرکينو به قران کريم ته پخوانی قصې او نقلونه ويل: په دغه ايت کي بيا الله جل جلاله ددغه کفارو عداوت او دښمني او استهزآء چي دقرآن کريم سره به يي کوله هغه بيانوي هغه داسي چي کله به دغه کفاروته وويل سول يعني چي کله به يو ناخبره سړي دتحقيق دپاره يا به يو خبر سړي دامتحان داخيستو دپاره ددوی څخه پوښتنه وکړه چي ستاسي رب څه شی نازل کړی دی يعني دغه قرآن کريم چي نبي کريم ﷺ ورته دالله جل جلاله دطرفه څخه نازل کړی وايي آيا دا صحيح دی که نه دی؟ نو دوی بيا وايي چي صاحبه کلـه داد الله جل جلاله دطرفه څخه نازل سوی دی؟ داخو محض بې سنده قصي او خبري دي کمي چي دپخوانيو څخه نقل راروانې دي يعني دملتونو خلګ دوړانـدي څخه دتوحيد او نبوت او ميعاد مدعيان راغلي دي دهغو څخه دوی هم نقل وکړی باقي دادخدای جل جلاله ورکړې دعوی نه ده الله جل جلاله فرمايي چي ددې وينا نتيجه به دقيامت په ورځ ډيره سخته وي دوی دي خبرداره اوسي.
(معرف القرآن ج ۵ پ ۱۴ ص ۵۱)

ع۳ ۹

لَا يَشْعُرُوْنَ ۝٢٦ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُخْزِيْهِمْ وَيَقُوْلُ

لَا يَشْعُرُوْنَ	ثُمَّ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	يُخْزِيْهِمْ	وَيَقُوْلُ
نه پوهيدلی دوی	بيا	په ورځ	د قيامت کښې	به رسوا کړی دوی	او وبه فرمائی (الله)

نه پوهيدل دوی. بيا په ورځ د قيامت کښې به (الله و شرموی) رسوا کړی دوی او وبه فرمائی (الله)

اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُشَآقُّوْنَ فِيْهِمْ ؕ قَالَ

اَيْنَ	شُرَكَآءِيَ	الَّذِيْنَ	كُنْتُمْ	تُشَآقُّوْنَ	فِيْهِمْ	قَالَ
چې چيرته دی	شريکان زما	هغه چې	وئ تاسی	چې مخالفت به مو کاوه	په باب د دوی کښی	وبه وائی

چې چيرته دی شريکان زما (په زعم ستاسی سره) هغه چې وئ تاسی چې مخالفت به مو کاوه په باب د دوی کښی وبه وائی

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْٓءَ عَلَى

الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْعِلْمَ	اِنَّ الْخِزْيَ	الْيَوْمَ	وَالسُّوْٓءَ	عَلَى
هغه کسان چې	ورکړی سوی دی دوی ته	علم	چې بيشکه! رسوايئ	دنن ورځې	او بدی (عذاب)	پر

هغه کسان چې ورکړی سوی دی دوی ته علم (يعنی ملائيکی، انبياء، علماء) چې بيشکه! خواری د نن ورځې او بدی پر

الْكٰفِرِيْنَ ۝٢٧ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ

الْكٰفِرِيْنَ	الَّذِيْنَ	تَتَوَفّٰىهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	ظَالِمِيْٓ
کافرانو دی	هغه (کافران) چې	قبضوی (ارواح د) دوی	ملائيکی	په دی حال کښی چې ظلم کوونکی دی دوی

کافرانو دی. هغه (کافران) چې قبضوی (ارواح د) دوی ملائيکی په دی حال کښی چې ظلم کوونکی دی دوی

اَنْفُسِهِمْ ۠ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ

اَنْفُسِهِمْ	فَاَلْقَوُا	السَّلَمَ	مَا كُنَّا	نَعْمَلُ	مِنْ سُوْٓءٍ
په نفسونو خپلو	نو وراندی به کړی	روغه	نه وو موږ	چې عمل به موږ کاوه	د هيڅ قسم بدی

په نفسونو ځانونو خپلو (په کفر سره) نو وراندی به کړی روغه (اطاعت او وبه وائی) نه وو موږ چې عمل به مو کاوه د هيڅ قسم بدی

بَلٰٓى اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٢٨

بَلٰٓى	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	بِمَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ
ولی مو نه کاوه	بيشکه!	چې الله	ښه عالم دی	په هغه څه چې وئ تاسی	چې کول به مو

(نو الله به وفرمائی) بلکه کاوه تاسی معصيت بيشکه! چې الله ښه عالم دی په هغه څه چې وئ تاسی چې کول به مو.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُخْزِيْهِمْ وَيَقُوْلُ... د قيامت په ورځ به کفار او مشرکين دغتي رسوايي سره مخ سي: الله ﷻ فرمايي کم خلک چي تر دوی مخکي تير سوي وه هغو هم خپل ارمان نه دی پري ايښی د پيغمبرانو په مقابله کي بي غـټ غـټ تدبيرونه وکـړل پس الله ﷻ د دوی دتـدبيرونو آبـاد کړي کورونه د بيخ او بنياد څخه ونـړول بيـا دوی داسي ناکامه سـول لکه گـواکي چي سربيره پر دوی د دوی د کـور چتونـه راولويـدل او علاوه د ناکامی څخه پر دوی بانـدي د خـدای ﷻ عـذاب داسي راغـی چي د دوی خيال هم نه وو څکه چي توقع د دوی پـه دغه تـدبيرکي د کامیابی وه او د دوی د امید او توقع څخه خـلاف پـر دوی بانـدي د ناکـامي څخـه زيـات عذاب راغی کم چي د دوی په ذهنونو کي گرسره نه وو راغلی داخو د دوی حالت پـه دنيـا کـي سـو بيـا د قيامت پـه ورځ بـه د دوی حالت داوي چي الله ﷻ به دوی رسـوا کـړي او پـه دي کي به يي يوه رسوايي دا وي چـي الله ﷻ بـه ورتـه ووايي هغـه څـوک چـي تاسـي زمـا سـره شريکان جوړ کړي وه هغه اوس چيـري دي ؟ الـخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص ۵۲)

فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ فَلَبِئْسَ مَثْوَى

فَادْخُلُوْٓا	اَبْوَابَ	جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	فَلَبِئْسَ	مَثْوَى
چي ننوځئ اوس تاسي	په دروازو	د دوزخ کښې	چي هميشه اوسئ	په هغه کښې	نو خامخا بد	ځای د هستوګنې

چي ننوځئ اوس تاسي په دروازو د دوزخ کښې چي هميشه اوسئ په هغه کښې، نو خامخا بد ځای د هستوګنې

الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ

الْمُتَكَبِّرِيْنَ	وَقِيْلَ	لِلَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	مَاذَآ
دمتکبرانو (دی)	او وبه ويل سی	هغو کسانو ته	چي ځان ئی ساتلی له شرکه	چي څه شی دی هغه

دمتکبرانو (دا دوزخ دی). او وبه ويل سی هغو کسانو ته چي ځان ئی ساتلی له شرکه (او بيريږی له الله) چي څه شی دی هغه

اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۭ قَالُوْا خَيْرًا ۭ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا

اَنْزَلَ	رَبُّكُمْ	قَالُوْا	خَيْرًا	لِلَّذِيْنَ	اَحْسَنُوْا	فِيْ هٰذِهِ	الدُّنْيَا
چي نازل کړی دی	رب ستاسی	نو وائی دغه	چي خير	سته هغو کسانو ته	چي نيکی ئی کړی ده	په دغه	دنيا کښې

چي نازل کړی دی رب ستاسی؟ نو وائی دغه (مؤمنان) چي خير سته هغو کسانو ته چي نيکی ئی کړی ده په دغه دنيا کښې

حَسَنَةٌ ۭ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ ۭ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۰﴾

حَسَنَةٌ	وَلَدَارُ	الْاٰخِرَةِ	خَيْرٌ	وَلَنِعْمَ	دَارُ	الْمُتَّقِيْنَ
نيکه جزا	او خامخا کور	دآخرت	خير غوره دی	او خامخا ډير ښه	کور	دپرهيزګارانو دی

نيکه جزا (چي عزت او نصرت دی) او خامخا کور د آخرت خير غوره دی، او خامخا ډير ښه کور د پرهيزګارانو دی.

جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

جَنّٰتُ	عَدْنٍ	يَّدْخُلُوْنَهَا	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ
جنتونه دی	دهميشه اوسيدلو	چي ننوځی به دوی (په) هغو کښې	چي بهيږی به	له لاندی د دوی	ويالی

(دا دار) جنتونه دی د هميشه اوسيدلو چي ننوځی به دوی (په) هغو کښې چي بهيږی به له لاندی د دوی (څلور قسمه) ويالی

لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ ۭ كَذٰلِكَ يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۱﴾

لَهُمْ	فِيْهَا	مَا يَشَآءُوْنَ	كَذٰلِكَ	يَجْزِي	اللّٰهُ	الْمُتَّقِيْنَ
چي وی به دوی ته	په دغو باغونو کښې	هرهغه چي اراده ئی کوی دوی	په شان د دغی	جزاء ورکوی	الله	پرهيزګارانو ته

چي وی به دوی ته په دغو باغونو کښې هر هغه (نعمتونه) چي اراده ئی کوی دوی، په شان د دغی جزاء ورکوی الله پرهيزګارانو ته.

وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ... مسلمانانو بيا دالله ﷻ نازل کړي کلام ته دخيراو برکت کلام وايه:

په دغه آيت کي الله ﷻ بر عکس دکفارو خپل مومنان بندګان ستايلي دي پر دغه عمل باندي چي دوی دقرآن کريم او ددين اسلام خير خواهان وه او کله چي به ددوی څخه دقرآن کريم متعلق يو ناخبره سړي پو ښتنه وکړه چي ستاسي رب څه شی نازل کړی دی نو دوی به بيا ورته ويل چي ډير دخير او برکت شی يي نازل کړی دی هغه داچي کوم خلګو چي نيک کارونه کړي دي ددوی دپاره په دې دنيا کي هم نيکي ده چي هغه دثواب وعده او خوشخبري ده او عالم آخرت خو په وجه ددې چي هلته به ددې وعدې حق کيدل او ښکاره کيدل وي هغه نو زيات غوره او خير دی او په حقيقت سره هم دآخرت کور دهغه کسانو دپاره چي په دې دنيا کي خپل ځانونه دکفر او شرک څخه ساتلي وي بهتره دی ځکه چي هلته دهميشه پاته کيدو باغونه دي چي دوی به ور دا خليږي او ددې باغونو تر درختو لاندي به ويالي هم بهيږي او نور هم داسي نعمتونه الخ.

(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۵۵)

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ

الَّذِيْنَ	تَتَوَفّٰىهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	طَيِّبِيْنَ	يَقُوْلُوْنَ
هغه کسان	چی قبضوی ارواح د دوی	ملائیکی	په دی حال کښې چې پاک دی دغه	وائی به دغه (ملائیکی)

هغه (کسان) چې قبضوی ارواح د دوی ملائیکی په دی حال کښې چې پاک دی دغه (متقین) وائی به دغه (ملائیکی دوی ته)

سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾

سَلٰمٌ	عَلَيْكُمُ	ادْخُلُوا	الْجَنَّةَ	بِمَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ
(چې د الله) سلام دی وی	پر تاسی باندی	ننوځئ!	جنت ته	په سبب د هغو نیکو چې وئ تاسو	چې عمل به موکاوه

(چې د الله) سلام دی وی پر تاسی باندی ننوځئ! جنت ته په سبب د هغو نیکو چې وئ تاسو چې عمل به موکوه (په دنیاکی).

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ

هَلْ يَنْظُرُوْنَ	اِلَّآ	اَنْ	تَاْتِيَهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	اَوْ يَاْتِيَ	اَمْرُ
آیا انتظار کوی دغه (کفار)	مگر	د دی چې	راسی دوی ته	ملائیکی	یا راسی ورته	امر (حکم، دعذاب)

آیا انتظار کوی دغه (کفار بلکه نه کوی د هیڅ شیز) مگر د دی چې راسی دوی ته ملائیکی یا راسی ورته امر (حکم، عذاب)

رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

رَبِّكَ	كَذٰلِكَ	فَعَلَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
د رب ستا	په شان د دغی	کړی ؤ	هغو کسانو	چی پخوا له دوی تیر سوی وو

د رب ستا (دپاره دهلاک د دوی)، په شان د دغی (کفر او تکذیب) کړی ؤ هغو کسانو چې پخواله دوی تیر سوی وو

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ فَاَصَابَهُمْ

وَمَا ظَلَمَهُمُ	اللّٰهُ	وَلٰكِنْ	كَانُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ	فَاَصَابَهُمْ
او نه ؤ ظلم کړی پر دوی	الله	ولیکن	وو دوی	چې په نفسونو خپلو باندی	ئی ظلم کاوه	نو ورسیده دوی ته

او نه ؤ ظلم کړی پر دوی الله (په اهلاک سره) ولیکن وو دوی چې په نفسونو خپلو باندی ئی ظلم کاوه. نو ورسیده دوی ته

سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

سَيِّاٰتُ	مَا عَمِلُوْا	وَحَاقَ	بِهِمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ
جزاء د هغو بدیو	چې کړی وو دوی	او احاطه وکړه	پر دوی	هغه چې وو دوی	چی په هغه (عذاب پوری)

جزاء د هغو بدیو چې کړی وو دوی او احاطه وکړ (چاپیر سو) پر دوی هغه (موعود عذاب) چې وو دوی چې په هغه (عذاب پوری)

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ ۙ ملایکي به دمتقیانو ارواحان په داسي حال کي باسي چي دوی به پاک وي دالله ﷻ په نزد: یعني الله ﷻ به دغه بدله وهغه کسانو ته ورکړي کمو چي دشرک څخه ځان پاک ساتلی وو دکمو ارواحان چي ملایکي په داسي حالت کي باسي چي دوی دشرک څخه پاک صفا وي :مطلب دادی چي تر مرگه پوري به پر توحید باندي قائم وي او دغه ملایکي به وایي (السلام علیکم) تاسي دروح دقبض کولو وروسته جنت ته داخل سی دخپلو نیکوعملونو په سبب: او پاته سوه داخلگ کم چي پر خپل کفراو عناد باندي قایم اواصرار کوي او سره دواضح کیدو ددلیلونو دحق ایمان نه راوړي نو معلومیږي چي دوی صرف ددې خبري انتظار کوي چي دوی ته دمرگ ملایکي راسي یا ستا درب حکم یعني قیامت راسي نو دوی به داوخت یعني دمرگ دلیدلو په وخت کي یا دقیامت دراتگ په وخت کي به ایمان راوړي او حال داچي دغه وخت ایمان راوړل هیڅ فائده نه لري ځکه چي داد مجبوری ایمان دی الـخ.
(معرف القرآن ج۵پ۱۴ص ۵۵)

ع ١٠

يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿٣٤﴾ وَقَالَ الَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡا لَوۡ شَآءَ اللّٰهُ

يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ	وَقَالَ	الَّذِيۡنَ	اَشۡرَكُوۡا	لَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ
به ئې مسخرې کولې	او وويل	هغو کسانو	چې شرک ئې اختيار کړی وو	که اراده فرمايلې وی	الله

به ئې مسخرې کولې. او وويل هغو کسا نو چې شرک ئې اختيار کړی وو که اراده فرمايلې وی الله

مَا عَبَدۡنَا مِنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ شَىۡءٍ نَّحۡنُ وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا

مَا عَبَدۡنَا	مِنۡ دُوۡنِهٖ	مِنۡ شَىۡءٍ	نَّحۡنُ	وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا	وَلَا حَرَّمۡنَا
نو عبادت به نه وو کړی موږ	غير له دغه (الله)	دهيڅ شي	(نه) موږ	او نه پلرونو زموږ	او نه به حرام کړی وو موږ

نو عبادت به نه وو کړی موږ غير له دغه (الله) دهيڅ شي، (نه) موږ او نه پلرونو زموږ او نه به حرام کړی وو موږ

مِنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ شَىۡءٍ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيۡنَ

مِنۡ دُوۡنِهٖ	مِنۡ شَىۡءٍ	كَذٰلِكَ	فَعَلَ	الَّذِيۡنَ
بيله له حکمه د دغه (الله)	هيڅ څيز (شی)	په مثل د دغه (عمل د دوی)	کړی وو	هغو کسانو چې

بی له حکمه د دغه (الله) هيڅ څيز، په مثل د دغه (عمل د دوی) کړی وو هغو کسانو چې

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ۚ فَهَلۡ عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ ﴿٣٥﴾

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	فَهَلۡ	عَلَى	الرُّسُلِ	اِلَّا	الۡبَلٰغُ	الۡمُبِيۡنُ
پخوا له دوی (تيرسوی) وو	نو آيا سته	پر	رسولانو	مګر	رسونه	ښکاره

پخوا له دوی (تير سوی) وو، نو آيا سته پر رسولانو (بلکه نسته پری هيڅ) مګر رسونه ښکاره.

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِىۡ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوۡلًا اَنِ اعۡبُدُوا

وَلَقَدۡ	بَعَثۡنَا	فِىۡ كُلِّ	اُمَّةٍ	رَّسُوۡلًا	اَنِ اعۡبُدُوا
او خامخا په تحقيق	ليږلی وو موږ	په هر (پخوانی)	امت کښې	يو رسول (چې ووائی دوی ته)	چې عبادت کوئ

او خامخا په تحقيق ليږلی (پورته کړی) وو موږ په هر (پخوانی) امت کښې يو رسول (چې ووائی دوی ته) چې عبادت کوئ

اللّٰهَ وَاجۡتَنِبُوا الطَّاغُوۡتَ ۚ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ هَدَى اللّٰهُ

اللّٰهَ	وَاجۡتَنِبُوا	الطَّاغُوۡتَ	فَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ هَدَى	اللّٰهُ
(يوائی) دالله	او ځان ساتئ تاسی	له شريرانو څخه	نو ځينی له دوی	هغه وو چې هدايت وکړ دوی ته	الله

(يوائی) د الله او ځان ساتئ تاسی له شريرانو (باطلو معبودانو) څخه نو ځينی له دوی هغه وو چې ورته هدايت وکړ الله

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِىۡ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوۡلًا اَنِ اعۡبُدُوا.. ايا په هندوستان کي هم مثلاً الله جل جلاله يو څوک رسول راليږلی وو ؟: ددغه آيت څخه او دارنګه ديو بل آيت څخه چي هغه داسي دی (وان من امة الا خلا فيه نذير) په ظاهره داسي معلوميږي چي دهندوستان او پاکستان په علاقو کي به هم د الله جل جلاله پيغمبر خامخا راغلی وي برابره خبره ده که هغه ددې ځاي اوسيدونکی وي يا دبل ملک اوسيدونکی وي او دده مبلغ او نائب دلته رارسيدلی وي. او د آيت (لتنذر قوما ما آتاهم من نذير) څخه چي کمه دا معلوميږي چي نبي کريم ؑ چي کم امت ته ليږل سوی دی دوی ته ددوی څخه وړاندي او مخکي بل رسول نه دی راغلی. ددې جواب دا کيدای سي چي ددې څخه مراد په ظاهره دعربو هغه قوم دی کم چي ددوی دنبوت او رسالت دټولو څخه اولني مخاطب سول چي په دوی کي دحضرت اسماعيل ؑ څخه وروسته هيڅ يو رسول نه دی راغلی په دې وجه ددې خلګو لقب په قرآن کريم کي (اميين) کښيښوول سو ددې څخه دا نه لازميږي چي تر نبي کريم ؑ مخکي دي په پاته دنيا کي هم څوک نبي نه وي راغلی: (معارف القرآن ج٥ پ١٤ ص ٥٩)

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ الضَّلٰلَةُ ؕ فَسِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ

وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ حَقَّتۡ	عَلَيۡهِ	الضَّلٰلَةُ	فَسِيۡرُوۡا	فِى الۡاَرۡضِ
او ځينې د دوی	هغه وو چې ثابته سوه	پرې	ګمراهي	نو وګرځئ تاسې	په مځکه کښې

او ځينې د دوی هغه وو چې ثابته سوه پرې ګمراهي (نو قبول ئې نه کړل احکام د رسولانو) نو وګرځئ تاسې په مځکه کښې

فَانۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝۳۶

فَانۡظُرُوۡا	كَيۡفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الۡمُكَذِّبِيۡنَ
نو وګورئ په نظر د عبرت سره	چې څرنګه	ؤ	عاقبت (آخره خاتمه)	د دروغجن کوونکو

(ای مشرکانو!) نو وګورئ په نظر د عبرت سره چې څرنګه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) د دروغجن کوونکو (د انبیاؤ؟).

اِنۡ تَحۡرِصۡ عَلٰى هُدٰٮهُمۡ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِىۡ مَنۡ

اِنۡ تَحۡرِصۡ	عَلٰى	هُدٰٮهُمۡ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهۡدِىۡ	مَنۡ
که ته ډېر حرص وکړې	پر	هدایت د دوی	نو بیشکه! چې	الله	نه نبیي لاره	هغه چاته

که ته ډېر حرص وکړې (ای محمده!) پر هدایت (لیار ښوونه) د دوی نو بیشکه! چې الله نه نبیي لاره (د هدایت) هغه چاته

يُّضِلُّ وَمَا لَهُمۡ مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ ۝۳۷ وَاَقۡسَمُوۡا بِاللّٰهِ جَهۡدَ

يُّضِلُّ	وَمَا لَهُمۡ	مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ	وَاَقۡسَمُوۡا	بِاللّٰهِ	جَهۡدَ
چې ګمراه کوی	او نه به وی دغو ګمراهانو ته	هیڅ له مددګارانو	او قسمونه کوی دوی	پر الله	په سختو غلیظو

چې ګمراه کوی (ئې) او نه به وی دغو ګمراهانو ته هیڅ له مددګارانو. او قسمونه کوی دوی پر الله په سختو غلیظو

اَيۡمَانِهِمۡ ۙ لَا يَبۡعَثُ اللّٰهُ مَنۡ يَّمُوۡتُ ؕ بَلٰى وَعۡدًا

اَيۡمَانِهِمۡ	لَا يَبۡعَثُ	اللّٰهُ	مَنۡ يَّمُوۡتُ	بَلٰى	وَعۡدًا
قسمونو خپلو	چې بیا به نه کړی ژوندی	الله	هغه څوک چې مرسی	ولې ژوندی به ئې کړی نه	په داسې وعده کولو سره

قسمونو خپلو چې بیا به نه کړی ژوندی الله هغه څوک چې (یو ځلې) مرسی، بلکه ژوندی به ئې کړی په داسې وعده کولو

عَلَيۡهِ حَقًّا وَّلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ۝۳۸

عَلَيۡهِ	حَقًّا	وَّلٰـكِنَّ	اَكۡثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ
چې لازمه ده پر ده (وفائی)	حقه	ولیکن	ډېر	د خلګو	نه پوهیږی

چې لازمه ده پر ده (وفائی) تفضلاً (ځکه چې وعده ئې کړې ده) حقه ولیکن ډېر د خلګو نه پوهیږی (په دغه بعث بعد الموت).

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ الضَّلٰلَةُ... په هر امت کي الله ﷻ خپل پیغمبران دحق خبري ددعوت اوتبلیغ دپاره لیږلي دي:
الله ﷻ فرمایي چي موږ په هر امت کي دتیرو امتونو څخه څه نا څه پیغمبران ددې خبري دتعلیم دپاره رالیږلي دي چي تاسي خاص دالله ﷻ عبادت کوی او دشیطان دلاري څخه چي هغه شرک او کفر دی ځان ساتی په دې کي دشیانو هغه حراموالی هم راغی کم چي به مشرکینو په خپله رایه سره کوی ځکه چي دا هم دکفر او شرک شعبه ده چي خپل پر سر باندي یو شی څوک حرام کړي نو دانبیاوو علیهم السلام تر راتګ وروسته بیا خلګ دوې ډلې سول ځیني په دوی کي هغه سول کمو ته چي الله ﷻ هدایت وکی او دوی حق قبول کی او ځیني بیا هغه سول پر کمو چي دګمراهی ثبوت وسو: مطلب دادی چي دکفارو او دپیغمبرانو په مابین کي دا معامله په دغه شان راروانه ده او دهدایت او ګمراهی متعلق دالله ﷻ معامله هم دهمیشه څخه دغه شان جاري ده چي دکفارو جګړه هم پخوانی اوتعلیم دپیغمبرانو علیهم السلام هم پخوانی دی الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۵۷)

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِىْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

لِيُبَيِّنَ	لَهُمُ	الَّذِىْ	يَخْتَلِفُوْنَ	فِيْهِ	وَلِيَعْلَمَ	الَّذِيْنَ
دپاره د دی دی چی بیان کړی الله	دوی ته	هغه چی	جګړی کوی دوی	په هغه کښی	او د دی دپاره چی پوه سی	هغه کسان

دپاره د دی دی چی بیان (اوښکاره) کړی الله دوی ته هغه چی جګړی کوی دوی په هغه کښی او د دی دپاره چی پوه سی هغه کسان

كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَىْءٍ

كَفَرُوْٓا	اَنَّهُمْ	كَانُوْا كٰذِبِيْنَ	اِنَّمَا	قَوْلُنَا	لِشَىْءٍ
چی کفران سوی دی	بیشکه! دوی	وو دروغجنان	بیشکه! هم دا خبره ده	چی خبره زموږ	کوم شی ته

چی کافران سوی دی (په دی خبره چی) بیشکه! دوی وو دروغجنان. بیشکه! هم دا خبره ده چی خبره زموږ کوم شی ته

اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۰﴾ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا

اِذَآ	اَرَدْنٰهُ	اَنْ نَّقُوْلَ	لَهٗ كُنْ	فَيَكُوْنُ	وَالَّذِيْنَ	هَاجَرُوْا
کله چی	اراده وکړو دهغه	دا ده چی وو وایو	هغه ته چی (پیدا) سه	نو (پیدا) سی	او هغه کسان	چی هجرت ئې کړی دی

کله چی اراده وکړو (دپیدا کولو) دهغه دا ده چی وو وایو هغه ته چی (پیدا) سه نو (پیدا) سی. او هغه کسان چی هجرت ئې کړی دی

فِى اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً

فِى اللّٰهِ	مِنْۢ بَعْدِ	مَا ظُلِمُوْا	لَنُبَوِّئَنَّهُمْ	فِى الدُّنْيَا	حَسَنَةً
په (لاره) د الله کښی	وروسته	له هغه چی ظلم پری وکړی سو	نو خامخا ځای به ورکړو موږ دوی ته	په دنیا کښی	ښه (ځای)

په (لاره د) الله کښی وروسته له هغه چی ظلم پری وکړی سو نو خامخا ځای به ورکړو موږ دوی ته په دنیا کښی ښه (ځای)

وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ الَّذِيْنَ

وَلَاَجْرُ	الْاٰخِرَةِ	اَكْبَرُ	لَوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ	الَّذِيْنَ
او خامخا اجر	د آخرت	ډیر لوی دی	که وی دغه (کفار)	چی پوهیدی	(مهاجرین) هغه کسان دی

او خامخا اجر (بدل) ثواب د آخرت ډیر لوی دی. که وی دغه (کفار) چی پوهیدی (په ثواب دهجرت). (مهاجرین) هغه کسان دی

صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

صَبَرُوْا	وَعَلٰى	رَبِّهِمْ	يَتَوَكَّلُوْنَ	وَمَآ اَرْسَلْنَا	مِنْ قَبْلِكَ
چی صبر ئې کړی دی	او خاص	پر رب خپل	توکل کوی	او نه ؤ لیږلی موږ	پخوا له تا څخه

چی صبر ئې کړی دی (په طاعت او پر مصیبت) او خاص پر رب خپل توکل کوی. او نه ؤ لیږلی موږ پخوا له تا څخه (محمده!)

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِى اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا.. ایا هجرت په دنیا کي هم دژوند دفراخی سبب جوړیږي ؟
په ذکرسوو ایاتونوکي یي دڅو شرطونو سره دهجرت کوونکو دپاره دوه عظیم الشانه وعدې کړي دي: اوله خو په دنیا کي دغوره ځای ورکولو. دویمه په آخرت کي دبې حسابه لوی ثواب: په دنیا کي غوره ځای دا یو نهایت جامع لفظ دی په دې کي دا هم داخل دي چي هجرت کوونکي ته داوسیدو دپاره کور اوغوره همسایه ګان ورکول سي دا هم په کښي داخله ده چي ده ته رزق ښه ورکول سي پر دښمنانو یي فتح اوغلبه نصیب سي دعامو خلګو په ژبه ده صفت او ښه والی وي عزت او شرافت ورته حاصل سي کم چي ده تر خاندان او اولاده پوري چلیږي. (قرطبي)
هجرت څه ته وايي ؟
دهجرت لغوي معنی ده وطن پریښوول: دالله ﷻ دپاره چي کم وطن پریښوول سي دغه په اسلام کي لوی اطاعت او عبادت دی نبي کریم ﷺ فرمایلي دي (الهجرة تهدم ماکان قبلها) هجرت هغه ټول ګناهونه ختم کوي چي بنده دهجرت څخه مخکي کړي وي الخ.
(معرف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۶۰)

ع٥ ۱۱

اِلَّا رِجَالًا نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ فَسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ

اَهۡلَ الذِّكۡرِ	فَسۡـَٔلُوۡۤا	اِلَیۡهِمۡ	نُّوۡحِیۡۤ	رِجَالًا	اِلَّا
د خاوندانو د یاد	نو پوښتنه وکړئ تاسی	دوی ته	چې وحی به کوله موږ	سړی	مګر

مګر سړي (ستا په شان د انسانانو) چې وحی به کوله موږ دوی ته نو پوښتنه وکړئ تاسی له اهل الذکر (خاوندانو د یاد)

اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٤٣﴾ بِالۡبَیِّنٰتِ وَالزُّبُرِ ؕ وَاَنۡزَلۡنَاۤ

وَاَنۡزَلۡنَاۤ	وَالزُّبُرِ	بِالۡبَیِّنٰتِ	لَا تَعۡلَمُوۡنَ	اِنۡ كُنۡتُمۡ
او نازل کړی دی موږ	او په کتابونو سره	په ښکاره ؤ معجزو	چې نه پوهیږئ	که یئ تاسی

که یئ تاسی چې نه پوهیږئ (لیږلي وو موږ دغه رسولان). په ښکاره ؤ معجزو او په کتابونو سره او نازل کړی دی موږ

اِلَیۡكَ الذِّكۡرَ لِتُبَیِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَیۡهِمۡ

اِلَیۡهِمۡ	مَا نُزِّلَ	لِلنَّاسِ	لِتُبَیِّنَ	الذِّكۡرَ	اِلَیۡكَ
دوی ته	هغه چې نازل سوی دی	خلګو ته	لپاره د دی چې بیان کړی ته	ذکر قرآن	تاته

تاته ذکر قرآن (یو) لپاره د دی چې بیان کړی ته خلګو ته هغه چې نازل سوی دی (په دی قرآن کښی) دوی ته

وَلَعَلَّهُمۡ یَتَفَكَّرُوۡنَ ﴿٤٤﴾ اَفَاَمِنَ الَّذِیۡنَ

الَّذِیۡنَ	اَفَاَمِنَ	یَتَفَكَّرُوۡنَ	وَلَعَلَّهُمۡ
هغه کسان چې	آیا نو په امن کښی سوی دی	فکر او غور وکړی	او ښائی چې دوی

او (بل لپاره د دی) چې ښائیږی دوی فکر او غور وکړی. آیا نو په امن کښی سوی دی هغه کسان چې

مَكَرُوا السَّیِّاٰتِ اَنۡ یَّخۡسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ الۡاَرۡضَ اَوۡ یَاۡتِیَهُمُ

اَوۡ یَاۡتِیَهُمُ	الۡاَرۡضَ	بِهِمُ	اللّٰهُ	اَنۡ یَّخۡسِفَ	السَّیِّاٰتِ	مَكَرُوا
یا چې رابه سی دوی ته	په مځکه	دوی	الله	له دی څخه چې ننه باسی	ناکاره	مکرونه ئې کړی دی

مکرونه ئې کړی دی ناکاره ، له دی نه چې دننه به کړی الله دوی په مځکه یا چې رابه سی دوی ته

الۡعَذَابُ مِنۡ حَیۡثُ لَا یَشۡعُرُوۡنَ ﴿٤٥﴾ اَوۡ یَاۡخُذَهُمۡ

اَوۡ یَاۡخُذَهُمۡ	لَا یَشۡعُرُوۡنَ	مِنۡ حَیۡثُ	الۡعَذَابُ
یا له دی چې ونیسی (الله) دوی لره	چې نه پوهیږی دوی	له داسی طرفه	عذاب

عذاب له داسی طرفه چې نه پوهیږی دوی (پری چې له دی طرفه راځی). یا له دی چې ونیسی (الله) دوی لره

وَاَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡكَ الذِّكۡرَ لِتُبَیِّنَ لِلنَّاسِ. دوطن پریښودو او هجرت مختلف قسمونه او ددې حکمونه: امام قرطبي رحمة الله علیه دهجرت او وطن پریښودو په قسمونو او ددې پر څه احکامو یو مفید مضمون لیکلی دی دفائدې پوره کولو دپاره یو څه نقل کیږي: ده په حواله دابن عربي رحمة الله علیه لیکلي دي چې دوطن څخه وتل او سفر کول په مځکه کي کله خو دیو شي څخه دتښتیدو او ځان ساتلو دپاره وي او کله دیو شي دحاصلولو او لټون دپاره وي اول قسم سفر کم چي دڅه شي څخه دتښتیدو یا ځان ساتلو دپاره وي دې ته هجرت وایي او هجرت پر شپږ قسمه دی: اول: یعني ددارالکفر څخه د دارالاسلام طرف ته تلل. داقسم سفر درسالت په زمانه کي هم فرض وو او ترقیامته پوري په شرط دطاقت او قدرت فرض دی کله چي په دارالکفر کي دخپل ځان او مال او عزت امن نه وي یا ددیني فرضو ادا کول ممکن نه وي ددې باوجود که په دارالحرب کي پاته کیږي نوګناهګار به وي ځکه چي دسستی څخه یي کار واخیستی. پاته بیان پر راروان مخ وګوری

نصف

فِيْ تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٤٦﴾ اَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلٰى

فِيْ تَقَلُّبِهِمْ	فَمَا هُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ	اَوْ يَأْخُذَهُمْ	عَلٰى
په وخت د ګرځيدلو د دوی کښې	نو نه دی دوی	عاجزکوونکي	يا چې ونيسي (الله) دوی لره	پر

په وخت د ګرځيدلو د دوی (په مځکه) کښې نو نه دی دوی عاجز کوونکي (دالله). يا (له دی) چې ونيسي (الله) دوی لره پر

تَخَوُّفٍ فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٤٧﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

تَخَوُّفٍ	فَاِنَّ	رَبَّكُمْ	لَرَءُوْفٌ	رَّحِيْمٌ	اَوَلَمْ يَرَوْا
بيره	نو بيشکه!	رب ستاسی	خامخا ښه مهربان دی	ښه رحم والا	آيا نه ګوری دوی

بيره ، نو بيشکه! رب ستاسی خامخا ښه مهربان دی (پرښندګانو) ښه رحم والا . آيا نه ګوری دوی

اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ

اِلٰى مَا	خَلَقَ	اللّٰهُ	مِنْ شَيْءٍ	يَّتَفَيَّؤُا	ظِلٰلُهٗ	عَنِ الْيَمِيْنِ	وَالشَّمَآئِلِ
هغه ته چې	پيدا کړی دی	الله	له کومه شی	چې ګرځی	سيوری دهغه	له راسته طرفونو	او چپه طرفونو څخه

هغه ته چې پيدا کړی دی الله له کومه شی چې ګرځی سيوری دهغه له ښی طرفونو او کيڼ طرفونو (يعنی له هر طرفه) څخه

سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَهُمْ دٰخِرُوْنَ ﴿٤٨﴾

سُجَّدًا	لِّلّٰهِ	وَهُمْ	دٰخِرُوْنَ
په دی حال کښې چې سجده کوونکی دی	الله ته	حال داچې دغه سيوری	عاجزی کوونکی دی الله ته

په دی حال کښې چې سجده کوونکی دی (دغه سيوری) الله ته حال داچې دغه سيوری عاجزی کوونکی دی الله ته.

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ

وَلِلّٰهِ	يَسْجُدُ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا فِي	الْاَرْضِ	مِنْ دَآبَّةٍ
اوخاص الله ته	سجده کوی	هغه شيان چې	په آسمانونو کښې دی	او هغه شيان چې	په مځکه کښې دی	له ګرځيدونکو

او خاص الله ته سجده کوی هغه شيان چې په آسمانونو کښې دی او هغه شيان چې په مځکه کښې دی له ګرځيدونکو

وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ

وَّالْمَلٰٓئِكَةُ	وَهُمْ	لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ	يَخَافُوْنَ	رَبَّهُمْ
او ملائيکی	حال داچې	دوی نه کوی کبر	ويريږی دا (ملائيکی)	له رب خپل

او ملائيکی حال داچې دوی نه کوی کبر (لوئی سر کښی د الله تعالی له عبادته). ويريږی دا (ملائيکی) له رب خپل

اَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ فَاِنَّ رَبَّكُمْ..دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:

دوهم قسم هجرت د دارالبدعت څخه وتل دي:

ابن قاسم رحمه الله فرمايي چي ما دامام مالک رحمه الله څخه اوريدلي دي چي ديو مسلمان دپاره په داسي مقام کي اوسيدل حلال نه دي په کم کي چي سلف صالحينو ته ښکنځل او بدي ردي ويل کيږي: ابن عربي رحمه الله ددي قول نقل کولو وروسته ليکي چي دا بالکل صحيح ده ځکه که چيري تاسي يو بد کار منع کولای نه سی نو پر تاسي لازمه ده چي په خپله دهغه ځايه څخه ليري سی لکه چي دالله جل جلاله ارشاد دی(واذا رأيت الذين يخوضون فی آياتنا فاعرض عنهم) يعني کله چي تاسي ووينی چي خلګ دالله جل جلاله داياتونو توهين او بې عزتي کوي نو دهغه خلګو څخه مخ واړوی او ځيني ليري سی

دريم سفر هغه دی پرکم ځای چي دحرامو غلبه وي دهغه ځای څخه وتل.

ځکه چي دحلالو طلب پر هريوه مسلمان باندي فرض دی: **څلورم: دجسمانی ازاررسيدوڅخه دبچ کيدو دپاره سفر**: دا سفر جائز او دالله جل جلاله دطرفه څخه: پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

ع ٢ ١٠ ١٢ السجدة ٣

مِّنۡ فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُوۡنَ مَا يُؤۡمَرُوۡنَ ۩ ﴿٥٠﴾ وَقَالَ اللّٰهُ

مِّنۡ فَوۡقِهِمۡ	وَيَفۡعَلُوۡنَ	مَا يُؤۡمَرُوۡنَ	وَقَالَ	اللّٰهُ
له پاسه د دوی	او کوی دوی	هغه (کار) چې امر ورته کاوه سی	او فرمایلي دی	الله

له پاسه د دوی او کوی دوی هغه (کار) چې امر (حکم) ورته کاوه سی. او فرمایلي دی الله

لَا تَتَّخِذُوۡۤا اِلٰهَيۡنِ اثۡنَيۡنِ‌ۚ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ‌ۚ فَاِيَّاىَ

لَا تَتَّخِذُوۡۤا	اِلٰهَيۡنِ	اثۡنَيۡنِ	اِنَّمَا	هُوَ اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	فَاِيَّاىَ
مه نیسئ تاسی	معبودان	دوه	بیشکه! هم داخبره ده	چې دغه معبود دی	یو	نو خاص له ما څخه

مه نیسئ تاسی معبودان دوه بیشکه! هم داخبره ده چې دغه (برحق معبود) معبود دی یو، نو خاص له ما څخه پس

فَارۡهَبُوۡنِ ﴿٥١﴾ وَلَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

فَارۡهَبُوۡنِ	وَلَهٗ	مَا	فِى السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ
وبیرېږئ تاسی راڅخه	او خاص هم دغه (الله) لره دی	هر هغه څه چې	په آسمانونو کښې دی	او په مځکه کښې دی

وبیرېږئ تاسی راڅخه. او خاص هم دغه (الله) لره دی هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی او (هغه چې په) مځکه کښې دی

وَلَهُ الدِّيۡنُ وَاصِبًا‌ؕ اَفَغَيۡرَ اللّٰهِ تَتَّقُوۡنَ ﴿٥٢﴾ وَمَا بِكُمۡ

وَلَهُ الدِّيۡنُ	وَاصِبًا	اَفَغَيۡرَ	اللّٰهِ	تَتَّقُوۡنَ	وَمَا بِكُمۡ
او خاص هم دده دی عبادت	واجب لازم همیشه	نو آیا غیر له	الله څخه	بیرېږئ تاسی	او هر هغه چې ستاسی سره دی

او خاص هم دده دی طاعت واجب لازم همیشه، نو آیا غیر له الله څخه بیرېږئ تاسی (له بل چا). او هر هغه چې تاسی سره دی

مِّنۡ نِّعۡمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيۡهِ تَجۡـئَرُوۡنَ ﴿٥٣﴾

مِّنۡ نِّعۡمَةٍ	فَمِنَ	اللّٰهِ	ثُمَّ اِذَا	مَسَّكُمُ	الضُّرُّ	فَاِلَيۡهِ	تَجۡـئَرُوۡنَ
له نعمت	نو له (طرفه د)	الله دی	بیا کله چې	ورسیږی تاسی ته	ضرر	نو خاص هم دغه (الله) ته	فریاد او زاری کوئ

له (کوم قسمه) نعمت نو له (طرفه د) الله دی بیا کله چې ورسیږی تاسی ته ضرر نو خاص هم دغه (الله) ته فریاد او زاری کوئ

ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنۡكُمۡ اِذَا فَرِيۡقٌ مِّنۡكُمۡ

ثُمَّ اِذَا	كَشَفَ	الضُّرَّ	عَنۡكُمۡ	اِذَا فَرِيۡقٌ	مِّنۡكُمۡ
بیا هر کله چې	دفع (لرې) کړی	(الله هغه) ضرر	له تاسی څخه	ناڅاپه یوه فرقه	له تاسی

بیا هر کله چې دفع (لرې) کړی (الله هغه) ضرر له تاسی څخه ناڅاپه یوه فرقه له تاسی

وَلَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَلَهُ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: انعام دی چې انسان ته کم ځای د دښمنانو څخه د بدني اذیت او تکلیف د رسیدلو بیره محسوسه وي او بیا دی دهغه ځای څخه ووزي چې د دېرې خطرې څخه محفوظ وي. داڅلورم قسم سفر د ټولو څخه اول حضرت ابراهیم عليه السلام وکی کله چې ده د قوم د تکلیفونو ورکولو څخه د خلاصون حاصلولو د پاره د عراق څخه د شام ملک ته هجرت وکی او داسي وفرمایل (انی مهاجر الی ربی) ددې څخه وروسته حضرت موسی عليه السلام یو سفر وکی د مصر څخه د مدین طرف ته الله جل جلاله داسي حکایت کړی دی (فخرج منها خائفا یترقب). پنځم سفر د آب وهواد خرابی او د مرضونو د خطرې څخه د محفوظ کیدو د پاره دی: اسلامي شریعت ددې هم اجازت ورکړی دی لکه چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم څو حیوانانو څروونکو ته د مدینې منورې څخه د باندې په بیابان کې د اوسیدو ارشاد وفرمایي څکه چې د ښار آب وهوا د دوی سره موافقه نه وه او پر دوی ونه لګیده. پاته بیان پر راروان مخ وګورئ

بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ط

بِرَبِّهِمْ	يُشْرِكُوْنَ	لِيَكْفُرُوْا	بِمَآ	اٰتَيْنٰهُمْ
له رب خپله سره	شريکوی	دپاره د دی چی کافران سی	په هغه شی پوری	چی ورکړی دی موږ دوی ته

له رب خپله سره شريکوی (بل)، دپاره د دی چی کفران (ناقدری) وکړی په هغه شی پوری چی ورکړی دی موږ دوی ته

فَتَمَتَّعُوْا قف فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ

فَتَمَتَّعُوْا	فَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ	وَيَجْعَلُوْنَ	لِمَا	لَا يَعْلَمُوْنَ
نو نفع واخلئ	نو ژر به	پوه سئ تاسی	او مقرروی دا (کفار)	دپاره د هغو چی	په هيڅ نه پوهيږی

نو نفع واخلئ، نو ژر به پوه سئ تاسی او مقرروی دا (کفار) دپاره دهغو (بتانو) چی په هيڅ نه پوهيږی (علم نه لری)

نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ط تَاللّٰهِ لَتُسْئَلُنَّ

نَصِيْبًا	مِّمَّا	رَزَقْنٰهُمْ	تَاللّٰهِ	لَتُسْئَلُنَّ
يوه برخه	له ځينو د هغو شخه	چی ورکړی دی موږ دوی ته	قسم دی په الله	چی خامخا پوښتيدلی به سئ تاسی هرومرو

يوه برخه له ځينو د هغو شخه چی ورکړی دی موږ دوی ته، قسم دی په الله چی خامخا پوښتيدلی به سئ تاسی هرومرو

عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿٥٦﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ

عَمَّا كُنْتُمْ	تَفْتَرُوْنَ	وَيَجْعَلُوْنَ	لِلّٰهِ	الْبَنٰتِ	سُبْحٰنَهٗ
له هغه چی يئ تاسی	چی دروغ تړئ	او مقرروی	الله ته	لوڼی	پاک دی دغه (الله)

(په قيامت کښی) له هغه چی يئ تاسی چی دروغ تړئ. او مقرروی (دا کفار) الله ته لوڼی پاک دی دغه (الله له ولده)

وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى

وَلَهُمْ	مَّا يَشْتَهُوْنَ	وَاِذَا	بُشِّرَ	اَحَدُهُمْ	بِالْاُنْثٰى
او (مقرروی) ځان ته	هغه شی چی د دوی خوښ وی	او کله چی	خبر ورکړی سی	يو تن د دغو ته	په لور سره

او (مقرروی) ځان ته هغه شی چی د دوی خوښ وی. او کله چی خبر ورکړی سی يو تن د دغو (کفارو) ته په لور سره

ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارٰى

ظَلَّ	وَجْهُهٗ	مُسْوَدًّا	وَّهُوَ	كَظِيْمٌ	يَتَوَارٰى
نو (ټوله ورځ) وګرځی	مخ د ده	تک تور له غمه	حال دا چی دی	ډک وی له قهره	پټ ګرځی

نو (ټوله ورځ) وګرځی مخ د ده تک تور له غمه حال دا چی دی ډک وی له قهره. پټ ګرځی

لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَتَمَتَّعُوْا... دتير مخ پاته بيان دلته وګوری

شپږم سفر دخپل مال دحفاظت دپاره دی: کله چي يو سړی په يو مقام کښي دغلو څخه او ډاکوګانو څخه بيره محسوس کړي نو دهغه ځای څخه دي بدل سي اسلامي شريعت ددې اجازه هم ورکړې ده ځکه چي دمسلمان دمال هم دغسي احترام لازم دی څنګه چي دده دبدن دی: دا شپږ قسمونه خو دهغه وطن پريښودو دي کم چي ديو شي څخه دمحفوظه او تښتيدو دپاره کړي وي او کم سفر چي ديو شي دطلب او لټون دپاره کول کيږي دهغه بيا نهه ٩ قسمونه دي: څومره چي ګنجايش وي هغه موږ دلته بيانوو:

اول: دعبرت دپاره سفر: يعني ددنيا سيل او سفر ددې کار دپاره کول چي دالله جل جلاله مخلوقات او کامل قدرت او تير قومونه ووينې او عبرت ورڅخه حاصل کړي قرآن کريم دداسې سفر ترغيب ورکړی دی (اولم يسيروا فی الارض فينظروا کيف کان عاقبة الذين من قبلهم) دحضرت ذی القرنين سفر هم عالمانو دداسې قسم سفر څخه مقرر کړی دی.
(معارف القرآن ج٥ پ١٤ ص ٦٢)

أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ. دعربو دكافرانو پر دوو خصلتونو باندي بدوالي: په دغه ايـاتونو كـي الله ﷻ دعربو دكافرانو پر دوو خصلتونو باندي بد والى بيـان كـړى دى: چي اول خو دوى په خپل كوركي انجلى پيدا كيدل دومره بد گڼي چي دشرم په سبب دخلگو څخه پټ گرځي او په دي سوچ كي پراته وي چي په انجلى پيدا كيدو كي چي زما كم ذلت سوى دى پر دې صبر وكم او كه يي ژوندى په قبر كي ښخه كړم او ځان ورڅخه خلاص كـړم؟ اوپـردې سـربيره داجهالـت چـي كـم اولاد دځان دپاره نه خوښوى نو دالله ﷻ طرف ته يي څنگه بيا نسبت كوى چي تاسي دا واياست چي ملايكي دالله ﷻ لـونـي دي: او دايـت پـه آخر كـي الله ﷻ فرمـايي (الا سـاء مـايحكمون) يعني بـدي هغـه څـه چـي دوى يـي فيصلي كـوي. يعني اول خـو ددوى دافيصـله ناكـاره فيصـله ده چـي انجلى يـو عـذاب او ذلـت گڼي: دويم بيا كم شى چي دوى دځان دپاره ذلت گڼي دهغه بيا دالله ﷻ طرف تـه نسـبت كـوي او دا بيـا نور حماقت او جهالـت دى.
(معارف القرآن ج٥ پ١٤ص٧٧)

مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ۭ اَيُمْسِكُهٗ

مِنَ الْقَوْمِ	مِنْ سُوْٓءِ	مَا بُشِّرَ	بِهٖ	اَيُمْسِكُهٗ
له قومه	له سببه د ناخوښى	دهغه شي څخه چي خبر وركړى سوى دى	په هغه سره	آيا وساتي (دى) هغه لور

له قومه (خپله) له سببه د ناخوښى د هغه شي څخه چي خبر وركړى سوى دى (ده ته) په هغه سره ، آيا وساتي (دى) هغه لور

عَلٰي هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهٗ فِي التُّرَابِ ۭ اَلَا سَاۗءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝ (٥٩)

عَلٰي هُوْنٍ	اَمْ	يَدُسُّهٗ	فِي التُّرَابِ	اَلَا سَاۗءَ	مَا يَحْكُمُوْنَ
سره د سپكوالي	او كه ئې	ومنډى (ژوندى)	په خاورو كښې	واورئ خبردار سئ چي بد دى	هغه چي حكم كوي دغه

سره د سپكوالي او كه ئې ومنډى (ژوندى) په خاورو كښې. واورئ خبردار سئ چي بد دى هغه چي حكم كوي دغه

لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۚ وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ

لِلَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	مَثَلُ	السَّوْءِ	وَلِلّٰهِ	الْمَثَلُ
دى هغه كسانو ته چي	نه راوړي ايمان	په آخرت	مثال (صفت)	بد	او خاص الله لره دى	مثل

دى هغه كسانو ته چي نه راوړي ايمان په (ورځ د) آخرت مثال (صفت) بد ، او خاص الله لره دى مثال

الْاَعْلٰى ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (٦٠) وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ

ركوع ١٣

الْاَعْلٰى	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	وَلَوْ يُؤَاخِذُ	اللّٰهُ
(صفت لوى) لوړ	او هم دى دى	قوى غالب	حكمت والا	او كه نيولي وى	الله

(صفت لوى) لوړ ، او هم دى دى قوى غالب (په انفاذ د احكامو) حكمت والا . او كه نيولي وى الله

النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَاۗبَّةٍ

النَّاسَ	بِظُلْمِهِمْ	مَّا تَرَكَ	عَلَيْهَا	مِنْ دَاۗبَّةٍ
(دا) خلك	په ظلم د دوى سره	نو نه به ئې ؤ پرى ايښى	پر مخ د دى مځكى كښى	هيڅ ښوريدونكى

(دا) خلك په ظلم (كفر او معاصيو) د دوى سره نو نه به ئې ؤ پرى ايښى پر مخ د دى مځكى كښى هيڅ خوځيدونكى

وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ

وَّلٰكِنْ	يُّؤَخِّرُهُمْ	اِلٰٓى اَجَلٍ	مُّسَمًّى	فَاِذَا	جَاۗءَ	اَجَلُهُمْ
وليكن	وروستى كوى دوى	تر هغه نيتي	په نامه كړى سوى پورى	نو كله چي	راسى	نيته د دوى

وليكن وروستى كوى دوى تر هغه نيتي په نامه كړى سوى پورى نو كله چي راسى نيته د دوى

لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَيَجْعَلُوْنَ

لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ	سَاعَةً	وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ	وَيَجْعَلُوْنَ
نه به وروسته کيږي	يو ساعت	نه به مخکې کيږي	او ثابتوي دا (کفار)

نه به وروسته کيږي (دوی له هغه نيټې څخه په قدر د) يو ساعت اونه (ترې) رومبی کيږي. او ثابتوي دا (کفار)

لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ

لِلّٰهِ	مَا يَكْرَهُوْنَ	وَتَصِفُ	اَلْسِنَتُهُمُ	الْكَذِبَ	اَنَّ
الله ته	هغه چې بد ئې ګڼي	او بيانوي	ژبې د دوی	دروغ	بيشکه!

الله ته هغه چې بد ئې ګڼي (دوی خپلو ځانونو لره) او بيانوي ژبې د دوی دروغ (چې داسې وائي) بيشکه!

لَهُمُ الْحُسْنٰى ۭ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَاَنَّهُمْ

لَهُمُ	الْحُسْنٰى	لَا جَرَمَ	اَنَّ لَهُمُ	النَّارَ	وَاَنَّهُمْ
سته دوی ته	ښه حالت	حقه ربښتيا	چې بيشکه! سته دوی ته	اور (د دوزخ)	او بيشکه! دغه کفار به

سته دوی ته ښه حالت (په نزد د الله کښې)، حقه ربښتيا چې بيشکه! سته دوی ته اور(د دوزخ) او بيشکه! دغه کفار بيا هلته

مُّفْرَطُوْنَ ﴿٦٢﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

مُّفْرَطُوْنَ	تَاللّٰهِ	لَقَدْ	اَرْسَلْنَآ	اِلٰٓى	اُمَمٍ	مِّنْ قَبْلِكَ
په اور کښې پرېښودلی سی	قسم دی په الله	په تحقيق	ليږلي وو موږ	په طرف	د امتونو	پخوا له تا څخه

په اور کښې پرېښودلی سی. قسم دی په الله په تحقيق ليږلي وو موږ په طرف د امتونو پخوا له تا څخه(محمده نور رسولان!)

فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ

فَزَيَّنَ	لَهُمُ	الشَّيْطٰنُ	اَعْمَالَهُمْ	فَهُوَ	وَلِيُّهُمُ	الْيَوْمَ
نو ښائسته کړې ؤ	دغو (امتونو) ته	شيطان	هغه عملونه د دوی	نو همغه (شيطان)	دوست د دوی دی	نن ورځ

نو ښائسته کړې ؤ دغو (امتونو) ته شيطان هغه (بد) عملونه د دوی نو همغه (شيطان) دوست د دوی دی نن ورځ

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	وَمَآ اَنْزَلْنَا	عَلَيْكَ	الْكِتٰبَ
او سته دوی ته	عذاب	دردناک	او نه دی نازل کړی موږ	پر تا	دغه کتاب (قرآن)

او سته (په آخرت کښې) دوی ته عذاب دردناک. او نه دی نازل کړی (را ليږلی) موږ پر تا دغه کتاب (قرآن)

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ.. مشرکينو دالله ﷻ دپاره هغه کارونه خوښول چې دځان دپاره يې نه خوښول: په دغه ايت کې الله ﷻ فرمايي چې مشرکين او کفار دمکې دالله ﷻ دپاره هغه کارونه خوښوي چې دځان دپاره يې نه خوښوي لکه لوړ چې تير سول چې خپله يې دلوڼو څخه نفرت کوی او بيا به يې ويل چې ملايکې دالله ﷻ لوڼي دي او بيا پر دغه باندې په خپلو ژبو سره ددرواغو دعوی هم کوي يعني دوی به ويل که بالفرض قيامت هم سي خو زموږ دپاره خير دی ځکه چې موږ به ځانونه په اولادونو او په روپو خلاص کړو الله ﷻ فرمايي چې دکمې خوا به خير وي بلکې لازمي خبره ده چې ددوی دپاره دقيامت په ورځ دوږخ دی او بيشکه دغه خلګ به دوږخ ته دټولو څخه مخ ته وليږل سي الله ﷻ بيا خپل نبي ته په دغه اياتونو کې تسلي ورکوي چې ته ددوی پر کفر باندې مه خفه کيږه ځکه چې په الله ﷻ قسم دی چې تر دغه خلګو مخکې موږ نورو امتونو ته هم رسولان ليږلي وه هغو هم داسې شرارتونه کول لکه دوی چې يې کوی نو صبر کوه الخ.
(معارف القرآن ج٥ پ١٤ ص٧٩)

اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ

اِلَّا	لِتُبَيِّنَ	لَهُمُ	الَّذِى	اخْتَلَفُوْا	فِيْهِ
مګر	دپاره د دې چې بيان کړې ته	دوی ته	هغه شه	چې اختلاف کړی دی دغو (خلکو)	په هغه کښې

مګر دپآره د دې چې بيان (او ښکاره) کړې ته (اې محمده!) دوی ته هغه (شی) چې اختلاف کړی دی دغو (خلکو) په هغه کښې

وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

وَهُدًى	وَّرَحْمَةً	لِّقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	وَاللّٰهُ	اَنْزَلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً
او (لپاره د) هدايت	او د رحمت	دپاره (دهغه) قوم	چې ايمان لري	او الله	نازلې کړې دی	له (طرف) د آسمانه	اوبه (باران)

او (لپاره د) هدايت او د رحمت دپاره (دهغه) قوم چې ايمان لري. او الله نازلې کړې دی له (طرفه) د آسمانه اوبه (باران)

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ

فَاَحْيَا	بِهِ الْاَرْضَ	بَعْدَ	مَوْتِهَا	اِنَّ	فِىْ ذٰلِكَ
نو ژوندۍ ئې کړه	په دې (اوبو) سره مځکه	وروسته	له مرګه (وچوالي) دهغې	بيشکه!	په دغه کښې

نو ژوندې (شنه) ئې کړه په دې (اوبو) سره مځکه وروسته له مرګه (وچوالي) دهغې (مځکې) بيشکه! په دغه کښې

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ

لَاٰيَةً	لِّقَوْمٍ	يَّسْمَعُوْنَ	وَاِنَّ	لَكُمْ	فِى الْاَنْعَامِ	لَعِبْرَةً
خامخا دليل دی	دپاره د (هغه) قوم	چې آوري	او بيشکه! چې	دی تاسی ته	په چارپايانو کښې	ډيرلوی عبرت

پس له وچوالي خامخا دليل دی دپاره (دهغه) قوم چې آوري. او بيشکه! چې دی تاسی ته په چارپايانو کښې ډيرلوی عبرت

نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ

نُسْقِيْكُمْ	مِّمَّا	فِىْ بُطُوْنِهٖ	مِنْۢ بَيْنِ	فَرْثٍ	وَّدَمٍ
چې درڅښوو موږتاسی ته	له هغه ځينو څيزونو څخه	چې دی په نسودهغو کښې	له منځه	د غو شائيو	او د وينو

چې درڅښوو موږتاسی ته له هغه ځينو څيزونو څخه چې دی په ګيډو دهغو له منځه دغو شائيو او د وينو

لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ

لَّبَنًا	خَالِصًا	سَآئِغًا	لِّلشّٰرِبِيْنَ	وَمِنْ	ثَمَرٰتِ	النَّخِيْلِ
شودې (شيدې)	صافي پاکې	آسانه تيريدونکې	دپاره د څښونکو	او له	ميوو	د خرماګانو

شودې صافي پاکې آسان تيريدونکې (له حلقه او خوش مزه) د پاره د څښونکو. او له ميوو د خرماګانو

وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِيْكُمْ. په حيوانانوکي هم غور او فکر کول پکار دي چي دالله ﷻ دقدرت نښي په کښي دي: الله ﷻ فرمايي چي تاسي وګورئ چي دحيوانانو په ګيډه کي چي کم خرشنه ، او وينه ده ددې دمينځ څخه موږ شيدې راباسو اوپه تاسي يې څښو: دخرشينو او وينې دمينځ څخه دصفا شيدو دراايستلو متعلق حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي حيوان کمه ګياه او وابښه خوري کله چي هغه دده په معده کي جمع سي نو معده يي پخوي دمعدې په دې عمل سره دخوراک ګندګي لاندي کښيني لوړي شيدې پاته سي او پر دې سربيره وينه :بياقدرت دا کارځيګر ته سپارلی دی چي دادرې واړه قسمونه بيا جلا جلا پر خپل مقاماتو باندي تقسيموي وينه جلاکوي رګونو ته يي ليږي ،او شيدې جلا کوي دحيوان غولانځي ته يي رسوي ،او س په معده کي صرف فضله ګندګي پاته سوه کمه چي دخوشايو او خرشنو په صورت کي وزي :داخوهغه دي چي الله ﷻ بيان کړي دي نور هم دقدرت کارخانې ډيري دي

(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ص۸۰)

ع ۸ ۱۴

وَالۡاَعۡنَابِ تَتَّخِذُوۡنَ مِنۡهُ سَكَرًا وَّرِزۡقًا حَسَنًا ؕ

وَالۡاَعۡنَابِ	تَتَّخِذُوۡنَ	مِنۡهُ	سَكَرًا	وَّرِزۡقًا	حَسَنًا
او د انګورو	چي جوړوئ تاسی	له دغو میوو څخه	نشه کوونکی	او رزق (روزی)	ښه

او (له میوو د) دتاکو (کورو) څخه چي جوړوئ تاسی له دغو میوو څخه نشه کوونکی (بد) او رزق (روزی) ښه

اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿۶۷﴾

اِنَّ فِیۡ	ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	لِّقَوۡمٍ	يَّعۡقِلُوۡنَ
بیشکه! په	دغو کښی	خامخا دلیل دی	لپاره د (هغه) قوم	چي عقل چلوی (فکر او غور په کښی کوی)

بیشکه! په دغو کښی (ئی) خامخا دلیل دی لپاره د (هغه) قوم چي عقل چلوی او فکر او غور په کښی کوی.

وَاَوۡحٰی رَبُّكَ اِلَی النَّحۡلِ اَنِ اتَّخِذِیۡ مِنَ الۡجِبَالِ بُيُوۡتًا وَّمِنَ

وَاَوۡحٰی	رَبُّكَ	اِلَی النَّحۡلِ	اَنِ اتَّخِذِیۡ	مِنَ الۡجِبَالِ	بُيُوۡتًا	وَّمِنَ
او په زړه کښی واچوله	رب ستا	مچیو د عسلو ته	چي ونیسئ تاسی	په غرونو کښی	کورونه	او له

او په زړه کښی واچوله رب ستا مچیو د شاتو ته (دا خبره) چي ونیسئ (او جوړوئ) تاسی په غرونو کښی کورونه او له

الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُوۡنَ ﴿۶۸﴾ ثُمَّ كُلِیۡ مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

الشَّجَرِ	وَمِمَّا	يَعۡرِشُوۡنَ	ثُمَّ	كُلِیۡ	مِنۡ كُلِّ	الثَّمَرٰتِ
درختو څخه	او له هغه څخه چي خلک ئی	لوړ جوړوی	بیا نو	خورئ تاسی (ای مچیو!)	له هر	قسمه میوو څخه

ونو څخه او له هغه څخه چي خلک ئی لوړ جوړوی. بیا نو خورئ تاسی (ای مچیو!) له هر قسمه میوو څخه

فَاسۡلُكِیۡ سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخۡرُجُ مِنۡۢ بُطُوۡنِهَا

فَاسۡلُكِیۡ	سُبُلَ	رَبِّكِ	ذُلُلًا	يَخۡرُجُ	مِنۡۢ	بُطُوۡنِهَا
نو ځئ	په لاره	د رب خپل	په دغه حال کښی چي آسانه ده	راوځی	له	نسو د دوی

نو ځئ (الوځئ) په لاره د رب خپل په دغه حال کښی چي آسانه ده (صافه او خلاصه در ښکاری) راوځی له ګیډو د دوی

شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِیۡ

شَرَابٌ	مُّخۡتَلِفٌ	اَلۡوَانُهٗ	فِيۡهِ	شِفَآءٌ	لِّلنَّاسِ	اِنَّ فِیۡ
د څښلو (شی شات)	چي مختلف دی	رنګونه د دی (شاتو)	په دغو کښی	شفاء ده	د پاره د خلګو	بیشکه! په

دڅښلو (شی شات) چي مختلف دی رنګونه د دی (شاتو) په دغو (شاتو) کښی شفاء ده د پاره د خلګو ، بیشکه په

وَاَوۡحٰی رَبُّكَ اِلَی النَّحۡلِ اَنِ اتَّخِذِیۡ مِنَ. الله جَلَّ جَلَالُهٗ یوه خاص خبره په پټه باندي ومچمچی ته داسي وښوول چي بل ثوک نه سو په پوه :لفظ دوحي دلته په خپله اصطلاحي معنی باندي نه دی استعمال سوی بلکي په لغوي معنی کي ده : او هغه دا چي خبره کوونکی مخاطب ته یو خاص خبره په پټه باندي داسي وښيي چي بل سړی په پوه نه سي (النحل) دشاتو مچمچی دخپل عقل او پوهي په لحاظ سره او دښه تدبیر په وجه سره په ټو لو حیواناتو کي ممتاز حیوان دی په دې وجه الله جَلَّ جَلَالُهٗ دې ته خطاب هم په امتیازی شان سره کړی دی دباقي حیواناتو په باره کي خو يي دکلي قانون په ذریعه سره (اعطی کل شئ خلقه ثمّ هدی) فرمایلي دي لیکن ددې کوچني مخلوق په باره کي یي په خاص طور سره (اوحی ربک) وفرمایل چي په دې کښي یي اشاره دې طرف ته ده چي داد نورو حیواناتو څخه په نسبت دعقل اوشعور او دپوهي یو ممتاز حیثیت لري او دشاتو دمچمچی دپوهي اوعقل اندازه د دوی دحکومت دانتظام څخه په ښه ډول . پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ وَمِنْكُمْ... دتیر مخ بیان

دلته وګوری: سره کیدای سي ددې کمزوري حیوان دژوند نظام دانساني سیاست او حکمرانی پر اصولو باندي چلیږي ټول انتظام یې دیوې لویې مچی په لاس کې وي کمه چې دټولو مچیو حکمرانه او مشره وي ددې دانتظام او تقسیم دکار په وجه ټول نظام صحیح سالم چلیږي ددې عجیبه او نااشنا نظام او محکم قوانین او ضابطې چې وویني نو دانسان عقل حیران پاته سي په خپله (مَلِکه) په دریو هفتو کې دشپږو زرو(۶۰۰۰) څخه تر دوولسو زرو(۱۲۰۰۰) پوري هګی اچوي دا دخپلي اندازې بدن او قدر او قامت په لحاظ سره دنورو مچیو څخه ممتازه وي داملکه د تقسیم کار پراصولو باندي خپل رعیت په مختلفو کارونو باندي ماموره کوي په دوی کي ځیني ددربانئ او چوکیداری فرض پوره کوي او نامعلومي او د بل ځای څخه نااشنا مچمچی دننه داخلیدوته نه پریږدي او ځیني بیا دهګیو حفاظت کوي ځیني بیا د نابالغانو بچیانو پالنه کوي اوځیني دکاریګري او انجنیری فرائض پوره کوي. **پاته بیان پر راروان مخ وګوری**

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ

ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	لِّقَوْمٍ	يَّتَفَكَّرُوْنَ	وَاللّٰهُ	خَلَقَكُمْ	ثُمَّ
دغو کښې	خامخا ډیر لوی دلیل دی	دپاره د هغه قوم	چې فکر کوي	او الله	پیدا کړي یئ تاسی	بیا

دغو (مچیو او عسلو کښې) خامخا ډیر لوی دلیل دی دپاره د هغه قوم چې فکر کوي. او الله پیدا کړي یئ تاسی (له عدمه) بیا

يَتَوَفّٰىكُمْ ۟ۙ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ

يَتَوَفّٰىكُمْ	وَمِنْكُمْ	مَّنْ يُّرَدُّ	اِلٰٓى اَرْذَلِ	الْعُمُرِ	لِكَيْ	لَا يَعْلَمَ
به وژني تاسی	او ځینې له تاسی	هغه څوک دی چې رد کولی سی	هغه ډیر خوار	ژوندون ته	دپاره د دې چې	ونه پوهیږي

به وژني تاسی او ځینې له تاسی هغه څوک دی چې رد کولی سی هغه ډیر خوار ژوندون ته دپاره د دې چې ونه پوهیږي

بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٧٠﴾ ع

بَعْدَ	عِلْمٍ	شَيْـًٔا	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	قَدِيْرٌ
پس له	علمه (چې ئې درلود په ځوانی کښې)	په هیڅ شی	بیشکه! چې	الله	ښه عالم دی	ښه قدر دی

(دغه زوړ) پس له علمه چې ئې درلود په ځلمیتوب کښې په هیڅ شی ، بیشکه چې الله ښه عالم دی ښه قادر دی.

ع ۹ ۱۵

وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ

وَاللّٰهُ	فَضَّلَ	بَعْضَكُمْ	عَلٰى	بَعْضٍ	فِي الرِّزْقِ	فَمَا الَّذِيْنَ
او الله	فضل ورکړی دی	ځینی ستاسو ته	پر	ځینو (نورو)	په رزق کښې	نو نه دی هغه کسان

او الله فضل (زیادت) ورکړی دی ځینی ستاسی ته پر ځینو (نورو) په رزق (روزی په غنا، فقر) نو نه دی هغه کسان

فُضِّلُوْا بِرَآدِّيْ رِزْقِهِمْ عَلٰى مَا مَلَكَتْ

فُضِّلُوْا	بِرَآدِّيْ	رِزْقِهِمْ	عَلٰى	مَا مَلَكَتْ
چې فضل زیات ورکړی سوی دی دوی ته	رد کوونکی	د رزق خپل	په	هغه چا چې ئې مالکان سوی دی

چې فضل زیات ورکړی سوی دی دوی ته رد کوونکی د رزق (روزی ، مال) خپل په هغه چا چې ئې مالکان سوی دی

اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ؕ اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٧١﴾

اَيْمَانُهُمْ	فَهُمْ	فِيْهِ	سَوَآءٌ	اَفَبِنِعْمَةِ	اللّٰهِ	يَجْحَدُوْنَ
ښی لاسونه د دوی	آیا نو دا مالکان	په دی (اموالو) کښې	سره برابر دی؟	آیا نو په نعمت	د الله باندی	انکار کوی دوی

ښی لا سونه د دوی آیا نو دا مالکان او مملوکان په دی کښې سره برابر دی؟ آیا نو په نعمت د الله باندی انکار کوی دغه (مشرکان)

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ

وَاللّٰهُ	جَعَلَ	لَكُمۡ	مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ	اَزۡوَاجًا	وَّجَعَلَ	لَكُمۡ	مِّنۡ
او الله	پیدا کړی دی	تاسی ته	له جنسه ستاسی	ښځی	او پیدا کړی ئی دی	تاسی ته	له

او الله پیدا کړی دی تاسی ته له جنسه ستاسی ښځی (چی زړه مو ورسره آرام سی) او پیدا کړی ئی دی تاسی ته له

اَزۡوَاجِكُمۡ بَنِيۡنَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ

اَزۡوَاجِكُمۡ	بَنِيۡنَ	وَحَفَدَةً	وَّرَزَقَكُمۡ	مِّنَ	الطَّيِّبٰتِ
ښځو ستاسی	زامن	او لمسی	او روزی رزق ئی درکړی دی تاسی ته	له	طیباتو پاکیزو

ښځو ستاسی زامن او لمسی (یا لونی یا زومان) او روزی رزق ئی درکړی دی تاسی ته له طیباتو پاکیزو

اَفَبِالۡبَاطِلِ يُؤۡمِنُوۡنَ وَبِنِعۡمَتِ اللّٰهِ هُمۡ يَكۡفُرُوۡنَ ﴿۷۲﴾

اَفَبِالۡبَاطِلِ	يُؤۡمِنُوۡنَ	وَبِنِعۡمَتِ	اللّٰهِ	هُمۡ	يَكۡفُرُوۡنَ
آیا نو پر باطلو (معبودانو)	ایمان راوړی	او په نعمت	دالله (چی اسلام دی)	دوی	کافران کیږی

آیا نو (دغه کفار) پر باطلو (معبودانو) ایمان راوړی او په نعمت د الله (چی اسلام دی) دوی کافران کیږی.

وَيَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقًا

وَيَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مَا لَا يَمۡلِكُ	لَهُمۡ	رِزۡقًا
او عبادت کوی دغه (کفار)	بی له	الله	دغه چی نه لری هیڅ واک	دپاره د دوی	د رزق

او عبادت کوی دغه (کفار) بی له الله دغه (څیز) چی نه لری هیڅ واک (اختیار) دپاره د دوی د رزق (روزی ورکولو)

مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ شَيۡــًٔا وَّلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ ﴿۷۳﴾

مِّنَ السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	شَيۡــًٔا	وَّلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ
له آسمانونو	او له ځمکی	دهیڅ شی	او نه طاقت لری

له آسمانونو (په ورولو سره) او له ځمکی (په زرغونولو سره) دهیڅ شی او نه طاقت لری(دغه باطل معبودان دهیڅ شی).

فَلَا تَضۡرِبُوۡا لِلّٰهِ الۡاَمۡثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ

فَلَا	تَضۡرِبُوۡا	لِلّٰهِ	الۡاَمۡثَالَ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَعۡلَمُ	وَاَنۡتُمۡ
نو مه	بیانوئ تاسی	الله ره	مثالونه	بیشکه!	الله	ته معلوم دی (بطلان)	او تاسی

نو مه بیانوئ (مه لګوئ) تاسی د الله سره مثالونه (شریکان په خدایی کښی) بیشکه! الله ته معلوم دی (بطلان) او تاسی

وَّرَزَقَكُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ اَفَبِالۡبَاطِلِ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

ددوی دجوړو کړو چرګنیانو خانې اکثره دشلوزرو ۲۰۰۰۰ څخه تر دیرشو زرو ۳۰۰۰۰ پوري وي ځیني موم جمع کوي او کاریګروته یې رسوي چي په دې سره هغوی خپل کورونه جوړوي داموم دوی دبوټو سربیره دسپین پشم څخه راجمع کوي پر ګني باندي دا ماده ډیره زیاته لیدل کیږي په دوی کي بیا ځیني پر مختلف قسم ګلانو باندي کښیني خوند ورڅخه راکاږي کم چي ددوی په ګیډو کښي په شاتو او عسلو سره بدلیږي دغه شات او عسل ددوی او ددوی دبچیو خوراک وي او دغه زموږ دټولو دپاره هم دخوند او خوراک جوهر او دوایي او دشفا نسخه ده دامختلفي پارټي په ډیره سرګرمی سره او تیزی سره خپل خپل فرض پوره کوي او دخپلی ملکي حکم په زړه او ځان سره قبلوي په دوی کي چي کمه یوه پر ګندګی باندي کښیني نو دچرګني چوکیدار بیا دا دباندي منع کړي راپریږدي یې نه او ملکه بیا داقتل کړي واقعهٔ دانظام ته چي انسان وګوري حیران پاته کیږي:
(معارف القرآن ج۵پ۱۴ص ۸۳)

لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۴﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبۡدًا مَّمۡلُوۡكًا لَّا يَقۡدِرُ

لَا تَعۡلَمُوۡنَ	ضَرَبَ	اللّٰهُ	مَثَلًا	عَبۡدًا	مَّمۡلُوۡكًا	لَّا يَقۡدِرُ
نه پوهيږئ	ترې (بيانوی)	الله	يو مثال	چي مريي وی	مملوک	چي نه قادريږی

نه پوهيږئ . ترې (بيانوی) الله يو مثال چي مريي وی مملوک (نه مکاتب او ماذون) چي نه قادريږی

عَلٰى شَيۡءٍ وَّمَنۡ رَّزَقۡنٰهُ مِنَّا رِزۡقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنۡفِقُ

عَلٰى	شَيۡءٍ	وَّمَنۡ	رَّزَقۡنٰهُ	مِنَّا	رِزۡقًا	حَسَنًا	فَهُوَ	يُنۡفِقُ
په	هيڅ شي	او بل هغه څوک وی چي	رزق ورکړی وی موږ ده ته	له درباره خپله	رزق روزی	ښه	نو دغه سړی	نفقه کوی

په هيڅ شي او بل هغه څوک وی چي رزق روزی ورکړی وی موږ ده ته له درباره خپله رزق روزی ښه نو دغه سړی نفقه کوی

مِنۡهُ سِرًّا وَّجَهۡرًا ؕ هَلۡ يَسۡتَوٗنَ ؕ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ ؕ بَلۡ

مِنۡهُ	سِرًّا	وَّجَهۡرًا	هَلۡ يَسۡتَوٗنَ	اَلۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	بَلۡ
له هغه ماله	په پټه	او ښکاره	آيا برابريږی سره دوی	ټوله ثناء صفت	الله لره دی	بلکه

له هغه ماله په پټه او ښکاره ، آيا برابريږی سره دوی (نه برابريږی) ټوله ثناء صفت الله لره دی بلکه

اَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۵﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيۡنِ

اَكۡثَرُهُمۡ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ	وَضَرَبَ	اللّٰهُ	مَثَلًا	رَّجُلَيۡنِ
زياتره يعني ټول د دوی څخه	نه پوهيږی	او بيانوی	الله	يو مثال	چي دوه سړی وی

زياتره يعني ټول د دوی سره نه پوهيږی (چي نسبت د نعمت نورو ته کوی). او بيانوی الله يو مثال چي دوه سړی وی

اَحَدُهُمَاۤ اَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلٰى شَيۡءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى

اَحَدُهُمَاۤ	اَبۡكَمُ	لَا يَقۡدِرُ	عَلٰى	شَيۡءٍ	وَّهُوَ	كَلٌّ	عَلٰى
چي يو له دوی څخه	ګونګ وی	نه قادريږی	په	هيڅ شي	حال دا چي دغه ګونګ	بار (پيټی) وی	پر

چي يو له دوی څخه ګونګ (چاړا) وی نه قادريږی په هيڅ شي حال دا چي دغه ګونګ بار (پيټی) وی پر

مَوۡلٰىهُ ۙ اَيۡنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاۡتِ بِخَيۡرٍ ؕ هَلۡ يَسۡتَوِىۡ هُوَ ۙ

مَوۡلٰىهُ	اَيۡنَمَا	يُوَجِّهْهُّ	لَا يَاۡتِ	بِخَيۡرٍ	هَلۡ يَسۡتَوِىۡ	هُوَ
مولا خپل	هر چيرته چي	وليږی دغه (مريی)	نه راوړی (نه راځی)	په خير سره	آيا برابريږی	دغه (ګونګ)

مولا (بادار) خپل هر چيرته چي وليږی (بادار) دغه (مريی) نه راوړی نه راځی په خير سره ، آيا برابريږی دغه (ګونګ بی خبره)

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبۡدًا مَّمۡلُوۡكًا. الله جَلَّ جَلَالُهُ دشرک دباطلوالي يو ښکاره مثال بيان کړی دی: په دغه آيت کي الله جَلَّ جَلَالُهُ دشرک دباطلوالي يو ښکاره مثال بيان کړی دی فرمايي چي تاسي فرض کړی چي يو خو غلام دی دچا مملوک چي دتصرف کولو په مالونو کي دڅه شي بې داجازت دمالک څخه اختيار نه لري او بل يو سړی دی چي هغه ته موږ دخپل طرف څخه ښه رزق ورکړی دی نو دی ددي څخه په پټه او ښکاره ځنګه چي غواړي خرڅ کوي دلره څوک منع کوونکی نسته ايا دا قسم سړی په خپل مينځ کي برابريدای سي ؟ پس کله چي مجازي مالک او مجازي مملوک نه سي برابريدای نو مالک حقيقي او مملوک حقيقي کله برابريدای سي او مستحق والی دعبادت موقوف دی پر برابری باندي او هغه سته نه :نو ټول ثنا او صفت الله جَلَّ جَلَالُهُ لره لائق دی ځکه چي په ذات او صفاتو هغه کامل دی پس معبود هم هغه کيدای سي مګر بيا هم مشرکين دغير الله جَلَّ جَلَالُهُ عبادت نه پريږدي اودي شيطان او دهغه منلو دوی دوږخ ته ورسول.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۹۷)

١٠ ع٢ ١٦

وَمَنۡ يَّاۡمُرُ بِالۡعَدۡلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۷۶﴾

وَمَنۡ	يَّاۡمُرُ	بِالۡعَدۡلِ	وَهُوَ	عَلٰى صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِيۡمٍ
او هغه څوک	چې امر کوي	په عدل سره	حال دا چې دی	پر لاره	سمه (روان وی)

او هغه څوک چې امر کوي (خلګو ته) په عدل (انصاف) سره حال دا چې دی (پخپله هم) پر لاره سمه (روان وی)

وَلِلّٰهِ غَيۡبُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَمَاۤ اَمۡرُ السَّاعَةِ

وَلِلّٰهِ	غَيۡبُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَمَاۤ اَمۡرُ	السَّاعَةِ
او خاص الله لره دی	(علم په) پټو	د آسمانونو	او د مځکې	او نه دی امر	د قیامت

او خاص الله لره دی (علم په) پټو د آسمانونو او د مځکې او نه دی امر (قیام) د قیامت (په سرعت او سهولت کښې)

اِلَّا كَلَمۡحِ الۡبَصَرِ اَوۡ هُوَ اَقۡرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

اِلَّا	كَلَمۡحِ	الۡبَصَرِ	اَوۡ هُوَ	اَقۡرَبُ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ شَىۡءٍ
مګر	په مثل د پټولو یا خلاصولو	د سترګو	بلکه دا له هغه څخه هم	ډیر نژدې دی	بیشکه!	الله	پر	هر شی

مګر په مثل د پټولو یا خلاصولو د سترګو بلکه دا له هغه څخه هم ډیر نژدې دی بیشکه! الله پر هر شی

قَدِيۡرٌ ﴿۷۷﴾ وَاللّٰهُ اَخۡرَجَكُمۡ مِّنۡۢ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ

قَدِيۡرٌ	وَاللّٰهُ	اَخۡرَجَكُمۡ	مِّنۡۢ	بُطُوۡنِ	اُمَّهٰتِكُمۡ	لَا تَعۡلَمُوۡنَ
ښه قادر دی	او الله	راوویستئ تاسی	له	نسونو (ګیډو)	د میندو خپلو	حال دا چې نه پوهیدئ تاسی

ښه قادر دی. او الله راوویستئ له نسونو (ګیډو) د میندو خپلو حال دا چې نه پوهیدئ تاسی

شَيۡـــًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَـكُمُ السَّمۡعَ وَالۡاَبۡصَارَ وَالۡاَفۡـِٕدَةَ ۙ

شَيۡـــًٔا	وَّجَعَلَ	لَـكُمُ	السَّمۡعَ	وَالۡاَبۡصَارَ	وَالۡاَفۡـِٕدَةَ
په هیڅ شی	او پیدا کړی ئی دی	تاسی ته	غوږونه	او سترګې	او زړونه

په هیڅ شی (څیز له خیره او شره) او پیدا کړی (درکړی) ئی دی تاسی ته غوږونه او سترګې او زړونه

لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۸﴾ اَلَمۡ يَرَوۡا اِلَى الطَّيۡرِ

لَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ	اَلَمۡ يَرَوۡا	اِلَى	الطَّيۡرِ
دپاره د دی چې تاسی	شکر وکړئ	آیا نه ګوری دغه (انسانان)	په طرف	د الوتونکو مرغانو

دپاره د دی چې شکر وکړئ (په دغو نعمتونو). آیا نه ګوری دغه (انسانان) په طرف د الوتونکو (مرغانو)

مِّنۡۢ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ شَيۡـــًٔا ۙ ... **علم دانسانی ذاتی هنر نه دی ځکه دپیدایښت په وخت کی دی علم نه لري**: په دغه آیت کي اشاره ده ودې خبري ته چې علم دانسان ذاتي هنر نه دی دپیدایښت په وخت کي دی هیڅ علم او هنر نه لري بیا دانساني ضرورت موافق ده ته لږ لږ علم دالله ﷻ دطرفه څخه بې له واسطې څخه ازده کول کیږي چې په دي کي نه دمور او پلار دخل وي نه دچا استاددتولو څخه اول ده ته ژړا وښوول سي دغه وخت دده داصفت دده ټول ضرورتونه پوره کوي لوږه تنده ورته راسي نو دی ژاړي یخ او ګرمي چې یې وسي نو ژاړي یا بل څه تکلیف ورته ورسیږي نو هم دی ژاړي قدرت الهي بیا دده دضرورتونو دپاره دمور او پلار په زړه کي خاص الفت او محبت اچولی دی چې کله دبچي آواز واوري نو دده د تکلیف دمعلومولو او دهغه دلیري کولو دپاره تیار سي که ماشوم ته د الله ﷻ دطرفه دژړا تعلیم نه وای ورکړل سوی نو چا به ورته دا کارونه ښوولای او بیا دخپل خوراک حاصلول دمور دتیو څخه په شونډانو حاصلوي الخ (معارف القرآن ج۵ پ۴ ص۱۰۳)

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا...دكور جوړولو اصل مقصد دزړه او جسم سكون دى: په دغه آيت كي الله ﷻ دانسان كورته سكن ووايه دكور جوړولو فلسفه او حكمت يي واضح كى چي دكور جوړولو اصل مقصد دزړه او جسم سكون دى: عادتاً دانسان كسب او كار دكور څخه بهر وي كم چي دده دحركت كولو څخه په وجود كي راځي دده دكور اصل منشاء داده چي كله دحركت او عمل كولو څخه ستړى سي نو ولاړسي او په دي كوركي ارام وكړي او سكون حاصل كړي اگر چي په ځينو وختونو كي انسان په خپل كور كي هم په حركت او عمل كي مشغول وي مگر دا عادتا كم وي: ددې څخه علاوه سكون په اصل كي دزړه او د ماغو سكون دى دغه انسان ته په خپل كوركي حاصليږي ددې څخه دا هم معلومه سوه چي دانسان دكور دټولو څخه لوى صفت دادى چي په دي كي سكون حاصل سي نن سبا دتعميراتو سلسله پر عروج او ترقى روانه ده ليكن بيا هم داسي مكانات او كورونه ډير كم دي چي زړه او جسم ته سكون حاصل وي. (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۱۰۴)

مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ

مُسَخَّرٰتٍ	فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ	مَا يُمْسِكُهُنَّ	اِلَّا	اللّٰهُ	اِنَّ
چي تابع كړى سوى دى	په جو (هوا) دآسمان كښې	نه ساتي دوى لره	مگر	الله	بيشكه!

چي مسخر كړى سوى دى (په حكم سره ترلي سوى) دى په جو (هوا) دآسمان كښې، نه ساتي دوى لره مگر الله، بيشكه!

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ

فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	وَاللّٰهُ	جَعَلَ	لَكُمْ
په دغه كښې	خامخا دلائل دى	دپاره د (هغه) قوم	چي ايمان راوړي	او الله	پيدا كړى دى	تاسى ته

په دغه (تسخير د مرغانو) كښې خامخا دلائل (د قدرت) دى دپاره د (هغه) قوم چي ايمان راوړي. او الله پيدا كړى دى تاسى ته

مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ

مِّنْۢ	بُيُوْتِكُمْ	سَكَنًا	وَّجَعَلَ	لَكُمْ	مِّنْ جُلُوْدِ
له	كوټو (كورونو) ستاسي	ځاى دهستوگنى	او (الله) پيدا كړى دى	تاسى ته	له پوستكو

له كوټو (كورونو) ستاسي ځاى دهستوگنى (يعني دخبنتي تيږى لرگى وغيره) او (الله) پيدا كړى دى تاسى ته له پوستكو

الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ

الْاَنْعَامِ	بُيُوْتًا	تَسْتَخِفُّوْنَهَا	يَوْمَ	ظَعْنِكُمْ	وَيَوْمَ
دڅارپايانو	كورونه	چي سپك پيدا كوى تاسى هغه	په ورځ	دكوچ او سفر ستاسى	او په ورځ

دڅارپايانو (څاروو) كورونه چي سپك مومئ (پيدا كړى) تاسى هغه په ورځ د كوچ او سفر ستاسى او په ورځ

اِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ اَصْوَافِهَا وَاَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَآ

اِقَامَتِكُمْ	وَمِنْ	اَصْوَافِهَا	وَاَوْبَارِهَا	وَاَشْعَارِهَآ
د اروولو ستاسى	او له	وړيو د دغو پسو	او له وړيو د دغو اوښانو	او د وريښتو د دغو بزو

د اړوولو ستاسى او (الله پيدا كړى دى تاسو ته) له وړيو د دغو (څارپايانو گډو) او له وړيو د دغو او دوريښتو د دغو بزو

اَثَاثًا وَّمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿٨٠﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ

اَثَاثًا	وَّمَتَاعًا	اِلٰى حِيْنٍ	وَاللّٰهُ	جَعَلَ	لَكُمْ	مِّمَّا	خَلَقَ
اسبابونه	او دنفعي اخيستلو	تر وخته پورى	او الله	پيدا كړى دى	تاسى ته	له هغو شيانو څخه	چي پيدا كړى ئى دى

اسبابونه او دنفعي اخيستلو ترى تر حين پورى دمرگ او الله پيدا كړى دى تاسى ته له هغو شيزونو څخه چي پيدا كړى ئى دى

ظِلٰلًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ

ظِلٰلًا	وَّ جَعَلَ	لَكُمْ	مِّنَ الْجِبَالِ	اَكْنَانًا	وَّ جَعَلَ	لَكُمْ
سیوری	او (الله) پیداکړی دی	تاسی ته	له غرونو څخه	ځایونه دپټیدلو	او (الله) پیداکړی دی	تاسی ته

سیوری، او (الله) پیداکړی دی تاسی ته له غرونو څخه ځایونه دپټیدلو کاری او سمڅی او (الله) پیداکړی دی تاسی ته

سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ

سَرَابِيْلَ	تَقِيْكُمُ	الْحَرَّ	وَسَرَابِيْلَ	تَقِيْكُمْ
قمیصونه	چی ساتی تاسی	له ګرمی څخه	او قمیصونه	چی ساتی مو

قمیصونه دپنبی چی ساتی تاسی له ګرمی څخه، او (پیداکړی دی تاسی ته) قمیصونه داوسپنی چی ساتی مو (له ضرره)

بَاْسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾

بَاْسَكُمْ	كَذٰلِكَ	يُتِمُّ	نِعْمَتَهٗ	عَلَيْكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تُسْلِمُوْنَ
دجنګه ستاسی	هم داسی	پوره کوی	نعمت خپل	پرتاسی	دپاره ددی	چی تاسی اسلام راوړئ

دجنګه ستاسی، هم داسی (چی تیر نعمتونه ئی تمام کړی دی) پوره کوی نعمت پر تاسی دپاره د دی چی تاسی اسلام راوړئ.

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٢﴾

فَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَاِنَّمَا	عَلَيْكَ	الْبَلٰغُ	الْمُبِيْنُ
نو که	شاوګرځوله دوی	پس بیشکه! چی خبره هم داده	چی پرتا (ای محمده!)	رسوونه ده	ښکاره

نو که شا وګرځوله دوی (له اسلامه) پس بیشکه! چی خبره هم دا ده چی پرتا (ای محمده!) رسوونه ده ښکاره .

يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَاَكْثَرُهُمُ

يَعْرِفُوْنَ	نِعْمَتَ	اللّٰهِ	ثُمَّ	يُنْكِرُوْنَهَا	وَاَكْثَرُهُمُ
پیژنی دغه	نعمتونه	دالله (چی اقرارپری کوی)	بیا	انکار کوی له هغه څخه	او زیات د دغو څخه

پیژنی دغه (کفار علماً) نعمتونه د الله چی اقرارپری کوی بیا انکار کوی له هغه څخه او زیات ددغو (منکرانو) څخه

الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا ثُمَّ

الْكٰفِرُوْنَ	وَيَوْمَ	نَبْعَثُ	مِنْ كُلِّ	اُمَّةٍ	شَهِيْدًا	ثُمَّ
کافران دی	او هغه ورځ	چی راپورته به کړو موږ	له هر	امت څخه	یو شاهد	بیابه

کافران دی. او (وبیروه) دهغه ورځی څخه چی راپورته به کړو موږ له هر امت څخه یو شاهد (په ایمان او کفر د دوی) بیابه

وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ..دانسان جامه هم دالله ﷻ دیر لوی نعمت دی که غور په کښي وسي : په دغه آیت کي دالله ﷻ دنعمتونو په سلسله کي چي دیوه نعمت ذکر سوی دی هغه دانسان قمیص یعني لباس او دهغه فوائد دي او دلته الله ﷻ دانسان دقمیص غرض دګرمی څخه محفوظ کیدل وفرمایل حال دادی چي قمیص انسان دګرمی او یخ دواړو څخه ساتي ؟ ددغه سوال یو جواب امام قرطبي رحمه الله اونورو دتفسیر شریف علماوو داورکړی دی چي قرآن کریم په عربي ژبه کي راغلی دی ددې اولني مخاطبین عرب دي په دې وجه په دې کي دعربو دعادت او ضرورتونو لحاظ ساتل سوی دی او خبره پر سویده عرب یو ګرم ملک دی هلته دواوري اوریدو او یخ تصور مشکل دی په دې وجه دګرمی څخه دبچ کولو او ځان ساتلو پرذکر یي بس والی وکړی : حضرت تهانوي رحمه الله په بیان القرآن کي فرمايي چي دجامو په ذریعه دیخ څخه محفوظه کیدل الله ﷻ په دغه صورت کي مخ ته بیان کړي دي (لكم فيها دفء) نوريي دلته ضرورت نه وو (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۱۰۵)

ع ١١ / ١٧

لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٨٤﴾

لَا يُؤْذَنُ	لِلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَلَا هُمْ	يُسْتَعْتَبُوْنَ
نه ورکولی کیږی اجازه	هغو کسانو ته	چې کافران سوی دی	او نه به له دوی څخه	عذرونه قبول کړی سی

نه ورکولی کیږی اذن (حکم د معذرت) هغو کسانو ته چې کافران سوی دی او نه به له دوی څخه طلب د استرضاء کولی سی.

وَإِذَا رَاَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ

وَإِذَا	رَاَ الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	الْعَذَابَ	فَلَا يُخَفَّفُ	عَنْهُمْ
او کله چې	وويني هغه کسان	چې ظلم ئې کړی دی (پرنفسونو خپلو)	عذاب	نو سپک به نه کړی سی	له دوی څخه

او کله چې وويني هغه کسان چې ظلم (شرک) ئې کړی دی (پرنفسونو خپلو) عذاب نو سپک به نه کړی سی له دوی څخه

وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَاَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا

وَلَا هُمْ	يُنْظَرُوْنَ	وَإِذَا	رَاَ الَّذِيْنَ	اَشْرَكُوْا
او نه به دوی ته	مهلت ورکړی سی	او کله چې	وويني هغه کسان	چې شرک ئې کړی دی

او نه به دوی ته مهلت ورکړی سی. او کله چې وويني هغه کسان چې شرک ئې (غوره) کړی دی

شُرَكَآءَهُمْ قَالُوْا رَبَّنَا هٰؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا

شُرَكَآءَهُمْ	قَالُوْا	رَبَّنَا	هٰؤُلَآءِ	شُرَكَآؤُنَا	الَّذِيْنَ	كُنَّا
شريکان خپل	نو وبه وائی دغه (مشرکان)	ای ربه زموږ	دادی	شريکان زموږ	هغه چې	وو موږ

شريکان (بتان وغيره) خپل نو وبه وائی دغه (مشرکان) ای ربه زموږ دا دی شريکان (خدايان) زموږ هغه چې وو موږ

نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِكَ فَاَلْقَوْا اِلَيْهِمُ الْقَوْلَ اِنَّكُمْ

نَدْعُوْا	مِنْ دُوْنِكَ	فَاَلْقَوْا	اِلَيْهِمُ	الْقَوْلَ	اِنَّكُمْ
چې بلل او عبادت مو کاوه	بی له تا څخه	نو وبه غورځوی دغه (بتان)	دوی ته	خبره چې	بيشکه! تاسی

چې بلل او عبادت مو کاوه (په دنيا کښې د دوی) بی له تا څخه نو وبه غورځوی دغه (بتان) دوی ته خبره چې بيشکه! تاسی

لَكٰذِبُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ يَوْمَئِذِ السَّلَمَ وَضَلَّ

لَكٰذِبُوْنَ	وَاَلْقَوْا	اِلَى اللّٰهِ	يَوْمَئِذٍ	السَّلَمَ	وَضَلَّ
خامخا دروغجنان يئ	او وبه غورځوی دغه (مشرکان)	الله ته	په دغی ورځی کښې	صلحه	او ورک (غائب) به سی

خامخا دروغجنان يئ. او وبه غورځوی دغه (مشرکان) الله ته په دغی ورځی کښې صلحه او ورک (غائب) به سی

لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ. هر نبي به دقيامت په ورځ دخپل امت پر کړو عملونو شاهدي اداء کړي: په دغه ايت کي الله ﷻ فرمايي چې ای مسلمانانو هغه ورځ دیادولو قابله ده په کمه ورځ چې موږ دهريوه امت څخه به يو يو شاهد چې ددي امت پيغمبر به وي ودرووچي ددوی دبدو عملونو به شاهدي ورکوي بيا به دي کافرانو ته دعذر او معذرت کولو اجازه ورنه کړل سي او نه به دوی ته دالله ﷻ د راضي کولو فرمايش وسي يعني دوی ته به داسي ونه ويل سي چې تاسي توبه يا څه داسي عمل وکی او الله ﷻ خوشحاله کی وجه ددي خبري ظاهره ده چې آخرت دارالجزاء دی دار العمل نه دی او کله چې په هغه ورځ کافران عذاب الهي ويني او په هغه کي ولويږي نو دغه عذاب به نه ددوی څخه سپک کړل سي او نه به ورته په دي کي څه مهلت ورکړل سي چې اوس نو معاف یاست شو ورځي وروسته به دغه عذاب جاري سي بلکي مسلسل به دوام او خلود او هميشه توب عذابونه وي هغه به هم قسم قسم وي الخ. (معارف القرآن ج۵پ۱۴ص۱۰۶)

النحل

عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۸۷﴾ اَلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا

عَنۡهُمۡ	مَّا كَانُوۡا	يَفۡتَرُوۡنَ	اَلَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	وَصَدُّوۡا
له دوی څخه	هغه چی وو دوی	چی دروغ به ئی تړل	هغه کسان	چی پخپله کافران سوی دی	او اړولی دی دوی

له دوی څخه هغه چی وو دوی چی دروغ به ئی تړل (پر الله). هغه کسان چی پخپله کافران سوی دی او اړولی دی دوی نور خلک

عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ زِدۡنٰهُمۡ عَذَابًا فَوۡقَ الۡعَذَابِ بِمَا كَانُوۡا

عَنۡ سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	زِدۡنٰهُمۡ	عَذَابًا	فَوۡقَ	الۡعَذَابِ	بِمَا كَانُوۡا
له لاری	د الله	زیات به کړو موږ دوی ته	یو عذاب	دپاسه	دبل عذاب	په سبب د هغه چی وو دوی

له لاری د الله زیات به کړو موږ دوی ته (په آخرت کښی) یو عذاب د پاسه د بل عذاب په سبب د هغه چی وو دوی

يُفۡسِدُوۡنَ ﴿۸۸﴾ وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ فِىۡ كُلِّ اُمَّةٍ

يُفۡسِدُوۡنَ	وَيَوۡمَ	نَبۡعَثُ	فِىۡ كُلِّ	اُمَّةٍ
چی فساد به ئی کاوه	او هغه ورځ	چی راپورته به کړو موږ	په هر	امت کښی

چی فساد به ئی کاوه (چی کفر او منع ده د اسلامه). او (یاد کړه ای محمده) هغه ورځ چی راپورته به کړو موږ په هر امت کښی

شَهِيۡدًا عَلَيۡهِمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِهِمۡ وَجِئۡنَا بِكَ شَهِيۡدًا

شَهِيۡدًا	عَلَيۡهِمۡ	مِّنۡ اَنۡفُسِهِمۡ	وَجِئۡنَا بِكَ	شَهِيۡدًا
یو شاهد (نبی)	په دوی باندی	له نفسونو د دوی	او رابه ولو موږ تا	شاهد

یو شاهد (نبی) په (ویلو او کولو د) دوی باندی له نفسونو (قومونو، قبیلو) د دوی او رابه ولو موږ تا شاهد

عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ تِبۡيَانًا لِّكُلِّ

عَلٰى	هٰٓؤُلَآءِ	وَنَزَّلۡنَا	عَلَيۡكَ	الۡكِتٰبَ	تِبۡيَانًا	لِّكُلِّ
پر	دغو کسانو	او نازل کړی دی موږ	پر تا	کتاب	بیان واضح	دپاره د هر (دینی)

پر دغو کسانو، او نازل کړی لیږلی دی موږ پر تا (ای محمده!) کتاب (قرآن چی دی) بیان واضح دپاره د هر (دینی)

شَىۡءٍ وَّهُدًى وَّرَحۡمَةً وَّبُشۡرٰى لِلۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿۸۹﴾ ع اِنَّ اللّٰهَ

ع ۱۲/۱۸

شَىۡءٍ	وَّهُدًى	وَّرَحۡمَةً	وَّبُشۡرٰى	لِلۡمُسۡلِمِيۡنَ	اِنَّ	اللّٰهَ
شی (څیز)	او هدایت	او رحمت	او زیری دی	خاص مسلمانانو ته	بیشکه!	الله

شی او هدایت (د حق دی) او رحمت (له عذابه) او زیری (په جنت سره) خاص مسلمانانو ته. بیشکه! الله

وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ تِبۡيَانًا لِّكُلِّ شَىۡءٍ... قران كريم دهر شي بيان فرمايلى دى: په دغه آيت كي الله ﷻ داسي وفرمايل چي وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ تِبۡيَانًا لِّكُلِّ شَىۡءٍ چي قرآن كريم دهرشي بيان فرمايلى دى: مراد ددې څخه ددين ټوله شيان او خبري دي څكه چي دوحي او نبوت مقصد ددې شيانو سره تعلق لري په دې وجه معاشي فنون او ددې مسئلې په قرآن كريم كي لټول دسره غلط دي كه چيري څه ضمني اشاره راسي نو هغه بيا ددې سره تكر نه لري: پاته سو داسوال چي په قرآن كريم كي ددين هم ټولي مسئلې نه دي ذكر سوي نو بيا به (تبيانا لكل شئ) څنګه صحيح سي؟ ددې سوال جواب دادى چي په قرآن كريم كي اصول دټولو مسئلو موجود دي ددې اصولو په رڼا كي دنبي كريم ﷺ احاديث ددغه مسئلو بيان كوي او ځيني نور تفصيلات بيا اجماع او شرعي قياس ته سپارل كيږي نو معلومه سوه چي په حديث، اجماع، او قياس سره راوتلي مسئلې هم په يو حيثيت سره دقرآن بيان كړل سوي مسئلې دي. معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۱۰۷)

يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَآئِ ذِى الْقُرْبٰى

يَأْمُرُ	بِالْعَدْلِ	وَالْإِحْسَانِ	وَإِيتَآئِ	ذِى الْقُرْبٰى
امر کوی	په عدل سره	او په احسان سره	او په ورکړی سره	خاوندانو د خپلوی ته

امر (حکم) کوی په عدل (انصاف کولو) سره او په احسان (نیکی کولو) سره او په ورکړی سره خاوندانو د خپلوی ته

وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ

وَيَنْهٰى	عَنِ الْفَحْشَآءِ	وَالْمُنْكَرِ	وَالْبَغْيِ	يَعِظُكُمْ
او منع کوی	له قبیحه ؤ کارونو څخه	او له بدو کارونو	او له سرکښی څخه	پند در کوی تاسی ته

او منع کوی له قبیحه ؤ کارونو څخه او له بدو کارونو او له سرکښی څخه، پند در کوی تاسی ته (په دغو اوامرو نواهیو سره)

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝٩٠ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ

لَعَلَّكُمْ	تَذَكَّرُوْنَ	وَاَوْفُوْا	بِعَهْدِ	اللّٰهِ	اِذَا عٰهَدْتُّمْ
دپاره ددې چې تاسی	پند واخلئ	او وفا کوئ تاسی	په عهد	د الله	کله چې په خپلو منځونو کښی سره عهد وتړئ

دپاره د دې چې تاسی پند واخلئ (په دغو سره). او وفا کوئ تاسی په عهد د الله کله چې په خپلو منځونو کښی سره عهد وتړئ

وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ

وَلَا تَنْقُضُوا	الْاَيْمَانَ	بَعْدَ	تَوْكِيْدِهَا	وَقَدْ	جَعَلْتُمُ
او مه ماتوئ تاسی	قسمونه	وروسته	تر محکم کولو دهغو	حال دا چې په تحقیق	ګرځولی دی تاسی

او مه ماتوئ تاسی قسمونه (عهدونه خپل) وروسته د محکم کولو دهغو (په قسم سره) حال دا چې په تحقیق ګرځولی دی تاسی

اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝٩١

اللّٰهَ	عَلَيْكُمْ	كَفِيْلًا	اِنَّ	اللّٰهَ	يَعْلَمُ	مَا تَفْعَلُوْنَ
الله	پر خپلو ځانونو	شاهد	بیشکه!	الله	ته معلوم دی	هر هغه څه چې کوئ ئې تاسی

الله پر خپلو ځانونو شاهد (ضامن ساتونکی په وفا سره)، بیشکه! الله ته معلوم دی هر هغه څه (هم) چې کوئ ئې تاسی.

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ

وَلَا تَكُوْنُوْا	كَالَّتِيْ	نَقَضَتْ	غَزْلَهَا	مِنْۢ بَعْدِ	قُوَّةٍ
او مه کیږئ تاسی	په شان دهغی	چې ماتول – اوسپړل به یئ	تارونه وریښلی خپل	وروسته	دمحکم والی (دهغه)

او مه کیږئ تاسی په شان دهغی (ښځی) چې بیرته به ئی او مه کول تارونه وریشل سوی پنړسی وروسته دمحکم والی (دهغه)

يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَآئِ... دقران کريم په ټولو اياتونو کي زيات جامع ايت دغه دی: دغه آيت دقرآن کريم په ټولو اياتونو کي زيات جامع آيت دی چي په دي کي يي پوره اسلامي تعليمات په څو الفاظو کي ځای په ځای کړي دي په دي وجه دسلف صالحينو دمبارکي زماني څخه تر ننه پوري دا دستور راروان دی چي دجمعي او داخترونو دخطبو په اخر کي دا آيت تلاوت سي: حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي دقرآن کريم دټولو څخه جامع ترين آيت په سورت نحل کي دادی (ان الله يأمر بالعدل والاحسان) ابن کثير: او دا هغه مبارک آيت دی دکم دوجي څخه چي حضرت اکثم صيفي رضي الله عنه په اسلام کي داخل سو: او ابن کثير رحمه الله عليه يوه واقعه دلته داسي بيان کړيده چي اکثم ابن صيفي رحمه الله عليه دخپل قوم سردار وو کله چي ده ته دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دنبوت دعوه او داسلام داشاعت خبر ورسيدی نو ده اراده وکړه چي دنبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر سي مګر دقوم خلګو* ورته وويل: پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

اَنۡكَاثًا ؕ تَتَّخِذُوۡنَ اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًاۢ بَيۡنَكُمۡ اَنۡ تَكُوۡنَ

اَنۡكَاثًا	تَتَّخِذُوۡنَ	اَيۡمَانَكُمۡ	دَخَلًاۢ	بَيۡنَكُمۡ	اَنۡ تَكُوۡنَ
حال داچي توټي توټي وى	چي نيسئ تاسي	عهدونه خپل	فريب (مكر)	پخپلو مينځونو كښي	په سبب د دى چي سوه به

حال دا چي توټي توټي وى حال داچي نيسئ تاسي عهدونه خپل دخل (فريب) پخپلو منځونو كښي په سبب د د دى چي سوه به

اُمَّةٌ هِيَ اَرۡبٰى مِنۡ اُمَّةٍ ؕ اِنَّمَا يَبۡلُوۡكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ؕ

اُمَّةٌ	هِيَ اَرۡبٰى	مِنۡ اُمَّةٍ	اِنَّمَا	يَبۡلُوۡكُمُ	اللّٰهُ	بِهٖ
يوه ډله	دغه ډيره زياته	له هغه بلي ډلي څخه	بيشكه! هم دا خبره ده	چي آزموئي تاسي	الله	په دغي (وعدى) سره

يوه ډله دغه (ډله) ډيره زياته له هغه بلي ډلي څخه بيشكه! هم دا خبره ده چي آزموئي تاسي الله په (وفا د) دغي (وعدى) سره

وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ مَا كُنۡتُمۡ فِيۡهِ تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۹۲﴾

وَلَيُبَيِّنَنَّ	لَكُمۡ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	مَا كُنۡتُمۡ	فِيۡهِ	تَخۡتَلِفُوۡنَ
او خامخا بيان به كړى	تاسى ته	په ورځ	دقيامت كښي	هغه شي چي وئ تاسي	چي په هغه كښي به مو	سره اختلاف كاوه

او خامخا بيان به كړى (الله) تاسى ته په ورځ د قيامت كښي هغه شي چي وئ تاسي چي په هغه كښي به مو سره اختلاف كاوه.

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنۡ يُّضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ

وَلَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ	لَجَعَلَكُمۡ	اُمَّةً وَّاحِدَةً	وَّلٰكِنۡ	يُّضِلُّ	مَنۡ يَّشَآءُ
او كه اراده فرمائلي وى	الله	نو خامخا گرځولي به ئي وئ تاسي	يوه ټولي	وليكن	گمراه كوى	هرهغه څوك چي اراده وفرمائي

او كه اراده فرمائلي وى الله نو خامخا گرځولي به ئي وئ تاسي يوه ټولي وليكن (الله) گمراه كوى هر هغه څوک چي اراده وفرمائي

وَيَهۡدِيۡ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا

وَيَهۡدِيۡ	مَنۡ يَّشَآءُ ؕ	وَلَتُسۡـَٔلُنَّ	عَمَّا
او په لاره برابروى	هرهغه څوک چي اراده وفرمائي	او خامخا وبه پوښتيدلي سئ تاسي هرومرو	له هر هغه عمله چي

او په لاره (دحق) برابروى هرهغه څوک چي اراده وفرمائي او خامخا وبه پوښتيدلي سئ تاسي هرومرو له هر هغه عمله چي

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۳﴾ وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًاۢ بَيۡنَكُمۡ

كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ	وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا	اَيۡمَانَكُمۡ	دَخَلًاۢ	بَيۡنَكُمۡ
وئ تاسي	چي كاوه به مو	او مه نيسئ تاسي	قسمونه خپل	فريب (مكر)	په خپلو منځونو كښي

وئ تاسي چي كاوه به مو. او مه نيسئ تاسي قسمونه خپل (وعدى خپلى) دخل (مكر او فريب) پخپلو منځونو كښي

وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ مَا كُنۡتُمۡ... دتير مخ پاته بيان دلته وگورى: چي ته زموږ دټولو مشر يي ستا په خپله تلل مناسب نه دي اكثم وويل چي ښه ده نو دقبيلې دوه تنه سړي غوره كړى چي هلته ولاړ سي او دحالاتو معاينه وكړي اوبيا ماته ووايي: نو دادواړه دنبي كريم ﷺ په خدمت كي پيش سول او عرض يي وكى چي موږ داكثم بن صيفي دطرفه څخه ددوو خبرو معلومولو دپاره راغلي يو. داكثم دوه سوالونه دي: اول دا چي (من انت ؟) ته څوک يي ؟ اودوهم سوال دادى چي (ماانت ؟) چي ته څه يي ؟ نبي كريم ﷺ ارشاد وفرمايي چي داول سوال جواب خو دادى چي زه محمد ﷺ زوى دعبدالله يم : اوددوهم سوال جواب دادى چي زه دالله ﷻ بنده او دهغه رسول يم ددې څخه وروسته ده ﷺ دسورت نحل دا آيت تلاوت كى (ان الله يأمر بالعدل والاحسان وايتآء ذى القربى الخ ....) دې دواړو قاصدانو دا درخواست وكى چي دا جملې موږ ته بيا واوروى دوى ﷺ ددې ايت تلاوت تر هغه وخته ورته كوى چي ددوى ښه يادسو :پاته قصه پر راروان مخ وگورى

فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وَتَذُوْقُوا السُّوْٓءَ بِمَا

بِمَا	السُّوْٓءَ	وَتَذُوْقُوا	ثُبُوْتِهَا	بَعْدَ	قَدَمٌ	فَتَزِلَّ
په سبب	غم او رنځ	نو وبه څکئ	له ټینګیدو د هغه	وروسته	يو قدم	نو وبه ښوييږئ

نو وبه ښوييږئ قدم (ستاسی) وروسته له ټينګيدو د هغه نو وبه څکئ غم او رنځ (په دنيا کښی) په سبب

صَدَدْتُّمْ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ ۚ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٩٤﴾

عَظِيْمٌ	عَذَابٌ	وَلَكُمْ	اللهِ	عَنْ سَبِيْلِ	صَدَدْتُّمْ
لوی	عذاب	او سته تاسی	د الله څخه	له لاری	د منع کولو ستاسی نورو خلګو لره

د منع کولو ستاسی نورو خلګو لره له لاری د الله څخه (يعنی د وفاڅخه په وعدی باندی) او ستاسی ته عذاب لوی

وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اِنَّمَا عِنْدَ اللهِ هُوَ

هُوَ	اللهِ	عِنْدَ	اِنَّمَا	قَلِيْلًا	ثَمَنًا	اللهِ	بِعَهْدِ	وَلَا تَشْتَرُوْا
همغه	د الله کښی دی	چی په نزد	بيشکه! هغه (ثواب)	لږ	قيمت	د الله	په عهد	او مه اخلی

او مه پيرئ (مه اخلئ) په عهد د الله قيمت لږ، بيشکه! هغه (ثواب) چی په نزد د الله کښی دی همغه

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٥﴾ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ

يَنْفَدُ	مَا عِنْدَكُمْ	تَعْلَمُوْنَ	اِنْ كُنْتُمْ	خَيْرٌ لَّكُمْ
فناء کيږی	هغه چی ستاسی سره دی	چی پوهيږئ	که چيری يئ تاسی	خير (غوره) دی تاسی ته

خير (غوره) دی تاسی ته که چيری يئ تاسی چی پوهيږئ (پخير خپل). هغه (مال د دنيا) چی تاسی سره دی فناء کيږی

وَمَا عِنْدَ اللهِ بَاقٍ ۭ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	وَلَنَجْزِيَنَّ	بَاقٍ	اللهِ	وَمَا عِنْدَ
هغو کسانو ته چی	او خامخا به جزا ورکړو موږ هرومرو	باقی دی	د الله سره دی	او هغه (خزانی د رحمت) چی

او هغه (خزانی د رحمت) چی د الله سره دی باقی دی (فناء نه لری)، او خامخا به جزا ورکړو موږ هرومرو هغو کسانو ته چی

صَبَرُوْٓا اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾

يَعْمَلُوْنَ	مَا كَانُوْا	بِاَحْسَنِ	اَجْرَهُمْ	
چی کولی به ئی	د هغو نيکيو سره چی وو دوی	په ډيره ښه	اجر د دوی	صبر ئی کړی دی

صبر ئی کړی دی (په طاعت او مصيبت) اجر د دوی په ډيره ښه د هغو نيکيو سره چی وو دوی (په دنيا کښی) چی کولی به ئی.

وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ... دتيـر مـخ پاته قصه دلته وګوری: د هغه قاصدان بيرته واکثم صيفي ﷺ تـه راغلـل او ورتـه يې وويـل چي موږ پـه اول ســوال کــي دا غوښتـل چي دده نسب معلوم کړو مګر دوی دي تـه زياتـه توجه ورنـه کړه صـرف دپـلار د نامـه پـر بيـانولويي اکتفـاء وکـړه مګر کله چي موږ دنورو خلګـو څخـه دده دنسب تحقيق وکـی نـو معلومه سـوه چـي دی ډېر لـوی نسب شريف سړی دی او بيــا دي قاصدانوويل چي محمد ﷺ موږ تـه يو څوکلماتي هم اورولي دي هغه موږ تاته بيانوو دوی دغـه آيـت (ان الله يأمر بالعدل والاحسان) دتـه تـلاوت کـړی دآيـت داوريدوسـره اکـثم ابـن صيفي ﷺ وفرمايل چي ددې څخه معلوميږي چي دوی دښـو اخلاقو هدايت کـوي او دبـدو اوږذيلـو اخلاقـو څخـه منع کـوی نو تاسي تـول دده پـه ديـن کي ژر تـر ژره داخل سی چي تاسي دنورو خلګـو څخـه ورانـدي ســی او چي وروسته تـابع جـوړ نـه سی هغـه وو چي دی خپلـه هم مسلمان سـو او قوم يې هم مسلمان سـو. (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ص ۱۰۸)

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ

مَنْ عَمِلَ	صَالِحًا	مِّنْ ذَكَرٍ	اَوْ اُنْثٰى	وَهُوَ	مُؤْمِنٌ	فَلَنُحْيِيَنَّهٗ
هر چاچي وكړ	نيک (عمل)	له نارينه څخه	يا له ښځې څخه	حال داچي دى	مؤمن وى	نو خامخا ژوندون به وركړو هرومرو هغه ته

هر چاچي وكړ نيک (عمل) له نارينه څخه يا له ښځې څخه حال داچي دى مؤمن وى نو خامخا ژوندون به وركړو هرومرو هغه ته

حَيٰوةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا

حَيٰوةً	طَيِّبَةً	وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ	اَجْرَهُمْ	بِاَحْسَنِ	مَا كَانُوْا
ژوندون	پاک	او خامخا جزا به وركړو هرومرو دوى ته	اجر د دوى	په ډير ښه	دهغو (نيكيو) سره چي وو دوى

ژوندون طيبه (پاكيزه)، او خامخا جزا به وركړو هرومرو دوى ته اجر د دوى په ډير ښه دهغو (نيكيو) سره چي وو دوى

يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٧﴾ فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ

يَعْمَلُوْنَ	فَاِذَا	قَرَاْتَ	الْقُرْاٰنَ	فَاسْتَعِذْ
چي كولى به ئى	نو كله چي	وايئ ته	پاک قرآن	پناه وغواړه (ته)

(په دنيا كښې) چي كولى به ئى. نو كله چي لولى (ته پاک) قرآن نو پناه وغواړه (ته)

بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿٩٨﴾ اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ

بِاللّٰهِ	مِنَ الشَّيْطٰنِ	الرَّجِيْمِ	اِنَّهٗ	لَيْسَ	لَهٗ	سُلْطٰنٌ
په الله	له شيطان	رټلى سوى	بيشكه! دا (شيطان)	نسته	ده ته	تسلط او غلبه

په الله له شيطان رټلى سوى (په شعلو سره). بيشكه! دا (شيطان) نسته ده ته (هيڅ قدرت) تسلط او غلبه

عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٩٩﴾ اِنَّمَا

عَلَى الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَلٰى	رَبِّهِمْ	يَتَوَكَّلُوْنَ	اِنَّمَا
پرهغو كسانو	چي ايمان يې راوړى دى	او پر	رب خپل	توكل (اعتماد) كوى	بيشكه! خبره هم دا ده چي

پرهغو كسانو چي ايمان يې راوړى دى او پر رب خپل توكل (اعتماد) كوى. بيشكه! خبره هم دا ده چي

سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ

سُلْطٰنُهٗ	عَلَى الَّذِيْنَ	يَتَوَلَّوْنَهٗ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	بِهٖ
غلبه او تسلط د شيطان	پرهغو كسانو دى چي	دوستي كوى دوى له ده سره	او پرهغو كسانو دى چي	دوى	له دغه (الله) سره

تسلط د شيطان پرهغو كسانو دى چي دوستي كوى دوى له ده سره، او پرهغو كسانو دى چي دوى له دغه (الله) سره

فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ. د انسان دښمنان پر دوه قسمه دي: ابن كثير رحمه الله خپل دتفسير په مقدمه كي ليكلي دي چي دانسان دښمنان پر دوه قسمه دي: يو قسم دانسانانو څخه دي لكه عام كفار: او دوهم قسم دپيريانو څخه دي چي كم شيطانان او نافرمانه دي: داول قسم دښمن سره اسلام دجهاد او قتال په ذريعه دځان ساتلو حكم كړى دى: مگر ددويم قسم دپاره صرف دالله جل جلاله څخه دپناه غوښتلوحكم دى ددې وجه داده چي دوهم قسم دښمن دخپل جنس څخه نه دى دده حمله پر انسان مخامخ نه وي په دې وجه دده څخه دځان ساتلو دپاره ديو داسي ذات پناه اخيستل واجب كړل سوچي نه انسان ته په نظر راځي او نه شيطان ته او دشيطان څخه دځان ساتل خداى جل جلاله ته په حواله كولو كي داهم مصلحت دى چي شيطان پر چا غالب سي هغه دالله جل جلاله په نزد مردود او دعذاب مستحق دى: په خلاف دانساني دښمن يعني دكفارو څخه چي ددوى په مقابله كي كه څوک مغلوب سي يا ووژل سي نو شهيد او دثواب مستحق دى: (معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص ۱۲۱)

۱۳ ع ۱۱ ۱۹

مُشۡرِكُوۡنَ ۝۱۰۰ وَاِذَا بَدَّلۡنَاۤ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ ۙ وَّاللّٰهُ اَعۡلَمُ

مُشۡرِكُوۡنَ	وَاِذَا	بَدَّلۡنَاۤ	اٰيَةً	مَّكَانَ	اٰيَةٍ	وَّاللّٰهُ	اَعۡلَمُ
شریک گرځوونکی دی	او کله چې	بدلوو موږ	آيت	په ځای د (بل منسوخ)	آيت	حال دا چې الله ته	ښه معلوم دی

شريک گرځوونکی دی (دبل شی). او کله چې بدلوو موږ آيت په ځای د (بل منسوخ) آيت حال دا چې الله ته ښه معلوم دی

بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوۡۤا اِنَّمَاۤ اَنۡتَ مُفۡتَرٍ ؕ بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ

بِمَا يُنَزِّلُ	قَالُوۡۤا	اِنَّمَاۤ	اَنۡتَ	مُفۡتَرٍ	بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ
هغه چې رالیږئ یې	نو وائی دا (کفر)	بیشکه! هم دا خبره ده	چې ته	دورغ تړونکی ئې	بلکه زیات د دوی

هغه چې راليږی نو وائی دا (کفار نبی ته) بيشکه! هم دا خبره ده چې ته دروغ تړونکی ئې (په الله) ، بلکه زيات د دوی

لَا يَعۡلَمُوۡنَ ۝۱۰۱ قُلۡ نَزَّلَهٗ رُوۡحُ الۡقُدُسِ مِنۡ رَّبِّكَ

لَا يَعۡلَمُوۡنَ	قُلۡ	نَزَّلَهٗ	رُوۡحُ الۡقُدُسِ	مِنۡ رَّبِّكَ
نه پوهیږی	ووایه (محمده!)	نازل کړی دی دغه (قرآن)	روح پاک (جبریل)	(له طرفه) د رب ستا

نه پوهيږی (په حکمت د نسخی). ووايه (ای محمده!) نازل کړی دی دغه (قرآن) روح پاک (جبريل) (له طرفه) د رب ستا

بِالۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَهُدًى وَّبُشۡرٰى

بِالۡحَقِّ	لِيُثَبِّتَ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَهُدًى	وَّبُشۡرٰى
په حقه سره	د پاره د دې چې ثابت کړی	هغه کسان	چې مؤمنان دی	او هدایت دی	او زیری (د جنت) دی

په حقه سره (بلا شبهه) د پاره د دې چې ثابت کړی (په حقانيت د قرآن) هغه کسان چې مؤمنان دی او هدايت دی او زيری (د جنت)

لِلۡمُسۡلِمِيۡنَ ۝۱۰۲ وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ اَنَّهُمۡ يَقُوۡلُوۡنَ اِنَّمَا

لِلۡمُسۡلِمِيۡنَ	وَلَقَدۡ	نَعۡلَمُ	اَنَّهُمۡ	يَقُوۡلُوۡنَ	اِنَّمَا
د پاره د مسلمانانو	او خامخا په تحقیق	ښه معلوم دی موږ ته	چې بیشکه! دوی	وائی	چې بیشکه! هم دا خبره ده

دی د پاره د مسلمانانو. او خامخا په تحقيق ښه معلوم دی موږ ته چې بيشکه! دوی وائی چې بيشکه! هم دا خبره ده

يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ لِسَانُ الَّذِىۡ يُلۡحِدُوۡنَ اِلَيۡهِ اَعۡجَمِىٌّ

يُعَلِّمُهٗ	بَشَرٌ	لِسَانُ	الَّذِىۡ	يُلۡحِدُوۡنَ	اِلَيۡهِ	اَعۡجَمِىٌّ
چې ښوونه کوی د ته	انسان	ژبه	د هغه سړی	چې دوی نسبت د ښوونې کوی	هغه ته	عجمی ده

چې ښوونه کوی ده ته انسان (او په واقع کښې دا سی نه دی). ژبه د هغه سړی چې دوی نسبت د ښوونی کوی هغه ته عجمی ده

قُلۡ نَزَّلَهٗ رُوۡحُ الۡقُدُسِ مِنۡ رَّبِّكَ بِالۡحَقِّ. د استعاذې متعلق یو څو ضروري مسئلې:

مسئله: دقرآن کريم دتلاوت څخه مخکې (اعوذ بالله من الشيطن الرجيم) لوستل په دې آيت دعمل کولو د پاره دنبي کريم ﷺ څخه ثابت دی مگر کله کله ددوی ﷺ څخه ددې پريښوول هم په صحيح احاديثو سره ثابت دي په دې وجه جمهور علماء دامت دې حکم ته واجب نه بلکې سنت وايي او ابن جرير طبري رحمه الله پردې باندې اجماع دامت نقل کړيده په دغه معامله کې دحديثو روايتونه قولي او عملي دتلاوت څخه مخکې په اکثرو حالاتو کې داعوذ بالله دلوستلو او په ځينو حالاتو کې دنه لوستلو داټول ابن کثير رحمه الله دخپل تفسير په شروع کې ډير ذکر کړيدي

مسئله: په لمانځه کې اعوذ بالله صرف داول رکعت په شروع کې لوستل کيږي يا دهر رکعت په شروع کې؟ په دې کې دفقهاوو امامانو مختلف اقوال دی دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد صرف په اول رکعت کې لوستل مستحب گڼي ددواړو دليلونه په تفسير مظهري کې دي: پاته مسائل پر راروان مخ باندې وگورى

وَهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ١٠٣ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

وَهٰذَا	لِسَانٌ	عَرَبِيٌّ	مُّبِيْنٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ
او دغه قرآن	په ژبه	عربي دئ	ښکاره	بيشکه!	هغه کسان	چې نه راوړي ايمان

او دغه قرآن په ژبه د عربي ده ښکاره (فصيحه، بليغه). بيشکه! هغه کسان چې نه راوړي ايمان

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ١٠٤

بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	لَا يَهْدِيْهِمُ	اللّٰهُ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
په آيتونو	دالله	نه ښيي دوی ته	الله	او شته دوی ته	عذاب	دردناک

په آيتونو د الله (او نه وائي چې دا له طرفه دالله دی) نه ښيي دوی ته الله (لاره د نجات او جنت) او شته دوی ته عذاب دردناک.

اِنَّمَا يَفْتَرِى الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ

اِنَّمَا	يَفْتَرِى	الْكَذِبَ	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ
بيشکه! هم داخبره ده	چې تړي	دروغ	هغه کسان	چې نه راوړي ايمان	په آيتونو	دالله (چې قرآن دی)

بيشکه! هم داخبره ده چې تړي دروغ هغه کسان چې نه راوړي ايمان په آيتونو دالله (چې قرآن دی)،

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ١٠٥ مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ

وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ الْكٰذِبُوْنَ	مَنْ كَفَرَ	بِاللّٰهِ	مِنْۢ بَعْدِ	اِيْمَانِهٖٓ
او هم دغه کسان	هم دوی دی دروغجنان	هر څوک چې کافر سو	پر الله	وروسته	له ايمان راوړلو د ده

او هم داغه کسان هم دوی دی دروغجنان. هر څوک چې کافر سو پر الله وروسته له ايمان راوړلو د ده

اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ

اِلَّا مَنْ	اُكْرِهَ	وَقَلْبُهٗ	مُطْمَئِنٌّۢ	بِالْاِيْمَانِ
مگر هغه څوک چې	زورپری وکړ سو	حال دا چې زړه د ده	آرام نيونکی وی	په ايمان سره

(نو پری غضب دی د الله) مگر هغه څوک چې زور پری وکړ سو حال دا چې زړه د ده آرام نيونکی وی په ايمان سره

وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ

وَلٰكِنْ	مَّنْ	شَرَحَ	بِالْكُفْرِ	صَدْرًا	فَعَلَيْهِمْ	غَضَبٌ
وليکن	هغه څوک چې	پراخه کړی	په کفر سره	سينه	نو پر دوی باندی	غضب دی

وليکن هغه څوک چې ارته کړی په کفر سره سينه (خپله چې راضي شي پری اعتقاداً) نو پر دوی باندی غضب دی

اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ.. داستعاذې متعلق پاته مسائل دلته وګورئ: **مسئله** :دقرآن کريم تلاوت په لمانځه کي وي او که دباندي دلمانځه څخه وي په دواړو صورتونو کي دتلاوت څخه مخکي اعوذ بالله ويل سنت دي مګر چي يو وار يي وويل نو مخکي چي څومره تلاوت کوي دغه يوه اعوذ بالله کافي ده البته که دتلاوت په مينځ کي په څه دنيوي کار مشغول سي او بيا يي دوباره شروع کوي نو دغه وخت دوباره اوعوذ بالله او بسم الله ويل پکار دي **مسئله** : دقرآن کريم دتلاوت څخه علاوه دبل کلام يا کتاب لوستلو څخه مخکي (اعوذ بالله لوستل سنت نه دي هلته صرف بسم الله لوستل پکار دي : البته په مختلفو کارونو او حالاتو کي داعوذبالله تعليم په حديث کي مقبول دی مثلا چي چاته زياته غصه ورسي نو په حديث کي دي چي په اعوذ بالله ويلو سره غصه اودرد او ،قهر سړيږي: ابن کثير دارنګه په حديث کي دي چي اودس ماتي ته ده کښېنستلو څخه مخکي (اللهم انی اعوذ بک من الخبث والخبآئث) ويل مستحب دي : (شامي)
(معارف القرآن ج٥پ١٤ص١٢٢)

مِّنَ اللّٰهِۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۰٦﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ

مِّنَ	اللّٰهِۚ	وَلَهُمۡ	عَذَابٌ	عَظِيۡمٌ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمُ
له (طرفه د)	الله	او سته دوى ته	عذاب	لوى	دا (عذاب)	په سبب د دى دى

له (طرفه د) الله ، او سته دوى ته عذاب لوى (اخروى په سبب د ارتداد). دا (لوى اخروى عذاب) په سبب د دى دى

اسۡتَحَبُّوا الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا عَلَى الۡاٰخِرَةِۙ وَاَنَّ اللّٰهَ

اسۡتَحَبُّوا	الۡحَيٰوةَ	الدُّنۡيَا	عَلَى الۡاٰخِرَةِ	وَاَنَّ	اللّٰهَ
چې دوى غوره کړى دى	ژوندون	د دنيا	پر آخرت	او بيشکه!	الله

چې دوى غوره کړى دى ژوندون د دنيا پر (اعلىٰ ژوندانه د) آخرت او بيشکه! الله

لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۱۰۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ طَبَعَ اللّٰهُ

لَا يَهۡدِى	الۡقَوۡمَ	الۡكٰفِرِيۡنَ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيۡنَ	طَبَعَ	اللّٰهُ
نه ښيي لاره	قوم	کافرانو ته	دا (کفار)	هغه کسان دى	چې مهر وهلى دى	الله

نه ښيي لاره (د استقامت) قوم کافرانو ته. دا (کفار) هغه کسان دى چې مهر وهلى دى الله

عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَاَبۡصَارِهِمۡۚ وَاُولٰٓئِكَ

عَلٰى	قُلُوۡبِهِمۡ	وَسَمۡعِهِمۡ	وَاَبۡصَارِهِمۡ	وَاُولٰٓئِكَ
پر	زړونو د دوى	او پر غوږونو د دوى	او پر سترګو د دوى	او دغه کسان (کفار)

پر زړونو د دوى (چې نه قبلوى حق) او په غوږونو د دوى (چې نه اورى حق) او په سترګو د دوى ، او دغه کسان (يعني کفار)

هُمُ الۡغٰفِلُوۡنَ ﴿۱۰۸﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمۡ فِى الۡاٰخِرَةِ

هُمُ الۡغٰفِلُوۡنَ	لَا جَرَمَ	اَنَّهُمۡ	فِى الۡاٰخِرَةِ
هم دوى دى غافلان	دا خبره واقعى ده بلاشبهه	چې بيشکه! دوى	په آخرت کښې

هم دوى دى غافلان (له عقبىٰ). دا خبره واقعى ده بلاشبهه چې بيشکه! دوى په آخرت کښې

هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيۡنَ هَاجَرُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا

هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ	ثُمَّ	اِنَّ رَبَّكَ	لِلَّذِيۡنَ	هَاجَرُوۡا	مِنۡۢ بَعۡدِ مَا
هم دوى دى زيانکاران	بيا	بيشکه! رب ستا	د پاره د هغو کسانو	چې هجرت ئې کړى دى	وروسته له هغه

هم دوى دى زيانکاران. پس له دى بيا بيشکه! رب ستا د پاره د هغو کسانو چې هجرت ئې کړى دى وروسته له هغه

مِّنَ اللّٰهِۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ: کم سړى چې په زور سره دکفر دکلمې پر ويلو باندي مجبوره سي : ددې ايت څخه معلومه او ثابته سوه چې کم سړى دکفر پر کلمې ويلو داسي مجبوره کړل سو چې که دى کلمه دکفر ونه وايي نو وژل کيږي به او دا هم په غالب ګمان معلومه وي چې دغه اخطار ورکوونکى ته پر ده پوره قدرت حاصل دى نو دداسي [اکراه] يعني مجبورى په صورت کي که دى په ژبي سره دکفر کلمه ووايي مګر زړه يي په ايمان سره مضبوطه وي او دا کلمه باطله او بده ګڼي نو پر ده هيڅ ګناه نسته اونه دده ښځه پر ده حراميږي (قرطبي ومظهري) دا آيت دهغه صحابه کرامو رضي الله عنهم په باره کي نازل سوى دى کم چي مشرکينو ګرفتاره کړي وه او بيا يي ورته ويلي وه چي کفر اختياره کړى کنه نو موږ تاسي قتلوو داګرفتار سوي حضرات حضرت عمار رضي الله عنه او دده مور، او پلار، ياسر ،او سميه ،او صهيب ،او بلال ،او خباب رضي الله عنهم وه چي په دوى کي حضرت ياسر رضي الله عنه او دده بي بي رضي الله عنها دکفر دکلمي دويلو څخه قطعا انکار وکى نو حضرت ياسر رضي الله عنه يي قتل کړى .. پاتـه بيان پر راروان مخ وګورى :

فُتِنُوْا ثُمَّ جٰهَدُوْا وَصَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا

مِنْۢ بَعْدِهَا	اِنَّ رَبَّكَ	وَصَبَرُوْٓا	جٰهَدُوْا	ثُمَّ	فُتِنُوْا
وروسته له دغه څخه	بیشکه! رب ستا	او صبر ئی کړی دی	جهاد ئی کړی دی	بیا	چې په فتنه کې اچول سوی دی

چې مفتون سوی دی (په عذابونو) بیا جهاد ئی کړی دی او صبر ئی کړی دی بیشکه! رب ستا وروسته له دغه څخه

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۰﴾ يَوْمَ تَاْتِيْ كُلُّ نَفْسٍ

نَفْسٍ	كُلُّ	تَاْتِيْ	يَوْمَ	رَّحِيْمٌ	لَغَفُوْرٌ
یو نفس	هر	چې رابه سی	هغه ورځ	ډیر رحم والا دی	خامخا ښه مغفرت کوونکی دی

خامخا ښه مغفرت کوونکی دی ډیر رحم والا دی. (یاد کړه ای محمده!) هغه ورځ چې رابه سی هر یو (نیک او بد) نفس

تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

مَّا عَمِلَتْ	نَفْسٍ	كُلُّ	وَتُوَفّٰى	عَنْ نَّفْسِهَا	تُجَادِلُ
هغه عمل چې کړی ئی دی	نفس ته (جزاء د)	هر	او پوره به ورکړسی	لپاره د ځان خپل	چې جګړه به کوی

چې جګړه (سوال او ځواب) به کوی لپاره د (نجات د) ځان خپل او پوره به ورکړسی هر نفس ته (جزاء د) هغه عمل چې کړی ئی دی

وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً

اٰمِنَةً	كَانَتْ	قَرْيَةً	مَثَلًا	اللّٰهُ	وَضَرَبَ	لَا يُظْلَمُوْنَ	وَهُمْ
په امن کښې	چې دی (داکلی)	دیو کلی	مثال	الله	او بیانوی	ظلم ونه کړسی	حال دا چې په دوی باندی به

حال دا چې په دوی باندی به ظلم ونه کړسی. او بیانوی الله مثل د یو کلی چې ده (داکلی) په امن کښې (له قتله او غارته)

مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ

مَكَانٍ	مِّنْ كُلِّ	رَغَدًا	رِزْقُهَا	يَّاْتِيْهَا	مُّطْمَئِنَّةً
ځایه څخه	له هر	ډیره پریمانه	رزق روزی (داهل) د دوی	چې راتله دغه کلی ته	په آرام

په آرام (او هوسا اهل د دی) چې راته دغه کلی ته رزق روزی (د اهل) د دی ډیره پریمانه له هر ځایه (له هره طرفه)

فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ

الْجُوْعِ	لِبَاسَ	اللّٰهُ	فَاَذَاقَهَا	اللّٰهِ	بِاَنْعُمِ	فَكَفَرَتْ
دلوږی	جامی	الله	نو وڅکاوه په (اهل د) دی باندی	دالله	په نعمتونو	نو کافر سو (اهل د) هغه

نو کافر (ناشکره) سو (اهل د) هغه په نعمتونو د الله نو وڅکاوه په (اهل د) دی باندی الله کالی دلوږی

يَوْمَ تَاْتِيْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: او حضرت سمیه رضی الله عنها یې دوو اوښانو په مابین کې وتړله او بیا یې هغه دوه اوښان وزغلول چې ددې څخه هغه دوې ټوټې سوه او شهیده سوه او دا هغه دوه بزرګان دي کمو ته چې د اسلام په خاطر تر ټولو اول شهادت نصیب سو دغه شان حضرت خباب رضی الله عنه دکفر دکلمې دویلو څخه قطعي انکار وکی او ښه په اطمینان سره یې قتلول قبول کړل په دوی کې حضرت عمار رضی الله عنه دبیرې څخه په ژبه اقرار دکفر وکی مګر زړه یې مطمئن وو په ایمان سره دی چې کله ددښمنانو څخه راخلاص سو او دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سو نو په ډیر غم سره یې ددې واقعې اظهار وکی نبي کریم صلی الله علیه وسلم دده څخه پوښتنه وکړه چې کله تا دغه کلمه ویله نو ستا دزړه څه حال وو ده عرض وکی چې زړه خومې په ایمان مضبوط او کلک وو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم دی مطمئن کی چې پر تاددې هیڅ وبال او ګناه نسته ستا ددې فیصلې په تصدیق کې دغه آیت نازل سوی دی.

معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۱۲۷

ع ۱۴ / ۲۰

وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

وَالْخَوْفِ	بِمَا	كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ	وَلَقَدْ	جَآءَهُمْ
اوبیرې	په سبب د هغو (عملو)	چې وو دوی چې کول به ئې	او خامخا په تحقیق	راغلی ؤ دوی ته

او بیرې په سبب د هغو (عملو) چې وو دوی چې کول به ئې. او خامخا په تحقیق راغلی ؤ دوی ته

رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَهُمْ

رَسُوْلٌ	مِّنْهُمْ	فَكَذَّبُوْهُ	فَاَخَذَهُمُ	الْعَذَابُ	وَهُمْ
رسول	له (جنسه د) دوی	نو نسبت د دروغوئی وکړ هغه ته	نو ونیول دوی لره	عذاب	حال دا چې

رسول له (جنسه د) دوی نو نسبت د دروغوئی وکړ هغه ته نو ونیول دوی لره عذاب (دلوږې او بیرې) حال دا چې

ظٰلِمُوْنَ ﴿١١٣﴾ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ص

ظٰلِمُوْنَ	فَكُلُوْا	مِمَّا	رَزَقَكُمُ	اللّٰهُ	حَلٰلًا	طَيِّبًا
دوی ظالمان وو	نو خورئ تاسی	له هغو شخه	چې درکړی دی تاسی ته	الله	حلال	طیب پاکیزه

دوی ظالمان وو. نو خورئ تاسی له هغو (طعامونو) شخه چې درکړی تاسی ته الله حلال طیب پاکیزه

وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿١١٤﴾

وَّاشْكُرُوْا	نِعْمَتَ	اللّٰهِ	اِنْ كُنْتُمْ	اِيَّاهُ	تَعْبُدُوْنَ
او شکر وباسئ	د نعمت	د الله	که یئ تاسی	چې خاص هم ده ته	عبادت کوئ

او شکر وباسئ (قدر وپیژنئ) د نعمت (احسان) د الله که یئ تاسی چې خاص هم ده ته عبادت کوئ.

اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ

اِنَّمَا	حَرَّمَ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةَ	وَالدَّمَ	وَلَحْمَ	الْخِنْزِيْرِ
بیشکه! هم داخبره ده	چې حرام کړی دی	پر تاسی باندی	(خوراک د) مردار	او وینې	او غوښې	د خنزیر

بیشکه! هم داخبره ده چې حرام کړی دی (الله) پر تاسی باندی (خوراک د) مردار او (دبهیدونکی) وینې او د غوښې د خنزیر

وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ فَمَنِ اضْطُرَّ

وَمَآ	اُهِلَّ	لِغَيْرِ	اللّٰهِ	بِهٖ	فَمَنِ	اضْطُرَّ
او هغه چې	یږغ کړی سوی وی	بې له	الله (د نامه)	په (وخت د ذبح د) هغه	پس هغه څوک چې	اړ سی

او هغه چې یږغ کړی سوی وی (د بل شی) بې له الله (د نامه) په (وخت د ذبح د) هغه، پس هغه څوک چې اړ سی (خوړلو د حرامو ته)

وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ. مشرکینو د مکې ته الله ﷻ د دوی د کفر په سبب دلوږې او بدامنی سزا ورکړه: په دغه آیت کې الله ﷻ دلوږې او دبیرې دخوند دڅکلو دپاره لفظ دلباس استعمال کړی دی چې الله ﷻ جامې دلوږې او دبیرې په دوی وڅکولې او حال دادی چې جامه دڅکلو شی نه دی: جواب دادی چې دلته دلباس لفظ دمحیط او همه گیروالي په وجه تشبیها استعمال سوی دی چې دابیره او لوږه پر دوی تولو داسې را هواره سوې وه لکه څنګه چې لباس دبدن سره لازم او ملزوم وي دابیره او لوږه هم پر دوی داسې مسلطه سوې وه: دغه مثال چې په دغه ایاتونو کې بیان سوی دی دځینو امامانو دتفسیر په نزدخو عام مثال دی دځه خاص کلي سره ددې تعلق نسته او اکثرو حضراتو دادمکې مکرمې واقعه ګڼلې ده چې دغه خلګ دمکې تر اووه کاله پورې په سخته قحطی کې اخته سول چې دمردارو حیواناتو سپیو او نورو ګندګیو په خوړلو مجبوره سول او د مسلمانانو بیره هم پر دوی مسلطه سول او آخر کار مسلمانانو ته په زاری سوله الخ.
(معارف القرآن ج۵پ۱۴ص۱۳۱)

غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا

غَيْرَ بَاغٍ	وَّلَا عَادٍ	فَإِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	وَلَا تَقُوْلُوْا
حال داچې ظالم نه وی	او نه تجاوز کوی	نو بیشکه!	الله	لوی مغفرت کوونکی	ډیر رحم والادی	او مه وایئ تاسی

حال داچې ظالم نه وی (په بل چا) او نه تجاوز کوی نو بیشکه! الله لوی مغفرت کوونکی ډیر رحم والادی. او مه وایئ تاسی

لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ

لِمَا	تَصِفُ	اَلْسِنَتُكُمُ	الْكَذِبَ	هٰذَا حَلٰلٌ	وَّهٰذَا حَرَامٌ
هغه څه ته	چې بیانوی ئی	ژبې ستاسی	دروغو لره	(داسی) چې دا حلال دی	او دا حرام دی

له وجې د بیانولو د ژبو ستاسی دروغو لره (داسی) چې دا حلال دی او داحرام دی

لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى

لِّتَفْتَرُوْا	عَلَى	اللّٰهِ	الْكَذِبَ	اِنَّ الَّذِيْنَ	يَفْتَرُوْنَ عَلَى
دپاره د دې چې جوړ کړئ له ځانه	پر	الله	دروغ	بیشکه! هغه کسان چې	تړی دوی پر

دپاره د دې چې جوړ کړئ له ځانه پر الله دروغ ، بیشکه! هغه کسان چې تړی دوی پر

اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿١١٦﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۪ وَّلَهُمْ

اللّٰهِ	الْكَذِبَ	لَا يُفْلِحُوْنَ	مَتَاعٌ	قَلِيْلٌ	وَّلَهُمْ
الله	بهتان	نه به پیدا کړی خلاصی	نفعه ده	لږ	او سته دوی ته

الله بهتان نه به مومی (پیدا کړی) خلاصی (له عذابه د آخرت دغه چې بهتان تړلی وو دوی پر الله) نفعه ده لږ او سته دوی ته

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا

عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	وَعَلَى	الَّذِيْنَ	هَادُوْا	حَرَّمْنَا
عذاب	دردناک	او پر	هغو کسانو چې	یهودان سوی دی	حرام کړی دی موږ

عذاب دردناک. او پر هغو کسانو چې یهودان سوی دی حرام کړی دی موږ

مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ ۚ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ

مَا قَصَصْنَا	عَلَيْكَ	مِنْ قَبْلُ	وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ	وَلٰكِنْ
هغه شیان چې بیان کړی وو موږ	پر تا باندی	پخوا له دی څخه	او نه وو ظلم کړی موږ پر دوی	ولیکن

هغه شیان چې بیان کړی وو موږ پر تا باندی پخوا له دی څخه او نه وو ظلم کړی موږ پر دوی (په دی تحریم سره) ولیکن

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ.

مشرکینو دمکې به خودسریزه ځیني شیان حلال او ځیني شیان حرام بلل: په دغه ایت کې الله ﷻ خطاب کفارو دمکې ته کړی دی چې دکمو شیان متعلق چې ستاسي زباني ددرواغو دعوی ده او په دي کې څه صحیح دلیل هم نسته درسره ددوی متعلق داسي مه وایاست چې داشی حلال دی او داشی حرام دی لکه چې دغه مضمون داتمي سیپارې څلورمي حصې ته نژدې (ددوی دغه درواغو وعدې) راغلی دی چې آخر ددغه خبرو او دعوو مطلب دا راووزي چې تاسي پر الله ﷻ باندي تهمت وایاست ځکه چې الله ﷻ خو داسي نه دي ویلي بلکي ددې خلاف یې فرمایلي دي نو بیشکه هغه خلګ چې پر الله ﷻ باندي درواغ وایي داسي خلګ به هیڅ خیر نه کړي پیدا بیا نو برابره خبره ده که په دنیا کې وي او که په آخرت کې وي: دادنیا بیا یو څوورځې عیش اوعیشرت دی او تر مرګ وروسته بیا د دوی دپاره دردناکه سزا ګوري چې هغه دهمیشه دپاره په جهنم کي اوسیدل او هلته سوځل دي.

معارف القرآن ج٥ پ١٤ ص١٣٣)

كَانُوٓا اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيۡنَ

كَانُوٓا	اَنۡفُسَهُمۡ	يَظۡلِمُوۡنَ	ثُمَّ	اِنَّ رَبَّكَ	لِلَّذِيۡنَ
وو دوی	چی په ځانونو خپلو به ئی	ظلم کاوه	بیا	بیشکه! رب ستا	هغو کسانو ته

وو دوی چی په ځانونو خپلو به ئی ظلم کاوه (په علمی عصیان سره). بیا بیشکه! رب ستا (ای محمده!) هغو کسانو ته

عَمِلُوا السُّوۡٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ

عَمِلُوا	السُّوۡٓءَ	بِجَهَالَةٍ	ثُمَّ	تَابُوۡا	مِنۡۢ بَعۡدِ	ذٰلِكَ
چی ئی کړی دی	بدی	په جهالت سره	بیا	توبه وباسی	وروسته له کولو	دهغه (بد عمل)

چی ئی کړی دی بدی (ګناه) په جهالت (ناپوهی) سره بیا توبه وباسی وروسته له کولو دهغه (بد عمل)

وَاَصۡلَحُوۡٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنۡۢ بَعۡدِهَا لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿١١٩﴾

وَاَصۡلَحُوۡٓا	اِنَّ رَبَّكَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	هَا	لَغَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ
او نیک کړی عمل خپل	بیشکه! رب ستا	وروسته	له دغی توبی څخه	خامخا لوی مغفرت کوونکی دی	ډیر رحم والا

او نیک کړی عمل خپل بیشکه! رب ستا وروسته له دغی توبی څخه خامخا لوی مغفرت کوونکی دی ډیر رحم والا.

ع ١٥ ٢١

اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيۡفًا ؕ وَلَمۡ يَكُ

اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ	كَانَ	اُمَّةً	قَانِتًا	لِّلّٰهِ	حَنِيۡفًا	وَلَمۡ يَكُ
بیشکه! چی ابراهیم	ؤ	پیشوا	فرمان منونکی	خاص الله لره	حنیف	او نه وو

بیشکه! چی ابراهیم ؤ (اصلی او اساسی) پیشوا فرمان منونکی خاص الله لره حنیف (مائل له باطله حق ته) او نه دی

مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّاَنۡعُمِهٖ ؕ اِجۡتَبٰىهُ وَهَدٰىهُ

مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ	شَاكِرًا	لِّاَنۡعُمِهٖ	اِجۡتَبٰىهُ	وَهَدٰىهُ
له مشرکانو	شکر کوونکی	دنعمتونو دالله	غوره کړی ؤ (الله) دغه	او برابر کړی ؤ (الله) دی

له مشرکانو (لکه چی قریش وائی). (ؤ ابراهیم) شکر کوونکی دنعمتونو دالله غوره کړی ؤ (الله) دغه (ابراهیم) او برابر کړی ؤ

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿١٢١﴾ وَاٰتَيۡنٰهُ فِى الدُّنۡيَا حَسَنَةً ؕ وَاِنَّهٗ

اِلٰى صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِيۡمٍ	وَاٰتَيۡنٰهُ	فِى الدُّنۡيَا	حَسَنَةً	وَاِنَّهٗ
لاری	سمی ته	او ورکړی وه موږ دغه ته	په دغه دنیا کښی	نیکی	او بیشکه! دغه (ابراهیم)

(الله) دغه (ابراهیم) سمی لاری ته. او ورکړی وه موږ دغه (ابراهیم) ته په دغه دنیا کښی نیکی او بیشکه دغه (ابراهیم)

اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ... حضرت ابراهیم عليه السلام پیشواء اوفرمانبرداره وو دالله جل جلاله: په دغه آیت کي دحضرت ابراهیم عليه السلام دپاره لفظ امت استعمال سویدی: لفظ دامت دڅو معانیوو دپاره راځي مشهوره معنی یي دجماعت او قوم ده د حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه دلته دا معنی نقل ده او مراد دآیت دادی چي حضرت ابراهیم عليه السلام یوازي یو فردديوه امت او قوم دکمالاتو او فضیلتونو جامع دی: او یوه معنی دلفظ دامت پیشوا دقوم او دجامعو کمالاتو هم راځي ځیني تفسیر لیکونکي بیا دلته دغه معنی اخلي: او دقانت معنی تابع او فرمانبرداره راځي حضرت ابراهیم عليه السلام په دي دواړو صفتونو کي خاص امتیاز لري دپیشوا والي خو یي داحال دی چي دټولي دنیا دټولو مشهورو مذهبونو خلق پرده باندي اعتماد او اعتقادلري او دده دملت تابعداري عزت او فخر ګڼي: یهود او نصاری او مسلمانان خو دده تعظیم کوي دعربو مشرکینو دبت پرستی باوجوددي بت شکن شخصیت معتقد او دده پر ملت چلیدل د ځانونو دپاره فخر ګڼي.
معارف القرآن ج٥ پ١٤ ص ١٣٧

فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

فِي الْاٰخِرَةِ	لَمِنَ	الصّٰلِحِيْنَ	ثُمَّ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ
پهآخرت كښی هم	خامخا	لهصالحانو څخهدی	بيا	وحی وكړی موږ	تاته (ای محمده!)

پهآخرت كښی هم خامخا لهصالحانو (دلويو درجاتو دخاوندانو) څخهدی. بيا وحی (حكم) وكړموږ تاته (ای محمده!)

اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۭ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۳﴾

اَنِ اتَّبِعْ	مِلَّةَ	اِبْرٰهِيْمَ	حَنِيْفًا	وَمَا كَانَ	مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ
چی متابعت وكړه	د دين	د ابراهيم	چی مايل دی	او نهؤ دی	لهمشركانو

چی متابعت وكړه (پهتوحيد كښی) د دين د ابراهيم چی حنيف (مائل ؤ له باطله حق ته) او نهؤ دی له مشركانو .

اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا

اِنَّمَا	جُعِلَ	السَّبْتُ	عَلَى الَّذِيْنَ	اخْتَلَفُوْا
بيشكه! هم دا خبره ده	چی مقرر كړی سوی دی	احترام د ورځی د خالی	پر هغو كسانو	چی اختلاف يی كړی وو

بيشكه! هم دا خبره ده چی مقرر كړی سوی دی (تعظيم د ورځی) د خالی (پهعبادت) پر هغو كسانو چی اختلاف يی كړی وو

فِيْهِ ۭ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا

فِيْهِ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَيَحْكُمُ	بَيْنَهُمْ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ	فِيْمَا كَانُوْا
پكښی	او بيشكه! چی	رب ستا	خامخا حكم بهوكړی	پهمينځ د دوی كښی	پهورځ د قيامت كښی	پههغهشی كښی چی وو دوی

پكښی او بيشكه! چی رب ستا خامخا حكم بهوكړی پهمينځ د دوی كښی پهورځ د قيامت كښی پههغه څيز كښی چی وودوی

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ

فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ	اُدْعُ	اِلٰى سَبِيْلِ	رَبِّكَ	بِالْحِكْمَةِ
چی پههغه كښی بهئی	اختلاف كاوه	بلنه كوه (ای محمده! خلكوته)	لاری د	رب خپل ته	پهحكمت سره

چی پههغه كښی بهئی اختلاف كاوه. بلنه كوه (ای محمده!) لاری د رب خپل ته پهحكمت (محكمی خبری دقرآن) سره

وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۭ

وَالْمَوْعِظَةِ	الْحَسَنَةِ	وَجَادِلْهُمْ	بِالَّتِيْ	هِيَ	اَحْسَنُ
او پهوعظ	نيک سره پهښهډول	او مباحثه كوه لهدوی سره	پههغی (طريقی سره)	چی هغه	ډيره ښهوی

او پهوعظ (پند) نيک سره پهښهډول (طريقه) او مباحثه كوه لهدوی سره پههغی (طريقی سره) چی هغه ډيره ښهوی ،

اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ

ددعوت او تبليغ اصول او مكمل نصاب : پهدغه آيت كي الله ﷻ ددعوت او تبليغ مكمل نصاب بيان كړی دی او ددې داصولو او ادابو پوره تفصيل يي پهيو څو كلمو كي رايوځای كړی دی: پهتفسير قرطبي كي دي چي كله دحضرت هرم ابن حيان رحمة الله عليه دمرگ وخت راغی نو عزيزانو ورته درخواست وكی چی موږ ته څه وصيت وفرمايهنو وې فرمايل چي وصيت خو خلگ دمالونو كوي او هغه زما سره نسته ليكن زه تاسي ته دالله ﷻ داياتونو او خاص بيا دسورت النحل داخري اياتونو وصيت كوم چي پر دغه باندي پهمضبوطی سره قائم اوسی هغه اياتونه دادي كم چي دلته ذكر سوي دي: ددعوة لفظي معنی دبلني ده دانبياو عليهم السلام اولنی فرض منصبي دادی چي دوی بهخلگ دالله ﷻ طرف ته رابولي او بيا دنبوت او رسالت ټول تعليمات ددې دعوت تشريحات دي پهقرآن كريم كي دنبي كريم ﷺ خاص صفت داعي الی الله بيان سوی دی (وداعيا الی الله باذنه وسراجا منيرا) نو پر امت باندي هم: پاته بيان پر راروان مخ وگوری:

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ

إِنَّ رَبَّكَ	هُوَ أَعْلَمُ	بِمَن ضَلَّ	عَن سَبِيلِهِ	وَهُوَ	أَعْلَمُ
بیشکه! چې رب ستا	ښه عالم دی	په هغه چا چې گمراه سوی دی	له لاری د الله څخه	او دی	ښه عالم دی

بیشکه! چې رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چې گمراه سوی دی له لاری د الله څخه او دی ښه عالم دی

بِالْمُهْتَدِينَ ﴿۱۲۵﴾ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا

بِالْمُهْتَدِينَ	وَإِنْ عَاقَبْتُمْ	فَعَاقِبُوا	بِمِثْلِ	مَا
په لاری پیدا کوونکو	او که عذابوئ تاسی	نو عذاب ورکوئ	په مثل	د هغه عذاب سره

په لاری موندونکو. او که عذابوئ تاسی (څوک) نو عذاب ورکوئ په مثل د هغه عذاب سره

عُوقِبْتُم بِهِ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ ﴿۱۲۶﴾

عُوقِبْتُم	بِهِ	وَلَئِن	صَبَرْتُمْ	لَهُوَ خَيْرٌ	لِّلصَّابِرِينَ
چې عذاب کړی سوی یئ تاسی	په هغه سره	او خامخا قسم دی	که صبر وکړ تاسی	نو خامخا دغه خیر دی	صابرانو ته

چې عذاب کړی سوی یئ تاسی په هغه سره، او خامخا قسم دی که صبر وکړ تاسی نو خامخا دغه (صبر) خیر دی صابرانو ته.

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

وَاصْبِرْ	وَمَا صَبْرُكَ	إِلَّا	بِاللَّهِ	وَلَا تَحْزَنْ	عَلَيْهِمْ
او صبر کوه!	او نه دی صبر ستا	مگر په (توفیق)	د الله سره	او مه خپه کیږه	پر دغو کفارو

او صبر کوه! او نه دی صبر ستا مگر په (توفیق) د الله سره او مه خپه کیږه پر دغو کفارو (چې ولی نه مسلمانیږی)

وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿۱۲۷﴾ إِنَّ اللَّهَ

وَلَا تَكُ	فِي ضَيْقٍ	مِّمَّا	يَمْكُرُونَ	إِنَّ	اللَّهَ
او مه کیږه	په زړه تنگی کښی	له هغو څخه چې	دوی مکرونه کوی	بیشکه!	الله (ملگری دی)

او مه کیږه په زړه تنگی کښی له هغو څخه چې دوی مکرونه کوی. بیشکه! الله ملگری دی (په عون او نصرت سره)

مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿۱۲۸﴾ ع

مَعَ الَّذِينَ	اتَّقَوا	وَّالَّذِينَ	هُم مُّحْسِنُونَ
له هغو کسانو سره	چې پرهیزگاری کوی	او له هغو کسانو سره	چې دوی نیکی کوونکی دی

له هغو کسانو سره چې پرهیزگاری کوی او له هغو کسانو سره چې دوی نیکی کوونکی دی

ع ۱۶ ۲۲

هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ..د تیر مخ پاته بیان دلته وگوری :دنبي کریم ﷺ پر نقش قدم باندي دعوت الی الله فرض سویدی په سورت آل عمران کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی (چي په تاسي کي دي یوه ډولی داسي وي چي خلک دخیر طرف ته رابولي او امر کوي په نیکیو سره او منع کوي دبدیو څخه) او په یوه بل آیت کي هم دالله ﷻ ارشاد دی (چي دوینا په اعتبار سره دهغه سړي څخه غوره څوک کیدای سي کم چي خلک دالله ﷻ طرف ته بولي) په تعبیر کي کله دي لفظ ته ددعوت الی الله عنوان ورکول کیږي او کله ددعوت الی سبیل الله نوم ورکول سي: مطلب دټولو یو دی ځکه چي دالله ﷻ طرف ته دبلني څخه دهغه ددین او صراط مستقیم طرف ته بلنه مقصودده (الی سبیل ربک) په دغه کي دالله ﷻ دخاص صفت رب او بیا دهغه وه نبي کریم ﷺ ته په اضافت کي اشاره ده چي ددعوت صفت دربوبیت یعني پالني او تربیت سره تعلق لري او دا ددعوت په کار کي یو اهم اړخ لري چي تربیه به وي.
معارف القرآن ج۵ پ۱۴ ص۱۳۹

آیاتونه ۱۱۱ — ۱۷ سُورَةُ بَنِیٓ إِسۡرَآءِیلَ مَکِّیَّةٌ ۵۰ — رکوعې ۱۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سُبۡحٰنَ الَّذِیٓ اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ لَیۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ

سُبۡحٰنَ	الَّذِیٓ	اَسۡرٰی	بِعَبۡدِهٖ	لَیۡلًا	مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ
پاکي	دهغه ذات	چې بیولی ئې ؤ	بنده خپل	په شپې کښې	له مسجد الحرام څخه

پاکي دهغه ذات چې بیولی ئې ؤ بنده خپل (محمد) په (یوه برخه د) شپې کښې له (منځه یا له څنګه د) مسجد الحرام څخه

اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِیۡ بٰرَکۡنَا حَوۡلَهٗ لِنُرِیَهٗ

اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا	الَّذِیۡ	بٰرَکۡنَا	حَوۡلَهٗ	لِنُرِیَهٗ
تر مسجد اقصٰی پورې	هغه چې	برکت اچولی دی موږ	چارچاپېر دهغه	چې وښیو موږ دغه (محمد ده) ته

تر مسجد اقصٰی پورې هغه چې برکت اچولی دی موږ چار چاپېر دهغه (بیول د محمد) (هلته) چې وښیو موږ دغه (محمد) ته

مِنۡ اٰیٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیۡعُ الۡبَصِیۡرُ ① وَاٰتَیۡنَا مُوۡسَی

مِنۡ اٰیٰتِنَا	اِنَّهٗ	هُوَ السَّمِیۡعُ	الۡبَصِیۡرُ	وَاٰتَیۡنَا	مُوۡسَی
ځینې له دلائیلو خپل	بیشکه! چې دغه (الله)	هم دی ښه اوریدونکی	ښه لیدونکی	او ورکړی وو موږ	موسٰی ته

ځینې له دلائیلو (د قدرت) خپل، بیشکه! چې دغه (الله) هم دی ښه اوریدونکی ښه لیدونکی. او ورکړی وو موږ موسٰی ته

الۡکِتٰبَ وَجَعَلۡنٰهُ هُدًی لِّبَنِیۡٓ اِسۡرَآءِیۡلَ اَلَّا تَتَّخِذُوۡا

الۡکِتٰبَ	وَجَعَلۡنٰهُ	هُدًی	لِّبَنِیۡٓ اِسۡرَآءِیۡلَ	اَلَّا تَتَّخِذُوۡا
کتاب (تورات)	او ګرځولی وو موږ هغه	هدایت لپاره	دبنی اسرائیلو	چې مه نیسئ تاسی

کتاب (تورات) او ګرځولی وو موږ هغه (کتاب) هدایت لپاره د بنی اسرائیلو (اولادې دیعقوب) چې مه نیسئ تاسی

مِنۡ دُوۡنِیۡ وَکِیۡلًا ② ذُرِّیَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوۡحٍ ؕ اِنَّهٗ کَانَ

مِنۡ دُوۡنِیۡ	وَکِیۡلًا	ذُرِّیَّةَ	مَنۡ حَمَلۡنَا	مَعَ	نُوۡحٍ	اِنَّهٗ کَانَ
غیر له ما څخه	هیڅ وکیل	ای اولاده	دهغه چا چې سواره کړی وو موږ	سره له	نوح	بیشکه! چې نوح ؤ

غیر له ما څخه هیڅ وکیل (دوست). ای اولاده د هغه چا چې سور (او بار) کړی وو موږ سره له نوح بیشکه! چې نوح ؤ

سُبۡحٰنَ الَّذِیٓ اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ لَیۡلًا...دمعراج دواقعې او سفر بیان: په دغه ایت کې الله جَلَّ جَلَالُهٗ دمعراج دواقعې بیان کړی دی کمه چې زموږ دنبي کریم ﷺ یو خصوصي اعزاز او امتیازي معجزه ده: لفظ داسری داسراء څخه مشتق دی چې لغوي معنی یې دشپې بیول دي: دقرآن کریم دارشاداتو او متواترو احادیثو دکمو ذکر چې مخ ته راځي ثابته ده چې داسراء او معراج ټول سفر صرف روحاني نه وو: بلکې جسماني وو لکه څنګه چې عام انسانان سفر کوي: دقرآن کریم په اولني لفظ دسبحان کې دې طرف ته اشاره ده ځکه چې دا لفظ دتعجب او عظیم الشان کار دپاره استعمالیږي: که معراج صرف روحاني په طور دخوب وي نو په دي کې کمه داسي عجیبه خبره وه خوب خو هر مسلمان بلکې هر انسان لیدای سي چې زه اسمان ته ولاړم او فلانی کار مې وکی: بله اشاره په لفظ د (عبد) سره دې طرف ته ده ځکه چې عبد صرف روح نه دی بلکې دجسم او روح د مجموعې نوم دی ددې څخه علاوه داحادیثو څخه هم په ښکاره ثابته ده چې دا سفر دروح او بدن دواړو وو (معارف القرآن ج۵ پ ۱۵ ص ۲)

وَقَضَيْنَآ اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ. دبني اسرائيلو واقعاتي دعبرت او نصيحت دپاره: په دغه آياتونو کي الله جَلَّ جَلَالُهُ دبني اسرآئيلو دوې واقعاتي دعبرت او نصيحت دپاره ذکر کړي دي چي يووار دوی په ګناهونو او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نافرمانيو کي بوخت سول نو الله جَلَّ جَلَالُهُ ددوی دښمان پر دوی باندي مسلط کړل کمو چي دوی تباه کړل بيا دوی څه لږ پوه سول او شرارت يي کم کی نو برابر سول ليکن څه زمانه وروسته يي بيا دغه شرارتونه او بد عملونه شروع کړل نو بيا الله جَلَّ جَلَالُهُ دوی ته ددوی ددښمن په لاس سزا ورکړه په قرآن کريم کي ددوو واقعو ذکر دی مګر په تاريخ کي داسي شپږ واقعات ذکر دي: **اوله واقعه:** دمسجد اقصی دجوړوونکي دحضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام دوفات څخه وروسته پينځه سوه چي دبيت المقدس حاکم بې ديني او بدعملي اختياره کړه نو دمصر يو باچا پر دوی حمله وکړه او دبيت المقدس سامان سره او سپين يي لوټ کړل او يو يي وړل مګر ښار او مسجد يي وران نه کړل هغه ثابته پاته سوه: دا اوله واقعه وه.
(معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص١١)

عَبْدًا شَكُوْرًا ﴿٣﴾ وَقَضَيْنَآ اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

عَبْدًا	شَكُوْرًا	وَقَضَيْنَآ	اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
بنده	ډير شکر ايستونکی	او قطعی حکم ليږلی ؤ موږ	بنی اسرائيلو ته (اولادی د يعقوب)

بنده ډير شکر ايستونکی (په هر حال کښی). او قطعی حکم ليږلی ؤ موږ بنی اسرائيلو (اولادی د يعقوب) ته

فِي الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ

فِي الْكِتٰبِ	لَتُفْسِدُنَّ	فِي الْاَرْضِ	مَرَّتَيْنِ	وَلَتَعْلُنَّ
په کتاب کښی	خامخا به فساد وکړئ تاسی هرومرو	په مځکه کښی	دوه ځلی	او خامخا سرکښی به وکړئ تاسی هرومرو

په کتاب (تورات) خامخابه فساد وکړئ تاسی هرومرو په مځکه (د شام) کښی دوه ځلی او خامخا سرکښی به وکړئ تاسی هرومرو

عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿٤﴾ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ

عُلُوًّا	كَبِيْرًا	فَاِذَا	جَآءَ	وَعْدُ	اُوْلٰىهُمَا	بَعَثْنَا	عَلَيْكُمْ
په سرکښی	ډيره لويه سره	نو کله چی	راغله	وعده	د اول انتقام دهغو دوؤ	نو مسلط کړل موږ	پر تاسی

په سر کښی ډيره لويه سره. نو کله چی راغله وعده د اول انتقام (دهغو دوارو څخه) نو مسلط کړل موږ پر تاسی

عِبَادًا لَّنَآ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ

عِبَادًا لَّنَآ	اُولِيْ	بَاْسٍ	شَدِيْدٍ	فَجَاسُوْا	خِلٰلَ	الدِّيَارِ
بندګان زموږ	چی خاوندان	دجنګ	سخت وو	پس ننوتل دوی	په مينځ	دکورونو

بندګان زموږ، چی خاوندان د جنګ سخت وو نو تيول ګرځيدل دوی (د وژلو او تالا کولو دپاره) په مينځ د کورونو (ستاسی)

وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ

وَكَانَ	وَعْدًا	مَّفْعُوْلًا	ثُمَّ	رَدَدْنَا لَكُمُ	الْكَرَّةَ	عَلَيْهِمْ
او وه	وعده	خامخا پوره کيدونکی	بيا	بيرته وګرځوله موږ تاسی ته	غلبه	پر دوی

او ؤ (دا کار يوه) وعده (خامخا) پوره کيدونکی. بيا بيرته وګرځوله (او درکړه) موږ تاسی ته غلبه (دولت) پر دوی

وَاَمْدَدْنٰكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَجَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ﴿٦﴾

وَاَمْدَدْنٰكُمْ	بِاَمْوَالٍ	وَّبَنِيْنَ	وَجَعَلْنٰكُمْ	اَكْثَرَ	نَفِيْرًا
او مرسته مو وکړه له تاسی سره	په مالونو سره	او زامنو سره	او وګرځولی موږ تاسی	زيات	له جهته دلښکره

او مرسته (مدد) مو وکړه له تاسی سره په مالونو سره او زامنو سره او وګرځولی موږ تاسی زيات له جهته دملاتړه (لښکره).

إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡۖ وَإِنۡ أَسَأۡتُمۡ فَلَهَاۚ

إِنۡ	أَحۡسَنتُمۡ	أَحۡسَنتُمۡ	لِأَنفُسِكُمۡ	وَإِنۡ	أَسَأۡتُمۡ	فَلَهَا
كه	نيكئ وكړئ تاسی	نو نيكی به كوئ تاسی	لپاره د ځانونو خپلو	او كه	بدی كوئ تاسی	نو پرنفسونو دتاسی دی

كه نيكئ وكړئ تاسی نو نيكی به كوئ تاسی لپاره د ځانونو خپلو ، او كه بدی كوئ تاسی نو (زيانئ) پر نفسونو دتاسی دی.

فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ لِيَسُـٓٔواْ وُجُوهَكُمۡ وَلِيَدۡخُلُواْ

فَإِذَا	جَآءَ	وَعۡدُ	ٱلۡأٓخِرَةِ	لِيَسُـٓٔواْ	وُجُوهَكُمۡ	وَلِيَدۡخُلُواْ
نوكله چی	راغله	وعده	د وروستی	دپاره د دی چی دوی بد كړی	مخونه دتاسی	او دپاره د دی چی ننوځی

نو كله چی راغله وعده د وروستی (انتقام) دپاره د دی چی دوی بد كړی مخونه دتاسی او دپاره ددی چی ننوځی

ٱلۡمَسۡجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا

ٱلۡمَسۡجِدَ	كَمَا	دَخَلُوهُ	أَوَّلَ	مَرَّةٖ	وَلِيُتَبِّرُواْ	مَا
مسجد دبيت المقدس ته	لكه چی	ننوتلی ؤ په هغه كښی	اول	ځلی	او دپاره د دی چی هلاک كړی	هر هغه چی

مسجد د بيت المقدس ته لكه چی ننوتلی ؤ په هغه كښی اول ځلی او دپاره د دی چی هلاک (خراب) كړی هر هغه چی

عَلَوۡاْ تَتۡبِيرًا ⑦ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يَرۡحَمَكُمۡۚ وَإِنۡ

عَلَوۡاْ	تَتۡبِيرًا	عَسَىٰ	رَبُّكُمۡ	أَن يَرۡحَمَكُمۡ	وَإِنۡ
دوی غالب سوی وو	په ډير سخت خرابولو (اوهلاكولو) سره	نژدی دی	رب ستاسی	چی رحم وكړی پرتاسی	او كه

دوی غالب سوی وو (پری) په ډير سخت خرابولو او هلاكولو سره. نژدی دی رب ستاسی چی رحم وكړی پرتاسی او كه

عُدتُّمۡ عُدۡنَاۚ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ⑧ إِنَّ هَٰذَا

عُدتُّمۡ	عُدۡنَا	وَجَعَلۡنَا	جَهَنَّمَ	لِلۡكَٰفِرِينَ	حَصِيرًا	إِنَّ	هَٰذَا
بيرته وګرځيدئ تاسی	نو موږ به هم راوګرځو	او ګرځولی دی موږ	دوزخ	دپاره دكافرانو	بندی خانه	بيشكه!	دغه

بيرته وګرځيدئ تاسی (فسادته) نو موږ به هم راوګرځو او ګرځولی دی موږ دوزخ د پاره د كافرانو بندی خانه. بيشكه! دغه

ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ

ٱلۡقُرۡءَانَ	يَهۡدِي	لِلَّتِي	هِيَ	أَقۡوَمُ	وَيُبَشِّرُ	ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
قرآن	هدايت كوی	هغه (لاری ته) چی	هغه ډيره	برابره سمه صافه ښه ده	او زيری وركوی	مؤمنينو ته

قرآن هدايت كوی (ښيی نيكانوته) هغه (لاره) چی هغه ډيره برابر سمه صافه ښه ده او زيری وركوی مؤمنينو ته

إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ.. دبني اسرائيلو دفساداوګناهونو دوهمه واقعه: دوهمه واقعه د اولي څخه تقريبا څلور سوه كاله وروسته ده چي په بيت المقدس كي اوسيدونكو ځينو يهوديانو بت پرستي شروع كړه او په باقيو كي بې اتفاقي او جنګ جګړې شروع سوې په دې بدبختی سره بيا دمصر يو باچاپر دوی حمله وكړه او څه قدر ښار او مسجدته يي هم نقصان ورسوی بيا ددوی حالت څه قدر برابر سو دريمه واقعه: ددې څخه څو كاله وروسته كله چي بخت نصر دبابل باچا پر بيت المقدس باندي حمله وكړه او ښار يي فتح كی ډير مال يي لوټ كړی او ډير خلګ يي قيديان كړل او دځان سره يي بوتلل او دتير باچا دخاندان يو فرد يي دخپل قائم مقام په حيثيت سره ددې ښار حاكم جوړ كی. څلورمه واقعه : دانوي پاچا چي بت پرسته اوبد عمله وو دبخت نصر څخه بغاوت وكی نو بخت نصر دوباره حمله وكړه اوبې انتها قتل او خون اولوټ ماريي وكی او په ښار يي اور پوري كی ټول يي هوار ميدان كی او خراب يي كی : پاته بيان پرراروان مخ وګوری :

الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ﴿٩﴾ وَّاَنَّ الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	يَعْمَلُوْنَ	الصّٰلِحٰتِ	اَنَّ	لَهُمْ	اَجْرًا	كَبِيْرًا	وَّاَنَّ	الَّذِيْنَ
هغه (مؤمنان)	چې کوی دوی	ښه (عملونه)	د دې چې	سته دوی ته	اجر	ډېر لوی	او بېشکه!	هغه کسان چې

هغه (مؤمنان) چې کوی دوی ښه (عملونه) د دې چې سته دوی ته اجر ډېر لوی. او بېشکه هغه کسان چې

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٠﴾

لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	اَعْتَدْنَا	لَهُمْ	عَذَابًا	اَلِيْمًا
ایمان نه راوړی	په آخرت باندی	تیار کړی دی موږ	دوی ته	عذاب	دردناک

ایمان نه راوړی په آخرت باندی تیار کړی دی موږ دوی ته عذاب دردناک

ع

وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿١١﴾

وَيَدْعُ	الْاِنْسَانُ	بِالشَّرِّ	دُعَآءَهٗ	بِالْخَيْرِ	وَكَانَ	الْاِنْسَانُ	عَجُوْلًا
او دعاء کوی	انسان	د شر	په غوښتلو د ده	د خیر	او دی	انسان	تلواره کوونکی

او دعاء کوی (غواړي) انسان شر په (مثل د) غوښتلو د ده د خیر، او دی انسان تلواره کوونکی (په غوښتلو د خیر او د شر)

وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ

وَجَعَلْنَا	الَّيْلَ	وَالنَّهَارَ	اٰيَتَيْنِ	فَمَحَوْنَآ	اٰيَةَ
او ګرځولی ده موږ	شپه	او ورځ	دوی علامې	نو لرې (ختمه) کړه موږ	علامه

او ګرځولی ده موږ شپه او ورځ دوه دلیله (د کامل قدرت خپل) نو محوه کړه موږ علامه

الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ

الَّيْلِ	وَجَعَلْنَآ	اٰيَةَ	النَّهَارِ	مُبْصِرَةً	لِّتَبْتَغُوْا	فَضْلًا	مِّنْ
د شپې	او وګرځوله موږ	علامه	د ورځې	روښانه	لپاره د دې چې طلب کړئ تاسې	فضل	له

د شپې او وګرځوله موږ علامه د ورځې روښانه لپاره د دې چې طلب کړئ تاسې (په رڼا د ورځې کښې) فضل له

رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ

رَّبِّكُمْ	وَلِتَعْلَمُوْا	عَدَدَ	السِّنِيْنَ	وَالْحِسَابَ	وَكُلَّ شَيْءٍ
رب خپل	او چې معلوم کړئ وپوهیږئ تاسې	په شمیر	د کلونو	او حساب (د اوقاتو)	او هر شی

رب خپل او (د پاره د دې) چې معلوم کړئ وپوهیږئ تاسې (اختلاف په شپو او ورځو) شمار د کلونو او حساب (د اوقاتو) او هر شی

وَّاَنَّ الَّـذِيْنَ لَا يُؤْمِنُـوْنَ بِالْاٰخِرَةِ. د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: دغه واقعه د مسجد د جوړېدو څخه تقریبا څلورسوه پنځلس کاله وروسته پیښه سوه ددې څخه وروسته یهودیان ددې ځایه څخه جلاوطن سول او بابل ته ولاړل کم ځای چې په ډېر ذلت او خواری سره اوسیدل: اویا کاله تیر سول ددې څخه وروسته د ایران پاچا پر بابل حمله وکړه او بابل یې فتح کړی بیا د ایران د پاچا پر دې جلا وطنه یهودیانو باندې زړه وسو او دوی یې بیرته شام ته واپس کړل او د دوی لوټ سوی سامان یې هم ورکی اوس یهودیان د خپلو بدو عملونو او ګناهونو څخه توبه ګاره سوي وه دلته د نوي سره آباد سول نو د ایران د پاچا په تعاون سره یې بیا مسجد اقصی پر زړه نمونه باندې جوړ کی. **پنځمه واقعه**: هغه د اپیښه سوه چې کله یهودو ته دلته اطمینان او ارام دوباره حاصل سو نو خپل تیر وخت یې هیر کی او بیا په بدو کارونو او عملونو باندې اخته سوله نو د حضرت مسیح علیه السلام د پیدا ایښت څخه یو سل اویا کاله مخکې دا واقعه راپیښه سوه الخ..
(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۲)

فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿١٢﴾ وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ

فَصَّلْنٰهُ	تَفْصِيْلًا	وَكُلَّ	اِنْسَانٍ	اَلْزَمْنٰهُ	طٰٓئِرَهٗ	فِيْ عُنُقِهٖ
بیان کړی دی موږ هغه	په بیانولو واضحوسره	او هر	انسان	لازم کړی دی موږ له ده سره	عمل د ده	په غاړه د ده کښې

بیان کړی دی موږ هغه په بیانولو واضحو سره . او هر انسان لازم کړی دی موږ له ده سره عمل د ده په غاړه د ده کښې

وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿١٣﴾

وَنُخْرِجُ	لَهٗ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	كِتٰبًا	يَّلْقٰىهُ	مَنْشُوْرًا
او راوبه باسو	ده ته	په ورځی	دقیامت کښی	یو کتاب	چې یو ځای به سی وبه وینی هغه	غوړیدلی

او راوبه باسو ده ته په ورځی د قیامت کښی یو کتاب (لیکلی سوی) چې یو ځای به سی وبه وینی دی هغه غوړیدلی

اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ۭ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿١٤﴾

اِقْرَاْ	كِتٰبَكَ	كَفٰى	بِنَفْسِكَ	الْيَوْمَ	عَلَيْكَ	حَسِيْبًا
ووایه	(دا) عمل نامه خپله	کافی دی	هم دا ځان ستا	نن ورځ	پرتا باندی	حساب کوونکی

(وبه ویل سی ده ته) ولوله (دا) کتاب د تا (عمل نامه خپله). کافی دی هم دا ځان ستا نن ورځ پر تا باندی حساب کوونکی.

مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ

مَنِ اهْتَدٰى	فَاِنَّمَا	يَهْتَدِيْ	لِنَفْسِهٖ	وَمَنْ
هر چې چی سمه صافه لاره ونیوله	نو بیشکه! هم دا خبره ده	چې سمیږی دی په لاری	دپاره د ځان خپل	او هر څوک چې

هرچا چې سمه صافه لاره ونیوله نو بیشکه! هم دا خبره ده چې سمیږی دی په لاری دپاره د (نفعی د) ځان خپل او هر څوک چې

ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۭ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۭ

ضَلَّ	فَاِنَّمَا	يَضِلُّ	عَلَيْهَا	وَلَا تَزِرُ	وَازِرَةٌ	وِّزْرَ	اُخْرٰى
گمراه سو	پس بیشکه! هم دا خبره ده	چې گمراه کیږی	پرضرر دځان خپل	او نه اخلی	هیڅ اخستونکی	بار د گناه	دبل چا

گمراه سو پس بیشکه هم دا خبره ده چې گمراه کیږی پر ضرر دځان خپل، او نه اخلی هیڅ اخستونکی بار د گناه دبل چا

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿١٥﴾ وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ

وَمَا كُنَّا	مُعَذِّبِيْنَ	حَتّٰى	نَبْعَثَ	رَسُوْلًا	وَاِذَآ	اَرَدْنَآ	اَنْ نُّهْلِكَ
او نه یو موږ	عذاب ورکوونکی	ترهغه پوری	چې ولیږو	کوم رسول	او کله چې	اراده وفرمایو موږ	د دی چې هلاک کړو

او نه یو موږ عذاب ورکوونکی ترهغه پوری چې ولیږو کوم رسول. او کله چې اراده وفرمایو موږ د دی چې هلاک کړو

وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ.. دعملنامې د غاړي دهار کیدو مطلب څه دی ؟: په دغه آیت کي الله ﷻ فرمايي چي دهر انسان عملنامه به دده دغاړي هار جوړ سي دديې مطلب دادی چي انسان په هرځای او په هر حال کي چي وي دده عملنامه به دده سره وي دده عمل ليکل کيږي کله چي دی مړ سي نو بنده کړل سي او کښي بنوول سي بيا به دقيامت په ورځ دا عملنامه دهريوه په لاس کي ورکول سي چي په خپله يي ووايه او خپله فيصله خپله دخپل ځان سره وکړه چي دثواب مستحق یاست او که دعذاب ؟ دحضرت قتاده رضی الله عنه څخه روايت دی چي په دغه ورځ به بې ويلو سړی هم خپله عملنامه ويلی سي :حضرت ابو امامه رضی الله عنه دا روايت نقل کړی دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي دقيامت په ورځ دځينو خلگو عملنامه کله چي په لاس کي ورکول سي نو دی به ووينـي چي دده ځيني نيک عملونه په دې کي نه دي ليکل سوي نو عرض به وکړي چي يار به دلته زما نيک عملونه نسته نو الله ﷻ به جواب ورکي چي موږ هغه نيک عملونه ځکه خراب کړل چي تا به دخلگو غيبت کوی.
(معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص٢٠)

قَرۡيَةً اَمَرۡنَا مُتۡرَفِيۡهَا فَفَسَقُوۡا فِيۡهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا

قَرۡيَةً	اَمَرۡنَا	مُتۡرَفِيۡهَا	فَفَسَقُوۡا	فِيۡهَا	فَحَقَّ	عَلَيۡهَا
کوم کلی	نو امروکړو موږ	غټانو دهغه (ښار) ته	نو فسق وکړی دوی	په هغه کښی	نو ثابت سی	پر هغه

کوم کلی (ښار) نو امروکړو موږ غټانو (او متمولانو) دهغه (ښار) ته نو فسق وکړی دوی په هغه کښی نو حق (او ثابت) سی پر هغه

الۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنٰهَا تَدۡمِيۡرًا ⑯ وَكَمۡ اَهۡلَكۡنَا مِنَ الۡقُرُوۡنِ مِنۡۢ بَعۡدِ

الۡقَوۡلُ	فَدَمَّرۡنٰهَا	تَدۡمِيۡرًا	وَكَمۡ اَهۡلَكۡنَا	مِنَ الۡقُرُوۡنِ	مِنۡۢ بَعۡدِ
خبره	نو هلاکوو موږدوی	په هلاکولو سختو سره	او ډیر هلاک کړی دی موږ	له (اهل د) قرنو	پس له

خبره (دعذاب) نو هلاکوو موږدوی په هلاکولو سختو سره . او ډیر هلاک کړی دی موږ له (اهل د) قرنو پس له

نُوۡحٍ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوۡبِ عِبَادِهٖ خَبِيۡرًۢا بَصِيۡرًا ⑰

نُوۡحٍ	وَكَفٰى	بِرَبِّكَ	بِذُنُوۡبِ	عِبَادِهٖ	خَبِيۡرًۢا	بَصِيۡرًا
نوح	او کافی دی	رب ستا	په گناهونو	دبندگانو خپلو	ښه خبردار	ښه لیدونکی

نوح (لکه عادیان او ثمودیان) او کافی (بس) دی رب ستا په گناهونو د بندگانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکی .

مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ الۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهٗ فِيۡهَا مَا نَشَآءُ

مَنۡ كَانَ	يُرِيۡدُ	الۡعَاجِلَةَ	عَجَّلۡنَا	لَهٗ	فِيۡهَا	مَا نَشَآءُ
هر څوک چی وی	چی غواړی	دغه دنیا	نو په تلوار به ورکړو موږ	ده ته	په دی دنیا کښی هرومرو	هغه چی وغواړو موږ

هر څوک چی وی چی غواړی (فقط دغه دنیا) نو په تلوار به ورکړو موږ ده ته په دی دنیا کښی هومره هغه چی وغواړو موږ

لِمَنۡ نُّرِيۡدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصۡلٰهَا مَذۡمُوۡمًا

لِمَنۡ	نُّرِيۡدُ	ثُمَّ	جَعَلۡنَا	لَهٗ	جَهَنَّمَ	يَصۡلٰهَا	مَذۡمُوۡمًا
دپاره دهغه چاچی	اراده وفرمایو موږ	بیا	به وگرځوو موږ	ده ته	دوزخ	چی ننوځی به په هغه دوزخ کښی	ملامت کړی سوی

دپاره د هغه چاچی اراده وفرمایو موږ بیا به وگرځوو موږ ده ته (عذاب د) دوزخ چی ننوځی به په هغه دوزخ کښی ملامت کړی سوی

مَّدۡحُوۡرًا ⑱ وَمَنۡ اَرَادَ الۡاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٌ

مَّدۡحُوۡرًا	وَمَنۡ	اَرَادَ	الۡاٰخِرَةَ	وَسَعٰى	لَهَا	سَعۡيَهَا	وَهُوَ	مُؤۡمِنٌ
شړلی سوی	او هر څوک چی	غواړی	آخرت	او کوښښ کوی	هغه ته	سعی لائقه د ده	حال داچی دی	مؤمن هم وی

شړلی سوی. او هر څوک چی غواړی آخرت (جنت) او سعی کوی هغه ته سعی لائقه د ده حال داچی دی (خالص) مؤمن هم وی

وَمَنۡ اَرَادَ الۡاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا.. دبدعت او ځان ښوولو عمل که هرڅومره ښه ښکاري مقبول نه دی : په دغه ایت کي الله ﷻ دسعی او عمل سره د (سعیها) لفظ زیات کړی دی او دا یې ښوولې ده چي هر عمل او کوشش نه مفید وي او نه دالله ﷻ په نزد مقبول وي بلکي هر عمل او سعی هغه معتبره وي کم چي دآخرت دمقصد سره مناسب وي او مناسب کیدل یا نه مناسب کیدل یې دا صرف دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په بیان سره معلومیدای سي : په دې وجه کم نیک عملونه چي په ځان ښوولو او دځان څخه په جوړو طریقو سره کول کیږي چي په دې کي دبدعتونو عام رسمونه شامل دي دغه په لیدو کي که هرڅومره ښه او مفید په نظر راځي مگر دآخرت دپاره مناسب سعی نه ده په دې وجه نه دغه د الله ﷻ په نزد مقبوله ده او نه په آخرت کي پکار راځي : او په تفسیر روح المعاني کي یې (دسعیها) په تشریح کي هغه سعی مراد اخیستې ده چي مناسبه او مطابقه دسنتو وي او په دې عمل کي استقامت او همیشه والی هم وي الخ. (معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۲۵)

فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿١٩﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ

فَاُولٰٓئِكَ	كَانَ	سَعْيُهُمْ	مَّشْكُوْرًا	كُلًّا	نُّمِدُّ	هٰٓؤُلَآءِ
نو دغه کسان	دی	کوښښ د دوی	مقبوله	د هر يوه سره	مدد کومک کوو موږ	د دغه سره

نو دغه کسان ده سعی د دوی مقبوله (په نزد د الله کښی). هر یوه سره مدد کومک کوو موږ دغه سره (چی طالبان د دنیا دی)

وَّهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۭ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿٢٠﴾

وَّهٰٓؤُلَآءِ	مِنْ	عَطَآءِ	رَبِّكَ	وَمَا كَانَ	عَطَآءُ	رَبِّكَ	مَحْظُوْرًا
او د دغه دوهمی ټولی سره	له	ورکولو	درب ستا	او نه دی	ورکول	درب ستاسی	منع کړی سوی

او د دغه دوهمی ټولی سره (چی طالبان د عقبیٰ دی) له ورکولو د رب ستا، او نه دی ورکول د رب ستا (په دنیا کښی) منع کړی سوی

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰي بَعْضٍ ۭ وَلَلْاٰخِرَةُ

اُنْظُرْ	كَيْفَ	فَضَّلْنَا	بَعْضَهُمْ	عَلٰي	بَعْضٍ	وَلَلْاٰخِرَةُ
وګوری	چی څرنګه	فضلیت ورکړی دی موږ	ځینی د دوی ته	پر	ځینو نورو	او خامخا آخرت

وګوره چی څرنګه فضلیت ورکړی (غوره کړی) دی موږ ځینی د دوی ته پر ځینو نورو او خامخا آخرت

اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾ لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا

اَكْبَرُ	دَرَجٰتٍ	وَّاَكْبَرُ	تَفْضِيْلًا	لَا تَجْعَلْ	مَعَ	اللّٰهِ	اِلٰـهًا
ډیر لوی دی	له جهته د مرتبو	او ډیر لوی دی	له جهته د بهتروالی	مه نیسه	سره له	الله	معبود

ډیر لوی دی له جهته د مرتبو او ډیر لوی دی له جهته د بهتر والی (له دنیا څخه). مه نیسه (ای بنده) سره له الله معبود

اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿٢٢﴾ ۧ وَقَضٰى رَبُّكَ

اٰخَرَ	فَتَقْعُدَ	مَذْمُوْمًا	مَّخْذُوْلًا	وَقَضٰى	رَبُّكَ
بل	نو کښینی به (په دوزخ کښی)	ملامت کړی سوی	بی ملګری	او حکم فرمایلی دی	رب ستاسی

بل نو (عاجز به) کښینی (تل په دوزخ کښی) ملامت کړی سوی بی ملګری (بی برخی). او حکم فرمایلی دی رب ستا

ع ٢

اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۭ

اَلَّا تَعْبُدُوْٓا	اِلَّآ	اِيَّاهُ	وَبِالْوَالِدَيْنِ	اِحْسَانًا
چی عبادت مه کوئ تاسی	مګر	یواځی د هم دغه (الله)	او (احسان کوئ) له والدینو سره	په احسان کولو سره

چی عبادت مه کوئ تاسی (د بل هیچا) مګر یواځی د هم دغه (الله) او (احسان کوئ) له والدینو سره په احسان کولو سره

اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا... د مور او پلار د ادب او احترام او اطاعت لوی اهمیت: امام قرطبي رحمه الله فرمايي چي په دې ايت کي الله جل جلاله د مور او پلار د ادب او احترام او د دوی سره د ښه سلوک کول د خپل عبادت سره یو ځای واجب کړي دي لکه چي په سورت لقمان کي يي د مور او پلار شکر يو ځای د خپل شکر سره لازم کړی دی فرمايي (ان اشكرلی ولوالديک) يعني زما شکر اداء کړه او د خپل مور او پلار شکر هم اداء کړه: د دې څخه ثابتيږي چي د الله جل جلاله د عبادت څخه وروسته د مور او پلار فرمان برداري د ټولو څخه اهمه او د الله جل جلاله د شکر په شان د والدينو شکر ګذار کيدل واجب دي: په يوه حديث شريف کي دي چي يوه شخص د نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي د الله جل جلاله په نزد د ټولو څخه زيات محبوب عمل څه شی دی؟ دوی صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمايه چي لمونځ په خپل مستحب وخت کي هغه بيا پوښتنه وکړه چي د دې څخه وروسته کم عمل زيات محبوب دی؟ نو دوی وفرمايل د مور او پلار سره ښه سلوک کول. (معرف القرآن ج٥ پ١٥ ص ٢٧)

إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا

إِمَّا	يَبۡلُغَنَّ	عِندَكَ	ٱلۡكِبَرَ	أَحَدُهُمَآ	أَوۡ كِلَاهُمَا
او كه چيرى	هرومرو ورسيد	ستا سره	زوروالى ته	يو له دى دواړو	يا دواړه دوى

او كه چيرى هرومرو ورسيد تا شخه (حدودو) زوروالى ته يو له دى دوراړو يا دواړه دوى (مور او پلار)

فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا

فَلَا	تَقُل	لَّهُمَآ	أُفّٖ	وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا	وَقُل	لَّهُمَا	قَوۡلٗا
نو مه	وايه ته	دى دواړو ته	(كلمه د) اف	او مه رټه دوى	او وايه	دى دواړو (والدينو) ته	خبره

نو مه وايه ته دى دواړو ته (كلمه د) اف (هم) او مه رټه دوى او وايه دى دواړو (والدينو) ته خبره

كَرِيمٗا ﴿٢٣﴾ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل

كَرِيمٗا	وَٱخۡفِضۡ	لَهُمَا	جَنَاحَ	ٱلذُّلِّ	مِنَ	ٱلرَّحۡمَةِ	وَقُل
پسته	او كښته كړه	دپاره د دى دواړو	وزر	د تواضع	له	مهربانى	او ووايه

پسته ادب ناكه. او كښته كړه دپاره د دى دواړو (والدينو) وزر (اوږه) د تواضع (نه د تكبر) له مهربانى او ووايه

رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾

رَّبِّ	ٱرۡحَمۡهُمَا	كَمَا	رَبَّيَانِي	صَغِيرٗا
اى ربه ځما	مهربانى وكړه دى دواړو ته	لكه	چې تربيه ئى كړى ده ځما	په هغه حال كښى چې زه كوچنى ووم

اى ربه ځما مهربانى (او بخښنه) وكړه دى دواړو ته لكه چې تربيه (پالنه) ئى كړى ده ځما په هغه حال كښى چې زه صغير ووم.

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ

رَّبُّكُمۡ	أَعۡلَمُ	بِمَا	فِي نُفُوسِكُمۡ	إِن	تَكُونُواْ
رب ستاسى	ښه عالم دى	په هغه څه	چې په نفسونو ستاسى كښى دى	كه	يئ تاسى

رب ستاسى ښه عالم (خبردار) دى په هغه څه چې په نفسونو (زړونو) ستاسى كښى دى كه يئ تاسى

صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا ﴿٢٥﴾

صَٰلِحِينَ	فَإِنَّهُۥ	كَانَ	لِلۡأَوَّٰبِينَ	غَفُورٗا
نيكان	نو بيشكه! چې الله	دى	دپاره د توبه كوونكو	ډير مغفرت كوونكى

نيكان (له خپلو ميندو او پلرونو سره) نو بيشكه! چې الله دى دپاره د توبه كوونكو ډير مغفرت كوونكى.

فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا. دمور او پلار داطاعت او خدمت فضيلتونه دحديث په روايتونوكي: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي پلار دجنت دمينځ دروازه ده اوس ستا اختيار دى چي حفاظت يي كوې او كه ضايع كوې يي: په بل حديث شريف كي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي دالله جل جلاله رضا دپلار په رضاكي ده او دالله جل جلاله ناراضگي دپلار په ناراضگى كي ده: په بل حديث شريف كي دي چي يوه سړي دنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي پر اولاد دمور او پلار څه حق دى؟ دوى وفرمايل چي دوى دواړه ستا جنت يا ستا دوږخ دي: مطلب دادى چي په اطاعت او خدمت كي يي جنت دى او په نافرمانى او بې ادبې كي يي دوږخ دى: په يوه بل حديث شريف كي دنبي كريم ﷺ ارشاد مبارك دى چي كم سړى دالله جل جلاله دپاره دخپل مور او پلار فرمانبرداره سوددە دپاره دجنت دوې دروازې خلاصي دي او كم چي بيا نافرمانه سو دهغه دپاره دجهنم دوې دروازې خلاصي دي او كه په مور او پلار كي يو وو. پاته حديث شريف پر راروان مخ باندي وگورى.

وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ

وَاٰتِ	ذَا الْقُرْبٰى	حَقَّهٗ	وَالْمِسْكِيْنَ	وَابْنَ السَّبِيْلِ
او ورکوه	خاوند د خپلوی ته	حق د هغه	او مسکین نادارته	او (ورکوه!) مسافرته

او ورکوه (ای بنده!) خاوند د خپلوی ته حق د هغه او (ورکوه! بیخی) مسکین نادارته او (ورکوه!) مسافرته

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ

وَلَا تُبَذِّرْ	تَبْذِيْرًا	اِنَّ	الْمُبَذِّرِيْنَ	كَانُوْٓا	اِخْوَانَ
او اسراف مه کوه!	په اسراف کولو سره	بیشکه! چی	اسراف کوونکی	دی دوی	ورونه

او اسراف مه کوه! په اسراف کولو سره. بیشکه! چی اسراف کوونکی د ی دوی ورونه

الشَّيٰطِيْنِ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿٢٧﴾ وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ

الشَّيٰطِيْنِ	وَكَانَ	الشَّيْطٰنُ	لِرَبِّهٖ	كَفُوْرًا	وَاِمَّا	تُعْرِضَنَّ
دشیطانانو	او دی	شیطان	رب خپل ته	ډیر ناشکره	او که	اعراض کاوه تا

د شیطانانو (یعنی په مثل د شیطان دی) او دی شیطان رب خپل ته ډیر ناشکره. او که اعراض کاوه تا

عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا

عَنْهُمُ	ابْتِغَآءَ	رَحْمَةٍ	مِّنْ	رَّبِّكَ	تَرْجُوْهَا
له دغو	دپاره د طلب	درحمت	له (طرفه د)	رب ستا	چی ته امید لری د هغه

له دغو (ذوی القربٰی مساکینو او نورو) دپاره د طلب د رحمت (مهربانی) له (طرفه د) رب ستا چی ته امید لری د هغه (رحمت)

فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿٢٨﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ

فَقُلْ	لَّهُمْ	قَوْلًا	مَّيْسُوْرًا	وَلَا تَجْعَلْ	يَدَكَ
نو ووایه	هغو ته	خبره	پسته خوږه	او مه گرځوه (مه نیسه!)	لاس خپل

نو ووایه هغوی ته خبره پسته خوږه. او مه گرځوه (مه نیسه!) لاس خپل (لکه)

مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ

مَغْلُوْلَةً	اِلٰى عُنُقِكَ	وَلَا تَبْسُطْهَا	كُلَّ الْبَسْطِ	فَتَقْعُدَ
لکه تړلی سوی	تر غاړی ستا پوری	او مه ئی غځوه هغه	په بیخی غځولو سره	نو کښینی به ته

تړلی سوی تر غاړی ستا پوری (بخل مه کوه) او مه ئی غځوه په بیخی غځولو سره (اسراف هم مه کوه) نو کښینی به ته

وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى وَالْمِسْكِيْنَ
دتیر مخ پاته حدیث شریف
دلته وګورئ نو دجنت یا دوږخ یوه دروازه ورته خلاصه سي نو پر دې خبره یوه سړي پوښتنه وکړه چي دجهنم دعذاب وعده به په هغه صورت کي هم وي چي مور او پلار پر دغه سړي ظلم کړی وي نو دوی ﷺ درې واره وفرمایل (وان ظلما ، وان ظلما ، وان ظلما) یعني دمور او پلار په نافرمانی او دوی ته په آزار رسولو به دجهنم عذاب وي که څه هم مور او پلار پر ده باندي ظلم کړی وي: مطلب یې دادی چي اولاد ته دمور او پلار څخه دبدلې اخیستو حق نسته چي ګوندي هغوی ظلم وکړي نو دی به هم دخدمت څخه لاس واخلي: په **یو بل حدیث شریف** کي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي کم خدمتګار زوی پر خپل مور او پلار په رحمت او شفقت سره نظر واچوي نو دهر نظر په بدله کي دیوه قبول سوي حج ثواب الله جَلَّ جَلَالُهٗ ورده ته ورکوي خلګو عرض وکی چي که دی دورځي سل واره دغه رکم نظر وکي دوی وفرمایل چي هو .. پر سل واره نظر به دسلو حجونو ثواب الله ورکړي او دهغه په خزانو کي کمی نسته.
(معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص ٢٨)

مَلُوۡمًا مَّحۡسُوۡرًا ﴿٢٩﴾ اِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ

لِمَنۡ يَّشَآءُ	الرِّزۡقَ	يَبۡسُطُ	رَبَّكَ	اِنَّ	مَّحۡسُوۡرًا	مَلُوۡمًا
دپاره دهغه چا چې اراده وفرمائی	روزی	پراخوی	رب	بيشكه!	پښيمانه سوی	ملامت کړی سوی بی ماله

ملامت کړی سوی بی ماله پښيمانه سوی. بيشكه! رب پراخوی روزی دپاره د هغه چا چې اراده وفرمائی (دپراخی ئی)

وَيَقۡدِرُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيۡرًاۢ بَصِيۡرًا ﴿٣٠﴾ ع

بَصِيۡرًا	خَبِيۡرًا	بِعِبَادِهٖ	كَانَ	اِنَّهٗ	وَيَقۡدِرُ
ښه ليدونکی	ښه خبردار	دی (په مصالحو) د بندګانو خپلو	چې دغه (الله)	بيشكه!	او تنګوی

او تنګوی (ئی چې اراده وفرمائی)، بيشكه! چې دغه (الله) دی (په مصالحو) د بندګانو خپلو ښه خبردار ښه ليدونکی.

وَلَا تَقۡتُلُوۡۤا اَوۡلَادَكُمۡ خَشۡيَةَ اِمۡلَاقٍ ؕ نَحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَاِيَّاكُمۡ ؕ اِنَّ

اِنَّ	وَاِيَّاكُمۡ	نَرۡزُقُهُمۡ	نَحۡنُ	اِمۡلَاقٍ	خَشۡيَةَ	اَوۡلَادَكُمۡ	وَلَا تَقۡتُلُوۡۤا
بيشكه!	او تاسی ته هم	روزی ورکوو دوی ته	هم دا موږ	دفقره	دبيری	اولاد خپل	او مه وژنئ تاسی

او مه وژنئ تاسی اولاد خپل د بيری د فقره (ځکه چې) هم دا موږ روزی ورکوو دوی ته او تاسی ته هم، بيشكه!

قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡاً كَبِيۡرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقۡرَبُوا الزِّنٰۤى اِنَّهٗ كَانَ

كَانَ	اِنَّهٗ	الزِّنٰۤى	وَلَا تَقۡرَبُوا	كَبِيۡرًا	خِطۡاً	كَانَ	قَتۡلَهُمۡ
ده	بيشكه! چې دا زنا	زنا ته	او مه نږدی کيږی تاسی	لويه	خطاء (ګناه)	ده	چې قتل د دوی

چې قتل د دوی ده خطاء (ګناه) لويه (چې دنسل او د نوعی قطع ده). او مه نږدی کيږی تاسی زنا ته بيشكه! چې دا زنا ده

فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيۡلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقۡتُلُوا النَّفۡسَ الَّتِىۡ

الَّتِىۡ	النَّفۡسَ	وَلَا تَقۡتُلُوا	سَبِيۡلًا	وَسَآءَ	فَاحِشَةً
هغه چې	نفس	او مه وژنئ تاسی	لاره ده	او بده	قبيحه

قبيحه او بده ده دغه زنا له جهته د روش هم (چې زيان او فتنه تری پيدا کيږی). او مه وژنئ تاسی نفس هغه چې

حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالۡحَـقِّ ؕ وَمَنۡ قُتِلَ مَظۡلُوۡمًا فَقَدۡ جَعَلۡنَا

جَعَلۡنَا	فَقَدۡ	مَظۡلُوۡمًا	قُتِلَ	وَمَنۡ	بِالۡحَـقِّ	اِلَّا	اللّٰهُ	حَرَّمَ
ګرځولی دی موږ	نو په تحقيق	په دی حال چې مظلوم وی	ووژلی سو	او څوک چې	په حقه سره	مګر	الله	حرام کړی دی

حرام کړی دی الله (وژل د هغه) مګر په حقه سره او هر څوک چې ووژلی سو په دی حال چې مظلوم وی نو په تحقيق ګرځولی دی موږ

وَلَا تَقۡتُلُوۡۤا اَوۡلَادَكُمۡ خَشۡيَةَ اِمۡلَاقٍ. دغريبی او فقيری ديری څخه اولادونه قتلول: دغه حکم دجاهليت دخلګو ديو ظالمانه عادت د اصلاح دپاره دی: په زمانه دجاهليت کي به ځيني خلګو دپيدا کيدو په وخت کي خپل اولاد او خاص بيا لوني په دغه بيره سره قتلولي چې ددوی دخرڅ بار به پر موږ پريوزي: په ذکر سوي ايت کي الله ﷻ ددوی جهالت واضح کړی دی چې رزق ورکوونکي خو تاسي نه ياست دا خو خالص دالله ﷻ په قبضه کي دی تاسي ته خو هم هغه رزق درکوي نو څوک چې تاسي ته رزق درکوي هغه ذات يي ددوی ته هم ورکولی سي او تاسي بيا په دي فکر سره ددوی دقتل مجرمين جوړيږی بلکي دلته الله ﷻ په رزق ورکولو کي داولاد ذکر مخ ته وکی او دي طرف ته يي اشاره وفرمايله چې موږ اول دوی ته بيا تاسي ته رزق درکوو: ددي مطلب په اصل کي دادی چې الله ﷻ کم بنده ويني چې دی دخپل اهل اوعيال کفالت يا دنورو غريبانو ضعيفانو امداد کوي نو ده ته يي په دي حساب سره ورکوي چې دده ضرورتونه هم پوره سي او دنورو امداد هم وسي. (معارف القرآن ج ٥ پ ١٥ ص ٣٩)

٤٢٠

لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ

لِوَلِيِّهٖ	سُلْطٰنًا	فَلَا يُسْرِفْ	فِّي الْقَتْلِ	اِنَّهٗ
دپاره د وارث دهغه	زور	نو اسراف دې نه کوي	په قتل کښې	په تحقیق دغه (وارث)

دپاره د وارث د هغه زور (او قوت چې له قاتل څخه انتقام اخیستی سي) نو اسراف دې نه کوي په قتل کښې، په تحقیق دغه (وارث)

كَانَ مَنْصُوْرًا ﴿٣٣﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ

كَانَ	مَنْصُوْرًا	وَلَا تَقْرَبُوْا	مَالَ	الْيَتِيْمِ	اِلَّا	بِالَّتِيْ	هِيَ
دی	مدد ورسره کړی سوی	او مه نژدې کیږئ تاسی	مال	دیتیم ته	مګر	په هغې طریقې سره	چې وي هغه

دی مدد ورسره کړی سوی. او مه نژدې کیږئ تاسی مال د یتیم ته مګر په هغې طریقې سره چې وي هغه

اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۪ وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ

اَحْسَنُ	حَتّٰى	يَبْلُغَ	اَشُدَّهٗ	وَاَوْفُوْا	بِالْعَهْدِ
ډیره ښه	ترهغه پوری	چې ورسیږي	حد د بلوغ خپل ته	او وفا کوی	په عهد (د الله)

ډیره ښه (په حفاظت او زیادت کښې)، تر هغه پوری چې ورسیږي (یتیم) حد د بلوغ خپل ته او وفا کوی په عهد (د الله)

اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔوْلًا ﴿٣٤﴾ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ

اِنَّ	الْعَهْدَ	كَانَ	مَسْـُٔوْلًا	وَاَوْفُوا	الْكَيْلَ	اِذَا	كِلْتُمْ
بیشکه! چې	عهد	دی	پوښتیدلی سوی	او پوره ورکوئ تاسی	پیمانه	هر کله چې	پیمانه کوئ تاسی

بیشکه! چې عهد دی پوښتیدلی سوی (له عاهده). او پوره ورکوئ تاسی پیمانه هر کله چې پیمانه کوئ تاسی

وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿٣٥﴾

وَزِنُوْا	بِالْقِسْطَاسِ	الْمُسْتَقِيْمِ	ذٰلِكَ	خَيْرٌ	وَّاَحْسَنُ	تَاْوِيْلًا
او تول کوئ تاسی	په تله	برابره سره	دغه	ډیر غوره دی	او خورا ښه دی	په لحاظ د انجام

او تول کوئ تاسی په تله برابر سره، دغه (پوره کول د کیل او وزن) ډیر غوره دی او خورا ښه دی له خیانته له جهته د مال.

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ

وَلَا تَقْفُ	مَا لَيْسَ	لَكَ	بِهٖ	عِلْمٌ	اِنَّ	السَّمْعَ	وَالْبَصَرَ
او مه کوه پیروی	دهغه کار چې نه وی	تاته	په هغه	پوه	بیشکه!	غوږ	او سترګه

او مه کوه پیروی (تعقیب) د هغه کار چې نه وی تاته په هغه پوه (قول وی که فعل)، بیشکه! غوږ او سترګه

فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا... **دناحق قتل دحرام والي بیان**: دغه حکم دناحق قتل دحرام والي په بیان کي دی چي ددې عظیم جرم والی ددنیا په ټول مخلوق جماعتونو او مذهبونو کي منل سوی دی: په حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی چي دټولي دنیا تباهي دالله جل جلاله په نزد ددې څخه سپکه ده چي یو مومن په ناحقه سره قتل سي او په ځیني روایتونو کي ددې سره دا هم دي چي که داوو آسمانونو او اوو مځکو اوسیدونکي دیو مومن په ناحق قتل کي شریک سي نو دا ټول به الله جل جلاله جهنم ته داخل کړي: او په یوه بل حدیث شریف کي دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چي کم سړی دیو مسلمان په قتل کي دقاتل امداد په یوه کلمه سره هم وکړي نو په میدان دحشر کي کله چي دغه دالله جل جلاله په مخکي پیش سي دده پر تندي به لیکلي وي (آئس من رحمة الله) یعني داسړی دالله جل جلاله درحمت څخه مایوسه سوی دی. او داهم حدیث شریف دی چي په ناحقه سره قتل کوونکي ته عفوه نه کیږي.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۴۲)

وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔوْلًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ

وَالْفُؤَادَ	كُلُّ	اُولٰٓئِكَ	كَانَ	عَنْهُ	مَسْـُٔوْلًا	وَلَا تَمْشِ
او زړه	هريو	له دغو	دی	له هغه څخه	پوښتنه کړی سوی	او مه ګرځه

او زړه هريو له دغو (دری واړو) دی له هغه څخه پوښتنه کړی سوی (په قيامت کښی). او مه ګرځه

فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ

فِي الْاَرْضِ	مَرَحًا	اِنَّكَ	لَنْ تَخْرِقَ	الْاَرْضَ
په مځکه کښی	په غرور سره (تکبر، لويئ)	بيشکه! چی ته	له سره به څيری نه کړی	مځکه

په مځکه کښی په دی حال چی خاوند د خيال (او تکبر)، بيشکه! چی ته له سره به څيری نه کړی مځکه (په دربولو د پښو سره له کبره)

وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ

وَلَنْ تَبْلُغَ	الْجِبَالَ	طُوْلًا	كُلُّ	ذٰلِكَ	كَانَ	سَيِّئُهٗ
او له سره به ونه رسيږی	غرونو ته	له جهته د اوږدوالی	ټول	دغه (۱۱ امرونه ۱۲ نهی)	دی	بدی د هغه

او له سره به ونه رسيږی (سرونو د) غرونو ته (په جګولو د سر) له جهته د اوږدوالی. ټول دغه (۱۱ امرونه ۱۲ نهی) دی بدی د هغه

عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ

عِنْدَ	رَبِّكَ	مَكْرُوْهًا	ذٰلِكَ	مِمَّآ	اَوْحٰى	اِلَيْكَ	رَبُّكَ	مِنَ الْحِكْمَةِ
په نزد	د رب ستا	ناخوښه	دا	له داسی قسمه دی	چی وحی کړی ده	تاته	رب ستا	له حکمته

په نزد د رب ستا ناخوښه (مبغوضه). دا (ټول احکام) له داسی قسمه دی چی وحی کړی ده تاته رب ستا له حکمته.

وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِيْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا

وَلَا تَجْعَلْ	مَعَ	اللّٰهِ	اِلٰهًا	اٰخَرَ	فَتُلْقٰى	فِيْ جَهَنَّمَ	مَلُوْمًا
او مه نيسه ته	له	الله سره	معبود	بل	نو وبه غورځولی سی	په دوزخ کښی	ملامت کړی سوی

او مه نيسه ته له الله سره معبود بل (که دی ونيو) نو وبه غورځولی سی په دوزخ کښی ملامت کړی سوی

مَّدْحُوْرًا ﴿٣٩﴾ اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ

مَّدْحُوْرًا	اَفَاَصْفٰىكُمْ	رَبُّكُمْ	بِالْبَنِيْنَ	وَاتَّخَذَ	مِنَ
رټلی سوی	آيا نو غوره کړی يئ تاسی	رب ستاسی	په ځامنو سره	او نيولی دی	له

رټلی سوی. آيا نو غوره کړی يئ تاسی رب ستاسی په ځامنو سره او (پخپله الله ځان ته په زعم ستاسی) نيولی دی له

وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔوْلًا.. دغوږونو سترګو او زړه متعلق دقيامت په ورځ سوال: په دغه آيت کي الله ﷻ داښوولي ده چي دقيامت په ورځ کي به دغوږونو، سترګو، او زړه، څخه سوال کيږي: مطلب دادی چي دغوږنو څخه به پوښتنه کيږي چي تاسي په عمر کي څه څه اوريدلي دي؟ او دسترګو څخه به پوښتنه کيږي چي تاسي په عمر کي څه څه ليدلي دي؟ او دزړه څخه به پوستنه کيږي چي په ټول عمر کي دي کم کم خيالات پاخه کړي دي؟ او په کمو کموشيانو دي يقين کړی دی: که په غوږونو يي داسي خبري اوريدلي وي چي دکمو اوريدل شرعا جايز نه وه لکه دچا غيبت يا حرامي غزلي اوګاني وغيره يايي په سترګو داسي شان ليدلي وه چي ليدل يي شرعا حلال نه دي لکه نامحرمه ښځوته کتل يا سپين مخي هلک ته په بد نظر سره کتل وغيره يا يي په زړه کي يوه داسي عقيده ځای کړې وي چي دقرآن او سنت څخه خلاف وي يا يي ديوچا متعلق په په خپل زړه کي بې دليله څه الزام قايم کړی وي نو ددې شيانو نتيجه به دالله ﷻ عذاب وي. (معارف القرآن ج۵پ۱۵ص ۴۷)

ع

الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِيْمًا ﴿۴۰﴾ وَلَقَدْ

الْمَلٰٓئِكَةِ	اِنَاثًا	اِنَّكُمْ	لَتَقُوْلُوْنَ	قَوْلًا	عَظِيْمًا	وَلَقَدْ
ملائیکو څخه	ښځې	بیشکه! تاسې چې یئ	خامخا وایئ	خبره	ډیره لویه	او خامخا په تحقیق

ملائیکو څخه ښځې (لوڼې)، بیشکه! تاسې چې یئ خامخا وایئ خبره ډیره لویه. او خامخا په تحقیق

صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِيَذَّكَّرُوْا ؕ وَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا

صَرَّفْنَا	فِيْ	هٰذَا	الْقُرْاٰنِ	لِيَذَّكَّرُوْا	وَمَا يَزِيْدُهُمْ	اِلَّا
مکرر بیان کړی دی موږ	په	دغه	قرآن کښې	دپاره د دی چې پند واخلی دوی	او نه زیاتوی دوی ته	مګر

مکرر بیان کړی دی موږ په دغه قرآن کښې دپاره د دی چې پند واخلی دوی او نه زیاتوی دوی ته (دغه مکرر بیان) مګر

نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ

نُفُوْرًا	قُلْ	لَّوْ كَانَ	مَعَهٗٓ	اٰلِهَةٌ	كَمَا يَقُوْلُوْنَ
تیښته او لرې والی	ووایه (محمده!)	چې که وی	له الله سره	نور معبودان	لکه چې وائی دغه مشرکان

تیښته او لرې والی (له حقه). ووایه (ای محمده! دوی ته) چې که وی له الله سره نور معبودان لکه چې وائی دغه مشرکان

اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِي الْعَرْشِ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا

اِذًا لَّابْتَغَوْا	اِلٰى	ذِي	الْعَرْشِ	سَبِيْلًا	سُبْحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا
نو هلته به خامخا لټولی به ؤ دغو	طرف	د څښتن	د عرش ته	لاره	پاکی د الله	او ډیر پورته دی	له هغه څه

نو هلته به خامخا لټولی به ؤ دغو (معبودانو) طرف د څښتن (خاوند) د عرش ته لاره. پاکی د الله او ډیر پورته دی له هغه څه

يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿۴۳﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ

يَقُوْلُوْنَ	عُلُوًّا	كَبِيْرًا	تُسَبِّحُ	لَهُ	السَّمٰوٰتُ	السَّبْعُ
چې وائی دوی	په ډیر لوئی	لویئی سره	تسبیح وائی	ده ته	آسمانونه	اوه واړه

چې وائی دوی په ډیری لوئی لویئی سره، تسبیح وائی ده ته آسمانونه اوه واړه

وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ

وَالْاَرْضُ	وَمَنْ	فِيْهِنَّ	وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ	اِلَّا	يُسَبِّحُ	بِحَمْدِهٖ
او مځکه	او هغه څوک چې	په دوی کښې دی	او نسته هیڅوک	مګر	چې تسبیح وائی	سره له ثناء د دغه (الله)

او مځکه او هغه څوک چې په دوی کښې دی او نسته هیڅوک (له مخلوقاتو) مګر چې تسبیح وائی سره له ثناء د دغه (الله)

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ.

دمځکي او اسمانونو او په دي کي دموجودو شیانو تسبیح کولو مطلب

په دې شیانو کي دټولو فرشتو او دانسانانو او پیریانو کم چي مومنان دي ددوی تسبیح ویل خو بدیهي دي او هرڅوک په دې باندي ښه پوهیږي کافران، بنیادمان، او پیریان، کم چي په ښکاره تسبیح نه کوي دغه رکم دعالم نور شیان کمو ته چي ویل کیږي چي په دوی کي عقل او شعور نسته ددوی دتسبیح ویلو مطلب څه دی؟ ځیني علماء فرمايي چي ددوی دتسبیح څخه مراد تسبیح حال ده یعني ددوی دحالاتو شهادت دی څکه چي دالله ﷻ څخه ماسوا دهر شي مجموعي حال دا ښیي چي دوی نه په خپل وجود کي مستقل دي نه په خپل باقي پاته کیدو کي: دوی دیولوی قدرت تابع چلیږي داشاهدي ددوی دحال تسبیح ده: مګر دنورو اهل تحقیقو قول دادی چي تسبیح اختیاري خو صرف په فرشتو او مومنانو پیریانو او انسانانو پوري خاص ده مګر په تکویني طور سره الله ﷻ دکائناتو ذره ذره خپله تسبیح خوانه جوړه کړیده الخ.

(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۵۲)

وَلٰكِنۡ لَّا تَفۡقَهُوۡنَ تَسۡبِيۡحَهُمۡ‌ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيۡمًا غَفُوۡرًا ﴿۴۴﴾

غَفُوۡرًا	حَلِيۡمًا	اِنَّهٗ كَانَ	تَسۡبِيۡحَهُمۡ	لَّا تَفۡقَهُوۡنَ	وَلٰكِنۡ
ښه رحم والا	ښه تحمل والا	بيشكه! دغه (الله) دى	په تسبيح دهغوى	نه پوهيږئ تاسى	او ليكن

مگر نه پوهيږئ تاسى په تسبيح دهغوى، بيشكه! دغه (الله) دى ښه تحمل والا ښه رحم والا (په انعام داجر او ثواب سره).

وَاِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡاٰنَ جَعَلۡنَا بَيۡنَكَ وَبَيۡنَ الَّذِيۡنَ

الَّذِيۡنَ	وَبَيۡنَ	بَيۡنَكَ	جَعَلۡنَا	الۡقُرۡاٰنَ	قَرَاۡتَ	وَاِذَا
دهغو كسانو كښې	او په مينځ	په مينځ ستا	نو گرځوو موږ	قرآن	وايې ته	او كله چې

او كله چې ولولې ته (اى محمده!) قرآن نو گرځوو (پيدا كوو) موږ په مينځ ستا او په مينځ دهغو كسانو كښې

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسۡتُوۡرًا ۙ﴿۴۵﴾ وَّجَعَلۡنَا عَلٰى

عَلٰى	وَّجَعَلۡنَا	مَّسۡتُوۡرًا	حِجَابًا	بِالۡاٰخِرَةِ	لَا يُؤۡمِنُوۡنَ
پر	او گرځوو (اچوو) موږ	پټوونكى تالره	پرده	په (راتللو) دآخرت	چې نه راوړى ايمان

چې نه راوړى ايمان په (راتللو) دآخرت پرده پټوونكى تالره (له ستر گو د دوى). او گرځوو (اچوو) موږ پر

قُلُوۡبِهِمۡ اَكِنَّةً اَنۡ يَّفۡقَهُوۡهُ وَفِىۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَقۡرًا‌ؕ

وَقۡرًا	وَفِىۡۤ اٰذَانِهِمۡ	اَنۡ يَّفۡقَهُوۡهُ	اَكِنَّةً	قُلُوۡبِهِمۡ
كوڼوالى	په دغه (قرآن) او (گرځوو) موږ په غوږونو د دوى كښې	له دى خبرى څخه چې پوه سى دوى	پردى	زړونو د دوى

زړونو د دوى پردى (موانع) له دى خبرى څخه چې پوه سى دوى په دغه (قرآن) او (گرځوو) موږ په غوږونو د دوى كې كوڼوالى

وَاِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِى الۡقُرۡاٰنِ وَحۡدَهٗ وَلَّوۡا عَلٰٓى اَدۡبَارِهِمۡ

اَدۡبَارِهِمۡ	عَلٰٓى	وَلَّوۡا	وَحۡدَهٗ	فِى الۡقُرۡاٰنِ	رَبَّكَ	ذَكَرۡتَ	وَاِذَا
شاؤ خپلو	په	نو بيرته گرځى دوى	يواځى	په قرآن كښې	رب خپل	ياد كړى ته	او كله چې

(چې قرآن وانه ورى) او كله چې ياد كړى ته رب خپل په قرآن كښې يواځى (په توحيد سره) نو بيرته گرځى دوى په شاؤ خپلو

نُفُوۡرًا ﴿۴۶﴾ نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا يَسۡتَمِعُوۡنَ بِهٖۤ اِذۡ يَسۡتَمِعُوۡنَ

اِذۡ يَسۡتَمِعُوۡنَ	بِهٖۤ	يَسۡتَمِعُوۡنَ	بِمَا	اَعۡلَمُ	نَحۡنُ	نُفُوۡرًا
كله چې غوږ ږدى دوى	په سبب دهغه سره	چې اورى دوى	په هغه غرض	ښه پوهيږو	موږ	په دى حال كښې چې نفرت كوونكى وى

په دى حال كښې چې نفرت كوونكى وى. موږ ښه عالم يو په هغه غرض چې اورى دوى په سبب د هغه سره كله چې غوږ ږدى دوى

وَاِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡاٰنَ جَعَلۡنَا بَيۡنَكَ وَبَيۡنَ. پر پيغمبر دجادو اثر كيداى سي: پر يو پيغمبر او نبي دجادو اثر كيدل دا سي ممكن دى لكه دناجوړى اثر كيدل ځكه چې انبياء عليهم السلام دبشري خواصو څخه جلا نه دي لگه دوى ته چې زخم لگيداى سي تبه او درد ورته راتلى سي داسي ورته دجادو اثر هم كيداى سي ځكه چې دغه هم خاص دطبعي اسبابو پيريانو وغيره داثر څخه كيږي او په حديث شريف كي ثابت هم دي چې يو وار په نبي كريم ﷺ دسحر اوجادو اثر سوى وو: او په آيت كي چې كفارو ته مسحور وويل او قرآن ددې رد وكى ددې مطلب هم دادى چې ددوى مراد په حقيقت كي دمسحور كيدو څخه مجنون ويل وه په دې وجه يې قرآن كريم ترديد وكى نو دسحر او جادو حديث ددغه آيت سره ټكراو مخالف نه دى په ذكرسوو اياتونو كي په اول او دوهم ايت كي چې كم مضمون راغلى دى د هغه يو خاص شان نزول دى كم چې قرطبي رحمة الله عليه نقل كړى دى هغه دا چې كله په قرآن كريم كي سورت لهب نازل سو. پاته بيان پر راروان مخ باندي وگورى

اِلَيۡكَ وَاِذۡ هُمۡ نَجۡوٰٓى اِذۡ يَقُوۡلُ الظّٰلِمُوۡنَ اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ

اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ	الظّٰلِمُوۡنَ	اِذۡ يَقُوۡلُ	نَجۡوٰٓى	وَاِذۡ هُمۡ	اِلَيۡكَ
چي متابعت نه کوئ تاسی	ظالمان	لکه چي وائی	مشوری کوی	او کله چي دوی	تاته

تاته او کله چي دوی مشوری (پټی خبری) کوی کله چي وائی ظالمان (مشرکان اصحابو ته) چي متابعت نه کوئ تاسی

اِلَّا رَجُلًا مَّسۡحُوۡرًا ﴿۴۷﴾ اُنۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا

ضَرَبُوۡا	كَيۡفَ	اُنۡظُرۡ	مَّسۡحُوۡرًا	رَجُلًا	اِلَّا
بیانوی دغه کفار	څرنګه	وګوره	چي جادو پری سوی وی	دیوه سړي	مګر

مګر د یوه سړي چي جادو پری سوی وی. وګوره (ای محمده!) څرنګه بیانوی دغه کفار

لَكَ الۡاَمۡثَالَ فَضَلُّوۡا فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَبِيۡلًا ﴿۴۸﴾ وَقَالُوۡۤا

وَقَالُوۡۤا	سَبِيۡلًا	فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ	فَضَلُّوۡا	الۡاَمۡثَالَ	لَكَ
او وائی دغه (منکران)	دسمی لاری پیداکولو	نو طاقت نه لری دوی	نو ګمراه سول دوی	مثالونه	تالره

تالره مثالونه (دساحر، شاعر، کاهن مجنون) نو ګمراه سول دوی نو طاقت نه لری دوی د سمی لاری موندلو. او وائی دغه (منکران)

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ خَلۡقًا

خَلۡقًا	لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ	ءَاِنَّا	وَّرُفَاتًا	عِظَامًا	كُنَّا	ءَاِذَا
په پیدا کولو	خامخا بیا راولاړ کړی سو	آیا په تحقیق به موږ	او خاوری میده سوی	هډوکی	سو موږ	آیا کله چي

آیا کله چي سو موږ (پس له مرګه) هډوکی او خاوری میده سوی آیا په تحقیق به موږ خامخا بیا راولاړ کړی سو په پیدا کولو

جَدِيۡدًا ﴿۴۹﴾ قُلۡ كُوۡنُوۡا حِجَارَةً اَوۡ حَدِيۡدًا ﴿۵۰﴾ اَوۡ خَلۡقًا مِّمَّا

مِّمَّا	اَوۡ خَلۡقًا	اَوۡ حَدِيۡدًا	حِجَارَةً	كُوۡنُوۡا	قُلۡ	جَدِيۡدًا
له هغه قسمه	یا بل کوم قسم مخلوق	یا اوسپنه	تیږی	سئ تاسی	وو ایه (ای محمده!)	نوی سره

نوی سره. وو ایه (ای محمده!) سئ تاسی تیږی (ګټی) یا اوسپنه، یا بل کوم قسم مخلوق له هغه قسمه

يَكۡبُرُ فِىۡ صُدُوۡرِكُمۡ ۚ فَسَيَقُوۡلُوۡنَ مَنۡ يُّعِيۡدُنَا ؕ قُلِ

قُلِ	مَنۡ يُّعِيۡدُنَا	فَسَيَقُوۡلُوۡنَ	فِىۡ صُدُوۡرِكُمۡ	يَكۡبُرُ
وو ایه (محمده)	څوک به بیرته راولی موږ	نو ژر به وائی دوی	په سینو ستاسی کښی	چي ډیر لوی (سخت) ښکاری

چي ډیر لوی (سخت) ښکاری په سینو (زړونو) ستاسی کښی، نو ژر به وائی دوی څوک به بیرته راولی موږ، وو ایه (محمده)

اُنۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا لَكَ الۡاَمۡثَالَ. دتیر مخ بیان

دلته وګوری: چي په هغه کي دا بولهب دښځي مذمت هم راغلی نو دده ښځه دنبي کريم ﷺ مجلس ته ورغله دغه وخت صدیق اکبر رضی الله عنه په مجلس کي موجود وواپي دلیري ښځه ولیده نو يي نبي کريم ﷺ ته عرض وکی چي که تاسي ددي ځایه څخه لیري سی نو ښه به وي ځکه چي دا ښځه بدزبانه ده دا به داسي خبري وکړي چي تاسي ته به تکلیف ورسوي دوی وفرمایل چي داسي نه ده دي اوزما په مینځ کي به الله جل جلاله پرده حائله کړي نو دابښځه مجلس ته راغله مګر نبي کريم ﷺ يي ونه لیدی نو صدیق اکبر رضی الله عنه ته يي وويل چي ستا ملګري په موږ پسي بدي خبري کړي دي صدیق اکبر رضی الله عنه ورته وويل چي په خدای قسم هغه خو څه شاعر هم نه دی چي شعر يي ویلی وي او هجوه او بدي خبري خو په شعرونو کي خلګ وايي هغي داوويل ولاړه چي تاسي هم دهغه تصدیق کوونکي سوا ست بیا نبي کريم ﷺ وصدیق اکبر رضی الله عنه ته وفرمایل چي زما اوددي تر مابین يوي فرشتي پرده کوله: (معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۵۶)

الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ رُءُوْسَهُمْ

الَّذِيْ	فَطَرَكُمْ	اَوَّلَ	مَرَّةٍ	فَسَيُنْغِضُوْنَ	اِلَيْكَ	رُءُوْسَهُمْ
هغه (ذات)	چې پيدا کړی ئی يئ تاسی	اول	واری	نو ژر به وښوروی دوی	تاته	سرونه خپل

هغه (ذات به تاسی بیا ژوندی کړی) چی پیدا کړی ئی یئ تاسی اول واری، نو ژر به وخوځوی دوی تاته سرونه خپل

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ۭ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا ﴿٥١﴾

وَيَقُوْلُوْنَ	مَتٰى هُوَ	قُلْ	عَسٰٓى	اَنْ يَّكُوْنَ	قَرِيْبًا
او وبه وائی دوی	کله به وی دغه (بیا ژوندون)	نو ووایه	ښائی	چې وی دغه (بیا ژوندون)	نژدی

او وبه وائی دوی (تمسخراً) کله به وی دغه (بیا ژوندون)، نو ووایه (محمده) ښائی چی وی دغه (بیا ژوندون) نژدی

يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ

يَوْمَ	يَدْعُوْكُمْ	فَتَسْتَجِيْبُوْ	بِحَمْدِهٖ	وَتَظُنُّوْنَ
په هغه ورځ کښی	چی وبولی (الله) تاسی حساب ته	نو قبول به کړی	په دی حال کښی چی ثنا ویونکی به یئ الله ته	او گمان به کوئ

په هغه ورځ کښی چی وبولی (الله) تاسی حساب ته نو قبول به کړی په دی حال کښی چی ثناویونکی به یئ الله ته. او گمان به کوئ

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٥٢﴾ وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۭ

اِنْ لَّبِثْتُمْ	اِلَّا	قَلِيْلًا	وَقُلْ	لِّعِبَادِيْ	يَقُوْلُوا	الَّتِيْ	هِيَ	اَحْسَنُ
چی ځنډ نه دی کړی تاسی	مگر	لږ شانی	او ووایه	بندگانو ځماته	چی وائی دی	هغه خبره	چی هغه	ډیر غوره وی

چی ځنډ (تاخیر) نه دی کړی تاسی مگر لږشانی. او ووایه (ای محمده) بندگانو ځما ته چی وائی دی هغه خبره چی هغه ډیر غوره وی

اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ

اِنَّ	الشَّيْطٰنَ	يَنْزَغُ	بَيْنَهُمْ	اِنَّ	الشَّيْطٰنَ	كَانَ	لِلْاِنْسَانِ
بیشکه! چی	شیطان	دښمنی اچوی	په مینځ د دوی کښی	بیشکه! چی	شیطان	دی	دپاره د انسان

بیشکه! چی شیطان دښمنی اچوی (او شر پورته کوی) په مینځ د دوی کښی، بیشکه! چی شیطان دی دپاره د انسان

عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿٥٣﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ۭ اِنْ يَّشَاْ يَرْحَمْكُمْ

عَدُوًّا	مُّبِيْنًا	رَبُّكُمْ	اَعْلَمُ	بِكُمْ	اِنْ يَّشَاْ	يَرْحَمْكُمْ
دښمن	ښکاره	رب ستاسی	ښه عالم خبردار دی	پر تاسی	که اراده وفرمائی	نو رحمت به وکړی پر تاسی

دښمن ښکاره. رب ستاسی ښه عالم خبردار دی پر تاسی، که اراده وفرمائی (د رحمت ستاسی) نو رحمت به وکړی پر تاسی

ع ٥ / ٥

فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ.. په محشر کي به کفار هم دحمد او ثناسره پورته کيږي: داستجابت معنی دچا په بللو باندي دحکم منل او حاضريدل دي :معنی يي داده چي په ميدان دحشر کي کله تاسي راوبلل سی نو تاسي ټول به ددغه اواز منونکي سی او جمع به سی : ددغه ايت دښکاره څخه داسي معلوميږي چي دغه وخت به دمومنانو او کافرانو ټولو دا حال وي چي د الله ﷻ حمد کوونکي به پورته کيږي ځکه چي په دې آيت کي اصل خطاب کفاروته دی ددوی متعلق دابيان کيږي چي ټوله به حمد کوونکي پورته کيږي : دتفسير شريف په امامانو کي حضرت سعيد ابن جبير رضي الله عنه فرمايي چي کفار به هم دخپلو قبرونو څخه دپورته کيدو په وخت کي (سبحانک وبحمدک) الفاظ وايي او پورته کيږي به مگر ددغه وخت حمد او ثنا کول به دوی ته هيڅ نفع ورنه کړي : ځکه چي داخلګ کله دمرگ څخه وروسته ژوند ويني نو په غير اختياري طوره به ددوی په ژبو سره دالله ﷻ دحمداوثنا الفاظ ووزي دغه به څه داسي عمل نه وي چي پر دې څه جزا مرتبه سي. (معارف القرآن ج٥ پ١٥ص٦٠)

اَوۡ اِنۡ يَّشَاۡ يُعَذِّبۡكُمۡ‌ؕ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيۡلًا ﴿۵۴﴾

اَوۡ اِنۡ يَّشَاۡ	يُعَذِّبۡكُمۡ	وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ	عَلَيۡهِمۡ	وَكِيۡلًا
یاکه اراده وفرمائی	نو عذاب به درکړی تاسی ته	او نه ئی لیږلی موږ ته	پر دوی	وکیل

یا که اراده وفرمائی (دعذابولو دتاسی) نو عذاب به درکړی تاسی ته او نه ئی لیږلی موږ ته پر دوی وکیل (ذمه وار).

وَرَبُّكَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ‌ؕ وَلَقَدۡ

وَرَبُّكَ	اَعۡلَمُ	بِمَنۡ	فِى السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَلَقَدۡ
او رب ستا	ښه عالم دی	په هغه چا چی	په آسمانونو کښی دی	او چی په مځکه کښی دی	او خامخا په تحقیق

او رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چی په آسمانونو کښی دی او چی په مځکه کښی دی او خامخا په تحقیق

فَضَّلۡنَا بَعۡضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعۡضٍ‌ وَّاٰتَيۡنَا دَاوٗدَ زَبُوۡرًا ﴿۵۵﴾

فَضَّلۡنَا	بَعۡضَ	النَّبِيّٖنَ	عَلٰى	بَعۡضٍ	وَّاٰتَيۡنَا	دَاوٗدَ	زَبُوۡرًا
فضیلت ورکړی دی موږ	ځینو	انبیاؤ ته	پر	ځینو	او ورکړی ؤ موږ	داؤد ته	زبور

فضیلت ورکړی دی موږ ځینو انبیاؤ ته پر ځینو (نورو) او ورکړی ؤ موږ داؤد ته زبور.

قُلِ ادۡعُوا الَّذِيۡنَ زَعَمۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ فَلَا يَمۡلِكُوۡنَ

قُلِ	ادۡعُوا	الَّذِيۡنَ	زَعَمۡتُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِهٖ	فَلَا يَمۡلِكُوۡنَ
ووایه (ای محمده!)	چی وبولئ تاسی	هغه معبودان	چی ګمان پری کوئ	بی له الله څخه	نو نه لری دوی اختیار

ووایه (ای محمده! دوی ته) چی وبولئ تاسی هغه معبودان چی ګمان پری کوئ (دخدایانو) بی له الله څخه نو نه لری دوی

كَشۡفَ الضُّرِّ عَنۡكُمۡ وَلَا تَحۡوِيۡلًا ﴿۵۶﴾ اُولٰۤٮِٕكَ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ

كَشۡفَ	الضُّرِّ	عَنۡكُمۡ	وَلَا تَحۡوِيۡلًا	اُولٰۤٮِٕكَ	الَّذِيۡنَ	يَدۡعُوۡنَ
دلری کولو	دضرر	له تاسی څخه	او نه دګرځولو	دغه (معبودان)	هغه دی چی	عبادت (ئی) کوی کفار

اختیار د لری کولو د ضرر له تاسی څخه او نه د ګرځولو (دضرر). دغه (معبودان) هغه دی چی عبادت (ئی) کوی کفار

يَبۡتَغُوۡنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الۡوَسِيۡلَةَ اَيُّهُمۡ اَقۡرَبُ

يَبۡتَغُوۡنَ	اِلٰى	رَبِّهِمُ	الۡوَسِيۡلَةَ	اَيُّهُمۡ	اَقۡرَبُ
لټوی دغه (کفار)	طرف	درب خپل ته	وسیله	چی کوم یو له دوی څخه	ډیر نژدی دی الله ته

لټوی دغه (کفار) طرف د رب خپل ته وسیله (دنژدی والی) چی کوم یو له دوی څخه ډیر نژدی دی الله ته

قُلِ ادۡعُوا الَّذِيۡنَ زَعَمۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ... دالله ﷻ څخه ماسوا داتور معبودان دچاڅخه تکلیف نه سي لیري کولای: په دغه ایت کي الله ﷻ خطاب نبي کریم ﷺ ته کړی دی چي ته دغه کفارو او مشرکینو ته ووایه چي کم تاسي دخدای ﷻ څخه ماسوا معبودان نیولي دي لکه (فرشتي اوپیریان) لږ خو دوی دخپل تکلیف دلیري کولو دپاره راوبولی نو داخواران نه ستاسو څخه دتکلیف دلیري کولو اختیار لري او نه یي هم دبدلولو اختیار لري چي لږ خو یي سپک کړي داخلګ کم چي مشرکین دخپل حاجت روایي یا مشکل کشایي دپاره رابولي هغوی په خپله دخپل رب طرف ته درسیدو ذریعه لټوي چي په دوی کي کم زیات مقرب جوړیږي یعني دوی په خپله په طاعت او عبادت کي مشغوله دي چي دالله ﷻ قرب ورته حاصل سي او غواړي چي دنژدیکت درجه یي نوره هم زیاته سي او هغوی دالله ﷻ درحمت خپله امیدواره دي او دهغه دعذاب څخه دنافرماني په صورت کي بیریږي او واقعة دالله ﷻ عذاب دبیري شی دی.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص ۶۳)

وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ

وَيَرْجُوْنَ	رَحْمَتَهٗ	وَيَخَافُوْنَ	عَذَابَهٗ	اِنَّ	عَذَابَ	رَبِّكَ	كَانَ
او امید لري	د رحمت د دغه (الله)	او ییریږي دوی	له عذابه د دغه (الله)	بیشکه!	عذاب	د رب ستا	دی

او امید لري د رحمت د دغه (الله) او ییریږي دوی له عذابه د دغه (الله)، بیشکه! عذاب د رب ستا (ور او لائق د دی) دی

مَحْذُوْرًا ۝۵۷ وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ

مَحْذُوْرًا	وَاِنْ	مِّنْ	قَرْيَةٍ	اِلَّا	نَحْنُ	مُهْلِكُوْهَا	قَبْلَ
چي بیره تری وکړی سی	او نسته	هیڅ	کلي	مگر	چي موږ	هلاک کوونکی د دغه یو	پخوا

چي بیره تری وکړی سی (تل ترتله). او نسته هیڅ کلي (یا ښار د مځکی) مگر چي موږ هلاک کوونکی د دغه یو پخوا

يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ

يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	اَوْ مُعَذِّبُوْهَا	عَذَابًا	شَدِيْدًا	كَانَ	ذٰلِكَ
له ورځی	د قیامت	یا په عذابوونکی یو د هغه	په عذاب	سخت سره	دی	دغه حکم

له ورځی د قیامت یا په عذابوونکی یو (د اهل) د هغه په عذاب سخت سره، دی دغه حکم

فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝۵۸ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ

فِي الْكِتٰبِ	مَسْطُوْرًا	وَمَا مَنَعَنَآ	اَنْ نُّرْسِلَ	بِالْاٰيٰتِ
په کتاب کښی	لیکلی سوی	او نه دی منع کړی موږ لره	هیڅ شی له دی څخه چي ولیږو	هغه معجزی

په کتاب (لوح محفوظ) کښی لیکلی سوی. او نه دی منع کړی موږ لره هیڅ شی (څیز) له دی څخه چي ولیږو هغه معجزی

اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً

اِلَّآ	اَنْ	كَذَّبَ	بِهَا	الْاَوَّلُوْنَ	وَاٰتَيْنَا	ثَمُوْدَ	النَّاقَةَ	مُبْصِرَةً
مگر	چي	تکذیب کړی وو	په هغو معجزو	پخوانیو	او ورکړی مو وه	(قوم) د ثمود ته	اوښه	ښکاره معجزه

مگر (دی خبری) چي تکذیب کړی وو په هغو معجزو پخوانیو او ورکړی مو وه (قوم) د ثمود ته اوښه ښکاره معجزه

فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ۝۵۹

فَظَلَمُوْا	بِهَا	وَمَا نُرْسِلُ	بِالْاٰيٰتِ	اِلَّا	تَخْوِيْفًا
نو ظلم وکړ	په سبب د هغی	او نه لیږو موږ	معجزی	مگر	د پاره د ییرولو

نو ظلم وکړ په سبب د (عطش او عقر او اهلاک د) هغی، او نه لیږو موږ (د غه فرمائشی) معجزی مگر د پاره د ییرولو.

وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا... دکفارو ټولو کلي به دقیامت څخه مخکي په هلاکت باندي رسیږي: په دغه ایت کي الله ﷻ صاف اعلان کړی دی څه چي دکفارو کلي او ملکونه او ابادی دي دا به ترقیامت مخکسي پسه هلاکت باندي رسیږي او یا به ددوی اوسیدونکو ته ددوږخ سخت عذاب ورکول کیږي او دا خبره الله ﷻ فرمايي چي ما په لوح محفوظ کي لیکلي ده پس که یو کافر دلته دهلاکیدو څخه محفوظ هم سي نو دقیامت په ورځ به دلوی آفت څخه نه ساتل کیږي او په طبعي مرگ سره هلاکیدل خو بیا دکفارو سره مخصوص نه دي آخر خو ټولـه مـري نو دکلو دهلاکیدو څخه دلته مراد دادی چي څه عذاب به رالیږل کیږي او دآخرت عذاب به ددې څخه علاوه وي او کلـه داسـي هـم کیدای سي چي په دنیا کي څه عذاب رانه سي نو دآخرت د عذاب څخه خو په هیڅ حال کي نجات نسته: او پاته سوه چي ددوی فرمایشي معجزې ځکه نه پوره کیږي چي مخکنیو قومونو هم دا غوښتني کړي وي چي پوره سوې نو بیرته به یې تکذیب کوی الـخ. (معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۶۴)

وَاِذۡ قُلۡنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ؕ وَمَا جَعَلۡنَا

وَاِذۡ قُلۡنَا	لَكَ	اِنَّ	رَبَّكَ	اَحَاطَ	بِالنَّاسِ	وَمَا جَعَلۡنَا
او هغه وخت چي وويل موږ	تاته	چي بېشکه!	رب ستا	احاطه کړې ده	پر مخلوقاتو	او نه ده ګرځولې موږ

او (ياد کړه) هغه وخت چي وويل موږ تاته چي بېشکه! رب ستا احاطه کړې ده پر مخلوقاتو او نه ده ګرځولې موږ

الرُّءۡيَا الَّتِيۡۤ اَرَيۡنٰكَ اِلَّا فِتۡنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ

الرُّءۡيَا	الَّتِيۡۤ	اَرَيۡنٰكَ	اِلَّا	فِتۡنَةً	لِّلنَّاسِ	وَالشَّجَرَةَ
ښوونه	هغه	چي ښوولې مو وه تاته	مګر	ازموینه	دپاره د خلګو	او هغه ونه

هغه چي ښوولې مو وه تاته (دکائناتو په شپه د معراج کښې) مګر ازموینه دپاره د خلګو د (مکې) او (فتنه ګرځولې ده موږ) هغه ونه

الۡمَلۡعُوۡنَةَ فِي الۡقُرۡاٰنِ ؕ وَنُخَوِّفُهُمۡ ۙ فَمَا يَزِيۡدُهُمۡ اِلَّا

الۡمَلۡعُوۡنَةَ	فِي الۡقُرۡاٰنِ	وَنُخَوِّفُهُمۡ	فَمَا يَزِيۡدُهُمۡ	اِلَّا
چي پرې لعنت کړی سوی دی	په قرآن کښې	او بیروو موږ دوی	نو نه زياتوي دوی ته	مګر

چي پرې لعنت کړی سوی دی په قرآن کښې، او بیروو موږ دوی نو نه زياتوي دوی ته (دغه بیرول) مګر

طُغۡيَانًا كَبِيۡرًا ۞ وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ

طُغۡيَانًا	كَبِيۡرًا	وَاِذۡ	قُلۡنَا	لِلۡمَلٰٓئِكَةِ	اسۡجُدُوۡا	لِاٰدَمَ
طغيان سرکښي	لويه	او هغه وخت چي	وويل موږ	ملائيکو ته	چي سجده وکړئ تاسي	آدم ته (تعظيماً)

طغيان سرکښي لويه. او (ياد کړه) هغه وخت چي وويل موږ ملائيکو ته چي سجده وکړئ تاسي آدم ته (تعظيماً)

فَسَجَدُوۡۤا اِلَّاۤ اِبۡلِيۡسَ ؕ قَالَ ءَاَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ

فَسَجَدُوۡۤا	اِلَّاۤ	اِبۡلِيۡسَ	قَالَ	ءَاَسۡجُدُ	لِمَنۡ	خَلَقۡتَ
نو سجده وکړه	مګر	يوازې ابليس (ونه کړه)	وويل (ابليس)	آيا سجده وکړم	هغه چاته	چي پيدا کړی دی

نو سجده وکړه (ټولو) مګر يوازې ابليس (سجده ئې ونه کړه) ، وويل (ابليس) آيا سجده وکړم هغه چاته چي پيدا کړی دی

طِيۡنًا ۞ قَالَ اَرَءَيۡتَكَ هٰذَا الَّذِيۡ كَرَّمۡتَ عَلَيَّ ۫ لَئِنۡ اَخَّرۡتَنِ

طِيۡنًا	قَالَ	اَرَءَيۡتَكَ	هٰذَا	الَّذِيۡ	كَرَّمۡتَ	عَلَيَّ	لَئِنۡ	اَخَّرۡتَنِ
تاله ختې	وويل (ابليس)	خبر راکړه ماته	دا	هغه دی	چي بهتر کړی دی دی	په ما باندې	قسم دی که	وروستی دی کړم زه

تاله ختې . وويل (ابليس) خبر راکړه ماته دا هغه دی (سړی) هغه چي بهتر کړی دی دی په ما باندې قسم دی که وروستی دی

وَمَا جَعَلۡنَا الرُّءۡيَا الَّتِيۡۤ اَرَيۡنٰكَ.. دمعراج دشپې تلل واسمانونو ته اوبيرته راتلل دايو امتحان وو دخلګو دپاره : يعني دمعراج په شپه چي کمه تماشه موږ تاته وښووله دغه دخلګو دپاره يوه فتنه وه : لفظ دفتنې په عربي ژبه کي په ډيرو معناوو کي استعماليږي : ددې يوه معنى ګمراهي ده : او يوه معنى يي دازمايش هم ده : او يوه معنى يي دهنګامې او فساد پورته کيدو هم راځي : دلته ددې ټولو معناوو احتمال سته : حضرت عايشې رضي الله عنها او حضرت معاويه ﷺ او حسن اومجاهد رحمۃ اللہ علیہ اونورو دلته دفتنې څخه مراد دا آخري معنى اخيستې وه او فرمايي چي دافتنه دمرتده کيدو وه چي کله نبي کريم ﷺ په شپه دمعراج کي دبيت المقدس او دهغه ځايه څخه آسمانونو ته دتلو او سهار بيرته دراتلو ذکر وکى نو ډير نوي مسلمانان خلګ چي ايمان په کښي راسخ او مضبوط سوى نه وو داکلام يي دروا غجن کى او مرتد سول :دابيان په تفسير قرطبي کي تاسي کتلاى سى. (معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص ۶۶)

۶ ع۸ ۶

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۲﴾ قَالَ

اِلٰى	يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	لَاَحْتَنِكَنَّ	ذُرِّيَّتَهٗٓ	اِلَّا	قَلِيْلًا	قَالَ
تر	ورځی	دقیامت پورې	نو خامخا به زه بېیخ وباسم هرومرو	د اولادې د ده	مګر	لږ (د دوی)	وفرمایل (الله)

تر ورځی دقیامت پورې نو خامخا به زه بېیخ وباسم هرومرو د اولادې د ده مګر لږ (د دوی) . (نو) وفرمایل (الله)

اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿۶۳﴾

اذْهَبْ	فَمَنْ	تَبِعَكَ	مِنْهُمْ	فَاِنَّ	جَهَنَّمَ	جَزَآؤُكُمْ	جَزَآءً	مَّوْفُوْرًا
چي ځه	نو هر چاچې	متابعت وکړ دتا	له دوی څخه	نو بېیشکه!	دوزخ	جزاء ستاسی ده	جزاء	پوره

چي ځه نو هر چا چې متابعت وکړ دتا له دوی څخه (ای شیطانه) نو بېیشکه! دوزخ جزاء ستاسی ده جزاء پوره.

وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ

وَاسْتَفْزِزْ	مَنِ اسْتَطَعْتَ	مِنْهُمْ	بِصَوْتِكَ
او وبنیویوه	هغه څوک چې طاقت دی رسیږی پر هغه باندی	له دوی څخه	په بږغ (بلنه) خپل سره

او وخوځوه (راګیر کړه) هغه څوک چې طاقت دی رسیږی پر هغه باندی له دوی څخه په بږغ (بلنه) خپله سره (فساد ته)

وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ

وَاَجْلِبْ	عَلَيْهِمْ	بِخَيْلِكَ	وَرَجِلِكَ	وَشَارِكْهُمْ	فِي الْاَمْوَالِ
او راکاږه	پر دوی	سواره خپل	او پیاده خپل	او شریک سه له دوی سره	په مالونو کښې

او راکاږه (راټول کړه ګمراهی ته) پر دوی سواره خپل او پیاده خپل، او شریک سه له دوی سره په مالونو کښې

وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ۭ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا

وَالْاَوْلَادِ	وَعِدْهُمْ	وَمَا يَعِدُهُمُ	الشَّيْطٰنُ	اِلَّا
او په اولادونو کښې	او وعده کوه له دوی سره	او نه کوی وعده له دوی سره	شیطان	مګر

او په اولادونو کښې، او وعده کوه له دوی سره (د دروغو) ، او نه کوی وعده له دوی سره شیطان مګر

غُرُوْرًا ﴿۶۴﴾ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ

غُرُوْرًا	اِنَّ	عِبَادِيْ	لَيْسَ	لَكَ	عَلَيْهِمْ	سُلْطٰنٌ
(په) مکر باطل	بېیشکه!	بندګان ځما چې دی	نسته	تاته (ای شیطانه)	پر دوی	هیڅ قسم غلبه

(په) مکر باطل (او فریب سره). بېیشکه! (خاص) بندګان ځما چې دی نسته تاته (ای شیطانه) پر دوی هیڅ قسم غلبه

لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۲﴾ قَالَ.. ابلیس وحضرت ادم علیه السلام ته دسجدې نه کولو په وخت کي دوې خبري وکړې: اول دا چي حضرت آدم علیه السلام دخاوري څخه پیدا سوی دی او زه داور څخه پیدا یم تا خاوري ته پر اور باندي بنسه والی او فضیلت ورکړی دی .دا سوال د الله جل جلاله دحکم په مقابله کي دحکم دحکمت دمعلومولو سره متعلق وو چي ددې یو مامور ته حق نسته د الله جل جلاله دطرفه څخه خو مامورته د حکمت دطلب به څه حق وي ؟ چي په خپله په دنیا کي انسان خپل نوکرته دا حق نه ورکوي چي دی ورته دڅه کار ووایي نو خادم دهغه کار کولو پرځای پوښتنه وکړي چي په دې کار کي څه حکمت دی په دغه وجه سره دده دغه سوال ناقابل جواب مقررسو دلته یي جواب ورنه کول سوددې څخه علاوه ښکاره جواب دا دی چي یو شي ته پر بل شي باندي دفوقیت ورکولوحق دهغه ذات دی کم ذات چي هغه پیدا کړی دی او دهغه پالنه کوي هغه ذات چي څه وخت یوشي پر بل شي باندي ښه کي نو هغه ښه سي نه دا چي هرچا وویل بس هغه ښه دی.
(معارف القرآن ج۵پ۱۵ص ۶۸)

وَ كَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيۡلًا ﴿٦٥﴾ رَبُّكُمُ الَّذِىۡ يُزۡجِىۡ لَكُمُ

وَ كَفٰى	بِرَبِّكَ	وَكِيۡلًا	رَبُّكُمُ	الَّذِىۡ	يُزۡجِىۡ	لَكُمُ
اوکافی دی	رب ستا	وکیل ساتونکی	رب ستاسی	هغه دی چې	چلوی	تاسی ته

(حکومت، قدرت) او کافی دی رب ستا وکیل ساتونکی. رب ستاسی هغه (قادر مطلق ذات) دی چې چلوی تاسی ته

الۡفُلۡكَ فِى الۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِكُمۡ

الۡفُلۡكَ	فِى الۡبَحۡرِ	لِتَبۡتَغُوۡا	مِنۡ فَضۡلِهٖ	اِنَّهٗ	كَانَ	بِكُمۡ
کښتی	په بحر کښې	له پاره د دې چې ولټوئ (رزق)	له فضله د ده څخه	بیشکه! دغه (الله)	دی	پر تاسی

بیړی (کښتیانی) په بحر کښې، له پاره د دې چې ولټوئ (رزق او روزی) له فضله د ده څخه، بیشکه! دغه (الله) دی پر تاسی

رَحِيۡمًا ﴿٦٦﴾ وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِى الۡبَحۡرِ ضَلَّ مَنۡ

رَحِيۡمًا	وَاِذَا	مَسَّكُمُ	الضُّرُّ	فِى الۡبَحۡرِ	ضَلَّ	مَنۡ
ډیر مهربان	او کله چې	ورسیږی تاسی ته	سختی	په بحر کښې	ورک سی (له فکره)	هغه کسان

ډیر مهربان او کله چې ورسیږی تاسی ته سختی په بحر کښې (او وبیریږئ له غرقه) ورک سی (له فکره) هغه کسان

تَدۡعُوۡنَ اِلَّاۤ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا نَجّٰٮكُمۡ اِلَى الۡبَرِّ اَعۡرَضۡتُمۡ ؕ

تَدۡعُوۡنَ	اِلَّاۤ	اِيَّاهُ	فَلَمَّا	نَجّٰٮكُمۡ	اِلَى الۡبَرِّ	اَعۡرَضۡتُمۡ
چې ئی بولئ	مګر	یوازې دغه (الله) ته	نو کله چې	وموژغوری تاسی	(له غرقه) وچې ته	نو بیا څنګ کوئ

چې ئی بولئ (او عبادت ئی کوی) مګر یوازې دغه (الله) ته نو کله چې وموژغوری تاسی (له غرقه) وچې ته نو بیا څنګ کوئ

وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ كَفُوۡرًا ﴿٦٧﴾ اَفَاَمِنۡتُمۡ اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمۡ

وَكَانَ	الۡاِنۡسَانُ	كَفُوۡرًا	اَفَاَمِنۡتُمۡ	اَنۡ يَّخۡسِفَ	بِكُمۡ
او دی	انسان	لوی ناشکره	نو آیا په امن یئ تاسی	له دې څخه چې ډوب کړی	تاسی

(له توحیده) او دی انسان لوی ناشکره (په نعمتونو د رب خپل). نو آیا په امن یئ تاسی له دې څخه چې ډوب کړی تاسی

جَانِبَ الۡبَرِّ اَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا

جَانِبَ	الۡبَرِّ	اَوۡ يُرۡسِلَ	عَلَيۡكُمۡ	حَاصِبًا	ثُمَّ	لَا تَجِدُوۡا
په یو طرف	د مځکې وچې کښې	یا ولیږی	پر تاسی	سخت باد وروونکی د وړو کاڼو	بیا به	پیدا نه کړی تاسی

په یو طرف د مځکې وچې کښې، یا ولیږی پر تاسی سخت باد وروونکی د وړو کاڼو بیا به پیدا نه کړی تاسی

وَ كَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيۡلًا
دابلیس دوهمه خبره چې دالله ﷻ دحکم په مقابل کې یې کړې وه: ابلیس ته چې الله ﷻ دسجدې حکم ورکی نو دوهمه خبره یې دا وکړه (چې یاالله تر قیامته پورې ماته ژوندون راکړه او که داد درخواست زما قبول سي نو زه به دآدم ټول اولاد بغیر دلږو څخه ګمراهان کړم) نو الله ﷻ جواب داورکی چې ای شیطانه زما خاص بندګان چې مخلصین دي پر هغو باندې ستا واک نه چلیږي که څه هم ته خپل ټول لښکر راولې اوپوره زور خرڅ کړې پاته سوه غیر مخلص نو که دغه ستا په واک کې راغلل نو دهغوی به هم هغه حال وي کم چې ستا دی چې دجهنم په عذاب کې به تاسي ټول ګرفتار سی په دې کې په (اجلب علیهم بخیلک ورجلک) کې چې کم شیطاني لښکر دسپرو او پیادوو ذکر دی: ددې څخه دانه لازمیږي چې په واقع کې به هم دشیطان څه افراد سپاره او څه پیاده وي بلکې دایو قسم محاوره ده چې دپوره لښکر او پوره طاقت داستعمالولو دپاره ویل کیږي او که په واقع کې دی داسي لښکري ولري نو هم څه لیري نه د.
(معرف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۶۸)

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي .دانسان فضيلت پراکثرو مخلوقاتو په څه وجه دی ؟ په دغه آیت کي الله ﷻ دانسان ښه والی او فضیلت پر نور ومخلوقاتو باندي بیان کړی دی: په دي کي دوې خبري دفکر کولو قابلي دي .اوله داخبره چي دانښه والی په کومو صفتونو او کموو جهو سره دی. دوهمه دا خبره دغور قابله ده چي په دي کي يي فضيلت ورکول پر اکثرو مخلوقاتو باندي بیان کړي دي ددې څخه څه مراد دی ؟: داولنی خبري تفصیل دادی چي الله ﷻ بنیادم ته په مختلفو حیثیتونو سره داسي خصوصیات ورکړي دي کم چي په نورو مخلوقاتو کي نسته مثلا د صورت ښایست ، دبدن اعتدال ، دمزاج اعتدال ، دقد او قامت اعتدال ، کم چي انسان ته ورکول سوی دی بل يو حیوان ته نه دی ورکول سوی: ددې څخه علاوه په عقل او شعور کي ده ته خاص امتیاز ورکول سوی دی چي ددې په ذریعه دی دټولو سفلوي اوعلوي کائناتو څخه خپل کار اخیستی سي ده ته الله ﷻ ددې قدرت ورکړی دی. پاته بیان پر راروان مخ وگوری.

لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ

لَكُمْ	وَكِيلًا	أَمْ أَمِنتُمْ	أَن يُعِيدَكُمْ	فِيهِ
دخپل ځان پاره	کوم ساتونکی	آیا په امان کښی یئ تاسی	له دی څخه چی بیا راننه باسی تاسی (الله)	په دی (بحر) کښی

خپل ځان دپاره کوم ساتونکی، آیا په امان کښی یئ تاسی له دی څخه چی بیا راننه باسی تاسی (الله) په دی (بحر) کښی

تَارَةً أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا

تَارَةً أُخْرَىٰ	فَيُرْسِلَ	عَلَيْكُمْ	قَاصِفًا	مِّنَ الرِّيحِ	فَيُغْرِقَكُم	بِمَا
بیا دوهم ځلی	نو ناڅاپه راولیږی	پر تاسی	ماتوونکی	سخت باد	نو غرق به کړی (الله) تاسی	په سبب

(بل کرت) بیا دوهم ځلی، نو ناڅاپه راولیږی پر تاسی ماتوونکی (دهرشی) سخت باد نو غرق به کړی (الله) تاسی په سبب

كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾

كَفَرْتُمْ	ثُمَّ	لَا تَجِدُوا	لَكُمْ	عَلَيْنَا	بِهِ	تَبِيعًا
دکفر (شرک) دتاسی پس دهغه	بیا به	نه کړئ پیدا	دخپلو ځانونو دپاره	پر موږ	په سبب د هغه غرق	پوښتنه کوونکی

دکفر (شرک) دتاسی پس دهغه بیا به نه مومئ (نه کړئ پیدا) دخپلو ځانونو دپاره پر موږ په سبب د هغه غرق پوښتنه کوونکی .

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ

وَلَقَدْ	كَرَّمْنَا	بَنِيٓ	اٰدَمَ	وَحَمَلْنٰهُمْ	فِي الْبَرِّ
او خامخا په تحقیق	ډیر عزت ورکړی دی موږ	اولادی	دآدم ته	او سواره کړی مو دی دوی	پر سپرلیو باندی په وچه کښی

او خامخا په تحقیق ډیر عزت ورکړی دی موږ اولادی د آدم ته او سواره کړی مو دی دوی پر مرکوباتو باندی په بر (وچه) کښی

وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُم مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيرٍ مِّمَّنْ

وَالْبَحْرِ	وَرَزَقْنٰهُم	مِّنَ	الطَّيِّبٰتِ	وَفَضَّلْنٰهُمْ	عَلٰى	كَثِيرٍ	مِّمَّنْ
او په بحر کښی	او رزق موږ ورکړی دی دوی ته	له	طیباتو پاکیزه ؤ شیانو	او غوره کړی مو دی دوی	پر	ډیرو	له هغه چا چی

او په بحر (سیند) کښی او رزق روزی موږ ورکړی دی دوی ته له طیبتو پاکیزه ؤ شیانو او غوره کړی مودی دوی پر ډیرو له هغه چا چی

خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾ يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ

خَلَقْنَا	تَفْضِيلًا	يَوْمَ	نَدْعُوا	كُلَّ	أُنَاسٍ	بِإِمَامِهِمْ
پیدا کړی موږ دی	په غوره کولو سره	او هغه ورځ	چی وبه بولو	هر	امت	سره د انبیاوو او مشرانو د دوی

پیدا کړی موږ دی په غوره کولو (ډیرو) سره. او (یادکړه) هغه ورځ چی وبه بولو (په نامه سره) هر امت سره د انبیاء او مشرانو د دوی

ربع

فَمَنْ أُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ

فَمَنْ	أُوْتِيَ	كِتٰبَهٗ	بِيَمِيْنِهٖ	فَاُولٰٓئِكَ	يَقْرَءُوْنَ	كِتٰبَهُمْ
نو هر هغه چاته چې	ورکړه سوه	اعمالنامه د ده	په ښي لاس د ده کښې	نو دغه	وايي به دوی	اعمالنامې خپلې

نو هر هغه چاته چې ورکړه سوه اعمالنامه د ده په ښي لاس د ده کښې نو دغه (اصحاب اليمين) وايي به اعمالنامې خپلې

وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿٧١﴾ وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ أَعْمٰى

وَلَا يُظْلَمُوْنَ	فَتِيْلًا	وَمَنْ	كَانَ	فِيْ هٰذِهٖٓ	أَعْمٰى
او ظلم به ونه کړی سی	په اندازه د يوه نري تار چې د خرما د مندکۍ په مينځ کې وی	او هر څوک چې	وی	په دغه (دنيا) کښې	ړوند

او ظلم به ونه کړی سی (پر دوی) په اندازه د يو نري تار. او هر څوک چې وی په دغه (دنيا) کښې ړوند (له پيژندلو دحقه)

فَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ أَعْمٰى وَأَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٧٢﴾ وَإِنْ

فَهُوَ	فِي الْاٰخِرَةِ	أَعْمٰى	وَأَضَلُّ	سَبِيْلًا	وَإِنْ
نو هغه به	په آخرت کښې	هم ړوند وی	او ډير لرې به وی	له لارې	او په تحقيق شان دا دی چې

نو هغه به په آخرت کښې هم ړوند وی (له لارې دخلاصې) او ډير لرې به وی (دنجات) له لارې. او په تحقيق شان دا دی چې

كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِيْٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا

كَادُوْا	لَيَفْتِنُوْنَكَ	عَنِ	الَّذِيْٓ	أَوْحَيْنَآ	إِلَيْكَ	لِتَفْتَرِيَ	عَلَيْنَا
نژدې وو	چې واړوی تا	له	هغه (قرآن) څخه	چې وحې کړی ده موږ	تاته	دپاره د دې چې وتړې ته	پر موږ

نژدې وو چې واړوی تا له هغه (قرآن) څخه چې وحې کړی ده موږ تاته دپاره د دې چې وتړې ته پر موږ

غَيْرَهٗ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ أَنْ ثَبَّتْنٰكَ

غَيْرَهٗ	وَإِذًا	لَّاتَّخَذُوْكَ	خَلِيْلًا	وَلَوْلَآ	أَنْ ثَبَّتْنٰكَ
بې له دې قرآنه	او په دغه وخت کښې	به خامخا نيولی به ئې وی دوی ته	دوست	او که نه وی	موږ ټينګ کړی ته

بې له دې قرآنه او په دغه وخت کښې به خامخا نيولی به ئې وی دوی ته دوست. او که نه وی موږ ټينګ کړی ته (په حق باندې)

لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيْلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا

لَقَدْ	كِدْتَّ	تَرْكَنُ	إِلَيْهِمْ	شَيْـًٔا	قَلِيْلًا	إِذًا
نو خامخا په تحقيق	نژدې سوی وی ته	چې ميلان دې کړی وی	دوی ته	يو څه	لږ (ميلان)	نو په دغه وخت کښې به

نو خامخا په تحقيق نژدې سوی وی ته چې ميلان دې کړی وی دوی ته څه لږ (ميلان). نو په دغه وخت کښې به

وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ أَعْمٰى فَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ. د تير مخ پاته بيان دلته وګورى:
چې د الله جل جلاله د مخلوقاتو څخه داسې مرکبات او مصنوعات تيار کړي کم چې دده په اوسيدو او نقل او حرکت او طعام او لباس کښې دده په مختلفو کارونوکې ښکاره سي: دخبرو اترو دافهام او تفهيم کمه ملکه چې الله جل جلاله دته ورکړيده هغه يې بل حيوان ته نه ده ورکړې داشارو په ذريعه دخپل زړه خبره نوروته ښوول دخط او کتابت په ذريعه دخپل زړه خبره نورو ته رسول داټول دانسان خاص صفت دی دده څخه ماسوا نور ټول حيوانان يه خپل خُلو سره خوراک کوي: خپل خوراک دمختلفو شيانو څخه دمرکب کولو او خوندناک اوفائده مند جوړولو کار هم انسان کوي باقي ټول حيوان مفرد شيان خوري ځيني کچه غوښه خوري و ځيني بيا ګياه ميوه وغيره خوري بهر حال ټول مفرد شيان خوري خو انسان دخپل خوراک دپاره ددې ټولو شيانو څخه مرکبات تياروي او دټولو څخه لوی فضيلت دعقل اوشعور دی چې دی په هغه سره خپل مالک او خالق اورازق پيژني الخ.
(معارف القرآن ج٥ پ١٥ص٧١)

لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ

لَّاَذَقْنٰكَ	ضِعْفَ	الْحَيٰوةِ	وَضِعْفَ	الْمَمَاتِ	ثُمَّ	لَا تَجِدُ
خامخا په تحقيق څکلی مو وی تاته	دوه چنده عذاب	د ژوندون	او دوه چنده عذاب	د مرګ	بيا به	پيدانه کړی ته

خامخا په تحقيق څکلی مو وی تاته دوچنده عذاب د ژوندون (په دنيا کښی) او دوچند عذاب د مرګ بيا به نه وه پيدا کړی

لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ

لَكَ	عَلَيْنَا	نَصِيْرًا	وَاِنْ	كَادُوْا	لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ	مِنَ الْاَرْضِ
دځان دپاره	پرموږ باندی	مدد کوونکی	او بيشکه! شان دادی	چی نژدی ؤ	چی خامخا وښويوی تا	له مځکی

تا دځان دپاره پر موږ باندی مدد کوونکی. او بيشکه! شان دادی چی نژدی ؤ چی خامخا وښويوی تا له مځکی (دمکی يا دمدينی)

لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ

لِيُخْرِجُوْكَ	مِنْهَا	وَاِذًا	لَّا يَلْبَثُوْنَ	خِلٰفَكَ
له پاره د دی چی وباسی تا	له دغی	او په دغه وخت کښی	پاته سوی به نه وای	وروسته له (ايستلو) دتا څخه

له پاره د دی چی وباسی تا له دغی (مځکی) او په دغه وخت کښی پاته سوی به نه وای وروسته له (ايستلو) دتا څخه

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۷۶﴾ سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ

اِلَّا قَلِيْلًا	سُنَّةَ	مَنْ	قَدْ	اَرْسَلْنَا	قَبْلَكَ	مِنْ رُّسُلِنَا
مګر لږ (مدت)	طريقه زموږ	په هغه چا کښی چی	په تحقيق	ليږلی ؤ موږ	پخوا له تا څخه	له رسولانو زموږ

مګر لږ (مدت). (دغه وړاندی) طريقه زموږ په هغه چاکښی چی په تحقيق ليږلی ؤ موږ پخوا له تاڅخه له رسولانو زموږ

لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ﴿۷۷﴾ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ

وَلَا تَجِدُ	لِسُنَّتِنَا	تَحْوِيْلًا	اَقِمِ	الصَّلٰوةَ	لِدُلُوْكِ	الشَّمْسِ	اِلٰى غَسَقِ
او نه به پيدا کړی ته	طريقی زموږ ته	هيڅ تغير تبديل	قائموه	لمونځ	وروسته له زواله	دلمر	تر تيارى

او نه به پيدا کړی ته طريقی (عادت) زموږ ته هيڅ تغير تبديل. قائموه لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تيارى

الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ؕ اِنَّ قُرْاٰنَ

الَّيْلِ	وَقُرْاٰنَ	الْفَجْرِ	اِنَّ	قُرْاٰنَ
دشپی پوری	او له قرآئت	دفجر (دسهار لمونځ)	بيشکه! چی	قرآن لوستل (لمونځ کول)

د شپی پوری (دظهر، عصر، مغرب، عشاء لمونځونه)، او له قرائت د فجر (دسهار لمونځ) بيشکه! چی قرآن لوستل (لمونځ کول)

وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ. کفارو دا اراده وکړه چي نبي کريم ﷺ دمکې مکرمې څخه وباسي. داستفزاز لفظي معنی دقطع کولو راځي: دلته مراد دنبي کريم ﷺ دخپل ځای داوسيدو مکې يامدينې څخه ايستل دي او معنی دآيت داده چې نژدې وه چې داکفار تا دخپلې مځکې څخه وباسي او که دوی داسي کړي وای نو ددې سزا به دوی ته داورکول سوې وای چې دوی به هم ترتاوروسته ډير وخت په دې ښار کې نه وای اوسيدلي. داديوې دوهمې واقعې بيان دی او ددې په تعيين کې هم دوه روايتونه نقل دي: يوه واقعه دمدينې طيبې ده چې دمدينې منورې يهود يوه ورځ دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سول اوعرض يې وکی چې ای ابوالقاسم ﷺ که ته دخپل نبوت په دعوه کې رښتينی يې نو تاته پکار دي چې شام ته ولاړسې او هلته اوو سيږې ځکه چې شام دمحشر مځکه ده او دغه دانبياوو عليهم السلام مځکه ده نبي کريم ﷺ هم اراده وکړه چې شام خپل دهستوګنې ځای جوړ کړي دتبوک دغزا په وخت کې خو الله جل جلاله داايت نازل کړی:

(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۷۷)

ع۸

الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿٧٨﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً

نَافِلَةً	بِهٖ	فَتَهَجَّدْ	وَمِنَ الَّيْلِ	مَشْهُوْدًا	الْفَجْرِ كَانَ
دازیاتی عبادت دی	په ویلو د قرآن	خوب پریږده او ویښ اوسه	او په یوه حصه د شپې کښې	حاضرکړی سوی دی	د فجر

د فجر حاضر سوی دی ورته ملائیکې. او په شپې کښې خوب پریږده او ویښ اوسه (په لوستلو د قرآن په لمانځه کې) دا عبادت دی

لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿٧٩﴾ وَقُلْ

وَقُلْ	مَّحْمُوْدًا	مَقَامًا	رَبُّكَ	اَنْ يَّبْعَثَكَ	عَسٰٓى	لَّكَ
او ووایه	محمود کښې	په هغه مقام	رب ستا	چې وبه دروی تا	ښائی	خاص تاته

خاص تاته ښائی چې وبه دروی تا رب ستا په هغه مقام محمود (ځای د شفاعت) کښې. او وو ایه (ای محمده)

رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ

لِّيْ	وَّاجْعَلْ	صِدْقٍ	مُخْرَجَ	وَّاَخْرِجْنِيْ	صِدْقٍ	مُدْخَلَ	اَدْخِلْنِيْ	رَّبِّ
ما لره	او وګرځوه	رښتیا	په ویستلو	او وباسه ما	رښتیا	په ننویستلو	ننه باسه ما	ای ربه ځما

ای ربه ځما ننه باسه ما په ننویستلو رښتیا (مدینی ته) او وباسه ما په ویستلو رښتیا (له مکی څخه) او وګرځوه ما لره

مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴿٨٠﴾ وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ

الْحَقُّ	جَآءَ	وَقُلْ	نَّصِيْرًا	سُلْطٰنًا	مِنْ لَّدُنْكَ
حق (اسلام)	راغی	او وو ایه (ای محمده! دوی ته)	مدد کوونکی	یو قوت	له جانبه خپله

له جانبه خپله یو قوت مدد کوونکی (له اسلامه پر کفر باندی). او وو ایه (محمده) راغی حق (اسلام)

وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۭ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿٨١﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ

مِنَ	وَنُنَزِّلُ	زَهُوْقًا	كَانَ	الْبَاطِلَ	اِنَّ	الْبَاطِلُ	وَزَهَقَ
له	او نازلوو (پرتا)	ورکیدونکی	دی	باطل	بیشکه!	باطل	او په تیښته ورک سو

او په تیښته ورک سو باطل (کفر او شرک) بیشکه! باطل دی ورکیدونکی (بی ثباته). او نازلوو (پرتا) له

الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ

وَلَا يَزِيْدُ	لِّلْمُؤْمِنِيْنَ	وَّرَحْمَةٌ	شِفَآءٌ	مَا هُوَ	الْقُرْاٰنِ
او نه زیاتوی (دغه قرآن)	دپاره د مؤمنانو	او رحمت دی	شفاء دی	هغه شی چی	قرآنه

قرآنه هغه شی چی شفاء دی (له ظاهری او باطنی امراضو) او رحمت دی دپاره د مؤمنانو او نه زیاتوی (دغه قرآن)

اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ. د دښمنانو د مکر او فریب څخه د بچ کیدو د علاج لمونځ دی: په تیرو ایاتونو کې د اسلام د دښمنانو مخالفت او د نبي کریم ﷺ په مختلف قسم تکلیفونو کي داخته کولو تدبیرونه او د هغه د جواب ذکر وو د دي څخه وروسته په دي ذکر سوو ایاتونو کي نبي کریم ﷺ ته د لمانځه قایمولو په حکم کولو کي دي طرف ته اشاره وفرمایله چي د دښمنانو د مکر او فریب او آزارونو څخه د بچ کیدلو د پاره ښه علاج لمونځ دی لکه چي د سورة الحجر په آیت کي تر دې لا زیات وضاحت د دغي خبري راغلی دی هلته الله ﷻ فرمایي (ولقد نعلم انک یضیق صدرک بما یقولون ::فسبح بحمد ربک وکن من الساجدین) یعني موږ پوهیږو چي د کفارو په زړه ازاروونکو خبرو به ستا زړه تنګیږي خو ته د الله ﷻ د حمد سره تسبیح کوه او د سجدې کوونکو څخه سه: په دې آیت کي د دښمنانو د ازارونو علاج د الله ﷻ ذکر، حمد، او تسبیح، او په لمانځه کي مشغولیدل دي او د الله ﷻ ذکر او لمونځ بیا د دغه علامه ده الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۷۹)

قُـــلْ كُلٌّ يَّعْمَـــلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ.. هرسړی په خپل شان او طريقه سره كار كوي: د (شاكلة) دلفظ دتفسيرپه باره كې داما مانو دتفسير مختلف قولونه دي ،طبعيت ، عادت ، جبلت ، نيت ، طريقه ، وغيره او حاصل دټولو دادی چې دهر انسان دخپل ماحول او عادتونو او رسمونو اورواجونو په اعتبار سره يو عادت او طبعيت ثانيه جوړيږي نو بيا دده عمل ددې تابع وي :په دې كې يې انسان په دې خبرداره كی چې دبد ماحول او بدو عادتونو څخه ځان وساتی دنيكو خلگو صحبت او ښو عادتونو سره مينه اختياره كړی (جصاص) ځكه چې دخپل ماحول او صحبت او رسم اورواج څخه دانسان يوطبعيت جوړيږي دده هر عمل ددې تابع چليږي امام جصاص رحمة الله عليه دلته دشاكلة يوه معنى هم شكله هم كړيده ددې معنى په لحاظ سره دايت مطلب به دا سي چې هر سړی دخپل مزاج مطابق سړي سره الفت نيسي نيک سړی دنيک سره بد سړی دبد سره مانوسه كيږي او دهغه پر طريقه ځي اوددې تصديق په قرآن كريم كي بل ځای هم سته الخ.
(معارف القرآن ج۵پ۱۵ص۸۹)

الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ۝۸۲ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ

الظّٰلِمِيْنَ	اِلَّا	خَسَارًا	وَاِذَآ	اَنْعَمْنَا	عَلَى الْاِنْسَانِ
ظالمانو ته	مګر	زيان	او كله چې	نازل كړو نعمت	پر (نافرمان) انسان

ظالمانو (كافرانو) ته مګر زيان (هلاكت). او كله چې نازل كړو نعمت (او احسان) پر (نافرمان) انسان

اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوْسًا ۝۸۳

اَعْرَضَ	وَنَاٰ	بِجَانِبِهٖ	وَاِذَا	مَسَّهُ	الشَّرُّ	كَانَ يَـُٔوْسًا
نو مخ وګرځوی	او لری سی ځنی	په اړخ ګرځولو	او كله چې	ورسيږي ده ته	شر بدی	نو سی دی نا اميده

نو مخ وګرځوی (له ياده دالله) او لری سی ځنی په اړخ ګرځولو (له كبره)، او كله چې ورسيږي ده ته شر بدی نو سی دی نا اميده.

قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ

قُلْ	كُلٌّ	يَّعْمَلُ	عَلٰى شَاكِلَتِهٖ	فَرَبُّكُمْ	اَعْلَمُ	بِمَنْ
وو ايه (محمده!)	چې هر څوک	عمل كوی	په هغی طريقی چې مناسب وی له حاله د ده	نو رب ستاسی	ښه خبردار دی	په هغه چا

وو ايه (محمده) چې هر څوک عمل كوی په هغی طريقی چې مناسب وی له حاله د ده نو رب ستاسی ښه خبردار دی په هغه چا

ع ٩

هُوَ اَهْدٰى سَبِيْلًا ۝۸۴ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ؕ قُلِ

هُوَ	اَهْدٰى	سَبِيْلًا	وَيَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ الرُّوْحِ	قُلِ
چې هغه	ښه پيدا كوونكی وی	د سمی لاری	او پوښتنه كوی ستا څخه (ای محمده)	له (كيفيته د) روح څخه	وو ايه (محمده!)

چې هغه ښه پيدا كوونكی وی د سمی لاری. او پوښتنه كوی له تا نه (محمده!) له (كيفيته د) روح څخه، وو ايه (محمده)

الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا ۝۸۵ وَلَئِنْ

الرُّوْحُ	مِنْ اَمْرِ	رَبِّيْ	وَمَآ اُوْتِيْتُمْ	مِّنَ الْعِلْمِ	اِلَّا	قَلِيْلًا	وَلَئِنْ
چې روح	له امره	د رب ځما دی	او نه دی دركړی سوی تاسی ته	له علم (پوهی) څخه	مګر	لږه	او كه

چې روح له امره د رب ځما دی او نه ده دركړی سوی تاسی ته (برخه) له علم (پوهی) څخه مګر لږه. او كه

شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهٖ

شِئْنَا	لَنَذْهَبَنَّ	بِالَّذِيْٓ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ	ثُمَّ	لَا تَجِدُ لَكَ	بِهٖ
اراده وفرمايو موږ	نو خامخا بيرته به يو سو	هغه شي چې	وحی كړی ده موږ	تا ته	بيا به	نه كړی پيدا ته	خپل ځان ته

اراده وفرمايو موږ نو خامخا بيرته به يو سو هغه شيز چې وحی كړی ده موږ تا ته بيا به نه (مومی) كړی پيدا ته خپل ځان ته

عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴿٨٦﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ

عَلَيْنَا	وَكِيْلًا	اِلَّا	رَحْمَةً	مِّنْ	رَّبِّكَ	اِنَّ	فَضْلَهٗ	كَانَ
په دی کار کښی پر موږ	کوم وکیل	لیکن	رحمت	له جانبه	درب ستا	بیشکه!	فضل د دغه (الله)	دی

په دی کار کښی پر موږ کوم وکیل (کفیل). لیکن رحمت له جانبه د رب ستا، بیشکه! فضل د دغه (الله) دی

عَلَيْكَ كَبِيْرًا ﴿٨٧﴾ قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ

عَلَيْكَ	كَبِيْرًا	قُلْ	لَّئِنِ	اجْتَمَعَتِ	الْاِنْسُ	وَالْجِنُّ
پر تا	ډیر لوی	ووایه (محمده!)	خامخا که	یو ځای (راټول) سی	(ټول) انسانان	او (ټول) پیریان

پر تا ډیر لوی. ووایه (ای محمده! دوی ته) خامخا که یو ځای (راټول) سی (ټول) انسانان او (ټول) پیریان

عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ

عَلٰٓى	اَنْ يَّاْتُوْا	بِمِثْلِ	هٰذَا	الْقُرْاٰنِ	لَا يَاْتُوْنَ	بِمِثْلِهٖ
په دی	چی راوړی	په شان	د دی	قرآن	نو را به نه وړی	په شان د دی (قرآن)

په دی چی راوړی په شان د دی قرآن (په فصاحت بلاغت او درایت کښی) نو را به نه وړی په شان د دی (قرآن)

وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ

وَلَوْ كَانَ	بَعْضُهُمْ	لِبَعْضٍ	ظَهِيْرًا	وَلَقَدْ	صَرَّفْنَا	لِلنَّاسِ
اگر که سی	ځینی د دوی	له ځینو نورو سره	ملاتړی	او خامخا په تحقیق	مکرر بیان کړی دی موږ	خلکو ته

اگر که سی ځینی د دوی له ځینو نورو سره ملاتړی (او مرستیان). او خامخا په تحقیق مکرر بیان کړی دی موږ خلکو ته

فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ

فِيْ هٰذَا	الْقُرْاٰنِ	مِنْ	كُلِّ مَثَلٍ	فَاَبٰٓى	اَكْثَرُ	النَّاسِ
په دی	قرآن کښی	له	هر قسمه مثاله	نو غاړه یې نه کښیښوول	اکثره	خلکو

په دی قرآن کښی (مثل) له هر قسمه مثاله نو غاړه کینښووده اکثرو خلکو (او راضی نسول په هیڅ)

اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٨٩﴾ وَقَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا

اِلَّا	كُفُوْرًا	وَقَالُوْا	لَنْ نُّؤْمِنَ	لَكَ	حَتّٰى	تَفْجُرَ لَنَا
مگر	په ناشکری	او وائی	له سره به ایمان رانه وړو	پر تا	ترغه پوری	چی جاری کړی ته موږ ته

مگر په ناشکری. او وائی (قریش) له سره به ایمان رانه وړو په تا (محمده!) ترغه پوری چی جاری کړی ته (وباسی) موږ ته

قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ.. دنړی انسانان او پیریان دقران مثل کلام نه سي راوړی ترقیامته پوري: دغه مضمون الله جل جلاله دقرآن کریم په څو ایاتونو کي راوړی دی چي په دي کي ټولي انساني دنیا ته خطاب سوی دی او دا دعوی یي کړیده چي که تاسي قرآن کریم دالله جل جلاله کلام نه منی بلکي دیو انسان جوړ سوی یي منی نو بیا تاسي هم انسانان یاست ددې په مثل جوړکړی وښیاست: او په دغه آیت کي ددوی ددعوې سره دا هم فرمایلي دي چي صرف انسانان نه بلکي پیریان هم دځان سره شامل کړی او بیا تاسي ټول یو ځای سی نو دقرآن یو سورت بلکي دیو آیت مثال هم نه سی راوړی: ددغه مضمون پر دغه ځای اعاده ممکنه ده چي ددې دښولو دپاره وي چي تاسي کم زموږ درسول څخه مختلف قسم سوالونه دروح وغیره متعلق دده دنبوت او ازمایښت دپاره کوی نو په دي فضولو قصو باندي ولي پسې سوي یاست په خپله قرآن کریم ته وګوری نو ددوی په رسالت اونبوت کي به هیڅ قسم او شک شبه نه سي درته پاته.
(معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص ۹۶)

مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ۝٩٠ اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ

مِنَ الْاَرْضِ	يَنْۢبُوْعًا	اَوْ تَكُوْنَ	لَكَ	جَنَّةٌ	مِّنْ نَّخِيْلٍ
له مځکې	چينه	يا چې وي	تاته	يو باغ	له خرماؤ

له مځکې (دمکې تل بهيدونکې خوتيدونکې) چينه (چې تل ډکه وي له اوبو) . يا چې وي تاته يو باغ له خرماؤ

وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ۝٩١ اَوْ تُسْقِطَ

وَّعِنَبٍ	فَتُفَجِّرَ	الْاَنْهٰرَ	خِلٰلَهَا	تَفْجِيْرًا	اَوْ تُسْقِطَ
او انګورو	نو رواني کړې ته	ويالې	په مينځ د دې باغ کښې	په روانولو سره	يا چې راوغورځوې ته

او انګورو نو رواني کړې ته ويالې په مينځ د دې باغ کښې په روانولو سره. يا چې راوغورځوې ته

السَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ

السَّمَآءَ	كَمَا	زَعَمْتَ	عَلَيْنَا	كِسَفًا	اَوْ تَاْتِيَ	بِاللّٰهِ
آسمان	لکه	چې ګمان کوې ته	پرموږ باندې	ټوټې ټوټې	يا چې راولې ته	الله

آسمان لکه چې ګمان کوې ته پر موږ باندې ټوټې ټوټې يا چې راولې ته الله

وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا ۝٩٢ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ

وَالْمَلٰٓئِكَةِ	قَبِيْلًا	اَوْ يَكُوْنَ	لَكَ	بَيْتٌ	مِّنْ زُخْرُفٍ
او ملائيکې	مخامخ	يا چې وي	تاته	يو کور	له سرو زرو

او ملائيکې مخامخ (ښکاره چې ئې ووينو) . يا چې وي تاته يو کور له سرو زرو (يا ملمع په سرو زرو چې پکښې کښيني)

اَوْ تَرْقٰى فِى السَّمَآءِ ۗ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى

اَوْ تَرْقٰى	فِى السَّمَآءِ	وَلَنْ نُّؤْمِنَ	لِرُقِيِّكَ	حَتّٰى
يا چې پورته وخيژې	په آسمان کښې	او له سره به ايمان رانه وړو	په ختلو ستا	تر هغه پورې

يا چې پورته وخيژې په آسمان کښې، او له سره به ايمان رانه وړو په (تش) ختلو ستا (آسمان ته که چيرې وخيژې) تر هغه پورې

تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ۗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ

تُنَزِّلَ	عَلَيْنَا	كِتٰبًا	نَّقْرَؤُهٗ	قُلْ	سُبْحَانَ	رَبِّيْ	هَلْ	كُنْتُ
چې کښته کړې	پرموږباندې	داسې يو کتاب	چې وايو يئ موږ	ووايه (محمده)	پاکي ده	رب ځما ته	آيا	يم زه

چې کښته کړې پر موږ باندې داسې يو کتاب چې وايو يئ موږ، ووايه (محمده) پاکي ده رب ځما ته آيا يم زه (يعني نه يم زه)

اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ..دبې سره او ښو عنادي سوالونو پيغمبرانه جواب: په ذکر سوو اياتونو کي چي کفاروکم سوالونه او فرمايشونه دنبي کريم ﷺ څخه دخپل ايمان راوړلو شرط مقرر کړی دی هغه ټول داسي دي چي هر انسان دا واوري نو ديو قسم مسخرو او ايمان نه راوړلو دعبث بهانو څخه ماسوا به يي نور هيڅ نه سي ګڼلی دداسي سوالونو په جواب کي انسان ته فطرتاً څه غصه اوقهر ورځي او جواب هم بيا هغه دقهرپه انداز کي ورکوي: مګر په دغه اياتونو کي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ ددوی دبې هوده سوالونو کم جواب خپل رسول ته ښوولی دی دغه دنظر قابل او دامت داصلاح کوونکو دپاره هميشه دياد ساتلو او دخپل لايحه عمل جوړولو شی دی چي ددې ټولو په جواب کي يي نه ددوی دبيوقوفی اظهار وکی او نه يي ددوی دعنادونو او شرارتونو اونه يي دوی ته څه خبره واوروله بلکي په ډيرساده الفاظو کي يي اصل حقيقت واضح کی چي هغه تاسي ته په اياتونوکي دغور کولو څخه ښله معلوميږي:
(معارف القرآن ج٥ پ١٥ص٩٩)

ع۱۰

اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۳﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا

اِلَّا	بَشَرًا	رَّسُوْلًا	وَمَا مَنَعَ	النَّاسَ	اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا
مگر	يو انسان	رالیږلی سوی	او نه دی منع کړی دی	خلګو لره	لەدی څخه چي ایمان راوړی

مگر يو انسان راليږلی سوی (په شان د نورو رسولانو) . او نه دی منع کړی خلګو لره لەدی څخه چي ایمان راوړی

اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۴﴾

اِذْ جَآءَهُمُ	الْهُدٰى	اِلَّآ	اَنْ قَالُوْٓا	اَبَعَثَ	اللّٰهُ	بَشَرًا	رَّسُوْلًا
کله چي راغی دوی ته	هدایت د حق	مگر	دی خبری چي ويلی به دوی	آیا راليږلی دی	الله	يو سړی	رسول

کله چي راغی دوی ته بیان د حق مگر (منع کړی دی خلګ) دی خبری چي ويلی به دوی آیا راليږلی دی الله يو سړی رسول.

قُلْ لَّوْ كَانَ فِى الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ

قُلْ	لَّوْ كَانَ	فِى الْاَرْضِ	مَلٰٓئِكَةٌ	يَّمْشُوْنَ	مُطْمَئِنِّيْنَ
ووايه (محمده!)	که چيری وی	په ځمکه کښی	ملائیکی	چي ګرځیدلی	په آرام سره

ووايه (ای محمده!) که چيری وی په ځمکه کښی ملائیکی (په بدل د انسان) چي ګرځيدلی په آرام سره (په شان د انسانانو)

لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿۹۵﴾ قُلْ كَفٰى

لَنَزَّلْنَا	عَلَيْهِمْ	مِّنَ السَّمَآءِ	مَلَكًا	رَّسُوْلًا	قُلْ	كَفٰى
نو خامخا راليږلی به وه موږ	پر دوی باندی	لەآسمانه	يوه ملائیکه	رسول	ووايه (محمده!)	کافی دی

نو خامخا راليږلی به وه موږ پر دوی باندی لە آسمانه يوه ملائیکه رسول. ووايه (ای محمده! دوی ته) کافی دی

بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِىْ وَبَيْنَكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ

بِاللّٰهِ	شَهِيْدًا	بَيْنِىْ	وَبَيْنَكُمْ	اِنَّهٗ	كَانَ	بِعِبَادِهٖ	خَبِيْرًا
الله	شاهد	په مینځ زما	او په مینځ ستاسی کښی	بیشکه! چي الله	دی	په بندګانو خپلو	ښه خبردار

الله شاهد (حق ثابتوونکی) په مینځ زما او په مینځ ستاسی کښی، بیشکه! چي الله دی په بندګانو خپلو ښه خبردار

بَصِيْرًا ﴿۹۶﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ

بَصِيْرًا	وَمَنْ	يَّهْدِ	اللّٰهُ	فَهُوَ	الْمُهْتَدِ	وَمَنْ
ښه لیدونکی	او هر هغه چاته چي	سمەلاره وښودله	الله	نو هغه	دسمی لاری پیداکوونکی دی	او هر څوک چي ئی

ښه لیدونکی. او هر هغه چاته چي سمه لاره وښودله الله نو هغه دسمی لاری پیداکوونکی دی ، او هر څوک چي ئی

وَمَــا مَنَــعَ النَّــاسَ اَنْ يُّؤْمِنُـوْٓا اِذْ جَـآءَهُمُ.. دالله ﷻ رسول انسان کیدای سي فرشتې دانسانانو طرف ته رسولاني نه سي کیدای :دعامو کفارو او مشرکینو خیال وو چي بشر یعني بنده دالله ﷻ رسول نه سي کیدای ځکه چي دی خو زموږ په شان دانساني حاجتونوعادي دی بیاده ته پر موږ باندي څه فوقیت حاصل دی چي موږ دی دالله ﷻ رسول ومنو او خپل مقتداء یي جوړ کړو : ددوی ددغه خیال جواب په قرآن کریم کي په څو ځایه کي ورکړه سوی دی هغه هم په مختلفو عنواناتو سره : دلته په دغه آیت کي (وما منع الناس) کي چي کم جواب ورکړی دی ددې خلاصه داده چي دالله ﷻ رسول چي کمو خلګو ته لیږل کیږي دهغه ددوی دجنس څخه کیدل ضروري دي که دوی انسانان وي نو رسول هم انسان په کار دی ځکه چي دمختلف جنسو والا دیو بل سره مناسبت نه وي او بې دمناسبت څخه درشد او هدایت فائده نه حاصلیږي که بنیادمو ته فرشته راولیږل سي چونکه جنس مختلف دی نو یو دبل څخه افاده او استفاده اخیستل به مشکل وای الخ.
(معارف القرآن ج۵ پ ۱۵ ص ۹۹)

يضل فلن تجد لهم اولياء من دونه ۚ ونحشرهم

يضل	فلن تجد لهم	اولياء	من دونه	ونحشرهم
ګمراه کړي (الله)	نو له سره به پیدا نه کړې ته دوی لره	نور دوستان	بې له دغه	او راجمع به کړو دوی لره

ګمراه کړي (الله) نو له سره به نه مومې (پیدا نه کړې) ته دوی لره نور دوستان بې له دغه، او راجمع به کړو (موږ) دوی لره

يوم القيمة على وجوههم عميا وبكما وصما ۖ ماوىهم

يوم	القيمة	على	وجوههم	عميا	وبكما	وصما	ماوىهم
په ورځ	دقیامت کښې	پر	مخونو خپلو	چې ړانده	او ګونګیان به وی	او کاڼه به وی	ځای د دوی به

په ورځ د قیامت کښې (نسکور تلونکی) پر مخونو خپلو چې ړانده او ګونګیان به وی او کاڼه به وی ځای د دوی به

جهنم ۖ كلما خبت زدنهم سعيرا (٩٧) ذلك جزاؤهم بانهم

جهنم	كلما	خبت	زدنهم	سعيرا	ذلك	جزاؤهم	بانهم
دوزخ وی	هرکله چې	قراری سی	زیات به کړو دوی ته	تیز اور	دا	جزاء د دوی ده	په سبب د دی چې بیشکه! دوی

دوزخ وی، هرکله چې غلې سی (لمبې د دوزخ) زیات به کړو دوی ته تیز اور. داجزاء د دوی ده په سبب ددی چې بیشکه دوی

كفروا بايتنا وقالوا ءاذا كنا عظاما ورفاتا ءانا

كفروا	بايتنا	وقالوا	ءاذا	كنا	عظاما	ورفاتا	ءانا
کافران سوی وو	په آیتونو زموږ	او ویل به دوی	آیا کله چې	سو موږ	هډوکی	او خاوری ریژیدلی	آیا موږ به

کافران سوی وو په آیتونو زموږ او ویل به دوی آیا کله چې سو موږ هډوکی او خاوری ریژیدلی آیا موږ به

لمبعوثون خلقا جديدا (٩٨) اولم يروا ان الله الذي

لمبعوثون	خلقا	جديدا	اولم يروا	ان	الله الذي
خامخا بیا پورته کاوه سو	په پیدا ئینت	نوی سره	آیا نه ګوری دوی	چې بیشکه!	هغه الله چې ئې

خامخا بیا پورته کاوه سو په پیدا ئینت نوی سره. آیا نه ګوری دوی چې بیشکه! هغه الله چې (په خپل کامل قدرت سره) ئې

خلق السموت والارض قادر على ان يخلق مثلهم

خلق	السموت	والارض	قادر	على	ان يخلق	مثلهم
پیدا کړی دی	آسمانونه	او ځمکه	قادر دی	پر	دی چې پیدا کړی	په مثل د دوی

پیدا کړی دی آسمانونه او ځمکه (او ما بینهما) قادر دی پر دی چې پیدا کړی په مثل د دوی (نور ډیر)

ونحشرهم يوم القيمة على وجوههم.. کفار به الله ﷻ دقیامت په ورځ ړانده، ګونګیان، کاڼه، پړمخي روان کړي: په دغه آیت کې الله ﷻ فرمايي چې ما څوک پر لاري کی نو هغه پر لاري دی او څوک چې بيا بې لاري کړي نو بیا دالله ﷻ څخه ماسوا دی بل مددګار نه لري او دکفر په وجه به دوی دخدای ﷻ دمدد څخه هم بې برخي وي مطلب دادی چې تر څو پوري دخدای ﷻ دطرفه څخه کومک نه وي نو نه هدایت کیدای سي او نه هم دعذاب څخه نجات کیدای سي او الله ﷻ فرمايي چې موږ به دقیامت په ورځ دوی ړانده، ګونګیان، کاڼه، پړمخي روان کړو او ددوی ځای دوږخ دی او ددوی به داحال وي په دوږخ کي چي کله ددوږخ اور یو څه لږ کمزوری کړی سي دغه وخت به یې موږ ددوی دپاره نور هم تیز کړو او دا سزا دي کفارو ته په دې وجه ورکوو چې دوی په دنیا کي زموږ دایاتونو څخه برملا او علی الاعلان انکار کوي او نور خلګ به یې هم داسلام او دمسلمانانو ددښمنی طرف ته رابلله او خپله هم په دغه کار کي سرګرم وه.
(معارف القرآن ج٥پ١٥ص١٠١)

نصف

وَ جَعَلَ لَهُمۡ اَجَلًا لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ‌ؕ فَاَبَى الظّٰلِمُوۡنَ

الظّٰلِمُوۡنَ	فَاَبَى	فِيۡهِ	لَّا رَيۡبَ	اَجَلًا	لَهُمۡ	وَجَعَلَ
ظالمانو	نو منع راوړه	په هغه کښې	چې نشته هیڅ شک	یو اجل	دوی ته	او مقرر کړې ئې دی

او مقرر کړې ئې دی دوی ته یو اجل (نیټه) چې نشته هیڅ شک په هغه کښې نو منع راوړه (او ونه منله) ظالمانو (هیڅ شی)

اِلَّا كُفُوۡرًا ۝۹۹ قُلۡ لَّوۡ اَنۡتُمۡ تَمۡلِكُوۡنَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّىۡۤ اِذًا

اِذًا	رَبِّىۡۤ	رَحۡمَةِ	خَزَآئِنَ	تَمۡلِكُوۡنَ	اَنۡتُمۡ	لَّوۡ	قُلۡ	اِلَّا كُفُوۡرًا
نو په دغه وخت کښې	درب زما	درحمت	دخزانو	مالکان سئ	تاسی	که چیرې	ووایه	مگر ناشکرې

مگر ناشکرې. ووایه (ای محمده! دوی ته) که چیرې تاسی مالکان سئ دخزانو د رحمت د رب زما نو په دغه وخت کښې

لَّاَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ الۡاِنۡفَاقِ‌ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ قَتُوۡرًا ۝۱۰۰ ع

قَتُوۡرًا	الۡاِنۡسَانُ	وَكَانَ	الۡاِنۡفَاقِ	خَشۡيَةَ	لَّاَمۡسَكۡتُمۡ
زړه تنگی	انسان	او دی	دانفاق د لګولو	دېیرې	هرومرو منع به راوړئ

هرومرو منع به راوړئ (بخل به کوئ له صدقاتو) د بیرې د انفاق (کښې)، او دی انسان زړه تنگ (پخیل جمع کوونکی مال).

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى تِسۡعَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ فَسۡئَلۡ

فَسۡئَلۡ	بَيِّنٰتٍ	اٰيٰتٍۢ	تِسۡعَ	مُوۡسٰى	اٰتَيۡنَا	وَلَقَدۡ
نو پوښتنه وکړه	ښکاره	معجزې	نهه ۹	موسیٰ ته	ورکړې دی موږ	او البته په تحقیق

او البته په تحقیق ورکړې دی موږ موسیٰ ته نهه ۹ معجزې ښکاره نو پوښتنه وکړه (ای محمده! له علماؤ)

بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهٗ فِرۡعَوۡنُ اِنِّىۡ لَاَظُنُّكَ

لَاَظُنُّكَ	اِنِّىۡ	فِرۡعَوۡنُ	لَهٗ	فَقَالَ	اِذۡ جَآءَهُمۡ	بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ
گمان کوم پر تا	بیشکه! زه	فرعون	دغه (موسیٰ) ته	نو وویل	کله چې راغی (موسیٰ) دوی ته	دبنی اسرائیلو څخه

د بنی اسرائیلو څخه کله چې راغی (موسیٰ) دوی ته نو وویل دغه (موسیٰ) ته فرعون بیشکه! زه گمان کوم پر تا

يٰمُوۡسٰى مَسۡحُوۡرًا ۝۱۰۱ قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَاۤ اَنۡزَلَ هٰٓؤُلَۤاءِ

هٰٓؤُلَۤاءِ	مَاۤ اَنۡزَلَ	عَلِمۡتَ	لَقَدۡ	قَالَ	مَسۡحُوۡرًا	يٰمُوۡسٰى
دغه (نهه ۹ معجزې)	چې نه دی نازل کړې	پوهیږې ته	خامخا په تحقیق	وویل (موسیٰ)	دسحر کړې سوی	ای موسیٰ

ای موسیٰ دسحر کړې سوی. وویل (موسیٰ) خامخا په تحقیق پوهیږې (ته پخپل زړه) چې نه دی نازل کړې دغه (۹معجزې)

قُلۡ لَّوۡ اَنۡتُمۡ تَمۡلِكُوۡنَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ..کفار که دالله ﷻ دخزانو مالکان هم سي نو بخل به کوي او چاته به يي نه ورکوي: په دغه ايت كي الله ﷻ فرمايلي دي چي ای کفارو که تاسي خلگ دالله ﷻ دخزانو مالکان سی نو بخل به وکی او چاته به يي ورنه کی ددې بیرې څخه چي که چاته يي ورکړو نو ختم به سي که څه هم چي درب درحمت خزاني ختميدونکي نه دي مگر انسان په خپل طبيعت سره تنگ زړه او کم حوصله وي دی په فراخی سره وخلګو ته دورکړي حوصله نه لري.دلته درب درحمت دخزانو څخه دتفسير شريف علماوو دالله ﷻ دمال او دولت خزاني مراد اخيستي دي او ددي مناسبت بيا دتيرسره دادی چي دمکي کفارو ددي فرمايش کړی وو چي که ته واقعي حق نبي يي نو ته دمکي په دې وچ ريگستان کي ولې او نهرونه جاري کړه او په شنو باغونو يي بدل کړه لکه دشام ملک چي دی ددې جواب مخکي تير سوی دی چي تاسي ګواکي زه خدای منلی یم؟ چي دخدايي اختيارات مطالبه زما څخه کوی دا ډير لوی حماقت دی.
(معارف القرآن ج۵پ۱۵ص۱۰۲)

وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ۔قران کریم حق کلام دی او الله ﷻ په حقه سره نازل کړی دی: دحضرت صفوان بن عسال ﷺ څخه روایت دی دی فرمايي چي يو يهودي خپل ملګري ته وويل چي راځه ما دې نبي ته بوزه ملګري ورته وويل چي نبي مه ورته وايه که هغه خبرسي چي موږ هم دته نبي وايو نو دده به دخوشحالۍ څخه څلور سترګي سي يعني دفخر اوخوشحالۍ موقع به ورکړه سي بيا دادواړه دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او پوښتنه يي وکړه چي موسى عليه السلام ته کمي نهه ۹ داني معجزي ورکول سوي وي هغه څه دي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اول: داچي دالله ﷻ سره څوک مه شريکوی. دوهم: غلا مه کوی. دريم: زنا مه کوی. څلورم: دکم تن قتل چي الله ﷻ حرام کړی دی هغه مه وژنی. پنځم: پريو بي ګناه کس باندي د درواغو الزام مه لګوی. شپږم: جادو مه کوی. اووم: سود مه کوی. اتم: پرپاک لمني ښځي باندي دبدکاری تهمت مه لګوی. نهم: دجهاد دميدان څخه مه تښتی: پاته حديث شريف پرراروان مخ وګوری:

اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّیْ لَاَظُنُّكَ

لَاَظُنُّكَ	وَاِنِّیْ	بَصَآئِرَ	وَالْاَرْضِ	السَّمٰوٰتِ	رَبُّ	اِلَّا
خامخا ګمان کوم پر تا	او په تحقيق زه	معجزی ښکاره	او د مځکی	دآسمانونو	رب	مګر

مګر رب د آسمانونو او (رب) د مځکی معجزی ښکاره (چي هريوشي دلالت کوی پر نبوت زما)، او په تحقيق زه خامخا ګمان کوم پر تا

يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ﴿۱۰۲﴾ فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ

مِّنَ الْاَرْضِ	اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ	فَاَرَادَ	مَثْبُوْرًا	يٰفِرْعَوْنُ
له مځکی (دمصر)	ددی چي وښوروی او لری کړی دوی	نو ييئ اراده وکړه	دهلاک سوی	ای فرعونه

ای فرعونه دهلاک سوی. نو اراده وکړه (فرعون) د دی چي وخوځوی او آرام پرنږدی اولری کړی دوی له مځکی (دمصر)

فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ﴿۱۰۳﴾ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ

مِنْۢ بَعْدِهٖ	وَّقُلْنَا	جَمِيْعًا	مَّعَهٗ	وَمَنْ	فَاَغْرَقْنٰهُ
وروسته (دغرق) دفرعون	او وموويل	ټول	له ده سره وو	او هرهغه څوک چي	نو ډوب موکړ فرعون

نو ډوب موکړ فرعون او هرهغه څوک چي له ده سره وو ټول. او وموويل وروسته (د غرق) د فرعون

لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ

وَعْدُ الْاٰخِرَةِ	فَاِذَا جَآءَ	الْاَرْضَ	اسْكُنُوا	لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ
وعده دآخرت	نو کله چي راسی	په مځکه کښی	چي اوسئ تاسي	بني اسرائيلو ته

بنی اسرائيلو ته چي اوسئ تاسي (اوس په دی) مځکه (د مصر) کښی نو کله چي راسی وعده دآخرت (يعني قيامت)

جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ﴿۱۰۴﴾ وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ

اَنْزَلْنٰهُ	وَبِالْحَقِّ	لَفِيْفًا	جِئْنَا بِكُمْ
نازل کړی مو دی دغه (قرآن)	او په حقه سره	ګډوډ	نو به راولو تاسي

نو به راولو تاسي (سبطيان او قبطيان په محشر کښی حساب ته يو ځای) ګډوډ. او په حقه سره نازل کړی مو دی دغه (قرآن)

وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۱۰۵﴾ وَقُرْاٰنًا

وَقُرْاٰنًا	وَّنَذِيْرًا	مُبَشِّرًا	اِلَّا	اَرْسَلْنٰكَ	وَمَآ	نَزَلَ	وَبِالْحَقِّ
او قرآن	او ييرووونکی	زيری ورکوونکی	مګر	ليږلی موږ ته	او نه ئی	نازل سوی دی	او په حقه سره

او په حقه سره نازل سوی دی، او نه ئی ليږلی موږ ته (ای محمده!) مګر زيری ورکوونکی او ييرووونکی. او قرآن

فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ

فَرَقْنٰهُ	لِتَقْرَاَهٗ	عَلَى النَّاسِ	عَلٰى	مُكْثٍ	وَّنَزَّلْنٰهُ
نازل کړی دی موږ هغه ټوټه ټوټه	لپاره د دې چې ووايې ته دغه	په خلکو باندې	په	آرام سره	او نازل کړی دی موږ دغه قرآن

نازل کړی دی موږ هغه ټوټه ټوټه لپاره د دې چې ولولې ته دغه (قرآن) په خلکو باندې په آرام سره او نازل کړی دی موږ دغه قرآن

تَنْزِيْلًا ﴿١٠٦﴾ قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ

تَنْزِيْلًا	قُلْ	اٰمِنُوْا	بِهٖٓ	اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا	اِنَّ	الَّذِيْنَ
په نازلولو سره	ووایه (محمده)	چې ایمان راوړئ	په دې قرآن	یا ایمان مه راوړئ	بیشکه!	هغه کسان چې

په نازلولو سره. ووایه (ای محمده!) چې ایمان راوړئ په دې قرآن یا ایمان مه راوړئ بیشکه! هغه کسان چې

اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ

اُوْتُوْا	الْعِلْمَ	مِنْ قَبْلِهٖٓ	اِذَا يُتْلٰى	عَلَيْهِمْ	يَخِرُّوْنَ
ورکړی سوی دی دوی ته	علم	پخوا له دغه (قرآنه)	کله چې ولوستی سي	پر دوی (دغه قرآن)	نسکور پرېوځی دوی

ورکړی سوی دی دوی ته علم پخوا له دغه (قرآن) کله چې ولوستی سي پر دوی (دغه قرآن) نسکور پرېوځی دوی (پرمخکه)

لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا

لِلْاَذْقَانِ	سُجَّدًا	وَّيَقُوْلُوْنَ	سُبْحٰنَ	رَبِّنَآ	اِنْ كَانَ	وَعْدُ	رَبِّنَا
په زنو (خپلو)	چې سجده کوونکی وی	او وائی دوی	پاکی ده	رب زموږ ته	په تحقیق سره ده	وعده	د رب زموږ

په زنو (خپلو) په دې حال چې سجده کوونکی وی. او وائی دوی پاکی ده رب زموږ ته په تحقیق سره ده وعده د رب زموږ

لَمَفْعُوْلًا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ﴿١٠٩﴾ السجدة

لَمَفْعُوْلًا	وَيَخِرُّوْنَ	لِلْاَذْقَانِ	يَبْكُوْنَ	وَيَزِيْدُهُمْ	خُشُوْعًا
خامخا کېدونکی	او نسکور پرېوځی دوی	پر زنو خپلو	چې ژاړی دوی	او زیاتوی دوی ته	عاجزی

خامخا کېدونکی. او نسکور پرېوځی دوی (پرمخکه) په وچولو (تندو) خپلو چې ژاړی دوی او زیاتوی دوی ته عاجزی.

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ

قُلِ	ادْعُوا	اللّٰهَ	اَوِ ادْعُوا	الرَّحْمٰنَ	اَيًّا مَّا	تَدْعُوْا	فَلَهُ
ووایه (محمده)	وبولئ تاسی	الله	یا وبولئ تاسی	رحمٰن	په هر یو نوم ئی	چې وبولئ	نو ده لره دی

ووایه (ای محمده!) وبولئ تاسی الله یا وبولئ تاسی رحمٰن، په هر یو نوم ئی چې وبولئ نو ده لره دی

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ..

دتیر مخ پاته حدیث شریف دلته وګوری:

اوای یهودو خاص بیا ستاسي دپاره دا حکم دی چي دشنبې دورځي کم خاص احکام چي یي تاسي ته درکړي دي دهغه خلاف ورزي مه کوی کله چي دوی دنبي کریم ﷺ څخه داخبري واوریدې نو دواړو دنبي کریم ﷺ لاسونه او پښي مچ کړل او وې ویل چي موږ شاهدي ورکوو چي ته دالله ﷻ نبي يي دوی ﷺ ورته وفرمایل بیا تاسي زما دتابعداری کولو څخه کم شی منع کوي؟ هغوی وویل چي حضرت داوود علیه السلام دخپل رب څخه دادعا کړې وه چي دده په اولاد کي دي همیشه نبي وي او موږ بیریږو چي که موږ ستا تابعداري وکونو یهود به موږ قتل کړي :: مخ ته الله ﷻ فرمایي چي (یبکون ویزیدهم خشوعا) په تفسیر مظهري کي لیکلي دي چي دقرآن کریم دتلاوت په وخت کي ژړل مستحب کار دی: او بې دغه هم دالله ﷻ په دربار کي ژړا کول دبزرګانو او اکابرینو معروفه او یوه نیکه طریقه راغلې ده چي انسان خپل ځان دژړا عادي جوړ کړي الخ.

(معرف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۰۶)

السجدة ۴

الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا

اَلْاَسْمَآءُ	الْحُسْنٰى	وَلَا تَجْهَرْ	بِصَلَاتِكَ	وَلَا تُخَافِتْ	بِهَا
نومونه	ډیر ښه	او ډیر ظاهروالی مه کوه	په لمانځه خپل کښې	او مکوه ډیر نرموالی	په هغه کښې

نومونه ډیر ښه ، او ډیر ظاهروالی مه کوه په (قرائت د) لمانځه خپل کښې او مکوه ډیر نرموالی په هغه (قرائت) کښې

وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿۱۱۰﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ

وَابْتَغِ	بَيْنَ	ذٰلِكَ	سَبِيْلًا	وَقُلِ	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ الَّذِيْ
او ولټوه	په مینځ	د دغه کښې	یو لاره	و وایه (محمده!)	چې ټوله ثناء صفت	هغه الله لره دی چې

او ولټوه په مینځ د دغه (جهر او اخفاء) کښې یو لاره (متوسطه). و وایه (محمده!) چې ټوله ثنا صفت هغه الله لره دی چې

لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ

لَمْ يَتَّخِذْ	وَلَدًا	وَّلَمْ يَكُنْ	لَّهٗ	شَرِيْكٌ	فِي الْمُلْكِ	وَلَمْ يَكُنْ
نه یئ دی نیولی څوک	ولد	او نسته	ده ته	شریک	په ملک (سلطنت) کښې	او نسته

نه ئی دی نیولی څوک ولد او نسته ده ته شریک په ملک (سلطنت) کښې او نسته

لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿۱۱۱﴾

لَّهٗ	وَلِيٌّ	مِّنَ الذُّلِّ	وَكَبِّرْهُ	تَكْبِيْرًا
ده ته	څوک دوست	له جهته د عاجزی	او نسبت د لوئی وکړه الله ته	په لوییځ کاملی سره

ده ته څوک دوست له جهته د عاجزی او نسبت د لوئی وکړه الله ته (هر وخت) په لوییځ کاملی سره.

اٰیاتونه ۱۱۰ — ۱۸ سُوْرَةُ الْكَهْفِ مَكِّيَّةٌ ۶۹ — ۱۲ رکوعي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ	عَلٰى	عَبْدِهِ	الْكِتٰبَ	وَلَمْ يَجْعَلْ
هره ثناء صفت	خاص الله لره دی	هغه (الله)	چې نازل کړی یئ دی	پر	بنده خپل	کتاب	حال دا چې نه ئی دی گرځولی

هره ثناء صفت خاص الله لره دی هغه (الله) چې نازل کړی دی پر بنده خپل (محمد) کتاب (قرآن) حال دا چې نه ئی دی گرځولی

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا... دسورت بني اسرائيل داخري اياتونو دنـزول اسباب: ددغه آخري اياتونو نزول د څو واقعو پر بنا باندي سوی دی. اول دا چي نبي کريم ﷺ يو واري په دعا کي کي يا الله، يا رحمن وويل نو مشرکينو داسي وګڼله چي دی څو دوه خدايان رابولي او وي ويل چي موږ ته خو وايي چي ديو خدای څخه ماسوا نور مه رابولي او په خپله دوه معبودان رابولي ددې جواب ددغه آيت په اولني حصه کي ورکړه سوی دی چي دالله ﷻ ددې څخه ماسوا نور هم ښه ښه نومونه دي په هر يو ښه نوم چي بلل کيږي مراد هم دغه يو خدای دی ستاسي وهم غلط دی: دوهمه قصه دا ده چي کله په مکه مکرمه کي نبي کريم ﷺ په لمانځه کي په لوړ اواز سره تلاوت د قرآن پاک وفرمايه نو مشرکينو به مسخري کولي او د قرآن کريم او د جبرائيل امين او خپله د خدای ﷻ په حق کي به يي بي باکه خبري کولي ددې په جواب کي ددغه ايت آخري حصه نازله سول چي د درميانه اوزا تلاوت تلقين يي ونبي کريم ﷺ ته ورکی. (معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۰۸)

ع ۱۲ / ۱۲

لَّهٗ عِوَجًا ۞١ قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيْدًا

لَّهٗ	عِوَجًا	قَيِّمًا	لِّيُنْذِرَ	بَأْسًا	شَدِيْدًا
په دی قرآن کښی	هیڅ کوږوالی	حال داچی سم برابر دی	دپاره د دی چی ویږوی	دعذابه	سخته

په دی قرآن کښی هیڅ کوږوالی. حال داچی سم برابر دی دپاره د دی چی ویږوی (محمد په دی سره کفار) د عذابه سخته

مِنْ لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ

مِنْ لَّدُنْهُ	وَيُبَشِّرَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	الَّذِيْنَ	يَعْمَلُوْنَ	الصّٰلِحٰتِ	اَنَّ	لَهُمْ
له جانبه د الله	او زیری ورکړی	مؤمنانو ته	هغو ته	چی کړی دی دوی	ښه (عملونه)	چی بیشکه!	سته دوی ته

له جانبه د الله. او زیری ورکړی (محمد) مؤمنانو ته هغو ته چی کړی دی دوی ښه (عملونه) چی بیشکه! سته دوی ته

اَجْرًا حَسَنًا ۞٢ مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۞٣ وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ

اَجْرًا	حَسَنًا	مَّاكِثِيْنَ	فِيْهِ	اَبَدًا	وَّيُنْذِرَ	الَّذِيْنَ
اجر	ښه	حال داچی اوسیدونکی به وی	په هغه (جنت کښی)	تل ترتله	او چی ویږوی	هغه کسان چی

اجر ښه (چی جنت دی)، حال داچی اوسیدونکی به وی په هغه (جنت کښی) تل ترتله. او چی ویږوی هغه کسان چی

قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۞٤ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ

قَالُوا	اتَّخَذَ	اللّٰهُ	وَلَدًا	مَا لَهُمْ	بِهٖ	مِنْ عِلْمٍ
وایی	نیولی دی	الله	ولد	نشته دوی ته	په دی خبره کښی	هیڅ علم

وایی (له ډیره جهله) نیولی دی الله ولد. نشته دوی ته په دی خبره کښی هیڅ علم (بلکه هسی له خپله وهمه وائی)

وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ۗ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۗ

وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ	كَبُرَتْ	كَلِمَةً	تَخْرُجُ	مِنْ اَفْوَاهِهِمْ
او نه پلرونو د دوی ته	لویه ده	هغه خبره	چی راووځی	له خولی د دوی څخه

او نه پلرونو د دوی ته (څه علم سته)، لویه ده هغه خبره (د دوی) چی راووځی له خولی د دوی څخه،

اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۞٥ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى

اِنْ يَّقُوْلُوْنَ	اِلَّا	كَذِبًا	فَلَعَلَّكَ	بَاخِعٌ	نَّفْسَكَ	عَلٰٓى
نه وائی دوی	مګر	دروغ (ډیرغټ)	نو ښائی چی ته	قتل کوی	نفس خپل	پر

نه وائی دوی مګر دروغ (ډیرغټ). نو ښائی چی ته قتل کوی نفس خپل پر

قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيْدًا! مِّنْ لَّدُنْهُ.. دسورت کهف خصوصیات او فضیلتونه

دحضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روایت دی چي کم سړي د سورت کهف اولني لس ایاتونه یاد کړل دی به د دجال د فتنې څخه محفوظ وي: دحضرت سهیل بن معاذ رضی الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي کم سړي د سورت کهف اولني او آخري ایاتونه ووایي نو دده دپاره به دده دقدمونو څخه تر سره پوري نُور سي او څوک چي ټول سورت ووایي نو دده دپاره به دمځکي څخه تر آسمانه پوري نُور سي. او په ځینو روایتونو کي دي چي کم سړی دجمعي په ورځ د سورت کهف تلاوت وکی دده دقدمونو څخه تر آسمانه پوري به نُور سي کم چي دقیامت په ورځ به دده رڼا ورکوي او دتیري جمعي څخه تر دې جمعي پوري به دده ټول ګناهونه معاف سي. او په بل حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي کم سړی دجمعي په ورځ سورت کهف ووایي هغه به تر اتو ورځو پوري د هري فتني څخه وساتل سي حتی د دجال څخه هم.
(معارف القرآن ج۵پ۱۵ص۱۱۳)

اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَسَفًا ⑥

اٰثَارِهِمْ	اِنْ	لَّمْ يُؤْمِنُوْا	بِهٰذَا	الْحَدِيْثِ	اَسَفًا
وروستو د دوی	که	رانه وړی (دوی) ایمان	په دی	خبره	له ډیره غمه

وروستو (دګرځیدو) د دوی (له تاته) که رانه وړی (دوی) ایمان په دی خبره (قرآن، نو ته ځان وژنی) له ډیره غمه .

اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ

اِنَّا	جَعَلْنَا	مَا عَلَى	الْاَرْضِ	زِيْنَةً	لَّهَا	لِنَبْلُوَهُمْ
بیشکه! موږ	ګرځولی مو دی	هر هغه شی چی دی پر	مځکه	زینت	دپاره د دی	لپاره د دی چی ازموینه وکړو پر دوی

بیشکه! موږ ګرځولی مودی هر هغه شی چی دی پر مځکه زینت دپاره د دی (مځکی) لپاره د دی چی ازموینه وکړو پر دوی

اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ⑦ وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا

اَيُّهُمْ	اَحْسَنُ	عَمَلًا	وَاِنَّا	لَجٰعِلُوْنَ	مَا عَلَيْهَا
چی کوم یو له دوی څخه	ډیر غوره دی	له جهته د عمل	او بیشکه! چی موږ	خامخا ګرځوونکی یو	د هر هغه شی چی پر دغه مځکه دی

چی کوم یو له دوی څخه ډیر غوره دی له جهته د عمل. او بیشکه! چی موږ خامخا ګرځوونکی یو د هرهغه شی چی پر دغه

صَعِيْدًا جُرُزًا ⑧ اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيْمِ كَانُوْا

صَعِيْدًا	جُرُزًا	اَمْ حَسِبْتَ	اَنَّ	اَصْحٰبَ	الْكَهْفِ	وَالرَّقِيْمِ	كَانُوْا
ډاګ (میدان)	وچ کلک	آیا ګمان کوی ته	د دی خبری چی	صاحبان	دغار	او دتختی	وو دوی

(مځکه دی) ډاګ (میدان) وچ کلک. آیا ګمان کوی ته (محمده!) د دی خبری چی صاحبان د غار او دتختی وو دوی له

مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ⑨ اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ اِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا

مِنْ اٰيٰتِنَا	عَجَبًا	اِذْ اَوَى	الْفِتْيَةُ	اِلَى الْكَهْفِ	فَقَالُوْا
له دلائلو د (قدرت) زموږ	ډیر عجیبه	یاد کړه هغه وخت چی رجوع وکړه هغو	ځوانانو	غارته	نو وویل دوی

دلائلو د (قدرت) زموږ ډیر عجیبه. یاد کړه هغه وخت چی رجوع وکړه هغو ځوانانو (د بیری دکفارو) غارته نو وویل دوی

رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ⑩

رَبَّنَآ	اٰتِنَا	مِنْ لَّدُنْكَ	رَحْمَةً	وَّهَيِّئْ	لَنَا	مِنْ اَمْرِنَا	رَشَدًا
ای ربه زموږ	راکړه موږته	له خپله نزده	رحمت	او تیار کړه	موږته	له دی کاره زموږ	هدایت

ای ربه زموږ راکړه موږته له خپله نزده رحمت (چی پری پټ سو له غلیمه ، دښمنه) او تیار کړه موږته له دی کاره زموږ هدایت.

اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا... په مځکي کي کم مخلوقات چي دي دمځکي دپاره زينت دی:

په دغه آيت کي الله جل جلاله فرمايي چي په مځکه کي چي کم مخلوقات ،حيوانات ، نباتات ، جمادات ، اودمځکي دننه دمختلفو شيانو کانونه موجود دي هغه ټول دمځکي دپاره ښايست او رونق جوړ سوی دی : پر دې داشبه نه سي کيدلای چي دمځکي په مخلوقاتو کي خو مار ، لړم ، درنده ، حيوان ، او ډير مضر او مهلک شيان هم سته: دوی ته دمځکي ښايست او رونق څنګه ويل کيږي ؟ جواب دادی چي څومره شيان په دنيا کي مضر او مهلک او خراب ګڼل کيږي دغه په يواعتبار سره بيشکه چي خراب دي مګر دمجموعه عالم په اعتبار سره يو شی هم خراب نه دی ځکه چي دهر بد څخه په بد شی کي هم په نورو حيثيتونو سره ډيري فائدې الله جل جلاله ايښي دي ايا دزهري حيواناتو او درندګانو څخه په زرګونو انساني ضرورتونه علاجونه وغيره نه پوره کيږي ؟ په دې وجه چي کم شيان په يوه حيثيت سره بدهم وي ليکن دمجموعه عالم دکارخانې په اعتبار سره هيڅ شی نه دی بد.

معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص١١٦

ع ۲ ۱۴

فضربنا علی اذانهم فی الکهف سنین عددا ⑪ ثم

فضربنا	علی اذانهم	فی الکهف	سنین	عددا	ثم
او کښېښوده موږ	پرغوږو د دوی	په غار کښې	څو کاله	په شمیر	بیا

او کښېښوده موږ (پرده) پر غوږو د دوی (چې هیڅ غږئی نه اورېده او ویده پراته وو) په غار کښې څو کاله په شمیر. بیا

بعثنهم لنعلم ای الحزبین احصی لما لبثوا امدا ⑫

بعثنهم	لنعلم	ای الحزبین	احصی	لما	لبثوا	امدا
راپورته کړل موږ دوی	دپاره د دې چې	کومه یوه له دغو دواړو ډلو	حساب کوونکی ده	دهغه	چې پاته سوي وه دوی	څه موده

راپورته کړل موږ دوی دپاره د دې چې کومه یوه له دغو دواړو ډلو ښه حساب کوونکی ده هغه چې دوی څه مدت تیر کړی.

نحن نقص علیک نباهم بالحق انهم فتیة امنوا

نحن	نقص	علیک	نباهم	بالحق	انهم	فتیة	امنوا
موږ	قصه کوو	تاته	خبر حال د دوی	په حقه سره	بیشکه! دوی	داسې ځوانان دي	چې ایمان یې لری

موږ قصه کوو تاته (مفصلاً) خبر حال د دوی په حقه (ربښتیا) سره، بیشکه! دوی داسې ځوانان دي چې ایمان یې لری

بربهم وزدنهم هدی ⑬ وربطنا علی قلوبهم اذ

بربهم	وزدنهم	هدی	وربطنا	علی	قلوبهم	اذ
په رب خپل	او زیات کړې ؤ موږ دوی	له جهته د هدایته	او ټینګ تړلی دی موږ	پر	زړونو د دوی (قوت او صبر)	کله چې

په رب خپل او زیات کړې ؤ موږ دوی له جهته د هدایته. او ټینګ تړلی دی موږ پر زړونو د دوی (قوت او صبر) کله چې

قاموا فقالوا ربنا رب السموت والارض

قاموا	فقالوا	ربنا	رب	السموت	والارض
ولاړېدل	نو وویل دوی	رب زموږ	رب	د آسمانونو	او (رب) د ځمکی دی

پاڅېدل (پس له مامورېدلو د کفر په سجدې سره) نو وویل دوی رب زموږ رب د آسمانونو او (رب) د ځمکی دی

لن ندعوا من دونه الها لقد قلنا اذا شططا ⑭

لن ندعوا	من دونه	الها	لقد	قلنا	اذا شططا
له سره به عبادت و نه کړو	بې له هغه الله	د بل معبود	خامخا په تحقیق	ویلې به وی موږ	په دغه وخت کې خبره لویه دروغه

له سره به عبادت و نه کړو بې له هغه الله د بل معبود خامخا په تحقیق ویلې به وی موږ هلته خبره خطا لویه دروغه.

فضربنا علی اذانهم فی الکهف سنین. **داصحاب کهف او رقیم قصه**: په دې قصه کې څو بحثونه دي: اول دا چې اصحاب کهف او اصحاب رقیم دیوه جماعت نومونه دي یا دا چې جلا جلا جماعتونه دي که څه هم په څه صحیح حدیث کې دې هیڅ وضاحت نسته مګر امام بخاري رحمة الله علیه په خپل کتاب صحیح بخاري کې د اصحاب کهف او اصحاب الرقیم دوه جلا جلا ترجمة البابه بیان کړي دي بیا یې تر اصحاب الرقیم لاندې هغه مشهوره قصه د درېو سړیو ذکر کړېده چې په غار کې بند سول او بیا د دعاګانو په وجه سره خلاص سول کمه چې د حدیثو په ټولو کتابونو کې ذکر سوې ده په تفصیل سره: د امام بخاري رحمة الله علیه د دغه قسم کار کولو څخه دا ګښل کېږي چې د ده په نزد اصحاب الکهف جلا جماعت دی او اصحاب الرقیم یې هغو دروکسانو ته ویلي دي کم چې په یوه زمانه کې په غار کې پټ سوي وه بیا د غره یو لوی پاڼ د دې غار پر خُله باندې راولویدی چې غار بالکل بند سو د دوی د وتو لاره بنده سوه او بیا په دعاوو را خلاص سول: (معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۱۸)

هٰۤؤُلَآءِ قَوۡمُنَا اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ لَوۡلَا یَاۡتُوۡنَ عَلَیۡهِمۡ

هٰۤؤُلَآءِ	قَوۡمُنَا	اتَّخَذُوۡا	مِنۡ دُوۡنِهٖۤ	اٰلِهَةً	لَوۡلَا یَاۡتُوۡنَ	عَلَیۡهِمۡ
داکسان	قوم زموږ دی	نیولی دی دوی	بی له الله	معبودان	ولی نه راوړی دوی	پر هغوی

داکسان قوم زموږ نیولی دی دوی بی له الله (نور باطل) معبودان، ولی نه راوړی دوی په (عبادت دباطلو معبودانو)

بِسُلۡطٰنٍۭ بَیِّنٍ ؕ فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا ﴿۱۵﴾

بِسُلۡطٰنٍۭ	بَیِّنٍ	فَمَنۡ	اَظۡلَمُ	مِمَّنِ	افۡتَرٰی	عَلَی	اللّٰهِ	کَذِبًا
کوم برهان سند	ښکاره	نو څوک دی	ډیر ظالم	له هغه چا څخه	چی تړی	پر	الله	دروغ

کوم برهان سند ښکاره، نو څوک دی ډیر ظالم له هغه چا څخه چی تړی پر الله دروغ (چی شریکان ورته دروی).

وَاِذِ اعۡتَزَلۡتُمُوۡهُمۡ وَمَا یَعۡبُدُوۡنَ اِلَّا اللّٰهَ فَاۡوٗۤا

وَاِذِ	اعۡتَزَلۡتُمُوۡهُمۡ	وَمَا یَعۡبُدُوۡنَ	اِلَّا	اللّٰهَ	فَاۡوٗۤا
او کله چی	په څنګ سوئ تاسی له دغو مشرکانو	او له هغو چی عبادت ئی کوی دوی	بی له	الله	نو ځای ونیسئ تاسی

او کله چی په څنګ سوئ تاسی له دغو مشرکانو او له هغو (بتانو) چی عبادت ئی کوی دوی بی له الله نو ځای ونیسئ تاسی

اِلَی الۡکَهۡفِ یَنۡشُرۡ لَکُمۡ رَبُّکُمۡ مِّنۡ رَّحۡمَتِهٖ وَیُهَیِّئۡ لَکُمۡ

اِلَی الۡکَهۡفِ	یَنۡشُرۡ لَکُمۡ	رَبُّکُمۡ	مِّنۡ	رَّحۡمَتِهٖ	وَیُهَیِّئۡ	لَکُمۡ
هغه غارته	هوار به کړی تاسی ته	رب د تاسی	له	رحمته خپل	او تیار به کړی	تاسی ته

هغه غارته (او دیره سئ پکښی) خپور به کړی تاسی ته رب د تاسی له رحمته خپل او تیار به کړی تاسی ته

مِّنۡ اَمۡرِکُمۡ مِّرۡفَقًا ﴿۱۶﴾ وَتَرَی الشَّمۡسَ اِذَا طَلَعَتۡ

مِّنۡ	اَمۡرِکُمۡ	مِّرۡفَقًا	وَتَرَی	الشَّمۡسَ	اِذَا	طَلَعَتۡ
له	کار ستاسی	اسباب د ګزران	او وینی به ته	لمر	کله چی	راخیژی

له کار ستاسی اسباب دګزران (او خوشحالئ). او وینی به ته لمر کله چی راخیژی

تَّزٰوَرُ عَنۡ کَهۡفِهِمۡ ذَاتَ الۡیَمِیۡنِ وَاِذَا غَرَبَتۡ

تَّزٰوَرُ	عَنۡ	کَهۡفِهِمۡ	ذَاتَ الۡیَمِیۡنِ	وَاِذَا	غَرَبَتۡ
نو میلان کوی	له	غاره د دوی	ښی طرف ته	او کله چی	لویږی

نو میلان کوی له غاره د دوی ښی طرف ته او کله چی لویږی

لَـوۡلَا یَاۡتُوۡنَ عَلَـیۡهِمۡ بِسُلۡطٰنٍۭ بَیِّنٍ. الله ﷻ په قران کریم کي داصحاب کهفو قصه صحیح صحیح بیان کړې ده: دسورت الکهف ددیارلسم ایت څخه الله ﷻ دااعلان کړی دی چي ای محمدِ عربي ﷺ موږ دا وقعه تاته صحیح صحیح بیانوو اوپه دي کي اشاره وکړه دې طرف ته چسي ددې خلاف هر څه چي په دنیا کي مشهوره دی هغه صحیح نه دي هغه خلګ اصحاب کهف یو څو ځوانان وه کمو چي په خپل رب دهغه زماني ددين عیسوي مطابق ایمان راوړی وو او موږ بیا د دوی په هدایت کي نوره ترقي ورکړه چي هغه دایمان صفتونه، او ثابت قدمي، پر بلاګانو باندي صبر، ددنیا څخه مخ اړول، دآخرت فکر وغیره مو هم ورته ورکړل دایمان او هدایت په دي صفتونو کي یوه خبره همداوه چي موږ ددوی زړونه مضبوط کړل او کله چي دوی پاخه سول په خپل مینځ کي یا دمخالف باچا په مخکي نو یي دمخالف باچا په مخکي وویل چي زموږ رب خو هغه دی کم چي دآسمانونو او مځکي رب دی نو موږ هغه رب نه پریږدو چي دبل عبادت وکړو الخ:
(معارف القرآن ج۵پ۱۵ص۱۳۱)

تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمۡ فِيۡ فَجۡوَةٍ مِّنۡهُ ؕ ذٰلِكَ مِنۡ اٰيٰتِ

تَّقۡرِضُهُمۡ	ذَاتَ الشِّمَالِ	وَهُمۡ	فِيۡ فَجۡوَةٍ	مِّنۡهُ	ذٰلِكَ	مِنۡ اٰيٰتِ
نو پرېږدي دوی	چپه طرف ته	او دوی	په پراخه میدان کښې دي	له دې غاره	دغه	له دلائلو (دقدرت)

نو پرېږدي دوی کیڼ طرف ته او دوی په پراخ میدان کښې دي له دې غاره، دغه (مذکوره احوال د دوی) له دلائلو (دقدرت)

اللّٰهِ ؕ مَنۡ يَّهۡدِ اللّٰهُ فَهُوَ الۡمُهۡتَدِ ۚ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡ

اللّٰهِ	مَنۡ يَّهۡدِ	اللّٰهُ	فَهُوَ	الۡمُهۡتَدِ	وَمَنۡ يُّضۡلِلۡ
دالله دي	هر څوک چي لاره وښيئ ده ته	الله	نو هغه دي	دسمي لاري پیدا کوونکی	او هر څوک چي ګمراه ئې کړي (الله)

دالله دي. هر چاچي سمه صافه لاره وروښوده الله نو همغه دي دسمي صافي لاري پیدا کوونکی او هر څوک چي ګمراه ئې کړي

فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرۡشِدًا ۞ ﴿۱۷﴾ وَتَحۡسَبُهُمۡ اَيۡقَاظًا وَّهُمۡ

فَلَنۡ تَجِدَ	لَهٗ	وَلِيًّا	مُّرۡشِدًا	وَتَحۡسَبُهُمۡ	اَيۡقَاظًا	وَّهُمۡ
نو له سره به پیدا نه کړې ته	ده ته	کوم ولي دوست	لار ښوونکی	او ته به ګمان کوې	په دوی چي وینښ دي	حال داچي دوی

(الله) نو له سره به پیدا نه کړې ته ده ته کوم ولي دوست لار ښوونکی. او ته به ګمان کوې په دوی چي وینښ دي حال داچي دوی

رُقُوۡدٌ ۖ ۗ وَّنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ الۡيَمِيۡنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ وَكَلۡبُهُمۡ

رُقُوۡدٌ	وَّنُقَلِّبُهُمۡ	ذَاتَ الۡيَمِيۡنِ	وَذَاتَ الشِّمَالِ	وَكَلۡبُهُمۡ
بیده دي	او اړوو دوی	په راسته اړخ	او چپه اړخ	او سپی د دوی

بیده دي او اړوو دوی موږ (د ملائیکو په وسیله) په ښي اړخ او کیڼ اړخ او سپی د دوی

بَاسِطٌ ذِرَاعَيۡهِ بِالۡوَصِيۡدِ ؕ لَوِ اطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ

بَاسِطٌ	ذِرَاعَيۡهِ	بِالۡوَصِيۡدِ	لَوِ اطَّلَعۡتَ	عَلَيۡهِمۡ	لَوَلَّيۡتَ
غځوونکی دي	د دواړو څنګلو خپلو	په خولي دغار کښي	که وروړته سی ته	دوی ته	خامخا مخ به وګرځوی ته

غځوونکی دي د دواړو څنګلو خپلو په خولي دغار کښي، که ورپورته سی ته دوی ته، خامخا مخ به وګرځوی ته

مِنۡهُمۡ فِرَارًا وَّلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبًا ﴿۱۸﴾ وَكَذٰلِكَ

مِنۡهُمۡ	فِرَارًا	وَّلَمُلِئۡتَ	مِنۡهُمۡ	رُعۡبًا	وَكَذٰلِكَ
له دوی څخه	په تیښته	او خامخا ډک به کړی سی ته	له دوی څخه	له بیری	او همداسی

له دوی څخه په تیښته او خامخا ډک به کړی سی ته له دوی څخه له بیری. او همداسی (لکه بیده کړی وو موږ دوی)

وَتَحۡسَبُهُمۡ اَيۡقَاظًا وَّهُمۡ رُقُوۡدٌ ۖ ۗ وَّنُقَلِّبُهُمۡ..

اصحاب کهف داوږد خوب په زمانه کي پر داسي حالت وه چي لیدونکي یي بیداره ګڼي

داصحاب کهفو یو حالت الله ﷻ داښوولی دی چي پر اصحابو کهف ددومره اوږدي زماني پوري دخوب مسلط کولو باوجود ددوی پر بدنونو دخوب نښانې نه وې بلکي داسي ګڼي چي دوی ویښ دي: عام مفسرین رحمة الله علیهم فرمایي چي ددوی سترګي غړیدې او پر بدن یي دخوب سستوالی نه وو په سا اخیستو کي چي کم دخوب په وجه بدلون وي هغه نه وو په کښې: ښکاره خبره داده چي دا حالت هم غیر معمولي اویو قسم کرامت ووچي په ښکاره ددوی دحفاظت حکمت په کښي وو چي څوک یي بیده ونه ګڼي او حمله باندي ونه کي یا کم اسباب چي ددوی سره وه دغه ورڅخه پټ نه کړي اوداړخ په بدلولو سره به هم لیدونکو بیدارو باندي خیال کوی اودا مصلحت په کښي هم وو چي خاوره یي اړخ ونه خوري: که غواړی چي داصحابو کهف واقعه په تفصیل سره وګوری نو تفسیر معارف القرآن ته رجوع وکړی

معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۳۴)

ع ۲/۱۴

بَعَثۡنٰهُمۡ لِيَتَسَآءَلُوۡا بَيۡنَهُمۡ ؕ قَالَ قَآئِلٌ مِّنۡهُمۡ

بَعَثۡنٰهُمۡ	لِيَتَسَآءَلُوۡا	بَيۡنَهُمۡ	قَالَ	قَآئِلٌ	مِّنۡهُمۡ
ويښ کړه موږ دوی	چې پوښتنه وکړی	پخپلو مینځونو کښې	نو وویل	یو ویونکی	له دوی څخه چې

ويښ کړه موږ دوی چې پوښتنه وکړی پخپلو مینځونو کښی ، نو وویل یو ویونکی له دوی څخه چې

كَمۡ لَبِثۡتُمۡ ؕ قَالُوۡا لَبِثۡنَا يَوۡمًا اَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٍ ؕ قَالُوۡا رَبُّكُمۡ

كَمۡ لَبِثۡتُمۡ	قَالُوۡا	لَبِثۡنَا	يَوۡمًا	اَوۡ بَعۡضَ	يَوۡمٍ	قَالُوۡا	رَبُّكُمۡ
څومره مدت مو تیر کړی دی	نو وویل	تیره کړی ده موږ	یوه ورځ	یا یوه برخه	دورځی	وویل (نورو)	چې رب ستاسی

څومره مدت موتیر کړی دی؟ نو وویل (دغو نورو) تیره کړی ده موږ یوه ورځ یا یوه برخه د ورځی، وویل چې رب ستاسی

اَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ ؕ فَابۡعَثُوۡۤا اَحَدَكُمۡ بِوَرِقِكُمۡ هٰذِهٖۤ

اَعۡلَمُ	بِمَا لَبِثۡتُمۡ	فَابۡعَثُوۡۤا	اَحَدَكُمۡ	بِوَرِقِكُمۡ	هٰذِهٖۤ
ښه خبر دی	په هغه مدت چې تیر کړی دی تاسی	نو ولیږئ تاسی	یو خپل	په دی سپینو زرو ستاسی	چې دا دی

ښه خبر دی په هغه مدت چې تیر کړی دی تاسی نو ولیږئ تاسی یو خپل په دی سپینو زرو ستاسی چې دا دی

اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ فَلۡيَنۡظُرۡ اَيُّهَاۤ اَزۡكٰى طَعَامًا فَلۡيَاۡتِكُمۡ بِرِزۡقٍ

اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ	فَلۡيَنۡظُرۡ	اَيُّهَاۤ	اَزۡكٰى	طَعَامًا	فَلۡيَاۡتِكُمۡ	بِرِزۡقٍ
دی ښار ته	نو ودی ګوری	چې کوم یو له دغه څخه	ښه پاکیزه دی	له جهته د طعامه	نو را دی وړی تاسی ته	رزق

دی ښار ته نو ودی ګوری چې کوم یو له دغه (اهل د ښار) څخه ښه پاکیزه دی له جهته د طعامه نو را دی وړی تاسی ته رزق

مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ اَحَدًا ۝١٩ اِنَّهُمۡ اِنۡ

مِّنۡهُ	وَلۡيَتَلَطَّفۡ	وَلَا يُشۡعِرَنَّ	بِكُمۡ	اَحَدًا	اِنَّهُمۡ	اِنۡ
له هغه	او نرمی او زیرکی دی کوی	او نه دی خبروی	خامخا په تاسی	هیڅ یو هم	بیشکه! دوی	که

له هغه او نرمی او زیرکی دی کوی (په معامله کښی) او نه دی خبروی خامخا په تاسی هیڅ یو هم. بیشکه! دوی که

يَّظۡهَرُوۡا عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوۡكُمۡ اَوۡ يُعِيۡدُوۡكُمۡ فِىۡ مِلَّتِهِمۡ

يَّظۡهَرُوۡا	عَلَيۡكُمۡ	يَرۡجُمُوۡكُمۡ	اَوۡ يُعِيۡدُوۡكُمۡ	فِىۡ مِلَّتِهِمۡ
خبردار سی	پر تاسی	نو سنګسار به کړی تاسی	یا به بیرته وګرځوی دوی تاسی	په دین خپل کښی

خبردار (یا قادر) سی پر تاسی نو سنګسار به کړی تاسی یا به بیرته وګرځوی دوی تاسی په دین خپل کښی

لِيَتَسَآءَلُوۡا بَيۡنَهُمۡ ؕ قَالَ قَآئِلٌ مِّنۡهُمۡ.. اصحاب الکهف داوږدې زماني دخوب کولو څخه وروسته هم صحیح سالم را کښیناستل : لکه څنګه چې د اصحاب الکهف خوب د عامو انسانانو د عادتي خوب په شان نه وو دغه شان د دوی بیداریدل هم د عام طبعي عادت څخه مستثنی وه او ددې څخه وروسته چې کمه کلمه فرمایي (لیتسآءلوا بینهم) ددې معنی داده چې دا خلګ یو د بل څخه پوښتنه کوي چې دخوب څومره زمانه تیره سوې ده دا ددوی دبیداریدو علت نه دی بلکي په عادتي طور سره د پیښیدونکي یوې واقعې ذکر دی په دې وجه ددې لام ته مفسرینو د لام عاقبت یا لام صیرورت نوم ورکړی دی : لنډه داده چې لکه څنګه چې د دوی اوږد خوب د قدرت یوه نښانه وه دغه ډول په سوونو کاله وروسته بغیر د څه خوراک څخه قوي او تندرست بیداریدل او کښینستل هم د کامل قدرت نښانه وه او چونکي قدرت ته هم دا منظوره وه چې په خپله دې خلګو ته هم یو حقیقت ښکاره سي چې په سوونو کاله بیده پاته سول او دیو بل سره په سوالونو سول.

معارف القرآن ج۵پ۱۵ص۱۳۸

وَلَنۡ تُفۡلِحُوۡۤا اِذًا اَبَدًا ﴿۲۰﴾ وَكَذٰلِكَ اَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ

وَلَنۡ تُفۡلِحُوۡۤا	اِذًا	اَبَدًا	وَكَذٰلِكَ	اَعۡثَرۡنَا	عَلَيۡهِمۡ
او کامیابه به نه سی تاسی	په دغه وخت کښی	هیڅکله	او هم داسی	خبر کړل موږ (خلګ)	پر دوی باندی

او له سره به خلاص نه سئ تاسي په دغه وخت کښي هیڅکله . او هم داسی خبر کړل موږ (خلګ) پردوی باندی

لِيَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيۡبَ فِيۡهَا

لِيَعۡلَمُوۡۤا	اَنَّ	وَعۡدَ	اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّاَنَّ	السَّاعَةَ	لَا رَيۡبَ	فِيۡهَا
چی پوه سی	بیشکه!	وعده	دالله	حقه ده	او بیشکه!	قیامت	نسته هیڅ شک	په هغه کښی

چی پوه سی (دغه د حشر منکران دی) بیشکه! وعده د الله حقه ده او بیشکه! قیامت نسته هیڅ شک په (راتلو د) هغه کښی

اِذۡ يَتَنَازَعُوۡنَ بَيۡنَهُمۡ اَمۡرَهُمۡ فَقَالُوا ابۡنُوۡا عَلَيۡهِمۡ

اِذۡ	يَتَنَازَعُوۡنَ	بَيۡنَهُمۡ	اَمۡرَهُمۡ	فَقَالُوا	ابۡنُوۡا	عَلَيۡهِمۡ
کله چی	جګړی کولی دوی	په مینځ خپل کښی	په کار خپل	نو وویل (دغو خلګو)	چی جوړه کړئ	پر دوی

کله چی جګړی کولی دوی په مینځ خپل کښی په کار (د دین) خپل. نو وویل (دغو خلګو) چی جوړه کړئ پر دوی

بُنۡيَانًا ؕ رَبُّهُمۡ اَعۡلَمُ بِهِمۡ ؕ قَالَ الَّذِيۡنَ غَلَبُوۡا عَلٰۤى

بُنۡيَانًا	رَبُّهُمۡ	اَعۡلَمُ	بِهِمۡ	قَالَ	الَّذِيۡنَ	غَلَبُوۡا	عَلٰۤى
یوه بناء	رب د دوی	ښه عالم دی	په (احوال د) دوی	وویل	هغو کسانو	چی غالب وه	په

یوه بناء، رب د دوی ښه عالم دی په (احوال د) دوی، وویل هغو کسانو چی غالب وه په

اَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِمۡ مَّسۡجِدًا ﴿۲۱﴾ سَيَقُوۡلُوۡنَ ثَلٰثَةٌ

اَمۡرِهِمۡ	لَنَتَّخِذَنَّ	عَلَيۡهِمۡ	مَّسۡجِدًا	سَيَقُوۡلُوۡنَ	ثَلٰثَةٌ
کار (د دین) د دوی	چی خامخا جوړبه کړو هرومرو	پر دوی باندی	مسجد	ژر به وائی (یعقوبیه چی دوی)	دری دی

کار (د دین) د دوی چی خامخا جوړبه کړو موږ هرومرو پر دوی باندی مسجد. ژر به وائی (یعقوبیه چی دوی) دری دی

رَّابِعُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ خَمۡسَةٌ سَادِسُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ

رَّابِعُهُمۡ	كَلۡبُهُمۡ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	خَمۡسَةٌ	سَادِسُهُمۡ	كَلۡبُهُمۡ
څلورم د دوی	سپی د دوی دی	او وبه وائی (نسطوریه چی دوی)	پنځه دی	شپږم د دوی	سپی د دوی دی

څلورم د دوی سپی د دوی دی، او وبه وائی (نسطوریه چی دوی) پنځه دی شپږم د دوی سپی د دوی دی،

وَكَذٰلِكَ اَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوۡۤا.. داصحاب کهف حال دښار پر خلګو ښکاره کیدل: داصحاب کهف دوتلو په وخت کي چي کم ظالم او مشرک باچا دقیانوس پر دې ښار مسلط وو هغه مړ سو او صدی پر تیري سوې تر دې چي دغه ښار حق پر ستو خلګو قبضه کي ددوی پاچاه یو نیک صالح سړی وو دده په زمانه کي اتفاقا دقیامت او په هغه کي دمړو په ژوندي کیدو کي څه اختلاف راپیدا سو یوه فرقه ددوی څخه ددې څخه منکره سوه چي دبدن دخاوري کیدو او ذره ذره کیدو او په ملک کښي دخپریدو څخه وروسته به بیا څنګه راژوندي سي؟ ددغه پاچا سره ډیر غټ فکر پیدا سو چي څنګه به ددوی شکونه لیري سي کله چي هیڅ تدبیر جوړ نه سو نو دټاټ جامې یې واغوستلې او دایرو پر کوټنی باندي کښینستی او الله ﷻ ته یې فریاد اوزاری شروع کړې چي یا الله ﷻ ته خپل یو داسي صورت راپیدا کړې چي ددې خلګو عقیده صحیح سي او دوی پر سیدا لاره باندي روان سي نو دیوې خوا پاچا په دعاګانو ژړا او فریاد: پاته بیان پرراروان مخ وګوری.

رَجۡمًۢا بِالۡغَيۡبِ‌ۚ وَيَقُوۡلُوۡنَ سَبۡعَةٌ وَّثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ‌ؕ قُلْ

رَجۡمًۢا	بِالۡغَيۡبِ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	سَبۡعَةٌ	وَّثَامِنُهُمۡ	كَلۡبُهُمۡ	قُلْ
ويشتل	په غيب سره	او وبه وائی (مؤمنان)	اوه دی	او اتم د دوی	سپی د دوی دی	ووايه (محمده!)

ويشتل (او ويل بی له نښې) په غيب سره، او وبه وائی (مؤمنان) او ه دی او اتم د دوی سپی د دوی دی، ووايه (محمده)

رَّبِّىۡۤ اَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِمۡ مَّا يَعۡلَمُهُمۡ اِلَّا قَلِيۡلٌ۬ ‌ فَلَا تُمَارِ

رَّبِّىۡۤ	اَعۡلَمُ	بِعِدَّتِهِمۡ	مَّا يَعۡلَمُهُمۡ	اِلَّا	قَلِيۡلٌ	فَلَا تُمَارِ
رب زما	ښه علم لری	په شمير د دوی	نه پوهيږی په (شمير د) دوی	مگر	لږ (دخلگو)	نو جگړه مه کوه

رب زما ښه علم لری په شمير د دوی نه پوهيږی په (شمير د) دوی مگر لږ (دخلگو) نو جگړه مه کوه (ای محمده!)

فِيۡهِمۡ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۖ وَّلَا تَسۡتَفۡتِ فِيۡهِمۡ مِّنۡهُمۡ

فِيۡهِمۡ	اِلَّا	مِرَآءً	ظَاهِرًا	وَّلَا تَسۡتَفۡتِ	فِيۡهِمۡ	مِّنۡهُمۡ
په باب د دوی کښی	مگر	جگړه	ښکاره	او فتوی مه غواړه	په باب د دغو کښی	له دغو (کتابيانو) څخه

په باب د دوی (اصحاب الکهف) کښی مگر جگړه ښکاره او فتوی مه غواړه په باب د دغو کښی له دغو (کتابيانو) څخه

اَحَدًا ۝٢٢ وَلَا تَقُوۡلَنَّ لِشَاىۡءٍ اِنِّىۡ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ۝٢٣

ع ۳ / ۱۵

اَحَدًا	وَلَا تَقُوۡلَنَّ	لِشَاىۡءٍ	اِنِّىۡ	فَاعِلٌ	ذٰلِكَ	غَدًا
له هيڅ يوه	او مه وايه له سره	لپاره د يو شی	چی بيشکه! زه	کوونکی يم	د دغه کار	صبا

له هيڅ يوه. او مه وايه له سره لپاره د يو شی چی بيشکه! زه کوونکی يم د دغه کار صبا.

اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ‌ وَاذۡكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيۡتَ وَقُلۡ عَسٰٓى

اِلَّاۤ	اَنۡ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	وَاذۡكُرْ	رَّبَّكَ	اِذَا نَسِيۡتَ	وَقُلۡ	عَسٰٓى
مگر	که اراده فرمايلی وی	الله	او يادوه	رب خپل	کله چی دی هير سی	او ووايه (ای محمده!)	ښائی

مگر که اراده فرمايلی وی الله او يادوه رب خپل کله چی دی هير سی او ووايه (ای محمده! دوی ته) ښائی

اَنۡ يَّهۡدِيَنِ رَبِّىۡ لِاَقۡرَبَ مِنۡ هٰذَا رَشَدًا ۝٢٤ وَلَبِثُوۡا فِىۡ

اَنۡ يَّهۡدِيَنِ	رَبِّىۡ	لِاَقۡرَبَ	مِنۡ هٰذَا	رَشَدًا	وَلَبِثُوۡا	فِىۡ
چی سمه صافه لاره وښيي ماته	رب زما	ډيری نژدی ته	له دی څخه	له جهته د لارښوونی	او مدت تير کړی وو دغو	په

چی سمه صافه لاره وښيي ماته رب زما ډيری نژدی ته له دی څخه له جهته د لارښوونی او مدت تير کړی وو دغو (ځلميو) په

وَيَقُوۡلُوۡنَ سَبۡعَةٌ وَّثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ قُلۡ رَّبِّىۡۤ... د تير مخ پاته بيان دلته وگوری:
کي مشغول وو بل طرف ته الله ﷻ دده ددعا دقبليدو دا اسباب تيار کړل چي اصحاب کهف بيداره سول او دوی خپل يوسړی (چي نوم يي تمليخا ښوول سوی دی) بازار ته راوليږی دی دخوراک اخيستو دپاره دوکان ته ورسيدی اودرې سوه کاله مخکي ددقيانوس پاچا دزمانې سکه يي په قيمت دغلي کي پيش کړه نو دوکاندار حيران پاته سوچي داسکه دکمه راغله او دکمي زمانې سکه ده او دبازارنورودوکاندارانو ته يي وښووله ټولو دا وويل چي دې سړي يوځای دپخوانی زمانې خزانه پيداکړيده دا يي دهغه ځای څخه راوړيد ده انکار وکی چي نه ماته خزانه راکول سويده اونه مي دڅه ځايه څخه راوړې ده دازما خپله روپی ده دبازار خلگو دی ونيوی او پاچا ته يي پيش کی دا پاچا لکه چي لوړ بيان سوي دي يو نيک صالح ديندار وو او ده دحکومت په پخوانی خزانه اثار قديمه کي يو ځای هغه تختی هم ليدلې وه پر کمو چي داصحاب کهف نومونه او ددوی دتښتيدو واقعه ليکلې وه الـخ.
معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۴۲

كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ

كَهْفِهِمْ	ثَلٰثَ	مِائَةٍ	سِنِيْنَ	وَازْدَادُوْا	تِسْعًا	قُلِ
غار كښې	درې	سوه	كاله	او زيات كړي ؤ پرې دوى	نهه (قمرى كلونه نورهم)	وو ايه (اى محمده)

غار كښې درې سوه كاله (شمسى) او زيات كړي ؤ پرې دوى نهه (قمرى كلونه نور هم). وو ايه (اى محمده! دوى ته)

اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا ۚ لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

اللّٰهُ	اَعْلَمُ	بِمَا لَبِثُوْا	لَهٗ	غَيْبُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
الله	ښه عالم دى	چې دوى پاته سوي وه	خاص هم ده لره دى	پټ (اسرار)	دآسمانونو	او دمځکې

الله ښه عالم دى په مقدار د هغه مدت (چې دوى ځنډ كړى وو) ، خاص هم ده لره دى پټ (اسرار) د آسمانونو او دمځکې

اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ؕ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ ۫

اَبْصِرْ	بِهٖ	وَاَسْمِعْ	مَا لَهُمْ	مِّنْ دُوْنِهٖ	مِنْ وَّلِيٍّ
څه ښه ليدونكى دى	الله	او څه ښه اوريدونكى دى الله	او نسته چيرى دوى ته	بى له دى څخه	هيڅ دوست

څه ښه ليدونكى دى الله او څه ښه اوريدونكى دى الله (دهر مسموع)، او نسته چيرې دوى ته بى له دى څخه هيڅ دوست

وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ

وَّلَا يُشْرِكُ	فِيْ حُكْمِهٖٓ	اَحَدًا	وَاتْلُ	مَآ اُوْحِيَ	اِلَيْكَ	مِنْ
او نه شريكوى	په حكم خپل كښې	بل هيڅوک	او وو ايه	هغه چې وحى كړى سوى ده	تاته	له

او نه شريكوى په حكم خپل كښې بل هيڅوک. او ولوله (اى محمده! دوى ته) هغه چې وحى كړى سوى ده تاته له

كِتَابِ رَبِّكَ ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ

كِتَابِ	رَبِّكَ	لَا مُبَدِّلَ	لِكَلِمٰتِهٖ	وَلَنْ تَجِدَ	مِنْ دُوْنِهٖ
كتابه	درب دتا	نسته بدلولونكى	دكلماتو د دغه (الله)	او له سره به پيدا نه كړې ته	غير له دغه (الله)

كتابه د رب دتا، نسته بدلولونكى دكلماتو د دغه (الله) ، او له سره به پيدا نه كړى (مومن) ته غير له دغه (الله)

مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ

مُلْتَحَدًا	وَاصْبِرْ	نَفْسَكَ	مَعَ	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	رَبَّهُمْ
هيڅ ځاى دپناه	او صبر كړه	نفس خپل	له	هغو كسانو سره	چې بولي (عبادت كوى)	درب خپل

هيڅ ځاى دپناه. او صبر (بند او ټينګ) كړه نفس خپل له هغو كسانو سره چې بولي (عبادت كوى) د رب خپل

وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ. داصحاب كهفو دزمانې په باره كي دخلكو رايې مختلفې سوې: په دغه آيت كي الله جل جلاله ددغه اختلافي بحث فيصله كړيده په كم كي چي داصحاب كهف دزمانې په باره كي دخلګو رايې مختلفې سوې او دموجوده زمانې ديهودو او نصاراوو اقوال هم مختلف وه يعني په غار كي دبيده كيدو په موده كي: په دې آيت كي وښوول سوه چي هغه درې سوه نهه كاله وه ګويا دا دهغه اجمال بيان دى كم چي دقصې په شروع كي بيان سوى وو (فضربنا على آذانهم فى الكهف سنين عددا) ددې څخه وروسته په څلورم آيت كي يې بيا دې اختلاف كوونكو ته خبرداري وركړى دى چي دحال دحقيقت تاسي ته خبر نسته په دې پوه هغه الله جل جلاله دى كم چي داسمانونو او مځكو په ټولو غيبو باندي پوه اوريدونكى او ليدونكى دى ده چي كمه موده ددرې سوه نهو كالو وښووله په دې مطمئن سى او په دې سره مطئن كيدل هم پكار دي ځكه چي (ومن اصدق من الله حديثا) تر الله جل جلاله به بل څوک رشتيا ويونكى ذات وي ؟.
معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص١٤٩

بِالۡغَدٰوةِ وَالۡعَشِيِّ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنٰكَ

بِالۡغَدٰوةِ	وَالۡعَشِيِّ	يُرِيۡدُوۡنَ	وَجۡهَهٗ	وَلَا تَعۡدُ	عَيۡنٰكَ
پهسبا (اول دورځی)	او بیگا (آخر دورځی)	غواړی دوی	ذات (یا رضاء) دالله	او نه دی تیریږی	سترگی ستا

پهسبا (اول د ورځی) او بیگا (آخر دورځی) غواړی دوی ذات (یا رضاء) دالله. او نه دی تیریږی سترگی ستا

عَنۡهُمۡ ۚ تُرِيۡدُ زِيۡنَةَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۚ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ

عَنۡهُمۡ	تُرِيۡدُ	زِيۡنَةَ	الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا	وَلَا تُطِعۡ	مَنۡ
لهدوی څخه	چی غواړی ته	زینت دی	ژوندون	ددنیا	او اطاعت مه کوه	دهغه چا چی

لهدوی څخه چی غواړی ته، زینت (ښائست) د دی ژوندون لږخسیس، او اطاعت مه کوه (مه اوره خبره) دهغه چا چی

اَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهٗ عَنۡ ذِكۡرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمۡرُهٗ

اَغۡفَلۡنَا	قَلۡبَهٗ	عَنۡ	ذِكۡرِنَا	وَاتَّبَعَ	هَوٰىهُ	وَكَانَ	اَمۡرُهٗ
غافل کړی دی موږ	زړه دده	له	ذکره زموږ	او متابعت ئی کړی دی	دهوا خپل	او دی	کار دهغه

غافل کړی دی موږ زړه د ده له ذکره زموږ او متابعت ئی کړی دی دهوا خپل او دی کار د هغه

فُرُطًا ﴿۲۸﴾ وَقُلِ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكُمۡ ۚ فَمَنۡ شَآءَ فَلۡيُؤۡمِنۡ

فُرُطًا	وَقُلِ	الۡحَقُّ	مِنۡ رَّبِّكُمۡ	فَمَنۡ	شَآءَ	فَلۡيُؤۡمِنۡ
تجاوز	ووایه (ای محمده!)	حق دی	لهطرفه درب ستاسی	پس هرڅوک چی	اراده وکړی	نو ایمان دی راوړی!

تجاوزلهحقه. ووایه (ای محمده!) حق دی له رب ستاسی، پس هرڅوک چی اراده (دایمان) وکړی نو ایمان دی راوړی!

وَّمَنۡ شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡ ۙ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا لِلظّٰلِمِيۡنَ نَارًا ۙ اَحَاطَ

وَّمَنۡ شَآءَ	فَلۡيَكۡفُرۡ	اِنَّاۤ	اَعۡتَدۡنَا	لِلظّٰلِمِيۡنَ	نَارًا	اَحَاطَ
او هر څوک چی اراده وکړی	نو کافر دی سی	بیشکه! چی موږ	تیار کړی مو دی	لپاره د ظالمانو	اور	چی راگرځیدلی دی

او هر څوک چی اراده (دکفر) وکړی نو کافر دی سی، بیشکه! چی موږ تیار کړی مو دی لپاره د ظالمانو اور چی چاپیر سوی دی

بِهِمۡ سُرَادِقُهَا ۚ وَاِنۡ يَّسۡتَغِيۡثُوۡا يُغَاثُوۡا بِمَآءٍ كَالۡمُهۡلِ

بِهِمۡ	سُرَادِقُهَا	وَاِنۡ	يَّسۡتَغِيۡثُوۡا	يُغَاثُوۡا	بِمَآءٍ	كَالۡمُهۡلِ
پر دوی	پردی دهغه	او که	فریاد وکړی	نو فریاد بهئی واخیستی سی سر	(پهورکولو د) اوبو	لکه زوی

لهدوی پردی دهغه، او که فریاد وکړی نو فریاد بهئی واخیستی سی (پهورکولو د) اوبو (سره) لکه زوی (یا دتیلو خته)

يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنٰكَ عَنۡهُمۡ.. ددعوت او تبلیغ خاص اداب او دهغه بیان : ددغه ایت په شان نزول کي څو واقعات ذکر سوي دي کیدای سي چي دغه ټوله ددې ارشاد سبب جوړ سوی وی : بغوي نقل کړي دي چي عیینة بن حصن الفزاري دمکي رئیس دنبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو دحضور ﷺ سره حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ناست وو کم چي په فقیرو اصحابو رضي الله عنهم کرامو کي راتلی دده جامې زړې او هیئت یي فقیرانه وو نور هم دغه رکم یو څو فقیران غریبان په مجمع کي ناست وه عیینة وویل چي موږ تاته دراتلو او ستاسي دخبري داوریدو څخه دا خلگ منع کوي دداسي خراب حاله خلگو سره موږ نه سو کښینستلای ته دوی دخپل مجلس څخه لیري کړه یا کم از کم زموږ دپاره جلا مجلس جوړ کړه او ددوی دپاره جلا مجلس جوړ کړه کله چي دوی داغوښتنه وکړه نودا آیت رانازل سو او نبي کریم ﷺ الله جل جلاله پوره پوره خبرداره کړی چي پام کوه ددې جاهلانو غوښتني ونه منې بلکي تاسي ددغه فقیرانو او غریبانو سره ځان صبر کړی الخ :

معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص ۱۵۴

الثلثة

يَشْوِى الْوُجُوْهَ ۭ بِئْسَ الشَّرَابُ ۭ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾

يَشْوِى	الْوُجُوْهَ	بِئْسَ	الشَّرَابُ	وَسَآءَتْ	مُرْتَفَقًا
چي وريتوی	به مخونه	بد	شي دڅښلو دی	او بد دی	له وجی د اتتفاع

چي تويوی به پوستونه د مخانو، بد شي د څښلو دی (دغه زوی)، او بد دی له وجی د اتتفاع.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	اِنَّا	لَا نُضِيْعُ	اَجْرَ
بيشکه!	هغه کسان چي	ايمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)	بيشکه! موږ	نه ضائع کوو	اجر (ثواب)

بيشکه! هغه کسان چي ايمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) بيشکه! موږ نه ضائع کوو اجر (ثواب)

مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِىْ

مَنْ	اَحْسَنَ	عَمَلًا	اُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	جَنّٰتُ	عَدْنٍ	تَجْرِىْ
دهغه چا چي	ډير نيک وی	له جهته د عمل	دغه (مؤمنان)	سته دوی ته	جنتونه	دتل هستوګنی	چي بهيږی

دهغه چا چي ډير نيک وی له جهته د عمل. دغه (مؤمنان چي دی) سته دوی ته (هسی) جنتونه د تل هستوګنی چي بهيږی

مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ

مِنْ تَحْتِهِمُ	الْاَنْهٰرُ	يُحَلَّوْنَ	فِيْهَا	مِنْ اَسَاوِرَ	مِنْ ذَهَبٍ
له لاندی د دوی	ويالی	په لاس به کاوه سی دوی ته	په دغه جنت کښی	وبنی	له سرو زرو

له لاندی (دونو او مانيو) د دوی ويالی په لاس به کاوه سی دوی ته په دغه جنت کښی وبنی له سرو زرو

وَّيَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ

وَّيَلْبَسُوْنَ	ثِيَابًا	خُضْرًا	مِّنْ سُنْدُسٍ	وَّاِسْتَبْرَقٍ
او اغوندی به دغه (جنتيان)	جامی	زرغونی	له نريو وريښمو	او له پريړو (غټو) وريښمو

او اغوندی به دغه (جنتيان) جامی زرغونی له نريو وريښمو او له پريړو (غټو) وريښمو

مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۭ نِعْمَ الثَّوَابُ ۭ وَحَسُنَتْ

مُّتَّكِـِٕيْنَ	فِيْهَا	عَلَى الْاَرَآئِكِ	نِعْمَ الثَّوَابُ	وَحَسُنَتْ
تکيه کوونکی به وی	په دغه جنتونو کښی	پر تختو باندی	ښومره ښه بدل دی	او ښومره ښه دی

تکيه کوونکی به وی په دغه جنتونو کښی پر تختو باندی، ښومره ښه بدل دی (دا جنتونه او نعمتونه) او ښومره ښه دی

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ..دجنتيانو دپاره په جنت کي کالي تيار دي: په دغه آيت کي جنتيانو سره ته هم د سرو زرو د بنګړو اغوستلو ذکر سوی دی: پر دې دا سوال کيدای سي چي د بنګړو اچول خو د سړو سره نه ښايي او دا د سړو ښايست او ډول هم نه دی نو په جنت کي که دوی ته بنګړي ورپه لاس کړی سي دا خو به د دوی سره ډير بد ښکاري؟ جواب دادی چي ډول او ښايست د عرف او رواج تابع دی په يو ملک او علاقه کي چي کم شی ښايست او ډول ګڼل کيږي په نورو ملکونو او علاقو کي ډير کله هغه قابل نفرت ګڼل کيږي او دغه رکم د دې برعکس هم ده: په جنت کي د سړيو دپاره به هم کالي وي او وريښميني جامې به ښايست او ډول مقرر سي نو هلته به په دې سره چاته دنا اشنا والي احساس نه وي: دا صرف د دنيا قانون دی چي دلته سړيو ته د سرو زرو کالي تردې چي ګوتمی او ساعت ځنځير او بند هم د سرو زرو استعمالول جائز نه دي دغه رکم وريښميني جامې د نارينه وو دپاره جايز نه دي او په جنت کي به رواه وي الخ.
معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص١٥٥

ع ٥ ١٢

مُرۡتَفَقًا ﴿٣١﴾ وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ مَّثَلًا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا

مُرۡتَفَقًا	وَاضۡرِبۡ	لَهُمۡ	مَّثَلًا	رَّجُلَيۡنِ	جَعَلۡنَا
ځای د آرام	او وښیه بیان کړه	دوی ته	یو مثال	دوه سړي چې	ګرځولی وه موږ

ځای د آرام. او وښیه بیان کړه دوی ته یو مثال (دکفارو او مؤمنانو هغه) دوه سړي چې ګرځولی (ورکړی وو) موږ

لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَابٍ وَّحَفَفۡنٰهُمَا بِنَخۡلٍ

لِأَحَدِهِمَا	جَنَّتَيۡنِ	مِنۡ أَعۡنَابٍ	وَّحَفَفۡنٰهُمَا	بِنَخۡلٍ
یو له دی دواړو ته	دوه باغونه	له انګورو	او پټ کړی وو موږ دا باغونه	په خرماؤ سره

یو له دی دواړو ته دوه باغونه، له انګورو (تاکونه) او پټ کړی وو موږ دا باغونه په خرماؤ سره

وَّجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعًا ﴿٣٢﴾ كِلۡتَا الۡجَنَّتَيۡنِ اٰتَتۡ أُكُلَهَا

وَّجَعَلۡنَا	بَيۡنَهُمَا	زَرۡعًا	كِلۡتَا	الۡجَنَّتَيۡنِ	اٰتَتۡ	أُكُلَهَا
او پیدا کړی وو موږ	په مینځ ددی (دواړو باغونو) کښی	کښت	دی دواړو	باغونو	ورکولی به ئی	میوی خپلی

او پیدا کړی وو موږ په مینځ د دی (دواړو باغونو) کښی کښت (فصل).دی دواړو باغونو ورکول به ئی میوی خپلی (پوره)

وَلَمۡ تَظۡلِمۡ مِّنۡهُ شَيۡـًٔا وَّفَجَّرۡنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾

وَلَمۡ تَظۡلِمۡ	مِّنۡهُ	شَيۡـًٔا	وَّفَجَّرۡنَا	خِلٰلَهُمَا	نَهَرًا
او کمی به یی نه کوی	له محصوله خپله	هیڅ قدر	او بهولی وه موږ	په مینځ د دی دواړو باغونو کښی	ویاله

او نه به ئی کاوه ظلم (کموالی) له محصوله خپله هیڅ قدر. او بهولی وه موږ په مینځ د دی دواړو باغونو کښی ویاله.

وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصٰحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ

وَّكَانَ لَهٗ	ثَمَرٌ	فَقَالَ	لِصٰحِبِهٖ	وَهُوَ	يُحَاوِرُهٗٓ
او وی ده ته	میوی	پس وویل دغه (کافر)	هغه ملګری خپل ته	حال دا چې	هغه ورسره خبری کولی

او وی ده ته (نوری) میوی، پس وویل دغه (کافر) هغه (مؤمن) ملګری خپل ته حال دا چې هغه ورسره خبری کولی

أَنَا أَكۡثَرُ مِنۡكَ مَالًا وَّأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ

أَنَا أَكۡثَرُ	مِنۡكَ	مَالًا	وَّأَعَزُّ	نَفَرًا	وَدَخَلَ	جَنَّتَهٗ	وَهُوَ ظَالِمٌ
چې زه زیات یم	له تانه	له جهته د مال	او ډیر عزتناک یم	له جهته د سړیو	او ننوت دی	باغ خپل ته	حال دا چې دی ظالم ؤ

چې زه زیات یم له تانه له جهته د مال او ډیر عزتناک یم له جهته د سړیو. او ننوت دی باغ خپل ته حال دا چې دی ظالم ؤ

وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ مَّثَلًا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا..ددنیا دبې ثباتی او داخرت دپائیداری یو ښکاره مثال

په دغه ایاتونو کي الله جَلَّ جَلَالُهُ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته امر کړی دی چي دې کفاروته ددنیا دبې ثباتی او دآخرت دپائیداری یو مثال بیان کړه: هغه هم ددوو داسي کسانو حال چي ددوی په خپل مینځ کي سره دوستي او خپلوي وه په دغه مثال سره به دکفارو خیال باطل سي اومسلمانانو ته به تسلي وسي. په دغه دوو کسانو کي یوه ته چي بې دینه وو الله جَلَّ جَلَالُهُ دوه باغونه دانګوروورکړي وه او پر دواړو باغونو بیا دخرما شپول هم راتاو وواو ده دې دواړو باغونو په مینځ کي فصل اوکښت هم کرل سوی وو او دا دواړو باغونو بیا خپله میوه هم پوره پوره ورکوله او دیوه په میوه کي به ذره کمی هم نه راتلی بر خلاف دعامو باغونو چي کله به په یوه درخته کي او کله به په تولـه باغ کي کمی راغلی او ددې دواړو باغو په مینځ کي واله او نهر هم بهیدی او ددغه کافر سره نور هم دمالداری اسباب وه: نو یو ورځ دغه کافر دخپل مسلمان ملګري سره: پاتـه بیـان پـر راروان مـخ وګـوری.

لِّنَفْسِهٖ‌ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖۤ اَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَّمَآ اَظُنُّ

لِّنَفْسِهٖ	قَالَ	مَآ اَظُنُّ	اَنْ تَبِيْدَ	هٰذِهٖۤ	اَبَدًا	وَّمَآ اَظُنُّ
پرځان خپل	وويل	چې زه نه کوم ګمان	چې هلاک به سي	دغه باغ	هيچرې	او نه کوم زه ګمان

پر ځان خپل (په سبب د فخر او تکبر) وويل چې زه نه کوم ګمان چې هلاک به سي دغه باغ هيچرې. او نه کوم زه ګمان

السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّيْ لَاَجِدَنَّ

السَّاعَةَ	قَآئِمَةً	وَّلَئِنْ	رُّدِدْتُّ	اِلٰى رَبِّيْ	لَاَجِدَنَّ
په قيامت	چې قائم به سي	او قسم دی خامخا	که بوتلی سم	رب خپل ته	نو قسم دی چې هرومرو به پيدا کړم خامخا

په قيامت چې قائم (واقع) به سي او قسم دی خامخا که بوتلی سم رب خپل ته نو قسم دی چې هرومرو به پيدا کړم خامخا

خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗۤ

خَيْرًا	مِّنْهَا	مُنْقَلَبًا	قَالَ	لَهٗ	صَاحِبُهٗ	وَهُوَ يُحَاوِرُهٗۤ
غوره	له دې باغ څخه	دورتلو ځای	وويل	دغه (کافر) ته	ملګرې د ده	حال دا چې دغه مؤمن خبرې کولې له دغه کافر سره

غوره له دې باغ څخه مرجع. وويل دغه (کافر) ته (مؤمن) ملګرې د ده حال دا چې دغه مؤمن خبرې اترې کولې له دغه کافر سره

اَكَفَرْتَ بِالَّذِيْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ

اَكَفَرْتَ	بِالَّذِيْ	خَلَقَكَ	مِنْ تُرَابٍ	ثُمَّ	مِنْ نُّطْفَةٍ	ثُمَّ	سَوّٰىكَ
آيا کافر سوې	پر هغه (ذات)	چې پيدا کړې ئې ته	له خاورې	بيا ئې	له نطفې	بيا ئې	برابر کړې ته

آيا کافر سوې پر هغه (ذات) چې پيدا کړې ئې ته (په اول کښې) له خاورې بيا ئې له نطفې بيا ئې برابر کړې ته

رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّيْۤ اَحَدًا ﴿٣٨﴾

رَجُلًا	لٰكِنَّا۠	هُوَ	اللّٰهُ	رَبِّيْ	وَلَآ اُشْرِكُ	بِرَبِّيْۤ	اَحَدًا
سړی	ليکن زه وايم	شان دادی	چې الله	رب زما دی	او نه شريکوم زه	له رب خپل سره	هيڅوک

سړی (روغ په اندامونو). ليکن زه وايم شان دا دی چې الله رب زما دی او نه شريکوم زه له رب خپل سره هيڅوک.

وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ

وَلَوْلَآ	اِذْ دَخَلْتَ	جَنَّتَكَ	قُلْتَ	مَا شَآءَ	اللّٰهُ
او ولې نه	په هغه وخت کښې چې ننوتې	باغ خپل ته	وويل تا	هغه چې اراده وفرمائې	الله

او ولې نه په هغه وخت کښې چې ننوتې باغ خپل ته وويل تا (يعنې داسې دې ونه ويل) هغه چې اراده وفرمائې الله (هغه کيږي)

قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖۤ اَبَدًا... د تير مخ پاته قصه دلته وګورئ: ديوې خوا او بلې خوا خبرې کولې نو دغه کافر ودې مسلمان ته وويل چې زه تر تا په مال کې زيات يم او زما جماعت او افراد هم غښتلي دي مطلب يې داوو چې ته زما طريقې ته باطله وايې او دالله ﷻ په نزد نا خوښه وايې نو اوس ته وګوره چې څوک ښه دی؟ که ستا دعوی صحيح وي نو بايد معامله برعکس وای چې ته دنيــــــاداره وای او زه مسکين ځکه چې ددښمن پالنه څوک نه کوي او دوست ته بيا څوک نقصان نه رسوي نو يې دا خپل مسلمان ملګری دځان سره روان کی او خپل باغ ته ورسيدی او بيا يې دتکبر په انداز کې وويل چې زما خيال خو دانه دی چې داباغ دې زما په ژوند کې کله هم هلاک او برباد سي ددې څخه هم معلوميږي چې دغه کافر دخدای ﷻ دوجود او پر هرشي دده دقدرت قائل نه وو بس دحفاظت ظاهري اسباب يې وليدل او دا خبرې يې شروع کړې: او بيا يې وويل چې زه داخيال هم نه کوم چې قيامت به راسي او که چيرې، پاته بيان پرراوان مخ وګورئ:

فَعَسٰی رَبِّیْٓ اَنْ یُّؤْتِیَنِ خَیْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: بالفرض قیامت را هم سي او زه خپل رب ته ورورسول سم لکه چي ستاسي عقیده ده نو خامخا تر دې باغ به هم ډیر ښه ځای ماته راکول سي ځکه چي دجنت دځایونو ددنیا څخه دښه والي خو ته هم اقرار کوې اودا هم ته منې چي جنت به دخدای ﷻ مقبولو بندګانو ته ورکول کیږي او زما دمقبولیت نښې او نښانې خو په دنیا کي هغه دي لیدل کیږي چي ښه باغ او جایداد او اسباب یې راکړیدي که زه دالله ﷻ په نزد خوښ او مقبول نه وای نو داباغونه به یې ولي ماته راکولای؟ نو په دې وجه ستا داقرار اوتسلیم موافق به ماته هلته ددې څخه هم ښه باغونه راکول کیږي مسلمان چي دا خبري واوریدې نو په جواب کي یې ورته وویل چي آیا ته دالله ﷻ دوحدانیت او دقیامت دورځي څخه انکار کوې او دهغه پاک ذات سره کفر کوې چا چي ته اول واردخاوري څخه پیدا کړی یې یعني آدم علیه السلام کمه چي ستا لیري ماده او دهغه څخه وروسته یې. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِۚ اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًاۚ ﴿٣٩﴾ فَعَسٰی

لَا قُوَّةَ	اِلَّا	بِاللّٰهِ	اِنْ تَرَنِ	اَنَا	اَقَلَّ	مِنْكَ	مَالًا وَّوَلَدًا	فَعَسٰی
نسته قوت	مګر	دالله	که ته وینی ما	چې زه	لږیم	له تانه	دجهته د ماله او ولده	پس

نسته قوت (هیچاله) مګر (په توفیق) دالله، که ته وینی ما چې زه لږیم له تانه دجهته د ماله او ولده. پس (امید لرم چې ژر دی چې)

رَبِّیْٓ اَنْ یُّؤْتِیَنِ خَیْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَیُرْسِلَ عَلَیْهَا حُسْبَانًا

رَبِّیْٓ	اَنْ یُّؤْتِیَنِ	خَیْرًا	مِّنْ جَنَّتِكَ	وَیُرْسِلَ	عَلَیْهَا	حُسْبَانًا
رب زما	راکړی ماته	بهتره	له باغ ستا	او چې ولیږی	پر دغه (باغ ستا)	تالنده

رب زما راکړی ماته (په دنیا او آخرت کښې خیر) بهتره له باغ ستا او چې ولیږی پر دغه (باغ ستا) تالنده (تندر)

مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِیْدًا زَلَقًاۙ ﴿٤٠﴾ اَوْ یُصْبِحَ

مِّنَ السَّمَآءِ	فَتُصْبِحَ	صَعِیْدًا	زَلَقًا	اَوْ یُصْبِحَ
له (طرفه د) آسمانه	پس صبا ته وګرځی	ډاګ میدان	ښوی بې زرغونه	یا صبا ته وګرځی

له (طرفه د) آسمانه پس صبا ته وګرځی (باغ ستا) ډاګ میدان ښوی بې بې زرغونه یا صبا ته وګرځی

مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ لَهٗ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَاُحِیْطَ

مَآؤُهَا	غَوْرًا	فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ	لَهٗ	طَلَبًا	وَاُحِیْطَ
اوبه د دی باغ	وچې ډوبې	پس له سره به نه توانیږې	دی ډوبو اوبو لره	په لټولو سره	او چاپیر کړی سو

اوبه د دی باغ وچې ډوبې پس له سره به نه توانیږې (نه سی راوستی) دی ډوبو اوبو لره په لټولو سره. او چاپیر کړی سو

بِثَمَرِهٖ فَاَصْبَحَ یُقَلِّبُ كَفَّیْهِ عَلٰی مَآ اَنْفَقَ فِیْهَا

بِثَمَرِهٖ	فَاَصْبَحَ	یُقَلِّبُ	كَفَّیْهِ	عَلٰی	مَآ اَنْفَقَ	فِیْهَا
په انواعو د میوو دهغه	پس وګرځید په وخت د صبا کښې	چې اړه وه ئې	څټ او مخ د ارغویو خپل	پر	هغه مبلغ چې لګولی ؤ	پر دغه باغ

په انواعو د میوو دهغه پس وګرځید په وخت دصبا کښې چې اړه وه ئې څټ او مخ د ارغویو پر هغه مبلغ چې لګولی ؤ پر دغه باغ

وَهِیَ خَاوِیَةٌ عَلٰی عُرُوْشِهَا وَیَقُوْلُ یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّیْٓ

وَهِیَ	خَاوِیَةٌ	عَلٰی	عُرُوْشِهَا	وَیَقُوْلُ	یٰلَیْتَنِیْ	لَمْ اُشْرِكْ	بِرَبِّیْٓ
حال دا چې دغه باغ	لویدلی ؤ	پر	مناګانو خپلو	او وائی	ای کاشکی	مانه وی نیولی شریک	د رب خپل سره

حال دا چې دغه باغ لویدلی ؤ پر ځپلو (مناګانو دتاکو کورو) خپلو، او وائی ای کاشکی مانه وی نیولی شریک د رب خپل سره

وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: بیا ته دنطفې څخه کمه چې ستا نږدې ماده ده په رحم دمور کې جوړ کړې او بیا یې ته صحیح سالم جوړ کړې ددې باوجود ته دتوحید او قیامت څخه انکار کوې او کفر کوې بس کوه یې لیکن زه خو دا عقیده لرم چې هغه الله ﷻ زما حقیقي رب دی او زه دهغه سره هیڅوک نه شریکوم او کله چې دالله ﷻ توحید او قدرت مطلقه پر هر څه باندې ثابت دی او ددې په نتیجه کې دا څه لیرې خبره نه ده چې ستا دباغ دترقی او حفاظت ستا ټول اسباب څه وخت هم بیکاره او معطل سي او باغ دې برباد سي په دې وجه پر تا باندې لازمه ده چې پر مسبب الاسباب الله ﷻ باندې نظر ولرې نو ته چې څه وخت خپل باغ ته ورسیدې نو تاداسي ولې ونه ویل چې څه الله ﷻ ته منظور وي هغه به کیږي او بې له دالله ﷻ دمدد څخه په چا کې هم هیڅ قوت نسته ترڅو چې الله ﷻ وغواړي دا باغ به قایم وي او کله چې بیا هغه وغواړي نو بیا به خراب سي نو غرورمه کوه: پاته بیان پر راروان مخ وګورئ:

أَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ

أَحَدًا	وَلَمْ تَكُنْ	لَّهٗ	فِئَةٌ	يَّنْصُرُوْنَهٗ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	وَمَا كَانَ
هیڅوک	او نه ؤ	ده ته	کومه ډله	چې مرسته ئې کړې وی له ده سره	غیر له	الله	او نه ؤ دی پخپله

هیڅوک. او نه ؤ ده ته کومه ډله چې مرسته ئې کړې وی له ده سره (په دفع د آفت کښې) غیر له الله او نه ؤ دی پخپله

مُنْتَصِرًا ﴿٤٣﴾ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا

مُنْتَصِرًا	هُنَالِكَ	الْوَلَايَةُ	لِلّٰهِ	الْحَقِّ	هُوَ	خَيْرٌ	ثَوَابًا
مرسته کوونکی د خپل ځان	په دې وخت کښې	ټول ولایت اختیار	خاص الله لره دی	چې حق دی	الله	خیر دی	له جهته د ثواب

مرسته کوونکی د خپل ځان. په دې وخت کښې ټول ولایت اختیار خاص الله لره حق دی ، الله خیر (غوره) دی له جهته د ثواب

وَّخَيْرٌ عُقْبًا ﴿٤٤﴾ ع وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

ع۵ ۱۷

وَّخَيْرٌ	عُقْبًا	وَاضْرِبْ	لَهُمْ	مَّثَلَ	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا
او خیر (غوره) دی	له جهته د عاقبته	او وښیه بیان کړه	دغو (خلګو) ته	مثال	د دی ژوندون	د دنیا

او خیر (غوره) دی له جهته د عاقبته. او وښیه بیان کړه دغو (خلګو) ته مثال د دی ژوندون د دنیا

كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ

كَمَآءٍ	اَنْزَلْنٰهُ	مِنَ السَّمَآءِ	فَاخْتَلَطَ	بِهٖ	نَبَاتُ
په مثل دهغو اوبو	چې نازلې کړې دی موږ هغه اوبه	له (طرفه د) آسمانه	نو ګڼ یو بل سره ګډوډ سی	په سبب د دی سره	زرغونه وابنه

په مثل د هغو اوبو چې نازلې کړې دی موږ هغه اوبه له (طرف د) آسمانه نو ګڼ یو بل سره ګډوډ سی په سبب د دی سره زرغونه

الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى

الْاَرْضِ	فَاَصْبَحَ	هَشِيْمًا	تَذْرُوْهُ	الرِّيٰحُ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلٰى
د مځکی	نو صبا ته وګرځی	وچه کلکه ماته ماته	چې الو ځوی ئی	بادونه	او دی	الله	پر

د مځکی نو صبا ته وګرځی (دغه زرغونه) وچه کلکه ماته ماته چې الو ځوی ئی بادونه ، او دی الله پر

كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ

كُلِّ شَيْءٍ	مُّقْتَدِرًا	اَلْمَالُ	وَالْبَنُوْنَ	زِيْنَةُ	الْحَيٰوةِ
هر شی باندی	توانا قادر	مال (د دنیا)	او زامن	زینت (رونق) ښائست	د دی ژوندون

هر شی باندی توانا قادر. مال (د دنیا) او زامن زینت (رونق) ښائست د دی ژوندون

الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا

الدُّنْيَا	وَالْبٰقِيٰتُ	الصّٰلِحٰتُ	خَيْرٌ	عِنْدَ	رَبِّكَ	ثَوَابًا
د دنیا دی	او باقي پاتي کيدونکي	نيک (عملونه)	خير غوره دي	په نزد	د رب ستا	له جهته د ثواب

لړخسيس دی، او (په اعتبار د جزاء) باقي پاتي کيدونکي نيک (عملونه) خير غوره دي په نزد د رب ستا له جهته د ثواب

وَّخَيْرٌ اَمَلًا ﴿٤٦﴾ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ

وَّخَيْرٌ	اَمَلًا	وَيَوْمَ	نُسَيِّرُ	الْجِبَالَ	وَتَرَى	الْاَرْضَ
او غوره دی	له جهته د امید	او هغه ورځ	چي روان به کړو	غرونه	او گوری به ته	مځکه

او (خير) غوره دی له جهته د امید. او (یاد کړه) هغه ورځ چي روان به کړو غرونه او گوری به ته (انسانه!) مځکه

بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُوْا

بَارِزَةً	وَّحَشَرْنٰهُمْ	فَلَمْ نُغَادِرْ	مِنْهُمْ	اَحَدًا	وَعُرِضُوْا
ښکاره	او راجمع به کړو موږ دوی	نو پری به نه ږدو	له دوی څخه	یو تن	او وړاندی به کړی سی دوی

ښکاره او راجمع به کړو (موږ) دوی (یعنی خلک) نو پری به نه ږدو له دوی څخه یو تن. او وړاندی به کړی سی دوی

عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا ؕ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ

عَلٰى	رَبِّكَ	صَفًّا	لَقَدْ	جِئْتُمُوْنَا	كَمَا	خَلَقْنٰكُمْ
په	رب ستا	صف صف	خامخا په تحقیق	راغلئ یاست تاسی موږ ته	لکه چي	پیدا کړی ؤ موږ تاسی

په رب ستا صف صف خامخا په تحقیق راغلئ یاست تاسی موږ ته (یوائی لغړ بربنډ) لکه چي پیدا کړی ؤ موږ تاسی

اَوَّلَ مَرَّةٍۭ بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾

اَوَّلَ	مَرَّةٍ	بَلْ	زَعَمْتُمْ	اَلَّنْ نَّجْعَلَ	لَكُمْ	مَّوْعِدًا
اول	ځلی	بلکه	گمان کاوه تاسی	چي و به نه گرځوو موږ	تاسی ته	ځای او وخت د وعدی

رومبی (اول) ځلی (د موږ څخه) بلکه گمان کاوه تاسی (ای منکرینو) چي و به نه گرځوو موږ تاسی ته ځای او وخت د وعدی.

وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ

وَوُضِعَ	الْكِتٰبُ	فَتَرَى	الْمُجْرِمِيْنَ	مُشْفِقِيْنَ	مِمَّا فِيْهِ	وَيَقُوْلُوْنَ
او کښيښول به سی	کتاب	پس گوری به ته	گناهگاران	بیریدونکی	له هغه څخه چي پکښی دی	او وایی به

او کښیښول به سی کتاب (اعمالنامی) پس گوری به ته گناهگاران بیریدونکی له هغه څخه چي پکښی دی (له گناهونو).

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ۔۔ دتیر مخ پاته بیان دلته وگوری: او که ته ما په مال او اولاد کي کمتره گڼې او په دې سره تا ته ځان مقبول ښکاري نو ما ته هغه وخت نژدې معلومیږي چي زما رب ما ته ستا تر باغ ښه باغ راکړي هغه نو که په دنیا کي وي او که په آخرت کي وي او ستا پر باغ څه تقدیري آفت دآسمانه څخه راسي چي په هغه امر الهي سره به دا باغ یو صفاميدان جوړ سي یا هغه اوبه چي دی په اوبه کیږي هغه دمځکي دننه ولاړي سي نو بیا خو ته ددغه اوبو پر راایستلو باندي هیڅ قدرت هم نه لري: ددې څخه وروسته واقعه دا سي پیښه سوه چي ددې سړي تولـه اسباب آفت الهي راگیر کړل او ده چي کم مصرف په باغ باندي کړی وو په هغه پسې یې لاسونه مروړل او هغه باغ یې پر خپلو چتونو نړیدلی پروت ووا او دلته یې نو وویل څه به ښه وای که ما دخپل رب سره څوک نه وای شریک کړی ددې څخه معلومه سوه چي ددې آفت دراتلو څخه دی پوه سو چي دازما دکفر او کبر نتیجه او سزاده چي راکړه سوه.

معارف القرآن ج٥ پ١٥ ص١٥٧

يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً

وَّلَا كَبِيْرَةً	صَغِيْرَةً	لَا يُغَادِرُ	الْكِتٰبِ	هٰذَا	مَالِ	يٰوَيْلَتَنَا
او نه لويه	(ګناه) وړه	چې نه پريږدی	اعمالنامی	د دی	څه حال دی	ای هلاکه زموږ

او وائی به ای هلاکه زموږ (راسه دغه دی وخت دی) څه حال دی د دی اعمالنامی (زموږ) چې نه پريږدی (ګناه) وړه او نه لويه

اِلَّآ اَحْصٰهَا ۚ وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا ؕ

حَاضِرًا	مَا عَمِلُوْا	وَوَجَدُوْا	اَحْصٰهَا	اِلَّآ
حاضر (ليکلی)	هغه شی چې کړی وی دوی	او پيدا به کړی دوی	حساب کړی ئی دی هغه	مګر چې

مګر چې حساب کړی ئی دی هغه (ټولی)، او پيدا به کړی (وبه مومی) دوی هغه شی چې کړی وی حاضر (ليکلی)

وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا ۝۴۹ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا

اسْجُدُوْا	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	وَاِذْ قُلْنَا	اَحَدًا	رَبُّكَ	وَلَا يَظْلِمُ
چې سجده وکړئ تاسی	ملائيکو ته	او هغه وخت چې وويل موږ	پر هيچا	رب ستا	او نه کوی ظلم

او نه کوی ظلم رب ستا پر هيچا. او (ياد کړه) هغه وخت چې وويل موږ ملائيکو ته چې سجده وکړئ تاسی (تعظيماً)

لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ

عَنْ	فَفَسَقَ	مِنَ الْجِنِّ	كَانَ	اِبْلِيْسَ	اِلَّآ	فَسَجَدُوْٓا	لِاٰدَمَ
له	پس ووت	له پيريانو	وو دی	ابليس	مګر (ونه کړه)	پس سجده وکړه	آدم ته

آدم ته پس سجده وکړه (ټولو) مګر (ونه کړه سجده) ابليس، وو دی (اصلاً) له پيريانو پس ووت له

اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ

مِنْ دُوْنِيْ	اَوْلِيَآءَ	وَذُرِّيَّتَهٗ	اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ	رَبِّهٖ	اَمْرِ
غير له ما	دوستان	او اولاده د دغه (ابليس)	آيا پس نيسئ تاسی ابليس	درب خپل	امره

امره د رب خپل (په ترک د سجدی) ، آيا پس نيسئ تاسی ابليس او اولاده د دغه (ابليس) دوستان غير له ما

وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ۝۵۰ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ

مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ	بَدَلًا	لِلظّٰلِمِيْنَ	بِئْسَ	عَدُوٌّ	لَكُمْ	وَهُمْ
نه دی حاضر کړی ما دغه (شياطين)	بدل	ظالمانو ته	بد دی (ابليس)	دښمنان	تاسی ته	حال دا چې دی دغه

حال دا چې دی دغه (شياطين) تاسی ته دښمنان، بد دی (ابليس) ظالمانو ته بدل. نه دی حاضر کړی ما دغه (شياطين)

وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا...دقيامت په ورځ جزا عين عمل دی: يعني ټول اهل محشر به خپل کړي عملونه حاضر پيدا کي: ددې مطلب په عام طور باندي مفسرينو حضراتو داسي بيان کړی دی چې دخپلو کړو عملونو جزا به حاضره او موجوده ويني: حضرت مولانا مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه فرمايي چې زموږ استاد حضرت مولانا سيد محمد انورشاه کشميري رحمة الله عليه به فرمايل چې ددې دتاويل کولو ضرورت نسته داحاديثو بې شميره روايتونه پر دې شاهد دي چې ددنيا داعملونه به دآخرت جزا او سزا جوړيږي ددوی شکلونه به هلته بدليږي نيک عملونه به دجنت دنعمتونو شکل اختياره کړي او بد عملونه به دجهنم اور، ماران او لړمان جوړ سي. په حديث شريف کي دي چې دزکوة نه ورکوونکي مال به په قبر کي ديو لوی مار په شکل کي راسي دی به چيچي او وايي به (انامالک) زه ستا مال يم: او نيک عمل به ديو ښکلي انسان په شکل کي دقبر ديوازي والي دليري کولو دپاره بيا راسي (الحديث) (معارف القرآن ج۵ پ ۱۵ ص ۱۶۴)

ع ۵ / ۱۸

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ

خَلْقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَلَا خَلْقَ	اَنْفُسِهِمْ
پیداکولو	دآسمانونو	او دمځکی ته	او نه پیدا ئینت	دځانونو د دوی ته

پیداکولو د آسمانونو او دمځکی ته او نه پیدا ئینت د ځانونو د دوی ته

وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا ﴿٥١﴾ وَيَوْمَ

وَمَا كُنْتُ	مُتَّخِذَ	الْمُضِلِّيْنَ	عَضُدًا	وَيَوْمَ
او نه یم زه	نیونکی	دګمراه کوونکو	مټ بازو	او (یاد کړه) هغه ورځ

او نه یم زه نیونکی د ګمراه کوونکو مټ بازو (مددګار یعنی له شیاطینو مرسته). او (یادکړه) هغه ورځ

يَقُوْلُ نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

يَقُوْلُ	نَادُوْا	شُرَكَآءِيَ	الَّذِيْنَ	زَعَمْتُمْ
چې وبه وائی	چې ناری کړئ	شریکانو زما ته	هغه چې	ګمان کاوه تاسی

چې وبه وائی (الله مشرکانو ته) چې ناری کړئ شریکانو زما ته هغه چې ګمان کاوه تاسی (دخدائی پر هغو)

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ

فَدَعَوْهُمْ	فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ	وَجَعَلْنَا	بَيْنَهُمْ
پس وبه بولی دوی هغوی	نو جواب به ورنه کړی هغوی دوی ته	او وبه ګرځوو موږ	په مینځ د دوی کښې

پس وبه بولی دوی هغوی نو جواب به ورنه کړی دوی ته (او نه مرسته ورسره کوی) او وبه ګرځوو موږ په مینځ د دوی کښې

مَّوْبِقًا ﴿٥٢﴾ وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْا اَنَّهُمْ

مَّوْبِقًا	وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ	النَّارَ	فَظَنُّوْا	اَنَّهُمْ
ځای دهلاک	او وبه ګوری مجرمان	اور ته	پس یقین به ئی راسی په دی	چې په تحقیق دوی

ځای د هلاک (دوزخ). او وبه ګوری (مجرمان مشرکان) اور ته پس یقین به ئی راسی په دی چې په تحقیق دوی

مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿٥٣﴾ ع وَلَقَدْ

مُّوَاقِعُوْهَا	وَلَمْ يَجِدُوْا	عَنْهَا	مَصْرِفًا	وَلَقَدْ
لویدونکی دی په دغه کښې	او پیدا به نه کړی دوی	له دغه ځای څخه	ځای د په څنګ کیدلو	او خامخا په تحقیق

لویدونکی دی په دغه (اور د دوزخ) کښې او پیدا به نه کړی دوی له دغه (اوره) ځای د په څنګ کیدلو. او خامخا په تحقیق

وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا...

دابلیس اولاد او لمسی او کړوسی هم سته: ددغه سورت په پنځوسم (۵۰) شماره ایت کې الله ﷻ دشیطان داولادې ذکر کړی دی او دهغه دپاره یې لفظ د (ذریته) استعمال کړی دی ددې لفظ څخه داسې معلومیږي چې دابلیس هم اولادونه لمسیان او کړوسیان سته: او ځینې حضرات بیا فرمایي چې دلته دذریت څخه مراد مددګاران او معینان دي دا ضروري نه ده چې دشیطان صلبي اولاد دي هم وي: مګر یو صحیح حدیث شریف کې چې حمیدي رحمة الله علیه په خپل کتاب (الجمع بین الصحیحین) کې دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روایت کړی دی په دي کې دي چې نبي کریم ﷺ ده ته دا نصیحت وفرمایه چې ته دهغه خلګو څخه مه جوړیږه کم چې دټولو څخه اول بازار ته دا خلیږي یا دهغه خلګو څخه کم چې دټولو څخه آخر دبازاره څخه راوزي ځکه چې بازار داسې ځای دی په کم کې چې دشیطان هګی بچې راوړي :ددې حدیث څخه معلومه سول چې شیطان اولاده لري.

معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۶۸

ع ۱۹

صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَكَانَ

صَرَّفْنَا	فِيْ هٰذَا	الْقُرْاٰنِ	لِلنَّاسِ	مِنْ كُلِّ	مَثَلٍ	وَكَانَ
مکرر بیان کړی دی موږ	په دی	قرآن کښی	خلګو ته	د هر قسم	مثال	او دی

مکرر بیان کړی دی موږ په دی قرآن کښی خلګو ته (مثال له جنسه) د هر قسم مثال (له جهته د عبرت)، او دی

اَلْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ۝٥٤ وَمَا مَنَعَ

الْاِنْسَانُ	اَكْثَرَ شَيْءٍ	جَدَلًا	وَمَا مَنَعَ
انسان	زیات له هر شی څخه	له جهته د جګړی	او نه دی منع کړی

انسان زیات له هر شی څخه له جهته د جدل (جګړی او خصومت په باطله کښی). او نه دی منع کړی

النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰى وَيَسْتَغْفِرُوْا

النَّاسَ	اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا	اِذْ جَآءَهُمُ	الْهُدٰى	وَيَسْتَغْفِرُوْا
دا خلګ	له دی څخه چی ایمان راوړی	کله چی راغی دوی ته	هدایت	او بخښنه وغواړی

دا خلګ له دی څخه چی ایمان راوړی کله چی راغی دوی ته هدایت (رسول او قرآن) او (له دی څخه چی) بخښنه وغواړی

رَبَّهُمْ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ

رَبَّهُمْ	اِلَّآ	اَنْ تَاْتِيَهُمْ	سُنَّةُ	الْاَوَّلِيْنَ
له رب خپل څخه	مګر	چی راسی دوی ته هغه	طریقه	داولنیو

له رب خپل څخه مګر (دی خبری) چی راسی دوی ته هغه طریقه د اولنیو (مخکنیو خلګو چی هلاکت د دوی ؤ)

اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ۝٥٥ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ

اَوْ يَاْتِيَهُمُ	الْعَذَابُ	قُبُلًا	وَمَا نُرْسِلُ	الْمُرْسَلِيْنَ
یا راسی دوی ته	عذاب	مخامخ	او نه لیږو موږ	رسولان

یا راسی دوی ته عذاب مخامخ. او نه لیږو موږ رسولان

اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اِلَّا	مُبَشِّرِيْنَ	وَمُنْذِرِيْنَ	وَيُجَادِلُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
مګر	زیری ورکونکی	او بیروونکی	او جګړی کوی	هغه کسان	چی کافران سوی دی

مګر زیری ورکونکی (مؤمنانو ته په نعیم) او بیروونکی (کفارو ته په جحیم)، او جګړی کوی هغه کسان چی کافران سوی دی

وَكَانَ الْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ... په تمامو مخلوقاتو کي انسان دټولو څخه زیات جګړه کوونکی دی: دې خبري په شاهدی کي یو حدیث شریف دحضرت انس رضی الله عنه څخه نقل دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي دقیامت په ورځ به یو سړی دکفارو څخه پیش سي دده څخه به پوښتنه وسي چي موږ کم رسول درلیږلی وو دهغه متعلق تا څه عمل کړی دی ؟ دی به ووایي چي زما ربه ما خو په تا هم ایمان راوړی وو ستا په رسول مي هم ایمان راوړی وواو په عمل کي مي دهغه اطاعت کړی دی الله جل جلاله به وفرمایي چي دا ستا عمل نامه ده مخکي پرته ده په دي کي خو دا هیڅ هم نسته داسړی به ووایي چي زه خو دا عملنامه نه منم الله جل جلاله به وفرمایي چي دا زموږ فرشتې ستا نګراني کوونکي وې دوی ستا خلاف شاهدي ادا کوي دی به ووایي چي زه ددوی شاهدي هم نه منم او نه زه دوی پیژنم او نه ما دوی دخپل عمل په وخت کي لیدلي دي الله جل جلاله به وفرمایي چي دا مخامخ لوح محفوظ دی په دغه کي هم ستا حال د کافر او بدعمله لیکل سوی دی: پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ

بِالْبَاطِلِ	لِيُدْحِضُوْا	بِهٖ	الْحَقَّ	وَاتَّخَذُوْٓا	اٰيٰتِيْ
په باطله سره	دپاره د دې چې ورک اولرې کړي	په دې سره	حق رښتیا خبره	او نیولې دي	آیتونه زما

په باطله سره دپاره د دې چې ورک او لرې کړي په دې سره حق رښتیا خبره او نیولې دي آیتونه (د قرآن) زما

وَمَآ اُنْذِرُوْا هُزُوًا ۝۵۶ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ

وَمَآ	اُنْذِرُوْا	هُزُوًا	وَمَنْ	اَظْلَمُ	مِمَّنْ	ذُكِّرَ
او هغه شیان چې	بیرولې سوي وو دوی	مسخره	او څوک دی	ډیر ظالم	له هغه چاچې	پند ورکړې سوی وی ده ته

او هغه شیان چې (پرې) بیرولی سوي وو دوی مسخره. او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چې پند ورکړې سوی وی ده ته

بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ فَاَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ ؕ اِنَّا

بِاٰيٰتِ	رَبِّهٖ	فَاَعْرَضَ	عَنْهَا	وَنَسِيَ	مَا قَدَّمَتْ	يَدٰهُ	اِنَّا
په آیاتونو	د رب د ده	پس وګرځوی مخ	له هغه	او هیر کړی	هغه عملونه چې وړاندی لیږلی وه	لاسونو د ده	بیشکه! موږ

په آیاتونو د رب د ده (قرآن) پس وګرځوی مخ له هغه او هیر کړی هغه عملونه چې وړاندی لیږلی وه لاسونو د ده، بیشکه! موږ

جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ

جَعَلْنَا	عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	اَكِنَّةً	اَنْ يَّفْقَهُوْهُ	وَفِيْٓ	اٰذَانِهِمْ
ګرځولی دی موږ	پر	زړونو د دوی	پردې	دپاره ددې چې پوه نسي په دغه (قرآن)	او په	غوږونو د دوی کښې

ګرځولی دی موږ پر زړونو د دوی پردې دپاره د دې چې پوه نسي په دغه (قرآن) او (ګرځولی مودی) په غوږونو د دوی کښې

وَقْرًا ؕ وَاِنْ تَدْعُهُمْ اِلَى الْهُدٰى فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا

وَقْرًا	وَاِنْ	تَدْعُهُمْ	اِلَى الْهُدٰى	فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا
کوڼوالی دی	او که ته	راوبولې دوی	په طرف د سمې لاری	پس له سره هدایت نه پیدا کوی دوی

کوڼوالي، او که ته راوبولې دوی په طرف د سمې لاری پس له سره هدایت نه مومی (نه پیدا کوی) دوی

اِذًا اَبَدًا ۝۵۷ وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ

اِذًا	اَبَدًا	وَرَبُّكَ	الْغَفُوْرُ	ذُو	الرَّحْمَةِ	لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ
په دغه وخت کښې	هیچیرې	او رب ستا	ډیر بخښونکی	څیښتن	د رحمت دی	که نیولې وی دوی

په دغه وخت کښې هیچیرې. او رب ستا ډیر بخښونکی څیښتن (خاوند) د رحمت دی، که نیولی وی (الله دغه کفار په دنیا)

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ...دتیر مخ پاته حدیث شریف دلته وګوری

دا کافر به ووایي چي زما ربه تا خو دظلم څخه پناه ماته راکړیده او که نه ده؟ الله ﷻ بـه وفرمـایي چـي بیشکه دظلم څخه تـه زمـا په پناه کي یي نو اوس به دی ووایي چي زمـا ربـه زه بـه داسي غیبي شهادتونه څنګـه ومـنم کـم چـي مـا لیدلي نه دي او کتلي مي نه دي زه خو داسي شاهدي مـنلای سـم کـم چـي زمـا دنفس دطرفه څخه وي: پـه دغـه حدیث شـریف کـي دي چـي الله ﷻ بـه دده پـر خُلـه بانـدي مُهـر ورولګـوي او دده لاسونه او پښـي بـه دده پر کفر بانـدي شـاهدي اداء کـړي ددې څخه بـه وروسـتـه دی ازاد کـړل سـي او جهـنم تـه بـه وروغـورزول سـي: ددغـه روایـت مضـمون دحضرت انس رضی الله عنه څخه پـه صـحیح مسـلم کـي نقـل سـوی دی: لـږ کـه پـه دې حدیث شـریف کـي فکـر او غـور وسـي نـو دا څـومره صـفا تفسـیر ددغـه ایـت مبارکـه دی چـي الله ﷻ رشـتیا فرمایلي دي چي پـه ټولو مخلوقاتو کي ترټولو زیات جګړالو کافر انسان دی چـي د الله ﷻ پـه مخکي به جګړا کوي الـخ.

معارف القرآن ج۵ پ۱۵ ص۱۶۹

بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ؕ بَلْ لَّهُمْ

بِمَا	كَسَبُوْا	لَعَجَّلَ	لَهُمُ	الْعَذَابَ	بَلْ	لَّهُمْ
په سبب د هغو گناهونو	چې کوی ئې دوی	نو خامخا ژربه ئې راليږلی ؤ	دوی ته	عذاب	بلکه	سته دوی ته

په سبب د هغو گناهونو چې کوی ئې دوی نو خامخا ژر به ئې راليږلی ؤ دوی ته عذاب (په دنيا کښی هم)، بلکه سته دوی ته

مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ الْقُرٰٓى

مَّوْعِدٌ	لَّنْ يَّجِدُوْا	مِنْ دُوْنِهٖ	مَوْئِلًا	وَتِلْكَ	الْقُرٰٓى
ځای دوعدی	چې له سره به پيدا نه کړی دوی	غير له الله	ځای د پناه	او دغه (اهل د)	کليو (چې دی)

ځای (يا وخت) د وعدی چې له سره به پيدا نه کړی دوی غير له الله پناهی. او دغه (اهل د) کليو (چې دی)

اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾

اَهْلَكْنٰهُمْ	لَمَّا	ظَلَمُوْا	وَجَعَلْنَا	لِمَهْلِكِهِمْ	مَّوْعِدًا
هلاک کړل موږ دوی	هر کله چې	ظلم ئې اختيار کړ	او مقرره کړی وه موږ	دپاره د هلاک ددوی	يو نيټه (معلومه)

هلاک کړل موږ دوی هر کله چې ظلم ئې اختيار کړ. او مقرره کړی وه موږ دپاره د هلاک د دوی يو نيټه (معلومه).

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ لَآ اَبْرَحُ حَتّٰٓى اَبْلُغَ

وَاِذْ	قَالَ	مُوْسٰى	لِفَتٰىهُ	لَآ اَبْرَحُ	حَتّٰٓى	اَبْلُغَ
او هغه وخت	چې ووېل	موسٰی	خادم خپل ته	چې تل به ځمه	تر هغه پورې	چې ورسيږم

او (ياد کړه) هغه وخت چې ووېل موسٰی ځلمی (خادم) خپل ته چې تل به ځمه تر هغه پورې چې ورسيږم

مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ اَوْ اَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ

مَجْمَعَ	الْبَحْرَيْنِ	اَوْ اَمْضِيَ	حُقُبًا	فَلَمَّا	بَلَغَا	مَجْمَعَ
ځای ديو ځای کيدلو	د دواړو سيندونو ته	يا به ګرځم	ډيری زمانی	بيا کله چې	ورسيدل	ځای ديو ځای کيدو

ځای ديو ځای کيدلو د دواړو سيندونو ته يا به ګرځم ډيری زمانی. بيا کله چې ورسيدل ځای د يو ځای کيدو

بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوْتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾

بَيْنِهِمَا	نَسِيَا	حُوْتَهُمَا	فَاتَّخَذَ	سَبِيْلَهٗ	فِي الْبَحْرِ	سَرَبًا
په مابينځ د دواړو سيندونو کښی	هير کړ دواړو	ماهی خپل	نو ونيوله	لاره خپله	په بحر سيند کښی	سرنګ (کوځه).

په مابينځ د دواړو سيندونو کښی هير کړ دواړو ماهی خپل نو ونيوله (دی ماهی) لاره خپله په بحر سيند کښی سرنګ (کوځه).

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ لَآ اَبْرَحُ۔ حضرت موسی ﷺ خپل خادم ته ووېل چې زه به مسلسل سفر کوم: په دغه واقعه کې دموسی څخه مراد مشهور پيغمبر حضرت موسی بن عمران علیه السلام دی: او چاچي دبل موسی طرف ته ددې واقعې نسبت کړی دی په صحيح بخاري کې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه پرده سخت رد نقل سوی دی: او دفتی لفظي معنی ده ځوان ده کله چې دا لفظ ديوه خاص سړي دپاره استعماليږي نو خادم ورڅخه مراد وي ځکه چې خدمتګار اکثره قوي ځوان ساتل کيږي چې هر کار کولای سي او نوکر يا خادم دځوان په نامه سره بلل داسلام ډير ښکلی ادب دی چې نوکرانو ته هم دغلامانو په ويلو سره آواز مه کوی بلکي په ښه لقب سره ورته اواز کوی: دلته دفتی نسبت حضرت موسی علیه السلام ته دی ځکه چې مراد ورڅخه دحضرت موسی علیه السلام نوکر دی او دحديثو په روايتونو کي راځي چې دا خادم يوشع ابن نون بن افرائيم بن يوسف علیه السلام وو: او په ځيني روايتونو کې دي چې دا دحضرت موسی علیه السلام دخور زوی وو الخ.
معارف القرآن ج٥ پ ١٥ ص ١٧٢

ع ٢٠ ٨

قَالَ اَرَءَيۡتَ اِذۡ اَوَيۡنَآ اِلَى الصَّخۡرَةِ... دحضرت موسی علیه السلام او دحضرت خضر علیه السلام قصه: دحضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې یو وار حضرت موسی علیه السلام خپل قوم بني اسرائیلو ته دخطبې ورکولو دپاره ودریدی نو خلګو پوښتنه ورڅخه وکړه چې په تمامو انسانانو کې دټولو څخه زیات علم والا څوک دی؟ دحضرت موسی علیه السلام په علم کې دده تر ځان بل څوک عالم نه وو په دې وجه یې وفرمایل چې زه دټولو څخه زیات علم والا یم: الله جل جلاله خپل ددربار مقربینو ته خاص تربیت ورکوي په دې وجه دا خبره دالله جل جلاله نه سوه خوښه بلکې دادب مقتضی داوه چې داخبره یې الله جل جلاله ته حواله کړې وای یعنې داسې یې ویلي وای چې الله جل جلاله تر ټولو زیات پوه دی ده حضرت موسی علیه السلام پر دې جواب باندې الله جل جلاله زورنه ورکړه: پر حضرت موسی علیه السلام باندې وحې راغلې چې زما یو بنده په مجمع البحرین کې دی هغه تر تا زیات عالم دی حضرت موسی علیه السلام ته چې کله دا معلومه سوه: **پاته قصه پر راروان مخ وګوری**

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا ۡ لَقَدۡ

فَلَمَّا	جَاوَزَا	قَالَ	لِفَتٰىهُ	اٰتِنَا	غَدَآءَنَا	لَقَدۡ
نوکله چې	تیر سول	وویل (موسیٰ)	خپل خادم ته	راوړه موږ ته	صباح ناری (خوراک) زموږ	په تحقیق

نوکله چې تیر سول (له مجمع البحرین) وویل (موسیٰ) خپل ځلمی ته راوړه موږ ته صباح ناری (خوراک) زموږ په تحقیق

لَقِيۡنَا مِنۡ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿۶۲﴾ قَالَ اَرَءَيۡتَ اِذۡ اَوَيۡنَآ اِلَى

لَقِيۡنَا	مِنۡ سَفَرِنَا هٰذَا	نَصَبًا	قَالَ	اَرَءَيۡتَ	اِذۡ	اَوَيۡنَآ	اِلَى
پیښه سوه موږ ته	له دغه سفره زموږ	ډېره سختي	وویل (ځلمي)	ایا ولیدتا	کله چې	ځای ونیوه موږ	هغې

پیښه سوه موږ ته له دغه سفره زموږ ډېره سختي. وویل (ځلمی) آیا ولید تا (خبر سوی) کله چې ځای ونیوه موږ هغې

الصَّخۡرَةِ فَاِنِّىۡ نَسِيۡتُ الۡحُوۡتَ وَمَاۤ اَنۡسٰنِيۡهُ اِلَّا

الصَّخۡرَةِ	فَاِنِّىۡ	نَسِيۡتُ	الۡحُوۡتَ	وَمَاۤ اَنۡسٰنِيۡهُ	اِلَّا
لوی تیږی ته	نو بیشکه! ما	هیر کړ	ماهی	او هیره نه کړه له ما څخه دغه	مګر

لوی تیږی ته نو بیشکه! ما هیر کړ (بیان د حال د) ماهی او هیره نه کړه له ما څخه دغه (پیښه) مګر

الشَّيۡطٰنُ اَنۡ اَذۡكُرَهٗ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيۡلَهٗ فِى الۡبَحۡرِ ۖ عَجَبًا ﴿۶۳﴾ قَالَ

الشَّيۡطٰنُ	اَنۡ اَذۡكُرَهٗ	وَاتَّخَذَ	سَبِيۡلَهٗ	فِى الۡبَحۡرِ	عَجَبًا	قَالَ
شیطان	چې یاد کړم هغه (تاته)	او ونیوله	لاره خپله	په بحر کښې	ډېره عجیبه	وویل (موسیٰ)

شیطان چې یاد کړم هغه (تاته)، او ونیوله (دغه ماهی) لاره خپله په بحر کښې ډېره عجیبه. وویل (موسیٰ)

ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبۡغِ ۖ فَارۡتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿۶۴﴾

ذٰلِكَ	مَا كُنَّا	نَبۡغِ	فَارۡتَدَّا	عَلٰٓى	اٰثَارِهِمَا	قَصَصًا
هم دغه	هغه څه دی چې وو موږ	چې طلب کاوه موږ	پس بیرته راوګرځیدل دواړه	پر	همغو قدمونو خپلو	قدم په قدم

هم دغه هغه څه دی چې وو موږ چې طلب کاوه موږ پس بیرته راوګرځیدل دواړه پر همغو قدمونو خپلو قدم په قدم.

فَوَجَدَا عَبۡدًا مِّنۡ عِبَادِنَاۤ اٰتَيۡنٰهُ رَحۡمَةً مِّنۡ عِنۡدِنَا

فَوَجَدَا	عَبۡدًا	مِّنۡ عِبَادِنَاۤ	اٰتَيۡنٰهُ	رَحۡمَةً	مِّنۡ عِنۡدِنَا
پس پیدا کړی دوی دواړو	یو بنده (خضر)	له بندګانو زموږ	چی ورکړی وو موږ ده ته	رحمت	له نزده خپله

پس وموندل دوی دواړو یو بنده (خضر) له بندګانو زموږ چې ورکړی وو موږ ده ته رحمت له نزده خپله

وَعَلَّمۡنٰهُ مِنۡ لَّدُنَّا عِلۡمًا ﴿۶۵﴾ قَالَ لَهٗ مُوۡسٰى هَلۡ اَتَّبِعُكَ

وَعَلَّمۡنٰهُ	مِنۡ لَّدُنَّا	عِلۡمًا	قَالَ	لَهٗ	مُوۡسٰى	هَلۡ	اَتَّبِعُكَ
او ښوولی مو ؤ ده ته	له جانبه خپله	یو لوی علم	وویل	دغه (خضر) ته	موسیٰ	آیا زه	تابع سمه ستا

او ښوولی مو ؤ ده ته له جانبه خپله یو لوی علم. وویل دغه (خضر) ته موسیٰ آیا زه تابع سمه ستا

عَلٰٓى اَنۡ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدًا ﴿۶۶﴾ قَالَ اِنَّكَ

عَلٰٓى	اَنۡ تُعَلِّمَنِ	مِمَّا	عُلِّمۡتَ	رُشۡدًا	قَالَ	اِنَّكَ
په دې شرط سره	چې وښیئ ته ماته	له هغه علمه	چې ښوولی سوی ده تاته	ښه لاره	نو وویل (خضر)	چې بیشکه! ته

په دې شرط سره چې وښیئ ته ماته له هغه علمه چې ښوولی سوی ده تاته ښه لاره .نو وویل (خضر موسیٰ ته) چې بیشکه! ته

لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ مَعِىَ صَبۡرًا ﴿۶۷﴾ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلٰى مَا لَمۡ تُحِطۡ

لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ	مَعِىَ	صَبۡرًا	وَكَيۡفَ	تَصۡبِرُ	عَلٰى	مَا	لَمۡ تُحِطۡ
له سره به ته ونه کړې طاقت	له ما سره	د صبر	او څرنګه به	صبر وکړې ته	په	هغه کار	چې نه وی کړی احاطه تا

له سره به ته ونه کړې طاقت له ما سره د صبر او څرنګه به صبر وکړې ته په هغه کار چې نه وی کړې احاطه تا

بِهٖ خُبۡرًا ﴿۶۸﴾ قَالَ سَتَجِدُنِىۡۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا

بِهٖ	خُبۡرًا	قَالَ	سَتَجِدُنِىۡۤ	اِنۡ شَآءَ	اللّٰهُ	صَابِرًا
په هغه کار	له جهته د علم	وویل (موسیٰ)	چې ژر به پیدا کړې ته ما	که اراده وفرمائی	الله	صبر کوونکی

په هغه کار له جهته د علم (او پوهې). وویل (موسیٰ) چې ژر به (مومې) پیدا کړې ته ما که اراده وفرمائی الله صبر کوونکی

وَّلَاۤ اَعۡصِىۡ لَكَ اَمۡرًا ﴿۶۹﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعۡتَنِىۡ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِىۡ

وَّلَاۤ اَعۡصِىۡ	لَكَ	اَمۡرًا	قَالَ	فَاِنِ	اتَّبَعۡتَنِىۡ	فَلَا تَسۡـَٔلۡنِىۡ
او نه به نافرمانی کوم	دتا	په هیڅ یو امر کښې	نو وویل	پس که	ته متابعت کوی زما	پس پوښتنه مه کوه له ما څخه

او نه به نافرمانی کوم دتا په هیڅ یو امر کښې. نو وویل (خضر) پس که ته متابعت کوی زما پس پوښتنه مه کوه له ما څخه

ع ۹ ۱۱ ۲۱

عَنۡ شَىۡءٍ حَتّٰۤى اُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرًا ﴿۷۰﴾ فَانۡطَلَقَا ٚ حَتّٰٓى

عَنۡ شَىۡءٍ	حَتّٰۤى	اُحۡدِثَ	لَكَ	مِنۡهُ	ذِكۡرًا	فَانۡطَلَقَا	حَتّٰٓى
د هیڅ شی	تر هغه پوری	چې زه شروع وکړم	تاته	د هغه	یاد	پس دواړه روان سول	تر هغه پوری چې

د هیڅ شی تر هغه پوری چې زه شروع وکړم تاته د هغه ذکر (او بیان). پس دواړه روان سول تر هغه پوری چې

قَالَ لَهٗ مُوۡسٰى هَلۡ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنۡ... د تیر مخ پاته قصه دلته وګوری: نو یې الله ﷻ ته خواست وکی چې کله هغه زما څخه زیات عالم دی نو ماته دهغه څخه دفایدې اخیستو د پاره سفر کول پکار دي په دې وجه عرض یې وکی چې یا الله ﷻ ماته دهغه نښانه او پته وښیې الله ﷻ ورته وفرمایل چې یو ماهی دځان سره په زمبیل کې واخله او دمجمع البحرین طرف ته سفر کوه کم ځای چې دا ماهی درڅخه ورک سو بس دغه ځای زما ددغه بنده دیو ځای کیدو دی حضرت موسی عليه السلام د حکم مطابق یو ماهی په زمبیل کې واچوی او روان سو دده سره دده خادم یوشع بن نون هم وو دسفر په دوران کې یوې ډبرې ته ورسیدل هلته یې ځانونه وساه وکړل پرډبره یې سرکښېښوی دلته ناڅاپه په دې ماهي کې حرکت راغی او دزمبیل څخه راووتی او دریاب ته ولاړی او دماهي د ژوندي کیدو او دریاب ته دتللو سره یوه بله معجزه دا وسوه چې په کمه لاره چې دغه ماهی په دریاب کې تلی الله ﷻ په هغه لاره داوبو بهیدل بند کړل: پاته قصه پر راروان مخ وګوری:

إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ أَخَرَقْتَهَا

إِذَا رَكِبَا	فِي السَّفِينَةِ	خَرَقَهَا	قَالَ	أَخَرَقْتَهَا
هرکله چې سواره سول	په کښتۍ کښې	نو سوري کړه هغه (بېړۍ)	وويل (موسیٰ)	آيا سوري دې کړه (دابېړۍ)

سواره سول په بېړۍ کښې (بلې غاړې ته نژدې سول) نو سوري کړه (خضر) هغه وويل (موسیٰ) آيا سوري دې (کړه دابېړۍ)

لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا ۖ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ

لِتُغْرِقَ	أَهْلَهَا	لَقَدْ	جِئْتَ	شَيْئًا إِمْرًا	قَالَ	أَلَمْ أَقُلْ	إِنَّكَ
لپاره د دې چې غرق کړې	اهل د دې	خامخا په تحقیق دې	وکړتا	يو کار درونډ	وويل (خضر)	آيا ما نه ؤ ويلي	بيشکه! ته

لپاره د دې چې غرق کړې اهل د دې خامخا په تحقیق دې وکړيو کار درونډ. وويل (خضر موسیٰ ته) آيا ما نه ؤ ويلي بيشکه ته

لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ

لَنْ تَسْتَطِيعَ	مَعِيَ	صَبْرًا	قَالَ	لَا تُؤَاخِذْنِي	بِمَا	نَسِيتُ
له سره به ونه کړې سې طاقت	له ماسره	دصبر	وويل (موسیٰ)	مه نيسه ما	په هغه کار	چې هېر کړی مې ؤ

له سره به ونه کړې سې طاقت له ماسره دصبر. وويل (موسیٰ) مه نيسه ما په هغه کار چې هېر کړی مې ؤ (هغه وصيت ستا)

وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَانْطَلَقَا ۗ حَتَّىٰ

وَلَا تُرْهِقْنِي	مِنْ أَمْرِي	عُسْرًا	فَانْطَلَقَا	حَتَّىٰ
او مه غورځوه ماته	په دې کار زماکې	سختي	پس بيا روان سول	تر هغه پورې

او مه غورځوه ماته په دې کار زماکې (چې متابعت يا نسيان دی) سختي. پس بيا روان سول تر هغه پورې

إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ ۙ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً

إِذَا لَقِيَا	غُلَامًا	فَقَتَلَهُ	قَالَ	أَقَتَلْتَ	نَفْسًا	زَكِيَّةً
چې پېښ سول	پر يو هلک	پس مړ کړ ده هغه هلک	وويل (موسیٰ)	آيا مړ دې کړ	يو نفس	پاک بې ګناه

چې پېښ سول پر يو هلک پس مړ کړ (خضر) هغه هلک، وويل (موسیٰ خضر ته) آيا مړ دې کړ يو نفس پاک بې ګناه

بِغَيْرِ نَفْسٍ ۖ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا ﴿٧٤﴾

بِغَيْرِ	نَفْسٍ	لَقَدْ	جِئْتَ	شَيْئًا	نُكْرًا
غير له عوضه	دبل نفس	خامخا په تحقیق	رادې وړ	يو کار	ناخوښه

غير له عوضه دبل نفس، خامخا په تحقیق را دې وړ (لائق) (ودې کړ) يو کار نامعقوله (مخالف د ظاهر د شريعت)

إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ... د تېر مخ پاته قصه دلته وګوری: او په دغه لاره داوبو دننه يو سرنګ جوړ سو يو شع بن نون دا عجيبه واقعه وليدله او حضرت موسی عليه السلام بيده وو کله چې بيداره سو نو ديوشع بن نون څخه دماهي دا عجيبه واقعه هېره سوه چې ده ته يي بيان کړي او ددې ځای څخه بيا روان سو اوپوره يوه ورځ او شپه نور سفر يي وکی کله چې بله ورځ سهار سو نو حضرت موسی عليه السلام خپل ملګري ته وويل چې زما ناشته راوړه ځکه چې په دې سفر کي موږ زيات ستړي سوي يو: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې دقدرت په تقدير سره حضرت موسی عليه السلام ته ددې څخه مخکي ستړی والی محسوس نه سو تر دې چې کم ځای ته ورسيدل دهغه څخه چې مخ ته ولاړل نو ستړی سو کله چې حضرت موسی عليه السلام ناشته وغوښته نو يوشع بن نون ته دماهي واقعه ورپه ياد سوه او دخپلو هېريدو عذر يي وکی چې دا واقعه شيطان زما څخه هيره کړې وه چې هغه وخت مي ته خبر نه کړې الخ: **پاته قصه په تفصيل سره په تفسير معارف القران کي وګوری**

معارف القرآن ج٥پ١٥ص١٧٣

دقرآن مجید دسورتونو فهرست